مکمل و مدلل

بہشتی زیور

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمۃ اللہ علیہ

ناشر
امیر حمزہ کتب خانہ
کافی روڈ۔ کوئٹہ

حنفی

شافعی

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

کفایت دینی کتب خانہ

کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند ، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551

+923247442395

مالکی

حنبلی

مکمل و مدلل

بہشتی زیور

پہ قندھاری پښتو

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمۃ اللہ علیہ

امیر حمزہ کتب خانہ

کانسی روڈ کوئٹہ

0300-3828124

دکتاب ټوله حقوق محفوظ دي

دکتاب نوم :-	پښتو بهشتی زیور
مؤلف :-	حضرت مولانا اشرف علی تهانوی صاحب
ترجمه (ژباړه) :-	دا ردو بهشتی زیور د امدادیه ملتان والا څخه
	سره د زیاد ته د نورو نسخو څخه د بهشتی زیور
ملترجم (ژباړونکی) :-	مولوی عبدالرحمٰن صاحب پوپلزائی ارغستانی
تصحیح کونکی :-	مولوی عبدالمالک صاحب برادرزاده بلوڅ مولوی صاحب رح
دکتابت مطالعه کونکی :-	مولوی عبدالصمد ترکستانی
کاتب (لیکونکی) :-	عنایت الله طالب پوپلزائی ارغستانی
د ترجمی باعث او چاپونکی :-	الحاج سیف الله
دکتاب ګڼه :-	۲۳ X ۳۶ / ۸
دکتاب ټول مخونه (صفحات) :-	۹+۱۵۹۶
څو ټوکه :-	دوه ټوکه (جلده) دی
اول ټوک :-	د صـ۱ څخه تر صـ۷۸۸ پوری شپږ حصی دی.
دوهم ټوک :-	د صـ۷۸۹ څخه تر صـ۱۵۹۶ پوری پنځه حصی دی.
د دوهم وار چاپ لوشمیر :-	یولس سوه
د چاپ نیټه :-	۲۵ شوال سنه ۱۴۲۰ هـ ق ۱۱ دلوه سنه ۱۳۷۸ ش ۳۱ جنوری سنه ۲۰۰۰ ء
د چاپ لوځای او مطبعه :-	لاهور

د محترمو لوستونکو څخه

هیله

څرنګه چه موږ بهشتی زیور د پښتنو خونده ولپاره دا ردو څربی څخه په پښتو ژبه ترجمه کړی چه پټوله پریوولس حصی مشتمل دی چه اولی لس حصی ئې هغه بیان کوی چه هغه یواځی د بښځې سره او یا د بښځې او نزدواړو سره تعلق لری او اخیری (یوولسمه) حصه ئې هغه بیان کوی چه هغه نارینه سره تعلق او اړه لری او په دی ترجمه کښی موږ کوشش کړیدی چه په ډیرو ساده او اسانه توره سره ترجمه کړل سی. او که چیری یو مشکل پیښ سی نو په دی صورت کښی باید د یو عالم څخه د پوهیدو مرسته وغواړی

د محترمو لوستونکو څخه هیله کیږی چه که چیری یو قسم کوتاهی یا خامی په دی ترجمه کښی وویني یا یو مسئله د علماؤ په نظر کښی د تصحیح او توضیح ضرورت لری که څه هم موږ د تصحیح او توضیح پوره پوره کوشش کړی دی مګر بیا هم انسان انسان دی د خطا او نسیان څخه خالی نه دی امکان لری چه په کتابت یا ترجمه کښی څه ناڅه کوتاهی یا غلطی څنډی سوی وی او ترکتابت وروسته موږ په وار وار د اردو بهشتی زیور سره کتلی دی بیا هم کیدای چه تر یو غلطی زموږ نظر او بښتی وی نو په ډیر ادب سره ستاسو څخه هیله لرو چه موږ تر دغې غلطی او کوتاهی اطلاع راکړی چه دبل وار تر چاپ لومخکی دغه خامی (چه غلط وی) اصلاح وکړو او صحیح صحیح د مسلمانانو تر استفادی لاندی راوستل سی او ستاسی لخوا به زموږ سره ستاسی دغه همکاری د دین د پاره یو لوی خدمت وی او د پښتو ژبی او پښتنو سره به لوی احسان وی.

هیله ده چه د علم مره مینه لرونکی به د مترجم سره همدردی وکړی او امید دی چه د عام خاوندان خصوصًا او لوستونکی عمومًا د دی کتاب په مطالعه کښی ډیره توجه وکړی. والله المستعان وعلیه التکلان ء تصحیح کونکی - نیازمند - عبد المالک عفا الله عنه وعن والدیه

سریزه

د مکمل اصلی بهشتی زیور (مکتبه امدادیه والا) چه د حکیم الامت حضرت مولانا محمد اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه تصنیف دی

پښتو بهشتی زیور په حنفی فقه کښی معتبر او مستند او د خاصو او عامو مقبول کتاب دی چه دهغه څخه نارینه او ښځی، سپین ږیری او کوچنیان ټول په پوره توګه خبر سویدی. او د غه کتاب د خپل تعریف او تعارف څخه بی نیازه سویدی۔ د دی کتاب پر مسئلو باندی هر موافق او مخالف شخص تنقیدی نظر کړیدی چه په نتیجه کښی ئی د کتاب د مسئلو په کافی اندازه سره توضیح او تشریح سویده او د غه مسئلی ډیری مستندی او معتبری سوی.

حُسنِ خلگو د بی علمی په وجه او حُسنو خلگو په څه نورو وجوهاتو سره مختلف اعتراضات هم کړی وه. حال دا دی پر گومو مضامینو او مسئلو چه اعتراضات سوی وه هغه ټول د فقهی په عربی کتابونو کښی موجود وه او دی.

گوم وخت چه اعتراضات و دی مرحلی ته ورسیدل چه د هغوی په وجه بی علمه عوام بیچارگان پر کتاب باندی بدگمانه سول او د کتاب څخه چه گومه دینی فایده او نفع اخیستل کیده د هغی نفعی او فایدی د بندید و خطره راڅنگ ته سوه. نو محترم مولانا شبیر علی صاحب د حکیم الامت څخه غوښتنه وکړه چه گډه چیری د "بهشتی زیور او بهشتی گوهر" پرتو لو مسئلو باندی نظر وکړی او د هری مسئلی عربی عبارت او د هغه کتاب نوم او د صفحی نمبر د دی کتاب د هری صفحی په اخیر کښی د لیکل سی، نو ښه به وی۔ د دی د پاره چه د هغه بی جایه اعتراضاتو په وجه چه د کتاب په نفعه کښی گومه کمی راتله هغه ختم سی. نو حضرت مولانا حکیم الامت دا خبره ډیره خوښه کړه او په خپل خاص کرنه او احتیاط سره ئی په ۱۳۴۲ سنه هـ ق کښی د غه کار سرته ورساوی او جناب حکیم محمد مصطفیٰ میرټهی رحمة الله علیه ته ئی حکم وکړی چه باید پر نهمه حصه د بهشتی گوهر پر طبعی حصه باندی نظر وگرل سی. نو حُکمه حکیم صاحب هم

نظر پروکړی او ډیری طبی نسخی او مفید مضامین ئی اضافه کړه.

یادونه

لومړی:- دا کتاب نه یوازی عوامو بلکه علماؤ کرامو او مفتیانو عظامو ته هم ډیره فائده اوګټه لری - ځکه چه په دی کتاب کښی مستند، معتبری او منقحی ضروری مسئلی سره د حوالو موجودی دی او موبز په دی خبره کښی رښتونی یو چه په پښتو ژبه کښی په حنفی فقه کښی د دی څخه زیات او پرډینی مستند و مسائلو او پرد نیاوی ضرورياتو حاوی او مشتمل به هیڅ بل دغسی کتاب نه وی شائع سوی.

دوهم:- موبز په دی کتاب کښی هغه عربی عبارتونه لکه په اردو نسخه کی چه راانقل سویدی د کتاب د لویوالی او غټوالی په خاطر راانقل نه کړل بلکه یوازی او یوازی مودهری مسئلی په اخیر کښی د هغو کتابو حوالی راانقل کړلی چه د بهشتی زیور د مسئلو ماخذ دی.

دریم:- څرنګه چه د دی کتاب په ترتیب او کتابت کښی د څوان اوسپین ټولو اړی او کوچنی خاص لحاظ سویدی او په روښانه او خلاصو توګو سره لیکل سویدی او کتاب مو پر دوه ټوکه (جلده) تقسیم کړی چه اول ټوک ئی پر شپږ د حصو سره د خپلو ضمیمو مشتمل او دوهم ټوک ئی پر پنځو حصو سره د دوی د ضمیمو مشتمل دی او ټول کتاب دهرمخ په لاندی حصه کښی د کتاب تر آخره پوری مسلسل نمبر لری او د صفحی (مخ) پر لوړ حصه دهری حصی خپل نمبر دی نو د کتاب فهرست د لوړی حصی د نمبر سره تعلق لری او دهری حصی فهرست د خپلی خپلی حصی په سر کښی لیکل سویدی.

د کتاب خصوصیات

په دی کتاب کښی د الف څخه نیولی خط لیکنه عقائد، اعمال، اخلاق، تهذیب او تربیت، ډیری ضروری مسئلی، د اولیاء الله یادونه، کسب او کار، حساب او کتاب، عملیات، هروخت په کار راتلونکی نسخی، د ډولډول خواړو او د شیانو د

پخولواو دجوړولو مجرب ترکیبونه او نور داسی شیان (په دی کتاب کښی) درج دی او په بهشتی گوهر (یوولسمه حصه) کښی خاص د نارینهٔ په اړوند مسئلی ذکر سویدی.

د حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی ؒ د ژوند مختصر حالات

پیدایښت، نوم او لقب

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رح په پنځم د جمادی الثانی سنه ۱۲۸۰ هـ کښی د چهارشنبی په ورځ د صبح صادق په وخت کښی په تهانه بهون نومی کلی کښی پیدا سویدی. د دی کلی شاوخوا دیوبند، گنگوه او د پانی پت په شان تاریخی ځایونه موجود دی.

یوانگریز افسر د دی علاقی او سیدونکو ته د دوی د ذهنی قابلیت د صفت په وجه دوی ته د (عاقلان تهانه) لقب ورکړی دی - د حضرت تهانوی رح د پیدایښت په وجه د غه علاقه نور ډیره هم روښانه او ځلیدلی ده. د حضرت اصلی نوم عبدالغنی وو خو د هغی زمانی یو مشهور مجذوب حافظ غلام مرتضیٰ پانی پتی ؒ ودلته اشرف علی نوم غوره کړی چه په د غه نامه سره مشهور سو چه د هغه د بشارت مطابق د روسته حافظ قاری مولانا معلم، متکلم، فقیه، مفسر، محدث مصلح او مجدد وگرځیدی او دامت محمدیه د دی بی غرضه خدمت په وجه د حکیم الامت په لقب یادیږی د حضرت حکیم الامت د نسب او خاندان سلسله د پلار د طرفه څخه حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه ته رسیږی او د مور د طرفه څخه ئی د نسب سلسله حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه ته رسیدلی ده - نو تهانوی رحمة الله علیه د پلار د طرفه فاروقی نسبه او د مور د طرفه علوی نسبه د پلار مبارک ئی د تهانه بهون یولوی رئیس وو.

تعلیم (زده کړه)

د مولانا صاحب تعلیمی دور د قرآن پاک څخه شروع کیږی اول ئی قرآن کریم یاد (حفظ) کړی - ابتدائی عربی تعلیم ئی په تهانه بهون کښی حاصل کړی بیا په

دار العلوم دیوبند کښی داخل سو او په پنځه کاله کښی فارغ التحصیل سو دغه وخت د ده عمر شل کاله وو.

اساتذه کرام

مولانا محمد قاسم نانوتوی رح - مولانا فتح محمد تهانوی رح مولانا محمد یعقوب نانوتوی - شیخ الهند محمود الحسن دیوبندی رح مولانا سید احمد دهلوی رح قاری محمد عبد الله مهاجر مکی رح د اتول د تهانوی صاحب اساتذه کرام دی.

شاگردان

مولانا محمد اسحق بردوانی رح مولانا محمد رشید کانپوری رح مولانا صادق الیقین کرسوی رح مولانا فضل حق مولانا محمد مصطفیٰ رح - مولانا ظفر احمد نورانی - دغه د حکیم الامت مشهور شاگردان دی.

وفات او مدفن

د حضرت تهانوی اصلی مرض وفات ضعف او د معدی ناجوړی وه - اخیر د دین اسلام دباغ څخه دی بی مثاله مالیار په (۱۶) د رجب المرجب په سنه ۱۳۶۲ هـ قمری کښی دسه شنبی په ورځ د دواتیا کالو په عمر کښی د دی دنیا څخه سفر وکړی - اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ

حضرت مولانا حکیم الامت اشرف علی صاحب په تهانه بهون کښی د قبرستان عشقبازات په منځ کښی پټ کړل سوی دی.

د قبرستان (هدیره) دوی په خپلو پیسو اخیستی وو او وقف کړی ئی وو - رَحِمَهُ اللّٰهُ رَحْمَةً وَّاسِعَةً وَّ اَفَاضَ عَلَیْهِ شَآبِیْبَ رَحْمَتِهٖ وَرِضْوَانِهٖ.

مرتب:-

عبد المالک عفی عنه وعن والدیه

د بهشتی زیور اولی حصی د مضامینو فهرست

شمارہ	مضمون	صفحہ
۱	دیباچہ (سریزہ)	۱۸
۲	اصلی زیور د انسان دپارہ	۶
۳	د تنہا او یوانزی حرفونو صورت او تلفظ	۹
۴	د میاشتو نومونہ	۱۸
۵	جملی	۱۸
۶	خاص قاعدی	۱۹
۷	حرکتونہ او ورغندیان	۲۱
۸	د خط لیکلو بیان	۲۲
۹	د مشرانو القاب	۲۳
۱۰	د کشرانو القاب	۲۵
۱۱	د میرہ القاب	۲۶
۱۲	د خپلی بنځی القاب	۲۷
۱۳	د پلار پہ نامہ خط	۲۷
۱۴	د لور پہ نامہ خط	۲۸
۱۵	د لور د طرف څخہ د خط جواب	۳۱
۱۶	د خور زی پہ نامہ خط	۳۲
۱۷	د خط د پتی "ادرس" لیکلو طریقہ	۳۴
۱۸	رشتیا قصی	۳۶
۱۹	دوهمہ قصہ	۳۶
۲۰	دریمہ قصہ	۳۹
۲۱	خلرمہ قصہ	۴۰
۲۲	د عقید و بیان	۴۲
۲۳	فصل	۵۴
۲۴	د کفر او شرک د خبرو او کارونو بیان	۵۴

شمارہ	مضمون	صفحہ
۲۵	د بدعتونو او بد رسمونو بیان	۵۶
۲۶	بعضی لوی لوی گناوی چہ پرکونکی ئی ډیرہ سختی او عذاب راغلی دی۔	۶۰
۲۷	د گناہ د وجی څخہ د دنیا د بعضو تاوانو بیان۔	۶۱
۲۸	د عبادت پہ برکت د دنیا د بعضو فائدو بیان۔	۶۲
۲۹	د اوداسہ بیان	۶۲
۳۰	د اوداسہ د ماتونکو شیانو بیان	۶۹
۳۱	د غسل بیان	۷۵
۳۲	پہ کومو اوبو سرہ اودس او غسل صحیح دی او پہ کومو اوبو سرہ صحیح نہ دی۔	۸۰
۳۳	د خا بیان	۸۵
۳۴	د حیوانانو د پسخوردی بیان۔	۸۹
۳۵	د تیمم بیان	۹۱
	پرموزو د مسحی کولو بیان	۹۸
۳۶	د هغو شیانو بیان چہ غسل پہ واجبیږی۔	۱۰۲
۳۷	اولہ ضمیمہ	۱۰۵
۳۸	د علم د بزرگی او شرافت بیان	۱۰۶
۳۹	د معاملی اصلاح د بنځو پہ تعلیم سرہ	۱۲۰
۴۰	طہارت یعنی د اوداسہ او غسل د ثواب او فضیلت بیان	۱۳۴
۴۱	د بهشتی زیور د دوهمہ ضمیمہ چہ پہ تصحیح الاغلاط سرہ نامزد دہ	۱۳۶

بسم الله الرحمن الرحيم ط

پخوانی دیباچه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ قَالَ فِیْ کِتَابِهٖ - یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَکُمْ وَاَهْلِیْکُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ، وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَاذْکُرْنَ مَا یُتْلٰی فِیْ بُیُوْتِکُنَّ مِنْ اٰیٰتِ اللّٰهِ وَالْحِکْمَةِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ صَفْوَةِ الْاَنْبِیَآءِ الَّذِیْ قَالَ فِیْ خِطَابِهٖ کُلُّکُمْ رَاعٍ وَقَالَ عَلَیْهِ السَّلَامُ طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِیْضَةٌ عَلٰی کُلِّ مُسْلِمٍ وَمُسْلِمَةٍ، وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْمُتَاَدِّبِیْنَ وَالْمُوَقِّرِیْنَ بِاٰدَابِهٖ ۱۔

اول تعریفونه یعنی بنه صفتونه دهغه خدای ج دپاره دی چه ده په خپل کتاب کښی فرمائیلی دی - ای هغه کسانو چه تاسی ایمان راوړی دی دساتی خپل ځانونه اوخپل اهل یعنی خپل کورفنه داور ه (دوزخه) څخه - دامی اورچه په انسانانو اوډبرو سره بلیږی - اوفرمائیلی دی الله تعالیٰ یادکړی (ای بنځو) هغه چه ویل کیږی ستاسو په کورونو کښی دخدای تعالیٰ ایتونه اودداناثی اوپوهه خبری اودمرود وسلام دی وی دده پرڅرسول محمد صلی الله علیه واله وسلم چه غوره اوبنه دټولو نبیانو دی هغه نبی چه ده مبارک فرمائیلی دی په خپله وینا کښی چه هرڅوک ستاسی څخه شپانه اوساتونکی دی دخپل رعیت اودهریوه څخه دخپل رعیت پوښتنه کیږی. زروایت کړیدی بخاری اومسلم اونورد کسانو - اوفرمائیلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم حاصلون دعلم فرض دی پرهر مسلمان سړی اوهره مسلمانه بنځه - اودرود وسلام دی وی دده پراهل کښی ټی راوستلی دی اودد غو اخلاقو اوعاداتو نزده کونکی دی ونوروته.

دا لفظی ترجمه دی قرآن پاک د ... دی ... ده ... دی ... ده ... دی ... ده

اَمَّا بَعْدُ ـ حقیر او ناچیز ۀ اشرف علی تهانوی مظهر مدعا (بنکاره کونکی د خپل مقصد) ـ دی چه د پیر وخت څخه ئی د هندوستان د بنځو دین پر بربادی او تباهی زړه درد کاوی او د دغه بربادی او تباهی د علاج په فکر کښی وم او زیاته وجه د فکر دا وه چه د دغه تباهی صرف د دوی په دین کښی محدود ۀ اوښه ۀ نه وه ـ بلکه د دین څخه علاوه د دوی او دنیا ته هم ور رسیدلی وه او د دوی د ذات څخه علاوه د دوی وکورنیانو ته بلکه د دین علاموپه اعتبار د دوی وخاوندانو ته ئی هم اثر ور رسیدلی وو او په کومه اندازه سره چه د دغه مریضی د پیدا له ـ د دی اندازی څخه د دغه معلومیدل ۀ که په یولږ مورۀ کښی اصلاح نه مې نو کیدای مې چه د دغه مریضی د ی نژدی نژدی او ژر تر ژره بې علاجه مې ـ نو له د دغه سببه ئی د علاج فکر په زړه کښی پیدا اسو ـ او سبب د د دغه تباهی په الهام الهی ـ تجربه ـ دلایلو او د علم ضروری په ذریعه سره صاف ثابت سوچه بنځی د علومو دینیه څخه بې خبره ۀ دی چه د د دغه ناخبرتیا په وجه د دوی عقیدی د دوی اعمال د دوی معاملاتی او د دوی د ژوند د تیرولو طریقی هرڅه ټول بربادیږی ـ بلکه د دوی د ایمان سائل لاهم مشکل دی ـ حُکه چه بعضی کفری خبری او کارونه د دغه بنځو څخه کیږی ـ

چونکه کوچنیان د دوی په غیږ کښی پالل کیږی د ژبې زده کولو سره سره د دوی د ژوند تیرولو طریقه او د دوی خیالات او نظریات هم د دغو کوچنیانو په زړونو کښی قرار نسی چه په دغه وجه د دین بربادی د دغو کوچنیانو خو یقینی ده مگر د دنیا ژوند ئی هم ور سره بیخونه کیږی ـ نو د دی سببه د خرابی عقیدی څخه بد اخلاقی پیدا کیږی ـ بیا د بد اخلاقی څخه بد عملی او د بد عملی څخه بدی معاملی چه د معاشری خرابیدو



بیخ د بنیاد دی۔ پاته خاوند سوکه هغه هم داغسی شی وی لکه بنځه چه ئی وی نو د دوی
منسدانو د جمعه کیدو څخه په فساد کښی نوره ترقی پیدا کیږی چه د اخرت د کور خرابیدل
خو یقینی دی۔ مگر اکثره وختونه د دغه فساد انجام او آخر کار د دوی د خپل منځ
په جگړو سره بدلیږی چه د دنیا کور ئی هم د سره ورانیږی او که په خاوند کښی څه
صلاحیت او پوهنه وی نو د ده غریب د دوبخ بند یخانه د همیشه د پاره په برخه سوه۔
د بی بی هر حرکت او کار د دغه بیچاره خاوند د پاره ناخوښ سو ونکی او د خاوند هر نصیحت د دی
د پاره ناخوښه او گران دی۔ که صبر پرونه کړی نو آخر به د دوی دوو په مابین کښی
بی اتفاقی او جلا والی راسی او که صبر پرو کړی نو په سخته او ترخه بند یخانه کښی د خاوند
هیڅ شک نسته او د دین د ناخبر تیا په وجه د دغی بنځی د نیا هم خرابیږی۔ مثلاً
دی دیوچا غیبت وکړی د هغه سره ئی د بنمنی پیدا سوه د هغه د خواخځه یو ضرر ور
ورسیدی۔ یا مثلاً د نامه او مرتبی د حاصلولو د پاره ئی په هبث رواجونو کښی اسراف
وکړی مالداری او موږ تیا ئی په مسکینی بدله سوه یا مثلاً خپل خاوند ئی ناراضه
کړی هغه ئی د کور نه وباسی یا ئی بی پروا کړی د ته گوری نه یا د اولاد پالنه په صحیح طریقه سره
و نه کړی بی خایه ناز ورکوی اولاد ئی بی علمه بی کماله لوی سی۔ بیا چه د خپل اولاد ته گوری
نو ټول عمر په غم او تکلیف کی پرتیږی یا مثلاً د مال او زیور حرص ئی ذیات سی۔ لیکن
د حرص په اندازه مال و زیور نه در سیږی نو تمام عمر په دغه غم کښی پرتیږی
په ټول ژوند کښی د خوشحالی یو گړی پرحرام سی او د غه رنگه د پیر لازمی او متعدی
فساد و نه د دغی ناپوهی په برکت سره پیدا کیږی۔ چونکه علاج د هرشی په ضد د غه
شی کیږی نو موږ هم د دینی علم د ناپوهی علاج په پوهی او دینداری سره مقرر کړی
چه د غه ئی یقینی علاج دی۔ په دی وجه زه د پیره مودو نه په دی فکر کی وم چه د
بنځو ته د دین علم ورزده کړل سی که څه هم په خپله فورنی ژبه کښی دی هم ښه
دی۔ نو د دی ضرورت د رفع کولو د پاره ئی موجود ه ټولی رسالی او کتابونه وکتل لیکن
کافی نه وه۔ بعضی کتابونه معتبر نه وه او د بعضو کتابونو عبارت داسی سخت و وکه څه
هم معتبر وه چه د بنځو تر فهم او پوهنه لوړ وه د دوی د پوهنی سره لایق نه وه۔ بیا
په دوی کښی داسی مضمونونه گډ وه چه د بنځو سره ئی هیڅ کار نه ورد۔ بعضی داسی
کتابونه هم پیدا سوه چه د بنځو د مسئلو سره ئی تعلق ورد مگر هغه بیا د ډیر نه تنگ او کم وه
چه د ضروری مسائلو او احکامو د بنو ولو د پاره کافی او پوره نه وه۔ د دغه سبب ئی دا

فيصله وکړه چه خاص دښځو د پاره يو داسې کتاب جوړ کړل سي چه عبارت ئې ډير اسانه وي او ټول ضروريات د دين پکښې موجود وي او هغه احکام چه خاص تر خلقو پورې ئې تعلق دئ هغه پرې د کتاب کښې ذکر نه سي او داسې پوره او کافي وي چه عارف ددې ډيل په روزمره د ديني ضروري مسئلو کښې د نور و کتابو د ويلو څخه استغنا او بې پروائي راولي او د غښې خو د ټول ديني علم راجمعه کول په يو ه کتاب کښې بنکاره خبره ده چه نه څايېږي او نه په دې سره مسلمان د دين د علماؤ څخه بې پروا کيدلای سي تر ډيرو کلونو پورې مې داخيال په نږدې کې پخيدی ليکن د مختلفو عوارضو د پيښيدلو په وجه چه لوی سبب پکښې ناخلامي وه موقع د شروع کولو ئې په لاس نه راغله - آخر په سنه ۱۳۲۰ هجري کښې د خدای په نامه سره مې شروع په دې کتاب وکړه او د خدای ج فضل او احسان وُو چه د چاپولو سامان او پيسې او اسباب هم د کتاب د جوړولو سره شروع سوه په دغه کتاب کښې الله تعالی د رنګون د مدرسة الاسلام سورتی (چه د ښځو د دغې مدرسې نوم دی) - د مهتمم سيټ صاحب او د جناب مولانا عبدالغفار صاحب لکهنوی د لوړ مرحومې چه حکيم عبدالسلام صاحب ته منسوب وه (يعنې د ده بي بي وه) حصه مقرره کړې وه چه د دوی په پيسو سره د دغه نيک کار شروع سو - الله تعالی دې قبول کړي - گورم به چه آينده به د ددې کتاب په چاپولو کښې د چا چاد کومک کولو حصه وي - جوړيدل او تصنيفول د ددې کتاب هسې براى نامه د دغه ناکاره او ناخيزه د طرف ته منسوب دی.

ليکن په حقيقت کښې دا کتاب فيوضات او برکات زما د بنده او بهترين گل، دوست او قدرمن مولوی سيد احمد علی صاحب فتحپوری سلمه الله تعالی دی جَزَاهُ اللهُ تَعَالَى خَيْرَ الْجَزَاءِ عَنِّيْ وَعَنْ جَمِيْعِ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ ط اوس دا کتاب که د خدای رضاسی د بد و ستر گو څخه دی په امان وی پراکثره ضروريا تو د دين او آداب و د دين - بلکه پر بعضو ضروريا تو د معاش او ژوند داسې حاوی او مشتمل دی که څوک د دغه کتاب د اول څخه تر آخره پورې دا رنګه ووائی چه ځان په پوه کړی نو د دين د معلوماتو په باره کښې د يو ميانه عالم سره برابر يږی - د دغې فائدې سره سره عبارت د ددې کتاب په دومره اندازه کښې اسانه دی چه تر دغه ضروريات اسانه والی په ظاهره زاهو بن تر قدرت وتلی وو - د کومو شيانو چه اکثره ضرورت ئې د ښځو د پاره نه وو لکه احکام د جمعې او د اختر د نمونو د امامت او داسې نورو څخه مو قلم اندازه (پرې ايښې) دی صرف د هغه احکام را اخستل سويدی يو هغه چه د ژوند او ښځو په ضرورتونو کښې شريک

وی۔ دوهم هغه احکام چه صرف د بنځو سره ئ کار وی او په دغو احکامو کښی چه صرف په بنځو پوری خاص وی د دی التزام (پرځان لازمول) هم سویدی چه پرحاشیه باندی په دغه باب کښی کوم د خلقو د پاره چه حکم دی هغه هم ولیکل سی چه خلق هم د دی کتاب څخه فائده واخلی او په دغسی مسئلو کښی غلطی پیښه نه سی او د حاجت په وخت کښی د بل کتاب د پیدا کولو ضرورت پاته نه سی او په شروع د کتاب کښی مو د الف۔ با۔ تا د شکل او لیکلو طریقه هم راوړی ده چه زما د مخدوم او ما ماخذی شوکت علی صاحب مرحوم د رسالی ترکیب الحروف څخه می را اخستی ده پس نو د قرآن شریف ترختمید و ورسته فوراً د دغه کتاب د شروع کید و امکان سته او د دغه کتاب نوم مو په مناسبت د مذاق او طرز د بنځو «بهشتی زیور» اینبی دی ځکه چه اصلی زیور او گینهه خو د هغه کمالات د دین دی ځکه چه په جنت کښی د دغو کمالاتو په برکت زیورات د اغوستو د پاره د انسان ته رسیږی۔ کَمَا قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی یُحَلَّوْنَ فِیْهَا مِنْ اَسَاوِرَ (پاره ۲۲ سورت یقنت (۲۲) څلورمه رکوع سورۃ فاطر) ترجمه د دی ته په جنت کښی د سرو زرو بنگړی او ملغلری ورته اغوستل کیږی۔ وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَبْلُغُ الْحِلْیَةُ مِنَ الْمُؤْمِنِ حَیْثُ یَبْلُغُ الْوُضُوْءُ (روایت کړیدی مسلم د ابی هریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه) ترجمه د مومن زیور د قیامت په ورځ تر هغه ځایه رسیږی چه تر هغه ځایه پوری چه د اوداسه او به رسیږی۔

چونکه داوخت صحیح اندازه نه سی کیدای چه دا کتاب به وکوم مقدار ته ورسیږی د دی سببه د ختمید و انتظار ئ موجب د څنډ په خیر کښی و بلل سو مناسبه معلومه سوه چه دغه کتاب په یوځو ورځو ورځو حصو کښی تقسیم سی (یعنی په یوه جلد کښی نه وی بلکه په دیرو جلدونو کښی راوړی) چه په دغسی طریقه کښی د نشر او اشاعت هم تعجیل اوشی روانی دی۔ دغه رنگه د دیونکو هم زړه خوشحالیږی چه مونږ یوه حصه وویل۔ د دی حصی می د ویلی او د کتاب په جوړید و کښی هم د دی امکان پاته کیږی چه تر هغه ځایه ضرور بلل کیږی تر هغه ځایه پوری به کتاب لیکل کیږی او داهم فائده ده که یواځیلی د بعضو حصو مضامین په نورو کتابو کښی زده کړی وی نو په لوستلو کښی د دغو حصو چه په نورو کتابو کښی ئ زده کړی دی ضرورت نه پیښیږی د باقی کتاب تخفیف او سپکوالی په حاصلیږی یا د یو خاص وجهی څخه د یو خاص حصی د ورته ویلو او لوستلو مخکیوالی ضروری وی نو په مخکیوالی او زده کولو کښی ئ تکلیف

نه پیښیږی نکه چه دغه اوله حصه د چه ستاسو په لاسونو کښی د ه الله پاک ته دعا وکړی چه په خیر او خیریت او خوبی سره ژړ ختمید و ته ورسیږی په دلالت د آیتونو او حدیثونو کوم چه په دیباچه (سریزه) کښی راوړل سوی دی پر خلقو واجب دی چه په خپلو بنځو او انجلیو دغه کتاب زده کړی و د دی ته ئې ورشروع کړی او د دغه کتاب په زده کولو ئې مشغوله کړی او پر بنځو واجب دی چه زده ئې کړی - اولاً دی خصوصاً خپلی بنځی خوندی منډی، او لوڼی د دغه کتاب پر زده کولو باندی مجبوره کړی. زړه به یې هغه وخت خوشحاله سی چه کوم مضامین زما په ذهن کښی دی هغه ټول جمع او چاپ سی او زه ئې په خپلو ستړګو ووینم چه د انجلیو (بخونو) په درس کښی دا کتاب په عام طور سره شامل سی او په کور کور کښی د د ه آواز ه دی - آیند ه توفیق د الله جل جلاله په قبضه او قدرت کښی دی.

څه وخت چه ما دغه دیباچه لیکله نو د دغه وخت می په پام چه د (نُوْرٌ عَلٰی نُوْرٍ) کښی یو نظم په نظر راغلی چه د کتاب د نوم او مضمون سره ډیر مناسب و و او ډیر ښه راته وایسیدی نو زړه می وغوښته چه خپله دیباچه پرې دغه نظم ختمه کړم د پاره د دی چه کتونکی خصوصاً بنځی او انجلیی (بخونی) ورته وګوری او زړه ئې خوشحاله سی او د دغه کتاب مضمون ونوته د د وی بنه زړه وغواړی مینه ئې ورسره زیاته سی بلکه که دغه نظم د دی کتاب د هری حصی په شروع کښی وی نو د مکرر قند شیرینی او خوږ تیا به کتاب پیدا کړی هغه نظم دادی -

اصلی انسانی ګینه

د نبی علیه السلام کمالی مزین ښکلی ورونه
د نبی علیه السلام کمالی مزین ښکلی ورونه

یوی نجلۍ پوښتنه وکړه زما ګرانی مورکه
د زیور تعریف زه غواړم مهربانی مورکه

کوم زیورات بنه دی وما ته ئې بیان کړه
کوم چه بې خونده نه بد نما دی ته ئې عیان کړه

ستا په برکت سره پرما ئې بنه خلاصوالی راسی

هورئ په جار او په قربان سره شروع کړی بیان
د زړه په غوښ سره ئ او سره اوس بې کرمه عیان

خلګ د سړو زړو او سپینو زیورات خوښوی
تاته زړه وایم پر ما ګرانی سره او سپین دواړه څانی

سره او سپین دواړه په ظاهره که د پرښه ځلیږی
یو خلور درئ سپوږمۍ بیا تور شپه جوړیږی

پر تالازم ګنم چه خوښه کړی ته د څه ګینه
چه په دنیا کی خوشحالی د آخرت د ته ښه

ته پر سر باندی ګینه د عقل ګنیږد د لورکه
چه پرداغه دی دار مدار د آخرت دنیا ګه

ته په غوښ وکړه غوښ والی د پوره عقل کامل
پرځای د غوښ والیو په لکونو نصیحت واوره تل

غوښ والی ستا به اوږ یدل د نصیحت وی
د نصیحت والی عمل ستاد خیر او عافیت وی

د غوښ والو پاڼی ورکوی ستا د غوښ د ته عذاب
تاته په کار دی غوښ نیول پر نصیحت د کتاب

او که ستاد غاړی څرنه زیورات په کار سی،
نو نیکی وکړه زما لورکی چه ستاد غاړی هار شی

که نیت د نیکو اراد ودی یا د هوګان سی
یې به کاهیا به ټول جهان به ګلستان سی

کوم زیورات چه د باندی ودی ټول بیکاره بنکاری
غیرت همت بنه سنګار ستاد پاره بنکاری

دلاس تر ګیڼو ستاد پاره د لاس کار بهتر دی
زما لورکه د لاس کار بنه خوښ د هر چا هر دی

څه کوی زما لورکه د څه پایزیب و خلخال
نه دی په کار نور ستاد پاره د اپایزیب او جنجال

د پښو د پاره بنه زیور د ستر ګو تور ی دادی

چه پښی دی ټینګی نګوله دحق پرلوری دادی
چه دچا دپښو زیور دسپیڅ سره ودی
لیری نه ده چه داپښی پرښویدودی



محترمو لوستونکو څرنګه چه بهشتی زیور په اصل
کښی په اردو ژبه دی او موږ ئی دپښتو ترجمه
وکړه په توفیق سره د لوی خښتن تعالیٰ ج
او دغه شعر یا نظم چه تاسی ئی
وایاست دغه هم په اصل
کښی په اردو ژبه وو
موږ دګرانوا و
پردین
مینو
شاګرد انو - پاره
دده ترجمه کړی چه د
مرحوم مولانا صاحب د امید او
متنا سره سم د شاګردانو د زړه ډاډ خوشحالی
سبب وګرځی او څه پیره مینه او شوق سره د اکتاب
زده کړی

نوټ:- په الف با کښی د اردو بهشتی زیور لحاظ نه دی سوی بلکه د پښتو حروفو ترتیب او مراعت سوی دی ځکه چه بعضی حروف د پښتو په اردو ژبه کښی وجود نه لری. او شاګردان د پښتو الف - با - ته ضرورت لری.

بسم الله الرحمن الرحیم

د مفردو (یوازی) حرفونو صورت اوتلفظ

ا	ب	پ	ت	ټ	ث	ج	چ	څ	ځ	ح	خ	د	ډ	ذ	ر	ړ	ز	ژ	س	ښ	ش	ص	ض	ط	ظ	ع	غ	ف
الف	بی	پی	تی	ټی	ثی	جیم	چی	څی	ځی	حی	خی	دال	ډال	ذال	ری	ړی	زی	ژی	سین	ښین	شین	صاد	ضاد	طا	ظا	عین	غین	فی

ق	ک	گ	ل	م	ن	ڼ	و	ۀ	ه	ھ	ء	ی	ې	ی	ی	ی	ی	ی	ی	ی	ی	ی	ی	ی	ی	ی	ی	ی
قاف	کاف	گاف	لام	میم	نون	ډنر	نور	واو	هی	هی	همزه	یی	یی	یی	یی	یی	یی	یی	یی	یی	یی	یی	یی	یی	یی	یی	یی	یی
											الف																	

زور تختہ

اَبَ پَ تَ ثَ جَ چَ حَ خَ دَ ذَ رَ زَ ژَ سَ
شَ صَ ضَ طَ ظَ عَ غَ فَ قَ کَ گَ لَ مَ نَ وَ ہَ
ءَ لَا یَ

زیر تختہ

اِبِ پِ تِ ثِ جِ چِ حِ خِ دِ ذِ رِ زِ ژِ سِ
شِ صِ ضِ طِ ظِ عِ غِ فِ قِ کِ گِ لِ مِ نِ وِ ہِ
ءِ لِا یِ

پیش تختہ

اُبُ پُ تُ ثُ جُ چُ حُ خُ دُ ذُ رُ زُ ژُ سُ
شُ صُ ضُ طُ ظُ عُ غُ فُ قُ کُ گُ لُ مُ نُ وُ ہُ
ءُ لُا یُ

روا جی
ملا نو شخہ قلد
جو ہر ہی - دہر پیم ا دل
قلم بہ پوس بہ پدہ لو یشت وی
پا بہ کم از کم دو دندہ وی بچہ د
نو رہ قلما نو پیہ مشا نہ پدہ گا نو
کښی د پښو لاسی پدہ خط حصہ
بہ ق د ولو ہی خوا تہ د تلی
وی یعنی تر لاس بہ د ولو لاسی
خوا تہ د تلی وی - قلم ہ
تر رنگا
کښہ د ی تر رنگا
کہ د ج رنگا وی پدہ اوبہ
کښی ق د ولہ تر لاسہ
د سلسلہ ق د چوپہ او
پیا ز خط د لی
پا تر سلا
ق

دامتحان دپاره زورناکه، زیرناکه اوپیښناکه حروف

بَ - بِ - قُ - سِ - دَ - جُ - طِ - رَ - بُ - فِ - لَ - اِ - شُ

ظَ - تِ - غُ - خِ - ذَ - کُ - زَ - مِ - خُ - ضِ - بَ - نِ - پُ - عُ

ژِ - ثَ - صِ - نُ - نَ - یِ - حُ - دِ - وُ - حَ - چِ - گُ - هَ - هِ

دیوه حرف مختلف شکلونه دادی

ب ب ب ب پ پ پ پ ت ت ت ت ټ ټ ټ ټ ث ث ث ث ج ج

ج ج چ چ چ چ ح ح ح ح خ خ خ خ د د ذ ذ ر ر ز ز

س س س س ش ش ش ش ص ص ض ض ط ط ظ ظ ع ع ع ع غ غ

غ غ ف ف ف ف ق ق ق ق ک ک ک ک گ گ گ گ ل ل ل ل

م م م م ن ن ن ن ه ه ه ه و و ی ی ی ی

د ب پ ت ټ ث ن او ي مثالونه په دې ډول دی

با بپ پت بټ تث ټټ ټد بد پد تد ید نډ ثر تر ټر
نک نګ بس بش تص تض ثط ثظ بع تغ نف نق پو پج
پچ ټج ټچ تخ ټخ پخ ټم تم تم بی پی ټی نی پے ټی
به بن بل بړه بی

د ج چ ځ څ ح خ مثالونه داسی دی

جا جب چپ چت ځب څټ حت خپ ج چ خ ځ څ ج
جد څر څړ چس خش جص حض خط حظ جع
چغ خف حق چک چل جل جم چم خم چن خو
جن جه جې ځې ځے

اد صلاحیت ... بنابر می پیا نو پیدا پیدا دوه ... دوه حرفه ... مرکب ... او بیا ... دخر ... مشان ... مساه ... دوی خو ... خط ... باندی ... استاد ... دوه ... به ... دوه ... بهشتی زیور

دس مثالونہ

ساسب سج سچ سد سر سڑ سس سص سط سع
سغ سف سق سک سگ سل سم سن سہ
سن سہ سو سلا سلا سی سی سے

دبس اوش مثالونہ

شا بنا شب بنپ شج بنخ شج بنخ شد بند شر شڑ شر
شبن بنص شط شع شغ بنف شق شق شک شگ
شل بنل شم بنم شن شن بنو بنہ بنہ شی شے

دص اوض مثالونہ

صاضب صبح صچ صد ضاضر ضڑ ضش ضص ضط ضع
صف ضق صک ضل ضم ضم ضن ضو ضہ ضہ
ضلا ضلا صی ضی ضے



د ط او ظ مثالونہ

طاطب ظج طد ظر ظز ظس ظص ظط طع طـع طف طق طک
ظل ظـل ظـم طم ظم طم ظم ظن طو طه طلاء طی طے

د ع ـ غ مثالونہ

عاعب عج عد عر عز عس عض غط غع عف غق
غک غل غم غم عم عن عن عو عه علاعی عے

د ف ـ ق مثالونہ

فاقب قج قد فر قز قس قص قط قع قف فق فک
قل قـل قم فم فم فن قـن قو قه قلا فی فی فے

د ک ـ گ مثالونہ

کاکب کب کج کج کد کـد کر گز کش کص کـط
کـع کف کق کک کگ کل کل کـل کم کـم کـم
کن گن گو گو گـه کـه کلا کـلا کی کی کے
گلیکشکیلاک

د۔ل۔ مثالونہ

لا لا لب لج لد لـد لر لـر لس لص لط لع لف لق
لک لل لـل لم لم لن لن لو لہ لـہ لھ ہہ لی لے

د۔م۔ مثالونہ

ما مب مج مد مر مر مس مض مط مع مف مق
مک مل مم مم من من مو مہ مہ مھ ہہ می مے

د۔ھ۔ مثالونہ

ھا ھب ھج ھد ھر ھر ھس ھض ھط ھع ھف ھق
ھک ھل ھم ھم ھن ھن ھو ھہ ھہ ھھ ہہ ھی ھے

دو حرفیزہ لفظونہ

اب بجب۔ دن۔ خط۔ ضد۔ در۔ اِس۔ اُس۔ تم۔ دل
دس۔ غل۔ بُل۔ بت۔ پت۔ چل۔ ھت۔ بچ۔ سچ۔ بس۔ بن
پر۔ لس۔ شل۔ سل۔ زر۔ لک۔ حق۔ زہ۔ تہ۔ چہ
ھر۔ گد۔ غز۔ تل۔ ھم۔ ھو۔ زغ۔ چع۔ چم۔ ثت

دری حرفیزہ لفظونہ

ایک۔ بات۔ جال۔ دام۔ سال۔ ساگ۔ راگ۔ شام۔ صاف۔ تاپ
داگ۔ خوب۔ لات۔ مرد۔ زور۔ روز۔ کام۔ نام۔ غور
توت۔ شال۔ کال۔ لمر۔ شین۔ شرم۔ مرگ۔ حرس۔ نور
خبر۔ غوبن۔ میبن۔ فکر۔ ذکر۔ ستا۔ زما۔ ځکہ۔ نرم

خلور حرفیزہ لفظونہ

انبا۔ مرغی۔ چراغ۔ حالت۔ خراب۔ فرصت۔ میرا۔ تیرا
غوطہ۔ طوطا۔ بکری۔ پلنگ۔ گیدڑ۔ بندر۔ لڑکا۔ لڑکی
شامل۔ کامل۔ مرشد۔ روٹی۔ بوٹی۔ سالن۔ کتاب۔ کاغذ۔ تختی
ماما۔ کاکا۔ دودی۔ زموبن۔ خورک۔ منگی۔ اخور۔ بدنی

پنځہ حرفیزہ لفظونہ

بندوق۔ صندوق۔ مسہری۔ نہایت۔ مضبوط۔ سروتا۔ تیچی
کترا۔ رومال۔ تعویذ۔ چونٹی۔ انگلی۔ دوپٹہ۔ پتیلی۔ پینچک
ستاسی۔ کارگہ۔ کتوری۔ ستوری۔ اسمان۔ زندان۔ جانان

شین حرفیزہ لفظونہ

جولاھا۔ تنبولی۔ چیونٹی۔ نالائق۔ بچھیرا۔ بھیریا۔ جھینگر
دھتورا۔ بکھیرا۔ جھینگا۔ چمگادڑ۔ شپیشتی۔ قندھار۔
شفتالو۔ سپوبنی۔ تروبنی۔ پای زیب۔ ھدایات

اوہ حرفیزہ لفظونہ

جھنجھنا۔ نیلکنٹھ۔ گھرونچی۔ گھنگھور۔ گھونگھٹ۔ بھتیارہ
چھپرکھٹ۔ پھلجھڑی۔ پھلواری۔ کارخانہ۔ صندوقچہ

اتہ اونہ حرفیزہ لفظونہ

پھپھوندی۔ چھچھوندر۔ بیربہوٹی۔ گھونگھرو
بندیلکھنڈ

دوحونومونہ

شنبہ (خالی)۔ یکشنبہ (اتوار)۔ دوشنبہ (پیر)۔ سہ شنبہ (منگل)۔ چہارشنبہ (بدھ)۔ پنجشنبہ (جمعرات زیارت)
جمعہ۔ سنیچر۔ اتوار۔ پیر۔ منگل۔ بدھ۔ جمعرات۔ جمعہ
خالی۔ اتوار۔ گل۔ نہہ۔ شروع۔ زیارت۔ جمعہ۔

په عربی اوارد وکښی دمیاشتو نومونه

محرم - صفر - ربیع الاول - ربیع الاخر - جمادی الاول - جمادی الثانی - رجب - شعبان - رمضان - شوال - ذی القعده - ذی الحجه

په پښتو کښی دمیاشتو نومونه

حسن حسین - صفره - لومړۍ خور - دوهمه خور - دریمه خور څلورمه خور - خدای تعالیٰ - برات - روژه - کوچنی اختر - میانی لوی اختر

جملے

دخدایه ویریږه - گناه مه کوه - په اوداسه سره لمونځ وکړه - لمونځ کونکی انسان د خدای ج دوست دی ۵ خدای ج لحبوب دی - بی لمانځه انسان دخدای ج د رحمت څخه لیری دی - پرچا ظلام مه کوه - د مظلوم بنراړیره ژر قبلیږی - ناحقه یو حیوان یا یو مرغی زهیروا، یا پښی، سپی وهل ډیر بد کار دی - د مور او پلار خبره ومنه د ددی وهل تالره فخر وبولـه - د زړه دا خلاصه د دوی خدمت وکړه - جنت د مور او پلار تر قدمو لاندی دی - چپه جواب دوی ته مه ورکوه - هرڅه چه په وخت د قهر او غصی کښی، دوائی ته ئی په پته خوله سره وادره په هیڅ خبره کښی دوی مه زهیروه - د مشرانو په مخکښی په ادب او تعظیم سره اوسه - پر کشرانو مهربانه اوشفقت کوه - هیڅوک خوار اوحقیر مه بولـه - خپل ځان تر هرچا کم بولـه خپل ځان لوی بلل بد ۵ خبره ده - دیوچا رسوا کول اوشرمنده کول بد ۵ خبره ده او عیب ئی لټول اوپیدا کول بد ۵ خبره اولویه گناه ده - خورک په ولاسته لاس سره کوه اوبه

پہ راستہ لاس سرہ چینبہ پہ چپہ لاس سرہ شیطان خورہ اوچینبل کوی - او بہ پہ دری سادی سرہ وچینبہ - خورک چہ سوپرسی وئی خورہ - پہ گرم گرم خورہ لوکینی برکت نہ وی - ھرہ خبرہ چہ کوی رشتیا وایہ - درواغ ویل لویہ گناہ دہ - سہار چہ راپورتہ سی مشرانو تہ سلام کوہ - ترلمانخہ وردستہ دقران شریف وظیفہ کوہ سبق بنہ یاد وہ - پہ بازی اولوبوکینی زرہ مہ لگوہ - پرھرہ خبرہ قسم مہ اخلہ - وار وارہ قسم کول بد کار دی - خپل کتاب پہ احتیاط بندہ - کہ دیوچا شکل بد وی نو پہ گونو سرہ ئی مہ نښانی کوہ - دخدای پہ نزد سنہ او بد صورت دواړہ برابر دی شرارت او فساد مہ کوہ نو ھیڅکلہ بہ تاوان نہ درسیږی - پزہ پہ چپہ لاس پاکوہ - استنجا پہ چپہ لاس سرہ دھہ - د حاجت وخای تہ دتللو پہ وخت کښی اول چپہ پښہ دننہ کښیږدہ بیا راستہ پښہ او د راتلو پہ وخت کښی اول راستہ پښہ راوباسہ بیا چپہ پښہ - اول راستہ څپلی پہ راستہ پښہ کوہ بیا چپہ څپلی پہ چپہ پښہ کوہ.

دلاندی حرفونو داستعمال دپارہ څو خاص قاعدی

ن ○ و ○ ہ ○ ی ○ ے ○ ال

ن

پردغہ حرف یو وخت غنہ کیږی - یعنی پہ پزہ کی ویل کیږی - لکہ تانگ - مانگ ھینگ - سینگ - چونچ - بھوں - کنواں - پھونک - پھانک - بانٹ - اونٹ - بانکا - بانس سانس - پھانس - نیند - سانپ - کانپ - لونگ - سونف - گونہ - مینڈک - کنول - منہ ھانڈی - چرونجی - بھانٹ - کہ تردغہ حرف وردستہ ب - یا - پ وی نو بیا دغہ نون د میم آواز ورکوی - لکہ انبیاء - دنبہ - شنبہ - عنبر - کھنبہ - منبع - منبر چنپا - چنپت.

و

(۱) ددی حرف څخہ معنکی کہ چیری پیښ وی او بنہ بنکارہ وی نہ ویل سی نو دغہ حرف تہ مجہول یعنی - گم - وناملوم ویل کیږی - لکہ سور - گور - چور - زور - مور

نوک - بُول - هوش - پورا - توړا - کهوړا - کوړا -

(۲) اوکه د دی حرف څخه مخکی پیښ دی او بنه بنکاره ډ ویل سی نو معروف یعنی بنکاره او معلوم ورته وایی - لکه دُور - نُور - حُور - چُور - جُهول - دُهول - پُهوا پُوت - جُهوت .

(۳) اوکه د غه حرف و لیکل سی لیکن تلفظ نه پیه کیږی یعنی نه ویل کیږی نو معدول یعنی د خپله حاله څخه اړول سوی ورته ویل کیږی - لکه خواجه - خواب - خویژ خواهش - خوان - خوش - خود - خوا - او داسی نور -

ه

دا حرف همیشه پیه اړدو کښی د بل حرف سره یوځای ویل کیږی - او مخلوط تلفظ ورته ویل کیږی یعنی د د غه حرف وینا د بل حرف سره گډه کیږی - بلکه پیه حقیقت کښی پ د غه حرف سره تلفظ نه کیږی یعنی نه ویل کیږی - لکه بهانه - کهانه - جهوت - جهینه چهینک - پهینک - جهانجهر - کهیل - بهوت - پهوت - پهوک - تهوکر - دهون - برهیا - باگهه ملهو -

ی

د د غه حرف مخکی همیشه زیر وی او بنه بنکاره ویل کیږی - معروف ورته ویل کیږی یعنی وینا او ویل ئی بنه بنکاره او معلومه دی - لکه دهی - بری - بهی - پهلی - سپری - گلهی هنسی - خوشی - نبی - ولی - دلی - چهپکلی - چوپری - بالی - بجلی او داسی نور - یو وخت د غه حرف د لفظ او کلمی پیه اخر کښی د آ - آواز ورکوی او مقصوره (یعنی لنډ ویل کیږی ورته وایی - لکه عیسیٰ - موسیٰ - مجتبیٰ - مصطفیٰ - مرتضیٰ - حتیٰ - الیٰ - اعلیٰ - مولیٰ - یحییٰ - کبریٰ - صغریٰ .

ے

د د غه حرف مخکی که چیری زیر وی او د غه حرف بنه بنکاره نه ویل سی - نو یو وخت (ے) لیکل کیږی او کله دا رنگه (ي) لیکل کیږی او مجهول ورته ویل کیږی یعنی تلفظ او وینا ئی بنه بنکاره نه د ه بلکه مجهوله او نامعلومه د ه - لکه - کے - سے - نے تهے - دیئے - لئے - آئے - گیئے - کي - مي - تلي - دي - لئي - آئی - گئی .

ال

دا دوارلس حرفونه که چیری د - ا ب ج ح خ ع غ ف ق ک م و ه ی - پیه اول

اوالف نہ ویل کیبزی

کبنی راسی نو صرف ل ویل کیبزی - لکہ حتی الامکان - عبد الباری - جواب الجواب - عبد الحق عبد الخالق - نور العین - عبد الغنی - بالفعل - عبد القادر - عبد الکریم - بالکل - حتی المقدور - عبد الوهاب - بوالهوس - طویل الید - اوکہ د - ت - ث ذ ر ز س ش ص ض ط ظ ل ن پہ اول کی راسی (گہ در سرہ و ویل سی وقف نہ پروسی - بلکہ وصل وسی) نو د واړہ نہ ویل کیبزی - بلکہ د "ال" څخہ چہ ورو ستہ حرف دی پرهغہ (شد) ویل کیبزی - لکہ عند التاکید - نجم الثاقب - علم الدین - غبی الذهن - عبد الرزاق - عدیم الزوال - عند السوال - عبد الشکور - بالصواب - بالضرور - میزان الطب د سیلة الظفر - قائم اللیل - نصف النهار اوداسی نور.

دلاندینی زور، زیر او پیش او غروندی استعمال

نوم	صورت	آواز	نوم	صورت	آواز
مد	~	ا	ددوُ زیر و نو تنوین	ـٍ	ن
ددوُ زبر و تنوین	ـً	ن	ددوُ پیش و نو تنوین	ـٌ	ن
تشدید	ّ	دو چندہ حرف	سکون (غروندی)	د	پردہ باندی تر دہ
وقف	۔	تر غروندی ورسته سکون		۔	مخکی حرف دریزی.

هد (ـہـ)

د حرکت پر الف سر بیره راځی لکہ - آج - آگ - آر - آره - آس - آل - آم - آن - آنت - آری آدهی - آنچ - آندهی - آیا - آپتا - آدم - آفت - آهت - آلو - آسمان -

تنوین چہ پہ صورت کبنی ددوو زور و نو وی ـً د حرکت همیشہ د الف سرہ وی اوکلمہ کلمہ د - ت - سرہ هم راځی - لکہ معًا - فورًا - مثلًا - اتفاقًا - عمدًا - سهوًا - خصوصًا عمومًا - طوعًا - کرهًا - جبرًا - قهرًا - بغتةً - عادةً.

تنوین چہ پہ صورت کبنی ددوو زیرو نو وی ـٍ یومئذٍ - حینئذٍ

تنوین چہ پہ صورت کبنی ددوو پیش نو وی ـٌ لکہ نورٌ حورٌ -

تشدید (ـّ)

دغه حرکت چه پرهرحرف وی هغه حرف دوه واړه ویل کیږی لکه اُلّو - چُلّو - کتّو - منّو - بلّی - کتّا - دلّی - بدّهو - چکّی - لکّړ - لنّدو - سچّا - کچّا - پکّا - هټّا - پټّه - پلّار - بلّا - چهلّا -

سکون (ـْ)

دسکون معنیٰ درېدل دی. دده څخه مخکی حرف دده سره جنګول کیږی بیا پردریږی پرهرحرف چه دغه سکون "غږوندی" وی هغه ته ساکن (بی حرکته) وائی - لکه - ابْ - جبْ - کبْ - دلْ - دمْ - دښْ - رښْ - اِسْ - اُسْ - کَلْ - کُلْ - دِنْ -

وقف

دا تر سکون وړ غندی (غږوندی) درڅته وی. پرهرحرف چه دغه وقف وی هغه حرف ته موقوف ویل کیږی - لکه - ابړ - جبړ - صبړ - علمْ - حلمْ - گوشت - دوښت - قهړ - مهړ - شهړ - بنډ - نرمْ - سخْت - تخْتْ او داسی نور.

دخط لیکلو بیان

هر دخت چه چاته خط لیکی نو اول دا خیال ساته چه هغه ترتا مشر اولوی دی یا کوچنی او کشر دی. یا ستاسره برابر او ستا همزولی دی - دهری درجی انسان چه وی نو دده سره موافق او برابر الفاظ په خط کښی ولیکه - دمشرانو وخط ته والا نامه - سرفراز نامه - افتخار نامه - کرامت نامه - اعزاز نامه - صحیفه عالی - صحیفه گرامی - لیکل کیږی - او کوم څوک چه دپرمشر او مرتبی والا وی هغه ته دتاسو - پرځای آنجناب - جناب عالی - جناب والا - حضرت والا - حضرت عالی لیکل کیږی - مثلاً داسی لیکی چه ستاسو خط راغلی نو داسی لیکل په کار دی - (دجناب والا سرفراز نامه راغلله او دراغله پرځای داسی لیکل په کار دی سرفراز نامه صادره سوه - سرفراز نامه مشرفنه سوه او دکوچنی او کشر خط ته مسرت نامه - راحت نامه ویل کیږی - دبرابرا و

مثل والا وخط ته عنایت نامه ـ کرم نامه لیکل کیږی د خط لیکلو طریقه دا ده مثلاً که پلار ته خط لیکی نو داسی لیکه ـ

جناب والد صاحب ـ یا ـ محترم پلار صاحب لخدوم او معظم د خپلو زامنو همیشه دی وی ستاسو لوی او لوړ سیوری وړوسته ترسلام په سلو آدبونو او تعظیمونو سره عرض دی چه ستاسو والا نامه را غله ستاسو د مزاج مبارک د خیریت په معلومیدو سره اطمنان راته حاصل سو ـ تر دغه وړوسته چه دی نور هرڅه زړه لیکل عواړی ـ هغه دلیکه او په خط کښی تر دام ظلکم العالی (یعنی همیشه دی وی ستاسو لوړ او لوړ سایه پوری چه هرڅه لیکل کیږی ـ القاب وړته ویل کیږی او تر دغه وړوسته چه سلام دعا هرڅه لیکل کیږی آداب وړته ویل کیږی ـ تر دغه وړوسته چه کوم حال و بیان لیکل عواړی و دغه ته مضمون د خط ویل کیږی ـ

دلویانو او مشرانو د پاره القاب او آداب

د پلار په نامه	بناغلی بابا جانه ـ آغا جانه ـ قدرمنه ـ زموږ د سر سیوری ستاسو د شفقت سیوری دی پرموږ همیشه وی ـ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ـ پس له سلامه په سل هاؤ آدبونو او عزتونو عرض دادی چه!
ایضاً	گرانه او قدرمنه پلاره همیشه دی وی ستاسو لوړه سایه پرزامنو ـ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته تر ډیر ادب او تعظیم او قدردانی عرض دادی چه!
ایضاً	محترمه پلاره پرزامنو قدرمن او عزتمنه همیشه دی وی ستاسو قدرمنه سایه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته تر ډیرو سلامونو او تعظیماتو هیله داده چه!

د پلار په نامه	بناغلی پلاره زما عزتمنده اوڅترمه همیشه دی وی ستاسی لویه سایه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ورڅخه ترادب او سلام عرض دادی - چه!
ایضا	قدرمنه او عزتمنه پلاره همیشه دی وی ستاسو د شفقت سایه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته پس له سلام څخه خواهش دا دی - چه!
د اکا په نامه	عزتمنه او محترمه او قدرمنه دکشرانو - همیشه دی وی ستاسو لوړه او د شفقت څخه ډکه سایه - السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ورڅخه ترسلام په سلها ؤ تعظیمونو سره عرض دادی - چه!
د خاله د مېرۍ په نامه	محترمه اخښی او دکشرانو قدرمنه همیشه دی وی ستاسو سایه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
ایضاً	محترمه اخښی قدرمنه او عزتمنه دکشرانو همیشه دی وی ستاسو د شفقت سایه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
د مور په نامه	محترمی او قدرمنی او عزتمنی همیشه دی وی ستاسو خوندوره سایه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
ایضاً	قدرمنی او عزتمنی موری همیشه دی وی ستاسی پرڅه سایه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته -
ایضاً	محترمی عزتمنی او قدرمنی موری که همیشه دی وی ستاسی نیکمرغه سایه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

چېرپکی او — مشانا خوښه می — څخه هیڅ څلېدې څخه ئې مه — چېرپکه — (۴) دامی لېږی او مستری هم — د — مخ سره د — ځکه چې معلومه — دامی — (۵) دخپل پښتخا اجازه دی اول — جزالثنا او داب دهم جزسلام او دعا درېم جزخېرېت — بناغلی او ناحق خاوند نه - — بوڅه چې دا بنکښتل دی وخوده په زړه کښی ساتلو طرف څخه — مرسل الیه ته وهین او بې عزتی کېږی او مستری نه بوڅه بلکه دامی — مرسل الیه سره ګډی او مستری ابله وی — چې هیڅوک نه ستاسو — چې هیڅوک نه ستاسو — چې هیڅوک نه ستاسو

جزد عاد خپل خان دپاره هم — بارې کی پوښتنه څنګه کوی یا دیو خبرې برابره خبره ده که دیوه څخه تاسو — (۶) پوښتنې چې هیڅوک نه ستاسو — ډېره دخه وخت کی ئې یېکی برابره خبره ده که دیوه څخه تاسو — ډېره دخه وخت کی ئې یېکی برابره خبره ده که دیوه څخه تاسو

مشری خورسته | زما محترمی او قدرمنی اود خدمت لایقی خوری همیشه دی وی ستاسو شفقت پرکښ وانو السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ـ

مشر وروڑته | بنا خلی محترمه او عزتمنه وروڑه تل دی وی ستاد مشرتوب دشفقت سایه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

کوم القاب چه د پلار د پاره دی هغه القاب د نیکه کانو ـ اکا کانو ـ ماما کانو او خسرانوتهم لیکل کیږی ـ اوکوم القاب چه د مور ته لیکل کیږی هغه القاب د خاله ـ مامی ـ انا ـ دا کا بنځی اونورو مشرانو بنځوتهم هغه القاب لیکل کیږی ـ صرف دا قدری فرق لری چه د مور پرځای خاله ـ مامی ـ یا بل څوک لیکل کیږی ـ د خپل خاوند د کشر او مشر وروڑه یعنی دلیور سره څوته چه کیدای سی د خط او کتابت رابطه مه ساته د پیره آزادی مه ورسره کوه که چیری د ضرورت پیښ سی نو د ورور په القابو سره خط ورته ولیکه آداب د پتولو قرابتونو یو قسم دی ـ

د کشرانو د پاره القاب او آداب

نږدی ، لمسی ، وراره اونورو کشرانوته | بخته وره ـ زما دستر گو نورې خوشحاله کونکی د روح د نیکمرغی اونیکبختی نښانی خدای دی ستاغم نه راکوی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته د روسته تر درود دعا و د ژوند او کامیابی واضح او معلومه دی وی چه!

ایضاً | دستر گو تورې اود زړه پتوني عمردی د پیر سه السلام علیکم و رحمة الله وبرکاته د روسته تر دعا د پیر ژوند او حاصلید و د نیک بختی د دواړو جهانو معلومه دی وی ستا د رو بنانه فکرته ـ چه!

ایضاً | زما د زړه آرامه عمردی د پیر سه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته پس له د پیر و دعاؤ ته دی معلومه وی چه!

جزوه دیلی څخه جلا سی ـ اود خط خطاب

(۷) په جواب کی کوم چیری دیږی

جزوی څخه اخستل کول خوښ وی

څنګل عزیزان سی چه د دوی

د سوال کونکی ستاسو معلومیږی او

څخه مجبور وی معلومیږی

د نورو مسئلو جواب سره

د نورو مسئلو جواب سره

د دی جزوی په جواب کی چیری

د خوښی کولو د روسته ولیکه چه زه

د دی جزوی په جواب کی خوښ یم

چیرانو په دوهم خط کی هغه د ورته

ولیکه نو بیا ئی ولیکم زړه

نه ماتیږی ـ

۱۲

کشر ورور ته	گرانه ورورہ خدای جل جلاله دی دسانته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته دسعادت او نیک بختی نزدعا معلومه دی وی۔ چه زما دخان مړه برابره ورورہ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته نزدعا دنیک بختی او نیکمرغی معلومه دی وی داخبره۔ چه!
همزولی ورورته	
کشری خیرته	گرانی خوری خدای ږدی دسانته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته نزدعا دنیکبختی معلومه دی وی چه!
ایضًا	بختوری او طالع منی خوری عمردی دیرسه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته۔

دمیړه دپارہ القاب

دمیړه دپارہ	زما سردارہ سلامت اوسی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته نزسلام اودمینی دملاقات عرض دی۔ چه!
ایضًا	سانونکی دراز زما الفت کونکی اوغم شریکه زما۔ سلامت اوسی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته نزسلام اومینی خواهش دی۔ چه!
ایضًا	خبردارہ دراز اوملگری زما سلامت اوسی السلام علیکم ورحمة الله نزخواهش دملاقات وروسته عرض دی۔ چه!

(۸) دوی غوره ورځی
نسته چه دخط عبارت
ږدی لیکل سی بلکه دانسانانو دشوکنا
سره دلیکل سی بلکه نه چه دده سره مخالف نامنا
(۹) یعنی انسانان خط داسی گڼی چه دوه
څلور ورځی وروسته دخه خط داسی شاید دوی به هم دغه خط
وسی کړه سی شاید دوی به هم دغه خپل خط ونه نوی کړی
نو خط دلیکو کول به کار دی چه کیږی چه هر طرفاتی
ولیکل سی۔ لیکن وهر چا نه چه خط وسی استوی که هغه سناد
خط دولیکو ږدی عادت دی نو بیا دده امی خط لیږل به
لری چه واضح الفاظو کی چه هر طرفاتی جلا جلا ولیکل سی
ږدی چه هر حرف ته دی هر حصه ق ویل کیږی
(۱۰) یعنی انسانانو دا شوق دی چه خط
کی دعربی، فارسی او انګریزی لغات استعمال وی
دده کړه مکتوب الیه یعنی هغه څوک چه ورته خط
لیکل کیږی هیڅ هم نه وی هغه ته خط
کار نه دی خط دمکتوب الیه دپاره دی
دپاره ده دی چه

دماندینی دپاره القاب

دماندینی دپاره زماد راز ستونکی زما محبوبی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته ترشوق او امید د ملاقات خبره اوسی - چه

ایضًا کور ودانی او بنایست دکور زما سلامته اوسی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته ترشوق د ملاقات پته دی نه وی - چه!

ایضًا زماد عنجن زبره الفت نیونکی او آرامونکی سلامته اوسی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وروسته ترشوق د ملاقات معلومه دی وی داخبره - چه!

دپلار د پاره خط

قدرمنه اوعزتمنه د خپلو زامنو هیمشه دی وی ستاسی شفقتناکه سایه - السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته - وروسته ترسلام په سلو تعظیمونو سره عرض دی چه د پیری مودی څخه ستاسو - سرفراز نامه - نه د راغلی ددی سبب په تولو پریشانه اوپه تشویش کښی دی - د خپلو مبارکو حالاتو څخه هوشدر ترشرکه لطفًا خبر او مشرفه کړه.

عزتمنده خور (زبیده) د خدای ج په فضل سره ښه ده - پرون ددی قرآن مجید ختم سو - اوس ددی د پاره د پښتو یو کتاب را واستوه چه ورشروع کړل سی (تعلیم الدین)

(۱۱) خطیم ملاقات بل کیږی نوکه چیرته ملاقات کی دقیقت وتحقیق او خوشحالۍ کوونکی خبری سوی نو بیا ملاقات ته (۱۲) خط ترلیکلو وروسته باید پیرته ولولو او په غور سره مطالعه سی ځکه چیرته لیکل سوی وی هغه به هم دخط څخه خرابیږی

کړل سی پاکیږی ښه هم ولیکل سی -

(۱۳) په شروع شروع کی چه خط ولیکل سی نو ترلیکلو وروسته باید داستاذ یا مشر ته وښودل سی - چه هغه به ورته اصلاح ضروری وی بیا به شروع شروع کی چه خط لیکل کیږی نو باید داخیال وساتل سی چه هغه رنګه خبره څخه رنګه نه وی - اوچه اصلاح کوونکی کومه خبره ونه لیکی زیاته کړی نو ددی خبری هم

کتاب چه تا زما د پاره راستولی دو هغه د پیرسنه کتاب دی - تولو بنځو خوښ کړی او
د دغه کتاب عوښتنه او خواهش کوی - نو د دی سببه د دغه کتاب څلورم پنځمه
توکه نور راواستوه - نور نو دلته خیر خیریت دی - تاسو د خپل خیریت معلومات
ژر تر ژره راواستوی د پاره د دی چه زموږ پریشانی لیری سی او اطمنان راته
حاصل سی - والسلام

د پاندی کونکی د ادب - بی بی حمیده د الله آباد څخه ۱۳ د حسن حسین د میاشتی د شنبی د ورځ

دلور پر نامه خط

د نهه توپ تیکښتی نور د سترګو راحت د روح زما بی بی خدیجی خدای دی سلامته
لره السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وردسته تر دعا او بر د والی د عمر او د ترقی
د علم و هنر بنکاره دی وی د اخبره چه د پیر وخت څخه ستا هیڅ خط نه
دی راغلی نو د دغه سببه په تشویش کی وم لیکن پرون ستاد مشر د ورور مسرت نامه
(خوشحال نامه) راورسیده - ستاسو د خیریت په معلومید و سره اطمنان راته حاصل
سو - د دی څخه دا هم معلومه سوه چه ستاسو کلیوالو او ویلو هیڅ شوق
نسته - زړه دی نه پرکښینی - دا ځی هم اوریدلی دی چه بعضی بنځی ستاد لیکلو





او ویلو په پاره کښی داسی وایی چه غجونو (انجلیانو) ته د ویلو او لیکلو څه فائده رسیږی
دد وی د پاره د جاموگنهل جوړول، د وړی پخول پرکالو د ګلانو خامکد وزی کسب زده
کول په کار دی - ایا دوی هم سبق او لیک زده کوی د خانه څخه څواړی د نا رینه و
غوندی مولیانی جوړی کړی - معلومیږی چه د د غو بنځو د اړولو په وجه ستا
زړه د خط لیکلو سبق ویلو څخه پورته سوی دی او تاخپل کوشش کم کړی دی
ای زما لوری! ته د د غو نا پوهانو بنځو پرخبرو هیڅکله غوږ مه نیسه او یقین
وکړه چه ترما زیات د وست ستا د پاره بل هیڅوک هم نه سی کیدای نو د دی سببه
زما د غه نصیحت په غوږ کی و نیسه او د بنځو د غه خبری بالکل بی عقلی او ناپوهی
د ه لږ تر لږ د ونه د هری بنځی د پاره ضروری د ه چه پښتو لیکلای او ویلای سی په
د غه لیک او لوست کښی لوی لوی فائدی دی او د لیک و لوست په نه زده کړه کی لوی
لوی تاوانونه دی -

اول ئی لویه فائده داده چه ژبه ئی صفا کیږی - مالیدلی دی چه بی علمه
بنځی ثواب ته سباب - حیران ته اریان - عالم ته الم - دیزش ته زیږش وائی او کوی
بنځی چه تعلیم یافته وی هغه پرخاندی پیښی ئی کوی پس نو په سبق ویلو او خط زده
کولو سره د غه عیب بالکل ختمیږی -

دوهمه فائده داده چه لمونځ اوروژه ئی بالکل درست او برابریږی دین او ایمان ئی
په سمیږی بی تعلیمه بنځی د خپل جهالت په وجه د پیر کار ونه د اسی کوی چه د د غه کار د په
وجه بی ایمانه سی لیکن په خبری هم نه وی خدای ج دی نه کوی که په د غه وخت کی
مرګ د رته راسی نو د کافرانو په شان به د همیشه د پاره په د وزخ کښی سوځل کیږی
هیڅ وخت به نجات او خلاصون څنډی پیدا نه کړی د لیکلو او ویلو په زده کولو سره د غه
تاوان ختمیږی ایمان په قوی کیږی -



دریم:- دکور دکار برابر ول چه خاص د بنځو پردنه اوغاړه دی په ښه طریقه سره ګوی د ټول کور حساب وکتاب هر وخت ترخپل نظر لاندی ساتی.

څلورم:- د اولاد ساتنه او پالنه د بنځو په ذریعه سره ښه کیږی ځکه چه واړه کوچنیان د مور سره زیات اوسیږی خصوصًا انجیلی خو صرف د مور سره اوسیږی. نو که مور تعلیم یافته وی نو دی خو یونه او عادتونه هم ښه وی نو اولاد همدغه شیان ځینی زده کوی د کوچنیوالی څخه خوش اخلاقه او نیکبخته ځندی جوړیږی ځکه چه مور هر وخت اولاد ته تعلیم درکوی پرهره بده او بیکاره خبره باندی زجر او ترښتنه درکوی وګوره داځونه لویه فائده ده.

پنځم:- د فائده ده چه هر وخت بنځی ته علم حاصل سی نو داهر وخت د خپلی مور، پلار میړه او عزیزانو او قریبانو مرتبه پیژنی د دوی حقوق ادا کوی نو د دی دنیا او آخرت دواړه برابریږی د دغو ټولو څخه علاوه دلیکلو اولوستلو په ښه زده کولو کی یو بله ډیره بیکاره بدی داده چه دکور خبره ډیر دیو خلقو ته بنکاره کیږی یا د دی د پټو لوڅخه تاوان پیښیږی د بنځو خبری اکثره د شرم او حیا دی لیکن وخپلی خور او مور ته ئی یو وخت د بنکاره کولو ضرورت پیښیږی نو مګر اتفاقًا دغه وخت مور او خور نه وی نو په دغسی صورت کی یا بی شرمی کولو ته مجبوره کیږی په پردیو خلقو سره خط لیکی یا په ښه ویلو سره ئی ډیر تاوان پیښیږی. د دغه څخه علاوه په زړهاؤ فائدی پکښی سته او دلیک اولوست په ښه درلودلو اوښه زده کولو کښی ډیری خرابی او تاوانونه دی. نو ځکه ئی زه درته بیانوم وګوره اوس نو ته زما نصیحت یاد وساته چه دلیک اولوست څخه زړه مه خواپښه کوه. هیڅ وخت هم- نور نو زړه نه دعا درته کوم.

لیکونکی عبد الله د بنارس څخه (۲۵) د روڼی مبارکی او ورځ د جمعی مبارکی.

د لور د خواخځه د خط جواب

هرنتمنه او قدرمنته د خپلو زامنو او فرزندانو هميشه دی وی ستاسو بيکمرغه سايه ـ
السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ـ وروسته تر ادب وسلام عرض دی چه د صحيفی گرامی (محترم خط) په صادريد وسره مشرفه سوم ستاسو د مزاج وطبيعت د خيريت په معلوميد وسره تولونه اطمنان حاصل سو ـ الله تعالی دی ستاد برکت ناکه ذات سايه زمونږ پرسرو هميشه ثابته وساتی بناغلی او محترمه تاسو چه زماد ليکلو اولوستلو په باره کی کومه خځه ليکلی وه يقيناً وماته ئی ډيره فائده وکړه ـ بيشکه دنا پوهانو بنځو د خبرو داوريد وخځه زماز سره دنيک لوست خځه پورته سوی دی اوس د هغی درځی خځه چه ستاسو ـ والا نامه (خط نامه) راورسيدلی ده ډيره په شوق سره سبق وايم او يوخځه بنه و بيکاره خط می هم زده کړيدی بيشکه ستاسو فرمان ډير پرځای دی چه په ليکلو او ويلو کښی بی حسابه فائدی دی هغه بنځی چه خط ليکل ئی نه دی زده نو ډيره پيښمانی او افسوس کوی چه مونږ ولی خط ويل او ليکل نه دی زده کړی ۔ د پرون خبره ده چه د منصب دار صاحب د بنځی چه زمونږ همسايه ده ددی دماما خط راغلی وو ـ او په کورکښی نن سبا هيڅوک نارينه نسته دی بيچاری د هرچا خوشامد کا دی گرنږيده چه يوخوک به د هغه خط راته ووايی يا به د هغه خط راخځه يوسی په يو چا به ئی وگوری چه اوس دماما طبيعت څنگه دی ـ او ريه لی ئی وه چه دماما به حال دی مريضه ده نو ددی سببه بيچاره ډيره بيړه خط غرمه راغلی وو ـ تولـه ورځ پروت وو هيڅ ويونکی د خط نه سو پيدا چه ورته وه ئی وايی ـ تر ماښام وروسته دا عاجزه ماته راغله ما خط ورته بيان کړی بيا نو ددی بيچاره زړه پرځای او آرام سو نو د هغه وخت خځه نماز ډه دا خبره واخسته چه بيشکه دويلو او ليکلو هنر هم لوی دولت دی اود نه زده کړی په سبب ئی بعضی وختونه ډير غم او تکليف پيښيږی او داهم زه ويم چه زمونږ په عزيزانو او قريبانو کښی پنځه بنځی خط بنه ويلای او ليکلای سی دوی چه هرځای ځی د دوئ هلته بنه عزت کيږی ـ کومه خبره وکار چه د شريعت خلاف ديو چا خځه کيږی يا وسی يا په واده بنادی کی چه يو بيکاره رواج کيږی نو دوی ئی نو نگروی منعه کوی ئی په بنه طريقه سره ئی پوهه کوی نصيحت ورته

دلیل الیسلام — سهو کتابت — ترجمه تجدید طبع — اغلاط تخطئه — تصحیح — دعای اولیا — دلستنا کمنوی — بخری وغلاف — تنو دا هغه ئی — ابتی نه دهاو — تنو دا یه / — دوی د تنو پنځه کی هم — تنو پنځه نخلی کی هم — دوی او دسی مرد — مړه ښځه ښځه عورت — کړدو یا سی

کوی او ټولی بنځی ددی خبری په پته خوله او پیر غور سره اوری چه دیو خبری پوښتنه کوی
نو ددوی څخه ئی پوښتی په بنځو کښی تر ټولو مخکی ددی څخه پوښتنه کیږی ټولی بنځی
همیشه ددی تعریف کوی ددغه سببه زه په دیر شوق او توجه سره ضرور لیکل اولوستل
ندی کوم ماته خپله د خط پر لیکلو او لوستلو دیر شوق راغلی دی تاسو هم د الله پاک
څخه دعا غواړی چه الله تعالیٰ ماته دغه دولت را په برخه کړی نو زه نو دلته
دهره بابته خیریت دی په دیر ادب سره ستا مینځه او خدمتګار یم خدیجه عفی عنها
(د سهارنپور څخه (۲۸) د روڼی د مبارکی میاشتی ددو شنبی ورځ)

د خورزی د پیارلا خط

نور د ستر ګو راحت د روح زما - بی بی صدیقی - خدای دی وساته السلام علیکم ورحمة
الله وبرکاته وروسته تر دعا دی معلومه وی چه ستا مسرت نامه (خوشحال نامه)
راورسیده د حال په معلومید وسره ډیره قرار وسو ستاد سبق د ویلو حال
راته معلوم سو نو ډیره خوشحالی راته حاصله سوه خدای تعالیٰ دی عمر برکتناکه کړه
خدای تعالیٰ دی ستاد کوشش میوه ژر تر ژره در نصیب کړی هر هغه ورځ چه
ته په خپل لاس د ماته خط د لیکی نو په دغه ورځ زه پنځه روپی د خوږو د
پیارلا د ر لیږم او یو نصیحت زه وتاته بل کوم ما اوریدلی دی چه ته ډیره شوخ
(سپین مسترګی) کوی او د هیڅ ادب لحاظ نه کوی په دی خبره سره د ماته ډیر افسوس
د ر یدی ځکه چه د انسان ادب شرافت فقط د ویلو او لیکلو څخه نه حاصلیږی
تر څو چه ادب د لحاظ نږدی نه کړی نو خلق ستا سره هیڅ او محبت نه کوی د لیکلو
او ویلو سره سره تر ټولو اول هلکانو او نجونو (انجلیانو) ته لازم او په کار دی چه
ادب زده کړی ځکه چه د ادب په وجه انسان د خلقو په زړه کی خوښ او محبوب
کیږی او ټول خلق د ده خاطر کوی او بناکه انسان همیشه خوش قسمته وی لکه چه
دیو چا قول دی (با ادب بانصیب - بی ادب بی نصیب) اوس زه تاته وایم چه ادب څه شی
دی او انسان باید ادب څنګه وکړی هر څوک چه تر تا په عمر او قرابت کی لوړ وی مثلاً
لکه پلار - مشر ورور، نیکه، انا مور دا په قرابت کی لوړ دی د دوی ته په ډیر تعظیم سره
سلام کوه او د دوی په مخ کی بیکاره خبره مه کوه او د دوی په مخکی د همزولو سره
خوشطبعی ناز او مسخری مه کوه هر وخت چه وتاته بلنه راوآکاز در وکړی نو په ډیر زړه

آواز سره جواب درکوه - هر وخت چه د تاته یوشی درکړی نو سلام درته کوه او شکریه ئی ادا کوه - چه د نفیمت خبره د درته وکړی نو په ښه غوږ سره ئی اوره هر وخت چه مشر خبری کوی د خبرو په مابین کی مه ور لویږه هرځای چه مشر ناست وی هلته تر ده پرلوړ ځای مه کښینه مشر په خپل نامه سره مه بوله بلکه چه د قرابت سره سم نوم وی (لکه آغا - ماما - لالا - لالک - مامی - خاله - کاکا - اوداسی نور) په هغه نامه سره ور ته وایه او که د ر سره د محبت لقب ذیات کړی دیر ښه کار دی لکه آغاجانه - ماماجانه - عمه هوری - اخښی جانه - نیکه صاحبه - خوږ جانی - او که په غصه کی راسی او د تاته یو څه بد او بیکاره وایی نو ته هیڅکله د دغو خبرو جواب مه ورکوه - برعکس د سړو چپه و د ه ته هیڅ مه وایه بس دغه ادب دی او داد انسان د پاره ډیر ضروری دی.

فقط محمد واجد حسین د نیض آباد څخه

که چیری د خپل همزولی او مثل ته خط لیکی نو د لیکلو طریقه ئی داده چه اول د د ه د مرتبی سره برابر د اسی القاب د لیکه

القاب

عنایت و شفقت کونکی پرما سلامته اوسی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته؛
مشفیقی شفیقی زما خدای ج دی سلامته لره السلام علیکم ورحمة الله و برکاته؛
پر ما مهربانی سلامته اوسی السلام علیکم ورحمة الله و برکاته؛
بیا دا رنګه اداب د لیکه د روسته ترسلام مسنون عرض دی - یا دا سی د لیکه د روسته ترسلام مسنون او ترشوق د ملاقات عرض دی - بیا د خط مضمون د لکه مشرانوته چه لیکل کیږی او مه ئی د د نه کښته کوه لکه کشرانوته چه لیکل کیږی بلکه په هره خبره کی د برابری خیال ساته.

پرخط باندی دپتی لیکلو طریقه داده

د نمونې د پاره د وی پتی لیکل کیږی

(۱)

محله آمین آباد - نژدی د مکان او ځای ته د حکیم عبد الغنی صاحب نائب تحصیلدار - شهر لکهنو

په خدمت کی زماد قدرمند د محترف بناغلی سردار وحید الزمان صاحب همیشه دی وی ستاسو لوړه سایه.

(۲)

ځای ارغنداب - د زرګر عبد الله صاحب پردکان

د قندهار شهر (بنار)

د مطالعه ته دی دبختور نیک اخلاقه منشی عبد الباری (خدای تعالیٰ دی دی سالم او کامیابه ولری) وړ سیزی.

حساب

نوم	صورت	نوم	صورت	نوم	صورت	نوم	صورت
یو	۱	شپیر ویشت	۲۶	یو پنځوس	۵۱	شپیر اویا	۷۶
دوه	۲	اوده ویشت	۲۷	دو پنځوس	۵۲	اوه اویا	۷۷
دری	۳	اته ویشت	۲۸	درو پنځوس	۵۳	اته اویا	۷۸
څلور	۴	نه ویشت	۲۹	څلور پنځوس	۵۴	نه اویا	۷۹
پنځه	۵	دیرش	۳۰	پنځه پنځوس	۵۵	اتیا	۸۰
شپیر	۶	یو دیرش	۳۱	شپیر پنځوس	۵۶	یواتیا	۸۱
اوه	۷	دو دیرش	۳۲	اوه پنځوس	۵۷	دواتیا	۸۲
اته	۸	درو دیرش	۳۳	اته پنځوس	۵۸	درواتیا	۸۳
نه	۹	څلور دیرش	۳۴	نه پنځوس	۵۹	څلوراتیا	۸۴
لس	۱۰	پنځه دیرش	۳۵	شپیته	۶۰	پنځه اتیا	۸۵
یوولس	۱۱	شپیر دیرش	۳۶	یو شپیته	۶۱	شپیر اتیا	۸۶
دوولس	۱۲	اوه دیرش	۳۷	دو شپیته	۶۲	اوه اتیا	۸۷
دیارلس	۱۳	اته دیرش	۳۸	درو شپیته	۶۳	اته اتیا	۸۸
څوارلس	۱۴	نه دیرش	۳۹	څلور شپیته	۶۴	نه اتیا	۸۹
پنځلس	۱۵	څلویښت	۴۰	پنځه شپیته	۶۵	نیوی	۹۰
شپاړس	۱۶	یو څلویښت	۴۱	شپیر شپیته	۶۶	یونیوی	۹۱
اوه لس	۱۷	دو څلویښت	۴۲	اوه شپیته	۶۷	دونیوی	۹۲
اتلس	۱۸	درو څلویښت	۴۳	اته شپیته	۶۸	درونیوی	۹۳
نوښ	۱۹	څلور څلویښت	۴۴	نه شپیته	۶۹	څلورنیوی	۹۴
شل	۲۰	پنځه څلویښت	۴۵	اویا	۷۰	پنځه نیوی	۹۵
یوویشت	۲۱	شپیر څلویښت	۴۶	یواویا	۷۱	شپیر نیوی	۹۶
دوه ویشت	۲۲	اوه څلویښت	۴۷	دواویا	۷۲	اوده نیوی	۹۷
دریشت	۲۳	اته څلویښت	۴۸	درواویا	۷۳	اته نیوی	۹۸
څلیرویشت	۲۴	نه څلویښت	۴۹	څلوراویا	۷۴	نه نیوی	۹۹
پنځه ویشت	۲۵	پنځوس	۵۰	پنځه اویا	۷۵	سل	۱۰۰

وکو چنیانو نه دغه خبری ورزده کول په کار دی. چه په پښتو کی و د عدی علامی (۰) صفر ویل کیږی د صفر معنی خالی حساب دا رنګه په دوی یاد کړه یو - دوه ..... تر آخره پوری. دیوه څخه تر نو پوری یویز ورته ویل کیږی یویز په معنی د یوازی شی دی یویز د یوه څخه تر نو پوری دی لکه یویز یولسیز کیږی

لس لسیزه یوسلیز کیږی دیویز ورا ښته طرف ته د یوه صفر په ورکولو سره لسیز لکه ۱۰-۲۰-۳۰-۴۰- اودد ورو صفرا په ورکولو سره سلیز جوړیږی دکوم عدد ورا ښیه طرف ته چه صفر کښینول سی هغوته لسیزه جوړیږی په یوه صفر سره لسیز په دوه سره سلیز په دری سره زریز جوړیږی دغه رنګه لس زریز (۱۰۰۰) لکیز (۱۰۰۰۰) میلیز (۱۰۰۰۰۰) وبوله.

رشتیا قصی

جناب رسول الله صلی الله علیه والـه وسلم فرمائیلی دی چه یو سړی په یو ځنګله کی ډیکدم ډه په یو اوریځ کښی د آواز واوریدی چه د فلانی سړی باغ ورا وبه کړه. د دغه آواز سره د دغه اوریځ درروانه سو ه په یو ډبرینه علاقه کښی ښه واوریده ه ښه باران ځینی د اوریدی ټولی اوبه په یو شیله او واله (بیاله) کښی سره یو ځای سوی او روانی سوی د دغه سړی د د غو اوبو په درو سته پسی روان سو - گورلی چه څه قصه ده - چه یو سړی په خپل باغ کښی ولاړ دی په بیلچه سره د دغه اوبه لګوی نو دی سړی د باغ والا څخه پوښتنه وکړه چه ای د خدای بنده ستا څه نوم دی؟ هغه هم هغه نوم درته ووایی کوم چه د ده د اوریځ اد بیدلی ورو - بیا باغ والا د ده څخه پوښتنه وکړه چه ای د خدای بنده ته زما د نامه پوښتنه ولی کوی؟ ده درته وویل چه ما په هغه اوریځ کښی چه د صفی اوبه د غه دی یو آواز واوریدی چه ستا نوم ئی واخستی وئی ویل چه د د ه د باغ ته اوبه ورکړه - ته په دی باغ کی څه عمل کوی چه د دې بندی مقبول دی؟ ده درته وویل هر وخت چه تا زما څخه پوښتنه وکړه نو زه اوس مجبور یم چه بیان درته وکړم زه د دی باغ ټول حاصل درې حصی کوم یو ه حصه ئی خیراتوم یو ه حصه د خپل عیال د پاره ساګرزوم او یو ه حصه بیرته په د غه باغ کی مصرفوم (مشکوة څخه ص ۴۲۴)

فائده ګاه - سبحان الله د خدای پاک څونه لوی رحمت دی چه څوک ئی حکم منی نو د هغه کار د غیبو څخه دامی پوره کوی چه هغه په خبر هم نه وی. بیشکه رشتیا دی چه څوک د الله منی نو الله ج د هغه منی.

دوهمه قصه

رسول الله صلی الله علیه وسلم یو وار وفرمائیل چه په بنی اسرائیلو کښی درې کسان وه یو ابرص (پیس ټولی) دوهم په سر پک درې یم برنده وو - نو الله پاک وغواښته چه د دوی امتحان واخلی نو د دوی ته ئی یو ه فرشته (ملکه) د پاره د امتحان ورولیږله - اول د هغه پیس د لی سړی ته راغله پوښتنه ئی وکړه چه ستا څه شی خوښ دی؟ ده په جواب کی درته وویل چه رنګ اوښه

پوست چه راکړل سی او دغه بلا را څخه لیږی سی چه دد غه مرض او بلا په وجه ماخلق د څانه سره نه کښینوی او د خلقو نفرت او به را څخه کیږی د غی فرشتی (ملکی) خپل لاس د د ه پر بدن تیر کړی بس په د غه وخت کښی بنه او د پیس څخه خلاص سو بنه پوست او بنه رنګ ئی سو - بیا ئی پو بښتنه څنډی وکړه چه ستا د کوم قسم مال سره بنه مینه او محبت دی ؟ د ه وویل چه د او بنانو سره بس یوه برابر او بنه ئی و د ه ته ورکړه او د امی ئی ورته وویل چه خدای تعالی دی په دغه کی برکت درکړی -

بیا وپک ته راغله او پو بښتنه ئی څنډی وکړه چه ستاکوم شی خوښ دی هغه ورته وویل چه پرسر می ور ښتان (بیښتان) راسی د غه پکوالی را څخه لیږی سی چه د د غه پکوالی په سبب سره د خلقو زما څخه نفرت کیږی - ملائکی خپل مبارک لاس د د ه پر سر تیر کړی فوراً ئی پکوالی ورک سو او پر سر ئی ور ښتان راغله او بیا ئی پو بښتنه څنډی وکړه چه ستاکوم مال خوښ دی هغه ووایی چه غواوی، پر نود ه ته ئی یوه برابر غوا ورکړه او د عا ئی ورته وکړه چه خدای جل جلاله دی برکت کی واچوی .

بیا ورانده ه ته راغله او پو بښتنه ئی څنډی وکړه چه ستا څه شی خوښ دی ؟ د ه ورته وویل چه خدای تعالی د غه زما ستر گی راجوړی کړی چه تو خلق وویني د غی ملائکی ورانده ه پر ستر گو لاس ورتیر کړی خدای پاک د د ه ستر گی ورجوړی کړی بیا ئی پو بښتنه څنډی وکړه چه ستاکوم مال خوښ دی د ه ورته وویل چه پسونه پس نو د ه ته ئی یوه برابر بزه (وزه) ورکړه .

بیا او بنه ، غوا - او بزه لنګی سوی . په لږو ورځو کښی دیوه د او بنانو څخه څنګل ډک سو او د بل د غوا وو څخه او د بل د بزو څخه څنګل ډک سو .

بل وار بیا هغه فرشته (ملکه) په هغه اول صورت کښی وهغه پیس وهلی کړی ته په حکم سره د الله تعالی را غله ورته وی ویل چه زه یو مسکین سړی یم زما د سفر ټول سامان ختم سو من زما د رسید وهیڅ ذریعه نسته ماسته خدایه او بیا ستا زه د هغه خدای پرنامه چه تا ته ئی بنه رنګ او پوست درکړی ستا څخه یو اوبن غواړم چه پرسیو رسم او خپل کور ته ورسیږم . د ه ورته ویل څه ولاړ سه زما پر ذمه نور د یر حقوق ادا کول په کار دی او پاته دی تا ته د د ه

مال څخه د شی ورکولو هیڅ توان نشته (فرشتی) ملائکی ورته وویل چه شاید تابه
زه پیژنم - ایاته دپیس په مرض نه وی مبتلا او اخته چه خلقو ستا څخه نفرت کاوی
ایاته مفلس نه وی بیا خدای تعالی تاته دومره مال درکړی. ده ورته وویل
واه واه څنګه ښه والی دا مال خو زما د پیرو پشتو د پلار دنیکه د وخته څخه را
پاته سویدی - فرشتی (ملائکی) ورته وویل که ته دروغجن ئ نو تادی خدای ج
داسی کړی لکه چه پخواوی

بیا وپک ته په هغه پخوانی صورت کښی راغله او دغه رنګه ئ دده څخه هم
سوال وکړی او ده هم دغسی جواب درکړی لکه هغه بل چه ورکړی وو - نو ده
ته هم فرشتی (ملکی) وویل چه که به چیری ته دروغجن ئ نو بیا دی خدای ج
تا داغسی کړی لکه چه پخواوی.

بیا ورمنده ته راغله په هغه اول صورت اوشکل کی او ورته وی ویل چه
زه مسافریم بی سامانه او بی ماله سوی یم نو زما سوی د خدای جل جلاله اوستا
څخه بله هیڅ وسیله نشته زه د هغه خدای ج پرنامه چه تاته ئ دومره وار دستر ګو
دید درکړی ستا څخه یوه بڼه غواړم چه د خپل سفر سامان په برابر کړم او خپل
سفر د پای ته په ورسوم. ده ووویل بیشکه زه پرون دوم خدای پاک خالص د خپل
رحمت په وجه د ماته دستر ګو دید راکړی هر څونه بزی (وزی) چه ستا زه غواړی
درسره بوییه زه - او هر څونه چه ستا زه غواړی راپری ئ بنده په خدای پاک
دی زما قسم وی هیڅ شی زه له تا څخه نه منعه کوم - فرشتی (ملکی) ورته وویل
چه ته خپل مال درسره وساته زما هیڅ شی هم نه دی په کار - فقط ستا سود ستا
امتحان وازمایش می کاوی هغه می وکړی خدای تعالی ستا څخه راضی اود هغو نورو
دوو څخه ناراضه دی - (متفق علیه - مشکوة شریف ص ۱۶۶)

فائده - فکر کول په کار دی چه د عود وو ته د ناشکری نتیجه ورکړه سوه -
چه ټول نعمتونه ئ خندی واخستل سوه او هر قسم چه وه هغسی سوه او خدای
پاک د دی څخه ناراضه سو په دنیا او آخرت دواړه کښی ناکامه سوه او دغه
بل سړی ته د شکر په بدل کښی څنګه ښه بدله ورکړه سوه چه نیمه مال او دولت

ئی پر خپل حال پاته سوه - خدای تعالیٰ جل جلاله دد ډخه خو نه ډاه سواودی هم په دنیا وآخرت کښی خوشحاله او کامیاب سو .

دریمه قصه

یو وار د حضرت ام سلمی رضی الله تعالیٰ عنها نه د یو ځای څخه غوښی راغلی او د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښی ډیری خوښی وی د دغه سببه حضرت ام سلمی رضی الله تعالیٰ عنها خپلی خادمی ته وفرمائیل چه غوښی په تاخچه کی کښیږده - شاید چه حضرت رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ئی وخوری . دی غوښی په تاخچه کی کښیښوی د غونه وخت وو چه یو سائل او سوالگر راغلی او پردروازه ودریدی نارة ئی وکړه چه یوشی د خدای پرنامه راواستوی خدای پاک دی خیر درکړی - دکور د خواڅخه جواب ورکړه سوچه خدای پاک دی تاته هم خیر او برکت درکړی په دغه لفظ کی دا اشاره ده چه هیڅ شی د ورکولو پاره موجود نسته . هغه سائل ولاړی د غونه وخت وو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړی او ئی فرمائیل چه ستا سره د خورک یوشی سته ای ام سلمی (رضی الله تعالیٰ عنها) دی مبارکی وفرمائیل چه (هو) سته وخادمی ته ئی ووئیل ورسه هغه غوښی د ده مبارک د پاره راوړه - خادمه د غوښو راڅستلو د پاره ولاړه چه گوری هلته د غوښو نوم هم نسته نقط د یو سپینی ډبری یو ټکړه پرته ده - نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل چونکه تاسائل جواب کړی چه شی نسته نو له دی سببه دغه غوښه ډبره وگرځیده . روایت کړیدی بیهقی په دلائل نبوت کی - مشکوة ص ۱۶۶)

فائده :- غور وکړی چه د خدای پاک پرنامه د نه ورکولو نتیجه دغه څوست او ناسیتوب سوچه د د غو غوښو ذات او حقیقت تبدیل سو - او ډبره وگرځیده دغه رنگه هر وخت څوک چه فقیر ته بانه کوی او ډخپله ئی خوری هغه ډبری خوری چه اثر ئی دادی چه سنگدلی او د زړه سختی ئی پیدا کیږی .

د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د خانه ان سره خو د خدا وند کریم ډیر عنایت او رحمت

دی - ددی سبب ئی ددغو خوښو صورت ښکارہ په ښکار بدل کړی د پارہ ددی چه د
دغو خوښو د خوښولو څخه وساتل سی.

څلورمه قصه

د حضرت رسول الله صلی الله علیه والـه وسلم عادت شریف وُو - چه د سهار لمونځ
به ئی ادا کړی د خپلو یارانو او اصحابو[ره] طرف ته به متوجه سو او بیا به ئی وفرمائیل
چه ستاسو څخه به په شپه کی یو چا یو خوب نه وی لیدلی ؟ که به یو چا خوب
لیدلی وو نو به ئی خپل خوب بیان کړی د ۲ مبارک به ئی معنی ورته بیان کړہ.
د عادت سره برابر ئی یو وار د نولو څخه پوښتنه وکړہ چه یو چا یو خوب لیدلی
دی نولو وویل چه هیڅوا نه دی لیدلی - نو د ۲ مبارک وفرمائیل چه ما نن شپه یو
خوب لیدلی دی چه دوه کسان وما ته راغلل زه ئی ترلاس ونیوم دیو پاکی مځکی وخوا ته
ئی بوتلم چه گودم یو سړی ناست دی او بل ولاړ دی او د غه ولاړ سړی په لاس کی د
اوسپنی امبور دی د د غه ناست سړی د خولی کُنج په ورځیری ترداسی حده پوری چه
ترشته پوری ورسیږی او بیا د خولی د دوهم کُنج سره هم د غه معامله کوی او بیا هغه
کُنج د خولی د هغه جوړیږی لیکن د غه ولاړ سړی بیرته هغه کار ورسره کوی کوم چه
مخکی ئی ورسره کاوی.

ما پوښتنه وکړہ چه داڅه قصه ده ؟ د غو دواړو کسانو لاته وویل چه مخکی
څه نو موښ مخکی ولاړ و ترداسی حده چه پریو بل سړی ورغلو او زموښ تیریدل
پردسو ۲ چه دی پروت دی او د ۲ پرسر یو سړی چه خته ډبره ئی را اخیستی ده -
ولاړ دی په د غه ډبره سره د د ۲ سر په ډیر زور سره ولی او ما نوی هر وخت چه
د د ۲ سر په د غه ډبره سره وولی نو د غه ډبره ئی پرسر په هواسی لیږی وښلی هر
وخت چه دی د د غی ډبری د ماپورته کولو د پاره ولاړ سی او د غه ډبره را واخلی
سر روان سی لیکن تر د غه پرانته سړی پورې لا نوی را رسیدلی چه د د غه پرانته سړی
سر سم دم سی لکه چه مخکی وو - د غسی جوړ سی او دی بیرته سر د غسی ورمانوی
ما پوښتنه څنډی وکړہ چه داڅه قصه ده ؟ د غو دواړو ویل چه مخ ته څه.
موښ مخکی ولاړ و ترداسی حده چه موښ یو غار ته ورسیدو چه په مثل د تنور ود

لاندی فراخ وولوی تنگ وی په دغه کښی اوربلیږی او دغه تنور دپیرو لخو لغړو نرانو اوښځو څخه ډک دی هر وخت چه دغه اور لوی رابورته کیږی نو دغه اور سره دغه نران اوښځی ټول رابورته کیږی تر داسی حده چه نژدی ووتلو ته سی. بیا چه اور هر وخت کښته کیږی دوی هم ورسره کښته سی ما پوښتنه وکړه چه داخه قصه ده دوی دداړو ویل مخکی د رڅه موږ مخ ته ولاړو تر داسی حده چه دوینو یوی ولی ته ورسیدو دغی ولی په تن کی یو سړی ولاړ دی او دولی پرغاړه بل سړی ولاړ دی چه د مخ ته ئی دیری ډیری پرتی دی هغه په واله کی ولاړ سړی دولی دغاړی وخواته راځی هر وخت چه غواړی چه اوس نور اووزی د ولی دغاړی سړی دده پر مخ یوه ډبره په داسی زور سره ولی چه دی بیرته هغه خپل اول ځای ته رسیږی بیا هر وخت چه دی وغواړی چه راووزی نو دغه بل سړی ئی بیا دغه رنګه په ډبره سره ولی د ولی تن ته رسیږی.

ما پوښتنه وکړه چه داخه قصه ده - دوی راته وویل مخ ته ولاړ سه موږ مخکی ولاړو تر داسی حده چه یو شنه باغ ته ورسیدو په دغه باغ کی یوه غټه درخته وی او تر دغی درختی لاندی یو سپین ږیری سړی او دیرکو چنیان ناست وی او د درختی سره نژدی یو بل سړی ناست وی دده و مخ ته اور بلیږی او دی ئی پوکی بیا دغو دوو کسانو نه ودرختی ته سر ښیره وخیژولم او د درختی په منځ کښی یو ډیر سینه کور وی و دغه ته ئی ور و ستلم ما داغسی ښه کور هیڅکله نه وو لیدلی په دغه کور کی څوانان، سپین ږیری ښځی او کوچنیان ډیر وه.

ما بیا ودغو دوو نفرو (کسانو) ته وویل چه تاسو څونه وه ټوله شپه دګرځولم اوس راته وایاست چه دغه ټوله څه اسرار اورازدنه وه؟ نو دوی راته وویل هغه سړی چه تالیدلی وو چه دده د خولی کنجان ځیرید ل په ټوله دنیا کښی مشهور دی کید لی دده سره به ترقیامته پورې داغسی کیږی.

او هغه څوک چه تا ولیدی او دده سر په ډبره سره کوتل کیدی داهغه سړی دی چه الله پاک وده ته علم قرآن ورکړی وو - دشپی به غافله څنډی بیدیدی

او د ورځی به ئی عمل نه په کاوی تر قیامته پوری به د د ه سزا ه د غه معامله کیږی
اوکوم څوک چه تاد اور په غارکښی ولیدل هغه زنا کاران دی اوکوم څوک چه
تاد وینو په والـه کښی ولیدی هغه سود خوړدی او تر درخته لاندی چه کوم
سپین ږیری سړی وو هغه حضرت ابراهیم علی نبینا و علیه الصلوٰة والسلام وُو - اودد ه
پرشاوخوا چه کوم کوچنیان تاولیدل هغه د خلقو نابالغه اولاد ونه دی اوهغه چه
اورئی تانوره کاوی هغه ملائکه چه نوم ئی مالک دی اود دوزخ پیره دار ه او انتظام
کونکی د ه او اول کور چه ور داخل سوی د عامو مسلمانانو دی اود غه دوهم کور د
شهیدانو دی او زه جبرائیل یم اود غه بل میکائیل دی بیائی وویل چه پورته وګورہ
ما چه پورته وکتل نو لوړی یوه سپینه اوریځ ولیدل دوی راته وویل چه دغه
ستا کور دی ما ورته وویل چه ما پریږدی زه و خپل کور ته ورننوزم دوی
وویل چه تر اوسه لاستا عمر پاته دی پوره سوی نه دی که چیری پوره وای
نو به اوس ور داخل سوی وای - روایت کړید بخاری - مشکوة شریف ص۳۹۶

خان پوه کول په کار دی چه د نبیانو خوب وحی وی د غه ډول واقعاتی او
پینبی رشتیادی د د غه حدیث څخه د پیرو شیانو حال معلوم سو - اول د دروغو
څنګه سزا د ه دوهم د عالم بی عمله د ریم د زنا کار ه څلورم د سود څنګه سزا اوګناه
د ه - خدای تعالی دی ټول مسلمانان د د غو کارو څخه وساتی (آمین)

د عقائدو بیان

(۱) عقیده ۱ تمام عالم اول بالکل ناپیدا وُو بیا د خدای تعالی په پیدا کولو سره پیدا سو.
سورة مؤمن رکوع (۱) پاره ۲۴ سورة انعام (۱۲) رکوع (۷) پاره ۸

(۲) عقیده ۲ - خدای پاک یو دی هیڅ محتاج نه دی نه د د ه څخه څوک پیدا سوی
دی او نه دی د چا څخه پیدا سوی دی نه الله پاک ښځه لری او نه د د ه مثل او
مقابل سته - (سورة الاخلاص پاره (۳۰) -

(۳) عقیده ۳ الله پاک همیشه دی همیشه به وی - سورة الحدید (۱) رکوع (۲۷) پاره ۲۷ - سورة رحمٰن
(۱) رکوع (۲۷) پاره ۲۷ -

(۴) عقیده ۱۰- هیڅ شی د خدای پاک مثل نه دی خدای جل جلاله بی مثله دی.
(سورة شوریٰ (۲) رکوع (۲۵) پاره ۲۵ - الیواقیت تصنیف الشیخ محی الدین ص۸۰ و ۸۴)

(۵) عقیده ۱۱- الله ج ژوندی دی پرهرشی قادر دی هیڅ شی د دده د علم څخه دباندی نه دی - خدای پاک هرڅه وینی او اوری - سورة البقره (۳) رکوع (۱) پاره ۱ - سورة عنکبوت (۶) رکوع (۲۱) پاره ۲۰ - سورة شوریٰ (۱) رکوع (۲۵) پاره دی خبری کوی - (سورة الفتح (۲) رکوع (۲۶) پاره ۲۶ سورة الصفت پاره ۲۳) لیکن د دده خبری زمونږ د خبرو په شان نه دی (شرح العقائد ص۴۴) هرڅه چه عنواړی هغه کوی هیڅوک ئی منعه کولای نه دی (سورة هود (۹) رکوع (۱۲) پاره ۱۲ - د عبادت لایق یوازی دی دی شریک ئی نسته - (سورة البینة (۳۰) پاره) پرخپلو بندګانو مهربان دی بادشاه دی د ټولو عیبونو څخه پاک دی خپل بندګان د آفتونو څخه ساتی عزت والا دی او د لوبی والا دی - د ټولو شیانو پیدا کونکی دی - د دده هیڅ پیدا کونکی نسته - د ګناهونو بخښونکی دی - زبردست او بالا دی - پیرڅه ورکونکی دی - رزق رسونکی دی - چاله چه عنواړی رزق ورتنګوی او چاته چه ئی اراده وسی رزق ورپراخه وی - چاته چه ئی اراده وسی کښته کوی ئی او چاته چه ئی اراده وسی لوړه وی ئی - چاته چه وعنواړی عزت ورکوی چاته چه وعنواړی ذلت ورکوی - او انسان کونکی دی - د پیر حلیم او برداشت کونکی دی د خدمت او عبادت قدر کونکی دی د دعا قبلونکی دی پر هرچا حکم کونکی دی پرده حکم کونکی نسته هیڅ کار ئی د حکمت څخه خالی نه دی - د هرچا د کار جوړونکی دی دده ټوله شیان پیدا کړی دی او په قیامت ئی بیرته پیدا کوی - دئی ټول ژوندی کوی او ټول وژنی دی - او الله تعالیٰ هرڅوک په ښخبنوا د صفتو سره پیژنی چه زمونږ خالق دی - دده د ذات حقیقت او بار یکی هیڅاته معلومه نه ده - (روایت کړیدی ترمذی ص۲۰۸ ج۲) د ګناهکارانو توبه قبلوی - (سورة الشوریٰ (۳) رکوع (۲۵) پاره ۲۵) هر څوک چه د سزا لایق وی هغه ته سزا ورکوی - الله پاک هدایت کونکی دی په جهان کی چه هرڅه کیږی هغه دده په حکم سره کیږی دده بیله حکمه یوه ذره هم د خپله

خایه څخه نه شی[1] سوری پیدا ی او نه دی[2] بیدیږی نه پریشانی پرورځی. د عالم په سائنه سره نه ستړی کیږی. هرڅه د ده په قبضه او قدرت کښی دی د ده په حفاظت کښی دی. د څه[3] رنګه پتول منه او د کمال صفتونه د ده ته حاصل دی د بدی او نقصان هیڅ صفت په ده کښی نشته او نه په ده کښی عیب شته.

(۶) عقیده[4]:- د ده پتول صفتونه ازلی او پخوانی دی - د ازل او پخوا څخه دی او هیشه ترابده به وی او د ده هیڅ صفت یو وخت نه ختمیږی - (شرح العقائد ص۳۷)

(۷) عقیده[5]:- د مخلوق د صفتو څخه الله جل جلاله پاک دی (مثلا لاسونه، پښی او مخ د مخلوق صفتونه دی) په قرآن او حدیث کښی چه بعضی ځایونه د دغسی خبرو بیان سوی دی (یعنی لاس، مخ او داسی نور چه د خالق تعالی ته ثابت سوی دی) د دغو معنی د خدای جل جلاله پریږدی الله تعالی ئی په حقیقت او معنی سره پوهیږی مونږ ته د دی هیڅ حقیقت نه معلومیږی مونږ د دغسی بی چون وچرا ایمان پرراوړو او دا به یقین او عقیده ساتو چه د دغه هرڅه مطلب دی هغه ښیک او حق دی او د دغه خبرو[6] نه ده یا به د دغه یو مناسبه معنی راباسو چه د دغه څخه په هغه بله معنی پوسو.

(۸) عقیده[7]:- په[8] دنیا کښی چه هرڅه نه او بد کیږی دا هرڅه د خدای پاک ته تر پیښیدو او واقع کیدو مخکی معلوم دی او د ځیل علم سره برابر ئی پیدا کوی تقدیر د دغه نوم دی او د بد و شیانو په پیدا کولو کښی هم د پیر راز نه دی چه

(۹) هرڅوک نه په پوهیږی عقیده[9]:- بندګانو ته الله پاک پوهنه او امر اده ورکړیده چه دګناه او ثواب کار په خپله اراده سره کوی او په خپل اختیار سره ئی کوی لیکن د یو کار د پیدا کولو قدرت نه لری - په ګناه سره د خدای پاک ناراضه کیږی او په ثواب سره خوشحالیږی.

---

[1] سورۃ یونس [2] رکوع (۳) پاره [3] سورۃ الفاتحہ (۱) رکوع (۲) پاره [4] سورۃ آل عمران (۱) رکوع (۳) پاره [5] سورۃ النحل (۱۰) رکوع (۱۴) پاره [6] سورۃ الشوریٰ (۱) رکوع (۲۵) پاره [7] سورۃ الصافات (۵) رکوع (۳) پاره [8] سورۃ الزمر (۱) رکوع (۳) پاره [9] سورۃ المنافقون (۱) رکوع (۲۸) پاره

(۱۰) عقیده ۱۰- خدای تعالیٰ و بندگانو ته د دامی کار امر نه دی ورکړی چه د دوی تر طاقت لوړ وی. (سورة البقره (۴۰) رکوع (۳) پاره ۳.

(۱۱) عقیده ۱۱- هیڅ شی د خدای پاک پر ذمه ضرور او لازم نه دی هرڅه مهربانی چه کوی هغه ئی فضل دی. (سورة الانبیأ (۲) رکوع (۱۲) پاره ۱۷ - سورة البروج (۳۰) پاره ۳۰

(۱۲) عقیده ۱۲- د پیر پیغمبران الله پاک خلقو ته د لارښوولو د پاره رالیږلی دی او هغه ټول د ګناهونو څخه پاک دی پوره شمیر او حساب ئی الله پاک ته معلوم دی د دوی د صدق اوږ شتیا والی د پاره الله پاک د دوی پر لاسونو داسی نوی نوی، مشکلی او سختی خبری او کارونه سرته کړی دی چه نور خلق ئی نه سی کولای و د غسی کارونو ته معجزه ویل کیږی په دوی کښی تر ټولو مخکښی حضرت ادم علیه السلام وو او تر ټولو وروسته حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم وو او نور ټوله پیغمبران د دوی په منځنی زمانه کښی راغلی دی په دوی کښی بعضی مشهور دی لکه حضرت نوح علیه السلام ○ ابراهیم علیه السلام ○ اسحاق علیه السلام ○ اسماعیل علیه السلام ○ یعقوب علیه السلام ○ یوسف علیه السلام ○ داؤد علیه السلام ○ سلیمان علیه السلام ○ ایوب علیه السلام ○ موسیٰ علیه السلام ○ هارون علیه السلام ○ زکریا علیه السلام ○ یحییٰ علیه السلام ○ عیسیٰ علیه السلام ○ الیاس علیه السلام ○ الیسع علیه السلام ○ یونس علیه السلام ○ لوط علیه السلام ○ ادریس علیه السلام ○ ذوالکفل علیه السلام ○ صالح علیه السلام ○ هود علیه السلام. شعیب علیه السلام.

(۱۳) عقیده ۱۳- د ټولو پیغمبرانو شمیر او حساب خدای پاک وجاته نه دی ورښوولی خو زمون دا عقیده ده چه هرڅونه پیغمبران خدای پاک رالیږلی دی موږ پر ټولو ایمان راوړیدی

له شخه (رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه) گوتی ښکاره (ښکاره کول) معجزه (عاجز کوونکی) د پیغمبرانو څخه خاص صادرسی (چه یوازی د پیغمبر څخه صادر کیږی) سوی (سورة مؤمن (۸۱) رکوع (۲۴) پاره ۲۴) د غسی (سورة الانعام (۱۰) رکوع (۹) پاره ۷) ذکر (یاد) هغو (سورة الاعراف) پیغمبرانو (سورة الانبیأ) نومونه (سورة الانعام او سورة الاعراف او سورة هود) ذکر (یاد) کړی دی (سورة الانعام او سورة التوبة او سورة الشعراء او نورو ځایونو کښی) ټول (سورة الانعام او سورة الاعراف او نورو ځایونو کښی) ذکر (یاد) نه دی کړی (په قرآن کریم کښی) بعضی (ځینی) پیغمبران (سورة النساء (۱۹) رکوع (۲۱) پاره ۶) چه (ځکه) ما تاسو ته (په قرآن کریم کښی) د هغوی حال نه دی بیان کړی (په قرآن کریم کښی) د هغوی ذکر (یاد) نه دی کړی

که وموښ ته معلوم دی او که نه دی معلوم۔ (شرح العقائد النسفی)

(۴) عقیده کا۔ په[۱] پیغمبرانو کی د بعضو مرتبه تر بعضولوړه ده تر ټولو زیاته لوړ مرتبه زموږ د پیغمبر صلی الله علیه واله وسلم[۲] او تر مبارک علیه السلام وروسته بل هیڅ نوی پیغمبر نه راځی نه راتلای سی تر قیامته پوری چه څوندی انسانان او پیریانان پیدا کیږی د ټولو پیغمبر دی

(۱۵) عقیده کا۔ نبی کریم صلی الله علیه واله وسلم په ویښه او سره د خپل جسم او صورت مبارک د مکی شریفی څخه د بیت المقدس ته او بیا د بیت المقدس څخه اوړو[۱] اسمانونه ته او بیا هر هغه ځای ته چه الله پاک ته منظور وه۔ بوتلی او بیائی بیرته مکی شریفی ته راوستی و د هغه ته معراج[۲] وائی

(۱۶) عقیده کا۔ الله تعالی یو څه مخلوق د نور څخه پیدا کړیدی چه زموږ د سترګو څخه ئی غائب کړیدی موږ ئی نه وینو و د هغه مخلوق ته فرشتی (ملکی) ویل کیږی د دوی کار نه ددوی پر ذمه دی دوی د خدای تعالی د حکم خلاف هیڅکله یو کار هم نه کوی پر هر کار چه مقرر سویدی بس په هغه کار سره مشغوله اوخته دی په دوی کښی څلور فرشتی (ملکی) ډیری مشهور دی چه هغه حضرت جبرائیل علیه السلام، میکائیل علیه السلام، اسرافیل علیه السلام او حضرت عزرائیل[۳] علیه السلام دی۔ (روایت کړیدی مسلم۔ والنّزعٰت (۱) رکوع (۳۰) پاره ۔ سورة التحریم (۱) رکوع (۲۸) پاره)

خدای تعالی یو څه مخلوق داور څخه پیدا کړیدی۔ هغه هم موږ نه وینو و دوی ته پیریانان ویل کیږی۔ (سورة الرحمٰن (۱) رکوع (۲۷) پاره ۔ اعراف (۳) رکوع (۸) پاره)

په دوی کښی سبه او بد هر قسم سته د دوی اولاد و نه هم کیږی په دوی کښی تر ټولو زیات مشهور شریر ابلیس علیه لعنه یعنی شیطان دی۔ (سورة الجن (۱) رکوع (۲۹) پاره ۔ سورة الکهف (۷) رکوع (۱۵) پاره)

---

۱ خلف الرسل فضلنا بعضهم علی بعض وفی ذی علوم العقائد ص ۱۲۰

۲ سورة الاحزاب (۵) رکوع (۲۲) پاره ۔ یعنی نه مستحق د عبادت او نه قول چه نوی پیغمبر ـ ترجمه

۳ عزرائیل علیه السلام د بنوت د دعوه کوی لعنة الله علیه ـ

د دوی څخه هر څوک چه ترهغه مخکښ د بنوت دعوه کوی د زمانه کښی جهنم ته ځی او د هغه د دعوه و کړه پس نو مالانو پیروان د هغه د دعوه د بنوت څخه اوړه ده چه د دی سره د خپلو اښاغلو د کفر فتوی ورکړی او د دی د قادیانیانو د مرزا غلام احمد قادیانی د دجال د پیروانو د کفر فتوی ورکړه او د دی کښی د دوی د کافرګرځیدو کښی هیڅ شک نشته او د دی د کافرګرځیدو کښی د دوی اولاد کول او د دی د قادیانیانو د مرزا غلام احمد قادیانی د دجال د پیروانو د کفر فتوی ورکړه او د دی کښی د دوی د کافرګرځیدو کښی هیڅ شک نشته او د دی د کافرګرځیدو کښی د دوی اولاد کول حرام دی

۴ بعض الذی امری الایه سورة بنی اسرائیل ولقد کرمنا بنی آدم ص ۱۲۷ برروایة البخاری والبزار والبیهقی وابی نعیم عن ابن عباس رفعه مرفوعاً ۱۲ السیوطی فی الخصائص

۵ حضرت عزرائیل علیه السلام نه در روح قبض کولو لپاره وړ سپارل سویدی او دده د اغفر لنا میتنا و ... نه ملک الموت هم وایی ۱۲ منه

(۱۷) عقیده کا:- هر وخت چه مسلمان بنه عبادت کوی دگناڑ څخه ځان ساتی د دنیا مره مینه او محبت نه کوی او د نبی علیه الصلوٰة والسلام بنه تابعداری کوی په هر حکم کښی - نو دئ د خدای تعالیٰ دوست او پر خدای جل جلاله ډیر گران وی و د غمی چاته ولی وائی خو یو وخت و خت د غه څوک داسی داسی کار و نه کوی چه عام خلگ ئی نه سی کولای و د غو کارونه کرامت وائی

(سورة یونس (۷) رکوع (۱۱) پاره - سورة آل عمران (۴) رکوع (۳) پاره - شرح عقائد ص۱۰۵

(۱۸) عقیده کا:- ولی چه هر څونده ی لوی اوغټی مرتبی ته ورسیږی بیا هم د نبی سره برابر ید لای نه سی. (سورة الانعام (۱۰) رکوع (۷) پاره - وفی الیواقیت عن الشیخ)

(۱۹) عقیده کا:- ولی که د خدای پاک هر څونده ی محبوب می او ډیری لوړی مرتبی ته ورسیږی مگر نر څو چه فکر او حواس ئی باقی وی د شریعت پابنده ی د ده د پاره ضروری ده - لمونځ روژه او هیڅ عبادت ورته معاف نه دی او د شریعت څخه خلاف کار و نه د ده د پاره نه روا کیږی - (سورة القیمة (۲) رکوع پاره (۲۹) الیواقیت ص۱۹۲ ج۱)

(۲۰) عقیده کا:- هر څوک چه د شریعت خلاف وی هغه د خدای ج دوست نه سی کیدای که د ده پرلاس یو نا بلده کار ښکاره سی نو د غه یا جادو دی یا نفسانی[۵] یا شیطانی دو که او چم دی نو د د غسی چا پر کار و نو عقیده کول او یقین ساتل په کار نه دی. (سورة آل عمران (۴) رکوع (۳) پاره - الیواقیت ص۱۱۷-۲۰۲)

(۲۱) عقیده کا:- اولیاء الله یعنی د خدای جل جلاله دوستان و ته بعضی د راز خبری او پټ کار و نه ورمعلومیږی یا په خوب یا په ویښو کی و د غه ته کشف او الهام ویل کیږی که چیرئی د شریعت سره موافق[۵۲] او برابری و نو قبول دی او که چیری د شریعت خلاف وی نو بیا د منلو ور نه دئ - (سورة یونس (۷) رکوع (۱۱) پاره - سورة الجاثیه (۲) رکوع (۲۵) پاره - الیواقیت ص۱۹۲ جلد (۱)

(۲۲) عقیده کا:- خدای ج او رسول الله صلی الله علیه وسلم د دین تولی خبری په قرآن او حدیث کښی و بندگانو ته ورښولی دی اوس یو نوی خبره په دین کی را پیدا کول

له د نفسانی څخه مراد دادی چه نفس یو نفس کرامتونه او د شیطانی څخه مراد دادی چه پیران او د غی نوښتیان ئی تام وی نو څه د غی د نفس پاڼه یا نانو څه د غی کرامتونه کړی

روانه دی د عنی نوی خبری او کار ته بدعت ویل کیږی بدعت څیره لویه گناه ده
(سورة المائدة (۱) رکوع (۶) پاره - سورة شوری (۳) رکوع (۲۵) پاره - سورة النساء (۸) رکوع (۵) پاره
مشکوٰة شریف ص۳۰)

(۲۳) عقیده کا - خدای تعالیٰ څیر کوچنی او لوی کتابونه[۱] د آسمان څخه د جبرائیل علیه السلام په واسطه پر څیرو پیغمبرانو نازل کړیدی د پاره د دی چه د وی هر یو وخپلو وخپلو امتونو ته د دین الٰهی خبری بیان کړی په د غو کتابونو کښی څلور کتابونه څیر مشهور دی توراة پر حضرت موسیٰ علیه السلام، زبور پر حضرت داؤد علیه السلام، انجیل پر حضرت عیسیٰ علیه السلام او قرآن مجید زمونږ پر آخری پیغمبر حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم باندی نازل سویدی او قرآن مجید آخری کتاب دی اوس هیڅ کتاب د آسمان څخه نه رانی د قیامته پوری نه نازلیږی او تر قیامته پوری د قرآن شریف حکم چلیږی په د غه نورو کتابونو کی گمراهانو خلقو څیری تبدیلی کړیدی مگر د قرآن شریف د ساتنی پروردگار عالم وعده کړیده په قرآن شریف کښی هیڅوک تبدیلی نه سی کولای.

(۲۴) عقیده کا - زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم چه کومو کومو مسلمانانو لیدلی دی او د دی نه صحابه ویل کیږی. د دوی لوی لوی بزرگی او کرامتونه راغلی دی. د دوی تولو سره محبت او سنه گمان کول په کار دی که د دوی په مابین کی د دی د یو جنگ او جگړی خبره اوریدلی وی هغه د دوی هیڅ اوخطا بوله د دوی هیڅ بد والی مه بیانوه په د دی تولو کښی تر تولو په مرتبه کښی نږدی اولوی څلور صحابه[۲] دی. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دی اول دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ورڅخه د د ه مبارک پر ځای کښینستی خلیفه سو او د دین بندوبست ئی پر غاړه واخستی په د غه سبب سره د د ه ته اول خلیفه ویل کیږی. په تول امت کښی د دی تر تولو غوره او بهتر

(۱) سورة البقرة (۱) پاره - سورة آل عمران (۴) رکوع (۱) پاره - سورة النساء (۶) رکوع (۹) پاره - سورة المائدة (۱) رکوع (۶) پاره - سورة الانعام (۲۹) رکوع (۲) پاره - سورة الاعراف (۲۳) رکوع (۲) پاره - سورة الانفال (۲) رکوع (۱۰) پاره - سورة التوبة (۱۳) رکوع (۱) پاره - سورة یونس (۵) رکوع (۱۱) پاره - سورة هود (۷) رکوع (۱۲) پاره - سورة یوسف (۱۱) رکوع (۱۳) پاره - سورة الرعد (۶) رکوع (۱۳) پاره - سورة ابراهیم (۵) رکوع (۱۳) پاره - سورة الحجر (۱) رکوع (۱۴) پاره - سورة النحل (۱۶) رکوع (۱۴) پاره

[۱] یعنی کتابونه څیر کوچنی او لوی د آسمان څخه د جبرائیل علیه السلام په واسطه پر څیرو پیغمبرانو نازل کړیدی د پاره د دی چه د وی هر یو وخپلو وخپلو امتونو ته د دین الٰهی خبری بیان کړی په د غو کتابونو کښی څلور کتابونه څیر مشهور دی توراة پر حضرت موسیٰ علیه السلام، زبور پر حضرت داؤد علیه السلام، انجیل پر حضرت عیسیٰ علیه السلام او قرآن مجید زمونږ پر آخری پیغمبر حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم باندی نازل سویدی او قرآن مجید آخری کتاب دی اوس هیڅ کتاب د آسمان څخه نه رانی د قیامته پوری نه نازلیږی او تر قیامته پوری د قرآن شریف حکم چلیږی په د غه نورو کتابونو کی گمراهانو خلقو څیری تبدیلی کړیدی مگر د قرآن شریف د ساتنی پروردگار عالم وعده کړیده په قرآن شریف کښی هیڅوک تبدیلی نه سی کولای.

[۲] یعنی د دی نه صحابه ویل کیږی. د دوی لوی لوی بزرگی او کرامتونه راغلی دی. د دوی تولو سره محبت او سنه گمان کول په کار دی که د دوی په مابین کی د دی د یو جنگ او جگړی خبره اوریدلی وی هغه د دوی هیڅ اوخطا بوله د دوی هیڅ بد والی مه بیانوه په د دی تولو کښی تر تولو په مرتبه کښی نږدی اولوی څلور صحابه دی. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دی اول دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ورڅخه د د ه مبارک پر ځای کښینستی خلیفه سو او د دین بندوبست ئی پر غاړه واخستی په د غه سبب سره د د ه ته اول خلیفه ویل کیږی. په تول امت کښی د دی تر تولو غوره او بهتر

دی. تردې وروسته حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه دی او دا دوهم خلیفه دی تردې وروسته حضرت عثمان رضی الله تعالیٰ عنه دی او دا دریم خلیفه دی او تردې وروسته حضرت علی کرم الله وجهه دی او دا څلورم خلیفه دی (سورة التوبه (۱۳) رکوع (۱۱) پاره - سورة الفتح (۴) رکوع (۲۹) پاره - الترمذی ص۲۲۶ ج ۲ مشکوة شریف ص۵۵۵ شرح العقائد ص۱۰۷)

(۲۵) عقیده ۱۰- د صحابی د ژوندی غټه مرتبه ده چه هر څوک دی غټ ولی دیوکمی درجی د صحابی د مرتبی ته نه سی رسیدلای - جمع الفوائد ص۲۰۱ ج۲ مشکوة ص۵۵۳

(۲۶) عقیده ۱۰- د نبی علیه السلام اولاد او بی بی ګانی ټول د قدر او عزت لایق دی د دې په اولاد کښی تر ټولو لوړه مرتبه د حضرت بی بی فاطمی رضی الله تعالیٰ عنها ده او د دې مبارک په بی بی ګانو کی تر ټولو لوړه مرتبه د حضرت بی بی خدیجی او حضرت بی بی عائشی رضی الله تعالیٰ عنها ده - سورة الاحزاب (۴) رکوع (۲۲) پاره - مشکوة شریف ص۵۵۵ - ترمذی شریف ص۵۷۲

(۲۷) عقیده ۱۰- ایمان هر هغه وخت صحیح کیږی چه د خدای جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولی خبری رشتیا و بولی او ټولی ومنی او د خدای جل جلاله او د د رسول صلی الله علیه وآله وسلم په یوه خبره کی شک کول یا د رد واغ بلل یا عیب پکښی پیدا کول یا پسخند او رخشند په وهل پوا د کفر خبری دی او دا ایمان د زوال د پاره سبب ګرځی. (سورة الحجرات (۲) رکوع (۲) پاره - سورة الاعراف (۵) رکوع (۸) پاره - سورة التوبه (۸) رکوع (۱۰) پاره)

(۲۸) عقیده ۱۰- د قرآن او حدیث واضحه او بنکاره معنیٰ نه منل تاویلات او رد و بدل پکښی کول د خپل مطلب د پاره د قران وحدیث اصل معنی خرابول خپله معنیٰ ځندی را ایستل د بی دینی خبره ده - حم السجدة (۵) رکوع (۲۴) پاره)

(۲۹) عقیده ۱۰- د ګناه په حلال او روا باللو سره ایمان ختمیږی - (سورة توبه (۱۴) رکوع (۱۰) پاره)

(۳۰) عقیده ۱۰- ګناه که هر څومره دی غټه وی تر څو چه کونکی ئی ناروا بولی ایمان ئی نه ځی البته کمزوری کیږی - (سورة التحریم (۲) رکوع (۲۸) پاره - شرح العقائد ص۸۲)

(۳۱) عقیده ۱۰- د خدای پاک څخه نه بیریدل یا نا امیده کیدل کفر دی - (سورة الاعراف (۱۲) رکوع (۹) پاره - سورة یوسف (۱۰) رکوع (۱۳) پاره

مطلب دا دی چه داسی بولی چه په آخرت کی هیڅ قسم زه نه بخښل کیږم خدای ځی نه بخښی ۱۲

(۳۲) عقیده ۱۰- دیو چا څخه د غیب خبری پوښتل بیا یقین پرکول کفر دی (مشکوٰة شریف)

(۳۳) عقیده ۱۱- د غیبو حال د الله پاک څخه ماسوی وبل هیچا ته نه معلومیږی مگر انبیاء علیهم السلام ته د وحی څخه او اولیاء الله ته د کشف او الهام څخه او عامو خلقو ته د علاموڅخه بعضی خبری اوکارونه د غیب هم معلومیږی. (سورة النمل (۵) رکوع (۲۰) پاره - سورة الجن - سورة طٰهٰ - سورة البقرة -)

(۳۴) عقیده ۱۲- یو معلوم سړی ته په کافر ویل چه نوم ئی واخلی چه فلانی کافر دی یا لعنت پرکول لویه گناه ده لیکن داسی ویلای سی چه پرظالمانو او درواغجنو باندی دی لعنت وی او هغه څوک چه خدای و رسول په نامه سره یاد کړی وی لعنت ئی پرویلی وی یا ئی کافر بللی وی نو د غسی چا ته کافر - ملعون ویل گناه نه لری. (رد المحتار ص ۸۹ ج ۲ - سورة هود (۲) رکوع (۱۲) پاره)

(۳۵) عقیده ۱۳- هر وخت چه انسان مړی که په قبر کښی پټ کړل سی او که نه سی په هر حال کی ورته دوی فرشتی (ملکی) راځی چه یوی فرشتی ته منکر او بلی فرشتی ته نکیر ویل کیږی نو د غه دوی فرشتی د د غه مړی څخه سوال اوپوښتنه کوی چه ستا خدای (خالق) څوک دی؟ ستا دین څه شی دی؟ د نبی علیه الصلوٰة والسلام په باره کی پوښتنه څندی کوی چه دا څوک دی؟ که مړی ایماندار وو نو صحیح جواب ورکوی بیا نو ده ته په باره هر قسم استراحت او آرامی سته د جنت د خوا څخه کړکی ورته د جنت د طرف څخه یخی یخی هوا وی او خوشبویانی ورته راځی او دی به په استراحت سره بیده سی او که مړی ایماندار نه وی نو دی د تولو خبرو په جواب کښی داسی وایی چه ما ته معلومات نسته بیا نو په ده ډیره سختی او عذاب تر قیامته پوری وی - (مشکوٰة شریف ص ۲۵)

---

۱ د لغت معنی د خدای د رحمت څخه لری کول دی یعنی داسی ویل چه فلانی د خدای د رحمت څخه لری دی

۲ یعنی د خدای تعالیٰ د رحمت څخه دعا

۳ یعنی د خدای یا د رسول صلی الله علیه وسلم د نامه سره

۴ د پښتنو کلی د پوښتنه څندی کوی او ورته ځواب نه ورکوی

۵ د ټولنی سویلی د ټولو نه د ملاوڅخه

۶ د ټولو نه د ملاوڅخه

۷ د ټولنی سویلی

۸ د ټولنی سویلی

۹ د ټولنی سویلی

۱۰ د ټولنی سویلی

۱۱ د ټولنی سویلی

۱۲ د ټولنی سویلی

او بعضی خلق خدای تعالیٰ د دغه امتحان څخه خلاصوی لیکن دغه تولی خبری و مړی ته معلومیږی موږ ته نه معلومیږی نه ئې لیدلای سو لکه بیده سړی چه په خوب کی هرڅه وینی او ویښ سړی د ده سره نژدی بی خبره ناست وی (شرح العقائد ص۷۶)۔ (ترمذی باب ماجاء فی عذاب القبر ص۱۲۷)

(۳۶) عقیده:۔ ترمرګ ورسته هره ورځ شهار و ما بنام په وخت کی د مړی چه کوم ځای وی ورښکاره کول کیږی: جنتی ته جنت ورښکاره کوی خوشخبری اوزیری پرکوی اود وبرخی ته د وبرخ ورښکاره کوی چه غم وافسوس ئې پیرسی۔ (مشکوة شریف ص۲۵)

(۳۷) عقیده:۔ مړی ته د دعا کولو څخه یادیو څه خیر وخیرات ورکولو ورسته د ثواب ورښښلو څخه و مړی ته ثواب رسیږی اود غه ورته پیره فائده ده۔ (سورة الحشر (۱) رکوع (۲۸) پاره۔ درمختار ص۳۷۶ جلد دوهم)

(۳۸) عقیده:۔ الله تعالیٰ اورسول الله صلی الله علیه واله وسلم چه هرڅوندی علامی او نښانی د قیامت بیان کړی دی تولی ضرور پیښیږی ونکی دی۔ امام مهدی علیه السلام پیدا کیږی او په ښه انصاف سره پاچهی کوی۔ او په یوه ستر ګه سړه دجال راځی په جهان کښی ډیر فساد ونه کوی۔ د ده د وژلو دپاره حضرت عیسیٰ علیه السلام د آسمان څخه راکښته کیږی دی وژلی یاجوج وماجوج ډیر زبردست اورورور خلق دی دوی پرتوله محکه باندی خپریږی ډیری خرابی اوبربادی پیښوی او بیا د خدای ج په قهر سره هلاکیږی۔ یو نادره اونا ولده حیوان د محکی څخه راوزی اود خلګو سره خبری کوی۔ د مغرب یعنی لمر لویدو د خواڅخه لمر راخیژی۔ او قرآن مجید پورته کیږی او په لږ ورځو کښی ټول مسلمانان مړی او تولـه دنیا

لعنة الله علیهم اجمعین ولعنة اللاعنین ۱۲ منه عفی عنه (۱۷) رکوع (۳) پاره۔ سورة الانبیاء (۷) رکوع (۶) پاره۔ سورة النحل (۱۶) رکوع (۱۸) پاره۔ سورة الانعام (۲۰) رکوع (۱۲) پاره۔ تفصیل د احادیثو د دجال لو د اکښتر صحالاتو د دجال لو د عیسیٰ علیه السلام د نزول د دجال د قتل د ده د یاجوج او ماجوج د پیدا کیدو او د هغوی د تباهی د ټولو تفصیل د ابن ماجه او ترمذی د کتابونو د فتن د ابواب د ملاحظه کولو سره معلومیږی ۱۲ منه عفی عنه

(۳۹) عقیدہ ۱۔ هر دخت چه پتولی نبیانی د قیامت پورہ سی نود قیامت سامان شروع کی
حضرت اسرافیل علیه السلام د خدای ج په حکم سره د صور په شپیلی کی پو
د غه شپیلی یو ډیر غټ شی دی چه د سنکر پر شکل دی دد غه شپیلی د
څخه پتوله مخکه او اسمانونه چوی او تکړی تکړی کیږی پتول مخلوقات مړه
اوکوم چه مړه سوی دی د هغوی روحونه بیهوښه کیږی مگر الله تعالی
د هرچا نجات او خلاصون منظور وی هغه پرځیل حال پاته کیږی یو څه زم
پر د غسی حال او کیفیت تیریږی۔ (مشکوٰة شریف ص۴۸۳ ص۴۸۲ - سورة الحاقه (۱)
(۲۹) پاره - سورة الزمر (۷) رکوع (۲۴) پاره)

(۴۰) عقیدہ ۱۔ بیا چه هر دخت وخدای پاک ته منظور وی چه پتول عالَم (جو
بیرته پیدا سی نود دهم وار شپیلی پوکل کیږی په د غه سره بیا پتو
عالم پیدا کیږی۔ مړی ژوندی کیږی د قیامت په میدان کی پتول ج
کیږی او دد غه ځای د تکلیفو څخه و بیریږی۔ پتول د پیغمبرانو ته د
شفاعت دپاره ځی آخر ز موږ حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وا
وسلم شفاعت کوی۔ پتول اومیزان درول کیږی بنه و بد عملونه تل
کیږی حساب به شروع سی بعضی به بی حسابه جنت ته ځی د نیکا
عملنامی به په راسته لاس کښی ورکول کیږی او د بدو عملنامی به پ
چپه لاس کی ورکول کیږی او پیغمبر محمد صلی الله علیه وآله وسلم به خپ
امت ته د حوض کوثر څخه اوبه ورکوی (په جنت کښی یو حوض د
د د غه نوم حوض کوثر دی) چه د غه اوبه به ترشید و ډیری سپینی
او ترشاتو (عسلو) به ډیری خوږی وی پر پُل صراط باندی تیریږی
نوچه نیکان خلق وی هغه پر پُل صراط تیریږی جنت ته رسیږی او
بد عمله خلق وی هغه د د غه پُل صراط څخه په دوزخ کی لویږی۔
(سورة یٰسٓ (۳) رکوع (۲۳) پاره - مشکوٰة شریف ص۴۸۹ سورة الانشقاق (۳۰) پاره - سورة
الحاقه (۱) رکوع (۲۹) پاره - مشکوٰة شریف ص۴۹۳ ص۴۸۷ ص۴۹۰)

(۴۱) عقیدہ ۱۔ دوزخ پیدا او موجود دی په دې کی مارانِ لړمان قسم قسم عذابونه
دی په دوزخ خیانوکښی چه په کوم یوه کښی یوه زړه ایمان وی هغه د خپل
عمل سزا پریکوی د پیغمبرانو او بزرګانو په شفاعت سره د دوزخ څخه راوزی او

جنت ته داخلیږی ـ که هرڅوندی غټ اولوی گنهگار وی او هغه کفار او مشرکان چه دی هغه په دوزخ کښی دهمیشه د پاره او سیږی او دوی ته مرگ هم نه راځی ـ (سورة البقرة (۳) رکوع (۱) پاره ـ مشکوٰة شریف ص۴۸۸ ص۴۸۹ ص۵۰۳ ـ سورة الاعلیٰ (۳۰) پاره)

(۴۲) عقیده ـ جنت هم پیدا او موجود دی او په جنت کښی قسم قسم استراحتونه او نعمتونه دی د جنتیانو سره به هیڅ قسم بیره او غم نه وی دوی به د همیشه د پاره په جنت کی اوسیږی نه د جنت څخه وتری او نه پکښی مړه کیږی ـ (سورة آل عمران (۱۴) رکوع (۴) پاره ـ سورة محمد (۲) رکوع (۲۶) پاره ـ سورة فصلت (۴) رکوع (۲۴) پاره ـ شرح العقائد ص۸۱ ـ سورة البقرة (۴) رکوع (۱) پاره ـ الیواقیت ص۲۰۵)

(۴۳) عقیده ـ خدای تعالیٰ اختیار لری چه په هر کوچنی گناه سزا ورکړی یا لویه گناه په خپله مهربانی سره معاف کړی او په هر دغه لویه گناه بالکل سزا ورنکړی (شرح العقائد ص۸۴)

(۴۴) عقیده ـ د کفر او شرک گناه خدای تعالیٰ هیڅ وخت وچا ته نه ورمعافوی او د دغو څخه علاوه نورې گناوی چه هر چا ته چې اراده وسی په خپله مهربانی سره ورمعافوی ـ (سورة النساء (۷) رکوع (۵) پاره)

(۴۵) عقیده ـ د کومو خلقو نومونه چه خدای ج او رسول ﷺ اخیستی دی جنتیان ئې بللی دی د دوی څخه ماسوی په بل چا د جنتی حکم نه سی کیدلای دا رنگه چه د دغه فلانی یقینی جنتی دی مگر که ښی علامی وویني نو ښه گمان پرکول او د خدای تعالیٰ د رحمت امید درلودل ضروری دی ـ مشکوٰة ص۱۳۵

(۴۶) عقیده ـ په جنت کی تر ټولو نعمتو لوی نعمت د خدای تعالیٰ دیدار دی چه جنتیانو ته په نصیب سی نو د دغه دیدار په لذت او خوند کی نور نعمتونه هیڅ معلومیږی ـ (مشکوٰة شریف ص۵۰۰ ص۵۰۲)

(۴۷) عقیده ـ په دنیا کی د بیداری په حال کی په دغو سترګو سره هیڅوا خدای تعالیٰ نه دی لیدلی او نه ئې لیدلای سی. (مسلم شریف

(۴۸) عقیده ـ په ټول عمر کښی که بنده ښه یا بده وی د دغه ته هیڅ اعتبار نسته پرهر حال چه دده خاتمه کیږی د دغه حال برابر ښه یا بده بدله

د رکول کیږی۔ (مشکوٰۃ ص۲۰)

(۴۹) عقیده لا۔ انسان که په ټول عمر کښی یو وار یو وخت توبه وکا بزی یا مسلمان می د خدای جل جلاله په دربار کښی قبول دی مگر د مرگ په وخت کی چه روح ئی وزی۔ د عذاب فرشتی (ملکی) وویني په دغه وخت کی نه توبه قبلیږی نه ایمان۔ (مشکوٰۃ شریف ص۲۰۱)

فصل

د عقیدو تر بیان وروسته مناسبه معلومیږی چه بعضی بیکاره عقیدی بیکاره رواجونه او بعضی لوی لوی گناوی چه اکثره وخت کیږی چه په کولو سره ئی ایمان ته تاوان رسیږی بیان سی د پاره د دی چه خلق ځان ځندی وساتی په دغو شیانو کښی بعضی بالکل کفر دی د شرک سره برابر دی بعضی نژدی د شرک او کفر ته دی بعضی بدعت او گمراهی ته رسیږی بعضی فقط گناه نری۔ غرض دا دی چه د ټولو څخه ځان ساتل په کار دی۔ بیا چه هر وخت د دغو شیانو بیان وسی تر دغو وروسته به د هغو گناهونو چه د نیا ته تاوان رسوی او عبادت چه د نیا ته گټه رسوی لږ څه بیان وکړو ځکه چه د نیا دگټی او تاوان خلق په زیات خیال ساتی۔ شاید د دغه خیال د وجهی څخه دیوه څخه نیک کار توفیق او دگناه څخه پرهیز حاصل سی۔

د کفر او شرک د خبرو بیان

کفر خو ښول د کفر خبری او کارونه ښه بلل په یو چا د کفر خبره کول دیو وجهی څخه پرځپل ایمان پښیمانه کیدل چه که مسلمان نه وای نو فلانی کار به ئی سوی وای۔ (عالمگیری ص۱۵۸ ص۱۵۹ ص۱۶۵ جلد دریم)

د اولاد او د هغی نورو کسانو پرمرگ د اسی خبری کول بس خدای دی وژنوی



په پټوله دنیا کی د وژلو د پاره بس دی وو بل څوک ئی نه کړی پیدا د خدای د پاره دا رنګه کول نه وه په کار۔ دا می ظلم هیڅوک نه کوی لکه خدای چه وکړی۔ (عالمګیری ص۱۵۹ فی مومنعین فی صفحة واحدة جلد دریم)۔

د خدای او د رسول یو حکم بد بلل یو عیب پکښی پیدا کول۔ (عالمګیری ص۱۵۹ دریم ټوک)

دیونبی یا فرشتی (ملکی) حقارت او سپکاوی کول۔ پر دوی عیب لګول۔ عالمګیری ص۱۶۰ او ص۱۶۴ دریم ټوک)

د یو پیر یا بزرګ په شان کی دا عقیده د رسولو دل چه زما په دا پټولو حالاتو هر وخت دَئی خبر ور خبر دی۔ (سورة النمل رکوع (۵) پاره (۲۰)۔ سورة الانعام (۷) رکوع (۷) پاره۔)

د غیب[۵] ګر، جادوګر او کوډګر څخه که څه هم څان مسلمان بولی یا کافر وی د غیب خبری څنډی پوښتل یا هغه څوک چه پیرانان باندی بنکاره سوی وی د غیب خبری څنډی پوښتل بیا یقین پرکول یا فال کتل ورسته یقین پرکول د غه ډډوی خبری رشتیا بلل یا د یو بزرګ په خبره سره فال نیول یقین پرکول یو څوک دلیری څخه دا بلل د اخیال کول چه دَئی په خبر یزی۔ (مشکوة شریف ص۳۹۳)

یو څوک د نفعی یا نقصان اختیار منه بلل د یو چا څخه مراد و حاجت غوښتل رزق او اولاد څنډی غوښتل۔ (سورة المؤمنون (۵) رکوع (۱۸) پاره)

د یو چا پرنامه روژه نیول یا یو چا ته سجده کول۔ (سورة بنی اسرائیل (۲) رکوع (۱۵) پاره)

د یو چا پرنامه پسه یا بل حیوان ایله کول یا دیګو نه پخول یا نذر منل د یو چا پر قبر یا ځای طواف[۵۲] کول۔ (سورة الانعام (۱۶) رکوع (۸) پاره۔ مجموعة الفتاوی ص۱۷۵)

د خدای د حکم په مقابله کښی یو خبره یا رواج مخکی کول د یو چا و مخ نه تپیدل (لکه د سلام کولو په وخت کښی چه اکثره خلق د تپیدلو عادت لری۔ یا د ډبت[۵۳] په شان ورته دریدل۔ (سورة النساء (۶) رکوع (۵) پاره۔)

یا په توپ کی بزه (اوزه) الوزول د پاره د دی چه د غه توپ نیکمرغه سی۔ او زیارت ته پسه یا بل حیوان بیول و زیارت والا وُ ته ئی ورسیارل پر زیارت یو

حیوان حلالول یا د بل چا پر نامه حیوان حلالول (یعنی لکه خلق چې د خدای پر نامه حلالوی دې ئې هم د غسی د زیارت یا پر بل چا په نامه حلالوی) د پیری او د غسی نور د شیانو څخه د خلاصید و د پاره د دروند ورکول پسه یا بل شی حلالول۔

(سورۃ البقرۃ (۲۱) رکوع (۲) پاره ۲)

په شان د کعبی د یو ځای آدب او تعظیم کول د یو جا پر نامه د کوچنی غوښ یا پزه سوری کول بیا نو غوښ والی ورته غوښ کول یا چارګل ور په پزه کول د یو چا پر نامه پرمته باندی روپی او پیسی ترل یا په غاړه کی شار یا رښکی وغیره اچول یا هغه پراویز رقمه شی پر سر ترل چه هندوان ئې وزوم ته ور ترې یا څوني پر لښول د یو چا پر نامه ۔ خپل ځان یا خپل زوی یا بل قریب د دنیا د کار څخه ازاد ول او فقیر کول (سورۃ البقرۃ (۲۱) (۲) پاره ۲)

د علی بخش، حسین بخش، عبدالنبی او د غسی نور و نومانو اینبودل۔ (شرح فقه اکبر ص۳۵)

پر یو حیوان د یو بزرګ نوم اینبودل بیا ئې عزت او تعظیم کول د جهان کار و بار، تغیرات او تبدیلات د ستورو د تاثیر څخه بلل د بښو او بد و تاریخونو او ور څو پوښتنه کول په یو شی سره فال نیول یو میاشت یا تاریخ ناسی او بد بلل د یو بزرګ نوم د وظیفی په رقم یاد ول او ذکر ئې کول (یعنی چه د یو بزرګ سپی نوم وظیفه وګرزوی) داسی ویل چه خدای او د رسول که د غواړی فلانی کار کیږی او یا داسی وایی چه که خدای او د ده د دوستان د غواړی د فلانی کار کیږی د چا په نامه او سره قسم اخستل (مشکوۃ شریف ص۳۹۲-۳۵۱) ۔ د روح لرونکی شی غټ تصویر اینبودل او خصوصًا د یو بزرګ او هر تصویر د برکت د پاره اینبودل او د دغه عکس اوبت عزت کول۔ (مشکوۃ شریف ص۳۸۵-۳۸۱)

د بدعت بیکاره رواجونو، بیکاره خبرو او کارونو بیان

پر قبرو په درب و د روب سره میلی کول۔ څراغونه پر لګول د بښو تللو و زیارتونو ته غلاف او پوښتنه پر هوارول، پاخه قبرونه جوړول د بزرګانو

ناضی کیدو د پاره د قبرونو ترحد اوانداره زیات عزت او تعظیم کول - تعزیه (یعنی د امام حسین رضی الله تعالی عنه د روضی او زیارت په شان زیارت اوروضه جوړه کړی بیائی پرا وبزو وهی یائی په آس پوری تړلی وی لکه څرنګه چه د شیعه گانو کار دی) نو دد غه تعزیی یا قبر مچول یا څټل یا د دوی خاوره په ځان پوهی مښوول، و دوی ته سجده کول یا طواف پرکول، د قبرونو طرف ته لمونځ کول - او متایانی، خوبزی، درجی، کلچی، روغانی او داسی نور شیان پر زیارت اینبوول او پخول، تعزیه کول، بیرغ د تعزیی سره گرزول یا پر تعزیی حلوا - مالیدلا اینبوول یا تعزیی ته سلام کول یا بوشی داسی بلل چه نه به د ده ته لاس ورورهل کیږی نه به نفعه پر حاصلیږی بس داغسی امانت دی پروت وی د تبرک د پاره - د حسن حسین په میاشت کی بان نه خوړل - نکرځی، سرخی، سفیده او د غابنو د صفا کیدشی نه نگول د خپل میړه سره نه او سیدل او نه نژدیکت د سره کول - سره کالی نه اغوستل - هر هغه ډوډی چه د بی بی د پاره تیاره سوی وی نو د غه ډوډی د د غه کور د خپلو خلقو ته نه ورکول - د ترېمه او دمه - څلویښتمه او داسی نور ضروری بلل او بیائی کول (مثلاً د مړی د ترېمه او دمه او څلویښتمه یاد کوچنی د پیدا کیدو یا غابن راتلو د ریمه) څلویښتمه کوی چه غم یا خوشحالی پکښی کوی) (د غه شیان که ضروری و بولی او یائی نه و بولی نارواوی - لیکن چونکه خلق ئی ضروری بولی او کوی ئی نو دی سبب ئی لفظ د ضروری راوړی او ذکر کړی دی -

د ضرورت په وخت کښی د بنځی د وهمه نکاح کول د عیب کار بلل (لیکن بیله ضرورته د کونډی د پاره نکاح کول هم بنه کار دی که ئی څوک بده و بولی ډیره گناه لری) د نکاح کولو پر موقع د غه رنگه د هلک د سنت کیدو یا مکتب نشینی یعنی د سبق د شروع کیدو پر موقع گڼه هم توان دیوشی د خیرا تولو نه لری مگر تولو کورنی د راجونه پوره کول خصوصًا قرض و سود کول د پرول و رقص میلی جوړول او د هندوانو د خاصو خوشحالیو د راجونه کول (یعنی په هندوانو او نورو کفارو کښی چه د دوی خپل اختر او خوشحالی رواج د ده هغه کول - د سلام پرځای بندگی

وغیرہ کول یعنی کښته کیدل او د پښو ته ئې لاس ورکړل یا صرف پرمخ لاس ایښودل
د سجدې چوټی کیدل دلیونو عمل دی خالصه د زړی د مخ ته بې پردې راتلل یا
د بیګانه سړي د مخ ته بې پردې راتلل دګودر او دلی څخه د منګی اوچتې راوړلو
سره عزلی (بدلی) ویل - نغمې، باجې او غزلی[1] اوریدل او ویل - رقص ګرۍ بنځې
او بازیګرې بنځې د قصول او ورته کتل او په خوشحالۍ کیدل او وړې ته انعام
ورکول - په نسب سره فخر کول - (مشکوٰۃ شریف ص۴۱۸) چه یو بزرګ ته منسوب
وي مثلاً د زوی والی یا بل شی علاقه د سړه لرې د غه علاقه د نجات او
خلاصوالی د پاره کافی بلل د یوچا په نسب کښې چه یوچه نقصان وي پر
د غه تاوان او نقصان (تاوان) ورکول - روا کسب خوار او ذلیل بلل تر اندازه
زیات د یوچا صفت کول - په کوزده، واده او نورو خوشحالیو کښې اسراف
کول - عبث کارونه کول، د هندوانو او نورو کافرانو رواجونه کول - وزوم
ته د شړلی څخه مخالف کالی ورااغوستل - پر بازو[2] ئې د بنګی ورتړل - پرمخ ئې
د ګلانو یا ملغلرو لاړه ایله کول - لاسونه ئې د سړه کول - د کورته د بنځو په
منځ کښې زوم رابلل - آتش بازي تکان او داسې نور عبث کارونه کول - او بنځې
د زوم د مخ ته راتلل او د د سړه توکي او مسخرې کول - یا د بنځو د پاره د زوم ته
پټ پټ کتل د هوښیارانو خوښینو چه د بلوغ ته نږدې وي د اخښې سره کښینستل
خوش طبعي د سړه کول (جمع الفوائد ص۲۳) یو لوښی د اوبو یا خوړو څخه پک
د ناوي او زوم په مابین کې ایښودل چه هریوئ خپل طرف ته کشوي د پاره د
دې چه د د وي سام سړه پورته سي - هرهغه ځای چه زوم او ناوي پراته
وي د د وي ته پټ د ریدل او د د وي د خبرو ته غوږ نیول پټ پټ ورته کتل
که یوخبره د معلومه سي بیا و نورو ته ویل - چه د ناوي د واده ته لږ
شپې پاته وي نو ناوي د پلار پرکور د واده تر د رځې پورې د اسې کښینول چه
د ځایه به نه بنوري - د اسې شرم کول چه د شرم د لاسه لمونځ ځنډي قضا سي
د لوبې او خټ والی د پاره د لورو پیرمخ ته ول - (جمع الفوائد ص۲۱۹)

[1] غزلی: ۔۔۔ [2] بازو: ۔۔۔

(تصحیح الاغلاط)

په عنک په چغو اوکړي د سړه ژړل مخ او سینه وهل - مشکوٰة صـ۱۵۰ په خبرو کې ژړل (مثلاً یو څوک مړ وي د هغه قصې کوي د سړه ژاړي چه داسې پهلوان وُو چه پرلسو نفرو غښتلی وُو) استعمالی منګیان ماتول (یعنی د مړي هغه استعمالی لوښي ماتول) هرهغه کالي چه د مړي د بدن سره لګیدلی وي د هغه پرې منځل تړیره کاله یا څه کم یا څه زیات پوري په دغه کور کښې خوشحالي نه کول په دغه کور کې اچار او سرکه نه استعمالول پرځای صوتاریخونو باندې بیا د مړي غم را تازه کول - تر اندازې زیات په سنګار او بنایست کښې ځان اخته کول ساده وضعه اوطرز عیسجن بلل په کور کښې عکسونه او بتان ایښي ول (مشکوة صـ۳۸۵) د سپینو اوسرو زرو پان دان - عطردان - رنجونې د رنجونې لرګي اوداسې نور شیان استعمالول (در مختار صـ۲۹۸ جلد پنځم)

دیره باریکه اونرۍ جامه اغوستل (مشکوة صـ۳۷۷) یا هغه زیورات استعمالول چه شرنګي اوږغ کوي داسې پای جامه اغوستل چه د باد اوهوا په وخت کې بې ستره سي - د خلقو وځغلونو او مجلسونو ته ور تلل خصوصاً د تعزیې او میلې د پاره تلل د نارینه په شان شکل اوصورت جوړول (مشکوة صـ۳۸۰)

د شب بیداري رواج اداکول (دا یو داسې رواج دی چه ښځې ټولې شپه دیو حاجت د پوره کولو د پاره نه بیدیږي او ټولې شپه رونوی د نذر او نیاز د پاره خوږي اوپکوړي پخوي) - کرکه کول - خالص د زیب و بنایست د پاره د ټوکرانو دیوالونه او بامونه جوړول او د بنایست د پاره پر دیوالونو او د بامونو پر لاندې خوا ټوکران مبنلول - وسقرته د تلو په وخت کښې یاد سفر څخه د راتلو په وخت کښې د غیر محرم سړه غاړه په غاړه کیدل چه رخصت ځندې اخلي او یا ستړي مسي ور سره کوي - د هلک غوږ یا پزه سوري کول د پاره د دې چه د پایږي (یعنی ژوندۍ پاته سي) هلک ته غوږ والی ور په غوږ کول یا چارګل ور په پزه کول - هلک ته وریښمینې جامې یا په کسم یا په زعفران سره رنګیدلی کالي یا یا کړي یا بنګړیان یا نور زیورات ور اغوستل - کوچنیانو ته تاریک یا بل د نشې شی ورکول چه ژړا پریږدي آرام سي - په یو مریض کښې د زمري غوښې یا شیدې خوړل - د دغسې قسمه څخه نورې پرې خبرې دی چه هغه همدغسې حرامې دی لیکن د پاره د نمونې مو دغه یوڅه بیان کړیدی.

بعضی لوی لوی گناوی چه پرکونکی ئ دیره سختی راغلی دی

⊙ خدای جل جلاله ته شریک پیدا کول۔ (سورۃ النساء) ⊙ ناحقه خون (قتل) کول۔ (سورۃ بنی اسرائیل) ⊙ هغه بنځئ چه اولاد ئ نه وی د بلی بنځئ د اولاد د پیدا کیدو په ځای کی داسی طلسم او بد فالی کوی چه د غه کوچنی مړی اوزما اولاد وسی داهم په خون کولو کښی داخل دی ⊙ مور او پلار زهیروول۔ (بنی اسرائیل) ⊙ زنا کول۔ (سورۃ بنی اسرائیل) ⊙ د یتیمانو مال خوړل۔ (سورۃ النساء) مثلاً لکه اکثره بنځئ چه د میړه پر تول مال قبضه کوی او د ورځ کوچنیانو حصه نوش جان کوی ⊙ د بنځو ته میراث نه ورکول۔ (سورۃ النساء) ⊙ پریو بنځه په لږ شک سره د زنا تور لګول۔ (سورۃ النور) ⊙ ظلم کول۔ (سورۃ الفرقان) ⊙ غیبت کول یعنی چه څوک حاضر نه وی په هغه پسی بد ویل (سورۃ الحجرات) ⊙ د خدای پاک د رحمت څخه ناامیده کیدل (سورۃ الزمر) ⊙ د وعدی او قول نه پوره کول (سورۃ بنی اسرائیل) ⊙ په امانت کی خیانت کول (سورۃ النساء) ⊙ د خدای یو فرض لکه لمونځ۔ روژه۔ زکوٰۃ اوج پریښول۔ (جمع الفوائد ص۱۶۵-۱۳۸ جلد اول) ⊙ قرآن شریف زده کول او بیرته هیروول۔ (مشکوٰۃ شریف ص۱۹۱) ⊙ درواغ ویل (سورۃ ال عمران) ⊙ خصوصاً پر درواغو قسم اخستل (مشکوٰۃ ص۲۹۶) ⊙ د خدای جل شانه څخه ماسیوئ دبل چا په نامه سره قسم اخیستل۔ یا دامی قسم اخیستل چه د مرګ په وخت کی دی کلیمه نه نصیب کیږی او بی ایمانه دی سم۔ (ابوداؤد۔ نسائی۔ مشکوٰۃ) ⊙ د خدای تعالیٰ څخه ماسیوئ ویل چاته سجده کول (سورۃ السجدہ) ⊙ بیله عذره لمونځ قضا کول (مشکوٰۃ ص۵۹) ⊙ یو مسلمان ته کافر۔ بی ایمانه۔ خدای دی ووهه۔ در باندی لعنت دی وی د خدای د بښمنه یا نور د غسی الفاظ ویل۔ مشکوٰۃ ص۴۱۱ ⊙ د چا گیله او شکایت اوریدل یا کول (مشکوٰۃ ص۴۱۳) ⊙ غلا کول (سورۃ المائدہ) ⊙ سود اخیستل (سورۃ بقرہ) ⊙ د غلی په گرانی سره خوشحالیدل (مشکوٰۃ ص۴۴۱) ⊙ دقیمت

معلومول او فیصله کول بیاکم ورکول مثلاً رانیونکی پر دوی روپی فیصله وکړی بیا په زور سره یوه روپی په قبوله کړی ⊙ د غیر محرم سره یوازی کښینستل (جمع الفوائد صفحه ۲۳ اول توک) ⊙ خمارکول (مائده) بعضی انجونی (انجیلی) چه قطار او د غسی نورې بازی په شرط سره کوی نو دغه هم خمار دی. ⊙ د کافرانو رواجونه خوښول. (بخاری مشکوٰة) ⊙ د دوی او خورک ته بد دیل بد بلل. (مشکوٰة صفحه ۳۶۴) ⊙ رقص ته کتل سرور او باجه اورېدل. (جمع الفوائد صفحه ۲۴ صفحه ۵) ⊙ سره د قدرته نصیحت نه کول. (مشکوٰة صفحه ۴۳۶) ⊙ د پاره د بی عزتی او شرمندگی پریوچا مسخری کول (سورة الحجرات) ⊙ دیوچا عیبونه لټول او ټلاشول (سورة الحجرات)

د گناهونو په سبب سره د دنیا د بعضو تاوانونو بیان

⊙ د علم څخه بی برخی پاته کیدل د رزق کمیدل ⊙ د خدای د یاد څخه بیربیدل او وحشی کیدل د خلقو څخه وحشی کیدل او بیربیدل خصوصاً د نیکانو خلقو څخه وحشت کول بیره کول په اکثره کار وکښی مشکلات او سختیانی پیښیدل ⊙ د زړه صفائی نه پاته کیدل په زړه کی او بعضی وار نه په لټول بدن کښی کمزوری پیدا کیدل ⊙ د عبادت څخه بی برخی پاته کیدل عمر کمیدل ⊙ د توبی توفیق نه پاته کیدل ⊙ په لږ و ور څوکښی د گناه بد بلل د زړه څخه وتل ⊙ د خدای تعالیٰ په نزد خوار او ذلیله کیدل ⊙ نور د خلقو ته د ده تاوان ور رسیدل ⊙ د دی سببه د خلقو پرده پاندی لعنت کول ⊙ په عقل کښی نقصان راتلل ⊙ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د طرف څخه پرده لعنت کیدل ⊙ د فرشتو (ملکو) د دعا څخه بی نصیبه پاته کیدل ⊙ په پیدا وار او حاصلاتو کښی کمبوت راتلل ⊙ د شرم او غیرت تلل ⊙ د خدای تعالیٰ لوی د ده د زړه څخه وتل ⊙ بیرته د نعمتونو ځندی پورته کیدل ⊙ غمونه او بلاوی پرمسلطه کیدل چه د یوی سرا و د بلی پای وی ⊙ پرده د شیطانانو مقرره کیدل ⊙ د زړه خفگان او پریشانی پرناز یلیدل ⊙ د زکندن په وخت کښی د خولی څخه کلمه نه وتل ⊙ د خدای ج د رحمت څخه نا امیده کیدل ⊙ د دغه سببه بیله توبی مړکیدل

د عبادت په برکت سره د دنیا د بعضو فائدو بیان

⊙ رزق زیاتیدل ⊙ قسم قسم برکتونه حاصلیدل ⊙ تکلیف او پریشانی لیری کیدل ⊙ د مراد او حاجت په حاصلیدو کښی آسانی راتلل ⊙ د خونه زندگی اوښرونده نصیب کیدل ⊙ بارانونه کیدل ⊙ د هر قسم بلا او مصیبت لیری کیدل ⊙ د خدای تعالیٰ مددگاری او مهربانی ورته حاصلیدل ⊙ فرشتو (ملکو) ته حکم کیدل چه دده زړه مضبوط او محکم کړی ⊙ د حقیقی عزت آو آبرو خاوند گرځیدل ⊙ د مرتبو بلنده کیدل ⊙ د هرچا په زړه کښی محبوب او دوست گرځیدل ⊙ قرآن دده په حق کی شفا او دوا گرځیدل ⊙ که ئی د مال او دنیا تاوان وسی تر دغه ښه بدله د جانبه د خدای تعالیٰ ورکول ⊙ ورځ په ورځ په نعمتونو کښی زیادت او ترقی راتلل ⊙ د مال او دولت زیاتیدل ⊙ د زړه سکون او آرامی نصیب کیدل ⊙ په راتلونکی نسل کی نفعه ورته رسیدل ⊙ په ژوند کی غیبی بشارتونه او خوبونه نصیب کیدل د مرگ په وخت کی د ملکو زیری پرکیدل ⊙ مبارکی ورکول ⊙ د عمر زیاتیدل ⊙ د لوبړی او مفلسی څخه خلاصیدل ⊙ په لږ شی کښی ډیر برکت موجودیدل ⊙ د خدای تعالیٰ قهر او غصه تلل.

داود اسه بیان

اودس کوونکی لره په کار دی چه داود اسه کولو په وخت کښی د قبلی د طرف نه مخ وگرزوی۔ او پریولو په څای کښینی چه څاڅکی پرونه مښلی (مراقی ص۳۴) داو داسه د شروع کولو په وخت کښی دی بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم وائی (مراقی ص۳۹) د ټولو مخ کی دی د ترمرونده و پوری لاسونه درې واره پرمینځی (بحرالرائق ص۱۷ اول توک) بیا دی درې واره په خوله او به وهڅوی (نورالایضاح ص۸) او مسواک دی وکړی (مراقی ص۳۹) او که مسواک نه وی نو په یوپنډ توکر یا مړوند په گوته سره دی خپل غاښونه صفا کړی چه ټوله خیره میره ولاړه سی۔ (مراقی ص۳۹) که چیری د روژه دار نه وی نو دی او به غرغره کړی په ښه طریقه سره

دی ئی دتولـه خولـه تـه ورسـوی اوکـه ئی روژه دی نوبیادی اوبـه نـه غرغره کوی
حکمه چه کیدای سی چه یو څه اوبه وستونی ته ورسیږی (مراقی ص۴۱) بیادی
دری واړه په یزه اوبه وگرزوی (هدایه ص۳۲) په چپه لاس سره دی یزه صفا
کړی (منیه ص۳۰) لیکن د چا چه روژه وی هغه دی دیزی و تینکوته اوبه نه
رسوی - بیادی دری واړه مخ پریمنځی دسر د بینبتانو (وریښتانو) څخه بیولی
بیا تر زنی لاندی دیوه غوږ د نرمی څخه دبل غوږ تر نرمه پوری دی پرتولو
څایونو اوبه ډبوی د دواړو درځو وپوست ته دی هم اوبه ورسوی چه
یو ځای دچ پاته نه سی - بیادی دری واړه راسته لاس سره د څنګلو —
پریمنځی او بیادی دری واړه چپه لاس سره د څنګلو پریمنځی (نور ص۷ غنیه ص۲۵
کبیری ص۲۲ نور ص۱۰) دیوه لاس گوتی دی دبل لاس په گوتو کښی واچوی.
خلال دی ئی کړی دی مختار اول ټوک) او گوتکی، وښی، بنگړی هرڅه چه
ئی په لاس وی د دی بنوروی چه یو ځای وچ پاته نه سی - (کبیری ص۲۳)
بیادی یو واری دټولـه سر مسحه وکړی - بیادی د غوږ د مسحه وکړی د غوږ و
د ننه حصه دی د کلیمی په گوته سره مسحه کړی (یعنی هغه گوته چه د
بټې گوتی او د مابین دگوتی په منځ کی ده) او د غوږ د د باندی حصه دی په
بټه گوته سره مسحه کړی - بیادی دگوتو د شا په طرف دگردن (رقبی) مسحه
وکړی (منیه ص۲۴) لیکن د غاړې مسحه دی نه کوی چه دا بد او منحه دی
نور الایضاح ص۴۴) د غوږ و د مسحی کولو د پاره د نوو اوبو د اخیستلو ضرورت
نسته د سر د مسحی څخه چه کومی اوبه پاته سویدی هغه کافی او بس دی
(شامی ص۱۲۶ اول ټوک) او دری واړه دی راسته پښه سره د بجلکی پریمنځی (نور ص۷
مراقی ص۴۲) بیادی چپه پښه سره د بجلکی پریمنځی او د چپه لاس په خنچه گوته
سره دی د پښو د گوتو خلال وکړی د راسته پښی د خنچې گوتی څخه دی ئی شروع
کړی د چپه پښی پر خنچه گوته دی ئی ختم کړی - (طحطاوی ص۲۲ دوهم ټوک)
داد اوضو کولو طریقه ده لیکن په دغو کښی بعضی شیان داسی دی چه که په
دوی کښی یو هم پاته سی یا یو څه کمی پکښی راسی نو اوضو ئی صحیح نه دی. لکه اول

چه بی اودسه وو اوس هم بی اودسه دئ ودغسی شیانوته فرض ویل کیږی (عمدة الرعایه ص۵۴)

او بعضی شیان دامی دی چه ددوی دپاته کیدو څخه اودس کیدای سی۔ لیکن کول ئ ډیر ثواب لری او په شریعت کی ددوی دکولو تاکید او امر هم راغلی دی که ئ څوک اکثر وخت پریږدی نو ګنهګار ږی ودغسی شیانونه سنت ویل کیږی۔ (عمدة الرعایه ص۶۲)

او بعضی شیان دامی دی چه په کولوکی ثواب دی په نه کولو کی هیڅ قسم ګناه نسته او په شرعه کښی ددوی دکولو تاکید هم نسته ودغسی شیانوته مستحب ویل کیږی۔ (شامی ص۱۲۵ اول جلد (پوک)

(۱) مسئله:- په اوداسه کښی فرض فقط څلور شیان دی یو وار تهول مخ پریوللـ یو یو وار د واړه لاسونه سره د څینګلو پریوللـ یو وار د څلورمی حصی دسر مسحه کول۔ یو یو وار د واړی پښی سره د بجلکو پریمنځل بس فرض دغه قدر دی په دغو کی که یوشی هم پاته سی یا دیوه بیښته سره برابر یو ځای وچ پاته سی نو اودس ئ نه صحیح کیږی۔ (هنر ص۱۰)

(۲) مسئله:- اول ترینده ونو پوری د واړه لاسونه پریمنځل۔ بیا بسم الله ویل بیا په خوله اوبه لغړول۔ په پزه اوبه لغړول۔ مسواک کول د ټول سر مسحه کول هر اندام دری واړه پریوللـ دغو یو د مسحه کول د لاسو او پښو دګوتو خلالول دغه ټول شیان سنت دی او د دغه څخه ماسیوا چه نور شیان دی هغه ټوله مستحب دی۔ (نور الایضاح ص۸)

(۳) مسئله:- هر هغه وخت چه دغه څلور اندامونه چه ددوی پریوللـ فرض دی پریوللـ می نو بس اودس صحیح دی برابره خبره ده که ئ قصد د اوداسه کړی وی که ئ نه وی کړی۔ مثلاً د لمبید و په وخت کښی پر ټوله بدن اوبه ډبهوی او اودس ونه کړی یا په حوض۔ ناور کی غوټه سی یا و باران ته دباندی ودریږی د اوداسه دغه اندامونه لاندی سی نو اودس ئ کیږی۔ لیکن د اوداسه ثواب نه ور کول کیږی (ځکه چه نیت د اوداسه ئ نه دی کړی) شامی ص۱۱۱ اول ټوک)

(۴) مسئله:- سنت طریقه داده چه دا رنګه اودس وکړی لکه څنګه چه موږ مخکی بیان کړه او که څوک سر چپه اودس وکړی چه اول مثلاً پښی پری منځی بیا مسحه

دسر وکړی۔ بیا دوارہ لاسونه پریمنځئ او بیا مخ پریولی یا بل قسم بې ترتیبه اودس وکړی نو هم اودس ئې صحیح کیږی۔ لیکن پرسنت طریقه برابر او موافق اودس نه سو۔ او د گناه بیړه سته (که چیرې پرد عمی بې ترتیبه اوداسه باندې عادت ونسی۔ (مراقی ص۳۳)

(۵) مسئله:۔ دغه رنگه که چیه لاس او یا چیه پښه اول پرې منځئ اودس صحیح کیږی لیکن د مستحب طریقې څخه مخالف کار دی۔ (هدایه ص۳۳)

(۶) مسئله د دوو اندامو د پریوللو په منځ کښې دی د ونډی څنډ نه کوی چه اول اندام وچ سی بیا نو د وهم اندام پریولی۔ بلکه د اول اندام تر وچیدو مخ کی دی د وهم اندام پریولی که اول اندام وچ سو بیا ئې د وهم اندام پریولی نو اودس خو صحیح کیږی لیکن دغه کار د سنت طریقې خلاف دی۔ (درمختار ص۱۳۷ اول توک)

(۷) مسئله:۔ د هر اندام د پریوللو په وخت کی د اهم سنت کار دی چه اندامونه په لاس سره ومښی د پاره د دی چه هیڅ ځای وچ پاته نه سی وتولو ځایونه او به ورسیږی۔ (شامی ص۳۵ اول توک)

(۸) مسئله:۔ تر وخت د داخلیدو مخکی اودس۔ د لمانځه د پاره انتظام اوتیاری کول مستحب او غوره کار دی۔ (درمختار و شامی ص۱۳۰)

(۹) مسئله:۔ تر څو پورې چه یو مجبوری نه وی خپل اودس دی په خپل لاس سره وکړی په بل چا سره دی د اوداسه او به پرخپلوانداموونه اچوی۔ د اوداسه په وخت کی د دنیا وی خبرو او کار وخته هیڅ بحث نه کوی۔ بلکه د هر اندام د پریوللو په وخت کی دی بسم الله او کلمه وایی۔ او به که هر څونه د پیری وی مثلاً د دریاب پر غاړه ناست وی بیا به هم تر ضرورت بالا او به نا استعمالوی او نه به د اوبو په استعمالولو کښې دیره کمی او لږ والی کوی چه په بښه پریوللو کی تکلیف څنډی پیښ سی نه دی یو اندام تر دری واړه بالا پریمنځئ۔ (شامی درمختار۔ منیه۔ او د مخ پریوللو په وخت کی دی په زور سره او به پرمخ نه غورزوی او نه دی په او یو کښې پوکی چه څاڅکی څینی پورته سی خپله خوله او ستړگی دی په او داسه کښې د پیری تینگی نه بندوی ځکه چه دغه ټول

له یعنی فضله د هم اندام پریوللو د دنیوی څخه د دی دا بنکنځه د اول اندام له وچ سی مخکښې د پیښ خلق د پیښ د دی د وهم اندام د پیښ د دی د وهم اندام د پیښ د دی د وهم اندام

کار دنه مکروه او منعه دی - که ئی خوله یا ستړگی ډیری تینګی پیښی کړی - او پر شونډو یا بانوګانو یوشه وچوالی یا ته سو یا د ستړګو ویو کوږ ته او به نه ورسیدی نو اودس ئی نه صحیح کیږی - (شامی - در مختار ص۱۳۶ اول ټوک)

(۱۰) مسئله :- ګوتکی - وښی - بنګړیان او دغسی نور شیان که ارت او سست وی او بیله بنورسیدو د دوی ولاندی خایونه ته او به رسیدی بیا هم د دوی بنورول مستحب دی او که دامی تنګ وی چه بیله بنورسیدو د او بو د ته رسیدو ګمان وی بیا نو د دوی بنورول په بنه طریقه سره او به ورسول ضروری او واجب دی د پیزی د نتی (نتکی) او چارګل هم دغه حکم دی او که د پیزی سوری ارت او غټ وی نو دغه وخت د چارګل او نتکی بنورول مستحب دی او که چیری د پیزی سوری تنګ وی، بیله ګرزولو او بنورولو څخه د نتی او چارګل او به د ننه رسیدل ته نه رسیږی نو د مخ د پریښولو په وخت کښی د نتی او چارګل بنورول او ګرزول او او به د ننه رسیدل د پیزی د سوری ته رسول واجب دی. (منیه ص۱۲)

(۱۱) مسئله :- که د چا په نوکانو کی وچ اوسپاره تر او سپره لاندی او به د بدن ته نه ورسیدی نو اودس ئی نه دی سوی - هر وخت چه ئی یادښت او سپاره د دینی نو دی او سپاره د نوکانو څخه لیری کړی د غه حکم یونه دی پریمنځی که ئی چیری د د غو خایونو تر پریمنځلو مخ کی یو لوښ کړی وی نو لوښ ئی نه صحیح کیږی بیرته دی خپل لوښ را ګرزوی. (منیه ص۱۷ - کبیری ص۳۶)

(۱۲) مسئله :- که یو چا پر تندی باندی د سر د زړو نری او هواری ټکری یا بل شی په ګوند او سریښو سره د پاره د بنایست مښلولی وی - نو فقط سر بیرته ئی او به پر وبهولی چه د غه شیان رایله نه سوه نو اودس ئی نه صحیح کیږی - ټول سر لیږی او ګوند دی د تندی څخه جلا کړی بیا دی مخ پریولی د غه شیان اکثرا د خت د ناوی پر تندی د د دیدو په وخت کښی مښلوی -

(۱۳) مسئله هر وخت چه ئی اودس وکړی نو سورة انا انزلناه او د غه دعا دی وکړی. (منیه ص۱۵ در مختار و شامی ص۱۳۳) (هغه دعا داده)

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنْ عِبَادِکَ الصَّالِحِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الَّذِیْنَ لَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ۝

د دعا ترجمه :- ای الله ما وگرزوی د توبه کوونکو څخه - ما وگرزوی د هغوکسانو څخه چه د گناه څخه پاک دی - وگرزوی ما ستاد نیکو بنده گانو څخه ما وگرزوی د هغوکسانو څخه چه پردی پوه دواړو جهانو کښی هیڅ بیره نه وی او نه پوه آخرت کښی غمگین وی .

(۱۴) مسئله :- هر وخت چه اودس وکړی نو غوره ادبنه داده چه دوه رکعاته[1] نفل لمونځ وکړی دغه لمانځه نه چه تر اوداسه وروسته کیږی تحیة الوضوء ویل کیږی پوه حدیث شریف کښی تر اودس وروسته د دغه لمانځه دکولو ډیر ثواب راغلی دی . (منیة ص۱۳)

(۱۵) مسئله :- که ئ یو وخت اودس وکړی بیا بل دوهم وخت داخل سوا و اودس ئ لانه وړ مات سوی نو پوه دغه اوداسه سره د دغه بل وخت لمونځ هم روادی مطلب پوه یوه اوداسه سره تر څو چه نه وی مات سوی د ډیرو وختو لمونځونه روادی اوکه چیری نوی اودس تازه کړی بیا ډیر ثواب لری - (منیه ص۱۳)

(۱۶) مسئله :- هر وخت چه یو وار اودس وکړی او هغه مات سوی نه وی نو تر څو چه پوه دغه اوداسه سره ئ یو عبادت کړی نه وی بل اودس کول مکروه او منعه دی نو که دلمبید و پوه وخت کی یو چا اودس کړی وی بیا نو پوه دغه اودس سره لمونځ کول پوه کار دی چه دغه اودس مات سوی نه وی بل اودس دی نه کوی - هو - که ئ چیری لږ تر لږه دوه رکعاته پوه دغه اوداسه سره کړی وه نو دوهم اودس کول هیڅ پروا نه لری بلکه ثواب لری - (رد المحتار ص۱۲۴ اول ټوک)

(۱۷) مسئله :- که د چالاس یا پښی چاودلی وه او د غه چاودی ئ پوه واړنگو یا غوړو یا واسلینو وکړی وی او د دغو شیانو د لیری کولو څخه ضرر او تاوان پیښیدی نو که ئ د دغو شیانو بیله لیری کولو څخه اودس وکړی هسی ئ سر بیره او به پرو بهولی نو اودس صحیح دی - (منیه)

(۱۸) مسئله :- که چیری داوداسه کولو پوه وخت کښی پوند وه یا بل څای و چ پاته سوی وو هر وخت چه ئ اودس وکړی بیا ورته معلومه سوه چه فلانی څای وچ دی نو پر دغه څای فقط لاس گرزول او مښوول کافی نه دی - بلکه او به بهول پوه کار دی

[1] پوه دی کی داشرط ضرور دی چه دمکروه وختونو څخه یو وخت هم نه وی ۱۲ تصحیح الاغلاط

(۱۹) مسئله:- که پرلاس یا پینه یا بل خای باندی یو دانه یا زخم وی- یا یو بله داسی تن هریفی وی چه او به پراچول تاوان کوی نو او به دی نه پراچوی داود اسه کولو په وخت کی دی ضرور لوند لاس پرتیر کړی و دغه ته مسحه ویل کیږی. او که دغه مسحه کول هم تاوان کوی نو لاس دی هم نه پرتیروی دغه خای دی پریږدی- (منیه ص۲۳)

(۲۰) مسئله:- که ئ پرزخم پلستر او پټی کړی وی چه پټی خلاصوی لاندی پرزخم دمسحی کولو څخه تاوان پیښیږی یا د پټی د خلاصولو او تړلو څخه پیر تکلیف پیښیږی نو پرپټی سر بیړه مسحه کول روا دی که تکلیف او تاوان نه وی بیا پرپټی او پلستر مسحه کول روانه دی بیا نو پټی او پلستر خلاصول مسحه پرکول په کار دی- (درمختار ص۲۸۵ اول ټوک)

(۲۱) مسئله:- که تر ټولو پټی لاندی زخم نه وی نو که ئ دامی کولای سوی چه پټی خلاصه کړی زخم پریږدی او نور زخم شاوخوا پریمنځی نو بیا ئ پریږدی په کار دی او که ئ پټی نه سوای خلاصولای پر ټولو پټی دی مسحه وکړی چه هر خای زخم دی هلته دی هم مسحه وکړی او چه زخم هرهغه خای نسته هلته دی هم مسحه وکړی- (درمختار ص۲۸۹ اول ټوک)

(۲۲) مسئله:- د لاس یا د غسی بل اندام د هډوکی د مات یا د و په وخت کښی چه د لرګو د ړی و د غه مات سوی هډوکی ته ور کوی یعنی سکنده کوی ئ او تړ د غه ور دسته بیا پرد غو د ړو یو ټوکر پیچی نو د د غی سکندی هم د غه حکم دی چه تر څو پوری د غه سکنده خلاصیدای نه سی او په خلاصیدو کی تاوان وی- نو پر د غه سکنده سر بیړه دی مسحه کوی. او د رګ د خلاصیدو د پټی هم د غه حکم دی چه که پرزخم سر بیړه مسحه نه سی کولای نو سر بیړه پټی دی خلاصه کړی پرهغه لاندی ټوکر دی مسحه وکړی کوم چه پرزخم باندی پروت دی او که یو داسی څوک نه وی چه د غه پټی ور خلاصه کړی او بیا ئ بیا ئ بیړته ور وتړی نو بیا دی پرد غه سر بیړه پټی مسحه وکړی (درمختار ص۲۸۷ اول ټوک)

(۲۳) مسئله:- په پلستر سکنده- پټی او د غسی نورو کی عذر نه او سنه دا ده چه پرټول پلستر- پټی باندی مسحه وکړی که ئ پرټول و نه کړی بلکه ترنیمی پرزیات ئ وکړی هم روا ده او که پرنیمی یا ترنیمی پرکمه مسحه وکړی نو بیا

روانه دی - (در مختار - ص۲۹ اول ټوک)

(۲۴) مسئله :- که سکنده - اوپتې ولوید ه اوزخم لاښه نه وو نو بیرته دی ئې پرزخم وتړی هغه اوله مسحه باقی اوپاته ده دبل وار مسحې کولو ضرورت نسته که زخم ښه سوی وو چه دبیرته تړلو ضرورت نه وو نو مسحه ئې مانه ده بس فقط دغه د مسحې ځای دی پریمنځې لمونځ دی وکړی ټول اودس راګرزول ضرورنه دی - (در مختار - هدایه)

دهغوشیانو بیان چه اودس ماتوی

(۱) مسئله :- غټې بولی - وړی بولی - او هوا چه دشادلاری څخه ووزی - نو اودس ماتوی - مګرکه دمخ دلاری څخه هوا ووزی نکه د مریضی په وخت کښی چه یو وخت د غسی پیښیږی په دغه سره اودس نه ماتیږی که دمخ یا دشادلاری څخه یو چینجی ووزی یا یو شګه ووزی نو هم اودس ماتیږی (منیه ص۴۵)

(۲) مسئله :- که دچا د زخم څخه چینجی ووزی یا د غوږ څخه چینجی ووزی یا د زخم څخه غوښه ولویږی لیکن وینه نه وی وسره نو اودس ئې نه ماتیږی (منیه ص۴۵ در مختار ص۱۴۱ اول ټوک)

(۳) مسئله :- که یو چا رګ خلاص کړی یا ئې پزه خونږ سوه وینی تر ولاړی یا ئې د بدن یو بل ځای خونږ سو وینی ځینی ولاړی یا ئې د بدن د یو داني او زخم یا بل ځای څخه وینه ولاړه یا نو وینه اوزوی څنډی وبهیدل نو په دی ټولو صورتو کښی ئې اودس مات دی - مګرکه پرزخم وی د زخم د خولی څخه تیری وینه کړی بیا ئې اودس نه ماتیږی - که په چا ستن جګه سوه - وینه بنکاره سوه لیکن د تلو د ځای څخه وینه بهیده نو اودس ئې نه ماتیږی - او که لږ غوندی وبهیده بیا ئې اودس ماتیږی. (منیه ص۴۷)

(۴) مسئله :- که چا پزه سون کړه د وینو توټې - څنډی را ایله سوی چه نرمه اوبهیدونکی وینه نه وه په دغه کی - نو اودس ئې نه ماتیږی اودس هغه وخت ماتیږی چه نرمه وینه راووزی او وبهیږی پس نو که چا پخپله پزه کی ګوته واچوله ورسته چه ئې ګوته راوایسته نو پرګوته د وینو داغ معلوم سو - لیکن هغه وینه بس دونه وه چه پرګوته لږ څه پرته وه نو په دغه سره

اودس نه ماتیږی۔ (منیه ص۵۰ ۔ درمختار ص۱۳۹ اول ټوک)

(۵) مسئله:۔ دیوچا په ستړګه کی بودانه یا بل شی وُچه دغه دانه ماته سوه یا ئی په قصد سره ماته کړه اوددغی دانی اوبه په ستړګه کی سره وبهیدلی تر ستړګی دباندی ونه وتلی نو ددغه اودس نه ماتیږی دغه رنګه که په غوږ کی دننه دانه وی اوماته سی نو ترڅوچه ددغی دانی نوونه یا وینه دغوږ په سوری کښی دننه په هغه ځای کښی وی چه هلته اوبه ور رسول دغسل په وخت کښی فرض نه دی نو اودس ئی نه ماتیږی اوهر وخت چه وداسی ځای ته راسی چه هلته اوبه رسول فرض دی نو بیا ئی اودس ماتیږی۔ (منیه ص۴۷)

(۶) مسئله:۔ که یوچا د خپلی دانی یا زخم پوست پری کړی تر دغه پوست لاندی نوونه بنکاره سوه لیکن دغه وینه یا نوونه دلاړ وی ویوی خواته اوبلی خواته نه وی بهیدلی نو اودس ئی نه ماتیږی اوکه چیری شاوخوا وبهیږی نو بیا ئی اودس ماتیږی۔ (منیه ص۴۷)

(۷) مسئله:۔ که دیوچا دانی په ځای کښی یو ژور غار جوړ سوی وو نو تر څو پوری چه وینه ۔ زوی او نوونه په دغه غار کښی وی دباندی نه وی را وتلی نو اودس ئی نه ماتیږی۔ (منیه ص۴۷)

(۸) مسئله:۔ که د زخم یا دانی وینه یا بل شی پخپله نه وی راوتلی بلکه قصدًا دانه او زخم کښیکاږی وینه چُندی راوړی نو اودس ئی ماتیږی په دی شرط سره چه شاوخوا وبهیږی۔ (درمختار ص۱۴۱ اول ټوک)

(۹) مسئله که دیوچا د زخم څخه لږ لږ وینه راوونله ۔ د لږ خاورو پرواچوله یا ئی په یو ټوکر یا پنبه ؤ یا بل شی سره پاکه کړه بیا یوځله راوتله ۔ بیا ئی پاکه کړه اوداسی عمل ئی د پیر وار ونه وکړی چه وینه ئی بهیدلو ته نه پریښوده نو په خپل زړه کی دی فکر وکړی که داسی ور معلومیده چه که چیری ما صافه کړی یا وچه کړی نه وای بیا بهیدله نو اودس ئی ماتیږی اوکه داسی ور معلومه سوه چه که می صافه کړی یا وچه کړی نه وای هم نه بهیدله بیا ئی اودس نه ماتیږی (منیه ص۴۸)

(۱۰) مسئله:۔ که دچا په ناروکښی دینی معلومی سوی نوکه په ناروکی وینه پیدا کمه وه د ناروه رنګ دسپینوالی اوژړوالی ته مائل ؤ نو اودس ئی نه ماتیږی اوکه

دینی ډیری یاد نارو سره برابری وی او رنګ ئی وسرخی ته مائل وی بیا ئی اودس ماتیږی۔ (منیه ص۴۹ - نورالایضاح - مراقی الفلاح ص۴۹)

(۱۱) مسئله:- که ئی په غابن سره یوشی پری کړی او پرډغه شی د دینو داغ معلوم سو یا ئی غابنونه خلالول د غابنود خلالولو پرلرګی د دینو سور والی معلوم سو۔ لیکن کپه نارو کښی بالکل د دینو رنګ نه معلومیدی نو اودس ئی نه ماتیږی۔ (منیه ص۴۵)

(۱۲) مسئله:- که یوچا د ژوری په واسطه د بدن د ینه وکښه او ژوره د دینو څخه دونه ډکه سوه که پرمابین پری کړل سی نو به وینه د دغی ژوری څخه د بهیږی نو اودس ئی ماتیږی او که چیری نه د بهیږی بیا ئی اودس نه ماتیږی۔ که غوماشی - مچ - یامنګور د انسان د بدن د ینه وځبیښل نو اودس نه په ماتیږی۔ شامی - ص۱۴۴ اول توک)

(۱۳) مسئله:- که د یوچا غوږ درد کوی او به تر بهیږی د غه او به چه د غوږ څخه بهیږی نجسی او مرداری دی۔ که څه هم زخم یا دانه نه معلومیږی نود د غو اد بود د تلو څخه اودس ماتیږی هرهغه وخت چه د غوږ د سوری څخه را ووزی و هغه ځای ته ورسیږی چه د هغه ځای پر یوالل په غسل کښی فرض وی۔ د غه رنګه که د یزی څخه او به ووزی او د درد هم ورسره وی په د غو او بو سره هم اودس ماتیږی۔ د غه رنګه که ستړګی۔ خوږیږی او په ستړګو کی سوئ او سوزش وی نو د او بو او بنکو و تلو او بهیدلو په وجه سبب اودس ماتیږی او که ستړګی نه خوږیږی او په ستړګو کی سوئ او سوزش نه وی نو په د غه صورت کی چه تر ستړګو او بنکی بهیږی مثلاً ژاړی یا د نزلی په وجه وی او دس نه په ماتیږی۔ (در مختار)

(۱۴) مسئله:- که د تیو څخه او به را ووزی د درد هم ورسره وی نو د غه او به هم مرداری دی اودس په ماتیږی او که درد ورسره نه وی نو مرداری نه دی۔ اودس نه په ماتیږی (شامی ص۱۴۴ اول جلد)

(۱۵) مسئلہ:- کہ ئی تی وواھی چہ دغہ یاد ډوډی یا اوبو یاد ژړو او ترخواوبو
دو - نوکہ تی پہ ډکہ خولہ سرہ ودو نواودس ئی ماتیږی اوکہ تی پہ ډکہ خولہ سرہ
نہ دو بیا اودس تہ ماتیږی او د ډکی خولی مطلب دادی چہ پہ ډیر تکلیف سرہ ئی پہ
خولہ کی بند کړی - اوکہ ئی خالص بلغم تی کړہ نواودس نہ پہ ماتیږی برابرہ خبرہ
دہ کہ پہ ډکہ خولہ سرہ وی او یا پہ ډکہ خولہ سرہ نہ وی پہ دواړو صورتو
کښی اودس نہ پہ ماتیږی - اوکہ ئی دینی تی کړی نوکہ چیری نرمی او بھیدونکی
وی بیا اودس پہ ماتیږی کہ پہ ډکہ خولہ سرہ وی اوکہ پہ ډکہ خولہ سرہ
نہ وی اوکہ نرمی او بھیدونکی نہ وی - بلکہ توټی توټی دینی وی لیکن پہ ډکہ
خولہ سرہ وی نواودس پہ ماتیږی اوکہ پہ ډکہ خولہ سرہ نہ وی نو بیا
اودس نہ پہ ماتیږی یعنی کمی اولږ وی (منیہ ص ۴۷)

(۱۶) مسئلہ:- کہ ئی ډیر وارونہ لږ لږ تی وواھی دا رنگہ چہ ټول سرہ جمع
سی نو خولہ پہ ډکیږی او دغہ تی ھم چہ دہ ډیر وارونہ ډھلی دی د زړہ دجوشہ
څخہ دی داسی جوش چہ آرام سوی نہ دی تر پایہ پوری دغہ یو جوش دی
نو پہ دغہ صورت کی اودس دد ماتیږی اوکہ دیو ہ جوش څخہ نہ وی
بلکہ داول وار جوش ختم سوی دو زړہ ئی سم سوی وُ بیاد وھم وار د زړہ
جوش شروع سو او لږ څہ تی ئی وواھی بیا چہ دغہ د زړہ جوش ئی ختم سو د ریم
وار بل نوی د زړہ جوش ور تہ پیدا سو بیا ئی لږ څہ تی وواھی نو پہ دغہ صورت
کښی ډ دہ اودس تہ ماتیږی (منیہ ص ۴۷)

(۱۷) مسئلہ:- کہ پہ پرڼ تی سرہ بیدہ سو یا ئی یوشی تہ څنگ واچاوی بیدہ
سو او دا رنگہ بیدہ سو کہ چیری دغہ شی نہ وای نو بہ پرمخکہ لویدلی
وای نواودس ئی ماتیږی - کہ چیری پہ لمانځہ کی پہ ناستہ یا ولاړہ کی بیدہ
سی نواودس ئی تہ ماتیږی اوکہ بنځہ پہ سجدہ کښی بیدہ سی نواودس ئی ماتیږی
شامی ص ۱۴۶ اول توک

(۱۸) مسئلہ:- کہ د لمانځہ څخہ دباندی دناستی پہ حال کی دا رنگہ بیدہ سی
چہ پوندی اوکونا تی ئی سرہ چسپیدہ او مښلولی وی د دیوال او بل شی تہ ئی تکیہ ھم

نه وی کړی نو اودس ئی نه ماتیږی۔ (منیه

(۱۹) مسئله:۔ که په ناستی بیده وو چه د خوب داسی څیه پرې راغله ۔ چه غوږ ډاسو نو که د غوږ اړیدو سره سم دم راویښ سو نو اودس ئی نه ماتیږی او که تر غوږ اړیدو لږ ګړی ورسته راویښ سو نو اودس ئی ماتیږی او که په ناستی څنګیدی غوږ اړ نه سو بیا ئی هم اودس نه ماتیږی۔ (درمختار ۔ شامی ص۱۴۸ اول توک)

(۲۰) مسئله:۔ که پریو چا باندی بیهوښی راغله یا د لیونتوب د وجهی څخه ئی عقل ولاړی نو اودس ئی ماتیږی که څه هم لیونتوب او بیهوښی لږ ګړی وی د غه رنګه تمباکو یا د غسی د نشی بل شی ئی استعمال کړی اود د نه نشه سو چه بنه تلای نه سو پښی ئی چپه اوړاسته ایښو ولی ګډوډ تلی څنګیدی په رفتار خپل کی نو هم ئی اودس ماتیږی۔ (درمختار ص۱۲۸ اول توک)

(۲۱) مسئله:۔ که ئی په لمانځه کی په د د نه زور سره وخندل چه پخپله ئی هم د خندا آواز واوریدی د څنګ ملګری ئی هم د خندا آواز واوریدی نو په د غسی خندا سره هم اودس ماتیږی او هم لمونځ فاسدیږی (منیه اوکه ئی داسی وخندل چه خپله ئی خندا واوریده او بل چا نه واوریده نو په د غه سره ئی لمونځ فاسدیږی اودس نه ماتیږی اوکه ئی په خندا کی فقط غاښونه سپین کړه اود خندا هیڅ آواز نه وُو ۔ په د غه صورت کښی نه اودس ماتیږی او نه لمونځ فاسدیږی مګر که کوچنۍ انجیلی یا هلک چه بلوغ ته نه وی رسیدلی په زور سره وخاندی. یا په سجده تلاوت کښی لویه بنځه وخاندی نو د د وی اودس نه ماتیږی لیکن هغه سجده او لمونځ ئی فاسدیږی چه په هغه کی ئی خندلی دی۔ (درمختار ص۱۵۱ اول توک

نوټ:۔ د (۲۲) مسئلی څخه بیا تر ۲۵ مسئلی پورې څو صفحی ورسته لیکل سوی وی نو موږ دلته رامخته کړی دی د پاره د د دی چه ولوستونکو ته بنه ترآسانی رامسی.

(۲۲) مسئله:۔ د سړی په لاس لګولو او مسحه کولو سره یا د د غسی خیال او فکر کولو څخه که چیری د مخ دلاری څخه او به راسی نو اودس ئی ماتیږی اودغه او به چه د جوش اوخوند په وخت کی وزی مذی ورته ویل کیږی۔ عالمګیری ص۶ درمختار ص۱۵۱ اول توک ۔ هدایه ص۳۹ ۔ مراقی الفلاح ص۵۰.

(۲۳) مسئله:۔ د مریضی په وجه چه د مخ دلاری څخه د پړی د اوبو په شان

سړیښناکه اوبه راوړی نو احتیاط په دی کښی دی چه د غنه او به مرداری دی په دباندی راوتلو سره ګنی اودس ماتیږی۔ (مرا قی الفلاح ص۲۸)

(۲۴) مسئله:۔ د بولو یا مذی څاڅکی د سوری څخه د باندی راووتی لیکن تراوسه په هغه پوست کی د ننه دی چه بالا اوتړ سر ببړه دی بیا هم اودس ماتیږی داودس دماتیدو د پاره د پوست څخه د باندی راوتل ضروری نه دی (درمختار شامی ص۱۳۹ ج۱)

(۲۵) مسئله:۔ د نارینه د بولو د شی سره چه هر وخت د بنځی د بولو شی ومښلی او تو کر یا داسی بل شی ئی په مابین کی نه وی نو اودس ماتیږی۔ که د ڈوی بنځی څپل د بولو شیان سره ومښلوی هم اودس ماتیږی لیکن د غسی کار کول پریښودل او د ګناه کار دی په دواړو صورتو کښی که څه شی وو نږی یا نه وو نږی یو حکم دی۔ (یعنی اودس په ماتیږی) درمختار ص۱۵ اول ټوک

(۲۶) مسئله:۔ که یو څوک تراوداسه وروسته نو کان پری کړی یا ئی د زخم څخه مردار پوست پری کړی نو اوداسه ته ئی هیڅ تاوان نه رسیږی او نه دبل وار اودس تازه کولو ضرورت سته او نه د د غه ځای ډبر ته لندولو ضرورت سته۔ (درمختار ص۱۵ ۔ منیه)

(۲۷) مسئله:۔ تراوداسه وروسته ئی دیو چا ستر (شرمګاه) ولیدی یا ئی څپل ستر بنکاره سو۔ یا ئی غسل یا اودس په لغړ والی سره وکړی نو اودس ئی صحیح دی بیا ئی داوداسه را ګرزولو ضرورت نسته البته بیله مجبوری دیو چا ستر لیدل یا څپل ستر بنکاره کول د ګناه کار دی۔ (کبیری ص۲۹)

(۲۸) مسئله:۔ د هرشی د وتلو څخه چه اودس ماتیږی هغه شی مردار دی او د هرشی د وتلو څخه چه اودس نه ماتیږی هغه شی مردار هم نه دی۔ نو که لږ څه وینه د وتله او د زخم د خولی څخه وینه بهیده له یا لږ څه ټی ټی د واهی او په ډکه خوله نه وو او په د غه ټی کښی ډوډی یا او به یا څهری او به یا د ونو خرتیان را غلل نو د غه وینه او ټی مردار نه دی که بدن یا جامه په ککړی پریمولل ئی واجب نه دی کښی په ډکه خوله سره ټی د واهی یا د وینی د زخم څخه وبهیدلی نو دا بیا مردار دی او پریمښتل ئی واجب دی که ئی تر ډکی خولی ټی د هلو وروسته ټوکوری یا لوښه پر خوله کښیښودله د پاره ددی چه په خوله داو بود لغړ ولو د پاره او به راواخلی

اداوبه ئی راواخستی نودغه لونبی مردار ریږی نو باید په لفه سره او به راواخلی
در مختار وشامی صـ۱۴۵ اول ټوک)

(۲۹) مسئله :- دکوچنی د شیدو دئی وهلو هم دغه حکم دی که چیری په
ډکه خوله سره نه وی نو مردار ی نه دی اوکه په ډکه خوله سره وی بیا
مردار ی دی که ئی د دغه څای بیله پریمنځلو لمونځ وکړی نو لمونځ ئی نه صحیح
کیږی۔ (در مختار صـ۱۴۲ اول ټوک)

(۳۰) مسئله که دیوچا اودس تازه کول پیاد وی تر دغه وروسته ئی اودس
ماتیدل ښه یاد نه وی چه اودس ئی مات سوی دی اوکه نه دی مات سوی
نو دده اودس باقی او پاته بلل کیږی لمونځ کول په صحیح کیږی لیکن اودس
بیرته کول ښه کار دی۔ (در مختار صـ۱۵۶ اول ټوک)

(۳۱) مسئله :- هرچاته چه داودس کولو په خت کښی شک ور پیښ سی
چه فلانی اندام می پریمنځلی دی که نه دی نو دغه اندام بیرته باید
پریولی۔ که تر اوداسه کولو وروسته شک ور پیښ سی نو هیڅ فکر دی نه
کوی اودس ئی وسو۔ مگر که ئی یقین سی چه فلانی اندام پاته سوی دی
یادی پریولی۔ (در مختار۔ شامی صـ۱۵۵ اول ټوک)

(۳۲) مسئله :- بیله اوداسه د قرآن مجید مسحه کول روانه دی مگر که ئی
په داسی ټوکر سره مسحه کړی چه د بدن څخه جلا وی بیا ئی مسحه کول
روا دی۔ د پورونی یا قمیص په لمنی سره چه پرونی ئی پرسر وی او قمیص ئی
غوستی وی مسحه کول ئی روا نه دی لیکن که ئی دغه شیان اغوستی نه وی
یا په دوی سره د قرآن شریف مسحه کول روا دی او دغسی زبانی ویل د قرآن شریف
بیله مسحه کولو روادی اوکه چیری قرآن شریف دغسی غوپه بیدلی پروت وی او ورته
لاس ئی اوتلا وت ئی څندی کا دی لیکن لاس ئی نه وروړی داهم روادی دغه رنگه
بیله اوداسه دغسی تعویذ یا لونبی ته لاس ورول روا نه دی چه د قرآن شریف
نیت پکښی لیکلی وی دغه خبر ښه په غوږ کښی وساته۔ (در مختار صـ۲۷۹-۲۸۰ اول توک

دغسل بیان

(۱) مسئله د غسل کولو ځای دپاره په کار دی چه اول تر بنده د پوری دواړه لاسو

پریولی بیاد استنجاء ځای پریولی کـه پر لاسو اود استنجار پرځای مرداری وی یا نه وی. په دواړو صورتو کښی د دوی دواړو پریمنځل مخکښی ترغسل کولو پـه کار دی بیا چه هرځای پر بدن مرداری وی پاکه دی کړی وروسته دی اودس وکړی ـ درمختار ص۶۱ اول ټوک ـ کـه ټی پرچوکه یعنی لرګی یا پرډبره اوخښته غسل کاوی چه دپښو پـه ځای کښی اوبه نه جمعه کیدی نو دی داود اسه کولو پـه وخت کښی پښی هم پریولی اوکـه داسی ځای وی چه هلته دپښو پـه ځای کښی اوبه دریږی او ترغسل کولو وروسته بیرته دپښو پریمنځلو ضرورت پیدا کیږی نو دی نور اودس وکړی مګر پښی دی نه پریولی بیادی تر اود اسه وروسته دښی واړه پرچپل سر اوبه واچوی بیادی دری واړه پرراسته اوبزه اودری واړه پرچپه اوبزه اوبه واچوی دارنګه چه پرټول بدن اوبه و بهیږی بیادی د دغه ځای څخه لیری سی پریوپاک ځای دی کښینی خپلی پښی دی پریولی اوکـه ټی داود اسه پـه وخت کی خپلی پښی پریولی وی نو بیا ټی د پریولو ضرورت نشته ـ مراقی ص۵۷ ـ منیه ص۱۴

(۲) مسئله ۱ ـ اول وار دی ټول بدن سنه پـه لاسو سره وموښی او بیادی پر ټول بدن اوبه و بهوی د پاره د دی چه د بدن و ټولو ځایونو ته پـه بنه طریقه سره اوبه ورسیږی او یوځای وچ پاته نه سی ـ (منیه ص۱۴)

(۳) مسئله ۲ ـ د غسل طریقه چه موږ اوس بیان کړه د سنت موافق ده پـه دغو کښی بعضی شیان فرض دی چه بیله دوی غسل نه صحیح کیږی ـ انسان هغسی ناپاکه پاته کیږی او بعضی شیان سنت دی چه د دوی پـه کولو کی ثواب دی اوکـه ټی څوک ونه کړی هم غسل صحیح کیږی ـ پـه غسل کښی فرض فقط دری شیان دی (۱) دارنګه پـه خوله اوبه ګرزول چه د خولی و ټولو حصو اوبرخوته اوبه ورسیږی (۲) پـه پښه اوبه ګرزول ترټینکو یعنی نرمیو پوری (۳) د ټول بدن پریولل دی ـ (هدایه ص۳۶ اول ټوک)

(۴) مسئله ۳ ـ د غسل کولو پـه وخت کښی دی د قبلی وطرف ته مخ نه ګرزوی او نه دی اوبه د پیری استعمالوی او نه دی د پیری کمی استعمالوی داسی کمی چه پـه بنه طریقه سره غسل ونه سی اوداسی ځای دی غسل کوی چه هیڅوک ټی نه

وینی - د غسل کولو په وخت کی دی خبری نه کوی او تر غسل کولو وروسته دی په یو توکر سره خپل بدن پاک کړی د بدن په پټولو او کالو اغوستلو کی دی پیر تلوار کوی تر داسی خنده چه که ئ داودس کولو په وخت کی پښی نه وی پریولی نو د غسل د حکایه څخه دی لیږی سی اول دی خپل بدن پټ کړی بیا دی دواړی پښی پریولی. (منیه ص۱۴ - ص۱۵)

(۵) مسئله :- که چیری د تنهائ حکای وی چه هیڅوک ئ نه وینی نو په لغره سره لمبیدل هم صحیح دی برابره خبره ده که په ولاړی لمبیږی یا په ناستی لمبیږی او که د غسل خانی چت او بام پټ وی که نه وی لیکن په ناسته سره لمبیدل ښه او غوره دی حکه چه په دغه کی پرده زیاته ده د نامه څخه تر څنګو پوری د بلی ښځی په مخ کی هم بدن ښکاره کول گناه ده اکثره ښځی د نورو ښځو په مخ کی بلکل لغړی لمبیږی - د اړیر بد اود بی غیرتی کار دی. مراقی ص۵۷ ج ۱ شامی ص۱۴۰ اول ټوک

(۶) مسئله :- هر وخت چه پر ټول بدن او به وبهیږی خو له اوپزه پریولی نو بس غسل ئ وسو که د غسل کونکی قصد وی د غسل یا ئ قصد نه وی د غسل - نو که د باران اوریدو په وخت کی د خپل بدن د سر والی په غرض د باران ته ودریدی یا په حوض یا بل شی کی غوټه سو او ټول بدن ئ لوند سو په خو له اوپزه کی ئ هم او به ورغړولی نو غسل ئ وسو د غه رنګه د غسل کولو په وخت کی کلمه ویل یا کلمه پراوبو ویل د دم کولو د پاره ضروری نه ده - برابره خبره ده که کلمه دوایی یا ئ نه دوایی په هر حال کی انسان پاکیږی - بلکه د لمبیدو په وخت کی کلمه یا یو دعا نه ویل غوره ده - د غسل کولو په وخت کی دی هیڅ نه وائ - (منیه ص۱۵)

(۷) مسئله :- که په بدن کښی په مثل دیوه ورپښته (بیښته) یو حکای وچ پاته سی نو داسی غسل صحیح نه دی د غه رنګه که د غسل کولو په وخت کښی که ئ پښو له او به گرزول هیرسی یا په پزه او به گرزول هیرسی هم غسل نه صحیح کیږی (منیه ص۱۵)

(۸) مسئله :- که تر غسل کولو وروسته ورپیاده سی چه پلانی حکای وچ پاته سویدی نو بیرته لمبیدل واجب نه دی بلکه هر هغه حکای چه وچ پاته سوی وی

هغه دی پریبولی لیکن مرن لاس پرتیرول کافی نه دی بلکه اوبه به پربهوی۔ که ئی په خوله اوبه گرزول هیری سوی وی نواوس دی اوبه په خوله وگرځوی اوکه ئی په پزه اوبه نه وی گرزولی نواوس دی اوبه په پزه وگرزوی غرض هرشئ چه پانته سوی وی مرن هغه شی اوځای دی پریبولی بیرته دسره څخه دغسل کولو ضرورت نسته منیه۔ ص۱۸)

(۹) مسئله که دیو مرض په سبب پرهر اوبه اچول تاوان کوی اودی سر پریږدی نو ربدن پریبولی بیا هم غسل صحیح کیږی لیکن هروخت چه بنه سی نو سر دی پریبولی دبیرته لمبیدلو ضرورت نسته (درمختار ص۱۵۹ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:۔ دبولود ځای څخه چه مخکی کوم پوست دی د دغه پوست ودننه ته اوبه رسول په غسل کی فرض دی که چیری اوبه نه ورورسیږی نو غسل نه کیږی (درمختار ص۱۵۷ جلد اول)

(۱۱) مسئله:۔ که ئی سر غوږ ولی وی یعنی اودلی ئی نه وی نو ټوله وریښتان لندول اودټولو وریښتانو وبیخونه اوبه رسول فرض دی که یو بیښته وچ پاته سو یا دیوه وریښته وبیخ ته اوبه نه ورسیدی نو غسل ئی نه کیږی اوکه ئی سر اودلی وی نو د بیښتانو لندول معاف دی مگر ټولو بیخونه د وریښتانو اوبه رسول فرض دی دیوه وریښته بیخ به هم وچ نه پریږدی اوکه د وریښتانو بیله غوږید ټولو وریښتانو وبیخونه اوبه نه رسیدلی نو دی بیښتان وغوږ وی او بیښتان دی هم پریبولی۔ (منیه ص۱۶)

(۱۲) مسئله:۔ چارگل، پیړوان، گوتکی، وښیان او بنگړیان، غوږ والی دی بنه وښوروی چه اوبه وسوریانوته ورسیږی یا تردوی لاندی څایونه ورسیږی اوکه ئی غوږ والی په غوږ نه وی بیادی هم قصداً وسوریوته د دوی اوبه و رسوی ځکه چه داسی نه سی چه اوبه نه ورورسیږی او غسل ئی ناقص سی لیکن که گوتکی او وښیان پراخ وی چه بیله بنو رولو هم اوبه ورورسیږی نو بیا ئی بنورول واجب نه دی لیکن بیا ئی هم بنورول بنه کار دی۔ (منیه ص۱۶)

(۱۳) مسئله:- که په نوکانوکی اوږه وچ سوی وی او د غسل کولو په وخت کښی نړاوږه ولاندی خایونه اوبه نه ورسیږی نو غسل ئی نه صحیح کیږی هر وخت چه ئی په یاد سی اوږه دوبی نودی اوږه د نوکانو څخه هسته (لیری اوجلا) کړی او د غه خایونه دی پریږدی او که د د غو خایونو د پری ولو مخکی ئی یو لمونځ کړی وی نو هغه لمونځ دی راوګرزوی. (منیه ص۱۷)

(۱۴) مسئله:- پښی اولاسونه ئی چاودلی وه او په د غو چاودوکی ئی غوړی یا وازګی اینبوی نو پرده وی سره پیره اوبه بهول صحیح دی. (منیه ص۱۷)

(۱۵) مسئله:- د غسل په وخت کی دی غوږونو او د نامه غوږونه ته هم په پوره طریقه اوخیال سره اوبه ورسوی که اوبه نه وورسیږی نو غسل ئی نه صحیح کیږی. (درمختار ص۱۵۷ اول ټوک)

(۱۶) مسئله:- که ئی دلمبید و په وخت کښی په خوله اوبه و نه ګرزولی. لیکن په دی که خوله سره ئی اوبه وچینبلی چه د ټولی خولی ته اوبه ورسیدی نو هم ئی غسل صحیح کیږی خکه چه مقصد خو د ټولی خولی ته اوبه رسول دی که په خوله اوبه ورغړوی او که ئی نه ورغړوی مګر که دا رنګه اوبه وچینبی چه د ټوله خوله ته اوبه نه ورسیږی نو د غسی چینبل کافی نه دی په خوله اوبه لغړول په کار دی. (منیه ص۱۸)

(۱۷) مسئله:- که ئی وریښتان، لاسونه یا پښی په تیلو غوړ کړی وی چه بدن په او بو سره ښه نه لندیږی بلکه اوبه هسی پر بدن ورغړی دې نو هیڅ پروا نه لری هر وخت چه ئی پر ټول بدن او ټول سر اوبه واچولی نو غسل ئی صحیح سو (شامی ص۱۶ ج۱)

(۱۸) مسئله:- که ئی په غاښو کښی یوشی بند وو نود غه شی دی دخلال په لرګی سره راوکاږی او که د د غه شی د وجهی اوسبه چه په غاښو کښی بند دی د غاښو او منځ ته اوبه نه ورسیدی نو غسل نه کیږی. (منیه ص۱۷)

(۱۹) مسئله:- که ئی پر تندی باندی د سر وزر و نری او هواري ټکری یا بل شی په ګوند یا سر ینبو یا ګونډو سره مبنلولی وی یا ئی د سر په وریښتانو پوری د وندی کونډری یا ګوند مبنلولی وه چه وریښتان ئی ښه نه لندیدل نو د سر د وریښتانو ګوند او کونډری او د تندی زړ او سر لښ دی ښه سم لیری کړی بیا دی سر او تندی پریږدی که ئی چیری لیری نه کړی د کونډرو او سر ینبو څخه

ولاندی بدن ته او به ونه رسیږی ځکه سړبیره او به پرویهیږی نو غسل ئی نه صحیح کیږی۔ (منیه ص۱۷)

(۲۰) مسئله:۔ که ئی دغابنو د رنګ ماری اوپیتی پرغابنو پرتی وی نو دغه سری او پیتی دی دغابنو څخه جلا کړی بیا دی په خوله او به وګرځوی که ئی چیری جلا نه کړی غسل ئی نه صحیح کیږی۔

(۲۱) مسئله:۔ د یوچا ستړګی خوږیږی نو دد ه دستړګو څخه چخړی راوتلی وی او داسی وچی سوی وی چه که چیری دوی لیږی نه کړل شی نو تردوی لاندی ځای ته. چه دستړګی کوږ دی او به نه رسیږی نو دد غه چخړ ولیږی کول واجب دی بیله لیږی کولو ئی نه اودس صحیح دی او نه غسل۔ (منیه ص۷۷)

په کومو اوبو سره اودس کول اوله بیدل روادی او په کومو اوبو سره روا ندی

(۱) مسئله:۔ د باران، ولی، رود، دریاب، چینی، څاه او حوض په او بو سره اودس اوغسل کول صحیح دی که دغه او به خوږی وی یا تروی وی (درمختار ص۱۵ ج۱)

(۲) مسئله:۔ هر هغه او به چه دمیوی یا درختی یا پانو څخه نښتیځل سوی وی په دغو اوبو سره اودس کول روانه دی دغه رنګه کومی او به چه دهندوانی یا ګنی څخه راوزی اودس اوغسل کول په روانه دی۔ درمختار وشامی ص۱۹۲ اول توک۔ درمختار ص۱۸۲ اول توک)

(۳) مسئله:۔ په هر هغه اوبو چه بل شی ګډ سوی وی یا په او بو کښی یوشی پوخ سوی وی او دا او به داسی ګرځیدلی وی چه اوس په اصطلاح اوخبرو کی اوبه نه درته ویل کیږی بلکه په یو بل نامه یادیږی نو په دوی سره اودس اوغسل روانه دی لکه شربت شیره، بنورړا، سورکه، عرق ګلاب، عرق ګاؤزبان اوداسی نورپه دغو ټولو سره اودس روانه دی۔ (هدایه ص۱۸ اول توک)

(۴) مسئله:۔ په کومو اوبو کی چه یو پاک شی ګډ سوی وی اود او بو رنګ یا خوند یا بوی ته تغیر ورنه رسیدلی وی لیکن دغه شی په اوبو کی پوخ سوی نه وی نه دا و بو په

نرموالی کی څه فرق راغلی وی مثلاً په بهیدونکو اوبوکی څه ریګ یا خاورې ګډې سوی وی یا په اوبوکښی زعفران لویدلی وی او داوبو رنګ ئې لږ څه اړولی وی۔ یا صابن په ګډسوی وی یا د دغسی قسمه څخه یو بل شی په ګډ سوی وی نو په دغو ټولو صورتونو کښی غسل اداودس په صحیح کیږی۔ (هدایه ص۱۸ اول ټوک)

(۵) مسئله:۔ که یو شی په اوبوکی پوخ سوی وی داوبو خوند یا رنګ یا بوی ته تغیر درسیدلی وی نو په دغواوبوسره اودس صحیح نه دی لیکن که په اوبو کی داسی شی ایشیدلی وی چه په هغه سره خیری ښه پاکیږی اوددوی د ایشولو څخه اوبه خټه سوی نه وی نو په دغه اوبوسره اودس کول روا دی مثلاً د مړی د لمبولو د پاره د بیری د درختی پانې په اوبوکی ایشوی نو هیڅ پروا نه لری لیکن که دوندی د پیری پانې وروا چوی چه د اولو نرموالی ولاړ سی او خټه سی نو په دغه اوبوسره اودس او غسل روا نه دی۔ (عالمګیری ص۱۳ اول ټوک)

(۶) مسئله:۔ د کالو د رنګولو د پاره ئې زعفران یا بل رنګ واوبونه وروا چاوی نو په دغواوبوسره اودس روا نه دی۔ (حکه چه د دغواوبوته اوبه نه ویل بلکه رنګ وسته ویل کیږی)

(۷) مسئله:۔ که په اوبوشیدی ګډی سوی که چیری د شیدو رنګ په اوبوکی ښه د پیر راغلی نو اودس نه دی په روا۔ اوکه شیدی د پیری لږ وی چه په اوبوکی ئې رنګ نه معلومیدی بیا اودس په روا دی۔ (عالمګیری ص۱۳ اول ټوک)

(۸) مسئله:۔ په ځنګل کی یو چا لږ څه اوبه پیدا کړی نو ترڅو چه د دوی۔ د مردار والی یقین ئې نه وی سوی نو اودس په کولای سی صرف پر دغه ګمان دی دغه اوبه نه پریږدی چه کیدای سی چه دغه اوبه مردار سی وی اودس په دنه کړی نو که ئې د دی اوبو باوجود تیمم وکړی تیمم ئې صحیح کیږی۔ (منیه ص۳۳)

(۹) مسئله:۔ په یوځای بل شی کی د درختی پانې د لویدی چه اوبه په بدبویه سوی اوخوند اورنګ ئې هم بدل سو۔ نو اوس هم په دوی سره اودس روا دی ترڅو چه اوبه نرمی وی۔ (درمختار ص۱۹۲ اول ټوک) عالمګیری ص۱۳ اول ټوک

(۱۰) مسئله:۔ په هر هغه اوبوکښی چه مردار سی د لویږی نو غسل اودس هیڅ شی په روا نه دی۔ که د غه نجاست لږ وی او که ډیر وی۔ مګر که په بهیدونکو اوبوکی مردار سی د لویدلا ترڅو پورې چه د مردار سی په وجه سره د اوبو په خوند یا

رنگ یا به بوی کی تغیر نه وی راغلی تر هغه وخته پوری اوبه پاکی دی اوکه دجاری اوبو به خونډ، رنگ یا بوی کښی فرق معلوم سی نو بیا مردار یږی اودس نه دی به روا۔ هر هغه اوبه چه وابنه د پراړه کانی د بره پاڼه یا بل شی وړی بس د غه جاری اوبه دی که هرخونه کراړی کراړی بهیږی۔ (هدایه ص۴۱ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:۔ د پرفټ حوض چه لسټ لاسه (هتی) اوږد او لسټ لاسه پراخ وی اود بندی ژور وی چه که په لیه اوبه خندی راواخیستل سی لاس د محکی څخه نه مبتلی نو داهم دجاری اوبهیږ ونکو اوبو حکم لری ود غسی حوض (تالاب، ناور) ته لس په لس کی ویل کیږی که په د غسی حوض کښی داسی مرداری ولویږی چه تر لویږ ودروسته نه معلومیږی په اوبو کی۔ لکه وینه بوڼلی، شراب اوداسی نور۔ نو د څلورو طرفو څخه اودس کول خندی روادی هرځای چه ټ زمکه غواړی اودس د ی خندی وکړی اوکه داسی مرداری په حوض کښی ولویږی چه معلومیږی لکه مړسپی نو په هرطرف خوا کی چه پروت وی د هغه طرف څخه دی اودس نه کوی د دغې خواڅخه ماسیوی دبل هرطرف څخه اودس کولای سی مګرکه په دوندې غټ حوض کی د ونه مرداری ولویږی چه رنګ یا خونډ یا بوی ټ بدل سی نو بیا د غه اوبه هرداریږی۔ (منیه ص۳۵)

(۱۲) مسئله:۔ که شل لاسه اوږد او پنځه لاسه پراخ یا پنځه ویشت لاسه اوږد څلور لاسه پراخ حوض وی نو د د غه حوض حکم هم د هغه حوض دی چه لسټ په لسټه کښی وی۔ (درمختار ص۱۹۹ ج (۱)

(۱۳) مسئله:۔ پرچت اوبام مرداری پرته د ه اوباران وسوناوه راوبهیده که یتم یا تر نیمایی زیات چت اوبام ناپاکه وی نو د غه د ناوی اوبه مرداری دی که د غه بام تر نیمائی کم ناپاکه وی نو د غه د ناوی اوبه پاکی دی اوکه د غه مرداری اونجاست د ناوی سره وی اوداسی وی چه تولی اوبه د د غې مرداری سره لګیږی بیارا تویږی بی بیا د غه اوبه مرداری دی۔ (منیه ص۲۴)

(۱۴) مسئله:۔ که اوبه کراړی کراړی بهیږی نو پرڅړ د ی اودس نه کوی د پاره د دی چه کوم مستعملی اوبه تویږی هغه بیرته په لاس کی نه رانسی۔ (منیه ص۳۴)

(۱۵) مسئله:۔ لسټ په لسټ حوض کی چه هرځای مستعملی اوبه تویږی۔ نو که د د غه

له څکه چه د غه شیان په اوبو کی تر غوړیږی د و روسته نه معلومیږی ۲

خای څخه بیرته اوبه را اخلی هم روا دی۔ (منیه ص۳۵)

(۱۶) مسئله:- که یو کافر یا یو کوچنی هلک په اوبو کی لاس واچوی د غه اوبه مردار ی نه دی مگر که معلومه سی چه پر لاس ئی مردار ی وه نو بیا د غه اوبه مردار یزی لیکن چونکه د کوچنیانو لاسوا خودی دوی لره هیڅ اعتبار نسته نو د دغه سببه تر څو پوری چه نور ی اوبه پیدا کیږی نو په هغو اوبو سره چه کوچنی لاس کی اچولی وی اودس نه کول بنه کار دی۔ (منیه ص۳۹)

(۱۷) مسئله:- په هر هغه اوبو کی چه داسی روح لرونکی شی مړ سی چه د ه لکه بهیدونکی وینه نه وی یا د اوبو څخه دباندی مړ سی بیا په اوبو کی ولویږی نو اوبه نه په مردار یزی۔ لکه غوما شه (پڅی) پچ، سره غالبوزه، څڑه غالبوزه، لړم، د شاتو پچ یا د دغسی قسم څخه بل شی وی۔ (هدایه ص۴۲ اول پټوک)

(۱۸) مسئله:- د هر هغه شی پیدا ینبت چه په اوبو کښی وی او هیڅ په اوبو کښی ژوند کوی نو د داسی شی د مړکید څخه چه په اوبو کښی مړ سی او به نه مردار یزی بلکه پاکی دی۔ لکه ماهی، چنگښه، اوچوا، کیکړا چه په سمندری اوبو کښی دی او د اسی نور۔ او که د اوبو څخه ماسیوئی په یو بل شی کی مړ سی لکه سرکه، شیره، شیدی او داسی نور نو د غه شیان هم نه په مردار یزی د وچی محکی او د اوبو د چنگښی د وا ړو بو حکم دی یعنی هر یو ه چه په اوبو کښی مړه سی او به نه په مردار یزی۔ لیکن که د وچی محکی په یو چنگښه کی وینه وه نو چه په هر شی کی مړه سی هغه شی په مردار یزی که او به وی که بل شی وی۔ (در مختار ص۱۸۹ اول پټوک)

فائده:- د اوبو د چنگښی علامه داده چه د گوتو په مابین کی ئی پردی وی او د وچی محکی د چنگوښی د پښو د گوتو په مابین کی پردی نه وی۔ بلکه هره گوته ئی جلا جلا وی.

(۱۹) مسئله:- هر شی چه په اوبو کی ژوند کوی مگر پیدا ینبت ئی په اوبو کښی نه وی بلکه د اوبو څخه دباندی پیدا سوی وی که چیری په اوبو کښی مړ سی نو اوبه په مردار یزی۔ لکه هیلی او مرغابی د غه رنگه که د غه شی بل ځای مړ سی بیا په اوبو کی ولویږی نو هم اوبه په مردار یزی۔ (در مختار ص۱۹۱ اول پټوک)

(۲۰) مسئله:- چنگوښه، چنگوابش او داسی نور د اوبو حیوانان چه په اوبو کی مړه سی او بالکل په اوبو کښی وشو ړیږی نو هم اوبه پاکی دی لیکن د د غو اوبو څخه چښل

اوږو ډی پخول روانه دی۔ مګر اودس او غسل په دغو اوبو سره کولای سی۔ (درمختار ص۱۸۹ اول ټوک)

(۲۱) مسئله:۔ هر هغه اوبه چه په لمر سره تودی سوی وی د دوی په استعمالولو سره پر بدن باندی د سپینو داغو بیره ډه ډدی سبب په دغو اوبو سره غسل کول نه ډی په کار۔ شامی ص۱۸۶ اول ټوک (جلد)

(۲۲) مسئله:۔ د مردار شی پوست چه په لمر سره وچ سی یا د وایا بل شی پرواچوی برابر ټی کړی چه اوبه ټی ټولی وچی سی او په اینبولو سره نه خرابیږی او نه ورستیږی نو بیا پاکیږی لمونځ کول پرهغه باندی روادی او که ژی یا بل شی څندی جوړ کړی او اوبه پکښی واچوی هم جائز او روادی۔ لیکن د خنزیر پوست نه پاکیږی نو ر ټول پوستونه پاکیږی لیکن د انسان د پوست څخه یو کار اخستل او استعمالول د پیره لویه ګناه ده۔ (هدایه ص۴۴) اول ټوک۔ درمختار ص۲۰۹ اول ټوک

(۲۳) مسئله:۔ سپی، بیزو، پشی، زمری او د اسی نور شیان چه د دوی۔ پوست په رنګیدو او وچیدو سره پاکیږی په بسم الله سره د حلالولو هم د دوی پوست پاکیږی تر حلالیدو وروسته که ټی پوست رنګ او برابر سی که نه سی مګر د دغو شیانو غوښی په حلالولو سره نه پاکیږی او خوراک ټی هم نه روا کیږی۔ هدایه ص۴۴۔ درمختار

(۲۴) مسئله:۔ د مردار سوی شی وریښتان (بینبتان) بنکر، هډوکی او غاښونه ټول پاک دی که په اوبو کی ولویږی او به نه په مردار یږی مګر که پر هډوکو غاښو او د اسی نورو شیانو د دغه مردار سوی شی غوړ څګی وی نو بیا مردار دی۔ او به هم په مردار یږی۔ عالمګیری ص۱۵ اول ټوک

(۲۵) مسئله:۔ د انسان هډوکی او بینبتان (وریښتان) هم پاک دی لیکن۔ د دوی استعمالول او په کار کی راوړل روانه دی بلکه په عزت سره ټی یو ځای پټول په کار دی۔ (هدایه ص۴۵ اول ټوک۔ شامی ص۱۰۴ اول جلد)

د خاځه بیان

(۱) مسئله:- هرهغه وخت چه په خاځه کی مرداری ولویږی نو خاځ مردار یږی او داوبو په راکښلو سره صفا کیږی که لږ مرداری کی لوید لی وی او که ډیره د ټولو اوبو راکښل په کار دی. هروخت چه ټولی اوبه راوکښل سی نو خاځ پاکیږی په خاځ کی د ننه د دیوال د برو او د عسی نورو شیانو د پریوللو ضرورت نسته د غه ټول شیان پخپله پاکیږی د غه رنګه رسی سولاغه هرهغه شی چه اوبه ئی د خاځخنه په راکښلی وی د خاځ پاکید و سره پخپله پاکیږی د د غو د واړه هم د پریوللو ضرورت نسته چه رسی او سولاغه د ه. (هدایه صـ۴۵ اول ټوک - عالمګیری صـ۱۳ اول ټوک

فائده:- د ټولو اوبو راکښلو مطلب دا دی چه اوبه و داسی اندازی ته ورسیږی چه نیمه سولاغه هم نه راخیژی یعنی خقم سی.

(۲) مسئله:- سپی، پشی، غوا، یا پسه که چیری په خاځ ښی بولی وکړی - یا یوبله مرداری ور ولویږی نو د خاځ ټولی اوبه راکښل ضروری دی (منیه صـ۵۸)

(۳) مسئله:- په خاځ کی د کوتری یا مرغۍ د چوغکی ګندګی ولوید ه نو په دی سره خاځ مردار یږی لیکن د چرګی او هیلی د مرداری په لوید و سره خاځ مردار یږی. او ټولی اوبه راکښل واجب دی - (منیه صـ۵۷)

(۴) مسئله:- که سپی، بزه، انسان یا د دوی سره برابر یو بل حیوان په خاځ کی مړ سی نو د خاځ ټولو اوبو راکښل ضروری دی او که د خاځ باندی مړ سی بیا په خاځ کی ولویږی بیائی هم داغه حکم دی یعنی د ټولو اوبو راکښل ضروری دی - (هدایه صـ۴۷ اول ټوک - در مختار صـ۲۱۷ اول ټوک)

(۵) مسئله:- که یو څوندی شی په خاځ کی ولویږی او مړ سی یا و پرسیږی یا وشوریږی نو دی د خاځ ټولی اوبه راوکاږی که کوچنی حیوان وی او که لوی حیوان وی - نو که مورک یا چوغکه په خاځ کی مړه سوه بیا یا و پرسیده یا وشوړیده نو به ټولی اوبه راکاږی - (هدایه صـ۴۷ اول ټوک

(۶) مسئله:- که مورک چوغکه یا د دوی په مثل یو شی په خاځ کی مړ سو لیکن پرسیدلی او شوړیدلی نه وو نو شل سولاغی اوبه راکښل واجب دی - که چیری دیرش سولغی راوکاږی بیا د پرښه دی لیکن اول دی مورک، چوغکه یا بل

شی چه وی هغه راوکابزی بیا دی په اوبو راکښلو شروع وکړی. ترڅو پورې چه مړک یا چوغکه یا بل حیوان چه ئې نه وی راکښلی ترهغه وخته د اوبو راکښل هیڅ فائده نه کوی ترمړک راکښلو وروسته به بیرته اوبه راکابزی که څه هم مخکې ئې اوبه راکښلی وی لیکن هغه عبث او فائده نه کوی اوس به بیرته هغونه اوبه راکابزی چه شل سولغی دی - (هدایه ص۴۶ اول جلد)

(۷) مسئله :- لوی کربوني چه بهید رنګی وینه پکښی وه هم ئې دغه حکم دی که چیرې په څاکښی مړمی شوې وي لیدلی او پرسیدلی نه وی نو شل سولغی اوبه راکښل په کابزی او دیرش سولغی اوبه راکښل غوره دی - (هدایه ص۴۶ اول ټوک) او چه بهید رنګی وینه نه وي پکښی نو په هرکید وسره ئې اوبه نه مردارېږی عالمګیری ص۱۵ ج۱

(۸) مسئله :- که کوتره یا چرګه یا پیشی، یا دوی په مثل یوبل شی په څاکښی ولوېږی مړسی اوپرسیدلی نه وی نو څلویښت سولغی اوبه راکښل واجب دی او شپیته سولغی اوبه راکښل بهتره او غوره خبره ده - (هدایه ص۴۷ اول ټوک)

(۹) مسئله :- پرهرڅاچی کومه سولاغه پرته وی د دغې سولاغې په حساب اوبه راکښل په کار دی - که ئې په دوندی غټه سولاغه اوبه راوکښلې چه دېږی اوبه پکښی څاېږی نو به ئې اندازه معلومه وی که په دی کښی دوی سولغی اوبه څاېږی نو دری سولغی دی وبولی او که څلور سولغی پکښی څاېږی نو څلور سولغی دی وبولی خلاصه ئې داده چه هرڅونه سولغی اوبه په دغه غټه سولاغه کښی څاېږی نو دد غو سولغو د حساب په اندازه به اوبه راکابزی هدایه ص۴۷ جلد (ټوک) اول)

(۱۰) مسئله :- که چیرې څاچینه داره دوه دارنګه چه د ټولو اوبو راکښلو امکان نه وو حکه چه هرڅونه اوبه ئې راکښلی هغونه نوره په څاکښی راوتلی نو هرڅونه اوبه چه په دغه څاکښی موجودی دی دغه اوبه دی اندازه کړی او د دغې اندازې سره برابرې اوبه دی د څاځخه راوکابزی.

فائده :- داوبو اندازې معلومولو دپاره دوه طریقې دی یوه داچه مثلاً پنځه ګزه اوبه دی په څاکښی نو پرله پسی دی ژر ژر سل سولغی د څاځخه راوکابزی او دی ګورې چه اوبه څوندی کمی سوی دی نو بس د دغه حساب څخه دی اندازه دنګوی مثلاً په سل سولغی مړه یوګزه اوبه کمی سوی نو پنځه ګزه اوبه به په

پخه سوه سولغی سره ختم سی - بله طریقه ئی داده چه هرچا ته چه داو بو اندازه
په معلومید وکی پوهنه اوتجربه وی په دغسی دوو دینداره مسلمانانو دی دغه
اوبه اندازه او معلومی کړی هرځونه چه هغه دوایی نوهغونه اوبه دی را و
کابزی او هرهغه ځای چه دغه دواړی طریقی مشکلی وی نسی کیدای نوبیا
دی دری سوه سولغی اوبه راوکابزی. (هدایه صه۴۷ اول ټوک - منیه صه۵۹)

(۱۱) مسئله:- د څاځخه مړمړک یا یوبل حیوان په سولاغه کی راوختی
اود امعلومه نه ده چه څه وخت ورلویدلی دی او تراوسه پوری پرسیدلی
اوشوهیدلی هم نه دی نوکوموانسانانو چه د دغه څاځخه اود سونه کړی
دی دیوی درځی اویوی شپی لمنځونه دی راوګرزوی اوپه دغواوبو چه ئی کوم
کالی پریولی دی هغه دی بیرته په حلالوا. بوپریولی اوکه چیری پرسیدلی یا
شوهیدلی وی نو د دروو رځو اودروشپو لمنځونه راګرزول په کار دی - مګر
هغو خلګو چه په دغواوبو سره اودس نه دی کړی هغه دی لمنځونه نه راګرزوی
دغه د لمنځونو راګرزول وغیره داحتیاط دپاره دی اوبعضی عالمانو دا ویلی
دی چه هروخت د څانا پاکوالی معلوم سو نو د دغه وخت څخه ئی ناپاک بولو - د
دغه وخت څخه مخکی اود سونه اولمنځونه نټول صحیح دی که څوک د
دغو علماؤ پر قول عمل وکړی هم صحیح دی -(هدایه صه۵۷ جلد اول (ټوک)
منیه صه۷ - درمختار صه۲۲۴ اول ټوک)

(۱۲) مسئله:- یو جنوب سړی د سولغی د راکښلو د پاره وخاته ورشوه سو
اود ده پر بدن باندی بنکاره نجاست او مرداری نه وه اوکالی هم د نجاست څخه
پاک وه نو څانه ناپاکه کیږی - د غه رنګه که یوکافر وخاته ورشوه سو -
د ده پر بدن اوکالو بنکاره مرداری نه وه بیا هم څاپاک دی - مګرکه ئی پر
بدن یا کالو بنکاره مرداری وه بیا څامرداریږی او د څانه ټولی اوبه راکابزی
اوکه شک وو د معلومه نه وه چه کالی ئی حلال دی اوکه مردار دی بیا هم څاپاک
بلل کیږی لیکن که د زړه د بیغمه کیدو د پاره شل یا دیرش سولغی راوکابزی هم
پروا نه لری (هدایه صه۴۳ اول ټوک - منیه صه۵۸ - شامی صه۲۴ اول ټوک)

(۱۳) مسئله په څاکی موږک یا بزه ولویده لیکن بیرته ژوندی څندی راوخته
اوبه پاکی دی د راکښلو ئی هیڅ ضرورت نشته - (درمختار صه۲۱۹ اول ټوک)

(۱۴) مسئلہ:- موبزک پشی د نیوی او د پشی د غابنو د لگولو څخہ موبزک زخمی سو بیا د پشی څخہ ایلہ سو بس د غسی پہ دینو لړلی څاتہ وړ د لویدی نو د څا تولی اویہ دی راوکابزی برابرہ خبرہ دہ کہ موبزک پہ خاکی سرسی او یا ژوندی راوخیژی۔ (شامی ص۲۱۹ اول ټوک۔ عالمگیری ص۱۲ اول ټوک)

(۱۵) مسئلہ:- موبزک د غار یا مردار ی نالی څخہ راوتلی او د دہ پر بدن باندی مردار ی وہ ولاړی پہ خاکی د لویدی نو د څا تولی او بہ دی راوکابزی برابرہ خبرہ دہ کہ موبزک پہ خاکنی مرسی یا ژوندی څنډی راوخیژی۔ (شامی ص۲۱۹ اول ټوک۔ عالمگیری ص۱۲ اول ټوک)

(۱۶) مسئلہ:- د موبزک لکی پری سوہ پہ خاکی د لویدہ نو د څا تولی او بہ پہ را کابزی۔ د غہ رنگہ هغہ کربوټی چہ پہ دہ کی بهید ونکی دینہ وی او د دہ لکی پری سی او پہ څا او بو کښی د لویزی نو بہ د څا تولی او بہ را کابزی۔ (منیہ ص۶۰)

(۱۷) مسئلہ:- د هر هغہ شی د لویدو پہ وجہ چہ څا مردار سویدی کہ د غہ شی سړہ د کوبنسینہ د څا څخہ نہ سو را کښل کیدای نو ګورد بہ چہ د اخنګہ شی دی۔ کہ د غہ شی داسی وی چہ خپلہ پاک وی لیکن د ناپاکی د ککړتیا پہ وجہ مردار سوی وی لکہ ناپاکہ ټوکر، ناپاکہ ګین ناپاکہ چوټہ نو بیا ئی را ایستل ضروری نہ دی معاف دی بس د غسی او بہ دی راوکابزی۔ او کہ د غہ شی داسی وی چہ پخپلہ مردار وی لکہ مرحیوان۔ مثلاً موبزک او د اسی نور۔ نو تر څو پورې چہ ئی دا یقین نہ وی سوی بچہ اوس بہ ړ ژیدلی او ویلی سوی وی تر د غہ وخت پورې څانہ پاکیزی او هر څہ چہ ئی یقین سی چہ اوس ړ ژیدلی او ویلی سوی دی نو بہ د غہ وخت ګی دی د څا تولی او بہ را کابزی څا پاکیزی (عالمگیری ص۱۲ اول ټوک۔ شامی ص۴۲ اول ټوک)

(۱۸) مسئلہ:- د هر څوندی او بو را کښل چہ د څا څخہ ضروری دی کہ ئی پہ یوہ وار را کابزی یا لږ لږ پہ ډیرو وارو نو سړہ را کابزی پہ هر طریقہ چہ وی څا پاکیزی یعنی کہ ئی پہ یوہ وار را کابزی هم څا پاکیزی او کہ پہ ډیرو وارو سړہ وی هم څا پاکیزی۔

(شامی ص۲۳ اول ټوک)

د حیوانانو د پسخوردی بیان

(۱) مسئله:- د انسان پسخورده پاکه ده که کافر وی یا مسلمان وی. په حیض، نفاس، یا جنابت کی وی یا نه وی په هر حال کی ئی پسخورده پاکه ده او همدارنگه ئی عرق یعنی خوله هم پاکه ده - مگر که ئی لاس یا خوله په یو مردار کی سره کثر وی نو بیا ئی په دی سره دغه پسخورده مردار نه وی - (هدایه ص۴۸ ج۱ - عالمگیری ص۱۵ اول تهوک)

(۲) مسئله:- د سپی پسخورده مردار ده که په یو لوښی کی خوله واچوی دغه لوښی په دری واره پریوللو سره پاکیږی - برابره خبره ده که د خاورو لوښی وی یا د کوټو او مسو لوښی وی په پریوللو سره پاکیږی لیکن ښه دا دی چه اوه واره پریوللو سی او یو واړه په خاورو سره هم پریوللو سی په داسی طریقه سره چه دغه خاوری په یو توکر یا بل شی سره ښه په لوښی پوری ومښوول سی چه ښه صفا سی (هدایه ص۴۸ اول تهوک)

(۳) مسئله:- د خنزیر پسخورده هم مردار ده دغه رنگه د نرمری، لیوه، بیزو، گیدړی او داسی نورو چه خیرونکی او خوړونکی حیوانان وی د ټولو پسخورده مردار ده - (هدایه ص۴۸ اول تهوک)

(۴) مسئله:- د پشی پسخورده پاکه ده لیکن بیا هم مکروه ده نو که چیری نوری اوبه وی په هغو اوبو سره چه پشی کی چښلی وی اودس دی نه په کوی مگر که نوری اوبه نه وی بیا دی اودس په دغو (هدایه ص۴۹ اول تهوک)

(۵) مسئله:- په شیدو، کتغ، او داسی بل شی کی پشی خوله واچوله که دغه کور والا د نیا اره وه بیا دی دغه شی نه خوری او که چیری مسکینان وه بیا دی خوری هیڅ پروا نه لری نه گناه لری بلکه د مسکنانو د پاره ئی خوړل مکروه هم نه دی - (در مختار ص۲۳۱ جلد اول هدایه ص۴۹ اول تهوک)

(۶) مسئله:- پشی موږک وخواړی فوراً راغله په یو لوښی کی ئی خوله واچوله دغه لوښی مردار ږی دی او که لږ گړی وروسته چه خوله ئی په خپله ژبه سره څټلی وه بیا ئی خوله په لوښی کښی واچوله نو لوښی نه مردار ږی بلکه مکروه کیږی - (هدایه ص۴۹ اول تهوک)

(۷) مسئله:- ایله چرگه چه تړلی نه وی گرنۍ گندگی او مرداری خوړی پسخورده ئې مکروه ده او چه تړلی وی بیا ئې پسخورده مکروه نه ده بلکه حلاله ده هیڅ مکروهوالی نه لری۔ (هدایه ص۴۹ اول ټوک)

(۸) مسئله:- ښکارکونکی مرغان لکه شاهین، باز، گرگټه او داسی نور د دوی پسخورده هم مکروه ده لیکن د دغو شیانو څخه که یو شی په کور کی ساتل سوی وی مرداری، پلیتی نه خوړی او نه ئې پرمښوکه باندی بو مرداری وی نه دیو مرداری شک وی نو بیا ئې پسخورده پاکه ده۔ (درمختار ص۲۳۱ اول جلد۔ هدایه ص۴۹ اول جلد)

(۹) مسئله:- حلال حیوان لکه پسه، بزه، میږه، هوا، گامیښه، هوسی او داسی نور او داغه رنگه حلالی مرغی لکه مینا، طوطی، چوغکه، تونکی د دغو نه تولو پسخورده پاکه ده د دغه رنگه د آس پسخورده هم پاکه ده۔ (عالمگیری ص۵ ج اول)

(۱۰) مسئله:- هر هغه شی چه په کور کی اوسیږی لکه مار، لړم، موږک، گربوني او داسی نور د دوی پسخورده مکروه ده۔ (هدایه ص۴۹ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:- که موږک یو څه ډوډی په غاښو پری کړی وی خوړی نو بنه دا ده چه د دغه ځای څخه چه موږک خوړلی ده یو څه ډوډی ماته کړی او دغه ماته سوی ډوډی پرېږدی او نور ده وخوړی۔ (شامی ص۳۲۱ اول ټوک)

(۱۲) مسئله:- د خره او غاښتری پسخورد؛ خو حلاله ده لیکن د دوی په پسخورده سره اودس کول مکمن دی نو که چیری یو ځای صرف د خره یا غاښتری د پس خوړی او به وی نو ړی او به نه وی نو اودس دی هم وکړی تیمم دی هم وکړی که مخ کی اودس کوی او بیا تیمم کوی یا اول تیمم کوی بیا اودس کوی د دواړو اختیار لری (هدایه ص۴۹ جلد اول)

(۱۳) مسئله:- د کوم حیوانا نو پسخورده چه مردار ده۔ عرق یعنی خوله ئې هم مردار ده او د کوم حیوانا نو پسخورده چه مکروه ده۔ خوله ئې هم مکروه ده۔ او د کوم حیوانا نو پسخورده چه پاکه ده خوله ئې هم پاکه ده۔ د خره او غاښتری خوله پاکه ده که کالی اوبدن په ککړسی پریوول ئې واجب نه دی لیکن بیا ئې هم پریوول بنه کار دی۔ (درمختار ص۲۳۴ اول ټوک)

(۱۴) مسئله:- یو چا پشی ساتلی وه نو دغه پشی را غله د ده سره منډی کښینسته د ده لاسونه او پښی د رختې نو هر ځای چه ئې د رختلی وی یا د

پښتی نارې پرایله سوی دی دهغه ځای پریوول په کار دی که ئی نه پریبولی اودغسی پریښودی نو مکروه اوبه ئی وکړه۔ (عالمگیری ص۱۵ اول ټوک)

(۱۵) مسئله:۔ د پردی سړی پس خورده که ډوډی وی یا اوبه وی د بښځی د پاره مکروه دی چه بښځی ته معلومه وی چه داد ده پسخورده ده اوکه معلومه نه وی بیامکروه نه ده۔ دغه رنګه د بیګانه او پردی سړی د پاره د بښځی پسخورده هم مکروه ده۔ (در مختار۔ رد المحتار ص۲۲۹۔ اول ټوک)

د تیمم بیان

(۱) مسئله:۔ که یو څوک په یو ځنګل او بیابان کی وی او بالکل ورته معلومه نه وی چه اوبه چیری دی او نه دا لته یو داسی سړی وی چه د هغه څخه پوښتنه وکړی نو په دغسی وخت کی دی تیمم وکړی اوکه ئی یو څوک پیدا کړی او هغه په یوه میل دننه دننه کی اوبه ورږښوی نو غالبه ګمان ئی سوچه دا رشتیا ګویه دی یا څوک نه وو لیکن د یو علامی و نښانی په وجه خپله ده ته زړه وایی چه دلته په یو شرعی میل کی دننه دننه یو ځای خامخا اوبه سته نو د اوبو دونه قدرتلاښ کول چه ده او د ده ملګرو ته هیڅ قسم ضرر او تکلیف نه وی ضرور دی بیله تلاش کولو د اوبو تیمم روانه[ع] دی اوکه ئی ښه ټینګ یقین وی چه اوبه په یوه شرعی میل کی دننه دننه دی نو بیا د اوبو راوړل واجب دی که څه هم ده ته یا د ده ملګرو ته تکلیف وی۔ منیه ص۲۳ درمختار ص۲۷۳ اول ټوک:۔ فائده شرعی میل تر انګریزی میل یو څه زیات دی یعنی یو پوره انګریزی میل او بل اتمه حصه د انګریزی میل یو شرعی میل[ل] کیږی

(۲) مسئله:۔ که د اوبو معلومات وسو ور معلومی سوی لیکن اوبه تر یوه شرعی میل لیری وی نو د وئی لیری تلل او اوبه راوړل واجب نه دی بلکه تیمم کول روا دی۔ درمختار ص۲۳۹ اول جلد (ټوک)

(۳) مسئله که یو څوک د آبادی څخه دیوه میل په اندازه لیری وی او تر یوه میل نژدی یو ځای اوبه نه پیدا کیدی نو هم تیمم کول روا دی که مسافر وی که مسافر نه وی۔ دغسی وتلی وی۔ (منیه ص۲۳)

(۴) مسئله :- که په لار کښی څاپیدا سی مگر سولاغه یا رهئ نسته د دی سبیه د څا څخه او به نه سی راکښلای او نه سولاغه او رهئ د چا څخه په خواست پیدا کولای سی - نو هم تیمم کول روا دی - درمختار ص۲۳۹ اول ټوک

(۵) مسئله :- که یو څای او به پیدا سوی لیکن ډیری لږ وی نو که د وندی وی چه یو وار مخ ، د وارهٔ لاسونه او د وارهٔ پښی په پریوللای سی نو تیمم کول روانه دی : یلکه یو یو وار دی دغه شیان پریولی او د سر مسحه دی وکړی په خوله او پزه او به لغړول او دا سی نور شیان یعنی داوداسه سنتونه دی پریږدی او که د وندی او به هم نه وی بیا دی تیمم وکړی - (درمختار ص۲۶۱ اول ټوک)

(۶) مسئله که د مریضی د سبیه او به تاوان کوی که اودس یا غسل کوی مرض ئی زیاتیږی یا په ډیر څنډ سره صحت پیدا کوی بیا هم تیمم کول روا دی - لیکن که یخی او به تاوان کوی او گرمی او به تاوان نه کوی نو په گرمو او بو سره غسل کول واجب دی مگر که داسی ځای وی چه گرمی او به نه وی نو تیمم کول روا دی. (هدایه ص۵۲ اول ټوک - عالمگیری ص۷ اول ټوک)

(۷) مسئله :- که او به نژدی وی یعنی یقیناً نږدی وه میل نژدی وی نو تیمم کول روانه دی. او به لاړ او ړل او دس په کول واجب دی د خلقو څخه د شرم په وجه یا د سترد وجهی د او بو لږ والو د پاره نه تلل او تیمم کول روانه دی د اسی سترا د پرده چه د شریعت یو حکم په کښی پاته سی نارروا او حرام دی ، برقعه (بوغزه) چادری اغوستل یا په پوره وني کی ځان پټول بیا او بو نه تلل واجب دی - لیکن د خلګو په مخ کی دی او دس نه کوی او د دوی په مخ کی دی لاسونه او مخ نه سکاره کوی. (هدایه ص۵۷ اول ټوک

(۸) مسئله :- ترڅو پورې چه په او بو سره او دس نه سی کولای نو څپل تیمم دی کوی که هر څونه د رحئ تیری سی هیڅ فکر او وسوسه دی نه کوی هر څوندی پاکی چه ئی په او داسه او غسل سره حاصلیږی د هغونه په تیمم سره هم حاصلیږی دا خیال دی نه کوی چه په تیمم سره بنه پاکی نه حاصلیږی (هدایه ص۵۳ اول ټوک)

(۹) مسئله :- که او به خرڅیږی او د دهٔ سره قیمت د او بو نه وی نو بیا تیمم کول روا دی او که قیمت (بیه) او پیسی د سره وی او په لار کی چه دکرایی وغیره هر څوندی

نه وریت پلینږی تر دغه زیاتی پیسی هم ورسره وی نو بیائی راتیول واجب دی مگر که ئی دوندی
گرانی دغه او به خرڅولی چه په دغسی قیمت سره او به هیڅانه خرڅولی او نه خرڅیدی
نو بیا داو بوراتیول واجب نه دی تیمم کول روادی اوکه دکرایی اود سفر دنورو ضروریاتو
دلاری څخه زیاتی پیسی ورسره نه وی نو هم داو بوراتیول واجب نه دی۔ او تیمم کول
روادی۔ (منیه صـ۲۴)

(۱۰) مسئله:۔ که چیری یو ځای د دندی یخ وی او واوری اوری چه دلمبیدو
څخه د مرگ یا مریض کیدو یره وی۔ تلتک، شړی او بل داسی شی هم نه وی چه د
هغه په اعوستو سره ځان ساتی کړی نو دغسی مجبوری په وخت کښی تیمم کول روادی هدایه صـ۵۲ ج۱
(۱۱) مسئله:۔ که د چا تر نیمائی زیات بدن زخمی وی یا قوئی، شړی په پوری وی
نو لمبیدل واجب نه دی بلکه تیمم دی وکړی۔ منیه
(۱۲) مسئله:۔ که ئی په یو میدان کی تیمم وکړی بیائی لمونځ وکړی او د دغه میدان تر او به
نژدی وی لیکن دا ته معلومات نه وی نو تیمم او لمونځ دواړه صحیح دی هر وخت چه او به
ورمعلومی سی چه د دندی نژدی وی هم دلمانځه راګرزول واجب نه دی۔ (منیه صـ۲۳)
(۱۳) مسئله:۔ که په مسافری کی دیوبل چا سره او به وی نو فکر دی وکړی که ئی زړه
داورته وایی که چیری زړه او به څندی وغواړم نو او به راکوی نو بیله داو بو د
طلب او غوښتنی تیمم کول روا نه دی اوکه ئی چیری زړه ورته وایی که چیری او به
څندی وغواړم او به نه راکوی نو بیله طلب او غوښتنی تیمم کول او لمونځ روادی لیکن که
تر لمانځه وروسته ئی او به څندی وغوښتی او هغه ورکړی نو لمونځ به راګرزوی۔ منیه صـ۲۴
(۱۴) مسئله:۔ که دیو سړی سره د زم زم او به د زم زم په لوښی کی بندی ورسره وی
تیمم کول روا نه دی د دغه زم زم په او یو لمبیدل او ادس کول واجب دی۔ (منیه صـ۲۴)
(۱۵) مسئله:۔ دیو چا سره او به ستله لیکن لار داسی خرابه دا چه هیڅ ځای او به نه
پیدا کیږی نو دی وجهی په لار کی د تندی هلاکت او تکلیف یره دا نو اوس دی
نه کوی تیمم کول روادی۔ (منیه صـ۲۶)
(۱۶) مسئله:۔ که غسل کول تاوان کوی او ادس کول تاوان نه کوی نو غسل پرځای
دی تیمم وکړی بیا که د غسل تر تیمم وروسته اوس مات سی نو دا وضو اسه دپاره دی

تیمم نه کوی بلکه داو داسه پرځای اودس کول په کار دی اوکه د غسل د تیمم څخه مخکی یواودس ماتونکی شی موجود سی او بیائی د غسل تیمم کړی وی نو د غه د غسل تیمم د غسل اواوداسه دواړه د پاره کافی او پوره دی۔ (ردالمحتار ص۲۶۲ ج۱ - درمختار ص۲۶۲ ج۱)

(۱۷) مسئله:- د تیمم کولو طریقه داده چه دواړه لاسونه پر پاکه مځکه باندی ووهی او لټوله مخ په مسحه کړی بیا دوهم وار دواړه لاسونه پر مځکه باندی ووهی. او دواړه لاسونه دی تر څنګلو پورې مسحه کړی (یعنی اول دی په چپه لاس سره راسته لاس مسحه کړی بیا دی په راسته لاس سره چپه لاس مسحه کړی)۔ بنګړیان، اوداسی نورشیان دی په ښه طریقه سره د ښورولو دی په داسی شان سره چه تر دوی لاندی ځایونه مسحه کیدل ورسیږی که دده په ګمان کی دنوک یا بیښته (وریښته) په مثل یوځای پاتنه سوی وی نو تیمم ئی نه کیږی۔ ګونکی اونورشیان دی وکاږی د پاره ددی چه یوځای پاتنه نه سی ګوتی دی خلال کړی هروخت چه ئی دغه دواړه شیان وکړه نو تیمم ئی وسو۔ (منیه ص۲۲ - عالمګیری ص۱۶ اول جلد - درمختار ص۲۶۴ اول جلد)

(۱۸) مسئله:- پرخاورو چه لاسونه ووهی بیادی بیرته دواړه لاسونه قرار وخنډی د پاره ددی چه پر باږو ګانو اومخ باندی خاورې اوګرځ پری نه وزی چه سپیره سی او صورت وشکل د انسان خراب نه سی۔ (هدایه ص۵۲ اول ټوک)

(۱۹) مسئله:- د مځکی څخه ماسیوای هرشی چه د مځکی د جنس څخه وی پرهغه هم تیمم کول روادی، لکه خاورې، ریګ، ډبره، ګچ، اهاک، زرنیخ، راڼجه، ګیرو اوداسی نور۔ اوهرشی چه د مځکی د جنس څخه نه وی پرهغه تیمم کول روا نه دی۔ لکه سره زر، سپین زر، میس، کوټ، څخم، لرګی، ټکر، غله اوداسی نور۔ مګرکه پرد غو شیانو ګرځ اوخاورې پرته وی بیا پرد غو ذکرسوو شیانو باندی تیمم کول روادی۔ (منیه ص۲۷)

(۲۰) مسئله:- هرهغه شی چه نه په اور سوځی اونه په اور کی ویلیږی هغه شی د خاورو د جنس څخه دی پرهغه شی تیمم روادی اوکوم شی چه اږه کیږی یا ولیږی پرهغه شی تیمم روا نه دی. د غه رنګه پرایر دهم تیمم روا نه دی۔ (شامی ص۳۲۲ اول ټوک) عالمګیری ص۲۱ - اول ټوک)

(۲۱) مسئله:- د ژړو پرلوبنې پر بالښت، نالبنت، نالی او داسې نورو کالو تیمم کول روا نه دی مګر که پردوی دو نه ګرځ وی چه پرد غو شیانو دلاس وهلو څخه ښه ګرځ پورته کیږی او د غوی ښه په سپیره کیږی نو تیمم پرروادی او که پردوی دلاس وهلو څخه لږ لږ ګرځ پورته کیږی نو بیا تیمم هم نه دی پرروا او د خاورو پرمنګی او کوزه باندی تیمم روادی که او به پکښی وی او که نه وی لیکن که رنګ سوی دی بیا تیمم پرروا نه دی. (درمختار شامی ص۲۴۷ جلد اول - منیه ص۲۷ اول ټوک)

(۲۲) مسئله:- که پړه بره بالکل ګرځ نه وی بیا هم تیمم پرروادی بلکه که ئی پړه ښه په او بو سره پریوڅی وی هم تیمم پرروادی پرلاس ګرځ لګیدل هیڅ ضرور نه دی د غه رنګه پرپخه خښته هم تیمم روادی که ګرځ پروی که نه وی. (منیه ص۲۷ درمختار ص۲۴ اول ټوک - درمختار شامی ص۲۴۷ اول ټوک)

(۲۳) مسئله:- پرخټه تیمم کول روادی مګر مناسب نه دی که یوځای دخټو څخه ماسیوا یو بل شی نه وی نو دا طریقه دی وکړی چه په خپله جامه کی دی خټه راواخلی هر وخت چه هغه وچه سی تیمم دی پروکړی مګر که د لمانځه وخت نیږدی نو بیا چه هر قسم کیدای سی هغسی دی وکړی که په لنده خټه سره تیمم کولای سی هم دی وکړی او که په وچه خټه سره تیمم کولای سی هم دی وکړی لمونځ دی نه قضا کوی. (شامی ص۲۴۷ اول ټوک - منیه ص۲۸

(۲۴) مسئله:- که مځکه په بولو یا بل شی مرداره سوی وه او په لمر وچه سوی وه بد بویی ئی هم ختمه سوی وه نو د غه مځکه پاکه ده او لمونځ کول پرروادی لیکن پرد غه مځکه تیمم کول روا نه دی هر هغه وخت چه معلومه وی چه د غه مځکه داسی ده او که معلومه نه وی نو هسی وسوسه او وهم دی نه کوی. (منیه ص۲۹)

(۲۵) مسئله:- لکه څرنګه چه داو داسه پرځای تیمم روادی د غه رنګه دغسل پرځای هم د مجبوری په وخت کی تیمم کول روادی د غه رنګه هر هغه ښځه چه د حیض او نفاس څخه پاکه سوی وی د مجبوری په وخت کی د دی د پاره هم تیمم روادی داو داسه او غسل په تیمم کی هیڅ فرق نسته د د واړو یوه طریقه ده. (هدایه ص۳۳ اول ټوک - منیه ص۲۹)

(۲۶) مسئله:- که ئی یوچا نه د بنو ولو د پاره خپله تیمم وکړی چه هغه ئی ځنډی نړه کړی لیکن د ه چه تیمم د بل چا د نړه کړی د پاره کاوی په د غه وخت کی ئی په

زړه کی د خپل خان سره د تیمم کولو نیت نه وکړی فقط هغه ته ئی وړنبوول غرض وو نو د د ه تیمم نه کیږی حکمه چه د تیمم د صحیح کیدو د پاره د تیمم کولو نیت ضروری دی نو هر وخت چه د تیمم کولو نیت نه وی بلکه صرف دبل چا ته ئی وړنده کول او بشکاره کول غرض وی نو تیمم نه کیږی. (منیه صـ۲۲ درمختار صـ۲۳۷ اول ټوک عالمگیری صـ۱۶ اول ټوک)

(۲۷) مسئله:- د تیمم کولو په وخت کی دی بس د وندی قدر نیت وکړی چه زړه د پاکوالی د پاره تیمم کوم یا د لمانځه کولو د پاره تیمم کوم نو تیمم ئی صحیح کیږی او دا نیت کول چه د او د اسه تیمم کوم د غسل تیمم کوم ضروری نه دی. (هدایه صـ۵۴ اول ټوک - عالمگیری صـ۱۶ اول ټوک)

(۲۸) مسئله:- که ئی د قرآن شریف د مسحی کولو د پاره تیمم وکړی نو په دغه تیمم سره لمونځ کول روانه دی او که ئی د یوه وخت د لمانځه د پاره تیمم وکړی دبل وخت لمونځ کول هم په دغه تیمم سره روا دی او د قرآن شریف مسحه کول هم په دغه تیمم سره روا ده. (منیه صـ۲۵ - هدایه صـ۵۵ اول جلد)

(۲۹) مسئله:- د یوچا د لمبید و هم ضرورت دی او او دس ئی هم نسته نو صرف یو تیمم دی وکړی د د وا ړه د پاره د جلا جلا تیمم ضرورت نسته. (درمختار و ردالمحتار صـ۲۶۲ ج ۱)

(۳۰) مسئله:- د یوچا تیمم وکړی نو بیا ئی لمونځ په وکړی ورو سته او به پیدا سوی او وخت هم باقی دی نو اوسه پوری نو د لمانځه راګرزول واجب نه دی هغه لمونځ ئی په هغه تیمم سره صحیح سو. (منیه صـ۲۹)

(۳۱) مسئله:- که او به نږدیوه شرعی میل لیری نه وی لیکن وخت ډیر تنګ وی که او یو تن خان رسوی یا او به راوړی نو وخت تیریږی نو هم تیمم کول روانه دی او به دی راوړی او دس دی په وکړی د لمانځه دی قضا راوړی. (هدایه صـ۵۶ اول ټوک)

(۳۲) مسئله:- د اوبو د موجود والی په وخت کی د قرآن مجید د مسحی کولو د پاره تیمم کول روانه دی. منیه صـ۲۹)

(۳۳) مسئله:- که ئی د اوبو پیدا کیدو امید وو نو بنه او غوره داده چه اول وخت لمونځ ونه کړی بلکه د اوبو انتظار دی وکړی لیکن د وندی خنډ دی نه کوی چه لمونځ ئی د مکروه وخت ته و رسیږی که ئی د اوبو انتظار ونه کړی په اول وخت کی لمونځ وکړی بیا هم روا دی. منیه صـ۲۶

(۳۴) مسئله:- که او به وده نه نږدی وی لیکن دا بیړه وی که دی وبرکښته سی او دس کوی نو ډیل

(توره ګاډی) به لاړشه ولاړه سی بیا هم تیمم کول روا دی یا مار یا یو بل حیوان پر اوبو دی چه د ده د سببه اوبو ته نه سی ورتلای نو هم تیمم روا دی. (منیه صفحه ۷۰)

(۲۵) مسئله:- په خپل سامان کی اوبه ورسره وی لیکن په یاد ئی نه سوی نو تیمم ئی وکړی او خپل ملوځ ئی اداکړی بیا په یاد ورغلی چه زما په سامان اوبار کی خو ما اوبه اینبی دی نو د لمانځه راګرزول واجب نه دی. (هدایه صفحه ۵۶ ج ۱ درمختار صفحه ۲۵۷ اول ټوک)

(۳۶) مسئله:- په کومو شیانو چه اودس ماتیږی تیمم هم په ماتیږی او د اوبو په پیدا کیدو سره هم تیمم ماتیږی د غه رنګه که ئی تیمم وکړی ومخ ته ولاړی او اوبه تر یوه شرعی میل ورنژدی سوی نو هم تیمم ماتیږی. درمختار شامی صفحه ۲۶۴ ج ۱

(۳۷) مسئله که داوداسه تیمم وی نو چه دوندې اوبه پیدا سی چه اودس په کیدای سی بس تیمم ماتیږی او که د غسل تیمم وی بیا چه دوندې اوبه پیدا سی چه غسل په کیدای سی بیا د غه تیمم ماتیږی او که اوبه کمی وی بیا تیمم نه ماتیږی. (درمختار شامی صفحه ۲۶۳ اول ټوک)

(۳۸) مسئله:- که په لاره کی اوبه وی لیکن ده ته هیڅ خبر نه وی او ورمعلومه نه چه دلته اوبه سته نو هم تیمم نه ماتیږی د غه رنګه په لاره کی اوبه وی او ورمعلومه هم سوه چه اوبه سته لیکن د ریل ګاډی (توره ګاډی) څخه کښته کیدای نه سو نو هم تیمم نه ماتیږی. (منیه صفحه ۳۰)

(۳۹) مسئله:- که د مریضی د سببه ئی تیمم کړی وی نو هر وخت چه مریضی ختمه سی دا رنګه چه اودس او غسل تاوان نه ورسوی نو تیمم ئی ماتیږی نو اودس او غسل کول پرواجب دی. (درمختار صفحه ۲۶۳ اول ټوک)

(۴۰) مسئله:- اوبه نه وی نو د د غه سببه ئی تیمم وکړی بیا داسی مریضی ورپیښه سوه چه اوبه تاوان ورسوی بیا تر مریضی وروسته اوبه پیدا سوی نو اودس ئی هغه تیمم پاته نه دی چه داوبود نه پیدا کیدو د سببه ئی کړی وو بیرته دی نوی تیمم وکړی. (زدرمختار صفحه ۴۳ اول ټوک)

(۴۱) مسئله:- که د لمبید و ضرورت وو د د غه سببه ئی غسل وکړی لیکن یو لږ څه ځای د بدن څخه وچ پاته سو او اوبه ختم سوی نو د غه غسل کوونکی پاک سوی نه دی بایډ تیمم وکړی هر وخت چه یو ځای اوبه پیدا سی نو د غه

پاته سوی وچ ځای دی پریولی اود بیرته لمبید ضرورت نسته - (منیه ص۳۰)

(۴۲) مسئله:- که په داسی وخت کی اوبه پیدا سوی چه اودس ئ هم مات سو نو دغه وچ ځای دی اول پریولی او داود اسه دپاره دی تیمم وکړی اوکه اوبه دوندی کمی وی چه اودس پکه کیدای سی لیکن هغه وچ ځای دغونه اوبونسی پریوللای نو دی اودس وکړی اود هغه وچ ځای دپاره دی دغسل تیمم وکړی لیکن که ئ د دغه غسل تیمم اول وار لاکړی وی - نو اوس د تیمم کولو ضرورت نسته ځکه چه هغه اول تیمم پاته دی - (منیه ص۳۰)

(۴۳) مسئله:- دیوچا کالی یا بدن هم خراب دی مرداردی اود اوداسه هم ضرورت دی او اوبه لږ دی نو بدن او کالی دی پریولی او داود اسه دپاره دی تیمم وکړی. (منیه ص۳۰)

پرموزو باندی دمسحی کولو بیان

(۱) مسئله:- که تراود اسه کولو درسته دخرهنی موزی په پښو کی - او بیا اودس مات کړی نو داود اسه کولو په وخت کی پرموزو مسحه کول روا دی او که موزی وکاږی پښی پریولی داتر ټولو غوره کار دی - (هدایه ص۵۷)

(۲) مسئله:- که موزه دوندی کوچنی وی چه بجلکی نه پټوی نو مسحه کول یې روا نه دی - دغه رنګه که ئ بیله اوداسه موزی په پښو کړی نو پرد غو موزو هم مسحه کول روا نه دی. دموزو کښل او پښی پریوللل ضروری دی - (در مختار ص۲۶۹ اول ټوک - هدایه ص۵۷ اول ټوک)

(۳) مسئله:- په سفر کی تردرو دمخو اود درد شپو پوری پرموزو باندی مسحه کول روا دی او چه په سفر کی نه وی د هغه دپاره یوه ورځ او یوه شپه مسحه کول



روادہ دھرہ وخته څخه چه ئی اودس مات سوی دی دهغه وخته څخه یوه شپه او یوه ورځ یا درې ورځې درې شپې حسابل کیږی دکوم وخت څخه چه ئی مونږ په پښو کړی دی دغه وخته څخه د مونږ د مدی حساب نه کیږی مثلاً یو چاد ماپښین په وخت کښی تراوداسه وړ دسته موزی په پښو کړی بیائی د لمر لوید وپه وخت کی اودس مات سو نو دا تلونکی ورځې تر لمر لوید وپورې مسحه کول روادہ او په سفر کی د درې یمې ورځې تر لمر لوید وپورې روادہ هر وخت چه لمر ولویږی نو بیا مسحه کول روا نه دہ۔ (هدایه صـ۷۷ اول ټوک)

(۴) مسئله:۔ که یو داسی خبره پیښه سوه چه په هغی سره لمبیدل واجب سوه نو موزی دی وکابږی و دی لمبیږی د غسل سره پرمونږ مسحه کول روا نه دہ۔ (هدایه صـ۷۹ اول ټوک)

(۵) مسئله:۔ د مونږ پر لوړ طرف یعنی پر مخ د مونږ دی مسحه کوی او د موزد پر باطن او تلو دی مسحه نه کوی۔ (هدایه صـ۵۵ اول ټوک)

(۶) مسئله:۔ پرمونږ د مسحی کولو طریقه داده چه د لاس گوټی دی لندی کړی او گوټی دی پورہ د مونږ د مخ پرطرف کښیږدی او ورغوی دی د مونږ وخته پورته ونیسی بیادی دغه گوټی د بجلکو وخواته راکش کړی اوکه دگوتو سره ورغوی هم پرمونږ ویگوی د بجلکو وخواته ئی راکش کړی هم روادی۔ (منیه صـ۴۰)

(۷) مسئله:۔ که یو څوک چې مسحه وکړی یعنی د بجلکو د طرف څخه د پښو د گوټو وخواته د لاس گوټی راکش کړی هم روادہ لیکن د مستحب طریقی خلاف کار دی که چیری د مونږ و پر اوښ د والا مسحه و نه کړی بلکه د مونږ و پر پراخوالی مسحه وکړی نو هم روادہ لیکن د مستحب طریقی خلاف دہ۔ (منیه صـ۴۰)

(۸) مسئله:۔ که ئی د مونږ د پرتلو یا ئی د مونږ د پر پوندو پرطرف یا ئی د مونږ و پر بغلو مسحه وکړه نو دغه مسحه صحیح نه دہ۔ (منیه صـ۴۰)

(۹) مسئله:۔ که ئی گوټی پورہ پرمونږ و نه کښیښوی بلکه د گوتو سره نه ئی فقط پر مونږ و کښیښوه او گوټی ئی جگی و درولی پرموزو ئی راکش کړلی نو دغه مسحه صحیح نه دہ۔ مگر که د گوتو څخه پیوست اوپرله پسی داوبو څاڅکی تو ییدل او بهیدل او د درو گوتو په اندازه هر موزه په دغسی طریقه سره لنده سوه۔ نو بیا مسحه صحیح کیږی (منیه صـ۴۰)

(۱۰) مسئله:۔ په مسحه کی مستحب دادی چه په نسو د گوتو سره چه د رغوو خواته

مسحه وکړی اوکه خوک دگوتو یه شاوسیره مسحه وکړی هم روادی۔ (منیه ص۴۰)

(۱۱) مسئله:۔ که چاپر موزو مسحه دنه کړه لیکن دباران داوربد و یه وخت کی دباندی راووتی یا یه لنده وښوکښی روان سو چه موزی ئی لندی سوی نو مسحه ئی وسوه (منیه ص۴۱)

(۱۲) مسئله:۔ دلاس ددرو گوتو یه اندازه پرهره موزه مسحه کول فرض دی که چیری تر دغه کمه سی بیا مسحه نه صحیح کیږی۔ (منیه ص۴۰)

(۱۳) مسئله:۔ هرهغه شی چه اودس ماتوی یه هغه شی سره مسحه هم ماتیږی اودموزو یه کښلو سره هم مسحه ماتیږی نوکه دیوچا اودس نه وو مات سوی لیکن ده موزی وکښلی نومسحه ئی ماته سوه نو بیرته دی دواړی پښی پریولی دبیرته اودس کولو ضرورت نسته۔ (هدایه ص۵۹ اول ټوک)

(۱۴) مسئله:۔ که ئی یوه موزه وکښل نود وهمه موزه دی هم وکابږی اوددواړو پښو پریولل واجب دی۔ (هدایه ص۵۹ اول ټوک)

(۱۵) مسئله:۔ که دمسحی موده پوره سوه نو هم مسحه ماتیږی که ئی اودس نه وی مات سوی نو موزی دی وکابږی دواړی پښی دی پریولی دپوره اوداسه راګرزول واجب نه دی اوکه ئی اودس مات سوی وی نوموزی دی وکابږی پوره اودس دی وکړی۔ (هدایه ص۶۰ اول ټوک)

(۱۶) مسئله:۔ پرموزو دمسحی کولو څخه وروسته ئی یوځای په اوبوکښی پښه ولویده اوموزه سسته وه دد غه سببه یه موزه کښی دننه اویه ولاړی توله پښه یاتر نیمی زیاته پښه لنده سوه نو هم مسحه ماتیږی دوهمه موزه دی هم وکابږی اودواړی پښی دی بنی پریولی۔ (درمختار۔ شامی ص۳۰۵ اول ټوک)

(۱۷) مسئله هرهغه موزه چه دوه[۲] نده څیری وی چه دتګ اورفتار په وخت کښی دپښود درو گوتو (چه کوچنی گوتی وی) په اندازه پښه بنکاره کیږی نو پر دغسی موزه مسحه کول روانه دی اوکه تر دغه کمه بنکاره کیږی نو بیا مسحه پرروا نه ده۔ (هدایه ص۵۹ اول ټوک)

---

۲ نوهم دښکاره کیږی ۱ اوداوبو دی بنکاره کړی یه
۲ یعنی دوه گوتی دی پرموزو ۲ مسحه وکړی دی یه موزو
۲ دننه کښی دننه ښکاره کیږی
۲ یعنی هغو گوتو سره یه موزه دننه
۲ یعنی هغه گوتی چه دتګ په وخت

(۱۸) مسئله:- که دمونږی ګنډلی ځای دسپوخیدی لیکن تر دغه سپوخیدلی ځای پښه نه بنکاره کیږی نو مسحه کول صحیح دی اوکه داسی وی چه د تللو په وخت کی د درو ګوتو په اندازه پښه بنکاره کیږی او دغسی بیله تللو پښه نه بنکاره کیږی نو مسحه صحیح نه دی (منیه صـ۳۳ - درمختار صـ۲۸۲ اول ټوک - هدایه صـ۵۹ اول ټوک)

(۱۹) مسئله:- که په یوه موزه کی د دو ګوتو په اندازه پښه بنکاره کیږی او په بله موزه کی دیوی ګوتی په اندازه ځای بنکاره کیږی نو هیڅ پروا نه لری مسحه پر روا ده اوکه یوه موزه د پیر ځایونه څیری وی چه د غه ټوله څیری ځایونه سره یو ځای سی نو د درو ګوتو په اندازه پښه بنکاره کیږی نو بیا مسحه کول روا نه دی اوکه د غه څیری ځایونه دوندی کم وی چه ټول سره یو ځای سی هم د درو ګوتو سره نه برابریږی نو مسحه کول روا دی. (منیه صـ۴۱)

(۲۰) مسئله:- یو چا پر موزو مسحه کول شروع کړه او یوه شپه او یوه ورځ لانه وه پوره سوی چه په سفر روان سو نو تر درو ورځو او درو شپو پوری دی مسحه وکړی اوکه د سفر څخه مخکی یوه ورځ او یوه شپه تیره سی نو مودی د مسحی خقه سوبیده نو پښی دی پریولی او موزی دی بیرته په پښو کړی. (هدایه صـ۴۴ اول جلد (ټوک)

(۲۱) مسئله:- که سړی مسافر دو او پر موزو ئی مسحه کوله - بیا کور ته راغلی نو که چیری یوه ورځ او یوه شپه پوره سوی وی نو دی موزی وکابزی مسحه کول پر روا نه دی اوکه چیری یوه شپه او یوه ورځ پوره سوی نه وی نو دی یوه ورځ او یوه شپه پوره کړی تر یوی ورځی او شپی زیاته مسحه کول پر روا نه دی. (منیه صـ۴۱)

(۲۲) مسئله:- که ئی پر جرابو سر بیره موزی په پښو کړی وی نو هم پر موزو مسحه روا ده. (کبیری صـ۱۰۹)

(۲۳) مسئله:- پر جرابو باندی مسحه کول روا نه دی لیکن که د غه جرابی په خرمن کی ګنډلی سوی وی یا ټولی موزی په خرمن کی نه وی ګنډلی سوی بلکه د مردانه څپلی په شکل خرمن پر ګنډلی وی یا د پیری د رنی او سختی وی چه بیله تړلو د یوشی څخه پخپله تکیه کیږی او منلی په پښو پوری او په دوی کښی د رې خلور میله مزل هم کیدای سی نو په د غو ټولو صورتو کی پر جرابو هم مسحه کول روا دی. (درمختار صـ۲۷۵ اول ټوک)

(۲۴) مسئله:- پر چادری او دستکلو باندی مسح درانه ده - (هدایه ص۶۱ اول ټوک)

دهغو شیانو بیان چه غسل پرې واجبیږی

(۱) مسئله:- په خوب یا بیداری کی چه هر څوک په شهوت او خوند سره منی راووزی نو غسل واجبیږی برابره خبره ده که دیو سړی دلاس لګولو څخه راووزی یا فقط د خیال او فکر کولو څخه راووزی یا په یوبله طریقه سره منی راووزی په هرحال کی غسل واجبیږی - (منیه ص۱۴)

(۲) مسئله:- که د خوب څخه راوینښ سو او پر جامه یا بدن ئی منی ولیدل نو هم غسل کول واجب دی که ئی د خوب لیدلو واقعه او قصه په یاد وی یا نه وی - منیه ص۱۴)

تنبیه:- د شهوت او خوند په وخت کی چه اول اول کومی او به راووزی او د دوی په راوتلو سره شهوت او خوند زیاتیږی کمیږی نه د غه ته مذی ویل کیږی او چه بنه په خوند سره وی او د دوی په راوتلو سره زړه مړیږی او تر راوتلو - وروسته خوند ختمیږی د غه ته منی ویل کیږی - د منی او مذی فرق دادی چه د منی د راوتلو وروسته زړه مړیږی جوش او خوند ختمیږی او د مذی په راوتلو سره جوش او خوند نه کمیږی بلکه زیاتیږی او مذی نرم وی منی کلک وی او سخت وی - نو صرف د مذی په راوتلو سره غسل نه واجبیږی مګر اودس په ماتیږی -

(عالمګیری ص۶ درمختار ص۱۵ اول ټوک - هدایه ص۳۹ اول ټوک مراقی الفلاح ص۵۶ ص۵۸)

(۳) مسئله:- هر وخت چه د سړی حشفه یعنی د ذکر سر د نسته ولاړ سی نو هم غسل واجبیږی برابره خبره ده که انزال سی یا نه سی که د سړی د ذکر سر د مخ په لاړ کی پټ سی هم غسل واجبیږی که څه هم انزال سوی نه وی او که د شا په لاړ کی پټ سی هم غسل واجبیږی - لیکن د شا په لاړ کی کول ډیره لویه ګناه ده - (منیه ص۱۴)

(۴) مسئله:- هر هغه ډینی چه هره میاشت د مخ دلاری څخه راځی د غه ته حیض ویل کیږی هر وخت چه د غه ډینی بند ی سی نو غسل کول واجبیږی او هر هغه ډینی چه د کوچنی تر پیدا کیدو وروسته راځی د غه ته نفاس ویل کیږی چه د غه د نفاس ډینی بند ی سی هم غسل کول واجبیږی خلاصه ئی دا ده چه په څلورو شیانو سره غسل واجبیږی (۱) په جوش او خوند سره انزالیدل.

(۲) د سړی د ذکر سر د مخ یا د شا په لاړ کی پټیدل (۳) د

حیض او (۴) دنفاس د وینو بند بیدل ـ (منیه ص۱۹)

(۵) مسئله:- دغیر بالغی یعنی کوچنی انجیلی سړه که یو چا نزدیکت وکړی چه تر ادسه پیغلتوب ته نه وه رسیدلی نو پردی غسل واجب نه دی لیکن دا باید په غسل کولو سړه امر سی د پاره ددی چه عادت ئی سی ـ (شامی ـ منیه ـ عالمگیری ص۱)

(۶) مسئله:- په خوب کی ئی دسړی سړه داوسیدلو او نزدیکت کولو خوب ولیدی خوند او مزه ئی هم پرواخیسته لیکن تر ویښیدو وروسته ئی وکتل چه منی نه وه را وتلی نو غسل نه پرواجبیږی. مگر که منی راوتلی وه نو غسل واجبیږی که پرکا لبو یا بدن یو څه څه لندوالی معلومیدی. لیکن داخیال ئی سوچه دامذی دی منی نه دی بیا هم غسل کول واجب دی. (منیه ص۵)

(۷) مسئله:- که لږ څه منی و وتله نو غسل ئی وکړی بیا نزلمبیدو وروسته نو رمنی[۱] را و وتل نو بیرته لمبیدل واجب دی او که نزلمبیدو وروسته د خپل میره[۲] منی څندی و وتله هغه چه په دی کی دننه وه نو غسل صحیح کیږی بیرته لمبیدل واجب نه دی. (منیه ص۱۵ ـ درمختار ص۱۶۵ اول توک)

(۸) مسئله:- دمریضی په سبب یا دبل شی په سبب خود به خوده منی را و وتله لیکن په خوند او جوش سړه نه وه نو غسل نه واجبیږی مگر او دس مانیږی (کبیری ص۴۹)

(۹) مسئله:- میړه او مامینه د واړه پریوه کټ یا بستره سړه پراته وه هر وخت چه را پورته سوه پر بستره ئی دمنیو داغونه ولیدل او په خوب کی د خوب لیدل نه دسړی په یاد وه نه د بنځی په یاد وه نو دی د واړه ولمبیږی احتیاط[۳] په دغه کی دی څکه چه معلومه نه ده چه داد چا منی دی. (منیه ص۱۷)

(۱۰) مسئله:- هر وخت چه یو کافر مسلمان سی نو دده د پاره غسل کول بنه[۴] کار دی ـ (منیه ص۱۷)

(۱۱) مسئله:- هروخت چه یو څوک ومړی ته غسل ورکړی نو ترغسل ورکولو وروسته دده دپاره کا غسل کول بنه کار دی (درمختار ص۱۷۶ اول ټوک)

(۱۲) مسئله:- پرهرچا چه غسل واجب وی نوکه دی ترغسل کولو لمنکی یوشی خوری یا چښی نو اول دی خپل لاسونه او خوله پریمنځی په خوله دی بنه اوبه غرغره کړی بیادی خوړکا د چښل وکړی او که ئې بیله لاس او خولې پریږدی څخه خوړل او چښل وکړه بیا هیڅ گناه نه لری - (منیه ص۲۱)

(۱۳) مسئله:- پرهرچا چه غسل واجب وی دده دپاره کا د قرآن شریف مسحه کول د قرآن شریف ویل او مسجد ته داخلیدل روا نه دی - لیکن د خدای تعالی نوم اخستل کلمه ویل او درود شریف ویل ورته روادی - او دغسی قسم مسئلی هوښ انشاء الله تعالی دحیض په بیان کی په بنه طریقه سره بیانوو - هلته ئې کتل په کار دی - (منیه ص۳۰ هدایه ص۲۴ اول ټوک)

(۱۴) مسئله د تفاسیرو کتابونو په جنابت او بی اودسی سره مسحه کول مکروه کار دی اود ترجمه لرونکی قرآن شریف مسحه کول بلکل حرامه ده - (منیه ص۲۹

د بهشتی زیور اوله حصه په خیر سره ختمه شوه

اللهم اغفر لکاتبه ومترجمه ولمن

سعی فیه ولوالدیهم وارحمهم

علیهم آمین

یارب

د اصلی بهشتی زیور او له ضمیمه نامه سره په بهشتی گوهر

ورو سته ترحمد او صلوٰة د مسلمانانو په خدمت کښی عرض دی لکه رسالهٔ د بهشتی زیور چه په عام و خاص انسانانو کی مقبوله سویده ده پیره روښانه او بیان ته هیڅ ضرورت او حاجت نسته مگر په دی کښی د اسی مضامین کم دی چه د دوی په وجه وجنت ته رغبت او د دوزخ څخه خوف وو نفرت پیدا سی د بهشتی زیور اکثره حصی فقط په مسئلو روښانه دی۔ د دی سبب د حضرت مرشدی و مولائی مولوی حافظ قاری حاجی شاه اشرف علی صاحب دا رایه سوه چه د دی رسالی په هره حصه کی ضمیمه ورسره زیاته سی۔ چه د ترغیب[1] و ترهیب مضامین او د غه رنگه نور ضروری امور کی ذکر وی او هر څای چه یو عبارت د اصلی رسالی یعنی د بهشتی زیور مشکل وی د هغه توضیح هم په حاشیه کی وسی او نور مضامین جلا د ضمیمی په شکل او صورت کښی ولیکل سی لکه چه په سنه (۱۳۳۳) هجری کښی د هری حصی سره د غسی مضامین په طور د زیاتوب او ضمیمی نوشته سوه او د غه ترتولو مخکی په سنه ۱۳۳۵ھ کښی چاپ سوه۔ د سنه ۱۳۳۵ھ څخه تر اوسه پوری د پیرواړو نه جلا او علیحده او د بهشتی زیور سره گډ او یو ځای چاپ سویدی چه د دوی په باره کی پر حاشیه نوټ لیکل سویدی د کتاب و یونکو او کتونکو دعا وکړی چه خدای تعالیٰ په خپل فضل او کرم سره د غه مضامین او ضمیمی په دواړو وجهانو کی فائده مندی ثابتی کړی۔

د اخبره دی بنکاره وی چه مضامین د ترهیب او ترغیب د اخل په ورقو کی د ضمیمی دی او که یو مسئله مستقله ضروری و بلل سی نو د غه هم د اخله په ورقو کی د ضمیمی را و پرلیږی او د عبارت توضیح د بهشتی زیور د ضمیمی څخه جلا د د بهشتی زیور پر حاشیه درج د د عبارت د اسانوالی لکه چه په اصل رساله کی اهتمام سویدی د غه رنگه انشاءالله تعالیٰ په ضمیمه کی هم اهتمام کیږی د دوی مضامین د معتبرو کتابو څخه لیکل سویدی او د هری حصی ضمیمه جلا ده۔ د ناظرینو څخه د خیر د دعا غوښتونکی یم ۱۲ محمد شفیع

[1] ترهیب دیوشی څخه بیرول۔ ترغیب ویوشی ته څوک شوقناکه کول ۱۲ منه

دعلم دبزرگی او شرافت بیان

پروردگار عالم فرمائی - یَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْکُمْ وَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ - یعنی الله تعالی لوړه وی او پورته کوی دهغه چا (مرتبی) چه سنا سو څخه ئ ایمان راوړی وی (یعنی ایمان ئ کامل کړی وی نیک اعمال ئ کړی وی او د شریعت پابندی ئ کړی وی.

(په قران او حدیث کښی چه هرځای د ایمان والاو ډیره بزرگی بیان سوی وی نو په هغه ځای کی ایمان کامل مراد دی نه ځان په پوهه کړه)

او (بلندوی) دهغو کسانو (مرتبی) چه علم ورکړه سوی دی درجی (پرهغوچه ایمان ئ راوړی دی او عالمان نه دی)

په دی ځای کی څوندی ډیره بزرگی او لوړی د اهل علم او علماؤ د پاره د قرآن مجید څخه ثابته سوه چه اول ئ د مومنانو مدحه اوصفت وکړی او بیائی اهل علم په دوی کی خاص کړه اودوی ئ د غټو غټو رتبو والاو بلل هرځوک چه پروردگار عالم خپله لوی وبولی نو اندازه ولگوه چه دده دلویوالی به څه حده او اندازه وی. په بل ځای کی پروردگار عالم جل جلاله فرمائی -

قُلْ هَلْ یَسْتَوِی الَّذِیْنَ یَعْلَمُوْنَ وَالَّذِیْنَ لَا یَعْلَمُوْنَ - وفرمایه (ای رسول الله ایا سړه برابردی هغه کسان چه علم لری او هغه کسان چه علم نه لری (استفهام انکاری دی یعنی د اهل علم رتبه د غیر اهل علم یعنی د امیانو او بی علمه کسانو نه ډیره رتبه زیاته اولوړه ده)

په صحیح حدیث کښی راغلی دی چه د غه حدیث شریف ئ په جامع الصغیر کی راړوایت کړیدی طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِیْضَةٌ عَلٰی کُلِّ مُسْلِمٍ - یعنی د علم طلب کول فرض دی پرهر مسلمان (برابره خبره ده که نر وی او که ښځه) او د فرض پریښول گناه

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه منقول دی چه د علماؤ فضیلت تر شهیدانو زیات دی او دهر دوه سوه کالو عبادت کوونکو څخه د یو عالم فضیلت تر هغه پورې دی چه د هغه (۵۰۰)

کبیره ده او دا خبره یاد ساتل په کار دی چه دکوم کار کول پر بنده فرض وی - نو
د دغه کار د کولو طریقه هم زده کول د ده پرذمه فرض ده او دکوم کار کول
چه مستحب وی د دغه کار طریقه زده کول هم مستحب ده پس نو هر وخت چه
ملونځ فرض سو نو د ده د پاره د لمانځه مسئلی زده کول هم فرض دی. د غه رنګه
د روژی او داسی نورو حال دی،

هر وخت چه نوکری، تجارت او داسی بل شی کوی - نو د نوکری تجارت
او داسی نورو کسبونو په باره کی چه د شریعت کوم حکمونه دی د هغه زده کول
او عمل پرکول لازم دی دا بیان د هغه علم دی چه پر هر چا فرض دی - او
بعضی علمونه داسی دی چه که چیری لږ څه انسانان برابره خبره ده که
یۆوی یا دۆ ده وی یا هر څومره چه کار په وچلیږی، د غه علمونه حاصل
کړی نو د نورو انسانانو پرذمه د دغو علمونو طلب کول ضروری نه پاته
کیږی -

مثلاً په هر کلی او ښار کښی دیو داسی عالم موجودوالی ضروری دی چه
قرآن حدیث، فقه او نور علوم ټ ینه پوره زده وی چه د اسلام د مخالفینو
جواب هم په کولای سی او هر وخت چه د ده څخه دیو مسئلی په باره کی
پوښتنه وسی نو بیله تکلیفه د مسئلی جواب ورکولای سی.

داسی علوم پر هر چا فرض نه دی لیکن که یو څوک فرصت لری شوق او موقع
هم وی او بیله فرضوالی دغه دغه علوم حاصل کړی نو مستحب او ښه کار
دی او لوی ثواب لری - د ا مختصر بیان وو د علم د فرضوالی.

په حدیث شریف کی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی
دی هر چا ته چه خدای پاک د خیر اراده وکړی نو هغه ته د دین پوهه ورکړی
او زه تقسیموونکی د علم یم او الله تعالی ورکونکی د علم دی (بخاری ومسلم)

په (۳) حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر وخت انسان مړ می نو دده عمل قطع (ختم) کیږی - مګر دد ۳ دری عملونو ثواب نه قطع کیږی - اول (۱) صدقه جاریه (لکه وقف، څاه، مسجد او داسی نور چه دالله جل جلاله د رضا د پاره ئی تیار کړی وی - دوهم (۲) علم چه په ده سره خلګو ته فائیده ورسیږی (مثلاً تعلیم، تصنیف او داسی نور - دریم (۳) نیک اولاد چه د مړی د پاره د خیر دعاوی کوی (مسلم) مطلب دادی چه دا تولو بنو کارونو ثواب تر مرګ وروسته ختمیږی - ددی سببه چه مړی عمل نه سی کولای نو ثواب به څنګه ورکړه سی مګر دغه دری کارونه داسی دی چه د دوی ثواب تر مرګ وروسته هم جاری پاته کیږی څکه چه دغه دری سره شیان تر مرګ وروسته جاری پاته کیږی څکه چه په صدقه جاریه کښی د مخلوق نفعه جاری پاته کیږی - دغه رنګه د علم نفعه هم جاری پاته کیږی او نیک اولاد دعاد خیر د مور او پلار د پاره کوی د دغه سببه دغه عمل هم تر مرګه وروسته باقی پاته کیږی.

حدیث (۴) د کثیر بن قیس رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی (دا تابعی دی تابعی هغه ته وایی چه ده د ایمان په حالت کی یو صحابی لیدلی وی او بیا ده د ایمان په حالت کښی وفات کړی وی د لیدلو او مرګ په دواړو حالتونو کی د تابعی مسلمانوالی شرط دی) چه زه د دمشق ۱۲ په مسجد کی د حضرت ابودرداء رضی (دایولوی صحابی دی او یولوی عالم وُاو د ده ته حکیم الامت ویل کیږی یعنی په امت محمدیه کی د ده ته اعلی درجی دینی پوهه ورکړل سوی وه او د ده بی بی حضرت ام درداء رضی الله تعالی عنها هم غټه عالمه وه ۱۲ تذکیرة الحفاظ جلد اول) سره ناست وم -

۱۰۸

پس نو د حضرت ابو درداء رضی الله تعالیٰ عنه د حضور ته یو سړی راغلی او د غه سړی
وویل چه ای ابو درداء زه بیشکه ستا د حضور ته د رسول الله صلی الله علیه و
سلم د مدینی څخه ستا څخه دیو حدیث د اوریدو د پاره راغلی یم چه د
د غه حدیث په نسبت ما ته معلومه سوه چه ته د د غه حدیث روایت د رسول
مقبول صلی الله علیه وسلم څخه کوی او د بل هیڅ حاجت د پاره ستا حضور ته
نه یم راغلی۔ حضرت ابو درداء رضی الله تعالیٰ عنه وفرمائیل چه بیشکه ما د رسول
الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی دی چه څوک پریولاړ باندی د څی او
د دینی علم طلب کوی نو رسوا نوی خدای تعالیٰ د غه څوک پریولاړ دلار و څخه د
جنت۔ او بیشکه فرشتی (ملکی) خپل وزرغوړوی د طالب العلم د خوشحالی د پاره
(د وزرو غوړولو څخه مراد د زرغوړول دی د طالب العلم سره د پاره د تواضع او
خاکساری پیا عرض او مراد څینی شفقت او رحمت دی د فرشتو (ملکو) د طالب العلم
سره چه انجام ئی د خیر دعاده۔

د طالب العلم د کامیابی د پاره اول داعلامه د قبول والی ده په نزد د خدای
پاک جل جلاله څکه چه ملکی معصومی او بی گناه دی او د خدای پاک خاص
بنده گان دی د دوی په نزد قبلیدل گویا د خدای پاک په نزد قبلیدل دی څکه
چه د دوست دوست خپل دوست وی) او بیشکه د عالم د پاره هغه څوک چه په اسمانو
کښی دی او هغه څوک چه په ځمکه کښی دی استغفار کوی (یعنی استغفار کوی د د ده
د گناهونو د بخښنی سوال او خواست کوی) او ماهیان په اوبو کی (د د ده د پاره استغفار کوی
او په ظاهره کفار و شیطانان په استغفار کوونکو کی داخل نه دی څکه چه دوی د دی
نعمت لایقان نه دی هر څخه چه د خپل خالق څخه سرکښی کوی نو د خالق د د وستانو
سره د دوی چلن څرنگه بنه کیدای سی او داخبره بنکاره وه د دی سبب ئی په حدیث
کښی بیان نه کړه او علماؤ فرمائیلی دی چه مراد تول حیوانات دی او ماهیان د دی

وجلی څخه خاص ذکر سوه چه او به د علماؤ په برکت موجودی دی چه د نورو حیواناتو نه
ژوند په او بو سره دی او خصوصاً د ماهیانو څو ډیر بیخی ژوند د او بو سره تړلی دی)
او په تحقیق سره فضیلت د عالم[۱] پر عابد (عبادت کونکی) داسی دی لکه د څورلسم د
سپوږمی فضیلت چه پر نورو ستورو دی۔ (یعنی گویا عالم د څورلسمی شپی سپوږمی
ده او عبادت کونکی په شان د ستورو دی او عالم نه ئی تشبیه ورکړه د پوره سپوږمی
سره چه د څورلسم په شپه راخیږی او د دی روښنائی پر نورو ځکه غوره یزی۔
چونکه فایده د عالم دخپل ځان څخه ماسیوی ونورو نه هم رسیږی او نوره جهان
په روښانه کیږی پس نو دغه مناسبت دی[۲] په ما بین کی د مشبه یعنی عالم او مشبه
به یعنی د څورلسمی شپی د سپوږمی۔
او د عبادت کونکی فائده نقط د ده وخپل ځان نه رسیږی نور څوک د ده
څخه فایده نه سی حاصلولای د دی سبب د ده تشبیه د ستورو سره ورکړه
سوه او که یو څوک روانی چه د عابد ته نور خلګ وګوری نو د وی نه هم د
عبادت کولو مینه او شوق پیدا کیږی او د عابد د عبادت په برکت سره د خدای
جل جلاله رحمت را نازلیږی پر خلګو باندی د غه رنګه په ستورو سره هم ځکه
روښانه کیږی نو جواب ئی دادی چه لږ څه نفعه د عابد او ستورو د عالم او
سپوږمی په مقابل کښی کالعدم[۳] داسی ده قابل د اعتبار نه ده او د عالم څخه
هغه څوک مراد دی چه تر ضروری علم لکه علم د لمانځه، روژی او داسی نورو
څخه زیات علم لری او د عابد څخه مراد هغه عبادت کونکی دی چه په قدر د
ضرورت د عبادت علم لری او پر عبادت کوی علمی شغل نه لری ځکه چه جاهل
خو هیڅ عبادت نسی کولای او د ده عبادت د سره صحیح نه دی پس نو د عابد د پاره
په قدر د ضرورت علم ضروری دی)۔ او علماء بیشکه وارثان د انبیاؤ دی او په تحقیق
د انبیاؤ ترکه (میراثی مال) دِرهَم او دینار یعنی سره زر او سپین زر نه دی پری اینبی

---

[۱] حدیث څخه روایت کونکی ابو درداء رضی الله تعالی عنه دی او د حدیث څخه کتابونکی ابو بکر بن ابو الهاشم دی چه د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اصحابو څخه دی او د دی حدیث څخه مراد فضیلت پر عابد

(یعنی د دنیا وی سامان د پاره ئی هیڅ وارث ترشا نه دی پری ایښی) او هیڅ ترکه ئی نه پری ایښی مگر علم - نو کوم چا چه دغه علم حاصل کړی نو ده ته دولت حاصل کړ دغه حدیث شریف د احمد، ترمذی، ابن ماجه، ابوداؤد او دارمی څخه په مشکوة شریف کښی راانقل سویدی.

(۵) حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما (د اد غتې اولوړی درجې صحابی دی رسول الله صلی الله علیه والـه وسلم و ده ته د قرآن د علم او دینی پوهنی د حاصلیدو دعا کړیده او قبوله سوی هم ده او د دغې دعا په برکت سره ډیر غټ عالم سواد و ده ته ترجمان القرآن وایی) څخه روایت دی چه علم حاصلول و بل ته ئی ښوول تصنیف او تالیف کول او دامی نور یوګړی د شپی بهتر او غوره دی د نورو شپی تر عبادت کولو - (دارمی)

ځان پوه کول په کار دی چه د دغو فضائلو د بیانولو څخه دا غرض نه دی چه نفلی عبادت دی بالکل پریښوول سی بلکه د نفلی عبادت یو څه شغل دی هم کوی لیکن په علمی خدمت کی دی زیات وخت مصروفوی چه د اد نورو عبادتونو زړه دی او د علم څخه مراد دینی علم دی.

(۶) په حدیث شریف کښی ذکر سوی دی چه وَیلٌ دی وی د بی علمه د پاره (وَیل په دوزخ کی د اود یو ځنګل او شیله ده لکه په حدیث کښی چه راغلی دی او د وَیل معنیٰ سخته خرابی ده (کنز العمال) شیخ سعدی څوند ی بنه خبره کړیده چه

سرانجام جاهل جهنم بود ✤ که جاهل نیکو عاقبت کم بود

یعنی آخرا نجام د جاهل دوزخ دی ځکه چه د جاهل خاتمه پر خیر کمه کیږی.

(۷) په حدیث کی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه په خدای جل جلاله می دی قسم وی چه الله تعالیٰ به خپل دوستان و دوزخ ته داخل نه کړی - دا حدیث په صحیح سند سره جامع الصغیر نقل کړیدی

۱۱۱

او بنکاره خبره ده چه عالم باعمله د خدای پاک دوست او محبوب کیدای سی جاهل خو د سره مقبول کیدای نه سی نو ددی سببه د خدای تعالی د درد ناکه عذاب څخه د خلاصیدو د پاره او ده د رضاد حاصلیدو د پاره په علم او عمل سره سنه کیدل په کار دی شاعر په دغه باره کی ویلی دی - شعر

حسبُ المحسنین فی الدنیا عذابهم ۞ تادته لا عَذَبَتْهُمْ بعدها سَقَرُ

یعنی د پروردگار عالم و دوستانو نه چه په دنیا کی کوم مصیبتونه رسیږی بس دغه د دوی عذاب دی او د گناه د معافی د پاره کافی دی په خدای دی قسم وی چه تر دغه وروسته به دوی ته د دوزخ عذاب ورنه کړه سی مگر بنه په غور سره څان په پوهه کړی چه د خدای جل جلاله دوست کوم چه د ده د پاره دا زیری دی هغه څوک کیدای سی چه هر وخت د هغه د رضا طلب کونکی او د هغه د احکامو پابند ه اوسی او که اتفاقاً یو گناه څیني وسی نو فوراً توبه کاږی.

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه ته خدای جل جلاله خلگو ته خوښ او دوست کړه نو به الله پاک تا د خپل ځان د پاره خوښ او دوست کړی (کنز العمال) یعنی وخلگو ته نصیحت کوه د پروردگار عالم احسانات او نعمتونه ورته ذکر کوه د خدای پاک وطرف ته ئی راجع کوه و دوی ته په داسی طریقه سره تعلیم کوه چه د وی خدای جل جلاله وغواړی. پس نو ددی نتیجه دا اوزی چه ته به د خدای پاک دوست سی یعنی پرتا داعلی درجی رحمت کوی او بنکاره خبره ده چه د غه کار بیله هغه عالم چه په خپل علم ئی عمل کړی وی. بل هیڅوک نه سی کولای او په دی کی څوند ه قدر خوشخبری او زیری دی د علماؤ او مشائخو د پاره او د دوی د پاره به تر دغه بل زیات کوم نعمت وی چه د مالک حقیقی دوستان جوړ سی (یا الله ماهم د خپلی اعلی درجی غلام جوړ کړه آمین)

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه کوم عالم چه په خپل علم عمل کوی خدای تعالی به ئی د داسی علم وارث او خاوند کړی چه ده ته نه وی معلوم (حلیة الاولیاء) یعنی داسرار و علم به ورته حاصل سی او په علم کی به ئی ترقی راسی.

---

(۱) دنگه کوم علما وی چه فضیلتونه ذکر کړی دی کوم فضیلتونه چه د الله جل جلاله د دوی د علم د پاره وی د دنیا د غرض د پاره نه وی

(۲) د دوی څخه هغه علما د الله جل جلاله د رضا د پاره وی د دنیا د غرض د پاره نه وی

(۳) علم چه د دنیا د غرض د پاره وی د هغه علم د پاره د حدیث شریف عذاب راغلی دی

(۴) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۵) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۶) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۷) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۸) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۹) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۱۰) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۱۱) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۱۲) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۱۳) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۱۴) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۱۵) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۱۶) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

(۱۷) د دنیا د غرض د پاره د علم کی د یو حدیث شریف راغلی دی

په حدیث[۱۰] شریف کی راغلی دی چه بیشکه عالم چه په خپل علم سره د رضا د حق اراده وکړی نو به دده څخه هرشی بیریږی (مختصر)

په حدیث[۱۱] شریف کښی راغلی دی چه که چیری فقهاء (ددین علماء) د خدای جل جلاله ولیان نه سی په آخرت کی نو هیڅوک د خدای ج ولی (دوست) نه سی کیدای یعنی عالم ضرور ولی (دوست د خدای جل جلاله) دی (سخاوی)

په حدیث[۱۲] شریف کښی راغلی دی چه د عالم ومخ نه کتل عبادت دی (دیلمی عن انس مرفوعاً بغیر ذکر سند) فرمایلی دی جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم چه تر وتازه (یعنی خوشحاله با مراده) دی کړی الله تعالی هغه سړی (اونښځه) چه دوی زما څخه څه واوری او بیا ئی دا رنګه ورسوی لکه څنګه چه ئی اوریدلی وی حکمه چه ډیر هغه کسان چه ودوی ته خبره ورسیږی زیات یاد ونکی وی د دغی خبری لره تر اوریدو نکو د دغی خبری (ترمذی وابن ماجه) په دی کی د دین د علم فضیلت د دین د علم د خدمت څومره قدر فضیلت دی چه سید المرسلین صلی الله علیه واله وسلم خادم دین چه خادم[۱۳] حدیث وی پخپله برکتناکه دعا سره مشرف کړی دی.

علماؤ فرمایلی دی کـه چیری د حدیثو په یاد ولو او د نورو ته په ورښودلو کښی ماسیوی د دغی برکتناکی د عا بله هیڅ نفعه نه وای نو به بیا هم د دغی دعا برکت دیر ښه لولو لایق نه وای ـ حالانکه د دغی برکتناکی دعا څخه علاوه د حدیثو په ویلو وبلو ته په ورښودلو کی ډیر لوی ثواب موجود دی ـ ای مسلمانانو! د دغی مبارکی دعا قدر وکړی علم دین زده کړی په دنیا او اخرت کښی به موفلاح او نجات نصیب شی.

په حدیث[۱۴] شریف کښی راغلی دی چه د هر چا پر لاسونو چه یو سړی مسلمان سی هغه ته هم ضرور جنت ورکول کیږی (طبرانی) په دی کی دا زیری دی چه آخره خاتمه به ئی په خیر سی حکمه چه هر وخت خاتمه په خیر سی نو جنت ضرور پیدا کیږی او دا کار عالم کولای سی چه یو څوک مسلمان کړی حکمه چه جاهل خپله په احکامو خبر نه دی نو و

---

۱۰ من افتقر الی العلماء اولیاء الله ۱۱ العلماء امناء الله فی الارض ۱۲ من حفظ علی امتی حدیثا ینتفعون به یدخل من ای ابواب الجنة شاء ۱۳ من جاء امتی یحفظ حدیثا من احادیثی ادخلته من ای ابواب الجنة شاء ۱۴ من اخذ بید مسلم حتی یرضی ادخله الله الجنة

بل ته به څه هدایت وکړی د عالم څخه د امراد نه دی چه د دې ری لوړی درجی عالم به وی بلکه به هره اندازه کی چه علم وی به هغه اندازه کی به ئی فضیلت وی.

په صحیح حدیث[۳] کښی ذکر سویدی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه هر څوک څلویښت[۴] حدیثونه زما د امت ته ورد رسوی نو زه به قیامت کی په خاص طریقه سره د ده شفاعت کوم (جامع الصغیر) رسول[۵] عام دی که ئی نور وته تدریس اوویل وکړی یا ئی تصنیف وکړی یا ئی وعظ وکړی غرض چه ترخلگو پورې دوتدی قدر حدیثونه ورسیږی برابره خبره ده چه په هره طریقه سره ورسیږی. نو دری سبیه علماؤ[۶] دې پرچهل حدیث لیکلی دی

په حدیث[۱۵] شریف کی راغلی دی اِنَّ اللهَ یَکْرَهُ الْحِبْرَ السَّمِیْنَ - یعنی په تحقیق سره الله تعالیٰ نه خوښوی پښه او تیار عالم (بیهقی) یعنی کوم عالم چه په خپل علم عمل کړی وی نو دی د دین د خدمت او د خدای د خوف د وجهی څخه هیڅکله تیار یدای نه سی پس نو تیار[۴] والی د عیش وخوښحالی او په غفلت کی د اوسیدو علامه ده



او دغسی څوک مقبول کیدای نه سی بعضی غفلتونه او عیش او عیشرت گناه لری.
او بعضی مکروه والی لری د درجهٔ کمال خلاف چه هر قسم غفلت وی په هغه درجه
کښی د الله تعالی ناخوښی ورسره وی که پیدایشی یا د مرض د وجهی څخه تیارو الی
وی نو دغه تیارو الی سبب د ناخوښی د خدای جل جلاله نه گرزی.
په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د قیامت په ورځ به سختترین عذاب
هغه عالم لره وی چه ده د خپل علم څخه نفعه نه وی اخیستی (جامع الصغیر)
(۱۷) په حدیث شریف کښی ذکر سویدی چه په دوزخ کی یو شیبله (څنگل) دی چه
د دی څخه دوزخ هره ورځ څلور سوه واره پناه غواړی او په دغه کښی به ریا کاره
علماء داخلیږی (مشکوة) یعنی هغه عالم چه وخلگوته د
ورسنکاره کولو د پاره علمی خدمت کوی او د دی وجهی علم زده کوی او بل ته ئی وائی
چه خلگ ما ته په عالم ووایی او زما عزت وکړی، پیسې راکړی او بزرگ می وبولی
د خدای څخه ماسیوی دبل چا ته د سنکاره کولو د پاره عبادت کول سخته گناه ده - او یو
قسم شرک دی.

(۱۸) حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی که اهل علم د علم حفاظت کولای (او د علم قدر ئی پیژندلای) او د علم اهل ته ئی علم سپارلای (یعنی په کوم چاکی چه د علم زده کولو او پیشوا جوړیدو لو قابلیت وی و هغوته ئی علم ویلای او په قدر د ضرورت علم کوم چه پرهر سړی فرض دی د هغه زده کول خو هر چاد پاره ضروری دی لیکن زیات علم هغه چاته ورزده کول په کار دی چه هغه د مقتدا او پیشوا کیدو اهل وی) بیشکه سرداران به جوړ سوی وای (یهود او نصاریٰ) په سبب د علم د خپلی زمانی په خلکو کی مگړ د وی صرف کړی علم پرد نیادارانو د دی د پاره چه د دوی څخه د نیوی نفعه حاصله کړی پس نو خوارا و ذلیل سوه د د نیادارانو په نظر کښی (څکه چه د علم حق دا وُچه په د ده سوه به رضا د خدای جل جلاله طلب کیده ای پس نو هر وخت چه په د ۲ سره د نیا طلب سوه نو دوی علم خوارا و ذلیل کړی چه آخر کار ئی داسو چه د دی خپله ذلیل سوه کوم عالم چه طمعه نه کوی د دین حق ادا کوی نو خود بخود ه د خلکو په زړه کی الله تعالیٰ د ده عظمت او قدر پیدا کوی د غه رنگه کوم څوک چه په علم سره د نیا طلبوی د علم حق نه ادا کوی نو الله تعالیٰ د غه عالم ذلیله کوی او د د غسی چا به په دواړو جهانو کی تاوان په برخه وی) ماد رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم څخه اوریدلی دی چه ده فرمائیل چه کوم څوک چه پتول فکرونه (او مقصد ونه) یو فکر کړی او هغه فکر آخرت دی (یعنی د ده مراد آخرت دی د آخرت د برابرید و په فکر کی دی باقی مراد ونه او فکرونه موافق د شریعت د قواعدو سره والله پاک ته وسپاری) نو کافی کیږی الله تعالیٰ د ده د دنیا د فکر د پاره یعنی د دنیا کار و بار چه په څونده ه انده ازه کی د د ده د پاره گټور وی الله پاک ئی په د غه انده ازه کی سره د د ده د پاره په بنه طریقه سره بند و بست کوی او کوم څوک چه پریشانه وی د غم په وجه او د دنیا د مقاصدو نو څخه ئی تعالیٰ ئی پروانه لری چه دی د دنیا په کومه شیله (شیله په معنیٰ د څنگل او دلته مراد مصیبت او مشقت دی) کی هلاک کړی (ابن ماجه)

ای مسلمانانو ورونو! - ای دینی خونده ولږ فکر وکړی خپل ځانونه او خپل اولادونه د نا پوهی او جهالت د تاریکی څخه وساتی - د خدای تعالیٰ د احکامو هر وخت پابنده اوسی نو هر وخت چه څوک د خدای پاک د احکامو پابنده

سی نو پرودگار عالم هم دده سره محبت کوی او هر قسم امداد ئی کوی او چه الله
د چا سی نو دده پاره دکوم شی کمی ده او کوم شی د خدای پاک په خزانه کی نسته
مگر دغه ټول فضل د پرودگار عالم د فرمانبرداری څخه حاصلیدای سی.

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د الله تعالی څخه هرڅه دده په اطاعت
سره پیدا کیږی نن سبا دامی بیکاره نظریات و منځ ته راغلی دی چه دینی علم
عیب بلل کیږی او دامی ویل کیږی چه د دینی علم د ویلو څخه ماسیوی د
گدا گری او مسکنگی بله نتیجه نه راوزی. نوی تهذیب نوی خیالات او د کافرانو
تابعداری سبب د فخر، عزت او ترقی بلل کیږی دغه خبری دی چه د دوی
د وجهی شپه او ورځ د الله تعالی عذابونه رانازلیږی کله طاعون او وبا وی
کله مفلسی او فکرونه وی کله کاختی وی او کله د مسلمانانو د خپل مابین جنگونه
او کله د کفر حملی او غونډی وی. دا خو د دنیا مصیبتونه دی او د آخرت عذابونه څو
نژدغو په پرزړیات دی الله پاک دی پر مسلمانانو رحم وکړی زمونږ غرض دا نه دی چه
د دنیا علم دی پرانداز ه د ضرورت نه ویل کیږی. یا دی نوکری، تجارت او دامی
نور کارونه پریښوول سی بلکه غرض مو دادی چه د دین څخه ناخبره مه اوسی
دین مه خرابوی ټول کارونه د شریعت سره موافق کوی او د شریعت تابعداری
بیله دینی علمه څخه هیڅکله کیدای نه سی دا خبره تجربه سوی ده چه هر
څوک د دین پوره پابنده وی هغه په دی دنیا کی هم په عزت او آرامی سره اوسی،
یو تینگ دیندار ه راوښیاست چه هغه گدا گری او فقر کوی پریشان، ذلیل او خوار
وی. او د سر پر دگرزی د نیا امتحان ځای دی اصلی کور آخرت دی هلته د همیشه
د پاره هستوگنه ده نو د نو د هغه کور د جوړیه و بنده و بست کول لازم دی او د لته
خو داسی او سوبلکه په یو سرای کی چه او سو. شعر

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے یہ عبرت کی جاہ ہے تماشا نہیں ہے

ترجمه: یعنی دا دنیا د محبت ارزښت نه لری بلکه دا د عبرت ځای دی او د تماشی ځای نه دی

خپل ځانونه او خپل اولادونه د نوی روښنائی (انگریزی او کفری تعلیم) د تاریکی
څخه وساتی دا روښنائی نه ده په حقیقت کی سخته تاریکی ده چه د دین تباه
کونکی ده هر وخت چه انسان د دین لاره په تینگه سره و نسی نو د نیا او مال خپله ورته
راځی ځکه چه د نیا د دین سپی ده او دی به د د نیا څخه علیحده او جلا اوسی لیکن بیا به

هم دنیا او مال دده تابع وی لکه چه په حدیث شریف کی راغلی دی. حضرت عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمائی چه حضرت سلیمان علیه الصلوة و السلام ته حق تعالی اختیار ورکړی چه یا علم واخله یا ملک (سلطنت) واخله - ده علم قبول کړی الله پاک علم هم ورکړی او ملک (بادشاهی) ئی هم ورکړه اوداسی بادشاهی ئی ورکړه چه هغه ضرب المثل دګرزیده چه په مثال کی د مبالغی پرځای ملک سلیمانی ویل کیږی او تر قیامته پوری دارنګه بادشاهی هیچاته نه ورکول کیږی او نه تر حضرت سلیمان علیه السلام مخکی هیچاته داسی سلطنت او بادشاهی ورکړه سویده ښکاره خبره ده چه په دوندی درجه کی د دنیا ذلیله کیدل او تابع کیدل د حضرت سلیمان علیه السلام دیاره د دین برکت د وجهی څخه وُ چه ده علم قبول کړی او بادشاهی ئی پریښوله.

او حضرت سالم بن ابی الجعد چه یو غټ تابعی دی فرمائی چه هر وخت زما بادار زه آزاد کړم (دی غلام وُو) نو ما فکر وکړی چه کوم کسب او پیشه وکړم چه خپله ګذاره می په وسی تر او سه خو بادار د حکم مطابق چلیدم د ده سره می ګذران او ګذاره کیده او اوس خو آزاد سوم نو یو بل بند و بست کول په کار دی نو زما په فکر کی راغله چه علم حاصل کړم او دغه رنګه می وکړه یو کال لا نه وُ تیر سوی چه د مدینی منوری حاکم زما سره د ملاقات او لیدو خواهش وکړی او ما وده ته اجازه ورنه کړه چه زما سره د ویني مطلب ئی دادی چه دیو خاص وجهی څخه می نه د سره ولیده - ورنه بیله کومه دلیله داسی کول د دین خلاف او بد اخلاقی ده لیکن دلته د دی بیان څخه دا غرض دی چه ماته په دغه لږ وخت کی داسی رتبه حاصله سوه چه حکام به زیارت ته راتله ما به هیڅ پروانه په کوله چه د زیارت او ملاقات موقع به نه وه نو ملاقات می نه د سره کاوی. صان انکار می کاوی واقعی د دین دغه برکت دی د پروردګار عالم څخه ما سیوی د بل هیچا څخه په زړه کی بیره نه ده پکار او کوم څوک چه د خدایه بیریږی د ده څخه هر شی بیریږی.

داسی خلګ نه د چا څخه شی غواړی چه ذلیل سی او نه وچاته طمعه کوی په منه غوړ سره د دغه مضامین روایه د دغه دواړی قصی یعنی د حضرت سلیمان علیه السلام او حضرت سالم رضی الله تعالی عنه قصی د احیاء العلوم او د ده د شرحی

څخه رانقل سویدی.

(۱۹) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د دوشنبی په ورځ د علم طلب کوی په دی سره په علم حاصلولو کی آسانی راځی (کنز العمال) او دغه مضمون د پنجشنبی په باره کی هم راغلی دی مطلب دادی چه دکتاب شروع کول د دوشنبی او پنجشنبی په ورځ ښه دی دغه رنګه یو بل علمی کار په دغو ورځو کښی شروع کول ښه دی

(۲۰) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر چا چه و یو چا ته یو آیت د قرآن مجید ور زده کړی نو دغه ښو ونکی د طالب العلم بادار سو. (طبرانی) یعنی طالب العلم غلام (مربی) او معلم (استاد) بادار سو غرض چه استاذ د پیرلوی حق لری. ترڅو چه کیدای سی د استاذ او پیر هر قسم تابعداری او دلداری کوه څکه چه دغه خلک دی د تاریکی څخه د رونا وطرف ته رسوی او تر حقیقی محبوب یعنی تر حق تعالیٰ پورې دی رسوی تر دغه زیات بل سلوک، نه جوړیږی او د غلامی څخه دا مطلب نه دی چه استاد شاګرد ته خرڅولای سی بلکه مراد په طریقه د مبالغی د استاذ د حق عظمت او لویوالی بنکاره کول دی د استاذ او پیر درجه د موږ او پلار تر درجه کمه ده ښه څان په پوهه کړی.

(۲۱) په حدیث شریف کښی ذکر سوی دی. چه دیو عالم څخه د مسئلی پوښتنه وسی او دی بیله شرعی عذر څخه دغه مسئله پټه کړی بیان ئی نه کړی په ورځ د قیامت به داور کیږه ور واچوله سی (مشکوة) مراد هغه علم دی چه ښوول او بیانول ئی ضروری وی او تخصیل کول په علم کی برابره خبره ده که ئی ښوول او بیانول فرض

لنفقه الطلبوا العلم و ولو الصین فانه میسر لطالب العلم (جامع الصغیر) جلد اول او د مضمون د حدیث په بعضو حدیثونو کی د دوشنبی په ورځ د علم د شروع کولو ذکر راغلی دی د چهارشنبی په ورځ هم مضمون دی د ائمه و رواه البزاز فی الامامة عن ابی امامة مرفوعا بلفظ من علم انما یه ورځ د شروع کولو اهتمام کړی دی د چهارشنبی په ورځ د شروع سی هغه څخه برکتونه د امام اعظم رضی الله عنه د مذهب د حق و نه پیژندونکی دی چه څوک د استاذ د حدیث کی تخصیل کوی او د هغه څخه علم زده کوی د هغه د مذهب د حق و نه پیژندونکی دی

دی یا مستحب وی بیله عذری شرعی څخه هیڅکله بنه کار نه دی په دی ځای کی یو خاص مضمون چه د بنځو تعلیم په باره کی دی او نهایت مفید دی چه حضرت حکیم الامت او مقتدای ملت علامهٔ زمان قطب دوران مولانا و مرشدنا حافظ قاری حاجی مولوی شاه اشرف علی (نور الله مرقده) په پارچه "القاسم" کی مرحمت فرمایلی دی د مسلمانانو د نفعی په غرض دلته لیکل کیږی - د بعضو مشکلو الفاظو ترجمه په حاشیه کښی سوی ده تر دغه مضمون وروسته د علم د فضیلت بیان اختتام ته رسیږی او د طهارت (پاکی) فضیلت بیانیږی.

بسم الله الرحمن الرحیم

د معاملی اصلاح د بنځو په تعلیم سره کوی

که څه هم وروسته تر دی او پرلوړ حدیث د طلب العلم فریضة علی کل مسلم و مسلمة او د نور حدیثونو چه واجبونکی د حصول د علم دی د مستقل بحث د علم په باره کی څه ضرورت نه پاته کیږی لیکن د بعضو خاصو حالاتو په وجه چه اکثره ځای موږ په ستر گو وینو په دی ځای کی یو څه بحث په دغه باره کی په مستقله طریقه سره د ضرورت مطابق ذکر کیږی د ایاد سائل په کار دی چه په دی مقدمه کی چه څوند ه تلاش سویدی د دی قسمه خلگ دی - یو هغه خلگ دی چه د بنځو د تعلیم نه حمایت کوی او نه ئی مخالفت کوی مگر د تعلیم اهتمام (غم خوردنی) نه کوی د دوهم قسم هغه دی چه د بنځو د تعلیم څخه مخالفت کوی د دریم قسم هغه خلگ دی چه د بنځو د تعلیم حمایت کوی او د دی پرتو لو څخه مختلفی کوتاهیانی واقع کیږی لکه د اولی طبقی کوتاهی چه تر پرتو لو کوتاهیانو سخته او غټه ده چه د دی د دوهمه څخه د بنځو د تعلیم ضرورت پر ضرورت نه بولی نه د دغه تعلیم زیان پر ضرورت بولی او نه ئی خپله بنځی پر ضرورت بولی او د لیل د د دی چه د د دی د پاره د شک او اشتباه سبب جوړ سویدی هغه دادی چه د بنځو د پاره په حکومت کښی وظیفه اخستل کار کول نسته نو د دی ولی تعلیم وکړی نو د د دی د د دی د لیل څخه دا معلومیږی چه د دغه څوک نه د تعلیم په غرض پوه سویدی او نه ئی په دغو نفوسو او روایاتو کښی غور او فکر کړیدی چه پر زیانو او بنځو د وارد په یوه درجه کی تحصیل د علم فرض او واجبوی او نه په دغه تعلیم پوه سویدی کوم چه فرض دی پس نو خان پوه کول په کار دی چه د

علم څخه نوکری او حکومتی وظیفه غرض نه وه څکه چه کوم علم چه پر هرچا ئی زده
کول فرض دی هغه د معاش او گټاری کولو علم نه دی بلکه هغه د دین علم دی چه په
ده سره د انسانانو عقیدی، اعمال، معاملات، ژوند او اخلاق برابرېږی چه ثمره (میوه)
ئی په دنیا کی د - أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ - دولت دی او په اخرت کښی ئی د
أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ - بشارت اوزیری دی - پس نو د دغه علم واجبوالی بنکاره دی سمعاً
هم عقلاً هم - دلائل سمعیه دادی طلب العلم واجب علی کل مسلم (بیهقی عن انس) طلب العلم
فریضة علی کل مسلم (الدیلمی عن علی رض) طلب الفقه حتم واجب علی کل مسلم (حاکم فی
تاریخه) عن انس رض) تعلموا العلم و علموه الناس (دارقطنی عن ابی سعید و بیهقی عن ابی بکر رض)
تعلموا العلم قبل ان یرفع (الدیلمی عن ابن مسعود عن ابی هریرة رض) یا ایها الناس علیکم بالعلم
قبل ان یقبض (طبرانی والخطیب عن ابی امامة) یا ایها الناس خذوا من العلم قبل ان یقبض العلم
(احمد والدارمی طب وابو الشیخ فی تفسیره وابن مردویه عن ابی امامة) ویل لمن لا یعلم (حل عن
حذیفة) وغیر ذالک من النصوص العامة للرجل والمرأة .

او دلیل عقلی دادی چه د عقیدو او اعمالو اصلاح فرض ده او دا بیله علمه نه کیږی
لکه چه داخبره بنکاره ده نو علم د عقیدو او اعمالو د اصلاح دپاره موقوف علیه سو
او خودی اصلاح د عقیدو او اعمالو موقوف سوه هغه اصلاح د عقیدو او اعمالو چه فرض
ده نو د فرض موقوف علیه هم فرض دی - پس نو د علم حاصلول فرض سوه څکه چه
علم حاصلول موقوف علیه دی او د عمل موقوفه کیدل په علم پوری بالکل بنکاره دی
بلکه حسی او په ستر گو معلومیږی لکه چه بی علمه بنځی په کوم حالت کی دی ټول
ئی وینی چه نه په دوی کی د کفر او شرک هیڅ تمیز سته او نه د ایمان او اسلام څه
محبت کی سته هرڅه چه ئی زده وغواړی هغه وایی او د خدای ج په شان کی بی شرمی

کوی خولی ئی ایله کړی دی او دغه رنګه د احکام شرعیه په باره کی چه ئی زړه وغواړی
هغه زبان درانړی کوی د اولاد یا میړه د تابع کولو د پاره طلسم، جادو، منتر هرڅه چه
یو څوک ورو ښیي بیله کومه فرقه روا او نا روا ټول کوی چه هر وخت ئی د عقید و
د احال دی نو د روژی، لمانځه به ئی څه حال دی حتی چه بعضی نو بتونه د دوی
نه کول خو پریږده کوی خوښ نه بلکه سپک او بی قدره ئی ګڼي او بعضو پر سپک او بی
قدره ګڼلو هم بسوالی نه دی کړی بلکه کول ئی به فالی او نا سینتوب بولی یعنی بعضی
ئی سره د دی چه فرض ئی بولی او نه ئی ادا کوی او بعضی ئی قدرهم نه کوی - او یو
ضروری امر ئی نه بولی او بعضی ئی ناسی او سبب د ضرر بولی. د غه دوی د روستنی
درجی خو منکاره کفر دی او اوله درجه ئی فسق او ګناه کبیره ده او هر وخت
چه په روژه او لمانځه کښی د احال دی چه یوه پیسه هم نه پکښی خرڅیږی
نو د زکوٰة او ج چه په دوی کی پیسه هم خرڅیږی پو ښتنه مه کوه هر وخت
چه د عقید او دینی اعمالو د احال دی نو د معاملاتو د صحیح کولو او برابرولو
خو سره امکان نسته څکه چه د لمانځه او روژی صورت خو د دین دی او معاملات
د هغو په نظر کی بالکل د دنیا شکل لری د دی سبب د معاملاتو د برابرولو
اهتمام (جم خورد نی) خام خام خلګ کوی جاهلانی بنځی ئی څه برابر والی کولای سی نو هر
وخت چه د معاملاتو سره دا رنګه طرز عمل دی نو بیا د معاشرت (معاشری) واصلاح
ته چیری ذهن ځی. څکه معاملات خو حقوق العباد ګڼل کیږی په خلاف د معاشرت
چه په ده کی د غه ارخ هم بنکاره نه دی د دی سبب د معاشرت عدم کول بالکل
کم دی نو هر وخت چه د معاملاتو او معاشری سره د وند ی لاپروائی او بی باکی ده
نو د اخلاق باطنی لکه تواضع، اخلاص، خوف، محبت، صبر، شکر او داسی نورو د
طرف ته به څه توجه وی. څکه چه د معاملاتو اثر زیات رسیدل او د معاشرت
(ټولنیز ژوند) اثر تر څه کم رسیدل د نورو ته خو بیا هم معلومیږی او د غه رنګه بعضی
وخت د نیکنامی او بدنامی سبب هم ګرځی په خلاف د اخلاق باطنی چه د دوی
غالب اثر د انسان تر خپل ذات پوری محدود دی د دوی د پټوالی په وجه ئی د نورو ته
د یر کم معلومات کیږی چه انسان په نیک نام یا بدنام سی د دی سبب د اخلاق
باطنی اهتمام بالکل نیستی دی تر دامی حده چه په ډیرو خاصو خلګو کی نسته څه معنی
په عوامو کی بهرحال د دین په دغو ټولو امورو او شیانو کی چه بی پروائی او بی باکی ده

ددی اصل منشأ او سبب کم علمی ددین ده. بیا نو هر هغه څای چه بالکل علم نه وی او پیدائښی او مور زاده عقل هم کم وی (څکه چه طبقه د بنځو قدرتی کم عقله ده غرض هر هغه څای چه نه عقل وی نه علم) نو په هغه څای کی به د ذکر سوو امورو څه اندازه وی یعنی څونډی کوتاهیانی (د شریعت خلاف کارونه) به پکښی کیږی. غرض عقل او مشاهده دواړه شاهدان دی چه بیله علمه د عمل تصحیح ممکنه نه ده او د عمل تصحیح واجب او فرض ده پس نو فرضیت د علم دین د حاصلولو لکه مخکی چه ئی موږ دعوه وکړه عقلاً هم ثابت سو او سمعاً ئی فرضیت نزد عنه مخکی بیان سو نو د دواړو دلیلو په لحاظ علم دین فرض سو پس نو د دغو خلګو داخیال چه بنځوته وظیفه او نوکری ترسره کول نه ګوری نو د دوی د تعلیم څه ضرورت دی. خالص غلط ثابت سو.

پس نو دغه جواب سود دوی د ذکر سوی کوتاهی البته پردی باندی دا شبهه کیدای سی چه د علم دین د فرضیت څخه دا نه لازمیږی چه تعلیم دی په د غسی طریقه سره واجب سی چه بنځوته دی کتابونه هم وویل سی بلکه د غه فرض د داسی کسانو څخه چه عالمان وی په پوښتنو سره هم ادا کیدای سی.

پس نو د دی تحقیق دادی چه واقعاً دا خبره صحیح ده موږ تعلیم متعارف (چه کتاب وبنځوته ویل) فی نفسه واجب نه بولو - دلته دری مقدمی (خبری) قابل د غور دی اول دا چه د واجب مقدمه واجب وی که څه هم په سبب د غیر واجب وی لکه یو سړی چه په پښو پر حج ګولو قدرت نه لری او د ده په زمانه کښی ټوره ګاډی، طیاره د سفر د پاره مقرر وی او د ده سره ئی قدرت او طاقت د کرایی او داسی نور شیانو هم وی نو پر دغه سړی واجب دی چه د سفر قصد وکړی د ټوری ګاډی یا طیاری ټکټ وکړی او پکښی سپور سی نو د ګاډی یا طیاری ټکټ ګول او پکښی سپریدل پر ده فی نفسه شرعاً فرض نه دی لیکن دا د یو فرض د پاره واسطه ده - نو دا هم فرض سو که څه هم په سبب د غیر فرض سو. پس نو دا مقدمه د خبره څخه ثابته سوه د دهمه مقدمه دا ده چه په تجربه سره معلومه او ثابته سوی ده - چه په نړۍ نو کښی د علماؤ موجودیت د بنځو د دینی ضرورتونو د پاره کافی او وافی نه دی د دوو وجهو څخه اول د ستر او پردی د وجهی (چه پرده او ستر د مهمو واجباتو څخه دی) د ټولو بنځو تل وعلماؤ ته تقریباً امکان نه لری او که د کور د نړۍ نو په واسطه د علماؤ

څخه پوښتنې کوی نو د بعضو بنځو د پاره په کور کی د غسی نارینه پیدا کیدای نه سی او بعضی ځایونه خپله د نزانوسره د دین غم نه وی نو به د وی د یل چاد پاره د سوال کولو څخه غم وخوری پس نو د د غسی بنځو د پاره د دین معلومات د یر سخت مشکل دی که اتفاقاً یوه بنځه د یو عالم څخه د پوښتنې موقع ولری یا د یو چا په کور کی پلار زوی، ورور یا د اسی بل څوک وی چه هغه عالم وی بیا هم بنځی بعضی مسئلی د د غو نارینه وڅخه نسی پوښتلای د هری مسئلی پوښتنه د خپل میړه او ـ خاوند څخه کیدای او ټول مړونه دا رنګه کیدل چه عالمان به وی یا به د دین غم ورسره وی په عادت کی امکان نه لری نو د بنځو د عام ضرورت د رفع کولو د پاره ماسیوی د د ی څخه بل هیڅ صورت نسته چه یو څه بنځی خط لیکلای سی کتاب ویلای سی د دین په مسئله پوهیږی او عالمی بنځی د د وی څخه د خپل دین په باره کی هر قسم معلومات حاصل کی پس نو یو څه بنځو ته په متعارفه طریقه (چه کتاب ورته ویل دی تعلیم د دین ورکول واجب سو .

دریمه مقدمه داده چه داهم د تجربی څخه ثابته سویده چه په ذهن کی په بنه طریقه سره علم کښینستل او نه هیریدل د کتاب پرویلو موقوف دی چه د تعلیم متعارفه طریقه ده او د دینی علم یادول او نه هیرول واجب دی پس نو بنا پر اولی مقدمی (خبری) د دینی تعلیم جاری ساتل په متعارفه طریقه سره هم واجب دی البته دا واجب کفایی دی یعنی په هرځای کښی د اسی خلګ په کار دی چه د نورو خلګو د پاره د د وی د دینی سوالاتو په باره کی کافی وی .

پس نو د دی شبهی اوشک هم جواب وسو او ثابته سوه چه د تعلیم یافته نارینوُ په شان په بنځو کی هم د د غسی تعلیم موجود والی ضروری دی او د دی غلط خیال بالکل بیخکنی وسوه چه د بنځو د پاره د تعلیم ضرورت نسته .

اوس د د وهمی طبقی په باره کښی یو څه لیکل کیږی چه د بنځو د تعلیم مخالف دی او سخت ضروری ئی بولی د د وی د عوه داده چه موږ تعلیم یافته بنځی اکثره ـ آزادی، بی باکه، بی شرمی، مکاری او بدګنداره لیدلی دی نو د د وی خو خط نزده وی هرچاته چه ئی زړه وغواړی خط ورلیږی پیغام او سلام ورا ستوی نو د غه رنګه د نورو خلګو په زړه کی هم طمعه پیدا کیږی خپل نفسانی خواهشات تر د وی پورې په ذریعه د خط ورسوی او د د غو بنځو ته چه بیا د اسی خطونه

رادرسیږی نوکله پردوی هم تاثیر کوی شهوت آمیزه اونرم جواب ورکوی دغه
سلسله دغسی پسی زیاتیږی تردامی حده چه دهرڅه دپیښیدو امکان وی۔
هغه پیښیږی اوکله جواب نه ورکوی خاموشی اختیارۍ نود زړه مریضان خلګ
ددوی ددغی خاموشی څخه هم دا مطلب اخلی چه پته خوله اقراردی او پی درپی
خطونه ورته رالیږی اودبعضو خلګو بیان دجادو په شان وی پرانسان ډیر ژر
تاثیرکوی خصوصًا بیاپربنځو ځکه چه دبنځو طبیعتونه ډیرنرم دی نو په دغه
وخت کښی دشیطان جال غوړیدل هیڅ دتعجب خبره نه ده اوکه دغه بنځه
چه ودی ته دغسی قسم خط رالیږل سویدی دخفګان او ناراضیتیا اظهارهم وکړی
دخط ونوشته کونکی ته دناراضی جواب هم ورولیږی مګردخپل میړه یا خاندان
دبیری څخه چه خدای خبرپرمایه څه ګمان وکړی، څه معامله به راسره وکړی
دخپل کورد ترانو او بنځو څخه دغه خبره پټه ساتی او په دی وجه دخط لیکونکی
دهرقسم ضرر څخه ساتلی پاته کیږی نودغه سببه زړورکیږی بل وخت
بیادا غسی خطونه ورته رالیږی اودغه سلسله جاری ساتی ددغو پټو لو
راتلونو وجه دبنځو خواندګی اوتعلیم یافته کیدل دی که چیری ددوی ناخواندګی
نودوی ته دخط په رالیږلوکی دبل چا خبریدو بیره نه ده نودغه فساد و ته
په صورت کی دناخواندګی دبنځو بیدیایی سی اودغه فساد په هغه صورت کی نورهم
ډیریږی کله چه دبنځو مضامین په اخبارونوکښی چاپیدل شروع سی ځکه چه
شیطانان خلګ دخبرواترو اوخط څخه دلیکونکی بنځی دجذباتو، خیالاتو اوطبیعت
اندازه لګوی نودخپل شرارت بخښی هلته نشروی اوکه ئی چیری کلام په صورت
دنظم کی وی بیاخو غضب پرغضب دی اوپه دی زمانه کی خوبیاپو بل غضب دی
چه دفخردپاره دصاحب مضامین نوم اوپته صافه لیکل کیږی۔ چه دفلانی
لورد فلانی بنځه دفلانی ځای اوسیدونکی۔ اودغه پټولی خرابی دبنځودخط
لیکلو اولوستلو څخه پیدا کیږی که چیری په یوطریقه سره په دغو پټو شرارتونو
خاوند یانور دکور والا خبرسی نوچونکه تعلیم یافته انسان هوښیار اوپه خبرو
جوړولوکی پوره مهارت لری نوددی وجلی داسی تأویلات او بهانی جوړی کړی۔ چه
هیڅکله څوک یوه خبره پرراوړای نه سی ځان صاف اوبی داغه معرفی کړی تردامی
حده چه خپل خاوند یابل دکور یوانسان چه ددی څخه ئی په دغه باره کی پوښتنه

کړیدلا پرخپله پوښتنه پښیمانه کړی خکه دا په یوه وایي چه څانته څان ورانچوم او په بله وایي په اور کی څان سوځوم په بله وایي دا کوم هغه کوم نو دغه پوښتنه کونکی داسی حیران کړی چه بیا په ټول ژوند دغسی خبره پرځوله نه راوړی بس دغه لوی غنیمت بولی چه بی بی په یو طریقه سره خوشحاله کړی .

یوه خرابی دښځو په دی تعلیم یافته طبقه کی داده چه هرقسم کتابونه د بازار څخه راخواړی او مطالعه (کتنه) ئی کوی د عشق او څیګر خونی او محبت قصی شوق انګیزه غزلی او سندری کی ګوری او وایي ئی چه په دی طبیعت او عادت د یر خرابیږی . کله کله د غسی غزلی په لوړ آواز سره وایي چه د ډیر وانړی دباندی یا د همسایه کور یا کوڅی او څړک ته رسیږی او پر آواز ئی یو څوک عاشق سی نو ددی په طلب پسی سی که چیږی دغه عاشق په خپل طلب کی ناکامه سی نو بیا هم رسوائی او بی حیائی ومنځ ته راځی دا خلاصه ده د هغو صاحبانو د حالاتو او خیالاتو چه د ښځو د تعلیم مخالف دی .

اوس ده دغه واقعاتی ډیر واغجنی نه بولم - لیکن داضرور وایم چه د هغو صاحبانو د تنګنظری څخه کار اخیستی دی د واقعاتو په حقیقت کی ئی غور نه دی کړی اصل دادی چه د دغو ټولو خرابیو ذمه وار تعلیم نه دی بلکه طرز او طریقه د تعلیم ده یا نصاب د تعلیم دی یا طرز د عمل دی یا بد او بیکاره تدبیر دی یعنی یا داسی پښنه سویده چه داسی کتابونه دی ویل سوی چه د دوی څخه د حلال او حرام احکام د ثواب او عذاب بیان او د اخلاقو برابر ولو طریقه معلومه سویوی او چه د دوی څخه خوف او بیره پیژندنه او لوی د حق جل شانه حاصله سوی وی دغه ښځی ئی صرف حروف پیژندونکی جوړی کړیدی نور نو دوی او خپل طبیعت سره ایله او پاته دی او دوی په پښتو ژبه کی د قسم قسم رسالو او کتابو مطالعه کړیده - دلیکلو او لوستلو مهارت ئی څان ته حاصل کړیدی او د تعلیم یافته لقب ئی پیدا کړیدی - لیکن د دین معلومات نو یوه زره ورسره نسته په دغه طریقه سره ئی تعلیم بدنامه کړیدی نو بنکاره خبره ده چه خالص د حروفو پیژندنی ته نه تعلیم ویل کیږی سی او نه حروف شناسی (حروف پیژندنه) داعمالو او احوالو د اصلاح ضمانت کولای سی او یا داپښنه سویده چه سره د مفید والی او کاتی والی د نصاب د تعلیم د اکوشش نه دی

سوی | له د علم حاصلولو د پاره چه کوم حد اوله اندازه ده کتابونو مقرر ده سی هغه ته نصاب تعلیم ویل کیږی

چه د دغه نصاب مضامین د شاګردانو په عملی زندګی کښی راسی پرد غه مضامینو د عمل کولو دپاره دوی نه دی مجبورہ سوی۔ مثلاً د دی ضرورت دی چه په کومه وخ یوی انجیلی دامسئله د ویلو چه غیبت ګناه ده تر د غه وروسته که د غیبت وکړی نو فوراً ددی ته ور پیاد کړل سی چه ګوره تاسو څه ښی ویلی وو چه اوس ئی خلاف کوی۔ مثلاً و دی ته د ستاو پردې ضرورت یاد کړا رخبر وکولو تاکید په کتاب کی ویل سوی وی او بیا کوتاهی کی وکړی یا غفلت کی وکړی نو فوراً باید د امنعه سی چه د اسی مه کوه۔ یا ددی ته د مال او نړیور سره د محبت کولو او حرص کولو د بد والی بیان په کتاب کی ویل سویوی نو بیاد اګرانو او قیمتی کالو یاد غیر ضروری زیور هوس وکړی نو فوراً د په دی خبردار ه کړی چه د اسی مه کوه په دغسی طریقه امید سته چه په د وئی د ښو اخلاقو او ښو اعمالو عادت پیدا سی۔ او یا د اپیښه سوید ه چه خپله د دوی په طبیعت او ذات کی صلاحیت او قابلیت نسته خپله ئی خرابه وی او په دغه صورت کی دوی د دی شعر مصداق ګرځی۔ مصرع ۔ تربیت نااہل را چون ګردکان برګنبداست

شعر ۔ شمشیر نیک زاصل بد چون کند کسی ۔ ناکس بہ تربیت نہ شود ای حکیم کس

د اخوخپله د دوی د احوالو او اعمالو په باره کی خبره وه چه زیات فساد د ننه په دغو ښځو کی د بیکاره تد بیرونو په وجه موجود دی او د دی بیکاره تد بیرونو د بندید و طریقه داده چه کوم اسباب د فساد او خرابی دی هغه بالکل باید بند سی چه په دغه فساد او خرابی کی یوازی د ښځو ګناه نه ده بلکه د دی مسؤل اکثره وخت نارینه وی د نارینه ؤ چه هم په سل طریقه سره تربیت و نه سی نو د اسی مفاسد او خرابیانی څند ی پیدا کیږی اکثره وخت د اسی فساد اصل سبب نران (نارینه) وی نو بیا څه وجه ده چه نرانو ته د هر قسم تعلیم حاصلولو آزادی حاصله ده۔ بلکه د نارینه ؤ د تعلیم د پاره باقاعده اهتمام او انتظام کیږی او پر ښځو د تعلیم حاصلولو د پاره بندیز او پابندی لګیږی او د تعلیم څخه منعه کیږی۔ د دی فرق وجه وروسته تر فکر کولو غیر د دی څخه بل هیڅ نه معلومیږی چه که په ښځه کی یو خرابی موجوده سی یا و دی ته دیو بیکاره خبری نسبت وسی نو اصطلاحًا سبب د ذلت، رسوایی او پیغور ګنل کیږی او د غه خرابی که چیری په نرکی موجوده وی یا ئی وده ته نسبت وسی نو بیا په

اصطلاح کی د غه سبب د ذلت ، رسوایی او بیغورنه بلل کیږی نو د دی سبب د بنځو
د پاره د د غو مفاسد و او خرابیو احتمال د تعلیم څخه د منعه کید و سبب گرزبیدلی
دی او د نارینه وُ د پاره نه دی گرزبیدلی شرعاً خو داخبره بنکاره ده چه په دی باب
کی نر او بنځه بالکل سره برابر دی چه که چیری د بنځی د پاره گناه بده او قابل د ملامتیا
وی نو په د غه درجه کی د نر د پاره گناه بده او قابل د ملامتیا ده. که د نر د پاره
سبب د پاکی او نزاهت وی نو په د غه درجه کی د بنځی د پاره هم سبب د پاکی او نزاهت ده پس
نو چه د شریعت د نگاه څخه نر او بنځه د واړه په گناکی برابر دی نو په اصطلاح کی ولی
فرق سره لری او دا رنگه فرق کول بنکاره د شریعت څخه خلاف کار دی حُکه شریعت نر او
بنځه د واړه په دی باره کی یوشی سره بلل دی. لیکن په دی خای کی د شریعت فیصله
وشاته غورځول سویده رواج او اصطلاح را مخکی سو بیده او دا یو ډیر غټ جاهلیت او
ناپوهی ده او اصل سبب ئی صرف او صرف کبر او خان لوی بلل دی پر بنځو باندی او دا یوازی
زه نه وایم یوازی زما دعوه نه ده بلکه د مدعیٰ علیهم یعنی د هغو خلگو چه د بنځو
د تعلیم مخالف دی هم د غه دعوه او خبره ده حُکه چه په کثرت سره د د غو خلگو
د ژبی څخه اوریدل سوی دی چه د نر (نارینه) د پاره گناه څه پروا لری د ده مثال
دلوبنی دی که لس واره مردار سی چه هر وخت پریمنځل سی بس پاک دی د بنځی مثال
د ملغلری د حُلیه ودی چه یو وار ئی حُلیه ل ختم سی بیا د وهم وار په هیڅ طریقه سره
نه حُلیږی یا په بل اسانه عبارت د نارینه وُ د پاره گناه سپک شی بولی او د بنځو د پاره
ئی سخته بولی نو د کبر او لوی څخه علاوه چه په بنځو خان غټ بولی په دی خبره کی دا
بیره هم سته چه د شرعی شریفی احکام ئی سپک و بلل.

اوس صرف د دریمی طبقی په باره کی خبره پاته ده چه د تعلیم حمایت کونکی څو
دی لیکن د د غه تعلیم په تعین کی یا د ده د طریقی په تجویز ولو کی د دوی څخه غلطی
کیږی چه د د غو غلطیانو څخه د بعضو غلطیو بیان د د وهمی طبقی د خیالاتو د بیان
په ضمن کی تیر سو. مثلاً چه بنځی صرف حروف و پیژنی فقط د خط پرویلو قدرت
پیدا کی بیا نو د وی او خپل طبیعت سره پریږدی په خپله را یه سره مختلفی رسالی
مطالعه کوی یا مثلاً تر تعلیم د دسته کوشش نه پر کوی چه د د وی عملی زندگی
د تعلیم سره برابره سی. لکه مو چه ئی ډیر مثالونه ذکر کړه او د بعضو غلطیو بیان
اوس کیږی مثلاً د بعضو بنځو ته پر خای د دینی علومو تاریخ، جغرافیه یا انگریزی وایی

انگریزی خو پریښده بلکه انجیل ورته وایي چه د دی سبب صرف پیروی او متابعت دار د پاپانو او عیسائیانو دی یعنی د دوی په نصاب تعلیم کی لیاقت منحصر او بند بلل د دغه وجه ده او د دی خبری هیڅ خیال نه ساتی چه زموږ او د دوئ په رسمونو، عقیدو او عادتونو کښی لوی فرق دی او د دی څخه ماسیوا زموږ او د دوی په مابین کی لوی فرق د مذهب دی چه موږ مسلمانان یو زموږ او د دوی مذهبی اختلاف دی.

د مسلمان د پاره تعلیم په اسلامی طریقه دی او د دوی تعلیم صرف دڅ بی تعلیم دی یاد دنیوی معاملاتو او یا د بل مذهب تعلیم دی. په هرحال د دوی د تعلیم یو خاص مبنیٰ ده نو که موږ د دوی تعلیم اختیار کړو نو څه مطلب به ولری څکه چه د دوی د تعلیم څخه یوشی غرض دی او زموږ د تعلیم څخه بل شی غرض دی زموږ د تعلیم څخه مقصد د عقیدو، عملونو، معاملاتو او اخلاقو اصلاح ده او د ابیله دینی علم څخه هیڅ امکان نه لری.

نو بنکاره خبره ده چه د دوی تعلیم اختیارول زموږ د پاره بی معنیٰ او بی مطلبه دی. لیکن که یو چا ته د معاش او گذاری کولو د پاره د دغه تعلیم ضرورت وی نو د دینی تعلیم تر حاصلولو وروسته دی دغه علم حاصل کړی کوم چه په دی زمانه کی د معاش او گذاری کولو د پاره موقوف علیه وی لکه په دی اوسنی وخت کی انگریزی، تاریخ، جغرافیه او داسی نور او د انجیل ویلو په هیڅ حال کی ضرورت نسته او بنکاره خبره ده چه د روزی پیدا کولو ضرورت فقط د نرانو د پاره دی - بنځی اول د دی وجهی څخه چه په اسلام کی د ستر او پردی تاکید سوی دی هغه روزی برابرول چه خاص په قلم او علومو پورې تړلی وی د ستر او پردی سره حاصلیدای نه سی نو د دی سببه د بنځو د پاره د دغه تعلیم بالکل عبث او د دوی د وخت ضائع کیدل دی. بلکه د عبث والی څخه علاوه هر قسم نقصان دی لکه چه ژر تر ژره به د دغو نقصانانو بیان راسی په هرحال کی د دغه علوم چه په تعلیم جدید، مسملی دی د بنځو د پاره هیڅکله مناسب نه دی البته د دنیا د کاروبار څخه په قدر د ضرورت زده کول لکه خط لیکل، حساب زده کول یا یو بل داسی کسب زده کول مناسب دی د دی د پاره که یو وخت مجبوره سی او د کور سړی پرست مړسی - خبره ودوی ته اړه سی نو بیا به په دغه کسب سره د عزت گذاره کوی. د چا څخه د فقر او سوال ضرورت په نه وی پاته سو تهذیب او اخلاق نو دا چه څوندی په دینی علم کی حاصلیدای سی په بل هیڅ علم کی نه سی حاصلیدای - که ئ څوک تجربه کول

غواړی نو دا اسانه کار دی د ده دامی خلګ دی دګوری چه پریږه باندی دینی علم پورې تاثیر کړی وی او په دینی علم ئې پورې عمل کړی وی او پربل مغربی تهذیب پورې اثر کړی وی د مغربی تهذیب پورې تابع وی بیادی د دی دواړو اخلاق، معاشرې او کردار سره د سنجوی نو به ودی نتیجی ته ورسیږی چه د دی د اخلاقو، حرکاتو او اقوالو په منځ کی د محکی اواسمان فرق دی۔ لیکن که د تصنع او تکلف نوم چا تهذیب اینبنی وی نو دا د ده غلطی ده چه دیو مفهوم مصداق ده غلط تاکلی دی۔

که دیو چا په ذهن کی یو داسی دیندار ده راغلی وی چه په ده کی د تهذیب حقیقی کمی وی نو سبب ئې دا دی چه ده په دینی علومو پورې عمل نه دی کړی یعنی د دین اجزاء او حصی پیری دی عقائد، اعمال، معاملات، معاشرت او اخلاق باطنی بعضی خلګ یوازی د لمانځه روژی د احکامو زده کولو ته علم دین وائی او د دغه احکامو پابندی کو نکوته د دیندار لقب ورکوی نو خپله د اغلطه ده د ذکر سوو اجزاؤ ضروری احکامو ښه زده کول او د ټولو پابندی کول دینداری ده کوم چا ته چه ئې د دیندار لقب ورکړی دی او بیائې قلیل التهذیب بللی دی۔ هغه په واقع کی د دین ټولو اجزاؤ لره پورې کونکی نه دی خبره په هغه چاکی ده چه د ټول اجزاء پورې کړی وی۔ پس نو دغه شک لیری سو بنده د دغسی قسم شبهاتو د جواب دپاره رساله حقوق العلم لیکلی ده (چه د کتنی قابله ده)۔

غرض د علم دین په شان تهذیب دبل هیڅ علم څخه حاصلیدی نشی خو دغه علم دین و وچه زموږ په تیرو مشرانو کی د خپل اثر د وجلی هغه ښایسته اخلاق او تهذیب پیدا کړی چه اروپایان ئې خپله په اقرار کولو سره مجبور سوی۔ اقرار خو پریږده بلکه اخسته ځندی کوی لیکن موږ د خپل کور د دولت څخه بی خبره یو د نور و څخه ئې سوال او ګدا ګری کوو لکه چه عارف رومی فرمائی ۔ شعر

یک شبه پرنان ترا برفرق سر ۔۔۔ تو همی جوئی لب نان در بدر

تا بزانوئی میان تعمر آب ۔۔۔ وز عطش وز جوع گشتستی خراب

بعضی خلګ د خپلو لونو او اخبینو ته په آزادو او بی باکه ښکوسره تعلیم ورکوی۔ د اتجربه ده چه د همنشین د اخلاقو او جذباتو اثر ضرور په انسان کی راځی

خصوصًا چه هغه همنشینه څوک دامی وی چه متبوع اومعظم هم وی او بنکاره خبره ده
چه استاذ دامی وی چه هم متبوع یعنی دده متابعت کیږی اوهم معظم یعنی د مشر په
سترګه درته کتل کیږی نو په دی صورت کی د غه آزادی او بی باکی په انجینو (نجونو)
کی هم راځی د بنځو په طبیعت کی چه کومه حیا او انقباض پروت دی او داد تولو خیرونو
کیلی ده نو هر وخت چه د بنځی څخه د غه حیا اوشرم ولاړ سی نو بیا د دوی څخه ئی
هیڅ خیر امید سته او نه د دوی څخه دیوشر او فساد پیښیدل لیری خبره ده هر
څوندی چه د اِذَا لَمْ تَسْتَحْیِ فَافْعَلْ مَا شِئْتَ[1]. حکم عام دی لیکن زمانه نزد
د "مَا شِئْتَ" عموم د بنځو د پاره نسبت د نرانو نه زیات دی ځکه چه په نارینه وُ
کی عقل بیا هم یو اندازه مانع دی او په بنځو کی د عقل هم کمی ده نو د دی سببه چه
حیائی ولاړه سی بل هیڅ مانع نه پاته کیږی.

د غه رنګه که استاذه بی باکه او آزاده نه وی لیکن د دی هم سبقه او هم
مکتبه (کلاسپیلو) نجونی دا سی وی نو بیا د غو خپلو هم صنفیانو بد اخلاق پر دی
بد تاثیر کوی د دی تقریر څخه د دوی خرابیو حال هم معلوم سو چه په دی وخت
کی د زړه بی د رسه عالمی دی یو د بنځو او انجونو مکتب چه په دهکی د مختلفو
قومونو مختلفو طبقو او مختلفو خیالاتو بنځی هر ورځ سره یوځای کیږی که څه هم
استاذانی ئی مسلمانانی وی او مکتب ته د غه شاګردانی په خپلو شخصی موټرانو کی راځی
او چه مکتب ته د غه شاګردانی راسی بیا د ستراو پردی په ځای کی هم اوسیږی. لیکن بیا
هم واقعاتو دا تجربه بنکاره کړی ده چه د لته دا سی اسباب جمعه کیږی چه د دوی
پر اخلاقو د ډیر بد اثر پریږدی او د غه صحبت اکثره وخت عفت سوزه ثابتیږی او که
استاذانی هم آزادی یا مکاری دی بیا تو د دوی څخه د خیر امید د رسه لودل عبث دی
او دا مثال پرصادقیږی چه کریلا خود سره ترخه وه او تاد نِیم پانې (بلګونه) هم
د سره واچول.

او که چیری په مکتب کی کافره استاذه هر ورځ یا په هفته کی یوه ورځ د دوی
ته تعلیم درکوی بیا خو نه د عزت پاته کیدل امکان لری نه د دین او اسلام خیر
سته مګر افسوس سَتَّد افسوس دی چه بعضی خلګ د غه آفتونه سبب د ښکر
بولی د غسی استاذانی د خپلو کورونو ته رابولی لیکن د د غسی استاذانو د تعلیم څخه

[1] هر څه وخت چه ستا څخه حیا ولاړه سی نو هر څه چه دی زړه غواړی هغه کوه ۱۲ ربنا فاغفرلنا ذنوبنا

خپل کوچنیان شاګرد په سخت ضرورت کی د کومو ضرورتونو او نقصانونو د ذکر چه مخکی وعده سوی وه د هغو څخه بعضی دغه دی. اول بعضو ذکر مخکی د دوهمی طبقی د خیالاتو په ضمن کی بیان سو۔

په طریقه د انجونو د پاره داده چه د پیری پخوا زمانی څخه راروانه ده چه د پری د پری څلور څلور انجونی د خپلو خپلوانو وکورونه راځی او خپل سبقان وایی حتی الامکان که داسی استاذه پیدا سی چه تنخواه (معاش) نه اخلی نو په تجربه سره د غسی مفت تعلیم برکتناکه او بنه اثر کونکی ثابت سویدی او که مجبوری وی بیا تنخواه (معاش) ورکول هم پروانه لری او که چیری استاذه نه وی یا وی لیکن اخلاق ئی برابر نه وی نو د خپل کور سړی دې ورته وایی د ویلو خو به د غسی طریقو وی کوم چه اوس بیان سوه او نصاب د تعلیم به داوی چه اول قرآن شریف ترخو چه کیدای سی په صحیح طریقه سره ورته وویل سی بیا دینی کتابونه چه په دیره اسانه پښتو سره وی چه په دوی کی د دین د ټولو اجزاؤ پوره تعلیم او ښودنه وی (زما په نزد په اوس وخت کی د بهشتی زیور څخه د ضرورت د پاره کافی دی)

که چیری د کور سړی تعلیم ورکوی نو کومی مسئلی چه ثواب ناکه وی هغه دی پریږدی د خپلی بڼځی په ذریعه دی وروښیی او که د غه انتظام هم نه سی کیدای نو بیا دی پرد غو مسئلو نبانونه ونګوی د دی د پاره چه د غه ځایونه ئی په ذهن کی محفوظ اوخوندی وی بیا چه د غه انجونی هو بیارانی سی خپله په پوهیږی او یا چه څه وخت ئی د میره سره قسمت ومی نو د غو نشاندارۍ مسئلو پوښتنه به ځندی وکړی یا به د خپل میره په واسطه د یو عالم څخه د د غو مسئلو پوښتنه وکړی (لکه چه بنده د بهشتی زیور په دستورالعمل چه دیباچه کتاب ده په صه باندی شروع سویده د د غه خلاصه لیکلی ده مګر بعضی خلګ ود غه ته ته ګوری اعراض ځندی کوی چه که چیری نه سړی د غه کتاب ورته وایی نو د غه مسئلی څنګه ورته ووایی نو د دی سبب د د غه مسئلو لیکل په کتاب کی مناسب نه ګڼی۔ لیکن د دی اعتراض سبب ناپوهی ده چه د ده د کتاب پوره مطالعه نه ده کړی ځکه نه کتاب اوحاشو کی د دی اعتراض جواب لیکلی دی) د بهشتی زیور د لسمی حصی په کی د فائدې منو کتابونو نومونه هم لیکلی دی چه د د وی ویلو او مطالعه کولو د پښتو

د پاره نایده لری که ټول نه سی ویلای نو ضروری مقدار دی کنده ووایی یعنی دامی ویناچه استاذی وی او نور دی پخپله مطالعه کړی او د تعلیم سره سره دی د دوی عملی زندگی هم په نظر کی ونیول سی او دوی دی د استاذ یا استاذی لخوا ودی نه هم تشویقیږی چه په آینده کی دوی خپله استاذانی جوړی سی او د نور د انجونو او نښځو ته سبقان ووایی او د ټول عمر د پاره ئی د غه شغل وگزری د نور د انجونو څه په سبقانو ویلو سره د علم او عمل تجدید او تحریص کیږی د استاذ ځواځنه دی دا ترغیب هم ورکول کیږی چه د گټور د کتابو د مطالعی څخه هیڅ وخت غفلت و نه کړی. ترضروری نصاب ورڅخه وروسته که چیری په دوی کښی قابلیت و دینی نو د عربی وطرف ته دی ئی متوجه کړی چه د قرآن حدیث او فقهی په اصلی ژبه کی چه عربی ده د پوهیدو قابلی سی. او د قرآن خالی څه بعضی انجونی وایی زما په خیال کی په زده کړه کی ئی ډیره غلطی کوی د دی سبب د اکثرو د پاره مناسبه نه ده.

د اخو ټول د ویلو او لوستلو په باره کی بحث ډ پاته سو لیکل او نوشته کول نو که ئی چیری د علاموڅخه په طبیعت کښی بیباکی نه معلومیده نو بیا لیکل ورزده کول هیڅ پروا نه لری د کور د ضرورو یا تو د پاره د خط هم حاجت ستاه او که ئی چیری د خرابی بیره وی نو بیا د مفاسدو او خرابیو څخه ځان ساتل د هغو نانه د تر حاصلولو چه ضروری نه وی اهم او مهم دی په دامی حال کښی باید لیکل ورزده کړه نه سی او نه دی د خط لیکلو او زده کولو اجازت ورکوی او پوهانو همدغسه فیصله کړیده د د غه اختلاف چه لیکل د بښځی د پاره څنگه دی اوس مضمون ختموم او غالباً د دی مضمون په عنوان د تسهیل د راگرزولو ضرورت نه پیښیږی

کتبہٗ

اشرف علی تهانوی سلخ شوال المکرم سنه ۱۳۳۱ هجریه

طهارت یعنی داوداسه اوغسل د فضیلت اوثواب بیان

په حدیث شریف کښی ذکر سویدی چه هرځوک داوداسه کولو په وخت کښی بسم الله الرحمن الرحیم ووایی (بِسْمِ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ ویل دیرغوره دی) بیاد هر اندام د پریمنځلو په وخت کی دغه دوایی اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْکَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ او ترفارغوالی دروسته دغه دوایی اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ نوددې دپاره (ترمرګ دروسته) د جنت اته دروازی خلاصیږی د هرې دروازی څخه چه ئی زړه غواړی د هغی دروازی څخه دی وجنت ته ورداخل سی. اوکه تراوداسه وروسته فوراً دوه رکعته لمونځ (نفل) وکړی او قرآن شریف یکښی ووایی (لکه چه په لمانځه کښی ویل کیږی) او په پوه سی (یعنی په غفلت سره ئی نه وایی) چه معلومات ورته ونه سی چه څه ئی وویل څه ئی نه وویل (بلکه د زړه په حضور سره ئی ووایی چه معلوم سی چه زه څه ئی وایم) او بتول لمونځ دغسی د زړه په حضور سره وکړی نو دی د لمانځه څخه په دامی حال کی فارغیږی چه د گناهونو څخه به دامی پاک وی لکه په کومه ورځ چه له مور زیږیدلی وُو. نو به ورته ویل سی چه دسره څخه نوی عمل کوه (رواه الحافظ المستغفری وحسنه کذا فی احیاء السنن) تردغه وخته پورې چه ئی کوم گناهونه کړی وه هغه معاف سوه. علماؤ ددغو گناهونو څخه وړی (کوچنی، صغیره) گناوی مراد کړی دی اودغه قدر وینا چه ددې باره عمل کوه دخوشحالی حاصلید و او عمل کولو د پاره کافی ده.

په حدیث شریف کی راغلی دی چه د هغه چا اودس نه کامل کیږی چه پرما درود شریف نه ووایی او په بل حدیث شریف کی د درود ویلو وخت تراوداسه ددوسته بیان سوی دی (احیاء السنن)

په حدیث شریف کی راغلی دی چه کوم مسلمان اودس کوی پس نو چه مخ پریمنځی نو دده د مخ څخه هر گناه لیږی کیږی د کوم شی طرف ته چه دده ستر گوکتلی دی. په اوبو سره اویائی دامی فرمائلی دی چه داوبو د آخری څاڅکی سره - بیا چه دواړه لاسونه (ترخینګلو پورې) پریمنځی نو دده د دواړو لاسو گناوی درشیږی هغه گناوی چه په لاسو سره ئی کړیدی په اوبو سره - یائی دامی فرمائیلی دی چه داوبو آخری څاڅکی سره بیا چه دواړه پښی پریمنځی نو هغه ټولی گناوی ئی لیږی کیږی چه هغه ئی د پښو په ذریعه

کړی دی تر دامی حده چه د ګناهونو څخه صاف سی (رواه مسلم)
د دی ګناهونو څخه مراد وړی او صغیره ګناوی دی لکه چه علماؤ فرمائیلی دی د ستر ګو ګناهونه لکه چا ته په بد نظر کتل د لاس ګناه مثلاً د چا ته په بد نیت سره لاس ورکړل او د پښو ګناه مثلاً په بد نیت سره یو ځای ته تلل۔
په دغه طریقه سره او دس کوونکه څوندی قدر چه د او داسه فضیلت او بزرګی ده په دغه اندازه سره ګی قدر وپیژنه۔
حضرت انس رضی الله عنه (دا لوړی درجی صحابی دی تر لسو کلونو پوری ګی د آقا حضرت صلی الله علیه وسلم خدمت کړیدی) (دده) څخه په یوغت حدیث شریف کی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمائیلی دی چه ای انسه (رض) کوشش کوه د جنابت په غسل کی نوبه بیشکه ته د لمبید ودد ځای څخه په دامی حال کی دوزی چه هیڅ ګناه او خطا به پرتا باندی پاته نه سی (دلته د کوچنیو ګناوو معافی مراد ده) ما عرض وکړی (دا قول د حضرت انس رض دی) چه په غسل کی کوشش او مبالغه څنګه وی ای رسول د خدایه ده مبارک وفرمائیل هغه دادی چه د وړینتانو بیخونه لندره او بدن ښه صفا کوه (بدن منبوول او بیا صافول مستحب دی ښه پوره پاکی بیله منبولو نه حاصلیږی۔ د مبالغی او کوشش څخه مراد په دیره ښه طریقه سره پری مینځل او لمبیدل دی چه تفسیر او تشریح ګی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی ده) او رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل ای زما ګرانه نړیه (د شفقت د سببه ګی دغه لفظ فرمائیلی دی) که ته طاقت لری چه هر وخت په او داسه سره واوسی نو په او داسه سره او سه (هر وخت په او داسه سره او سیدل مستحب دی) پس نو چه وهر چا ته مرګ په داسی حال کی راسی چه دی په او داسه وی نو ده ته د شهادت (ثواب) ورکول کیږی۔

(ابو یحیی) تمام شه

(۱۶) صفر ۱۳۳۳ نه هـ یوم چهارشنبه)

بعد الحمد والصلوٰة احقر اشرف علی عفی عنه دغه ضمیمه او د بهشتی زیور د اولی حصی پـه حرف حرف خپله د مولف سلمه الله تعالیٰ څخه واوریدی د تولو مضامینو سره متفق یم الله تعالیٰ دی مؤلف سلمه الله ته د خیر جزا ورکړی او دغه تالیف دی کیلی د خیر جوړ کړی۔ آمین (۱۶۔ صفر ۱۳۳۳ نه هـ

دبهشتی زیور دوهم ضمیمه چه نامدار کړه په تصحیح الاغلاط وتنقیح الاخلاط

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

تمهید

از حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا مولوی حافظ شاه محمد اشرف علی صاحب رحمة الله علیه

بعد الحمد والصلوة داکتاب په حقیقت کی استقلالاً تصحیح د ده غو غلطیو چه داحقر په تالیفاتو کی د ناقلینو او کاتبانو څخه د غفلت په وجه پاته سوی دی او استطراداً (تبعاً) تصحیح د ده غو مشامحاتو (چشم پوشیو) چه خپله داحقر څخه صادری سویدی۔ د دی پتولو د تصحیح صورت داسی مقرر سویدی چه اول یو کتاب سره د نامه او سنی د مطبعی موږ دا اخیستی دی د ده د غسی څایونه موسره د صفحی اولیکی (سطر) دارنګه لیکلی دی چه اول مو د اصل کتاب عبارت لیکلی دی د اصل کتاب د عبارت ترلیکلو وروسته مو اصلاح لیکلی ده اود اصلاح وروسته موعبارت مقصود ده لیکلی دی (چه وروسته تر تصحیح مناسب دی) یاموضروری مضمون لیکلی دی. د پاره د دی چه ناظرین ئی په خپلو نسخو کی د دغه سره برابر صحیح کړی په دامی تفصیل سره چه کومی نسخی په بله مطبع او چاپخانه کی چاپ سوی وی هغه ترمطالعی مخکی د دغی را اخیسته سوی نسخی اود دغو مقاماتو د مجموعی څخه صحیح کړی لیکن که یو څای په دغو نورو نسخو کښی صحیح وی او په دغه ماخوذه (را اخیسته سوی) نسخه کی صحیح نه وی او په دی فهرست کی د غفلت

له دده د تصریح دی چه حبیب المطابع دتصحیح دی نقد روپی (الخ) (ج) او د دی پرماشوی د درج دی ۱۲ حواشی شیرازه ملی ده لکه چه د تصحیح الاغلاط د تالیف په وخت کی بهشتی زیور مطبوعه مراد آباد مطبع شیرازه ملی ده چونکه تصحیح د مولف سره د ۱۲ شیرازه ملی ده الاغلاط په باب کی بهشتی زیور مستقل چاپ نو بنکه بهشتی زیور مطبوعه مراد آباد مطبع شیرازه ملی ده تصحیح الاغلاط څخه د مستدلا صحیح کړل سوی تصحیح الاغلاط د دغه قسم مضامین مستقل کی شامل کړل سوی دی

په وجه یا ته سوی وی نو دغه ځای ددی فهرست په وجه مه خرابوی بلکه موږ ته اطلاع (خبرتیا) راکړی چونکه ماد وندی قدر فرصت نه درلودی په دی وجه سره په دی کار کی احقر د خپلو بعضو ثِقَهٔ دوستانو څخه زیات کومک اخیستی دی چه د دوی پر علم، استعداد، تنقید او دینداری باندی زما په خپل گمان کی اعتماد وُو په آخر کی پریږدو خو نور ضروری شیانو تنبیه کول هم مناسب معلومیږی.

(۱) د تصحیح د پاره د هر کتاب هغه نسخه اختیار سوی ده چه تر ټولو ورومنه چاپ سوی وی ما سیوئی د هغو تالیفاتو چه صرف یواړ چاپ سوی وی.

(۲) د کومو نسخو سره چه په غرض د تصحیح غلط نامه پیوسته سوی وی د دغه تالیف د غلطیو څخه صرف هغه غلطیانی را اخیستل کیږی چه په د غه غلطنامه کی موجودی نو د دی سببه ټولی غلطیانی د دی کتاب ضمیمه بلل کیږی.

(۳) په دی کتاب کی صرف هغه غلطیانی را اخیستل کیږی چه د کتونکو د پاره د معنا مینو په پوهنه کی سختی پیدا کوی او یا کتونکی په غلطی کښی اچوی د محاوری او ژبی غلطی په دی کی نه شاملیږی.

(۴) کوم کتابونه چه زموږ په علم کښی شائع سویدی د دوی د هغو غلطیو د پاره کوم چه موږ په دی وخت کښی په خبر سوی یو د تصحیح الاغلاط او تنقیح الاغلاط اول جلد مقرر سویدی او د کومو تالیفاتو د اشاعت چه موږ ته ورومنه علم حاصلیږی یا کوم تالیفات چه آینده شائع کیږی د دوی د غلطیو د تصحیح د پاره د دی ذکر سوی کتاب دوهم جلد مقرر یږی.

(۵) کوم کتاب چه څوک چاپوی هغه لره په کار دی چه اول د تصحیح الاغلاط مطالعه وکړی او د کتابت سره چه د کومو غلطیو تعلق وی هغه صحیح کړی او د کومو مسائلو محاتو چه تعلق د مضمون سره وی د هغو تنبیهات دی بلفظها په طور د حاشی پر کتاب ولیکی.

موږ د غه تنبیه نمبر (۵) د دی کتاب د هر تالیف د تصحیح په ابتداء کښی دیادونی د پاره راوړو.

(۶) د کومو غلطیو چه په ترجیح الراجیح کی ذکر سوی دی د هغو څخه د دی کتاب د

---

۱ د کریم د بلښتی زیږیدلو ۱۲۱۵ھ د طباعت په وخت کی د دغی قسم نوټ غلطیانو تصحیح الاغلاط وکړو ۲ چه په د دی باب کی د دیارده ورکړه سوه د بلښتی زیږیدلو په طبعاً شاهیر ملی ۳ د دغه نوټ لاندی (طلوع الاسلام) د حاشی نه د دی لیکل ۴ سوی بلکه د دی لیکل ۵ د دی قسمه ولیکل ۶ سوی د دی د د ۷ یاره د تسهیل دوهمی ۸ احمد ما حاشیه ۹ چه د حاشیه ۱۰ د صاحب ۱۱ شاهیر ملی - الاسلام ۱۲ د دین

اصطلاحاتو په ذیل کی چه ورسره تعلق ئی وی تفصیلا یا اجمالاً تعرض کیږی.

(۷) په تصحیح الاغلاط کښی د هر کتاب د تصحیح او اصلاح دپاره یو جلا حصه مقرره کیږی

(۸) دکوم کتاب سره چه غلطنامه لګیدلی وی د دغه غلطنامی تصحیح هم په تصحیح الاغلاط کی د اصل کتاب سره کیږی.

(۹) په دی کتاب کښی صرف دهغو مضامینو اصلاح کیږی چه دا احقر سره ئی تعلق وی، اوکوم مضامین چه په طور د حاشیې وغیره د نورو اشخاصو طرف څخه دا احقر — د مضامینو سره ملحق دی دهغوی ته تعرض نه کیږی - الا نادراً.

کتبه محمد اشرف علی عفی عنه -

د مولانا حبیب احمد صاحب کیرانوی د طرفه څخه تمهید

احقر حبیب احمد کیرانوی مدعا به کارونکی دی چه اعلیحضرت مجدد الملت و الدین فاضت انهار فیوضهم د خپل ښه ګمان په وجه چه پرما دی پرخپلو تصنیفاتو دد وهم وار نظر اچولو خدمت زما پر ذمه (غاړه) سپارلی دی نو بنا پردغه زه د خپل استعداد موافق دغه خدمت سرته رسوم اوددی په باره کی د څو خبرو ظاهرول مناسب معلومیږی (الف) دکومو اصطلاحاتو تعلق چه د حضرت مولانا مد ظلهم العالی د مضامینو سره دی د دوی په باره کښی دا ښوول ضروری دی چه د دوی څخه په کومو کی چه د حضرت مولانا ظلهم العالی څخه د پیر شغل او نه فرصت اوداسی نورو په سبب بنکاره تسامح سوی وی دهغو په باره کی خو دهیڅ لیکلو ضرورت نسته - لیکن دکومو اصطلاحاتو تعلق چه دداسی مضامینو سره وی چه په دوی کی وقوع تسامح نظری دی د دوی په باره کی دا ښوول ضروری دی. چه احتمال د خطا هر دو جانب یعنی داهم ممکنه ده چه په واقع کی د حضرت مولانا صاحب څخه تسامح سوی وی اوداهم ممکنه ده چه د احقر (مولوی حبیب احمد) غلطی وی پس نو پرداسی مقاماتو کوم حضرات چه اهل علم اوذی رایه دی د دوی د پاره په کار ده چه دوی پر اصل مضمون او اصلاح — د وار د نظر وکړی اوخبره وتحقیق ته ورسوی اوکوم حضرات چه اهل رای نه دی هغه دی بیا دنورو علماؤ څخه تحقیق وکړی

له داسی اصطلاحات څخه چه د سنه ترسوی دی او د حضرت حکیم ملا خفی د الامت مولانا ظلهم العالی د څخه چه د دوی پیره پوهاند دی او د دوی د پیکل سوی دی چه د د فلان فلانو د اوالبدل د دوی د لیکنو سوی دی د دغه څخه چه د صحیح کړی

(ب) بعضی اصطلاحات[1] دا سی هم دی چه دد دی تعلق د اصلاح تسامح سره نسته بلکه دد دی تعلق د توضیح مضمون یا دیو بلی فایدی سره دی۔

(ج) د بهشتی زیور د هغو مسئلو د تحقیق د پاره کوم چه پر دوی معاندانه او بی بنیاده سوالات سوی دی موږ یو مستقل کتاب[2] لیکلی دی چه نوم یی تحقیقات مفیده اینبول سویدی نو په دی کتاب کښی چه هرځای د د غو مسئلو ذکر راسی اجمالاً بیان پرکیږی د تفصیل د پاره د تحقیقات مفیده حواله ورکول کیږی هرځوک چه د دغو مسئلو د تحقیق او تفصیل معلومولو شوق لری نو د غه کتاب دی وگوری د غه کتاب تدریجاً په الامداد کی شائع سویدی۔

(د) په دی کتاب کښی چه موږ د تحقیقات مفیده پرکتاب حواله ورکوو۔ نو هم د هغو مسئلو په بارهٔ کی حواله ورکوو چه د دوی په حق کی د معاندانه اعتراضاتو علم موږ ته حاصل سوی دی او دکو مو مسئلو په بارهٔ کی چه موږ ته د معاندانه اعتراضاتو علم نه دی حاصل سوی د هغو په بارهٔ کښی حواله نه ورکوو۔

احقر حبیب احمد کیرانوی عفی عنه (د دوارهٔ تمهید و نه ختم سوه) اوس د وهمه ضمیمه شروع کیږی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

د روسته تر تمهید د کتاب شروع

○ اصل ص ۴۷ خدای او رسول د دین پتولی خبری[3] الخ تحقیق۔ د دی مطلب د ادی چه خدای او رسول د دین پتولی خبری د خپلو بندگانو ته ورښودلی دی برابره خبره ده که په طریقه د اصول کلیه وی یا په طریقه د تفریعات جزئیه وی یا په دلالة النص وی یا په اشارة النص وی الی غیر ذالک من وجوه البیان نو د دی وجهی اوس هیڅ نوی خبره

---

[1] د هغی مطلاقاً یعنی سوی

[2] پرحاشیه کی لیکل سوی دی او پیاوړی کی د تعمیم الاغلاط یعنی ۳ شپیږمی تحقیقات

[3] مفید ۵ حصه مولانا حبیب احمد صاحب کیرانوی تراویحه پوری تالیف کړی دی او دغه د بهشتی زیور تراویحه پوری تالیف کړی دی او باقی موضوعات مقرره سویدی ۱۲ اطلاع۔ کتاب تعمیم الاغلاط حبیب احمد صاحب

په دین کی پیدا کول روا نه دی داسی نوی خبری ته چه نه په نصوصو کی منصوصه وی او نه د دوی څخه مستنبطه وی بدعت وایی او بدعت په دی معنیٰ لویه گناه ده ددی توضیح څخه معلومه سوه چه اقوال صحابه و تابعین و ائمه مجتهدین چه د نصوصو څخه مستنبط دی بدعت نه دی. مگر کوم امور چه مستند الی الدلالة الشرعیه نه دی او اهل بدعت په نزد سره په دین کښی شمیرلی دی ضرور بدعت دی.

◎ اصل ص۴۵ په ټول امت کښی دی تر ټولو غوره او بهتر دی الخ تحقیق - د هغه عنوان د صحابه رضوان الله علیهم اجمعین څخه منصوص دی په تقریر الحدیث ثابت دی لکه چه امیر المؤمنین حضرت علی کرم الله تعالی وجهه فرمائی - خیر هذه الامة بعد نبیها ابو بکر رض الخ کذا فی مسند احمد - او حضرت عبد الله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی کنا نقول و رسول الله صلی الله علیه وسلم حی افضل الامة النبی صلی الله علیه وسلم و بعده ابو بکر رض الخ کما فی المشکوة پس نو پردغه عنوان اعتراض کول په حقیقت کښی پر صحابه رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین او پر حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم اعتراض کول دی.

◎ اصل ص۵۰ یو معلوم سړی ته په کافر ویل چه نوم ئی واخلی چه فلانی کافر دی الخ تحقیق - په دی کښی دوه جزء دی یو داچه څوک په نامه سره یاد سی او په کافر ورته وویل سی نو دا لویه گناه ده بل داچه څوک په نامه سره یاد سی لعنت پرووایل سی نو دا لویه گناه ده پس نو دا اول جز معنیٰ دا ده چه دیو چا نوم اخیستل و ده ته په قطعی طور سره کافر ویل لویه گناه ده په شرط دی چه دده کفر قطعی نه وی ځکه چه په دی کښی د علم غیب دعوه ده مگر په اعتبار د ظاهر حال و ده ته کافر ویل د ده سره د کفار و غوندی معامله کول گناه نه ده په شرط دی چه اقرار کوونکی په کفر سره وی یا د اسلام دعوه خو کوی مگر د دین د ضرور یاتو څخه دیو شی څخه منکر وی لکه شیعه گان چه د دوو خوند و جمعه والی روا بولی حرامه ئی نه بولی او پر قرآن ایمان نه لری بلکه منحرف او تبدیل سوی ئی بولی - حضرت عائشه صدیقه رضی الله تعالیٰ عنها حضرت ابو بکر صدیق رض - حضرت عمر فاروق رض - حضرت عثمان غنی رض و غیرهم رضوان الله علیهم اجمعین ظاهراً او باطناً مسلمانان نه بولی حالانکه دوی ظاهراً او باطناً مسلمانان بلل د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه داسی قطعی

ثابت سویدی لکه په لمانځه اوروژه د مبارک علیه السلام راتګ کول.
- د دی سببه د د غو اصحابو رضوان الله علیهم اجمعین د ایمان څخه انکار
بی شکه تکذیب دی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم.
پاته سو دوهم جز پس د دی معنیٰ داده چه یو څوک په نامه سره یاد ول
او لعنت پرویل برابره خبره ده که مسلمان وی یا کافر وی لویه گناه ده په شرط د
دی چه کفرئ قطعی نه وی ځکه چه که د ده کفر قطعی نه وی نو په دی کی احتمال
د دی امر دی چه دی په علم کښی د خدای جل جلاله مرحوم وی لکو نه مومناً
ظاهراً او باطناً حالاً او مآلاً او هر وخت چه دئ احتمالاً په علم کښی د خدای ج
مرحوم وی نو پرده لعنت کول نه روا کیږی او که چیری دئ مسلمان وی بیا خو عدم
جواز بنکاره دی - لان کل مؤمن مرحوم ولیس بملعون - بعضو خلګو نه د لعان
د مشروعیت څخه د لعن معین د جواز شبه ور پیښه سویده مګر دا د د وی
غلطی ده. ځکه که چیری مشروعیت د لعان جواز لره د لعن شخصی مستلزم سی نو
بیا د څنډی لازمیږی چه د هر چا د پاره لعان روا وی پر هغه به لعن هم روا وی.
حالانکه د دی قائل هیڅوک نه سی کیدای ځکه چه لعان د صحابه رض او غیر صحابه
د تولو د پاره روا دی پس نو په کار ده چه پر اصحابو هم لعن روا وی ولا یقول به مسلم
پس نو معلومه سوه چه مشروعیت د لعان یوشی دی او جواز د لعن شخصی بل شی
دی اوّل دوهم لره مستلزم نه دی د غه رنګه بعضی خلګ په دوکه کښی واقع
سوی دی د لعن معنیٰ ئ ابعاد عن الرحمة بیان کړیده او بیائی ویلی دی چه د ابعاد عن
الرحمة د وه صورتو نه دی یو ابعاد عن الرحمة مطلقاً دی او بل ابعاد عن الرحمة المختصة
بالابرار پس نو لعن په اوله معنیٰ سره پر مسلمان نه سی کیدای مګر لعن په دوهمه
معنیٰ سره پر مسلمان کیدای سی مګر دا هم د د وی غلطی ده ځکه چه د رحمة مختصه
بالابرار درجی هم فرق سره لری یو هغه رحمت دی چه مختص بالانبیاؤ دی او بل هغه
چه مختص بالصحابه دی پس نو بنائی نعوذ بالله چه پر صحابهٔ لعن په معنیٰ د ابعاد عن
الرحمة المختصة بالانبیاؤ روا سی - ولا یقول به مسلم - د غه رنګه هغه رحمت چه په
انبیاؤ پوری خاص دی د هغه هم درجی فرق سره لری لکه چه یو هغه رحمت دی
چه په جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم پوری خاص دی بل هغه رحمت دی
چه تر د غه کم دی پس نو بنائی نعوذ بالله چه پر نبیانو لعن په معنیٰ د ابعاد عن الرحمة

المختصة برسول الله صلی الله علیه واله وسلم رواسی او په دی سره هیڅ مسلمان قول نه کوی پس نو ثابته سوه چه لعن شخصی ماسیوای د هغو کفار وچه د دوی کفر قطعی دی بل پرهیچا روانه دی او کوم څوک چه ئی د جواز او روا والی قائلات سویدی دی ته د دغه لعن شخصی د روا والی پر مفاسد و اولوازمو تنبیه او خبر نه دی ورکړه سوی دَ ر نه هرگز به ئی قائل سوی نه وای.

◎ اصل ص۵۶ د علی بخش، حسین بخش، عبد النبی او د غسی نورو نومونو ایښودل الخ پردی مسئله بعضو جاهلانو اعتراض کړیدی - مگر موږ د دغی مسئلے په ثبوت کی د خاتم علماء جناب مولوی عبد الحی صاحب قدس سره فتوی پیشوو چه دغه جاهلان دَ ئی خپل استاذ هم بولی او دَ ئی په محققینو علماؤ کښی هم شمیری او د ده د تصانیفو څخه لکه سعایه احتجاج هم کوی مولوی صاحب موصوف تحریر فرمائی.

الجواب :- داسی نوم چه په ده کښی اضافت د عبد د طرف څخه وغیر الله ته دی روانه دی که څه هم د دغسی قسم نومونو په ایښولو کی د شرک حکم نسته د دی احتمال په سبب چه د عبد څخه مراد خادم او مطیع دی مگر د شرک د بوی څخه داسی نومونه خالی نه دی (په بهشتی زیور کښی ئی د دغه بوی د وجهی څخه په افعال شرک او کفر کی درج کړیدی - حبیب احمد) قرآن او حدیث د دغسی نومونو پرنه ایښولو دلالت کوی - دامت محمدی علماؤ هم حای پر حای تصریح په کړی ده په تفسیر جلالین کښی راغلی دی - هو الذی خلقکم من نفس واحدة وجعل (خلق) منها زوجها (حواء لیسکن الیها) فلما تغشاها حملت حملا خفیفا (هو النطفة) فمرت به (ذهبت وجاءت لخفته) فلما اثقلت (کبر الولد فی بطنها واشفقا ان یکون بهیمة) دعوا الله ربهما لئن اتیتنا صالحا (سویا) لنکونن من الشاکرین فلما اتاهما صالحا جعلا له شرکاء فیما اتاهما (بتسمیة عبد الحارث ولا ینبغی ان یکون عبد الا لله ولیس باشراک فی العبودیة لعصمة آدم وروی عن النبی صلی الله علیه واله وسلم قال لما ولدت حواء طاف بها ابلیس وکان لا یعیش لها ولد فقال سمیه عبد الحارث فانه یعیش فسمته فعاش فکان هذا من وحی الشیطان وامره - رواه الحاکم وقال صحیح والترمذی وقال حسن غریب انتهی ملخصا.

او د جمل په حاشیو کښی په جلالین شریف کښی راغلی دی ولیس الجعل المذکور

باشرک الله بل هو شرک فی التسمیة و هذا لا یقتضی الکفر اه او په شرعة الاسلام کښی
یا علی دی لا یسمیه حکیما ولا حکما ولا اباعیسی ولا عبد فلان انتهی ـ او د ملا علی قاری
په شرح فقه اکبر کی ذکر سوی دی اما ما اشتهر من التسمیة بعبد النبی فظاهر کفر الا ان
ارید بالعبد المملوک انتهی .

او د ملا علی قاری په شرحه مشکوة کښی ذکر سوید ی و لا یجوز نحو عبد الحارث
و عبد النبی ولا غیره مما شاع بین الناس آه ـ او د ابن محمد مکی په شرحه منهاج کښی
ذکر سوید ی و یحرم ملک الاملاک لان ذالک لیس لغیر الله وکذا عبد النبی و عبد الکعبة
او الدار او علی او الحسن لایهام التشریک انتهی والله اعلم ـ حرره عبده الراجی عفو ربه
القوی ابو الحسنات محمد عبد الحی تجاوز الله عن ذنبه الجلی والخفی ـ مجموعة الفتاوی ـ
جلد دوم ص۲۹۶ و ص۲۹۷ .

پاته سو علی بخش د دی وجهی څخه مُوْهِم د شرک دی لکه څنګه چه عبد مشترک
دی همدارنګه علی مشترک دی په مابین د خدای ج او د نامه د حضرت علی کرم الله وجهه ـ او
متبادر حتمدی نوم د حضرت علی کرم الله وجهه دی ځکه چه د اخبره چه د خدای
جل جلاله نوم هم علی دی عوام خلګ ئی نه پیژنی او حسین بخش د دغه بنکاره قرینه
ده نو شک کول په دی کښی چه په دی نامه کښی د شرک بیره نسته سراسر او
بنکاره جهل دی.

◎ اصل ص۵۶ د بنو او بد و تاریخونو او د رحُو پوښتنه کول الخ تحقیق ـ مطلب
دادی چه دهند وانو یا شیعه ګانو د اختلاط په سبب په نجُوم او غیره کی دا
خبره پیدا سویده چه دغه بنځی و غیره د نجوم ګرانو او د انسی نور وخته د بنو
او بد و تاریخونو او د رحُو پوښتنی کوی حالانکه په شریعت کښی د دی هیڅ
اصل او دلیل نسته نو دا امر د شرک او کفر د کارونو څخه دی په دی معنی
چه دا د کفارو طریقه ده نه د مسلمانانو او دا مطلب نه دی که د شریعت
څخه (فرهنګا یا حقیقة) دیو تاریخ یا ورځی بد والی یا بنه والی ثابت وی نو د
دغه معلومات کول هم د کفر او شرک خبره ده ـ کوم مسلمانان به وی چه دا سی
به وای دا د معتر یقینو عنادی چه د وی خبره پرده سی محمل حمل کوی چه د
قائل د ذهن څخه په هزارها میله لیری وی او قائل خپله په راضی نه دی
پاته سو دا امر چه شرعاد بعضو و رځُود بعضو کارونو د پاره بنه والی او د

بعضو ورځو د بعضو کار و نو د پاره بد والی ثابت دی که نه دی پس نو دا بله خبره او کار دی - بهشتی زیور دی څخه ساکت او پته خوله دی نه ئ نفی کوی او نه ئ اثبات کوی - پس پر دی باندی د ا اعتراض کول چه د ا مسئله د شریعت خلاف ده غلط دی او د پوښتنی څخه مراد په غرض د تصدیق او یقین کولو پوښتنه ده نه مطلقا لکه چه د مسلم شریف په حدیث مبارک کښی راغلی دی - من اتی عرافا فسألہ عن شیئ لم یقبل لہ صلوٰۃ اربعین لیلۃ.

◎ اصل ص۵۶ په یوشی سره فال نیول الخ تحقیق واضح دی وی چه فالِ شرعی یوشی دی او هغه فال نیول چه د هندوانو وغیره د اختلاط د سببه په عامو خلکو کښی رواج سوید ی بل شی دی. لکه چه شرعی فال دادی چه یو څوک اتفاقاً د یو چا د خولی څخه یو ښه لفظ واوری د دغه لفظ تر اوریدو ورسته د پروردګار عالم د طرف څخه د خیر د رسید و امید وار سی او رواجی فال دادی چه د رغوی ئ خارش او کاه د کړی نو بس داوایی چه روپی او پیسی راروانی دی او یو څوک و ترچی بس داسی ګمان کوی چه فلانی کار می نه کیږی چه راسته سترګه ئ ورفیږی بس داسی وایی چه خوشحالی راروانه ده او چه چپه سترګه ئ ورفیږی بس داسی فکر کوی چه رنځ او غم راروان دی.

◎ د هغسی قسم فالونه د عرانه د فالونو څخه دی یعنی نارواد ی او په شرعی فال کښی داخل نه دی بلکه د وی په طیره کی داخل دی او په حدیث د الطیرۃ شرک - د شرک په کارونو کی داخل دی پس نو د بعضو بیعقلانو او جاهلانو د افکر کول چه ښه فالی مطلقاً روا دی او د بهشتی زیور مسئله غلطه ده سنکاره او واضح ګمراهی ده.

◎ اصل ص۵۶ تصویر اینبوول الخ د تصویر څخه مراد د روح لرونکی شی لوی تصویر دی مقصود په دی سره د هغو خلکو اصلاح ده چه د نوی تهذیب څخه متاثر سوی دی د خپلو دوستانو او خویندانو تصویرونه او عکسونه د څان سره ساتی یا جاهلانه اعتقاد غلبه پرکړی وی د بزرګانو تصویرونه او عکسونه په غرض د تبرک د څان سره ساتی او د وی تعظیم او تکریم کوی چه حالاً یا مآلاً شرک دی او هر تصویر او عکس مراد نه دی برابره خبره ده که د روح لرونکی وی یا بیله روح لرونکی د کوچنی وی یا لوی وی که په سبب د ضرورت د ی یا بیله ضرورته وی که سپک او حقیر د ی یا عزتمند وی لکه چه د بعضو احمقانو

خیال دی اودد ی نظیر د مسلم شریف حدیث دی چه په دغه حدیث شریف کښی د مسلم شریف د حضرت جبرائیل علیه السلام دا الفاظ دی انا لا ندخل بیتا فیه کلب او صورة - نکه څرنگه چه په حدیث مذکوره کی صورت او کلب لفظاً مطلق دی او معناً مقید دی دغه رنگه په بهشتی زیور کی تصویر لفظاً مطلق دی او معناً مقید دی - فتنبه -

◎ اصل صـ۵ څراغونه پریگول الخ تحقیق - جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمائیلی دی لعن الله زائرات القبور و المتخذین علیها المساجد و السرج - رواه الترمذی وغیره په دی حدیث کی پر قبرونو د څراغ لگولو بنکاره ممانعت موجود دی او اصل راز ددی ممانعت دا دی چه پر قبرونو باندی په څراغ لگولو کی دوه لویه خطره وه د قبر پرستی یعنی چه د څراغ لگولو څخه قبر پرستی شروع نه سی هغه قبر پرستی چه شرک دی نو د شرک د مروازی د بندیدو د پاره د څراغ لگولو ممانعت و فرمایل سو مگر بعضو خلگو په دی دقیقه اوراز څان نه دی پوه کړی په دی عذر سره چه په دی کی تعظیم د شان د اولیاء الله - دی روا و جائز ئی بللی دی او دا انکر ئی نه دی کړی چه کوم تعظیم د شرک وحد ته رسیدلی وی یا منجر الی الشرک وی هغه خپله روا نه دی بس نو د تعظیم پر بنا یو محرم منصوص شی څرنگه جائز بلل کیدای سی.

واضح دی وی چه هر څخه په یو مستحب امر کښی یو مصلحت وی او تر مصلحت ئی فساد ډیر وی نو د غه مصلحت نظر انداز ه کیږی او د فساد او تاوان مراعت کیږی لکه چه حق سبحانه و تعالی د خمار او شراب و په باره کښی فرمایلی دی. یسئلونک عن الخمر و المیسر قل فیهما اثم کبیر و منافع للناس و اثمهما اکبر من نفعهما - وگورئ چه په خمار او شراب و کښی منفعتونه هم وه مگر د گناه د فساد مراعت ئی و کړل سو او منفعتونه ئی نظر انداز سول پس نو پر قبرونو په څراغ لگولو کښی که هم یو مصلحت وی نو د فساد عظیم په مقابله کښی چه نن د سر په سترگو لیدل کیږی او د دغه تعظیم مفرط د سببه خلگ مسلسل په شرک گرفتاریږی هیڅکله د غه څراغ لگول نه روا کیږی او د هیڅ د قول په مقابل کی د جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم حکم هیڅکله پریښول کیدای نه سی تعجب دی ذهنی او احمقانو ته چه یوه طرف ته دوی د دندی غلو کوی چه حدیثو د متابعت دعوه

کوی اود فقهاؤ مفتی به اقوال پریږدی اوبل طرف دوندہ قدر کمی کوی چه دبعض علماؤ اقوال مانع جوړکړی اونصوص صریحه پریږدی اود غه رنګه کله دوندی قدر غلو کوی (سترګی پټوی) چه سره د فراخی په مسلک کی د احتیاطی مسلک پریږدی ولو اعتراض کوی اوکله دوندی قدر کمی کوی چه د خلګو د مشرک کیدو اوبت پرستیه کیدو هم پروانه کوی بلکه د شرک اوبت پرستی بنیاد مضبوطوی خلاصه داده چه پر قبرونو څراغ لګول په نص صریح سره حرام دی اوداد هغو امورو څخه دی چه په اسلام کښی د بت پرستی بیخ ټینګوی اوپیدا کوی اود هرشی چه مفضی والی وشرک ته مشاهده سوی دی۔

نو په داسی حال کی که یو مصلحت دده د حرمت معارض سی د غه حرمت ئی نسی پورته کولای اوپه جواز کښی د هیڅ عالم قول معتبر نه دی۔ غایة مافی الباب دادی چه کوم علماء چه د دی د جواز وخوا ته تللی دی هغه په دی وجه معذور دی چه دوی ته پر قبرونو د د غه څراغ لګولو احساس نه دی سوی۔ مګر دروسته تر وضاحت د فساد اوخرابی وهیڅ آدروانه دہ چه د دوی د د غه کورانه (پاتنده) تقلید اعتبار وکړی۔

◎ اصل ص۵۶ د بنځو تلل وزیارتونو ته الخ تحقیق۔ د بنځو تګ اوتلل وزیارتونو ته که څه هم فی نفسه روادی مګر د خارجه عوارضو د سببه روانه دی لکه ومسجدانو ته د دوی تلل د جمعی په لمانځه کښی شریک کیدل بلکه وادیرو اوزیارتونو ته د دوی په تللو کی فساد و نه زیات دی خکه چه عموماً زیارتونه په دښت او بیابان کښی وی چه هلته د پردی او ناموس زیاته خطره ده۔

◎ اصل ص۵۶ پاڅه قبرونه جوړول الخ تحقیق۔ فی المشکوة عن جابر قال نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن تجصیص القبر وان یبنی علیه وان یقعد۔ رواه مسلم وفیه ایضاً عن ابی مرثد الغنوی قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لاتجصصوا علی القبور ولا تصلوا الیها رواه مسلم وفیه ایضاً عن ابی الهیاج الاسدی قال قال لی علیؓ الا ابعثک علی ما بعثنی علیه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم لاتدع تمثالا الا طمسته ولا قبراً مشرفاً الا سویته رواه مسلم۔ وفیه ایضاً عن جابر قال منع رسول الله صلی الله علیه واله وسلم

ان یجصص القبور وان یکتب علیها وان توطأ۔ رواه الترمذی۔

په دی روایاتو کښی د قبرونو پخول او په گچو سره د هغی صراحة او بنکاره منعه سوی دی او د دی څخه علاوه په قبر دیوشی د جوړولو دلیل سوی تختی د مزولو او د قبرونو طرف ته د لمونځ کولو او د قبرونو د زیارت جگولو ممانعت هم موجود دی او په دی باندی د مسجدونو د جوړولو او د څراغانو د لگولو ممانعت مخکی تیرسو په دغو تاموکښی د غور کولو څخه معلومیږی چه د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم مقصود دا دی چه به قبرونوکی شان، شوکت او عظمت موجود نه سی د دی د پاره چه خلگ ئی عبادت ونه کړی لیکن شیخ عبدالغنی نابلسی او داسی نور د دغه بنکاره نصوصو معارضه کړیده او د کومو امورو چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم صراحة منعه فرمائیلی ده په نامه ئی یاد کړی دی۔ شیخ عبدالغنی نابلسی او داسی نورو کسانو د زړه بی ډره به د دغه امورو بدعت حسنه بللی دی او صرف ئی په دغه اکتفانه ده کړی بلکه د څراغونو لگول او نذر د شمعی او زیت للوقود عندالقبور ئی هم روا بللی دی او د روا والی وجه ئی دا بیان کړیده چه په دی کښی تعظیم د اولیاء الله او عزت ددوی دی۔ دغه رنگه په دی کښی مصلحت دا دی چه عوام ئی حقیر او خوار ونه بولی نو باید خاوند ان د انصاف غور وکړی چه ایا د پاک او روښانه شریعت سره بنکاره معارضه نه ده او د شریعت مصطفویه په مقابل کښی د نوی شریعت را ایستل نه دی چه صاحب شریعت د دغه شیان منعه کوی او پرکو نکوئی لعنت کوی لیکن شیخ صاحب وغیره فرمائی جائز لاینبغی النهی عنه او دغه رنگه ئی بدعت حسنه او سنت بولی نو پرده د تعجب خبره ده چه حقیقت امر دا دی چه تجصیص القبور و وضع الستور و البناء علی القبور و ایقاد قنادیل او داسی نور چه د خلگو د پاره د شرک جلی دروازه خلاصوی او په نصوصو کښی منهی عنه دی۔ دغه ټول بدعات السیئة او د مقصود د شارع بالکل خلاف دی۔ نه دا چه د دی بدعت حسنه او سنت دی څکه چه د بدعت حسنه په باره کښی شیخ موصوف لیکلی دی۔ ان البدعة الحسنة الموافقة لمقصود الشرع تسمی سنة چه دی څخه معلومیږی چه دیونوی خبری د بدعت حسنه او سنتوالی د پاره د دی خبری ضرورت دی چه د غه نوی خبره به د مقصود شارع سره موافقه وی او امور مذکوره

نه صرف د شارع د مقصود خلاف دی بلکه بنکاره اوصراحةً منهی عنه دی پس نو ضرور
بدعت سیئه دی د شیخ موصوف اوده دا متباعو قول چه د جناب رسول الله صلی
الله علیه واله وسلم د صریح اوبنکاره ارشاد اتو خلاف او ده مبارک (ص) د مقصود
یعنی د شرک د درواز ی د بند بید و مزاحم دی هیڅکله قابل د قبول نه دی اوکوم
مصلحت چه شیخ موصوف بیان کړیدی هغه د شرک د فساد ونو په مقابل کی هیڅ
اهمیت نه لری واضح دی وی چه زما مقصد پر حضرت شیخ اوده پر ملگرو طعن نه
دی ځکه چه زه پوهیږم چه ددوی مقصود د شریعت مقابله نه ده بلکه زما
مقصد دا دی چه داددوی اجتهادی غلطی ده خدای پاک دی د درو تیرسی - لیکن
درو سته تر و مناحت د مفاسدو د هیڅ پاره جائز نه ده چه ددوی کورانه (پرویز)
تقلید وکړی خصوصًا د هغو خلگو د پاره چه په خپل زعم کی وځانونه په مجتهدینو
وایی اود خپل اجتهاد د زور په وجه جمهور فقهاء هم بی حقیقته بولی اوس موږ
د بعضو روایاتو فقیهیه څخه د خپل بیان تائید کوو او دا بو چه په در مختار کښی
راغلی دی - لا یجصص للنهی عنه - دغه رنگه په در مختار کښی دی لا یرفع علیه
بناء او په رد المحتار کی دی قوله لا یرفع علیه بناء ای یحرم لو للزینة ویکره لو
للاحکام بعد الدفن و فیه ایضًا اما البناء فلم ار من اختار جوازه و فی شرح المنیة المختار
انه لا یکره التطین و عن ابی حنیفة یکره ان بنی علیه بناء من بیت او قبة او غو ذالک لما روی
عن جابر رض نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن تجصیص القبور و ان یکتب علیها و
ان یبنی علیها رواه مسلم وغیره اه د دی روایاتو څخه ثابته سوه چه پاخه قبرونه
جوړول روانه دی ځکه په دی کی یو بناپر قبر راځی او دوهم تجصیص اوګچ استعمالول
او دغه دواړه روانه دی او بعضو خلگو چه ویلی دی لا یکره البناء اذا کان المیت
من المشائخ والعلماء والسادات پس چه دغه قول ددوی د نصوصو او مذهب حنفی
سره معارض دی نو قبول نه دی .

دغه رنگه کوم مفاسد چه پر عامو قبرونو باندی د عمارت او غیره په جوړولو
کی دی د مشائخو او غیره پر قبرونو د عماراتو او داسی نورو شیانو په جوړولو کښی
تر دغو زیات مفاسد دی ځکه چه د مشائخو او غیره پر زیارتونو د زینت، احکام
او اسراف څخه علاوه د شرک د درواز ی خلاصوالی هم دی - پس نو د دی پر قبرونو
عمارتونه جوړول په طریق اولی سره ناروا دی او بعضو خلگو ویلی دی الیوم اعتاد وا

التنیم باللبن صیانة للقبر عن النبش وراوا ذالک حسنا وقال صلی الله علیه وسلم ما راٰه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن آه - نو دا په دی وجه قبول نه دی چه نه د مسلمون څخه مراد عام مسلمانان دی او نه ما راٰه المسلمون عام دی بلکه د ما راٰه المسلمون څخه مراد هغه کار دی چه د شارع د مقصود څخه خلاف نه وی - اود مسلمانانو څخه مراد هغه خلګ دی چه اهل د اجماع دی او مطلب ئی دا دی چه کوم کار د شارع د مقصود څخه خلاف نه وی او اهل د اجماع پرد غه کار اجماع وکړی نو هغه عند الله حسن او ښه دی نه دا چه هسی یو شی بعضی مسلمانان ښه وګڼی هغه د خدای پاک په نزد ښه دی ورته بیا خو د بدعت هیڅ مصداق نه پاته کیږی - د هو ظاهر - نو د دی څخه پر تیرو نو پاڼه جوړه شوه د لیل نیول روانه دی ځکه چه داد مقصود نص شارع خلاف دی لکه چه بیان ئی د سو او دا رنګه کوم خلګ چه دا ښه بولی هغه بعضی علماء دی چه نور بیدار ه علماء ئی مخالفت کوی پاته سو علت د صیانة عن النبش دا په دی وجه صحیح نه دی چه د غه علت د د غو مجوزینو علماؤ په زمانه کښی نه دی پیدا سوی بلکه دا علت د جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم او د اصحابو، مجتهدینو، او تابعینو په زمانه کښی هم موجود وو - مګر د وی ئی لحاظ و نه کړی د بنا علی القبور او تجصیص اجازه ئی ورنه کړه په دا سی حال کښی و یو عالم ته څه روا ده چه هغه د د غه علت مراعت وکړی او د جواز فتوی ورکړی خصوصا په دی وخت کښی چه د دی کار رسیدل الی الشرک ته په ستر ګو معلوم یږی او د جوړونکو نیت د صیانت عن النبش هم نیستی سویدی -

خلاصه دا ده چه په حکم نبوی او په حکم د مذهب حنفی قبر ونه پاخه جوړول منعه دی او د دی خلاف د هیڅ عالم قول معتبر نه دی .

◎ اصل ص۵۷ د سلام پر ځای بندګی وغیره کول الخ تحقیق - چونکه د سلام پر ځای بندګی کول د هند وانو رسم او رواج دی نو ځکه منعه دی او په اداب کښی مشابهت د غیر مذهب سره دی او ترک (پریښودل) د سنتو دی نو ځکه بدعت دی او په بهشتی زیور کښی چه لفظ د اداب په خطونو کښی استعمال سویدی په معنی د سلام نه دی بلکه پخپله لغوی معنی کښی مستعمل سویدی او د ادب جمعه ده یعنی هغه اداب پر ځای راوړل کوم چه پرکشر انو لازم دی الخ نو اعتراض د احمقانو ساقط سو.

◎ اصل ص۵۸ غزلی اوریدل الخ تحقیق - د غزلو څخه مراد مطلق شعر ویل نه

دی بلکه معلومه غزل مراد دی لکه په ودونو اوکوزدو کی د رقص کونکو او د غزلچیانو غزل یا په عرسونو کی قوالی او داسی نور چه په بنځو کښی رواج دی. او منشاء د حرمت ئی نفس انشاد د شعر په ښه آواز سره نه دی بلکه د نورو مفاسدو د سببه دغه ممنوع بلل سوی دی. حضرت مولانا مد ظلهم العالی دغه مبحث په اصلاح الرسوم کی یو اندازه په تفصیل سره ذکر کړیدی په اصلاح الرسوم کتاب کښی کتل په کار دی. اوس نو هیڅ اعتراض پاته نه سو.

◎ اصل ص۵۸ کسب خوار او ذلیل بلل الخ. تحقیق د دی څخه مراد رواکسب دی نه حرام خو ناجائز کار وی یا ناجائز او مقصود په دی سره د دی خرابی اصلاح د کوم چه په شریعتو خلگو کی پیدا سوی د چه د وی څانونه وبنی پریښوول او د هندوانو او غیره څیلی د هغوی خوښوی مگر د خیاطی کار یا یو بل جائز او روا کار کول نه خوښوی او خیال کوی چه په دی کښی زموږ ذلت دی. پس نو دا حمقانو د زمانی دا اعتراض چه په دی قول د تهانوی رحمة الله علیه کی د نا جائز کسبونو د ذلیل بللو ممانعت دی نو دا اعتراض د دی سراسر غلط دی.

◎ اصل ص۵۹ په یو مریض کښی د زمری غوښی یا شیدی خوړل الخ. تحقیق د دی څخه مقصود په دی مقام کښی د دی خرابی اصلاح د کوم چه په عوامو کی رواج دی چه بیله رایی او مشورې د طبیب حاذق او بیله تحقیقه د دی امر چه د دی مرض علاج بل شی ستة او که نشته د دغو شیانو استعمال کوی پاته سودا امر که چیری دیو مرض په وجه مسلمان حاذق طبیب دا تجویز وکړی چه د دی مرض علاج بیله شیدو د زمری او یا نورو حرامو شیانو څخه بل شی نشته. نو د د وی خوراک روا دی که نه دی. پس نو دا بل امر او خبره ده چه په بهشتی زیور کښی و دی خبره ته تعرض نه دی سوی خکه اول خو داسی دسره نه پیښیږی او که چیری پیښ هم سی نو دا شاذ او نادره پیښیږی او کوم صورت چه راجح او رواج دی او د بندیدو ضرورت ئی دی هغه دغه دی چه بیله تحقیقه او بیله تجویز ده طبیب حاذق غوښی او داسی نور د مریض ته د خوراک او چیښلو د پاره د رکول کیږی. لیکن که بالفرض د دی عموم هم تسلیم کړل سی بیا هم په دی کښی هیڅ قابل اعتراض خبره نشته خکه چه مسئله مختلف فیه ده او ظاهر مذهب تحریم دی که څه هم بعضو خلگو د خورلو اجازت ورکړی دی او مفتی به ئی هم ورته ویلی دی. پس

نوکه په بهشتی زیور کښی ظاهر مذهب مختاره سوی وی چه اصل مذهب دی او د متاخرینو قول نه وی مختاره سوی نو څه گناه لازمیږی بالخصوص په هغه حال کښی چه د هغه په مختار ولو کښی احتیاط هم وی او د حدیثو سره هم مطابق وی او د غه رنگه بالخصوص په هغه حال کښی چه احسان دزمانی پر حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه په غرض داسانی د احتیاطی مسلک په پریښوولو کی اعتراض هم کوی او د ظاهر احادیثو په سبب د جمهورو فقهاؤ مخالفت هم روا بولی.

خلاصه د کلام دا ده چه کوم علاج او دوا په حرام شی سره اختلافی ده و د غه ته په بهشتی زیور کښی تعرض نه دی سوی بلکه د هغی دوا و ممانعت ته تعرض سویدی چه په اتفاق سره حرامه ده او په تقدیر د تنزل که چیری واختلافی ته اوی ته تعرض هم سوی وی بیا هم هیڅ اعتراض نه سی کیدای او لا د دی وجهی چه اصل مذهب تحریم دی د وهم د دی وجهی چه دا مسلک د احتیاط دی - او د ریم د دی وجهی چه دا د ظاهر احادیثو موافق دی.

◎ اصل صـ۶۵ـم - ترخو پورې چه یو مجبوری نه وی الخ - تحقیق - دلیل د دی مسئلی دادی په در مختار کی راغلی دی یکره ان یستعین فی وضوئه بغیره الاعند العجز لیکون اعظم لثوابه واخلص لعبادته آهـ وجه داستدلال استعانت مطلق دی چه استعانت فی المباشرة او استعانت فی الصب و دواړو ته شامل دی یعنی که د اوبو په راخیستو کښی کومک غواړی او اخلی د بل څخه یا د اوبو په تویید و کښی کومک د بل څخه اخلی علی هذا دلیل د مکروه والی هم دواړو ته شامل دی پس نو استعانت فی الصب مکروه دی او د علامه شامی دا وینا او خبره چه شاید - د صاحب د در مختار به مراد استعانت فی المباشرة وی پس دا وینا د ده صحیح نه ده کما یدل علیه دلیله.

◎ اصل صـ۶۷ـم - هر وخت چه اودس وکړی نو غوره او ښه دا ده چه دوه رکعاته نفل لمونځ وکړی الخ تحقیق - په دی کښی دا شرط ضروری دی چه مکروه وخت به نه وی لیکن څنگه چه نور شرطونه د لمانځه په دی څای کی ذکر سوی نه دی، بلکه په خپلو خپلو ځایو نو کښی ذکر سوی دی نو د غه رنگه دا شرط هم ذکر نه سو - سره د دی د غه عنوان د هغه حدیث سره هم برابر او موافق دی چه یه هغه کښی د تحیة الوضوء د مشروعیت ذکر راغلی دی لکه چه

دهغه حدیث مبارک الفاظ دغه دی وما من احد یتوضأ ویصلی رکعتین یقبل بقلبه وبوجهه الاوجبت له الجنة - په دی حدیث شریف کښی داشرط نه دی ذکر سوی چه مکروه وخت به نه وی پس نو پر بهشتی زیور باندی دا اعتراض نه سی کیدای چه مسئله مقیده ده او په بهشتی زیور کښی ئی مطلقاً لیکلی ده نو دی وجهی دامسئله غلطه ده لکه احمقان دزمانی چه اعتراض کوی.

◎ اصل ص۶۷ - هروخت چه یو وارادس وکړی الخ - تحقیق - دلیله ما فی الغنیة وهذه عبارته موضحة بتوضیحاتنا المتوسة الوضوء عبادة غیر مقصودة لذاتها (ولا خلاف فیها لاحد) فاذا لم یؤد به عمل مما هو المقصود من شرعیته کالصلوٰة وسجدة التلاوة ومس المصحف ینبغی ان لا یشرع تکراره قربة لکونه غیر مقصود لذاته والالزم کونه مشروعاً لذاته وهو قلب الموضوع (اذا کان کذلک) فیکون اسرافاً محضاً لعدم الفائدة الاخرویة والدنیویة اما الاخرویة فلانه غیر مشروع للزوم قلب موضوع الشارع کما تبین واما الدنیویة فلان الکلام فی الوضوء المستقل الذی ینوی به التقرب لا الذی یقصد به التبرد وازالة الوسخ وغیره (وایضاً) قد قالوا فی السجدة لما لم تکن مقصودة لم یشرع التقرب بها مستقلة وکانت مکروهة فهذا اولیٰ (لان السجدة عبادة مقصودة فی الجملة بخلاف الوضوء فانها لیست بعبادة مقصودة لذاتها اصلاً) انتهیٰ کلامه بتوضیحاتنا المقومة وهذا کلام متین لایوهن بتوهینات سخیفة وقد زل قدم خاتم علماء فرنگی محل فی هذا المقام زلة ظاهرة وقال فی السعایة قولا سخیفاً عفی الله عنه.

◎ اصل ص۶۹ - که د مخ دلاری څخه هوا ووزی الخ تحقیق - دا حکم دعامو بنحود پاره دی نه چه د مفضاتی دی بلکه د مفضاتی وحکم ته دد ی وجهی په دی څای کی تعرض و نه سو چه دا پیرکم پیښیږی.

◎ اصل ص۷۲ - که چیری په لمانځه کښی په ناسته یا ولاړه کښی بیده سی نواودس ئی نه ماتیږی اوکه په سجده کښی بیده سی (یعنی بنځه) نواودس ئی ماتیږی. تحقیق مطلب دادی چه په کومه قاعده او طریقه سړه د بنځو ته د سجدی کولو حکم سوی دی نوچه په دغه طریقه سړه دی سجده کوله او پکښی بیده سوه نواودس ئی مات دی - پاته سوه داخبره که چیری بنځه په شان د نارینه ؤ سجده وکړی اوپه سجده کښی بیده سی یاد لمانځه د باندی بیده سی نواودس ئی ماتیږی یانه ددی خبری ذکر په دی کتاب کښی نسته نو هروخت چه ددی کتاب یعنی د بهشتی زیور

د مسئلی مطلب معلوم سو - نو اوس ئی دلیل واوره په عمدة الرعایه کښی راغلی دی الحدیث لیس علی من نام ساجدًا وضوء حتی یضطجع - اخرجه احمد فی مسنده وحدیث لایجب الوضوء علی من نام جالسًا او قائمًا او ساجدًا حتی یضع جنبیه فانه اذا اضطجع استرخت مفاصله اخرجه البیهقی وقد حسنه ابن الهمام سنده بکثرة الطرق.

دد غواحادیثو د الفاظو څخه چه د حتی یضطجع او د اذا اضطجع استرخت مفاصله کلیمی دی - یو صاحب بصیرت او ثاقب الذهن انسان په اسانی سره معلومولای سی چه عدم ماتوالی په خوب سره د لمانځه په سجده کښی یوتعبدی امر نه دی بلکه دا معلول په علت د عدم استرخاء مفاصل دی پس نو په هرحال کښی چه استرخاء المفاصل موجوده سی اودس ماتیږی او په کوم حال کښی چه استرخاء مفاصل موجوده نه سی نو حکم دا وداسه په ماتیدو سره نه کیږی په دی کښی نه خصوصیت لره د سجدی دخل سته نه د هیئت مسنونه داخلیدو لره په لمانځه کښی.

نو هر څوک چه دا امر معلوم سو نو اوس پوهیدل په کار دی چه د بنځو سجدی هیئت مسنونه دا قسم واقع سویدی چه په سجده کښی دبیدیدو په وجه استرخاء المفاصل راځی نو د دی سببه که بنځه په سجده کی بیده سی اودس ئی ماتیږی لکه چه په بهشتی زیور کښی لیکل سوی دی او د نارینو د سجدی هیئت مسنونه دا رنګه واقع سوی دی چه ترځو پوری د غه هیئت باقی وی تر هغه وخته پوری استرخاء المفاصل نه واقع کیږی نو د دی سببه که نارینه په سجده کښی بیده سی نو اودس ئی نه ماتیږی لکه چه په حاشیه کښی دبهشتی زیور لیکل سویدی لیکن که بنځه د نرو په شان سجده کوی او نر د بنځو په شان سجده کوی نو حکم برعکس کیږی.

پس نو هر څوک چه په د غه راز پوره سوی دی هغه صحیح حکم قائم کړی دی او هر څوک چه په د غه راز نه دی پوره سوی هغه د خپل فهم موافق حکم کړی دی لکه چه حلبی په صغیری کښی چه شرحه د منیه ده په دی راز سره پوهیدلی دی اود دیلی دی المعتمد انه ان نام (الرجل) علی الهیئة المسنونة فی السجود ارتفع بطنه عن فخذیه مجافیًا مرفقیه عن جنبیه لایکون حدثًا (اقول وکذا المرأة ان نامت علی هیئة الرجل) والا (اقول بان نام الرجل علی الهیئة الغیر المسنونة اوالمرأة علی الهیئة المسنونة) فهو حدث لوجود الاسترخاء سواء فی الصلوة اوخارجها

سه یعنی که څوک د لمانځه څخه وروسته د سجدی بیده سی هم اودس نه ماتیږی ۱۲ مصحح

انتهی کلام الحلبی مع توضیحاتنا المقوسة.

اوکوم خلگ چه په دغه راز نه دی پوهیدلی نو یوه یوشخه ویلی دی او میل بیا نور شخه ویلی دی اوپه دی خلگو کښی یو خاتم العلماء د فرنگی محل دی چه په دغه راز نه دی پوه سوی چه په سعایه کښی ئی ودغه اصح او اقوی د اقوالو ته اسخف د اقوالو ویلی دی - انا لله وانا الیه راجعون خلاصه د کلام داده چه مسئله د بهشتی زیور غلطه نه ده اونه دی ته حقاً ضعیفه ویل کیدای سی یعنی په حقیقت کښی ضعیفه هم نه ده بلکه داهم دهغه قبیل شخه ده لکه نوری مختلف فیها مسئلی چه دی.

◎ اصل ص۷۴ - که ئی په ډکه حوله سره ئی وواهی - بیا تردی قول پوری نو دا بیا مردار دی او پریمنځل ئی واجب دی - تحقیق - یعنی اصل حکم خودادی چه پریمنځل ئی واجب دی لکه په گوته یا بل شی پوری چه لږ څه وینه وی اولاس په او بو یا بل شی کښی غواړی چه واچوی نو دد عی گونی پریمنځل ضروری دی ورنه اوبه ناپاکه کیږی. که څه هم دلمانځه په حق کښی دفعاً للحرج یوځای په قدر د درهم یا تر درهم چه کم مردار سی. نو پریمنځل ئی واجب نه دی لکه چه د بهشتی زیور په دوهم حصه ص۲۱ شپږمه مسئله کی تصریح په سوی ده - نو پس د زمانی د احمقانو اعتراض ساقط سو.

◎ اصل ص۱۰۳ - که لږ څه منی و وتله الخ - تحقیق - په دی ځای کی په دی خان پوه کول په کار دی که چیری منی په شهوت (خوند) او دفق (غورځیدو) سره د خپل مقر (ځای) څخه جلا سی او یوشخه د باندی راووزی او یوشخه دیوسبب د نه پاته سی او ترغسل کولو وروسته راووزی نو بیله شرطه د دوهم وار بیرته غسل کول پرواجبیږی او که ترغسل وروسته بیله شهوته او بیله د فقه نور نوی منی ووتله نو بیله شرطه پرده د دوهم وار غسل واجب نه دی. اصل قاعده دمکرر غسل دواجبیدو دغه ده لیکن چونکه د دی معلومیدل مشکل دی ځکه چه کوم منی وروسته ترغسل بیله شهوته وتلی دی نه معلومیږی چه مخکنی منی دی یانور نوی منی دی نو د دی سببه فقهاء د نبو او علامو لحاظ کړیدی - او دامی ئی ویلی دی. چه کوم منی تر قدر معتد به تگ او راتگ وروسته ووزی یعنی ترخلویښتو قدمو اخیستلو وروسته ووزی یا تر بولو کولو وروسته

وزی نو دغه جدید او نوی منی دی او چونکه دوی بیله شهوته خارج سوی دی نو دی سببه دوهم وار غسل کول واجب نه دی.

او کوم منی چه مخکی تر معتد به تگ او راتگ وغیره وزی نو دغه مخکنی منی دی او چونکه دوی د خپل مقر او ځای څخه په شهوت او دفق سره جلا سوی دی نو اوس راوتل دی سببه دوهم وار غسل واجب دی نو هر وخت چه دغه تفصیل معلوم سو نو اوس پوهیدل په کار دی چه په بهشتی زیور کی چه کوم صورت فرض کړل سوی دی. هغه دا دی چه منی د خپل اصلی ځای څخه په دفق او شهوت سره جلا سی او بیا وخه د باندی راوزی او بیا وخه په یو سبب سره د ننه بند پاته سی ورو سته تر غسل کولو د غه د ننه بند پاته سوی منی راوزی نو پر دغسی چا باندی ئی بغیر د کوم شرطه دوهم وار د غسل د واجبید و حکم کړی دی پس نو دا حکم صحیح دی نکه چه د د غه تفصیل څخه معلومه سوه.

لیکن چونکه دا امر معلومیدل مشکل و و چه کوم منی چه تر غسل کولو وروسته وتلی دی چه دا د مخکنی منیو بقیه ده یا نوی منی دی.

بنا پردی په حاشیه کښی د د غه توضیح وسوه او و ویل سوه چه دا حکم هغه وخت دی - چه هر هغه وخت د غه منی مخکنی تر خوب مخکی تر بولو او مخکی تر څلویښت (۴۰) یا زیاتو ته مواخیستلو څخه وزی - د گوره د بهشتی زیور اوله حصه ص۱۰۳ او داودمی (۷) مسئلی په حاشیه کښی - پس نو دا حمقانو د زمانی دا اعتراض چه دا مسئله بعمومه صحیح نه ده غلط دی.

◎ اصل ص۱۰۳ - هر وخت چه یو کافر مسلمان سی نو د ده د پاره غسل کول بنه کار دی - تحقیق - یعنی د نفس اسلام راوړلو د پاره غسل مستحب او بنه کار دی - لیکن که یو امر موجب د غسل موجود ؤ مثلاً جنابت موجود و و یا د نفاس یا حیض څخه پاکه سوی وه نو د د غه حکم په دی ځای کی نه دی بیان سوی - بلکه په بهشتی گوهر (یو ولسمه حصه) کښی بیان سوی دی چه د غه بهشتی گوهر د بهشتی زیور تتمه ده -

خاتم علماء فرنگی په سعایه ص۳۲۹ اول توک کښی د غه مسئله دا رنگه ذکر کړی ده کوم چه په بهشتی زیور کښی ذکر سوی ده. چنانچه دی د غسل مندوب اقسام

بیانوی او فرمائی۔
منه غسل الکافر اذا اسلم بذالک امر رسول الله صلی الله علیه وآله و سلم من جاء یرید الاسلام کذا فی التجنیس۔ پس نو د زمانی د احمقانو پر بهشتی زیور د اعتراض چه د مسئله مطلقه صحیح نه ده بلکه دیو قید سره یعنی چه هغه جنب، حائضه او نفاسه نه دی مراد لغوه دی۔
◎ اصل ص۸۴م۔ د مردار شی د ریبنستان (بینبتان)، بنکر الخ۔ تحقیق۔ د مردار څخه مراد ماسیوی د خنزیر څخه دی کما فی تنویر الابصار۔ شعر المیتة وعظمها وعصبها وحافرها وقرنها الی قوله طاهر وکما فی الوقایة وشعر المیتة وعظمها وعصبها وحافرها وقرنها وشعر الانسان وعظمه طاهر فلا اعتراض علی بهشتی زیور کما یفعله جهلة زماننا۔
◎ اصل ص۹۱م او بالکل ورته معلومه نه وی چه او به چیری دی۔ تحقیق۔ پردی فقره د زمانی احمقانو دا سی اعتراض کړی دی چه د دی صدق پر یولا یَعْقِلُ شی کیږی ورنه دا بالکل نه پیژندل چه او به چیری دی پرهیځ عاقل نه صادقیږی آه۔
که د اعتراض کوونکو مطلب داوی چه دا چاته نه ده معلومه چه او به چیری دی بلکه هر چاته معلومه ده چه دریابونه، رودونه دلې، کاریزونه، چینې اولبنتیان په ډک دی نو دا بیا د دی بنکاره حماقت او جهل دی یا بنکاره عناد دی۔
خکه چه په دوندی خبره هر سړی اوهر عاقل پوهیږی چه په دی خای کښی لفظ د چیری دوندی عام نه دی لکه چه د عوجا هلانو بللی دی بلکه د چیری د لفظ معنی صرف دوندی ده چه ده ته معلومه نه دی چه په دغه څنګل اوبیابان کی او به سته که نسته او که چیری اوی نو آیا په یوه میل کښی دننه دی یا دیوه میل څخه د باندی دی او که په میل کښی دننه دی نو بیا په کوم خای کښی دی اوس نو هیڅ اعتراض نسته۔
دغه رنګه پردی خای اعتراض سویدی چه په دی صورت کښی خو دتیمم د جواز د پاره صورتونه خارجیږی آه لیکن دا هم د دی حماقت او جهالت دی۔ خکه چه د جواز تیمم یو خاص صورت دی دا سی نه دی چه د تیمم

دجواز اوسردا والی د پاره یوه کلیه قاعده ده او د قاعدی کلیی د پاره ضروری
چه دا به وخپلو تولو صورتونو ته شمول لری اونه دیو خاص صورت د پاره
دا ضرور دی چه دئ دغسی شمول لری.
مثلاً یو خوک دا سی وایی چه که چیری یو چا او دس وکړی تر او داسه
وروسته ئ بولی وکړی نو او دس ئ ماتیږی نو پر دغه دا اعتراض نه
می کیدای چه د دی څخه د انتقاض وضوء د پر صورتونه خارجیږی.
دغه دی هغه لچر او بی ځایه اعتراضونه چه د دی د وجهی بهشتی زیور
ناقابل اشاعت گرزول کیږی او د دی د پاره سازشی جلسی کیږی.
◎ اصل صـ۹۲ـم - که او به نژدی وی الخ - تحقیق - مطلب دا دی چه په دی
صورت کښی صرف د پردی او ستر یا شرم د وجهی څخه تیمم کول روانه دی - کرا
یدل علیه قوله « د خلگو څخه د شرم په وجه » الخ
پاته سوه دا خبره که یو بل سبب وی مثلاً د ناموس او د اسی بل شی بیره
وی نو دا بیا جلا خبره ده په بهشتی زیور کی د دی نفی نه دی سوی پس نو
د زمانی دا احمقانو اعتراض ساقط دی.

درهم ضمیمه
ختم سوه

د اصلی بهشتی زیور دروهمی حصی د مضامینو فهرست

شمیر	مضمون	مخ
۱	د نجاست (مرداری) پاکولو بیان	۱
۲	د استنجا بیان	۸
۳	د لمانځه بیان	۱۱
۴	د لمانځه د وختونو بیان	۱۳
۵	د لمانځه د شرطونو بیان	۱۶
۶	د نیت کولو بیان	۱۹
۷	د قبلی طرف ته د مخ کولو بیان	۲۱
۸	د لمانځه کولو د طریقی بیان	۲۲
۹	د قرآن مجید د ویلو بیان	۲۹
۱۰	د لمانځه ماتونکو شیانو بیان	۳۰
۱۱	د هغو شیانو بیان چه په لمانځه کښی مکروه او منعه دی.	۳۲
۱۲	د هغو شیانو بیان چه د هغو په سبب سره د لمونځ پریښول روادی	۳۶
۱۳	د وتر لمانځه بیان	۳۸
۱۴	د سنتو او نفلی لمونځونو بیان	۳۹
۱۵	فصل	۴۳
۱۶	د استخارې د لمانځه بیان	۴۵
۱۷	د توبې د لمانځه بیان	۴۶
۱۸	د قضا شوو لمونځونو د راګرزولو بیان	۴۷
۱۹	د سجدهٔ سهوی بیان	۵۰
۲۰	د سجدهٔ تلاوت بیان	۵۷
۲۱	د مریض د لمانځه بیان	۶۲
۲۲	په سفر کښی د لمانځه کولو بیان	۶۸
۲۳	په کور کښی د مرګ پیښیدو بیان	۷۱

شمیر	مضمون	مخ
۲۴	د مړی ته د غسل ورکولو بیان	۷۲
۲۵	د کفن ورکولو بیان	۷۵
۲۶	د لاندی مسئلو د ویلو طریقه	۷۸
۲۷	د حیض او د مرض بیان	۷۹
۲۸	د حیض احکام	۸۳
۲۹	د استحاضی او د معذور احکام	۸۶
۳۰	د نفاس بیان.	۸۸
۳۱	د نفاس حیض او نورو شیانو د احکامو بیان	۹۰
۳۲	د بلوغ ته د رسیدو بیان	۹۲
۳۳	د ذی حصی د درس ورکولو د عمل طریقه.	۹۳

د اولی ضمیمی (چه نامدار ده په بهشتی جوهر سره ده) فهرست

۳۴	د لمانځه د فضیلت بیان.	۹۴
۳۵	مسئلی.	۱۱۲
۳۶	د ژوند او مرګ شرعی دستور العمل	۱۱۴
۳۷	د مړی ته د غسل او کفن ورکولو طریقه.	۱۱۷
۳۸	تصحیح الاغلاط د طرفه څخه د مظاهر علوم مدرسی د مفتی صاحب.	۱۲۰
۳۹	د دوهمی حصی د پاره ترجیح الراجح.	۱۲۱
۴۰	د دوهمی ضمیمه نامدار ده په تصحیح الاغلاط.	۱۲۳
۴۱	(مولفه مولوی حبیب احمد صاحب)	

د بهشتی زیور دوهمه حصه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

باب اوّل — د نجاست (مرداری) پاکولو بیان

(۱) د نجاست دوه قسمه دی اول قسم هغه دی چه هغه ډیر سخت دی که څه هم لږ وی بیا هم د دی نجاست د پریمنځلو حکم دی دغه ته نجاست غلیظه (سخته مرداری) ویل کیږی۔ او دوهم قسم هغه نجاست دی چه هغه لږ څه کم اوسپک دی هغه ته نجاست خفیفه یعنی سپکه مرداری ویل کیږی۔ (خانیه ص۱۰ جلد دوهم)

(۲) د ینی، د انسان گندگی، بولی، منی، شراب او د سپی او پشی گندگی او بولی او د خنزیر خوبنی او د دوه ویښتان او هډوکی او نور ټول شیان د دوه۔ او د آس خره او غاټری خرشنه او د غوا غوایی او گامیښی او د اسی نور د حیوانانو خوشایی (شخایی) او د بزو او پسو پچی غرض چه ټولو حیواناتو گندگی او د چرگانو، هیلی او بطی گندگی او د خره، غاټری او هغه حیوانات چه خوبنی نه حرامی وی بولی د دی او دغه ټول شیان چه په نامه یاد سول ټول نجاست غلیظه یعنی سخته مرداری دی۔ (غنیه ص۱۴۳)

(۳) د شیدو د رود دونکی کوچنی گندگی او بولی هم نجاست غلیظه یعنی سخته مرداری ده۔ (غنیه ص۱۴۳)

(۴) هر هغه الوتونکی مرغان چه خوبنه نه حرامه وی د دوی گندگی او د حلالو حیواناتو بولی۔ لکه بزه، غوا، گامیښه او د اسی نور حیوانان او د آس بولی نجاست خفیفه یعنی سپکه مرداری ده۔ (مرا قی الفلاح ص۸۶)

(۵) د چرگانو، هیلی، بطو، څخه ماسوا د نورو حلالو مرغانو گندگی پاک دی لکه کوتره، چوغگی، میناوی او د اسی نور مرغان۔ او د چوپرک (شب پرک۔ څمکی) گندگی او بولی هم پاکی دی۔ (کبیری ص۱۴۷ و رد المحتار ص۳۲۸ اول ټوک)

(۶) مسئله: نرم او بهیدونکی سخت نجاست که پر بدن یا جامه ونگیږی که په سورت د انتشار او خوریدلو کی دغه نجاست دینوی روپی د مقدار ته ورسیږی

یعنی ورسره برابر وی یا تر یوه روپی کم اولږ وی نو معاف دی (مراقی الفلاح ص۸۹) که ئی پری نه مینځ او لمونځ وکړی نو لمونځ ئی کیدای سی - لیکن که صاف نه سی او لمونځ ورسره وسی نو دغه لمونځ مکروه دی او بده خبره ده او که دغه سخت نجاست دیوی روپی تر اندازه زیات وی نو معاف نه دی او بیله پری مینځلو ئی لمونځ نه کیږی او که نجاست غلیظه چیری سخت اوکلک وی یعنی نرم او بهیدونکی نه وی پر بدن او جامه ولګیږی لکه ګندګی اوښ چرګانو یا نورو شیانو ګندګی نو که په وزن کښی خلور نیمی ماشی یا تر دغه کم وی نو که پری نه مینځل سی لمونځ صحیح دی او که چیری تر دغه اندازی زیات پر بدن یا جامه ولګیږی نو بیله پری مینځلو ئی لمونځ نه صحیح کیږی. (تنویر ص۳۳ اول ټوک - بحرالرائق ص۲۲۸ اوټوک ودص۲۲۴ دوهم ټوک)

(۷) مسئله که سپکه مرداری پر بدن یا جامه ولګیږی نو چه پر هغه حصه بدن یا جامی چه دغه مرداری وی نو که د دغی حصی څلورمی برخی څخه کمه مرداره وه معاف ده او که پوره څلورمه حصه یا تر څلورمی حصی زیاته وی نو بیا معاف نه ده - یعنی که دغه سپکه مرداری پر لستوڼی ولګیږی او تر څلورمه برخه کمه وی د دغه لستوڼی او که پر لمن وی د لمنی تر څلورمه حصه کمه وی او که پر پورونی وی نو د پورونی تر څلورمه حصه کمه وی نو بیا معاف ده - دغه رنګه که دغه سپکه مرداری پر پښه ولګیږی نو د پښی تر څلورمه حصه کمه وی او دغه رنګه که دغه مرداری پر لاس وی او تر څلورمی حصی کمه وی هم معاف ده غرض داچه هر اندام چه دغه سپکه مرداری د داغه اندام تر څلورمه برخه کمه وی - او که دغه مرداری د دغه اندام پوره څلورمه حصه او نو بیا معاف نه ده او پری مینځل ئی واجب دی یعنی بیله پری مینځلو ئی لمونځ نه صحیح کیږی - (در مختار ص۳۲ اول ټوک ورد المحتار ص۲۲۸ اول ټوک)

(۸) مسئله - نجاست غلیظه یعنی سخته مرداری چه په او بوکښی ولویږی هغه او به هم نجاست غلیظه ګرځی او که نجاست خفیفه په او بوکښی ولویږی نو هغه او به هم نجاست خفیفه ګرځی د دې اولږ مرداری په او بوکښی فرق نه ستا

(۹) مسئله:- که کالی په مردار وتیلو سره ککړ سول لیکن دیوه درهغوی تر اندازه یعنی تر یوه درهم کم وی لیکن هغه په یوه دوی درځی کی پرکالو وغوړ یدل اوپه رسول نو ترهغه وخته چه تر روپی زیات نه وی معاف دی اوچه دیر سول بیا معاف نه دی نو ئی پریمنځل واجب دی بیله پریمنځلو ئی لمونځ نه کیږی - رد المحتار ص ۳۲۶ اول توک.

(۱۰) مسئله:- د ماهی وینه مردار نه ده اوکه پریوځای ولګیږی نو پروا نه لری - دغه رنګه د مچ، منګور اوغوماشی وینه هم مردار نه ده. مجمع الانهر ص ۶۳ اول توک

(۱۱) مسئله:- که دبولو څاڅکی پرقدر دستنی دخوکی پربدن یا کالو ومنلی چه په ستر گونه معلومیږی د پریمنځلو ضرورت ئی نسته پری مینځل ئی واجب نه دی. (ملتقی الابحر ص ۶۳)

(۱۲) مسئله:- که چیری داسی مردار ی چه په ستر گو لیدل کیږی پریوشی باندی ولګیږی لکه ګندګی، وینه ترهغه وخته دی مینځی چه ترڅو ئی مردار ی ورکه سی اوداغونه ئی هم ورک سی چه په هرڅو وار ه پریمنځلو سره ورکیږی هغوندی وار ه ئی باید پریمنځی. نو هرکله چه دغه مردار ی خفه سی نو هغه شی که جامه وی یا بل شی پاک دی اوکه دغه قسم مردار ی پربدن وی دهغه هم دغه حکم دی. البته که په اول وار سره مردار ی خفه سوه نو دوه وار ه نور ئی پری مینځل بنه کار دی غرض دادی چه دری وار ه پوره ګول بنه کار دی. (مراقی الفلاح ص ۹۱)

(۱۳) مسئله:- که داسی مردار ی و ه چه په دیرو وارو پریمنځلو ئی داغ یا بوی نه تلی نو بیا هم جامه پاکه ده صابن په استعمال سره د بد بوئي یا داغ لیری کوا، ضرور نه دی. (مراقی الفلاح ص ۹۱)

(۱۴) مسئله:- که چیری بولی یا دبولو په شان بی صورته (یعنی چه صورت نه لری) مردار ی پرجامه او یا بل شی ولګیږی نو دری وار ه ئی پری مینځی او ترهر وار پریمنځلو ورسته دی ئی وینتیځی او درییم وار دی ئی په پوره زور او طاقت سره وینتیځی نو پاکه ده اوکه ئی درییم وار په ښتیځلو کښی پوره زور و نه کړی نو جامه ناپاکه ده. مراقی الفلاح ص ۹۲)

له یعنی بیله خورا او فکر نه معلومیږی ۲ سه لیکن پریمنځل ئی بنه دی ۲ شبیر علی.

(۱۵) مسئله:- که چیری دا سی شی مردار ہی چه هغه نه نبستیځل کیږی. لکه تخته بوریا، زیور، خاورہ، چینائی لوښی، بوتل، څپلی او نور دغسی شیان نو د دوی نه پاکولو طریقه دا ده چه یو وار ئی پریمینځی بیا ئی تر هغه پریږدی چه خاځکی څخیدل ئی بند سی دروسته ئی بیا پریمینځی او بیا ئی تر هغه وخته پورې پریږدی چه خاځکی څخیدل ئی بند سی. دروسته ئی بیا پریمینځی په دغه طریقه سره چه ئی دری واړه پریمنځی نو دغه شی پاکیږی. (مجمع ص۶ اول ټوک)

(۱۶) مسئله:- هر هغه شی چه د اوبو په شان نرم وی او پاک وی نو په هغه شی سره مرداری پاکول صحیح دی که او که ئی په او بوسره دگل گلاب یا عرق گاوزبان یا په بل عرق سره یا په سرکه سره پریمنځی نو هم شی په پاکیږی. لکن هغه شیان چه په هغوکښی عین رطوبتی وجود ولری لکه تیل شیدی او داسی نور شیان که شی په پرې مینځل سی نو شی نه په پاکیږی. (مجمع ص۵۸ اول ټوک)

(۱۷) مسئله:- که بدن یا جامه په منیو مردار سی او دغه منی وچ سی نو په بنه مینځلو او گرډولو سره پاکیږی او که لاندې (ناوده) منی وی نو یوازی په پرې ولو سره پاکیږی. لیکن که چا بولی وکړی او استنجا ئی نه وکړه او منی او وتل نو هغه په مینځلو سره نه پاکیږی باید پریوالل سی. (فتاوی هندیه ص۲۷ اول ټوک و شرح التنویر ص۳۲۱ ج۱)

(۱۸) مسئله:- پرځپلی یا د خرمنی څنه پرجوړ سوی موزو باندی که صورت لرونکی مردار ی ولګیږی او وچه سی لکه شخاپی، لوی بولی، وینی، منی او داسی نور نو باید په محله پوری ئی بنه ومینځی چه مردار ی ئی ولاړه سی نو پاک دی او دغه رنګه په گرډولو سره هم پاکیږی او که دغه مردار ی وچه نه وی خو دوندی ئی ومینځی چه مردار ی ولاړه سی او هیڅ علامه پاته نه سی هم پاکیږی. (مجمع ص۵۸ ج۱)

(۱۹) مسئله که چیری د بولو په شان نرمه مردار ی پرځپلی یا د خرمنی پر موزی ولګیږی نو بیله پریمنځلو نه پاکیږی. (رد المحتار ص۲۱۹ جلد اول ص۵۹)

(۲۰) مسئله:- بدن او جامه یوازی په پریمنځلو سره پاکیږی که ئی مردار ی صورت والا وی یا بی صورت والا وی په یوه طریقه سره نه پاکیږی. رد المحتار ص۳۱۸ ج(۱)

(۲۱) مسئلہ:- هندارہ، شیښه، چاړه او چاقو، دسرو زرو او سپینو زرو زیورات دڅړو کولو او مسو او روي او دا او سپني لوښي او دا سي نور وشیانو څخه چې پرسوی شیان که مردار سی نو په ښه وچولو او مینځلو او گرولو او یا په خاورو مینځلو سره پاکیږی لیکن که نقشدار وی شیان وی نو بیا په پریمینځلو نه پاکیږی. شرح التنویر ص۳۱۹ ج ۱

(۲۲) مسئلہ:- که پر مځکه نجاست او مردار ی ولویدی او د اسی وچه سوه چې هیڅ نښانه ئی پاتې نه سوه او بدبویي ئی هم ورکه سوه نو دغه مځکه پاکه ده لیکن پر دغسی مځکه تیمم وهل روا نه دی. البته پرد غه مځکه لمونځ کول صحیح او روادی کوی خښتی یا ډبری چې په ګچو، سیمنټو یا خښتو سره په مځکه کښی داسی بنځی سوی وی چه بیله کیدلو او خرلود مځکی هغه د مځکی څخه نه جلا کیږی د دغه هم دغسی حکم دی، چه ورسته تر وچیدو او داغ او بدبویي ورکیدو څخه ئی حکم د پاکوالی دی. (شرح التنویر ص۳۱۹ و ۳۲۰ اول پوک)

(۲۳) مسئلہ:- کوی خښتی چه په ګچو او سیمنټو په مځکه پوری نه وی لګیدلی هغه په وچیدو سره نه پاکیږی پری مینځل غواړی. (شرح التنویر ص۳۱۹ و ۳۲۰ اول جلد

(۲۴) مسئلہ:- پر مځکه ولاړ وابنه یا شپیشتی هم په وچیدو سره او د مرداری د علامو او د بدبویي په تللو سره پاکیږی او که وابنه ریبلی وه بیله پریمینځلو نه پاکیږی شرح التنویر ص۳۱۹ جلد اول و ص۳۲۰ جلد اول.

(۲۵) مسئلہ:- ناپاکه چاقو، چاړه او یا د خاورو او ژرو لوښی او د غسی د نورو شیانو لوښی که په بل او رکښی واچول سی پاکیږی. (منیه ص۶۵)

(۲۶) مسئلہ:- که لاس په یو مردار شی خراب سوی وُو نو د غه لاس یو چادر(۳) ی وارہ وڅاپې هم لاس پاکیږی مګر څټل منعه دی یا پرسینه کو چنی د شید و ئی وواهی بیا ئی هغه دری وارہ وڅاپې نو هم د غه ځای پاک دی. (منیه ص۶۶ وعالمګیری ص۲۸ و فتاوی قاضی خان)

(۲۷) مسئلہ:- که خاورین لوښی مردار سو او مردار ی ئی جذب کړه نو د غه لوښی په صرف پری مینځلو سره نه پاکیږی بلکه د اوبو څخه د ی ئی ډک کړی چه د مرداری اثر په اوبو کښی راسی نو دی اوبه توی کړی بیا دی لوښی ډک کړی بیا دی ئی چپه کړی

دغہ سلسلہ دی ترھغہ وخت جاری وساتی چہ د نجاست او مردارۍ نہ نام او نښان پاتہ سی او نہ ئی رنگ او بدبوئي پاتہ سی نو بیا پاک دی۔ (منیہ ص۶۸)

(۲۸) مسئلہ:۔ د مردارۍ ختي څخہ کلال یعنی د خاورینو لوښی پخوونکی لوښی جوړ کړی۔ ترڅو چہ پہ اور پوخ سوی نہ وی مرطار دی او چہ پہ اور پوخ سی پاک دی۔ (فتاوی ھندیہ ص۲۷ اول ټوک و در مختار ص۳۲۵ اول ټوک)

(۲۹) مسئلہ:۔ شہد یا شیرہ یا غوړی یا تیل ناپاکہ او مردار سول نو ھرڅوندی چہ تیل یا بل شی دی پہ ھغہ اندازہ یا ترھغہ زیاتی دی او بہ در سرہ گډی کړی او جوش دی ورکړی ھر وخت چہ او بہ ختم سوی بیا دی پہ دغہ طریقہ او بہ ورواچوی جوش دی ورکړی ترڅو چہ بیا دغہ او بہ ختم سی او دری واړہ دی دغہ طریقہ وکړی نو دغہ تیل یا غوړی پاکیږی یا دی داسی وکړی چہ ھرڅوندی غوړی یا تیل دی ھغونہ او بہ دی ورواچوی او سرہ ورته دی بنورۍ دی چہ داوبو پرسر راسی نو دی ئی داوبو څخہ پہ یو طریقہ پورتہ او جلا کړی دغسی دی دری واړہ او بہ ورسرہ گډی کړی او پہ ھر وار دی ئی داوبو څخہ جلا کړی نو پاکیږی او کہ غوړی یخی وی نو او بہ دی ورواچوی او پراور دی ئی باندی کړی چہ غوړی ویلی سی بیا دی ئی داوبو څخہ جلا کړی دغہ طریقہ دی دری واړہ وکړی ھم پاکیږی۔ (ردالمحتار ص۳۴۵ وعالمگیری ص۲۶ اول ټوک)

(۳۰) مسئلہ:۔ پہ مردار رنگ کښی ئی جامہ ورنگولہ ترھغہ وخته دی جامہ پریولی چہ او بہ ئی صافی سی نو جامہ او کالی پاک دی کہ د جامی څخہ رنگ ولاړ سی او کہ پاتہ سی۔ (درمختار ص۳۳۵ اول ټوک وعالمگیری ص۲۶ اول ټوک وفتح القدیر)

(۳۱) مسئلہ:۔ د شخایو خرشینو او د غسی نورو شیانو د سرو ایری پاکی دی او د دوی ئی ھم پاک دی کہ پرد وی ئی دوی یا ایری ونگیږی پروا نہ لری (درمختار ص۳۳۶ ج۱)

(۳۲) مسئلہ:۔ د مصلی یا پتی یو طرف کہ ناپاکہ وی او نور ہ پاکہ وی پر پاک طرف ئی لمونځ کول روادی۔ (ردالمحتار ص۲۱۵ اول ټوک)

(۳۳) مسئلہ:۔ پرھغہ محکہ چہ شخایی وی یعنی پہ محکہ پورۍ مښوول سوی وی محکہ پہ کڅوړہ سوی وی یا خاوری او شخایی سرہ گډی وی کہ بل پاک شی پردغہ محکہ دننہ غوړول سی لمونځ پردغہ محکہ روانہ دی۔ (بحرالرائق ص۲۶۵ اول ټوک وغنیہ ص۱۷۲)

لہ مگر دبری واړہ باید پہری میخل سی چہ ھا نڑدی واحتیاط تہ دہ ۱۲ تصحیح الاغلاط

(۲۴) مسئله:- هغه مځکه چه په شخیو (خوشیو) ککړه سوی وی اوبیا وچه سوی وی نو پرد غه مځکه کـه لنده جامه هوار سی هم ملوث پرې راځی په دی شرط چه دا جامه به دوندی لنده نه وی چه د مځکی خاوری پوری مینلی. (بحرالرائق ص۲۶۵ اول ټوک وغنیه ص۱۷۲)

(۲۵) مسئله:- لندی پینۍ پرناپاکه مځکه روان سوا و قدمونه ئې پرلخځه معلوم سوه نو په دغه سره پینۍ نه مردار ریږی لیکن که د پینۍ د اوبو څخه مځکه - دوندۍ لنده سی چه د مځکی یوځه خاوره یا دغه مردار ری اوبه په پینه پورې ومینلی نو پینۍ ئې ناپاکه او مردار سوی. (منیه ص۶۳)

(۲۶) مسئله:- پرناپاکه جامه اوکالی بیده سوا و د خولی څخه ئې هغه لنده سوه د دغه هم دغه حکم دی چه بدن او جامه د ده پاک دی اوکه دوندی خوله د ده څخه ولاره سی هغه جامه چه دی پر بیده دی دوندی لنده سی چه د هغې څخه څه مړدارۍ د ده پر بدن یا کالو ولګیږی نو بیا ئې بدن اوکالی مردار دی. (منیه ص۶۳)

(۲۷) مسئله:- که ئې ناپاکه نکریزی پرلاسوا و پینو و نګولی اوبیا ئې دری واره خپل لاسونه اوپینۍ ښه پریمنځل نو پینۍ اولاسونه ئې پاکیږی او د نکریزو رنګ څنګول ضرور نه دی. (منیه ص۶۲ - رد المحتار ص۳۳۹ اول ټوک)

(۲۸) مسئله:- که ئې نجس (مردار) رانجه او یا ناپاکه کجل په سترګو و نګول نو د هغه پاکول اوپری مینځل واجب نه دی البته که د سترګو باندی برخوته راوونل نو پریمینځل ئې واجب دی. (رد المحتار ص۳۴۱ اول ټوک)

(۲۹) مسئله:- په مردار و تیلو ئې سر یا بدن خوږکړی د قاعدی سره برابر په دری واره پری مینځلو سره پاکیږی. د بروځی، شامپو یا د صابون په استعمالولو سره ئې لیری کیدل ضروری نه دی. منیه ص۶۲

(۳۰) مسئله:- سپی په اوبه کښی خوله و دهله یا بیزو پسخورده کړله نو که اوبه لږ نبل سوی وی هرځای چه ئې خوله ولګیدلی وی هغه اوبه دی وغورځوی او د پاتې اوبه و خوراک او ادی اوکه وچ اوبه دی هر هغه ځای ته چه د سپی ناپاکی ورسیدلی وی

ضرور دی چه د سترګو څخه دباندی وی

دصفه خای اوړه دی دغور ځوی او نور پاته اوړه پاک دی. (عالمگیری ص۱۵ ج ۱)

(۴۱) مسئله:- د سپی ناری مرداری دی- لیکن پخپله سپی مردار اوبخس نه دی. یعنی که دچا بدن یا جامو سره وښلی نو د سړی بدن یا جامه نه په مردار ږیزی لیکن که د سپی بدن په مرداری سره لړلی وُ نو بله خبره ده- (غنیه ص۱۹۱)

(۴۲) مسئله:- چه د شاد خواخخه هوا د وزی او ور نژدی جامه لنده وی. نو دغه جامه مردار نه ده یعنی خښتګ ئ مردار نه دی. (ردالمحتار ص۲۲۳ جلد اول)

(۴۳) مسئله:- په مردار واو بو جامه لنده سوی وه بله پاکه جامه ئ ور سره وغښته هغه پاکه جامه ور سره لنده سوه لیکن د مرداری رنګ یا بوی نه پکښی معلومیدی نو که دغه پاکه جامه په دغه اندازه لنده وه چه په ښتیځلو نیم څانګی ځندی څخیدی یا د ښتیځلو په وخت کښی لاس په لندیدی نو دغه جامه ناپاکه ده او که دغوندی نه وه لنده نو جامه پاکه ده او که جامه په درد بولو یا نور د اسی شیا نو سره چه د بولو سره یوشی وی مردار ده می نو یله جامه ور سره و پیچل سی نو که دعی پاکی جامی ته لږ څه لنده والی یا داغ راغلی دغه پاکه جامه هم مردار ده. (منیه ص۶۳ وکبیری ص۱۷۲)

(۴۴) مسئله:- که د لرګی د تختی یو مخ مردار وی او بل مخ ئ حلال وی نو که دوندی پنډه تخته وی چه په مابین کی اړه کیدلی سی نو دی ئ واړه وی او پرهغه حلال مخ ئ لمونځ کول روا دی او که اړه کیدای نه سوه یعنی نری وه نو پر دغه پاک مخ ئ لمونځ کول روا نه دی. غنیه ص۲۰۰

(۴۵) مسئله:- د وه غبرګی جامه وه یو طرف ئ پاک اوبل ئ ناپاکه وُ نو که دواړه طرفونه یو د بل سره ګنډلی نه وی نو پر پاک طرف ئ لمونځ کول روا دی او که ګنډلی وه نو نه کیږی. (منیه ص۷۵)

دوهم — د استنجاء بیان — باب ۲

(۱) مسئله:- چه د خوبه راویښ سی نو ترڅو چه دواړه لاسونه ئ تر بند و پورې پرې مینځلی نه وی په اوبو کښی دی لاسونه نه اچوی که لاسونه پاک وی یا ناپاکه وی که اوبه په کوچنی لوښی کښی وی نکه- بدنه یا کوزه نو دی دغه لوښی په چپه لاس سره پورته کړی او پر راسته لاس دی اوبه واچوی

دری واړه دی ئې پریمینځئ بیادی لوښی په ښکته لاس سره پورته کړی او پر چپه لاس دی اوبه واچوی او دری واړه دی ئې پریمینځئ که چیرې په کوچنی لوښی کښی اوبه نه وی او په لوی لوښی کښی وی لکه غټ منګی یا خم - نو بیا دی دغه اوبه په کوزه یا داسی بل شی سره راواخلی په داسی طریقه سره چه د لاس ګوتی د منګی په اوبو کښی څندی دوبی نه سی اوکه کوزه یا داسی بل کوچنی لوښی نه وی د اوبو د راخیستلو دپاره نو د غټ لوښی څخه دی د چپه لاس د ګوتو په لیپه سره اوبه راواخلی اوکوشش دی کوی چه ګوتی په اوبو کښی لږ داخلی کړی او په ذریعه د ګوتو دی اوبه راواخلی اول دی ښکته لاس پریولی چه ښکته لاس ئې پریولی نو ښکته لاس چه هر څوندی غواړی په هغه اندازه سره دی ئې په اوبو چخ او غوټه کړی او اوبه دی راواخلی چپه لاس دی په پریولی دغه طریقه هغه وخت دی که پر لاس باندی بنکاره مرداری اونجاست نه وُ. اوکه بنکاره نجاست وُ نو دی په دغه غټ لوښی کښی لاس نه اچوی په بله طریقه دی د دغه لوښی څخه اوبه راواخلی چه هغه اوبه خرابی اومرداری نه سی - مثلاً پاک دسمال دی په دغه لوښی کښی واچوی او بیا دی ئې راوکاږی او د دغه دسمال په اوبو سره دی لاس پریولی یا دی بله دغسی طریقه و کړی. (در مختار ص۱۴ اول ټوک - ورد المحتار ص۱۶ او بحر الرائق)

(۲) مسئله:- هر هغه نجاست اومرداری چه د مخ یا د شا د لاری څخه وزی نو استنجا کول سنت دی. (شرح التنویر ص۲۳۶ اول ټوک)

(۳) مسئله:- که مرداری یوی اوبلی خواته نه وی تللی نو په دغه سبب ئې په اوبو استنجا و نه وهله بلکه په پاکه ډبره یا لوښه سره ئې استنجا و وهله او د اسی صفائی ئې وکړه چه مرداری ختمه سوه او بدن پاک سو نو هم صحیح دی لیکن دغه خبره د صفائی د طبیعت څخه مخالفه ده - البته که اوبه نه وی یا لږ وی بیا خو مجبوری ده. (فتاوی هندیه ص۳ اول ټوک)

(۴) مسئله:- په لوښه سره د استنجا کولو د پاره کومه خاصه او معینه طریقه نسته بلکه

له یعنی د لاسه لاس څخه چپه لاس ته پریښودلی سی خو پرې مینځلی سی خو پرې مینځلی سی خو پرې مینځ

دوندہ خیال ساته چه نجاست او مرداری یوی اوبلی خواته ولاړه نه شی. فتاوی هندیه صه۳ اول توک)

(۵) مسئله:- د لوټ د استنجا خخه وروسته په اوبو سره استنجاء وهل سنت دی. لیکن که چیری مرداری د وړنوی یعنی یوه درهیم خخه زیاته غوړ بیدلی وی بیا استنجا په اوبو سره واجب دی بیله پری مینځلو ئ لمونځ نه صحیح کیږی اوکه مرداری غوړ بیدلی نه وی نو فقط په لوټه ئ خای پاک کړی هم لمونځ روا دی لیکن د سنت طریقی خلاف کار دی. (شرح التنویر صه۳۵ اول توک)

(۶) مسئله:- چه په اوبو استنجاء وهی نو دی اول دواړه لاسونه تر بندو پوری پریولی او په یوګوبنه خای کښی دی کښینی او بدن دی بنه سست کړی او تر هغه وخته دی ئ پریولی چه زړه ورته ووایی چه اوس نو بدن پاک دی اوکه یو منوډانی سړی وُچه اوبه ئ پیری استعمالولی بیا ئ هم زړه بنه نه صفا کیدی نو دده دپاره دا حکم دی چه درې یا اوو (۷) واړه دی دغه خای پریولی او تر دغه دی زیاتوب نه کوی. (ردالمحتار صه۳۴۹ اول توک)

(۷) مسئله:- که پټ خای نه وی نو د چا په مخ کښی که نزدی اوکه بنځینه خان لخوا د استنجاء دپاره روانه دی اود هغی بیله استنجا دی لمونځ وکړی خکه چه د بدن لخوا (لغړوا) لویه ګناه ده. (فتاوی هندیه صه۳ اول توک)

(۸) مسئله:- په هډوکی او په مردار د شیانو لکه شمخانی، خرشینه او د غی نورو مردار د شیانو او کوُلَهٔ یعنی د وبلو سکارو، پخه خښته، شیښه کو دړی، سنګریزه او د خورک په شیانو او کاغذ او په راسته لاس سره استنجی کول مکروه او بد کار دی. په د غو شیانو سره د استنجاء کولو خخه خان ساتل په کار دی اوکه څوک په د غو شیانو سره استنجا وکړی صحیح ده او بدن ئ پاکیږی. (شرح التنویر صه۳۳ اول توک عالمګیری صه۳۱ اول توک)

(۹) مسئله:- په ولاړی بولی کول منعه دی. (شرح التنویر صه۳۵۵ اول توک)

(۱۰) مسئله:- په وخت د وړو یا لمړنو بولو کولو کښی و قبلی ته مخ یا شا کول منعه دی. (شرح التنویر صه۳۵۲ - اول توک)

(۱۱) مسئله:- دبولو کولو په وخت کښی دکوچنی مخ یا شاو قبلی ته گرزول هم منعه دی. (شرح التنویر صه ۳۵۲ جلد اول)

(۱۲) مسئله:- داستنجاء څخه چه اوبه پاته سی په هغه اوبو اودس کول روادی اوداوداسه څخه چه اویه پاته سی په هغه اوبو سره استنجاء کول روادی نه کول ئی بنه دی

(۱۳) مسئله:- چه غټو یاورو بولوته ځی نو دی دبیت الخلاء په دروازه کښی ترداخلیدو مخکی اول بسم الله اوبیا دادعا وایی اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ - اولخ سړی ته ورښوزی اوکه ئی پرگوتمی دخدای ج یادخدای ج رسول صلی الله علیه والـه وسلم نوم لیکلی وُ نو دی دغه گوتمی دځانه لیری کړی اویادگوتمی په شان پربل شی لیکلی وو دهغه هم داغه حکم دی اواول دی چپه پښه دننه کړی اودخدای نوم دی یادوی اوکه چیری ترچ یعنی نبوبدی یاپرچ وهل ورته راسی نو صرف دی په زړه کښی - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وایی په ژبه دی هیڅ نه وایی بیا دی دننه په بیت الخلاء کښی خبری کوی. هر وخت چه راوزی نو اول داردی راسته پښه راباسی اودروازی څخه چه راووزی نو دی دغه دعا ووایی - غُفْرَانَكَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنِّیَ الْاَذٰی وَعَافَانِیْ - او ترڅو استنجاء نه وی کړی تر هغه پورې دی چپه لاس په خاورو کړکړی او یادی ئی په محکه پوره ومینځی بیادی پریږدی (رد المحتار صه ۳۵۷ اول ټوک)

دریم باب — دلمانځه بیان

دخدای جل جلاله په نزد دلمانځه ډیره لویه مرتبه ده هیڅ عبادت دخدای پاک په حضور کښی تر لمانځه محبوب اوخوښ نسته خدای تعالی پرخپلو بندګانو پنځه وخته لمونځ فرض کړی دی اودغه لمانځه دکولولوی ثواب دی اوپه پریښوولو ئی لویه ګناه ده - په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هرڅوک چه په بنه طریقه سره لمونځ وکړی اوپه فارغ زړه اوبنه حضور سره لمونځ وکړی نو د قیامت په ورځ به خدای پاک دده وهلی وړی ګناوی بخښلی او جنت به ورکړی - (جمع الفوائد صه ۵۳ اول ټوک)

او نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه لمونځ د دین ستن (تنبه) دی هرچا چه لمونځ په سمه طریقه سره وکړی نو ده خپل دین سم او برابر کړی او چا چه د غه ستن ونړول یعنی لمونځ ئی نه وکړی نو ده خپل دین برباد کړی او نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه په ورځ د قیامت دهغو شیانو څخه محکی د لمانځه پوښتنه کیږی او د لمونځ کونکو لاسونه پښی او مخ به د لمر په شان ځلیږی او بی لمانځه به د د غه غټ دولت څخه بی برخی وی او حضرت صلی الله علیه وآله وسلم فرمائیلی دی چه د لمونځ کونکو حشر او پورته کیدل به د قیامت په ورځ د نبیانو او شهیدانو او ولیانو سره وی او د بی لمانځو حشر به د فرعون، هامان، قارون او غټو غټو کفارو سره وی د د غه سبب لمونځ کول د هر ضروری دی او په نه کولو سره ئی د دین او دنیا دواړو تاوان دی تر د غه نو بالاځو عذاب وی چه د بی دینو خلګو حشر او پورته کیدل د کافرانو سره دی او بی لمانځه د کافرانو سره برابر بلل سویدی. د خدای پناه دی وی لمونځ نه کول څونديدی بده خبره ده.

هو پردغو کسانو لمونځ کول فرض نه دی. لکه لیونی، کوچنی اینجلی او هلک چه تر اوهه بلوغ (لویوالی) ته نه وی رسیدلی نو ور نو پر تو لو مسلمانانو باندی فرض دی. لیکن اولاد چه تر اوو کالو ورسیږی نو هو ر او پلار ته ئی حکم دی چه په دوی لمونځ وکړی او چه د لسو کالو سی که ئی لمونځ نه کاوی نو هو ر او پلار به وهل ورکوی او په دوی به لمونځ کوی.

او د لمانځه پریښودل هیڅ وخت روا نه دی په هره طریقه سره چه لمونځ کیدای سی لمونځ دی ضرور وکړی البته که ئی لمونځ هیر سو بالکل ئی یاد نه سو چه وخت تیر سو بیا ئی په یاد سو چه ماخو لمونځ نه دی کړی یا په داسی درانه خوب بیده وو چه وینی نه سو چه راوینی سو نو لمونځ قضا ورنو په د غه صورت کښی ګناهګار نه دی لیکن چه لمونځ ئی په یاد سی یاد خوبه راوینی سی نو فوراً اودس

---

۱۲ د خښو څخه د ثقافت په ورځ په کښلو برابری کیدل مراد دی ۲ سره حه چه د دوزخ کښی هیشه د اعتبار سره په دوی ورنه کافر د شوی دی ۳ سره په دوی او اینبی کیږی او د جنت ترلاسه کولو ۴ د عذاب کیږی او د مسلمان باندی ۵ فرعون دیو غټ کافر بادشاه نوم دی او هامان د ده وزیر وو ۶ هم کافر وو قارون له یو غټ مالدار سره ۷ او کافر وو او د موسی علیه السلام د زمانی دی ۸ د الازوی ۹ او د موسی علیه السلام د تعلیم د غه ۱۰ حکمونو څخه ۱۱ د لسو کالو په عمر کښی ۱۲ د هغه وخت په کار دی ۱۳ د ورځی ۱۴ د روژی د نیولو ۱۵ عاقلی موجود سی ۱۶ د لاسونو ۱۷ ناپاکی ۱۸ د ناپاکی ۱۹ د ۲۰

کول او لمونځ راګرزول فرض دی او که دغه وخت چه لمونځ ئې په یاد سو یاد خو بر اوښی سو مکروه وخت دو نو لږ وخت دی صبر وکړی چه دغه مکروه وخت تیر سی بیا دی لمونځ وکړی۔

دغه رنګه هغه لمنځونه چه دبی هوښی په وخت کی ئې نه وی کړی ګناه نه لری لیکن دبی هوښی وروسته ئې فوراً قضاء راو پرل ضروری دی۔

څلورم باب — دلمانځه دوختونو بیان

(۱) مسئله:- دشپی په اخیره کښی چه سهار نژدی سی دمشرق دخواخخه داسمان پرکنارو او ګوښو یو څه سپینوالی بنکاره کیږی چه هغه تیره سپینوالی وی چه ترسره پوری راارسیدلی وی۔ نژدغه سپینوالی وروسته داسمان په کنارو کښی بل پراخ سپینوالی بنکاره کیږی چه داسمان دلوړی خواکناری ئې تولی نیولی وی او ګړی په ګړی پراخیږی چه یومخ رڼاسی نوهروخت چه داغه پراخ سپینوالی بنکاره سی نو د سهار د لمانځه وخت شروع دی بیاتر لمر خته پوری که د لمر لږ څه څنډه بنکاره سوه نو د سهار وخت ختم دی۔ (عالمګیری ص۳۱ اول بتوک و شرح التنویر ص۳۶۹ اول بتوک) لیکن لمونځ په اول وخت کی په تاریکه کښی کول په کار دی۔ اوښه کار دی۔ (رد المحتار ص۲۷۹ اول بتوک)

(۲) مسئله:- چه دغرمی لمر ترسر واوړی نو دما پښین وخت شروع سی یعنی د غرمی لمر چه په اړه لو شروع وکړی نو دما پښین وخت ورسره شروع سی او د لمر اوښتو علامه دا ده چه د هرشی سایه د مغرب یعنی لمر لوید و د طرفه څخه بالکل د شمال وطرف ته راګرزی او د شمال د طرف څخه د مشرق وطرف ته په کږیدو شروع وکړی دغه وخت دکږیدو د سوری د مشرق ته وخت دا وښتو د لمر دی۔ مشرق هغه طرف ته وایی چه دهغه طرفه څخه لمر راخیژی او د لمر خاته طرف ته چه سهری مخامخ ودریږی د چپه لاس طرف ته ئې شمال وایی۔

او د لمر اوښتو یوه بله علامه چه ترمخکښی علامی هم آسانه ده هغه دا ده چه لمر راوخیژی چه هرڅونه پورته کیږی د هرشی سایه کمیږی چه د سایی کمیدل

بند سی د غه نو - تاکنه ۲ عزمه د ۲ بیا چه سایه په لویید و او غټید و شروع و کړی نو چې ۲ سه چه لمر ترسر و او بښتی نو د د غه وخت څخه د ماپښین وخت شروع د ی او هر څونه ی سایه د شی چه په تاکنه ۲ عزمه کښی وی د غه سایه پریږد ۲ ترڅو چه سایه دهرشی د وچنده ۲ سوی نه وی ترهغو پورې د ماپښین وخت د ی. مثلاً دیو ۲ گز لرگی سایه عزمه پور ۲ څلور گوتی وه ترڅو چه دو ۲ گزه او څلور گوتی ته د غه سیوری نه وی رسیدلی نزد غه وخته پورې د ماپښین وخت د ی. او هر وخت چه سایه دو ۲ گز ۲ او څلور گوتی سی بیا د مازیگر وخت شروع د ی او د مازیگر وخت تر لمر لویید و پورې د ی. (عالمگیری ص۳۱ اول ټوک) لیکن چه د لمر رنگ ژیړ سی او د لمر تاو او ر ناڅړه سی په د غه وخت کی د ماخیګر لمونځ کول مکروه د ی. که په سبب د عذر ناوخته سوی وُ نو بیا د ی هم په د اغه وخت کښی لمونځ وکړی خیر د ی قضا کوی د ی ئ نه لیکن بیا د ی داسی نه کوی او د د غه ماخیګر د لماڼځه څخه ماسیوری بل لمونځ د ی په د غه وخت کښی نه کوی صحیح نه د ی نه قضائ او نه ی نفل هیڅ لمونځ د ی نه کوی بیله مازیگر د لماڼځه. فتاوی هندیه ص۳۲ ج۱

(۳) مسئله :- چه لمر و لویږی نو د ماښام وخت شروع د ی بیا ترهغه وخته پورې چه د مغرب د طرف څخه د اسمان پر کنار ۲ د سرخی او سور والی پاته وی د ماښام وخت سنه لیکن د ماښام په لماڼځه کی د ی د ونده ۲ حنڼ نه کوی چه ستوری ښکاره ۲ سی چه د ونده ی حنڼ مکروه د ی چه سور ۲ والی ولاړ سی نو د ماخستن وخت شروع سی بیا ترسهاره پورې د ی لیکن د نیمی شپی و روسته د ماخستن وخت مکروه کیږی او ثواب ئ کم د ی نو د غه سبب د ی د ماخستن لمونځ د نیمی شپی څخه و روسته نه کوی بنه نه د ی او بهتر ۲ دا د ۲ چه د شپی د دریمی حصی د تیریدلو څخه لخکی لمونځ وکړی. (شرح التنویر ص۳۸۲ اول ټوک و منیه ص۸۴ و د رمختار ص۳۸۱ اول ټوک)

(۴) مسئله :- د گرمی په موسم کی د ی د ماپښین په لماڼځه کښی تلوار نه کوی چه د گرمی تیزی و رکه سی بیائ کول مستحب او بنه کار د ی او د یخ په موسم کی په اول وخت کی د لماڼځه کول بنه کار د ی او مستحب د ی (فتاوی هندیه ص۳۴ جلد اول)

۱۷۷

(۵) مسئله :- د ماز یګر په لمانځه کښی د وند ی څنډه کول په کار دی چه د وخت د داخلیدو د روسته څه نفل کول وغواړی نفل کولای سی څکه د ماز یګر تر لمانځه د روسته نفل کول صحیح نه دی - برابره خبره ده که دګرمی موسم وی یا د یخ موسم وی د د وار وحکم یو دی لیکن د وند ی څنډه دی نه کوی چه د لمر ښکاره سی اولمر څرګ وګرزی - اود ماښام په لمانځه کښی نلوارکول اود لمر تر لویدو د روسته دسته لمونځ کول مستحب دی . (شرح التنویر صـ۳۸۱ اول ټوک)

(۶) مسئله :- هر هغه څوک چه د تهجد لمونځ د شپی په آخره حصه کښی کوی او پر ځان ئی د ډار ویښیدو باور وی نو دی ماخستن وتر پریږدی اود تهجد تر لمانځه د روسته وتر کول بهتر دی اوکه په ځان ئی د ډار ویښیدو باور نه وی د بیدیدو پیره وه نو د ماخستن تر لمانځه د روسته دی خالخا وتر کوی - شرح التنویر صـ۳۷۳ ج ۱

(۷) مسئله :- د اور یځی په وخ د سهار - ماپښین ، ماښام لمونځ لږ څه څنډول په کار دی اود ماز یګر په لمانځه کښی تلوارکول مستحب دی - (منیه صـ۸۴ وشرح التنویر صـ۳۸۳ اول ټوک)

(۸) مسئله :- د لمر د راختلو په وخت کښی او په وخت کښی د تاکنده غرمی اود لمر لویدو په وخت کښی هیڅ قسم لمونځ کول صحیح نه دی البته که ئی د ماز یګر لمونځ نه وو کړی پرنا وخته سوی وو نقط د غه لمونځ کولای سی د لمر لویدو په وخت کښی - او په دا غه درو وختو کښی سجده د تلاوت هم مکروه او منعه ده - (شرح التنویر صـ۳۸۴ اول ټوک)

(۹) مسئله د سهار تر لمانځه د روسته چه لمر بنه نه وی راپورته سوی نفل لمونځ کول مکروه دی لیکن د لمر د راختو مخکی قضائی لمونځ راګرزول روا دی - او سجده د تلاوت هم روا ده او چه لمر راوختی چه بنه روښانی سوی نه وی قضائی لمونځ هم روا نه دی اود غه رنګه د ماز یګر تر لمانځه د روسته نفل لمونځ کول روا ندی - البته قضائی لمونځ او سجده د تلاوت صحیح ده لیکن هر وخت چه د لمر ښکاره

سی نو بیا قضائی لمونځ او سجده د تلاوت هم روانه دی - (شرح البدایه ص۸۱ و ۸۲ اول توک)

(۱۰) مسئله :- د سهار په وخت کښی ترلمر خنو مخکی ځ یوازی فرض لمونځ وکړی په سبب د بیری د راختو د لمر نو ترهغه وخته چه لمر بنه لوړ او روښانه سوی نه وی تر دغه وخته پوری دی سنت نه کوی چه پوره روښانه سی نو دی بیا سنت او نور هغه لمونځونه چه زړه ئ غواړی وکړی (شرح التنویر ص۳۸۸ اول توک)

(۱۱) مسئله :- چه د سهار وخت داخل سی د دوو رکعتو سنتو او د دوو رکعتو فرضو څخه ماسیوای بل نفلی لمونځ کول صحیح نه دی یعنی مکروه دی البته قضائی لمونځ او پر آیت د سجدی سجدهٔ تلاوت کول صحیح دی - (شرح التنویر ص۳۸۹ اول توک)

(۱۲) مسئله :- که د سهار په لمانځه کښی لمر راوختی نو د سهار لمونځ ئ صحیح نه دی چه لمر بنه راپورته سی نو بیرته دی دغه د سهار لمونځ راوګرزوی که د ماذیګر په لمانځه کښی لمر ولویدی لمونځ صحیح دی قضاء دی نه راوړی - (شرح التنویر ص۳۸۶ اول توک)

(۱۳) مسئله :- د ماخستن د لمانځه کولو څخه مخکی بیدیدل مکروه دی د لمانځه کولو څخه وروسته باید بیده سی نه مخکی - لیکن که څوک مریض وی یا په وجه د سفر د پیرسترې سوی وی او یو چاته وایی چه ماد ماخستن د لمانځه وخت ته راوینی کړه په دغه صورت کښی بیدیدل باک نه لری. (رد المحتار ص۳۸۱ اول توک)

پنځم | دلمانځه د شرطونو بیان | باب

(۱) مسئله :- د لمانځه شروع کولو څخه مخکی د پیرشیان واجب دی که ئ او دس نه وی نو اودس دی وکړی که د غسل ضرورت وو غسل دی وکړی پر بدن یا کالو که نجاست او مرداری لګیدلی وی هغه دی پاکه کړی - بیرهٔ څای چه لمونځ کوی هغه دی پاک کړی فقط د مخ اودوار هو خپرو اودوارو لاسونو څخه ماسیوادی نور ټوله بدن بنه پټ کړی. د قبلی طرف ته دی مخامخ سی او هرهغه لمونځ چه کوی د هغه لمانځه نیت دی په زړه کښی وکړی د وخت تر داخلیدو وروسته دی لمونځ وکړی د غه ټوله شیان د لمانځه شرطونه

دی که په دغو شیانو کښی، یو شی پاته سی نو لمونځ ئی نه کیږی (شرح البدایه صـ۷۱ اول بتوک و منیه صـ۸۲)

(۲) مسئله:- هر هغه نازک (نری) پوړونی چه بدن نر معلومیږی چه د لمانځه ادا کولو په وخت کښی ئی پرسر کړی لمونځ ئی صحیح نه دی. لکه د جالی پوړونی د پائی او داسی نور پوړونی لکه ململ چه پوړونی ئی کړی په لمانځه کښی. (منیه صـ۷۹ و شرح التنویر صـ۴۲۵ او بتوک)

(۳) مسئله:- که د لمانځه کولو په وخت کښی څلور مه برخه (حصه) دورون یا پنډی یا لاس یا د بل ځای بنکاره سوه د غونه وخت بنکاره پاته سی چه په دغه وخت کښی دری واړه سبحان الله ویل کیدای سی نو لمونځ ئی فاسد سو او که د وندی وخت تیر نه سو ژر ئی پټ کړی نو لمونځ ئی صحیح دی دغه رنګه د کوم ځای پټول چه واجب دی که د هغه ځایه څخه څلرمه حصه اندام بنکاره سو نو لمونځ ئی نه کیږی لکه د یوه غوږ څلرمه برخه یا د سر څلرمه برخه یا څلرمه برخه د وریښتانو یا د نس څلرمه حصه یا د شا څلرمه حصه یا د غاړی څلرمه حصه یا د سینی څلرمه برخه یا د ټانګی څلرمه برخه چه بنکاره سی. لمونځ ئی صحیح نه دی. شرح التنویر و رد المحتار صـ۴۲۳ ج ۱

(۴) مسئله:- هر هغه انجیلی چه خوانی ته نه وی رسیدلی که ئی د سړی څخه پوړونی وینو هیدی او د هغی سړلخ سو نو لمونځ ئی کیږی. (رد المحتار صـ۴۲۷ اول بتوک)

(۵) مسئله:- که پرجامه یا بدن باندی یو څه مردارۍ وی لیکن او به هیڅ ځای نه پیدا کیږی نو دغه رنګه د مردارۍ سړه دی لمونځ وکړی. (درمختار صـ۴۲۵ ج ۱)

⑥ مسئله :- که پتوله جامه خرابه وی یا پتوله جامه خرابه (مردارې) نه وی لیکن لږ برخه ئې حلاله او پاکه وی او ډیره حصه ئې مردارې وی یعنی تر څلورمې برخې کمه پاکه وی او نوره پتوله مردارې وی نو په داسې وخت کې داهم درسته ده چه دغه جامه واغوندی لمونځ وکړی او داهم روا ده چه دغه جامه (کالی) وکاږی او پرلغړه لمونځ وکړی - لیکن تردی چه په لخ بدن سره لمونځ کوی دا بهتره ده چه دغه جامه واغوندی او لمونځ وکړی - که څلورمه برخه یا تر څلورمې برخې زیاته حصه پاکه وه نو په لغړه لمونځ کول روانه دی په دغه خرابه او مردارې جامه کښې لمونځ کول واجب دی خالخابه ئې اغوندی. (شرح التنویر ص ۴۲۷ اول ټوک)

⑦ مسئله :- که دچاسره بالکل جامه (کالی) نه وه نو دی په لخه سره لمونځ وکړی - لیکن داسې ځای دی لمونځ وکړی چه هیڅوک ئې لیدلای نه سی په ولاړې دی لمونځ نه کوی بلکه په ناستی سره دی لمونځ وکړی اورکوع او سجده دی په اشاره سره ادا کوی او که ئې لمونځ په ولاړې په رکوع او سجده سره وکړی. هم صحیح دی لمونځ ئې کیږی لیکن په ناسته سره لمونځ کول بهتر او غوره دی. (شرح البدایه ص ۹ اول ټوک)

⑧ مسئله :- د سفر په وخت کښې دچاسره او به لږ وی که مردارې پریمنځی نو داوداسه دپاره او به ته پاتیږی او که اودس په کوی نو د مردارې دپاکیدو دپاره او به ندپاتیږی - نو دی مردارې په پریمنځی بیا دی داوداسه دپاره تیمم وکړی - (فتاوی هندیه ص ۱۸ اول ټوک) وغنیه ص ۹۴)

⑨ مسئله :- د ماپښین لمونځ ئې کاوی هروخت چه ځندی فارغه سو بیا ور معلومه سوه چه هغه وخت چه ده لمونځ کړی وو هغه وخت د ماپښین نه وو. بلکه د ماښام یګړوخت داخل سوی وو نو بیا ئې راګرزول واجب نه دی. بلکه هغه لمونځ چه ئې کړی دی په قضایی کښې دریږی او داسې بلل کیږی نکه قضائی چه ئې کړی وی. (منیه ص ۸۸)

⑩ مسئله :- که ئې تروخت مخکې لمونځ وکړی - لمونځ ئې نه صحیح کیږی. مراقی الفلاح ص ۱۱۷ وشرح التنویر ص ۳۶۸ اول ټوک)

د نیت کولو بیان

(۱۱) مسئله:- په څه به سره نیت کول ضروری نه دی بلکه په زړه کښی دونده نیت او نکر کول ضروردی چه زه دنن د ماپښین فرض لمونځ کوم اوکه سنت کوی نو دی داخیال وساتی چه دنن ماپښین سنت کوم بس د غونډی خیال دی وساتی الله اکبر دی ووایی لاسونه دی وترې نولمونځ ئی کیږی کوم چه اوږدی - د راز نیت په خلقو کښی رواج دی اومشهوردی دهغه ویل ضرورنه دی - (شرح التنویر ص۴۳۱ ج۱)

(۱۲) مسئله:- که په څه به سره نیت ویل وغواړی بس دونډی ویل کافی دی - نیت کوم زه دنن د ماپښین د فرض لمانځه الله اکبر - یا نیت کوم زه د ماپښین د سنتو الله اکبر - او څلور رکعاته لمونځ د وخت د ماپښین مخ می دی طرف ته د مکی شریفی دغه ټول ویل ضروری نه دی که ئی ووایی اوکه ئی نه ووایی دد ه خوښه ده - (شرح التنویر ص۴۳۲ اول ټوک اوص۴۳۴ اول ټوک)

(۱۳) مسئله که ئی په زړه کښی داخیال وی چه د ماپښین لمونځ کوم لیکن د ماپښین پرځای ئی د ژبې څخه د مازیګر وخت ترخوله ووایی نو هم ئی لمونځ کیږی - ردالمحتار ص۴۳۱ اول ټوک)

(۱۴) مسئله:- که ئی په هیره سره د څلورو رکعتو پرځای باندی شپږ رکعاته یا دری رکعاته په ژبه وویل نو هم لمونځ کیږی - (ردالمحتار ص۴۳۱ اول ټوک)

(۱۵) مسئله:- که ئی دیر لمونځونه قضا کړی وی او نود قضا راوړلو اراده ئی کړی وه نو دی وخت مقرر کړی نیت دی وکړی یعنی داسی نیت دی وکړی چه زه د سهار قضا ئی لمونځ کوم اوکه ئی د ماپښین د قضا سوی لمانځه راګرزول غرض وی نو داسی نیت دی وکړی چه د ماپښین قضا سوی لمونځ کوم دغه رنګه د هرو خت قضا سوی لمونځ چه راګرزندی خاص دغه وخت نیت باید وکړی. اوکه فقط دونده نیت وکړی چه زه قضائی لمونځ کوم اود دغه خاص وخت نیت ئی نه وکړی نو دغه قضائی لمونځ ئی صحیح نه سو بلکه به دوهم وار لمونځ کوی - (شرح التنویر ص۴۳۲ وص۴۳۴ اول ټوک)

(۱۶) مسئله:- که د پیرو ورځو لمنځونه قضا سوی وه نود. ورځی تاریخ معلومیدل دی هم وکړی بیانو نیت کول په کار دی مثلاً چه د شنبی، یکشنبی، د و شنبی سه شنبی د څلورو ورځو لمنځونه قضا کړی وه نو داسی نیت کول په کار دی چه ورځ او تاریخ هم معلوم کړی د وندی نیت کول چه زه د سهار د لمانځه قضا اوږم صحیح نه دی بلکه داسی نیت دی وکړی چه زه د شنبی د سهار د لمانځه قضا اوږم بیا چه د ماپښین د لمانځه قضا اوږی نیت دی داسی وکړی چه د شنبی د ماپښین د لمانځه قضا اوږم د غه رنګه دی تر پایه نیت کوی چه د شنبی پرتو لمنځونه ئی راوګرزول نو بیادی ووایی چه د یکشنبی د سهار د لمانځه قضا راوږم په د غه طریقه سره دی پرتو لمنځونه راوګرزوی که د پیرو میاشتواو پیرو کلونو لمنځونه ئی قضا سوی وی نو په نیت کولو کی دی د میاشتی او کال نوم هم یادکړی او داسی دی ووایی چه د فلانی کال د فلانی میاشتی د فلانی تاریخ د سهار د لمانځه قضا راوږم۔ (رد المحتار ص۴۲۵ اول پتوک۔ در مختار ص۷۷ اول پتوک)

(۱۷) مسئله:- که دیو څخه تاریخ۔ میاشت او کال د خپلو قضا سوو لمنځونو هیر وو نو فقط د غه قدر دی ووایی نیت دی وکړی چه زما څخه چه هرڅه د سهار لمنځونه قضا سوی دی او زما پر ذمه پاته دی په د غو پرتو لوکی چه تر پرتو لو اول دی د هغه قضا راوږم یا چه د ماپښین هرڅونه لمنځونه زما څخه قضا سویدی په دی کی چه تر پرتو لو اول قضا سویدی د هغه قضا راوږم په د غه طریقه سره دی د قضا سوو لمنځونو راګرزول جاری وساتی هروخت چه ئی زړه شاهدی ورکړی چه هرڅونه دی لمنځونه چه قضا سوی دی هغه اوس پوره راګرزول سوی دی نو بیا دی د لمانځه راګرزول پریږدی۔ (شرح التنویر ص۴۳۳ اول پتوک)

(۱۸) مسئله:- د سنت نفل او تراویح په لمنځونو کښی د وندی قدر نیت کول بس دی چه زه لمونځ کوم د سنت والی یا نفل والی ئی هیڅ نیت و نه کړی بیا هم صحیح دی۔ مګر د سنت او تراویح نیت کول چه پوره د احتیاط خبره ده۔ (در مختار ص۴۳۳ اول پتوک) ص۳۸۵ حاشیه



شپږم باب

د قبلی طرف ته د مخ کولو بیان

(۱) مسئله:- که دا سی خای وی چه قبله نه معلومیږی چه کوم طرف نه دی اوته هلته د پوښتنی مړی وی چه پوښتنه ځندی وکړی نو په خپل زړه کښی دی ښه فکر وکړی چه پرهره خوا ئی یقین سو هغه طرف ته دی لمونځ وکړی او که ئی فکر ونه واهی هسی ئی لمونځ وکړی نو دا لمونځ صحیح نه دی لیکن که وروسته معلومه سوه چه برابر قبلی طرف ته ئی لمونځ کړیدی نو لمونځ ئی صحیح دی او که هلته یو څوک وو- خو شړم د سبیه ئی د هغه څخه د قبلی پوښتنه وکړه هسی ئی لمونځ وکړی نو هم لمونځ صحیح نه دی په دغسی وخت کښی شرم په کار نه دی بلکه پوښتنه دی وکړی وروسته دی خپل لمونځ وکړی (در مختار ص ۴۵۰ و ص ۴۵۲ اول ټوک و فتاوی هندیه ص ۳۹ اول ټوک)

(۲) مسئله:- که ښوونکی د قبلی نه وواوه زړه پر شاهدی او یقین ئی لمونځ وکړی بیا معلومه سوه چه هغه طرف ته چه ده لمونځ کړی وو قبله نه ده نو بیا هم لمونځ صحیح دی. (در مختار ص ۴۵۰ و ۴۵۲ اول ټوک و فتاوی هندیه ص ۳۹ اول ټوک)

(۳) مسئله:- که د قبلی څخه چپه ولاړ وو لمونځ ئی کاوی بیا خاص په لمانځه کی ورمعلومه سوه چه قبله د هغه طرف ته نه ده بلکه فلانی طرف ته ده نو په لمانځه کښی دی د قبلی طرف ته راوګرځی او که تر معلومیږ[1] وروسته راوګرځیدی نو لمونځ ئی صحیح نه دی. (شرح التنویر و رد المحتار ص ۴۵۰ اول ټوک)

(۴) مسئله:- که څوک په کعبه شریفه کښی د نفله لمونځ کوی نو د غه هم روا ده او په کعبه شریفه کښی چه څوک د نفله لمونځ کوی هغه لره اختیار دی چه هر طرف ته مخ کوی لمونځ دی وکړی. (مراقی الفلاح ص ۶۷)

(۵) مسئله:- په کعبه شریفه کښی د نفله فرض لمونځ هم صحیح دی او نفل لمونځ هم صحیح دی. شرح التنویر ص ۴۵۴ اول ټوک)

---

[1] یعنی که تر دوه ګډی وخته پوری نه راوګرځیدی چه دری واړه سړی ان الله کی ویلای سی نو بیا ئی لمونځ نه کیږی ۱۲ تصحیح الاغلاط

باب ۱ دم | دفرض لمانځه دکولو دطریقی بیان

(۱) مسئله:- دلمانځه نیت دی وکړی او الله اکبر دی ووایی- اود الله اکبر دویلو په وخت کښی دی خپل دواړه لاسونه تر اوږو[۲] پورې ورسوی لاسونه دی په وخت دیورته کیدو کښی د چادر او پورهونی څخه دباندی نه باسی. (شرح التنویر ص۵۰۳ الاتوک) بیا دی لاسونه پر سینه[۳] کښیږدی او دراسته لاس ورغوی دی چپه لاس پرشا[۴] کښیږدی (شرح التنویر ص۵۰۷ اول توک) او دا دعا دی ووایی- سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِکَ وَتَبَارَکَ اسْمُکَ وَتَعَالٰی جَدُّکَ وَلَآ اِلٰهَ غَیْرُکَ- بیا دی اعوذ بالله او بسم الله ووایی دروسته دی الحمد لله ووایی اود وَلَا الضَّآلِّیْنَ دروسته دی آمین ووایی او بیا دی بسم الله اویو سورت ووایی بیا دی الله اکبر ووایی او رکوع ته ځی ولاړه سی او سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْمِ دی یا درې[۵] واړه یا پنځه[۶] واړه یا اوو[۷] واړه ووایی (درمختار ص۵۰۹ اول توک وهدایه ص۸۹ اول توک وردالمحتار ص۵۱۱ اول توک) او په رکوع کښی دی دواړه لاسونه ګوتی سره ومنډلوی اوپر[۸] څنګونو دی ټینګ کښیږدی او دواړه بازوګان او مټان دی دبغلو سره بنه[۹] ومنډلوی اود دواړو پښو ګوتی دی بنې سره[۱۰] ومنډلوی (شرح التنویر ص۵۱۵ اول توک) بیا دی سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ- رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ- په داسی حال کښی ووایی چه سر پورته کونکی وی کله چه برابر ودریږی بیا دی الله اکبر ووایی او سجدی ته دی ولاړ سی او اول دی څنګنو نه پر ځمکه کښیږدی او بیا دی لاسونه دغوږو[۱۱] پر برابر کښیږدی اوګوتی دی بنه سره چسپیدلی او منډلولی کښیږدی (شرح التنویر ص۵۱۵ اول توک) او بیا دی دواړه لاسونه په مابین کښی تندی کښیږدی اود سجدی په وخت کښی دی پزه او تندی

۱ یعنی الله اکبر ووایی ۲ اوږی ترمیو پورې ۳ ناف لاندی ۴ دښی لاس ۵ دری ځله ۶ پنځه ځله ۷ اووه ځله ۸ دواړه لاسونه ۹ بنه راسته لاس ۱۰ لاسونو ګوتی ۱۱ اوناریناوی

دواړه پر محکه کښیږ دی د لاسو او پښو گوتی دی د قبلی طرف نه مخامخ کړی۔ (مراقی الفلاح) لیکن پښی به نه درومی بلکه راسته طرف نه به پښی باسی۔ (بحرالرائق وشرح التنویر ص۵۲۷) او بنه دی سړه چسپیده کا سی او بنه دی سړه ومښلی چه نس ټی د دواړو وړ نو سړه او یا زړه گان ټی د بغلو سړه مښتی وی او څینگلی او لیچونه دی پر محکه کښیږ دی۔ (در مختار ص۵۲۶ اول ټوک وص۵۴۶ لومړی ټوک) او په سجده کښی دی لږ تر لږه دری واړه سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی ووایی بیا دی په داسی حال کښی پوره ته سی چه الله اکبر ویونکی وی۔ (منیه ص۱۰۳) او بنه سمه دی کښینی او بیا دی الله اکبر ووایی دوهم سجده دی وکړی اولږ تر لږه دی دری واړه سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی۔ ووایی او په الله اکبر ویلو سره دی ولاړه سی دپوره ته کیدو په وخت کښی دی لاسونه پر محکه نه تکیه کوی شرح التنویر ص۵۲۷ اول ټوک" بیا دی په دوهم رکعت کښی اول وار بسم الله بیا الحمد لله او بیا سورت ووایی۔ دوهم رکعت دی پدغسی طریقه سړه لکه اول رکعت پوره کړی۔ (شرح التنویر ص۵۲۷ اول ټوک) چه دوهم رکعت دپاره ټی دوهم سجده وکړه نو پر چپه کونا ټی دی کښینی او دواړه پښی دی راسته طرف ته وباسی او دواړه لاسونه دی پر خپلو ورهو کښیږ دی او گوتی دی بنه پیوسته او مښلولی وساتی۔ (ردالمحتار ص۵۲۶ اول ټوک) او التحیات دی ووایی (شرح التنویر ص۵۳۱ اول ټوک) اَلتَّحِیَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّیِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ اَیُّهَا النَّبِیُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلسَّلَامُ عَلَیْنَا وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِیْنَ۔ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ۔ او چه هر کله د لا کلمی ته ورسیږی نو دی د مابین د گوتی او بټی گوتی څخه حلقه (کړی) جوړه کړی کومه گوته چه د مابین د گوتی او بټی گوتی تر منځ ده هغه دی په وخت کښی د لَآ اِلٰهَ کلمی ویلو پوره ته کړی او د اِلَّا اللّٰهُ کلمی ویلو په وخت کی دی بیرته کښته کړی مگر غوته کیدل او حلقه دی تر پایه پریږ دی۔ (مراقی الفلاح ص۱۵۵ وردالمحتار ص۵۳۰ اول ټوک که ټی څلور رکعاته لمونځ کاوی نو تر کلمه شهادت وروسته دی نور څه نه وایی بلکه دستی دی پوره ته سی په الله اکبر ویلو اودوه رکعاته دی نور وکړی او په

له نارینه ... د مسجده کی پر زانګه ... قبله مخه سره کوی ... وی او لاسونه ... د بغلو څخه ... له نارینه ... مخکښ ... د ... ی ... التنویر ص۵۲۷ اول ټوک ... وصفحه ص۱۰۳ ... او نارینه ... ی ... باسی بلکه راسته ... د ... ی ... ښکته ... د ... ی او پریږدی ... محرمی ... الفلاح ... ولی ... صرف فی ... والدین ... ووقته ... وقبل ... ولی ... آمین یا ... الضالین ...

فرض لمانځه کښی په آخرو دو رکعتو نوکښی دی د الحمد لله سره کوم بل سورت ته
وایی۔ (شرح التنویر ص۵۳۳ اول توک) او چه پرځلورم رکعت کښینی بیادی التحیات ووائی
اوورو سته دی دغه درود شریف ووایی۔ (شرح التنویر ص۵۳۴ اول توک) اَللّٰهُمَّ
صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ
حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ۝ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ
وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ۝ بیادی دغه دعا ووایی۔ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا
حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ۔ یادی دغه دعا ووایی اَللّٰهُمَّ
اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِجَمِيْعِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ اَلْاَحْيَاءِ
مِنْهُمْ وَالْاَمْوَاتِ ۝ یادی بله دعا وکړی چه په قرآن شریف یا حدیث شریف کښی
راغلی وی۔ (شرح التنویر ص۵۴۳ اول توک) بیادی خیل راسته طرف ته سلام و
گرزوی اوداسی ووایی اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ بیادی داغه سلام ووایی او چپه طرف
ته دی سلام وگرزوی۔ (شرح التنویر ص۵۴۷ اول توک) او د سلام گرزولو په وخت کی
دی پر فرشتو د سلام کولو نیت وکړی۔ (هدایه ص۱۰۴ اول توک) د غه د لمانځه دکولو
طریقه ده لیکن په لمانځه کښی چه هرڅوندی د فرضونه دی هغه که یو هم پاته سی
لمونځ نه کیږی که قصداً وی اوکه په هیره سره وی د د واړو حکم یو دی اوبعضی
شیان واجب دی که ئی یو واجب د واجباتو قصداً پریښوی نو لمونځ ئی ناقص دی
بیرته به لمونځ کوی اوکه ئی څوک بیرته ونه کړی نو خیر هغه فرض ئی د غاړی
څخه اوړی لیکن ډیره سخته گناه ده اوکه په هیره سره واجب پریږدی نو چه سجده
سهوه وکړی لمونځ ئی صحیح اوثابت دی۔ (درمختار ص۴۷۵ اول توک) بعضی شیان په
لمانځه کښی سنت او بعضی مستحب دی۔ (درمختار وردالمحتار ص۴۹۳ اول توک)

(۲) مسئله ۱- په لمانځه کښی شپږ شیان فرض دی د نیت تړلو په وخت کښی
الله اکبر ویل۔ په لمانځه کښی د قیام د لاړه۔ د قرآن شریف څخه یو سورت یا ایت ویل۔ رکوع

کول - د واړې سجدې کول اود لمانځه په آخیر کښې چه څوندی وخت پر التحیات ویلو لکیږی په دعا ندی اندازه سره کښې نسته - (شرح البدایه ص۹۲ اول توک)

(۳) مسئله :- د دغه شیان په لمانځه کښې واجب دی الحمد لله ویل - د الحمد لله سره یو سورت ملګری کول - هر فرض پرخپل خپل ځای ادا کول - اول په لمانځه کښې دریدل بیا الحمد لله ویل بیا سورة وروسره ملګری کول - بیا رکوع کول بیا سجده کول - د دوو رکعتونو څخه وروسته کښینستل یعنی اوله ناسته کول - په دواړو ناستو کښې التحیات ویل - دوتر په لمانځه کښې دعاء قنوت ویل - (شرح البدایه ص۹۳ اول توک - مراقی الفلاح ص۱۳۵ پ۱ ج۱ پ۱ ج۱ پ۱ ج۱

واجب دی اوکه ئی په هیره دا سی وکړه بیادی سجده سهو وکړی۔(عالمگیری ص۸۱ ج ۱

(۸) مسئله:۔ تر الحمد لله ورسته بایه لږ تر لږه دری آیاتونه ووائی که صرف یو آیت یا دوه آیتونه تر الحمد لله ورسته ووایی که دغه آیت دوند ه لوی وی چه د درولنه ولنه و آیتونو سره برابر وی بیائی هم لمونځ صحیح دی۔(مراقی الفلاح ص۱۳۵ اول پتوک ودر مختار ص۴۷۷ اول پتوک)

(۹) مسئله:۔ که څوک ورسته تر رکوع قومه وکړی یعنی ودریږی سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ مګر رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ط نه ووایی یا په رکوع کښی سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْمِ نه ووایی یا په سجده کښی سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی نه ووایی یا په آخیره ناسته کښی تر التحیات ورسته درود شریف و نه ووایی نو لمونځ ئی صحیح دی۔ لیکن د سنت طریقی خلاف کار دی۔ دغه رنګه که تر درود شریف ورسته یوه دعا چه اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا یا بله دعا نه ووایی۔ صرف درود شریف ووایی او سلام وګرځوی بیا هم لمونځ صحیح دی لیکن د سنت طریقی څخه خلاف کار دی۔(در مختار ص۵۱۵ ج ۱)

(۱۰) مسئله:۔ د نیت کولو په وخت کښی لاس پورته کول سنت دی که چا پورته نه کړل لمونځ ئی صحیح دی مګر د سنت طریقی خلاف کار دی۔(شرح التنویر ص۴۹۴ اول پتوک)

(۱۱) مسئله:۔ په هر رکعت کښی مخکی تر الحمد لله دیلو دی بسم الله ووایی او که د الحمد لله سره بل سورت ملګری کوی هم تر سورت دیلو مخکی بسم الله وبل بهنزه دی۔(رد المحتار ص۵۱۱ اول پتوک)

(۱۲) مسئله:۔ د سجدی په وخت کښی که پزه او تندی دواړه پر مځکه و نه لګوی بلکه یوازی تندی کښیږدی او پزه نه کښیږدی نو هم ئی لمونځ صحیح دی او که تندی پر مځکه نه کښیښوی فقط پزه ئی کښیښوه نو لمونځ ئی صحیح نه دی البته که مجبوری وه نو فقط پزه لګول هم صحیح دی۔(شرح التنویر ص۵۲۰ اول پتوک)

(۱۳) مسئله:۔ که تر رکوع ورسته ښه و نه دریږی لږ څه ئی سر پورته کړی او سجدی ته ولاړه سی لمونځ دی صحیح دی او ګرځوی۔(رد المحتار ص۴۸۴ و ۵۱۹ اول پتوک۔ عالمگیری ص۴۴ لومړی پتوک)

(۱۴) مسئله:- که د دو(۲) سجدو په مابین کی بنه سمه نه کښینسته لږ اندازه ئی سر پورته کړی د دهم سجدې ته ئی وکړه نو که ئی بیخی لږ سر پورته کړی نو یوه سجده سوه ده دا پرې سجدې ادا نه سوی بالکل ئی لمونځ صحیح نه دی او که ئی سر د وندی پورته کړی چه نژدی وناستی ته وه نو فرض ئی د ذ می څخه پورته سو لیکن لمونځ ئی ناقص او خراب دی د دغه سببه ئی باید ببیرته راوګرځوی[طلا] وی که ئی نه راوګرځوی نولوبیه ګناه ده که. (رد المحتار ص۴۸۳ لومړی توک)

(۱۵) مسئله:- هغه شی چه د بهنکو، وهیو او پښو څخه څک وی سجده پرکوی او یا پرداسی نور و نرمو شیانو باندی سجده کوی نو سر دی بنه کښیکاږی او پرسر دی زور کوی او سجده دی وکړی پرسر دی دوند ی زور وکړی چه بالا نه جوړیږی که ئی پرد غو شیانو صرف په اشاره سجده سر کښیښنوی او پرسر ئی زور نه کړی نو سجده نه صحیح[طلا] کیږی. (منیه ص۹۶)

(۱۶) مسئله:- د فرض لمانځه په دوو آخرو رکعتو کښی که ئی تر الحمد لله وروسته سورة هم وایي لمونځ ئی صحیح دی تاوانی نه دی بالکل صحیح دی. (درمختار ص۵۳۳ ج ۱)

(۱۷) مسئله:- که په اخیرو د دو(۲) رکعتو کښی د فرض لمانځه ئی الحمد لله نه وویله بلکه دری واړه سبحان الله - سبحان الله ووایي هم لمونځ صحیح دی لیکن الحمد لله ویل بنه خبره ده که څه ونه وایي او پته خوله ودریږی هم هیڅ پروا نه لری لمونځ صحیح دی (شرح التنویر ص۵۳۳ اول توک)

(۱۸) مسئله:- په اولو د دو(۲) رکعتو کښی د الحمد لله سره سورة ملګری کول واجب دی. که څوک په اولو د دو رکعتو کښی فقط الحمد لله ووایي او سورة ورسره ونه وایي یا الحمد لله هم پریږدی او سبحان الله - سبحان الله ووایي نو په آخیرو د دو(۲) رکعتو کښی باید د الحمد لله سره سورة ملګری کړی او که ئی قصداً غسی کړی وه نو لمونځ دی دسره وکړی او که ئی په هیره کړی وه نو دی سجده سهوه وکړی. فتاوی هندیه ص۴۳ اول توک درد المحتار ص۵۵۸ اول توک.

(۱۹) مسئله:- په لمانځه کښی الحمد لله، سورت او تول نور شیان دی آهسته او پټ[طلا] وایي

لیکن داسی ویل ئی په کار دی چه دائی پخپله اوری اوکه ئی دوندی کړار اوبیت وایه چه پخپله ئی هم نه اوریدی خپل[۱] آواز نو لمونځ ئی صحیح نه دی (شرح التنویر ص۵۵۷ اول ټوک او شرح البدایه ص۱۰۶ اول ټوک او در المختار)

(۲۰) مسئله:- د هیڅ لمانځه دپاره یو خاص سورة مه مقرره وی بلکه چه زړه ئی غواړی هغه سورت دی پکښی ووایی- د سورة مقرره[۲] ول او معلومول مکروه دی (هدایه ص۱۰۸ اول ټوک و شرح التنویر ص۵۶۷)

(۲۱) مسئله په دوهم رکعت کښی دی تر اول رکعت ډیر اوبد سورة نه وایی- شرح التنویر ص۵۶۶) اول ټوک)

(۲۲) مسئله:- ټولی بنځی دی خپل لمانځونه جلا جلا کوی په جماعت سره دی ئی نه کوی او د جماعت دپاره مسجد ته ورتلل او د خلقو سره یوځای لمونځ کول باید ونه کړی اوکه یو بنځه د خپل خاوند یا د محرم سره په جمعه لمونځ کوی نو دی مسئلی یو بنستنه دی دبل چا څخه وکړی څکه چه دا مسئله ډیره کمه پیښیږی- نو موږ ئی بیان نه وکړی حواله موبل ته ورکړه البته دوندی خبره دی ضرور یاد ساتی که داسی موقع راغله نو د نارینه[۳] سره دی برابره نه دریږی بالکل دی شانته ودریږی اوکه داسی نه کوی نو دی لمونځ هم نه کیږی او د سړی لمونځ هم نه کیږی شرح التنویر ص۵۹۰ اول ټوک و هدایه ص۱۱۰ اول ټوک)

(۲۳) مسئله:- که ئی په لمانځه کښی اودس مات سی نو اودس دی وکړی او لمونځ[۴] دی بیا وکړی- (فتاوی هندیه ص۵۹ اول ټوک او هدایه ص۱۱۵ اول ټوک)

(۲۴) مسئله:- مستحب دادی چه ولاړه وی نو دی د سجدی ځای ته ګوری او چه رکوع ته ولاړه سی نو دی وپښو ته ګوری او چه سجده کوی نو دی پزی ته ګوری او د سلام ګرزولو په وخت کی دی اوږو ته ګوری او چه اړخ می ورته ودریږی نو دی خوله سره بنده کړی اوکه خوله نه بنده کړی نو دلاس په شادی خوله بنده کړی او چه ټوخ ورته ودریږی[۵] ترڅو چه طاقت ئی وی ټوخ دی بند کړی (شرح التنویر ص۴۹۸ اول ټوک)

---

[۱] د مسئلی په بیان کی د سوال او جواب په لمانځه (الفتاوی) کی د سجدی ځای ته ګوری (الفتاوی) د مسجد د جماعت تاسیس په بهشتی زیور کی موجود دی [۲] فتح القدیر لیکی که سورة فاتحه هم ولولی نو هیڅ حرج نشته [۳] د نارینه سره برابر نه دریږی ځکه چه د بنځی آواز د نارینه په شان نه وی بلکه مستحب دادی چه ټیټ آواز سره ولولی [۴] که د لمانځه په منځ کی وضو ماته سی نو د لمانځه ټول کړنه باطله ده [۵] د ټوخ ورته د ودریدو حکمت دادی چه ټوخ د ښځینه ستر دی او د ښځینه ستر د نارینه په شان نه دی [۶] د ټوخ ورته د ودریدو حکمت دادی چه ټوخ د ښځینه ستر دی او د ښځینه ستر د نارینه په شان نه دی

باب	دقرآن مجید دویلو بیان	اتم

① مسئله:- قران شریف صحیح صحیح ویل واجب دی هرحرف دی سم سم دوایی د همزه او عین په مابین کښی چکوم فرق دی دغه رنگه دلوی - ح - او کوچنی - ه - په مابین کښی او د - ذ ، ظ ، ز ، ض په مابین کښی او د - س ، ص ، ث - په مابین کښی چه فرق دی په تلفظ او ویلو کښی هم باید فرق وکړل سی - د یوه حرف پرځای دی بل حرف نه وایی.

② مسئله:- که یوځوک یوحرف نه سی ادا کولای مثلاً د - ح - پرځای - ه - وائی یا - ع - نه سی ادا کولای یا - س ، ث ، ص ټول په سین سره وایی نو د صحیح - ویلو تمرین اوزده کړه پرلازمه ده که د صحیح ویلوکوشش نه کوی - نو گنهگار ده او د دی هیڅ لموڅ صحیح نه دی البته که په کوشش کولو سره ئی هم سم نه سی ویلای بیا نو مجبوری ده. (غنیه ص۴۵۳ و شرح التنویر ص۶۰۸ اول ټوک)

③ مسئله:- که ح - ع - او نور حرفونه ادا کولای سی لیکن د بی باکی او بی پروایی د سبیه د - ح - پرځای - ه - او د - ع - پرځای - همزه - همیشه وایی په خیال او فکر سره دغه حروف نه وایی نو گنهگار ده لموڅ ئی هم صحیح نه دی - (رد المحتار ص۶۶۲ اول ټوک - منیه ص۱۳۹)

④ مسئله:- که یو سوره په اول رکعت کښی و وایی او هغه سوره په دوهم رکعت کښی بیا و وایی نو هیڅ پروا نسته لیکن بیله ضرورته داسی کول ښه نه دی - (رد المحتار ص۵۷۰ شپږم ټوک و شرح التنویر)

⑤ مسئله:- هر قسم چه په قرآن شریف کښی د سورتونو ترتیب دی په همدغه ترتیب سره باید په لمانځه کښی و ویل سی - کوم چه دعم یتساءلون په سپاره کښی سورتونه لیکل سوی دی په دغه ترتیب دی په لمانځه کښی سورتونه نه وایی حکه چه د دغی سپاری ترتیب د سورتونو د قرآن شریف د سورتونو د ترتیب څخه سره چپه دی - نو سورتونه دی داسی وایی چه په اول رکعت کښی یو سورت و وایی نو په دوهم رکعت کښی به تر دغه سوره روسته سوره وایی تر دغه مخ کی سوره به نه وایی مثلاً یو چا

په اول رکعت کښی قُلْ یٰٓاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ وایي نو اوس به اِذَا جَآءَ یا قُلْ هُوَ اللّٰهُ یا قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ یا قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ وایي او اَلَمْ تَرَ کَیْفَ، لِاِیْلٰفِ او نور سورتونه چه تر دغه ویل سوی سورة مخکی دی نه به ئې وایي دغه قسم ویل مکروه دی - لیکن که په هیره سره ئې دغه قسم وایي نو مکروه نه دی. (ردالمحتار ص۵۷۱ اول پتوک وشرح التنویر ص۵۷۰ اول پتوک)

(۶) مسئله :- چه یو سورة شروع کړي بیا دغه سورة په مابین کې پریږدي بل سورة بیله کوم ضرورته شروع کړي دا مکروه دی. (ردالمحتار ص۵۷۱ اول پتوک)

(۷) مسئله :- دچا چه لمونځ نه وي زده یا نوی نوی مسلمان سوی وي نو دی هر ځای سبحان الله سبحان الله وایي نو فرض ئې ادا کیږي لیکن د لمانځه زده کړه دی جاري وساتي که په لمانځه زده کولو کښی ځنډ وکړي نو په ګناهګار کیږي. (شرح التنویر ص۵۰۲ اول پتوک)

نهم باب — دلمانځه دمانونکو شیانو بیان

(۱) مسئله :- که لمونځ کونکی قصدًا یا په هیره سره په لمانځه کښی خبری وکړي نو لمونځ ئې فاسد دی. (هدایه ص۱۱۹ اول پتوک)

(۲) مسئله :- که په لمانځه کښی - آه - یا - اوه - یا - اُف - یا - های - وایي یا په زوره ژاړي نو لمونځ ئې دمابینه ولاړي البته که د جنت یاد د دوزخ د یاد د ولوخځه ئې زړه ټک سو او په زوره ئې آوازونه وکښی یا - آه - یا - اُف - یا بل څه ئې ترخوله ووتل - نو لمونځ ئې نه فاسدیږي. (هدایه ص۱۲۰ اول پتوک)

(۳) مسئله :- بیله ضرورته توخل - غاړي تازه کول چه د دغه څخه یو ونیم حرف هم پیدا سی نو لمونځ ئې ماتیږي البته د مجبورۍ په وخت کې توخل یا غاړي تازه کول پروا نه لري لمونځ ئې صحیح دی. (شرح البدایه ص۱۲۰ اول پتوک)

(۴) مسئله په لمانځه کښی ئې وپرځي یعنی وایي نو بزل او الحمد لله ئې پرووایل نو لمونځ ئې نه دی فاسد لیکن ویل ئې مناسب نه دی او که بل چا وپرځي او ده په حالت کې د لمانځه دهغه دپاره یرحمک الله ووایل نو لمونځ ئې فاسدیږي. شرح البدایه ص۱۲۰ اول پتوک)

(۵) مسئله:- په لمانځه کښی چه قرآن شریف ته گوری او قرأت کندی وایی نو لمونځ ئی فاسد یږی۔ (شرح البدایه ص۱۲۲ اول توک و نهایه)

(۶) مسئله:- که په لمانځه کښی دوندی یو خواته وگرزیدله چه سینه ئی د قبلی د طرفه څخه واوښته نو لمونځ ئی فاسد دی۔ (شرح التنویر ص۶۴۳ - اول توک)

(۷) مسئله:- د چا د سلام جواب ورکول په وعلیکم السلام سره لمونځ فاسد وی — (شرح التنویر ص۶۴۳ - اول توک)

(۸) مسئله:- که ئی په لمانځه کښی پښتی (دسر ورپښتان) سره وترلی یا ئی د لمانځه څخه خلاف بل کار وکړی نو لمونځ ئی فاسد دی۔ (شرح التنویر و رد المحتار ص۶۷۱ اول توک)

(۹) مسئله:- که ئی په لمانځه کښی دیوشی خورک وکړی یا ئی وچینبی نو لمونځ ئی فاسد دی تر دا سی حده که د ځغود یا کنجتی دانه یاد غوښی ریښه ئی راپورته کړه او بیا ئی وخوړله نو هم لمونځ فاسدیږی البته که د غوښی ریښه یا بل شی ئی په غاښو کښی بند وُو تیر ئی کړی نو که د ځغود تر دانی کم وُو نو لمونځ ئی نه فاسدیږی او که د ځغود سره برابر یا زیات وُو نو لمونځ ئی فاسد دی۔ (شرح التنویر ص۶۵۱ اول توک)

(۱۰) مسئله:- که ئی په خوله کښی پان وی چه او به او اثر ئی ستونی ته رسیږی نو لمونځ ئی نه کیږی۔ (رد المحتار ص۶۵۱ اول توک)

(۱۱) مسئله:- یو خوږ شی ئی خوړلی وو بیا ئی په خوله او به وگرزولی بیا ئی لمونځ شروع کړی لیکن په خوله کښی ئی لږ څه خوند پاته وو چه د ناړو سره ستونی ته تلی نو لمونځ ئی صحیح دی۔ رد المحتار ص۶۵۱ اول توک)

(۱۲) مسئله:- په لمانځه کښی ئی د خوشحالی خبره واورېده او یو ځل ئی الحمد لله و ویل او یا ئی د چا د مرگ خبر واورېدی یو ځل ئی إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ وویل نو لمونځ ئی فاسد دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۳ اول توک۔ وشرح التنویر ص۶۴۸ اول توک)

(۱۳) مسئله:- سنځه په لمانځه کښی وه کوچنی ئی پرتی خوله کښیښوده شیدی ئی وروډلی لمونځ ئی فاسد دی او که ئی خوله پرکښیښوده خو شیدی ترتی نه راووتی بیا فاسد نه دی۔ (شرح التنویر ص۶۴۹ اول توک)

(۱۴) مسئله:- کوچنی یا بل شی غوږ ته رسو نو بسم الله ئی وویل لمونځ ئی مات دی۔ شرح التنویر ص۶۵۲ اول توک)

(۱۵) مسئله:- د الله اکبر د الله الف ئی ولاړ کړی یعنی اللهُ اکبر ئی ووایه یا ئی

اکبر[۵۰] دوایه نولمونځ ئی فاسد دی۔ (رد المحتار ص۵ اول ټوک)

(۱۶) مسئله:- په لمانځه کی ئی پرخط یا کتاب نظر ولګیدی او مرض ئی په زړه کی دوایه او مرض په زړه کښی ئی په مطلب پوه سوه نولمونځ ئی نه فاسدیږی اوکه ئی په ژبه ووایی نولمونځ ئی فاسدیږی۔ (شرح البدایه ص۱۲۲ اول ټوک)

(۱۷) مسئله:- د لمونځ کونکی په مخ کښی که یو څوک تیرسی، یا سپی، پشی، بزه یا بل شی تیرسی نولمونځ ئی نه فاسدیږی۔ لیکن دغه څوک چه لمونځ کوونکی په مخ کښی تیریږی چې سخت ګناهګار ده دی دد غه سببه داسی ځای لمونځ کول مناسب دی چه تر مخ ئی څوک نه تیریږی او تلونکو اوراتلونکو ته تکلیف نه وی اوکه دغسی جلا ځای نه وو نو په خپل مخکی دی لرګی ودروی چه لږ تر لږه یولاس اوږد او دیوی ګوتی په اندازه پینډ وی اود غه لرګی ته دی ودریږی اود یږی پر برابری دی لرګی نه دره وی بلکه دراسته یا چپه سترګی پر برابر دی لرګی ودره وی اوکه لرګی نه وو نو یو بل شی چه جګو الی ئی د د غه لرګی سره برابر وی لکه پینډ منډ و مخ ته دی ئی کښیږدی اوس د لمونځ کوونکی تر مخ تیریدل پروا نه کوی اوګناه نه ده۔ (شرح التنویر ص۶۶۳ اول ټوک)

(۱۸) مسئله:- دخه ضرورت په وجه که یوقدم دوه مخ ته ولاړه یا شاته ولاړه اود قبلی څخه ئی سینه نه وګرزیده نولمونځ ئی صحیح دی لیکن که مخ ته دوندی ولاړه چه د سجدی تر ځای هم تیره سوه نولمونځ ئی فاسد اومات سو۔ (شرح التنویر ورد المحتار ص۶۵۵ اول ټوک)

لسم باب — دهغوشیانوبیان چه په لمانځه کښی منعه اومکروه دی

(۱) مسئله:- مکروه هغه شی دی چه لمونځ نه په فاسدیږی لیکن ثواب په کمیږی اوپه کولوسره ئی ګناه لازمیږی (رد المحتار ص۶۶۷ اول ټوک)

(۲) مسئله:- په خپلو جامو یا بدن یا زیورا تولکه۔ بنګړی، شهباز، سره بازی کول یاد سجدی د ځای یا بل ځای څخه سنګریزی (شګی) هسته کول مکروه دی۔ البته که ئی د سنګریزو د سببه سجده نه سوه کولای ئی اومخ ئی ورخوږ اوی نو یو یاد دوه واړه چه ئی په لاس سره برابری کړی یا ئی لیری کړی پروا نه لری۔ (شرح البدایه ص۱۲۴ ج۱ منیه ومعدی عالمګیری ص۱۱۱ ج۱)

عه یعنی داکبر الف ئی اوږد کړی او اکبر ئی ووایی ۱۲ منه

(۳) مسئله:- په لمانځه کښې په ګوتو سره ټکان کول پرکونا تپوا و تشتو لاسونه اینبوول وراسته یا چپه طرف ته مخ ګرزول د پاره د دی چه چپه او راسته طرف ته وګوری دا ټول مکروه دی البته د ستر ګو تر بغلو او کونجیانو کتل چه مخ ور سره وونه ګرزوی مکروه نه دی لیکن بیله سخت ضرورته داسی کول هم په کار نه دی. (شرح البدایه ص۱۲۴ ج ۱)

(۴) مسئله:- په لمانځه کښې چه دواړه پښې جګې ودروی او پرکښینی یا چار زانو کښینی یا په شان د سپی کښینی دغه ټول مکروه دی لیکن د مریضی په سبب که هغه رنګه نه سو کښینستلای کوم چه د شریعت حکم دی نو هر قسم ناسته چه ورته آسانه وی هغسی دی کښینی هیڅ مکروه والی نسته. (شرح البدایه ص۱۲۴ اول ټوک و شرح التنویر ص۶۶۴ اول ټوک)

(۵) مسئله:- د سلام په جواب کښې لاس پورته کول مکروه دی او که ئې په ژبه سره جواب ورکړی نو لمونځ ئې فاسدا و مات دی لکه مخکې چه بیان سوه داخبره شرح التنویر ص۶۷۳ اول ټوک)

(۶) مسئله:- په لمانځه کې دیوی او بلی خوا کالی راټولول او برابرول چه په خاورو نه سی مکروه دی. (شرح البدایه ص۱۲۵ اول ټوک)

(۷) مسئله:- په داسی ځای کښې چه دا بیره وی چه څوک می په لمانځه کښې خندوی او یا می فکر ګډوډ کیږی د لمانځه څخه می فکر اوړی لمونځ کول مکروه دی رد المحتار ص۶۸۴ لومړی ټوک)

(۸) مسئله:- که څوک مخکې ناسته وی خبرې کوی یا یو بل کار کوی نو د دغې و شاته چه مخ ئې و لمونځ کوونکی ته نه وی لمونځ مکروه نه دی او که هغه د دی د لمانځه څخه په تکلیف کیدل دا ئې د لمانځه څخه منعه کولای نه سوه څنډی بیریده کا بیا مکروه دی نو په داسی حال کښې دی د چا وشاته لمونځ نه کوی یا هغه په ډیر زور زور سره خبرې کوی چه په لمانځه کښې د خطا وتلو بیره وه نو هلته لمونځ باید وونه سی مکروه دی او که ئې لمونځ کاوی کوم څوک چه د دی په مخ کښې ناست دی د هغه ورته مخ وګرځوی. نو لمونځ کول په داسی حال کښې مطلقًا مکروه دی. (شرح التنویر ص۶۸۱ اول ټوک و عالمګیری ص۶۹ اول ټوک)

(۹) مسئله:- که د لمونځ کوونکی مخ ته قرآن شریف وی یا تورې راځړیدل پروا نه لری شرح التنویر ص۶۸۱ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:- پرکوم فرش چه عکسونه وی پرهغه باندی لمونځ کول پروا نه کوی. لیکن د عکس پرځای دی سجده نه کوی عکسدار ه مسئله اوجانماز ایښوول مکروه دی اود عکس یابت ایښوول په کورکښی مکروه دی. (رد المحتار ص۶۷۷ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:- که عکس پرسرلوړ یعنی د خونی په چت کښی دو یا تر چت لاندی بل کښته چت ئی جوړکړی وی په دغه کښی عکس جوړ سوی دو یا په مخ کی وی یا راسته طرف ته یا چپه طرف ته وی نو لمونځ مکروه دی اوکه تر پښو لاندی وی نو لمونځ مکروه نه دی لیکن که پیروړ کی عکس وی چه پرمځکه ئی کښیږدی په ولاړی نه معلومیږی یا پوره عکس نه وی بلکه سر ئی پری سوی وی یا خراب سوی وی نو بیا پروا نه لری په داسی عکس سره په هیڅ حال کښی لمونځ مکروه نه دی که مخ ته وی یا بل طرف ته وی. شرح التنویر ص۶۷۸ اول ټوک)

(۱۲) مسئله:- د عکس لرونکی جامی سره لمونځ کول مکروه دی. (شرح التنویر ص۶۰۶ اول ټوک)

(۱۳) مسئله:- د درختی یا کور یا دبی روحه شی نقشه مکروه نه ده (شرح التنویر ص۶۷۸ ج ۱)

(۱۴) مسئله:- په لمانځه کښی د ننه آیا تونه یا بل شی په ګوتو سره حسابل مکروه دی البته که پرګوتو زور راولی شمیر دا یا تونو یا بل شی یاد ولری بیامکروه نه دی. (شرح التنویر ص۶۸۰ اول ټوک)

(۱۵) مسئله:- د دوهم رکعت پیراوړد ول تر اول رکعت مکروه دی. (شرح التنویر ص۵۶۶ ج۱)

(۱۶) مسئله:- په لمانځه کښی یو سورة مقرروول چه همیشه دغه سورة وایي یو بل سورة هیڅکله نه وایي مکروه دي. (شرح التنویر ص۵۶۷ اول ټوک)

(۱۷) مسئله:- پراوږو پورې نی یادسمال اچول په داسی شان چه څرید لی وی مکروه دی. (شرح التنویر ص۶۶۸ اول ټوک وهدایه ص۱۲۵ اول ټوک)

(۱۸) مسئله:- په پیرو بدو او خیرو نو زړو کالو کښی لمونځ کول مکروه دی اوکه نور کالی نه وی بیا پروا نه لری. (شرح التنویر ص۶۷۰ اول ټوک)

(۱۹) مسئله:- پیسه او توری روپی او داسی نور شیان په خوله کی نیول اولمونځ ورسره کول مکروه دی اوکه ئی داسی شی په خوله کښی نیولی وی چه لمونځ او قرائت ئی نه سوی هیره ویلای نو بیا ئی لمونځ مات دی. (شرح التنویر ص۶۷۰ اول ټوک)

۱۹۲

(۲۰) مسئلہ:- چه څه وخت د لوبو بولو او وړو بولو څخه په بر په تکلیف وی نو په دا سی وخت کښی لمونځ کول مکروه دی۔ (شرح التنویر ص۶۷ اول توک)

(۲۱) مسئلہ:- چه څوک په بر وبزی وی او خوراک برابر او تیار وی اول دی چوپړی وخوری بیا دی لمونځ وکړی بیله خوراکه لمونځ کول مکروه دی۔ البته که وخت تنګ وو بنودی اول لمونځ وکړی بیا دی چوپړی وخوری۔ (غنیه ص۳۲۳ ورد المحتار ص۶۸۳ اول توک)

(۲۲) مسئلہ:- په پتو ستر گو لمونځ کول مکروه دی۔ لیکن که ئ په پتو لو د ستر گو حضور ښه برابر ید ی او زړه ئ لمانځه ته ښه فارغه کیدی بیا ستر گی پتول هیڅ پروا نه لری۔ (شرح التنویر ص۶۷۴ اول توک)

(۲۳) مسئلہ:- بیله ضرورته په لمانځه کښی ناڅی توکل، پزه پاکول مکروه دی او که ضرورت پیښ سو بیا پروا نه لری مثلاً څوک وتوخی او په خوله کښی ئ گرد لړی راسی نو خپل چپه طرف ته دی ئ توکړی یا دی ئ په یو کالی کی توکړی وړنی مبنی د راسته طرف او د قبلی طرف ته دی نه توکی۔ (شرح التنویر ص۶۸۲ اول توک۔ منیه ص۱۱۱ وکبیری ص۳۱۲)

(۲۴) مسئلہ:- که په لمانځه کښی کمل، سپړی یا کیکی وخواړی تینګ دی کړی وغرڅ دی نه پری دی بدی حکه چه په لمانځه کښی ئ وژل ښه نه دی او که دغو شیانو لاخوړلی نه وُ نو تینګول ئ هم ښه کار نه دی او ښیول او تینګول ئ مکروه دی منیه ص۱۱۱ ۔ رد المحتار ص۶۸۲ اول توک)

(۲۵) مسئلہ:- په فرض لمانځه کښی بیله ضرورته دیوال یا بل څی ته تکیه کول مکروه دی (منیه ص۱۱۱)

(۲۶) مسئلہ:- سورۃ نه وو ختم سوی یوه یاد دی کلمی پاته وی چه په تلوار سی رکوع ته ولاړ ه دغه کلمی ئ په رکوع کښی وویلی نو لمونځ ئ مکروه دی۔ (منیه ص۱۱۱)

(۲۷) مسئلہ:- که د سجدی ځای د پښو ترځای لوړ وی مثلاً پر تنګا چه سجده کوی نو وګورئ چه څوند ی لوړ دی که تر یوه لویشت زیات لوړ وی نو لمونځ درست نه دی او که یوه لویشت یا تر یوه لویشت کم وی نو لمونځ ئ درست دی لیکن بیله ضرورته دا سی کول مکروه دی۔ (منیه ص۷۶)

دهغوشیانو بیان چه دهغوپه سبب سره لمونځ ماتول جائز (روا) دی

یوولسم باب

(۱) مسئله:- پرلمانځه ولاړ وو توره گاډی خندی روانه سوه او په دغه ریل توره گاډی کښی ئی خپل سامان اینبی وو او یا ئی اهل عیال پکښی سپاره وه یعنی وارګه کو چنیان ئی پکښی سپاره وه نو لمونځ دی پریږدی او په گاډی کښی کښینستل روا دی. (شرح التنویر ص ۶۱۴ و ص ۷۴۴ اول توک)

(۲) مسئله:- د لمونځ کوونکی د مخ ته مار راغلی د مار د بیری څخه لمونځ ماتول روا دی. (شرح التنویر ص ۶۱۴ و ص ۷۴۴ لومړی توک)

(۳) مسئله:- د شپی چرگه خندی پاته سوی وه یعنی پټه کړی ئی نه وه نو پشی د رنه راغله یا بل شی - د دغه بیری څخه چه چرگه به وخوری لمونځ ماتول صحیح دی. (شرح التنویر ص ۶۱۴ و ص ۷۴۴ اول توک)

(۴) مسئله:- لمونځ ئی کاوی چه غله ئی څیلی پورته کړی که لمونځ نه پریږدی د دی بیره د ه چه غل به څیلی خندی یوسی نو د دغه د پاره لمونځ ماتول صحیح دی. (شرح التنویر ص ۶۱۴ و ص ۷۴۴ لومړی توک)

(۵) مسئله:- ترکاری ئی نو بیدل دی لمونځ کاوی چه د دغه ترکاریو قیمت (بیه) د ری څلور آنی وه یعنی په بیه کی دیوه دِرهَم سره برابروه نو لمونځ ماتول او دغه سمول روا دی. غرض دا دی چه د هر هغه شی د ضائع کید و بیره وی چه قیمت ئی د ری څلور آنی یا یو دِرهَم وی نو د دغه د ساتنی د پاره د لمانځه ماتول روا دی. (شرح التنویر ص ۶۱۴ و ص ۷۴۴ لومړی توک)

(۶) مسئله:- که څوک په لمانځه کښی د ورځ بولو یا غټو بولو څخه په عذاب سی نو دی لمونځ مات کړی څان دی فارغ کړی بیادی لمونځ وکړی۔ (رد المحتار ص۶۸۴ ج۱)

(۷) مسئله:- یو ړوند نه بنځه یا ړوند سړی روان دی په مخکی څادی اوده دی بیړه ده چه په څا کښی ولویږی نو د دی د ساتنی د پاره د لمانځه ماتول فرض دی که ئی لمونځ مات نه کړی او هغه په څا کی ولویدی مړسو نو دا بنځه ګنهګاره ده۔ (شرح التنویر و رد المحتار ص۶۸۵ و ص۷۴۴ اول ټوک)

(۸) مسئله:- د هلک یا بل شی کالو او ړواختستی او سوځل کیدی د د غه د پاره هم لمونځ ماتول فرض دی۔ (شرح التنویر و رد المحتار ص۶۸۵ و ص۷۴۴ اول ټوک)

(۹) مسئله:- مور، پلار، نیکه او انا د څه غم د سببه و رته راناری کړی نو فرض لمونځ ماتول واجب دی مثلاً د چا مور۔ پلار یا بل څوک ئی مریض وی د پاره د حاجت کولو یا بل ضرورت د پاره تللی وی چه د دی خوا روان وی یا د هغی خوا ړ روان وی پښه ئی وښوهیدل او غوږ ارسو نو لمونځ دی مات کړی هغه دی راپورته کړی۔ لیکن که بل پورته کوونکی نه وو او که و و نو بی ضرورته دی لمونځ نه ماتوی (شرح التنویر ص۷۴۳ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:- که تر او سه غوږ ارسوی هم نه وو لیکن د غوږ اریدو بیړه ئی وه او و رته راناری ئی کړه بیادی هم لمونځ پریږدی۔ شرح التنویر ص۷۴۳ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:- او که د اسی ضرورت نه وو هسی ئی و رته راناره کړه نو د فرض لمانځه ماتول روا نه دی۔ (شرح التنویر ص۷۴۳ اول ټوک)

(۱۲) مسئله:- او که چیړی د نفل یا سنت کول د غه وخت مور، پلار، نیکه یا انا و رته راناری کړی او د دی ته د غه معلومه نه وی چه د المونځ کوی نو په دا سی وخت کی لمونځ ماتول او د دی د خبری جواب و رکول واجب دی برابره خبره ده که د دی د یو غم د سببه آواز و رته راوکړی او که بی ضرورته آواز و رته راوکړی د دواړه حکم یو دی که چیړی لمونځ مات نه کړی او د آواز جواب و رنه کړی نو ګناه ده او که چیړی د وی ته معلومه وی چه د المونځ کوی بیا هم آواز و رته وکړی نو دا دی لمونځ نه ماتوی لیکن که ضرورت د سببه د وی و رته راناری کړی او د د وی د سخت تکلیف کیدو بیړه ده نو لمونځ دی مات کړی (شرح التنویر ص۷۴۳ لومړی ټوک)

دولسم	دوتر لمانځه بیان	باب

(۱) مسئله:- دوتر د لمونځ یعنی وتر واجب دی او د واجب مرتبه نژدی نژدی د فرض ده پریښو ول ئې لویه ګناه ده او که چیری پاته سی چه هر وخت ئې موقع پیدا کړله نو ژر ادی قضا راوړی (شرح البدایه ص۱۲۸ لومړی توک)

(۲) مسئله:- دوتر لمانځه درې رکعاته دی د دوو رکعاتو وروسته دی کښینی او التحیات دی وایي درود دی بالکل نه وایئ بلکه تر التحیات ویلو وروسته دی نور ولاړه سی الحمد لله او سورت دی وایي او په الله اکبر سره دی دوارکه لاسونه تر اوزنو وپورې پورته کړی او بیا دی لاسونه پر سینه کښیږدی او بیا دی دعای قنوت وائی او رکوع دی وکړی او پر درېیم رکعت دی کښینی التحیات درود شریف او دعا دی وایي او سلام دی وګرځوی- (شرح البدایه ص۱۲۸ اول توک شرح التنویر ص۶۹۶ اول توک)

(۳) مسئله:- دعای قنوت دغه دی. اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ ط اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَاِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ط (شرح التنویر ص۶۹۷ ج۱)

(۴) مسئله:- دوتر په پتلو رکعتونو کښی د الحمد لله سره سوره ملګری کول پکار دی لکه چه بیان سوه- (شرح البدایه ص۱۲۸ لومړی توک)

(۵) مسئله:- که ئې په درېیم رکعت کښی دعای قنوت ویل هیر سو چه رکوع ته ولاړ نو بیا ئې یاد سوه نو اوس د دعای قنوت نه وایي بلکه لمونځ دی ختم کړی- لودی سجده سهوه وکړی او که ئې رکوع پریښوده بیرته ودریده او دعای قنوت ئې ووایه بیا هم خیر دی لمونځ ئې صحیح دی لیکن داسی کول نه دی پکار او د سجده سهوی څخه نه خلاصیږی سجده سهوه به کوی- (شرح التنویر ص۷۰۰ لومړی توک)

(۶) مسئله:- که ئې په هیره سره په اول یا دوهم رکعت کښی دعای قنوت ووایه نو دی هیڅ اعتبار نلری په درېیم رکعت کښی باید بیرته وویل سی او سجده سهوه به هم کوی (رد المحتار ص۷۰۱ لومړی توک)

(۷) مسئله:- دهرڅه چه دعای قنوت یاد نه وی د دغه دعا دی وایي رَبَّنَآ اٰتِنَا

۱۹۶ له سړی دی دعوښ وتر ځمیو پورې لاسونه پورته کړی ۱۲ منه

فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ یا دی دُرَی واړه د غه دعا
ورایي اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ - یا دی دُرَی واړه د غه ورایي یَارَبِّ - یَارَبِّ - یَارَبِّ - لمونځ
ئی کیږی - (رد المحتار ص۶۹۷ اول ټوک - عالمگیری ص۷۱ اول ټوک)

دیارلسمه | **د سنت او نفل لمنځونو بیان** | باب

(۱) مسئله:- د سهار د فرض نه څخه مخکی د وه رکعاته لمونځ سنت دی په حدیث شریف کښی د د غه ډیر تینګ امر راغلی دی هیڅ وخت دی د غه سنت نه پریږدی که یو وړځ ناوخته سو او د لمانځه آخیر وخت وو چه صرف د وه رکعانه فرض ځایید نو د د غسی مجبوری په وخت کښی دی فقط د وه رکعاته فرض وکړی لیکن چه لمر راوخیژی بنه راپورته سی نو د غه سنت دی قضا ئی راوګرزوی - (شرح التنویر ص۷۰۵ لومړی ټوک رد المحتار ص۷۰۵ اول ټوک)

(۲) مسئله:- د ماپښین د وخت اول څلور رکعاته سنت دی بیا څلور رکعاته فرض دی بیا د وه رکعاته سنت دی د ماپښین د غه شپږ رکعاته سنت هم ډیر ضروری دی نی له عذره ئی پریښول ګناه دی - (شرح التنویر ص۷۰۴ اول ټوک)

(۳) مسئله:- د ماښام وخت اول څلور رکعاته سنت دی وکړی بیا د ی څلور رکعاته فرض وکړی لیکن د ماښام ګرد سنتو تاکید نه دی راغلی که ئی څوک نه وکړی هم ګناه نسته او که ئی څوک وکړی ډیر ثواب لری - (شرح التنویر ص۷۰۴ اول ټوک)

(۴) مسئله:- د ماښام اول درې رکعته فرض دی بیا د وه رکعته سنت دی د غه سنت هم ضروری دی په نه کولو ئی ګناه لازمیږی. (شرح التنویر ص۷۰۴ اول ټوک)

(۵) مسئله:- د ماخستن په وخت کښی عوره او مستحب دا دی چه اول څلور رکعاته سنت وکړی بیا څلور رکعاته فرض بیا د وه رکعاته سنت وکړی بیا که ئی زړه غواړی د وه رکعاته نفل دی هم وکړی د د غه حسابه څخه د ماخستن شپږ رکعاته سنت سول او که څوک د وند ه نه سی کولای نو اول دی څلور رکعانه فرض وکړی بیا دی د وه رکعاته سنت وکړی بیادی وتر وکړی د ماخستن تر فرض لمانځه وروسته د وه رکعاته سنت ضروری دی که ئی نه کوی ګنهګار ه کیږی - (شرح التنویر ص۷۰۴ اول ټوک)

(۶) مسئله:- د رمضان مبارک په میاشت کی تراویح کول هم سنت دی د د غه هم

تیښګ امر را غلی دی - د دغو پریښودل اونه کول ګناه دی - اکثره ښځی تراویح پریږدی دا رنګه کار کول هیڅکله مناسب نه دی - د ماخستن د فرضو او د وتر لمونځ سنتو وروسته شل رکعاته تراویح کول په کار دی یا دی د دوه دوه رکعتو نو نیت ترې او یا دی د خلور دوارې صحیح دی لیکن دوه دوه رکعاته بهتر دی - چه شل رکعاته پوره کړی نو بیا دی وتر وکړی.

فائده:- د هرهغه سنتو کول چه ضروری وی هغه ته سنت مؤکده ویل کیږی او په ورځ او شپه کښی داسی سنتونه دوولس رکعاته دی - دوه د سهار خلور رکعاته د ماپښین د فرض لمانځه څخه مخکی او دوه رکعاته د ماپښین د فرض لمانځه څخه وروسته - دوه رکعاته د ماښام د فرض لمانځه څخه وروسته او دوه د ماخستن د فرض لمانځه څخه وروسته او په روژه کښی تراویح سنت مؤکده دی او بعضو علماؤ د تهجد لمونځ هم سنت مؤکده بللی دی. (شرح التنویر ص۷۳ لومړی توک و بدایع ص۲۸۹ اول توک)

(۷) مسئله:- دغه لمانځونه د شرعی د خواخخه مقرر دی که د چا زړه غواړی تر دغه هم ډیر کولای سی او هر وخت چه ئی کوی کولای ئی سی خو صرف دی دا خیال ساتی چه په مکروه وختونو کښی ئی و نه کړی د فرضو او سنتو څخه ما سیږی نو ړچه هر څه لمانځونه کوی هغوته نفل ویل کیږی هر څونده ی چه ډیر نفلونه وکړی هغو ثواب لری - د ډیرو نفلونو هیڅ حد او اندازه مقرره نه ده -

په دین کښی بعضی د الله ج داسی دوستان هم تیر سویدی چه ټوله شپه به ئی نفلونه کول او بالکل نه بیده یدل.

(۸) مسئله:- د بعضی نفلونو ثواب ډیر زیات دی د دغه سببه ترنورو نفلونو د دغو نفلونو کول بهتر او ښه دی ځکه چه په لږ تکلیف سره یعنی د دوی په کولو سره پاک خلای ډیر ثواب ورکوی هغه دغه دی. تحیة الوضوء، الاشراق، چاښت، الأوابین، تهجد، صلوة التسبیح

۱۹

(۹) مسئله:- تحیة الوضوء هغه لمانځه ته ویل کیږی چه اودس وکړی نو هغه وروسته دوه رکعته نفل وکړی- په حدیث شریف کښی دد غه لمانځه ډیر فضیلت اوښه والی بیان سوی دی لیکن په هغه وخت کښی چه نفل لمونځ مکروه دی په هغه وخت کښی دی تحیة الوضوء هم نه کوی (رد المحتار ص۴۱۳ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:- داشراق دلمانځه طریقه داده چه دسهار لمونځ وکړی بیا نود لمانځه دځای څخه ولاړ نه سی پر دغه ځای ناسته وی درود شریف یا کلمه یا یو بله وظیفه کوی او دالله پاک په ذکر اخته وی د دنیا هیڅ خبره نه کوی نه د دنیا هیڅ کار وکړی چه لمر راوخیژ ښه لوړ[۱] راسی نو دوه رکعاته یا څلور رکعاته وکړی نو دیوه حج او یوی عمری[۲] ثواب خدای پاک ورکوی که د سهار ترلمانځه وروسته د دنیا په کار اخته سوه بیا چه لمر ښه راپورته سو د اشراق لمونځ ئی وکړی نو هم صحیح دی لیکن ثواب ئی کم دی. (احمدی ترمذی ص۷۹ شرح التنویر)

(۱۱) مسئله:- بیا چه لمر ښه راپورته سی او گرمی ښه تیزه سی بیا نو لږ ترلږه دوه رکعاته لمونځ وکړی یا تر دغه زیات وکړی یعنی څلور رکعاته وکړی یا اته رکعاته یا دولس[۱۲] رکعاته وکړی دغه ته د څاښت لمونځ وائی او د دغه لمانځه هم ډیر ثواب دی. (شرح التنویر ص۷۱۴ لومړی ټوک)

(۱۲) مسئله:- د ماښام د فرضو او سنتو څخه وروسته لږ ترلږه شپږ[۶] رکعاته او زیات زیات شل[۲۰] رکعاته وکړی د غه لمانځه ته اوابین ویل کیږی. (شرح التنویر ص۷۰۵ اول ټوک- احمدی ترمذی ص۶۱ اول ټوک)

(۱۳) مسئله:- په نیمه شپه کښی د خوبه کښینستل دلمونځ کولو ډیر لوی ثواب دی او دغه ته تهجد ویل کیږی دغه لمونځ د خدای په نزد ډیر قبول او خوښ لمونځ دی او تر ټولو د ډه ثواب[۸۲] ډیر ورکول کیږی د تهجد لمانځه لږ ترلږه څلور رکعاته او زیات زیات دوولس رکعاته دی او که دغه نه سی کولای نو دوه رکعاته دی وکړی هم صحیح دی. که د شپی راپورته کیدای نه سی نو د ماخستن ترلمانځه وروسته دی ئی وکړی مگر ثواب ئی کم دی د دغه څخه ماسیوی په شپه اوورځ کښی چه څوند ه نفل کول غواړی کولای ئی سی. (مراقی الفلاح ص۲۰۷ اول ټوک ورد المحتار ص۷۱۵ ج (۱)

(۱۴) مسئله:- د صلوة التسبیح په حدیث شریف کښی دیر لوی ثواب راغلی دی د دغه لمانځه د کولو څخه بی انتها اوبی پایه دیر ثواب حاصلیږی حضرت صلی الله علیه وسلم خپل اکا عباس رضی الله تعالیٰ عنه ته دغه لمونځ ورښودلی ډاوړسته فرمایلی وه چه د دغه لمانځه په کولو سره ستاسو لی ورانده ډر وسته - نوی زړی، لوی، واړه گناهونه معافیږی اوښی علیه السلام ورته فرمایلی وه که کیدای سی هره ورځ د دغه لمونځ کوه لوکه هره ورځ نه سی کیدای نو په هره هفته کی ئی یو واړ کوه اوکه په هره هفته کی نه سی کیدای نو په هره میاشت کی ئی یو واړ کوه اوکه په هره میاشت کښی نه سی کیدای نو په هر کال کښی ئی یو واړ کوه اوکه په هر کال کی نه سی کیدای نو په ټول عمر کښی ئی یو واړ کړه -

د لمانځه د کولو طریقه داده چه د څلورو رکعتونو نیت دی وتړی اوبیا دی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ - الحمد لله او سورة وایی تر رکوع مخکی دی پنځلس واړه دغه کلمی وایی - سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ بیادی رکوع ته ولاړ سی اوسُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ دی ووایی او وروسته دی په رکوع کښی بیا دغه تسبیحات لس واړه ووایی اوبیادی د رکوع څخه راپورته سی اوسمع الله لمن حمده دی وروسته دی بیا دغه تسبیحات لس واړه ووایی بیا دی سجدی ته ولاړ سی اوسبحان ربی الاعلی ویلو وروسته دی بیا دغه تسبیحات لس واړه ووایی بیادی د سجدی څخه راپورته سی بیادی دغه تسبیحات لس واړه ووایی تر دغه وروسته دی دوهمه سجده وکړی په دغه سجده کی دی هم دغه تسبیحات لس واړه ووایی بیادی د سجدی څخه راپورته سی او د التحیاتی پر رقم دی کښینی او بیادی دغه تسبیحات لس واړه ووایی اوبیادی د دوهم رکعت د پاره ولاړه سی دغه رنګه دی د دوهم رکعت وکړی چه په دوهم رکعت کښی د التحیاتی د پاره کښینی نودی اول هغه تسبیحات لس واړه ووائی اوبیادی التحیات ووایی په دغه طریقه سره دی څلور سره رکعتونه وکړی. (کبیری صفحه ۴۱۱ جلد)

(۱۵) مسئله:- په دغه څلورو رکعتونو کی چه هر سورة ووایی ودی وایی هیڅ سورة مقرر نه دی (ردالمحتار صفحه ۷۱۶ اول توک)

(۱۶) مسئله :- که په یو رکن کښی تسبیحات دهیری په سبب کم وویل سوه یا بالکل هیر سوه نو په راتلونکی رکن کښی دی دغه هیر سوی تسبیحات هم وایی مثلاً په رکوع کښی ئی لس(۱۰) واړه تسبیح ویل هیر سوه او بیائی په سجده کښی په یاد سوه نو په سجده کښی دی دغه هیر سوی لس تسبیحات هم وایی اود سجدی لس تسبیحات دی هم وایی نو گویا په دغسی صورت کښی به په سجده کښی شل(۲۰) تسبیحات وایی

بس ددی خبری یاد ساتل په کار دی چه په یوه رکعت کښی (۷۵) واړه تسبیحات ویل کیږی او په څلورو رکعتونو کښی دری سوه(۳۰۰) واړه ویل کیږی پس نو که په څلورو رکعتونو کښی دری سوه(۳۰۰) واړه یوره سول نو انشاء الله تعالی د صلوٰة التسبیح ثواب الله پاک ورکوی او که په څلورو سره رکعتونو کښی دری سوه(۳۰۰) واړه یوره نه سول. بیا نو دغه لمونځ نفل گرزی صلوٰة التسبیح نه ورته ویل کیږی.

(۱۷) مسئله :- که په صلوٰة التسبیح کښی دیو وجهی څخه سجده سهوه واجب سوه نو د سهوی په دواړو سجدو کښی تسبیحات نه ویل کیږی او نه ترد غو دواړو سجدو وروسته په قعده (ناسته) کښی تسبیحات ویل کیږی.

(۱۸) مسئله :- د تسبیحاتو په هیریدو یا کمیدو سره سجده سهوه نه واجبیږی.

څوارلسم	فصل	باب

(۱) مسئله :- په ورځ کښی چه نفل کوی اختیار لری که دد(۲) و دوو(۲) ورکعتونو نیت کوی او یا د څلورو څلورو رکعتونو نیت کوی خو د ورځی تر څلورو رکعاته زیات په یوه نیت سره کول مکروه دی او که دشپی دشپیږو یا اتو رکعتونو نیت پریږدی او تر څلورو رکعتونو زیات یوه ځای تړی مکروه نه دی او تر اتو رکعتونو زیات وب کول په یوه نیت سره مکروه دی (شرح البدایه)

(۲) مسئله :- که د څلورو رکعتونو نیت وتړی او څلور رکعاته کول غواړی چه دوه رکعاته وکړی کښیدی نو اختیار لری که د التحیات وروسته درود شریف او دعا هم وایی بیا بیله سلام گرزولو ولاړه سی په دریم رکعت کښی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ - اَعُوْذُ بِاللّٰهِ - بِسْمِ اللّٰهِ - اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ او سورة یې ټول وایی او که د دوهم رکعت په ناسته کښی تر التحیات لله وروسته بل شی نه وایی او ولاړه سی په دریم رکعت کښی بِسْمِ اللّٰهِ - الحمد لله - او سورة ووایی او وروسته پر څلورم رکعت کښینی - التحیات - درود او دعا ووایی او سلام وگرزوی - او که اته(۸) رکعاته کوی په یوه نیت او سلام سره بیا د عوذ(۲) و خبر واختیار

دی یعنی د هرو دو (۲) رکعتو په ناسته کی ورو سته تر التحیات د اهم کولای سی چه درود شریف او د عا دوایی بیله سلام گرزولو - دریم (۳) - پنځم (۵) - اووم (۷) رکعت ته ولاړه سی او په دغه رکعتو نو کښی سبحانك اللهم - اعوذ بالله - بسم الله - الحمد لله او سورة یوه دوایی او د اهم کولا سی چه د هرو دو (۲) رکعتو نو په ناسته کښی فقط التحیات دوایی - په دریم پنځم او اووم رکعت کښی بسم الله - الحمد لله او سورة دوایی او روسته پرا تم رکعت کښینی تر پایه ئی دوایی او سلام وگرزوی - (شرح التنویر)

(۳) مسئله :- د سنتو او نفلو په تولو رکعتو نو کښی د الحمد لله سره سورة ملگری کول واجب دی که قصدًا سورة و رسره ملگری نه کړی نو گنهگار ره ده او که په هیره سره وی بیا به سجده سهوه کوی د سجده سهوی بیان مخکی راځی. (شرح التنویر ص ۷۲۰ ج ۱)

(۴) مسئله :- چا چه د نفل لمانځه نیت وتاړی نو پوره کول ئی واجب دی او که ئی مات کړی د دغه لمانځه قضا به ضرور راوړی لیکن د نفلو هر دوه دوه رکعاته جلا جلا دی که ئی د خلورو یا شپږو رکعتو نو نیت وتاړی نو په فقط دو (۲) دو رکعتو نو پوره کول واجب سوه خلور یا شپږ رکعاته واجب نه دی پس که چا د خلورو رکعتو نو نفلی لمانځه نیت وکړی نو ئی دوه رکعاته وکړه سلام ئی وگرزاوی هیڅ گناه نه لری. شرح التنویر ص ۷۲۱ لومړی توک)

(۵) مسئله :- که چا د خلورو رکعتو نو نیت وکړی دوه رکعاته لا پوره سوی نه وه چه لمونځ ئی مات کړی نو فقط د دو (۲) رکعتو نو قضا دی راوړی - (رد المحتار و شرح التنویر ص ۷۲۳ اول توک و منیه ص ۱۱۵)

(۶) مسئله :- او که ئی د خلورو رکعتو نو نیت کړی وو دو (۲) رکعاته ئی وکړه پر دریم یا خلورم رکعت ئی لمونځ مات کړی که پرد وهم رکعت کښینستلی وه التحیات او درود او دعا ئی ویلی وه نو نفقط دوه رکعاته قضا به راوړی او که پرد وهم رکعت نه وه کښینستلی بیله التحیاتو ئی دغه رکعتو نه کړی وه که قصدًا وی یا په هیره سره وی نو د پوره خلورو رکعتو نو قضا دی راوړی. (شرح البدایه ص ۱۳۱ ج ۱ وفتح القدیر ص ۳۲۵ ج ۱)

(۷) مسئله :- د ماپښین د خلورو رکعتو سنتو نیت که ئی مات کړی نو د پوره خلورو رکعتو نیت به بیرته کوی برابره خبره ده که پر اولو دو رکعتو نو کښینستلی وی او التحیات ئی ویلی وی او که ئی نه وی ویلی - (منیه ص ۱۱۵ لومړی توک)

(۸) مسئله :- نفل لمونځ په ناستی هم روا دی لیکن ثواب ئی نیم دی د دغه سببه

په ولاړی کول ئې بهتر اوښه دی په دی کښی تروتر وروسته نفلونه هم راغله نه دمریضی په سبب دریدلای نه سوه بیا ثواب پوره درکول کیږی - فرض او سنت لموخ بیله مجبوری په ناستی کول صحیح نه دی - (شرح التنویر)

(۹) مسئله :- که ئې نفل لموخ په ناسته شروع کړی او یو څه لموخ ئې په ناستی وکړی او نور لموخ ئې په ولاړی وکړی نو داهم صحیح دی - (رد المحتار ص ۷۲۹ لومړی توک - مراقی الفلاح ص ۲۳۵ اول توک)

(۱۰) مسئله نفل لموخ ئې په ولاړی شروع کړی بیا نو په اول یا دو هم رکعت کښی کښینستله داهم صحیح دی - (منیه ص ۱۱۵ اول توک او رد المحتار ص ۷۲۹ اول توک)

(۱۱) مسئله :- نفلی لموخ ئې په ولاړی کاری لیکن دکمزوری دسیبه ستړی سوه نو پریښوکړه یا دیوال ئې تکیه وکړه نو دده وی په کومک سره دریدل هم صحیح دی او مکروه نه دی - (فتاوی هندیه ص ۷۳ لومړی توک)

پنځلسم — داستخاری دلمانځه بیان — باب

(۱) مسئله :- چه دیوکار اراده وکړی نو دالله پاک څخه "صلاح" واخله دغه صلاح اخیستو ته استخاره ویل کیږی په حدیث شریف کښی داستخاری کولو پر ترغیب اوبلنه راغلی ده نبی کریم صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی چه د الله پاک څخه صلاح او مشوره نه اخیستل او استخاره نه کول د بدبختی او کم نصیبی خبره ده - که چیری کوم زده، واده یا سفر کوی نو بیله استخاری کولو دی نه کوی نو انشاالله هیڅ کله به پرخپل کړی کار پښیمانه نه سی - (رد المحتار ص ۷۱۸ اول توک)

(۲) مسئله :- داستخاری دلمانځه داطریقه ده چه اول دی دوه رکعته لموخ وکړی بیا دی یښه دزړه داخلاصه دغه دعا وکړی.

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْتَخِیْرُكَ بِعِلْمِكَ وَاَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَاَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِیْمِ فَاِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ خَیْرٌ لِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ

اَمْرِی فَاقْدُرْهُ لِیْ وَیَسِّرْهُ لِیْ ثُمَّ بَارِكْ لِیْ فِیْهِ وَاِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ شَرٌّ لِیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ فَاصْرِفْهُ عَنِّیْ وَاصْرِفْنِیْ عَنْهُ وَاقْدُرْ لِیَ الْخَیْرَ حَیْثُ كَانَ ثُمَّ اَرْضِنِیْ بِهٖ ط او هر وخت چه د - هٰذَا الْاَمْرَ - کلمی ته ورسیږی چه پر هغه خط کش سویدی نو دکوم کار د پاره چه استخاره کوی هغه به په خیال کښی راولی بیادی پر پاک صاف ځای او بستره مخ پر قبله بیده سی په اوه اسه سره - هر وخت چه راویښ سو نو هره خبره چه ئی په زړه کښی پټینګه او محکمه وی د هغی خبری موافق او برابر دی کار وکړی یعنی تر راویښیدو وروسته چه ئی هره خبره په زړه کښی راځی او پټینګ قرار لری د غه بهتره ده د د غی خبری سره موافق (برابر) باید کار وکړی.

(رد المحتار ص۷۱۸ لومړی ټوک)

(۳) مسئله:- که په یوه وخ سره هیڅ شی معلوم نه سو لو د زړه شک او بی قراری ئی نه وه تللی او زړه ئی بیوی خوانه نه وو - نو دوهم وخ دی بیادا می عمل وکړی د غه رنګه دی تر اوو وخو پوری دا سی عمل جاری وساتی انشاءالله تعالیٰ ضرور به د د غه کار ښه والی یا بد والی ورته معلوم سی. (رد المحتار ص۷۱۸ ج۱)

(۴) مسئله:- که د حج د پاره څوک ځی نو دا استخاره دی نه کوی چه زه ولاړ سم که نه سم ولاړ - بلکه دا سی استخاره دی وکړی چه په فلانی وخ ولاړ سم که نه سم ولاړ. (رد المحتار ص۷۱۸ لومړی ټوک)

شپاړسم دتوبې د لمانځه بیان — باب

(۱) مسئله:- که یوګناه د چا څخه وسی نو د وه رکعاته نفل لمونځ دی وکړی او د الله په حضور کښی دی بیخی ډیر وژاړی او توبه دی وکا بنډی او پرځپله کړی ګناه دی پښیمانی ښکاره کړی او د خدای تعالیٰ څخه دی بخښنه وغواړی. او د آینده د پاره دی پخه اراده وکړی چه بیا هیڅکله دا سی نه کوم نو په د غه توبه سره به په فضل د خدای جل جلاله معاف سی. (طحطاوی ص۲۱۹ ورد المحتار ص۷۲۰ لومړی ټوک)

اولسم	دقضائی لمنځونو دراګرزولو بیان	بابے

① مسئله:- د چا څخه چه یو لمونځ پاته سوی وی هر وخت چه ئې په یاد سی فوراً دی قضاړاوړی بیله څه عذره په قضائی لمانځه کښی څنډ کول ګناه ده نو د چا څخه چه لمونځ پاته سی فوراً ئې قضاړانه وړی بل وخت یاد یلی ورځې ته ئې وخنډوی اویل ئې چه بله ورځ به دغه لمونځ کوم نو ترد غې ورځې مخکی نا ببره مړه سوه نو ګناه ئې د وچنده سوه یو خو د لمانځه قضا کولو ګناه ده اوبل د دغه قضا سوی لمانځه د څنډولو ګناه ده۔ (شامی ص۱۰۱ لومړی ټوک)

② مسئله:- که د چا څخه دیر لمنځونه قضا سوی وی نو چه کیدای سی ژر تر ژره دی د ټولو قضا ړاوړی که کیدای سی همت دی وکړی په یوه وخت کښی د ټولو قضا ړاوړی دا ضروری نه ده چه د ماښین د پاته سوی لمانځه قضا به د ماښین په وخت کښی راوړی اود مازیګر داد مازیګر په وخت کښی د غه رنګه تر پایه پورې که دیر لمنځونه د دیرو میاشتو یا دیرو کالو نو قضا سوی وی هر څونده چه کیدای سی د دوی چه قضاء ړاوړلو کښی دی هم تلوار وکړی په یوه یوه وخت کښی دی دوه دوه خلور خلور پاته سوی لمنځونه راګرزوی که یو مجبوری او ناچاری وه نو خیر دی په یوه وخت کښی دی یو پاته سوی لمونځ راګرزوی په بل وخت کښی دی بل پاته سوی لمونځ راګرزوی لیکن دا پیره کمه درجه ده۔

(رد المحتار ص۷۶۸ لومړی ټوک)

③ مسئله:- د پاته سوی لمانځه د راګرزولو هیڅ وخت مقرر نه دی هر وخت چه فرصت وی اودس دی وکړی او قضائی لمونځ دی راوګرزوی لیکن دوندی خیال به کوی چه مکروه وخت نه وی۔ (شرح التنویر ص۷۵۹ اول ټوک)

④ مسئله:- د چا څخه چه صرف یو لمونځ پاته سوی وی تر دغه مخکی یو لمونځ هم نه وی څنډی پاته سوی یا خو تر دغه مخکی لمنځونه څنډی پاته سوی وی لیکن د ټولو قضائی راوړی وی فقط د دغه یوه لمانځه قضا راګرزول پاته وی نو اول دی د دغه یوه قضا سوی لمانځه قضا راوړی بیا دی د وخت لمونځ ادا کړی که ئې د غه پاته سوی لمونځ راد نه ګرزاوی د وخت لمونځ ئې ادا کړی نو د غه د وخت لمونځ ئې نه صحیح کیږی د پاته سوی لمانځه تر قضا راوړلو وروسته دی بیرته د خپل

وخت لمونځ ادا کړی لیکن که ئی قضا سوی لمونځ بالکل په یاد نه سو هیر سوی ئی وُو.
نو بیا د وخت د لمانځه ادا کیدل صحیح دی نو هر وخت چه ئی په یاد سی هاغه
د پاته سوی لمانځه قضا دی راوړی ادا سوی لمونځ دی نه راګرزوی.
(در مختار ص۷۵۹ لومړی پوک)

⑤ مسئله :- که وخت د پیر تنګ وی که چیری اول د پاته سوی لمانځه قضا
راوړی نو دا د لمانځه[1] وخت تیریږی د وخت لمونځ ئی قضا کیږی نو اول دی ادا
لمونځ وکړی بیا دی پاته سوی لمونځ راوګرزوی. (شرح البدایه ص۱۳۷ اول پوک)

⑥ مسئله :- که دوه یادری یا څلور یا پنځه لمانځونه پاته سوی وی او د دغو
لمانځونو ماسیوی د دی پر ذمه بل لمونځ نه وی یعنی په پوره عمر کی د هغی چه
خوانه سوی دی یو لمونځ هم نه وی قضا سوی یا قضا سوی وی لیکن د پوره قضائی
راوړی وی نو ترهغه وخته چه د غه پنځه لمانځونه ئی نه وی راګرزولی نو د
وختی لمانځه ادا کول ئی نه صحیح کیږی او چه د د غو پنځو لمانځونو قضا راوړی
نو د غه رنګه دی وکړی چه هر هغه لمونځ چه مخکی پاته سوی دی اول دی
هغه لمونځ راوګرزوی بیادی تر د غه وروسته چه قضا سوی وی هغه راوګرزوی
بیادی تر د غه وروسته په داغسی ترتیب سره د پنځو پاته سو و لمانځو قضا راوړی
مثلاً چا دیوی پوره ورځی لمانځونه نه دی کړی - سهار، ماپښین، مازیګر، ماښام او
ماخستن د غه پنځه لمانځونه پاته سول نو اول د سهار بیاد ماپښین بیاد مازیګر بیاد
ماښام بیاد ماخستن دا دی راوګرزوی که ئی اول د سهار لمونځ نه راوګرزاوی او د
ماپښین لمونځ ئی راوګرزاوی یا ئی د مازیګر لمونځ راوګرزاوی یا ئی بل لمونځ راوګرزاوی
نو صحیح نه دی بیرته به ئی په ترتیب سره راګرزوی. (شرح البدایه ص۱۳۷ اول پوک)

⑦ مسئله :- که دیوچا څخه شپږ لمانځونه پاته سوی وی نو د دوئ بیله راګرزولو
ادا ئی یعنی د وخت لمونځ کول صحیح دی او هر کله چه د غه شپږ لمانځونه راګرزوی
نو هغه لمونځ چه د پوره څخه مخکی پاته سوی دی د هغه اول راګرزول واجب نه
دی بلکه چه زړه ئی غواړی هغه دی مخکی وکړی او چه زړه ئی غواړی هغه دی
شاته وکړی پوره روا دی او په ترتیب سره کول ئی واجب نه دی. (شرح البدایه ص۱۳۸)

⑧ مسئله :- دوی دری میاشتی یا دوه درې کاله وسوه چه دیوچا شپږ یا تر

[1] د ادا لمانځه څخه مراد فقط فرض او واجب دی نه سنت او شپږ علی

شپږ زیات لمنځونه پاته سوی وه او تر اوسه ئې راګرزولی نه دی لیکن تر دغه قضا سوو لمنځونو وروسته ئې همیشه لمونځ کاوی هیڅ وخت لمونځ ځندی پاته سوی نه دی تر یو څه زمانی وروسته بیا یو لمونځ ځندی پاته سو نو په دغه صورت کښی که څه هم لمونځ ئې راګرزولی نه وی ادا لمونځ کول ئې صحیح دی او ترتیب واجب نه دی ځکه ترتیب ئې مخکی تر دغه ساقط سوی وو۔ (شرح البدایه ص۱۳۸ لومړی توک)

(۹) مسئله:- دیو چا څخه شپږ لمنځونه یا زیات تر شپږو پاته سوی وه او دی خاوند د ترتیب نه وو نو بیا ئې دغه لمنځونه په یوه یوه - دوو دوو - دوو راګرزول او یو قضا سوی لمونځ ئې پاته نه سو وروسته بیا یو یا پنځه لمنځونه ځندی قضا سول۔ نو اوس به ئې بیا په ترتیب سره کوی تر څو چه دغه پنځه لمنځونه ئې راګرزولی نه وی د وخت لمونځ کول ئې صحیح نه دی البته که بیا دغه قضائی لمونځونه شپږ و لمنځوته ورسیدل نو بیا ترتیب نسته بیله راګرزولو د دغه شپږو لمنځو د وخت لمونځ کول هم صحیح دی یعنی که دغه پاته سوی لمنځونه مخ کی کوی او که د وخت لمونځ دوا ره صحیح دی۔ (شرح البدایه ص۱۳۷ لومړی توک)

(۱۰) مسئله:- که دیو چا څخه څو پیر لمنځونه قضا سوی وه د ده په لږ لږ سره ټول راګرزول او فقط څلور یا پنځه لمنځونه پاته سول۔

نو اوس د دغو څلورو یا پنځو لمنځونو راګرزول په ترتیب سره واجب نه دی بلکه اختیار لری هر قسم چه ئې کوی هغسی دی کړی او بیله راګرزولو د دغه څلورو یا پنځو لمنځونو د وخت لمونځ کول هم صحیح دی۔ (شرح البدایه وشرح التنویر ص۷۶۳ اول توک)

(۱۱) مسئله:- که د وتر لمونځ ځندی قضا سوی وی او د وتر څخه ما سبوی دیل قضائی لمانځه راګرزول د د ه پر ذمه پاته نه وه نو تر څو پورې چه د وتر لمانځه قضائی نه وی راوړی د سهار د لمانځه کول ئې نه صحیح کیږی۔ که ئې د غه په یاد وه چه زما څخه وتر قضا سوی دی سره د هغه ئې اول د وتر و قضا نه راوړه بلکه د سهار لمونځ ئې وکړی نو به بیا د اسی کوی چه د وتر و قضا به راوړی او د وهم واړه به پیرته د سهار لمونځ کوی۔ (شرح التنویر ص۷۵۹ اول توک)

(۱۲) مسئله:- یو ازی ئې د ماخستن لمونځ وکړی بیده سوه او د تهجد لمانځه د پاره راپوره ته سوه د تهجد لمونځ ئې وکړی او وتر ئې وکړه او سهار ئې په یاد سو چه د ماخستن فرض لمونځ می په هیره سره بی له اوداسه کړی دی نو دی فقط فرض لمونځ راګرزوی

وتر لمونځ دی نه راګرزوی۔ (رد المحتار ص۷۶۱ لومړی توک)

(۱۳) مسئله:- په قضا سود مخځونو کښی به فقط فرض او وتر راګرزوی۔ د سنتو قضا راوړل نسته لیکن که د سهار سنت د فرضو سره قضا سوی وه که ئی په هغه وخ تر غرمی مخکی قضا راوړله نو به سنت هم ورسره راوړی او که ئی ورروسته تر غرمی قضا راوړله نو دی یوازی فرض راګرزوی او سنت دی نه راګرزوی۔ (شرح التنویر ص۷۵ لومړی توک ورد المحتار)

(۱۴) مسئله:- که د سهار وخت تنګ سو نو یوازی دوه رکعاته فرض دی وکړی او سنت دی پریږدی چه لمر بنه راپورته سی دوه رکعاته سنت دی راوګرزوی۔ لیکن تر غرمی به ئی خامخا مخکی راګرزوی۔ (شرح التنویر ص۷۴۹ اول توک رد المحتار ص۷۵ اول توک)

(۱۵) مسئله:- یو بی لمانځه توبه وکښه نو هر څه لمونځونه چه ئی په ټول عمر کی قضا سوی دی هغو لمونځونو قضا راوړل واجبه دی په توبه قضا سوی لمونځونه نه بخښل کیږی لیکن هغه دنه کولو ګناه دده توبه په توبه معافیږی انشاءالله که ئی اوس قضا نه راوړی بیا ګنهګار نه کیږی۔ (رد المحتار ص۷۵۵ لومړی توک)

(۱۶) مسئله:- که د چا څخه یو څه لمونځونه قضا سوی وه او راګرزولی ئی هم نه وه نو د مرګ په وخت کی د فدیې ورکولو وصیت پرواجب دی که وصیت نه وکړی نو ګنهګار نه دی۔ د لمانځه د فدیې بیان د روژی د فدیې د بیانه سره راځی انشاءالله تعالی۔ (شرح التنویر و رد المحتار ص۷۶۶ لومړی توک)

اتلسم	دسجدهٔ سهوی بیان	باب

(۱) مسئله:- په لمانځه کښی چه هر څوندی واجب دی په دغو کښی که یو واجب یا د پیر واجبات په هیره سره پاته سی سجده سهوه کول واجب ده۔ او د سجدې سهوی په کولو سره لمونځ کامل کیږی که ئی سجده سهوه ونه کړه نو لمونځ دی بیرته وکړی۔ (مراقی الفلاح ص۲۵ و شرح التنویر ص۷۷۳ اول توک)

(۲) مسئله:- که یو څوک په هیره سره د لمانځه پرض پریږدی یعنی څندی پاته سی نو په سجده سهوه کولو سره ئی لمونځ نه صحیح کیږی لمونځ به

بیرته دسره راګرزدی (ردالمحتار ص۷۷۴ لومړی پتوک)

(۳) مسئله:- دسجدهٔ سهوی کولو طریقه داده چه په آخری رکعت کښی فقط التحیات وایی یوه طرف[1] ته سلام وګرزوی بیا دوی سجدی وکړی بیا کښینی التحیات درود شریف او دعا وایی دواړه طرفونو ته سلام وګرزوی لمونځ ختم کړی. (فتاوی هندیه ص۸۰ اول پتوک. وشرح البدایه اول پتوک) ص۱۴۰

(۴) مسئله:- که چا په هیره سره تر سلام ګرزولو مخکی سجدهٔ سهوه وکړه نو سجدهٔ سهوه ئی اداسوه لمونځ ئی هم صحیح دی. (شرح البدایه ص۱۴۰ اول پتوک وطحطاوی ص۲۴۰ وشرح التنویر ص۷۷۲ لومړی پتوک وفتاوی هندیه ص۸۰ اول پتوک)

(۵) مسئله:- که په هیره ئی دوه رکوع یادری سجدی وکړی نو هم سجدهٔ سهوه واجب ده. (منیه ص۱۲۵)

(۶) مسئله:- په لمانځه کښی ئی الحمدلله ویل هیرسوه فقط سورة ئی ووایه یا ئی سورة ترالحمدلله مخکی ووایه نو سجدهٔ سهوه کول واجب ده. (فتاوی هندیه ص۸۰ و۸۱ ج۱.)

(۷) مسئله:- دفرضو په اولو دوو رکعتو نوکښی ئی دالحمدلله سره دسورة ملګری کول هیرسو نو په اخیرو دواړو رکعتو نوکښی دی دالحمدلله سره سورة ملګری کړی او سجدهٔ سهوه دی وکړی اوکه ئی داولو دوو رکعتو نو څخه په یوه رکعت کښی سورة ونه وایی نو د آخیرو دوو رکعتونو په اول رکعت کښی دی سورة ووایی او سجدهٔ سهوه دی وکړی اوکه ئی په اخیرو دوو رکعتو نوکښی سورة هیرسو او په اولو دوو کښی څوئی تر مخه لاندې وو ویلی په آخیر رکعت کښی د التحیات ویلو په وخت کښی ور پیاد سو چه ما په دواړو رکعتو کښی یا په یوه رکعت کښی سورة دالحمدلله سره نه دی ملګری کړی بیا هم دسجدهٔ سهوی په کولو سره لمونځ پوره کیږی. (فتاوی هندیه ص۸۰ لومړی پتوک وردالمحتار ص۷۷۵ اول پتوک)

(۸) مسئله:- د سنتو اونفلو په ټولو رکعتو نوکښی د الحمدلله سره سورة ویل واجب دی که ئی په یوه رکعت کښی سورة ویل هیرسی. نو سجدهٔ سهوه دی وکړی. شرح البدایه ص۱۳۱ لومړی پتوک)

(۹) مسئله:- د الحمدلله تر ویلو وروسته ئی فکر وکړی چه کوم سورة ووایم په دغه فکر کښی دوندی وخت تیرسو چه په دغو ندی وخت کښی دری واړه سبحان الله ویل کیږی

[1] یعنی دراسته طرف ته دی سلام وګرزوی ۱۲

سی نو هم سجده سهوه واجب ده۔ (شرح التنویر ص۷۸۹ اول بتوک)

(۱۰) مسئله:۔ که بالکل په اخیر رکعت کښی تر التحیات او درود ویلو وروسته طونځ کوونکی ته شک پیښ سو چه ما څلور رکعاته کړی دی که دری رکعاته په دغه فکر کښی خاموشه ناسته وه او سلام گرزول دوندی وځنډیدی چه په دغه وخت کښی دری واړه سبحان الله ویل کیدای سو بیائ په یاد سوه چه ما خو څلور رکعاته کړی دی په دغه صورت کښی هم سجده سهوه کول واجب ده۔ (طحطاوی ص۲۵۱ اول بتوک و طحطاوی علی المراقی ص۲۵۸)

(۱۱) مسئله:۔ چه الحمد لله او سورة ئ وویل د هیری له سببه په فکر کښی سوه او رکوع په کولو کښی دوندی وځنډه راغلی لکه اوس چه بیان سو نو سجده سهوه کول واجب ده۔ (شرح التنویر ص۴۸۹ اول بتوک)

(۱۰) مسئله:۔ دغه رنگه که ئ لوڅ کاوی د قرائت په مابین کښی ودریده او په فکر کښی سوه او په فکر کښی دوندی وخت پر تیر سو کوم چه مخکی بیان سو یا چه پرد دهم یا څلورم رکعت کښینسته نو را ئ التحیات شروع نه کړه او په فکر کښی سوه۔ او دغوندی وخت ئ په فکر کښی تیر کړی۔ یا چه د رکوع څخه پورته سوه بیا دغوندی وخت په فکر کښی وه یا د دوو سجدو په مابین کښی چه کښینسته بیا دغوندی وخت په فکر کښی وه په دغه ټولو صورتونو کښی سجده سهوه کول واجب ده غرض دادی چه دوندی وخت ئ د لماڅه په هر ځای کښی په فکر کولو سره تیر کړی او د پرمخ تللو څخه راښنده سوه نو سجده سهوه پرواجب ده۔ (رد المحتار ص۷۸۹ لومړی بتوک)

(۱۳) مسئله:۔ په دری رکعتیز یا څلور رکعتیز فرض لماڅه کښی چه پرد دوو رکعتونو د التحیات دپاره کښینسته نو دوه واړه ئ التحیات ویله نو هم سجده سهوه واجب ده۔ او که تر التحیات ورسته دغوندی قدر درود شریف وواېي۔ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ یا تر دغه دیات وواېي بیا ئ یاد می او ولاړه می نو بیا هم سجده سهوه واجب ده او که ئ تر دغه کم وواېي بیا سجده سهوه واجب نه ده (فتاوی هندیه ص۸۱ ج۱۔ درمختار ص۶۳۳ ج۱)

(۱۴) مسئله:۔ په نفل لماڅه کښی چه پرد دهم رکعت کښینی نو د التحیات سره درود

شریف ویل هم روادی د دی سببه په نفلو کښی د درود شریف په ویلو سره سجده سهوه نه واجبیږی البته که دوه واړه التحیات وایی نو په نفلو کښی هم سجده سهوه واجب ده (شرح التنویر ص۷۰۷ لومړی پتوک)

(۱۵) مسئله:- د التحیات د پاره کښینستله مګر په هیره سره ئی د التحیات پرځای نورځه ویله یا ئی الحمد لله وویله نو هم سجده سهوه واجب ده. (فتاوی هندیه ص۸۱ ج-۱-)

(۱۶) مسئله:- ترتیب ترلو وروسته ئی د سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ پرځای دعای قنوت ووایه نو سجده سهوه واجب[1] نه ده دغه رنګه د فرض لمانځه په دریم یا څلرم رکعت کښی که ئی د الحمد لله پرځای التحیات یا نور څه ووایله نو هم سجده سهوه واجب نه ده. (فتاوی هندیه ص۸۱ لومړی پتوک)

(۱۷) مسئله:- د دری رکعتیز یا څلور رکعتیز لمانځه اوله ناسته ئی هیره سوه نو دوه (۲) رکعته ئی وکړه د دریم رکعت د پاره ولاړه سوه نو که ئی د لاندی نیمه حصه سیده او برابره سوی نه وه یعنی ناستی ته نژدی وه نو دی کښینی او التحیات دی ووایی بیا دی ولاړه سی او په دا سی حالت کښی سجده سهوه نه واجبیږی. او که ئی د لاندی نیمه حصه برابره سوی وه یعنی ولاړی ته نژدی وه نو بیرته دی کښینی نه - بلکه ولاړه دی سی او څلور سوه رکعته دی وکړی فقط په آخیر کښی دی کښینی او په دغه صورت کښی سجده سهوه واجب ده او که تر سیده د سیده و وروسته بیرته کښینسته او التحیات ئی وویله نو ګناه نه ده او سجده کول اوس هم پر واجب ده. (شرح التنویر ص۷۷۸ اول پتوک)

(۱۸) مسئله:- که ئی پر څلورم رکعت ناسته هیره سوه او د ولاړیدو کوشش ئی وکړی تر داسی حده چه ناستی ته نژدی وه هم دی کښینی. التحیات درود او نور څه دی ووایی سلام دی وګرزوی سجده سهوه نسته او که سیده او جګه دریدلی وه بیا دی هم کښینی. بلکه که ئی الحمد لله او سورت هم ویلی وی یا ئی رکوع هم کړی وه بیا دی هم کښینی. التحیات دی ووایی سجده سهوه دی وکړی. البته که تر رکوع وروسته ئی هم یاد نه سو او د پنځم رکعت د پاره ئی سجده وکړه نو فرض لمونځ دی بیرته وکړی دغه نفل سوه یو رکعت دی بل وتړی وګرزوی کړی چه شپږ رکعاته سی - او سجده سهوه دی نه کوی او که ئی یو رکعت ورسره ملګری نه کړی او پر پنځم رکعت ئی

[1] برابره خبره ده که ئی د قنوت پر ځای سبحانک اللهم ووایی که ئی نه ووایی

سلام وگرزاوی نو څلور رکعاته نفل سوه او هغه یو رکعت یې بیکاره سو۔ (شرح التنویر ص۱۰۸ ج۱)

(۱۹) مسئله:- که پر څلورم رکعت کښینسته تر التحیات ویلو وروسته ولاړه سوه نو د پنځم رکعت د سجدې کولو څخه مخکې که یاد سو ورته کښینه د التحیات دی نه وایي هسې دی سلام وگرزوی سجده سهوه دی وکړی او که ئې د پنځم رکعت سجده کړې وی بیا ور پیاد سو نو دی یو رکعت بل، ورسره ملګری کړی چه شپږ رکعاته سی څلور فرض او دوه نفل۔ او پر شپږم رکعت دی سجده سهوه هم وکړی که ئې پر پنځم رکعت سلام وگرزاوی او سجده سهوه ئې وکړه نو غلط کار ئې وکړی څکه څلور څو فرض سوه هغه یو رکعت عبث اوبی فائده دی سو۔ (شرح التنویر ص۷۸۲ اول پوک)

(۲۰) مسئله:- که د نفلو په څلورو رکعتو کښې ئې اوله ناسته هیره سوه نو تر هغه وخته چه د دریم رکعت د پاره ئې سجده نه وی کړی باید کښینی او که ئې سجده وکړه نو خیر بیا هم لمونځ صحیح دی او سجده سهوه په دوارو صورتو کښې واجبه ده۔ (شرح التنویر ص۷۸۳ اول پوک)

(۲۱) مسئله:- که ئې په لمانځه کښې شک پیدا سو چه ایا ما څلور رکعاته کړی دی او که درې رکعاته۔ که د هغه شک لومړی واروی مخکې در د هغه عادت ئې شک نه وُ نو لمونځ دی دوباره راوگرزوی او که همیشه سو دا یې او شکمنه وی نو په زړه کښې دی فکر وکړی چه زړه ئې کومې خواته مئې که ئې د پورگمان د درې رکعتو نو وُ نو دی یو بل رکعت وکړی او سجده سهوه واجب نه ده او که ئې د پورگمان د څلورو رکعتو نو وُ نو بل رکعت دی نه کوی۔ او سجده سهوه دی هم نه کوی او که ئې د فکر کولو وروسته هم گمان برابر وُ نه د درې رکعتو نو طرف ته زیات گمان تلی او نه د څلورو طرف ته نو دی د درې رکعاته وبولی او یو رکعت دی بل وکړی لیکن په د هغه صورت کښې دی پرد ریم رکعت هم کښینی التحیات دی وایي بیا دی ولاړه سی او څلورم رکعت دی وکړی او سجده سهوه دی هم وکړی۔ (شرح التنویر ص۷۸۷ لومړی پوک)

(۲۲) مسئله:- که دامې شک وُ چه اول رکعت دی یاد دهم رکعت دی د دغه هم دغه حکم دی که د غه شک اول وار وی نو دی لمونځ د سره څخه راوگرزوی او که د غه شک د پرد پرد پینښیدی نو هر طرف ته چه ئې زیات گمان وی هغه طرف دی اختیار کړی او که دواړه طرفه ته برابر گمان وُ یو وه طرف ته زیات گمان نه وُ نو دی یو رکعت وبولی لیکن پرد غه اول رکعت دی کښینی التحیات دی

وایی - خکه کیدای سی چه دوهم رکعت وی او دوهم رکعت دی وکړی نو دی کښینی او په دغه رکعت کښی دی د الحمد لله سره سورة هم ووایی بیادی دریم رکعت وکړی هم دی کښینی خکه کیدای سی چه څلرم رکعت وی بیادی څلرم رکعت وکړی او سجده سهوه دی په اخیر کښی وکړی او سلام دی وګرځوی۔ (ردالمحتار ص۷۸۸ اول توک)

(۲۳) مسئله:- که ئ شک سو چه دوهم رکعت دی که دریم رکعت دی نو دغه هم دغه حکم دی که دواړه ګمانونه سره برابر وی نو دوهم رکعت دی ئ وبولی او پرد غه دوهم رکعت دی کښینی۔ دریم رکعت دی وکړی بیادی کښینی التحیات دی ووایی کیدای سی چه دغه څلورم رکعت وی بیادی څلورم رکعت وکړی سجده سهوه دی هم وکړی سلام دی وګرځوی۔ (ردالمحتار ص۷۸۸ اول توک)

(۲۴) مسئله:- که ترلمانځه وروسته شک وړ پیښ سو چه مادری رکعاته کړیدی یا څلور دی شک هیڅ اعتبار نسته لمونځ ئ صحیح دی اوکه ئ چیری یقین سو چه مادری رکعاته کړیدی بیادی ولاړه سی یو بل رکعت دی وکړی او سجده سهوه دی هم وکړی اوکه ئ ترلمانځه وروسته خبری وکړی او یقین ئ هم وځوچه مادری رکعاته کړیدی نو لمونځ دی بیرته وکړی او یا ئ داسی کار ترلمانځه وروسته وکړی وځوچه په هغه سره لمونځ ماتیږی نو دی هم لمونځ بیرته وکړی دغه رنګه که ترالتحیات وروسته ئ دغه شک وُ۔ د داغه هم دغه حکم دی ترڅوچه یقین ئ نه سی شک هیڅ اعتبار نه لری لیکن که څوک ئ د احتیاط دلاری بیرته راوګرځوی نو بنه کار دی چه دزړه وسوسه ئ لیری سی[1]۔ (ردالمحتار ص۷۸۸ ج۱)

(۲۵) مسئله:- که په یوه لمانځه کښی ډیر داسی کار ونه کړی چه یو هر کار سره سجده سهوه لازمیده نو د تولو د پاره یوواره سجده سهوه کافی ده خکه چه په یوه لمانځه کی دوه سجده سهوی نسته۔ (عالمګیری ص۸۳ اول توک او ردالمحتار ص۷۷۴ اول توک)

(۲۶) مسئله:- ترسجده سهوی کولو وروسته بیا یو داسی کار خندی وسوچه په هغه سره سجده سهوه واجبیږی نو هغه اوله سجده سهوه کافی ده بله سجده سهوه دی نه کوی۔ (شرح التنویر ص۷۷۴ اول توک)

(۲۷) مسئله:- په لمانځه کښی ئ یو داسی کار وکړی چه په سبب د هغه کار سجده

[1] مګر دو لمونځ دی پوره کړی او بیادی دوهم وار وکړی دغه لمونځ دی پرمابین نه پریږدی چه مات ئ کړی ۱۲ ربنا غفرلنا

سهوه پرواجب سوی وه لیکن سجده سهوه ئی هیره سوه دواړه طرفونه ئی سلام و
گرزاوی لیکن تراوسه پرد غه خای ناسته ده او د قبلی څخه ئی سینه نه ده اړولی
نه ئی خبری کړی دی او نه ئی بل دامی کار کړی دی چه په هغه سره ملونځ مات
سی نو دی سجده سهوه وکړی. بلکه که ترلمانځه وروسته پرد غه رقم ناسته
دی کلمه او درود شریف هم وایي یا په بله وظیفه اخته سی هیڅ پروا نسته اوس دی
سجده سهوه وکړی ملونځ ئی صحیح دی. (شرح التنویر صـ۷۸۶ اول پتوک)

(۲۸) مسئله:- سجده سهوه پرواجب وه لیکن په قصد سره ئی دواړه طرفونه په
دی نیت سلام وگرزاوی چه سجده سهوه نه کوم بیا هم سجده سهوه کولای سی
تر څو چه خبری ئی نه وی کړی یا بل دامی کار چه ملونځ په ما تیږی. (رد المحتار صـ۷۸۶ ج ۱)

(۲۹) مسئله په څلور رکعتیز یا درې رکعتیز لمانځه کی په هیره سره پرد دو رکعتو سلام
وگرزادی بیرته دی ولاړه سی د غه ملونځ دی پوره کړی او سجده سهوه دی وکړی
لیکن که ئی تر سلام گرزولو وروسته یو دامی کار وکړی چه د لمانځه سره ضد
دُو - نو دی ملونځ د سره وکړی. (شرح التنویر صـ۷۸۷ اول پتوک)

(۳۰) مسئله:- په هیره سره ئی د وتر و په دوهم یا اول رکعت کښی دعای قنوت ووایه
د د غه هیڅ اعتبار نسته په دریم رکعت کی دی بیرته ووایي او سجده سهوه دی
وکړی. (شرح کنز الدقائق صـ۴۱ اول پتوک)

(۳۱) مسئله:- د وتر و په لمانځه کښی ئی شک سو چه د غه دوهم رکعت دی او که
دریم او یوی خواته ئی غالبه گمان نه دی بلکه دواړه طرفه برابر دی نو په د غه
رکعت کی دی دعای قنوت ووایي او کښیدینی تر التحیات وروسته دی یو بل رکعت
وکړی په هغه کی دی هم دعای قنوت ووایي او په اخیر کښی دی سجده سهوه و
کړی. (شرح التنویر و رد المحتار صـ۷۰۱ اول پتوک)

(۳۲) مسئله:- د وتر و په لمانځه کښی ئی د دعای قنوت پر خای سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ویله
او چه بیا ئی په یاد سوه نو د عای قنوت ئی وویله نو سجده سهوه واجب نه ده.
(بحر الرائق صـ۴۲ اول پتوک)

(۳۳) مسئله:- په وتر لمانځه کښی ئی دعای قنوت هیر سو صرف سورة ئی ووایه
تر الحمد لله وروسته نو رکوع ته ولاړه سجده سهوه واجب ده. (شرح البدایة
صـ۱۴۰ اول پتوک)

(۲۴) مسئله:- تر الحمد الله ویلو ورسته فی دوه یا دری سورتونه وویل نو هیڅ باک نه لری سجده سهوه واجب نه ده- (رد المحتار ص۲۵-۱۳ اول توک)

(۲۵) مسئله:- د فرض لمانځه په اخیرو دوو رکعتو نوکښی ئ تر الحمد ویلو ورسته سورته ووایی یا ئ د دوو اخیرو رکعتو نو څخه په یوه کښی ووایی نو سجده سهوه واجب نده فتاوی هندیة ص۸۱ اول توک ومنیه ص۱۳۶)

(۲۶) مسئله د لمانځه په اول رکعت کښی ئ سبحانك اللهم ویل هیر سوه یا ئ په رکوع کښی سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیم نه وویله- یا ئ په سجده کښی سُبْحَانَ رَبِّیَ الْأَعْلَی نه وویله یا چه د رکوع څخه پورته سوه سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ویل ئ هیر سوه یا د نیت تړلو په وخت کښی ئ لاس تراویز و پوری پورته نه کړی یا ئ په اخیرو رکعت کښی درود شریف یا دعا ونه ویله د غسی ئ سلام وګرزاوی په دغه ټولو صورتونو کښی سجده سهوه واجب نه ده- (فتاوی هندیه ص۸۰ اول توک)

(۲۷) مسئله:- د فرضو په دواړو اخیرو رکعتو کښی یا په یوه رکعت کښی ئ الحمد الله ویل هیره سوه د غسی پته خوله ولاړه وه رکوع ته ولاړه نو هم سجده سهوه واجب نه ده- (فتاوی هندیه ص۸۱ اول توک وشرح التنویر ص۱۳۱ اول توک)

(۲۸) مسئله:- هغه شیان چه د دی په هیریدو سره سجده سهوه واجبیږی که یو څوک د هغه شیانو قصدا پریږدی نو سجده سهوه واجب نه ده بلکه لمونځ دی بیرته وکړی که ئ سجده سهوه وکړه بیا ئ هم لمونځ نه دی کامل سوی هغه شیان چه په لمانځه کښی نه فرض دی نه واجب که هغه هیر می نو لمونځ صحیح کیږی او سجده سهوه واجب نه ده. (مراقی ص۲۵۱ اول توک)

نوسم — د سجدهٔ تلاوت بیان — باب

(۱) مسئله:- په قرآن شریف کښی د تلاوت سجدی څو رلس دی هر هر ځای چه د قرآن مجید پرکناره او ارخ د- السجدة- توری لیکلی وی نو هغه آیت چه دوایی نو سجده د تلاوت باندی لازمیږی او د غی سجدی ته د تلاوت سجده ویل کیږی- (شرح البدایه ص۱۴۶ اول توک وشرح التنویر ص۷۹۹ اول توک)

(۲) مسئله د سجدهٔ تلاوت د کولو طریقه داده چه اَللّٰهُ اَکْبَرُ ووایی او سجده وکړی او د اللہ اکبر ویلو په وخت کښی دی لاسونه نه پورته کوی په سجده کښی دی لږ تر لږه دری واړه سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی ووایی بیا دی اللہ اکبر ووایی سر دی راپورته کړی بس نو سجده د تلاوت ادا سوه۔ (شرح التنویر ص۵۰۳ اول توک)

(۳) مسئله:۔ بهتر داده چه په ولاړه اللہ اکبر ووایی او سجده ته ولاړه سی بیا اللہ اکبر ووایی ولاړه سی او که چیری په ناستی سره اللہ اکبر ووایی سجدی ته ولاړه سی بیا اللہ اکبر ووایی سر راپورته کړی کښینی ولاړه نه سی نو هم سجده صحیح سوه۔ (شرح التنویر ص۵۰۳ اول توک)

(۴) مسئله:۔ د سجدی آیت چه هر څوک ووایی پر دوه هم سجده کول واجب دی۔ او هر څوک چه ئی واوری پر هغه هم واجبیږی برابره خبره ده که د قرآن شریف واوریدی په قصد ناسته وی یا په بل کار اخته وی او بیله قصده آیت د سجدی واوری۔ نو له دغه سببه نه داده چه آیت د سجدی آهسته او کرار ووایی چه پر بل چا سجده لازمه نه سی۔ (شرح البدایه ص۱۴۶ اول توک)

(۵) مسئله:۔ هر هغه شیان چه د لمانځه د پاره شرط دی هغه د سجدهٔ تلاوت د پاره هم شرط دی یعنی۔ اودس، د ځای پاکوالی، د بدن او جامی پاکوالی د قبلی طرف ته سجده کول او نور۔ (فتاوی هندیه ص۸۶ اول توک)

(۶) مسئله:۔ هر هغه رقم چه د لمانځه سجده کیږی داغه قسم د تلاوت سجدې هم کیږی۔ یعنی بښځی پر قرآن شریف سجده کوی یعنی چه آیت د سجدی ووایی نو په قرآن شریف مخ کښیږدی او سجده وکړی او بیرته خپل قرآن مجید پسی ووایی نو دغه رقم سجده نه اداکیږی او پردغه ئی د تلاوت سجده پاته ده۔ (فتاوی هندیه ص۸۶ اول توک و شرح التنویر ص۵۰۳ اول توک)

(۷) مسئله:۔ که په دغه وخت کښی چه آیت د سجدی وویل سی د چا اودس نه وی نو بیا دی یو وخت اودس وکړی او سجده دی وکړی فوراً په دغه وخت کښی سجده کول ضروری نه ده لیکن بیا داده چه په دغه وخت کښی سجده وکړی۔ څکه کیدای سی چه بیا ئی هیره سی۔ (فتاوی هندیه ص۸۶ اول توک بحر الرائق ص۱۱۷ دوهم توک و شرح التنویر ص۵۰۴ اول توک)

۴ زرد المحتار ص۵۰۴ اول توک)

(۹) مسئله:- که د چا پر ذمه د یری سجدی د تلاوت وی او تر اوسه ئی ادا کړی نه وی نو اوس دی ئی ادا کړی حُکه چه په ټول عمر کښی یو وخت باید ادا می ادا کړه ئی په ټول عمر کښی ادا نه کړی نو ګنهګار ګرځی ده۔ (شرح التنویر ص۸۰۵ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:- که ئی د حیض یا نفاس په حالت کی د چا څخه آیت د سجدی واورېدی نو پردی باندی سجده واجب نه ده او که ئی په دامی حالت کښی واورېدی چه پر دی غسل کول واجب وُو مثلاً نفاس یا حیض ئی ختم سوی وُو غسل ئی لا نه وُو کړی نو خو غسل پر واجب دی نو تر غسل وروسته سجده کول پر واجب ده۔ (شرح التنویر ص۸۰۴ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:- که ئی د مریضی په حالت کښی آیت د سجدی واورېدی او د سجدی د کولو طاقت ئی نه درلودی۔ نو که د لمانځه سجده چه په اشاره سره کوی او په هره طریقه سره چه ئی کوی نو په دغه طریقه سره دی د سجدی د آیت د پاره سجده په اشاره سره وکړی۔ (فتاوی هندیه ص۸۶ اول ټوک وشرح التنویر ص۸۰۲ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:- که ئی د سجدی آیت په لمانځه کښی ووایی نو فوراً دی سجدی ته ولاړه سی چه سجده ئی وکړه بیا دی راپورته سی ودی درېږی او یا ته سورت دی ووایی رکوع ته دی ولاړه سی که ئی د سجدی آیت ووایه او فوراً سجدی ته نه ولاړه بلکه دوه درې آیتونه ئی نور وویل بیا سجدی ته ولاړه نو داهم صحیح ده او که ئی تر دغه زیات وویل بیا سجدی ته ولاړه سجده ئی صحیح ده لیکن ګنهګار ګرځی ده۔ (شرح التنویر ورد المحتار ص۸۰۶ اول ټوک)

(۱۲) مسئله:- که ئی د سجدی آیت په لمانځه کښی ووایی او په لمانځه کښی ئی سجده نه وکړه نو تر لمانځه کولو وروسته سجده کول ئی صحیح نه ده او دهمیشه د پاره ګنهګار ګرځی ده اوس نو بیله توبی او استغفار نه بل صورت د معافی نشته۔ (شرح التنویر ص۸۰۷ لومړی ټوک)

(۱۳) مسئله:- که ئی د سجدی آیت تلاوت کړی او سمدستی رکوع ته ولاړه۔ او په رکوع کښی ئی دا نیت وکړی چه زه د سجدی د تلاوت څخه هم دغه رکوع کوم نو بیا همدغه سجده ادا کیږی او هم رکوع او که ئی دغه نیت ونه کړی نو تر رکوع وروسته چه هر وخت سجده کوی نو په دغه سجده کا سره سجده د تلاوت هم ادا کیږی برابره خبره ده که نیت وکړی که ئی نه وکړی۔ (شرح التنویر ص۸۰۸ لومړی ټوک)

(۱۴) مسئله:- که ئ د چا څخه په لمانځه کښی د سجدی آیت واورېدی نو په لمانځه کښی به سجده نه کوی بلکه د لمانځه ورو سته به سجده کوی که ئ په لمانځه کښی وکړه نو سجده ادا نه سوه د لمانځه ورو سته به ئ بیرته کوی او ګنهګار ه هم ده. (شرح التنویر ص۸۱ اول ټوک)

(۱۵) مسئله:- که پریوه ځای ناسته وه یو خاص آیت د سجدی ئ څیر واړه مکرر کړی نو فقط یوه سجده واجبه ده برابره خبره ده که ئ ټوله وارونه وواېي او په آخیر کښی سجده وکړی یا یو واړه غه آیت وواېي سجده وکړی بیا د غه آیت مکرر کړی او که ئ ځای بدل سو بیا ئ د غه آیت راوګرزاوی بیا د ریم ځای ولاړه بیا ئ د غه آیت راوګرزاوی د غه رنګه ئ د ځای بدلیدو سلسله جاری وساتله نو هر څوندی واړه چه آیت د سجدی راوګرزوی د غوندی واړه به سجده کوی. (شرح التنویر ص۸۱ اول ټوک)

(۱۶) مسئله:- که پریوه ځای ناسته وه د سجدی د تلاوت ئ جلا جلا آیتونه وویل نو چه هر څومندی آیتونه ئ ویلی دی هغومندی سجدی دی وکړی. (شرح التنویر ورد المحتار ص۸۱ اول ټوک)

(۱۷) مسئله:- ناسته وه د سجدی یو آیت ئ ولوستی بیا ولاړه سوه لیکن روانه سوی نه ده پرکوم ځای چه ناسته وه هلته ودریده بیا ئ هغه آیت وواېه نو فقط یوه سجده واجبه ده. (شرح البدایه ص۱۴۷ اول ټوک وفتاوی هندیه ص۶۲ ج۱)

(۱۸) مسئله:- پریوه ځای ئ د سجدی آیت تلاوت کړی او بیا په یو کار پسی ولاړه بیا د غه ځای ته راغله او د اغه آیت ئ وواېه نو دوی سجدی باندی واجب دی. (شرح البدایه ص۱۴۷ اول ټوک)

(۱۹) مسئله:- پریوه ځای ناسته وه د سجدی یو آیت ئ ووایی چه د قرآن مجید تلاوت ئ وکړی نو پرد غه ځای ناسته وه په یو بل کار اخته سوه مثلاً د وډی خوړل ئ شروع کړه یا ئ ګنډل (دستنی کار) شروع کړی یا ئ کوچنی ته ئ ور کړی ترد غه ورو سته ئ بیرته د غه آیت پرد غه ځای ووایی بیا هم دوی سجدی واجب سوی ځکه چه په یو بل کار ئ شروع وکړه د اسی بلل کیږی لکه ځای چه ئ بدل کړی. (رد المحتار ص۱۱۸ اول ټوک)

(۲۰) مسئله:- که د کوټی[1] یاد الان په یو کنج کښی ئ د سجدی یو آیت ووایی - بیا

[1] کوچنی کوټهم د دالان او کوټی حکم لری ۱۲ تصحیح الاغلاط - ربنا فاغفرلنا ذنوبنا

بل کنج نه ولاړه هغه آیت ئې ووایي نو بیا هم یوه سجده کافی ده هر څوندی واړه چه ئې ویلی وی البته که په بل کار سره اخته سوه وروسته ئې بیا داغه آیت ووایي نو دوهمه سجده به کوی که ئې تر دریم کار وروسته بیا داغه آیت ووایي نو دریمه سجده واجبیږی۔ (شرح البدایه صـ۱۴۷ اول ټوک وردالمحتار صـ۱۱۸ ج ۱)

(۲۱) مسئله:- که لوی کوږ وی چه دوهم کنج نه ولاړه سی او آیت د سجدی راوګرزوی۔ دوهمه سجده واجبیږی او په دریم کنج دریمه سجده واجب اولازمیږی۔ (شرح البدایه صـ۱۴۷ اول ټوک وردالمحتار صـ۱۱۸ اول ټوک)

(۲۲) مسئله:- د سجدی هم داغه حکم دی لکه د یوی کوټې حکم چه دی که د سجدی یو آیت څو واړه ووایي نو یوه سجده واجب ده برابره خبره ده که په یوه ځای ناسته وی او آیت د سجدی تکرار وی یا په مسجد کی یوی خوا او بلی خوا ته ګرزی داغه آیت تکرار وی۔ (شرح البدایه صـ۱۴۷ اول ټوک وردالمحتار صـ۱۱۸ اول ټوک)

(۲۳) مسئله:- که ئې په لمانځه کښی یو خاص آیت د سجدی مکرر کړی نو یوه سجده واجب ده برابره خبره ده که اول آیت مکرر کړی او په آخر کی یوه سجده وکړی یا داغه آیت فقط یو وار ووایي او سجده وکړی بیا په دغه رکعت کښی یا په دوهم رکعت کښی داغه آیت بیا ووایي نو هغه مخکی سجده ئې کافی ده۔ (فتاوی هندیه صـ۸۶ اول ټوک و شرح التنویر صـ۸۱ اول ټوک)

(۲۴) مسئله:- د سجدی یو آیت ئې ووایي او سجده ئې نه وکړه بیا ئې پرداغه ځای نیت وتاړی او داغه آیت ئې بیا په لمانځه کښی ووایي او په لمانځه کښی ئې سجده د تلاوت وکړه نو دغه سجده کافی ده دواړی سجدی په دغه سجده سره ادا کیږی البته که ځای بدل سو نو دوهمه سجده هم واجب ده۔ (شرح التنویر صـ۸۱ اول ټوک)

(۲۵) مسئله:- که ئې د سجدی آیت ووایي سجده ئې وکړه بیا ئې پرداغه ځای د لمانځه نیت وتاړی او داغه آیت ئې په لمانځه کښی راوګرزاوی نو اوس دی په لمانځه کښی بیرته سجده وکړی۔ (شرح التنویر صـ۸۱ اول ټوک)

(۲۶) مسئله:- کوم څوک چه آیت د سجدی ووایي د هغی ځای نه دی بدل سوی پریوه ځای ناسته ده۔ یو آیت په وار وار سره ووایي لیکن داورید ونکی ځای

بدلیږی چه اول وار ئی یو خای اوریدلی دو دوهم وار ئی بل خای اوریدلی وی او دریم وار ئی بل خای اوریدلی وی نو پدویونکی صرف یوه سجده واجب ده او پراوریدونکی پیری سجدی واجب دی هرخومره ی وار چه ئی اوریدلی دی. نو په هغه حساب به سجدی کوی. (فتاوی هندیه ص۶۸ اول ټوک وشرح التنویر ص۸۱۳ ج۱)

(۲۷) مسئله:- که دا وریدونکی خای نه وی بدل سوی بلکه دویونکی خای بدل سوی وی نو پدویونکی پیری سجدی واجبیږی اوپرا وریدونکی صرف یوه سجده واجب ده. (فتاوای هندیه ص۶۸ اول جلد وشرح التنویر ص۸۱۴ اول ټوک)

(۲۸) مسئله:- ټوله سورة ویل اود سجدی آیت پریښوول مکروه اومنعه دی فقط دپاره دخان خلاصولو دسجدی څخه. دغه آیت دی نه پریږدی ولی داداسی مثال لری لکه په دغه کښی چه دسجدی څخه انکار وی. (شرح التنویر ص۸۱۵ ج۱)

(۲۹) مسئله:- که په سورة کښی هیڅ ایت دنه وایی فقط دسجدی ایت ووایی نو هیڅ پروا نه لری اوکه په لمانځه کښی داسی وکړی نو په دغه کښی دغه هم شرط دی چه دغه آیت به دعوندی لوی وی چه د درو کوچنیو آیتو سره برابر وی لیکن شپه دانه چه دسجدی آیت دیوه یا دوو آیتو نو سره ملګری کړی او وئی وایی. (شرح التنویر ص۸۱۵ اول ټوک)

شلم باب — د مریض د لمانځه بیان

(۱) مسئله:- ملوغ دی په هیڅ حال کښی نه پریږدی ترڅوچه په ولاړی ئی کولای سی په ولاړی دی ئی کوی او چه په ولاړی ئی نه سی کولای نو په ناستی دی کوی نو رکوع دی هم په ناستی کوی دا رنګه چه ټندی ئی د زنګنونو سره مقابل اوبرابر سی او په رکوع کښی دی سر نه لګوی او دوارې سجدی دی هم په ناستی کوی اوسر دی پرمځکه لګوی. (شرح التنویر ص۷۹۱ اول ټوک)

(۲) مسئله:- که درکوع اوسجدی طاقت ئی نه درلودی نو رکوع اوسجدی دی په اشاره سره وکړی اود سجدی دپاره دی سر ډیر کښته کوی. (شرح البدایه ص۱۴۳ اول ټوک وشرح التنویر ص۷۹۳ اول ټوک)

(۳) مسئله:- دسجدی کولو دپاره دبالښت یا بل لوړشی ایښوول اوپر دغه سجدا کول شپه نه ده هغه وخت چه دسجدی قدرت نه وی نو دی صرف اشاره کوی

پر بالښت سر ږدې کولو ضرورت نشته (شرح البدایه ص۱۴۴ اول توک و شرح التنویر ص۷۹۳ لومړی توک)

④ مسئله:- که د ولاړې قدرت ئې وي لیکن د ولاړې څخه په ډیر تکلیف کیږي یا د مرض د زیاتید و خطره او ږدې وي نو په ناسته سره لمونځ کول صحیح اور وا دي. (شرح التنویر ص۷۹۱ اول توک)

⑤ مسئله:- که په ولاړې د ریدای سوه لیکن رکوع او سجده ئې نه سوه کولای نو اختیار لري یا دي و د ریږي رکوع او سجده دي په اشاره سره وکړي او یا دي کښینې رکوع او سجده دي په اشاره سره وکړي لیکن په ناسنۍ لمونځ کول غوره دي. (فتاوی هندیه ص۸۷ اول توک د منیه ص۹۱ اول توک و شرح البدایه ص۱۴۳ اول توک)

⑥ مسئله:- که ئې د ناستې هم طاقت نه وُ نو شاته دي یوشۍ کښیږدي چه هغه ته شاو لګوي او دا رنګه دي پریږدي چه سر ئې ښکته لوړ وي بلکه نژدې اوقریب و ناستې ته وي او پښې دي د قبلې وطرف ته وغزوي او که ئې څه طاقت وُ نو دي پښې د قبلې وطرف ته نه غزوي بلکه څنګونه دي جګ ودروي بیا دي د سر په اشاره سره لمونځ وکړي او د سجدې اشاره دي د رکوع نه اشاره لږ ښکته کوي. که ئې دا رنګه هم طاقت نه وو چه شاته یوشۍ کښیږدي دا رنګه چه سر او سینه ئې لوړ وي نو دي د قبلې وطرف ته بالکل سیده پښې وغزوي او بالکل دي سم دم پریږدي لیکن تر سر لاندې دي یولوړ بالښت یا بل شۍ کښیږدي چه مخ ئې د قبلې طرف ته سي او د اسمان طرف ته نه سي نو دي د سر په اشاره سره لمونځ وکړي. د رکوع اشاره دي کمه کوي او د سجدې اشاره دي لږ څه زیاته کوي. فتاوی هندیه ص۸۷ اول جلد و شرح التنویر ص۷۹۴-۷۹۵ لومړی توک)

⑦ مسئله:- که د شا پر تخته نه پریږدي چه پښې د قبلې وخواته وغزوي بلکه پر راسته یا چپه اړخ پریږدي مخ د قبلې طرف ته کړي د سر په اشاره سره رکوع او سجده وکړي دا هم روا دي لیکن چه د شا پر تخته یعنی ستونی سقف پریږدي او لمونځ وکړي ډیر ښه دي تر اړخ. (فتاوی هندیه ص۸۷ اول توک و شرح التنویر ص۱۹۴ و ص۱۹۵)

⑧ مسئله:- که ئې د سر په اشاره سره هم لمونځ نه سو کولای نو لمونځ دي نه کوي بیا نو که تر یوې شپې او ورځې ئې دغه حالت زیات وُ نو دغه لمونځونه ئې معاف دي تر جوړیدو او صحت وروسته ئې قضا را ګرزول واجب نه دي او که دغه حالت

مرتبہ وہ شپہ او ورځ زیات نہ وُ مرتبہ ورځ او شپہ کم وُ پہ بیوہ ورځ او شپہ کی ئی بیرتہ طاقت د اشاری کولو پیدا کړی نو پہ اشارہ سرہ دی د دغو پاتہ سوو لمنځونو قضارا وگرزدی او د ادا کړہ دی نہ کوی چہ زہ بالکل بنہ سم بیاب ئی قضارا وړم ولی کیدای سی چہ مړہ سی نو گنہگارہ بہ وی۔ (فتاوی ھندیہ ص۸۷ اول جلد شرح التنویر ص۷۹۵ اول جلد ومنیہ ص۹۳ اول جلد)

(۹) مسئلہ:۔ دغہ رنگہ کہ چوک او روغ انسان بی ھوښہ سو او دغہ حالت ئی مرتبوی ورځی او شپی زیات وُ۔ نو قضارا گرزول واجبہ نہ دہ او کہ مرتبوی ورځی او شپی زیات نہ وُ نو قضارا گرزول ئی واجب دہ۔ (مراقی الفلاح ص۲۳۷)

(۱۰) مسئلہ:۔ چہ لمونځ ئی شروع کړی پہ دغہ وخت کښی چوک روغہ وہ نو چہ لږ څہ لمونځ ئی وکړی نا ببرہ مریضہ سوہ مثلاً د بدن یو رگ ئی بی ځایہ سو چہ درېدلای نہ سو نو پاتہ لمونځ دی پہ ناستی سرہ وکړی کہ ئی رکوع او سجدہ کولای سو نو رکوع او سجدہ دی وکړی او کہ ئی نہ سو کولای نو رکوع او سجدہ دی د سر پہ اشارہ سرہ وکړی او کہ ئی د ناستی ھم طاقت نہ وُ نو دی پہ پروتی سرہ نور پاتہ لمونځ پورہ کړی۔ (فتاوی ھندیہ ص۸۷ اول توک وشرح التنویر ص۷۹۶ ج۱)

(۱۱) مسئلہ:۔ د مریضی پہ سبب ئی څہ اندازہ لمونځ پہ ناستی وکړی رکوع او سجدہ ئی پہ اشارہ سرہ نہ دہ بلکہ ھر یو ئی پرځپل ځای کړی وہ بیا پہ لمانځہ کښی روغہ سو نو دغہ لمونځ دی پہ ولاړی پورہ کړی۔ (عالمگیری ص۸۷ اول توک ورد المحتار ص۷۹۶ اول توک وشرح التنویر ص۷۹۶ اول توک)

(۱۲) مسئلہ:۔ کہ د مریضی پہ وجہ ئی د رکوع او سجدی کولو طاقت نہ درلودی نو د سر پہ اشارہ سرہ ئی رکوع او سجدہ کولہ چہ لږ څہ لمونځ ئی وکړی نو د وندی قدرت روغہ سو کہ چہ د رکوع او سجدی کولو قدرت ئی پیدا کړی نو لمونځ ئی مات سو۔ داغہ لمونځ دی نہ پورہ کوی بلکہ د نوی سرہ دی دغہ لمونځ راګرزوی (فتاوی ھندیہ ص۸۷ اول جلد وشرح التنویر ص۷۹۶ اول جلد)

(۱۳) مسئلہ:۔ ابلج د وھلہ او داسی سو کہ چہ استنجا ئی پہ او بو سرہ نہ سو کولای نو پہ ټوکر یا لوتہ سرہ دی د استنجا ځای صاف کړی او لمونځ دی وکړی کہ ئی خپلہ تیمم نہ سو کولای نو بل څوک دی تیمم درودی او کہ ئی پہ ټوکر یا لوتہ سرہ ھم نہ سو کولای چہ د استنجا ځای صاف کړی بیا دی ھم لمونځ نہ قضا کوی

دغسی دی لمونځ وکړی بل چانته دد پې د بدن لیدل او ور وچول روانه دی. نه مور - نه پلار - نه زوی - نه لور ته البته لیدل د خپل خاوند د بدن د خپلې بښځې د پاره او لیدل د خپلې بښځې د بدن د خپل خاوند د پاره روادی د دغه څخه غیر د بل چا د پاره روانه دی. (فتاوی هندیه ص۳۱ اول ټوک و شرح التنویر فصل الاستنجاء ص۳۵۲ اول ټوک)

(۱۴) مسئله :- د جوړولو والی په وخت کښې یو څه لمونځونه څنډی پاته سوی وه بیا مریضه سوه نو د مریضۍ په وخت کښې چه ئې هر رقم د لمانځه د کولو قدرت وی هغه رقم دی وکړی د غه انتظار دی نه کوی چه ما هر وخت په ولاړې سره د لمانځه کولو یا په ناسته سره د رکوع او سجدې کولو قدرت پیدا کړی نو بیا ئې راګرزوم د غه ټول شیطانی خیالات دی د دیندارۍ خبره دا ده چه فوراً ئې وکړی څنډه ونه کړی. (فتاوی هندیه ص۸۸ اول ټوک و شرح التنویر ص۸۳۳ اول ټوک)

(۱۵) مسئله :- که د مریض بستره خرابه وی او په بدلولو کښې ئې مریض نه سخت تکلیف ور کړه کیږی نو پرده اغه بستره ئې لمونځ صحیح دی. (فتاوی هندیه ص۸۸ اول ټوک و شرح التنویر ص۷۹۹ اول ټوک)

(۱۶) مسئله :- طبیب دیو چا د ستر ګو علاج کړی وا د د حرکت او شوریدو څخه ئې منعه کړی وه نو دی په پرتې سره خپل لمونځ کوی. (شرح التنویر ص۷۹۹ اول ټوک)

یو دیشتم — په سفر کښې د لمانځه کولو بیان — بابیه

(۱) مسئله :- که څوک دیوه مزله یا دوه[۲] مزلو په سفر روانه سی نو پدغه سفر سره د شریعت هیڅ حکم نه بدلیږی او په قانون د شریعت ودی ته مسافر نه ویل کیږی بلکه د اداسی ده لکه کور چه وی ټول احکام ئې د مقیم دی - لمونځ به هم پوره کوی او پر موزو به هم مسحه یوه ورځ او یوه شپه کوی تر یوی ورځې او یوی شپې ورو سته بیا د دې د پاره مسحه کول روانه دی. (شرح البدایه ص۱۴۸ اول جلد)

(۲) مسئله :- څوک چه د ری مزله د سفر نیت وکړی نو روانه سی نو دا به حکم د شریعت مسافر ده چه د خپل کلی د آبادی څخه د باندی وو زی نو بیا دی ته مسافر ویل کیږی او تر څو چه د خپل کلی په آبادی کښې د ننه روانه

وی نو د مسافر نه ده او که استیشن یعنی اډه یه آبادی کښی د ننه وی نو د آبادی په حکم کښی ده او چه د غه استیشن او اډه تر آبادی د باندی وی نو چه هلته ورسیږی مسافر بلل کیږی۔ (شرح التنویر ص۸۱۹ اول ټوک)

(۳) مسئله:۔ د ریل مزله دوه ډنډی دی چه اکثره یه پښو تلونکی یه دری (۳) ورځو کښی ورسیږی۔ د د غو دریو (۳) ورځو مزلو چه کوم علماؤ اندازه لګولی ده۔ هغه اته (۴۸) څلویښت انګریزی میله ده چه په هغه اوږدوالی سفر نه وی۔ (شرح التنویر ص۸۱۹ اول ټوک)

(۴) مسئله:۔ که یو ځای د ډنډی لیږی وی چه د انسان د تګ یا د اوښ د تګ په اعتبار خو دری مزله وی لیکن په تیزه تانګه (بګی) یا د غوایو په ګاډی کښی سپره ده نو له د غه سببه په دوی ورځو کښی ورسیږی۔ یا په توره ګاډی کښی سپره سوه لږ ګړی ورو سته ورسیده نو د شریعت له نګاه څخه مسافره نه ده۔ (فتاوی هندیه ص۸۹ اول ټوک)

(۵) مسئله:۔ چه څوک د شریعت په حکم سړه مسافر وی هغه دی د ماپښین مازیګر او ماخستن وزمن لمونځ دوه دوه رکعاته وکړی او پاته د سنتو حکم سو هغه دادی که ئې د پیر تلوار وی د سهار د سنتو څخه ماسیوی د نورو نفلو پریښوول روا دی په پریښودلو کښی ئې هیڅ ګناه نسته او که ئې تلوار نه وی او نه ئې دا بیره وه چه ملګری راځخه ځی زه یواځی پاتیږم نو دی بیا نه پریږدی او سنت دی په سفر کښی پوره پوره کوی په دوی کښی کمی نسته۔ (فتاوی هندیه ص۸۹ اول ټوک و بحر الرائق ص۱۳ اول ټوک و شرح التنویر ص۲۲۸ اول ټوک)

(۶) مسئله:۔ د سهار، ماښام او وتر د په لماڅه کښی هم هیڅ کمی نسته لکه همیشه چه ئې کول هغسی دی کوی۔ (رد المحتار ص۸۲۱ اول ټوک)

(۷) مسئله:۔ د ماپښین، مازیګر او ماخستن لمونځونه دی تر دوو (۲) رکعتو نو زیات نه کوی پوره څلور رکعاته کول ګناه ده لکه د ماپښین څلور رکعاته چه شپیږه (۶) کړی خو ګناه ده نو هغه هم بالاکول ګناه ده۔ (فتاوی هندیه ص۸۹ اول جلد و رد المحتار ص۸۲۱ اول جلد)

(۸) مسئله:۔ که ئې په هیره سړه څلور رکعاته وکړه او اوله ناسته ئې کړی وی

ف یعنی چه مسافر نه وی په کور کښی وی د څلورو رکعاتو پرځای شپږ رکعاته وکړی ۱۲ محشی

نو لمونځ ئی صحیح دی دوه رکعاته فرض شماردی دوه نفل او سجده سهوه دی په آخر کښی وکړی او که ئی اوله ناسته نه وی کړی نو څلور سره رکعاته نفل سوه او فرض لمونځ دی بیرته وکړی۔ (شرح التنویر صفحه ۸۲۶ اول ټوک)

(۹) مسئله:۔ که په لار کښی یو څای پاته سوه نو که ئی تر پنځلسو ورځو کم پاته کیدو نیت کړی وُو نو دا مسافره ده څلور رکعتیز فرض لمونځ دی دوه رکعته کړی که ئی د پنځلسو ورځو یا زیات تر پنځلسو ورځو نیت کړی وُو نو بیا مسافره نه ده او که ئی نیت بدل سو او تر پنځلس ورځی مخکی ئی د تګ اراده وکړه بیا هم نه ده مسافره لمنځونه دی پوره کوی تر څوچه روانه سوی نه وی نو بیا چه روانه سوه نو که هغه ځای ددی ځایه څخه دری مزله لیری وُو نو بیا مسافره ده او که کم وُو نو مسافره نه ده۔ (شرح البدایه صفحه ۱۲۹ اول جلد وشرح التنویر صفحه ۸۳۳ ج ۱)

(۱۰) مسئله:۔ د دریُو (۳) مزلو د تګ اراده ئی وکړه د کومه ورځه وو تله لیکن د کومه څخه ئی د غه نیت هم دی چه په فلانی کلی کښی پنځلس ورځی تیروم نو مسافره نه ده په هغه لار کښی دی لمنځونه پوره کوی بیا که هغه کلی ته ورسیده او پوره پنځلس ورځی ئی تیری نو کړی نو هم مسافره نه ده۔ (رد المحتار صفحه ۸۳ ج ۱)

(۱۱) مسئله:۔ د دریو مزلو اراده ئی وکړه لیکن پر اول مزل یا دوهم مزل ئی خپل کور یا تلی یعنی کومه ئی یو مزل یا دوه مزله لیری سو بیا هم مسافره نه ده۔ رد المحتار صفحه ۸۳ اول جلد)

(۱۲) مسئله:۔ د څلورو مزلو د تګ نیت ئی وکړی روانه سوه لیکن اول دوه مزله ئی د حیض په حالت کښی تیر کړه نو مسافره نه ده نو دی غسل وکړی او پوره څلور رکعته لمونځ دی وکړی او کوی دی۔ البته که تر حیض پاکیدو وروسته هم هغه ځای دری مزله وو یا دکومه څخه د تګ په وخت کښی پاکه وه په لار کښی حیض ورغلی نو مسافره ده لمونځ به د مسافر نو پر رقم کوی۔ (شرح التنویر صفحه ۸۳۳ لومړی ټوک)

(۱۳) مسئله:۔ لمونځ ئی کاوی په لمانځه کښی د ننه ئی نیت د پنځلسو ورځو پاته کیدو وکړی نو مسافره نه ده د هغه لمونځ دی هم پوره وکړی۔ (فتاوی هندیه صفحه ۱۳۹ اول ټوک وشرح التنویر صفحه ۸۲۲ لومړی ټوک)

(۱۴) مسئله:۔ د دریُو (۳) څلورو د ورځو د پاره یو څای په لار کښی پاته سوه نیت د اقامت

له یعنی د نیت ئی دوه چه تر یوه دوو مزلو وروسته په فلانی کلی کښی پنځلس ورځی اوسیږم نو مسافره نه ده ۲

یعنی د پنځلسو ورځو نیه د غه ځای کښی نه دی کړی لیکن یو کار به ورپیښ سو بیا به پاته سوه خو ورځنه دا نیت کوی چه سبا به څم بل سبا به څم مگر نصیب نی نه دی راغلی د غه رنگه پنځلس ورځی یا شل ورځی یا میاشت هلته پاته سوه یا تر میاشت زیاته پاته سوه نو بیا هم مسافره ده برابره خبره ده که هر څو ندی وخت د غه رنگه پریتیږی۔ (شرح البدایه ص۱۴۹ اول توک و شرح التنویر ص۸۲۴ ج۱)

(۱۵) مسئله:- د درۍ او مزلو د تگ اراده نی وکړه روانه سوه نو څه لیری ولاړه دیو سبب نی اراده بدله سوه بیرته کور ته راوګرزیده نو هر هغه وخت چه وکور ته د بیرته راګرزیده و اراده نی وکړه مسافره نه ده۔ (رد المحتار ص۸۴۵ ج۱)

(۱۶) مسئله:- بنځه د خپل خاوند سره وه نو په لاره کښی چه هغه څوند ده پاته کیږی د اتو هغه ورځ پاته نه سی پاته کیدای نو د خاوند نیت نی معتبر دی که هغه نیت د پنځلسو ورځو د پاته کیدو وکړی نو د اهم مسافره نه ده برابره خبره ده که داد پنځلسو ورځو د پاته کیدو (او سیدو) نیت وکړی که نی نه وکړی اوکه نی د خاوند تر پنځلسو ورځو کمه اراده وه نو د اهم مسافره ده۔ (شرح التنویر و رد المحتار ص۸۳۱ لومړی توک)

(۱۷) مسئله:- د درۍ او مزلو نی تگ وکړی یو ځای ته ورسیده که نی هغه خپل کور وی نو مسافره نه ده که لږ ورځی پاته سی یا پیری اوکه نی خپل کور نه وی نو که نی نیت د پنځلسو یا زیاتو ورځو وکړی بیا هم مسافره نه ده نو لمونځ نه دی پوره پوره کوی اوکه نی نه خپل کور وی اونه نی د پنځلسو یا زیاتو ورځو د پاته کیدو نیت کړی وی نو په د غه ځای کښی مسافره ده پرځای د څلورو رکعتو فرضو به دوه رکعاته فرض کوی۔ (شرح التنویر ص۸۲۱ اول جلد)

(۱۸) مسئله:- په لاره کښی نی د پرځایونه د پاته کیدو اراده وی۔ لس ورځی د لته، پنځه ورځی هلته۔ لیکن د پورهٔ پنځلسو ورځو اراده نی هیڅ ځای نه وی نو بیا هم مسافره ده۔ (شرح التنویر ص۸۲۱ اول توک)

(۱۹) مسئله:- چا خپل کلی او بنار بالکل پریښوو وی بل ځای نی خپل کور کړی او هلته نی د اوسیدو اراده وکړه او د پخوانی بنار او کلی سره نی هیڅ علاقه نه سوه پاته نو که د سفر کولو په وخت کښی پر هغه خپل پریښوو لی پخوانی بنار او علاقه (کلی) باندی راغله د ری څلور ورځی هلته پاته سوه نو مسافره ده او لمونځ به سفریانه کوی

(شرح التنویر ص۸۲۹ لومړی ټوک)

(۲۰) مسئله:- که دچا څخه په سفر کښې لمنځونه قضا سوه نو کور ته چې راسی دمابښین، مازیګر، ماخستن لمونځ به دوه دوه رکعاته راګرزوی او که په کور کښې قضا سوه نو دمابښین، مازیګر، ماخستن لمنځونه به څلور څلور رکعاته راګرزوی که څه هم په سفر کښې ئې راګرزوی۔ (شرح البدایه ص۱۵ اول ټوک)

(۲۱) مسئله:- د واده څخه ورسته بنځه د همیشه د پاره د خپل خاوند په کور کښې پاته سوه یعنی د خسرګنې په کور کښې پاته سوه بیا ئې نیت دا وسید د پلار په کور کښې نه وُ په مستقله طریقه سره نو اوس ئې اصلی کور د غه د خاوند (میړه) کور دی که ئې د پلار کره د پنځلسو یا زیاتو وړځو دا وسید و نیت نه وی کړی نو مسافره ده چه د پلار کور ئې دری مزله لیری وی او که ئې د همیشه د پاره د خاوند په کور کې دا وسید و اراده نه وه نو د پلار کور ئې اصلی وطن دی۔ (شرح التنویر ص۸۲۹ اول ټوک)

(۲۲) مسئله:- په دریاب کښې چه کښتی روانه وی او د لمانځه وخت راسی په داغه کښتی کښې دی لمونځ وکړی او که ئې په ولاړی سره سره ګرزیدی نو لمونځ دی بیا په ناسته سره وکړی۔ (شرح البدایه ص۱۴۵ ج۱ او شرح التنویر ص۷۹۷ ج۱)

(۲۳) مسئله:- د توری ګاډی هم داغه حکم دی که هغه روانه وه نو په دغه ګاډی کښې دی لمونځ وکړی او که ئې په ولاړی سره سره ګرزیدی نو لمونځ دی بیا په ناستی سره وکړی۔ (شرح البدایه ص۱۴۵ اول ټوک وشرح التنویر ص۷۹۷ اول ټوک)

(۲۴) مسئله:- توره ګاډی روانه وه نو څه دی لمونځ پکښې کاوی نو ګاډی راوګرزیدی دقبلی د طرف څخه د دی مخ واو بښتی نو په دغه لمانځه کښې دی مخ راوګرزوی او د قبلی طرف نه دی مخ کړی۔ (شرح التنویر ص۷۹۷ اول ټوک)

(۲۵) مسئله:- که بنځه دری مزله د تګ اراده لری نو تر څو چه د خلقو څخه خپل محرم یا خپل خاوند ورسره ملګری نه وی نو د دی سفر کول منعه دی چه محرم ئې نه وی بلکه غیر محرم وی د هغه سره د دی سفر منعه دی او لویه ګناه ده که یو مزل یا دوه مزله حتی بیا هم د غیر محرم سره د دی سفر کول بنه نه دی په حدیث شریف کښې د دغه ډیره سخته منعه راغلی ده۔ (فتاوی هندیه ص۹۱ لومړی ټوک۔ وبحر الرائق ص۳۱۴ دوهم جلد)

(۲۶) مسئله:- هغه محرم چه د پروردګار عالم او نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه نه بیریږی او د شریعت پابند ی نه کوی د دغسی محرم سره هم سفر کول جائز او روانه دی۔ بحرالرائق ص۳۱۳ دوهم جلد)

(۲۷) مسئله:- په تانګه (بګۍ) یا دغویو په ګاډی کښی روانه ده او د لمانځه وخت راغلی نو دی ګاډی څخه راتا (کښته) سی پریږدو جلا ځای دی لمونځ وکړی داغه رنګه که ئی په ګاډی یا بګۍ کښی او دس نه سو کولای نو دی را کښته سی او په بوه پرده ناکه ځای کښی دی او دس وکړی نو که چادری (بوغزه) ورسره نه وی نو په یو پورډنی یا بل شی کښی دی بنه ځان پټ کړی را کښته دی سی او لمونځ دی وکړی هیڅ وخت دی داسی درنه او سخته پرده نه کوی چه په هغه سره لمونځ قضا سی۔ ځکه د غسی پرده حرامه ده په هر کار کښی دی د شریعت خبره مخکی کړی د پردی دی هم هغه اندازه کښیږدی چه شریعت ویلی دی د شریعت تر حده زیادت کول ډیره بی عقلی او نادانی ده۔ البته بی ضرورته په پرده کښی کمی کول بیغیرته اوګناه ده۔ (شرح التنویر ص۷۳۴ لومړی ټوک)

(۲۸) مسئله:- که داسی مریضی وی چه په ناستی لمونځ کول ورته روادی بیا هم د غویو په روانه ګاډی کښی لمونځ کول ورته روانه دی که ګاډی ودرول سی او غوابی ځندی خلاص نه کړی هم په دغه ګاډی کښی لمونځ کول روانه دی او که غوابی ځندی خلاص کړی بیا لمونځ په دغه ګاډی کښی روا دی۔ د تانګی (بګۍ) هم داغه حکم دی۔ چه ترڅو پوری آس ځندی خلاص سوی نه وی لمونځ پکښی کول روا نه دی۔ (شرح التنویر ص۷۳۴ لومړی ټوک)

(۲۹) مسئله:- که داسی مریضی وی چه لمونځ کول په ناستی ورته روادی نو په کجاوه کښی هم لمونځ کول ورته روادی۔ لیکن هغه کجاوه چه د خلقو پراوښ وی لمونځ کول پکښی روانه دی۔ پرمخکه دی کښیږدی بیا دی لمونځ وکړی (شرح التنویر ص۷۳۴ لومړی ټوک)

(۳۰) مسئله:- که د اوښ یا غویو ګاډی یا تانګی (بګۍ) څخه کښته کیږی د ځان مال خطره ئی وی نو بیله کښته کید و هم لمونځ روادی۔ (فتاوی هندیه ص۹۲ اول ټوک و شرح التنویر ص۷۳۳ لومړی ټوک)

دوه ویشتم	په کور کښی د مرګ پیښیدو بیان	باب

(۱) مسئله:- څه وخت چه انسان ته مرګ راسی نو ستاسی ستنځ دی پریباسی - او پښی دی ئ د قبلی طرف ته کړی او سر دی ور لوړ کړی چه مخ ئ د قبلی طرف ته سی او ده ته دی نژدی کښینی او په لوړ آواز سره دی کلمه شریفه وایی چه هغه ئ واوری او کلمه ووایی او داسی دی نه ورته وایی چه کلمه ووایه ځکه د هغه وخت پیر مشکل او سخت دی داسی نه وی چه تر څوله ئ نور څه ووزی - (شرح التنویر ص۸۸۸ لومړی توک)

(۲) مسئله:- چه مړکید ونکی یو وار کلمه ووایی بیا دی د هغه ښوونکی پته څوله سی - نو بس د هغه کافی ده څوک دی دا کوشش نه کوی چه تر پایه پورې دی د هغه زکندن والا ته کلمه ووایی ځکه غږ ښه داد ی چه اخیره خبره ئ کلمه طیبه سی دی ته ضرورت نشته چه تر ساه - ختلو پورې به مسلسله کلمه وایی لیکن که ئ د کلمې ویلو روسته د دنیا خبرې وکړی بیا دی کلمه ورته ووایی چه هغه کلمه ووایی - نو بیا دی د هغه ویونکی او ښوونکی د کلمې پته څوله سی - (شرح التنویر ص۸۹ جلد اول

(۳) مسئله:- چه ساه ئ لنډه لنډه کیږی پرځنځ سی پښی ئ سستی سی تکیه کیدای نه سی پزه ئ کږه کا سی او کونکان ئ ولویږی نو دی دوی پوه سی چه مرګ ئ راغلی په دغه وخت کښی دی کلمه په زور زور سره ورته وایی (فتاوی هندیه منځ اول جلد)

(۴) مسئله:- د سورۀ یٰسین په ویلو سره د مرګ سختی لیږی کیږی او کمیږی نو دی د ده سره ته یا بلی خواته نژدی کښینی او سورۀ یٰسین دی ووایی او ئ سورۀ یٰسین نه وئ نزدې بل چا ته دی ووایی چه د هغه سورۀ پرووایی - (فتاوی هندیه منځ ج-۱)

(۵) مسئله:- په دغه وخت کښی دی یو داسی خبره نه ورته کوی چه د ده زړه د دنیا وطرف ته راوګرزی ځکه چه دغه وخت د دنیا څخه د جدایی او د الله پاک په دربار کښی د حاضری دی داسی خبری دی کوی چه د ده زړه د دنیا د خبرو څخه وګرزی او د خدای پاک طرف ته متوجه سی ځکه چه د مړی خیر نواو په دغه کښی ده په دغسی وخت کښی اولاد منځ ته ورته راوړل یا بل داسی شی چه د هغه سره ئ مینه او محبت وی او یا داسی خبری ورته کول چه د ده زړه

د د غو شیانو وخوا ته راګرزي او په زړه کښی ئی د د غو شیانو مینه کښینی۔ پیر ګاډه خبره ده او چه د د نیا محبت ئی په زړه کښی وی رخصت سی۔ نعوذ باالله په پیر بیکاره مرګ مړ سو۔ (مسلم شریف ومشکوة شریف ص ۱۴۰ ج ۱)

(۶) مسئله:۔ د مرګ په وخت کښی ئی د خولی څخه د کفر خبره وو تله خدا ناخواسته نو فکر دی نه خرابوی او نه دی د غه آواز ګډوی بلکه د مرګ د سختی او د عقل د تلو د سبب ده دی وبولی (وګنې) او چه عقل والا رسی نو په د غه وخت کښی هر څه معاف دی او د خدای پاک څخه دی د د غه د بخښش دعا کوی۔ (شرح التنویر ص ۸۹۱)

(۷) چه څوک مړ سی نو پتول اندا مونه ئی برابر کړه او په یو پتوکړ (رښتکی) مړ د د ه خوله په داسی طریقه مړ ه بنده کړه چه رښتکی د د ه تر نه نه لاندی کښینی۔ د ه د رښتکی د واړه مړ و نه ئی سوته وړ سو ه او غوټه وړ کړه چه خوله ئی وا نه نه سی پاته او ستړګی ئی ورښندی کړه او د د واړه پښو ښتی ګوتی ئی مړ ه نژدی کړه او ورو ئی تړ ه چه پښی ئی ایله پاته نه سی بیا یو ه پټه پرو غوړ ه او چه څوندی کولای سی په غسل او کفن کښی ئی تلوار وکړه۔ (فتاوی هندیه ص ۱۰۱ اول پتوک)

(۸) مسئله:۔ د خولی او نورو شیانو بند ولو په وخت کښی د غه دعا وایه بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ (فتاوی هندیه ص ۱۰۱ لومړی پتوک)

(۹) مسئله:۔ تر مرګ وروسته د مړی مړ ه۔ اګربتی۔ عود۔ لوبان۔ یا بله خوشبوئی ولګوه۔ هغه بنځه چه په حیض او نفاس کښی وی او څوک چه غسل ته ضرورت لری د مړی وخوا ته دی نه ورځی۔ (شرح التنویر ص ۸۹۲ لومړی پتوک)

(۱۰) مسئله:۔ تر مړکید و وروسته چه تر څو پورې غسل ورکول سوی نه وی نو د ه ته نژدی قرآن شریف ویل روا نه دی۔ (شرح التنویر ص ۸۹۳ اول جلد)

دریشتم مړی ته د غسل ورکولو بیان باب

(۱) مسئله:۔ چه د ګور او کفن پتول سامان ئی برابر سی او غواړی چه غسل ورکړی نو د مړی د تختی مړ ه۔ اګربتی۔ یا۔ لوبان په او ړ مړ ه وو د وو۔ د مړی واړه یا پنځه (۵) واړه یا اوو (۷) واړه ئی د تختی پرځلور طرفه وو د وو او بیا نو مړی (مړد ه) پرد غه تخته باندی پری باسه او کالی څندی وکابزه او یو توکر

د نامه څخه بیاتر څنګنو پوری پرواچوه چه د غه قدر بدن ئی پټ سی۔ (فتاوی هندیه ص۱۰۱ لومړی توک)

(۲) مسئله:- که د غسل ورکولو جلا ځای دی چه او به ئی جلا وبهیږی نو خیر دی اوکه نه دی نو د مړی تر څنګ لاندی دی غار وکینی چه د غه او به په کښی جمعه سی اوکه ئی غار نه وکینی اداو به په ټول کور کښی سره ولاړی نو هم ګناه نه لری۔ صرف عزض دادی چه په تګ اوراتګ کښی چا ته تکلیف پیښ نه سی اوخوک و نه ښوهیږی۔ (هذه المسئلة ظاهرة لاتحتاج لنقل ۱۲ ف)

(۳) مسئله:- مړی ته د غسل ورکولو طریقه داده چه اول د مړی ته استنجا ورووهی۔ لیکن د ده داستنجا او د ره نو نو پرځای لاس مه وهه او مه ورته ګوره بلکه په لاس یو توکر (کثوړه) واغوندهٔ او هغه توکر چه د نامه څخه بیاتر څنګنو پوری پرپروت دی هغه مه لیری کوه تر هغه لاندی استنجا ورووهه بیا اودس ورکړه په خوله او پزه ئی او به مه ورګرزوه او مه تر بندونو (مړوندونو) پوری لاسونه ورمینځه اول مخ ورپری مینځه بیا لاسونه سره د څینګلو بیا د سره مسحه بیاد واړی پښی اوکه دری واړه پښه لنډه کړی پرغاښو او ورپسو باندی ئی ګوزړول سی او دپزی په دواړو سوړیا توکینی ګلزړ سی نو هم روادی (فتاوی هندیه ص۱۰۱ اول توک) اوکه څوک د حیض، نفاس او جنابت په حال کښی مړ سی نو په د غه طریقه سره ئی خولی اوپزی ته او به ورسول ضروری دی (شرح التنویر ص۸۹۵ اول توک) په خوله پزه او غوږ وکښی ئی پښه ورکښیږده چه داودس او غسل ورکولو په وخت کښی اوبه ورنه سی۔ چه اودس دی وروکړی نو سر ئی په ګل خیرو یا بل داسی شی سره چه په هغه سره صفا کیدای سی۔ لکه بروځه، صابن، شیمپو۔ ورپری مینځه او ورروی مینځه چه پښه صاف سی (فتاوی هندیه ص۱۰۱ لومړی توک) بیا ئی پرچپه اړخ پری باسه داسی اوبه چه دبیړی د درختی په پاڼو کښی پخی سوی دی او لږ څه ګرمی وی دبیړی ګرمی ته وی دری واړه د سر څخه بنولی بیا تر پښو پورې پرواچوه تر داسی حده چه چپه اړخ ته ورسیږی بیا ئی پر راسته اړخ پری باسه او د غه رنګه د سر څخه تر پښو پورې دری واړه د غوندی اوبه پرواچوه چه تر راسته اړخ پورې ورسیږی او بیادی لږ څه را کښینوی پرښس دی لاس ګرا ګرا ورسترګو کړی

او لږدی پرلاس زور وکړی اوکه څه شی څندی وو نو هغه دی ور پاک کړی اوکه څه شی ووزی نو اودس او غسل ته قاوان نه دسلیږی نه دی راګرزوی بیادی پرچپه ارخ پری باسی اود کافورو په اوبوسره دی دری واړه د سر څخه تر پښو پوری پری مینځ بیادی ټول بدن په یو توکر سره ورو ډوچ کړی اوکفن دی ورکړی (فتاوی هندیه ص۱۰۱ اول جلد و شرح التنویر ص۸۹۶ اول توک و رد المحتار ص۸۹۶ اول توک)

(۴) مسئله:- اوبه که دبیرو په پانوکښی نه وی ایشیدلی داغسی نیم ګرمه ساده اوبه وی هم کافی دی په دغه ساده اوبودی دری واړه پریولی اوپه دیرو ګرمو اوبوسره دی مړی ته غسل نه ورکوی (شرح البدایة ص۱۶۰ اول توک)

اود غسل ورکولو چه کومه طریقه پورته بیان سوه سنت طریقه ده که ئی په دغه طریقه سره دری واړه نه پریمنځی بلکه په یوه واړه سره ئی ټول بدن پریمنځی هم فرض ادا کیږی۔ (فتاوی هندیه ص۱۰۱ اول جلد)

(۵) مسئله:- چه مړی پرکفن کښیښودل سی نو پرسر دی عطر ورواچوی اوکه نارینه دی پریږدی ږیره دی هم عطر ورواچوی بیادی پرتندی پزه دواړه ورغوږ او دواړه ځنګښونو اود واړه پښو پوری کافور ورومږی بعضی خلق پرکفن عطر لګوی او په عطرو لړلی پنبه په غوږونو کښی ورایږدی دا ټول جهالت دی هرڅه چه په شریعت کښی راغلی دی تر دغه دی زیادت نه کوی۔ (شرح البدایه ص۱۶۱ اول توک)

(۶) مسئله:- مړی ته دی دریښتانو نه ورږمنځوی نوکان دی نه ورپریکوی او نه دی دیوځای دریښتانو درپری کوی پرخپل حال دی پریږدی۔ (شرح البدایه ص۱۶۸ اول توک)

(۷) مسئله:- که سړی مړسو لمبوونکی اوغسل ورکوونکی سړی نه وو نو خپله بنځه دی غسل ورکړی اوکفن دی ورکړی پردی بنځه (دمایني ماسیوا) غسل نه سی ورکولای که څه هم محرمه وی اوکه ئی بنځه هم نه وه نو دی تیمم ورو دهی اوخپل لاس دی په وخت د تیمم کښی دمړی سره نه مښلوی بلکه اول دی دستکلی په لاس کښیښاسی بیادی تیمم ورو دهی۔ (بدایع وعالمګیری)

---

۱ دغسل ورکولو ورومسنه ګرمه اوبه خو ښه دی
۲ که ضرورت وی نو ساده اوبه هم روا دی
۳ پاک کپړی
۴ یا پاک ټوکر
۵ یا پانوکښی
۶ یا بدن پریمنځل
۷ یا وهم
۸ ضرور نه دی
۹ اغسل
۱۰ یغسل الکفن بخلاف الاحرام
۱۱ فانه یغسل
۱۲ یا خو منه ان کان قبل ان
۱۳ کښی پراغسل وبعده لاره
۱۴ فاهمیته
۱۵ کښی ملایه مبتدی
۱۶ نو هیڅ
۱۷ دسنتی ملایه اجازه دهغه
۱۸ دسئله اشکال اوواشکال
۱۹ جواب په امداد الفتاوی
۲۰ محبوب جلد اول مطبع
۲۱ کښی شایع سوی دی
۲۲ فافهم

(۸) مسئله:- که خاوند (میړه) مړی نو خپله ښځه غسل ورکولای سی کفن ورکولای سی (فتاوی هندیه ص۱۰۳ ج ۱) او که ئی ښځه مړه سی نو خاوند ته ئی د بدن مشمعه کول - یعنی لاس ورونه ورسانه دی البته ورته کتل او پرکالو سره بیړه لاس ورونه ورته روادی - (شرح التنویر ص۸۹۷ لومړی ټوک)

(۹) مسئله:- هره ښځه چه په حیض یا نفاس کښی وی هغه دی مړی ته غسل نه ورکوی چه دا مکروه او منعه دی - (رد المحتار ص۹۰۱ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:- بنه داده چه دهرچا قرابت نژدی وی هغه دی غسل ورکړی که یه غسل نه سوای ورکولای نو بله دیندار ډاډه او نیکه ښځه دی غسل ورکړی - ردالمحتار ص۹۰۱ لومړی ټوک)

(۱۱) مسئله:- که د غسل ورکولو په وخت کښی څه عیب په مړی کښی وویني نو چاته دی دهغه بیان نه کوی او که دهغی مخ ترمرګ ورو سته خراب یا توره نو هم دی چاته نه وایي او آوازه دی نه خپروی چه دا ټول ناروا دی لیکن که هغه بنکاره یو ګناه کوی - مثلاً اتن کونکی وه، غزل ویونکی وه - فاحشه (رنډی) وه - نو د هغی خبری ویل روادی چه نور هم عبرت واخلی او د دغسی کارو څخه ځان وساتی او توبه وکاږی - (رد المحتار ص۹۰۱ لومړی ټوک)

خلیرویشتم دکفن ورکولو بیان باب

(۱) مسئله:- بنځی ته پنځه ځاڼی کفن ورکول سنت دی یو قمیض دوهم ازار دریم سربند یعنی پوره ونی خلورم چادر یعنی لفافه پنځم سینه بند اذار بایه دسر څخه تر پښو پوری وی او چادر یعنی لفافه تر ازار یو لاس اوږده وی او قمیص دغاړی څخه بیا تر پښو پوری وی لیکن غاړه او لستوڼی به پکښی نه وی او سربند - یعنی پوره ونی به دری لاسه اوږد وی او سینه بند به د سینی څخه تر ورنو تو پوری د وندی اوږد او پلن وی چه وتړل سی.

(فتاوی هندیه ص۱۰۳ اول ټوک ورد المحتار ص۹۰۱ او ص۹۰۲ اول ټوک)

(۲) مسئله:- که ئی په پټو جامو کښی نه کړی پته بلکه په درې (۳) وجامو کښی کفن

درکړی یو ازار دوهم لفافه دریم قمیص هم روادی د ښونه کفن هم کافی دی او ترډیره ښه جاموکم ورکول مکروه او بد دی لیکن که مجبوری وی نو کم که ورکړی هم روادی۔ (شرح البدایه ص۱۶۲ اول ټوک و شرح التنویر ص۶۰۳ اول ټوک)

(۳) مسئله:۔ سینه بنده که د سینی څخه بیا تر نامه پوری وی هم روادی لیکن تر ورینو پوری ډیر ښه دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۰۳ ج۱ و رد المحتار ص۹۰۱ و ص۹۰۲ اول جلد)

(۴) مسئله:۔ کفن ته اول د(۱) ژرای یا پنځه یا اوه(۲) واړه لوبان، اگربتی یا عود ودوه ورځې بیا نومړی په دغه کفن کښی پټ کړه۔ (شرح البدایه ص۱۶۲ لومړی ټوک)

(۵) مسئله:۔ دکفن ورکولو طریقه داده چه اول دی لفافه وغوړوی او بیادی ازار پروغوړوی بیادی پرازار قمیص وغوړوی ترډغه وروسته مړی پرکښیږوی اول دی قمیص وروا غوندی د سړی بینښتان دی دوی(۲) حصی کړی پر قمیص سړ یږه او پر سینه دی رایله کړی یوه حصه راسته طرف ته بله چپه طرف ته او بیا دی پورونی پرسراو ږیښتانو وروا چوی نه دی تړی او نه دی پیچی بیادی مړه په ازار کښی وپیچی اول دی دازار چپه طرف پرمړه راوړی بیادی راسته طرف بیادی سینه بنده وتړی بیادی لفافه وتړی اول دی دلفافی چپه طرف او بیا راسته طرف راوړی بیادی په پورښتی چه د دغه لفافی څخه پاتی کړی وی یادبل شی. څخه دکفن د سړی خوا اودپښو خوادی په وتړی او د ملاسره دی هم وتړی چه پرلاړی خلاص نه سی۔ (فتاوی هندیه ص۱۰۳ اول ټوک)

(۶) مسئله:۔ سینه بنده که تر پورونی ورسته دازار (لنګ) تړپیچلو مخکی وتړل سی هم روادی اوکه پرتوله کفن سړ یږه وتړل سی هم روادی۔ (شامی ص۹۰۳ لومړی ټوک)

(۷) مسئله:۔ چه کفن ئی پوره برابر سی اوکار دکفن ئی خلاص سی نو دی رخصت کړی چه نارینه لمونځ پرو کړی او خاورو ته ئی وسپاری.

(۸) مسئله:۔ که بنځی د جنازی لمونځ کوی هم روادی خو داقسم خبره هیڅ وخت نه ده پښنه سوی نو له دغه سببه موږ نه مسئلی د لاسانځه او د مړی د پټولو او د ښخولو بیان نه دی کړی۔ (فتاوی هندیه ص۱۰۴ اول ټوک)

(۹) مسئله:۔ په کفن یا قبر کښی عهد نامه یعنی اقرارنامه (از فیروز اللغات) یا د خپل پیر شجره یا بله دعا اینبول روانه ده او دغه رنګه په کاغذ یا سیاهی

سره پر کفن یا سینه کلمه یا بله دعا لیکل روانه ده البته د کعبی شریفی پوښ یا د خپل پیر دسمال یا بل تو کرد پاره د تبرک اینبوول روا دی. (رد المحتار ص ۹۴۷ اول توک)

(۱۰) مسئله:- چه کوچنی ژوندی پیدا سی بیا لږ وخت وروسته مړ سی یا دستی مړ سی ده ته به هم په هغه طریقه چه ذکر سوه غسل ورکول کیږی او ترکفن وردسته دی لمونځ درکړی او بیا دی خاورو ته وسپارل سی او نوم دی هم پر کښیښوول سی. (شرح التنویر ص ۹۲۸ اول توک)

(۱۱) مسئله:- هغه کوچنی چه د مور څخه مړ پیدا سی او د پیدا کیدو په وخت کښی د ژوند یو هیڅ علامه هم ورباندی نه وی نو د غه کوچنی هم په هغه طریقه سره وغسلوی لیکن د شریعت د قانون سره برابر دی کفن نه ورکوی بلکه په تو کر کښی دی د پیچی او بنخ دی کړی او نوم پرایښوول ښه کار دی. (شرح التنویر ص ۹۲۸ ۱۲)

(۱۲) مسئله:- که حمل نقصان سی نو که د کوچنی لاسونه پښی، مخ، پزه او نور اندامونه نه وی جوړ سوی نو غسل، کفن هیڅ شی دی نه ورکوی بلکه په تو کر کی دی د پیچی غاړدی د کینی او بنخ دی کړی او که ئی بعضی اندامونه وی نو د ده حکم د هغه کوچنی دی چه د مور څخه مړ پیدا سوی وی یعنی نوم دی پر کښیږدی غسل دی ورکړی لیکن د قاعدی سره برابر دی کفن نه ورکوی او په تو کر کښی دی د پیچی او بنخ دی ئی کړی لمونځ دی نه ورکوی. (شرح التنویر ص ۹۰۳ و ص ۹۲۸ اول توک)

(۱۳) مسئله:- د کوچنی فقط سر راوتی هغه وخت ژوندی وو بیا مړ سو نو د هغه کوچنی حکم ئی دی چه مړ پیدا سی که د نیمائی څخه زیات راوتلی وو ژوندی وُو بیا مړ سو نو داسی بلل کیږی لکه ژوندی چه پیدا سوی وی نو که د سر د طرف څخه پیدا سو نو چه ترسینی پورې راوتلی وی داسی بلل کیږی چه زیات راوتلی دی او که چیرته پیدا سو نو چه ترنامه پورې راوونړی زیات بلل کیږی. (رد المحتار ص ۹۲۷ اول توک)

(۱۴) مسئله:- که کوچنی انجیلی چه تراوسه څوانه سوی نه وی مړه سی لیکن لویښت (څوانی) ته نژدی وی نو د دی د پاره سنت کفن هم هغه پنځه جامی دی چه د لوی بنځی د پاره دی او که د درې جامی ورکړی هم کافی دی غرض دا دی چه د څوانی او کوچنی یو حکم دی خو صرف په څوانه کښی حکم تینګ دی او په کم عمره انجیلی کښی پهتر او ښه کار دی. (فتاوی هندیه ص ۱۰۳ اول توک)

(۱۵) مسئله:- هغه انجیلی چه د پیره کوچنی وی څوانی ته نژدی سوی هم نه وی

نو دی د پارہ بنہ دادی چہ پنځہ جامی د سړی دوی جامی د سړکول هم صحیح د
یو ازار یو لفافہ۔ (فتاوی هندیہ ص۱۰۳ اول ټوک)

(۱۶) مسئلہ:۔ کہ یو هلک مړی نو نارینہ نہ وی چہ غسل او کفن د سړی
او بنځہ غسل د سړکولو او کفن د سړکولو تہ مجبورہ سی نو په داسی طریقہ سر
دی ئې دلمبوی چہ مخکی ئې بیان دسو او دکفن د سړکولو هم هغہ طریقہ دہ چہ د
تہ مخکی معلومہ سوہ پس دوندی فرق ئې دی چہ د بنځی کفن پنځہ جامی
او د نارینہ کفن د سړی جامی دی۔ یو لفافہ یو ازار یو قمیص دی۔ (فتاوی
هندیہ ص۱۰۳ اول جلد)

(۱۷) مسئلہ:۔ کہ د سړی کفن فقط دوی جامی وی یعنی لفافہ او ازار لیکن قمیص
نہ وی هیڅ پروا۔ او باک نه لری د دوٗ[۲] ی جامی هم کفایت کوی او نر دوٗ[۲] و جامو کم
د سړکول مکروہ دی لیکن کہ مجبوری او ناچاری وی نو مکروہ هم نہ دی۔
فتاوی هندیہ ص۱۰۳ لومړی ټوک)

(۱۸) مسئلہ:۔ هغہ پټہ چہ پرجنازہ یعنی د مړی پرچارپائی سر بیرہ اچول
کیږی هغہ په کفن کښی شاملہ نہ دہ فقط کفن هغہ قدر دی چہ مونږ
ئې بیان وکړی۔ (فتاوی هندیہ ص۱۰۳ اول جلد)

(۱۹) مسئلہ:۔ په هر بنار او وطن کښی چہ څوک مړی هلتہ دی د دہ گورا او
کفن وکړی بل ځای تہ ئې ورل بنه[عه] کار نہ دی۔ البتہ کہ یو ځای یو میل یا
دوہ میله لیری وی نو د غه ځای تہ په ورلو کښی هیڅ ممانعت او پروا
نشته۔ (مراقی الفلاح و طحطاوی ص۳۵۸)

د لاندی مسئلو د ویلو طریقه

کہ بنو ونکی (معلم) او استاذ نارینہ وُ نو دا مسئلی دی پخپلہ نہ ورته
وایی یا دی دخپلی بنځی په ذریعه پوہ کړی یا دی ورته ووایی چہ پخپلہ ئې
وگورہ او کہ نږدہ کوونکی کوچنی هلک وُ ورته ووایی چہ د غه ورو ورو ته
مسئلی پخپلہ وگورہ او په سبقانو دی نہ ورته وایی۔

عه لیکن کہ یو مجبوری وی یا هیڅ پروا نه لری ۱۲ محشی۔ ربنا اغفرلنا وارحمنا یارب العالمین

مسائل

بسم الله الرحمن الرحیم

پنځه ویشتم باب — دحیض او استحاض بیان

(۱) مسئله:- په هره میاشت کښی چه دمخ دلاری څخه د عادت سره برابره دینه راځی د هغه ته حیض ویل کیږی د عادت سره برابره د امعنی چه دښځی خپله طبعی دینه وی په سبب د مرض وغیره نه وی۔ (مرافی الفلاح ص۷۵)

(۲) مسئله:- د حیض لږ او کمه مدت دری ورځی او شپی دی او زیاته مدت ۱۰ لس ورځی او شپی دی که چاته تر دری ورځی او شپی کمه وینه راغله نو حیض نه دی استحاض دی دیو مریضی په وجه د هغه رنګه سویدی اوکه تر لسو ورځو او شپو زیاتی وینی ورته راغلی چه تر لسو شپو او ورځو هرڅومره ی زیاتی وی هغه حیض نه دی استحاض او مرض دی۔ (شرح البدایه ص۶۲ اول توک)

(۳) مسئله:- که ۹ دری ورځی پوره سوی وی لیکن دری شپی ۹ نه وی پوره سوی مثلاً د جمعی د سهاره څخه وینی ورته راغلی او په یکشنبه وروسته تر مابنام بند ی سوی د هغه حیض نه دی مرض دی که تر دری ورځو او شپو لږ څه وخت کمی وی نو هم حیض نه دی مثلاً د جمعی په ورځ چه لمر را وختی دی ته وینی راغلی او په دوشنبه د لمر د راختو څخه لږ زړه د مخه بند ی سوی نو د احیض نه دی مرض دی۔ (رد المحتار ص۲۹۳ لومړی توک)

(۴) مسئله:- د حیض په مدت کښی چه سره ژړه شنه خاورینه (خړه) لوړه او نور هر رنګه او به چه راسی ټوله حیض دی تر څوچه هغه پنبه یا د توکو توکړه چه په فرج کښی ۹ ایښی ده بالکل سپینوالی نه وی راوړی او چه د هغه پنبه یا د توکو توکړه بالکل سپینه سی لکه چه ایښوول سوی وه نو د حیض څخه پاکه ده (شرح التنویر ص۲۹۷ اول توک وزیلعی ص۵۵ اول توک)

(۵) مسئله:- تر ۱۰ لسو کالو مخکی او تر پنځه پنځوس کاله وروسته چاته حیض نه وی د دغه سببه چه تر لسو کالو کمی انجیلی ته وینه راسی حیض نه دی بلکه مرض

له کذا فی الشامیة ۲ ربنا فاغفر لنا ذنوبنا یا رب العالمین آمین ثم آمین

دی اوکه تر پنځه پنځوس کالو ورسته څه شی راسی نوکه دینی بنځی، توری یا سپری وی نو حیض دی که ژړی یا شنی یا خاکی رنګه وی نو حیض نه دی بلکه مرض دی البته که دغه بنځی ته تر دغه عمر مخکی هم ژړی یا شنی یا خاکی رنګه وینی راتلی نو تر پنځه پنځوس کالو ورسته دغه رنګه هم حیض بلل کیږی اوکه دغه رنګونه مخکی نه وه نو حیض نه دی مرض دی۔ (فتاوی هندیه صه۲۲ اول جلد و شرح التنویر و رد المحتار صه۳۱۳ لومړی جلد)

(۶) مسئله:- یو چاته همیشه دڑی یا څلور ورځی وینی راتلی بیا په یوه میاشت کښی ډیری سوی لیکن تر لس ورځی زیاتی نه سوی نو دغه ټول حیض دی اوکه تر لس ورځی هم زیات سی نو هرخونده ۱۰ ورځی چه مخکی دده عادت وی هغوندی حیض دی، باقی پول مرض دی۔ دده مثال دادی چه چاته همیشه ده ورځو حیض راتلو عادت وو لیکن په یوه میاشت کښی (۹) یا لس ورځی اوشپی وینی ورته راغلی نو دا ټول حیض دی اوکه تر لسو ورځو اوشپو یوګړی هم زیاتی وینی ورته راغلی نو هغه دری ورځی د حیض دی اونورې ورځی د مرض دی ده غو ورځو ملنځو نو قضا اوړل واجب دی۔ (شرح البدایه صه۶۶ لومړی ټوک)

(۷) مسئله:- یوه بنځه ده چه ده دی هیڅ عادت معلوم نه دی یو وخت څلور ورځی وینی ورته راځی او بل وخت اوو ورځی بس دغسی بدلیږی یو وخت لس ورځی هم ورته راځی نو دا ټول حیض دی دغسی بنځی ته که یو وخت تر لسو ورځو اوشپو زیاتی وینی وړی نو دګوره چه ده دغه میاشتی څخه مخکی میاشت څو ورځی حیض ورته ورغلی وو۔ بس نو دغه ورځی د حیض دی چه په مخکی میاشت کښی ورغلی وو اونورې ټولی مرض دی۔ (رد المحتار صه۲۹۳ اول ټوک)

(۸) مسئله:- یو چاته همیشه څلور ورځی حیض ورتلی بیا په یوه میاشت کی پنځه ورځی وینی ورته راغلی بیا تر دغه ورسته په دغه بله میاشت کښی پنځلس ورځی وینی ورته راغلی نو په دغه پنځلس ورځی کی پنځه ورځی د حیض دی نورې د مرض دی یعنی هغه لس ورځی اوده هغه

۲۳۸

اول عادت اعتبار نه کوو داسی ئ بولو چه عادت ئ بدل سو او پر خای د خلو ورځو پنځه ورځی عادت جوړ سو۔ (شرح التنویر ص۳۰۹ اول پتوک و رد المحتار ص۳۰۹ اول پتوک)

(۹) مسئله:۔ یو چا ته تر لسو ورځی زیاتی دینی و رغلی او د دی خپل اول (پخوانی) عادت بالکل هیر دو چه په مخکی میاشت کښی دی ته څو ورځی دینی و رغلی وی نو دغه مسئلی بالکل باریکی دی د دغه زده کول او پر مشکل او سخت دی او دغسی مسئلی ډیری لږ پیښیږی د دغه سبب هم نو د دغه حکم نه بیانوو که یو وخت ضرورت واقع سی نو دیولوی عالم څخه پوښتنه باید وسی دیو هسی مازی او بیکاره مولوی څخه هیڅکله پوښتنه مه کوی (رد المحتار ص۲۹۴ اول پتوک)

(۱۰) مسئله:۔ یو انجیلی اول وار دینه ولیده نو که لسو ورځی یا تر لسو ورځی کمه راسی پتول حیض دی او چه تر لسو ورځی زیاته راسی نو پوره لسو ورځی حیض دی او نوری چه هر څومره ورځی زیاتی وی هغه مرض دی۔ (شرح البدایة ص۶۶ اول جلد)

(۱۱) مسئله:۔ یو چا اول وار دینی ولیدلی او په هیڅ طریقه نه پیدی تر پیرو میاشتو پوری جاری وی نو دهغی ورځی څخه چه دینی ئ شروع سویدی بیا تر لسو ورځو او شپو پوری حیض دی تر دغه روسته بیا شل ورځی مرض دی دغه رنګه همیشه ئ لسو ورځی حیض او شل ورځی مرض بدل کیږی۔ (رد المحتار ص۲۹۴ لومړی پتوک)

(۱۲) مسئله:۔ د (۲) وحیضو په مابین کی د پاکی مده لږ تر لږه پنځلس ورځی ده۔ او زیاتی مدی لره ئ هیڅ اندازه نسته نو که دیو سبب و یو بنځی ته حیض و تل بند سی نو تر هر څو میاشتو چه دینی و رته را نه سی پاکه ده۔ (شرح البدایه ص۶۵ ج ۱)

(۱۳) مسئله:۔ که یو چا ته دری ورځی او شپی دینی و رغلی بیا پنځلس ورځی پاکه وه بیا دری ورځی او شپی دینه و رته راغله نو هغه دری ورځی مخکی او هغه دری ورځی و روسته چه تر پنځلسو ورځو دی د حیض دی او په مابین کښی پنځلس ورځی د پاکی زمانه ده۔ (رد المحتار ص۲۹۸ اول جلد)

(۱۴) مسئله:۔ که یو بنځی ته یوه یا دوی ورځی دینی و رغلی بیا پنځلس ورځی پاکه وه بیا یوه یا دوی ورځی دینی و رته و رغلی نو په مابین کښی پنځلس ورځی د پاکی زمانه ده چه مخکی او شاته کومی دینی و رغلی دی هغه هم حیض نه دی مرض دی۔ (رد المحتار ص۲۹۸ لومړی پتوک)

(۱۵) مسئله:- که یوه ورځ یا دیری ورځی وینی ورسته ورغلی بیا تر پنځلس ورځی کمه پاکه وه ددی هیڅ اعتبار نسته بلکه داسی بلل کیږی چه گویا اول څخه بیا تر آخیره پوری ئی وینی جاری وی نو هرڅوندی ورځی چه د حیض دراتلو عادت وو هغوندی ورځی د حیض دی اونورې پاته ورځی پتولی د مرض دی مثال ددغه دا دی چه چا ته دهری میاشتی د اول د وهم او درییم تاریخ د حیض دراتلو عادت وُ بیا په یوه میاشت کښی دا مثلاً پینځه سوه چه پر اول تاریخ وینی جاری سوی بیا څورلس (۱۴) ورځی پاکه وه بیا یوه ورځ وینی جاری وی نو داسی گڼل کیږی چه گویا شپاړس (۱۶) ورځی ئی وینی جاری وی نو په دغه صورت کښی درې اولی ورځی د حیض دی او پاته دیارلس (۱۳) ورځی د مرض دی۔ اوکه ئی څلورم (۴) پنځم (۵) او شپږم تاریخ د حیض ورتلو عادت وو نو دغه تاریخونه د حیض دی او درې (۳) ورځی د اول اولس (۱۱) ورځی ورسته د مرض دی اوکه ددی هیڅ عادت نه وُ بلکه اول وار ئی وُ چه وینی ئی جاری سوی نو لس ورځی د حیض دی او شپږ (۶) ورځی د مرض دی۔ (شرح التنویر ص ۲۰۹ اول پتوک ورد المحتار ص ۲۰۹ وص ۲۹۴ اول پتوک)

(۱۶) مسئله:- د حمل په زمانه کښی چه وینه راسی هغه وینه حیض نه دی بلکه مرض دی که هرڅونه ورځی جاری وی۔ (شرح التنویر ص ۲۹۳ اول پتوک)

(۱۷) مسئله:- د کوچنی دپیدا کیدو په وخت کښی چه د کوچنی تر وتلو مخکی وینه جاری سی دغه مرض دی بلکه تر هغه وخته چه کوچنی د نیمی څخه زیات نه وی راوتلی چه هرڅه وینه راځی هغه تة مرض ویل کیږی (شرح التنویر ص ۲۹۳ اول پتوک

شپږویشتم	دحیض احکام	باب

(۱) مسئله:- د حیض په زمانه کښی لمونځ کول روژه نیول روا نه دی صرف د دښدی فرق ئی دی چه لمونځ بالکل معاف کیږی تر پاکیدو وروسته ئی قضا راوړل نه دی واجب لکن روژه نه معافیږی تر پاکیدو وروسته ئی قضا راوړل واجب دی۔ (شرح البدایة ص۶۳ لومړی توک)

(۲) مسئله:- که په فرضی لمانځه کولو کښی حیض ورته راغلی نو د غه لمونځ ئی هم معاف دی تر پاکیدو وروسته دی قضا نه راوړی که په نفلو یا سنتو کی حیض ورته راغلی نو د دوی قضا به راوړی که روژه وه چه حیض ورته راغلی نو روژه ئی ماته سوه چه څه وخت پاکه سی قضا دی راوړی که په نفلی روژه کښی حیض ورته ورغلی هم به ئی قضا راوړی۔ (رد المحتار ص۳۰۰ اول توک)

(۳) مسئله:- که د لمانځه په آخیر کښی ئی حیض شروع سو لمونځ ئی نه وو پوره کړی نو بیا معاف دی۔ (رد المحتار ص۳۰۰ اول جلد)

(۴) مسئله:- د حیض په زمانه[۲] کښی د میړه سره نژدیکت کول حرام او نارواد ی یعنی وطی (د شرم کار) کول روا نه دی او د وطی څخه ما سیوای نورې ټولی خبری روادی (چه په د غه کښی د بښځی د نامه څخه بیا تر څنګنو پورې بدن د نارینه د بدن سره لګ په لګښت نه مینلی) یعنی یوځای پریوتل بیله وطی کولو یوځای خوړل کول چیبل کول او نور داسی شیان روادی۔ (رد المحتار ص۳۰۱ لومړی توک)

(۵) مسئله:- د یوچا عادت پنځه یا نه[۱] ورځی وو نوچه هرځوند ی عادت ئی وو هغوند ی ورځی ئی دینه وربته راغله بیا بنده سوه نو تر څوچه غسل ونه کړی تر هغه وخته ئی وطی کول حرام او نارواد ی او که غسل ونه کړی او دیوه[۳] لمانځه وخت پرتیر سی یعنی چه یو لمونځ د دی پر ذمه واجب سی نو بیا وطی کول روادی تر د غه مخکی وطی کول روا نه دی۔ شرح البدایة ص۶۴ لومړی توک)

(۶) مسئله:- که دیوی بښځی عادت د پنځو ورځو وی او دینی ئی پر څلورو ورځی بندی

سوی نو ودی مبیږی لمونځ کول باندی واجب دی لیکن ترڅو چه پنځه ورځی پوره سوی نه وی وطی کول ئی ناروا دی ځکه کیدای سی چه وینه ئی بیرته جاری سی۔ (فتاوی هندیه ص۳۴ لومړی توک (جلد)

(۷) مسئله:- که پوره لس(۱۰) ورځی د بنځی حیض جاری وُو نو هغه وخت چه وینی بندی سی وطی کول ئی روادی که غسل وکړی او یا ئی نه وکړی۔ (شرح البدایه ص۶۳ ج۱)

(۸) مسئله:- که ئی یوه(۱) یا دوی(۲) ورځی وینی جاری وی بیا بندی سوی نو غسل کول واجب نه دی او دس دی وکړی او بیا دی لمونځ وکړی لیکن وطی کول اوس ناروا دی که تر پنځلس(۱۵) ورځو مخکی وینه ودغله نو معلومه سوه چه هغه د حیض زمانه وه په حساب مړه هرڅونه ورځی چه د حیض وی هغه دی حیض وشمیری او اوس دی غسل وکړی او لمونځ دی وکړی او که پوره پنځلس ورځی په مابین کښی تیری سوی او وینی ئی نه راغلی نو معلومه سوه چه هغه مرض وو نو هغه یوه یاده دی ورځی چه د وینی د راتلو سبب به کوم لمنځونه ځنډی پاته سوی وه اوس دی دهغو قضا راوړی۔ (فتاوی هندیه ص۲۴ اول توک وشرح البدایه ص۶۲ اول توک ورد المحتار ص۲۹۸ ج۱)

(۹) مسئله:- د حیض د راتلو عادت ئی د درې ورځی وُو لیکن په یوه میاشت کښی داسی پیښه سوه چه درې ورځی پوره سوی او وینه ئی تر اوسه بنده نه سوی نو اوس دی غسل نه کوی او لمونځ دی هم نه کوی که په پوره لسو شپو او ورځو کی یا تر دغو په کمو ورځو او شپو کښی وینه بنده سوه نو د دغه ټولو ورځو لمنځونه معاف دی قضا راوړل ئی نسته او داسی وایو چه عادت بدل سو د دغه سبب دغه ټولی ورځی د حیض دی او که یوُو(۱۱) لسمه ورځ ئی هم وینی جاری وی نو اوس معلومه سوه چه حیض فقط درې ورځی وُو دا نور ټول مرض دی پس یوُو(۱۱) لسمه ورځ دی غسل وکړی او د اوُو(۷) ورځو لمنځونه دی راوګرزوی او اوس دی لمونځ نه پریږدی دی که څه هم ئی وینه جاری دی۔ (فتاوی هندیه ص۲۴ اول جلد ودرمختار ص۲۹۳ ج۱)

(۱۰) مسئله:- که ئی حیض تر لسُو(۱۰) ورځو کم وُو داسی وخت وینه بنده سوه چه د لمانځه وخت بالکل تنګ وو په داسی شان چه ژر ژر(۵) غسل وکړی او تر غسل ورسته بالکل لږ غوندی وخت پاته سی چه په دغه کښی صرف یو واراللّٰه اکبر وایی نیت تړلای سی نو هیڅ لمونځ دیلای نه سی بیا هم د دغه وخت لمونځ واجبیږی

(۱) دلته دوه ورځی قدر وخت مراد دی چه د غسل فرصونه پکښی کیدای سی ۱۲

او قضا بہ ئی راوړی او که تر دغه هم کم وخت وی نو معاف دی را ګرزول ئی واجب نه دی. (رد المحتار ص۳۰۶ لومړی پتوک)

(۱۱) مسئله:- او که یوڅوک ورځ او شپې حیض ورته راغلی او د اسې وخت وینه بنده شوه چه د یرلږ وخت پاته وو صرف یو الله اکبر ئی ویلای شو نو ورځ ئی هیڅ نه شوه پکښې کولای او د غسل هم هیڅ وخت نه وو نو لمونځ پرې واجبیږی قضا بہ ئی را وړی. (رد المحتار ص۳۰۶ لومړی پتوک)

(۱۲) مسئله:- که په روژه مبارکه کې په ورځ کښې پاکه شوه نو تر پاکیدو وروسته هیڅ خوړل او چښل روا نه دی ترمابنامه پورې د روژه نیونکو په شان سره او سیدل باندې واجب دی. لیکن دغه ورځ په روژه کې نه شمیرل کیږی بلکه د رمضان روژه بہ هم را ګرزوی. (شرح البدایه ص۲۰۷ اول پتوک)

(۱۳) مسئله:- که په شپه کښې پاکه شوه او پوره لس ورځې او شپې حیض ورته راغلی وُو که دغونډی لږ شپه پاته وی چه په دغه کښې یو واړه الله اکبر هم نه سی ویلای بیا هم د سهار روژه پرې واجب ده او که تر لس ورځې کم حیض ورته راغلی وی نو که دونده شپه پاته وی چه په تلوار سره غسل کې کولای سی لیکن تر غسل وروسته الله اکبر نه سی کې ویلای نو هم د سهار روژه واجبه ده او که دغونډی قدر شپه وه لیکن غسل ئی نه وکړی نو روژه دی نه ماتوی بلکه د روژې نیت دی وکړی سهار دی بیا ولمبیږی او که تر دغه هم کمه شپه وه یعنی چه غسل هم نه سو پکښې کیدای نو سهار روژه نیول روا نه ده لیکن د ورځې څه خوړل او چښل هم بنه کار نه دی بلکه نوله ورځ دی په شان د روژا تیانو تیره کړی بیا دی قضا هم را وړی. (شرح التنویر ص۳۰۵ اول جلد)

(۱۴) مسئله:- چه وینه د دننه سُورې څخه د باندې پوسټ ته راوزی نو د دغه وخت څخه حیض شروع کیږی بیا نو که تر دغه پوسټ د باندې را وزی یا نه را وزی د دی هیڅ اعتبار نسته نو که څوک په سُورې کښې د تنه پنبه یا بل شی کښیږدی او وینه نه راوزی نو تر څو چه په سُورې کښې وینه د دننه د ی پرد باندې پنبه یا بل شی د وینې داغ را نه سی نو تر دغه وخته د حیض حکم

[illegible]

د خون فاسد دی پیرته بہ ئی قضا را وړی.

سوی نو ورځی مبیږی لمونځ کول باندی واجب دی لیکن ترڅو چه پنځه ورځی نه پوره سوی نه وی وطی کول ئی ناروا دی حکه کیدای سی چه وینه ئی بیرته جاری سی.
(فتاوی هندیه ص۳۴ لومړی توک (جلد)

(۷) مسئله:- که یوه ښځه (۱) ورځی د ښځی حیض جاری وو نو هغه وخت چه وینه بنده سی وطی کول ئی روا دی که غسل وکړی او یا ئی نه وکړی. (شرح البدایه ص۶۴ ج۱)

(۸) مسئله:- که ئی یوه (۲) یادونی ورځی دینی جاری وی بیا بنده سوی نو غسل کول واجب نه دی او دس دی وکړی او بیا دی لمونځ وکړی لیکن وطی کول اوس ناروا دی که تر پنځلسو (۵) ورځو مخکی وینه ورغله نو معلومه سوه چه هغه د حیض زمانه وه په حساب سره هرڅونه ورځی چه د حیض وی هغه دی حیض وشمیری او اوس دی غسل وکړی او لمونځ دی وکړی او که پوره پنځلس ورځی په مابین کښی تیری سوی او وینه ئی نه راغلی نو معلومه سوه چه هغه مرض وو نو هغه یوه یادونی ورځی چه د وینی د راتلو سببه کوم لمنځونه ځنډی پاته سوی وه او اوس دی د هغو قضا راوړی. (فتاوی هندیه ص۲۴ اول توک وشرح البدایه ص۶۲ اول توک ورد المحتار ص۲۹۸ ج۱)

(۹) مسئله:- د حیض د راتلو عادت ئی د پری ورځی وو لیکن په یوه میاشت کښی داسی پیښه سوه چه د پری ورځی پوره سوی او وینه ئی تر اوسه بنده نه سوی نو اوس دی غسل نه کوی او لمونځ دی هم نه کوی که په پوره لسو شپو او ورځو کی یا تر دغو په کمو ورځو اوشپو کښی وینه بنده سوه نو د دغه ټولو ورځو لمنځونه معاف دی قضا راوړل ئی نسته او داسی وایو چه عادت بدل سو د دغه سببه دغه ټولی ورځی د حیض دی او که یو (۱۱) ولسمه ورځ ئی هم وینی جاری وی نو اوس معلومه سوه چه حیض فقط د پری ورځی وو دا نور ټول مرض دی پس یو (۱۱) ولسمه ورځ دی غسل وکړی او د اوو (۷) ورځو لمنځونه دی راوګرزوی او اوس دی لمونځ نه پریږدی که څه هم ئی وینه جاری وی. (فتاوی هندیه ص۲۴ اول جلد ودر المختار ص۲۹۳ ج۱)

(۱۰) مسئله:- که ئی حیض تر لسو (۱۰) ورځو کم وو داسی وخت وینه بنده سوه چه د لمانځه وخت بالکل تنګ وو په داسی شان چه ژر (۱) ژر غسل وکړی او تر غسل ورسته بالکل لږ څوند ی وخت پاته سی چه په دغه کښی صرف یو وار (۱) وای نیت تړلای سی نو هیڅ لمونځ دیلای نه سی بیا هم د دغه وخت لمونځ

(۱) دلته دومره قدر وخت مراد دی چه د غسل زهنونه پکښی کیدای سی ۱۲

او قضا به ئې راوړی او که تر دغه هم کم وخت وی نو معاف دی را ګرزول ئې واجب نه دی (رد المحتار ص ۳۰۶ لومړی ټوک)

(۱۱) مسئله:- او که پوځلس ورځې او شپې حیض ورته راغلی او د اسی وخت وینه بنده سوه چه د پیرلږ وخت پاتې وو صرف یو الله اکبر ئې ویلای سو نو زر ئې هیڅ نه سوه پکښې کولای او د غسل هم هیڅ وخت نه وو نو لمونځ پرواجبیږی قضا به ئې راوړی۔ (رد المحتار ص ۳۰۶ لومړی ټوک)

(۱۲) مسئله:- که په روژه مبارکه کې په ورځ کښې پاکه سوه نو تر پاکیدو وروسته هیڅ خوړل او چښل روا نه دی تر ما بنامه پورې درې روژه نیونکو په شان سره اوسیدل باندې واجب دی۔ لیکن دغه ورځ په روژه کې شمیرل کیږی بلکه دغه روژه به هم را ګرزوی۔ (شرح البدایه ص ۲۰۷ اول ټوک)

(۱۳) مسئله:- که په شپه کښې پاکه سوه او پوره تلس ورځې او شپې حیض ورته راغلی وو که دغونډی لږ شپه پاته وی چه په دغه کښې یو واړه الله اکبر هم نه سی ویلای بیا هم د سهار روژه پرواجب ده او که تر تلس ورځې کم حیض ورته راغلی وی نو که دوند ه شپه پاته وی چه په تلوار سره غسل کې کولای سی لیکن تر غسل وروسته الله اکبر نه سی کې ویلای نو هم د سهار روژه واجبه ده او که دغونډی قدر شپه وه لیکن غسل ئې نه وکړی نو روژه دی نه ماتوی بلکه د روژی نیت دی وکړی سهار دی بیا ولمبیږی او که تر دغه هم کمه شپه وه یعنی چه غسل هم نه سو پکښې کیدای نو سهار روژه نیول روا نه ده لیکن د ورځې څه خوړل او چښل هم ښه کار نه دی بلکه ټوله ورځ دی په شان د روژا تیانو تیږ کړی بیا دی قضا هم راوړی۔ (شرح التنویر ص ۳۰۵ اول جلد)

(۱۴) مسئله [illegible]

نه باندی کوو او هرکله چه دوینو رنگ او داغ ودباندی پوست یا پنبه یا بل شی ته ورسیږی او دباندی ئی را وباسی نو دا غه وخت څخه حیض شروع سو۔ رد المحتار ص ۲۹۲ ج ۱

(۱۵) مسئله:۔ پاکی بنځی د مخ د خوا څخه په سُوری کښی د ننه پنبه یا توکر کړه دتوکر اینبی وړ چه سهار سو نو پرد غه ئی د دوینو نښان او داغ ولیدی نو د هر وخت څخه چه ئی د غه داغ او نښان لیدلی دی د د غه وخت څخه د حیض حکم کوو یعنی د د غه وخت څخه ئی حیض شروع دی۔ (شرح التنویر ص ۱۵۴ باب نواقض الوضوء

اوه دیشتم باب — د مستحاضی او معذور احکام

(۱) مسئله:۔ د استحاض حکم داسی دی لکه د چا چه همیشه تر پزه وینی بهیږی او نه جوړیږی نو داسی مستحاضه بنځه دی لمونځ هم کوی او روژه به هم نسی قضا کول ئی ناروا کار دی او د دی سره نژدیکت کول هم روا دی۔ شرح التنویر ص ۲۰۷ ج ۱

(۲) مسئله:۔ هر هغه بنځه چه مستحاضه وی مستحاضه هغی بنځی ته ویل کیږی چه د مخ دلاری څخه ئی وینه روانه وی د حیض حکم نه لری یا ئی پزه داسی زخمی وی چه وینه ئی همیشه جاری وی یوګړی نه بندیږی او یا ئی بل داسی زخم وی چه همیشه بهیږی او نه جوړیږی او یوګړی ئی نه بندیږی۔ یا د بولو د مریضی څخه ئی هر وخت څاڅکی ایله وی د دوندې وخت د غه شیان نه بندیږی چه دا په او داسې او پاکی سره لمونځ وکړی داغسی چا ته معذور ویل کیږی د داسی معذور حکم دادی چه د هر لمانځه د وخت د پاره د وی او د س کوی تر څو چه د غه وخت وی تر هغه وخته پوری د د وی او د س باقی وی البته په هغه مریضی چه د سره اخته د ه که د د غه څخه ماسوای یو بل داسی شی پیښ سو چه په هغه سره او د س ماتیدی نو او د س ئی مات دی او بیرته به او د س کوی د دی مثال دادی۔ یو ه بنځه مستحاضه د ه او د وی د ماپښین په وخت کښی او د س وکړی نو تر څو چه د ماپښین وخت وی د استحاض د وینو د سبب د د ی او د س نه ماتیږی او که ئی لوی بولی یا د ړی بولی وکړی یا ستن په جګه سو ه د د غه څخه وینی راوړی نو او د س ئی مات نه وی بیا د ی او د س وکړی چه د غه وخت تیر سی بل وخت داخل سی باید بل او د س وکړی هغه وخته وګڼه د هر لمانځه په وخت کښی

له یعنی فرض او واجب لمونځ چه هیڅ او ضو د ونه وی په دا سی او داسره وانسی کولای چه صرف فرض لمونځ مونه کړی پریښتل سی ۱۲

دی اودس وکړی او په دغه اوداسه سره فرض، نفل او هر لمونځ چه غواړی په کولای سی۔ (در مختار ص۳۱۳ اول ټوک)

(۳) مسئله:۱- که یې د سهار په وخت کښی اودس وکړی نو تر لمر راختو وروسته په دغه اوداسه لمونځ نه سی کولای باید د وهم اودس وکړی او چه تر لمر راختو وروسته یې اودس وکړی نو په دغه اوداسه دما پښین لمونځ کول صحیح دی۔ دما پښین په وخت کښی د نوی اوداسه ضرورت نسته چه د ماز پیګر وخت راسی بل نوی اودس به کوی مګر که دبلی وجهی څخه اودس مات سی نو بله خبره ده۔ (در مختار ص۳۱۵ اول ټوک۔ وهدایه)

(۴) مسئله:۱- دیو چا داسی زخم وی چه همیشه به ئې رطوبت بهیدی نو دغه زخم والا اودس وکړی د دغه زخم (ټپ) څخه ما سیوای بل زخم پیدا سو او څه نجاست (مرداری) څندی و بهیده نو اودس ئې مات دی بیرته دی اودس وکړی (در مختار ص۳۱۶ لومړی ټوک)

(۵) مسئله:۱- انسان هغه وخت معذور بلل کیږی او دغه حکم پرده هغه وخت جاری کیږی چه یو پوره وخت د لمانځه داسی پرتیږسی چه دینه برابره جاری وی او دوندی وخت خالی نه سی پاته۔ چه د دغه وخت لمونځ په اوداسه سره وکړی که دوندی وخت پیدا سو چه په دغه وخت کښی لمونځ په اوداسه سره کولای سی نو دغه ته معذور نه ویل کیږی او کوم حکم چه اوس بیان سو ید ی پرده ئې نه لګوو لیکن هر وخت که یو پوره وخت د لمانځه داسی تیر سو چه دی ته په دغه وخت کښی په اوداسه سره د لمونځ کولو موقع نه سوه پیدا نو دا معذور نه ده اوس نو د دی هغه حکم دی چه هر وخت به نوی اودس کوی او چه دوهم وخت راسی په دغه کښی هر وخت دوینو بهیدل شرط نه دی۔ بلکه که په یوه وخت کښی یو واړه هم وینی راسی او نور توله وخت بندی وی نو د دی معذوری پرځای پاته ده او که تر دغه وروسته یو پوره وخت د لمانځه داسی تیر سی چه په دغه وخت کښی بالکل وینی بند ی سی نو اوس معذور نه ده نو د دغه حکم دادی چه هر دار ئې وینه وزی اودس ئې ماتیږی بیرته اودس کوی په ښه غور او فکر سره ځان په پوه کړه چه مسئله مشکله ده۔ (در مختار ص۳۱۳ لومړی ټوک)

(۶) مسئله:- د ماپښین څه وخت تیر سوی وُ بیاد زخم یا بل شی وینو شروع وکړه نو تر آخیره وخته پوری دی انتظار وکړی که بنده ی سی خو خیردی اوکه جاری دی نو اودس دی وکړی او لمونځ دی وکړی نو بیاکه د ماز دیگر په تول وخت کښی د غه رنګه جاری وی چه د لمانځه کولو وخت نه سو پیدا - نو د ماز دیگر د وخت تر تیریدو د وړوسته ئ معذور نه بولو اوکه د ماز دیگر په وخت کښی بندی سوی نو معذور نه دی اوهرڅه لمونځونه چه ئ په دغو وختونو کښی کړیدی بیرته به ئ راګرزوی حُکمه هغه صحیح سوی نه دی. (شامی ص۱۳۲ اول توک)

(۷) مسئله:- د غسی معذوری بنځی د وړو بولو یا غټو بولو یا د هواد و تلو د وجهی اودس وکړی او هغه وخت چه ئ اودس کاوی د غه وخت ئ وینه بنده وه چه اودس ئ وکړی نو وینه را غله نو د د غه وینی د وتلو څخه اودس ماتیږی البته کوم اودس چه ئ د استحاض د سببه څخه کړی دی خاص هغه اودس د استحاض د وجهی څخه نه ماتیږی. (د رالمختار ص۳۱۶ اول جلد)

(۸) مسئله:- که په د غه وینو او نورو شیانو سره جامه ککړه سی نو دی وکتل سی که داسی وی چه د لمانځه تر ختمیدو مخکی بیا جامه په ککړه کیږی نو د د غه پر یمنځل واجب نه دی اوکه دا معلومه وه چه داسی ژر نه په ککړه کیږی بلکه لمونځ په پاکی سره ادا کیږی نو پر یمنځل ئ واجب دی که تر یوه روپی (درهم) زیات ځای وینی سی نو لمونځ ئ روانه دی بیله پر یمنځلو ئ لمونځ نه کیږی. (د رمختار ص۳۱۵ اول توک)

باب ۱۰ دنفاس بیان

(۱) مسئله:- د کوچنی تر پیدا کیدو وروسته چه د مخ د لاری څخه هرڅه وینی راځی د غه ته نفاس ویل کیږی زیاته مودې (زمانه) د نفاس څلویښت ورځی دی اوله اوله مودی لږه ئ اندازه نسته - که چاته څیرله وخت وینه د هغه

۳۴۲ لیکل سوی وُ او د روپی درهم ئ د زیاتیدو معنی داده چه د روپی (درهم) تر اندازه زیات ځای وینی ۲

اودستی بندہ سوہ نود غنہ هم نفاس دی۔ (مراقی الفلاح ص۷۵)

(۲) مسئلہ:۔ کہ دکو چنی تر پیدا کیدو وروستہ چاتہ بالکل دینہ نہ ورغلہ بیا هم تر زیږ ولو وروستہ غسل واجب دی۔ (شرح التنویر ص۳۰۸ اول پتوک)

(۳) مسئلہ:۔ تر نیمی کو چنی زیات را وتلی دی لیکن تر اوسہ پورہ نہ دی را وتلی دغہ وخت چہ کوی دینی راسی هغہ نفاس دی کہ تر نیمی کم را وتلی وُ کہ پہ دغہ وخت کښی دینی را غلی هغہ مرض دی کہ بنځہ پہ هوښ کښی وہ حواس او عقل ئی پر ځای وی نو پہ دغہ وخت کښی هم کہ لمونځ و نہ کړی گنهگار کہ دہ کہ ئی طاقت نہ وی پہ اشارہ سرہ دی لمونځ وکړی او قضا کوی دی نہ۔ یکن کہ دماغہ کو لوخنہ دکو چنی دضائع کیدو یږہ وہ نو دی لمونځ نہ کوی۔ (فتاوی هندیہ ص۲۳ لومړی پتوک و شرح التنویر ص۳۰۸ اول پتوک)

(۴) مسئلہ:۔ دیو چا حمل دغور زیدی او لویدی کہ دکو چنی یو او نیم اندام جوړ سوی دی نو تر لویدو وروستہ چہ کومہ وینہ راسی هغہ هم نفاس دی او کہ بالکل نہ دی جوړ سوی بس فقط غوښہ وی نو دا نفاس نہ دی نو کہ دغہ وینی حیض کیدای سوی نو حیض دی او کہ حیض نہ سوی کیدای نو مرض دی مثلاً تر دریو ورځو کمی وی یا د پاکی زمانہ تر اوسہ پوری پنځلس ورځی نہ وی پورہ سوی نود غہ بنځہ مستحاضہ دہ۔ (فتاوی هندیہ ص۳۳ اول جلد و شرح التنویر ص۳۱۲ اول پتوک)

(۵) مسئلہ:۔ کہ دینی تر څلویښت ورځی زیاتی سوی کہ ئی دغہ اول کو چنی وُ نو څلویښت ورځی د نفاس دی او نوری هرڅہ چہ زیاتی راسی هغہ مرض دی نو تر څلویښتو ورځو وروستہ دی غسل وکړی او لمونځ کول دی شروع کړی او دوینو بندیدو انتظار دی نہ کوی او کہ ئی دغہ اول کو چنی نہ وی بلکہ تر دغہ مخکی ئی نو هم زیږ ولی وی او د دی عادت معلوم وی چہ د دیر نہ ورځی ئی نفاس راځی نو هر څومرہ ورځی چہ د نفاس عادت وی د هغو نہ ورځی د نفاس دی او چہ تر دغہ عادت زیاتی وی هغہ مرض دی۔ (شرح التنویر ص۳۰۹ اول پتوک)

(۶) مسئلہ:۔ دیو چا د نفاس عادت د پرش ورځی دی لیکن د پرش ورځی تیری سوی او دینی بندی سوی نہ دی نو اوس دی غسل نہ کوی کہ پر پورہ څلویښت ورځی

باندی بندی سوی نو د غه پتول نفاس دی او که تر څلویښت ورځی زیاتی سی نو فقط دیرش ورځی نفاس دی، او باقی پتول مرض دی نو د د غه سببه دی فوراً غسل وکړی او دلمونځ وروځو د لمنځو قضا دی راوړی۔ رد المحتار ص۳۱ اول پتوک)

(۷) مسئله:۔ که تر څلویښت ورځی مخکی د نفاس وینی بندی سی نو فوراً دی غسل وکړی لمونځ دی شروع کړی او که غسل تاوان وړته کوی نو تیمم دی وکړی او لمونځ دی شروع کړی هیڅکله دی یو لمونځ نه قضا کوی۔ (رد المحتار ص۳۰۹ اول پتوک)

(۸) مسئله:۔ په نفاس کښی هم بالکل لمونځ معاف دی او روژه معاف نه ده بلکه د روژی به قضا راوړی۔ د روژی لمانځه او د بنځی سړه د نژدیکت کولو لته هم هغه مسئلی دی چه مخکی بیان شوی۔ (شرح التنویر ص۳۰۸ اول جلد)

(۹) مسئله:۔ که په شپږ میاشتی کښی د نن نه دوه کوچنیان دا رنګه پیدا سوه چه د دوی دوو د پیدایښت په مابین کښی یو خو میاشتی یا خو ورځی وی نو د نفاس مدته د اول کوچنی څخه شمیرل کیږی که بل کوچنی لس شل ورځی یا یوه یا دوی میاشتی ورو سته پیدا سو نو د دوهم کوچنی څخه دی د نفاس شمار نه کوی۔ (شرح التنویر ص۳۱ لومړی پتوک)

نهویشتم | د نفاس او حیض او نورو شیانو د احکامو بیان | باب

(۱) مسئله:۔ کومه بنځه چه په حیض یا نفاس کښی دی او پرهغی غسل واجب وی نو د دی تګ د مسجد ته او د کعبی شریفی طواف کول او د قرآن شریف ویل او مسجد کول پتوله روانه دی۔ البته که قرآن شریف په بوغچه، پوښ کښی وی یا په یو دسمال کښی نغښتی وی یا پرده باندی د پتوکر یا بل شی کتونه را اوښتی وی ورسره گنډلی نه وی بلکه جلا وی چه څندی بیلیدای سی نو په د غه وخت کښی د قرآن شریف مسجد کول او په ورته کول روا دی۔ (شرح البدایه ص۶۵ اول پتوک)

(۲) مسئله:۔ د هرچا چه اودس نه وی د هغه د پاره د قرآن شریف مسجد کول روا نه دی البته په یاد سره ویل ئی روا دی۔ (شرح البدایه ص۶۵ اول پتوک)

(۳) مسئله:۔ په هغه روپی یا پیسه یا لوښی کی یا تعویذ کښی چه د قرآن شریف آیت

لیکلی وی د دغه مسحه کول هم د اسی خلقو پاره حرامه او ناروا ده - لیکن که یو آیت شریف پر کاغذ لیکل سوی وی بیا د پلاستک په کڅونه یا لوښی یا بل شی کښی پروت وی نو د دغې کڅونې او لوښی مسحه کول او پورته کول صحیح دی. (شرح البدایة صـ۶۵ ج ۱)

(۴) مسئله :- د قمیصه په ملن او د پورونی او پټو په څاک سره د قرآن شریف نیول او پورته کول حرام او ناروا کار دی البته که د بدن څخه جلا پاک پټوکر وی لکه د سمال یا بل شی په دغه سره د قرآن شریف نیول او پورته کول روا دی. (هدایة صـ۶۴ اول پټوک ورد المحتار صـ۳۰۳ اول پټوک)

(۵) مسئله :- که پوره آیت نه وایي بلکه د آیت یو لږ څه لفظ (توری) یا نیم آیت وایي روا دی لیکن هغه نیم آیت به د وندې نه وی چه د یو کوچنی آیت سره برابر وی. (شرح البدایة صـ۶۸ اول پټوک)

(۶) مسئله :- که د الحمد لله پوره سورة د دعا په نیت وایي یا نوری دعا گانی چه په قران شریف کښی را غلی دی د دعا په نیت وایي نو روا دی گناه نه لری مثلاً د دغه دعا - رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ - او د دغه دعا رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا اِنْ نَّسِيْنَا اَوْ اَخْطَاْنَا تر اخیره پوری چه د سورة بقره په آخر کښی را غلی ده - یا بله دعا چه په قران شریف کښی را غلی وی د دعا په نیت سره د دغو ټولو ویل صحیح او روا دی. (رد المحتار صـ۳۰۲ اول پټوک)

(۷) مسئله :- د دعاء قنوت ویل هم روا دی. (فتاوی هندیه صـ۲۳ اول پټوک)

(۸) مسئله :- که یوه بنځه د انجینونه قران شریف وایي نو په د اسی حال کی په زور - زیر - پیښ سره د رسته ویل روا دی او چه قران شریف په روانی ورته وایي نو پوره آیت دی نه وایي بلکه تر یوې (۱) یوې (۲) دوو (۲) دوو توره د روسته دی ساه - کا بری او د آیت روانی دی پری پری کړی - په توری توری دی وایي. فتاوی هندیه صـ۲۳ اول جلد)

(۹) مسئله :- کلمه او درود شریف ویل د خدای تعالیٰ نوم اخیستل استغفار ویل یا یو بله وظیفه کول لکه - لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ - د دغو ټولو ویل منعه نه دی دغه ټول روا دی. (شرح التنویر صـ۳۰۲ اول پټوک)

(۱۰) مسئله :- د حیض په زمانه کښی مستحب دی چه د لمانځه وخت سی نو دا اودس وکړی په یو پاک ځای کښی کښینی او د الله - الله وایي چه د لمانځه عادت

حُندی پاته نه سی او تر پاکید و دروسته ئی د لمانځه څخه زړه بیړه نه کوی او نه زړه خندی پوره نه سی ۔ (فتاوی هندیه ص۲۳ اول پوک)

(۱۱) مسئله:۔ یو چاته د غسل ضرورت وو او تر اوسه ئی غسل نه وُکړی ۔ چه حیض ورته راغلی نو اوس پردی غسل واجب نه دی بلکه چه د حیض څخه پاکه سی بیا دی غسل وکړی یو غسل د دواړو د پاره کافی دی ۔ (البحر الرائق ص۶۱ لومړی پوک و قاضی خان ص۲۳ لومړی پوک)

دیرشم باب — دلمانځه بیان

(۱) مسئله:۔ دیو چا کوچنی پیدا کیږی لیکن تر اوسه پتول راوتلی نه دی څه دبانده راوتلی دی او څه نه دی راوتلی په داسی وخت کښی که ئی عقل او حواس پرځای وی نو لمونځ کول فرض دی قضا کول ئی صحیح نه دی لیکن که د لمانځه په کولو سره د کوچنی د مرګ خطر وی نو د لمانځه قضا کول روا دی او دغه رنګه ۔ د ۱۴ ئی ۔ ته که دا بیړه وی چه که زړه لمونځ کوم نو کوچنی ته ضرر رسیږی یا ئی د مرګ خطره وه نهم لمونځ پریښوول روا دی لیکن بیا به ئی قضا اداء کړی ۔ (در مختار ص۳۰۸ لومړی پوک و مراقی الفلاح علی حاشیة الطحطاوی ص۲۰۴)

یودیرشم باب — وبلوغ ته درسید و بیان

(۱) مسئله:۔ چه یو انجیلی ته حیض ورسی یا تر اوسه حیض ورغلی نه وی خو دا حمل دار ه او بر الیه سوه یا حمل دار ه او بر الیه سوی نه وه لیکن په خوب کښی ئی دیو نارینه سره نژدیکت وکړی د دغه نژدیکت خوند ورکړی او منی ئی راووځی په دغو دواړو سره صورتو کښی خوانه او بالغه ده د دوئ ه ، لمونځ او پتول احکام د شریعت به کوی که د دغو دواړو صورتو څخه یو صورت نه وی لیکن پنځلس کلنه وی نو هم خوانه او بالغه ده او په هر حکم سره چه خوانی او بالغی پابندی دی دا هم په هغه سره پابنده ده ۔ (شرح التنویر ص۱۴۸ لومړی پوک)

قضا اداء ه تصحیح الاغلاط ۱۲ که په ولیښه بیله نژدیکته په شهوت سره منی ووزی هم بالغه بلل کیږی ۱۲

(۹) (۲) مسئلہ:- خوانید د ته په شریعت کښی بالغید ل یعنی بلوغ ویل کیږی - ترنه کالو مخکی هیڅ یو ښځه خوانی ته نه سی رسیدلای که ئی دینی هم راسی نو دغه حیض نه دی مرض دی چه د دغه حکم مخکی بیان سو - (شرح التنویر صـ۲۹۳ ج ۱)

ددی حصی ددرس ورکولو د عمل طریقه

(۱) نمبر:- که یوانجیلی د دغی حصی څخه مخکی مضمونونه په بل کتاب کښی ویلی وی نو د دغی حصی څخه که ئی ورشروع کړی نو هیڅ پروانه لری دغه رنګه په یو لو حصو کښی ممکنه ده اوکه د حصو مخکیوالی او ورسته والی اوترتیب بدلول دیو مصلحت د سببه څخه مناسب وی نو هیڅ پروانه لری.

(۲) نمبر:- د دغی حصی د ویلو په وخت کښی دی هم انجیلی ته وویل سی چه دا په ترتیب سره د دغه پر تخته یا کاغذ لیکی چه په اسانی سره ئی د لیکلو طریقه زده سی او دغه رنګه د لیکلو د سببه دغه مضامین ښه یاد یږی (۳) نمبر:- مختلفی مسئلی دی هر وخت څندی پوښتی په طریقه د امتحان سره چه ښه ئی یاد سی اوکه د دغی انجیلی پریوه ځای سبق څندی وایی نو هغوته دی تاکید او امر وکړی چه یو د بله پوښتی سره کوی (۴) نمبر:- که ئی استاذ نږدی اوشرمناکه مسئلی نه سی ورته ویلای او بله ښځه په منځ کښی واسطه هم نه وی یعنی د ده ښځه نه وی چه دهغی په ذریعه ئی ورزده کړی یاد سره یو استاذه ښځه نه وی چه دغه مسئلی ورته روایی یا بعضی مسئلی دا نجونو د ناپوهی د سببه د د وی تر فکر لوړی وی نو د غسی مسئلی دی پریږدی لیکن لبنانی دی ئی کړی چه بیائی څپله موقع راسی د وی دی په پوره کړی (۵) نمبر:- اوله ضمیمه دی د خپلی حصی سره ورته روایی اود دوهمی ضمیمی د ویلو ضرورت نسته (۶) نمبر:- دیباچه او سریزه چه په اوله حصه کښی ده هغه چه په شروع کښی ئی نه وه ورته ویلی که اوس په پوهیږی ورته ودی وایی غرض دغه مضمون ضروری دی اوکه نه پوهیږی هر وخت چه د پوهید وامید ئی پیدا سی بیا دی ورته روایی د غه رنګه کوم اشعار چه د دیباچی په پای کښی لیکل سوی دی که ئی هغه وخت یاد سوی نه وی اوس دی ورياد کړی (۷) نمبر:- په کور کښی چه څومره خلق اوښځی د کتاب ویلو قابل نه وی د د وی د پاره دی یو وخت وټاکی اوتول دی سره د جمعه کوی د غسی مسئلی دی ورته روایی او په پوره کوی دی چه دری هم بی برخی پاته نه سی. (۸) نمبر:- استاذ ته په کار ده چه هغه شاګرد انو ته داووایی چه په دغو مسئلو سره عمل هم کوی صرف زده کړه ئی په کار نه ده اوددوی خاص خیال وساتی ځکه د علم دغه فائده ده چه عمل په وکړی. (د بهشتی زیور دوهمه حصه ختم سوه په خیر سره)

دبهشتی زیور دوهمی حصے اوله ضمیمه نامداره په بهشتی جوهر

سره ده

دلمانځه د فضیلت بیان

پروردګار عالم جل جلاله فرمائی = اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ - یعنی بیشکه لمونځ منعه کوونکی دی د بی حیائی او ګناه څخه - غرض دا دی چه دباقاعده لمونځ کولو په سبب داسی برکت حاصلیږی چه لمونځ کوونکی د ټولو ګناهونو څخه ژغورنی که څه هم نور بعضی عبادتونه هم سته چه د دوی په وجه دغه برکت حاصلیږی مګر لمونځ په دغه برکت کښی خاص دخل او حصه لری او لمونځ په دغه باب کښی د اعلیٰ درجی تاثیر لری - مګر داخبره ضروری ده چه لمونځ د سنت طریقی موافق په سنه طریقه سره ادا سی - د لمونځ کوونکی په زړه کښی به د پروردګار عالم عظمت اولویی موجود وی او ظاهر او باطن به یی د اطمنان او عاجزی څخه ډک وی په لمانځه کښی به یوی او بلی خواته نه ګوری فکر به یی خاص په لمانځه کښی وی په هره درجه کښی چه کامل لمونځ ادا کوی نو دغی درجی په اندازه برکت ورته حاصلیږی.

لمونځ تر ټولو عبادتونو واښه پاک ته محبوب دی بل داسی عبادت نسته چه تر لمانځه زیات د خدای پاک ته محبوب وی. پس نو د مسلمان دپاره ضروری ده چه داسی عبادت چه د ټولو ګناهو څخه منعه کوونکی وی او د دوزخ څخه خلاصون راد ستونکی وی په ډیره سخته پابندی سره ادا کړی او هیڅکله یی قضا نه کړی.

(۱) د حضرت امام بصری رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی (حضرت امام بصری د ډیری لوړی درجی عالم او درویش دی او دغه رنګه تابعی هم دی حافظ محدث ذهبی رحمة الله علیه د ده په حالاتو کښی یو مستقله رساله لیکلی ده) چه فرمایلی دی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم چه هرڅوک داسی لمونځ کوی چه دغه لمونځ دغه لمونځ کوونکی د بی حیائی د کار ونو او د ګناه د خبرو څخه منعه نه کړی

(۱) اخرج الامام ابن جریر الطبری فی تفسیر سورة العنکبوت عن الحسن ؒ

نو دغه سړی بیله دی چه د خدای پاک څخه لیری سو بله هیڅ ترقی ئی نه ده کړی و ده ته د دغه لمانځه په سبب د خدای پاک نژدیکت او ثواب نه حاصلیږی بلکه د خدای پاک څخه ئی لیرې والی زیاتیږی او داسزا دی ده چه ده د داسی قدرمن عبادت قدر نه کړی او حق ئی ادا نه کړی پس نو معلومه سوه چه د لمانځه د قبلید وعلامه او نښانه داده چه لمونځ کوونکی د لمونځ کولو په سبب د ګناه څخه منعه سی او که اتفاقاً یو ګناه څنډی وسی نو فوراً توبه پرې کاږی۔

(۲) حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه (دا د غټو او لوړی درجی صحابی دی لوی عالم او پرهیزګار ده دی) د حضرت جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوی۔ چه بیشکه حال دادی چه د هغه لمونځ کوونکی لمونځ نه قبلیږی او ده ته ثواب نه رسیږی که څه هم ده ډډه دڼی څخه فرض ساقطیږی)

چه د لمانځه تابعداری نه کوی او د لمانځه د تابعداری (علامه یا اثر دادی چه لمونځ لمونځ کوونکی د بی حیایئ (د کار دنو) او د ګناه د (خبرو) څخه منعه کړی اه۔

(۳) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه یو سړی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کښی حاضر سو او عرض ئی وکړی چه په تحقیق سره فلانی سړی د شپی لمونځ کوی (یعنی شب بیدار او عبادت ګذاردی) بیا چه سهار سی غلا کوی ده مبارک ورته وفرمائیل بیشکه ژر تر ژره به لمونځ د غه سړی د دی کار څخه منعه کړی کوم چه ته ئی بیانوی (یعنی غلا کول به پریږدی او د ګناه څخه به راوګرځی) اخرجه احمد وابن حبان والبیهقی عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه بلفظ قال (ای ابو هریرة) جاء رجل الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال ان فلانا یصلی باللیل فاذا اصبح سرق قال انه سینهاه ما تقول اورده الامام السیوطی فی الدر المنثور۔

(۴) د حضرت عبادة بن الصامت رضی الله تعالی عنه (دا صحابی دی) څخه روایت دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی هر وخت چه یو بنده اودس وکړی او بنه اودس وکړی (یعنی د سنت طریقی سره برابر بنه اودس وکړی) او بیا پر لمانځه ودریږی په بنه طریقه سره د لمانځه رکوع ادا کړی او په بنه طریقه سره د لمانځه سجده ادا کړی او په کامله طریقه سره په لمانځه کښی قرآن شریف وایی (یعنی رکوع، سجده او قرائت په بنه طریقه سره ادا کوی) نو لمونځ وایی الله ج

لله اخرجه الامام ابن الجریر الطبری فی تفسیره عن ابن مسعود عن النبی صلی الله علیه وسلم (سورة عنکبوت) ۲

دی ستا حفاظت وکړی لکه تا چه زما حفاظت وکړی (یعنی زما حق دی ادا کړی زما دی ضائع نه کړم) بیا نو دغه لمونځ د اسمان طرف ته خیژی په دا سی حال کښی چه روښانه او نورانی به وی او دغه لمانځه دیارلس د اسمان دروازی خلاصیږی (د دی دیارلس چه اسمان ته ورسی او قبول سی) او هر درخت چه بنده په بنه طریقه سره اودس نه کوی۔ رکوع، سجده او قرأت په بنه طریقه سره نه کوی نو دغه (لمونځ وایی خدای دی تا برباد کړی لکه تا چه زه برباد کړم بیا دغه لمونځ د اسمان وطرف ته خیژی په داسی حال کښی چه دی به تاریک وی او د اسمان دروازی به پرې بندیږی (د دی دیارلس چه اسمان ته نه ورسیږی او قبول نه سی) بیا داسی سره پیچل کیږی لکه زوړ پتوکړ چه بیکاره سی او سره راوپیچل سی بیا نو دغه لمونځ د لمونځ کوونکی پر مخ وررد ځل سی (یعنی نه قبلیږی او ثواب ئی نه ورسیږی)

(۵) د حضرت عبد الله ابن مغفل رضی الله تعالی عنه (صحابی دی) څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه په غلو کښی غټ غل هغه دی چه خپل لمونځ غلا کوی۔ عرض وسو چه یارسول الله صلی الله علیه وآله وسلم څرنګه خپل لمونځ غلا کوی وه مبارک وفرمائیل چه په پوره طریقه سره د لمانځه رکوع او سجده نه ادا کوی او په بخیلانو کښی غټ بخیل هغه څوک دی چه په سلام کښی بخل کوی (رواه الطبرانی فی الثلاثة ورجاله ثقات کذا فی مجمع الزوائد)

غرض دادی چه د لمانځه عوندی داسانه او بنه عبادت حق نه ادا کول غټه غلا ده چه گناه ئی هم ډیره غټه ده مسلمانانو لره غیرت په کار دی چه د لمانځه د حق دنه ادا کولو په وجه دوئ ته څوند ه بیکاره خطاب سوی دی.

(۶) حضرت انس بن مالک رض (صحابی دی) چه دده ذکر د اولی حصی په ضمیمه کښی تیر سوی دی) دده څخه روایت دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم بالله تشریف راوړی پس نو یو سړی ئی په مسجد کښی ولید ی چه خپله رکوع او خپله سجده په پوره طریقه نه ادا کوی پس نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه نه قبلیږی لمونځ د دغه سړی چه په کامله طریقه سره خپله رکوع او سجده نه ادا کوی (رواه الطبرانی فی الاوسط والصغیر وفیه ابراهیم بن عباد الکرمانی ولم اجد من ذکره کذا فی مجمع الزوائد)

⑦ حضرت ابو هریرة رضی الله تعالی عنه (داد ډیری لوړی درجې عالم، ډیر لوی عبادت کوونکی او ډیر ذکر کوونکی صحابی دی په اصحابو کښی حضرت ابن عمرو بن العاص رضی الله عنه تر ده په حدیثو کښی بالا او زیات وو بل هیڅ صحابی په حدیثو کښی تر حضرت ابو هریرة رضی الله زیات نه وُو - د ده نوم عبد الرحمٰن او ابو هریرة ئی کنیت[1] وو -

په اول دار کښی دی ډیر تنګدسته او مسکین وُو او ډیری لوږی هم پرتیری سویدی د ده د اسلام راوړلو قصه ډیره اوږده ده په اوله کښی ئی سړه د ضرورته د تنګدستی په وجه نکاح هم نه سوه کولای بیا د نبی صلی الله علیه وسلم تر وفات ورسته د ده مالی حالت برابر سو مال او دنیا ئی پیدا کړه او د مدینی منورې حاکم مقرر کړل سو د حاکمی په حال کښی به ئی د ځرګوا د خاشو غوټه را اخیستی وه په بازار کښی به تیریدی او فرمایل به ئی چه لار ایله کړی د حاکم د پاره یعنی زما د تلو د پاره لار ایله کړی وګورئ سړه د دندی غټې وظیفې ئی خپل کار کاوی هغه هم په داسی طریقه سړه چه معمولی عزت والا سړی په دغسی طریقه سړه په کار کولو کښی خپله بې عزتی او ذلت ګڼی - د خپل ځان دلوي هیڅ فکر د سړه نه وُو چه زه خولوی سړی یم په خپل ماڼځت یا مزدور به دغه کار وکړم -

دغه طریقه ده د دغو حضراتو چه د وی د سالار انبیاء احمد مجتبیٰ محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وآله وسلم څخه تعلیم زده کړی وُو او د ده مبارک صحبت ئی په برخه سوی وُو.

نن هر څوک دیوکمی رتبی په حاصلید و سړه ځان غټ پولی او بیا دعوه د اسلام او د عوه د محبت او د عاشقی د نبی علیه السلام کوی. لیکن په حقیقت کښی محبت او عاشقی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه چا سړه دی چه د ده مبارک احکام پرځای کوی او د ده مبارک د سنتو په هر کار کښی پوره پابندی کوی - دی دیونکی سنه دیلی دی.

وکل یدعی وصلاً بلیلیٰ ❊ وَلیلیٰ لا تقر لهم بذاک

دعوه کوی چه ماته د لیلیٰ وصال حاصل سو لیکن لیلیٰ په دی خبره سړه د د وی

[1] کنیت د دی ته وایی چه لقب د ابن یا اب د سړه وی ۲

د پاره کا اقرار نه کوی:

پس نو د دغو خلقو دعوه څنګه صحیح کیدای سی - د غه رنګه هر څوک چه د خدای او رسول الله صلی الله علیه وسلم د محبت دعوه کوی مګر د قرآن او حدیث خلاف عمل کوی او الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم د د ه دعوه د رد انجمن بولی نو د د ه دعوه څرنګه صحیح کیدای سی په حدیث شریف کښی صاف ذکر سوی دی چه حق لاره هغه ده چه پر هغی باندی زه (محمد صلی الله علیه وسلم) او زما اصحابؓ دی د د ی حدیث مبارک څخه بنه واضح او بنکاره ده چه کومه لار خلاف د لاری څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وی هغه لار د ګمراهی د ه او پر د غه لار چه څوک روان وی د هغوی څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم سخت نارا ضه دی.

حضرت ابو هریرة رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چه ما پرورش موندلی دی په داسی حال کښی چه زه یتیم وم او ما هجرت کړیدی (مدینی ته) په داسی حال کی چه زه مسکین وم او زه د غزوان دلور مزدور وم د د ډوډی په عوض کی. او پر دی شرط چه کله به په سفر کښی په پښو حُم او کله به سپر یزم ما به د د ی د اوښ جلو او مهار نیولی وُ کشاوی به ئی او شعرونه به ئی وړسره ویل (په عربو کښی شعرونه وایی او اوښان وړسره کشوی حُکه چه د شعرد نو په ویلو سره اوښان په اسانی سره بیول کیږی) او ما به د د وی د پاره لرګی راوړل (یعنی د خپل مالک د کور والاوُ د پاره) د اهر هغه وخت چه د وی به کښته کیدل (یعنی چه پریوځای به ئی اړول).

پس له دی نو شکر د ی وی هغه الله لره چه د ه د ین مضبوطه کړی - او حضرت ابو هریرة رضی الله تعالیٰ عنه ئی امام او پیشوا د خلګو کړی یعنی د اسلام د د ین امامتی ورته حاصله سوه او د ائی د پروردګار د نعمت شکر ادا کړی په طریقه د کبر او فخر ئی د خپل ځان ته په پیشوا نه د ی ویلی د پروردګار د نعمت د اظهار ولو او د شکر د ادا کولو د پاره چه هر څوک ته د رجه وانسان ته حاصله وی - د د ی د رجی اظهار ول ثواب د ی او په اعتبار د کبر او فخر ئی اظهار ول منعه او حرام د ی او حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه فرمایلی د ی - چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم و ما ته و فرمایل چه ته د د غه

غنیمت[1] د مالونو څخه یوشی ولی زما څخه نه غواړی پس نو ما عرض وکړی چه زه ستا څخه دا غواړم چه ته د ماته علم را زده کړی د هغه علم څخه چه پروردګار عالم د تاته در ښودلی دی.

پس نو ده (نبی علیه السلام) راکښته کړه هغه شړی چه زما پر شا پرته وه (یعنی هغه شړی چه ما اغوستی وه) بیا نو د غه شړی ئې په منځ کښی زما اودده وغوړوله تر دا سی حده چه ما د هغو شپږو ته کتل کوی چه پردی باندی روانی دی. بیا ئې د ماته یو څه کلمی د تبرک د پاره د فرمایلی تر دا سی وخته چه هر وخت ده مبارک د غه کلمی پوره کړلی نو ئې د فرمائیل چه د غه را ټوله کړه او د خپلی سینی سره ئې ونګوه.

حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه فرمائی د دی نتیجه دا راووته چه زه دا رنګه سوم چه یو حرف ئې نه هیریدی د هغه علم څخه چه حضور صلی الله علیه وسلم به ماته د فرمایی (یعنی حافظه ئې د پیره قوی سوه او حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه فرمائی چه زه هره ورځ د الله تعالی څخه د دولس (۱۲۰۰۰) زره واره توبه او استغفار غواړم یعنی اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَاَتُوْبُ اِلَیْهِ یا د د غو الفاظو په مثل ئې نور الفاظ د دولس (۱۲۰۰۰) زره واره هره ورځ ویل او د ده سره یوه اینځی وه چه د وه (۲۰۰۰) زره غوټې پکښی وی ترهغه وخته نه بیدیدی تر څو چه د د غو غوټو په اندازه سره ئې پرد غه اینځی سبحان الله ویلی نه وای یعنی د بیدید وخته مخکی ئې د وه (۲۰۰۰) زره واره پرد غه اینځی سبحان الله ویل.

حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله تعالی عنه چه د لوړی درجی صحابی او عالم دی د سنت د تابعدارۍ د دنه قدر شوق وو او مینه ئې د سره د ر لوده چه ده د سنت طریقی په دوند ه اندازه کښی تلاش کاوی چه و خلګو ته دا بیره پیدا سوه چه کیدای سی په دوند ه تلاش او محنت کښی د ده عقل د بینه څخه ولاړ سی. او حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل = نعم الرجل عبد الله لو کان یصلی من اللیل - یعنی عبد الله ښه سړی دی کاشکی ده د تهجد لونځ کولای نو د د غه وخته څخه بیا ده د تهجد لونځ هیڅکله نه دی پری ایښی او د شپی به لږ بیدیدی پس نو عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما فرمائی چه ای ابو هریره رض بیشکه ته

[1] د غنیمت مال هغه دی چه د کفارو څخه په جنګ کی ونیول سی ۱۲

ډیرا وسیدونکی دی په موښ (اصحابو) کښی د حضور صلی الله علیه وسلم سره اوډیر یوهیدونکی اوزده کوونکی وی په موښ کښی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم حدیثونو لره - حضرت طحاوی رحمة الله علیه فرمائی چه زه ترشپږو میاشتو پوری د حضرت ابوهریرة رضی الله تعالیٰ عنه میلمه وم نو په اصحابو کښی ما نرده زیات مستعد او میلمه دوست څوک نه ولیدی حضرت ابو عثمان نهدی رحمة الله علیه فرمائی چه زه تراوړ (۷) ورځو پوری د حضرت ابوهریرة رضی الله تعالیٰ عنه میلمه وم پس نو ابوهریرة رضی الله تعالیٰ عنه اوده کړه بی بی اوده کړه خادم یو تربل وروسته د شپی په درو حصو کښی نوبت په نوبت سره راپورته کیدل (یعنی یوه په لمونځ کاوی چه لمونځ به ئی وکړی بیا به ئی بل راویښاوی (او خپله به بیدیدی) او دغه بل به لمونځ کاوی - او دغه بل یوه چه به لمونځ وکړی بیا به ئی هغه بل یو (یعنی دریم) راویښاوی دغه دریم به لمونځ کاوی او دهم به بیدیدی داتقی د تذکیرة الحفاظ، بخاری او داسی نورو کتابو څخه لیکل سویدی.

دغه حضرت ابوهریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی. چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی که چیری په تاسو کی دغه ستون (لمونځ) دیوچا ملکیت وای نو به دغه چا دغه خبره بده بللای چه دغه ستون (تمبه) خرابه می پس نو ستاسی څخه ولی یو څوک (داسی کار کوی چه) خپل لمونځ خرابوی داسی لمونځ چه هغه د خدای جل جلاله دپاره دی پس نو تاسی په پوره طریقه سره (باقاعده) خپل لمونځونه ادا کوی ددی سبب چه بیشکه خدای نه قبلوی، مګر کامل قبلوی (یعنی ناقص لمونځ او تمام ناقص عبادتونه خدای پاک په دربار کښی قبول نه دی) رواه طبرانی فی الاوسط باسناد حسن.

(۸) د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله تعالیٰ عنه څخه (چه صحابی دی) روایت دی چه په تحقیق سره یوسړی د حضور سرور عالم صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضر سو اوده مبارک څخه ئی د افضل د اعمالو پوښتنه وکړه. (یعنی چه تر ایمان وروسته په دین کی کوم عمل افضل او بهتر دی) پس نو د فرمایئل جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم چه لمونځ دی (یعنی فرض لمونځ) هغه سړی عرض وکړی چه بیا (ترلمانځه وروسته) کوم (عمل افضل دی) ده مبارک و فرمایئل چه لمونځ هغه سړی وویل چه بیا کوم (عمل افضل دی)

دہ مبارک وفرمایل چہ لوڼ ۔ دڑی (۳) واړہ ئی داسی وفرمائیل (داتینګار ئی دلمانځہ دعظمت اولویوالی پہ وجہ وفرمائی ددی دپارہ چہ خلګ د لمانځہ غم خور دنی وکړی او ضائع ئی نہ کړی) بیاچہ هروخت دغہ سړی پر مبارک علیہ السلام غلبہ وکړہ (یعنی پہ وار وار سړہ ئی پوښتنہ کولہ چہ تر دغہ وروستہ کوم عمل افضل دی او پہ ظاهرہ داخلورم وار سوال معلومیږی) نو رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل چہ جهاد دخدای پہ لار کښی (یعنی تر لمانځہ وروستہ دکافرانو سړہ غزا کول ددی دپارہ چہ د اللہ جل جلالہ دین غالب سی نہ ددی دپارہ چہ ماتہ څہ نفعہ، مال، تعریف او داسی نور حاصل سی. کہ څہ هم پہ ضمن کښی مال او داسی نور ورسړہ حاصل سی لیکن نیت بہ داسی نہ وی پس نو پہ ټولو اعمالو کښی تر فرض لمانځہ وروستہ جهاد افضل دی)

بیاهغہ سړی عرض وکړی چہ زما مور او پلار (ژوندی دی) ددوی پہ بارہ کی څہ حکم دی رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل. زہ د مور او پلار پہ شان کښی تاتہ دا حکم کوم چہ ددوی سړہ نیکی کوہ (یعنی ددوی سړہ بنہ کوہ ددوی نہ تکلیف مہ ورکوہ چہ ددوی تہ تکلیف ورکول حرام دی دوندی قدر د مور او پلار حق فرض او ضروری دی چہ پہ کوم کار کښی ددوی تہ تکلیف ـ رسیږی هغہ کار مہ کوہ پہ شرط ددی چہ هغہ یو داسی کار نہ وی چہ د هغہ درجہ د مور او پلار د حق ادا کولو څخہ زیاتہ وی او د غہ رنګہ پہ دغہ کار کی کوم چہ د مور او پلار د پارہ کیږی د اللہ تعالیٰ نافرمانی نہ وی د تکلیف څخہ مراد هغہ تکلیف دی چہ هغہ شریعت تکلیف بللی وی او تر دغہ زیات حق ادا کول مستحب دی ضرور نہ دی بنہ واړہ پہ دی مسئلہ کښی عام خلګ ډیرہ غلطی کوی او دلیل پہ تفصیل سړہ پہ رسالۃ الدین عن حقوق الوالدین کی بیان سوید ی) دغہ (سړی) عرض وکړی چہ زما دی قسم پہ هغہ ذات وی چہ تہ ئی پہ حق سړہ نبی راستولی ئی چہ زہ بہ حتماً او ضرور جهاد کوم او بیشکہ او ضرور بہ دغہ دواړہ (مور او پلار) پریږدم۔

جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل چہ تہ بنہ پوہ ئی (یعنی پہ جهاد او خدمت کښی د مور او پلار چہ ستا هریو خوښ وی هغہ کوہ) ددی حدیث څخہ معلومہ سوہ چہ د جهاد درجہ د مور او پلار سړہ د نیکی کولو څخہ زیاتہ

اولوړه ده او په بعضو حدیثو کښی دروسته تر فرض لمانځه د مور او پلار د حق ادا کولو ډیری بلنډی اولوړی درجی ته غلی دی او د مور او پلار ترحق ادا کولو دروسته بیا د جهاد مرتبه ته غلی ده. پس نو جواب دادی چه په دی ځای کښی چه د مور او پلار حقوق افضل او بهتر بلل سوی دی تر جهاد - د دی معنیٰ دا ده چه حقوق الوالدین (د مور او پلار حق) - چونکه د بندګانو حق دی چه بیله بخښنی د بندګانو نه بخښل کیږی او نه ئی امکان سته په دی وجه د مور او پلار د حقو تر مرتبه تر جهاد لوړه ده که څوک فرض جهاد ادا نه کړی او د جهاد د وخت تیرسی نو په توبه کولو سره د ډغه ګناه معافیږی مګر حقوق العباد (د بندګانو حقونه) فقط په توبه سره نه معافیږی. د وهم جواب دادی چه د جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم په خدمت کښی قسم قسم سوال کوونکی حاضریدل ده مبارک هر مړی ته د هغه د حال او طبیعت موافق جواب ورکاوی - رواه احمد و فیه ابن لهیعة علی زنة فعیلة وهو ضعیف وقد حسن له الترمذی و بقیة رجاله رجال الصحیح کذا فی مجمع الزوائد.

(۹) د حضرت ابو ایوب انصاری رضی الله تعالی عنه (د اصحابی دی په مدینه منوره کښی اول د ده په کور کی رسول الله صلی الله علیه وسلم اړولی دی د اهغه وخت چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکی مکرمی څخه هجرت وکړی او مدینی منوری ته ئی تشریف راوړی) څخه روایت دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه بیشکه هر لمونځ (د لمونځ کونکی) هغه ګناوی چه د دغه لمانځه څخه مخکی دی معافوی (رواه احمد باسناد حسن) مطلب دادی چه د هر لمانځه په کولو سره هغه وړی ګناوی معافیږی چه دیوه لمانځه څخه تر بل لمانځه پورې وی.

(۱۰) د حضرت ابو امامة رضی الله تعالی عنه باهلی څخه روایت دی (ابو امامة صحابی دی) چه ما اوریدلی دی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چه فرمایل ئی چه یو فرض لمونځ د بل فرض لمانځه سره یو ځای سی - نو څقوی (هغه ګناوی چه د دغه لمانځه څخه مخکی سویدی یعنی د یوه لمانځه څخه بیا تر بل لمانځه پورې چه کومی وړی ګناوی سوی دی هغه څقوی) او د جمعی لمونځ څقوی هغه ګناوی چه د تیری سوی جمعی د لمانځه څخه بیا د دی

جمعی تر لمانځه پورې سوی دی (او په بعضو حدیثونو کښې دا تلونکو د روژو د ګناهونو د معاف کیدو ذکر هم راغلی دی)

او د روژې د میاشتې روژه ختمه وی هغه ګناه وی چه د تیرې روژې تر څنګه تر دې بلې روژې پورې سوی وی او حج خو وی هغه ګناه وی چه د تیر حج د ادا کولو تر څنګه د بل حج تر ادا کولو پورې سوی دی. بیا راوی (روایت کونکی) وویل چه حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه روا نه دی یو مسلمانی ښځی لره چه حج کوی مګر سره د خپل خاوند نه یا د خپل محرم سره (رواه الطبرانی فی الکبیر و فیه المفضل بن صدقة وهو متروک الحدیث)

که یو څوک سوال وکړی چه کوم څوک چه وړې ګناوی نه لری نو د دې ته څه فضیلت حاصلیږی او بل د اسوال وکړی چه د لمانځه کولو سره وړې (کوچنۍ) ګناوی معافیږی نو د روژې او د اسې نورو په کولو سره کوم ګناوی معافیږی څکه چه وړې ګناوی یوه نه د ه پاته سوی تو لی د لمانځه په کولو سره معاف سوی دی.

جواب دادی چه په دغو دواړو صورتونو کښې بیا درجې بلندیږی.

(۱۱) د حضرت ابو امامه رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه مثال د پنځو لمانځونو داسی دی لکه د خوږو اوبو واله چه د چا د کور په دروازه کښې بهیږی او دی په د غه واله کښې هره ورځ پنځه واړه لمبیږی نو پرده به څه خیره پاته سی. (رواه طبرانی فی الکبیر و فیه عفیر بن معدان وهو ضعیف جدًا کذا فی مجمع الزوائد)

(۱۲) د حضرت ابو هریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه بیشکه اول د هغه شی چه د بنده څخه ئ حساب اخیستل کیږی (د قیامت په ورځ هغه) د ده لمونځ دی نو که په دی حساب کښې د غه بنده صحیح وختی نو تل عملونه به ئ صحیح ذخیره ئ (څکه چه د لمانځه څخه ما سیوای نور پاته او باقی عملونه هم د لمانځه په برکت سره درست او صحیح کیږی) او که چیری د لمانځه په حساب کښې بنده کامیابه نه سو نو لمونځ ئ درست او برابر نه وو نو بیا خراب او بیکاره ګرځی د

دہ نور پاتہ عملونہ هم.

بیا فرمائی پروردگار عالم وگوری (ای فرشتو) ایا زما بندہ یو څه نفلی لمنځونه ددہ په عملنامه کښی سته - پس نو که چیری وی ددہ یو څه نفلی لمنځونه نو په دغه نفلی لمنځونو سره ددہ د فرض لمانځه خرابی او کمبود پوره کیږی. او د باقی فرائضو هم په داغه شان او طریقه سره حساب اخیستل کیږی او که چیری یو کمی او تاوان پکښی وی نو په نفلو نو سره پوره کیږی - نکه فرض روژه نفل روژه، فرض صدقه نفل صدقه، او داسی نور په سبب د رحمت او مهربانی د الله تعالیٰ (یعنی داد خدای جل جلاله رحمت دی چه فرض په نفلونو سره پوره کیږی ورنه قاعده خو داعنوا ده چه فرض باید په نفلو سره پوره نه سی او هر وخت چه پوره نه سی نو بیا بنده نه عذاب ورکول کیږی مگر سبحان الله د الله جل جلاله څوندی لوی رحمت دی او که دچا فرض درست او پوره نه وی او نفلی هم نه وی نو عذاب ورکول کیږی مگر که خدای پاک رحم وکړی نو دا بیا بله خبره ده) - رواه ابن عساکر بسند حسن کذا فی کنز العمال جلد څلورم.

(۱۳) د حضرت ابو هریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه لمونځ افضله اوغوره د هغو عبادتونو دی کوم چه الله تعالیٰ (د بندګانو) مقرر کړی دی نو هغه څوک چه ئی د پیروالی توان او طاقت لری پس نو بنائی چه پیروئی وکړی (یعنی په کثرت سره دی لمونځ کوی ددی دپاره چه په کثرت سره خدای پاک ثواب ورکړی)

(۱۴) د حضرت عبادة بن صامت رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی - چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه ما ته جبرائیل علیه السلام د پروردګار عالم د جانب څخه راغلی پس نو وی ویل ای محمد ده (ص) په تحقیق سره الله عزوجل فرمائی چه بی شکه ما ستا په امت پنځه لمنځونه فرض کړی دی هر چا چه د غه (لمنځونه) پوره ادا کړل - سره داوداسه - سره د خپلو وختونو سره د خپلی رکوع او سجدی نو د هغو لمنځونو په سبب د ده د دپاره ژمه

اخلم چه زه به دی داخل کړم وجنت ته او هر څوک چه زما د حضور نه راسی
په داسی حال کښی چه بیشکه کمی ئی کړی وی په لمنځو نو کښی پس نو نسته د ده د
پاره زما ذمه که د هغوارم عذاب به ورکړم او که د هغوارم رحم به یې وکړم۔ (کنز العمال)
(۱۵) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر چا چه اودس وکړی او بنه اودس ئی وکړی
بیائی دا رنګه دوه رکعاته لمونځ وکړی چه نه هیره د خندی پیښه سوه او نه
سهوه۔ نو الله تعالیٰ د ده تیری ګناوی بخښی۔ (رواه احمد وابوداؤد والحاکم عن
زید بن خالد الجهنی کذا فی الکنز) دوه رکعاته لمونځ کول په داسی اهتمام سره چه
سهوه پکښی پیښه نه سی ممکن او په اسانی سره کیدای سی غرض دادی چه په
غفلت سره نه وی اکثره د غفلت څخه پیښیږی۔
(۱۶) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه دسړی اوښتی لمونځ نور پیدا کوی پس
هر څوک چه غواړی ستاسو څخه نور د ښانه دی کړی خپل زړه۔
(۱۷) په حدیث شریف کښی راغلی دی۔ بیشکه الله تعالیٰ نه دی فرض کړی صالح شی
افضل تر توحید او لمانځه (خدای پاک په خپل ذات، صفاتو او افعالو کښی یکتا او
بی مثله منل توحید دی) که چیری یوشی افضل او بهتر وای تر دغه (مذکور)
نو خامخا به ئی فرض کړی وای پر خپلو ملکو بعضی د د دی (ملکو) څخه رکوع کوی
او بعضی د د دی څخه سجده کوی یعنی ملکی چونکه پاکیزه او د الله جل جلاله
مقرب عباد دی او په دوی کښی خالص د عبادت ماده ایښول سوی ده چه د
دی مادی د سببه د د دوی د عبادت سره ډیره غټه علاقه ده پس نو که چیری
یو عبادت تر لمانځه افضل او بهتر وای بیا نو پر دوی هغه عبادت فرض کیدی او دا
هم د د دی حدیث څخه معلومه سوه لکه څرنګه چه په مجموعی حیثیت سره
پر موږ لمونځ فرض دی په دغسی مجموعی حیثیت سره پر ملکو فرض نه دی بلکه د
دی بعضی اجزاء پر بعضو ملکو فرض دی پس نو موږ څونده خوش قسمته یو چه دغه
نفیس اوغوره اجزاء د عبادت چه پر ملکو تقسیم سوید ی و موږ ته په هیئت
مجموعی سره عطا سوی دی پس نو د دی نعمت ډیر قدر کول په کار دی۔

(۱۸) حضرت انس رضی الله تعالی عنه د حضور صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوی چه په خپل لمانځه کښی مرګ په یاد وکړه ځکه چه کوم سړی او ښځه په خپل لمانځه کښی مرګ یاد وی نو هغه په ښه طریقه سره لمونځ ادا کوی او د اسی لمونځ کوه چه بیله لمانځه دی په بل هیڅ شی کښی فکر ښه نه وی او ځان وساته د اسی کار څخه چه بیا معذرت کی غوښتل کیږی یعنی د اسی کارمه کوه چه بیا پر پښیمانه سی او عذر ونه غواړی) رواه الدیلمی عن انس مرفوعًا وحسنه الحافظ ابن حجر.

(۱۹) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه افضل او هغه سړی لمونځ هغه دی چه په ده کښی اوږده ولاړه وی (یعنی قرآن ډیر پکښی وویل سی) رواه الطحاوی وسعید بن منصور.

(۲۰) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د هغه چا لمونځ نه (کامل) کیږی چه په خپل لمانځه کښی عاجزی نه کوی د تخشع لفظ په حدیث شریف کښی راغلی دی او دده معنی په عاجزی سره سوی ده اصل داد ی چه معنی ئې سکون او ارامی ده لیکن چونکه په سکون او ارامی سره لمونځ کول بیله عاجزی کیدای نسی ځکه چه هر وخت انسان د زړه بی د ر به او په بی باکی سره کښته او پورته کیږی نو داسی نه سی کیدای چه یوی او بلی خواته د نه ګوری بیله ضرورته یوی او بلی خواته د نه ښوری بلکه آزاد او سیږی او هر وخت چه د لمانځه سره عاجزی وی نو په ادب سره بیله دی چه یوی او بلی خواته د نه ګوری یا د ښوری خپل لمونځ ادا کوی.

(۲۱) د حضرت علی کرم الله وجهه څخه په صحیح سند روایت راغلی دی چه آخیرنی خبره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا وه چه هغم خورد نی او اهتمام کوی د خپلو لمنو نو او د خدایه ویریږی په باره کښی د خپلو میندو او غلامانو (کنز العمال) د غه دواړی خبری د دوندی قدر او هغم خورد نی لایقی وی چه آنحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د دنیا څخه د فراق او رخصتید و په وخت کښی هم د دوی هغم خوړلی دی. د دی سببه چه خلګ په لمنو نو کښی ډیری کوتاهی او سستی کوی د غه میندګیلانی، مریان، ښځی او خپل کوچنیان خلګ سپک او بی قدره ګڼی او ناجائزه

ته رواه طبرانی مرفوعًا بسند صحیح بلفظ افضل الصلوة طول القنوت ۱۲ ته لفظه لا صلوة لمن لا یخشع فی صلوته۔ رواه الدیلمی عن ابی سعید مرفوعًا

تکلیف ورکوی - پس نو د مسلمان د پاره ضروری دی چه د نبی کریم صلی الله علیه و سلم د د غو د واړو د صیتونو د پیرځیال وساتی - د الله پاک د بعضو نیکانو اوبزرګانو بندګانو سره د لمانځه د وندی شوق وُ چه د حضرت منصور بن زاذان (تابعی) په باره کښی داسی رانقل سویدی چه د لمړ اختو څخه بیا تر مازیګر پوری ئ مسلسل اوبرله پسی لمونځ کاوی - بنکاره خبره ده چه فرض خو په مابین کښی فقط دُوه (۲) لمځونه دی - مابینین او مازیګر - نور ئ نفل کول بیائ د مازیګر څخه وروسته تر مابنام پوری سبحان الله ویل بیائ د مابنام لمونځ کاوی اودده دا حال وُو چه یو چاورته ډیلی وای چه ملک الموت (عزرائیل علیه السلام پردروازه باندی ولاړ دی نو په خپل عمل کښی ئ هیڅ زیادت نسوکولای (یعنی خپل دینی کارونه ئ د مرګ د رانژدی کیدو په سبب زیاتولای نه سوه ځکه چه همغه څوک خپل دینی کارونه زیاتولای سی چه د مرګ څخه غافل وی او تول وخت د خدای په یاد کښی نه مړ نوی نو هر وخت چه د مرګ نژدیوالی واوری په خپلو عملونو کښی زیادت او ترقی کوی اود چاچه هیڅ وخت خالی نه وی او هر وخت د خدای پاک په یاد کښی مشغول وی او مرګ هر وخت تر بانو لاندی بولی نو د غسی څوک به په خپلو اعمالو کی څرنګه زیادت او ترقی وکړی او دَئ (حضرت منصور بن زاذان غټ عالم هم وُ اولوی لوی علماؤ ددده څخه حدیث حاصل کړیدی او حضرت منصور بن المعتمر (داهم تابعی، غټ عالم او غټ پرهیزګار وُ) ددده یعنی د منصور بن زاذان په حالاتو کښی لیکلی دی چه تر څلویښتو کالو پوری ددده حال داوُو - چه د وړځی به ئ روژی نیولی اود شپی به ویښ وُو (یعنی عبادت ئ کاوی) اوتوله شپه ئ دګناوو د عذاب د یادی) ژړل - چه یو چا به د لمانځه په حال کښی د لیدی نو داسی به معلومیدی چه اوس مړ کیږی (یعنی په دومره ډیر اندازه کښی ئ په اه او زاری او اهتمام سره لمونځ کاوی) هر وخت چه به سهار سو نو د واړی ستړګی به ئ په رنجوتو ورلی د واړه شونډان به ئ هغو ول اوسر به ئ په تیلو غوړ ادی پس به نو د ده مور وده ته ویل آیا تا یو څوک وژلی دی چه داسی شکل او صورت جوړ دی (یعنی چه د شپی دی د عبادت کولو اوژړا په وجه رنګ ژړ سوی دی همغه ولی بداوی داخوښه کار دی مړی خودی نه دی کړی چه ته ئ پټوی بلکه د خدای جل جلاله عبادت دی کړیدی) دَئ مبارک ورته وایی چه زه بنه

پوهیږم چه هغه شی چه زما نفس کړیدی (یعنی زما نفس غواړی چه زهادی
شهرت وسی په خلګو کښی دی زما د عبادت آواز ته ولاړه سی او خلګ ئی بزرګ وبولی
یا دا مطلب چه زما نفس کوم خاص قابل د اعتبار عبادت نه دی کړی دغه عبادت
نو خلګه په عبادت کښی حساب سی یعنی په عبادت کښی حساب نه دی او زه چه
خپل شکل او صورت بدل نه کړم نو د ظاهری صورت څخه ئی عبادت ګذاری
معلومیږی - پس نو خلګ چه دماته وګوری را باندی دوکه کیږی او خطاوزی
او ما بزرګ بولی - حالانکه زه په حقیقت کښی داسی نه یم نو دی سبب صورت بدلوم
او د پیری څرګ د سبب ئی ستر ګی سری سوی وی تر داسی حده چه بریښیدلی اوشی ئی
منه لیدلای نه سو.

د عراق بادشاه ودته پیشکش وکړی چه تابه دکوفی دښار قاضی مقرر کړم
لیکن ده مبارک انکار وکړی نو بادشاه بندی کړی او وپښوته ئی بیړی ورواچولی.
تر دغه وروسته ئی بیا ایله کړی - او بعضو وبیلی دی چه دوی میاشتی (د مجبوری
په سبب) قاضی پاته سو - (دغه دواړی قصی په تذکیرة الحفاظ جلد اول کښی
ذکر سویدی) محترمینو او هر تمنو لږ څه فکر وکړی چه د دغه بزرګ د عبادت
سره څونده شوق او مینه وه او د دنیا څخه ئی څوندی د پیر نفرت وو چه د حکومت
وظیفه ودته بی طلبه او بی کوششه میلا ویده (رسیده) چه په دغه وظیفه
کښی د پیر عزت او د پیره دنیاوه د دغسی وظیفی د پاره خلګ د پیر د پیر کوشش نه
کوی مګر ده د دی وظیفی هیڅ پروا و نه کړه - بیړی او زولنی ئی څو نبی کړی نو د
مسلمان د پاره داسی په کار ده چه په قدر د ضرورت د خوړلو، چیښلو او
اغوستلو بندوبست وکړی او نور پاته وخت د پروردګار عالم په یاد او ذکر
کښی صرف کړی.

(۲۲) په حدیث شریف کښی ذکر سویدی چا چه دوه (۲) ولس رکعاته لمونځ په شپه او ورځ
کښی وکړی دا رنګه لمونځ چه هغه فرض نه وی (په دی ځای کښی سنت مؤکد
مراد دی د وه سهار، شپږ ماپښین: یعنی څلور د ماپښین د فرض لمانځه څخه
مخکی او دوه (۲) وروسته، دوه (۲) د ماښام د فرض لمانځه څخه وروسته او دوه (۲) رکعاته
د ماخستن د لمانځه وروسته) نو خدای تعالی د ده د پاره یو ځای په جنت کښی

(۲۳) په حدیث شریف کښی راغلی دی څوک چه د مابنام اوماخستن ترمابین شپږ رکعاته لمونځ وکړی په داسی شان چه د دغو[۲] دوو وختونو په مابین کی یوه بده خبره بدکار ونه کړی نو د دولسو[۱۲] کلونو (نفلی) عبادت په اندازه ثواب ورکول کیږی (رواه فی الجامع الصغیر بسند ضعیف) یعنی د دغه شپږ رکعاته لمانځه ثواب د دولسو[۱۲] کلونو نفلی عبادت سره برابر دی.

(۲۴) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر هغه چا چه دوه رکعاته لمونځ وکړی په یوازی او تنهاځای کښی چه په دغه ځای کښی د خدای تعالی څخه ماسیوای او د هغو ملائکو څخه ماسیوی (چه هر وخت د دوه سره ملګری وی د ډیرو او غټو بولو او جماع په وخت کښی د څنډی جلاکیږی) بل هیڅوک د دغه لمونځ کونکی نه وینی نو د دوه دپاره د دوو برخ څخه نجات او خلاصون لیکل کیږی (رواه الامام السیوطی بسند ضعیف) یعنی خدای به دګناه څخه د څان سائلو توفیق ورکړی نو د دی سبب به د دوو برخ څخه نجات حاصل کړی لیکن که په د غسی طریقه سره د دغو[۲] دوو رکعتونو نه دوام ورکړی نو بیا دغه برکت د دوه په برخه کیږی (۲۵) په حدیث شریف کښی راغلی دی څوک چه د څابنت دولسو[۱۲] رکعاته لمونځ وکړی نو خدای تعالی د دوه دپاره په جنت کی د سرونړو یوځای جوړوی (جامع الصغیر) (۲۶) په حدیث شریف کښی راغلی دی چا چه څلور رکعاته د څابنت او څلور رکعاته مخکی د مابنین ترلمانځه (د سنت مؤکد څخه ماسیوی) وکړل د دوه دپاره په جنت کښی یوځای جوړیږی (طبرانی ئی په سند حسن سره روایت کړی دی) (۲۷) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هرڅوک د مابنام اوماخستن په مابین کښی شل رکعاته (نفل) وکړی نو الله تعالی د هغه دپاره په جنت کښی یوځای جوړوی۔ (رواه الامام السیوطی)

(۲۸) په حدیث شریف کښی راغلی دی ۔ من صلی قبل العصر اربعا حرمه الله علی النار۔ یعنی څوک چه د مازیګر د لمانځه څخه مخکی څلور رکعاته (نفل) لمونځ وکړی نو خدای پاک پرده د دوزخ حراموی (رواه الطبرانی عن ابن عمر مرفوعا باسناد حسن) مطلب دادی چه د دغه لمانځه په همیشه کولو سره به د دنیکی طرف ته شوق او د بدی څخه نفرت پیدا سی چه د دی په برکت به د دوزخ څخه نجات پیدا کړی۔ لیکن داضروری ده چه عبادت دوندی کول په کار دی چه همیشه ئی کولای سی نه پرغمیږی که څه هم د پرلږ وی اوکه چیری دیو مجبوری په وجه کله څنډی پاته سی نو دا بیا بله خبره ده پروا نه کوی نو چه نفل لمونځونه شروع کړی بیا دی همیشه کوی ۔ شروع کړی عمل بیرته پریښوول د پرله پسی خبره ده

او نرۍ نه شروع کولو ئې پرېښوول دېر بد دی.

(۲۹) په حدیث شریف کښی راغلی دی - رحم الله امرأ صلی قبل العصر اربعاً - یعنی رحم دی وکړی خدای تعالیٰ پر هغه سړی او ښځه چه دوه دمازیگر تر لمانځه مخکی څلور رکعاته لمونځ وکړی - (رواه الامام السیوطی باسناد صحیح - ای مسلمانانو وروڼو اودیانی خوندو د دغه حدیث پر مضمون فداء او قربان سی وګورئ په لږ څه تکلیف کولوسره څومره ډیر ثواب پیدا کیږی چه د حضور صلی الله علیه وسلم د دعا برکت او د ګناوو څخه د ځان ساتلو توفیق انسان ته په برخه کیږی د دی عبادت چه هرڅومره ډیر وکړی او هرڅومره ډیر چه د د اسی عبادت پر مقرر کیدو باندی د خدای پاک شکر اداسی بیا هم کم دی - د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دعایو خوش قسمته انسان ته وایه چه په برخه کیږی دواړه او څنګه نه زموږ اعمالنامی یعنی سهار او مابنام د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښی پیښیږی نو کوم څوک چه نیکی کوی او هغه عبادت کوی کوم چه نبی علیه السلام ئې وخلګوته ترغیب او تشویق ورکړیدی نو د دغسی چا څخه حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیر خوشحاله کیږی او د د ده مبارک د خوشحالی او رضامندی په وجه د دغه څوک په اړه رحمت کښی د خدای جل شانه اوسیږی بنه ئې ویلی دی ـه

فان من جودک الدنیا وضرتها ومن علومك علم اللوح و القلم

یعنی ستا په سخاوت او بخښش کی د نیا او د د ی مقابل یعنی آخرت موجود دی او ستا په علوموکښی د لوح محفوظ او قلم علم موجود دی یعنی په لوح محفوظ کی چه هرڅه تر قیامته پورې واقع کیدونکی دی هغه ټیکل سویدی او ستا په علوموکی موجود دی (غرض د اچه د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د توجه او سخاوت څخه د دین او دنیا نعمتونه حاصلیږی او د ده صلی الله علیه وسلم د تعلیم په سبب د لوح محفوظ علم میسترکیدای سی د دغه علم د میسرکیدو د ده صورتونه دی یو د اچه د ده مبارک په فرمایل سوو حدیثونوکښی غیبی اسرار موجود دی او د خدای جل جلاله و خاص بندګانو ته ئې کشف کیږی - دوهم د اچه علاوه د د هغو اسرارو د خدای تعالیٰ د مهربانی او د ده مبارک د حدیثونو ویلو په برکت او په حدیثونو د عمل کولو په برکت نور غیبی

رازده نه هم د حق پرطالبانو راخلاصیږی بنه خان په پوه کړه او عمل په وکړه - او پوهږی د علم په زده کولو کښی کومه خاص فائده نسته اصل او خاص فایده د علم زده کولو او بیا پرده غه علم د عمل کولو څخه حاصلیږی .

(۳۰) په حدیث شریف کښی ذکر سوی دی چه د شپی لمونځ (یعنی د تهجد لمونځ) پر خپل خان لازم کړه که څه هم یو رکعت دی (رواه الامام السیوطی بسند صحیح) مطلب یې دادی چه د تهجد لمونځ که څه هم پریږدی مگر خامخا ئی کوه حکه چه ثواب ئی پریږدی که څه هم فرض نه دی اودا فرض نه دی چه یو رکعت کوه حکه چه یو رکعت لمونځ کول صحیح نه دی لږ تر لږه به دوه رکعاته کوی .

(۳۱) په حدیث شریف کښی دی چه د شپی ولاړه (یعنی د تهجد لمونځ) پرخپله ذمه لازم کړه حکه چه د غه (تهجد) عادت د هغونیکانو دی چه ستا څخه مخکی وه - نژدی کورنکی دی (د غه د تهجد لمونځ د پروردګار عالم طرف ته دګناه څخه د لیرې کیدو ذریعه دی ختمونکی دی (د هغو) ګناه ګانو اولیرې کونکی دی مرض لره د بدن څخه (رواه السیوطی بسند صحیح) لږ څه غور وکړی چه څوند ه قدر ګټه ده د دی لمانځه په کولو کښی چه کوم ثواب دی او د سره د ګناهونو بخښنه او د ګناهو څخه راګرزیدل د بدنی مریضی څخه شفا هم پکښی ده اود باطنی امراضو د پاره خو خالص شفا ده حکه چه په حدیث شریف کښی راغلی دی چه ذکر د خدای د زړه تو (د مریضی) د پاره شفا ده او لمونځ د اعلی درجی ذکر دی او دوند ه سخت هم نه دی - د تهجد په وخت کښی په خاص طور سره دعا قبلیږی نو د تهجد لمونځ باید وسی .

حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله علیه تر خلویښتو (۴۰) کالو پوری د ماخستن په اوداسه د سهار لمونځ کړی دی او د ټوله شپه ئی د الله پاک عبادت کاوی .

(۳۲) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه حضور صلی الله علیه وسلم د الله پاک څخه روایت کوی چه حق تعالی فرمائی ای د آدم اولاده ته څلور رکعاته نفل وکړه زما د پاره (یعنی په اخلاص سره) په اول کښی د ورځی نو ترڅو تاته (یعنی ستا په کارونو کی) کفایت کوم د ټولی ورځی (رواه الترمذی وغیره) داد اشراق د لمانځه فضیلت دی او دکولو طریقه ئی په اصل کتاب یعنی بهشتی زیور کی ذکر سویده

فکر وکړه ثواب هم پکښې دی او پروردګار عالم د ټولو کارونو کفایت اوپوره والی هم کوی د دین او دنیا نعمتونه په سبب د د ه حاصلیږی خلګ په غمونو کښې یوی اوبلی خواته سرګردانه ګرځی او د خدای جل جلاله د مخلوق خوشامد کوی کشکی دوی د خدای پاک طرف ته متوجه می او د د ه ښوول سوی وظیفی او لمونځونه وکړی نو د دنیا کار به ئې هم ښه برابرسی او ثواب به ئې هم وړ په برخه سی او د مخلوق د خوشامد د ذلت څخه به هم خلاص سی یو بزرګ فرمائی چه د هرتوم د پاره یو پیشه او کسب سته (چه په د هغه کسب سره د هغه قوم خپله ګټه ره کوی) او زمونږ پیشه تقوای او توکل دی (کذا فی ظفر الجلیل)

تقوی و دی ته ویل کیږی چه انسان پرهیزګاری وکړی او د خدای ج حکمونه پرځای کړی - توکل ودی ته وائی چه پرخدای جل جلاله اعتماد وکړی او د دی پوره بیان به انشآء الله تعالی د اوومی حصی په ضمیمه کښې راسی غرض دادی چه د دین داری په سبب د دنیا تکلیفونه او غمونه هم لیری کیږی

مسئلی

(۱) د انسان بیښتان (وریښتان) چه د بیخه وخیژی نو د د غو وریښتانو بیخونه ناپاکه دی په سبب د هغه غوړوالی چه د د غو وریښتانو په بیخونو پوری مښتی دی - (شامی)

(۲) هرځای چه د اختر د نو لمونځ واجب دی د هغه ځای د ټولو نرانو او ښځو د پاره د اختر تر لمانځه مخکی او د سهار تر لمانځه وروسته نفل او داسی نور کول مکروه دی - (بحر الرائق)

(۳) د جنابت په حال کښې نوکان پریکول تر نو (نامه) لاندی یادیو بل ځای وریښتان خریل او لیږی کول مکروه دی - عالمګیری مصطفائی ص۲۳۸ ج۶ جلد

(۴) د نابالغه کوچنیانو د پاره لمونځ او داسی نور ښه کارونه ثواب لری یعنی دوی ته ئې ثواب ورسیږی او هرځوک چه تعلیم ورته کوی هغه ته د تعلیم ورکولو ثواب رسیږی.

(۵) په کومو ورځو نوکښې چه لمونځ کول مکروه دی په د غو ورځو نوکښې که د قرآن مجید تلاوت وسی مکروه نه دی یا پرځای د تلاوت درود شریف وویل سی یا

ذکر وسی هم مکروه نه دی۔ صغیری مجتبائی ص۲۵۸

(۶) که د لمانځه په اول رکعت کښی د سورۃ یوه حصه وایی او په دوهم رکعت کښی ئی باقی حصه وایی نو لمونځ ئی بیله مکروه والی صحیح دی دغه رنګه که په اول رکعت کښی دیو سورت مابینی حصه یا اوله حصه وایی بیا په دوهم رکعت کښی دیو بل سورت مابینی حصه یا اوله حصه وایی یا یوکوچنی سورۃ یوره وایی نو بیله مکروه والی صحیح دی۔ (صغیری ص۲۵۶) مګر دا رنګه عادت نیول خلاف اولی کار دی ښه او بهتر دادی چه په هر رکعت کښی مستقل اوجلا سورت وایی۔

(۷) په تراویح (تراوډ) کښی د قرآن شریف دویلو په وخت کښی یوایت یا سورۃ د غلطی په وجه پاته سی تر دغه ایت یا سورت مخکی نور قرآن شریف شروع کړی بیائی په یاد سی چه فلانی ایت یا سورۃ را څخه پاته سویدی نو مستحب دا دی چه پاته سوی ایت یا سورۃ وایی د دغه ایت یا سورۃ تر پاتکیدو ـ ورروسته چه ئی هر څوندی قرآن شریف ویلی وی هغه دی بیرته دوهم وار وایی د دی د پاره چه قرآن شریف په ترتیب سره ختم سی۔ عالمګیری مصفائی ص۷۰) جلد اول)

اوچونکه د عشی کول مستحب دی نو د دی سبب که یو چا ایت یا سورۃ تر پاتیدو ورروسته د قرآن شریف ویلی وُ او یو وخت ور په یاد سوه چه زما څخه خو فلانی ځای پاته سوی وُ او د دغه قرآن بیرته را ګرزول ګران وه کوم چه د ه ایت یا سورت تر پاته کیدو ورروسته ویلی وُ څکه چه د ږ وُ نو د ه نقط هغه پاته سوی ځای را ګرزاوی نور ئی نه را ګرزاوی بیا هم پروا نه لری۔

(۸) د مرګ په وخت کښی پرتندی باندی خوله را تلل، د ستر ګو څخه او به بهیدل او د ږِزی سږ می پراخیدل د ښه مرګ علامه ده او یوازی پرتندی خوله را تلل هم د ښه مرګ علامه ده۔ (تذکیرۃ[1] الموتی والقبور از جامع بترمذی وغیره)

(۹) د لاروختې او ناپاکه او به معاف دی په شرط د دی چه د نجاست اثر پکښی معلوم نه وی۔ (مراقی الفلاح)

(۱۰) مستعملی او به یعنی د اسی او به چه په دوی سره یو بی او د سه چا اودس

[1] مؤلفه حضرت قاضی محمد اللہ جانی پیښی رحمه اللہ ۱۲

کړی وی یا هغه غسل چا غسل په کړی وی چه د غسل کولو ته ضرورت لری یا په دوی سره یو اودس لرونکی چا د ثواب په نیت سره اودس کړی وی یا په دوی سره یو داسی څوک لمبیدلی وی چه د لمبیدو ته ضرورت نه لری صرف د ثواب په نیت سره د غسل کړی وی اود لمبیدو ضرورت ئی نه وی پس نو په داسی اوبو سره غسل کول روا نه دی. د دغسی اوبو چیبنل اود څوک په شی کښی استعمالول مکروه دی. (شامی)

د غه چه بیان سو ه (یا هغه چا غسل په کړی وی چه د غسل کولو ته ضرورت لری) هغه وخت دا چه د غسل کونکی په بدن پوری حقیقی مرداری نه وی مبنی او که چیری حقیقی مرداری پوری مبنی وی نو بیا د غه مستعملی اوبه مرداری دی د خوړلو اوچیبنلو په شیانو کښی ئی استعمال حرام دی.

(د اصلی مکمل اومدلل بهشتی زیور د دوهمی حصی اوله ضمیمه تمامه سوه)

نوی اضافه

د څوند او مرګ شرعی کړنلاره

د مرګ شرعی کړنلاره

چه د انسان نزع یعنی رکندن شروع سی نو سورة یٰسٓ پروا یه د قبلی ته ئی مخامخ پرراسته اړخ پریبا سله چه داسنت کار دی که چیری مریض ته تکلیف نه وی او که چیری ورته تکلیف وی بیا نو پرخپل حال ئی پریږده اود شاپیر څخه (ستونی ستخ) ئی هم پری ایستل روا دی دا رنګه چه پښی ئی د قبلی وطرف ته وی او ترسری ئی یو څه ورلاندی کړه چه سر ئی یو څه لوړ سی او کوم خلګ چه ورته ناست وی هغه دی په لږ څه لوړ آواز سره - لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ وایی او کلمی دیلو امر دی نه ورته کوی چه کلمه روایه حکه کیدای سی چه کلمی دیلو څخه منعه وکړی. دا خو د سختی وخت دی چه مړسی نو زنی دا رنګه ورته چه یو پراخه ریښتی تر زنی ورلاندی کړه اود ربښتی سر وښه ئی ورته ورسوه بیا غوټه ورکړه او سترګی ئی ورښندی کړه د پښو د اړی بښتی گوتی

ئی سره یوځای کړه په یو سر بنکی ئی ور وتړه او د واړه لاسونه ئی د اړخ سره غزیدلی پریږده چه پر سینه پاته نه سی بیا نو خلګ په خبر کړه چه مړ سو په پټولو کښی ئی د پر تلوار کوه تر هر څه مخکی ئی د قبر بندوبست وکړه د کفن او د فن د پاره ئی د دغه لاندی ذکر سوی سامان انتظام وکړه او هر یو پر خپل خپل ځای مصرف کړه - تفصیل او بیان ئی دادی - د(۱)ه دا فی منګیان (که په کور کښی چیری لوښی موجود وی بیا د منګی ضرورت نسته) یو(۲)ه بدنه (که چیری په کور کښی موجوده وی بیا ئی ضرورت نسته) د(۳)غسل د پاره تخته چه په اکثره مسجدونو کښی سته لوبان(۴) یو ه تولـه - پنبه(۵) نیم چټانګ - ګل(۶) خیرو یو چټانګ کافور(۷) شپږ ماشی تخته(۸) یا اوبی خښی په اندازه د لحد (د وړی) یو ه دانه چټابی(۹) (بوریا) په اندازه د دوړی کفن چه د ده طریقه د نزد پاره دادی چه د مړی د قد سره برابر یو تار و نیسه او د غه تار د اوږی په برابر نښانی کړه او په یو ه بل تار سره د مړی پښه والی د د ه د سینی په ځای کښی معلوم کړه چه د مړی تر قد (اوږد والی) عرض (پسور) تار و نه زیات سی هغه پریکړه بیا یو توکر را واخله چه د د ه عرض او پراخوالی د هغه تار سره برابر وی یا و برابری نه نژدی وی کوم چه د مړی پښه والی په معلوم سویدی. که ئی پراخوالی ورسره برابر نه وی نو بیا یو بل توکر ورسره وګنډه چه پورته سی بیا د هغه تار په اندازه د غه توکر پریکړه کوم چه د مړی قد او اوږد والی په معلوم سویدی بس و د غه توکر ته ازار ویل کیږی د غه رنګه دوهم توکر پریکړه چه په عرض کښی د اول توکر په اندازه وی لیکن په اوږد والی کښی به تر اول توکر څلور ګیښے زیات وی (د ی ته لفافه وایی) بیا یو توکر را واخله چه عرض ئی په قدر د مړی د بدن د پراخوالی وی (د مړی د بدن د یو ه طرف پراخوالی مراد د ی) او کوم تار چه د اوږی په برابر نښانی سویدی د د غه نښان څخه چه بیا تر اخیره هر څوند ی اوږد والی د ی د د غه اوږد والی د د چند ه توکر پریکړه بیا د د غه توکر د واړه سره و نه سره یو ځای کړه د توکر هغه یله خواد و ند ی قدر څیری کړه چه د سر د خواځخه وغاړی ته راسی (د د ی ته قمیص وایی).

د نبځی د پاره د د غه څخه علاوه د د ه نور هم د ی یو(۱) سینه بند بل سر بند یعنی خمار چه پورتنی ورته وایی - سینه بند د تخرګو څخه بیا تر ځنګنو پورې د ی او د ذکر سوی تار په اندازه ئی پراخوالی د ی د اخو کفن سو او مسنون (سنت) کفن

بس د خونډی قدردی۔ او بعضی شیان دکفن د متعلقاتو څخه دی چه د دوی بیان لاندی ذکر سویدی۔

تهبند یعنی هغه توکر چه د غسل په وخت کښی د مړی بدن د نوڅخه تر څنګونو پوری پټ کړی او دا د (۱) ډه دانی په کار دی۔ دوی کښوړی چه غسل ورکونکی ئی د غسل ورکولو په وخت کښی په لاس کښیباسی د بنځی د جنازی د وړلو په وخت کښی پر چارپائی اوکښ مړ ببره کا یو څټ چادر اوپورهدنی څوړول چه جنازه ئی په پټه سی اود لوی بنځی د پاره د دوه نده قدر کافی دی چه دری نیم گزه ئی اوږد والی وی اود دوه گزه ئی پراخوالی وی۔

تنبیه:۔ د غسل د سامان د برابرید و سره باید سم دم د کفن اود کفن د متعلقاتو بند وبست وسی۔

اوس مناسب دی چه د لوی انسان کفن په یکجائی اوجدولی طریقه سره ولیکل سی چه ښه اسانه سی۔

ګڼه	د پارچی نوم	اوږد والی	پراخوالی	اندازه - مقدار	کیفیت
۱	ازار	دوه نیم گزه	د پاوبانډی یو گز څخه بیاتر یونیم گز پوری	د سر څخه تر پښو پوری	څوارلس، پنځلس یا شپاړس گری پراخ توکر یوه نیمه تاه - (یونیم بر)
۲	لفافه	پاو کم دری گزه	" " " "	تر ازار څلور گری زیاته	" " " " " " " " " " " "
۳	قمیص	د دوه نیم گزو څخه بیا تر پاو کم دری گزه	یو گز	د اوږو څخه تر پنډ یو پوری	څوارلس گری یا یو گز څرخ به لری د واړه مرونه ئی سره یو ځای کړه د هغی بلی خوا څخه ئی خیری کړه د مړی په غاړه کښی ئی د سر د خوا ور واچوه۔
۴	تکه سینه پنډ	دوه گزه	پاو بانډی گز	د تغر گو څخه تر څنګونو	د تغر گو څخه تر څنګونو پوری پراچول کیږی۔
۵	مړسند	یو نیم گز	دوو لس گیری	کوم ځای ته چه د سر سیږی	د سر د ویښتانو ئی دوی حصی کړه نیمی پر ښی اړخ خوا نیمی پر چپه خواد سینی مړ ئی په سر بند کښی و نغاړه۔

لـ تر قمیص لاندی د مړی بنځی پر سینه تړل کیږی ۲ لـ یعنی څنګاړ اوپورهدنی ۲

تنبیه ۱- تقریباً د مړی د کفن د پاره چه یو گز ځی پسورې دی لس گزه توکر مصرفیږی
د بنځی د پاره د چار پائی اوکت د چادر د پاره یو یشت نیم (۱½) گزه توکر مصرفیږی.
تهبند یعنی هغه توکر چه د غسل په وخت کښی د مړی عورت په پټوی
جلا دی او کشوری هم ځندی جلا دی.

د غسل او کفن ورکولو طریقه

په یو منگی اد لو بنی کښی د(۲) ۲ متره د بیری پانی واچوه او بوته جوش ورکړه بیا
دغه اوبه په د(۲) ۲ لوبنو کښی واچوه او دوسته شمالاً او جنوباً یو غار وکینه (خو غار و نه
ضرورې نه دی که چیری یو داسی ځای وی چه د غسل اوبه ولښتی یا ولی ته لویږی نو
بیا دغه لښتی یا ولی ته نژدی تخته اینبوول کافی دی) چه تخته دی کښینوره بیا نو د(۳) ۳ ی
واره لوبان ورته ودوده بیا نو مړی پر تخته پر بیاسه قمیص، انگیا او داسی نورې جامې
درځیږی کړه او ځندی وی کابړه که چیری په لاس سره نه پریکیدی بیائ په غځی سره
درپری کړه - پر عورت (شرم گاه) ئ یو توکر ورواچوه تر دغه دوسته هغه جامه
ځندی وکابړه کوم چه تر دغه توکر لاندی د بدن ئ په پټ دی.

نس ئ په لاس سره کرار کرار ورمسحه کړه - که نجاست خارج سی یا نسی خارج په
دواړو صورتو کښی په د(۳) ۳ یا پنځو لوتو سره استنجا ورده هه په دامی حال کښی چه
په لاس به دی کشوره اغوستی وی بیله کشوری د مړی عورت ته لاس ورورسل
نارواد ی بیا د(۳) ۳ ی وار ه نوی نوی پنبه لاندی کړه پرشنه انو او غاښونو ئ ورواگرزوه -
(یعنی یو وار چه پنبه استعمال سوه هغه دغورزوه دغه دنگه د(۳) ۳ ی وار ه وکړه) په دغی
طریقه سره پنبه دری وار ه په پزه او غوږونو واگرزوه بیا په خوله، پزه او غوږونو کی
پنبه ورکښیږده چه اوبه ورد اخلی نه سی بیا سر او ږیره په گل خیرو یا صابون
سره ورپری مینځه بیا اودس ورتازه کړه اول مخ بیا د وار ه لاسونه تر څینگلو پوری
او بیا د سر مسحه او بیا د وار ی پښی ورپریمینځه بیائ پر بټول بدن اوبه وبهوه - تر
دغه ورسته ئ بر چپه اړخ پری باسه او اوبه پرو بهوه بیائ پر ښی اړخ باندی
پری باسه بر چپه اړخ ئ اوبه ورواچوه.

بیا بله دوهم کښورې په لاس کړه اود مړی بدن صاف کړه او تهبند وبدل کړه یعنی هغه پټوکړچه د مړی عورت په پټ وو هغه لیرې کړه بل پټوکړئ پر عورت ورواچوه چه عورت ئې پټ سی بیا چارپایي اوکټ را داخله اول لفافه بیا ازار پر وغوړوه کړه پر ازار سر بیړه د قمیص لاندی خوا وغوړوه پاته لوړه حصه ئې د سر وخواته پیچلی کښیږه دا بیا مرده (مړی) د تختی څخه په ډیر احتیاط سره راپورته کړه اوپرکفن ئې کښیږه دا - د قمیص لوړه حصه د سر د خوا څخه په غاړه وړکښیبا سه تړبند یې پوری ئې باندی وغوړوه - تهبند یعنی هغه پټوکړچه د مړی عورت په پټ کړلو سویدی هغه څنډی لیرې کړه - بیا کافور پر سر، بیړه اود سجدی پر ځایونو یعنی تندی، پزه، دواړه ورغوی، دواړو زنګنو (څنګنو) او په دواړو پښو پوری ور ولګوه - بیا ازار چپه خوا راواړوه بیا راسته خوا باندی راواړوه لفافه هم داهسی کړه اول ئې چپه خوا بیا راسته باندی راواړوه. بیا په یوه نرمه ریښمی سره د کفن سر او پای وتړه په سینه بند سره د بښکئ ئې وتړه دسینی سره د سر بند "خمار" بیان په ذکر سوی نقشه او جدول کښی سوی دی

د بښکئ د جنازی د پټولو د پاره پر چارپایئ یو غټ چادر اچول کیږی چه د دی ذکر مخکی سویدی.

بعضی کپړی خلګ د کفن سره ضروری بللی دی حالانکه د غه د مسنون (سنت) کفن څخه نه دی - د مړی په ترکه (میراث سوی مال) سره ئې رانیول روا نه دی هغه دادی.

(۱) جاۓ نماز (د لمانځه مصلئ) چه پاڼه بالاګز ئې اوږد والی دی او پراخوالی ئې څوارلس ګړی دی - (۲) - پټه چه یو نیم ګز اوږد والی او څوارلس ګړی پراخوالی به لري د غه د قبر ته د مړی د ږ شوه کولو د پاره دی - (۳) د غوړیدو څمی چه ۲½ دوه نیم ګزه اوږد والی او پاو بالاګز پراخوالی به لري د اول وار پر چارپایئ د غوړیدو د پاره دی - (۴) دامنی اوږد والی ئې دوه ګزه او پراخوالی ئې پاو بالاګز وی په قدد د طاقت د خلورو څخه تر اوو پورې د مسکینانو تنه وړکول کیږی چه د غه شیان د بښکئ د جنازې لپاره خاص دی (۵) یو غټ چادر او شړکه چه د سړي د جنازې سر بیړه غوړول کیږی او ټوله جنازه پټه کړی

چه درې ګزه اوږد والی او پاؤ کم دوه ګزه پراخوالی ولري. البته دښځې د پاره دغه ضروري دی لیکن دکفن څخه خارج دی نو دی سبب په دغه چادر کښې دا ضروري نه دی چه دکفن د ټوکر په شان به وی (یعنی دکفن رنګ به ئې وی) بس د دندی ضروري دی چه صرف جنازه به پټه سی ستر او پرده به په وسی نور نو که دهر رنګ ټوکر وی پروا نه لری.

تنبیه:- که د جای نماز (د لمانځه د مصلے) او داسی نور شیانو ضرورت یو وخت پیښ سی نو دکورنی شیانو استعمال هم روا دی د مړی د ټرکئ څخه ئې ضرورت نسته یادی د مړی یو قریب په خپلو پیسو سره رانسی.

مسئله:- د غسل او کفن د سامان څخه که په کور کښې یو څه موجود وی او پاک او صاف وی نو استعمال ئې پروا نه لری.

مسئله:- دکفن د پاره داسی ټوکر په کار دی چه د غه مړی په ژوند کښې عموماً استعمالاوی - تکلفات فضول او عبث دی.

مسئله:- هر هغه کوچنی چه ژوندی پیدا سی بیا مړ سی نو د د پاره نهم اینبول، غسل ورکول، کفن ورکول او لمونځ ورکول ټول ضروري دی که ترزیږیدو وروسته د ژوند هیڅ څښنه او علامه نه سوه پر معلومه نو تر غسل وروسته دی په یو ټوکر کښې وپیچل سی او بیا لمانځه دی دفن او بخ سی.

په قبر کښې دی مړی دا رنګه پریباسی چه مخ ئې د قبلی ته سی او پر راسته اړخ دی پرې ایستل سی دکفن غوټې دی ورخلاصی کړل سی. د سلف صالحینو موافق دی ومړی ته د ثواب رسولو د پاره کار وکړی.

هغه دا رنګه چه د هیڅ رواج، قید او د هیڅ ورځې تخصیص پکښې نه وی د خپل همت سره موافق دی د حلال مال څخه د مسکینانو ته خیر او خیرات وغیره ورکړی او هر څوندی چه ئې توفیق وی د خپل ځان څخه دی قرآن وغیره ورپسی دوا یې ثواب دی ورو بخښی او مړی چه وخاورو ته لانه وی سپارل سوی نو په دغه وخت کښې چه کوم خلګ په اډیره کښې وی هغه دی عبث خبری نه کوی - بلکه قرآن شریف، کلمه، درود شریف او داسی نور دی وایی - او ثواب دی د مړی روح ته ورو بخښی.

تمت

د بهشتی زیور دوهمی حصی د ص۷۴ (۷) داووم نمبر مسئلے تصحیح

د طرفه څخه د ابوالمظفر مولانا سعید احمد صاحب د مدرسه مظاهر العلوم سهارنپور مفتی ـ دا مسئله د فقهی دکتابو د نصوصو څخه خلاف ده په ظاهر چه ترکومه حده د فقهی کتابونه مطالعه کړل سوی دی د هغه مسئله ئی خلاف ثابته سوی ده ـ نو ددی مسئلی په شان کښی خبر تیا غواړم چه دا مسئله دکوم ځای څخه رانقل سویده د فقهی عبارات خو داسی دی براه کرم ملاحظه ئی کړی ـ فی البدائع وان لم یکن معهن ذالک فانهن لا یغسلنه سواء کن ذوات رحم محرم اولا لان المحرم فی حکم النظر الی العورة والاجنبیة سواء فکما ان لا یغسله الاجنبیة فکذا ذوات محارمه ولکن یتیممنه ص۳۵۰ اول جلد ـ وفی العالمگیریة ص۱۰۲ اول جلد والاصل فیه ان کل من یحل له وطئها لو کانت حیا بالنکاح یحل لها ان یغسله والا فلا اهـ ومثله فی نور الایضاح ،، دا مضمون د حضرت محترم په خدمت کښی د تهانه بهون ته د لیکل سوا د لاندی جواب ئی د مولانا ظفر احمد صاحب په قلم لیکل سوی موصول سو.

جواب :- د طرفه د حضرت مولانا ظفر احمد صاحب تهانوی د فقهی په تاموکتابونوکښی تقریبًا عبارات همدغه دی کوم چه تاسو نقل کړی دی په دی لحاظ سره د بهشتی زیور مسئله واقعی مخدوشه ده لیکن دراینځ ئی د غلطیدو څه وجه نه معلومیږی ځکه چه دوی قاعدی د درمختار په کتاب الکراهیة کښی بنکاره ذکر سوی دی ـ تنظر المرأة من الرجل کنظر الرجل الیه وما جاز النظر الیه جاز لمسه ـ ددی مجموعی حاصل دادی چه ماسوی السرة الی الرکبة یعنی دنوخځه بیا تر څنګونو پوری د هغه حصی څخه ماسوی خو محرمه بنځه مسحه کوه لکه سی اوماتحت السرة الی الرکبة یعنی دنوخځه بیا تر څنګونو پوری مسحه کول ئی لکه چه د محرمی بنځی دپاره ممنوع دی د هغه رنګه د نزد پاره هم منعه دی او په کومه حیله د کشوری چه سړی غسل ودکوی بنځه هم غسل درکولای سی ـ اللهم الا ان یقال ان حکم غسل المیت مفترق عن حکم النظر ولیس فی المیوة کما یدل علیه قول البدائع الجنس یغسل الجنس ولا یغسل الجنس خلاف الجنس والله اعلم ولعل الله یحدث بعد ذالک امرًا

ظفر احمد عفی عنه ـ ۸ صفر سنه ۱۳۴۸ هـ

ددی څخه ورروسته په رساله النور بابت ماه جمادی الاخری سنه ۱۳۵۱ هـ کښی

دغه سوال او پخپله د حضرت اقدس مولانا اشرف علی صاحب تهانوی جواب د ترجیح الراجح په سلسله کښی النور ص۵ کښی په لاندی عنوان سره شائع سو فصل دوم در تحقیق غسل دادن زنان محارم مرد میت را مضمون بهشتی زیور حصه دوم ص۷۷ طبع الثانی اشرف المطابع.

الجواب:- واقعی په نقل کښی غلطی سویده چه وجه او سبب ئی پخپل کښی نه راځی. منقول هغه دی کوم چه تاسو لیکلی دی.

تتمه:- تر دغه تحریر وروسته بعضو دوستانو د هغه لاندی تحریر پیش کړیدی دی هذه - لیکن په شامی باب الرضاع ص۶۷ ج۲ کښی راغلی دی. (فَتَیَمَّمَهَا) او بلاخرقة اذا مانت بین رجال فقط اما غیر المحرم فَتَیَمَّمَهَا بخرقة وقیل تغسل فی ثیابها افاده - د طحطاوی در روایت څخه د بهشتی زیور تائید کیږی - د غه رنګه بهشتی زیور مسئله د درایت سره هم برابره ده حکه چه د غیر محرم مسحه کول روا نه ده هغه محکمه او مضبوطه توکر چه د ده تر پیچلو وروسته مسحه کول روا ده تر دغه وروسته غسل متعذر دی - د محرم د پاره د ما بین السرة والرکبة څخه علاوه مسحه کول روا ده. د دی سببه د غسل د فریضی د پریښولو ضرورت نسته - والله اعلم انتهت العبارة - زه وایم چه یا په مسئله کښی د دی روایتونه دی یا نهی عن الغسل مقیدی دی په هغه صورة سره کړه چه حائل نه وی او د جواز غسل په روایت کښی د حائل قید یعنی پر بدن د جامو موجود والی مصرح او بنکاره دی. کتبه اشرف علی - ۷ ج ۲ س۱۳۵۱ هـ

ترجیح الراجح باب ماه صفر سنه ۱۳۴۲ هـ ص ۳۶

سوال:- وراندیز دادی جناب عالی د بهشتی زیور په یوه خای کښی یو مسئله د ناپوهی په وجه په فکر کښی نه راځی مهربانی وکړی د دی مطلب ولیکی.

بهشتی زیور دوهم حصه ص۳۰ مسئله نمبر (۲) که په لمانځه کښی آه یا اوه یا اف یا های وای یا په زوره وژاړی نو لمونځ ئی د ما بینه ولاړی - انبته که د جنت یاد وښځ د یاد د لوځخه ئی زړه ډک سو او په زوره ئی آواز وکښی نو لمونځ ئی نه فاسدیږی ۱۲ د دی عبارت معنی زه داسی بولم چه که چیری په لمانځه کښی آه یا اوه یا اف یا های وای یا په زور سره وژاړی نو لمونځ ئی

فاسدیږی - او که ئې د جنت یاد وبرخ د یاد ولوځنه زړه ډک سی او په زوره سره وژاړی نولمونځ ئې نه فاسدیږی او که آه یا اف یا هاى وواېي نو هم ئې لمونځ فاسدیږی زما مطلب معنی صحیح د ه او که غلطه راته نوشته ئې کړه.

الجواب :- فی الدر المختار والانین والتاؤه والتافیف والبکاء بصوت یحصل به حروف لوجع او مصیبة قید للاربعة الا لمریض لا یملک نفسه عن انین وتاؤه لانه حینئذ کعطاس وسعال وجشاء وتثاؤب وان حصل حروف للضرورة لا لذکر جنة او نار فی رد المحتار ولا لذکر جنة او نار لان الانین ونحوه اذا کان بذکرهما صار کانه قال اللهم انی اسئلک الجنة - وان کان من وجع او مصیبة صار کانه یقول انا مصاب فعزونی کذا فی الکافی آهـ ملخصًا ص۶۴۷ جلد اول.

دد ی عبارت څخه معلومه سوه چه د جنت یاد د وبرخ د یاد یدو په سبب که ئې د خولی څخه آه یا اُف او داسی نور د خولی څخه ووزی بیا هم لمونځ ئې نه فاسدیږی. پس نود بهشتی زیور عبارت صاف نه دی - د بهشتی زیور په کوم ځای کښی چه د هغه الفاظ (توری) دی او په زوره سره آواز وبلسی په هغه ځای کښی دا لیکل هم په کار وه چه یا آه وغیره ئې د خولی څخه ووزی - اشرف علی عفی عنه

ترجیح الراجح بابت ماه محرم سنه ۱۳۴۶ھ

سوال :- په لاندی مسئله او روایت کښی تعارض معلومیږی تحقیق ئې په کار دی. مسئله د سجدی کولو د پاره د بالښت یا بل لوړشی ایښودل او پرد هغه سجدا کول سنه نه ده هغه وخت چه د سجدی قدرت نه وی نو دی صرف اشاره کوی پر بالښت سر بیره د سجدی کولو ضرورت نسته - حصه دوهم ص۶۲ مسئله نمبر (۳) روایت ولا یرفع الی وجهه شیئًا یسجد علیه فانه یکره تحریمًا در مختار - قوله - فانه یکره تحریمًا قال فی البحر واستدل للکراهة فی المحیط بنهیه علیه الصلوٰة والسلام عنه وهو یدل علی کراهة التحریم اهـ وتبعه فی النهر اقول هذا محمول علی ما اذا کان یحمل الی وجهه شیئًا یسجد علیه بخلاف ما اذا کان موضوعًا علی الارض یدل علیه ما فی الذخیرة حیث نقل عن الاصل الکراهة فی الاول ثم قال فان کانت الوسادة موضوعة علی الارض وکان یسجد علیها

جازت صلوته فقد صح ان ام سلمة رضی الله تعالی عنها کانت تسجد علی مرفقة موضوعة بین یدیه لعلة کانت بها ولم یمنعها رسول الله صلی الله علیه واله وسلم من ذالک اهـ فان مفاد هذه المقابلة والاستدلال عدم الکراهة فی الموضوع علی الارض المرتفع ثم رایت القهستانی صرح بذالک رد المحتار جلد اول ص۵۰۵ باب صلوة المریض

الجواب :- فی مراقی الفلاح وجعل ایماءه برأسه للسجود اخفض من ایمائه برأسه للرکوع وکذا لو عجز عن السجود وقدر علی الرکوع یومی بهما لان النبی صلی الله علیه وسلم عاد مریضًا فراه یصلی علی وسادة فاخذها ورمی بها فاخذ عودا لیصلی علیه فرمی به وقال صل علی الارض ان استطعت والا فاوم ایماء واجعل سجودک اخفض من رکوعک (رواه البزار والبیهقی عن جابر کذا فی نصب الرایة ص۳۰۴ جلد اول - قاله المجیب) الی قوله فان فعل - ای وضع شیئًا فسجد علیه وخفض رأسه للسجود عن ایماء للرکوع صح ای صحت صلوته لوجود الایماء لکن مع الاساءة لما رویناه ص۲۵ جلد اول.

وفی حاشیة الطحطاوی علیه قوله وجعل ایماءه للسجود اخفض تمییزا بینهما ولا یلزمه ان یبالغ فی الانحناء اقصی ما یمکنه بل یکفیه ادنی الانحناء فیها نهر عن المجتبی -

د بهشتی زیور ردذکر سوی صفحی په دی کښی صریح اوښکاره تائید دی. پس نو تطبیق دا دارنګه کیدای سی چه کراهت د عدم عذر په حالت کی وی او عدم کراهت د عذر په حالت کښی وی - عذر داچه بیله بالښته په کښته کیدو کښی تکلیف وی وفی عبارة الحاشیه نفی لما کتبت فی المکتوب السابق من لزوم اقصی ما یمکن من الانحناء فالنص یقتضی علی الرأی - تمت

مولانا اشرف علی (صاحب نور الله مرقده)

د بهشتی زیور دوهمی حصی دوهمه ضمیمه چه نامدارده

په تصحیح الاغلاط سره

بسم الله الرحمن الرحیم

(۱) اصل ص۸۳ :- د حیض په زمانه کښی الخ تحقیق - د دی خای دادی چه هر

وخت بنځه حائضه وی نو د نفعی د(۲) ډ ه صورتونه دی یو دا چه نفعه اخیستونکی نارینه وی او فعل د ده د طرف څخه موجود سی - د(۲) دهم دا چه نفعه اخیستونکی بنځه وی او فعل د دی د طرف څخه موجود سی پس نو که د نفعه اخیستونکی نارینه وی نو حکم ئی دادی چه د ده د پاره د خپلی حائضی بنځی سره جماع کول د نو (نامه) څخه بیا ترځنګنو پوری ئی د دغه منطقی څخه په ذریعه د مباشرت او داسی نور د نفعه اخیستل ناجائز دی لکه چه په بهشتی ګوهر یعنی یو ولسمه حصه کښی د دی خبری تصریح سویده ګ ۔

او که نفعه اخیستونکی بنځه وی لکه په بهشتی زیور کښی چه فرض کړی سوی د ه ځکه چه په بهشتی زیور کښی د بنځو احکام بیان سویدی نو د دی حکم دادی لکه څرنګه چه نارینه لره د بنځی د نو (نامه) څخه بیا ترځنګنو پوری د دغه ما بین په لاس مسحه کول، د رته کتل او نفعه پر اخیستل روا نه دی د دغه رنګه د بنځی د پاره ناروا نه دی ۔ بلکه د بنځی د پاره د نږدې د ځی حصی ته د بدن کتل او لاس د رډل، چه اخیستل او داسی نور روا دی - لیکن داد بنځی د پاره هم روا نه دی چه داد خپل بدن د غه حصه یعنی د نو څخه ترځنګنو پوری د نږد بدن د یو انډام سړه د مبلوی ۔ قال فی الشامی فکذا هی لها ان تلمس بجمیع بدنها الا ما تحت الازار جمیع بدنه حتی ذکره والا فلو کان لمسها لذکره حراما لحرم علیها تمکینه من لمسه بذکره لما عدا تحت الازار منها واذا حرم علیه مباشرة ما تحت ازارها حرم علیه تمکینه منها فیحرم علیها مباشرتها له بما تحت ازارها بالاولی ۔

دا څو تحقیق وو د دی مسئلی اوس موږ د بهشتی زیور د مسئلی په بارہ کښی یو څه لیکو - پس نو وامنح دی وی چه د غه ذکر سوی مسئله مولوی علی احمد صاحب مرحوم چه د بهشتی زیور جامع دی ۔ غالباً د بحرالرائق څخه راخیستی ده او د بحرالرائق عبارت علی ما فی الشامی دادی - لما ارادهم حکم مباشرتها له و لقائل ان یمنعه بانه لما حرم تمکینها من استمتاعه بها حرم فعلها به بالاولی و لقائل ان یجوزه بان حرمته علیها لکونها حائضا وهو مفقود فی حقه فحل لها الاستمتاع به ولان غایة مسها لذکره انه استمتاع بکفها وهو جائز قطعا ۔ آه د دی عبارت څخه معلومیږی چه د صاحب د بحر میلان د جواز وطرف ته دی ۔ د غه رنګه د تعلیل اول څخه چه د ما نعینو د دلیل د پاره جواب دی متبادر

ده چه دی مباشرت حائض للزوج مطلقًا جائز بولی - برابره خبره ده که په مادون السرة سره دی یا په مافوق السرة سره دی (په استثناء د جماع) سره د دی داعبارت احتمال د تأویل هم لری اود امطلب ئی هم کیدای سی چه مباشرت د حائضی زوج لره بغیر مابین السرة والرکبة روادی لکه صاحب درمختار چه بللی دی که څه هم دا توجیه په ظاهره داول تعلیل خلاف ده پس نوکه عبارت د بهشتی زیور اود بحرالرائق پر خپل ظاهر پریښوول سی نو بیا ویل کیږی چه مسئله - د بهشتی زیور غلطه ده - مگر د بهشتی زیور پر مصنف هیڅ الزام نسته څکه چه ده په دی مسئله کښی د بحرالرائق تقلید کړیدی اوکه د بحرالرائق او بهشتی زیور عبارت ته تاویل ورکړه سی نو بیا خو بالکل اعتراض نسته اوکه د بحرالرائق عبارت ته تاویل ورکړه سی او د بهشتی زیور عبارت بی تاویله پاته سی اوپر ظاهری حال پریښوول سی نو دا بنکاره مکابره ده لیکن بیله دا دی چه د بحر الرائق او بهشتی زیور دواړو عبارتونو ته معروف من الظاهر وویل سی چه دواړه عبارتونه د اعتراض څخه محفوظ سی نو د بهشتی زیور د عبارت مطلب به دا رنگه سی د حیض په زمانه کښی د نارینه سره صحبت او نژدیکت کول روا نه دی او د نژدیکت څخه ماسیوای نور هرڅه روادی په شرط د دی چه د بنځی د نو (نامه) څخه بیا تر څنگونو پوری چه د غه مابین د نارینه د یواندام سره د نه مینلی یعنی خوهل، چښل د خاوند سره یوځای بیدیدل ټول روادی - فقط واللّٰه اعلم بالصواب.

هر دخت چه دا هم معلومه سوه نو اوس پوه سه چه د زمانی پرجاهلانو او احمقانو دا ځای پوشیده سویدی او د وی د غه مسئله کوم چه د بنځی د فعل سره ئی تعلق دی د نر د فعل سره ئی مرتبطه بللی ده نر د غه ارتباط او دوسته ئی اعتراض کړی دی چه دا صحیح نه ده څکه چه د جماع او د نژدیکت کولو څخه علاوه مباشرت مابین السرة والرکبة پر مذهب د امام اعظم امام مالک، امام ابو یوسف او امام شافعی رحمة اللّٰه تعالی علیهم ناروادی - لکه چه د عامو کتابو څخه معلومیږی د امسئله مولانا خلاف د تحقیق او خلاف د قول مفتی به لیکلی ده - انتهی هذا نهم. دا د دوی نهایت واضح حماقت دی څکه چه مذهب د ابو حنیفة رحمة اللّٰه تعالی علیه او د اسی نور د فعل زوج

سره تعلق لری د فعل زد چه سره تعلق نه لری حکه چه د بنځی د فعل په بارکښی
په بحرالرائق کښی دا رنګه راغلی دی چه لهذا حکم مباشرت تهالـه
بلکه د زوجی د مباشرت حکم متاخرینو مستنبط کړیدی خلاصه دکلام دا
دی چه د بهشتی زیور په مسئله کښی کومه خدشه وه په دغه خدشه
دغه احمقان نه دی پوه سوی اوکوم چه دوی اعتراض کړیدی هغه د بهشتی
زیور د مسئلی سره هیڅ تعلق نه لری.

(۲) اصل صـ۱۰۱ـ ب ـ ۱۰ـ او د چوپړک (شب پرک) غټې بولی اوکوچنی بولی هم پاکی
دی ـ تحقیق ـ دلیله فی إلـدر المختار حیث قال الابول الخفاش وخرء ه نظاهر
آه وما فی البدائع وغیره حیث قالوا بول الخفافیش وخرء ها لیس بنجس الخ
فلا اعتراض علی بهشتی زیور

(۳) اصل صـ۱۰۱ـ ب ـ ۱۱ـ که په صورت د انتشار اوغوړیدوکښی د غه
نجاست ومقدار ته دیوی روپی ورسیږی ـ تحقیق ۱ـ د روپی څخه مراد
یا شرعی روپی ده چه درهم ورته وائی یا رائجه سکه ده په اول صورت
کښی خو د احمقانو اعتراض ساقط دی پاته سو د درهم صورت پس نو ددی توجیه
داده چه سکهٔ رائجه تقریباً د مقعرکف یعنی د درغوی د ژوړ والی په اندازه سره
ده اوس نو هیڅ اعتراض نسته.

(۴) اصل صـ۱۰۱ـ ب ـ ۱۱ـ که د بولو څاڅکی الخ ـ تحقیق ۱ـ په دی مسئله کښی
د ستنی د څوکی قید احترازی نه دی بلکه مقصد بیان د غایت صغر رشاش
دی او چه په سترګو نه معلومیږی ـ د دی څخه مراد دادی چه په اسانی سره
نه معلومیږی او که چیری معلوم هم سی نو په هغه صورت کښی معلومیږی
چه په دیر دقیق نظر سره ویسته کښل سی او مقصود دادی چه که چیری څاڅکی
دیر واړه وی په سرسری او عام نظر سره نه معلومیږی نو د غسی څاڅکو ته اعتبار
نسته لکه چه د (کروس الابر) تمثیل د امام محمد رحمة الله علیه څخه مروی
دی ـ او چه په سترګو نه معلومیږی د اقید د امام ابو یوسف رحمة الله علیه څخه
مروی دی او مقصد د دواړو په مختلفو عنوانو سره بیان د صغر رشاش دی.
د دی سبب مولوی علی احمد صاحب مرحوم د دواړو قولو د جمعه کولو د پاره
د واړه عبارتونه راخیستی دی. د غه دی صحیح مطلب د بهشتی زیور مګرد

د زمانی احمقانو د ستنی دخوکی قید احترازی بللی دی او د ستنی هغه بل سری
خندی خارج کړیدی او د نه لید لو قید ئی احترازی بللی دی هغه څاغکی ئی
خارج کړیدی چه په ستر گو معلومیږی برابره خبره ده که په دقیق نظر سره
معلومیږی یا په سرسری نظر سره معلومیږی - د غسی ئی په کلام کښی تحریف
کړیدی بیا ئی نو اعتراض پر وارد کړیدی - پس نو داد دوی جهل دی.

⑤ اصل ص ۳۴۳ - باب ۱ - که د بولو په شان یو مرداری پرجامه وغیره ولگیږی
الخ - تحقیق :- بنکاره دی وی دا خبره چه صورت لرونکی د ذی جرمه ترجمه
ده او د ذی جرم تعریف په درمختار کښی دا رنگه سویدی. وهو کل مایری
بعد الجفاف ولو من غیرها کخمر وبول اصابه تراب - نو پرد غه بنا به د غیر ذی جرم
تعریف داسی دی - هو کل مالایری بعد الجفاف - هر وخت چه دا معلومه سوه نو اوس
دا خبره واوره چه په غایة البیان کښی د نجاست مرئیه او د غیر مرئیه تعریف دا رنگه
سویدی - المرئیة مایکون مرئیا بعد الجفاف و غیر المرئیة مالایکون مرئیا بعد الجفاف
کالبول ونحوه -

پس نو د دی بیان څخه معلومه سوه چه نجاست ذی جرم او مرئیه یوشی دی پس
نو د بهشتی زیور پر عبارت دا اعتراض کول حماقت دی چه فقهاؤ د مرئیه او غیر مرئیه
لفظ استعمال کړیدی نو د دی سبب په بهشتی زیور کښی د دلدار او غیر دلدار
یعنی د صورت لرونکی او صورت نه لرونکی استعمال غلط دی - په دی تقریر سره
دا حمقانو د زمانی اول اعتراض ساقط سو - هر کله چه دا معلومه سوه نو اوس
پوه سه چه د نه لید ونکی نجاست د پاکوالی په باره کښی خو اصل مذهب دادی
چه هر وخت د پاکوالی گمان غالب سی هغه وخت شی پاکیږی لیکن په دی کښی
فی الجمله گرانوالی وُ او په غالبو حالاتو کښی په دری وار و پریمنځلو سره - د
پاکید و غالب گمان حاصلیدی نو په دی وجه ئی د دُرّی(۳) وار پریمنځل قائم مقام
د غالبه ظن د حاصلیدو وگرزاوی. تیسیرا للامر علی الناس و قطعا للوسوسة.

لکه چه په غنیه کښی بیان سویدی - فعلم بهذا ان المذهب هو اعتبار غلبة
الظن وانها مقدرة بثلث لحصولها بها فی الغالب و قطعا للوسوسة فانه من اقامة السبب
مقام المسبب الذی فی الاطلاع علی حقیقة عسر کالسفر مقام المشقة وامثال ذالک الخ
د دی څخه معلومه سوه چه په بهشتی زیور کښی د دُرّی(۳) وار و پریمنځلو حکم

خلاف د مذهب او د غالب گمان معارض نه دی بلکه سراسر موافق د مذهب او موافق د غالب گمان دی - په دی تقریر سره د زمانی د احمقانو د دوهم اعتراض هم ساقط سو چه دا معلومه سوه - نو اوس پوه سه چه په بهشتی زیور کښی فقط په دریم وار پریمنځلو کښی په مبالغه سره د نښتیځلو حکم سویدی په هر وار پریمنځلو کښی د مبالغی حکم نه دی سوی - نو ددی وجه داده چه په شامی کښی داسی راغلی دی جعلها فی الدرر شرطًا للمرة الثالثة فقط وکذا فی الایضاح لابن الکمال وصدر الشریعة وکافی النسفی وعزاه فی الحلیة الی فتاوی ابی اللیث وغیرها - ددی څخه معلومه سوه چه فقط په دریم وار کښی مبالغه شرط ده نه په هر وار کی - نو ددی فقهاؤ خلاف د دغو احمقانو حجت هیڅ شی نه دی چه دوی د قاضی خان پر عبارت باندی دوکه وخوړه (خطا وتل) او د جمهورو فقهاؤ خلاف ئی یو مسلک راوایستی او په هر وار کی ئی مبالغه شرط کړه په دی تقریر سره د احمقانو دریم اعتراض هم ساقط سو او د بهشتی زیور مسئله بی خبره او صافه پاته سوه۔

(۶) اصل - صفحه ۲۰ باب ۱ - بدن او جامه یوازی په پریمنځلو سره پاکیږی ۱۔ تحقیق ۱ - یعنی اصل حکم دغه دی - پاته سوه مواقع د ضرورت هغه ددی حکم څخه مستثنیٰ دی - د بهشتی زیور دا مسئله داسی ده لکه فقهاء چه وایی چه د لمانځه د پاره طهارت شرط دی حُکه چه ددی معنیٰ هم داسی ده چه اصل حکم دا دی مگر مواقع د ضرورت حُندی مستثنیٰ دی - پس نو لکه د فقهاؤ پر دغه حکم چه هیڅ اعتراض نه سی کیدای د غه رنگه د بهشتی زیور پر مسئله هم اعتراض نه سی کیدای۔

(۷) اصل صفحه ۲۶ باب ۱ :- که لاس یې یو مردار شی خراب سوی وو - الخ تحقیق د دی مسئلی پر صحت باندی د زمانی د احمقانو اعتراض نسته لیکن د دی نورې بیهوده بی شرمه کړیدی چه د جواب د پاره ئی تحقیقات مفیده موضوع دی - تصحیح الاغلاط او تنقیح الاخلاط ئی د جواب د پاره موضوع نه دی د دی سببه موږ د دغه په باره کی په دی څای کښی هیڅ نه لیکو۔

(۸) اصل صفحه ۲۸ باب ۱ - د مرداری خښی څخه کولال (یعنی د خاورین لوښی پخوونکی لوښی جوړ کړی الخ - تحقیق د دی مسئلی ماخذ تنویر الابصار دی - چه الفاظ ئی دادی - کطین تنجس فجعل منه کوز بعد جعله علی النار آهـ چونکه په دغه

عبارت کښی د نجاب اثر قید نسته - نو د دی سبب په بهشتی زیور کښی هم د غه قید نه راوړل سو پس نو که پر بهشتی زیور اعتراض وی نو پر تنویر الابصار باندی هم باید وسی او که د تنویر الابصار د عبارت د پاره جواب وی نو د بهشتی زیور د عبارت د پاره ولی نسته.

خلاصه ئی دا ده چه پر تنویر الابصار اعتراض نه کول او پر بهشتی زیور اعتراض کول سراسر بی انصافی او عناد دی. که چیری اعتراض وی نو پر د واړو اعتراض کول په کار دی او که نه وی نو بیا باید پر د واړو نه وی - دا گفتگو علی سبیل التنزیل ده او س موږ ترقی کوو - دا سی وایو چه په بهشتی زیور کښی د د غه قید ضرورت نسته حکه چه هر د خت کلال لوښی په اور کښی پخوی نو د مردار ی اثر بالکل نه باندی پاتیږی چه د شرط ایښودلو ضرورت پاته سی او همد غه وجه ده چه په تنویر الابصار کښی شرط نه دی لگولی حکه چه د - جعله علی النار - څخه مراد جعل مخصوص دی یعنی متعارف او معلوم پخول نه مطلقًا طبخ وجعل او په در مختار کښی چه ئی کوم شرط لگولی دی هغه بالنظر الی المفهوم العام دی - حکه چه مطلقًا - جعل علی النار - او طبخ شامل دی هغه پخید ولره چه په پوره د ول سره دی او هغه پخید ولره چه نیم پخته وی نو فلا اعتراض.

⑨ اصل صـ ۲۹ـم باب اول - شهد یا شیره یا غوړی یا تیل ناپاکه سول الخ - تحقیق د دی څای تحقیق دا دی په شامی کښی دا سی راغلی دی - قال فی الدر ولو تنجس العسل فتطهیره ان یصب فیه ماء بقدره فیغلی حتی یعود الی مکانه والدهن یصب علیه الماء فیغلی فیعلو الدهن الماء فیرفع بشئ هکذا ثلاث مرات اه وهذا عند ابی یوسف رحمة الله علیه - خلافًا لمحمد رحمة الله وبرکاته علیه وهو اوسع وعلیه الفتوی کما فی شرح الشیخ اسماعیل عن جامع الفتاوی او په کبیری کښی راغلی دی - الایزی الی ماردی عن ابی یوسف فی تطهیر الدهن النجس ای المتنجس انه اذا جعل الدهن فی اناء فصب علیه الماء فیغلو الدهن علی وجه الماء فیرفع بشئ ویراق الماء ثم یفعل هکذا حتی اذا فعل کذلک ثلاث مرات یحکم بطهارة الدهن - په مجمع الروایه او په شرح قدوری کښی بیان سوید ی - یصب علیه مثله ماء ویحرک - او په در مختار کښی راغلی دی ویطهر لبن وعسل ودبس ودهن یغلی ثلاثًا وقال فی الفتاوی الخیریة ظاهر الخلاصه عدم اشتراط التثلیث - د دی روایاتو د مجموعی څخه معلومیږی چه د طهارت

دهن وغیره د پاره په حقیقت کښی نه ایشول شرط دی نه حرکت د رکول بلکه که ئی ضرورت وی هغه مرن ددی د پاره دی چه غوړی وغیره د او بو پرسر راسی او د او بو څخه جلا کیدای سی پس نو دغه مقصود چه په هره طریقه سره کیدای سی هغه طریقه کافی ده او د دغی طریقی څخه ماسیوای د بلی طریقی ضرورت نشته.

زموږ د دغه دلیل بیان دا دی چه بعضو فقهاؤ د غلیان یعنی ایشولو ذکر کړیدی او بعضو د تحریک یعنی حرکت د رکولو ذکر کړیدی او کبیری نه د غلیان ذکر کړیدی نه د تحریک پس نو معلومه سوه چه غلیان او تحریک مقصود بالذات نه دی بلکه د دی د پاره مقصود دی چه د روغن وغیره سر بیره سی تیل او اوبه سره جلا سی - ویدل علیه قول الدرر فیغلی فیعلو الدهن الخ د غه رنگه د مذکورو عباراتو څخه معلومیږی چه شرط د تثلیث مختلف فیه دی د بعضو په نزد سره ضروری دی او د بعضو په نزد ضروری نه دی پس نو موږ ته د ترجیح ضرورت دی نو موږ گورو چه اشتراط تثلیث د امام ابو یوسف صاحب مذهب دی - کما یظهر من الدرر والمنیه د شرحها او عدم اشتراط د خلاصی وغیره دی او بنکاره ده چه صاحب مذهب ترنورو علماؤ مخکی دئ نو د دی سببه اشتراط راجح دی بالخصوص هغه وخت چه منشأ د عدم اشتراط خپله غلطه وی څکه چه منشاء ئی قیاس علی الثوب ده او دا قیاس د دوو وجهو څخه غلط دی - اول د دی وجهی څخه چه په ثوب یعنی جامه کی هم تثلیث شرط دی - کما تبین سابقا فی مسئلة تطهیر الثوب دوهم د دی وجهی چه قیاس الدهن علی الثوب قیاس مع الفارق دی څکه چه د غوړو او د اسی نورو نجاست د جامی تر نجاست اقوی دی او دلیل د دی د ادی چه امام محمد رحمة الله علیه تطهیر روغن - یعنی د غوړو او د اسی نورو شیانو پاکوالی روا نه بولی حالانکه دی تطهیر ثوب یعنی د جامی پاکوالی روا بولی. د غه رنگه صاحب د درر مختار په تطهیر ثوب کښی غالب گمان معتبر وی - مگر په غوړو کی تثلیث شرط وی پس نو فرق بنکاره دی هر وخت چه دا امر معلوم سو او مس پوه سه چه د دی ذکر سو د روایاتو د ظاهر څخه معلومیږی چه د او بو په اندازه کښی هم اختلاف دی د بعضو په نزد په مقدار د غوړو وغیره کښی برابروالی ضروری دی د بعضو په نزد برابروالی شرط نه دی لیکن چه موږ په باریک او دقیق نظر سره د ورته گورو نو معلومیږی چه هر چا چه ابتداءً قدره من الماء ویلی دی هغه قید د قدره احترازی نه دی ذکر کړی - بلکه اتفاقی ذکر کړیدی او

کومو کسانو چه تردی ورډسته دد غه قید ذکر کړیدی دوی د ذکر سوی شخص تقلید کړی
دی او دا چه دد غه قید ذکر نه دی کړی هغه د حقیقت ته نظر کړیدی ددی دوه دلیلونه
دی اول دا چه د مساوات اشتراط بی دلیله دی دوهم دا چه په بعضو روایتونو کښی قدرًا من
المآء منصوص (صراحتًا) دی نو ددی په تضعیف قدره سوه ترجمه کوا بیله دلیله ده پس ثابته
سوه چه قید مذکوره قدره من المآء اتفاقی دی او کو موکسانو چه د غه قید احترازی بللی
دی د دی دوکه خو ړلی ده پس حاصل ددی تحقیق دا سو چه د تطهیر د هن او د اسی نورو
د پاره نه غلیان ضروری دی نه تحریک ضروری نه خاص مقدار ضروری دی لیکن تثلیث بیشکه ضروری
دی هر وخت چه دا امر محقق سو نو پوه سه چه د بهشتی زیور د تشقیق څخه
معلومیږی چه دا ابو یوسف رحمة الله علیه په نزد غلیان یا تحریک
ضروری نه دی - کما هو الحق - پاته سود مقدار تعین پس نود غه محض اتفاقی
قید دی نه احترازی - لکه چه د نورو فقهاؤ په کلام کښی موجود دی او قید
د تثلیث ضروری دی نزد غه تحقیق ورډسته د احمقانو د اعتراضاتو بیخکنی د
سوه اود دی د خبرو فساد بنکاره سو -

(۱۰) اصل صـ ۳۲ - باب اول - که ئ ناپاکه نکرځی پر لاسو او پښو ولګولی الخ
تحقیق ددی ځای دادی چه په شامی کښی راغلی دی چه - قد ذکر سیدی
عبد الغنی کلامًا حسنًا سبقه الیه صاحب الحلیة وهو ان مسئلة الاختضاب
الی قوله لم نر من رجح خلافه فافهم -

د غه عبارت دا بنیی چه د جناء یعنی نکرځو په مسئله کښی دوه قوله
دی یو دا چه صافی او به تر توی سی بیا نو پاکیږی برابره خبره ده چه په هر
څوند ی دا ره سی ره صافی او به تر توی سی بل دا چه درې واره پریمنځل سی
کافی دی - برابره خبره ده که صافی او به تر توی سی یا نه سی او په دغو دواړو (۲)
قولو کښی اول قول مفتی به دی هر وخت چه دا معلومه سوه نو اوس پوه سه چه
په بهشتی زیور کښی چه ئ ویلی دی - او بیا ئ درې واره خپل لاسونه او پښی
نه پری مینځل نو پښی او لاسونه ئ پاک دی - د دی مطلب دا دی چه هر وخت درې
واره د دغه دی قدر پریمنځل سی چه پاکی او به تر توی سی - کما یدل علیه قوله بنه
لانه یدل علی المبالغة وهو یستلزم صفو المآء - نو لاسونه او پښی پاکیږی او په
دی کی ابو یوسف رح د دواړو مسلکو نو رعایت کړیدی - د دی د پاره چه پر دواړو عمل

وسی - لاسونه او پښتی په اتفاق سره پاک سی - دلا اعتراض کما یفعله حمقاء زمانینا.

شاید چه دبو چاسره داشک وی چه په صـــ۶ـــ کښی دا ذکر سویدی - په ناپاکه رنگ کښی ئ جامه در رنگوله الخ په دی کی ددرو وار وقید نه دی ذکر سوی نو ددی جواب دادی چه داختلاف په مواقعو کی رعایت داختلاف اولی دی نه واجب نو هلته داختلاف رعایت نه کول قابل داعتراض نسی کیدلای ددی مسئلی مزید تحقیق په تحقیقات مفیده کښی کیږی.

(۱۱) اصل صـــ۴۴ـــ باب اول :- که دلرگی د تخنی الخ تحقیق دا مسئله دغنیة المستملی څخه را اخیسته سویده او عبارت ئ دادی ومثله ایضا ای مثل الحکم المذکور وهو عدم الفساد اذا حلت النجاسة بخشبة فقلبها وصلی علی الوجه الطاهر ان کان غلظ الخشبة بحیث تقبل القطع ای یمکن ان ینشر نصفین فیما بین الوجه الذی فیه النجاسة والوجه الاخر فیجوز الصلوة علیها حینئذ والافلا لانها بمنزلة اللبنة فی الوجه الاول وبمنزلة الثوب فی الوجه الثانی اه منه لیکن په حلیه کښی اشبه بالحق مطلقاً جواز بللی دی اودوی ئ دلائل هم بیان کړیدی نو دموبنته ئ علم ونسوچه ددوارود لائل مولیدلی وای نو فیصله به موکړی وای چه حق د صاحب دمنیه او غنیه په طرف کښی دی یادصاحب دحلیه په طرف کښی دی لیکن چونکه داصل مؤلف دبهشتی زیور یعنی مولوی احمد علی صاحب وفات سویدی ددی سببه موبنته داهم نه معلومیږی چه دوی په کومه وجه د صاحب غنیه وبیان ته ترجیح ورکړیده - لیکن دومره ضرور ویل کیدلای سی چه اختیار دمسلک د صاحب غنیه اقرب او نژدی الی الاحتیاط ته دی په داسی حال کښی که یوڅوک د بهشتی زیور پرمسئله معترض وی نو ددوارو په کاردی چه دی په دلائلو سره د صاحب غنیه د مسئلی خلعلی ثابته کړی اود اخبرکاکانی نه دی چه په حلیه کښی ددی خلاف حق بلل سویدی لهذا اقرب الی الاحتیاط ته هم دی پس نو صحیح وجه نسته چه د صاحب غنیه بیان پریښودل سی - ددی تفصیل څخه د زمانی داحمقانو دچتیاتو جواب هم معلوم سو.

(۱۲) اصل صـــ۴۵ـــ باب :- په لوښه سره داستنجاء کولو دپاکی الخ - تحقیق - په در مختار کښی دی - ولا تقبد باقبال وادبار شتاء وصیفا او تردی څخه عبارت لاندی شامی لیکلی دی - ای بناءً علی ماذکر من ان المقصود هو الانقاء فلیس له کیفیة خاصة

وهذا عند بعضهم وقيل كيفيته في المقعدة في الصيف للرجل ادبار الحجر الاول والثالث واقبال الثاني وفي الشتاء بالعكس وهكذا تفعل المرأة في الزمانين كما في المحيط وله كيفيات في النظم والظهيرية وغيرهما وفي الذكران يأخذه بشماله ويمره على حجر اوجدار اومدر كما في الزاهدي آهـ قهستاني واختار ماذكره الشارح في المجتبى والفتح والبحر وقال في الحلية انه الاوجه الخ صاحب درد قائ صاحب درشرح وقائ او صاحب درعمدة الرعائ دعدد سنت والى نفي كړيدى ددى پتولو خبرو څخه معلوميږي چه حق او مختاره مذهب دغه دى چه داستنجاء دپاره هيڅ كيفيت مخصوص نه دى اونه هيڅ عدد مسنون دى بلكه مقصود انقاء ده انقاء چه په هره طريقه سره حاصله سى كافى ده - پاته سوه داخبره چه بعضو فقهاؤ ئى كوم كيفيتونه بيان كړيدى ددى دامقصد نه دى چه داكيفيتونه مقصود دى بلكه دوئى پخپل ذهن كښى كوم كيفيت معين فى الانقاء بللى دى هغه ئى بيان كړيدى پس نوحاصل ددوى دكلام دادى چه مقصود انقاء ده او هيڅ كيفيت مقصود نه دى - ليكن زموږ په فكر سره دغه كيفيت معين فى الانقاء دى - ددى سببه كه په دغسى كيفيت سره استنجاء وسى نو په دى سره د مقصود په حاصليد وكښى داعانت پوره اميد سته - پس نوداد بهشتى زيور خلاف نه دى لكه څنكاره اومعلومداره ده اوس نود زمانى داحمقانو اعتراض ساقط سو اود بهشتى زيور مسئله پاكه اوبى غباره پاته سوه - ددى نور بيان په تحقيقات مفيده كښى دى.

(۱۳) اصل مسئله - بابت :- ترڅو چه سايه د هرشى دوه چنده سوى نه دى الخ - تحقيق دليله مافى التنوير وقت الظهر من زواله الى بلوغ ظل مثليه فى الوقاية وغيرها وقال رد المحتار جوابا لمن خالف هذا المسلك فيه ان الادلة تكافأت ولم يظهر ضعف دليل الامام بل ادلته قوية ايضا كما يعلم من مراجعة المطولات وشرح المنية وقد قال فى البحر لا يعدل عن قول الامام الى قولهما او قول احدهما الا لضرورة من ضعف دليل او تعامل بخلافه كالمزارعة وان صرح المشائخ بان الفتوى على قولهما كما هنا آهـ.

وقال ايضا تحت قول المصنف الى بلوغ ظل مثليه - هذا ظاهر الرواية عن الامام نهاية وهو الصحيح بدائع ومحيط وينابيع وهو المختار خيائيه واختاره الامام المحبوبي وعول عليه النسفى وصدر الشريعة تصحيح قاسم واختاره اصحاب المتون

وارتضاه اشارحون فقول الطحاوی و بقولهما ناخذ لایدل علی انه المذهب وما فی الفیض من انه یفتی بقولهما فی العصر والعشاء مسلم فی العشاء فقط الخ د دی روایاتو څخه معلومه سوه چه د احنافو د جمهورو امامانو مسلک همغه دی کوم چه په بهشتی زیور کښی بیان سویدی - فلا یعترض علیه بما اعترض به جهلة زماننا.

(۱۴) اصل ص۳۴ مسئله - باب۳ :- بیا تر همغه وخته پوری چه د مغرب د طرف څخه د اسمان په کنارد الخ تحقیق :- دا مسئله هم د تنویر الابصار او د اسی نورو کتابو څخه راخیستل سویده - نکه چه په تنویر الابصار کښی راغلی دی - والمغرب منه الی الشفق وهو الحمرة او په در مختار کښی راغلی دی - عندهما وبه قالت الثلثة والیه رجع الامام کما فی شرح المجمع وغیرها فکان هو المذهب - که څه هم ابن الهمام او علامه قاسم په دی کلام او خبری کړیدی مگر د عامو فقهاؤ مسلک دغه دی لکه صاحب د نهر، صاحب د نقایه، صاحب د وقایه صاحب د درر، صاحب د اصلاح، صاحب د در البحار، صاحب د امداد، صاحب د مواهب، صاحب د برهان او د اسی نور او د امام صاحب څخه یو روایت هم دی سره موافق دی - فیکون هو المعتمد فلا اعتراض علیه بما اعترض علیه جهلة زماننا -

(۱۵) اصل ص۱۶ مسئله باب۵ :- فقط د مخ، د وارو د سر غوړو او د وار و پښو څخه ماسیږی دی الخ - تحقیق :- د د سر غوړو څخه باطن د د سر غوی او ظاهر د د سر غوی د وارو مراد دی یوازی باطن مراد نه دی - دلیل د دی مسئلی دا دی چه په کنز الدقائق کښی راغلی دی - الا وجهها وکفیها وقدمیها - او په وقایه کښی راغلی دی الا الوجه والکف والقدم واقره فی شرح الوقایه - او په تنویر الابصار کښی راغلی دی - خلا الوجه والکفین والقدمین -

(۱۶) اصل ص۲۱ مسئله - باب۶ :- او که ئی فکر و نه کړی هسی ئی لمونځ وکړی - نو د لمونځ صحیح نه دی الخ - تحقیق :- د د مسئلی دلائل دا دی چه په تنویر الابصار کښی راغلی دی ان شرع بلا تحر لم یجز وان اصاب - او په شرح الوقایه کښی راغلی دی وان شرع بلا تحر لم یجز وان اصاب لان قبلته جهة تقریبیه ولم یتحر آه والیه مال ابن الهمام فی بعض تحریراته وقال تلمیذه قاسم بن قطلوبغا فی رسالة الفوائد الجلة فی اشتباه القبلة وصاحب الهدایة فی مختاراته

النوازل کما فی عمدة الرعایة.

(۱۷) اصل ص۲۴ مسئله ۲ باب۷ ـ په لمانځه کښی شپږ شیان فرض دی په دغت کښی دښت تر لو الله اکبر ویل ـ تحقیق :ـ مطلب دا دی چه تکبیر تحریمه فرض دی خاص دغه لفظ فرض نه دی او چونکه لمونځونه عموماً په الله اکبر سره شروع کیږی او په عامو لمونځونو کښی تکبیر تحریمه الله اکبر دی ـ د دی سببه په فرضو کښی شمار کړل سو ـ د شپږو عدد متفق علیهاد فرائضو د پاره دی یعنی متفق علیه فرض شپږ دی ـ دا رنګه د دی څخه حصر مقصود نه دی ـ فلا اعتراض.

(۱۸) اصل ص۲۶ مسئله ۱۲ باب۷ ـ د سجدی په وخت کښی که پزه او تندی د وارهٔ پر مځکه نه کښیږدی بلکه یوازی تندی کښیږی او پزه نه کښیږدی نو هم ئی لمونځ صحیح دی الخ ـ تحقیق :ـ قال خاتم علماء فرنګی محل فی عمدة الرعایة مطلقاً علی قول صاحب الوقایة والسجود بالجبهة والانف وبه اخذ آه قوله وبه اخذ ای اخذ به المشائخ وافتوبه وهذا الکلام لا یخلو عن مسامحة لان المفهوم من ظاهر قوله والسجود بالجبهة والانف عند تعداد الفرائض ان وضع الجبهة والانف کلیهما فرض وانه المفتیٰ به مع انه لیس مذهبًا لاحد من ائمتنا فان ابا حنیفة جوز الاکتفاء بالانف وخالفه فیه صاحباه واما الاکتفاء بالجبهة فهو متفق بینهم علیٰ جوازه وبالجملة اتفقوا علی ان المسنون وضع الجبهة والانف کلیهما وعلی انه یکفی وضع الجبهة فقط الا انه یکره وانما اختلفوا فی الاکتفاء بالانف الی آخر ما قال ـ د خاتم علماء فرنګی محل دغه قول د بهشتی زیور د مسئلی واضح او بنکاره دلیل دی.

(۱۹) اصل ص۲۸ مسئله ۲۰ باب۷ ـ دهیڅ لمانځه د پاره دی یو سورة نه مقرر دی تحقیق :ـ قال فی الهدایة یکره ان یوقت بشیٔ من القرآن لشیٔ من الصلوٰة وقال فی الفتح ان المداومة مطلقا مکروهة سواء راعی حتماً یکره غیره اولا ـ لان دلیل الکراهة لا یفصل الخ.

او په در مختار کښی راغلی دی یکره التعین کالسجدة (یعنی سورة د سجدی) وهل اتیٰ (یعنی سورة دهل اتیٰ) والفجر (یعنی سورة د والفجر) کل جمعة بل یندب قراءتها احیانًا ـ او په شامی کښی راغلی دی لان الشارع اذا لم یعین علیه شیئًا تیسیرًا علیه کره له ان یعین ـ دا عبارت د بهشتی زیور واضح دلیل دی او

د زمانی دا حمقانو اعتراض ساقط دی.

(۲۰) اصل ص۴۲ مسئله باب۱ - بیله څه عذر نه په قضائی لمانځه کښی څنډه کول گناه دی - تحقیق :- لعل هذه المسئلة مبنية على مذهب الكرخي واختاره ههنا - للاحتياط وزجرًا للعوام عن التكاسل تبعًا لصاحب الدر المختار والشامي.

(۲۱) اصل ص۵۲ مسئله باب۱ - چه په دعونډی وخت کښی دری واړه سبحان الله ویل کیدای شی الخ - تحقیق :- په دعه باندی مولوی احمد حسن صاحب لیکلی دی خدای خبر چه دعه د درد واړه مقدار او اندازه ئی د کومه څایه څخه لیکلی ده په طحطاوی او رد المحتار کښی دیوه واړه سبحان الله ویلو مقدار ذکر سویدی - پس نو په دعه مړه عمل کول لازم دی آهر نو په دی وجه د دی مسئلی پوره تحقیق کیږی او هغه دا چه په رد المحتار کښی دیوه واړه مقدار نماد نظر څخه نه دی تیر سوی - شاید چه مولوی صاحب ئی دیوځای څخه استنباط کړی دی - او طحطاوی نماړه نسته چه پکښی وګورم - لیکن په رد المحتار او دامسی نورو کتابو کښی د دغو رکولو څخه ورو سته معلومیږی چه د بهشتی زیور دعه مقدار صحیح دی تفصیل د دی اجمال دادئ چه تفکر موجب د سهوی حکمه دی چه د واجباتو تاخیرله مستلزم نودی سببه د دعا اودزیادت علی التشهد حکم یوقسم په کار دی او دا صرف زما خیال نه دی بلکه تماثل ئی معرح هم دی لکه چه آینده به دا خبره معلومه سی

دعه رنګه په فقهه کښی واقعه د جهر پرځای د اخفاء او واقعه د اخفاء پرځای د جهر هم د دی مماثل بلل سویدی پر دی بناکه دا سی ویل سی چه تلبیس بالنجاسة فی الصلوٰة و انکشاف عورة هم د دعه مماثل دی نو صحیح دی حکمه چه دا امر په نولوکښی شریک دی چه زمان قلیل په وجه د ضرورت تسهیل علی الامة (دامت د آسانی دپاره) په نولوکښی معفی عنه دی او زمان کثیر ویره زمانه په وجه د عدم ضرورت غیر معفو دی

پس نو کومه زمانه چه په یو مسئله کښی نه زیاده بلل صوی دی هغه نو په نولوکښی باید دیره ډیل سی او کومه زمانه چه په یو مسئله کښی لږ

گهل سوی وی نو هغه باید په ټولو کښی لږ وګهل سی و رسه نه وجه د فرق ئی په کار
ده - لیکن وجه د فرق ئی بالکل نسته نو خامخا کومه زمانه چه په یوه مسئله
کښی لږ بلل سوی وی په ټولو کښی به لږ وی او کومه زمانه چه په یو مسئله
کښی ډیره بلل سوی وی هغه به په ټولو کښی ډیره وی او که ئی د فرق وکړل
سی چه په بعضو کښی چونکه ضرورت کم دی د دی سببه به دغو کښی دکمی
زمانی اعتبار سویدی او په بعضو کښی ضرورت زیات دی د دی سببه هلته
د ډیری زمانی اعتبار سویدی نو د فرق د دی مقتضی دی چه د تفکر زمانه باید
د ټولو لږ زیاته وی ځکه چه تفکر د ټولو لږ زیات پیښیږی ونکی دی - په هر حال که
زمانه د تفکر په هیڅ قسم سره د ترزمانی د زیادت علی التشهد د جهر موضع
مخالفة د تلبس بالنجاسة د انکشاف عورة او داسی نورو څخه کمیدای نه سی.
نو چه کمیدای نه سی یا به د سره برابره وی یا به د ترزیاته وی هروخت چه
دا امر معلوم سو نو موږ پرد غو ټولو متشابه او مماثلو مسئلو باندی بحث کوو.

د تفکر د مسئلی بحث

په منیة المصلی او د دی په شرح غنیة المستملی ص۴۳۷ کښی راغلی دی. من
شک فی حال القیام انه هل کبر للافتتاح ام لا فتفکر فی ذالک و طال تفکره مقدار
اداء رکن الی ان قال فعلیه السهو لان تفکره یستلزم تاخیر الواجب و هو القراءة
الی ان قال ثم الاصل فی حکم التفکر انه ان منعه عن اداء رکن کقراءة ایة
او ثلاث او رکوع او سجود او عن اداء واجب کالقعود یلزمه السهو لاستلزام
ذالک ترک الواجب و هو الاتیان بالرکن او الواجب فی محله و ان لم یمنعه عن
شئ من ذالک بان کان یؤدی الارکان و یتفکر لا یلزم السهو و قال بعض المشائخ
و هو الامام الصفار ان منعه التفکر عن القراءة او عن التسبیح یجب علیه سجود
السهو و ان کان لا یمنعه بان کان یقرء و یتفکر او یسبح و یتفکر لا یجب علیه سجود
السهو فعلی هذا القول لو شغله التفکر عن تسبیح الرکوع و هو راکع مثلا یلزمه
السجود - و علی القول الاول لا یلزم لانه لم یمنعه عن اداء رکن و لا واجب انتهی
بحذف الزوائد (اقول فیه نظر) لان ایجاب الصفار سجود السهو علی الراکع الذی
شغله التفکر عن التسبیح لیس لاجل انه شغله عن التسبیح بل لانه شغله عن القومة

التی هی واجبة لان اطالة الرکوع کان مشروعا له لاجل التسبیح فلما ترکه لم یکن له اطالة الرکوع بل کان علیه ان ینتقل منه الی القومة فلما ترکه اخر الواجب عن محله فیلزم علیه سجود السهو - فحینئذ لا مخالفة بین الجمهور والصفار فتدبر (من حبیب احمد) اوپه رد المحتار ص۷۸۹ کی دی - الحاصل انه اختلف فی التفکر الموجب للسهو فقیل ما لزم منه تاخیر الواجب او الرکن عن محله بان قطع الاشتغال بالرکن او الواجب قدر ادآء الرکن وهو الاصح (انتهی بقدر الضرورة)

د دی عبارا تو څخه معلومه سوه چه تفکر مطلقا موجب د سهوی نه دی بلکه هغه وخت دی چه د رکن یا واجب تاخیر لږه مستلزم سی اود تاخیر زمانه په قدر د اداء د رکن نه مګر د رکن د اداء کیدو زمانه ئی نه ده شوولی نو د دی سبیه ضرور نه ده چه په نظا ئرو کی د ده هوروسی پس نو د جملی څخه د ده د نظائرو یو نظیر مسئله د انکشاف عورت فی الصلوٰة ده - تفصیل د دی دا دی چه در مختار کښی په ضمن د مبطلات د اغلی دی و یمنع حتی انعقادها کشف ربع عضو قدر اداء رکن - شامی رح تردی عبارت لاندی لیکلی دی - قوله اداء رکن ای بسنته فیه قال شارحها وذالک قدر ثلث تسبیحات اهـ وکانه قید بذالک حملاً للرکن علی القصیر منه للاحتیاط الی ان قال ثم ما ذکره الشارح قول ابی یوسف رح واعتبر محمد رح اداء الرکن حقیقة والاول المختار - للاحتیاط کما فی شرح المنیة آهـ بحذف الزوائد -

په غنیه ص۲۱۳ کی چه شرحه د منیی ده د اغلی دی وان انکشف عضو هو عورة فی الصلوٰة فستر من ساعته لا یضره ذالک ولا یفسد صلوته لان الانکشاف الکثیر فی الزمان القلیل عفو کالانکشاف القلیل فی الزمان الکثیر وان ادی معه ای مع الانکشاف رکنا کالقیام ان کان فیه او الرکوع او غیرهما یفسد ذالک الانکشاف صلوته وان لم یؤد مع الانکشاف رکنا ولکن مکث مقدار ما ای زمن یؤدی فیه رکنا بسنته وذالک مقدار ثلث تسبیحات فلم یستر ذالک العضو فسدت صلوته عند ابی یوسف رح خلافا لمحمد رحمة الله علیه وکذا اذا وقع الرجل المصلی للمزاحمة فی صف النساء او وقع امام ای قدام الامام او رفع نجاسة ثم التی ای تلک النجاسة فعلی هذا الخلاف المذکور ان مکث قدر اداء رکن من غیر ان یؤدیه تفسد عند ابی یوسف خلافا لمحمد رح وقد تقدم الدلیل من الجانبین فی بحث النجاسة وان المختار قول ابی یوسف رح فی الجمیع للاحتیاط انتهی بقدر الضرورة -

---

له والظاهر ان المراد بالرکن مطلق جزء الصلوٰة سواء کان فرضا او واجبا او سنة کالتشهد والصلوٰة والتسبیح وغیرها منه

ددی عبارانو څخه درکن د اداکید و زمانه معلومه سوه چه مقدار فی درې[۳] تسبیحاتو دی اوپه دی سره د تفکر د زمانی هم شرحه وسوه.

دوهم نظیر - تلبس بالنجاسة فی الصلوة دی په دی کی هم د امام ابی یوسف رح اود امام محمد رح هغه اختلاف دی کوم چه دکشف عورة په باره کښی دی - لکه چه په غنیه ص۱۹۹ کی دی - قال محمد تجوز مالم تتو دی رکنًا علی ذالک الحال لانه لم یؤد جزء من الصلوة مع المانع فلا تفسد - و لابی یوسف رح ان المعفو هو المقدار القلیل من الزمان والذی یمکن فیه اداء رکن کثیر فلا یعفی سواء ادی الرکن اولم یؤد آهـ.

ددی څخه معلومه سوه چه مقدار د زمان قلیل د دوارو په نزد معاف دی مګر د امام محمد رحمة الله علیه په نزد قلیل هغه دی چه حقیقة د اداء رکن څخه کم وی اود امام ابو یوسف په نزد قلیل هغه دی چه تر درې[۳] تسبیحاتو کم وی - چونکه تفکر فی الزمان القلیل هم عفوه دی نو ددی سببه په دوه کی هم دغه اختلاف دی - او چونکه د امام ابو یوسف رحمة الله علیه په نزد قلیل هغه چه تر درې[۳] تسبیحاتو کم وی نو معاف دی او د غه قول مختاره هم دی اوکه د درو تسبیحاتو ترې برابر یا بالاوی نو بیا معاف نه دی

اوس دریم[۳] نظیر ته وګورئ - دریم[۳] نظیر جهر فی موضع المخافة و بالعکس دی - ددی په باره کی د د ر مختار په ص۷۷۶ کښی راغلی دی - والاصح تقدیره بقدر ما یجوز به الصلوة فی الفصلین و قیل قائله قاضی خان یجب السهو بهما ای بالجهر والمخافتة مطلقا ای قل اوکثر و هوظاهر الروایة التی نقله الثقات من اصحاب الفتاوی آهـ - زاد المصنف رح فی منحه و انما عولنا علی الاول تبعًا للهدایة و انا اعجب من کثیر من کمل الرجال کیف یعدل عن ظاهر الروایة الذی هو بمنزله نص صاحب المذهب الی ما هو کالروایة الشاذة آهـ اقول لا عجب من کمل الرجال کصاحب الهدایة والزیلعی وابن الهمام حیث عدلوا عن ظاهر الروایة لما فیه من الحرج وصححوا الروایة الاخری للتسهیل علی الامة وکم له من نظیر ولذا قال القهستانی یجب السهو بمخافتة کلمة لکن فیه شدة قال فی شرح المنیة والصحیح ظاهر الروایة و هو تقدیر بما تجوز به الصلوة من غیر تفرقة لان القلیل من الجهر فی موضع المخافة عفو ایضًا - ففی حدیث ابی قتادة رضی الله تعالی عنه فی الصحیحین انه علیه الصلوة والسلام کان یقرأ فی الظهر فی الاولیین بام القرآن

وسورتین و فی الاخریین بام الکتاب و یسمعنا الایة احیانًا آه ففیه التصریح بان ما صححه فی الهدایة ظاهر الروایة ایضًا فان ثبت ذالک فلا کلام والا فوجه تصحیحه ما قلنا و تایده بحدیث الصحیحین وقد قدمنا فی واجبات الصلوة عن شرح المنیة انه لا ینبغی ان یعدل عن الدرایة ای الدلیل اذا وافقها روایة آه ما فی الشامی

ددی څخه معلومه سوه چه د جهر او مخافت په مسئله کښی قابل تصحیح دا امر دی چه ما یجوز به الصلوة کثیر دی او تر دغه کم قلیل دی اوس به گورو چه د ما یجوز به الصلوة - څخه په دی څای کښی څه شی مراد دی - پس نو واضح دی دی چه په ما یجوز به الصلوة - کی اختلاف دی.

یو روایت د امام صاحب خو دا دی چه یو داسی آیت چه کم از کم شپږ حرفه دی - برابره خبره ده که څومره آیتونه دی لکه - ثم نظر - یا تقدیرًا دی لکه - لم یلد په شرط ددی چه په یو کلمه کی نه دی نو لونځ پدا دی او دوهم روایت د امام صاحب څخه دا دی چه پرکوم مقدار د قرآن شریف اطلاق کیدای سی او د قصد خطاب دوکه نه پرکیږی په دغه سره لونځ روا دی - د دغه روایت تد وری د امام صاحب صحیح مذهب بللی دی او زیلعی هم د دغه ته ترجیح ورکړیده او وایی ڈی دی چه دا اقرب الی القواعد الشرعیه - دی.

او د[۳] یم روایت د امام صاحب دا دی او دا یا رانو همدغه مذهب دی چه په د[۳] و دریو آیتونو یا په یوه غت آیت سره لونځ روا دی په دغو کښی د امام صاحب مذهب مرجوح دی او خلاف ڈی راجح دی ځکه چه منشا د دغوی تسهیل علی الامة دی او تسهیل په مذهب مخالف کښی دی نه د امام صاحب په مذهب کی. نو د دی سببه مخالف مذهب مختار ګرځیدی او د دا وایو چه که چیری د دری د[۳] ورو ایتونو په قدر جهر یا مخافت پیښ سوی دی نو سجده سهوه لازمیږی ورنه نه لازمیږی او د[۳] ری کوچنی (لنډی) آیتونه یا - ثم نظر - ثم نظر - ثم نظر - دی چه اتلس[۱۸] حرفه دی - یا - ثم نظر - ثم عبس وبسر - ثم ادبر واستکبر - دی چه د دوی ملفوظی حروف نه[۲۹] ویشت دی - په اول صورت کی زمانه د جهر او مخافت د دوه[۲] واړه سبحان الله د یلو سره برابره ده او که سبحان الله ژر ژر و دیل نو دری واړه هم ویل کیدای سی. او په دوهم صورت کی د دری واړه سبحان الله ویلو سره برابره ده. ځکه چه د سبحان الله ملفوظی حروف نه[۹] دی که څه هم

۲۷ = ۳×۹ کیږی - لیکن د ۲۷ - او ۲۹ - ترمنځ خاص معتد به فرق نسته د دی سبب
د دی مسئلی حاصل دا دی چه که په تلوار یا ارام او اطمنان سره د دّر(۳) وار سبحان
الله ویلو په قدر جهر یا اخفاء واقع سوه نو سجده سهوه لازمیږی ورنه نسته
لازمیږی - په دی خای کښی دیوشک ازاله مناسبه معلومیږی چه زمونږ دبیان
سابق څخه راپیدا کیږی - هغه دا دی چه په مسئله د انکشافِ عورت او نورو
کښی د امام محمد رحمة الله علیه په نزد اداء د رکن حقیقة معتبره ده او په مسئله
د جهر او مخافت کښی مقدار ما تجوز به الصلوٰة - معتبر دی نو په دی سره
په دی دواړو مسئلو کی فرق ثابت سو او تاسی ئی فرق نه کوی. بلکه ټولی یکسان
بولی او یوه پر بله قیاسوی - د دی اول جواب دا دی چه په دی مسئلو کی د امام
محمد صاحب پر قول فتوٰی نه ده - بلکه د امام ابی یوسف صاحب پر قول فتوی ده -
پس نو که د امام محمد صاحب پر قول فرق هم وی مونږ ته ضرر نه لری او دوهم
دا چه د - ما تجوز به الصلوٰة - څخه د امام محمد په نزد د دّر(۳) ی ایتونه مراد
نه دی - بلکه هغه پوره قرأت مراد دی چه دی ئی په دغه رکعت کښی وویلی سی که اوږد
قرأت وی که لنډ ټول فرض واقع کیږی او د امام ابو یوسف په نزد د دّر(۳) وورو
ایاتو مقدار مراد دی چه د دری وارو سبحان الله ویلو سره برابر دی په دغه وخت
کی نه د امام محمد رح په نزد فرق سته او نه د امام ابی یوسف په نزد فرق سته
والله اعلم -

حاصل د دی تقریر دا دی چه مفتی به او قابل اعتماد مذهب د جهر او د
مخافت په مسئله کښی هم دغه دی چه د دری وارو سبحان الله ویلو په
اندازه جهر یا مخافت وی نو سجده سهوه لازمیږی - پس نو د دغه څخه
هم دا ثابتیږی چه د تفکر په مسئله کښی مقدار د دّر(۳) و تسبیحاتو معتبر دی.

څلورم نظیر ئی :- زیادت علی التشهد الاول - دی د دی بیان په لاندی طریقه
سره دی په غنیه ص۳۲۱ کښی د زغلی دی او غنیه شرحه د منیی ده - فان زاد
علی قدر التشهد قال بعض المشائخ ان قال اللّٰهم صل علی محمد ساهیا یجب علیه
سجدة السهو وعن ابی حنیفة رح فیما رواه عنه الحسن رح ان زاد حرفًا واحدًا فعلیه
سجدتا السهو - قال المصنف رح واکثر المشائخ علی هذا ای علی انه یلزمه السهو

بزیادۃ حرف واحد وفی الخلاصہ والمختار انہ یلزمہ السہو ان قال اللّٰھم صل علی محمد - قال البزازی لانہ ادی سنۃ کبیدۃ فیلزم تاخیر الرکن ای وبتاخیر الرکن یجب سجدۃ السہو وھذا باطلاقہ یصلح دلیلاً لمن اختار روایۃ الحسن رح فان مطلق تاخیر الرکن موجود فی زیادۃ الحرف ونحوہ ولا یخص ما اختارہ ھو وصاحب الخلاصہ من التقیید بقولہ اللّٰھم صل علی محمد - والصحیح ان قدر زیادۃ الحرف ونحوہ غیر معتبر فی جنس ما یجب بسجود السہو وانما المعتبر قدر ما یؤدی فیہ رکن کما فی الجہر فیما یخافت وعکسہ وکما فی التفکر حالۃ الشک ونحوہ علی ما عرف فی باب السہو وقولہ اللّٰھم صل علی محمد یشغل من الزمان ما یمکن ان یؤدی فیہ رکن بخلاف مادونہ لانہ زمن قلیل یعسر الاحتراز عنہ فبہذا یتم مراد البزازی رح ویعلم منہ انہ لا یشترط التکلم بذلک بل لو مکث مقدار ما یقول اللّٰھم صل علی محمد یجب السہو لانہ احزالرکن بمقدار ما یؤدی فیہ رکن آہ.

بہ در مختار ص۳۳ فصل اذا اراد الشروع کی دی ولا یزید فی الفرض علی التشہد فی القعدۃ الاولی اجماعاً فان زاد عمداً کرہ فتجب الاعادۃ او ساہیاً وجب علیہ سجود السہو اذا قال اللّٰھم صل علی محمد فقط علی مذہب المفتی بہ آہ.

او بہ باب سجود السہو ص۷۷ کنبی راغلی دی - وتاخیر قیام الی الثالثۃ بزیادۃ علی التشہد بقدر رکن وقیل بحرف وفی الزیلعی الاصح وجوبہ باللّٰھم صل علی محمد آہ بہ شامی کی راغلی دی - قولہ وفی الزیلعی جزم بہ المصنف فی متنہ فی فصل اذا اراد الشروع قال انہ المذہب واختارہ فی البحر تبعاً للخلاصۃ والظاہر انہ لا ینافی قول المصنف ھنا بقدر رکن تامل وقدمنا عن القاضی الامام رح انہ لا یجب ما لم یقل وعلی ال محمد وفی شرح المنیۃ الصغیر انہ قول الاکثر وھو الاصح قال الخیر الرملی رح فقد اختلف التصحیح کما تری وینبغی ترجیح ما قالہ القاضی الامام اھ وفی التاتارخانیہ عن الحاوی وعلی قولہما لا یجب السہو ما لم یبلغ الی قولہ حمید مجید آہ ما فی الشامی

دد ی عبارتو څخہ معلومہ سوہ چہ د زیادت علی التشہد - بہ موجب والی کنبی سجدہ سہوی لرہ څلور قولونہ دی - اول قول دادی چہ دیوہ حرف پہ زیادت سرہ سجدہ سہو لازمیږی - دوھم قول دادی چہ د اللّٰھم صل علی محمد پہ زیادت سرہ سجدہ سہوہ لازمیږی اودریم قول دادی چہ د اللّٰھم صل علی محمد وعلی ال محمد پہ زیادت سرہ سجدہ سہوہ لازمیږی اوخلورم قول دادی

چه د ـ حمید مجید پوری په ویلو سره سجده سهوه لازمیږی په دوی کی اول او څلورم مذهب قابل د اعتماد نه دی پاته سود وهم او دریم مذهب پس نو زما په نزد دغه دواړه یو دی.

ځکه چه د دواړو حاصل دادی چه د څنه ولو څخه د مقدارِ اداءِ رکن سجده سهوه لازمیږی او مقدار د اداء رکن د درّی[۳] تسبیحاتو زمانه ده کما صرح به الشامی و صاحب الغنیه رح فی مسئلة انکشاف العوره وغیرهما پس نو د کومو خلګو چه دا اعتقاد سو چه په هر څوند ه وخت کښی لونځ کونکی اللهم صل علی محمد وابی په دغوند ه وخت کښی ژر ژر دری واړه سبحان الله ویل کیدای سی ـ نو دوی پر دغوند ی مقدار سجده سهوه واجب کړه ـ او د کومو خلګو چه دا اعتقاد سو چه په اطمنان سره د درّی[۳] واړه سبحان الله په دوند ه وخت کی ویل کیدای کوم چه په دغوند ی وخت کی اللهم صل علی محمد وعلی ال محمد ویل کیږی ـ ځکه چه سبحان الله (نه)[۹] حرفه ده او نو نه چه په درد کی ضرب در کړی او ده ویشت کیږی.

اوس نو که چیری په اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کښی د واړه تنوینونه حذف کړل سی نو ټول دیرش حرفونه کیږی او که د واړه تنوینونه وویل سی بیا دو دیرش حرفونه کیږی او که یو تنوین وویل سی بیا یو دیرش حرفونه کیږی.

په اول صورت کښی د درّی[۳] حرفه په دوهم صورت کښی پنځه حرفه او په دریم صورت کښی څلور حرفه فرق راځی (پس نو دا فرق د وندې نه فرق نه دی) ـ

نو دوی د اللهم صل علی محمد وعلی ال محمد ـ په ویلو سره سجده سهوه واجب کړه ـ حاصل دادی چه په زیادت علی التشهد ـ کښی هم مقدار د رکن معتبر دی.

بعضی وائی چه اداء رکن یعنی دری واړه سبحان الله ویل په دوند ه وخت کښی ممکن دی کوم چه په هغوندی وخت کښی اللهم صل علی محمد ویل کیږی ـ دغه رنګه دغه اللهم صل علی محمد د درّو[۳] لنډو ایا تو یعنی ثم نظر ثم نظر ـ سره برابر دی ـ ځکه چه د دواړو حروف اتلس[۱۸] دی دی سببه د دوندی مقدار څخه سجده سهوه لازمیږی او بعضی وایی

چه په اطمنان سره دری واړه سبحان الله په دوند ه وخت کښی ویل کیدای سی لکه په خوندی وخت کی چه اللهم صل علی محمد و علی ال محمد ویل کیدای سی اودغه رنګه د غه د درود لنډ و ایاتو نو سره تقریبًا برابره ده یعنی د دی د رولنډو ایاتو نو سره - څرنظر څم عبس وبسر څراد بر و استکبر - د دی سبب د دوندی مقدار څخه سجده سهو ه لازمیږی دا اختلاف د تخریج دی نه اختلاف د اصل - د غه رنګه په اول کی احتیاط مد نظر نیول سویدی او په دوهم کښی د تسهیل لحاظ سویدی نو هر وخت چه د زیادت علی التشهد حکم معلوم سو چه د درود ی واړه سبحان الله ویلو یا د درود ایاتو نود تلاوت زمانه پکښی معتبره ده - نو د دی څخه د تفکر د مسئلی زمانه هم معلومه سوه -

د دی تمام تفصیل خلاصه داده چه - طریان مفسد صلوٰة مثل تلبس بالنجاسة وانکشاف عورة وغیره - او - جهر فیما یخافت وبالعکس وتاخیرالواجب مثل تفکر فی الصلوٰة وزیادة تشهد - بتولی مسئلی متماثلی او متشابه دی اود بتولو حکم یو شان دی او په دی کښی د امام صاحب مذهب مختاره نه دی بلکه د یارانو مذهب مختاره دی یعنی که په قدر د اداء د رکن تلبس او تاخیر د رکن موجود سی نو قابل د اعتبار دی او که د غه قدر نه وی بیا قابل د اعتبار نه دی

لیکن د دی په تشریح کی د امام ابو یوسف رح اود امام محمد رح اختلاف دی امام محمد رحمة الله علیه فرمائی چه اداء د رکن حقیقةً معتبره ده او امام ابی یوسف رح فرمائی چه داسی نه ده - بلکه د درود وارو تسبیحاتو یا د درود لنډو ایاتو نو مقدار معتبر دی په دغو د درودو مذهبوکی د امام ابی یوسف صاحب مذهب مختاره دی نو د ی وروسته د امام ابی یوسف رح د مذهب په تفصیل کی علماؤ اختلاف کړیدی بعضو ویلی دی چه د د ری واړه سبحان الله ویلو څخه مراد څرنظر څرنظر - دی او بعضو ویلی دی چه داسی نه ده بلکه په اطمنان سره د ری واړه سبحان الله ویل - او د څرنظر څرعبس وبسر څرادبر و الاستکبر - تلاوت کول مراد دی.

په دغو د درودو مذهبوکی زما په نزد دوهم مذهب مختاره دی اوزه د خیر رملی رحمة الله علیه سره اتفاق کوم - د دی تولو خبرو څخه دا نتیجه راوو ته چه د تفکر په مسئله کی د درود تسبیحاتو مقدار صحیح دی او کم و کسانو چه ئ

مقدار یو وار سبحان الله ښوولی دی دغه نه دامام صاحب پرمذهب صحیح دی چه مخه ادنی تاخیر اوادنی جهر او ادنی تلبس معتبر کړیدی کمایستفاد من نقل مذهبه فی نزیاده التشهد والجهر اونه د صاحبانو یعنی دیارلسو پرقول صحیح دی بلکه داد دوی ذاتی او شخصی اجتهاد او استنباط دی. والله اعلم - په دی ځای کښی یوبله خبره هم قابله دغور ده چه ویونکی ددی بیان په خطره کښی واقع نه سی هغه داچه شامی رح د زیادت تشهد په بارهٔ کی اول دری قوله را نقل کړی دی اول داچه زیادت دیوه حرف واجبونکی دسهوی دی دوهم داچه اللهم صل علی محمد - موجب د سهوی دی او دریم داچه اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد موجب دسهوی دی. دروسته نزدغه ئی ویلی دی - هذا کله علی قول ابی حنیفة رحمة الله علیه والافی التاتارخانیه عن الحاوی انه علی قولهما لایجب السهو مالم یبلغ الی قوله حمید مجید آه شامی ص۵۳۲ لیکن دا نقل صحیح نه دی. حکه چه د - اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد - اود - اللهم صل علی محمد واجبوالی سجده سهوی لره بنا پرمذهب دامام ابی یوسف رح دی او د امام صاحب پرمذهب بنا نه دی - او ترحمید مجید پورئی ویل بنا پراصولو دامام محمد صاحب واجبونکی سجده سهوی لره دی نه دامام ابی یوسف صاحب پرمذهب - حکه چه دامام محمد رحمة الله علیه دا اصول دی چه په کوم رکن یعنی جزد لماغځه کښی چه دی مشغول وی خو یا سنت وی یا واجب وی یا فرض وی - د دغه ترپوره کولو پورې زمانه کثیره ده او د دی څخه کمه قلیله اولږ ده.

نو د دی سببه هر وخت چه ده درود شروع کړی نو بیا چه ئی هروخت پوره کړی بیا نو دغه زمانه کثیره بلل کیږی - ورنه قلیله ده. فتدبر والله اعلم -:

حبیب احمد کیرانوی

ضمیمه تمامه سوه په خیر سره

د اصلی بهشتی زیور د دریمی حصی د مضامینو فهرست

شمیره	مضمون	مخ
۱	د روژی بیان.	۱
۲	د روژی د میاشتی د روژی بیان.	۳
۳	د میاشتی د لیدو بیان.	۵
۴	د قضائی روژی بیان.	۷
۵	د نذری روژی بیان.	۸
۶	د نفلی روژی بیان.	۹
۷	هغه شیان چه روژه نه پیه ماتیږی یا روژه پیه ماتیږی قضا یا کفاره پیه لازمیږی	۱۱
۸	د پیشلمی او روژه مات کولو بیان.	۱۷
۹	د کفاری بیان.	۱۹
۱۰	د هغو شیانو بیان چه روژه ماتول روا کوی.	۲۱
۱۱	د هغو اسبابو بیان چه روژه نه نیول روا کوی.	۲۱
۱۲	د فدیی بیان.	۲۴
۱۳	د اعتکاف بیان.	۲۷
۱۴	د زکوة بیان.	۲۷
۱۵	د زکوة د ادا کولو بیان.	۳۵
۱۶	د پیدا وار د زکوة بیان.	۳۹
۱۷	هغه خلک چه زکوة د رکول ورته روا دی.	۴۰
۱۸	د سرسایی بیان.	۴۵
۱۹	د اختری کولو بیان.	۴۸
۲۰	د عقیقی بیان	۵۷
۲۱	د حج بیان	۵۹
۲۲	د مدینی منورې د زیارت بیان.	۶۳
۲۳	د نذر منلو بیان.	۶۳
۲۴	د قسم خوړلو بیان	۶۸
۲۵	د قسم د کفاری بیان	۷۲

شمیره	مضمون	مخ
۲۶	کورته د تلو څخه د قسم بیان.	۷۴
۲۷	د خوړلو او چښلو څخه د قسم بیان.	۷۵
۲۸	د خبرو نه کولو د قسم بیان.	۷۷
۲۹	د خرڅولو او رانیولو څخه د قسم بیان.	۷۷
۳۰	د روژی او لمانځه څخه د قسم بیان.	۷۸
۳۱	د نوکرانو او نورو شیانو څخه د قسم بیان.	۷۸
۳۲	د دین څخه د ګرځیدو بیان.	۸۰
۳۳	د ذبحی (حلالولو) بیان.	۸۲
۳۴	د حلالو او حرامو شیانو بیان.	۸۳
۳۵	د نشی د شیانو بیان.	۸۴
۳۶	د سړو زړو او سپینو زرو د لوښو بیان.	۸۵
۳۷	د جامی او پردی بیان.	۸۵
۳۸	جلا جلا مسئلی.	۹۰
۳۹	د پردی شی د پیدا کولو بیان.	۹۴
۴۰	د وقف بیان.	۹۶
	د دریمی حصی د اولی ضمیمی د مضامینو فهرست	
۴۱	د روژی فضیلت او بنوالی.	۹۸
۴۲	د اعتکاف فضیلت او بهتری.	۱۰۵
۴۳	د لیلة القدر فضیلت.	۱۰۶
۴۴	د تراویح فضیلت.	۱۰۸
۴۵	د د واړو د اختر د شپو فضیلت.	۱۰۸
۴۶	د خیراتو کولو د ثواب بیان.	۱۰۸
۴۷	د حج کولو فضیلت.	۱۱۴
۴۸	دوهمه ضمیمه	۱۱۶
۴۹	د دریمی حصی د تدریس دستور العمل	

دا اصلی بهشتی زیور دریمه حصه

بسم الله الرحمن الرحیم ط

دروژی بیان

په حدیث شریف کښی د روژی ډیر ثواب بیان سویدی او د الله پاک په نزد د روژه دار ډیره لویه اولوړه درجه ده - نبی علیه السلام فرمائیلی دی - چه چا د روژی د میاشتی روژی طوف د پاره د خدای تعالی په نیت د ثواب ونیولی نو د ده تول پخوانی او ورسته گناهونه بخښل کیږی - (مشکوة ص۱۷۳ بحتبائی). او نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه د روژدار د خولی بدبوئی د الله پاک نه د مشکو ترخوشبوئی ډیره خوښه او محبوبه ده - مشکوة شریف ص۱۷۳ - د قیامت په ورځ د روژی ډیر ثواب ورکول کیږی.

روایت سویدی چه د قیامت په ورځ روژادیانو نه ترعرش لاندی دستر خوان غوړول کیږی - دوی به پرده غه ستر خوان کښینی خپل خوراک به کوی او تول خلق به په حساب کښی غرق وی - نو دغه خلق به وابی چه داخوک دی او څنگه خلگ دی چه دومره خوری او چیښی کوی او موږ لا تر اوسه په حساب کتاب کښی غرق او ترک یو - دوی ته جواب ورکول کیږی چه دغو خلگو روژی نیولی اوتاسو روژی خورلی (نه نیولی) - در منثور جلد اول.

روژه هم د اسلام ډیر لوی رکن دی او هرڅوک چه د روژی د میاشتی روژی نه نسی ډیره لویه گناه ده او د دغه دین کمزوری کیږی.

(۱) مسئله:- د روژی د میاشتی روژی چه لیونی نه وی او بلوغ ته رسیدلی نه وی یعنی کوچنی وی نو پر هر مسلمان فرض دی چه یو عذر نه وی روژه نه نیول ناروا

د ده اوکه څوک روژه نذر کړی نو په نذر کولو سره روژه فرض کیږی۔ د قضا اوکفاری روژی هم فرض دی د دغه څخه ماسیوی نورې بټولی روژې نفل دی کمئ نه ونسی گناه نه لری که ئ ونسی ثواب لری

البته دکوچنی اختر اوله ورځ دلوی اختر اوله ورځ اودری ورځې تر لوی اختر وروسته روژه نیول حرامه ده ۔(شرح الوقایه ۔ رد المحتار ص۱۲۹ دوهم ټوک وفتاوی هندیه ص۱۲۵ ج۱)

(۲) مسئله:۔ دهغه وخت څخه چه دسهار د لمانځه وخت شروع کیږی بیا د لمر تر لویدو پوری دی د روژی په نیت هرڅه خوړل چښل اود نارینه سره نزدیکت دی پریږدی په شریعت کښی دغه ته روژه ویل کیږی۔ (فتاوی هندیه ص۱۲۵ ج۱)

(۳) مسئله:۔ په ژبه څه ویل او نیت کول ضروری نه دی بلکه په زړه کښی دی داخیال وساتی چه مونږ ماروژه ده او بیائ لومړ ورځ نه خوړک وکړی اونه ئ چښل وکړه اونه ئ د نارینه سره نزدیکت وکړی روژه ئ صحیح ده۔ اوکه څوک د روژی نیت په ژبه سره روایی چه یا الله زه ستا د رضا د پاره سبا روژه نسم اویا په عربی سره روایئ ۔ وَبِصَوْمِ غَدٍ نَوَيْتُ۔ هیڅ پروا نه لری۔ بلکه منه کار دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۲۶ اول ټوک وشرح التنویر ص۱۲۹ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:۔ که چا ټوله ورځ نه خوړک وکړی اونه ئ چښل وکړه د سهار څخه تر مابنامه وبزی تږی پاته سوه لیکن په زړه کښی ئ د روژی اراده نه وه۔ بلکه وبزی نه سوه یا ئ د بل سبب څخه د خوړلو اوچښلو وخت پیدا نه کړی نو روژه ئ نه ده صحیح که ئ د روژی نیت کړی وای په زړه کښی نو به ئ روژه صحیح سوی وای ۔ فتاوی هندیه ص۱۲۶ اول ټوک)

(۵) مسئله:۔ په شریعت کښی د روژی د وخت د صبح صادق څخه شروع کیږی د دغه سبب چه د دغه تسم سهار نه وی هرڅه خوړل چښل روا دی نژدیکت د نارینه سره هم روا دی بعضی بنځی پیشلمی وکړی نیت د تړی بیائ داخیال وی چه د نیت کولو د روسته څه خوړل او چښل روا نه دی ۔ داخیال غلط دی چه نیت د کړی تر څو چه صبح صادق نه وی را څلی خوړل چښل ټول روا دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۲۵ لومړی ټوک ۔ ورد المحتار ص۱۲۹ دوهم ټوک)

دوهم | دروژی دمیاشتی بیان | باب

(۱) مسئله :- که ئ دروژی دمیاشتی دروژی دپاره په شپه کښی نیت وکړی هم فرض ادا کیږی اوکه ئ دشپی دروژی نیولو اراده نه وی بلکه سهار سو بیانی هم داغه خیال وُ چه دنن روژه به نه نیسم بیا چه بنه ورځ سوه - خیال ئ وکړی چه فرض روژه پریښوول بنده خبره ده که نو ددی سببه ئ دروژی نیت وکړی نو روژه ئ صحیح ده - لیکن شرط ئ دادی چه سهار به ئ نه شی خوړلی وی نه چښلی - که ئ دغسی کړی وُ بیا خو نیت نه سی کولای - (ردالمحتار ص۱۳۵ دوهم جلد)

(۲) مسئله :- د رمضان شریف (دروژی دمیاشتی) په روژه کښی بس دوندی نیت کول کافی دی چه نن زما روژه ده یا ئ دشپی دوندی فکر وکړی چه سبا زما روژه ده بس دغه قدر نیت کفایت کوی روژه ئ صحیح ده که په نیت کی خاص دغه خبره نه وی چه د روژی دمیاشتی روژه ده یا فرض روژه ده که بیا هم روژه صحیح ده - (فتاوی هندیة ص۱۲۶ اول ټوک)

(۳) مسئله :- که ئ څه خوړلی چښلی نه وی نو د غرمی څخه تهیک یو ساعت مخ کی د روژی دمیاشتی د روژی نیت صحیح دی (ردالمحتار ص۱۳۵ دوهم ټوک)

(۴) مسئله :- د روژی په میاشت کی که چا وویل چه زه سبا نفلی روژه نیسم فرضی روژه نه نیسم دهغی بیا قضا راورم د غه نفلی روژه ئ په فرض کښی د نه ږی نفلی روژه نه کیږی - (ردالمحتار ص۱۳۷ دوهم ټوک)

(۵) مسئله د تیری روژی د میاشتی روژه ئ خوړلی وه او پوره کال تیر سو چه تراوسه پوری ئ د تیری روژی د میاشتی قضا نه ده راوړی نو اوس چه بیا د روژی میاشت راغله نو نیت دا نیت ئ وکړی چه زه هغه قضا سوی روژه نیسم بیا هم د غه روژه په هغه قضا سوی روژه کی نه د ږی - بلکه د دی اوسنی میاشتی خپله د وخت روژه ده - قضا ئ روژه د دی د روژی تر میاشتی د روسته

بیا ونیسی۔ (رد المحتار ص۱۳۷ دوهم پتوک)

(۶) مسئله:۔ یو چا پرخان نذر ایښی وُ چه زما فلانکی کار وسی نو زه د الله رضا د پاره یو روژه یاد دی روژی نیسم نو چه د روژی میاشت راغله نو ئی د هغه نذری روژی نیت وکړی د رمضان (یعنی د روژی د میاشتی) د روژی نیت ئی نه وکړی بیا هم د هغه روژه د رمضان د روژی کیږی د نذر روژه ادا نه سوه. د نذر روژی دی د روژی تر میاشت ورسته ونیسی د پتولو حاصل دا سو چه د روژی په میاشت کښی چه د هری روژی نیت کوی د روژی د میاشتی روژه ده۔ بله روژه نه صحیح کیږی (رد المحتار ص۱۳۷ دوهم پتوک)

(۷) مسئله:۔ د بران د میاشتی نه (۲۹) ویشتم تاریخ ته که د روژی میاشت او هلال چا ولیدلا نو د سهار روژه دی ونیسی او که نه سوه بنکاره یا اوریځ وه میاشت نه سوه بنکاره نو سهار چه ترڅو پورې دغه شک وی چه د روژی میاشت شروع سویده او که نه ده شروع سوی نو سهار دی روژه نه نیسی۔ بلکه د برات د میاشتی دی د برش د رمضان پورې کړی روژه دی بیا ونیسی۔ (شرح البدایه ص۱۹۵ اول پتوک)

(۸) مسئله:۔ پرنه (۲۱) ویشتم تاریخ د اوریځی د سببه د روژی میاشت نه سوه بنکاره نو نفلی روژه دی هم نه نیسی۔ لیکن که د سی اتفاقاً پینځه سوه چه همیشه ئی د دوشنبی او پنجشنبی یا د بلی معلومی د رځی روژی نیولی او سبا د غه ورځ وه نو د نفل په نیت سره د سهار روژه نیول بهتره دی۔ بیا که دیوڅای څخه د میاشتی د لیدو خبر را غلی نو په دغه نفلی روژه سره د رمضان د میاشتی فرض روژه ادا سوه۔ نو دی قضا نه راوړی۔ (تنویر و شرحه و حاشیه ص۱۳۳ دوهم جلد) و شرح البدایه ص۱۹۲ لومړی جلد)

(۹) مسئله:۔ د اوریځی په سبب پرنه ویشتم تاریخ میاشت نه ولیدل سوه. نو تر غرمی یو ساعت مخکی شی مه خوره او مه ئی څیښه که دیوڅای خبر راسی نو اوس د روژی نیت وکړه او که خبر نه راورسیږی نو بیا خورک او څیښل وکړه (رد المحتار ص۱۳۲ لومړی پتوک)

(۱۰) مسئله:۔ نه ویشتم (۲۹) تاریخ ته میاشت نه سوه معلومه دغه خیال مه کوه چه سبا اوریځ د روژی د میاشتی نه ده نو راسه وایه چه د پرا وسږ کال قضائی روژه

پاته دی هغه به راګرزوم یا می نذری روژه پاته ده هغه روژه به نیسم په دغه
درخ قضائی روژه، د کفاری روژه او نذری روژه بیول هم مکروه ده - باید هیڅ
روژه و نه نیسی که ئی قضائی روژه یا نذری روژه ونیوله بیا د بوځایه څخه
خبرا غلی چه میاشت لیدل سوی وه نو هم د روژی د میاشتی فرضی روژه ادا
سوه قضائی او نذری روژه دی بیرته راوګرزوی او که خبر نه راغلی نو د
هری روژی نیت چه ئی کړی دو هغه ادا سوه - (شرح التنویر ص۱۴۱ اول توک)

دریم	دمیاشتی د لیدلو بیان	باب

(۱) مسئله:- که په اسمان اوریځ یا ګرځ وی د دغه سبب په روژی یاشت
و نه لیدل سوه لیکن یو دیندار ه او پرهیزګاره سړی راغلی شهادت اوګواهی ئی ادا کړه
چه ما د روژی میاشت لیدلی ده نو د میاشتی لیدل ثابتیږی - که نه وی او که
منځه وی - (شرح البدایة ص۱۹۷ لومړی توک)

(۲) مسئله:- که دا اوریځی د وجهی څخه د اختر میاشت و نه لیدل سوه نو یوه
سړی د شاهدی اعتبار نسته که هرڅوند ی عفت او معتبر سړی وی - بلکه یا به
دوه پرهیزګاره او معتبره نارینه وی یا به یو دیندار ه سړی او دوه (۲) ځنی دیندارې
ښځې وی چه د وی د میاشتی د لیدلو شاهدی ادا کړی نو بیا د میاشتی بنکاره کیدل
ثابتیږی او که نه وی نو که څلور ښځې د میاشتی د لیدلو شاهدی ادا کړی نو هم
قبوله نه ده - (شرح البدایة ص۱۹۸ لومړی توک)

(۳) مسئله:- هر هغه سړی چه د دین پابند نه وی او پر لپسی ګناه کوی - مثلاً لمونځ
نه کوی روژه نه نیسی دروغ وایی یا یو بله ګناه کوی د شریعت پابندی نه کوی نو
په شریعت کښی د دغه سړی هیڅ اعتبار نسته برابره خبره ده که هرڅوندی قسمونه
وخوړی بیان درکړی بلکه د غسی که دوه (۲) درې (۳) ځنی خلق وی د دوی هم هیڅ اعتبار
نسته - (البحر الرائق ص۲۶۶ دوهم توک)

(۴) مسئله:- دا مشهوره خبره ده چه هر هغه ورځ چه د خدای تعالی د میاشتی
څلرمه ورځ وی نو هغه ورځ د روژی اوله ورځ ده مثلاً که د شنبی ورځ د رجب
(خدای تعالی) د میاشتی پر څلرمه ورځ راغله نو د روژی اوله ورځ به هم شنبه
وی - د دی خبری په شریعت کښی هیڅ اعتبار نسته بلکه د میاشتی لیدل یا د برات

دیرش ورځې پوره کیدل معتبر دی۔ (البحر الرائق ص۲۶۶ دوهم توک)

(۵) مسئله:- چه میاشت د ویني او وایۍ چه دا پیره خپله میاشت ده د پیرون د ورځې (دوه شپیزه) معلومیږي دا پیره بیکاره اوبده خبره ده په حدیث شریف کښې راغلی دی دا د قیامت[ع] نښانی ده چه قیامت نژدې سی نو خلق به داسې وایي خلاصه داده چه د میاشتې د خپلوالي او کوچنیوالي هیڅ اعتبار مه کوه او مه د هند وانو ددې خبرې اعتبار کوه چه نن سهار میاشت پیله وه نو نن ماښام ضرور میاشت بنکاره کیږي۔ د شریعت د نګاه څخه د غه خبرې چتیات او عبث دی۔ (شرح التنویر ص۱۴۷ دوهم توک)

(۶) مسئله:- که اسمان بالکل صاف وي نو د (۲) دو د (۳) درو څلورو (۴) خلګو د شاهدۍ څخه هم میاشت نه ثابتیږي که دروڼې میاشت دی که د اختر میاشت وي۔ البته که د غونډې خلګ په کثرت او پېروالي سره شاهدي ورکړي چه د سهرۍ یقین سی چه دا د غونډې خلګ پردې واغوا اتفاق نه سی کولای او د د غونډې خلګو د واغوا له په هیڅ طریقه نسی کیدای بیا ثابتیږي۔ په بنارکښې دا خبره مشهوره سوه چه میاشت ولیدل سوه او په روخلګو لیدلی ده نو په تلابښ وسو لیکن بیا هم دا سی سهرۍ نه پیدا کیږي چه ده میاشت لیدلی وي۔ د دا سی خبر هیڅ اعتبار نسته (شرح التنویر ص۱۹۸ اول توک ورد المحتار ص۱۵۱ دوهم توک)

(۷) مسئله:- که یو چا یوازې د روڼې میاشت ولیده د د ده څخه ماسیوي په ټول بنارکښې هیڅوا هم نه ولیده لیکن د غه څوک د شریعت پابند نه دی د د ده د شاهدۍ څخه پر بنار والا د روژه نسته روژه دی نه نسي لیکن دَی دِې پخپله روژه ونیسي اوکه د غه یوازې لیدونکي د[۳۰] یرش روژې پوره کړي لیکن تراوسه د اختر میاشت نه ده بنکاره سوې نو دی یو د[۳۱] یرشمه روژه پوره کړي او اختر دی د بنارد خلګو سره یو ځای وکړي۔ (شرح البدایة ص۱۹۷ جلد اول۔ فتاوی هندیة ص۱۲۷ ج۱)

(۸) مسئله:- که چا د اختر میاشت یوازې ولیده د د غه سببه شریعت د ده شاهدي معتبره نه کړه نو د غه لیدونکي د پاره د اختر کول هم درست او صحیح نه دی سهار دی روژه ونیسي او د خپلې میاشتې د لیدلو اعتبار دی نه کوي او روژه دی نه ماتوي (فتاوی هندیة ص۱۲۷ لومړی توک

عه د دی مطلب دا دی چه د غټو لښانو څخه چه د قیامت نه نژدې وی یو د غه هم د ده

خلودم | دقضائی روژی بیان | باب

(۱) مسئلہ:- په سبب د حیض یا بلی وجهی چه روژی قضا سوی وی د روژی تر میاشتی ددسته هرځوند ه چه ژر کیدای سی قضا دی راوړی خنډ دی نه کوی بیله سببه په قضا راوړلو کښی خنډ کول ګناه ده - شرح البدایة ص۲۶۲ لومړی ټوک)

(۲) مسئلہ:- د روژی په قضا راولو کښی وخ او تاریخ مقرر ول د قضا نیت کول چه د فلانی تاریخ د روژی د قضا راوړلو نیت کوم داضروری نه ده بلکه هر څوند ی روژی چه قضا سویدی په هغه اندازه روژی باید ونیول سی البته که دد دوو میاشتو د روژو یو څه څه روژی قضا سوی وی نو د دغه سببه د دواړو ګلونو د روژو قضا راوړل وی نو د کال معلوم ول ضروری دی یعنی د غه قسم دی نیت وکړی چه د فلانی کال د روژی قضا راوړم - (شرح التنویر مسائل شتی ص۱۸۷ پنځم ټوک باب قضاء الفوائت)

(۳) مسئلہ:- په قضائی روژه راوړلو کښی د شپی څخه نیت کول ضروری دی که ئی تر سهار کیدو و روسته نیت وکړی نو قضائی روژه صحیح نه ده بلکه دغه روژه نفلی سوه قضائی روژه دی بیا و نیسی - شرح البدایة ص۱۹۵ اول ټوک)

(۴) مسئلہ:- د کفاری د روژی هم د غه حکم دی چه باید د شپی څخه نیت وکړی که ئی تر سهار و روسته نیت وکړی نو د کفاری روژه صحیح نه سوه - شرح البدایة ص۱۹۵ لومړی ټوک)

(۵) مسئلہ:- هرځوندی روژی چه قضا سویدی که په یوه وار پرلپسی د ټولو قضا راوړی او که ئی په لږ لږ سره قضا راوړی دواړی طریقی صحیح دی - (شرح البدایة ص۲۰۴ دوهم ټوک)

(۶) مسئلہ:- که ئی د تیر کال د روژی قضا تر اوسه پوری نه وه راوړی خو د سږ کال د روژی میاشت رانغله نو خیر دی اوس دی د د غه موجوده کال روژی و نیسی چه د غه روژه تیره سوه د کوچنی اختر په میاشت کی دی دهغی بلی روژی قضا

راوړی لیکن دونده حنه کول بده خبره ده۔ (شرح البدایه صـ۲۰۴ دوهم توک)

(۷) مسئله:۔ که دروژی په میاشت کښی دورځی بی هوښه سوه او بی هوښی ئی تر یوی ورځی زیاته سوه نو د بی هوښه کیدو د ورځی څخه علاوه چه خوند ه ورځی بی هوښه ده دهغو ورځو قضا به راوړی په کومه ورځ چه بی هوښه سوید ه دهغی ورځی قضاء راوړل باندی واجب نه ده ځکه دا غه ورځی روژه ئی په سبب د نیت صحیح ده لیکن که په دغه ورځ ئی روژه نه وه یا ئی څه دوائی خوړلی وه یعنی څه دوایی ئی ستونی ته اچول سوی وه اوتیره کړی ئی هم وه نو د دغی ورځی قضاراوړل هم واجب ده۔ (شرح البدایه صـ۲۰۶ دوهم توک)

(۸) مسئله:۔ که دشپی بی هوښه سوه بیا هم هغه شپه چه بی هوښه سوی ده د دغی یوی ورځی قضاراوړل واجب نه دی باقی نوری هرځه ورځی چه بی هوښه سویدی ده نو تولو قضاراوړل واجب ده لیکن که په دغه شپه کی ئی د سهار د روژی د نیولو نیت نه وو یاد ورځی یو دوائی په ستونی کښی ورواچول سوه نو د دا غه ورځی د روژی به هم قضاراوړی۔ (شرح البدایه صـ۲۰۶ دوهم توک)

(۹) مسئله:۔ که تولـه روژه بی هوښه وه بیائی هم باید قضاراوړی۔ داسی دی نه بولی چه تولی روژی معاف سوی البته که لیونتوب ورته پیښ سو تولـه روژه لیونه وه نو د دغی روژی د میاشتی دیوی روژی قضاراوړل واجب نه ده که د روژی په میاشت کښی بعضی ورځی لیونه نه وه بنه اوپرسیدو ئی په دغو ورځو کښی دی روژی ونیسی او چه کومی روژی قضا سوی دی هغه دی ورسته قضائی راوګرزوی۔ (شرح البدایه صـ۲۰۶ لومړی توک)

پنځم — دنذری روژی بیان — باب

(۱) مسئله:۔ چه څوک روژه نذر کړی نو پوره کول ئی واجب دی که ئی پوره نه کړی نو ګنهګار ګرځی ده۔ (شرح التنویر و رد المحتار صـ۱۰۱ دریم توک)

(۲) مسئله:۔ نذر دوه قسمه دی یو دا دی چه ورځ تاریخ مقرر او معلوم کړی نو ورځه روژه نذر کړی چه یا الله که زه فلانی کار وسی نو سبا ستا د رضا د پاره روژه نیسم یا ئی دا سی ووایی چه یا الله که فلانی مراد پوره سی نو بل سبا د جمعی په ورځ روژه نیسم په دغسی نذر کښی که دشپی د روژی نیت وکړی هم صحیح

دی - اوکه د شپی څخه نیت نه وکړی د غرمی څخه یو ساعت مخکی نیت وکړی دا هم صحیح دی نذر ادا کیږی - (مراقی الفلاح علی حاشیة الطحطاوی ص۳۷۴)

(۴) مسئله :- د جمعی د ورځی د روژی نذر ئی پرځان کښیښوی نو چه جمعه راسی بس د وند ی نیت دی وکړی چه نن زما روژه ده وده ی نه ضرورت نسته چه دوایی چه نذر ی روژه ده که دوایی هم صحیح ده که نه دوایئ هم صحیح ده اوکه ئی د ویل چه زما نفلی روژه ده بیا هم نذری روژه ادا کیږی نفلی نه ادا کیږی البته که ئی په دغه جمعه قضا ئی روژه د نیول او نذری روژه نیول ئی پیاد نه وه یا یاد ئی وه مگر قصداً ئی قضا ئی روژه د نیوله نو نذری روژه نه ادا کیږی - بلکه قضا ئی روژه صحیح کیږی د نذر روژه دی بیا ونیسی - (مراقی الفلاح علی حاشیة الطحطاوی ص۳۵۳ و فتاوی هندیه ص۱۲۶ لومړی توک)

(۳) مسئله :- دوهم نذر دادی چه روژه نیول نذر کړی حو ورځ او تاریخ (نیټه) معلوم نه کړی پس د وند ی دوایئ چه یا الله که زما فلانی کار وسو نو یوه روژه نیسم یا ئی د یو کار نوم یاد نه کړی مطلقاً ئی د ویل چه پنځه روژی نیسم په دغسی نذر کښی د شپی څخه نیت کول شرط دی که ئی تر سهار وروسته نیت وکړی نو د نذر روژه نه سوه بلکه د غه روژه نفلی روژه سوه -
مراقی الفلاح ص۳۷۷

شپږم باب — د نفلی روژی بیان

(۱) مسئله :- د نفلی روژی نیت که د اسی وکړی چه زه نفلی روژه نیسم هم صحیح دی اوکه فقط د وند ی نیت وکړی چه زه روژه نیسم هم صحیح دی - (رد المحتار ص۱۳۳ د وهم توک)

(۲) مسئله :- د غرمی څخه یو ساعت مخکی د نفلی روژی نیت صحیح دی نو که ئی تر لسو بجو پوری د ورځی مثلاً د روژی نیولو اراده نه وه لیکن تراوسه ئی څه خوړلی او چښلی نه دی نو د روژی نیت ئی وکړی او روژه ئی د نیوله نو هم صحیح دی - (شرح البدایة ص۱۹۵ اول توک)

(۳) مسئله :- د روژی د میاشتی څخه ماسیونی هر ورځ چه دی زړه د غواړی نفلی روژه ونیسه هر څومره ی چه نیسی په هغه اندازه ثواب به پیدا

کړی البته دکوچنی اختر په ورځ اودلوی اختر نمانځی په لسمه یوولسمه دوولسمه او په دیارلسمه یعنی دلوی اختر په اوله دوهمه، دریمه او څلورمه ورځ پهه بټول کال کښی دغه پنځه ورځی روژی نیول حرامی دی د دغه څخه ماسیوی بټولی روژی نیول صحیح دی. (رد المحتار ص۱۳۴ دوهم جلد - بټوک)

(۴) مسئله :- که یوچا دا نذر وکړی چې د روژی د نیولو نذر وکړی بیا هم د دغی ورځی د نذر روژه صحیح نه. دا د دغه په بدله کی دی بله ورځ روژه ونیسی - (شرح البدایة ص۲۰۹ اول بټوک)

(۵) مسئله :- که چا د بټول کال روژی نذر کړی او داسی ئی وویل چه په بټول کال کښی یوه روژه هم نه پریږدم بیا یه هم دغه پنځه روژی نه نیسی نوری به بټولی نیسی - بیا دی د دغه پنځه روژو قضا اداء کړی - (شرح البدایه ص۲۱۰ ج۱)

(۶) مسئله :- نفلی روژه پهه نیت کولو سره واجبیږی - نوکه ئی سهار داسی نیت وکړی چه نن زما روژه نه وی بیا ئی تر دغه ورځ سته ماته کړه نو دی روژی قضا دی راوړی. (شرح الهدایة ص۲۰۵ لومړی بټوک)

(۷) مسئله :- یوچا شپی اراده وکړه چه زه سبا روژه نیسم مګر تر سهار کیدو مخکی ئی اراده بدله سوه او روژه ئی نه ونیوله نو قضا اوړل ئی واجب نه دی - (فتاوی هندیة ص۱۲۶ اول بټوک)

(۸) مسئله :- د خاوند (میړه) پهه اجازت نه نفلی روژه نیول صحیح نه دی که ئی د میړه بی اجازی ونیوله نو هغه د ماتوله د ماته دی کړی بیا چه هر وخت هغه اجازت ورکړی قضا دی راوړی - (شرح التنویر ص۱۹۶ اول بټوک)

(۹) مسئله :- دیوچا میلمنه سوه یا چا دعوت ورکړی او په نه خوړک هغه خوابدی کیدی نو دا دی په خاطر نفلی روژه ماتول صحیح دی - اود میلمه په خاطر کوروالا لره نفلی روژه ماتول هم صحیح دی - (شرح التنویر ص۱۹۴ اول بټوک)

(۱۰) مسئله:- چا د اختر په ورځ نفلی روژه ونیول او نیت ئې وکړی بیا هم ماته دی کړی اود دغه قضا راوړل واجب نه ده - (شرح التنویر ص۱۹۳ لومړی ټوک - وشرح البدایة ص۲۱۰ اول جلد - ومراقی الفلاح ص۳۵۱)

(۱۱) مسئله:- د محرم الحرام (حسن حسین) د میاشتی دلسم تاریخ روژه نیول ښه ده (اود ۹ یا ۱۱ ی سره د نهم یا یو ولسم تاریخ روژه نیول هم مستحب ده صرف د لسم روژه نیول مکروه ده) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هرځوک د غه روژه ونیسی د ده دیوه تیر سوی کال گناهونه معافیږی - (مراقی الفلاح ص۳۵۰)

(۱۲) مسئله:- دغه رنگه دلوی اختر د میاشتی د نهم تاریخ روژه نیول هم ډیر ثواب لری په دغه روژه سره د ده دیوه راتلونکی کال او دبل تیر سوی کال گناهونه معافیږی اوکه د میاشتی د شروع څخه د میاشتی تر نهمی ورځی پوری ئې پرله پسی ولسی دا بیا ډیره ښه خبره ده - (فتاوی هندیة ص۱۳۰ اول ټوک)

(۱۳) مسئله:- د برات د شپی روژه یعنی د پنځلسی د شپی په سهار روژه نیول اوا اختر د شپږو روژو نیولو ثواب هم تر نورو نفلی روژو ډیر زیات دی.
(فتاوی هندیه ص۱۳۰ اول ټوک ومراقی الفلاح ص۳۵۰)

(۱۴) مسئله:- که څوک د هری میاشتی د دیارلسم (۱۳) - څوارلسم (۱۴) اوپنځلسم (۱۵) دری (۳) ورځی روژه نیسی نوگویا ده ډیرو پوره کال روژی ونیولی - نبی علیه السلام دغه دری (۳) روژی نیولی او دغه رنگه ئې د هری دوشنبی او پنجشنبی دوو څو روژی هم نیولی که څوک همت وکړی د دغو هم ډیر ثواب دی - فتاوی هندیه ص۱۳۰ اول ټوک ومراقی الفلاح ص۳۵۰

هغه شیان چه روژه نه په ماتیږی او یا روژه په ماتیږی او قضا یا کفاره په لازمیږی

اووم - باب

(۱) مسئله:- که روژه دار ده په هیره سره څه وخوړی یا وچښی یا په هیره

سړه د خپل خاوند سړه نژدیکت وکړی نو روژه ئی نه ده ماته که په هیره سړه د وند ه خورک وکړی چه خان ئی موړ کړی یا ئی د وندی چښل وکړه چه خان ئی او به کړی نو هم ئی روژه نه ماتیږی ـ که ئی ډیر وار و نه په هیره سړه خورل چښل وکړه هم ئی روژه نه ماتیږی ـ (شرح البدایه ص۱۹۹ اول پتوک وشرح التنویر ص۱۵۵ د وهم پتوک و فتاوی هندیة ص۱۳۰ اول پتوک)

(۲) مسئله :ـ یو څوک ئی ولیدی چه په هیره سړه ئی روژه خورله نو هغه څوک چه د وند ه طاقت دار ه وی چه د روژی څخه ډیر تکلیف نه وړ ته پیښیږی نو روژه ور پیاد ول واجب ده او که د وند ه کمزوری وی چه د روژی څخه تکلیف ور ته پیښیږی نو د ه ته دی نه ور پیاد وی پری دی بنده دی چه خوراک وکړی ـ (البحر الرائق ص۲۷۱ اول پتوک و فتاوی هندیه ص۱۳۰ اول پتوک ـ وشرح التنویر ص۱۵۵ د وهم پتوک)

(۳) مسئله :ـ د ورځی بیده سړه د امی خوب ئی ولیدی چه د غسل ضرورت وُ ـ روژه ئی نه ماتیږی ـ شرح البدایة ص۱۹۹ اول پتوک)

(۴) مسئله :ـ د ورځی ستړی توړول ـ تیل لګول (یعنی مخ یا نور بدن خوړول) او خوشبوئی سن کول (بویول) روادی روژه نه په ماتیږی هر وخت چه وی بلکه که ئی په رنجو ستړی توری کړی او ورد سته ئی په نارو یا ګرنګو کښی د رنجو رنګ معلوم سو بیا هم روژه نه ماتیږی او مکروه هم نه ده ـ (مراقی الفلاح ص۳۶۱)

(۵) مسئله :ـ د بنځی او خاوند (میړه) یو ځای بیدیدل او یو بل ته لاس ور وړل، محبت کول د غه ټول روادی ـ لیکن که د ځوانی د وندی جوش وی چه د د غه خبرو څخه د جماع کولو بیره وه باید د اسی و نه کړی مکروه دی (شرح التنویر ص۱۸۱ د وهم پتوک)

(۶) مسئله :ـ ستوني ته مچ یا غوماشه مثلاً ولاړه یا خود بخود ه د د د او ګرځ ور غلی نو روژه نه ماتیږی البته که ئی قصداً د اسی وکړه نو بیا ئی روژه ماتیږی ـ (شرح التنویر ص۱۵۶ د وهم پتوک)

(۷) مسئله :ـ لوبان، اګربتی یا بل شی ئی د د وداوی او خپل خان ته ئی نژدی کښیښو وی سون ئی کړی نو روژه ئی ماته ده ـ د غه رنګه د چلم په څکولو سړه

هم روژه ماتیږی البته دد غنمو دود څخه ماسیونی عطر-کیوړه یعنی عرق دیو خاص بوټی چه خوشبویه عرق دی-نانا، شینشوبی، ګل ګلاب، ګل اوداسی نور اود خوشبویی بویول چه په هغه کښی دود نه وی روا اوجائز دی- شرح التنویر صـ۱۴۶ دوهم ټوک)

(۸) مسئله:- په غاښو کښی د غوښی یوریښه ښنه سوه یاد ښخود یا پتاټی زړه ښنه وه نوئ په لرګی یا بل شی د غاښو څخه جلاکړه دئ خوړه لیکن د خولی څخه ئ دباندی نه ده را ایستلی یا پخپله ستوئ نه ولاړه نو وګوړه که د ښخود د دانی څخه کمه وی نو روژه نه په ماتیږی که د ښخود دانی څخه زیاته یا ورسره برابره وه نو روژه په ماتیږی-که ئ د خولی څخه راوایستل او بیا ئ وخوړله نو په هر حال کښی روژه ماته ده که د ښخود دانی سره برابره وی یا کمه وی د دواړو حکم یودی. (شرح التنویر صـ۱۷۹ دوهم ټوک)

(۹) مسئله:- په ناړو تیرولو سره روژه نه ماتیږی که هرخوندی وی- (طحطاوی شرح المراقی صـ۳۶۲)

(۱۰) مسئله:-که ئ پان وخواړی ښنه ئ په خوله او به ولغړولی او غرغره ئ کړی خوله ئ ښنه صافه کړه لیکن د ناړو سورالی ئ نه وو تلی هیڅ پروا نه لری روژه ئ صحیح ده- (شرح التنویر صـ۱۵۷ دوهم ټوک)

(۱۱) مسئله:- د شپی د غسل کولو ضرورت ورته پیښ سو مګر غسل ئ نه و کړی دورځی ئ غسل وکړی روژه ئ صحیح ده بلکه که ټوله ورځ غسل ونه کړی هم ئ روژه صحیح ده- البته د دغه ګناه جلا ده. (شرح التنویر صـ۱۶۱ دوهم ټوک)

(۱۲) مسئله:- پزه ئ په دوندی زور سره د څان وخواته سون کړه چه څه په پزه کښی وه هغه ستوئ نه ولاړه- د غه رنګه ئ چه کوم هغه ناړی یا ګرد وریږی د خولی دی د څان وخواته کش کړی چه تیر ئ کړی په دغه دواړو صورتونو کښی روژه نه ماتیږی- (مراقی الفلاح علی حاشیه الطحطاوی صـ۳۶۲

(۱۳) مسئله:- په خوله کښی ئ پان کښیښنو وی بیده سوه تر سهاره کیدو وروسته د خوبه را کښیښته روژه ئ ماته ده قضا دی راوړی کفاره نسته- (شرح التنویر ورد المحتار صـ۱۶۲ دوهم ټوک)

(۱۴) مسئله:- په خوله ئې او به لغړولی په دی وخت کښی ئې او به ستوني ته ولاړی روژه ئې نه ښکم پیاد وه نو روژه ئې ماتیږی بیرته دی د دغی روژی قضا راوړی لیکن کفاره نشته۔ (شرح التنویر و رد المحتار ص۱۶۲ دوهم ټوک)

(۱۵) مسئله:- که خود بخوده بی اختیاره ئې وهل سو نو روژه ئې نه ماتیږی که چیرته وی یالبته البته که ئې پخپله قصداً ئې وهلی وی هم په دې خوله سره وی نو روژه ئې ماته سوه او که دغه ئې لږ وی که څه هم په خپل اختیار سره قصداً ئې وهلی روژه ئې نه ماتیږی۔ (شرح التنویر ص۱۷۸ دوهم ټوک)

(۱۶) مسئله:- لږ ئې راغلی او بیرته پخپله ستوني ته ولاړی بیا هم روژه نه ماتیږی اوکه ئې قصداً ستوني ته راوګرزاوی روژه ئې ماته ده۔ (شرح التنویر ص۱۷۸ دوهم ټوک)

(۱۷) مسئله:- یو چاپیره یاد اوسپنی ټوته یا بل داسی شی چه نه خوړل کیږی تیرکړی او نه ئې په شکل د دوا ئې خلګ خوری وخواړی نو روژه ئې ماتیږی لیکن پرده باندی کفاره نه واجبیږی که ئې داسی شی وخواړی یا وچیبنی چه هغه خلګ خوری یا چیبنی یا ئې داسی شی خوړلی وی چه هغه خلګ دغسی نه خوری لیکن د دوا په غرض ئې خوری د ضرورت په وخت کښی۔ نو روژه ئې ماتیږی قضا اوکفاره دواړه واجبیږی هم به قضا راوړی او هم به کفاره ادا کوی۔ (شرح البدایه ص۲۰۱ اول ټوک)

(۱۸) مسئله:- که ئې د نرسره نژدیکت وکړی نو روژه ئې ماته ده قضا اوکفاره واجب دی هغه وخت چه د نرد ذکر سره د ښځې په فرج کښی د ننه اوښتې سی دوهم قضا اوکفاره دواړه واجبیږی۔ برابره خبره ده که ئې منی ووزی اوکه نه ووزی۔ (شرح البدایة ص۲۰۱ اول ټوک وشرح التنویر ص۱۷۲ دوهم ټوک)

(۱۹) مسئله:- که سړی د ښځې دلویو بولو په ځای کښی خپل ذکر کښیښوی او سړی ئې ورد ننه سو نو د سړی اوښتې د دواړو روژه ماته ده قضا اوکفاره پر دواړو واجب ده۔ (شرح البدایة ص۲۰۱ اول ټوک وشرح التنویر ص۱۷۲ دوهم ټوک)

(۲۰) مسئله:- د روژی په ماتولو سره کفاره هغه وخت لازمیږی چه د روژی په میاشت کښی روژه ماته کړی او د روژی د میاشتی څخه ماسیوی دبلی روژی په ماتولو سره کفاره نه واجبیږی که څه هم د رمضان قضائی روژه ماته

کړی البته که ئې درونړی د میاشتی د فرض روژی نیت د شپی څخه نه ووکړی نو ئې سهار روژه نه وینیو ه کفاره نسته یا ئې روژه ماته کړه وروسته په داغه ورځ حیض ورغلی هم کفاره نسته۔ (شرح البدایة ص۲۰۲ و شرح التنویر ص۱۷۹ اول ټوک)

(۲۱) مسئله یوچا په روژه کښی په پزه نسوار سوپ کړه یا ئې په غوږ کښی تیل واچول یا ئې جلابی شی دامالی په طریقه سره استعمال کړی او د چښلو دوائی نه وچیله بیا هم روژه ئې ماته ده لیکن صرف قضا واجبه ده او کفاره واجبه نه ده۔ که ئې په غوږ کښی او به واچولی روژه ئې نه ماتیږی۔ (شرح البدایة ص۲۰۲ ج۱)

(۲۲) مسئله:۔ په روژه کښی د بولو په لار کښی یو دوائی ایښودل یا تیل یا بل شی پکښی اچول روانه دی که چا دوا پکښی کښیښوو ه نو روژه ئې ماته ده۔ قضا واجب ده کفاره نه واجبیږی۔ (شرح التنویر ص۱۶۱ دوهم ټوک)

(۲۳) مسئله:۔ دخه ضرورت په وجه "دائی" د بښځی د رونړو بولو په حای کښی گوته ورد ننه کړه او یا دی خپله گوته ورد ننه کړه نو د ټولی گوتی یا لږ حصی د گوتی تر راایستلو وروسته ئې بیا ورد ننه کړه نو روژه ئې ماتیږی لیکن کفاره واجب نه ده صرف قضا واجب ده او که ئې تر راایستلو وروسته ورد ننه نه کړه نو روژه ئې نه ماتیږی لیکن که د اول وار د ننه کید و څخه گوته په او بو یا بل شی لنده وه نو د دغه اول وار څخه ئې روژه ماتیږی۔ (فتاوی هندیه ص۱۳۱ اول ټوک و شرح التنویر ص۱۵۸ ج۱)

(۲۴) مسئله:۔ خوله ئې وینی سوه نو وینی ئې د نارو سره تیری کړی روژه ئې ماته ده۔ لیکن که وینی تر نارو کمی وی او د وینو خوند په ستونی کښی نه معلومیږی بیا ئې روژه نه ماتیږی۔ (فتاوی هندیة ص۱۳۱ اول ټوک و شرح التنویر ص۱۵۷ اول ټوک)

(۲۵) مسئله:۔ که ئې په ژبه سره یوشی وڅکی او بیرته ئې نارې ته وکړی۔ نو روژه ئې نه ماتیږی۔ لیکن بیله ضرورته داسی کول مکروه دی۔ لیکن که د چا خاوند ډیر بد طبیعته وی او دا بیره وی چه که په پوخت کښی مالگه او به برابر نه وی نو می وهی او ټکوی۔ نو دی د پاره د مالگی څکل روا دی مکروه نه دی۔ (فتاوی هندیة ص۱۲۸ اول ټوک و رد المحتار ص۱۲۹ دوهم ټوک)

(۲۶) مسئله:۔ په خوله چاء یوشی وژوبی او بیا ئې د خورک د پاره وکوچنی ته ورکړی داسی کول مکروه دی او که چیری مجبوری او ناچاری وی بیا مکروه

له داحکم د نښو د پاره دی او که سړی د ذکر په سوکی یعنی په سوری کی تیل یا بل شی واچوی روژه ئې نه ماتیږی ۱۲ منه

نه دی۔ (درمختار ص۱۷۹ د دهم ټوک)

(۲۷) مسئله:۔ کوله یا سکاره حُبیبُبل[1] او په غاښو پوری مښل او د غاښونو صفا کیدو د پاره په غاښو پوری پوه د مښل مکروه دی که د دغو څخه څه ستونزه نه درسی نو روژه ئی ماتیږی او په مسواک سره غاښونه پاکول روا دی برابره خبره ده که وچ مسواک دی یا تازه او لوند مسواک دی اوس د درختی څخه پری سوی دی که د نیب د لرګی یا څوز مسواک وی او د دغه ترې خوالی په خوله کی معلومیږی بیا هم روژه ئی مکروه نه ده۔ فتاوی هندیة ص۱۲۸ اول ټوک و شرح التنویر ص۱۸۰ دوهم ټوک)

(۲۸) مسئله:۔ یوه ښځه بیده وه نو یوسړی نژدیکت د سره وکړی چه دا په ځان خبره نه وه یا بی هوښه وه نو د نژدیکت د سره وکړی روژه ئی ماتیږی فقط قضا واجب ده او کفاره نه واجیږی او پر سړی باندی کفاره هم واجیږی شرح التنویر ص۱۶۷ و رد المحتار)

(۲۹) مسئله:۔ یوچا په هیره سره روژه وخوړله نو ئی دا ګمان وکړی چه روژه ئی ماته سوه د دغه سبب ئی بیا قصدًا خوراک وکړی نو روژه ئی ماته سوه فقط قضا واجب ده کفاره نه واجیږی۔ فتاوی هندیة ص۱۳۲ لومړی ټوک و درمختار ص۱۶۳ دوهم ټوک)

(۳۰) مسئله:۔ که چاته ئی راغلی وئی وایی نو بیائی دا ګمان وکړی چه روژه ئی ماته سوه پر دغه ګمان ئی بیا په قصد سره ډوډی یا بل څه وخوړی نو هم قضا واجب ده کفاره نشته۔ (فتاوی هندیة ص۱۳۲ اول ټوک)

(۳۱) مسئله:۔ که ئی ستړګی تورې کړی یا ئی رګ خلاص کړی یا ئی مخ یا نور بدن په روغنو غوړ کړی بیائی ګمان وکړی چه روژه ئی ماته ده نو قصدًا ئی خوراک وکړی نو قضا او کفاره دواړه واجب دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۳۲ ج۱)

(۳۲) مسئله:۔ د روژی په میاشت کښی که د چا روژه اتفاقًا ماته سوه تر روژی مایتید و د رسته هم څه خوړل او چښل ښه نه دی ټوله ورځ د روژه دار په شان تیرول واجب دی۔ (مراقی الفلاح علی حاشیة الطحطاوی ص۳۹۵)

[1] پردی مسئله اشکال وارد سویدی او د اشکال جواب په امداد الفتاوی مبوب دوهم جلد ص۱۵ کښی درج سویدی ۱۲ تصحیح الاغلاط ۲ چه ددی مسئلی تائید په لیږی ۱۲ شبیر علی

(۳۴) مسئله:- چادر دوڑی په میاشت کښی دسره د روڑی نیت و نه کړی د داغه سببه ئ خوړل چښل کول نو پردې کفاره واجب نه دی کفاره پرهغی واجب دی چه د روڑی نیت وکړی او بیا ئ ماته کړی. (شرح البدایه ص۲۰۶ ج۱ و درمختار ص۱۶۵ ج۲)

باب ۲۰ دپیشلمی اوروڑمات بیان اتم

(۱) مسئله:- پیشلمی کول سنت دی که وبزی نه وی خه ئ خواته نه کیدی او د وړې ئ نه خوړی نو لږ تر لږه دوه ئ درلی دانی خوړ ماډی دی وخوری یا دی بل شی لږ یا ډیر وخوری که هیڅ شی هم نه خوری لږ خه او به دی وچښی (البحرالرائق ص۲۹۲ دوهم توک و نسائی ص۳۰۵ اول توک)

(۲) مسئله:- که چا د پیشلمی پرځای پان وخواړی هم ئ پیشلمی دسو- او د پیشلمی ثواب ئ پیدا کړی (یا ئ یو تر خه پیاله د چای، وخوړله هم ئ پیشلمی دسو) (البحرالرائق ص۲۹۲ دوهم توک و نسائی ص۳۰۵ اول توک)

(۳) مسئله:- پیشلمی چه هرڅوندی کیدای سی باید ناوخته ئ وکړی لیکن دوندی ناوخته دی نه کوی چه سهار کیدونکی وی او روڑه شکمنه سی او ناوخته پیشلمی ثواب لری. (مراقی الفلاح علی حاشیة الطحطاوی ص۳۹۷)

(۴) مسئله:- که ئ پیشلمی ډیر وخته وکړی - مگر وروسته ئ پان، تمباکو چای او او به تر هغه وخته استعمالول چه سهار ته لږ گړی پاته وی په خوله ئ او به وگرځولی چه د دغو شیانو اثر او خوند ولاړی او د غه هم د ناوخته پیشلمی حکم لری ثواب ورکول کیږی دهغه پیشلمی چه ناوخته وسی. (شرح البدایه ص۲۰۶ لومړی توک) و در مختار ص۱۶۵ دوهم توک)

(۵) مسئله:- که په پیشلمی دخوړاک د پاره په کور کښی یو هم راوښی نه سو ټول بیده سوی وه نو بی پیشلمی سهار روڑه و نیسه د پیشلمی د پاته کیدو خخه سهار روڑه نه نیول ډیره د بی همتی خبره ده او لویه گناه ده - هذه المسئلة ظاهرة لا تحتاج الی دلیل.

(۶) مسئله:- تر خو چه سهار سوی نه وی او د سهار وخت راغلی نه وی چه د سهار د وخت بیان د لمنځو نو په وختونو کښی تیر سوید ی پیشلمی کول صحیح دی - او تر دغه وروسته بیا صحیح نه دی - شرح البدایة ص۲۰۷ اول توک و

ردالمحتار ص۱۸۳ لومړی توک)

(۷) مسئله:- یو څوک ناوخته راویښ سوه اود اخیال ئې وکړ چه اوس خو لا شپه ده یرد هغه ګمان ئې پیشلمی وکړی بیا ورته معلومه سوه چه تر سهار وروسته می پیشلمی کړیدی نو روژه ئې صحیح نه ده قضا دی راوړی کفاره واجب نه ده لیکن بیا دی هم د وړځې نه څه شی خوړی او نه چینی د روژه دار په شان دی وړځ تیره کړی. د هغه رنګه که ئې د لمر لویدو په ګمان روژه ماته کړه هغه لمر نه وُ لویدلی معلوم سو یو ځای په اسمان کی نو روژه ئې ماته ده د دی روژی قضا دی راوړی او کفاره واجب نه ده او اوس چه تر څو پوری لمر لویدلی نه وی خوړل او چیښل روا نه دی. (کنز علی حاشیة البحر ص۲۹۱ ج ۲)

(۸) مسئله:- د وند ناوخته وو چه د سهار بیره وه نو اوس خوراک کول مکروه دی که ئې په داسی وخت کښی څه خورک یا چیښل وکړه نو بد ئې وکړه ګنهګاره ده بیا که معلومه سوه چه د هغه وخت سهار وُ نو بیا دی قضا راوړی. لیکن که هیڅ نه سوه معلوم د هغه شک پاته وُ نو قضا راوړل واجب نه دی. لیکن د احتیاط خبره داده چه قضا راوړی. (شرح البدایة ص۲۰۷ اول توک ورد المحتار ص۱۸۳ اول توک وکنز علی حاشیة البحر ص۲۹۱ دوهم توک)

(۹) مسئله:- مستحب او ښه کار دادی چه یقیناً لمر ولویږی نو سمدستی دی روژه ماته کړی ناوخته روژه ماتول مکروه ده (شرح التنویر ورد المحتار ص۱۸۳ ج۱)

(۱۰) مسئله:- د اوریځی په وړځ یو څه ناوخته روژه ماته کړه چه ښه دی یقین نه دی چه لمر به لویدلی وی نو بیا روژه ماته کړه صرف پر ساعت اود غسی نورو شیانو باندی هیڅ اعتبار مه کوه تر څو چه ستاد زړه یقین نه وی څکه چه کیدای سی چه ساعت به غلط سوی وی بلکه که یو څوک اذان هم وکړی لیکن د ما ښام کیدو په وخت کی شک دی نو هم روژه ماتول ښه نه ده (شرح التنویر ورد المحتار ص۱۸۳ لومړی توک)

(۱۱) مسئله:- په خور ما سره روژه ماتول ښه ده یا په بل خوا به شی سره که وی ماتول ښه دی اوکه د هغه نه وی نو په اوبو سره دی روژه ماته کړی. بعضی بنځی اونارینه په مالګه سره روژه ماتوی او د هغه ثواب ټولی د هغه غلطه عقیده ده - زیلعی ص۴۴۳ لومړی توک)

(۱۲) مسئله:- تر هغه وخته چه د لمر په لوید وکښی شک وی روژه ماتول روا نه ده- (شرح البدایة ص۲۰۸ لومړی ټوک)

نهم | دکفارې بیان | باب

(۱) مسئله:- د رمضان شریف د روژې دماتولو کفاره داده چه دوی میاشتی پرله پسی روژې ونیسی- جلا جلا- نیول ئې روا نه دی که په ما بین کښی د یو سببه ئې ټوټه- دوی روژې ونه نیولی نو بیرته دی دسره دوی میاشتی روژې ونیسی لیکن کومې روژې چه په سبب د حیض پاته سی نو دده دی د پاته کیدو څخه په کفاره کښی تاوان نه راځی یعنی که په سبب د حیض د غه شپیته روژې پرله پسی ونه نیول سی پروا نه لری لیکن تر پاکیدو وروسته به فوراً روژې شروع کوی چه شپیته روژې ئې پوره سی- (البحرالرائق ص۲۷۷ ج ۲)

(۲) مسئله:- که د نفاس په وجه په ما بین کی روژې پاته سی بیرته به ئې دنوی سره نیسی کفاره ئې نه صحیح کیږی- شرح التنویر ص۹۵۷ دوهم ټوک باب کفارة الظهار ۳

(۳) مسئله:- که د مریضی په وجه په ما بین کښی روژې پاته سوی پرلپسی ئې نه ونیولی نو هم کفاره نه ده صحیح بیرته به ئې دسره راګرزوی هغه وخت چه دا ښه سی- (شرح التنویر ص۹۵۷ دوهم ټوک باب کفارة الظهار)

(۴) مسئله:- که په ما بین کښی د رمضان (روژې مبارکې) میاشت راغله هم کفاره نه صحیح کیږی- (شرح التنویر ص۹۵۷ اول ټوک)

(۵) مسئله:- که څوک د روژې دنیولو طاقت نه لری نو شپیته مسکینانو ته دی سهار او ماښام ډوډۍ ورکوی په دامی شان چه ښه مارغه[ع] سی او یوه ګوله ډوډۍ ئې خوا ته نه کیږی- (شرح التنویر ص۶۵۹ دوهم ټوک)

(۶) مسئله:- په دغه مسکینانو کښی که بعضی بالکل واړه کوچنیان وی نو روا نه دی د دوی پرځای به بیرته نور مسکینانو ته ډوډۍ ورکوی- (رد المحتار ص۶۵۹ دوهم ټوک)

(۷) مسئله:- که د غنمو ډوډی وی نو که د چه وی ترکاری وغیره ورسره نه وی هم صحیح ده او که د اوریشو، باجری، جوارو ډوډی وی نو د دغه سره

ع یعنی چریځ لوبه وی پاته نه سی ۱۲

څخه دال یا بل شی باید ورکړی چه ډوډی ورسره وخوړی. (فتاوی هندیه ص۱۵۱ ج۱)

(۸) مسئله:- که ډوډی ورنه کړی بلکه داغسی شپیتو مسکینانو ته غله غنم یا اور بشی مثلاً ورکړی هم روا دی هرهر مسکین ته به دوه ندی اندازه ورکوی لکه سرسایه چه ورکول کیږی. دسرسایی بیان د زکوٰة په باب کښی راځی انشاء الله تعالیٰ - (فتاوی هندیه ص۱۵۱ دوهم توک)

(۹) مسئله:- که دداغه قدرغلی قیمت ورکړی هم روادی. (فتاوی هندیة ص۱۵۱ ج۱)

(۱۰) مسئله:- که یو چابل چاته وویل چه زما طرف څخه کفاره اداکړه او شپیتو مسکینانو ته ډوډی ورکړه او ده دده طرفه څخه ډوډی ورکړه یا ئی اومه غله ورکړه نو کفاره اداکیږی اوکه ددې بی وینا یو چا ددې طرفه څخه ورکړه نو کفاره صحیح نه سوه - (شرح التنویر وردالمحتار ص۹۶۱ دوهم توک).

(۱۱) مسئله:- که ئی یوه مسکین ته ترشپیتو ورځو پوری سهار اوماښام ډوډی ورکوله یا ئی ترشپیتو ورځو پوری اومه غله یا قیمت داوی غلی ورکاوی بیاهم کفاره صحیح سوه - (فتاوی هندیة ص۱۵۱ اول جلد وص۹۶ جلد دوهم شرح التنویر)

(۱۲) مسئله:- که ئی شپیته ورځی پرله پسی ډوډی ورنه کړه بلکه په مابین کی یو څو ورځی پاته سوه - هیڅ پروا نه کوی داهم صحیح ده - مراقی ص۳۶۷ وشرح التنویر ص۳۶۳ دوهم توک)

(۱۳) مسئله:- که ئی د شپیتو ورځو غلّه حساب کړه یوه مسکین ته ئی پریوه ځای په یوه ورځ ورکړه نو صحیح نه ده - دغه رنګه که ئی یوه فقیر ته په یوه ورځ کښی په شپیته واړه سره ورکړی دیوی ورځی دا اداسوه یوکم شپیته مسکینانو ته به ئی بیر ته ورکوی دغه رنګه د قیمت ورکولو هم داغه حکم دی یعنی په یوه ورځ کښی یوه مسکین ته دیوی روځی ترکفاری زیات ورکول صحیح نه دی - فتاوی هندیه ص۱۵۱ اول توک شرح التنویر ص۹۶ دوهم توک)

(۱۴) مسئله:- که ئی یو فقیر ته دسرسایی ترمقداره کمه ورکړه نو کفاره ئی نه اداکیږی. (البحرالرائق ص۱۰۸ څلورم توک)

(۱۵) مسئله:- که ئی دیوی رمضان (روژی) د میاشتی دوٰی (۲) درٰی (۳) روژی مانی

کړی دی نو یوه کفاره واجب ده۔ البته که دغه دواړی روژی دیوی رمضان دمیاشتی څخه نوی نو جلا جلا کفاره به ورکوی۔ (شرح التنویر ورد المحتار ص۱۷ ج۲)

لسم باب — دهغو شیانو بیان چه روژه ماتول روا کوی

(۱) مسئله:۔ نابیره داسی ناجوړه سوه که روژه ماته نه کړی نو به مړه سی یا به ئې مریضی پیره زیاته سی نو دروژی ماتول ورته روا دی مثلاً دفعتًا ئې په نس کښی داسی درد پیدا سی چه پیره بی طاقته او بی تابه سوه یا مار وخوړه نو دوا خوړل او روژه ماتول صحیح ده که داسی داسی تږی سوه چه د مرګ بیره ئې وه نو هم روژه ماتول صحیح ده۔ (فتاوی هندیه ص۱۳۳ اول ټوک او مراقی الفلاح علی حاشیه الطحطاوی ص۳۸۴)

(۲) مسئله:۔ حامله او برالبی بنځې ته یو داسی قصه ورپیښه سوه چه د هغې څخه ئې د خپل ځان یا خپل کوچنی د مرګ خطره وه نو روژه ماتول روا دی (فتاوی هندیة ص۱۳۳ لومړی ټوک)

(۳) مسئله دپه خت اوکتنځ د پخولو په سبب بی اندازی تږی سوه او دومره بیتابه او بی طاقته سوه چه د ځان پر مرګ و بیریده نو د دی د پاره روژه ماتول روا دی۔ لیکن که دی پخپله قصدًا دومره کار وکړی چه د دغه څخه داسی حال پیدا سو۔ نو ګنهګار ده۔ (طحطاوی ص۳۹۸ و شرح التنویر ص۱۷۶ لومړی ټوک)

یولسم باب — دهغو شیانو بیان چه روژه نه نیول روا کوی

(۱) مسئله:۔ که داسی مریضی وی چه روژه نیول تاوان کوی او داسی بیره وی که روژه ونیسی نو مریضی ئې پیریږی یا په دیر وخت سنه کیږی نو روژه دی نه نیسی چه هرکله سنه سی بیادی ئې قضا اوړی لیکن فقط په خپل زړه کښی د داسی خیال کولو څخه روژه پریښودل صحیح نه ده بلکه چه یو دیندار ډاکټر اوسلمان حکیم طبیب ورته ووایی چه تاته روژه نیول تاوان کوی بیا نو باید چه

پریښودل سی ۔ (رد المحتار و شرح التنویر ص۱۸۵ و ص۱۸۶)

(۲) مسئله :۔ که حکیم یا ډاکټر کافر وی یا د شریعت پابند نه وی نو د ده د خبری اعتبار نشته فقط د ده د دوینا په سبب دی روژه نه پریږدی ۔ (رد المحتار ص۱۸۷ د دوهم ټوک)

(۳) مسئله :۔ که حکیم او طبیب څه نه وی ورته ویلی لیکن پخپله تجربه کار ده وی او یو څه داسی علامی ورته معلومی سوی چه د هغه د وجهی ئی د یقین سو چه روژه تاوان راته کوی نو د ی روژه نه نیسی اوکه تجربه کار نه وه د مریضی حال نه ورته معلومیدی نو فقط خیال معتبر نه دی اوکه بیله ویناد دیندار ده حکیم او بیله خپلی تجربی صرف پرخپل خیال اوګڼی باندی د رمضان شریف روژه ماتوی نو کفاره واجب ده اوکه د سره روژه نه نیسی بیا ګنهګاره ده ۔ (رد المحتار و شرح التنویر ص۱۸۶ و ص۱۸۵)

(۴) مسئله :۔ که مریضی ښه سوه لیکن کمزوری پاته وه او دائ غالبه ګمان دی چه که ئی روژه و نیوه نو بیرته مریضه کیږم نو روژه خوړل روا ده ۔ (رد المحتار و شرح التنویر ص۱۸۵ و ص۱۸۶)

(۵) مسئله :۔ که څوک په مسافری کښی وی نو ده ته روژه نه نیول روا ده بیا دی ئ قضا راوړی او د مسافری معنیٰ هغه ده چه د هغی بیان د لمانځه په ځای کښی تیر سو یعنی د دری مزلو د تګ اراده ئ وی ۔ (شرح التنویر ص۱۸۸ دوهم جلد)

(۶) مسئله :۔ په مسافری کښی که د روژی په وجه تکلیف نه پیښیدی مثلاً په توره ګاډی کښی سپر ده او ډاخیال ئ دی چه ترمابنام پوری کور ته رسیږم یا هر څه د راحت او آرام سامان ورسره سته نو په داسی وخت کښی په سفر کښی روژه نیول ښه ده او که روژه نه ونیسی بلکه قضا ئ کړی بیا هم ګناه نه ده ۔ لیکن د رمضان شریف د روژی چه کوم فضیلت او بهتری ده د هغه څخه محرومه پاته سوه اوکه د روژی د سببه په لار کښی تکلیف او پریشانی وی نو په داسی وخت کی روژه خوړل ښه ده ۔ شرح التنویر ص۱۸۸ دوهم ټوک)

(۷) مسئله :۔ که د مریضی څخه ښه نه سوه په داغه مریضی کښی مړه سوه یا تر او سه کور ته نه ده را رسیدلی په مسافری کښی مړه سوه نو هر څوندی د روژی چه ئ په مریضی کښی یا په مسافری کښی خوړلی وی په اخرت کښی د

غه سوال نه خندی کیږی۔ ځکه د قضا اوړلو خودی نه وخت نه سو پیدا۔
ح التنویر ص۱۸۸ وص۱۸۹)

(۱) مسئله:۔ که ئ په مریضی کښی لس ورځی روژی قضا سوی وی بیا پنځه
رځی بنه وه لیکن قضا سوی روژی ئ نه دنیولی۔ پنځه روژی خو معاف دی
خط ذ پنځو روژو پرته قضا اوړلو په آخرت کښی نیول کیږی او که پوره لس(۱۰)
رځی بنه وه نو په آخرت کښی د لسو(۱۰) ورځو سوال خندی کیږی د دغه سببه۔
ه د هرځوندی روژ د سوال خندی کیږی د د هوندی روژو د فدیې
کولو وصیت دی وکړی۔ هغه وخت چه د دی سره مال وی د فدیې بیان
ځ ته راروان دی۔ (شرح التنویر ص۱۸۸ وص۱۸۹)

(۲) مسئله:۔ داغه رنګه که ئ په مسافری کښی روژی خوړلی وی نو بیا کورته
راورسید و درو سته مړه سوه نو هرځوندۍ ورځی چه په کورکښی اوسیدلی او پاتې سوی
ه فقط د هغو ورځو په اندازه سوال خیني کیږی نو دې ته د فدیې وصیت کول
ه کار دی که روژی نژهغو ورځو چه دا درو سته تر مسافری په کورکی ژوندۍ
ته سو یدې نه زیاتی وی نو هغه زیاتی روژی ئ معاف دی۔ (فتاوی هندیه ص۲۳۳ ج۱)

(۳) مسئله:۔ که ئ په لارکی نیت د اقامت وکړی یعنی پنځلس ورځی یا تر دغه
یات ئ په لارکی د اوسیدو او پاته کیدو نیت وکړی نو اوس روژه پریښوول روا نه
ه ځکه چه په شریعت کښی اوس مسافره نه ده۔ البته که په هغه ځای کښی تر
ځلس ورځی کم د اوسیدو او پاته کیدو نیت وکړی نو روژه خوړل روا ده۔ شرح
نویر ص۱۹۰ دوهم توک وشامی)

(۴) مسئله:۔ حامله (عیالداره) یا شیدی ورکوونکی بنځه که پرخپل ځان یا خپل
چنی باندی بیریده نو روژه دی نه نیسی بیا دی قضا اوړی۔ لکن د شیدو ورکونکی
ئ خاوند که مالدار وی۔ دایی۔ ئ مقرره ولای سوه چه دغه کوچنی ته
سیدی ورکړی بیا دی د پاره روژه خوړل او ماتول ناروا کار دی روژه به
سی۔ لیکن که کوچنی د بل چا شیدی نه زوندلی نو بیا دی د پاره روژه خوړل
وا ده۔ (رد المحتار ص۱۸۶ دوهم توک)

(۵) مسئله:۔ دایئ۔ د شیدو ورکولو نوکری کوله نو رمضان شریف را غله
د روژی نیولو څخه دکوچنی د مرګ خطره ده نو د دایئ د پاره هم روژه

خوړل رواد ه ـ (رد المحتار ص۱۸۶ د وهم پتوک)

(۱۳) مسئله :- ښځې ته حیض ور څخه یا نفاس د کوچنۍ تر پیدا کیدو وروسته ور شروع سو ـ تر څو چه حیض او نفاس وی نو د دی د پاره روژه نیول جائز نه دی ـ (شرح البدایة ص۲۰۷ اول پتوک)

(۱۴) مسئله :- که په شپه کښې پاکه سوه نو دی د سهار روژه نه پریږدی که ئې په شپه کښې غسل و نه کړی بیا دی هم روژه وینسی سهار دی غسل وکړی که تر سهار وروسته پاکه سوه نو تر پاکیدو وروسته د روژې نیت کول صحیح نه دی ـ لیکن څه خوړل او څښل هم سبته نه دی اوس دی نو ټوله ورځ د روژه دار اټو په شان اوسی ـ (شرح البدایه ص۲۰۷ اول پتوک)

(۱۵) مسئله :- د غه رنګه که یو څوک د رمضان مسلمانه سوه یاد ورځې څوانه سوه نو اوس پتوله پاته ورځ دی خوړل او څښل نه کوی او که ئې څه د خوړله نو د د ـ یعنی د رمضان قضا راوړل هم پر نوی مسلمانه او نوی څوانه باندی لازمه ده ـ (شرح البدایه ص۲۰۵ اول پتوک)

(۱۶) مسئله :- په مسافری کی ئې د روژې نیولو اراده کړه لیکن یو ساعت مخکی تر عزمی خیل کور ته راورسیده یا په د غسی وخت کښې ئې د پنځلس ورځو نیت وکړی چه زه به دلته پنځلس ورځې تیر وم او تر اوسه ئې څه خوړلی او څښلی نه وی نو اوس دی د روژې نیت وکړی ـ (شرح البدایة ص۲۰۵ اول پتوک)

۱۲ دفدیې بیان باب

(۱) مسئله :- څوک چه د دوندی د ژیات عمر وی چه د روژې د نیولو طاقت نه لری یا د دوندی مریض دی چه اوس ئې د جوړیدو او بنه کیدو امید هم نسته نه ئې د روژې نیولو طاقت سته نو روژه دی نه نیسی او د هر روژې په فدیه (بدله) کښې دی یو مسکین ته د سهار سایی برابره غله ورکړی یا سهار او ماښام دی ئې سنه هو ورکړی په شریعت کښې د غه ته فدیه ویل کیږی او که د غلې په بدل کښې د غلې قیمت ورکړی بیا هم صحیح د ه (شرح التنویر ص۱۹۱ دویم پتوک)

(۲) مسئله :- د غه غله او غنم که لږ لږ کړی یعنی د یوې ورځې ئې کړی او د بل

مسکینانو ئی تقسیم کړی هم صحیح دی - (رد المحتار ص۱۹۲ دوهم توک)

(۳) مسئله:- اوبیا هروخت چه ئی کمزوری ولاړه او طاقت منه سوه یا د مریضی څخه بنه سوه نو بیرته به دروژو قضا راوړی او چه کومه فدیه ئی ورکړی وه - د هغه جلا ثواب ورکول کیږی - (فتاوی هندیة ص۱۳۳ اول توک)

(۴) مسئله:- دیوچا څخه چیری روژی قضا سوی وی او د مرګ په وخت کښی ئی وصیت وکړی چه زما د روژو په بدله کښی فدیه ورکړی نو د دی د مال څخه دی ولی او قریب فدیه ورکړی - کفن دفن او قرضونه دی ئی ادا کړی هرڅونه دی مال چه پاته سود هغه د دریمی څخه که ټوله فدیه ادا کیدلای سی نو ورکول ئی پرولی او قریب واجب دی - (شرح التنویر ص۱۸۸ دوهم توک)

(۵) مسئله:- که هغی وصیت و نه کړی مګر ولی (قریب) د خپله خانه د خپل مال څخه فدیه ورکړه بیا دی هم د خدای جل جلاله څخه امید ولری چه شاید قبوله به ئی کړی او د پاته سوو روژو سوال به څنډی وکړی او بیله وصیته د مړی د مال څخه فدیه ورکول روا نه دی د هغه رنګه که فدیه د دریمی حصی د مال څخه زیاته سی نو سړه د دی چه وصیت ئی کړیدی هغه زیاته فدیه ورکول بیله رضا د ټولو وارثانو او میراث خورونکو ناروا دی - لیکن که ټول میراث خواړه په بنه زړه سره رامنی سی نو په دوارو صورتونو کښی فدیه ورکول صحیح دی - لیکن د نابالغ وارث په شریعت کښی هیڅ اعتبار نشته که څه هم اجازت وکړی - بالغ وارث دی خپله حصه جلا کړی د هغه څخه دی فدیه ورکړی - (شرح التنویر ص۱۸۴ دوهم توک)

(۶) مسئله:- که دیوچا څخه لمونځونه قضا سوی وی او هغی وصیت وکړی مړه سوه چه زما د لمونځونو په بدله کښی فدیه ورکړی - د دغه هم داغه حکم دی - (شرح التنویر ص۷۶۶ اول توک)

(۷) مسئله:- د هر وخت د لمانځه دوند ه فدیه ده لکه دیوی روژی فدیه چه ده نو د دغه حساب څخه دیوی ورځی او شپی پنځه فرض اویو وتر د شپږو لمونځونو د طرفه څخه یو چتانګ (پنځه تولی) کم پاؤ کم یو ولس سیره غنم دی په پاکستانی سیر چه یو سیر اتیا تولی کیږی فدیه ورکړی مګر احتیاط یو ره دوولس سیره

سه ګڼه چه په هره ورځ فدیه کښی احتیاط پوره دوه سیره دی مګر د هجدې حصې په صفحه مسئله کی چه د هر ورځی فدیه یو سیر او پنځه تولی کښی احتیاط پوره دوولس سیره کړی دی ۳۲۹

(۹۶۰)

(چه نه سوه شپیته تولی کیږی ورکړی - شرح التنویر ص۱۹۱ دوهم توک

(۸) مسئله:- دیو چا پر ذمه زکوة پاته دی تر اوسه یې ادا کړی نه دی نو د وصیت کولو څخه زکوة ادا کول هم پرواړ ثانو واجب دی ادا که ئې وصیت نه وکړی وارثانو په خپله خوښی سره ددې طرفه څخه زکوة ورکړی نو زکوة نه ادا کیږی - (شرح التنویر ورد المحتار ص۱۹۱ دوهم توک)

(۹) مسئله:- که ولی او قریب د مړی د طرف څخه قضا روژی ونیسی یا د ده د طرف څخه قضا سوی لمنځونه را وګرزوی نو دا صحیح نه دی یعنی د مړی غاړی نه په خلاصیږی - (شرح البدایة ص۲۰۵)

(۱۰) مسئله:- بیله سببه د رمضان شریف روژه پریښوول لویه ګناه ده ښه خبره نه ده دا خیال دی نه کوی چه د دی په عوض کښی به بیا بله روژه ونیسم او قضا یې ئې راورم - حکه چه په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د رمضان شریف دیوی روژی په بدله کښی که ټول کال پرلپسی روژی ونیسی د غوندی ثواب نه ورکول کیږی لکه په رمضان شریف کښی چه دیوی روژی ثواب ورکول کیږی - (جمع الفوائد ص۱۶۰ اول توک)

(۱۱) مسئله:- که یو بد بخته چا روژه نه نیوه نو د نور خلقو په مخکی دی نه څه خوړی او نه دی څه چیښی او نه دی دا ښکاره کوی چه نن زما روژه نه ده حکه چه ګناه کوی او بیا ئې ښکاره کوی هم ګناه ده نو که خلقو ته وایی نو د وچند ګناه سوه یو ګناه د روژی د نه نیولو دوهم ګناه د ښکاره کولو ده - دا خبره چه مشهوره ده چه د خدایه غلا نه کیږی نو د بنده څخه ئې ولی وکړم دا غلطه خبره ده - بلکه چه په سبب دیوه عذر روژه نه نیسی نو هم ئې باید د ټولو په مخ کښی ونه خوړی - (رد المحتار ص۱۷۱ اول توک)

(۱۲) مسئله:- چه هلک یا انجلی د روژی نیولو لائق سی یعنی روژه نیولای سی نو د وی ته هم د روژی نیولو حکم ورکړی چه د لسو کالو سی که ئې نه نیوه نو باید وو هل سی او روژه په ډنیول سی که ټولی روژی نه سی نیولای - هغونه دی ونیسی چه څوند ی نیولای سی - (شرح التنویر ص۱۷۲ دوهم توک)

(۱۳) مسئله:- که نابالغ هلک یا انجیلی روژه ونیسی بیرته ئی ماته کړی نو قضا راوړل نشته لیکن که ئی دلماخځه نیت وکړی بیرته ئی پریښو وی نو دی راوګرزوی۔(ردالمحتار ص۱۷۲ دوهم ټوک وشرح البدایه ص۲۰۵ اول ټوک)

۱۳ داعتکاف بیان باب

(۱) د روژی مبارکی د شلمی نیټی د ختمید وخځه لږ مخکی بیا د روژی مبارکی تر نه ویشتمی یا دیرشمی یعنی ترهغه نیټې پورې چه د کوچنی اختر میاشت لیدل کیږی د دغې نیټې د ورځې تر ختمید و پورې د خپل کور په هغه ځای کښی چه د لماخځه د پاره ئی مقرر کړی وی پرداغه ځای په پابندی سره کښینستل ودغه ته اعتکاف ویل کیږی۔(شرح التنویر و ردالمحتار ص۲۰۶ دوهم ټوک) د دغه اعتکاف ډیرلوی ثواب دی که اعتکاف شروع کړی نو فقط د ورځ او لویو(غټو) بولو د پاره د خپلو لوڅبنلو د مجبوری په وجه د دغه ځایه څخه ولاړیدل صحیح دی۔(مراقی الفلاح علی حاشیة الطحطاوی ص۳۸۳) که د خورک او څښلو د برابرولو د پاره یل څوک وو نو د دغه د پاره دی هم نه ولاړیږی۔شرح التنویر و ردالمحتار ص۲۱۶ دوهم ټوک) هرو خت دی پرداغه ځای اوسیږی اوپرداغه ځای دی بیدیږی اوبنه دا دی چه بیکاره دی نه کښینی د قرآن شریف تلاوت (وظیفه) دی کوی۔نفلونه اوتسبیحات چه هرڅوندی کولای سی کوی دی۔(شرح التنویر ص۲۱۷ دوهم ټوک) که حیض یا نفاس ورته ورغلی نو اعتکاف دی پریږدی په دغه کښی صحیح نه دی او په اعتکاف کښی د نارینه سره جماع او نور اختلاط لاس سره لګول ټوله حرام دی۔ شرح التنویر ص۲۰۸ دوهم ټوک ومراقی الفلاح ص۳۸۴)

۱۴ دزکوٰة بیان باب

د چاسره چه مال وی او د هغه زکوٰة نه باسی په نزد د خدای ډیره ګنهګاره ده د قیامت په ورځ پردی باندی به لوی عذاب وی رسول الله صلی الله علیه



روژه نیول هم ضروری ده ۱۲

دسم فرمائیلی دی د هر چا سره چه سره او سپین زر وی اوزکوة ئی نه ورکوی نو د قیامت په ورځ به د دغه څخه داور تختی جوړی سی بیا دغه د دوزخ په اور کښی گرمی کړل سی نو د ده د داړه بغلو نه، تندی او شا به په داغل کیږی او چه یخی سی بیا به گرم کړل سی۔ (مشکوة شریف ص۱۵۵ مجتبائی جدید)

او نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه هر هغه چا ته چه الله پاک مال ورکړی وی اوزکوة ئی نه وی اداکړی نو د قیامت په ورځ د ده د مال څخه یو غټ مار جوړ یږی چه د یر زهرناکه مار به وی او د د یر و زهرو د سبیه به ئی پر مار باندی ورپښتان هم نه وی پک به وی۔ نو دغه مار به د ده په غاړه کښی ورتاو او د پیچل سی او د ده د داړی زانی به ورچیچی او ورته وایی به زه ستامال یم زه ستا خزانه یم۔ (روایت کړید ی بخاری۔ مشکوة مجتبائی ص۱۵۴)

د اخوندی سخت عذاب دی الله پاک دی امان څندی راکړی د دا سی عذاب څوک طاقت راوړای سی د دنیا د لږ طمعی په بدله کښی د دوندی غم او تکلیف پر خان تیرول د یر ه د بی عقلی خبره ده د الله پاک ورکړه سوی دنیا د خدای پاک په لارکښی نه ورکول څونده بی ځایه خبره ده۔

(۱) مسئله:۔ د چا سره چه دوپنځوس نیمی (۲½) تولی سپین زر یا اوده نیمی ۷½ تولی سرزر وی او تریوه کاله هم باقی وی نو د کال د تیریدو روسته د دغو زکوة ورکول واجب دی که تر دغه کم وی بیا زکوة واجب نه دی اوکه تر دغه زیات وی بیا زکوة واجب دی۔ (شرح البدایة ص۱۷۶ اول ټوک و شرح التنویر ص۴۳ دوهم ټوک)

(۲) مسئله:۔ دیو چا سره اته تولی سره زر خلور یا شپږ میاشتی وه بیا لږ سوه او تر دوو درې میاشتو روسته بیا پوره سوه بیا هم زکوة ورکول واجب دی۔ غرض دادی چه د کال په اول او اخیر کښی مالدار وی او د کال په مابین کښی یو څو ورځی تر دغه مقدار کم سی نو هم زکوة واجبیږی په مابین کی چه لږ ورځی کم سی تر دغه مقدار زکوة نه معافیږی البته که ټول مال ختم سی تر دغه روسته بیا نور مال پیدا کړی نو هغه وخته څخه چه بیائی مال پیدا کړیدی

حساب دکال د پوره کید و شروع کیږی - (شرح البدایة ص۱۷۶ اول پتوک)

(۳) مسئله :- د چا سره اته (۸) یا نه (۹) تولی سره زر وه لیکن دکال تر پوره کید و مخکی ختم سوه توله پوره کال نه سوه پاته نو زکوٰة واجب نه دی. (شرح البدایة ص۱۷۸ اول پتوک و شرح التنویر ص۵۲ دوهم پتوک)

(۴) مسئله :- د چا سره دوه سوه دراهم دی چه دد و پنځوس نیمو تولو سپینو زرو سره برابر دی او د دغوندی دراهمو دی قرضدار دی نو پرده باندی زکوٰة واجب نه دی هسته که توله کال دی یانه وی او که یو نیم نسل دراهم قرضدار وی هم زکوٰة واجب نه دی حکه چه یو نیم نسل دراهم په قرض کښی دی. او پنځوس دراهم صرف یانه کیږی او په پنځوس دراهمو کی زکوٰة نه واجبیږی - (شرح البدایة ص۱۶۵ اول پتوک)

(۵) مسئله :- که دو مره قرضدار دی چه قرض ادا کړی نو دد و پنځوس نیمو تولو د سپینو زرو قیمت ورسره پاته کیږی نو زکوٰة پر واجب دی - (شرح البدایة ص۱۶۵ ج۱)

(۶) مسئله :- د سړو زرو او سپینو زرو په گینو او زیورانو اولوښو - او هغه سره او سپین زر چه پرکالو گنډل سوی وی په تولو کښی زکوٰة واجب دی برابره خبره ده که ئی اغوستی وی یا داغسی پراته وی هیڅ وخت ئی اغوستی نه وی مطلب داچه د سړو او سپینو زرو په هرشی کی زکوٰة واجب دی. لیکن که ترهغه مقدار کم وه چه مخکی بیان سو بیا واجب نه دی - (شرح البدایة ص۱۷۷ اول پتوک)

(۷) مسئله :- سره او سپین زر که صاف او خالص نه وه بلکه په دوی کښی څه خیره او گډ والی دبل شی وو مثلاً په سپینو زرو کښی کوټ دی نو وگورئ که سپین زر د زیات وه نود دغه هغه حکم دی چه د سپینو زرو دی یعنی که دغوندی مقدار وه چه مخکی بیان سو نو زکوٰة واجب دی او که کوټ زیات وه نو دغه سپین زر نه بولو بلکه کوټ ئی بولو - پس نو هرحکم چه د روپی - زرو او سپنی او کوټو او نورو شیانو دی داچه راروان دی د دوی هم هغه حکم دی (شرح البدایة ص۱۷۷ اول پتوک)

(۸) مسئله دیو چا سره نه پوره مقدار د سړو زرو دی او نه پوره مقدار - د سپینو زرو دی بلکه لږ سره زر لری اولږ سپین زر لری که دواړه سره یوځای

کړی نو قیمت ئی دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زروته رسیږی یا او نیمو تولو سړو زروته رسیږی نو زکوٰة واجب دی اوکه دواړه شیان دوندی لږ وی چه دواړو قیمت نه د دغوندی سپینو زرو سړه برابر وی او نه د دغوندی سړو زرو سړه برابر وی نو زکوٰة نه واجبیږی - که د سړو او سپینو زرو دواړو پوره پوره مقدار وی نو د قیمت لګولو هیڅ ضرورت[1] نشته - (شرح التنویر صه ۵۳ ج ۱)

(۹) مسئله :- ته ئی فرض کړه چه په یو زمانه کښی په پنځویشت روپی یوه تولـه سړه زر دی او په یوه روپی یوه نیمه تولـه سپین زر دی او دیوه سړی سړه دوی تولی سړه زر او پنځه روپی ترضرورت بالا پرتی دی کال هم پر تیر سو نو زکوٰة پر واجب دی ځکه دوه[2] تولو سړو زرو بیه پنځوس روپی دی د پنځو سو روپو پنځه اویا تولی سپین زر کیږی او پنځه روپی ورسړه - نوری هم سته نو په دغه حساب دوه مال تر نصاب دیر بالا سو - لیکن که پنځه روپی نه وی ورسړه او سپین زر هم نه وی ورسړه فقط دوی تولی سړه زر ورسړه وی نو زکوٰة پر واجب نه دی. (شرح التنویر صه ۵۳ ج ۱)

(۱۰) مسئله :- دوی[2] تولی سپین زر په یوه روپه (درهم) وه - دیوه سړی سړه دیرش درهمه د سپینو زرو وه زکوٰة ته پر واجبیږی د احساب به نه کوی چه په دغه دیرش درهمه شپیته تولی د سپینو زرو کیږی ځکه درهمونه او روپی خو د سپینو[3] زرو دی او چه فقط سپین زر دی یا سړه زر دی نو وزن معتبر دی. قیمت معتبر نه دی - (شرح التنویر صه ۴۷ لومړی پوک)

(۱۱) مسئله :- دیوچا سړه ترضرورت بالا سل روپی پرتی دی نو د کال پوره کیدو څخه مخکی پنځوس روپی نوری په لاس ورغلی نو د دغه پنځوس روپی حساب دی جلا نه کوی بلکه د دغو سلو روپو سړه دی یوځای وکړی چه د دغو سلو روپو کال پوره کیږی نو د پوره یو نیم سل روپو - زکوٰة

---

[1] یعنی که د سړو زرو قیمت د سپینو زرو له قیمت سره برابر وی نو بیا هم زکوٰة واجب دی ځکه چه د سړو زرو قیمت د سپینو زرو له قیمت څخه زیات دی نو د سړو زرو مقدار به کم وی او د سپینو زرو مقدار به زیات وی نو د سړو زرو زکوٰة به زیاته وی او د سپینو زرو زکوٰة به کمه وی نو د قیمت لګولو ضرورت نشته چه د کوم یو زکوٰة زیاته وی هغه ورکړی

[2] یعنی که د سړو زرو قیمت د سپینو زرو له قیمت سره برابر وی نو بیا هم زکوٰة واجب دی ځکه چه د سړو زرو مقدار به کم وی او د سپینو زرو مقدار به زیات وی نو د سړو زرو زکوٰة به زیاته وی او د سپینو زرو زکوٰة به کمه وی نو د قیمت لګولو ضرورت نشته چه د کوم یو زکوٰة زیاته وی هغه ورکړی

[3] یعنی که د سړو زرو قیمت د سپینو زرو له قیمت څخه کم وی نو بیا هم سپین زر د سړو زرو په مقابله کښی معتبر دی ځکه چه د سړو زرو مقدار به کم وی او د سپینو زرو مقدار به زیات وی نو د سړو زرو زکوٰة به زیاته وی او د سپینو زرو زکوٰة به کمه وی نو د قیمت لګولو ضرورت نشته چه د کوم یو زکوٰة زیاته وی هغه ورکړی

[1] یعنی که د سړو زرو قیمت د سپینو زرو له قیمت سره برابر وی نو بیا هم زکوٰة واجب دی ځکه چه د سړو زرو مقدار به کم وی او د سپینو زرو مقدار به زیات وی نو د سړو زرو زکوٰة به زیاته وی او د سپینو زرو زکوٰة به کمه وی نو د قیمت لګولو ضرورت نشته چه د کوم یو زکوٰة زیاته وی هغه ورکړی

[2] یعنی که د سړو زرو قیمت د سپینو زرو له قیمت څخه کم وی نو بیا هم سپین زر د سړو زرو په مقابله کښی معتبر دی ځکه چه د سړو زرو مقدار به کم وی او د سپینو زرو مقدار به زیات وی نو د سړو زرو زکوٰة به زیاته وی او د سپینو زرو زکوٰة به کمه وی نو د قیمت لګولو ضرورت نشته چه د کوم یو زکوٰة زیاته وی هغه ورکړی

[3] یعنی که د سړو زرو قیمت د سپینو زرو له قیمت څخه کم وی نو بیا هم سپین زر د سړو زرو په مقابله کښی معتبر دی ځکه چه د سړو زرو مقدار به کم وی او د سپینو زرو مقدار به زیات وی نو د سړو زرو زکوٰة به زیاته وی او د سپینو زرو زکوٰة به کمه وی نو د قیمت لګولو ضرورت نشته چه د کوم یو زکوٰة زیاته وی هغه ورکړی

تولی یا تر دوه پنځوس نیمی تولی بالا سپین زر کیږی نو پر دغه دیرش روپی زکوٰة واجب دی مګر ټن سپاسپین

واجبیږی او د اسی ئی بولو چه پرپوره یو نیم سل روپو کال تیرسو (شرح البدایة ص۷۵ لومړی توک)

(۱۲) مسئله:- دیو چا سره سل تولی سپین زری دکال تر تیریدو مخکی د(۳)ری خلورو تولی سره زر یا نقره (۹) لش(۱۰) تولی په لاس ورغله نو د دغه حساب جلا نه کیږی بلکه د دغه سپینو زرو سره دی یو ځای کړی نو دی د زکوٰة حساب ورته وکړی نو چه د دغه سپینو زرو کال پوره کیږی نو د دغه ټول مال زکوٰة واجب دی۔ (شرح البدایة ص۷۵ اول توک)

(۱۳) مسئله:- د سرو او سپینو زرو علاوه نور هرڅه شیان چه دی لکه اوسپنه زهر، روی، مس، اوکوټ او د دغو شیانو څخه چه جوړ سوی یوښی۔ کالی، ټپلے او د دغه څخه ماسیوئی نور اسباب او شیان چه دی د ټولو حکم دادی کچیری د تجارت د پاره وی رانیسی او خرڅوی ئی۔ نو ګورئ چه د دغه شیان څونده دی که دوندی وی چه د دغه قیمت د دو پنځوس نیمو ټولود سپینو زرو یا اوه نیمو ټولو سرو زرو سره برابر وی او کال هم پر تیرسی نو په دغه تجارتی مال کښی زکوٰة واجب(۱) دی اوکه دوندی نه وی نو په دغه کی زکوٰة واجب نه دی اوکه دغه مال د سوداګری او تجارت د پاره نه وی نو بیا زکوٰة پکښی واجب نه دی که هرڅونده پیروی که دنرو نو روپو مال وی هم زکوٰة پکښی واجب نه دی۔ شرح البدایة ص۱۷۷ و ص۱۷۸ لومړی توک)

(۱۴) مسئله:- دکور اسباب لکه د روپی لوښی کوچنی او لوی دیګونه، لګن اودخورلو چښلو لوښی او د اوسیدلو ځای د اغوستلو کالی او د ملغلرو هار اوداسی نور شیان په دغو شیانو کی زکوٰة واجب نه دی لیکن که دغه د سوداګری شیان وی بیا زکوٰة پکښی واجب دی۔ خلاصه ئی دا ده چه د سرو او سپینو زرو ماسیوی نور هرڅه مال اوسامان چه دی که هغه د سوداګری د پاره وی نو زکوٰة واجب دی که نه وی نو بیا زکوٰة واجب نه دی۔ (شرح البدایة ص۱۶۹ اول توک و شرح التنویر ص۱۲ دوهم توک)

(۱۵) مسئله:- یو څوک که پنځه یا لس سرایونه لری ټولی ئی په کرایه ورکړی وی

نو په دغو سرایو کښی هم زکوٰة نشته که هرځوندی لوړ قیمت او ببیه ئی وی داغه رنگه که چا د درو خلورو سو روپیو لوښی راښولی وه او په کرایه ئی خلقو ته ورکړی وی په دغه کښی هم زکوٰة واجب نه دی غرض دا دی چه څوک خپل مال په کرایه چلوی نه په تجارت په دغه مال کښی زکوٰة واجب نه دی۔ فتاوی قاضی خان ص۱۱۷ اول ټوک)

(۱۶) مسئله:۔ دا غو ستو سنګینی جامی او کالی چه خامکدوزی پرسوی وی که هرځوندی قیمتی وی په دغه کښی زکوٰة نشته لیکن که په دغه کښی ګل کاری او نقش د سپینو زرو سوی وی او دوندی وی که د غه سپین زر څنډی را ټول کړل سی یا د دو پنځوس نیمی یا تر دو پنځوس نیمی تولی زیاتیږی نو بیا په دغه سپینو زرو کښی ئی زکوٰة واجب دی او که د دو پنځوس نیمی تولی نه وه بیا نه دی واجب (شرح التنویر و رد المحتار ص۱۳۵ اول ټوک ص۲۱ دوهم ټوک

(۱۷) مسئله:۔ دیو چا سره څه سپین زر یا سره زر دی او یو څه د سوداګری او تجارت مال دی ټول سره یو ځای که ورته وګورې که د دی قیمت (۵۲½) د پنځوس نیمو تولو د سپینو زرو او یا او نیمو (۷½) تولو د سرو زرو نه ور رسیدی نو زکوٰة پکښی واجب دی او که د غه مقدار ته و نه رسیدی نو په دغه کښی زکوٰة نه واجبیږی۔ (شرح البدایه ص۱۷۸ لومړی ټوک)

(۱۸) مسئله:۔ د تجارت مال هغه ته ویل کیږی چه په دی نیت ئی راښولی وی چه په دغه کښی به تجارت او سوداګری کوم۔ او که چا د خپل کور د خرڅ د پاره یاد داده یا بل څه د پاره وړ جی مثلاً راښولی بیا ئی ارادا سوه چه را سره په دغه کښی تجارت او سوداګری وکړم نو د اسی مال د تجارت نه دی په دغه کښی زکوٰة نه واجبیږی۔ (شرح البدایه ص۱۶۷ اول ټوک)

(۱۹) مسئله:۔ که ستا پر یو چا قرض او پور باندی وی نو په دغه پور کښی هم زکوٰة واجب دی۔ لیکن د قرض دری قسمونه دی یو داچه چاته دی نقدی روپی ورکړی په قرض سره یا دی سره زر یا سپین زر ورکړه یا دی د تجارت مال پرخرڅ کړی چه قیمت ئی پر هغه پاته سو او تر یوه کال ورو سته یا تر دوو کالو ورو سته وصول سو که دومره قدر وی چه پر هغه زکوٰة واجبیږی نو د تولو کلونو زکوٰة ورکول واجب دی که په یوه وار وصول سی

نو کله چه دده وی څخه یوولس[۱۱] روپی وصول سی بیا نو دده قدر زکوة اداکول
واجب دی اوکه تر دغه یوولس روپی کمی وصول سی نو بیا واجب نه دی بیا چه
یوولس روپی نوری وصول سی نو دده غو زکوة دی ورکړی او په داغه طریقه سره
دی د زکوة ورکولو طریقه جاری د سائی اوکله چه زکوة ورکوی نو د ټولو کلونو
زکوة دی ورکړی اوکه قرضه تر دغه کمه وی نو زکوة واجب نه دی البته
که دده سره څه نور مال[۱۲] هم وی او چه دواړه سره یو ځای کړی نو مقدار
د نصاب پوره کیږی نو زکوة واجبیږی۔ (شرح التنویر ص۵۳ د دهم ټوک)

(۲۰) مسئله:۔ که دی نقدی (نغدی) روپی نه وی ورکړی اونه دی د تجارت
مال ورکړی وی یو چاته یعنی پرخرڅ کړیدی نه وی بلکه یوشی دی پرخرڅ
کړی وی چه د تجارت نه وی مثلاً دکور جامی یادکور نور سامان دی پرخرڅ
کړی وی۔ د دغو شیانو قیمت پرهغه پاته وی اود دغوندی وی چه په هغه کښی
زکوة واجبیږی نو بیا دغه قیمت تر پیرو کلونو وروسته وصول سو نو د ټولو
کلونو زکوة ورکول واجب دی اوکه ټول په یوه وار وصول نه سو بلکه لږ
لږ وصولیدی اود دده لاس ته راتلی نو تر څو[۱۳] چه څلور پنځوس روپی اود[۱۴] دوولس
اړی وصول سوی نه وی تر دغه وخته پوری زکوة واجب نه دی هر وخت چه څلور پنځوس
روپی اود دوولس اړی وصول سی بیا نو د ټولو کلونو زکوة واجب دی۔ (شرح التنویر ص۵۳ ج۲)

(۲۱) مسئله:۔ دریم قسم دادی چه پرخپل خاوند (میړه) ئی مهر اود ولور باندی
دی اوهغه تر پیرو کلو وروسته ورکړه سی نو دده د زکوة حساب دهغه وخته
څخه کیږی چه دده لاس ته ورسیږی د تیرو کلونو زکوة واجب نه دی بلکه
که اوس دده سره پروت وی اوکال پرتیر سی نو زکوة واجبیږی اوکه کال تیر

نی نو زکوٰۃ واجب[۱] نه دی ۔ شرح التنویر صـ۵۷ دوهم توک)

(۲۰) مسئله :۔ که یو مالدار ه څوک وی چه پر دی زکوٰۃ واجب دی دکال تیریدو مخ کی ئی زکوٰۃ ورکړی او دکال دپوره کیدو انتظار ئی و نه کړی نو هم جائز اوروا دی او زکوٰۃ ادا کیږی او که مالدار نه وی بلکه دیو ځایه څخه ئی دمال د پیدا کیدو امید وی پر دغه امید باندی ئی دمال تر پیدا کیدو مخکی زکوٰۃ ورکړی نو دغه زکوٰۃ نه ادا کیږی چه مال پیدا سی او کال پر تیرسی نو بیا باید زکوٰۃ ورکړی ۔ (شرح البدایة صـ۱۷۶ اول توک)

(۲۳) مسئله :۔ که مالدار سړی د پیړو کلونو زکوٰۃ پیشکی ورکړی هم روادی ۔ لکن که یو کال مال پیرسو د دغه پیړ مال زکوٰۃ به بیرته ورکوی. شرح التنویر ورد المحتار صـ۴۱ دوهم توک)

(۲۴) مسئله :۔ دیو چا سره سل[۲] روپی په تر ضرورت بالا پرتی وی او دسلو نورو روپو د پیدا کیدو امید ئی درلودی نو ده دپوره[۲] دوو سوو روپو زکوٰۃ تر مال پوره کیدو مخکی پیشکی ورکړی دا هم صحیح دی لیکن که دکال پر څخیدو روپی کمی سوی نو زکوٰۃ خو معاف سو هغه ورکړی زکوٰۃ ئی نفلی خیرات سو ۔ شرح التنویر ورد المختار صـ۴۱ دوهم توک)

(۲۵) مسئله :۔ دیو چا پر مال پوره کال تیر سو لیکن تر اوسه ئی زکوٰۃ نه دی ایستلی چه تولـه مال ئی غلا سو او په یو طریقه سره د مابینه ولاړی نو زکوٰۃ هم معاف سو او که ئی پخپله مال یو چاته ورکړی او یا ئی په خپل اختیار هلاک کړی نو هر څوندی زکوٰۃ چه واجب سوی وُو هغه معاف نه دی بلکه زکوٰۃ به ورکوی۔ (شرح البدایه صـ۱۷۶ اول توک و درمختار صـ۳۱ دوهم توک)

---

۱ یعنی هغه وخت چه دری
هغه روپی د سپینو زرو یا دهغه موجود د نرخ خلی او کال پرې تیر سی
مخکی څنګه وی یا دهغه پیسی او دکال پرې تیرېدو مخکی رقم او مقدار
چه دری کاله وروسته مسلسل کیږی او دهغه ولو لاس ته راځی
کال پوره کیدو مخکی زکوٰۃ ورکړی
یعنی دهغه روپو زکوٰۃ
یعنی هغه روپی چه زکوٰۃ ورکول کیږی
۲ یعنی هغه روپی چه زکوٰۃ ورکول کیږی
۱

(۲۶) مسئله:- دکال تر پورې کید و ورو سته یو چا خپل ټول مال خیرات کړی نو هم د زکوٰة ورکولو څخه خلاص سو۔ شرح البدایة ص۱۷۰ اول ټوک)

مسئله دیو چا سره دوه سوه روپي وی تر یو کال ورو سته په دغو کښی سل روپي غلا سوی یا ئې سل خیرات کړی نو د سلو روپو زکوٰة معاف دی فقط د سلو روپو زکوٰة به ورکوی۔ (شرح التنویر ص۳۱ ج۲ و شرح البدایة ص۱۷۶ ج۱)

۱۵ دزکوٰة دادا کولو بیان باب

(۱) مسئله:- چه پر مال پوره کال تیر سی نو فوراً دی زکوٰة ادا کړی په دې کار کښی حتمی کول ښه نه دی خکه کیدای سی چه نا ببره مرګ راسی او دغه ماخوذیت او ګرفت ئې پر غاړه پاته سی چه کال پوره سی زکوٰة ادا نه کړی تر داسی حده چه دوهم کال هم تیر سی نو ګنهګار ده نو دی توبه وکاږی او د دواړه کالو زکوٰة دی ادا کړی فوراً ئې باید پریږده خای ورکړی۔ غرض دا دی چه په ټول عمر کښی دی ئې یو وخت خامخاوړ کړی نه دی پریږدی ۔ شرح التنویر ص۱۹ دوهم ټوک)

(۲) مسئله:- هر څوندی مال چه وی په هغه کښی خلویښتمه حصه په زکوٰة کښی ورکول واجب ده یعنی په سلو روپو کښی دو نیمی روپي او په خلویښتو روپو کښی یوه روپي واجب ده۔ (شرح التنویر ص۴۳ دوهم ټوک)

(۳) مسئله:- هر وخت چه د زکوٰة روپي یو مسکین ته ورکوی نو په دغه وخت کښی په خپل زړه کښی دوند ده خیال ضرور وکړه چه زه زکوٰة ورکوم که دی دغه نیت نه وی هسی دی بیله نیته د زکوٰة پیسی ورکړی نو زکوٰة دی نه صحیح کیږی بیرته به دسره زکوٰة ورکوی دهغه مخکی ثواب جلا دی او خدای پاک ئې ثواب درکوی۔ (شرح التنویر ص۱۶ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:- که ئې د فقیر ته د ورکولو په وخت کښی دغه نیت نه وکړی نو ترهغه وخته پورې چه دغه مال د فقیر سره موجود وی، ترهغه وخته

نیت د زکوٰۃ صحیح دی اوس د نیت کولو څخه هم زکوٰۃ اداکیږی البته چه فقیر
هغه مال خرڅ کړی دغه وخت د نیت کولو اعتبار نسته اوس دی نو د سره زکوٰۃ
ورکړی۔ (شرح التنویر صـ۱۰ دوهم ټوک)

(۵) مسئله:۔ چا په نیت د زکوٰۃ دوی روپی دیوه جیبه را وکښلی په بل
جیب کښی ئی جلا واچولی او په دغه وخت کښی ئی د غه نیت وکړی چه دغه
په نو فقیر ته په زکوٰۃ کښی ورکوم بیا چه ئی فقیر ته په زکوٰۃ کښی ور
کړی په دغه وخت کښی ئی د زکوٰۃ نیت هیرسو نو هم زکوٰۃ اداسو لیکن
که ئی د زکوٰۃ په نیت جلا نه وای ایښی نو بیا زکوٰۃ نه اداکیدی۔ (شرح
الهدایه صـ۱۷۰ اول ټوک)

(۶) مسئله:۔ یو چا د زکوٰۃ روپی جلاکړی نو اختیار لری که یوه فقیر ته
بټولی ورکوی یا لږ لږ وپیږ مسکینانو ته ورکوی د غه اختیار لری که په
دغه وخت کی بټولی ورکوی یا لږ لږ په ډیرو میاشتو کښی ورکوی۔ (شرح
البدایه صـ۹۹ و صـ۱۲۵ دوهم ټوک)

(۷) مسئله:۔ ښه خبره دا ده چه یوه مسکین ته لږ لږ ده دوندی اندازه
ورکړی چه د دغی ورځی ئی بس سی او د چا څخه ئی د سوال ضرورت پاته نه سی
(شرح التنویر صـ۱۰۷ دوهم ټوک)

(۸) مسئله:۔ یوه فقیر ته دوندی مال ورکول چه د دغو ندی مال د پیدا
کیدو څخه زکوٰۃ واجبیږی مکروه دی لیکن که ئی ورکړی زکوٰۃ اداکیږی.
او تر دغه کم ورکول روا دی مکروه هم نه دی۔ (شرح البدایۃ صـ۱۹۰ اول ټوک)

(۹) مسئله:۔ یوه ښځه د قرض غوښتلو د پاره راغله او د امعلومه ده چه
دوندۀ تنګدسته او مفلسه ده چه هیڅ وخت ئی نه سی اداکولای یا ښه پوره
ده قرض نه ځندی خیږی نو دی ته ئی د قرض په نامه د زکوٰۃ روپی ورکړی او په
خپل زړه کښی ئی داخبره وکړه چه زه زکوٰۃ ورکوم نو هم زکوٰۃ اداکیږی
که څه هم دهغی داخیال وی چه ماته ئی قرض راکړی۔ (شرح التنویر
صـ۱۶ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:۔ که چا ته ئی د انعام پر نامه څه ورکړه او د انیت ئی وو په
زړه کښی چه زه زکوٰۃ ورکوم هم زکوٰۃ اداکیږی (فتاوی هندیه صـ۱۸۸ ج۱)

(۱۱) مسئله ۱- پریو مسکین سړی ستا لس روپی قرض (پور) باندی دی اوستاد مال زکوٰة هم لس روپی دی یا تر دغه زیات دی دا غه مسکین ته دی خپل پور ورکوٰة په نیت ورپریښتوی زکوٰة نه ادا کیږی لیکن که دی ده ته لس روپی د زکوٰة په نیت ورکړی نو زکوٰة ادا سوا وس نو دغه لس روپی دده څخه په خپل پور کښی اختیار دادی۔ (شرح التنویر ص۱۸ ج ۲)

(۱۲) مسئله ۲- دیو چا سره د سپینو زرو دوندی زیورات اوګینه ده چه د زکوٰة حساب ور ته ورکړی نو په دغه زیورانو او ګینه کښی دری تولی سپین زر د زکوٰة کیږی او په بازار کښی دری تولی سپین زر په دوی روپی خرڅیږی نو په زکوٰة کښی دوی روپی ورکول صحیح نه دی۔ ځکه چه دده (۲) وو روپو وزن دری تولی نه کیږی او د سپینو زرو په زکوٰة کښی چه سپین زر ورکړل سی نو وزن معتبر دی د قیمت اعتبار نسته۔ بَلِیْ (هو) په هغه صورت کښی که دده (۲) وو روپو سره زر رانیسی او په زکوٰة کښی یی ورکړی یا دده (۲) وو روپو توری پیسی رانیسی یا دده (۲) وو روپو ټوکر رانیسی یا بل شی رانیسی یا دری تولی سپین زر رانیسی او په زکوٰة کښی یی ورکړی نو صحیح دی زکوٰة ادا کیږی۔ (شرح التنویر و رد المحتار ص۳۷ دوهم ټوک)

(۱۳) مسئله ۳- د زکوٰة روپی یی پخپله ورنه کړی بلکه یو بل چا ته یی ورکړی چه ته دغه روپی زما د طرف څخه یو فقیر ته ورکړه داهم روا دی اوس نو که هغه سړی د ورکولو په وخت کښی نیت د زکوٰة و نه کړی بیا هم زکوٰة ادا کیږی۔ (فتاوی هندیه ص۱۱۱ لومړی ټوک)

(۱۴) مسئله:- دیو فقیر د پاره په زکوٰة کښی تایو چاته دوی روپی ورکړی دی لیکن ده بعینه هغه دوی روپی چه تاورکړی وی و فقیر ته ورنه کړی بلکه د خپله خانه ئی دوٰی (۲) نوری روپی ورکړی ستاد طرفه اوداسی فکر ئی وکړی چه هغه روپی زما خلم بیاهم زکوٰة ادا کیږی لیکن په دی شرط سره چه په داغه وخت کښی به هغه ستاد وی روپی دده سره موجود وی او اوس هغه سړی د خپلو دوو روپو په بدله کی هغه ستاد دوٰی (۲) روپی واخلی لیکن که هغه سړی ستاد دوٰی روپی مخکی مصرف کړی وی نو د غه وروسته ئی خپلی روپی فقیر ته ورکړی نو زکوٰة نه ادا کیږی یاستاروپی دده سره پرته ئی دی لیکن د خپلو روپو دورکولو په وخت کی ئی دا نیت نه وُ چه زه هغه روپی بیاد غه په بدله کی اخلم نو بیاهم زکوٰة نه ادا کیږی - اوس دی نو دواړی روپی په زکوٰة کښی ورکړی - (شرح التنویر صـ۱۷ ج۲)

(۱۵) مسئله:- که تاروپی ورنه کړی لیکن دوندی دی ورنه وویل چه ته زما د طرف څخه زکوٰة ورکړه نو ستاد طرف څخه ئی زکوٰة ورکړی نو زکوٰة ادا سوا و هرڅوندی چه ده ستاد طرف څخه ورکړی دی اوس ئی نه ورکړه -
(رد المحتار صـ۱۶ وصـ۱۷ دوهم ټوک)

(۱۶) مسئله:- که تاچاته هیڅ نه وه ویلی هغه ستا بیله اجازته ستاد طرف څخه زکوٰة ورکړی نو زکوٰة نه ادا کیږی که ته ئی ورمنظور کړی او ورته ووایی چه دیر ښه دی وکړه بیاهم صحیح نه دی او هرڅوندی چه ئی ستاد طرف څخه ورکړی دی ستا څخه دا خیستلو حق نه لری هغه دده څوانی سوه - (رد المحتار صـ۱۷ ج۲)

(۱۷) مسئله:- تایو سړی ته د خپل زکوٰة د ورکولو د پاره دوی روپی ورکړی نو ده ته اختیار دی هسته که ئی پخپله یو غریب ته ورکوی یا ئی بل چاته ورکړی چه ورته ووائی چه یو مسکین او غریب ته ئی ورکړه په زکوٰة کی - او د نامه یاد ول ضروری نه دی چه د فلانی د طرف څخه د غه زکوٰة ورکړه او که هغه سړی د غه دوٰی (۲) روپی یو خپل قریب یا مور - پلار چه غریب او فقیر ورته معلوم سی ورنه ئی کړی هم صحیح دی او که دی خپله مسکین وی د خپل ځان د پاره ئی اخستل روا نه دی - البته که تاورته ویلی وی چه هرڅه چه ستازره غواړی هغه په وکړه او هرڅاته چه ستازره غواړی ورنه ئی کړه نو اوس ئی د خپل ځان د پاره اخستل روا دی - (شرح التنویر صـ۱۷ دوهم ټوک)

۱۶	دپیدا وار د زکوٰة بیان	باب

(۱) مسئله:- یو بنار د کافرانو په قبضه کښی وو د هغه کافرانو په د غه بنار کښی اوسیدل نو بیا مسلمانانو پر دوی حمله وکړه جنګ ئی وکړ سره وکړی بنار ئی خُندی دینوی او هلته ئی اسلام وغوړاوی او مسلمان بادشاه د کافرانو څخه محکی واخیستی ټولی ئی پر د غه مسلمانانو باندی تقسیم کړی نو دا رنګه محکی نه په شریعت کښی عشری ویل کیږی او که د د غه بنار خلګ ټول په خپله خوښی اورضا بیله جنګه مسلمانان سی نو بیا هم د د غه بنار ټولو محکوته عشری ویل کیږی او عشری محکی دی او د عرب ودملک هم ټولی محکی عشری دی۔(شرح التنویر ص۳۹۱ دریم ټوک)

(۲) مسئله:- اوکه چاته د خپل پلار او نیکه څخه د غسی دا عشری محکه برابره دا رسیدلی وی یا ئی د یو داسی مسلمانه څخه را نیولی (اخیستی) وه چه د هغه سره دا غسی راغلی وه نو په د غسی محکه کښی چه هرڅه پیدا کیږی په د غه کی هم زکوٰة واجب دی او د د غه طریقه داده که هغه کښت په باورړه یا د واټر پمپ یا دا رهڼ په اوبو نه اوبیدی فقط د باران د اوبو څخه حاصل او پیداوار سوی وی یا د ولې او د ریاب اورود پر غاړه ئی په نمناکه محکه کښی کرلی وی او بیله دلاس د اوبو چه هغه نود باورړه، واټر پمپ او ارهڼ اوبه دی حاصل او پیداوار سوی وُو نو په دغسی کښت کښی چه هرڅوندی شی پیدا سی د هغه لسمه حصه خیرات ټول واجب دی یعنی په لسو[۱۰] منو کښی یو من او په لسو سیرو نو کښی یو سیر۔ اوکه ئی کښت او فصل په سولا غه سره او به کادی یا ئی په بله طریقه[۲] اوبه کادی نو د پیداوار او حاصلاتو شلمه حصه دی خیرات کړی یعنی په شلو سیرو کښی یو سیر او په شلو منو کښی دی یو من خیرات کړی۔ او د غه حکم دی د باغ په داغسی محکه کښی اوکه چیرلږ شی په محکه کښی پیدا

سی که چیرشی - په هرحال کښی د غه صدقه[1] خیرات کول پکښی واجب دی په لږ او چیرکښی ئی فرق نسته - (شرح التنویر ص۷۹ دوهم ټوک)

(۳) مسئله:- غله، ساګ، ترکاری، میوه، ګلان او نور هغه شیان چه د مځکی څخه راوزی د ټولو داغه حکم دی - (فتاوی هندیه ص۱۲۰ اول ټوک)

(۴) مسئله:- که ئی د عشری مځکی یا غره یا څنګله څخه شهد یعنی عسل (شات) راوایستل نو په د غه کښی هم د غه صدقه واجب ده - (شرح التنویر ص۷۸ دوهم ټوک)

(۵) مسئله:- یو چا په خپل کور کښی درخته و لګوله یا یو ترکاری قسم شی یا نور څه ئی وکرل میوه ئی وکړه په د غه کښی عشر نسته یعنی د غه مځکنی صدقه واجب نه ده - (رد المحتار ص۲۸ دوهم ټوک)

(۶) مسئله:- که عشری مځکه یو کافر را نیسی نو هغه بیا عشری نه پاتې کیږی که ئی بیا مسلمان خندی واخلی یا په بله طریقه سره د مسلمان لاس ته ورسی بیا هم عشری نه ده - (شرح التنویر ص۸۳ دوهم ټوک)

(۷) مسئله:- د غه خبره چه لسمه[10] یا شلمه[20] حصه د چا پر ذمه ده یعنی د مځکی پر مالک ده یا د پیداوار او حاصلاتو پر مالک او خاوند ده په د غه کښی د لوی علماؤ اختلاف دی مګر موږ د آسانی د پاره د غه وایو چه د پیداوار والا پر ذمه ده نو که مځکه او کښت په ټیکه وی هسته که د نقدو روپو یا غلې په ټیکه وی نو د بزګر پر ذمه دی او که کښت په تقسیم او په حصه وی نو زمیندار ده او بزګر دی دواړه د خپلی خپلی برخی عشر ادا کړی - (شرح التنویر ص۸۸ دوهم ټوک)

باب ۱۷ هغه خلګ چه ورته زکوٰة ورکول روا دی

(۱) مسئله:- د هرچا سره چه دوه پنځوس نیمی تولی سپین زر یا اووه نیمی تولی سره زر یا د غونډی قیمت د تجارت مال وی د غه ته په شریعت کښی مالدار وایی لغسی سړی ته زکوٰة ورکول روا نه دی او د ده د پاره هم د زکوٰة اخستل او خوړل جائز نه دی - لغه رنګه دیو چا سره چه د غونډی قیمت یو مال وی چه

د تجارت مال خو نه وی لیکن تر ضرورت بالاوی نو د غه سړی هم مالدار دی - نو وداسی سړی نه هم د زکوٰة روپی ورکول صحیح نه دی که څه هم پردار رنګه مالدار زکوٰة واجب نه دی - (فتاوی هندیه ص۱۲۱ اول ټوک)

(۲) مسئله :- دهرچا سره چه د عونډی مال نه وی بلکه تر د غه اندازه لږ وی یا هیڅ شی ورسره نه وی - یعنی دیوی ورځی د ګذاری دا هم نه وی د غه ته غریب وایی د هغی خلقو ته د زکوٰة مال ورکول روادی او د د وی د پاره ئی اخیستل هم روادی - (شرح التنویر ص۹۳ دوهم ټوک)

(۳) مسئله :- لوی لوی دیګونه او لوی لوی غالی او کمبلی او داسی نور شیان چه په کلو نوکښی کله کله ضرورت ورته پیښیږی هغه هم یو ځای په یو بنادی او واده کښی پیښیږی او هره ورځ د وی ته ضرورت نه پیدا کیږی نو د غه په ضروری اسبابو کښی داخل نه دی . (رد المحتار ص۱۰۳ دوهم ټوک)

(۴) مسئله :- داوسیدو د پاره کور د اغوستو جامی او د کار د پاره مزدور او د کور سامان چه هر وخت په کار راځی د هغی پروت نه وی اکثره وخت د اټول په ضروری سامان کښی داخل دی د د غو شیانو په درلودلو سره مالدار کیږی - برابره خبره ده که هرڅوند ی قیمت ئی وی - د د غه سبب د عی ته د زکوٰة روپی ورکول صحیح دی . د غه رنګه د عالم ، لیکونکی ، وبیونکی د پاره کتابونه هم په ضروری اسبابو کښی داخل دی - (رد المحتار ص۱۰۳ دوهم ټوک)

(۵) مسئله :- د یو چا پنځه یا لس سرایونه دی چه د غه ئی په کرایه ورکړی دی او د دی سرایو په کرایه ګذاره کوی یا کلی نیم کلی ئی دی چه د هغه امدنی راځی لیکن اولاد او په کور کی د خورک خلګ ئی د وندی پیږدی چه بنه ګذاره او چلاوئی نه په کیږی او اکثره وخت مفلسی وی او د د ه سره یو داسی مال بل هم نه وی چه زکوٰة پرو واجب وی نو داسی سړی ته هم د زکوٰة ورکول صحیح دی - (رد المحتار ص۱۰۳ ج۲)

(۶) مسئله :- دیو چا سره نقدی (نغدی) (۱۰۰۰) روپی دی لیکن دی پوره زر روپی یا تر زر بالا پوره روپی دی نو د ه ته هم د زکوٰة روپی ورکول روادی او که تر زر روپی کم پوره روپی وی بیا نو ګورئ چه پوره ورکړی نو څوند ی پاته کیږی که د وندی پاته سی چه په هغه کښی زکوٰة واجبیږی نو د ه ته د زکوٰة روپی ورکول روا نه دی او که تر د غه کمی پاته کیږی نو زکوٰة ورکول صحیح دی .

(فتاوی هندیه ص۱۳۱ اول ټوک)

(۷) مسئله:- یو سړی په خپل کور کی څه مال لږ دی لیکن یو ځای په سفر کی داسی پیښه سوه چه د ده سره هیڅ خرڅ پاته نه سو یا ئی ټوله مال غلا سو یا دیو بلی وجهی څخه داسی سو چه اوس ترکور ته ورسید و خرڅ هم نه لری د عشی چا ته هم د زکوٰة روپی ورکول صحیح دی داځه رنګه که د حاجی سړه د لاری خرڅ تمام سو او په کور کښی ئی ډیر مال او دولت ورلوی نو دا ته هم د زکوٰة ورکول روا دی- (فتاوٰی هندیه ص۱۳۱ اول ټوک)

(۸) مسئله:- دهیڅ کافر ته زکوٰة ورکول روا نه دی زکوٰة به مسلمان ته ورکوی- د زکوٰة، عشر، نذر، سرسایی او کفاری څخه علاوه نور خیرات کافر ته ورکول روا دی- (فتاوی هندیه ص۱۳۱ اول ټوک)

(۹) مسئله:- د زکوٰة پیسه د مسجد جوړول یا دیو بی وارثه مړی قبر او کفن په برابرول یا د مړی د طرف څخه په زکوٰة سره د ده پور ونه ادا کول یا په یو نیک کار کی د زکوٰة پیسی لګول صحیح نه دی تر څو چه یو حقدار نه چاته ورنه کړه سی زکوٰة نه ادا کیږی- (شرح التنویر ص۱۰۰ دوهم ټوک)

(۱۰) مسئله:- د خپل زکوٰة پیسه خپلی مور، پلار، نیکه ورنیکه، انا، ورره انا، هر څوندی چه لور وی یعنی هغه څوک چه داد هغو څخه پیدا سوی وی که څه هم هغه ډیر لوړ وی دوی ته ئی ورکول صحیح نه دی داځه رنګه خپل اولاد ته اولمسی، کړوسی، پردی او کودی ته که د زوی د خواوی او که

دلور د خوا وی یعنی هر هغه څوک چه د دی په اولاد کښی داخل وی د دی ته هم زکوٰة ورکول صحیح نه دی۔ داغه رنگه بنځه خپل خاوند (میړه) اوخاوند خپلی بنځی (مایندی۔ کور وداني) ته زکوٰة نه سی ورکولای۔ شرح البدایه ص۱۸۸ ج۱)

(۱۱) مسئله:۔ د د غه قریبانو څخه ماسیوی کوم چه ذکر سوه نور د پټولو نه زکوٰة ورکول صحیح دی۔ لکه خور، وروڑ، وریره، خور زه۔ اکا، عمه یعنی د پلار خور، خاله، ماما، میړه، پلندر (یعنی د مور میړه) د پلندر پلار، خوابنی، خوښ او د هغی نور د پټولو نه زکوٰة ورکول صحیح دی۔ (رد المحتار ص۱۰۱ د وهم پټوک)

(۱۲) مسئله:۔ د نابالغه اینجیلی پلار که مور وی نو د ی اینجیلی نه زکوٰة ورکول صحیح نه دی او که هلک یا انجیلی بالغ سوی وی او پخپله د وی ماړه نه وی لیکن پلار ئی مور وی نو د وی ته زکوٰة ورکول صحیح دی۔ (شرح التنویر ص۱۰۶ د وهم پټوک)

(۱۳) مسئله:۔ که د کوچنی هلک پلار مور نه وی لیکن مور ئی مړه وی۔ نو د غه کوچنی ته د زکوٰة روپی ورکول صحیح دی۔ (شرح التنویر ص۱۰۶ د وهم پټوک

(۱۴) مسئله:۔ سیدانو او علویانو ته، داغه رنگه د حضرت عباس رضی الله عنه یاد حضرت جعفر رضی الله عنه یاد حضرت عقیل رضی الله تعالیٰ عنه یا چه د حضرت حارث بن عبد المطلب رضی الله عنه د اولاد څخه وی د وی ته د زکوٰة پیسه ورکول روا نه دی۔ د غه رنگه هره صدقه چه د شریعت د نگاه څخه واجب وی د هغه ورکول هم صحیح نه دی لکه نذر کفاره۔ عشر، د سایه او د د غه څخه علاوه نور خیرات ورکول صحیح دی۔ (شرح البدایة ص۱۸۸ د وهم پټوک و شرح التنویر ص۱۰۷ د وهم پټوک)

(۱۵) مسئله:۔ د کور نوکر او مزدور، خدمتگار، دایی، او دامی نور د ته هم د

یعنی د حضرت فاطمی رضی الله تعالیٰ عنها اولاد چه د حضرت فاطمی رضی الله تعالیٰ عنها څخه وی د وی ته یعنی د حضرت عباس رضی الله تعالیٰ عنه اولاد چه د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه څخه وی د وی ته یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم اولاد چه د حضرت جعفر رضی الله تعالیٰ عنه څخه وی د وی ته یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم اولاد چه د حضرت عقیل رضی الله تعالیٰ عنه څخه وی د وی ته یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم اولاد چه د حضرت حارث بن عبد المطلب رضی الله تعالیٰ عنه څخه وی د وی ته

زکوٰة پیسه ورکول ر.. ـه لیکن دده دی په تنخواه (معاش) کښی به ئی نه حسابی بلکه د تنخواه او معاش څخه ملاوه به طریقه د انعام او اکرام دی ورکړل سی او په زړه کښی دی نیت د زکوٰة وکړی هم صحیح دی۔ (فتاوی هندیة صـ۱۲۲ دوهم توک)

(۱۶) مسئله:۔ هغه کوچنی نه چه تا په کوچنیوالی شیدی اوتی ورکړی وی او هغه چاچه تاته ئی په کوچنیوالی ئی درکړی وی دواړه ته زکوٰة ورکول روا دی۔ (ردالمحتار صـ۱۰۱ دوهم توک)

(۱۰۰۰)

(۱۷) مسئله:۔ دیوی بنځی مهر او ولور زر روپی دی لیکن ددی میړه ډیر مسکین دی ادا کولای ئی نه سی نو داسی بنځی ته هم د زکوٰة پیسه ورکول صحیح دی اوکه ددی میړه موړ وی لیکن ولور نه ورکوی یا دې خپل ولور ورښښلی وی نو هم د زکوٰة پیسه ورکول روا دی اوکه ئی دا امید وی چه هر وخت ئی زه غواړم نو هغه ئی راکوی هیڅ ځنډ نه کوی نو داسی بنځی ته د زکوٰة پیسه ورکول صحیح نه دی۔ (شرح التنویر صـ۱۳۱ دوهم توک)

(۱۸) مسئله:۔ یو څوک ئی مستحق او حقدار ګڼی د زکوٰة وبالی نو زکوٰة ئی ورکړی بیا معلوم سو چه هغه موړ دی یا سید دی یا ئی په توره اوتاریکه شپه کښی چا ته ورکړی بیا معلومه سوه چه هغه خو زما موړ وه یا هغه خو زما لور وه یا یو بل داسی قریب وو چه هغه ته زکوٰة ورکول صحیح نه وو نو په دغو توټو سو ر نو نو کښی زکوٰة ادا سو بیا دوهم وار ادا کول ئی واجب نه دی لیکن اخیستونکی ته که معلومه سی چه دا د زکوٰة پیسه ده او زه د زکوٰة اخیستلو مستحق نه یم نو دی دغه پیسی نه اخلی بیرته دی ورکړی او که ترورکولو وروسته معلومه سو چه کوم چاته چه ئی درکړیدی هغه کافر دی نو زکوٰة نه ادا کیږی بیا دی زکوٰة ادا کړی۔ (شرح التنویر صـ۱۰۸ دوهم توک وشرح البدایة صـ۱۸۹ اول جلد)

(۱۹) مسئله:۔ که ئی پرچا دارنګه شک سو او ورته معلومه نه وه چه دا موړ دی که مسکین دی نو ترڅو چه تحقیق ئی نه وی سوی ده ته دی زکوٰة نه ورکوی که ئی مخکی تر تحقیق ورکړی نو دګونړه چه غالبه ګمان ئی کومی خواته دی که ئی غالبه ګمان داوی چه دغه فقیر دی نو زکوٰة ئی ادا سو اوکه ئی غالبه ګمان داوی چه دغه موړ دی نو زکوٰة ئی نه ادا کیږی بیرته دی زکوٰة ادا کړی لیکن که ترورکولو وروسته معلومه سی چه هغه فقیر دی نو بیا دی زکوٰة نه

راگر زوی زکوٰة ئی اداسو۔ (رد المحتار ص۱۰۸ دوهم توک)

(۲۰) مسئله:۔ په زکوٰة ورکولو کښی او د زکوٰة څخه علاوه په نور خیر و خیرات کښی ترټولو زیات خیال د خپلو قریبانو او خپلوانو وساته چه اول ئی د غه خلګو ته ورکړه لیکن دوی ته دامه وایه چه دا د زکوٰة یا خیر و خیرات ثی دی چه بدله پرو نه لګیږی۔ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه خپلوانو لره په خیرات ورکولو کښی دوه ثوابه دی یود خیرات اوبل د خپلو خپلوانو سره د ښه رفتار او احسان کولو اوچه څه تر دوی زیات سوه هغه بیا نور و مسکینانو ته ورکړه۔ (فتاوی هندیه ص۱۲۲ اول توک)

(۲۱) مسئله:۔ دیوه بنار زکوٰة بل بنارته لیږل مکروه دی لیکن که په بل بنار کښی د ده قریبان او خپلوان اوسیدل هغوته ئی ورولیږی یا تر دی خلقو هغه څیر محتاج دی یا هغه خلق د دین په کار کښی اخته دی نو دوی ته ئی ورواستول مکروه نه دی ځکه چه طالبانو او دیندار ه علماؤ ته زکوٰة ورکول ډیر ثواب لری۔ (فتاوی هندیة ص۱۲۲ اول توک و درمختار ص۱۱۰ دوهم توک)

۱۸ دسرسایی بیان باب

(۱) مسئله:۔ هر هغه مسلمان چه دوندی مالدار وی چه پرده زکوٰة واجب وی یا پرده زکوٰة واجب نه وی لیکن تر ضروری سامان او شیانو ماسیوی د دوندی قیمت د مال او سامان مالک وی چه پرد عوندی قیمت زکوٰة واجب وی۔ نو پرده سرسایه واجب ده۔ برابره خبره ده که د غه د سوداګری مال وی یا د سوداګری مال نه وی او کال پوره پرتیر سوی وی که نه وی او د غه سرسایی ته چه په ورځ د کوچنی اختر اداکیږی په شرع کښی صدقة الفطر وایی۔ (مراقی الفلاح علی حاشیة الطحطاوی ص۳۹۴)

(۲) مسئله:۔ که دیو چا سره د اوسیدو چیرلوی کور وی که چیری خرڅ کړل سی په (۱۰۰۰) زر یا پنځه سوه (۵۰۰) روپی خرڅیږی او د اغوستو و سره ډیری قیمتی قیمتی جامی او کالی وی لیکن د زر و خامکدو زری پکښی سوی نه وی او د خدمت د پاره (۲) دوه درۍ (۳) خدمتګاران وی او په کور کی ئی د زر (۱۰۰۰) پنځو سوو (۵۰۰) ضروری سامان هم وی مګر زیورات نه وی او د اتول همیشه په کار راځی یا یوځه سامان د ضرورت

څخه ملاوه هم وی یو څه کالی او جامی چه خامکدونی پیه زر وسوی وی۔ او یو څه زیورات هم وی لیکن دغه شیان دوندی نه وی چه پرده وی زکوٰة واجبیږی نو پرد غسی چامرسایه واجبه نه ده لا(عوافی الفلاح علی حاشیة الطحطاوی ص۳۹۴)

(۳) مسئله:- دیو چا دوه سرایونه دی په یوه کښی پخپله اوسیږی او دغه بل داغسی خالی ولاړدی یا ئی په کرایه ورکړی دی نو دغه دوهم سرای ترضرورت بالادی که دده قیمت دوندی وی چه زکوٰة پرواجبیږی نو پرد غه سرسایه واجبه ده اوداغسی چاته دزکوٰة دوپی ورکول هم صحیح نه دی البته که په دغه گذاره کوی نو دغه سرای هم په ضروری شیانو کښی داخلیږی پردغه چاسرسایه واجبه نه ده اودزکوٰة پیسه اخستل اودرکول هم ورته روادی خلاصه ئی داده چه هرچاته چه دزکوٰة اوسرسایی پیسه اخستل روادی. نو پرده باندی سرسایه نه واجبیږی اوهرچاته چه زکوٰة اوسرسایه اخیستل روانه دی پرهغه سرسایه واجبه ده۔ (قاضی خان ص۲۶۳ اول پتوک و ردالمحتار ص۱۰۳ دوهم پتوک)

(۴) مسئله:- دیو چاسره ترضروری شیانو زائد اوبالامال دی لیکن دغه سړی پوره وړی هم دی نو چه پوره اداکړی بیا وګوره چه څوندی پاتیږی. که دوندی مال پاتیدی چه په هغه کښی زکوٰة واجبیږی نو سرسایه باندی واجب ده اوکه دوندی مال نه پاتیږی چه زکوٰة باندی واجب می نو بیا سرسایه نه واجبیږی۔ (شرح البدایة ص۱۶۸ ودرمختار ص۱۲۷ اول پتوک)

(۵) مسئله:- داختر په ورځ چه دسهار وخت شروع سی دد غه وخته څخه دغه سرسایه واجبیږی نوکه څوک داختر تر سهار مخکی مړسی نو پرده سرسایه واجب نه ده دده دمال څخه دی دده سرسایه نه باسی۔ (فتاوی هندیة ص۱۲۳ اول پتوک (جلد)

(۶) مسئله:- بنه دا ده چه نزان خلګ عیدګاه ته ځی نرد غه مخکی سرسایه ورکړی اوکه ئی مخکی ورنه کړی نو خیردی درسته هم صحیح ده۔ فتاوی هندیه ص۱۲۳ اول پتوک)

(۷) مسئله:- یوچا داختر نزورځی مخکی په روژه کښی سرسایه ور

کړه هم صحیح ده بیا دوهم وار ورکول ئې واجب نه دی۔ (شرح التنویر ص۱۲۵ ج ۲)

(۸) مسئله:۔ که چا داختر په ورځ باندې سرسایه ورنه کړه نو سرسایه نه معافیږي نوبله ورځ ئې باید ورکړي۔ (شرح البدایة ص۱۹۳ اول ټوک)

(۹) مسئله:۔ سرسایه فقط د خپله طرفه څخه ورکول واجب ده د ښځې چا د طرف څخه ئې ادا کول واجب نه دی نه د خپل اولاد د طرف څخه نه د مور پلار د طرف څخه نه د میړه د طرف څخه نه د بل چا د طرف څخه۔ (هدایة ص۱۹۰ ج۱)

(۱۰) مسئله:۔ که دیوناباالغه کوچنۍ سړه د وندې مال وي چه سرسایه پر واجبیږي مثلاً د ده یو قریب مړ سوا د د غه قریب په مال کښې ده ته یوه حصه د مال په میراث ورغله یا په یوبله طریقه سړه و د غه کوچنۍ ته مال ورسیدی نو د غه کوچنۍ د مال څخه دی سرسایه ادا کړي لیکن که د غه کوچنۍ د اختر د ورځې د سهار څخه ورسته پیدا سوی وُ نو د ده د طرفه څخه صدقه فطر واجب نه ده۔ (قاضی خان ص۲۶۵ اول ټوک وفتاوی هندیه ص۱۳۳ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:۔ چاچه په یو وجهه دروژې د میاشتې روژې نه وي نیولې هم سرسایه پر واجب ده او چه نیولې ئې وي هم سرسایه پر واجب ده۔ د دواړو هیڅ فرق نسته۔ (فتاوی هندیه ص۱۳۳ اول ټوک)

(۱۲) مسئله:۔ په سرسایه کښې که د غنمو اوړه یاد غنمو ستو (یعنی چه غنم نیمې سې بیا وتکول سی) ورکوی ئې نو دی دا تیا تولو په سیر یعنی دانګریزي تول څخه نیم چټانګ بالا پاؤ کم دوه سیره بلکه د احتیاط د پاره یو څه دوه سیره (یعنی یوسل او شپیته تولې یا یو څه بالا ورکړي ځکه په زیادت کښې تاوان نسته بلکه ښه دی که اوربشی یا اوربشواوړه ورکوی نو د د غه دوچنده دی ورکړي۔ (شرح البدایة ص۱۶۲ اول ټوک)

(۱۳) مسئله:۔ که د غنمو او اوربشو څخه ماسیوی یوه بله غله ئې ورکوله لکه غنمو، وړبجی، جواري نو د وندې دی ورکړي چه قیمت ئې د د غو غنمو یا اوربشو سره برابر سی چه اوس بیان سوه۔ (شرح التنویر ص۱۲۲ اول ټوک)

(۱۴) مسئله :- که ئ غنم یا اوربشی ورنه کړی بلکه د دوی پر خای ئ قیمت (بیه) ورکړه نو د غنه چیر بنه کار دی. (فتاوی هندیه ص۱۲۳ اول ټوک)

(۱۵) مسئله :- که دیوه سړی سر سایه یوه سړی ته ورکول سی یا لږ لږ چیر و فقیرانو ته ورکول سی د واړه خبری روادی - (شرح التنویر ص۱۲۵ دوهم ټوک)

(۱۶) مسئله :- که د چیر و خلکو سر سایه دیوه فقیر ته ورکول سی هم صحیح ده. شرح التنویر ص۱۲۵ دوهم ټوک)

(۱۷) مسئله :- د سر سایی مستحقین هم هغه کسان دی چه د زکوة مستحقین دی - (شرح التنویر ص۱۲۷ دوهم ټوک)

۱۹ باب — داختری کولو بیان

داختری کولو چیر لوی ثواب دی رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی چه داختری په ورځو کښی تر اختری زیات بل شی خدای پاک ته محبوب او خوښ نه دی په دغه ورځو کښی د غه نیک کار تر تولو نیږدی کار و نو بنه دی او په وخت کښی د حلا لولو داختری څرخا څکی د وینو چه پر مځکه لویږی تر رسیدو د مځکی مخکی دالله تعالی ج په لوی دربار کښی قبلیږی نو په بنه خو بنی او په بنه اخلاص سره اختری همیشه کوه - (مشکوة مجتبائی او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه داختری د حیوان پر بدن چه هر څومره ی ورو بښتان ولاړ دی د هر هر ورو بښته په عوض کښی یوه یوه نیکی لیکل کیږی - (مشکوة مجتبائی ص۱۲۹) سبحان الله فکر وکړه تر دغه نو بالا او زیات څو ثواب وی چه د یوه اختری کولو څخه په لږ ځای واړه لکاؤ نیکی سړی ته رسیږی د پسه پر بدن چه څومره ی ورو بښتان دی که په څوک د سهار څخه تر ماښامه پوری شمیری بیا به ئ هم شمار نه کړی نو ته خپله فکر وکړه چه څومره ی نیکیانی سوی د چیر ی تقوی او دینداری خبره داده که پریږدو چا اختری کول واجب هم نه وی بیا هم د دغومره ی بی حسابه ثوابونو

او نیکیو په حرص او شوق سره باید اختری وکړی او چه د غه ورځ تیری سی بیا ئ په
د غه اندازه د دلت او نیکی چیړی نصیب کیږی او په دوندی اسانی سره دوندی
نیکی کله گټلای سی او که پروردگار عالم یوچانته مال او دولت ورکړی وی - نو
مناسبه ده چه دخپل خان د پاره اختری کوی نو کوم خپلوان چه د ده هڅه وی
لکه مور پلار او دامی نور د پاره هم اختری وکړی چه د دوی وروح ته هم
ثواب ورورسیږی - د نبی کریم صلی الله علیه وسلم او د ده د بیبیانو د پاره
د خپل پیر او مرشد د پاره او دامی نور د پاره هم باید اختری وکړی او که
دامی نه کوی نو کم از کم دی دوندی خامخا وکړی چه د خپل خان د پاره
دی وکړی - څکه پر دنیا دار ه او ماړه سړی باندی اختری کول واجب دی -

د هرهغه چا سره چه مال او دولت وی او اختری کول پرهغه واجب وی
او دی ئ دنه کړی نو تر دغه لوی بد قسمته او بد نصیبه به څوک وی - او
گنهگاره هم دی سره د دی چه د ده پر ثوابونو څخه محروم او بی برخی سو
(مشکوة مجتبائی ص۱۲۸)

چه اختری مخ پر قبله پریباسی نو دی اول وار د غه دعا وایی

اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ حَنِیْفًا وَّمَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ
اِنَّ صَلٰوتِیْ وَ نُسُکِیْ وَ مَحْیَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ لَا شَرِیْکَ لَہٗ وَ بِذٰلِکَ
اُمِرْتُ وَ اَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِیْنَ ۔ اَللّٰھُمَّ مِنْکَ وَ لَکَ - بیا دی - بِسْمِ اللّٰہِ اَللّٰہُ اَکْبَرُ
وایی نو دی حلال کړی او تر حلالیدو و روسته دی د غه دعا وایی -
اَللّٰھُمَّ تَقَبَّلْہُ مِنِّیْ کَمَا تَقَبَّلْتَ مِنْ حَبِیْبِکَ مُحَمَّدٍ وَّ خَلِیْلِکَ اِبْرَاھِیْمَ عَلَیْھِمَا
الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ ۔

(۱) مسئله :- پر هر چا چه سو سایه واجبه وی پرهغه د لوی اختر په ورځ
کښی اختری کول هم واجب دی او که دوندی مال نه وی چه پرهغه
سو سایه واجبیږی نو پرهغه اختری هم واجب نه دی لیکن بیا هم که ئ
وکړی خدای پاک به د ده ثواب ورکړی - شرح التنویر ص۳۰۲ پنځم توک)

(۲) مسئله :- پر مسافر اختری واجب نه دی - (شرح البدایة ص۴۴۲ څلورم توک)

(۳) مسئله:- دلوی اختر د لسم تاریخ څخه بیا د دوولسم[۱۲] تاریخ تر مابنامه پورې د اختری کولو وخت دی برابر ۲ خبره ده که هره ورځ اختری کوی لیکن د اختری کولو تر پاتو لو بنه ورځ دلوی اختر اولنۍ ورځ ده بیا د هغه ورځ ده بیا درې ورځ ده۔ (شرح البدایة ص۴۴۳ څلورم پتوک)

(۴) مسئله:- د لوی اختر تر لمانځه مخکی اختری کول صحیح نه دی چه خلک لمونځ وکړی بیا دی اختری وکړی البته که څوک په صحرا او کلی (یعنی چه په هغه ځای کښی د عید گاه لمونځ نه دی) او نږدی نو هلته د صبح صادق (سپیده ز بنکاره کیدو وروسته اختری کول صحیح دی۔ د بنار او شاوخوا خلک دی د اختر تر لمانځه وروسته وکړی۔ (شرح البدایة ص۴۴۳ څلورم پتوک)

(۵) مسئله:- که دیو بنار اوسیدونکی خپل اختری دیو کلی ته واستوی نو د دغه حلالول د اختر تر لمانځه مخکی هم صحیح دی که څه هم دا پخپله په بنار کښی د ۲ چه اختری ئ کلی ته واستاوی او هلته ئ حلالیدل صحیح سوه. نو تر حلالیدو وروسته دی هغو بنه راوغواړی او دی ئ خوړی۔ (شرح البدایة ص۴۴۴ څلورم پتوک)

(۶) مسئله:- د دولسم تاریخ په ورځ د لمر لویدو څخه مخکی اختری کول صحیح دی چه لمر ولویږی نو بیا اختری کول صحیح نه دی (فتاوی هندیة ص۱۹۸ شپږم پتوک)

(۷) مسئله:- د لسم[۱۰] تاریخ څخه بیا تر دوولسم[۱۲] تاریخ پورې چه زړه ئ د غواړی هغه وخت اختری کولای سی برابر ۲ خبره ده که ورځ دی او که شپه دی لیکن په شپه کښی ئ حلالول بنه نه دی شاید چه یو رګ پاته سی او اختری صحیح نه سی څکه چه د رګونو پریکول ئ ضروری دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۹۸ شپږم پتوک)

(۸) مسئله:- لسم[۱۰] تاریخ او یوولسم تاریخ په سفر کښی د ۲ بیا نو د دوولسم تاریخ ته مخکی تر لمر لویدو راورسید ۲ یا ئ پخلس ورځی یو ځای د اقلت نیت وکړی نو اوس اختری کول واجب دی او داغه رنګه که مخکی مال ورسی ۲ نه دوه مفلسه د ۲ نو د دغه سبب ئ اختری [۱۲]

تاریخ باندی تر لمر لویدو مخکی مال لاس ته راغی نو اختری کول باندی واجب دی (فتاوی هندیه ص۱۹۷ شپږم توک)

(۹) مسئله:- خپل اختری په خپل لاس حلالول ښه دی اوکه ئ اختری حلالول نه وی یعنی ذبح کولای ئ نه سو نو بیا دی په بل چا حلال کړی - او د حلالیدو په وخت کښی دی مخ ته او نژدی ودریږی اوکه داسی ځای دی چه دیږدی او ستر د سببه د مخ ته نه سی ودریدلای نو هم خیر دی پرواته کوی - (فتاوی هندیه ص۲۰۱ دوهم توک)

(۱۰) مسئله:- د اختری د حلالولو په وخت کښی په ژبه سره نیت ویل او دعا ویل ضروری نه دی اوکه ئ په زړه کښی خیال وی چه زه اختری حلالوم او په ژبه ئ هیڅ و نه ویل فقط بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَکْبَرُ ئ وایی او اختری ئ حلال کړی نو هم اختری صحیح سو لیکن که ئ یاد وی نو دعا ویل ښه دی هغه دعا چه مخکی بیان سوه - (رد المحتار ص۳۰۳ پنځم توک)

(۱۱) مسئله:- اختری فقط د خپل طرف څخه کول واجب دی د اولاد د طرفه څخه واجب نه دی بلکه که د وړه اولاد اوکو چنیان ئ مالداران هم وی نو هم د دوی د پاره اختری حلالول واجب نه دی نه د خپل مال څخه نه د دوی د مال څخه که چا د دوی د پاره اختری وکړی نو نفل سو لیکن د خپل مال څخه دی وکړی د دوی د مال څخه دی هیڅ وخت نه کوی - (فتاوی هندیه ص۱۹۷ شپږم توک)

(۱۲) مسئله:- د بزو - که نران وی که بنځی د پسو که نروی که بنځی د غویو که نروی که بنځی د گامیښو که نروی که بنځی د اوښانو که نروی که بنځی د د غو حیواناتو نو اختری کول صحیح دی د د غو څخه علاوه د بل حیوان اختری کول صحیح نه دی - (فتاوی هندیه ص۱۹۹ شپږم توک)

(۱۳) مسئله:- په غوایی، گامیښه او اوښ کښی که نروی اوکه بنځی (لکه سانډ گامیښه، غوا، غوایی، اوښه اوښ) کښی که اوو کسان شریکان سی هم صحیح دی لیکن شرط ئ دادی چه د هیڅ شریک حصه به تر اوومه (۷) حصه کمه نه وی او د بټولو نیت به د اختری یا د عقیقی وی او صرف د غو څخو نیت به ئ نه وی

که د چا حصه تر اودمه[۷] کمه دی نو دهیڅ چا اختری صحیح نه دی - فتاوی هندیه ص۲۰۴ شپږم (توک)

(۱۴) مسئله:- که په عوا کښی تر اود[۷] کسانو کم شریکان سی مثلا پنځه کسان یکښی شریکان سی یا شپږ کسان یکښی شریکان سی او دهیڅ چا حصه تر اودمه[۷] حصه کمه نه وه نو هم صحیح دی او که اته کسان یکښی شریکان سوه - نو د یوه اختری هم صحیح نه دی - (فتاوی هندیه ص۲۰۴ شپږم توک وشرح التنویر ص۳۰۸ پنځم توک)

(۱۵) مسئله:- د اختری په وخت کښی یو چا عوا رانیوله او د رانیولو په وخت کښی ئی دا نیت وکړی چه که بل څوک پیدا سو را سره شریک به ئی کړم په گډه به دا عوا سره حلاله کړو تر دغه ورو سته څه نور خلگ په دغه عوا کښی ورسره شریکان سوه نو صحیح دی او که د رانیولو په وخت کښی ئی د شراکت نیت نه وو بلکه د پوره عوا نیت ئی کړی وو چه ژره به ئی یوازی اختری کوم نو اوس په دغه کښی شریکول خوښه[۵] نه دی لیکن که ئی بیا څوک شریک کړی نو بیا گوره چه دغه څوک کوم چه د ه اول وار عوا رانیولی نه موړ دی که مسکین که موړ دی اختری کول پر واجب دی نو صحیح دی او که مسکین[۵] وی نو اختری پر واجب نه دی نو نه صحیح کیږی - (شرح البدایة ص۴۳۳ څلورم توک وشامی ص۳۰۹ ج ۵)

(۱۶) مسئله:- که اختری د رگ سو د دغه سبب ئی د دهم را نیوی لیکن هغه چه د رگ سوی وو هغه بیرته پیدا سو نو که د غه سړی موړ وو

---

۱ بلکه مکروه ۲ کما فی الخانیة ۳ عوا یعنی د مسکین د پاره ۴ د اختری ۵ شریک کول ۶ د رانیولو سو عوا یعنی د مسکین ۷ شریک کړی ۸ د رانیولو سو عوا ۹ د مسکین ۱۰ د اختری ۱۱ د مسکین ۱۲ د اختری ۱۳ د مسکین ۱۴ د اختری ۱۵ د مسکین ۱۶ د اختری ۱۷ د مسکین ۱۸ د اختری ۱۹ د مسکین ۲۰ د اختری ۲۱ د مسکین ۲۲ د اختری ۲۳ د مسکین ۲۴ د اختری ۲۵ د مسکین ۲۶ د اختری ۲۷ د مسکین ۲۸ د اختری ۲۹ د مسکین ۳۰ د اختری ۳۱ د مسکین ۳۲ د اختری ۳۳ د مسکین ۳۴ د اختری ۳۵ د مسکین ۳۶ د اختری ۳۷ د مسکین ۳۸ د اختری ۳۹ د مسکین ۴۰ د اختری ۴۱ د مسکین ۴۲ د اختری ۴۳ د مسکین ۴۴ د اختری ۴۵ د مسکین ۴۶ د اختری ۴۷ د مسکین ۴۸ د اختری ۴۹ د مسکین ۵۰ د اختری ۵۱ د مسکین ۵۲ د اختری ۵۳ د مسکین ۵۴ د اختری ۵۵ د مسکین ۵۶ د اختری ۵۷ د مسکین ۵۸ د اختری ۵۹ د مسکین ۶۰ د اختری ۶۱ د مسکین ۶۲ د اختری ۶۳ د مسکین ۶۴ د اختری ۶۵ د مسکین ۶۶ د اختری ۶۷ د مسکین ۶۸ د اختری ۶۹ د مسکین ۷۰ د اختری ۷۱ د مسکین ۷۲ د اختری ۷۳ د مسکین ۷۴ د اختری ۷۵ د مسکین ۷۶ د اختری ۷۷ د مسکین ۷۸ د اختری ۷۹ د مسکین ۸۰ د اختری ۸۱ د مسکین ۸۲ د اختری ۸۳ د مسکین ۸۴ د اختری ۸۵ د مسکین ۸۶ د اختری ۸۷ د مسکین ۸۸ د اختری ۸۹ د مسکین ۹۰ د اختری ۹۱ د مسکین ۹۲ د اختری ۹۳ د مسکین ۹۴ د اختری ۹۵ د مسکین ۹۶ د اختری ۹۷ د مسکین ۹۸ د اختری ۹۹ د مسکین ۱۰۰ د اختری ۱۰۱ د مسکین ۱۰۲ د اختری ۱۰۳ د مسکین ۱۰۴ د اختری ۱۰۵ د مسکین ۱۰۶ د اختری ۱۰۷ د مسکین ۱۰۸ د اختری ۱۰۹ د مسکین ۱۱۰ د اختری ۱۱۱ د مسکین ۱۱۲ د اختری ۱۱۳ د مسکین ۱۱۴ د اختری ۱۱۵ د مسکین ۱۱۶ د اختری ۱۱۷ د مسکین ۱۱۸ د اختری ۱۱۹ د مسکین ۱۲۰ د اختری ۱۲۱ د مسکین ۱۲۲ د اختری ۱۲۳ د مسکین ۱۲۴ د اختری ۱۲۵ د مسکین ۱۲۶ د اختری ۱۲۷ د مسکین ۱۲۸ د اختری ۱۲۹ د مسکین ۱۳۰ د اختری ۱۳۱ د مسکین ۱۳۲ د اختری ۱۳۳ د مسکین ۱۳۴ د اختری ۱۳۵ د مسکین ۱۳۶ د اختری ۱۳۷ د مسکین ۱۳۸ د اختری ۱۳۹ د مسکین ۱۴۰ د اختری ۱۴۱ د مسکین ۱۴۲ د اختری ۱۴۳ د مسکین ۱۴۴ د اختری ۱۴۵ د مسکین ۱۴۶ د اختری ۱۴۷ د مسکین ۱۴۸ د اختری ۱۴۹ د مسکین ۱۵۰ د اختری ۱۵۱ د مسکین ۱۵۲ د اختری ۱۵۳ د مسکین ۱۵۴ د اختری ۱۵۵ د مسکین ۱۵۶ د اختری ۱۵۷ د مسکین ۱۵۸ د اختری ۱۵۹ د مسکین ۱۶۰ د اختری ۱۶۱ د مسکین ۱۶۲ د اختری ۱۶۳ د مسکین ۱۶۴ د اختری ۱۶۵ د مسکین ۱۶۶ د اختری ۱۶۷ د مسکین ۱۶۸ د اختری ۱۶۹ د مسکین ۱۷۰ د اختری ۱۷۱ د مسکین ۱۷۲ د اختری ۱۷۳ د مسکین ۱۷۴ د اختری ۱۷۵ د مسکین ۱۷۶ د اختری ۱۷۷ د مسکین ۱۷۸ د اختری ۱۷۹ د مسکین ۱۸۰ د اختری ۱۸۱ د مسکین ۱۸۲ د اختری ۱۸۳ د مسکین ۱۸۴ د اختری ۱۸۵ د مسکین ۱۸۶ د اختری ۱۸۷ د مسکین ۱۸۸ د اختری ۱۸۹ د مسکین ۱۹۰ د اختری ۱۹۱ د مسکین ۱۹۲ د اختری ۱۹۳ د مسکین ۱۹۴ د اختری ۱۹۵ د مسکین ۱۹۶ د اختری ۱۹۷ د مسکین ۱۹۸ د اختری ۱۹۹ د مسکین ۲۰۰ د اختری ۲۰۱ د مسکین ۲۰۲ د اختری ۲۰۳ د مسکین ۲۰۴ د اختری ۲۰۵ د مسکین ۲۰۶ د اختری ۲۰۷ د مسکین ۲۰۸ د اختری ۲۰۹ د مسکین ۲۱۰ د اختری ۲۱۱ د مسکین ۲۱۲ د اختری ۲۱۳ د مسکین ۲۱۴ د اختری ۲۱۵ د مسکین ۲۱۶ د اختری ۲۱۷ د مسکین ۲۱۸ د اختری ۲۱۹ د مسکین ۲۲۰ د اختری ۲۲۱ د مسکین ۲۲۲ د اختری ۲۲۳ د مسکین ۲۲۴ د اختری ۲۲۵ د مسکین ۲۲۶ د اختری ۲۲۷ د مسکین ۲۲۸ د اختری ۲۲۹ د مسکین ۲۳۰ د اختری ۲۳۱ د مسکین ۲۳۲ د اختری ۲۳۳ د مسکین ۲۳۴ د اختری ۲۳۵ د مسکین ۲۳۶ د اختری ۲۳۷ د مسکین ۲۳۸ د اختری ۲۳۹ د مسکین ۲۴۰ د اختری ۲۴۱ د مسکین ۲۴۲ د اختری ۲۴۳ د مسکین ۲۴۴ د اختری ۲۴۵ د مسکین ۲۴۶ د اختری ۲۴۷ د مسکین ۲۴۸ د اختری ۲۴۹ د مسکین ۲۵۰ د اختری ۲۵۱ د مسکین ۲۵۲ د اختری ۲۵۳ د مسکین ۲۵۴ د اختری ۲۵۵ د مسکین ۲۵۶ د اختری ۲۵۷ د مسکین ۲۵۸ د اختری ۲۵۹ د مسکین ۲۶۰ د اختری ۲۶۱ د مسکین ۲۶۲ د اختری ۲۶۳ د مسکین ۲۶۴ د اختری ۲۶۵ د مسکین ۲۶۶ د اختری ۲۶۷ د مسکین ۲۶۸ د اختری ۲۶۹ د مسکین ۲۷۰ د اختری ۲۷۱ د مسکین ۲۷۲ د اختری ۲۷۳ د مسکین ۲۷۴ د اختری ۲۷۵ د مسکین ۲۷۶ د اختری ۲۷۷ د مسکین ۲۷۸ د اختری ۲۷۹ د مسکین ۲۸۰ د اختری ۲۸۱ د مسکین ۲۸۲ د اختری ۲۸۳ د مسکین ۲۸۴ د اختری ۲۸۵ د مسکین ۲۸۶ د اختری ۲۸۷ د مسکین ۲۸۸ د اختری ۲۸۹ د مسکین ۲۹۰ د اختری ۲۹۱ د مسکین ۲۹۲ د اختری ۲۹۳ د مسکین ۲۹۴ د اختری ۲۹۵ د مسکین ۲۹۶ د اختری ۲۹۷ د مسکین ۲۹۸ د اختری ۲۹۹ د مسکین ۳۰۰ د اختری ۳۰۱ د مسکین ۳۰۲ د اختری ۳۰۳ د مسکین ۳۰۴ د اختری ۳۰۵ د مسکین ۳۰۶ د اختری ۳۰۷ د مسکین ۳۰۸ د اختری ۳۰۹ د مسکین ۳۱۰ د اختری ۳۱۱ د مسکین ۳۱۲ د اختری ۳۱۳ د مسکین ۳۱۴ د اختری ۳۱۵ د مسکین ۳۱۶ د اختری ۳۱۷ د مسکین ۳۱۸ د اختری ۳۱۹ د مسکین ۳۲۰ د اختری ۳۲۱ د مسکین ۳۲۲ د اختری ۳۲۳ د مسکین ۳۲۴ د اختری ۳۲۵ د مسکین ۳۲۶ د اختری ۳۲۷ د مسکین ۳۲۸ د اختری ۳۲۹ د مسکین ۳۳۰ د اختری ۳۳۱ د مسکین ۳۳۲ د اختری ۳۳۳ د مسکین ۳۳۴ د اختری ۳۳۵ د مسکین ۳۳۶ د اختری ۳۳۷ د مسکین ۳۳۸ د اختری ۳۳۹ د مسکین ۳۴۰ د اختری ۳۴۱ د مسکین ۳۴۲ د اختری ۳۴۳ د مسکین ۳۴۴ د اختری ۳۴۵ د مسکین ۳۴۶ د اختری ۳۴۷ د مسکین ۳۴۸ د اختری ۳۴۹ د مسکین ۳۵۰ د اختری ۳۵۱ د مسکین ۳۵۲ د اختری ۳۵۳ د مسکین ۳۵۴ د اختری ۳۵۵ د مسکین ۳۵۶ د اختری ۳۵۷ د مسکین ۳۵۸ د اختری ۳۵۹ د مسکین ۳۶۰ د اختری ۳۶۱ د مسکین ۳۶۲ د اختری ۳۶۳ د مسکین ۳۶۴ د اختری ۳۶۵ د مسکین ۳۶۶ د اختری ۳۶۷ د مسکین ۳۶۸ د اختری ۳۶۹ د مسکین ۳۷۰ د اختری ۳۷۱ د مسکین ۳۷۲ د اختری ۳۷۳ د مسکین ۳۷۴ د اختری ۳۷۵ د مسکین ۳۷۶ د اختری ۳۷۷ د مسکین ۳۷۸ د اختری ۳۷۹ د مسکین ۳۸۰ د اختری ۳۸۱ د مسکین ۳۸۲ د اختری ۳۸۳ د مسکین ۳۸۴ د اختری ۳۸۵ د مسکین ۳۸۶ د اختری ۳۸۷ د مسکین ۳۸۸ د اختری ۳۸۹ د مسکین ۳۹۰ د اختری ۳۹۱ د مسکین ۳۹۲ د اختری ۳۹۳ د مسکین ۳۹۴ د اختری ۳۹۵ د مسکین ۳۹۶ د اختری ۳۹۷ د مسکین ۳۹۸ د اختری ۳۹۹ د مسکین ۴۰۰ د اختری ۴۰۱ د مسکین ۴۰۲ د اختری ۴۰۳ د مسکین ۴۰۴ د اختری ۴۰۵ د مسکین ۴۰۶ د اختری ۴۰۷ د مسکین ۴۰۸ د اختری ۴۰۹ د مسکین ۴۱۰ د اختری ۴۱۱ د مسکین ۴۱۲ د اختری ۴۱۳ د مسکین ۴۱۴ د اختری ۴۱۵ د مسکین ۴۱۶ د اختری ۴۱۷ د مسکین ۴۱۸ د اختری ۴۱۹ د مسکین ۴۲۰ د اختری ۴۲۱ د مسکین ۴۲۲ د اختری ۴۲۳ د مسکین ۴۲۴ د اختری ۴۲۵ د مسکین ۴۲۶ د اختری ۴۲۷ د مسکین ۴۲۸ د اختری ۴۲۹ د مسکین ۴۳۰ د اختری ۴۳۱ د مسکین ۴۳۲ د اختری ۴۳۳ د مسکین ۴۳۴ د اختری ۴۳۵ د مسکین ۴۳۶ د اختری ۴۳۷ د مسکین ۴۳۸ د اختری ۴۳۹ د مسکین ۴۴۰ د اختری ۴۴۱ د مسکین ۴۴۲ د اختری ۴۴۳ د مسکین ۴۴۴ د اختری ۴۴۵ د مسکین ۴۴۶ د اختری ۴۴۷ د مسکین ۴۴۸ د اختری ۴۴۹ د مسکین ۴۵۰ د اختری ۴۵۱ د مسکین ۴۵۲ د اختری ۴۵۳ د مسکین ۴۵۴ د اختری ۴۵۵ د مسکین ۴۵۶ د اختری ۴۵۷ د مسکین ۴۵۸ د اختری ۴۵۹ د مسکین ۴۶۰ د اختری ۴۶۱ د مسکین ۴۶۲ د اختری ۴۶۳ د مسکین ۴۶۴ د اختری ۴۶۵ د مسکین ۴۶۶ د اختری ۴۶۷ د مسکین ۴۶۸ د اختری ۴۶۹ د مسکین ۴۷۰ د اختری ۴۷۱ د مسکین ۴۷۲ د اختری ۴۷۳ د مسکین ۴۷۴ د اختری ۴۷۵ د مسکین ۴۷۶ د اختری ۴۷۷ د مسکین ۴۷۸ د اختری ۴۷۹ د مسکین ۴۸۰ د اختری ۴۸۱ د مسکین ۴۸۲ د اختری ۴۸۳ د مسکین ۴۸۴ د اختری ۴۸۵ د مسکین ۴۸۶ د اختری ۴۸۷ د مسکین ۴۸۸ د اختری ۴۸۹ د مسکین ۴۹۰ د اختری ۴۹۱ د مسکین ۴۹۲ د اختری ۴۹۳ د مسکین ۴۹۴ د اختری ۴۹۵ د مسکین ۴۹۶ د اختری ۴۹۷ د مسکین ۴۹۸ د اختری ۴۹۹ د مسکین ۵۰۰ د اختری ۵۰۱ د مسکین ۵۰۲ د اختری ۵۰۳ د مسکین ۵۰۴ د اختری ۵۰۵ د مسکین ۵۰۶ د اختری ۵۰۷ د مسکین ۵۰۸ د اختری ۵۰۹ د مسکین ۵۱۰ د اختری ۵۱۱ د مسکین ۵۱۲ د اختری ۵۱۳ د مسکین ۵۱۴ د اختری ۵۱۵ د مسکین ۵۱۶ د اختری ۵۱۷ د مسکین ۵۱۸ د اختری ۵۱۹ د مسکین ۵۲۰ د اختری ۵۲۱ د مسکین ۵۲۲ د اختری ۵۲۳ د مسکین ۵۲۴ د اختری ۵۲۵ د مسکین ۵۲۶ د اختری ۵۲۷ د مسکین ۵۲۸ د اختری ۵۲۹ د مسکین ۵۳۰ د اختری ۵۳۱ د مسکین ۵۳۲ د اختری ۵۳۳ د مسکین ۵۳۴ د اختری ۵۳۵ د مسکین ۵۳۶ د اختری ۵۳۷ د مسکین ۵۳۸ د اختری ۵۳۹ د مسکین ۵۴۰ د اختری ۵۴۱ د مسکین ۵۴۲ د اختری ۵۴۳ د مسکین ۵۴۴ د اختری ۵۴۵ د مسکین ۵۴۶ د اختری ۵۴۷ د مسکین ۵۴۸ د اختری ۵۴۹ د مسکین ۵۵۰ د اختری ۵۵۱ د مسکین ۵۵۲ د اختری ۵۵۳ د مسکین ۵۵۴ د اختری ۵۵۵ د مسکین ۵۵۶ د اختری ۵۵۷ د مسکین ۵۵۸ د اختری ۵۵۹ د مسکین ۵۶۰ د اختری ۵۶۱ د مسکین ۵۶۲ د اختری ۵۶۳ د مسکین ۵۶۴ د اختری ۵۶۵ د مسکین ۵۶۶ د اختری ۵۶۷ د مسکین ۵۶۸ د اختری ۵۶۹ د مسکین ۵۷۰ د اختری ۵۷۱ د مسکین ۵۷۲ د اختری ۵۷۳ د مسکین ۵۷۴ د اختری ۵۷۵ د مسکین ۵۷۶ د اختری ۵۷۷ د مسکین ۵۷۸ د اختری ۵۷۹ د مسکین ۵۸۰ د اختری ۵۸۱ د مسکین ۵۸۲ د اختری ۵۸۳ د مسکین ۵۸۴ د اختری ۵۸۵ د مسکین ۵۸۶ د اختری ۵۸۷ د مسکین ۵۸۸ د اختری ۵۸۹ د مسکین ۵۹۰ د اختری ۵۹۱ د مسکین ۵۹۲ د اختری ۵۹۳ د مسکین ۵۹۴ د اختری ۵۹۵ د مسکین ۵۹۶ د اختری ۵۹۷ د مسکین ۵۹۸ د اختری ۵۹۹ د مسکین ۶۰۰ د اختری ۶۰۱ د مسکین ۶۰۲ د اختری ۶۰۳ د مسکین ۶۰۴ د اختری ۶۰۵ د مسکین ۶۰۶ د اختری ۶۰۷ د مسکین ۶۰۸ د اختری ۶۰۹ د مسکین ۶۱۰ د اختری ۶۱۱ د مسکین ۶۱۲ د اختری ۶۱۳ د مسکین ۶۱۴ د اختری ۶۱۵ د مسکین ۶۱۶ د اختری ۶۱۷ د مسکین ۶۱۸ د اختری ۶۱۹ د مسکین ۶۲۰ د اختری ۶۲۱ د مسکین ۶۲۲ د اختری ۶۲۳ د مسکین ۶۲۴ د اختری ۶۲۵ د مسکین ۶۲۶ د اختری ۶۲۷ د مسکین ۶۲۸ د اختری ۶۲۹ د مسکین ۶۳۰ د اختری ۶۳۱ د مسکین ۶۳۲ د اختری ۶۳۳ د مسکین ۶۳۴ د اختری ۶۳۵ د مسکین ۶۳۶ د اختری ۶۳۷ د مسکین ۶۳۸ د اختری ۶۳۹ د مسکین ۶۴۰ د اختری ۶۴۱ د مسکین ۶۴۲ د اختری ۶۴۳ د مسکین ۶۴۴ د اختری ۶۴۵ د مسکین ۶۴۶ د اختری ۶۴۷ د مسکین ۶۴۸ د اختری ۶۴۹ د مسکین ۶۵۰ د اختری ۶۵۱ د مسکین ۶۵۲ د اختری ۶۵۳ د مسکین ۶۵۴ د اختری ۶۵۵ د مسکین ۶۵۶ د اختری ۶۵۷ د مسکین ۶۵۸ د اختری ۶۵۹ د مسکین ۶۶۰ د اختری ۶۶۱ د مسکین ۶۶۲ د اختری ۶۶۳ د مسکین ۶۶۴ د اختری ۶۶۵ د مسکین ۶۶۶ د اختری ۶۶۷ د مسکین ۶۶۸ د اختری ۶۶۹ د مسکین ۶۷۰ د اختری ۶۷۱ د مسکین ۶۷۲ د اختری ۶۷۳ د مسکین ۶۷۴ د اختری ۶۷۵ د مسکین ۶۷۶ د اختری ۶۷۷ د مسکین ۶۷۸ د اختری ۶۷۹ د مسکین ۶۸۰ د اختری ۶۸۱ د مسکین ۶۸۲ د اختری ۶۸۳ د مسکین ۶۸۴ د اختری ۶۸۵ د مسکین ۶۸۶ د اختری ۶۸۷ د مسکین ۶۸۸ د اختری ۶۸۹ د مسکین ۶۹۰ د اختری ۶۹۱ د مسکین ۶۹۲ د اختری ۶۹۳ د مسکین ۶۹۴ د اختری ۶۹۵ د مسکین ۶۹۶ د اختری ۶۹۷ د مسکین ۶۹۸ د اختری ۶۹۹ د مسکین ۷۰۰ د اختری ۷۰۱ د مسکین ۷۰۲ د اختری ۷۰۳ د مسکین ۷۰۴ د اختری ۷۰۵ د مسکین ۷۰۶ د اختری ۷۰۷ د مسکین ۷۰۸ د اختری ۷۰۹ د مسکین ۷۱۰ د اختری ۷۱۱ د مسکین ۷۱۲ د اختری ۷۱۳ د مسکین ۷۱۴ د اختری ۷۱۵ د مسکین ۷۱۶ د اختری ۷۱۷ د مسکین ۷۱۸ د اختری ۷۱۹ د مسکین ۷۲۰ د اختری ۷۲۱ د مسکین ۷۲۲ د اختری ۷۲۳ د مسکین ۷۲۴ د اختری ۷۲۵ د مسکین ۷۲۶ د اختری ۷۲۷ د مسکین ۷۲۸ د اختری ۷۲۹ د مسکین ۷۳۰ د اختری ۷۳۱ د مسکین ۷۳۲ د اختری ۷۳۳ د مسکین ۷۳۴ د اختری ۷۳۵ د مسکین ۷۳۶ د اختری ۷۳۷ د مسکین ۷۳۸ د اختری ۷۳۹ د مسکین ۷۴۰ د اختری ۷۴۱ د مسکین ۷۴۲ د اختری ۷۴۳ د مسکین ۷۴۴ د اختری ۷۴۵ د مسکین ۷۴۶ د اختری ۷۴۷ د مسکین ۷۴۸ د اختری ۷۴۹ د مسکین ۷۵۰ د اختری ۷۵۱ د مسکین ۷۵۲ د اختری ۷۵۳ د مسکین ۷۵۴ د اختری ۷۵۵ د مسکین ۷۵۶ د اختری ۷۵۷ د مسکین ۷۵۸ د اختری ۷۵۹ د مسکین ۷۶۰ د اختری ۷۶۱ د مسکین ۷۶۲ د اختری ۷۶۳ د مسکین ۷۶۴ د اختری ۷۶۵ د مسکین ۷۶۶ د اختری ۷۶۷ د مسکین ۷۶۸ د اختری ۷۶۹ د مسکین ۷۷۰ د اختری ۷۷۱ د مسکین ۷۷۲ د اختری ۷۷۳ د مسکین ۷۷۴ د اختری ۷۷۵ د مسکین ۷۷۶ د اختری ۷۷۷ د مسکین ۷۷۸ د اختری ۷۷۹ د مسکین ۷۸۰ د اختری ۷۸۱ د مسکین ۷۸۲ د اختری ۷۸۳ د مسکین ۷۸۴ د اختری ۷۸۵ د مسکین ۷۸۶ د اختری ۷۸۷ د مسکین ۷۸۸ د اختری ۷۸۹ د مسکین ۷۹۰ د اختری ۷۹۱ د مسکین ۷۹۲ د اختری ۷۹۳ د مسکین ۷۹۴ د اختری ۷۹۵ د مسکین ۷۹۶ د اختری ۷۹۷ د مسکین ۷۹۸ د اختری ۷۹۹ د مسکین ۸۰۰ د اختری ۸۰۱ د مسکین ۸۰۲ د اختری ۸۰۳ د مسکین ۸۰۴ د اختری ۸۰۵ د مسکین ۸۰۶ د اختری ۸۰۷ د مسکین ۸۰۸ د اختری ۸۰۹ د مسکین ۸۱۰ د اختری ۸۱۱ د مسکین ۸۱۲ د اختری ۸۱۳ د مسکین ۸۱۴ د اختری ۸۱۵ د مسکین ۸۱۶ د اختری ۸۱۷ د مسکین ۸۱۸ د اختری ۸۱۹ د مسکین ۸۲۰ د اختری ۸۲۱ د مسکین ۸۲۲ د اختری ۸۲۳ د مسکین ۸۲۴ د اختری ۸۲۵ د مسکین ۸۲۶ د اختری ۸۲۷ د مسکین ۸۲۸ د اختری ۸۲۹ د مسکین ۸۳۰ د اختری ۸۳۱ د مسکین ۸۳۲ د اختری ۸۳۳ د مسکین ۸۳۴ د اختری ۸۳۵ د مسکین ۸۳۶ د اختری ۸۳۷ د مسکین ۸۳۸ د اختری ۸۳۹ د مسکین ۸۴۰ د اختری ۸۴۱ د مسکین ۸۴۲ د اختری ۸۴۳ د مسکین ۸۴۴ د اختری ۸۴۵ د مسکین ۸۴۶ د اختری ۸۴۷ د مسکین ۸۴۸ د اختری ۸۴۹ د مسکین ۸۵۰ د اختری ۸۵۱ د مسکین ۸۵۲ د اختری ۸۵۳ د مسکین ۸۵۴ د اختری ۸۵۵ د مسکین ۸۵۶ د اختری ۸۵۷ د مسکین ۸۵۸ د اختری ۸۵۹ د مسکین ۸۶۰ د اختری ۸۶۱ د مسکین ۸۶۲ د اختری ۸۶۳ د مسکین ۸۶۴ د اختری ۸۶۵ د مسکین ۸۶۶ د اختری ۸۶۷ د مسکین ۸۶۸ د اختری ۸۶۹ د مسکین ۸۷۰ د اختری ۸۷۱ د مسکین ۸۷۲ د اختری ۸۷۳ د مسکین ۸۷۴ د اختری ۸۷۵ د مسکین ۸۷۶ د اختری ۸۷۷ د مسکین ۸۷۸ د اختری ۸۷۹ د مسکین ۸۸۰ د اختری ۸۸۱ د مسکین ۸۸۲ د اختری ۸۸۳ د مسکین ۸۸۴ د اختری ۸۸۵ د مسکین ۸۸۶ د اختری ۸۸۷ د مسکین ۸۸۸ د اختری ۸۸۹ د مسکین ۸۹۰ د اختری ۸۹۱ د مسکین ۸۹۲ د اختری ۸۹۳ د مسکین ۸۹۴ د اختری ۸۹۵ د مسکین ۸۹۶ د اختری ۸۹۷ د مسکین ۸۹۸ د اختری ۸۹۹ د مسکین ۹۰۰ د اختری ۹۰۱ د مسکین ۹۰۲ د اختری ۹۰۳ د مسکین ۹۰۴ د اختری ۹۰۵ د مسکین ۹۰۶ د اختری ۹۰۷ د مسکین ۹۰۸ د اختری ۹۰۹ د مسکین ۹۱۰ د اختری ۹۱۱ د مسکین ۹۱۲ د اختری ۹۱۳ د مسکین ۹۱۴ د اختری ۹۱۵ د مسکین ۹۱۶ د اختری ۹۱۷ د مسکین ۹۱۸ د اختری ۹۱۹ د مسکین ۹۲۰ د اختری ۹۲۱ د مسکین ۹۲۲ د اختری ۹۲۳ د مسکین ۹۲۴ د اختری ۹۲۵ د مسکین ۹۲۶ د اختری ۹۲۷ د مسکین ۹۲۸ د اختری ۹۲۹ د مسکین ۹۳۰ د اختری ۹۳۱ د مسکین ۹۳۲ د اختری ۹۳۳ د مسکین ۹۳۴ د اختری ۹۳۵ د مسکین ۹۳۶ د اختری ۹۳۷ د مسکین ۹۳۸ د اختری ۹۳۹ د مسکین ۹۴۰ د اختری ۹۴۱ د مسکین ۹۴۲ د اختری ۹۴۳ د مسکین ۹۴۴ د اختری ۹۴۵ د مسکین ۹۴۶ د اختری ۹۴۷ د مسکین ۹۴۸ د اختری ۹۴۹ د مسکین ۹۵۰ د اختری ۹۵۱ د مسکین ۹۵۲ د اختری ۹۵۳ د مسکین ۹۵۴ د اختری ۹۵۵ د مسکین ۹۵۶ د اختری ۹۵۷ د مسکین ۹۵۸ د اختری ۹۵۹ د مسکین ۹۶۰ د اختری ۹۶۱ د مسکین ۹۶۲ د اختری ۹۶۳ د مسکین ۹۶۴ د اختری ۹۶۵ د مسکین ۹۶۶ د اختری ۹۶۷ د مسکین ۹۶۸ د اختری ۹۶۹ د مسکین ۹۷۰ د اختری ۹۷۱ د مسکین ۹۷۲ د اختری ۹۷۳ د مسکین ۹۷۴ د اختری ۹۷۵ د مسکین ۹۷۶ د اختری ۹۷۷ د مسکین ۹۷۸ د اختری ۹۷۹ د مسکین ۹۸۰ د اختری ۹۸۱ د مسکین ۹۸۲ د اختری ۹۸۳ د مسکین ۹۸۴ د اختری ۹۸۵ د مسکین ۹۸۶ د اختری ۹۸۷ د مسکین ۹۸۸ د اختری ۹۸۹ د مسکین ۹۹۰ د اختری ۹۹۱ د مسکین ۹۹۲ د اختری ۹۹۳ د مسکین ۹۹۴ د اختری ۹۹۵ د مسکین ۹۹۶ د اختری ۹۹۷ د مسکین ۹۹۸ د اختری ۹۹۹ د مسکین ۱۰۰۰ د اختری

نو نقط دیوه حلالول پرده واجب دی اوکه مسکین ځو نود دواړه حلالول باندی واجب دی. (شرح البدایه ص۲۳۶ څلورم توک)

(۱۷) مسئله اوده کسان په خواړه شریکان سوه نود غوښو د تقسیمولو په وخت کښی دی غوښی په اټکل او اندازه نه سره ویشی بلکه په تول او تراز ودی سره ویشی که ئی دغسی نه سره ویشی نو یوه حصه که ډیره سوه بله لږ سوه - نود غه سود دی ګنهګاره کیږی لیکن که د غوښو سره سی، پښی او پوست هم شریک کړی نو هرطرف ته چه سر پښی یا پوست وی هغه طرف ته که غوښی کمی وی نو صحیح دی - برابره خبره ده که هرځوند کمی وی او هرطرف ته چه غوښی ډیری وی د هغه طرف سره سی، پښی او پوست که ملګری کړی نو هم سود دی اوګناه ده (شرح التنویر ص۳۱۰ پنځم توک)

(۱۸) مسئله:- بزه چه تر یوه کال کمه وی د اختری د پاره صحیح نه ده که نر وی که ښځه چه د پوره یوه کال سی بیا صحیح ده - اوبن چه تر پنځه کاله کم وی صحیح نه دی وړئ یا وړی که دوندی غټه او چاغه وی چه د پوره کال معلومیږی او په هغو پسو او میږو کښی چه ایله کړل سی چه هغه د پوره کال وی نه کی معلومیږی او فرق ئی نه سره کیږی نو په داسی وخت کښی د شپږو میاشتو وړی او وړی هم صحیح دی اوکه ئی د کال د دی سره فرق کیږی اود شپږو میاشتو والا کوچنی معلومیږی نو بیا باید د پوره کال وی - غوبی او ګامیښ چه تر دوه کالو کم وی اختری کول ئی صحیح نه دی - (شرح التنویر ص۳۱۴ شپږم توک والبحرالرائق ص۲۱۶ دوهم توک ورد المحتار ص۳۵ باب زکوة الغنم)



(۱۹) مسئله:- هر هغه حیوان چه روند وی یا کوڼ وی یا دیوی سترګی دریمه حصه ډیدګی نه وی یا تر دغه زیات نه وی یا دیوه غوږ دریمه یا تر دریمی زیاته حصه ګی نه وی یا دریمه حصه نکه ګی پری سوی وی یا تر دغه زیاته ګی پری سوی وی د دغسی حیوان اختری کول صحیح نه دی۔ (فتاوی هندیة صفحه ۲۰۰ شپږم توک و رد المحتار صفحه ۳۱۶ پنځم توک)

(۲۰) مسئله:- هر هغه حیوان چه دوندی ګوډ وی چه فقط پوزه (۳) روان وی او څلور مه پښه بالکل پرمځکه نه لګوی یا خو څلورمه پښه لګوی یکر تګ پرکولای نه سی د داسی حیوان هم اختری کول صحیح نه دی اوکه د تګ په وخت کښی دغه پښه لګوی او زور هم پرکوی او پرتلای هم سی۔ لیکن ګوډ ګوډ پرروان وی بیا ګی اختری کول صحیح دی۔ (رد المحتار صفحه ۳۱۶ ج ۵)

(۲۱) مسئله:- دوندی ډنګر او خوار حیوان چه دده په هډوکښی بالکل مغز او طاقت نه وی د دی حیوان اختری کول روا نه دی اوکه دوندۍ ډنګر نه وی نو ډنګر والی ګی هیڅ پروا نه لری او اختری کول ګی صحیح دی۔ لیکن د تیار او چاغ حیوان اختری کول ډیر ښه دی۔ (فتاوی هندیة صفحه ۲۰۰ شپږم توک)

(۲۲) مسئله:- د هغه حیوان چه غابنونه ګی بالکل نه وی اختری کول روا نه دی اوکه ګی یو څه غابنونه وتلی وی یو څه پاته وی لیکن پاته غابنونه ګی تر وتلو ډیر وی د دغه اختری کول روا دی۔ (شرح التنویر صفحه ۳۱۶ پنځم توک)

(۲۳) مسئله:- د هغه حیوان چه مور زاده ګی غوږونه نه وی د هغه حیوان حلالول د اختری د پاره روا نه دی اوکه ګی غوږونه وی خو بالکل وار وار وی د هغه حیوان حلالول د اختری د پاره روا دی۔ (فتاوی هندیة صفحه ۲۰۰ شپږم توک)

(۲۴) مسئله هغه حیوان چه مور زاده ګی بنکر نه وی یا بنکر ګی وی لیکن مات سوی وی نو د دی حیوان حلالول د اختری د پاره روا دی اوکه د بیخه څخه ختلی وه بیا ګی حلالول روا نه دی۔ (رد المحتار صفحه ۳۱۵ پنځم توک)

(۲۵) مسئله:- د خمی اونګری او پسه حلالول هم د پاره د اختری روا دی د هر حیوان چه د خارش مرض وی د هغه اختری کول هم روا دی البته که د دغه خارش دسبه د

(۲۶) مسئله:- که ئی یو حیوان داختری د پاره رانیوی بیا یو داسی عیب پکښی پیدا اسو چه د دغه عیب د سببه ئی اختری کول صحیح نه وی نو دده په بدل کښی دی بل حیوان واخلی او حلال دی کړی لیکن که غریب سړی وو چه یو صفه اختری کول واجب نه وو نو دده د پاره صحیح دی چه د دغه عیبی حیوان اختری کړی - (شرح التنویر ص۳۱۷ دوهم پتوک)

(۲۷) مسئله:- داختری غوښی دی خپله هم وخوړی، خپلوانو ته دی هم ورکړی او پر فقیرانو او مسکینانو دی هم خیرات کړی او ښه داده چه لږ تر لږه دریمه حصه خیرات کړی او تر دریمه حصه دی په خیرات کښی کمښت نه کوی لیکن که چا پیری لږ غوښی خیرات کړی نو هم گناه نه ده - شرح التنویر ص۳۲۰ ج۵)

(۲۸) مسئله:- داختری پوست یا خرمن دی داسی خیرات کړی یا دی خرڅ کړی پیسی دی خیرات کړی د دغه پیسی دی د داسی خلگو ته ورکړی چه هغوی ته د زکوٰة پیسی روا وی چه پوست یا خرمن ئی خرڅه کړه بعینه دی هغه پیسی خیرات کړی او که ئی هغه پیسی په کار کښی ونگولی بیا ئی نو د غوندی پیسی د خپله جیبه پر ځای د هغو خیرات کړی نو بد کار دی مگر ادا کیږی (شرح التنویر ص۳۲۱ پنځم پتوک)

(۲۹) مسئله:- د دغه پوست یا خرمنی په قیمت مړه مسجد جوړول یا ئی پیسی او قیمت په یو نیک کار کښی لگول روا نه دی صرف خیراتول ئی په کار دی - شرح التنویر ص۳۲۱ پنځم پتوک)

(۳۰) مسئله:- که ئی پوست یا خرمن پخپل کار کښی استعمال کړه مثلاً غلبیل (زغبیل) یاد غوړو رزق یاد لمانځه مسئله ئی څنډی جوړه کړه هم صحیح او روا کار دی. (شرح التنویر ص۳۲۱ پنځم پتوک)

(۳۱) مسئله:- څه غوښه وازگه، بیکاره غوښه دی قصاب ته په مزدوری کښی نه ورکوی بلکه مزدوری دی د خپله جیبه څخه جلا ورکړی - (شرح التنویر ص۳۲۱ پنځم پتوک)

(۳۲) مسئله:- د اختری رسی، مهار، حُل او ټول شیان دی خیرات کړی۔(رد المحتار ص۳۴۱ پنځم ټوک)

(۳۳) مسئله:- پریو چا اختر کول واجب نه وُو لیکن ده به نیت د اختری یو حیوان رانیوی نو اوس اختری باندی واجب سو۔ (فتاوی هندیه ص۱۹۶ شپږم ټوک)

(۳۴) مسئله:- پریو چا اختری واجب وُو لیکن د اختری دری سره ورځی تیری سوی دی اختری نه وکړی نو دیوی بڼی یا پسه قیمت دی خیرات کړی اوکه ئی بڼه یا بل شی رانیولی وُو نو خاص هغه دی خیرات کړی۔ (شرح التنویر ص۳۱۴ پنځم ټوک)

(۳۵) مسئله:- یو چا پر خان باندی اختری نذر کړی یعنی ویل یی کُه زما پلانی کار دسو نو به زه اختری کوم۔ بیائی هغه کار دسو نو پرده اختری کول واجب دی پرده خبره ده که د ولتمند وی یا مسکین وی د دغه نذر د اختری غوښی دی ټیلی د فقیرانو اوغریبانو نه ته ورکړی نه دی د اخپله خوړی اونه دی د ولتمند و خلګو نه ته ورکوی خوندی چه دی خوړلی وی یائی مړو خلګو نه ورکړی وی په هغه اندازه دی بیرته خیرات وکړی۔ (شرح التنویر ص۳۱۳ پنځم ټوک)

(۳۶) مسئله:- که ئی په خپله خوښه سره ویومړی نه د ثواب رسیدو د پاره اختری وکړی نو د غه غوښی خوړل بل نه ورکول او ویشل ټول روا دی هر قسم چه د خپل اختری حکم ئی دی د دی اختری هم داغسی حکم دی۔ (رد المحتار ص۳۲۵ ج ۵)

(۳۷) مسئله:- لیکن که یو چا وصیت ورنه کړی وُو چه زما د ترکی (یعنی چه زه مړ سم زما د مال د دریمی حصی څخه دی په ما پسی) اختری وسی نو دده د وصیت د سببه دده پرنامه اختری وسو نو د غه اختری ټولی غوښی او داسی نور شیان لکه وانګی، مهار او حُل د ټولو خیرات ټول واجب دی۔ (رد المحتار ص۳۲۸ پنځم ټوک)

(۳۸) مسئله:- که یو څوک موجود نه وی او بل چا د ده د طرف څخه بیله د د ده د امر څخه اختری وکړی نو دا اختری د ده صحیح نه دی اوکه په یو حیوان کښی د یو غائب سړی حصه مقرره او معلومه کړی بیله دی چه هغه ورته ویلی وی

نود نور وحصه دار انو اختری هم صحیح نه دی۔ (فتاوی هندیه
(۳۹) مسئله:۱- که یو چا بل چاته یو حیوان په ساتنه ورکړ
دغه زما حیوان ساته یا په مزدوری یا په څوانی مثلاً
هغه ساتو نکی ملک نه دی بلکه د اصل مالک دی نو د دغه سبب که
ساتو نکی څخه رانیوی اختری ئې کړی نو اختری ئې صحیح نه ده
حیوان څوک د اختری د پاره رانیسی نو دی د اصلی مالک څخه رانیسی (فتاوی
هندیه ص۲۷۱ پنځم توک)
(۴۰) مسئله:- که په یو حیوان کښی ډیر خلک شریکان وی او دغه ټولی غوښی په
خپل مابین کښی نه تقسیموی بلکه یو ځای ئې ټولی د فقیرانو او دوستانو نه ورو
تقسیم کړی یا ئې پخې کړی ټول په ماړه کړی هم روا دی او که ئې سره تقسیموی
نو بیا برابری ضروری ده۔ (رد المحتار ص۳۱۰ پنځم توک)
(۴۱) مسئله:۱- د اختری پوست چا ته په مزدوری کښی ورکول یا ئې قیمت په
مزدوری کښی ورکول روا نه دی ځکه د دغه خیرانتول ضروری دی۔ (شرح
التنویر ص۳۲۱ پنځم توک)
(۴۲) مسئله:۱- د اختری غوښی کافرانو ته ورکول هم روا دی په دی شرط چه په مزدوری
کښی ورنه کړل سی۔ (فتاوی هندیه ص۳۰۱ شپږم توک)
(۴۳) مسئله:۱- هغه غوا یا بزه چه اختری کیږی که چیری برالبه وی هم صحیح
ده او که ئې اولاد څوندی راوړی ورو سته تر حلالیدو اوښ ځیرید و هغه
دی هم حلال کړی۔ (رد المحتار ص۳۱۹ پنځم توک)

۲۰ دعقیقی بیان — باب

(۱) مسئله:۱- د چا چه یو هلک یا اینجلی پیدا سی نو منه داده چه او دمه ورځ
نوم پرکښیږدی او عقیقه وکړی د عقیقی په کولو سره ټول درد او بلا لیری کیږی
او د عقیقی په کولو سره کوچنی محفوظ او سائلی پاته کیږی۔ (رد المحتار
ص۳۲۸ پنځم توک)
(۲) مسئله:۱- د عقیقی طریقه داده که چیری هلک پیدا سی نو دوی بزی یا

ثالث للمنح حکم الذبح والمعاهد کالذمی فی جواز الاستحسان ۱۲ ف

دوه پسونه اوکه اینجیلی وزیزی نو یوه بزه یا یو پسه دی پر خیرات کړی یا داختری په غوا کښی دی دهلک دپاره دوی حصی او دا اینجیلی دپاره یوه حصه معلومه کړی - داغه رنګه هلک یا اینجیلی ته دی دسر ودیښتان ور وخرڼي اود ویښتانو دوزن سره برابر دی سپین زر یا سره زر وتلی او خیرات دی کړی اوکه ئی خوښه سوه دکوچنی سر دی په زعفرانو وورنګوی. (رد المحتار ص۳۲۸ پنځم ټوک)

(۳) مسئله:- که اوومه ورځ عقیقه ونه کړی لیکن بیا هم هره ورځ چه ئی کوی باید داوومی ورځی خیال وساتی ځکه چه دغه ورځ دیره بهتره ده - د عقیقی دپاره اوطریقه ئی داده چه هر هغه ورځ کوچنی پیدا سی ددغی ورځی څخه مخکی دی یوه ورځ وکړی مثلاً کوچنی د جمعی په ورځ پیدا سوی وُو - نو د پنجشنبی په ورځ دی عقیقه وکړی اوکه د پنجشنبی په ورځ پیدا سوی وو نو دی د چهارشنبی په ورځ عقیقه وکړی - ددغه خوښه ده هر وخت چه عقیقه کوی د حساب څخه به دغه ورځ چه عقیقه پکښی کوی اوومه ورځ وی -

(۴) مسئله:- په بعضو ځایونو کښی دا رواج دی چه دکوچنی پر سر چا ره ورکښیښوول سی او نائی یا سرخریونکی چه سر خریل شروع کړی نو فوراً په داغه وخت کښی بزه یا بل شی حلالتوی دا هسی رواج دی په شریعت کښی ټولدروا دی که ئی تر سر خریلو ورو سته حلال کړی اویا ذبحه وکړی بیا سر ورو خرڼي بی کومه دلیله دغسی خبری دروا جول ډیر بد کار دی - (ابن رشد ص۲۰۰ دوهم ټوک)

(۵) مسئله:- هر هغه حیوان چه په اختری کښی نه صحیح کیږی هغه حیوان په عقیقه کښی هم نه صحیح کیږی او هر هغه حیوان چه اختری صحیح دی دهغه عقیقه هم صحیح ده - (رد المحتار ص۳۲۰ پنځم ټوک)

(۶) مسئله:- د عقیقی غوښی که او ډی خیرات یا پخی سی بیا ئی پرکور وتقسیم کړی یا پخی سی ټول خلق پر میلمانه کړل سی دغه ټوله صحیح اور وا دی - (رد المحتار ص۳۲۸ پنځم ټوک)

۳۶۲ غواړی نو د دغو دوه حصو څخه دی یخپله هم وخوری او بهتره داده چه د عقیقی بهر وکی صدقات نه کړی او د عقیقی سر دی نائی یعنی (پاتې پر ص۵۹)

(۷) مسئله:- د عقیقی د غوښو خوراک د پلار، نیکه او انا- د تولو د پلار د ویادی- نیکه او انا که د هوډ د خواوی او که د پلار د خواوی (تکمله ما لابد)

(۸) مسئله:- که څوک مسکین وی نو له د غه سببه د هلک د پاره یوه بزه یا یو پسه عقیقه کړی نو پروا نه لری او که بالکل عقیقه و نه کړی هم هیڅ پروا نه لری- (عالمګیری ص۲۴۶)

۲۱ باب — د حج بیان

د هر هغه چا سره چه نفقه وړتیا بالا دونده ی خرڅ وی چه د حج د پاره د تګ او راتګ کرایه او د خورلو څښلو خرڅه ولری یعنی چه پرلاری ئی خوړی او څښی او په حج کښی ئی خوړی او څښی هغه به هم د میانه درجی خوراک او څښاک وی. نو د د غسی سړی پر دنمه حج فرض کیږی.

او د حج د پیر فضیلت او بهتری راغلی د ه لکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه کوم حج چه د ګناهو نو او خرابیو څخه پاک وی د د غه بدله بیله جنته بل شی نه دی. (مشکوٰة شریف ص۲۲۱) د اغه رنګه د عمری هم د پیر ثواب بیان سوی دی لکه چه نبی علیه الصلوٰة والسلام فرمائیلی دی- چه حج او عمره د واړه ګناهونه داسی لیری کوی لکه بټۍ (کوره) چه د اوسپنی زنګ لیری کوی- (مشکوٰة ص۲۲۲) او پر هر چا چه حج فرض وی او حج و نه کړی د د ه د پاره د پیر سخت عذاب راغلی دی- لکه چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی- چه د چا سره چه د خورک څښلو شی وی او هغه شی ولری یا ئی کرایه ولری چه بیت الله ته ځان په ورسوی او ولاړ نه سی نو که هغه پر یهودیت مړ سی یا پر نصرانیت مړ سی خدای د هغه هیڅ پروا نه لری- او دا ئی فرمائیلی دی چه پریښوول د حج د اسلام طریقه نه ده. (مشکوٰة شریف ص۲۲۲)

(۱) مسئله:- په ټول عمر کښی یو واړ حج کول فرض دی او که ئی د پیر حجونه وکړی نو یوئی فرض سو د غه نور ئی ټول نفلی سوه د د غو نفلی حجونو هم د پیر ثواب دی (شرح البدایه ص۲۱۳ اول ټوک)

(۲) مسئله:- که ئ ترلویوالی مخکی بیه کو چنیوالی حج وکړی د غه حج معتبر نه دی. که مور وی ترلویوالی ورو سته بیا حج کول باندی فرض دی او هغه حج چه پیه کو چنیوالی ئ کړی دی هغه نفلی سو- (شرح البدایة ص۲۱۳ اول پتوک)

(۳) مسئله:- پر اړنده نر او ښځه باندی حج فرض نه دی که هر څوندی مور او مړه دنیا دار ه دی- (شامی ص۲۲۸ دوهم پتوک وشرح البدایة ص۲۱۳ اول پتوک)

(۴) مسئله:- چه پر چا حج فرض می نو فوراً پیه داغه کال کښی حج کول باندی واجب دی بیله عذره څنډ دل او دا خیال کول چه عمر ډیر دی بیا به ئ وکړم روانه دی که دری څلور کاله ورو سته حج وکړی نو دا خو سو لیکن گنهگاره ده- (شرح البدایة ص۲۱۴ اول پتوک)

(۵) مسئله:- د حج کولو د پاره پیه لار کی د څیل خاوند یا بل محرم سړه تلل ضروری دی د دوی څخه بغیر د حج کولو د پاره تلل روانه دی لیکن که د مکی شریفی څخه دوندی لیری اوسیده چه د دی دکور او مکی شریفی تر مابین دری منزله فاصله او لیږوالی نه وو نو بیله ملگرتیا د خاوند او محرم ئ هم تلل روادی (شرح البدایة ص۲۱۵ اول پتوک)

(۶) مسئله:- که هغه محرم کو چنی هلک وی یا دامی بی دینه وی چه مور خور او نور پر معلوم نه وی نو د دوی سړه تلل ناروا کار دی- (شرح البدایة ص۲۱۵ ج۱)

(۷) مسئله:- که قابل د اطمنان محرم ښځی پیدا کړی نو ور سړه ولاړه دی می نو که ئ میړه ړاگرزوی د حج کولو څخه روانه دی د میړه خبره دی نه منی ولاړه دی می- (شرح البدایه ص۲۱۵ اول پتوک)

(۸) مسئله:- هره اینجیلی چه تر اوسه څوانه سوی نه وی لیکن څوانی ته نژدی سوی دی د دی د پاره بیله شرعی محرم څخه حج ته تلل روانه دی او د غیر محرم سړه ئ تلل صحیح نه دی- (شرح البدایة ص۲۱۵ اول پتوک)

(۹) مسئله:- هر محرم چه داد حج دکولو د پاره د څانه سړه بیایی د هغه خرڅ پریکول هم پر دی واجب دی هرڅه خرڅ چه راسی- (شرح البدایة ص۲۱۵ اول پتوک)

(۱۰) مسئله:- که په ټول ژوند کښی دامی محرم پیدا نه سو چه د هغه سره ولاړه سی حج وکړی نو د حج په نه کولو سره ګنهګار نه ده لیکن د مرګ په وخت کښی د اوصیت کول واجب دی چه زما د طرفه څخه حج وکړی تر مرګ وروسته دی د دی وارث (میراث خور) د دی د مال څخه یو چا نه د حج کولو خرڅ ورکړی و دې لیږی چه هغه ولاړ سی د مړه د طرف څخه حج وکړی او راسی نو د دې د ژوند څخه حج ادا کیږی او داغه حج نه چه دبل طرف څخه کیږی حج بدل وائی۔ (رد المحتار ص۱۳۵ دوهم ټوک و ص۳۸۹ دوهم ټوک)

(۱۱) مسئله:- که پریږدی چا حج فرض وُو سستی ئی وکړه نه ولاړه تر دامی حده چه رمنده سوه یا دامی مریضه سوه چه د سفر کولو طاقت ئی نه درلود ی نو دا هم باید د حج بدل وصیت وکړی۔ (رد المحتار ص۱۳۵ و ص۳۸۹ دوهم ټوک)

(۱۲) مسئله:- که داد وندی مال پریږدی او مړه سی چه قرض او دامی نور شیان ورکړی په دریمه برخه د مال ئی حج بدل کیدای سی نو د دی پر میراث خوارو د وصیت پوره کول او حج بدل ورله کول واجب دی او که مال لږ وی چه په دریمه حصه کښی حج بدل نه سی کیدای نو د دی وارث دی د دی د پاره حج بدل نه کوی لیکن که دامی وکړی چه دریمه حصه د دی د مال را واخلی نو رچه کم سی د خپله خانه څخه ئی ورکړی نو بیا حج بدل کولای سی غرض دا دی چه د مړی د مال څخه دی تر دغه دریمه حصه زیات نه ورکوی۔ هو- که د مړی ټول وارثان راضی سی چه موږ خپلی حصی نه اخلوته حج بدل په وکړه نو تر دریمه حصه پیرا خیستل ئی هم صحیح دی لیکن د نابالغه وارثانو د بخښش په شریعت کښی هیڅ اعتبار نسته د دغه سببه دی د دوی حصه هرګز نه اخلی۔ (فتاوی هندیه ص۱۶۷ اول ټوک)



(۱۳) مسئله:- که دې د حج بدل وصیت وکړی نو هره سوه لیکن مال لږ وُو د دغه سببه د مال په دریمه حصه کښی حج ښوکیدلی او تردریمه حصه زیات مال لګول د وارثانو خوښ نه وُو نو د دا غه سببه د دی دپاره حج د نه سو نو پردی عاجز باندی هیڅ ګناه نسته۔ (شرح التنویر ص۶۳۹ پنځم توک و فتاوی هندیه ص۱۶۷ اول توک)

(۱۴) مسئله:- د یو لو وصیتونو دا غه حکم دی نو پس دیو چا پر ذمه پیری روژی یا المنځونه پاته دی یا زکوٰة پاته دی او وصیت ئی وکړی هره سوه نو نقط د دریمی حصی د مال څخه د غه یو ل شیان ادا کیږی تر دریمی حصی زیات مال لګول د وارثانو د نره بیله خوښی روانه دی او د غه بیان مخکی هم سوی وُو۔ (شرح التنویر ص۶۳۹ پنځم توک و فتاوی هندیه ص۱۶۷ اول توک)

(۱۵) مسئله:- د دې بیله وصیت کولو د دې په مال سره حج بدل کول صحیح نه دی۔ لیکن که یو ل وارثان راضی وی نو روادی انشاءالله تعالیٰ فرضی حج ادا کیږی مګر د کوچنی د اجازت هیڅ اعتبار نسته۔ (ردالمحتار ص۳۹۲ دوهم توک)

(۱۶) مسئله:- که بنځه په عده کښی وی او عده پریږدی حج ته ولاړه سی دا روانه ده۔ فتاوی هندیه ص۱۴۱ اول توک و شرح التنویر ص۲۳۶ دوهم توک)

(۱۷) مسئله:- د هر چا سره چه د مکی شریفی د تګ اوراتګ مناسب خرڅ وی او د مدینی شریفی خرڅ نه وی نو پردی حج کول فرض دی بعضی خلګ داسی فکر کوی چه تر خو چه د مدینی شریفی خرڅ هم ورسره نه وی نو حج نه تلل فرض نه دی د غه بالکل غلط خیال دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۴ اول توک)

(۱۸) مسئله:- په احرام کښی چه بنځه مخ پټوی داسی دی نه پټوی چه بالکل ئُ جامه د مخ سره مبنیتی او لګیدلی وی نن سبا د څه د پاره د پاره ویز په شان جالی جوړی سویدی او خرڅیږی د غه دی پر مخ وتړی چه ستر ګوته مخامخ جالی وی بیا دی برقع (بوغزه) یعنی چادری پرواچوی د غه صحیح دی۔ (غنیة المناسک ص۴۹)

(۱۹) مسئله:- نوری مسئلی د حج چه چا حج نه وی کړی نه څوک په پوهیږی او نه ئی په یادیږی بلکه هیریږی ئُ او حج ته چه څوک ولاړه سی هلته د حج معلم هرڅه مسئلی درته بیانوی نو د دی سببه ئُ د لیکلو ضرورت نسته داغه

رنگه د عمری طریقه چه ولاړه سی هلته به ئی زده کړی.

۲۲ دمدینی شریفی دزیارت کولو بیان باب

که کیدی سی نو ترحج کولو وروسته یا ترحج کولو مخکی دی مدینی منوری ته حاضری دسرور کائنات فخرالموجودات صلی الله علیه واله وسلم دروضی مبارکی او دمسجد نبوی دزیارت برکت دی حاصل کړی د دغه نسبته رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی چه هرچاچه زما تروفات وروسته زما زیارت وکړی دا ته هغه برکت رسیږی لکه زما په ژوند کښی چه زما زیارت چاکړی وؤ (مراقی الفلاح ص۴۰۵) او دا هم رسوا، الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی چه هر سړی یوازی حج وکړی او زما زیارت ته رانه سی دا زما سره دپیره بی همتی وکړه او د دغه مسجد نبوی په حق کښی دا مبارک صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی چه هرځوک چه په دغه مسجد کښی یولمونځ وکړی نو دا ته د پنځوسو زره (۵۰۰۰۰) زر لمنځونو برابر ثواب ورکول کیږی۔ (رواه ابن ماجه مشکوٰة شریف ص۶۴)

خدای پاک دی موږ ټولوته دغه لوی دولت را نصیب کړی او د نیک کار توفیق دی راکړی۔ آمین یارب العالمین

۲۳ د نذر منلو بیان باب

(۱) مسئله:۔ دیوکار د پاره ئی پرځان باندی د عبادت[۱] یو نذر کښښوی او بیا ئی هغه کار وسو نو نذر پوره کول پرواجب دی که نذر نه پوره کوی نو لویه گناه ده لیکن که یو چاچی او عبث نذر وو چه په شریعت کښی ئی اعتبار نه وؤ او ته ئی په شریعت کښی څه ثبوت وؤ نو پوره کول ئی واجب نه دی لکه موږ چه ئی مخکی بیانوو۔ (شرح البدایة ص۴۶۱ د وهم ټوک)

(۲) مسئله:۔ یو چا وویل که زما فلانی کار وسو ای خدایه نو زه به پنځه روژی نیسم چه کار وسی نو پنځه روژی به خامخا نیسی او که ئی کار ونه سو نو بیا دی نه نیسی که ئی صرف د وندی د ویل چه پنځه روژی نیسم۔ نو اختیار ئی لری که پنځه روژی پرله پسی نیسی او که ئی جلا۔ جلا۔ نیسی پنځه

[۱] ئی یو وخت فرض یا واجب وی ۱۲

روژی به پورہ کوی د واړی حبری صحیح [illegible] په وخت کښی
دا ویلی وہ چه پنځه روژی پرله پسی او پیوسته نیسم یا ئی پنه زړه کښی دا نیت کړ
وُ بیا به ټولی پرپسی نیسی که چیری په مابین کښی یو ورځ یاد وی پاته سی بیرته
به ئی د سر ه راګرزوی۔ (شرح البدایه صـ۴۶۶ د وهم ټوک وفتاوی هندیه صـ۱۳۲ اول ټوک
(۳) مسئله:۔ که ئی داسی وویل چه د جمعی په ورځ به روژه نیسم یا د حسن
حسین د میاشتی اولی لس روژی به نیسم نو خاص د جمعی د ورځی روژه نیول
او خاص د حسن حسین د میاشتی اولی لس روژی نیول واجب نه دی چه هر
وخت ئی زړه غواړی هغه وخت دی ونیسی لیکن لس به پرله پسی نیسی که ئی
د حسن او حسین په میاشت کښی نیسی یا په بله میاشت کښی نیسی د واړی
طریقی روا دی۔ دا غه رنګه که ئی داسی وویل که زما د غه کار وسی نو د
سبا روژه نیسم هم اختیار دارہ دہ هر وخت چه ئی زړه وغواړی ودی نیسی
(شرح التنویر صـ۲۰۲ د وهم ټوک)
(۴) مسئله:۔ که یو چا داسی وویل چه د حسن حسین د میاشتی روژی به
نیسم دا ئی د نذر کولو په وخت کښی وویل نو د حسن حسین د میاشتی روژی دی
ټولی پرله پسی ونیسی که دیو وجهی څخه په مابین کښی پنځه یا لس روژی
پاته سی نو د غه په عوض کښی دی د غو ندی روژی نورې ونیسی ټولی روژی
دی نه راګرزوی او د اختیار هم لری چه د حسن حسین په میاشت کښی ئی نه
ونیسی په یو بله میاشت کښی ئی ونیسی لیکن ټولی دی پرله پسی ونیسی (شرح
التنویر صـ۱۰۸ د ریم ټوک)
(۵) مسئله:۔ یو چا پر خان نذر کښینو وی چه که زما ورک سوی شی پیدا سو
نو زه اته (۸) رکعاته لمونځ کوم چه څه وخت شی پیدا سی اته (۸) رکعاته لمونځ به
کوی نو نو د نذر کونکی خو بنه دہ که اته (۸) رکعاته په یو نیت او یو سلام سره
کوی یا څلور د رکعتو نو نیت کوی یا د دوه (۲) د رکعتو نو نیت کوی د ټولو اختیار
لری که ئی څلور رکعاته نذر کړی وه نو څلور سره رکعاته دی په یو سلام
سره وکړی۔ جلا جلا به دوه (۲) دوه سره نذر نه ادا کیږی۔ (رد المحتار صـ۷۰۳ ج۱)
(۶) مسئله: یو چا دیو ه رکعت لمونځ کو لو نذر کړی وُ نو پورہ دوه (۲) رکعاته لمونځ به
کوی او که ئی د دری (۳) د رکعتو نو نذر کړی وُ نو څلور رکعاته به کوی که ئی د پنځو

رکعتو نو سنډ رکړی وُ شپږ رکعاته به کوی داغه رنگه په زیادت کښی همدغه حکم دی یعنی چه د پنځو رکعتو پرځای اوُه یا نُسه رکعاته یا بل طاق عدد چه زیات وای نو هم دغه ذکر سوی حکم لری۔ (فتاوی هندیة ص۴۲ دریم پتوک)

(۷) مسئله:۔ دغه رنگه سنډر ئ کړی وُو چه لس روپی خیراتوم یا یوه روپی خیراتوم نو هر څوندی چه ئ ویلی وی په هغه اندازه خیرات دی وکړی که ئ داسی وویل چه پنځوس روپی خیراتوم او په دغه وخت کښی ددی سره صرف لسُ روپی سته نوری نسته نو به لسُ روپی خیراتوی لیکن که دلسُ روپی څخه ماسیوای ئ څه نور مال او سامان هم وی نو دهغه قیمت هم ورسره شمیرو د دغه مثال دادی چه لسُ روپی نقدی (نغدی) دی او نور پتول مال او اسباب د پنځلسُ روپو دی دا پتولی پنځه ویشت سوی نو صرف پنځه ویشت روپی خیراتول واجب دی زیاتی واجب نه دی۔ (فتاوی هندیة ص۴۲ دریم پتوک)

(۸) مسئله:۔ که ئ داسی سنډر ئ وکړی چه لسُو مسکینانو ته ډوډی ورکوم که ئ په زړه کښی څه خیال وی چه یوُ وخت ډوډی ورکوم یا دوُه وخته نو بیا دی هغه ډول وکړی چه څرنگه ئ خیال وی که ئ هیڅ خیال نه وی نو دی دوُه وخته لسُو مسکینانو ته ډوډی ورکړی اوکه غله ورکوی نو په دغه کښی هم داغه خبره ده که ئ په زړه کښی څه خیال وی چه هر یوه ته دوندی ورکوم نو دهغه مطابق دی ورکړی اوکه ئ هیڅ خیال نه وی نو هر یوه ته دی دوندی ورکړی لکه موږ چه ئ په سرسایه کښی بیان کړی وُو۔ (فتاوی هندیه ص۴۳ دریم پتوک)

(۹) مسئله:۔ اوکه ئ داسی وویل چه دیوی روپی ډوډی پر مسکینانو ویشم نو اختیار لری که دیوی روپی ډوډی ورکوی یا دیوی روپی بل شی ورکوی یا یوه روپی نقده ورکوی۔ (فتاوی هندیة ص۴۳ دریم پتوک)

(۱۰) مسئله:۔ که یوچا داسی وویل چه لسُ روپی خیراتوم هر فقیرته یوه روپی ورکوم لیکن لسُ روپه ئ یوه فقیرته ورکړی هم روادی هر هر فقیرته یوه یوه روپی ورکول واجب نه ده اوکه ئ لسُ روپی شلو فقیرانو ته

درکړی هم روادی اوکه ئی دامی وویل چه لس روپی پرلسو فقیرانو باندی
خیراتوم نو هم ئی اختیار دی که ئی لسو ته درکوی اوکه ئی ترلس کمونه درکوی اوکه ئی ترلس زیاتو ته درکوی۔ (فتاوی هندیه ص۱۴۳ دریم ټوک)

(۱۱) مسئله:۔ که ئی وویل چه لس لمونځ کونکو ته وډی درکوم یا دقرآن شریف لسو حافظانو ته وډی درکوم۔ نو لسو فقیرانو ته دی وډی درکړی برابره خبره ده که دغه فقیران لمونځ کونکی او حافظان وی اوکه نه وی۔ (شرح التنویر ص۲۰۲ دوهم ټوک)

(۱۲) مسئله:۔ یو چا وویل چه په مکه شریفه کښی لس روپی خیراتوم نو په مکه شریفه کښی خیراتول واجب نه دی هرځای چه ئی خوښه وی خیرات دی کړی یا ئی دامی ویلی وه چه د جمعی په ورځ خیرات کوم او فلانی فقیر ته ئی درکوم په دغه ورځ خیرات کول او دغه فقیر ته درکول واجب نه دی داغه رنګه که روپی معلومی کړی او دوایی چه دغه خاص روپی چه زما په جیب کښی دی خیراتوم نو خاص هغه روپی درکول ضروری نه دی بلکه که هغه مخصوصی روپی درکړی یا نورې درکړی دواړه صحیح دی۔ (شرح التنویر ص۲۰۲ دوهم ټوک)

(۱۳) مسئله:۔ داغه رنګه که ئی نذر وکړی چه په جامع مسجد کښی به لمونځ کوم یا په مکه شریفه کښی به لمونځ کوم هم اختیار لری هرځای چه ئی کوی هلته دی وکړی۔ (شرح التنویر ص۲۰۲ دوهم ټوک)

(۱۴) مسئله:۔ یو چا وویل که زما درې نه سو نویوه بزه حلالوم یا ئی دامی وویل چه دیوی بزی خوښی خیراتوم نو نذر واجب سو اوکه ئی دامی وویل چه اختری حلالوم نو د اختری په شپو کښی باید ذبحه وکړی او په دواړو صورتونو کښی د دغه خوښه د فقیرانو څخه ماسیوی بل چاته درکول یا پخپله خوړل روا نه دی هرڅوندی چه خپله وخوړی یا ئی مړو خلقو ته درکړی په هغه اندازه به بیرته خیراتوی۔ (شرح التنویر ص۱۰۷ دریم ټوک و رد المحتار ص۱۰۱ دریم ټوک)

(۱۵) مسئله:۔ یوه خوا ئی نذر کړی وه چه د اختر په ورځ به ئی حلالوم خو اپیدا

نه سوه نواوو(۷)ه بزی دی حلالی کړی ـ (فتاوی هندیه ص۳۴۳ دریم ټوک)

(۱۶) مسئله :ـ داسی نذر ئی منلی وُ چه هر وخت زما وروړ راسی نو لس(۱۰) روپی خیراتوم بیاد وړو د راتګ څخه خبره سوه اود هغه دړ رسید و منکی کی ئی خیرات وکړی نذر ئی صحیح نه دی چه وروړئی را ورسیږی بیرته دی خیرات وکړی ـ (شرح التنویر و ردالمحتار ص۲۰۳ دوهم ټوک)

(۱۷) مسئله :ـ که ئی دیو کار پرکیدو نذر منلی وو هغه داسی کار وُ چه د هغه کیدل ئی زړه غوښته او خواهش ئی کاوی چه د هغه کار وسی مثلاً داسی ئی وویل چه که زړه بښه (جوړه) سوم نو داسی کوم یاکه زما وروړ په خیرلهی داسی کوم یلکه فنا پیلامړد مقدمی اودعوی څخه خلاص سی داسی کوم یا په حکومت کښی یو وظیفه واخلی داسی کوم هر وخت چه داسی کار وسی نو دی نذر پوره کړی اوکه د هغه رنګه وړاپی چه که چیری ماستاسو څخه خبری وکړی نو دوی روڼی به نیسم یا ئی نن د رڅ لمونځ نه وکړی نو یوه روپی خیراتوم بیا ئی د هغه سره خبری وکړی یا ئی لمونځ ونه کړی نو خوښه ئی دی که کفاره د قسم درکوی اوکه دوی روڼی نیسی اویوه روپی ورکوی ـ (فتاوی هندیة ص۳۴۲ دریم ټوک)

(۱۸) مسئله :ـ دا رنګه نذر ئی دمانی چه زړ(۱۰۰۰)واره درود شریف وایم یا زړ(۱۰۰۰)واره کلمه شریفه وایم نو دا نذر دی دیل ئی واجب سو اوکه ئی وویل چه زړ(۱۰۰۰)واره سبحان الله سبحان الله وایم یا زړ(۱۰۰۰)واره لَاحَوْلَ وایم نو دا نذر نه دی دیل ئی واجب نه دی ـ (شرح التنویر ص۱۰۵ دریم ټوک)

(۱۹) مسئله :ـ دا ئی نذر کړه چه لس(۱۰) واره قرآن شریف وایم یا یوه سپاره وایم نو دا نذر دی ـ (ردالمحتار ص۱۰۵ دریم ټوک)

(۲۰) مسئله :ـ دا نذر ئی وکړی که فلانی کار وسی نود فلانی د زیږید لو د ورځی لمانځنه به کوم نو دا نذر نه دسو یا ئی داسی نذر وکړی که فلانی کار وسو پر فلانی زیارت به پوښی هوار وم داهم نذر نه دی یا ئی د شاه عبدالحق پرنامه څه شی پرځان نذر کړی یا د سه منی بابا یا نور وپیرانو پرنامه غوا غوڼی، پسه یا بل شی ئی نذر کړی نو دا نذر صحیح نه دی بلکه سخته ګناه ده یا ئی دا نذر کړه چه فلانی کار که وسو په مسجد کښی به خوږی پکوړی پخوم یا به د مسجد تاخچه د پکوړو د کوم یا ئی د پیران پیر صاحب دیو دلسمی

نذر و مانی نو دا صحیح نه دی او پوره کول ئی واجب نه دی۔ شرح التنویر و رد المحتار ص۲۰۵ دوهم پتوک)

(۲۱) مسئله:- د حضرت علی کرم الله وجهه پرنامه ئی روژه نذر کړه یا ئی د حضرت فاطمی رضی الله تعالیٰ عنها پرنامه پیریني تقسیمول نذر کړه دا ټول چتیار او خرافات دی او د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه پرنامه روژه نذر کول کفر او شرک دی (شرح التنویر و رد المحتار ص۲۰۵ دوهم پتوک)

(۲۲) مسئله:- که ئی دا سی نذر وکړی چه فلانی مسجد چه خراب او ویران دی جوړوم ئی یا فلانی پل به جوړوم نو دا نذر هم صحیح نه دی د ده پر ذمه هیڅ شی نه واجبیږی۔ شرح التنویر و رد المحتار ص۱۰۳ دریم پتوک)

(۲۳) مسئله:- که ئی دا سی نذر پرځان و مانی چه زما دور بنه سی اتن به کوم ډول او باجه به وهم میله به جوړوم دا سی نذر کول ګناه ده ترجوړیدو وروسته د غسی کول یعنی دا نارواء نذر پرځای کول ګناه ده او ناروا کار دی۔ (فتاوی هندیة ص۴۲ دریم پتوک)

(۲۴) مسئله:- د الله تعالیٰ څخه ما سیوی د بل چا نذر منل مثلاً دا سی ویل چه آی لوی پیره که زما کار وسی نو زه ستا پاره دا کار کوم یا زه یار تونواو ادیرو ته تلل یا هر هغه ځای چه هلته جنیات او پیرانان اوسیږی۔ هلته تلل او خواست کول حرام او شرک دی بلکه د د غسی نذر شی خوړل هم حرام دی۔ (شرح التنویر و رد المحتار ص۲۰۵ دوهم پتوک)

وقبرونو ته ورتلل د بتو د پاره بالکل حدیث شریف د دغه څخه منعه کړی ده۔ نبی علیه الصلوٰة والسلام پرداسی رنګه بتو باندی لعنت ویلی دی دا حدیث ابوداؤد، ترمذی او نسائی نقل کړیدی مشکوة ص۷۱ مرقاة)

۲۴ دقسم کولو بیان باب

(۱) مسئله:- بیله ضرورته په هره خبره کښی قسم کول بده خبره ده په دغه کښی د خدای تعالیٰ دنامه ډیره بی عزتی او بی حرمتی کیږی ترڅو چه کیدای سی په رښتیا خبره کښی باید هم قسم وانه خستل سی۔ (طحطاوی علی الدر المختار ص۳۲۴ ج۲)

عه او د حضرت فاطمی پرنامه پیریني وغیره نذر کول شرک دی ۱۲ محشی

(۲) مسئله:- چا چه د خدای تعالی په نامه سره قسم وکړی دا سی ئ وویل چه په خدای دی زما قسم وی د خدای په عزت او جلال دی زما قسم وی د خدای په بزرگی او لویی دی زما قسم وی بس قسم سو د دغه قسم سره موافق به کار کوی مخالفت کول ئ ناروا دی که ئ د خدای په نامه سره قسم وانه خستی فقط د وندی ئ وویل چه زه قسم کوم پردی چه فلانی کار به نه کوم نو هم قسم سو -(شرح التنویر ص۷۲ دریم ټوک وشرح البدایة ص۴۵۹ دوهم ټوک

(۳) مسئله:- که ئ دا سی وویل - خدای گواه او شاهد دی - خدای گواه کوم وایم خدای حاضر او ناظر بولم وایم دا هم قسم سو - (شرح البدایة ص۴۵۹ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:- که ئ دا رنگه وویل چه په قرآن مجید دی زما قسم وی - په کلام مجید دی زما قسم وی - په کلام الله دی زما قسم وی د دغه قسمونه ئ پریږه خبره واخیستل بس قسم سو که ئ کلام مجید په لاس کښی واخستی یا ئ لاس پرکښینبو دی یو خبره ئ په دغه حال کښی وکړه لیکن قسم ئ وا نه خیستی نو قسم نه سو -(در مختار وشامی ص۷۸ دریم ټوک)

(۵) مسئله که ئ دا سی وویل که می فلانی کار وکړی بی ایمانه دی مړه سم یا په زکنه ن کښی دی می ایمان نصیب نه سی یا دی بی ایمانه سم یا ئ وویل که می فلانی کار وکړی نو زه به مسلمانه نه یم نو دا هم قسم دی د دغه د مخالفت څخه هم کفاره لازمیږی لیکن بی ایمانه کیږی نه - (شرح البدایة ص۴۵۹ ج ۲)

(۶) مسئله:- که می فلانی کار وکړی لاس دی می مات سی، ستړگی دی می ووزی په پیس مرض دی اخته سم بدن دی می ټوک ټوک سی د خدای غضب دی را باندی وسی امان دی راباندی ایله سی د دانی دانی دی محتاجه سم خدای دی می ووهی د خدای لعنت دی راباندی وسی که می فلانی کار وکړی خنزیر دی وخورم د مرگ په وخت کښی دی می کلمه نه نصیب کیږی - د قیامت په ورځ د خدای پاک جل شانه



او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په مخ کښی دی ژړه معنی سم - په دغه خبرو سره قسم نه پراوړی - که چیری د دغه خلاف وکړی کفاره د قسم نه پرلازمیږی (شرح البدایه ص۴۶۰ د دهم ټوک)

(۷) مسئله:- د خدای پاک څخه ماسیوی په بل چا سره چه قسم کوی نو دا قسم نه دی مثلاً و وایی په رسول الله صلی الله علیه وسلم دی می قسم وی په کعبه، په خپلو سترګو، په خپله خوانی، په خپلو پښو اولاسو، په خپل پلار، په خپلو زامنو، په خپلو دوستانو، ستا په سر، ستا په روح دی می قسم وی داغه رنګه قسمونه که ئ و خوړل بیائ د دغو قسمونو خلاف کار وکړی نو کفاره نه پرلازمیږی - لیکن د خدای پاک څخه ماسیوی په بل چا سره قسم اخیستل ډیره لویه ګناه ده په حدیث شریف کښی د دغه څخه ډیره سخته منعه راغلی ده خدای پاک پرلیښوول په بل چا سره قسم کول د شرک او کفر خبره ده باید مسلمان د داسی قسم اخیستلو څخه ځان وساتی او ډیر احتیاط وکړی (شرح البدایه ص۴۵۵ د دهم ټوک)

(۸) مسئله:- یو چا و ویل ستاد کور وده وی پرما حرامه ده یا ئ داسی وویل فلانی شی ما پرځان حرام کړی دی نو په دغه خبره سره د دغه شی نه حرامیږی لیکن قسم پراوړی نو که ئ وخوړی بیا به کفاره ورکوی - (شرح التنویر ص۹۵ ج۳)

(۹) مسئله:- د بل چا په قسم ورکولو سره پرچا قسم نه اوړی مثلاً یو څوک و وایی چه ستا دی په خدای قسم وی دغه کار به ضرور کوی نو دا قسم نه دی د دغه مخالفت کول روا دی حکه تا د ده قسم قبول کړی نه دی - (شرح التنویر ص۳۹۱ پنځم ټوک)

(۱۰) مسئله:- که د قسم کولو سره د انشاء الله لفظ و وایی - مثلاً یو څوک داسی و وایی چه په خدای دی می قسم وی فلانی کار انشاء الله داسی کوم نو دا قسم نه دی - (شرح التنویر ص۴۶۲ د دهم ټوک

(۱۱) مسئله:- چه یو کار سوی وی او هم په خبر وی پرهغه په د رواغو سره قسم کول لویه ګناه ده مثلاً یو چا لمونځ نه وی کړی بل څوک پوښتنه څندی وکړی

چه لمونځ دې کړيدی نو دی ورته ووايي زمادی په خدای قسم وی چه ما لمونځ کړيدی - يا دې يو چا څخه ګلاس مات سی چه پوښتنه ځندی وسی نو ورته ووايي په خدای دی قسم وی چه ما نه دی مات کړی - که څوک قصداً پردې واعظ خبرو قسم خوری نو د دغه ګناه هيڅ اندازه نسته او نه ئې هيڅ کفاره سته بس ورځ اوشپه دی توبه او استغفار کوی د دغې غټې ګناه بخښنه دی د خدای پاک څخه غواړی علاوه د دغه څخه ئې بل صبغ علاج نسته اوکه په غلطی او هيره سره پردې واعظ قسم وکړی - مثلاً څوک ووايي زمادی قسم وی په خدای پاک سره چه تراوسه فلانی سړی نه دی راغلی او د دې په زړه کښی ټينګ يقين وی چه هغه نه دی راغلی بيا معلومه سوه هغه وخت چه د ده قسم خواړی هغه راغلی وُ نو دا معاف دی نه ګناه لری نه کفاره لری.
(شرح البداية صـ۴۵۷ د وهم ټوک)

(۱۲) مسئله :- که ئې پردې خبره قسم وکړی چه هغه تراوسه نه وه سوی بلکه آينده کيدونکی وه مثلاً قسم ئې وکړی په خدای پاک سره - چه نن باران اوری يا ئې وويل په خدای دی قسم وی چه نن زما ورور راځی بيا هغه نه راغلی او باران نه وسو کفاره به ورکوی پرلازمه ده - (شرح البداية صـ۴۵۷ د وهم ټوک)

(۱۳) مسئله :- يو چا قسم وکړی - چه په خدای دی قسم وی چه نن ورځ به خالخا تران شريف وايم نو اوس ئې ويل واجب سوه که ئې نه ووايي ګنهګار ده کفاره پر لازمه ده - که يو چا ووايي زمادی په خدای قسم وی چه هغه فلانی کار به نن نه کوم نو هغه کار کول بنه نه دی که ئې وکړی نو د قسم ماتولو فديه به ورکوی.
(شرح البداية صـ۴۵۷ د وهم ټوک)

(۱۴) مسئله يو چا ګناه پرکولو قسم وکړی چه په خدای دی قسم وی چه نن به د فلانی سړی فلانی شی غلا کوم - په خدای دی قسم وی چه نن به لمونځ نه کوم په خدای دی قسم وی چه د خپل پلار مور سره به خبری نه کوم - په داسی وخت کښی د قسم ماتول واجب دی نو قسم دی مات کړی - او د قسم کفاره دی ورکړی اوکه داسی نه کوی نو ګنهګار ده (شرح التنوير صـ۹۵ ج ۳)

(۱۵) مسئله :- يو چا قسم وکړی چه زه به نن فلانی شی نه خورم بيا ئې په هيره سره وخواړی قسم ئې ياد نه وُ يا ئې يو چا په زور خوله سره ورواړه کړه په دې

خواړی نو هم دی کفاره ورکړی - شرح البدایه ص۴۵۷ دوهم ټوک)

(۱۶) مسئله:- په حال د قهر او غضب کښی ئی قسم وکړی چه تاته به هیڅ وخت هیڅ شی ورنه کړم - بیا ئی یوه پیسه یا یوه افغانی ورکړه بیا هم قسم مات سو کفاره دی ورکړی - درمختار ص۱۱۰ دوهم ټوک)

۲۵ دقسم کفاری بیان باب

(۱) مسئله:- که پریو چا قسم واو بنستی نو فدیه ئی داده چه لس[۱۰] مسکینانو ته دی دوه وخته ډوډی ورکړی یا دی دا غسی غله ورکړی مثلاً غنم اوربشی او داسی نورشیان او هر فقیر ته دی نیم چتانگ (دوه نیمی ټولے) بالا یا ډکم دوه سیره غنم ورکړی چه هر سیر ایتیا ټولی کیږی - بلکه احتیاط ادی پوره دوه سیره ورکړی او که اوربشی ورکوی نو دی دوچنده ورکړی نوره نو طریقه د فقیر ته ډوډی ورکولو هغه طریقه ده چه دروڼی په کفاره کښی بیان سویده یا دی لسو[۱۰] فقیرانو ته کالی ورکړی هر فقیر ته دی دوندی ټوکر ورکړی چه د بدن زیاته حصه ئی په پته سی مثلاً پته یا لوی اوږد قمیص دی ورکړی نو کفاره ادا سوه لیکن دغه ټوکر باید ډیر زوړ نه وی که ئی هر فقیر ته فقط یو یو پرتوګ یا فقط یوه یوه لنګوټه ورکړی نو کفاره نه ادا کیږی که د لنګوټی سره قمیص هم وی نو بیا ادا کیږی په دغه دواړه خبرو کښی دی اختیار دی که کالی ورکوی او که ډوډی ورکوی په هره طریقه سره د قسم کفاره ادا کیږی - دغه حکم چه بیان سو هلته دی چه سړی ته کالی ورکړی او که یوی مسکینی ښځی ته کالی ورکوی نو دوندی کالی باید ورکړی چه ټول بدن ئی په پته سی په داسی طریقه ئی بدن پته سی چه لمونځ پکښی کولای سی که تر دغه کم وی نو بیا کفاره نه ادا کیږی - (شرح التنویر ورد المحتار ص۶۲ دوهم ټوک و شرح البدایه ص۴۶۱ دوهم ټوک)

(۲) مسئله:- که داسی عزیبه وی چه نه کالی ورکولای سی او نه ډوډی ورکولای سی نو درې[۳] ورځی دی پرله پسی روژی ونیسی که تر دوو[۲] روژو نیولو ورسته په مابین کښی دیو عذر په سبب څنډی پاته سوی نو بیرته دی دیره درې روژی ونیسی او داسی هم نه صحیح کیږی چه دری

سره ر وړی جلا جلا و نیسی۔ (شرح البدایة ص۴۶ دوهم پتوک)

(۳) مسئله ۱۔ تر قسم مات تو لو مخکی ئ کفاره ور کړه بیا ئ قسم مات کړی دا کفاره صحیح نه ده تر قسم مات تو لو وروسته باید بیرته کفاره ور کړی او هر څه چه ئ مخکی فقیرانو ته ور کړی دی د هغه اخیستل بیرته روانه دی۔ (شرح البدایة ص۴۶ دوهم پتوک)

(۴) مسئله ۱۔ یو چا پیړ[۱] وار ونه قسم اخستی و مثلاً یو وار ئ ویلی وه قسم دی ئ په خدای وی چه فلانی کار به نه کوم تر دغه[۲] وروسته ئ بیا و ویل قسم دی ئ په خدای وی چه فلانی کار به نه کوم په داغه ورځ کښی یا په دوهمه دریمه ورځ کی غرض دا دی چه دا رنګه ئ پیر وار ونه ویلی وه یا ئ داسی و ویل په خدای دی ئ قسم وی په الله دی ئ قسم وی په کلام الله دی ئ قسم وی چه فلانی کار به ضرور کوم نو بیا ئ هغه قسم مات کړی نو دد غو ټولو قسمونو دی یوه کفاره[۳] ور کړی۔ (فتاوی هندیة ص۳۷ دریم پتوک)

(۵) مسئله ۱۔ دیو چا پر ذمه د قسمونو ډیری کفاری جمعه سوی دی نو پر مشهور قول دهر یوه دی جلا جلا کفاره ور کړی که ئ په ژوند کښی ور نه کړی نو د مرګ په وخت کښی وصیت کول واجب دی۔ (درمختار ص۸ دریم پتوک)



خواړی نو هم دی کفاره ورکړی - شرح البدایه ص۴۵۷ دوهم توک)

(۱۶) مسئله:- په حال د قهر او غضب کښی ئی قسم وکړی چه تاته به هیڅ وخت هیڅ شی ورنه کړم - بیا ئی یوه پیسه یا یوه افغانی ورکړه بیا هم قسم مات سو کفاره دی ورکړی - در مختار ص۱۱۱ دوهم توک)

۲۵ دقسم دکفارې بیان باب

(۱) مسئله:- که پریو چاقسم وادښتی نو فدیه ئی داده چه لس(۱۰) مسکینانو ته دی دوه وخته ډوډی ورکړی یا دی داغسی غله ورکړی مثلاً غنم اوربشی او داسی نور شیان او هر فقیر ته دی نیم چتانگ (دوه نیمی تولے) بالا یا ډک دوه سیره غنم ورکړی چه هر سیر یا تولی کیږی - بلکه احتیاط دی پوره دوه سیره ورکړی اوکه اوربشی ورکوی نو دی دوچنده ورکړی نوره نو طریقه د فقیر ته ډوډی ورکولو هغه طریقه ده چه دروڼی په کفاره کښی بیان سو یده یا دی لسځو فقیرانو ته کالی ورکړی هر فقیر ته دی دوه دی نهتوکر ورکړی چه د بدن زیاته حصه ئی په پته سی مثلاً پته یالوی اوږده قمیص دی ورکړی نو کفاره ادا سوه لیکن دغه نهتوکر باید ډیر نږدې نه وی که ئی هر فقیر ته فقط یو یو پرتوګ یا فقط یوه یوه لنګوټه ورکړی نو کفاره نه ادا کیږی که د لنګوټې سره قمیص هم وی نو بیا ادا کیږی په دغه دواړه خبرو کښی دی اختیار دی که کالی ورکوی اوکه ډوډی ورکوی په هره طریقه سره د قسم کفاره ادا کیږی - دغه حکم چه بیان سو هلته دی چه سړی ته کالی ورکوی اوکه یوی مسکینی ښځی ته کالی ورکوی نو دوه دی کالی باید ورکړی چه تول بدن ئی په پته سی په داسی طریقه ئی بدن پته سی چه لمونځ پکښی کولای سی که تر دغه کم وی نو بیا کفاره نه ادا کیږی - (شرح التنویر و رد المحتار ص۶۳ دوهم توک و شرح البدایه ص۴۶۱ دوهم توک)

(۲) مسئله:- که داسی عزیبه وی چه نه کالی ورکولای سی او نه ډوډی ورکولای سی نو در(۳)ی ورځی دی پرله پسی روژه ونیسی که تر دوو(۲) روژو نیولو ورسته په مابین کښی دیو عذر په سبب څنډی پاته سوی نو بیرته دی دسره دری روژی ونیسی او داسی هم نه صحیح کیږی چه دری

سره ور وژی جلا جلا ونیسی۔ (شرح البدایة ص۴۶ دوهم پتوک)

(۳) مسئله ۱۔ تر قسم ماتولو مخکی ئ کفاره ورکړه بیا ئ قسم مات کړی دا کفاره صحیح نه ده تر قسم ماتولو وروسته باید بیرته کفاره ورکړی او هر څه چه ئ مخکی فقیرانو ته ورکړی دی د هغه اخیستل بیرته روانه دی۔ (شرح البدایة ص۴۶ دوهم پتوک)

(۴) مسئله ۱۔ یو چا پیر[۱] وار ونه قسم اخستی وُ مثلاً یو وار ئ ویلی وه قسم دی ئ په خدای وی چه فلانی کار به نه کوم تر دغه[۲] وروسته ئ بیا دویل قسم دی ئ په خدای وی چه فلانی کار به نه کوم په داغه وخ کښی یا په دوهمه دریمه وخ کی غرض دا دی چه دا رنګه ئ پیر وار ونه ویلی وه بیا ئ داسی دویل په خدای دی ئ قسم وی په الله دی ئ قسم وی په کلام الله دی ئ قسم وی چه فلانی کار به ضرور کوم نو بیا ئ هغه قسم مات کړی نو دد. غو پتولو قسمونو دی یوه کفاره[۳] ورکړی۔ (فتاوی هندیة ص۳۷ دریم پتوک)

(۵) مسئله ۱۔ دیو چا پر ذمه د قسمونو پیری کفاری جمعه سوی دی نو پر مشهور قول دهر یوه دی جلا جلا کفاره ورکړی که ئ په ژوند کښی ورنه کړی نو د مرګ په وخت کښی وصیت کول واجب دی۔ (درمختار ص۸ دریم پتوک)



(۶) مسئله:- په کفاره کښی هغو مسکینانو ته کالی یا د ډډی ورکول صحیح دی چه هغوته زکوٰة ورکول صحیح ڈ- (شرح التنویر ص۹۴ دریم توک)

باب ۲۶ کورته دتګ څخه دقسم کولو بیان

(۱) مسئله:- یو چا قسم وکړی چه هیڅ دخت ستاکورته نه درځم بیا نو ستاد دروازی پرچار چوب د دریدو یا د دروازی ترچار چوب لاندی د دریدو دننه نه ولاړ نو قسم ئی مات سوی نه دی اوکه دننه ولاړ نو ئی قسم مات دی- (شرح البدایة ص۴۶۲ دوهم توک)

(۲) مسئله:- که یو چا قسم وکړی چه د غه کورته نه ورځم نو هرکله چه د غه کور خراب سو اوکنډ والـه سو نو که دننه ورغله د غه کنډ والو ته هم قسم پراوړی اوکه بالکل میدان څنډی جوړ سوی وُ او د محکی سره برابر سوی وو د کور (سرای) نام ونښان بالکل خراب سوی وو یا په د غه کښت کرل سوی وُو یا پرد غه ځای مسجد جوړ سوی وُو یا پرد اغه ځای باندی باغ جوړ سوی وُو بیا د ورغله نو قسم نه پراوړی- (شرح البدایة ص۴۶۳ دوهم توک)

(۳) مسئله:- قسم (لوړه) ئی وکړی چه د غه کورته نه ورځم یا ستاکورته نه درځم نو بیا هغه کور خراب سو بیرته بیاد سره جوړ سو بیا د ورغله هم قسم مات سو- (شرح البدایة ص۴۶۳ دوهم توک)

(۴) مسئله:- یو چا قسم وکړی چه ستاکورته نه درځم بیا وخوئی اوکوټی ته ورو ختـه اوپر بام سره بیره ودریدو نو قسم پراوړی که څه هم لاندی ورته راشوو نه نه سی- (شرح البدایة ص۴۶۳ دوهم توک)

(۵) مسئله:- په یو کور کښی ناسته وه قسم ئی وکړی چه بیا هیڅکله دلته نه راځم تر د غه وروسته لږ وخت ناسته وه قسم نه پراوړی که هر څو ورځی ناسته وی لیکن چه دباندی ولاړه سی بیا راسی نو قسم ئی مات یږی اوکه ئی قسم وکړی چه د غه کالی نه اغوندم د غه ئی وویل او سمدستی ئی کالی وکښل نو قسم ئی نه ماتیږی اوکه ئی سمدستی و نه کښل یو ګړی ئی اغوستی وه نو قسم ئی مات سو- (شرح البدایة ص۴۶۳ دوهم توک)

(۶) مسئله:- که ئی قسم وکړی چه په د غه کورکښی نه اوسیږم تر د غه وروسته

ئی سمد ستی د دغه کور څخه د اسبابونو به پور ته کولو او ورلو بند وبست شروع کړی نو قسم ئی مات نه ۰ ی اوکه ئی نوګرا شروع ونه کړه یوځه ګړی ودریږه بیائی شروع وکړه قسم ئی مات سو۔ (شرح البدایة ص۴۶۳ دوهم ټوک)

(۷) مسئله:۔ قسم ئی وکړی چه ستا په کور کښی قدم نه ایږدم مطلب دا چه نه راځم نوکه پرځړه ، اوښ یا آس مثلاً سپړه وه د دغه کور نه راغله او په کور کښی هم پرناسته وه ۔ تا۔ (کښته) نه سوه او قدم ئی پرمځکه نه کښیښودی بیا هم قسم ئی مات دی۔ (شرح التنویر ص۱۲۹ دریم ټوک)

(۸) مسئله:۔ یو چا قسم وکړی وئی ویل چه ستا کور ته یو وخت خامخا راځم بیا راته غله ترڅو چه ژوندی وی قسم ئی نه ماتیږی او د مرګ په وخت کښی ئی قسم ماتیږی نو دی ته په کار دی چه په دغه وخت کښی وصیت وکړی چه زما د مال څخه کفاره د قسم ورکړی۔ (شرح البدایة ص۴۶۵ دوهم ټوک)

(۹) مسئله:۔ قسم ئی وکړی چه د فلانی کور ته به نه ورځم نو په کوم کور کښی چه هغه اوسیږی هلته باید ورنه سی نو نوکه د هغی خپل کور وی یا په کرایه پکښی اوسیږی یا خواستی پکښی اوسیږی کرایه نه ورکوی۔ (شرح التنویر ص۱۲۸ دریم ټوک)

(۱۰) مسئله:۔ قسم ئی وکړی چه ستا وخوا ته هیڅ وخت نه درځم بیائی یو چاته ویل چه ما په غیږ کښی واخله هلته می ورسوه نو هغه په غیږ کښی واخسته او هلته ئی ورسوله نو هم قسم پرې واوښتی لیکن که دی نه وه ورته ویلی بیله ددی دوینا ئی واخسته هلته ئی ورسوله نو قسم نه پراوړی داغه رنګه که قسم وکړی چه د دغه کور څخه هیڅ وخت نه وزم بیائی یو چاته ویل چه ته ما په غیږ کښی د دغه کور څخه وباسه او هغه وایستله نو قسم پراوړی اوکه ئی بیله دوینا ددی وایستله نو قسم نه پراوړی۔ (شرح البدایة ص۴۶۴ دوهم ټوک)

۲۷ باب — دخورلو اوچیښلو څخه د قسم کولو بیان

(۱) مسئله: قسم ئی وکړی چه د دغه شیدی به نه خورم بیائی هغه شیدی ۔ تومنه ۔ کړی مستې سری نو د دغه مستی ئی وخورلی قسم نه باندی

وړی - (شرح البدایة ص۴۶۶ د وهم ټوک)

(۲) مسئله:- دبزی کو چنی سیرلی وُچه د وند ی کو چنی وو چه شیدی ئی ړ د دلی قسم ئی واخستی چه دد غه غوښی به نه خورم بیا هغه لویه بزه سوه نو ئی غوښی د خوړلی بیا ئی هم قسم مات سو - (شرح البدایة ص۴۶۶ د وهم ټوک)

(۳) مسئله:- قسم ئی وکړی چه غوښی به نه خورم بیا ئی د ماهی غوښی وخوړی یا د پسه یا بل شی زړه، سږی، توړی، اینه او داسی نورې وخوړل یا ئی د پسه یا بل شی لړی وخوړی نو قسم نه پرا وړی - (شرح البدایة ص۴۶۷ د وهم ټوک)

(۴) مسئله:- قسم ئی وکړی چه د غه غنم به نه خورم بیا ئی هغه اوړه کړه او پ د پی ئی د خوړه یا ئی د د غه غنمو ستو یعنی میده سوی نیني وخوړلی نو قسم نه پرا وړی اوکه خپله غنم ئی د ایشوله یا خه یې کړه نو د ئی خوړله یا ئی نیني کړه د ئی خوړل نو قسم پرا وړی لیکن[1] که ئی د غه مطلب وُچه د د وی د اوړو هیڅ شی به هم نه خورم نو د هرشی د خوړلو څخه ئی قسم ماتیږی. (شرح البدایة ص۴۶۸ د وهم ټوک)

(۵) مسئله:- که ئی قسم وکړی چه د غه اوړه به نه خورم نو که ئی پ د پی د خوړله قسم پرا وړی اوکه د د غواوړو څخه لیتې یا حلوا پخه کړی یا بل شی ئی د خوړی قسم ئی مات دی اوکه د غسی د چ اوړه د خوړی قسم ئی نه ماتیږی (هدایة ص۴۶۸ د وهم جلد ټوک)

(۶) مسئله:- قسم ئی وکړی چه پ د پی به نه خورم نو په د غه وطن کښی چه د هر هغه شی پ د پی خوړه کیږی باید د ئی نه خوړی که ئی د خوړله نو قسم ئی مات دی - (شرح البدایة ص۴۶۸ د وهم ټوک

(۷) مسئله:- قسم ئی وکړی چه سر به نه خورم نو د مرغۍ، کرک، چرگ او داسی نورو شیانو د سر (کوټې) په خوړلو سره قسم نه پرا وړی - که ئی د بزی یا غوا سر (کوټې) د خوړی نو قسم پرا وړی - (شرح البدایة ص۴۶۸ د وهم ټوک و عالمگیری ص۵۶ د ریم ټوک)

(۸) مسئله:- قسم ئی وکړی چه میوه به نه خورم نو د انار - سیب، انګور د لکی او د بی خوړما، بادام، جوز، د کشمشو، او جوشوا و د خوړما د خوړلو څخه قسم پرا وړی

[1] لیکن که په یوځای کښی د د غوښیانو ته هم غوښی وائی بیا نو د دوی په خوړلو سره هم قسم پرا وړی ۱۲ منه ف

او که ئ خټکی هندوانه ، بادرنګ ، چمبرخیال ، آم وخواړی نو قسم نه پراوړی ۔
شرح البدایه ص۴۶۹ د وهم پټوک و عالمګیری ص۵۶ د ریم پټوک)

باب ۲۸ دخبرونه کولو د قسم بیان

(۱) مسئله :۔ قسم ئ وکړی چه د فلانی ښځی سره به خبری نه کوم بیا چه هغه بیده سوه د خوب په حال کښی ئ څه ورته وویل چه په را ویښه سوه نو قسم ئ مات دی ۔ (شرح التنویر ص۱۵۷ د ریم پټوک)

(۲) مسئله :۔ قسم ئ وکړی چه د موږ بی اجازی د فلانی سره خبری نه کوم بیا موږ اجازه ورکړه لیکن دا اجازی خبره دی ته نه وه ورسیدلی چه د هغی سره ئ خبری وکړی او ترخبرو وروسته معلومه سوه چه موږ اجازت ورکړی ؤ بیا هم قسم پراوړی ۔ (شرح التنویر ص۱۵۸ د ریم پټوک)

(۳) مسئله :۔ قسم ئ وکړی چه د دغی اینجیلی سره به هیڅکله خبری نه کوم بیا چه هغه څوانه سوه یا سپین سری سوه بیا ئ خبری ورسره وکړی بیا هم قسم پراوړی ۔ (شرح البدایة ص۴۷۴ د وهم پټوک)

(۴) مسئله :۔ قسم ئ وکړی چه هیڅکله به ستا مخ نه وینم ستا صورت به نه وینم مطلب دا چه ستاسره ملاقات نه کوم ، کار نه درسره لرم که ئ د لیری څخه د هغه صورت ولیدی نو قسم نه پراوړی .

باب ۲۹ دخرڅولو اورانیولو څخه دقسم بیان

(۱) مسئله :۔ قسم ئ وکړی چه فلانی شی به زه نه رانیسم بیا ئ پوچانه وویل چه ته ئ زما د پاره رانیسه هغه ورته رانیوی نو قسم نه پراوړی او داغه رنګه که ئ قسم وکړی چه زه فلانی شی نه خرڅوم بیا ئ پخپله خرڅ نه کړی بل چاته ئ وویل چه د هغه شی را خرڅ کړه هغه خرڅ کړی نو قسم نه پراوړی او داغه رنګه حکم دی د هغه شی چه په کرایه ئ اخلی ۔ که ئ قسم وکړی چه زه د هغه سرای په کرایه نه اخلم بیا ئ د بل چا په ذریعه په کرایه واخستی نو قسم نه پراوړی البته که ئ په قسم کولو کښی دا نیت وو چه نه پخپله د هغه کار کوم او نه ئ په بل چا کوم نو د بل چا په کولو سره هم قسم ماتیږی پراوړی ۔ غرض دا دی

چه هر قسم نیت ئی وُدُ دهغه نیت سړه برابر قسم پراورې یاداسی وی چه قسم کوونکی ښځه پرده ناکه ستر ناکه وی یا خان زاده امیر زاده ښځه وی چه خپله نه ښی خرڅوی نه ئی رانیسی نو په دغه صورت کښی که دایل ته ووایی او دغه کار په هغه وکړی هم قسم پراورې۔ (شرح البدایة ص۴۷۸ دوهم توک)

(۲) مسئله:۔ قسم ئی وکړی چه زه دغه خپل زوی نه دهم بیائی ویو چا ته ودیل چه زما زوی دوهه هغه وواهی نو قسم نه پراورې (شرح البدایة ص۴۷۹ ج ۲)

۳۰ باب دلمانځه اوروژی څخه د قسم کولو بیان

(۱) مسئله:۔ که یو چا په بی عقلی سړه قسم وکړی چه زه روژه نه نیسم بیا ئی د دروژی نیت وکړی چه لږ وخت پر تیرسی په روژه کښی نو قسم پراورې د نولی ورځی د تیریدو انتظار دی نه کوی که لږ ګړی وروسته روژه ماته کړی نوهم قسم پراورې کفاره به ورکوی که ئی قسم وکړی چه یوه روژه به هم نه نیسم چه یوه روژه ئی پوره کړه نو قسم پراورې نرڅو چه پوره د سرځ تیره نه سی او دروژی د ماتیدو وخت را نسی نرهغه وخته قسم نه پراورې که ئی نرما بنام مخکی روژه ماته کړه نو قسم نه باندی اوړی۔ (شرح البدایة ص۴۸۱ دوهم توک)

(۲) مسئله:۔ که ئی قسم وکړی چه زه به لمونځ نه کوم بیا پښیمانه سوه او د لمانځه د کولو د پاره ولاړه سوه نو چه هر وخت ئی د اول رکعت د پاره سجدې ته وکړه داغه وخت قسم باندی واوښتی او د سجدې کولو څخه مخکی قسم نه باندی اوړی او داخبره یاد ولره چه داسی قسمونه کول ډیره لویه ګناه ده او که د چا څخه داسی بیعقلی او ناپوهی وسی نو قسم دی فوراً مات کړی پرځان دی قسم واړه دی او کفاره دی ادا کړی۔ (شرح البدایة ص۴۸۱ دوهم توک)

۳۱ باب د توکرا او نورو شیانو څخه د قسم کولو بیان

(۱) مسئله:۔ قسم ئی وکړی چه پرد غه غالی به نه بیدیږم بیائی غالی وغورولی او پرهغالی سره بیدیږه (پوره وخت) هوار کړی او پر پریوته نو قسم باندی اوړی که ئی پرداغه غالی یوه بله غالی هوار کړه او یا ئی ستر بخی او کمبله باندی هوار کړه او مو بیده پر پریوته نو قسم نه پراورې (شرح البدایة ص۴۸۲ دوهم توک)

(۲) مسئله:- قسم ئ وکړی چه پر محکه به نه کښینمه بیائ پر محکه بوړ یا توکر تات یا بل شی هوار کړی پر کښینسته نو قسم نه پراوړی اوکه پوړونی چه پرسر ئ ئ وی یو څاک اوطرف ئ هوار کړی نور پوړونی ئ پرسر وی او پرد غه څاک کښینی نو قسم پراوړی لیکن که پوړونی دسره څخه لیری کړی او هوار ئ کړی او بیا پر کښینی نو قسم نه پراوړی۔ (شرح البدایة ص۴۸۲ دوهم ټوک)

(۳) مسئله:- قسم ئ وکړی چه پرد غه چپرکټ یا پرد غه تخت به نه کښینمه نو بیائ پرد غه باندی ستر نجی یا غالی هوار کړه پرکښینسته نو قسم پراوړی اوکه ئ پرد غه چپرکټ بل چپرکټ کښیښوی یا ئ پرد غه تخت بل تخت کښیښوی نو پر هغه لوړ چپرکټ یا لوړ تخت کښینسته نو قسم نه پراوړی۔ (شرح البدایة ص۴۸۲ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:- قسم ئ وکړی چه فلانی به هیڅ کله نه لمبوم بیا د هغه تر مرګ ورد سته ئ و لمباوی نو قسم باندی اوړی۔ (شرح البدایة ص۴۸۳ دوهم ټوک)

(۵) مسئله:- خاوند قسم وکړی خپلی ښځی ته ئ وویل چه تا به هیڅکله نه وهم بیائ د سر تر وریښتانو ونیوه پر محکه ئ راکش کړه یا ئ ترستونی ونیوه خفه ئ کړه یا ئ په ډیر زور سره غاښونه پرې ونګول نو قسم پراوړی لیکن چه د سببه د مینی او محبت خوله او غاښونه پرې ونګوی قسم نه پراوړی۔ (شرح البدایه ص۴۸۳ ج۲)

(۶) مسئله:- قسم ئ وکړی چه فلانی خامخا وهمه او هغه د دی خبری څخه مخکی مړه سوی وه نو که د دی مرګ ورته معلوم نه وُو د دغه سبب ئ قسم کړی وُو حُکه د دې خیال دی چه هغه ژوندی ده نو خو د قسم کوی۔ نو قسم نه پراوړی اوکه ئ په مرګ خبره وه قصداً ئ قسم وکړی نو په وخت کښی د قسم کولو فوراً قسم باندی اوړی۔ (شرح البدایة ص۴۸۳ دوهم ټوک)

(۷) مسئله:- که چا د یو کار د کولو قسم وکړی مثلاً داسی ئ وویل په خدای دی می قسم وی چه ضرور به انار خورم نو په ټول عمر کښی ئ یو دانه خورل کافی دی اوکه ئ د یو کار د نه کولو قسم وکړی مثلاً داسی ئ وویل چه په خدای پاک دی می قسم وی چه زه به انار نه خورم نو د همیشه د پاره به انار نه خوړی چه یو دخت ئ وخوړی نو قسم پراوړی۔ لیکن که داسی وی چه په کور کښی ئ انار، انګور یا بل شی وی نو خاص ئ د دغو شیانو د پاره چه په

کوی کښی دی دیلی دی چه نه ئی خورم نو دا بیله خبره ده نو دغه دی نه خوری دا دغه څخه علاوه نور دی راوغواړی او دا دې خوری هیڅ پروا نه لری۔ (شرح البدایة ص۴۸۴ دوهم ټوک)

باب ۳۲ | ددین څخه دگرځیدو یعنی کافر کیدو بیان

(۱) مسئله:- خدای دی نه کوی که چا خپل ایمان او دین پریښوی نو دری (۳) ورځی مهلت ورکول کیږی او که دی ته په دین کښی شک او سوال ورپیدا سوی وی دا دغه شک او سوال جواب به ورکول کیږی نو که په دغه مدت کښی مسلمانه سوه خیر دی او که مسلمانه نه سوه د همیشه (ابد) پاره ئی بند دی کوو. هروخت چه توبه وکاږی بیا ئی پریږدو۔ (شرح البدایة ص۷۶ دوهم ټوک وعالمگیری ص۲۵۷ ج ۳)

(۲) مسئله:- یو چا په ژبه سره د کفر کلمه وویله نو ایمان ئی ولاړی هرڅه نیکی او عبادت چه ئی کړی وو هغه ټول بیکاره او بی فائیده سوه نکاح ئی وشکیږه او که ئی فرض حج کړی وی هغه هم ضائع سو نو که ئی توبه وکښه مسلمانه سوه نو خپله نکاح دی بیرته نوی کړی او دسره دی وتړی او بیرته دی بل حج وکړی۔ (شرح التنویر ص۴۶۵)

(۳) مسئله:- داغه رنګه که ئی میړه کافر سو نو نکاح ئی ماته ده نو ترڅو چه توبه ونه کاږی نکاح دسره څخه ونه کړی نو بنځه به هیڅ تعلق او علاقه نه ورسره ساتی او هغه معامله چه په منځ د میړه او بنځی کښی ده چه نږدیکت دی که چیری دغه معامله وسی نو په سره سخته ګناه ده او که خاوند دغه معامله د زور د لاړی ورسره وکړی نو دادی وټولو خلګو ته دغه خبره ښکاره کړی شرم دی نه کوی د دین په خبره کی شرم نه دی په کار۔ (شرح التنویر ص۴۶۵)

(۴) مسئله:- هرهغه وخت چه د کفر کلمه ئی د ژبی څخه راوایستله نو ایمان ئی ولاړی که په خدا او مسخره کښی د کفر خبره وکړی په زړه کښی ئی نه وی بیا هم داغه حکم دی مثلاً یو چا وویل چه آیا خدای لره دوندی قدرت نسته

چه فلانی کار وکړی د دغه جواب ئې ورکړی چه هو نسته په دغه ویلو سره کافره سوه - (شرح التنویر ص۴۳۸ د ریم پوک)

(۵) مسئله:- یو چا ورته وویل چه ولاړه سه لمونځ وکړه دی ورته وویل څوک پوه رته او کښته کیدای سی یا چاد روژی نیولو ورته وویل جواب ئې ورکړی څوک د لوبزی ځان وژنی یا ئې داسی جواب ورکړی چه روژه دی هغه نیسی چه په کور کښی چوچی نه لری دا ټول کفر دی - (فتاوی هندیه ص۱۶۲ و ۱۶۳ د ریم پوک)

(۶) مسئله:- یو چا یو څوک ولیدی چه هغه گناه کوله نو ورته وی ویله چه د خدای پاک څخه نه بیریزی هغی ورته وویل چه هو نه بیریزم نو کافره سوه. فتاوای قاضی خان ص۶۰۰ څلورم پوک)

(۷) مسئله:- یو څوک ئې پر بدکار ولیده او ورته وی ویله چه ایا ته مسلمان نه ئې چه داسی کار کوی هغی جواب ورکړی چه هو نه یم نو کافره سوه او که ئې په خندا سره وویل بیا هم داغه حکم ئې دی - (فتاوی هندیه ص۱۶۵ د ریم پوک)

(۸) مسئله:- چا لمونځ کول شروع کړی چه اتمام یو معصیت او غم پرې غی نمودی وویل دا ټول د لمانځه نحوست او بد والی دی نو کافره سوه - (فتاوی هندیة ص۱۶۲ ج ۳)

(۹) مسئله:- د کافر یو خبره ښه ورته معلومه سوه د دغه سبب ئې دا تمنا او خواهش وکړی چه زه هم کافره وای نو به ښه وای څکه چه ما به هم داغسی کولای لکه دی چه ئې کوی نو کافره ده - (فتاوی هندیه ص۱۵۹ د ریم پوک)

(۱۰) مسئله:- د یو چا زوی مړ سو نو دی داسی وویل چه یا الله دغه ظلم دی پر ما ولی وکړی زه دی ولی زهیره کړم په دغه خبره سره کافره ده - فتاوی هندیه ص۱۵۹ د ریم پوک)

(۱۱) مسئله:- یو چا وویل چه خدای راته روایی چه دغه کار وکړه هم ئې نه کوم چه جبرائیل هم را کښته سی د دغه خبره به و نه منم نو په دغو دواړو خبرو سره کافره کیږی - (فتاوی هندیة ص۱۵۹ و ص۱۶۳ د ریم پوک)

(۱۲) مسئله:- یو چا وویل چه زه داسی کار کوم چه خدای هم نه په پوهیږی نو کافره سوه - (فتاوی هندیة ص۱۵۹ د ریم پوک)

(۱۳) مسئله:- چه د خدای پاک سپکتیا او حقارت وکړی یا د نبی علیه الصلوة والسلام

حقارت او سپکتیا وکړی یا د شریعت یو خبره بده وبولی یا په هغی کښی عیبونه راباسی یا د کفر یو خبره خو بنه کړی په دغه ټولو خبرو سره ایمان ځی او د کفر دغه خبری چه په هغه سره ایمان ځی مونږ ټولی په په اوله حصه (برخه) کښی د عقیدو تر بیا ټولو ورسته هم بیان کړی دی هلته باید وکتل سی او د خپل ایمان په ساتلو کښی ډیر احتیاط په کار دی خدای تعالی دی زمونږ د ټولو ایمان ثابت دلری - امین یارب العالمین - (البحر الرائق ص۱۱۹ پنځم ټوک)

۳۳ د حلالولو بیان باب

(۱) مسئله:- د حلالولو طریقه داده چه د حیوان مخ د قبلی وطرف ته کړی بیا ده چاړه ئی په لاس کښی دی - بسم الله الله اکبر وایی غاړه ئی ورپری کړی تر داسی حده چه خلور رګونه ئی پری سی یو د ساه رګ دو هم هغه رګ چه په هغه کښی خوړک او چینل نس ته ځی چه هغه ته غاړه وایی او مری ویل کیږی دوه بنار رګونه چه یو د "ساه" رګ راسته طرف ته دی او بل چپه طرف ته دی که په دغو خلورو رګونو کښی د دی پری کړل سی بیا هم حلالیدل صحیح دی خوراک ئی حلال دی که دوه رګونه پری کړل سی نو هغه حیوان مردار سو او خوراک ئی صحیح نه دی - (در مختار ص۲۸۹ پنځم ټوک و عالمګیری ص۱۹۳ شپږم ټوک و هدایه ص۴۳۵ خلورم ټوک و در مختار ص۲۸۷ دریم ټوک)

(۲) مسئله:- د حلالیدو په وخت کښی که ئی بسم الله قصدًا نه وویله نو مردار دی او که په هیره سره خندی پاته سوه بیا حلال دی خوړک ئی روا دی - (هدایه ص۴۳۳ خلورم ټوک)

(۳) مسئله:- په پخه چاړه سره ذبحه او حلالول مکروه دی او منعه دی خکه چه حیوان ډیر په تکلیف کیږی د اغه رنګه چه حیوان لاګرم وی تر حلالیدو ورسته په د غه وخت کښی پوست خندی کښل، پښی او سر خندی پری کول مکروه دی چه هر وخت حیوان سوړ سی بیا دی پوست خندی وکاږی او پښی او سر دی خندی پری کړی او د اغه رنګه د خلورو رګونو تر پری کولو ورسته نوره غاړه د پری کول مکروه دی - (در مختار ص۲۸۹ پنځم ټوک)

(۴) مسئله:- په حلالولو کښی که د چرګ سر یو مخ پری سو نو خوړک ئی روا دی

مکروه هم نه دی لیکن دوندی زیات حلالیدل ئی مکروه دی لیکن چرگه مکروه نه
ده - (هدایة صـ۴۳۶ څلورم توک)

(۵) مسئله:- د مسلمان ذبحه او حلالول په هر وخت کښی روادی برابره خبره ده
که ئی نادینه حلال کړی یا بښځه که پاک وی که ناپاکه وی په هرحال کښی ددوی
د حلال سوی حیوان غوښه خوړل روا ده او چه کافرئی حلال کړی بیا ئی غوښه
خوړل حرامه ده - (شرح التنویر صـ۲۸۹ پنځم توک)

(۶) مسئله:- هر شی چه تیره وی لکه تیره تیږه - دګنی یا بانس خور په دغو
پټو سره ذبحه کول روا ده او صحیح ده - (هدایه صـ۴۳۶ څلورم توک)

۳۴ باب — د حلالو او حرامو شیانو بیان

(۱) مسئله:- هر حیوان او هر مرغه چه بنکار کوی او بیائی خوری یا ددوی غذا
او خورک فقط مردار شی وی نو ددوی غوښه خوړل روانه ده - مثلاً زمری
لیوه، ګیدړه، پشی، سپی، بیزو، شاهین، باز، تپوس، ګرګټی او داسی نور شیان
او چه داسی نه وی لکه طوطی، مینا، ګوګوکوتره، مرغی اوچوغکه، کرک، کوتره
بطی، هوسی، هیلی، سوی او داسی نور پټول روادی. (عالمګیری صـ۱۹۴ دوهم توک

(۲) مسئله:- سمسار ه، کشپ (سنګ پشت)، غالبوزی مچمچی، غاټره، خر، حزره
د دغو پټولو شیانو غوښی مردار ی دی او د خری شیدی هم مردار ی دی خوړل
ئی روانه دی د آس د غوښو خوړل روادی لیکن ښه نه دی د دریاب په حیواناتو
کښی فقط ماهی حلال دی نور پټول مردار دی - (هدایة صـ۴۳۹ و ۴۴۰ څلورم توک)

(۳) مسئله:- د ماهی او ملخ د غوښو خورک بیله حلالیدو روادی. د دغو څخه
علاوه د نورو پټو لو حیواناتو غوښه خوړل بیله حلالیدو روانه ده چه یو
شی مرسی نو حرام دی - (در مختار صـ۳۰۰ پنځم توک)

(۴) مسئله:- هر ماهی چه مرسی اوپراو بوسر یره پرچپه خواپروت وی خورک
ئی حرام دی - (در مختار صـ۲۹۹ پنځم توک)

(۵) مسئله:- لړئی او کلمی خوړل[1] حلال دی نه حرام دی او نه مکروه دی - شامی
صـ۲۰۳ و فتاوی رشیدیه صـ۱۲۸ دوهم توک)

[1] دی مسئلی په باره کی یو سوال او جواب په امداد الفتاوی مبوب جلد چهارم صـ۱۰۳ کی هم دی ۱۲ شبیر علی

(۶) مسئله:- په یوشی کښی که میږیان مړه سوه نو ترڅو چه دغه میږیان خټی وینه غورځوی دل سی خورک ئی روانه دی که چیری یو اوږد وه میږیان ستوني تبه ولاړ سی نو د مردار شی د خوړلو گناه پرلاز میږی - بعضی کوچنیان بلکه لویان هم دگولر میوه (دا یو قسم میوه ده چه د اینځر د میوی سره مشابهت لری) سره د هغو چینجیانو خوړی کوم چه دی میوی کړی وی او د اخیال کوی چه د دی په خوړلو سره بیا د ستر گو د خوږ مرض نه را پیښیږی لیکن د غه دگولر میوه سره د خپلو چینجیانو خوړل حرامه ده د مردار خوړلو گناه ئی ده - (رد المحتار ص۳۶ اول ټوک و رد المحتار ص۲۹۹ پنځم ټوک و طحطاوی)

(۷) مسئله:- یو هندو غوښه خرڅوی او د اسی وایی چه ما د غه شی په مسلمان حلال کړیدی د ده خخه د غوښی را نیول او بیا ئی خوړل روانه دی لیکن هغه وخت چه مسلمان ذبحه کړی وی بیا د اغه وخت خخه بل مسلمان برابروړ سره ناست وی او ورته گوری یا د غه مسلمان و لاړ سی او بل مسلمان د ده پرځای کښینی بیا ئی خوړل روا دی. (رد المحتار ص۲۳۷ پنځم ټوک)

(۸) مسئله:- هره چرگه چه گندگی، پلیت او مردار شیان خوری گرزی د غه باید دری ورځی د ترل سی بیا د ذبحه سی بیله ترلو ئی خوړل مکروه دی - (شرح التنویر ص۳۳۳ پنځم ټوک)

۳۵ باب — دنشی دشیانو بیان

(۱) مسئله:- هرڅه شرابونه چه دی ټول حرام دی او مردار دی د نارې هم داغه حکم دی د دوا د پاره ئی هم خوړل نارواد دی بلکه په هره دواکښی چه د غه شیان وی د هغو لگول هم روانه دی - (هدایه ص۴۸۹ خلورم ټوک و در مختار ص۴۴۲ پنځم ټوک و شرح التنویر ص۴۴۴ پنځم ټوک)

(۲) مسئله:- د شرابو خخه علاوه چه هرڅوندی د نشی شیان دی لکه تاریاک چرس، جای پل، هیروئن ژ غفران او داسی نور شیان د دی حکم دادی چه د دوا

د پاره د وندی مقدار خوړل چه نشه بالکل خندی پیدا نه سی روادی او د دغی د وا لګول هم صحیح دی چه د نه شیان پکښی وی او د وندی خوړل چه نشه خندی پیدا سی حرام دی۔ (رد المحتار ص۴۵۳ پنځم ټوک)

(۳) مسئله:۔ د شرابو تاړی او داسی نورو سړکه خوړل روادی۔ (شرح البدایة ص۴۹۶ ج۴)

(۴) مسئله:۔ بعضی ښځی خپلو کوچنیانو ته تاریاک ورکوی چه پریښودی او بیده سی نشه سی ځړاو بغاړی و نه وهی دا حرام دی۔ (شرح التنویر ص۴۵۲ پنځم ټوک)

۳۶ باب — دسپینو اوسرو زړو دلوښو بیان

(۱) مسئله:۔ د سړو او سپینو زړو په لوښو کښی چښل او خوړل روانه دی بلکه د د غو شیانو په هیڅ طریقه استعمال کول روانه دی مثلاً د سړو او سپینو زړو په کاچوغه یوشی خوړل یا چښل۔ د سړو یا سپینو زړو څخه چه د غاښو نو د خلالو لو د پاره شی جوړ سوی وی په هغه سړه د غاښو خلالول په ګلاب پاش د د ی عرق ګلاب پاشل یا ئ د رنجونی څخه یعنی هغه شی چه رانجه پکښی وی رانجه لګول یا ئ په سلائی سړه ستړګی توړول سلائی هغه لرګی ته وا ئ چه هغه په رانجو کړ کړی بیا ستړګی په توړه وی یا د عطردان څخه ئ عطر لګول یا ئ په پان دان کښی پان اینبول یا ئ د پیالی څخه تیل په ځان پوری مښول دهر هغه پلنګ او چپر کټ پښی چه د زړو وی پر هغه بید یدل او کښینستل د سړو زړو په صاف شی کښی کتل چه مخ پکښی وویني د غه ټول حرام دی۔ (شرح التنویر ص۳۲۳ پنځم ټوک) لیکن که د غه صاف سړه زړه بنایست د پاره استعمال کړی روادی لیکن خپل مخ دی هیڅکله نه پکښی ګوری غرض دادی چه د د غو شیانو بیله بنایسته استعمالول روانه دی۔ (فتاوی هندیة ص۲۲۳ شپږم ټوک)

۳۷ باب — دلباس (جامی) اوپردی بیان

(۱) مسئله:۔ کوچنیانو هلکانو ته څ زړو کړه وړپلاس کول د زړو غاړی ور په غاړه کول او داسی نور زیورات په اغوستل د وړینمو کالی۔ بخمل او د غسی نور شیان ورا غوستل روانه دی۔ داځکه رنګه د سړو او سپینو زړو، وړینمو تعویذ وړپه غاړه کول په زعفران یا بل د غسی شی سړه رنګول سوی کالی وړا غوستل

روانه دی۔ غرض دادی چه هر هغه شیان چه دلویانو خلگو د پاره حرام دی
هغه شیان باید دکوچنیانو هلکانو د پاره هم استعمال نه کړی البته که
دیو بوکر تانسته د دریمو د هغه چه تانستی ته ورلویږی د وړیو یا پنبه
یا بل شی وه نو د غسی جامه هلکانو ته روا ده چه ورڅخه ګونډی داغه نګه
که یو بخل هغه چه تانستی ته ورلویږی بخل نه وی د غه هم روا دی او
د غه بټول دلویانو خلگو د پاره هم روا دی اوکه دریمین خامک پرکالو سوی
وی ترڅلور ګوتی پراخ نه وی هم د خلگو د پاره روا دی۔ (شرح النقایه ص۲۵۶ ج ۵ و
ص۲۵۱ و ص۲۴۹ و ص۲۳۴ پنځم بټوک و فتاوای هندیه ص۲۲۱ شپږم بټوک)

(۲) مسئله:۔ هغه خولی (رخچینه) چه دریمین کار پکښی سوی وی یا بله داسی
جامه هلکانو ته هغه وخت روا ده چه دیر کار پکښی سوی نه وی که دوندی دیر
کار پرسوی وی چه دیوڅه لیږی څخه بټول کار معلومیږی او جامه نه معلومیږی
نو داسی بوکر، جالی اغوستل روانه دی وهلکانو ته او دریمو هم د غه حکم
دی که دوندی ګڼ وی نو هلکانو ته ئی ور اغوستل ناروا دی۔ (رد المحتار ص۲۴۵ ج۵)

(۳) مسئله:۔ دیره نرمه جامه لکه۔ ململ۔ جالی۔ اب روان۔ د دوی اغوستل
او لږ لږ ګرزیدل سړه برابر دی په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هغه اغوستونکی
د نرمو او باریکو جامو د قیامت په ورځ لږ بلل کیږی اوکه ئی قمیص او پورونی
دواړه نرم وی دا نو غضب پر غضب دی۔ (البخاری الشریف)

(۴) مسئله:۔ مردانه څیلی په پښو کول مردانه صورت او شکل جوړول
روانه دی۔ نبی علیه السلام پرداسی بنځو لعنت ویلی دی۔ (رد المحتار ص۲۴۱ ج۵)

(۵) مسئله:۔ د بنځو د پاره زیورات اوګیڼی اغوستل روا دی لیکن د دیر
زیورات اغوستل په کار نه دی چا چه په دنیا کښی وانه غوستل نو په اخرت
کښی د دیر ورکول کیږی او شرنګ او بزغ کولو نکی زیور استعمالول روانه دی لکه پرلمن
چه ئی د سړو زړو او سپینو زړو نیمکی او لسکیزی ګنډلی وی یا ئی په وریښتانو باندی
ګنډلی او څړلی وی یا ئی پایزیبونه په پښو کړی وی او د اسی نور د سړو او سپینو زړو
بزغ کولو نکی او شرنګیدونکی زیورات چه ونی ښځو نه ور اغوستل هم ناروا دی د سړو او سپینو
زړو څخه علاوه دیل شی زیورات هم صحیح دی۔ مثلاً د روپی سپو، کوټو،
ژړو او داسی نور د څخه جوړ سوی دی مګر ګوتی د سړو زړو او سپینو زړو څخه علاوه

دبل شتی[له] دا روا نه دی - (مشکوٰة شریف ص۳۷۹ و فتاوٰی هندیه ص۲۲۲)

(۶) مسئله :- د بنځی د پاره د سړه څخه تر پښو پورې د ټول بدن د پټولو حکم دی د غیر محرم په مخ کښې ئې د بدن د هیڅ حصې لخوا روا نه دی لیکن د سپین سړی د پاره صرف د مخ ، لاسونه او تر بهلکو لاندې پښې لخوا روا دی د نورو بدن لخوا هیڅ قسم روا نه دی - د تندی څرخه اکثر عورتې پورې نې ایله سې پس داغسې د غیر محرم سړه مخامخ کیږي دا روا نه دی د غیر محرم په مخکښې باید یو دریښته لخ نه سې بلکه هغه دریښتان چه د زنخوا لو په رخت کښې ختلی دی او هغه نوکان چه پریکړی ئې دی یو داسې ځای وا چوی چه غیر محرم ئې ونه وینی او که ئې داغسې ځای نه غورزوی نو ګناهګار کیږي د غه رنګه د خپل بدن یو حصه یعنی لاس پښه او نور اندامونه د نا محرم سړی د بدن سړه لګول او مښلول هم نارواکار دی - شرح التنویر ص۴۲۱ اول پټوک وص۳۶۲ دوهم پټوک وص۳۶۹ پنځم پټوک)

(۷) مسئله :- د ځوانې بنځې د پاره د نامحرم سړی په مخ کښې مخ لخوا اوبنکاره کول نارواکار دی - نه به داسې ځای دریږي چه غیر محرم (پردی سړی) ئې وینی د د غه څخه معلومه سوه چه د ناوی د مخ د بنکاره کیدو چه کوم رواج دی چه د خو سرګنې د قوم پټول خلګ راځی او د دی مخ ګوری نو د غه هیڅکله روا نه دی اولویه ګناه ده - شرح التنویر ص۴۲۱ اول پټوک وص۳۶۲ دوهم پټوک وص۳۶۹ پنځم پټوک)

(۸) مسئله :- د خپل محرم په مخکی که مخ ، سر ، سینه ، لیچونه او پنډۍ ئې بنکاره سې نو خیر دی لیکن لس ، شا او ورنونه بنکاره کول ئې روا نه دی - درمختار ص۳۶۱ پنځم پټوک)

(۹) مسئله :- د تامه څخه بیا تر څنګنو لاندې د د غې حصې بنکاره کول د هیڅ بنځې په مخ کښې روا نه دی بعضې بنځې لغړی په بنکاره سړه لمبیږي دا د پرده بې غیرتی او ناروا کار دی چه د دی لغړی سړه لمبیږي او نورې بنځې ورته ګورې د اولاد تر پیدا کیدو وروسته پر شپږمه ورځ "چه بنځه لغړی او لمبوی ئې او پرده غه ئې مجبوره کوی او نورې بنځې ټولې ورته ګورې دا پیر سخت ناروا کار دی

داد بعضو خایو رواج دی۔ د نامه څخه بیا تر څنګو پورې دی هیڅکله بدن نه لغړوی د نورو د بنځو په مخکې۔ (در مختار ص۳۶۵ پنځم ټوک)

(۱۰) مسئله:۔ که چیرې یو مجبوري وي نو د ضرورت او مجبورۍ موافق به خپل بدن بنکاره کوي۔ مثلاً پرورانه باندې دانه ده نو صرف د دې دانې ځای بنکاره کړه زیات هیڅکله مه بنکاره کوه د دغه صورت دادی چه زړه پایجامه یا زړه پورې واغوندې او د دانې پر برابر ئې پرې (څیرې) کړه چه هغه جراح او د زخمونو ماهر او پوه ئې وویني لیکن د جراح څخه علاوه دبل چا پاره ئې لیدل روانه دي که ښځه یوه ټه هم روانه دي البته که د نامه او څنګو تر منځ نه وي یو بل ځای وي نو بنځې ته ئې ور بنکاره کول روادي۔ داغه رنګه د حقنې یعنې امالې کولو په وخت کښې د ضرورت سره برابر فقط دومره قدر بدن بنکاره کول روادي زیات بنکاره کول روانه دي داغه رنګه په وخت د پیدا کیدو د اولاد کښې هغې دایې او ډاکټرې ته به هم په قدر د ضرورت خپل بدن ور بنکاره کوي تر ضرورت زیات در بنکاره کول روانه دي۔ د کوچنۍ د پیدا کیدو په وخت کښې یا د د واکولو په وخت کښې صرف د دومره قدر بدن ور بنکاره کړي بالکل لغړ کیدل او لخیدل روانه دي د دې صورت دادي چه یو غټ چادر او پټو پر ځان وغوړه دي او د ضرورت په اندازه صرف د دایې په مخ کښې ځان لخ کړي او ور نونه او داسې نور ځایونه ئې بنکاره نه سي او د دایې۔ ډاکټرې څخه ماسیوای دبل چا پاره د دې بدن ته کتل روانه دي بالکل ئې لغړول او د ټولو بنځو په مخ کې ئې کښینول او بیا ور ته کتل حرام دي۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه ستر او عورت ته کتونکي او د ستر او عورت بنکاره کوونکي پرد غوږ واړه باندې د خدای پاک لعنت دي د دې مسئلو په پرخیال سائل په کار دي۔ (عالمګیري ص۲۲ شپږم ټوک و در ص۳۶۴ پنځم ټوک۔ مشکوٰة شریف ص۲۷)

(۱۱) مسئله:۔ په زمانه د حمل او نورو وختونو کښې که چیرې دایې لس ور ځنې نو تر نامه لاندې د بدن لخول روانه دي پورې د نې یا بل شي باید پر ځان واچوي بیله ضرورته دایې ته هم روانه دي چه ور ته وګوري او بدن ئې ور بنکاره کړي

کوم چه رواج دی چه دښ دمښو ولو په وخت کښی دا به هم ورته گوری اونوری دگورښځی نکه مور، خور اوداسی نوری هم ورته گوری دارواندی دی. -(درمختار ص۳۶۵ ج ۵)

(۱۲) مسئله :- د بدن دهرهغه ځای لیدل اوکتل چه نارواوی دهغو ځایونو ته لاس ورډول هم نارواوی نو ددی سببه دلمبید و په وخت کښی که بدن لږ هم ډوی بیا هم په پری مینځونکی بنځی یابل چاسړه د خپلو ورنو نو مښرول روانه دی که څه هم تر کالو لاندی لاس ورداخل کړی ورنونه ورمښی لیکن که پری مینځونکی بنځه په خپل لاس یو کخوړه - دستکه واغوندی ورنونه ورومښی بیا ورواکار دی. (درمختار ص۳۶۱ پنځم پتوک)

(۱۳) مسئله :- کافرانی بنځی لکه اهیرنه، تنبولنه، تیلنه، کولنه، دهوبنه، بهنگنه، چمارنه، انگریزه، یهودهاوداسی نوری چه گورو ته راځی نو ددی حکم دادی چه هرڅوندی پرده چه د غیر محرم سړی څخه ده په هغه اندازه پرده اوستر کول دد غو بنځو څخه واجب دی ماسیواد مخ، لاسونه تربندو پوری او پښی تر بجلکو پوری نور نو دیوه وربینته بنکاره کول ددوی په مخ کښی روانه دی - دا مسئله ښه یادکړه ټولی بنځی ددی مسئلی خلاف کار کوی غرض - سړی - ټوله لاس اوپښی ددوی په مخ کښی مه بنکاره کوه اودی مسئلی څخه په دی مسئله هم پوه سه که دایی هندوانۍ یا بله کافره وه نو دگوچنی دپیدا کیدو ځای دی ته بنکاره کول روادی اوسړاوداسی نور اندامونه ددی په مخکښی بنکاره کول روانه دی. (عالمگیری ص۲۱۹ شپږم پتوک ودرمختار ص۳۶۶ پنځم پتوک)

(۱۴) مسئله :- د خپل خاوند څخه د هیڅ ځای پټول نسته تاته دده په مخکی اوخاوند ته ستاپه مخ کښی د ټول بدن لڅول روادی. لیکن بیله ضرورته داسی کول روانه دی. (عالمگیری ص۲۱۹ شپږم پتوک)

(۱۵) مسئله:- څرنګه چه پخپله د خلګو د مخ ته راتلل او بدن بنکاره کول روانه دی داغه رنګه د پټ ځای څخه د خلګو ته کتل هم روانه دی بنځې داسې فکر نه کوي چه خلګ د موږ ته نه ګوري موږ دې ورته ګورو هیڅ پروا نه لري دا بالکل غلط فکر دی۔ د دروازې تر چولو یا د بام د سره څخه خلګو ته کتل۔ د زوم د مخ ته راتلل یا په یوه بله طریقه سره د زوم ته کتل دا ټول حرام دی۔ (در مختار ص۳۶۵ پنځم ټوک)

(۱۶) مسئله:- د غیري محرم سره یوازې په تنهایي کښې کښینستل، بیدیدل روانه دی که څه هم د واړه جلا جلا او سره لیږي دی بیا هم روانه دی۔ (در مختار ص۳۶۳ پنځم ټوک و مشکوة شریف ص۲۶۸)

(۱۷) مسئله:- خپل پیر ته مخامخ کیدل او د مخ ته ورتلل داسې دی لکه د غیر محرم د مخ ته ورتلل د دې سببه د پیر مخ ته ورتلل ناروا کار دی داغه رنګه پالل سوی هلک بالکل غیر محرم دی په زوی ورته ویلو سره هغه نه زوی کیږي ټولې دکورنۍ بنځې به د دې سره داسې ګذاره کوي لکه چه د غیر محرم سره ئې کوي داغه رنګه چه غیر محرم قریب وي لکه لیور اخښی دا کاږدی، د عمه زوی، د ماما زوی او داسې نور دا ټول په شرعه کښې بیګانه او پردي دي د دوي څخه ښه ټینګ ستر او پرده کول په کار دی۔ (درمختار ص۳۶۲ پنځم ټوک) و مشکوة شریف ص۲۶۸ و اللمعات)

(۱۸) مسئله:- د نرسبنځې، رانده د مخ ته راتلل هم روانه دی۔ (در مختار ص۳۶۸ پنځم ټوک)

(۱۹) مسئله:- چه سوداګر بنګړیان یا نورشی خرڅوی نو بعضی بعضی بنځې د سوداګر ته وایي چه د غه بنګړی را پلاس کړه هغه ئې ورپه لاس کړي دا ډیر بې ځایه دی او د بیعقلی کار دی بلکه کوم بنځې چه د باندې ګرزي سوداګري وي چه په هغوی سره بنګړی په لاس کوي هم روانه دی۔ (در مختار ص۳۶۵ ج۵)

۳۸ متفرقات باب

(۱) مسئله:- په هره هفته کښې لمبیدل ځان پاکول تر نامه لاندې او د بغل او داسې نورو

عه یعنی هغه مسئلې چه یوه دیوه باب او بله د بل باب وي او په منځ کښې ئې هیڅ علاقه او ارتباط نه وي ۱۲

خایو[۵۱] نو د ډیښتان خړیل او صفا کول بدن صاف۔ ستره کول مستحب[۵۲] دی که هره هفته نه وی نو دی بیا په پنځلس ورځې کښی وی او که دغه هم نه وی بیا دی په څلویښت ورځې کښی دی نو څلویښت ورځې د زیادت اجازه نسته که څلویښت ورځې تیری سوی او د ډیښتان ئې صفا نه کړه نو دیره لویه ګناه ده۔ (درمختار ص۴۰۱ پنځم پتوک)

(۲) مسئله:۔ د خپلی مور، پلار او خاوند (میړه) نوم اخستل بیاور نغړه (نارې) کول مکروه او منعه دی ځکه په دغه کښی بی ادبی ده لیکن د ضرورت په وخت کښی لکه څرنګه چه د مور پلار نوم اخستل صحیح دی داغه رنګه د خاوند نوم اخستل هم روا دی۔ داغه رنګه په ولاړه ناسته او هره خبره کښی باید د دوی د ادب او تعظیم خیال وسی۔ (درمختار ص۴۱۳ پنځم پتوک)

(۳) مسئله:۔ د ژوندی اوساه لرونکی شی سوځل روا نه دی لکه سپږی غالبوزی او ورته وړاچول یا منګور یا داسی بل شی او ورته اچول البته که مجبوری وی بیا روا دی داغه رنګه پرژوندی حیوان ایشیدلی او به اچول د ضرورت په وخت کښی صحیح او روا دی مثلاً چارپای بیله ایشیدلو او بونه پاکیدی (عالمګیری ص۲۳ شپږم پتوک)

(۴) مسئله:۔ شرط اینبول نارو دی مثلاً یو څوک وایی یو سیر خوږی و خورې نو زه تاته یوه روپۍ درکوم که دی ونه خوړلی بیا ستا څخه یوه روپۍ اخلم غرض چه دد وارو طرفو څخه شرط وی روا نه دی او که دیوه طرف څخه شرط وی بیا روا دی (درمختار ص۳۹۷ پنځم پتوک)

(۵) مسئله:- چه یوه وه خلګ پټې خبرې سره کوي نو هلته مه ورځه ودوی ته پټ د ریدل او خبرې اوریدل ډیره لویه ګناه ده په حدیث شریف کښې راغلی دی چه هرڅوک دبل چا خبرو ته غوږ نیسی او دهغود غه غوږ نیول خوښ نه وی نو د قیامت په ورځ ډیلی سوی اوګرم سرب د دوی په غوږو کښې وراچول کیږی- نو د دی څخه معلومه سوه چه په واده او ښادی کښې د میړه او ناوی خبرې اوریدل او ورته کتل ډیره لویه ګناه ده لکه په بعضو ځایو کښې چه عادت اورواج دی- (ترغیب وترهیب پرحاشیه د مشکوة ص۴۷۳)

(۶) مسئله:- د خاوند "میړه" سره چه هرڅه خبرې سوی وی یا هرڅه معامله په مابین کښې راغلی وی وبل چا ته ئې بیانول (یعنی چه بیائې نود غه بنځه وبل چا ته کوی او د میړه پرده او راز په خوندی نه وی ډیره لویه ګناه ده- په حدیث شریف کښې راغلی دی چه د د غو پټو رازونو پرویونکو باندی ترټولو زیات د الله پاک قهر او غضب کیږی- (ترغیب وترهیب پرحاشیه د مشکوة ص۳۵۹)

(۷) مسئله:- د وندی اندازه دیو چا سره خندل او خوشطبعی کول چه د ده ناخوښه سی او په تکلیف کیږی روا نه دی سړی ترهغه وخته خندا وکړه چه د ده خوښه وی نه د وندی چه د هغه طبیعت درڅخه خراب سی- عالمګیری ص۲۳۴ شپږم پتوک)

(۸) مسئله:- د غم په وخت کښې مرګ غوښتل او خپل ځان وهل روا نه دی- (در مختار ص۴۱۴ پنځم پتوک)

(۹) مسئله:- پچیسی (یو بازی ده چه په اوو (۷) خرمهره وسره کیږی) چوسړ (نرد بازی) تاش (ورقې اوپتی کول) او د دی په شان د غسی نورې بازی کول روا نه دی که چیرې د غه بازی د شرط په ډول سره کوی نو دا بیا بنکاره قمار دی او حرام دی- (در مختار ص۳۸۹ پنځم پتوک)

(۱۰) مسئله:- چه یو هلک یا انجیلی د لسو کالو سی نو هلک د مور، خور او نورو

۳۹۶

سره او اینجیلی د وروړ او پلار سره بیدیدل منه نه دی لیکن که هلک د پلار سره او اینجیلی د هور سره پریښوی ړوا دی - (در مختار ص ۳۷۶ پنځم توک)

(۱۱) مسئله:- چه یو څوک ترچ (پرچ) وهی نو الحمد لله ویل منه دی او چه الحمد لله وایی نو پرا ور بیدونکی په جواب کښی د دغه یَرْحَمُکَ اللّٰهُ واجب دی که ئی ونه وایی نو ګنهګار ره ده او د اخبره هم یاد وساته که ترچونکی (پرچونکی) منځه یا اینجیلی وی نو یَرْحَمُکِ اللّٰهُ دکاف په زیر سره ویل کیږی او که سړی یا هلک وی نو د کاف په زور (زبر) سره ویل کیږی بیادی نو ترچونکی په جواب کښی وایی - یَغْفِرِ اللّٰهُ لَنَا وَلَکُمْ - لیکن پر ترچونکی باندی دغه واجب نه دی بلکه منه دی - (عالمګیری ص ۲۱۸ دوهم توک)

(۱۲) مسئله:- ترترچلو وروسته ئی الحمد لله وویل ډیر وانسانانو واوریدل نو پر تولو - یرحمک الله - واجب نه دی که ئی په دوی کښی یو وایی د تولود طرفه څخه ادا کیږی لیکن که هیڅوا جواب ورنه کړی نو تول ګنهګار ره دی - (شامی ص ۴۰۹ پنځم توک)

(۱۳) مسئله:- که څوک ډیر وارونه و ترچی او د هر وار ترچلو سره الحمد لله و وایی نو فقط د ړی وار ه یرحمک الله ویل واجب دی نرد غه زیات واجب نه دی - (عالمګیری ص ۲۱۸ شپږم توک)

(۱۴) مسئله:- چه څوک د نبی علیه الصلوٰة والسلام نوم د غسی[۱] په خوله وایی یا ئی په کتاب کښی وایی یا ئی دبل چا څخه واوری نو د درود شریف ویل باندی واجب دی که ئی نه وایی نو ګنهګار ره ده لیکن که ئی پریوه ځای څو وار ه وایی نو هر وار د درود شریف ویل واجب نه دی صرف یو وار ویل کافی دی البته که ئی د ځای تر بدلیدو وروسته بیا نوم ووایی یا ئی واوریدی نو بیا درود شریف ویل واجب دی (عالمګیری ص ۲۱۰ شپږم توک)

(۱۵) مسئله:- کوچنیانو ته یوخه سرور خربیل یوخه پریښوول مثلاً د سر کلګی ور وخرپی شاوخوا پیکی ورپریږدی یا صرف د مغ پرخوا - پیکی ورپریږدی یا بله داسی طریقه کول نارواوی یادی نول سرور وخرپی یادی توله پریږدی - (شامی ص ۴۰۲ پنځم توک)

(۱۶) مسئله:- عصر یا بله خوشبوئ د وښدی قدر نگول چه و غیر محرم ته ئ خوشبوئ ور و رسیږی روا نه دی- (روایت کړیدی ابوداؤد ترغیب ص۳۵۹)

(۱۷) مسئله:- دا رنگه جامه او کالی جوړول ناروادی چه هغه ناجائز او حرام دی مثلاً میره د خیلی ښځئ ته وایی چه ماته په دا رنگه طریقه سړه کالی راجوړ کړه او په دغه رنگه طریقه سړه چه کالی جوړ سوی دی د ده د پاره ئ اغوستل حرام دی نو د ښځئ د پاره د میړه ته داسی کالی جوړول حرام دی داغه رنگه خیاطه ښځه دی و بل چاته په مزدوری همدغسی کالی نه جوړ دی چه د هغه د پاره ئ اغوستل ناروا دی- (شامی ص۳۸۶ پنځم پتوک)

(۱۸) مسئله:- د رواج قصی بی سنده حدیثونه چه ناپوهانو اوجاهلانو په خپلو کتابونو کښی لیکلی دی او په معتبرو کتابونو کښی د دوی هیڅ ثبوت نسته او داسی کتابونه په پښتو کښی هم سته نو د داسی کتابونو ویل او کتل روا نه دی. داغه رنگه د غزلو او سندرو کتابونه مثلاً د اکثره شاعرانو کتابونه یا لکه ملی هندار ه او داسی نور او خاص د دین سباد عشقی قصو کتابونه باید ښځئ بالکل مطالعه نه کړی (د نه گوری) د دوی راښول هم ناروا کار دی- که د خپلو اینجینو سړه داسی کتابونه و وینی باید دغه کتابونه په اور کښی واچوی- (شامی ص۴۱۷ پنځم پتوک)

(۱۹) مسئله:- د ښځو په خپل منځ کښی سلام اچول د سلام جواب ورکول او سړی مسی لاس په لاس کښی ورکول سنت دی باید دا رواج کړل سی او باید ښځئ ئ په خپلو منځو کښی سړه وکړی (رواه طبرانی والبیهقی شامی ص۳۷۵ ج۵)

(۲۰) مسئله:- چه یو ځای میلمنه سی نو دکور والا بی اجازی فقیرته ډوډی مه ورکوه بیله اجازی دکور والا د ډوډی ورکول گناه ده (عالمگیری ص۲۲۹ ج۶)

دشی د پیدا کولو بیان

باب

(۱) مسئله:- یو ځای په لار کښی یا کوخه کښی یا په ډیره ښځو کښی یا په مجلس کښی یا په یو میلمستیا کښی یا په یو تقریر کښی د ښځو د تللو څخه دوسته ئ یو شی پیدا کړی د دغه شی اخستل روا نه دی که ئ اخلی په دغه نیت به ئ اخلی چه د دغه شی د هر حاجه

هغه ته به ئې درکوم - (شرح التنویر ص۴۹۱ دریم لټوک)

(۲) مسئله :- که یو شی پیدا کړی او راپورته ئې نه کړی هلته ئې پرهغه ځای پریږدی هیڅ ګناه نه لری لیکن که دغه بیره وه چه که ئې نه وانه خلم نو بل څوک به ئې واخلی د هرچا چه دغه شی دی هغه ته به نه ورسیږی - نو بیا ئې اخیستل او مالک ته رسول واجب دی - (شرح التنویر ص۴۹۱ دریم لټوک)

(۳) مسئله :- که چا یو پروت شی راپورته کړی نو د مالک تلاش کول او د مالک پوښتنه کول او دغه شی ورکول دده پرذمه واجب دی که ئې شی کوم ځای چه پروت وُ هلته ئې و غورزاوی او یا ئې پورته کړی او په خپل کور کښی ئې کښیښووی او د شی د مالک تلاش ئې و نه کړی نو ګنهګار ګرځی - نو ورته دغه شی داسی ځای پروت وُ چه پورته کیدل ئې دی پرذمه واجب نه وُ یعنی یو محفوظ اوخوندی (ساتلی) ځای پروت وُ چه ضائع کیدو بیره ئې نه وه یا داسی ځای پروت وُ چه پورته کیدل ئې واجب وه دد واړو دغه حکم دی چه تر پورته کید و وروسته د مالک تلاش کول او هغه ته ورسول ئې واجبیږی بیرته ئې هلته غورزول روانه دی - (فتاوی هندیه ص۱۷۱ دریم لټوک)

(۴) مسئله :- په مجلسونو اود نرو اوښځو په مجلس او ازدحام کښی دی ښه په زوره نغری (ناری) وکړی د مالک تلاش دی وکړی چه داشی دچا دی - که د خلګو مجلسونه خپله ورتلای نه سی نو د خپل خاوند یا بل چاپه ذریعه دی ټول خلګ خبرکړی او ورک سوی شی دی ښه مشهوره کړی چه مایوشی پیدا کړیدی د هرچا چه وی را دی سی خپل شی دی واخلی لیکن شی دی نه ورمعلوموی چه دغه شی او دا رنګه شی می پیدا کړیدی ځکه بیا څوکیدای سی چه څوک په درواغو او فریب سره د غه شی ترلاسه کړی لیکن لږ څه دی شی معلوم کړی لږ څه دی علامی هم دوایی پوره علامی دی ئې نه دوایی - مثلاً چه یو زیور (ګینه) دی یا ټوکر دی یا د جیب کوچنی پتاکیدانه دی چه په دغه کښی یو څه نقدی (نغدی) پیسی دی که څوک راسی او صحیح نښانی او علامی ئې بیان کړی نو دی دغه شی ورکړی - (فتاوی هندیه ص۱۷۱ ج۳)

(۵) مسئله :- تر څیړ تلاش کولو او مشهوره کولو وروسته چه بالکل ناامیده

سی چه اوس ئی مالک نه پیدا کیږی نو دی بیا داغه شی خیرات کړی د خپل ځان سره دی نه ایږدی لیکن که پخپله غریب او مسکینه وه نو دی خپل کار ځندی واخلی که ئی تر دغه وروسته مالک پیدا سو نو د دغه شی قیمت ځندی اخستلای سی او که مالک وویل چه د دغه شی خیرات مانه منظور دی نو بیا خدای پاک د خیرات ثواب درکړی۔ (فتاوی هندیه ص۱۷۱ دریم توک)

(۶) مسئله:۔ ساتلی کوتره، طوطی، میږی یا بله هر ئی که د دی کور ته راغله او دی هغه و نیوه نو د مالک تلاش کول پوښتنه کول او د دغه شی ورسول پرواجب سو او پخپله اخستل ئی حرام دی۔ (عالمگیری ص۱۷۳ دریم توک)

(۷) مسئله:۔ د باغ د درختو څخه میوه را لویدلی وی مثلاً انار، امرت انار نو د دغه بیله اجازته را پورته کول او خوړل حرام دی البته که داسی بی قیمته شی وو چه د غنمی شوک په کار نه لری او نه د ده په اخستو او خوړلو شوک بد وړی نو د داسی شی اخستل او په خپل کار راوستل پروا نه لری مثلاً په باغ کښی هغه سیب چه را لویدلی وی او خراب وی مالک ئی په هیڅ کار نه لری یا یوه دانه دبیری ئی په لار کښی پیدا کړه او یا ئی دیو ښ لپی په اندازه او مه او شنه نخود پیدا کړه۔ (عالمگیری ص۱۷۱ دریم توک)

(۸) مسئله:۔ په یو ځای یا ځنګله کښی ئی بنخه او پته سوی خزانه پیدا کړه د دغه حکم هم د هغه پراته پیدا سوی شی دی پخپله اخستل ئی روا نه دی تر تلاش او کوشش کولو وروسته که د مالک معلومات و نه سی نو خیرات دی کړی. او که پخپله مسکینه وی نو د ځان د پاره ئی هم اخستلای سی۔ (ردالمحتار ص۵۰۰ دریم توک)

۴۰ دوقف بیان باب

(۱) مسئله:۔ چه څوک یو خپل جائیداد لکه سرای باغ، کلی او داسی نور شیان د خدای په لار کښی د فقیرانو، غریبانو او مسکینانو د پاره وقف کړی چه د دغه کلی تولـه آمدنی دی تولـه یوازی غریبانو مصرف سی د دغه باغ

پتولی میوی دی غریبانو ته ورکړل سی او په دغه سرای کښی دی غریبان اوسیږی
دد غو شیانو څخه دی بل کار نه اخستل کیږی نو د دغه لوی ثواب دی
هرڅه ښه کار دنه تر مرګ دروسته ئی ثواب بندیږی لیکن دایو داسی نیک کار
دی چه تر څو پوری د غه جائیداد وی نو تر قیامته پوری ئی مسلسل ثواب ور
رسیږی تر څو چه فقیرانو ته ئی نفعه او راحت ورورسیږی د دی په عملنامه
کښی ئی ثواب لیکل کیږی۔ (عالمګیری ص۱۹۸ دریم پتوک)

(۲) مسئله۱۔ که څوک خپل شی وقف کړی نو دیو تقوی دار ه او دیندار ه چا په تصرف
دی ئی ورکړی چه هغه ئی ساتنه وکړی د کوم کار د پاره چه وقف سوی وی په
هغه کښی ئی د لګوی او چیری بی ځایه و نه لګول سی عالمګیری ص۲۱۹ دریم
پتوک در د شامی ص۵۹۴ دریم پتوک)

(۳) مسئله۱۔ هر شی چه وقف کړی بیا هغه شی د هغی نه دی د خدای تعالیٰ
سوا اوس نو د غه خرڅول یا یو چاته ورکول روا نه دی او په د غه کښی د
هیڅا کومه حصه نسته د هر شی د پاره چه وقف سوی دی په هغه شی
کښی به استعمالیږی نور هیڅ نه سی پکښی کیدای۔ (هدایة ص۶۱۲ دوهم پتوک)

(۴) مسئله۱۔ د مسجد هیڅ شی لکه خښته گچ، اهک، خټی، لرګی، ډبری
او دامی نور شیان ئی په خپل کار کښی نه سی استعمالولای برابره خبره ده که هر
څوند ی بیکاره سوی وی لیکن خو خپل کار خپل د کور کار نه سی ځند ی اختلای
چه خرڅ ئی کړی او هغه قیمت ئی بیرته په مسجد کښی ولګوی بیا روا دی (هدایة ص۶۱۲ ج۲)

(۵) مسئله۱۔ په وقف کښی داشرط کول هم صحیح دی چه وړاندی تر څو چه زه ژوندی یم
د د غه وقف ټول حاصل یا نیمی یا د یمه زما دی او چه زه مړه سوم بیا د غه ټول وقف
دی په نیک ځای یا نیک کار کښی ئی مصرف کړی نو د غسی چه وړاندی بیا د د غه وقفی شی څخه هر
څوند ی چه ئی یاده کړی وی هغه اندازه ځند ی اختلای سی ورته حلاله ده او داډیره اسانه
طریقه ده ځکه چه خپله به هم د ځان پر مفلسی او تنګی نه بیږی او جائیداد به ئی هم وقف سی.
او داغه رهنګه که ئی داشرط ونګاوی چه د د غه څخه دی زما اولاد ته دوندی حصه ورکول
کیږی او نور چه پاته سی په هغه دی د غه نیک کار وسی هم صحیح دی۔ (د بهشتی زیور دریمه حصه ختمه سوه)

دبهشتی زیور دریمی حصی اوله ضمیمه چه په بهشتی جوهر سره نامداره ده

بسم الله الرحمن الرحیم

اوله باب	دروژی د فضیلت بیان	احادیث شپارس

① په حدیث شریف کښی راغلی دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی۔ د روژاتی خوب عبادت دی او خاموشه اوسیدل ئی تسبیح دی (یعنی روژه دار که خاموشه واوسی نو ده ته د تسبیح یعنی سبحان الله ویلو ثواب رسول کیږی) اوده عمل (په ثواب کښی) ډیریږی (یعنی د ده دا عمالو ثواب نسبت د نورو د روژه ته په دغو مبارکو ورځو کښی ډیریږی) اوده دعا مقبوله ده (یعنی د روژی د حال له په قبولیت کښی خاص دخل دی) اوده گناوی بخښل کیږی۔ (یعنی گناری ئی معافیږی د گناهونو څخه کوچنی گناوی مراد دی) روایت کړیدی بیهقی

② په حدیث شریف کښی راغلی دی چه روژه سپر دی او مضبوطه قلعه ده د دوزخ څخه د ساتلو د پاره (یعنی لکه څرنگه چه په سپر او مضبوطه قلعه سره انسان پناه حاصلوی د دښمن څخه په ساتل کیږی داغسی د روژی په ذریعه د دوزخ څخه نجات حاصلیږی دا رنگه چه انسان قوت او طاقت د گناهونو کمزوری کیږی او د نیکی ماده ئی زیاتیږی نو هر وخت چه انسان باقاعده روژه دار وی په هغه طریقه سره د روژی آداب پرځای راوړی نو د گناوو څخه به وساتل سی او د دوزخ څخه به خلاص سی) روایه البیهقی

③ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه روژه سپر دی تر څو پوری چه خیری ئی نه کړی (یعنی برباده ئی نه کړی د غه روژاتی) په دروغو او غیبت سره (یعنی روژه د سپر کار ورکوی لکه چه مخکی بیان سوه مگر په شرط د دی چه د گناوو څخه وساتله سی او که ئی چیری روژه وینوه لیکن د غیبت او دروغ ویلو او داسی نورو گناوو څخه ئی پرهیز ونه کړی نو که څه هم فرض اداکیږی مگر په ډیره لویه گناه ده او د روژی چه کوم برکت دی د هغه څخه بی برخی پاته کیږی۔ (د دی حدیث روایت الطبرانی کړیدی)

④ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه روژه سپر دی د دوزخ د پاره نو پس هر
سړی چه سهار کړی په داسی حال کښی چه دئ روژه دار وی پس نو جهالت و
نه کړی په دغه ورځ او هر وخت چه څوک په جهالت سره ددغه سره پیش می
نو دهغه ته (په بدله کښی) بد و نه وایی او بد لاگفتگو و سره و نه کړی او ورته
ووایی چه په تحقیق سره زه روژه دار یم او قسم دی وی په هغه ذات چه ددغه
په قبضه کښی د محمد (ص) روح دی چه بیشکه د روژه دار د خولی بدبوئ زیاته
محبوبه ده د خدای جل جلاله په نزد د مشکو تر خوشبوئ۔ (روایت کړیدی
نسائی شریف)

(یعنی د قیامت په ورځ د دغی بدبوئ په عوض کښی چه د روژی په حالت
کښی پیدا کیږی د روژه دار په خوله کښی تر مشکو زیاته خوشبوئ پیدا
کیږی د خدای پاک ته۔ او د دغه بدبوئ چه د روژه دار په خوله کښی
په دنیا کښی پیدا کیږی سبب دی د هغی خوشبوئ د حاصلیدو چه په قیامت
کښی په خوله کښی د روژه دار پیدا کیږی)

⑤ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه روژائی ته د هر افطار (روژه مات)
په وخت کښی دیو داسی دعا اجازت وی چه د قبلیدو ئ خاص وعده
سوی وی۔ (رواه الحاکم)

⑥ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه جناب رسول الله صلی الله تعالیٰ
علیه واله وسلم و د (۲) و خلگو ته و فرمائیل چه تاسی روژه و نیسی څکه
چه روژه سپر دی د دوزخ څخه د ساتلو د پاره او (سپر دی) د زمانی
د غمونو څخه د ساتلو د پاره (یعنی د روژی په برکت د دوزخ د غمونو
او تکلیفونو څخه نجات حاصلیږی)۔ رواه ابن النجار

⑦ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د (۳) ی کسان داسی دی چه د دوی
سره د خورک حساب (په قیامت کښی) نه کیږی هرشی چه ئ خوړلی وی په
شرط د دی چه حلال وی (او هغه د (۳) ی کسان دادی)۔ یو۔ روژه دار دی،
۔ دوهم۔ پیشلمی کوونکی دی۔ او دریم۔ محافظ د خدای په لارکی دی (یعنی چه
د اسلام په سرحد کښی لوسیږی د کافرانو څخه د اسلام ملک او وطن گوری۔ روایت
کړیدی طبرانی بسند فیه مجهولان کما فی العزیزی۔

په دی حدیث شریف سره د روژه نیونکی، پیشلمی کونکی او د اسلام د محافظ
د یادونه په غټ رعایت ثابت سو - خکه چه د دی ته د خوراک حساب و ر
معاف سویدی لیکن د دی رعایت په دوجه په ډیرو لذیذو اوخوندورو
خوراکونو انسان باید مشغوله نه سی د لذیذو اوخوندورو خوراکونو
د مشغولتیا په وجه د خدای پاک دیاد څخه غفلت راځی او دگناه په قوت
کښی ترقی او زیاتوب پیدا کیږی - بنه په غور سره داخبره واوره بلکه د
پروردگار عالم د دی نعمت قدرکول په کار دی او شکرئ دار نگه ادا کول
په کار دی چه د خدای پاک بنه طاعت وکړل سی -

۸ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هرځوک چه روژائی ته د روژی د
ماتولو د پاره یوشی ورکړی نو د غه (روژه مات ورکونکی) ته د هغه روژائی
د ثواب سره برابر ثواب ورکول کیږی بیله دی خبری چه د روژه لرونکی د ثواب
څخه یو څه کم سی (یعنی د روژائی د ثواب څخه هیڅ شی هم نه کمیږی بلکه
خدای پاک په خپل فضل او کرم سره د خپل طرف څخه روژه مات ورکونکی
ته د هغه روژه نیونکی برابر ثواب ورکوی) د غه شی چه د روژه مات د پاره
ئی ورکوی که څه هم معمولی شی وی مثلاً اوبه وی - (رواه احمد و غیره)

(۹) مسئله :- په حدیث شریف کښی راغلی دی چه بې شکه الله تعالی (ثواب) مقرر
کړیدی د بنی آدم د نیکیو (د پاره) لس (۱۰) چند ه بیا تر اوو سوو (۷۰۰) پورې - فرمایی
الله تعالی مګر روژه (یعنی په روژه کښی د اوو سوو (۷۰۰) حد نسته) او روژه خاص
زما د پاره ده او زه د روژی بدله او ثواب ورکوم (د دی څای څخه د روژی
د ثواب اندازه معلومه سوه او د عظمت اندازه ئی نګول کیدای سی خکه چه د
کوم شی د ثواب اندازه د هغه نه وی چه څوند ی ثواب به ئی وی او خپله ئی
خدای تعالی ثواب ورکوی او د ملائکو په ذریعه ئی ثواب نه ورکول
کیږی - سبحان الله څومره قدردانی ده خدای تعالی پر لږ څه محنت څوندی
لوی عوض ورکوی مګر دا ضرور دی چه د روژی د غه ډول فضیلتو نه هغه
وخت سته چه روژه نیونکی د روژی حق ادا کړی - د د ر واغږ، غیبت او تولو
ګناهونو څخه ځان پکښی وساتی - بعضی خلګ په روژه کښی بالکل لمونځ نه
کوی او بعضی په ډیره بې پروائی سره د سهار لمونځ پکښی قضا کوی نو د غسی

خلگو ته د غه ذکر سوی فضیلت او ثواب نه ور په برخه کیږی د دی حدیث څخه
داسوال نه پیدا کیږی چه روژه تر لمانځه هم بهتره ده مراد د دی مضمون
څخه دا دی چه روژه ډیر لوی ثواب لری او بس داغرض نه دی چه روژه تر
ټولو عبادتو نو بهتره او غوره ده - (ولا یخفی ان فضل الجزئی لاینافی الفضل الکلی
نفضل الصلوٰة من قبیل الثانی فافهم)

او بی شکه د روژه دار د پاره دوی خوشحالی دی یوه خوشحالی هغه وخت
وی چه روژه ماتوی اود وهمه خوشحالی د قیامت په ورځ د ربنه حاصلیږی
(یعنی د خدای تعالیٰ سره د ملاقات په وخت کښی لکه چه په بعضو حدیثونو
کښی ئی تصریح هم راغلی ده) رواه الخطیب وهٰذا مختصر منه

(۱۰) په حدیث شریف کښی راغلی دی هر وخت چه د روژی "مبارکی" اوله شپه
سی خلاصیږی د رواز ی د اسمان اود دغو د رواز و څخه هیڅ د رواز ه د
روژی تر اخیری شپی پوری نه بندیږی او د اسی هیڅ مسلمان نشته چه ملونځ
وکړی په یوشپه کښی د شپو څخه د روژی مگر (د اخبره ده چه) لیکی الله
تعالیٰ دده د پاره دو نیم زره نیکی د هر رکعت په عوض کښی (یعنی د یوه رکعت
په عوض کښی دده نیم زره نیکیو ثواب لیکل کیږی) او جوړوی (خدای تعالیٰ)
دده د پاره یو ځای په جنت کښی د سرو یاقوتو څخه چه اویا (۷۰) د رواز ی
به ئی وی اود هری د رواز ی سره به یو د سرو زرو محل وی چه په سرو یاقوتو
به بنایسته سوی وی بیا چه هر وخت (روژه دار) روژه ونیسی د روژی د
اولی ورځی نو د ده گناوی معافیږی هغه گناوی چه د تیری روژی څخه ئی
بیا تر دی تاریخه پوری کړیدی (یعنی د تیر سوی کال گناوی به ئی معاف سی)
او مغفرت غواړی د ده د پاره او یا زره (۷۰۰۰) ملائکی هره ورځ د سهار څخه
بیا د ماښام تر لمونځه پوری او ور کول کیږی و ده ته په بدله کښی د هر رکعت
چه دی ئی د روژی د میاشتی په ورځ یا شپه کښی کوی - یوه د رخته (په
جنت کښی) دا سی د رخته چه د دی تر سایه لاندی به سپور (سړی) پنځه
سوه (۵۰۰) کاله مزل کولای سی -

مسلمانانو د روژی څوندی لوی فضیلت دی نو هیڅکله باید روژه

رواه البیهقی ۱۲ منه

وینه خوری بلکه په نفلی روژه باید خپل ځانونه مشرف کړی د پروردګار عالم سره د پیر محبت کوی ځکه چه الله تعالی پرموږ د وندی غټه مهربانی کړی ده چه په لږ عوندی محنت کښی ئې د وندی ثواب را لره مقرر کړیدی. کم از کم د خپل مطلب د پاره چه په جنت کښی به زموږ لوی لوی نعمتونه په برخه سی پروردګار عالم په دوستی سره ونیسی.

(۱۱) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه بیشکه جنت بنایسته کیږی د کال د شروع څخه بیا د کال تر اخیره پوری د روژی د میاشتی د پاره او بیشکه چمتوری لوی لوی (غټې غټې) سترګې ئې دی سنګار او بنایست کوی د کال د شروع څخه بیا د کال تر اخره پوری د رمضان المبارک د روژه دارانو د پاره پس نو هر وخت چه روژه راسی جنت وایی ای الله وماته را داخل کړه په دغه میاشت کښی خپل بندګان (یعنی حکم وفرمایه چه په آخرة (قیامت) کښی وماته را داخل سی) او حوری چه غټې غټې سترګې ئې دی وایئ ای الله مقرر کړه زموږ د پاره په دی میاشت کښی خاوند د خپلو بندګانو څخه پس نو کوم چا چه نه ولګاوی په دغه میاشت کښی پریو مسلمان باندی تهمت او نه ئې د نشی یوشی استعمال کړی مثلاً چرس او داسی نور خرابوی الله ج د ده ګناوی او کوم چا چه په دغه میاشت کښی پریو مسلمان تهمت لګولی وی یا ئې په دغه میاشت کښی دیو نشی شی استعمال کړی وی نو خرابوی خدای تعم د ده د اول کال نیک عملونه یعنی پیره ګناه لری (ځکه چه په بنو ورځو کښی لکه څرنګه چه د نیکیو ثواب زیات دی داغه رنګه د ګناوو عذاب هم زیات دی په دی الفاظو کښی څوند ی قدر وعید دی د عوږ او فکر خبره ده) پس نو وبیږی د روژی د میاشتی څخه ځکه چه په تحقیق سره دغه میاشت د الله پاک ده (چه په دی میاشت کی بندګانو ته حکم کیږی چه د الله پاک عادتا اختیار کړی۔ خوړل، چښل پریږدی لکه چه الله تعالی جل جلاله هیشه د خوړلو او چښلو څخه پاک دی د دی سببه دغه میاشت په الله پاک سره خاص سوه د رنه لټولی میاشتی د الله پاک دی)

ستاسو د پاره یوولس میاشتی خدای تعالی مقرر کړی دی چه په دغو کښی تاسی (خوړک) کوی او (اوبه) چښی لذتونه پکښی حاصلوی او د خپل

---

۱۰۶ شه المراد بهذا ضبط البرکات لاضبط الذات المخصوص بالکفره حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله تعالی علیه ۱۲

ذات د پاره ئی یوه میاشت مقرره کړی ده (چه په دغه کښی د خوړلو، چښلو او داسی نورو څخه تاسو منعه سوی یاست) پس نو وبیریږی د روژی د میاشتی څخه څکه چه بیشکه دغه میاشت د خدای پاک[1] ده۔

(نو په ښه طریقه سره په دغه میاشت کښی د خدای پاک اطاعت وکړی۔ او ګناوی مه کوی که څه هم د خدای پاک طاعت او عبادت هیڅه ضروری دی لیکن خاص ځایونه لکه مکه شریفه، مدینه شریفه او خاص ورځی لکه د روژه مبارکه او داسی نورې "ورځی او شپی" په یوی د قدر وړدی په دوی کښی باید د نیکی کولو او د ګناه څخه د ځان ساتلو خاص اهتمام او غم خوړل وسی۔ څکه چه په بزرګو ورځو او ځایونو کښی د نیکیو ثواب زیات وی او داغه رنګه د ګناهونو عذاب هم زیات وی۔

(۱۲) په حدیث شریف کښی ذکر سویدی چه هر وخت په تاسو کښی دیو چا و مخ ته د خورک شی ورنژدی کړل سی په داسی حال کښی چه روژه دار وی (یعنی د روژه مات د پاره ئی و مخ ته نژدی کښینوول سی) نو په کار دی چه وواړي۔ بِسْمِ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ تَقَبَّلْ مِنِّيْ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ۔ (رواه الدار قطنی فی الافراد عن انسؓ)

(۱۳) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر وخت ستاسو څخه یو څوک روژه ماتوی نو په خورما سره دی (روژه) ماتوی ددی د پاره چه دا برکت دی اوکه خورما نه وی نو بیا مناسب دی چه په اوبو سره ئی ماته کړی څکه چه دا پاکونکی[2] دی په بعضو احادیثو کښی په هغه شیدو چه اوبه په ګډه سوی وی روژه ماتول هم راغلی دی۔

(۱۴) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر څوک چه روژی ونیسی څلوینت ورځی په دامی حال کی چه دوی نه طلبوی په دغه روژه مګر (طلبوی) د الله تعالیٰ رضا (یعنی معرفت او خاص ئی د الله تعالیٰ رضا مطلب وی یو بل غرض مثلاً ریا او داسی نور څه ئی مطلب نه وی) نو دی نه غواړی د خدای پاک څخه مګر (دا خبره د ده چه) ورکوی الله تعالیٰ و ده ته (دغه شی یعنی چه لخالص د الله تعالیٰ د رضا د پاره څلوینت ورځی روژی دنیول سی نو د دامی چا دعا بیا قبلیږی

[1] رواه البیهقی وابن العساکر ۱۲ [2] رواه ابن الخزیمة وغیره ۱۲ منه

او دده هره دعا چه د خدای پاک په نزدده د پاره خیروی قبلیږی

صوفیه حضراتو رضی الله تعالی عنهم چهله (۴۰) مقرره کړیده (چهله ودی ته وایی چه تر خلویښتو ورځو پوری په یو مسجد کښی کښینی او د دنیا ټول کار و نه پریږ دی د خدای پاک عبادت کوی روژه ئی هم وی په دی چهله کښلو کښی و دین ته ډیره فائده رسیږی په انسان کښی د نیکی کولو بنه قوت پیدا کیږی او د دی په برکت سره د الله تعالی د طرف څخه خاص خاص علوم عطا کیږی او پو هنه په زیاتیږی) رواه الدیلمی عن واثلة و لفظه من صام اربعین صیامًا مایرید به الا وجه الله تعالی لم یسأل الله تعالی شیئًا الا اعطاه.

(۱۵) په حدیث شریف کښی ذکر سوی دی څوک چه روژه ونیسی په هره محترمه میاشت کی د پنجشنبی، جمعی او شنبی (د ورځو) نو یکی او نوشته کوی الله پاک د دده د پاره د اوو سو (۷۰۰) کالو عبادت (یعنی د اوو سو کالو نو د عبادت ثواب د دده د پاره لیکل کیږی۔ محترمی میاشتی یعنی د عزت میاشتی څلور دی۔ د خدای تعالی میاشت، میانی، لسمه (۱۰) اولی ورځ د لوی اختر د میاشتی او د حسن او حسین میاشت۔ مگر په لسمه (۱۰)، یوولسمه (۱۱)، دوولسمه (۱۲) او دیارلسمه (۱۳) ورځ د لوی اختر د میاشتی روژه نیول منعه ده) رواه ابن شاهین فی الترغیب و ابن عساکر عن انس رضی الله تعالی عنه بسند ضعیف و لفظه من صام فی کل شهر حرام الخمیس والجمعة والسبت کتب الله تعالی له عبادة سبع مائة سنة.

(۱۶) په حدیث شریف کښی راغلی دی هر څوک چه په یو محترمه میاشت کی د (۳) ورځی روژی ونیسی (د هغه د (۳) ورځی روژی ئی) د پنجشنبی، جمعی او شنبی (په ورځو کښی وی) نو یکی خدای تعالی د دده د پاره د دوو (۲) کالو عبادت (یعنی خدای تعالی د دده ته د دوو (۲) کالو د عبادت ثواب د دوو (۲) کالو روژو په عوض کی په آخرت (قیامت) کښی د هر کوی او په د هغه د رخت کښی د اثواب د دده په عملنامه کښی لیکل کیږی) رواه الطبرانی فی الاوسط عن ابن عباس رض بلفظ من صام ثلثه ایام من شهر حرام الخمیس والجمعة والسبت کتب الله تعالی له عبادة سنتین۔ انتهی۔ (نوټ) په رساله فضائل رمضان تصنیف حضرت مولانا الحاج زکریا صاحب شیخ الحدیث سهارنپور کښی پوره تفصیلات ملاحظه کړی.

۴۰۸

دوهم باب	د اعتکاف د فضیلت بیان	احادیث (۳)

① په حدیث شریف کښی ذکر سویدی هر چا چه اعتکاف وکړی لس[۱] ورځی په روژه کښی (یعنی په اخیرو لسو[۱] ورځو کښی) نو کیږی د غه (اعتکاف) په مثل د دوو[۲] حجونو او دوو[۲] عمرو (یعنی وده ته د دوو[۲] حجونو او دوو[۲] عمرو[۱] ثواب ورکول کیږی.

② په حدیث شریف کښی را غلی دی هر څوک چه اعتکاف وکړی چه یقین ئی دی پر د غه اعتکاف د دینی عبادت او د غه اعتکاف په نیت د ثواب حاصلولو وکړی نو د د ه گذشته (تیری) سوی گناوی بخښل[۳] کیږی (یعنی کوچنی گناوی)

③ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه پوره حفاظت د اسلام د سرحد ستر څلو سنتو ورځو پوری دی او څوک چه تر څلویښتو ورځو پوری د اسلام د سرحد حفاظت وکړی دا رنگه چه نه خرخ کړی (یو شی) او نه ئی رانیسی او نه یو بدعت وکړی پاکیږی د خپلو گناوو څخه دا رنگه لکه په کومه ورځ چه د موره څخه پیدا سوی وُو (یعنی د گناوو څخه بالکل پاکیږی)

د دی حدیث شریف مطلب دادی چه هغوی د دنیا علاقی پریږدی په روژه کښی د اسی نور د کښی مشغول سی د نفس ظاهری او باطنی حفاظت وکړی او د گناوو څخه ځان وساتی او د گناوو څخه کوچنی گناوی مراد دی او د غه صورت د چهلی نشینی دی کوم چه په صوفیه حضراتو کښی متعارف او رواج دی۔ رواه الطبرانی عن ابی امامة بلفظ تمام الرباط (قال المناوی ای المرابطة یعنی مرابطة النفس بالاقامة علی مجاهدتها لتتبدل اخلاقها الردیئة بالحسنة) اربعون یوما و من رابط اربعین یوما لم یبع ولم یشتر ولم یحدث حدثا (ای لم یفعل شیئا من الامور الدنیویة الغیر الضروریة) خرج من ذنوبه کیوم ولدته امه کذا فی الجامع الصغیر للعزیزی

---

① من قتل الیهاجر ② من اخلق الیهاجر ③ من قتل الیهاجر ④ من اقتنا الیهاجر ⑤ من قتل الیهاجر ⑥ من قتل الیهاجر ⑦ من قتل الیهاجر ⑧ من قتل الیهاجر ⑨ من قتل الیهاجر ⑩ من قتل الیهاجر ⑪ من قتل الیهاجر ⑫ من قتل الیهاجر ⑬ من قتل الیهاجر ⑭ من قتل الیهاجر ⑮ من قتل الیهاجر ⑯ من قتل الیهاجر ⑰ من قتل الیهاجر ⑱ من قتل الیهاجر ⑲ من قتل الیهاجر ⑳ من قتل الیهاجر

احادیث (۴)	د شب قدر د فضیلت بیان	دریم باب

حق تعالیٰ جل جلاله فرمائی - لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ - یعنی شب قدر بهتر دی تر زرو میاشتو = مطلب دادی چه په د غه شپه کښی د عبادت کولو د وندی قدر ثواب دی چه د دی شپی څخه ماسیوی چه په نورو ورځو کی که چیری زر میاشتی عبادت وسی بیا هم د وندی ثواب نه لری لکه څوندی ثواب چه د دغی یوی شپی په عبادت کولوسره حاصلیږی.

د دی آیت شان نزول امام سیوطی رحمة الله تعالیٰ علیه په لباب النقول کښی داسی نقل کړیدی چه په تحقیق سره رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه واله وسلم ذکر او یاداشت وکړی دیو سړی چه د بنی اسرائیلو د قوم څخه وُو - او ده زر میاشی د خدای پاک په لار کښی جهاد کړی وُو پس نو تعجب وکړی مسلمانانو پردی خبره او افسوس ئی وکړی چه موږ ته خو د غه نعمت هیڅکله نه رارسیږی - پس نو نازل کړه الله تعالیٰ د غه آیتونه - إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ - یعنی د غه شب قدر غوره ده ترهغو زرو میاشتو چه په هغه کښی هغه سړی د خدای پاک په لار کښی جهاد کړی وو او په بل روایت کښی داسی راغلی دی چه په بنی اسرائیلو کښی یو سړی وو چه د شپی ئی عبادت کاوی تر سهاره پوری او بیا ئی جهاد کاوی یعنی جنګیدی د دین د دښمنانو سره په ورځ کی تر ماښامه پوری پس نو عمل وکړی ده زر میاشتی (یعنی د غه عمل چه د شپی ئی عبادت کاوی او د ورځی ئی جهاد کاوی) پس نو نازل کړی الله تعالیٰ (آیت د) لیلة القدر خیر من الف شهر - یعنی ترهغو زرو میاشتو چه په هغو کښی هغه سړی عبادت او جهاد کړی وُو د غه شپه غوره او بهتره ده -

۱۲ وفی لباب النقول ۱۰ والواحدی عن جاهد انه ذکر رجلا من بنی اسرائیل لبس السلاح شهرا الف شهر فعجب المسلمون من ذالک فانزل الله علیه انا انزلناه فی لیلة القدر الی قوله خیر من الف شهر لبس ذالک الرجل السلاح فی سبیل الله الف شهر ۹ وعن مجاهد قال کان فی بنی اسرائیل رجل یقوم اللیل حتی یصبح ثم یجاهد العدو بالنهار حتی یمسی فعمل ذالک الف شهر ۸ فانزل الله لیلة القدر خیر من الف شهر عمل ذالک الرجل الف شهر ۷ وعلیهما و آله و اصحابه و ازواجه و اولاده و جمیع امته اجمعین ۶

. ای ورد نو او خوندود دی مبارکی شپی قدر وکړی په لږ تکلیف کی خوندی
پیر ثواب حاصلیږی او په دغه شپه کښی بیا په خاصه طریقه سره دعا
قبلیږی که نوله شپه ویښ پاته کیدای نه سی نو خوندی چه کولای سی
هغوندی قدر په دغه شپه کښی ویښ واوسی داسی مه کوی چه تلتک
پرځان راکش کړی او دبی غیرتیا په وجه بالکل بی برخی پاته سی.

(۱) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه دا میاشت یعنی رمضان پرتاسو
راغله او په دی کښی یوه داسی شپه ده چه تر زر (۱۰۰۰) میاشتو غوره او بهتره
ده - هرڅوک چه ددی شپی (د برکت، طاعت او عبادت) څخه محرومه سو نو
دی د نورو نیکیو څخه محرومه سو او نه محرومه کیږی ددی شپی د برکت
څخه مگر محروم - رواه ابن ماجه)

یعنی چه دداسی بی بهاشپی برکت وچاته نه درسیږی او هیڅ عبادت په
دغه شپه کی ونه کړی نو دغسی څوک پیر غټ محروم دی چه ددومدی
غټ نعمت څخه بی برخی پاته سی.

(۲) په حدیث شریف کښی راغلی دی که چیری الله پاک غوښتلای نو تاسی
به ئی په شب قدر خبر کړی وای (لیکن د بعضو حکمتونو په وجه ئی تاسی
بالتعیین په خبر کړی نه یاست) دغه شب قدر د روژی پیاخیر واوو (۷) شپو کښی
تلاش کړی (چه په دغو شپو کښی غالب گمان د شب قدر دی او د تلاش کولو
مطلب دادی چه په دغو شپو کی ویښ واوسی د خدای عبادت کوی ددی د
پاره چه شب قدر ستاسی په برخه سی) رواه الحاکم.

(۳) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه شب قدر په هره روژه کښی راځی.
(رواه ابوداؤد)

(۴) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه شب قدر په اوه ویشتمه (۲۷) شپه
(د روژی) وی (رواه ابوداؤد)

ددی شپی په تعین کښی پیر غټ اختلاف دی مگر مشهور قول دادی چه
د روژی د اوه ویشتم (۲۷) په شپه دی. لیکن ښه داده که چیری همت او قوت
وی نو د روژی اخیری لس (۱۰) شپی ویښ واوسی د عبادت د پاره او په دی
کښی دا ضروری نه ده چه یو څه وویني ځکه چه ددی شپی څخه دا

مقصد نه دی چه یوشی یعنی یو علامه د شب قدر وویني - بلکه مقصد عبادت او برکت حاصلول دی هغه برکت او عبادت چه ذکر ئ وسو - برابره خبره ده که یوشی وویني یا ئ نه وویني.

حدیث (۱)	دتراویحو (تراوو) د فضیلت بیان	څلورم باب

(۱) په حدیث شریف کښی ذکر سویدی چه بیشکه الله تعالی فرض کړیده په پرتاسی باندی د روژی د میاشتی روژه او سنت کړی ئ ده د دی (شپو) ولاړه (یعنی تراویح کول ئ سنت کړیدی) پس هرڅوک چه د دی میاشتی روژه د نیسی او د دی میاشتی (په شپوکی) ولاړه وکړی (یعنی تراویح وکړی) د ایمان په اعتبار (یعنی روژی او تراویح د دین حکم وبولی) اود ثواب په نیت سره او یقین پروکړی (یعنی د روژی او تراوو ئ پر ثواب ئ یقین وی) نو کیږی د غه (روژی او تراوی) کفاره د ده د تیرو سوو گناهونو د پاره (یعنی چه ده کومی کوچنی گناوی کړی وی هغه ټولی معافیږی پس نو په دی میاشت کښی ډیری نیکی کول په کار دی چه یو فرض په دی میاشت کښی وسی داد یا فرضو ثواب لری او چه نفل په دی میاشت کی وسی د فرضو ثواب لری.

حدیث (۱)	داختر ولود شپو د فضیلت بیان	پنځم باب

(۱) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه څوک بیداره پاته سی د کوچنی اولوی اختر په شپه کی نو به مړنه سی د ده زړه په هغه ورځ چه زړونه مری (یعنی د هغو سختیو او بیرو څخه به په امان سی چه د دغو سختیو په سبب خلک د قیامت په ورځ ډیر سخت پریشانه وی) رواه الطبرانی.

احادیث (۱۷)	د خیرات کولو د ثواب بیان	شپږم باب

(۱) په حدیث شریف کښی ذکر سویدی چه سخا د الله پاک ډیر لوی عادت دی (یعنی الله پاک ډیر لوی سخی دی) رواه البخاری.

(۲) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه په تحقیق سره بنده خیرات وی ډډوډی

علیه رواه النسائی والبیهقی ۱۲ منه

یو توپه (بیا) هغه زیاتیږی د الله تعالی په نزد تر دا سی حد ۱ چه وگرځی په مثل د احد (د غره) (یعنی خدای پاک ئی ثواب زیاتوی او ثواب ئی دومره زیاتیږی لکه د غه بنده چه د احد د غره په شان د نیا خیرات کړی وی نو دی سببه د لږ او په خیرات کولو فکر کول نه دی په کار - بلکه هرڅومره چه قدرت دی د قدرت په اندازه خیرات کول په کار دی که لږ وی که ډیر وی) (رواه الطبرانی)

(۳) په حدیث شریف کښی ذکر سوی دی چه د دوزخ څخه څان وساتی که څه هم د خورما په یوه ټوکره وی (یعنی که څه هم لږ شی وی خیراتوی ئی او داخیال مه کوی چه د لږ شی په څه خیرات وی ځکه چه د غه لږ شی ذریعه د خلاصون د اور ۱ څخه گرځی) کنز العمال.

(۴) په حدیث شریف کښی فرمایل سویدی - رزق طلب کړی (د خدای څخه) د خیرات په ذریعه (یعنی خیرات کوی د خیرات کولو په ذریعه سره رزق ډیر پیدا کړی) رواه البیهقی وغیره.

(۵) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د احسان کار د بیکاره مرګونو څخه ساتونکی دی پټ خیرات ورکول د الله پاک قهر او غضب وژنی او د خپلوانو سره بنه رفتار او گذاره کول عمر زیاتوی چه په یو نیک کار کښی دبل سړی د رغبت او شوق امید وی (چه هغه به هم د غه کار وکړی) نو بیائی بنکاره کول بهتر دی.

اوکه ئی دا امید نه وی نو بیائی پټ کول افضل او بنه دی په شرط د دی چه یو بله خاص وجه د د غه نیک کار د پټ کولو یا بنکاره کولو نه وی رواه الطبرانی.

(۶) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه سائل (فقرجن) حق لری (پرهغه چا چه دی سوال څنډی وکړی) که څه هم د غه "سائل" پرآس سپور ورته راسی (کنز العمال) - (یعنی که د آس سپور سوال وکړی نو د ۱ ته هم یو څه د رکول په کار دی ځکه چه د غه سړی په ظاهره دیو مجبوری په وجه سوال کوی او دامه وایه چه د د ۱ سره آس دی نو څرنګه مسکین کیدای سی نو زه شی ولی ورکړم مګر که په یو قوی علامه سره معلوم سی چه د غه سړی

په حقیقت کښی محتاج نه دی بلکه د دغه کار دی چه سوال کوی اوهوسا خواړه ئی خوښ دی نو داسی سړی ته خیرات ورکول حرام دی او د داسی سړی د پاره سوال کول هم حرام دی ښه ئی واوره)

(۷) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه خدای تعالی کریم دی کرم اوسخاوت خوښوی او خوښوی عالی اخلاق (یعنی د غیرت نیک کار وته لکه خیرات کول د ذلت څخه خان ساتل دبل چاد وجهی پرخپل خان تکلیف تیرول او داسی نور) او نه خوښوی حقیر اخلاق (او عاد تونه)۔ (لکه په دینی کارونو کی بی غیرتی)۔ (رواه الحاکم وغیره)

(۸) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه بی شکه صدقه وشرنی د خپل اهل څخه (یعنی د خیرات کوونکی څخه) گرمی د قبر اوضرورې دا خبره ده چه مسلمان به د خپل خیرات په سایه سره په قیامت کښی سایه حاصلوی (رواه الطبرانی) یعنی د خیرات په برکت سره د قبر گرمی لیرې کیږی او د قیامت په ورځ سایه په حاصلیږی)۔

(۹) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه په تحقیق سره د الله پاک د پاره یو قسم خاص بنده گان سته چه د وی الله پاک خاص کړی دی د خلگو د حاجاتو (د پوره کولو) د پاره (او) محتاجه کیږی د د وی طرف ته خلگ په خپلو حاجتونو کی (یعنی چه خلگ مجبوره می نو د وی ته د رځی او پرور دگار عالم د غه حضرات د خلگو ته د گټی رسولو د پاره منتخب کړیدی) د غه خلگ چه د محتاجو حاجتونه پوره کوی امن میندونکی دی د الله پاک د عذابه څخه (رواه الطبرانی)

(۱۰) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه خرخ کوه ای بلاله (رضی الله تعالی عنه) او مه بیږیږه د عرش د مالک څخه د کمبود اولږوالی (رواه الطبرانی) یعنی پرمناسبو خایونو ښه خرخ کوه او د خدای پاک څخه مه بیږیږه چه مسکین به می کړی او په دی خای کی د عرش مملوکیت د خدای پاک د پاره خاص سو.. که څه هم الله پاک د ټولو شیانو مالک دی لکه چه عرش بی انتها عظیم الشان مخلوق دی پس نو دی یعنی عرش په ذکر سره خاص سو او داوښوول سوه چه د هغه ذات څخه چه د د ه په قبضه کښی داسی عظیم

الشان شی دی او دئ د دغه لوی شی مالک دی - د تنگی بیره نه ده په کار - ایا دا گمان کیدای سی چه د غنی بادشاه به د خپل بنده ته د(۲) ډوډی ورنه کړی هرگز (هیڅکله) دا گمان نه سی کیدای.

د دی حدیث شریف دا مطلب نه دی چه هر سړی بیخبره مصرف کوی او بیا دی پریشانه وی او د مسکینی څخه دی بیزیږی - بلکه د دی حدیث مبارک دا مطلب دی چه د کومو انسانانو چه زړه محکم او قوی وی او د صبر طاقت پکښی وی نو د دی چه هر څوندی قدر زړه غواړی په هغه اندازه سړه دی په نیکو کارونو کی مال او دنیا مصرف کړی ځکه چه د دی په تکلیف سړه نه پریشانه کیږی سبنه پوهیږی چه هر څه چه زموږ په نصیب کښی لیکل سوی وی هغه ضرور رسیږی په خیرات سړه نه کمیږی بلکه برکت کی پیدا کیږی نو د دامی غیرت او همت په حال کی په شرط د دی چه د یو چا حق تلفی پکښی نه وی د دی ته اجازت دی او د دی د پاره د غه سنه دی چه په هر قسم سنو کارو کښی مال او دنیا سنه مصرف کړی.

او د کومو کسانو چه زړه کمزوری وی او د صبر قوت پکښی کم وی چه نن مال په خیرات کی ورکړی - سبا به بس د تنگی په وجه "او ارخطا" او پریشانه وی په زړه کښی ټ قسم قسم وسوسی ورلویږی او پرکړی خیرات پښیمانه وی نو دارنگه خلگ دی فقط پرضروری ځایونو خپل مال مصرف کړی - لکه زکوة سرسایه او دامی نور - او د خیرات پر ځایونو دی مصرف وکړی تردغو ذکرسوو مصرفونو دی کمبوت نه کوی سنه ځان په پوه کړه.

حضرت سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه چه اول خلیفه د رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه والـه وسلم وُ - یووار خپل ټول مال د نبی علیه السلام په خدمت کښی داسلامی چندی د پاره پیش کړی

حضور صلی الله علیه والـه وسلم وفرمائیل چه ای ابوبکر صدیقه (رض) یوڅه مال دی کور پرې اینبی دی که دی نه دی پرې اینبی - نو حضرت ابوبکر صدیق رض عرض وکړی چه په کور کښی ی د خدای اورسول نوم پرینبو وی او بس رسول الله صلی الله علیه وسلم د غه ټول مال قبول کړی ځکه چه خلیفه اول حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ په زړه ډیر قوی او غیرتمند وُ او د خدای په لار کی د مال او ځان

په بارہ کی د لوړی درجی قربانکو ونکی وُ و پرده دابیرہ نه وه چه بیا به پریشانه او خفه سی او یو بل صحابی لږ څه ساره زړ د خدای په لار کښی پیش کړه - لیکن مبارک علیه السلام قبول نه کړه د دی سبب چه هغه په زړه کښی کمزوری وُ او د دوندی یا همته نه وُ - لکه حضرت ابو بکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه چه وُ ښه خان په پوه کړه -

(۱۱) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه یو سائل و یوی بنځی ته په دامی حال کښی راغلی چه د دی بنځی په خوله کښی گوله وه پس نو دی بنځی داغه گوله د خپلی خولی څخه راو ایسته و سائل ته ئی ورکړه (د دی سره دوه گولو د پاره بل څه نه وُ - نو د دی سبب ئی داسی وکړه) بیا لږ موده وروسته د دی بنځی یو هلک پیدا سو - بیا چه څه وخت داغه هلک یو څه لوی سو - نو یو لیوه راغلی او داغه هلک ئی یووړی - د غه بنځه په لیوه پسی راوو تل او پسی څفستله ئی چغی او ناری ئی وهلی چه زوی می لیوه یووړی هر څوک چه کومک کولای سی ای خلگو راسی کومک راسره وکړی - زما زوی د لیوه څخه را خلاص کړی - پس نو حکم وکړی الله تعالیٰ و یوی ملائکی ته چه ورسه د لیوه د خولی څخه د غه هلک را خلاص کړه او الله پاک و ملکی ته وفرمائیل چه د داغه هلک و مورته ووایه چه الله پاک پر تا باندی سلام وایی او (دا هم وایی) چه د غه گوله بدله (د هغی گولی ده - (رواه ابن صهری فی امالیه عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه)

وگورہ د صدقی دابرکت سو چه هلک د مرگه خلاص سو او ثواب هم حاصل سو ښه خیرات تونه کوی د دی د پاره چه دین او دنیا مو په ارامه سی.

(۱۲) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د نیکی بنوونکی په شان د نیکی کودونکی دی (په ثواب کی) یعنی یو څوک چه بخپله د چا سره یو نیکی نسی کولای مگر یو حاجتمند ته یو داسی ځای ورښی یا یو چاته د د ه په باره کښی دیوشی ورکړی او د د غه حاجتمند حاجت په داغه ځای کښی چه د ه ورښوولی دی تر سره سی یا د د ه په دینا مو ئی حاجت تر سره سی نو د د غه ښوونکی د پاره د د وندی ثواب ستا لکه څوک چه د خپل ځان څخه د چا سره کومک وکړی (رواه البزار و غیره)

(۱۳) په حدیث شریف کښی ذکر سویدی چه دری کسان وه چه د دوی څخه د یوه سره لس(۱۰) دینار وه پس نو خیرات ئی کړی د دغه څخه یو دینار او د دوهم سره لس(۱۰) اوقیی وی پس نو خیرات ئی کړله د دغو څخه یوه اوقیه او د دریم سره سل اوقیی وی پس نو خیرات ئی کړی د دغو څخه لس اوقیی داغه ټول خلګ په ثواب کښی سره برابر دی ځکه چه هر یوه لسمه حصه د خپل مال خیرات کړه (رواه الطبرانی)

یعنی که څه هم په ظاهره د دوی څخه بعضو ډیر خیرات کړیدی او بعضو لږ خیرات کړیدی مګر الله تعالیٰ د دوی پر نیت ثواب ورکوی چونکه هر یوه د خپل مال په اعتبار لسمه(۱۰) حصه خیرات کړه د دی سبیه د ټولوته برابر ثواب ورسیږی یو(۱) دینار لس(۱۰) درهمه کیږی او یو درهم تر څلورانی یوځه بالادی او اوقیه څلویښت درهمه کیږی.

(۱۰۰۰۰۰)

(۱۴) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه زیات سو یو درهم تر یولک درهمه (او هغه دا صورت دی چه) یو څوک دی چه د دوه سره دوو(۲) درهمه دی د دغو دوو(۲) درهمو څخه ئی یو(۱) درهم خیرات کړی. او بل څوک دی چه د دوه سره ډیر مال دی پس نو د دخپل مال څخه یولک درهمه خیرات کړل (رواه النسائی) (یعنی د دواړو په ثواب کښی دا فرق راغلی چه اول څوک سره د لږ خیرات کولو په ثواب کښی زیات سو - ځکه خپل نیم مال د خیرات کړی هغه بل که څه هم یولک درهمه خیرات کړل لیکن د څه عدد د دوه د ډیر مال په مقابل کښی تر نیمی کم اولږ دو نو دی سبیه د دوه ته تر اول چا کم ثواب ورکړه سو منه څان په پوه کړی - د پروردګار عالم څرنګه رحمت دی د رحمت قدرکول ئی په کار دی.

جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم هیڅکله سائل نه دی جواب کړی که به یو څه ورسره وه ورکول به ئی او که به ورسره نه وو وعده به ئی ورسره کوله دا رنګه چه هر وخت ئی خدای تعالیٰ راکړی بیائی درکوم ټوله زندګی د ه مبارک صلی الله علیه وسلم او د د اهل بیت د دی ورځی پر پسی داوږشو په ډوډی څانونه هم نه دی ماره کړی - څوندی د بی رحمی خبره د ه چه سره د قه د ته د خپل مسلمان ورور مدد ونه کړی او خپله په ارامه ماره ناست وی)

(۱۵) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د خدای پاک هدیه ده د مومن د پاره سائل د ده پر دروازه باندی (رواه البیهقی) (او بنکاره خبره ده چه هدیه باید په ښه طریقه سره قبوله سی خصوصاً د رب العزة هدیه - پس نو د سائل په ښه طریقه سره خدمت کول په کار دی)

(۱۶) په حدیث شریف کښی ذکر سوی دی چه خیرات وکړی او د خپلو مریضانو درملو وکړی د خیرات په ذریعه سره ځکه چه صدقه او خیرات د دفعه کوی - مرضونه او بیمارۍ او زیادت راولی ستاسو په عمرونو او نیکیو کښی. (رواه الدیلمی)

(۱۷) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هیڅ ولی د الله عزوجل نه دی پیدا سوی مګر پر سخاوت او ښه عادت باندی (رواه ابن ماجه) یعنی د الله پاک په دوستانو کښی سخاوت او ښه عادت ضروری.

اووم باب — د حج د فضیلت بیان — احادیث (۶)

(۱) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه ملائکی په لاسو سترۍ مسی کوی د هغو حاجیانو سره چه پر سواری وحج ته ځی (یعنی پریوشی سپارلو حج ته ځی) او د غاړی او خیګر سترۍ مسی کوی د هغو حاجیانو سره چه په پښو د حج ته ځی - (رواه ابن ماجه)

(۲) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د سپارلو حاجی د پاره هر قدم چه د ده اوښه ئی طی (پی) کوی (برابره خبره ده که اوښه وی یا یو بل د سپرلی شی وی د هغو حکم یو دی) او (۷۰) یا (۷۰) نیکیانی دی (یعنی د ده د پاره د (۷۰) یا (۷۰) نیکیو ثواب لیکل کیږی) او د پیاده حاجی د پاره پر هر قدم چه د ده ئی طی (پی) کوی او د (۷۰۰) سوه نیکیانی لیکل کیږی - (یعنی د پیاده تلونکی د پاره پر هر قدم د (۷۰۰) دوسوو نیکیو ثواب لیکل کیږی) (رواه الطبرانی)

(۳) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه حج کوونکی او جهاد کوونکی (د واړه) د الله تعالی عزوجل میلمانه دی که د ده څخه (یعنی د الله پاک څخه) د دعا وغواړی نو به د دوی دعا قبوله کړی او که مغفرت وښدی طلب کړی نو به د دوی وبښنی (رواه ابن ماجه).

④ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه حج کوونکی به په قیامت کښی دغلور سوو خپلوانو شفاعت کوی. اودی پاکیزی د خپلو گناوو څخه دارنگه لکه په هغه ورځ (چه دی پاک وو) چه خپلی مورزیږولی وُو (رواه البزار) په شرط د دی چه حج ئی قبول سی پس نو په کار ده چه د دا سی لوی نعمت په اداکولو کی حلالی روپی مصرف کړل سی او په بنه طریقه سره ئی احکام پرځای راوړل سی۔

یاالله زما هم داعنی ج نصیب کړی آمین۔ اود معافی څخه د امراد نه دی چه د اسی اعمال د مسلمان څخه پاته سوی دی چه د هغه قضا راوړای سی یا پرده باندی دیو چا قرض وی چه د غه هم ورمعاف سوه۔ بلکه چه قضائی راوړل کیږی د هغود ی قضا راوړی اوچه قرض پرباندی وی هغه دی ورکړی ځکه چه دا حقوق دی گناوی نه دی.

⑤ په حدیث شریف کښی فرمایل سویدی چه څوک ج کوی په حرام مال سره اووایی۔ لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ۔ (دا هغه دعا (تلبیه) ده چه په حج کښی ویل کیږی یعنی ستاپه تابعداری کښی زه حاضریم ستاپه خدمت کښی زه حاضریم)۔ نو۔ فرمائی الله عزوجل۔ لا لبیك ولا سعدیك وحجك مردود علیك۔ یعنی نه ستا لبیك قبول دی او نه ستا سعدیك قبول دی او ستا ج ستاپرمخ دروهل سویدی. مطلب دادی چه ته زما په اطاعت کی حاضر نه ئی ځکه چه کله زما په اطاعت کښی ته حاضرید لای نو به دی حلال مال مصرف کړی وای اوراغلی به وای او ستاحج زما په لور اوپاک دربار کښی د نجس اوحرام مال په وجه قبول نه دی پوره ثواب ئی نه دررسیږی که څه هم فرض اداکیږی (رواه الشیرازی وابومطیع)

⑥ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر وخت ته د حاجی سره ملاقات وکړی نو ده ته سلام ورواچوه مسافحه یعنی پلاس ستړی مسی ورسره وکړه او ده ته دده خبری خواست وکړه چه حاجی صاحب ستاد پاره د مغفرت دعا وغواړی مخکی تردی چه دی کورته داخلیږی ځکه چه دده گناوی بخښل سویدی (پس نو د غه حاجی د خدای پاک په دربار کښی مقبول دی دده دعاد قبلیږی وخاص امید سته او هره دعا چه ستا زره غواړی په ده ئی دځان د پاره وکړه که د دین وی او که د دنیا وی مگر داصفه

وخت چه دئ خپل کور ته رسیدلی نه وی یعنی داخل سوی نه وی (تمت بالخیر)

د اصلی بهشتی زیور دریمی حصی دوهمه ضمیمه چه په تصحیح الاغلاط وتنقیح الاخلاط سره نامدار کړه ده

(۱) اصل ص۷۰ مسئله (۲) باب۴ :- که دد ودمیاشتو د روژو یو څه څه روژی قضا سوی وی الخ :- تحقیق - د وجوب تعین سال (کال) حکم مختلف فیه دی - په بهشتی زیور کښی د احتیاط څخه کار اخیستل سویدی د وجوب قول ئی اختیار کړی دی پس نوکه چا بلا تعین څیری روژی د نیولی اوس اگر نیت بدل ئی سخت وی لِیَخْرُجَ قَوْلُ عَدَمِ وُجُوْبِ - اختیار ریزی - ددی مسئلی په بارہ کی سوال اوجواب په امداد الفتاوی مبوب جلد دوهم ص۸۲ کی درج دی.

(۲) اصل ص۶۹ مسئله - باب۲۳ که ئی فلانی کار وکړی الخ :- د خدای پاک څخه ما سیوای ص۷۰ مسئله :- تحقیق په در مختار کښی راغلی دی الاصل ان الایمان مبنیة عند الشافعی علی الحقیقة اللغویة وعند مالک علی الاستعمال القرآنی وعند احمد علی النیة وعندنا علی العرف مالم ینو مایحتمله اللفظ فلا حنث فی لایهدم بیتا ببیت العنکبوت الا بالنیة فتح (الایمان مبنیة علی الالفاظ لاعلی الاغراض فلو) - اغتاظ علی غیره وحلف ان لایشتری له شیئا بفلس فاشتری له بدرهم او اکثر شیئا لم یحنث آه په شامی ص۷۹ دریم توک کښی لیکلی دی - ان قاعدة بناء الایمان علی العرف معناها ان المعتبر هو المعنی المقصود فی العرف من اللفظ المسمّی وان کان فی اللغة او الشرع اعم من المعنی المتعارف ولما کانت هذه القاعدة موهمة اعتبار الغرض العرفی وان کان زائدًا علی اللفظ المسمّی وخارجًا عن مدلوله کما فی المسئلة الاخرة وکما فی المسائل الاربعة التی ذکرها المصنف دفعوا ذالک الوهم بذکر القاعدة الثانیة وهی بناء الایمان علی الالفاظ لاعلی الاغراض - فقولهم لاعلی الاغراض دفعوا به توهم اعتبار الغرض الزائد علی اللفظ المسمّی واردوا بالالفاظ الالفاظ العرفیة لقرینة القاعدة الاولی ولولاها لتوهم اعتبار الالفاظ ولو لغویة اوشرعیة فلا تنافی بین القاعدتین کما یتوهمه کثیر من الناس حتی الشرنبلالی

فحمل الاولیٰ علی الدیانة والثانیة علی القضاء ولا تناقض بین الفروع التی ذکروها
ثم اعلم ان هذا کله حیث لم یجعل اللفظ فی العرف مجازاً عن معنیً اخر کما فی لا اضع
قدمی فی دار فلان فانه صار مجازا عن الدخول مطلقاً کما سیاتی ففی هذا لایعتبر
اللفظ اصلاً حتی لو وضع قدمه ولم یدخل لایحنث لان اللفظ هجر وصار المراد
به معنیً اخر - الخ

د دی تفصیل څخه یو څو خبری معلومی سوی (۱) د الفاظو په مقابله کی
د نیت هیڅ اعتبار نسته یعنی که یو څوک داسی نیت وکړی چه الفاظ اصلا
مساعدت نه ورسره کوی نو دی نیت لره هیڅ اعتبار نسته - (۲) او که یه چیری یو
داسی معنیٰ مراد کړله چه تر الفاظو لرا شده وی یعنی الفاظ جزی وی او معنیٰ
مراده کلی دی یا معنیٰ مراده کل وی او الفاظ جزوی نو داسی معنیٰ مراد ول
بیکاره او بی فائده ده او که چیری داسی معنیٰ مراد سی چه د الفاظو فرد
یا جزوی نو دغه معنیٰ معتبر یدای سی - (۳) مجاز عرفی که چیری داسی وی
چه حقیقت بالکل پاته سوی وی نو داغه مجاز عرفی معتبر یږی - او د حقیقت
لغویه هیڅ اعتبار نسته.

لیکن زمانه په نزد دغه د[۳]ری سره خبری صحیح نه دی امر اول د دی وجهی
دا یمانو (قسمو) تعلق د قصد او ارادی سره هم دی د طلاق، عتاق او داسی نورو
په شان لئ صرف د الفاظو سره نه دی کما یدل علیه قوله تعالیٰ ولکن یؤاخذکم
بما کسبت قلوبکم - وقوله - لکن یؤاخذکم بما عقدتم الایمان - پس نو که
چا په یو خاص نیت سره قسم واخستی او د اسی الفاظ لئ وویل چه د ده د نیت
سره مطابق نه وه نو دیانتاً د دی قسم معتبر یدل په کار دی که څه هم قضاءً
لئ اعتبار نسته - حکم چه د اده د خاص اصطلاح ده او د خاص اصطلاح په
مقرر ولو کښی ده لره اختیار سته.

امر دوهم د دی وجهی که مجاز عرفی د حقیقت لغوی مبائن وی نو په
دغه وخت کی څوئ اعتبار کیدای سی لیکن که معنی مجازی عرفی تر معنی
حقیقی لغوی عامه وی نو بیا ئ اعتبار نه سی کیدای په دوارو صورتو نو کښی
وجه د فرق نه معلومیږی - حکم چه په دوارو صورتو نو کښی معنی حقیقی
بالکل پاته سوی ده. مگر په یوه صورت کی معنیٰ حقیقی د معنیٰ مجازی

فرد یا جزد ه او په بل صورت کښی ئی مباینه ده پس نو دا فرق یو خاص موثر
فرق نه دی په دی سره د دریمی خبری مخدوشوالی هم منکار ه سو. پس
هردخت چه هغه محمل مخدوش سو چه د دی قواعدو د یاره علامه شامیؒ
اونور و تجویز کړی دی - نو اوس ویل کیږی چه الایمان مبنیة علی العرف - او
الایمان مبنیة علی الالفاظ لا علی الاغراض - دولرو تعلق ترقضالری - او د - الایمان
مبنیه علی الالفاظ لا علی الاغراض معنی دا ده چه ایمان قضاءً پر الفاظو عرفیه
مبنی دی نه پر هغو اغراضو چه خلاف د عرف دی پس نو په دغو دواړو -
قاعدو کښی هیڅ تناقض نشته - پاته سو دا امر چه بعضی جزئیات د دغو
محاملو تائید نه کوی د دی جواب دادی چه د اعتراض هغه وخت کیدای سی
چه دوه امره ثابت سی اول دا چه دغه جزئیات هغه فقهاؤ را ایستلی دی
چه دوی د غه قواعدی جوړی کړیدی یا کومو فقهاؤ چه دا قواعد هتلیم
کړی دی د هغوی د دی سره اتفاق دی - دوهم دا چه د هغه وخته بیا
تر اوسه پوری اصطلاح او عرف بدل سوی نه دی کوم وخت چه دوی
را ایستل سوی دی د هغه وخت عرف تر اوسه پوری پاته دی اوس هم
هغه عرف دی - لیکن د دی خبرو ثابتیدل مشکل دی نو د دی سبب د بعضی
جزئیاتو د مخالفت څخه زموږ د محاملو تردید نسی کیدای خصوصًا
په هغه حال کی چه دوی مؤید بالدلائل وی او کوم محامل چه د دی
بیان سویدی هغه محضی بی دلیله دی. په دا سی حال کی مسئلی د
بهشتی زیور کوی چه تعلق تر ایمانو او قسمونو پوری لری د اصول مذکوره
څخه ئی د استخراج ضرورت دی دا رنګه چه د زمانی د موجوده عرف
لحاظ پکښی مراعت کړل سی د دی استخراج ضرورت د دی څخه معلومیږی
چه فقهاؤ ویلی دی چه که چا قسم وکړی - ان فعله فعلیه غضب الله
او سخطه او لعنته - او هو زان - او سارق او شارب خمر او اکل الربا لایکون
قسمًا لعدم التعارف فلو تعورف هل یکون یمینًا ظاهر کلامهم نعم وظاهر کلامهم
الکمال لا وتمامه فی النهر - در مختار مص ۶۲ دریم توک.

پردی عبارت شامیؒ لیکلی دی - قوله ظاهر کلامهم نعم فیه نظر لانهم
لم یقتصروا علی التعلیل بالتعارف بل عللوا بما یقتضی عدم کونه یمینًا مطلقًا وهو

کون علیه غضبه دعاء علی نفسه (لان الدعاء لایستلزم الاجابة فلا یقتضی الامتناع عن الفعل فلا یکون یمیناً) وکون هو زان یحتمل النسخ (ای الاباحة فلا یکون حرمته حرمة اسم الله تعالیٰ فلا یلحق به) ثم عللوا بعدم التعارف لانه عند عدم التعارف لایکون یمیناً وان کان مما یعرف الحلف به فی غیر الاسم فکیف اذا کان مما لا یمکن اهـ بزیادة العبارات المقوسة. ددی عباراتو څخه معلومه سوه چه الفاظ مذکوره په هغه وخت کی د قسم دپاره متعارف نه وه او په هغه وخت کی د دوی څخه دصرف معنیٰ یعنی مفهومات تعلیقیه مفهومیدل نو ددی سببه دوی ودغوته په یمین او قسم نه دی ویلی - مگر زموږ په زمانه کی دا الفاظ چه که زه ستا سره دوه دی وخورم نو خنزیر به وخورم او داسی نور د قسم دپاره متعارف دی او د دوی څخه تعلیقی معنیٰ نه مرادیږی بلکه د دغو الفاظو مراد دادی چه ستا سو دکور دوه ی زما د پاره د خنزیر په شان حرامه دی اوچونکه خنزیر او داسی نور د دوی په نزد اغلظ المحرمات دی د دی سببه د تغلیظ حرمت د پاره دغه الفاظ ذکر کوی پس نو دغه الفاظ د خپلو عرفی معناؤ په لحاظ سره تر - طعامک علی حرام - زیات اغلظ دی د دی سببه دوی باید په طریق اولیٰ قسم سی پس نو دغه الفاظ د فقهاؤ پر مصرحو جزئیاتو قیاسول او په دوی سره د قسم نه کید وحکم کول نه صحیح کیږی په دی څای کی دا ښوول هم په کار دی چه بعضو فقهاؤ د یمین معنیٰ داسی بیان کړیده - معنی الیمین ان یعلق الحالف ما یوجب امتناعه من الفعل - بسبب لزوم وجوده ای وجود ما علقه کالکفر عند وجود الفعل المحلوف علیه کدخول الدار -

او وجه ددی دادی چه دوی په امر معلق کښی د دوی خبری لازمی گنهلی دی اول دا چه امر معلق به د محلوف علیه دپاره لازم وی او د دوهم امر دا چه ناقابل اباحت به وی ځکه چه هر وخت د دغه دوی خبری موجودی سی هغه وخت امتناع الحالف عن المحلوف علیه متحقق کیږی ورنه - نه متحقق کیږی او بیله امتناع حلف نه سی کیدای پر دا غه بنا دوی - ان فعل فعلیه غضب الله - او داسی نور یمین نه دی بللی لیکن دا صحیح نه دی - اولاً ددی وجهی چه امتناع واقعی په هیڅ یو حلف کښی نه وی - وهو ظاهر - پاته سو

التزام دامتناع - پس نو دغه لکه څرنګه چه په نور وقسمونو کښې راځی
داغه رنګه که زه داسی وکړم نو پرما دی د خدای قهر وسی زما دی د مرګ
په وخت کښې کلمه نصیب نه سی او داسی نور وځخه هم ثابتیږی - ددی سبب
دد وا ړه ډیخ فرق نسته پردی که سوال وسی چه که څه هم ددې غرض امتناع
دې مګر ددې الفاظ امتناع لره مستلزم نه دی ددې وجوابه دی اول داچه
الفاظ که څه هم د خپلو وصفی معناؤ په لحاظ مستلزم امتناع لره نه دی
مګر عرفی معناؤ په لحاظ مستلزم امتناع لره ضروری دی ځکه چه د دوی معناؤ
عرفاً داسی راوړی چه زه عهد کوم چه دغه کار به نه کوم که چیری زه دا
رنګه وکړم نو زه ددی سزا مستحق یم او زه ئې پخپله رضا قبلوم ددی معنی
استلزام امتناع لره ظاهر دی. بلکه عقلاً د دوی واجب والی امتناع لره د حلف
بالطلاق اوعتاق تر واجب والی امتناع لره زیات دی ځکه چه لزوم طلاق او
لزوم عتاق پر تقدیر د وقوع د فعل محلوف علیه د وندی قدر ضرر رسونکی
نه دی لکه څوندی چه استحقاق د غضب الهی او په غضب سره راضی
کیدل او ددې التزام کول ضرری دی. پس نو دغه کلمی په طریق اولی
باید قسمونه سی.

او دوهم ددی وجهی چه دکومو خبرو پر بنا د یمین دا تعریف سوید ی
په هغوی هم کلام دی په امر اول کی ددی سببه چه د لزوم د امر معلق محلوف
علیه لره ددی سببه ضرورت دی چه ددې په سبب فعل ممتنع کیږی.
لیکن چه په حلف بالطلاق کښې غور وسی نو معلومیږی چه په دی کښې
لزوم د طلاق موجب دامتناع نه دی ځکه چه که چا حلف بالطلاق وکړی
او تر دغه وروسته دې وخپلی بنځی ته دری طلاقه د خپل طرف څخه
ورکړه یا بنځی په مطاوعت دابن الزوج حرمت مؤبده حاصل کړی په
داسی صورت تو نو کښې د غه تعلیق ددی فعل د محلوف علیه دکولو څخه مانع
کیدلای نه سی نو اوس دوایه چه دغه لزوم څرنګه مفید کیدلای سی او اوس
دئی ددغه د لزوم په وجه ددی فعل څخه څرنګه راګرځیدلای سی پس نو
معلومه سوه چه ددی امر یعنی لزوم ضرورت نسته او په امر دوهم کی
ددی وجهی کلام دی چه ابن الهمام ویلی دی - کون الحرمة تحتمل الارتفاع

اولا تحتمله لا اثر له فانه ان کان یرجع الی تحریم المباح فهو یمین مع ان ذالک المباح یحتمل تحریمه الارتفاع وان لم یرجع الیه لایکون یمینًا ولا معنیٰ زیادة کلام لا دخل له - مطلب دادی چه د یمین حاصل تحریم مباح دی - پس نو هر څای چه تحریم مباح وی برابره خبره ده که موقت وی یا مؤبد وی یمین واقع کیږی او هر څای چه تحریم نه وی یمین نه واقع کیږی پس هروخت چه حرمت د معلوف علیه مؤبد نه دی نو حرمت امر معلق د مؤبد کیدلو شرط نګولو څه معنیٰ مګر نه وایم چه دا امر معلق مؤبد بالحرمت کیدلو خو پریږده بلکه پخپله حرمت ئ هم ضروری نه دی ځکه چه په حلف بالطلاق والعتاق کښی امر معلق مباح بلکه په بعضو صورتونو کښی واجب دی پس هروخت چه سره دا باحت او وجوب د معلق هم یمین کیدای سی نو د حرمت قابل ارتفاع په صورت کی یمین ولی نه کیږی - پس خلاصه د کلام دا ده چه د یمین معنیٰ ده - تحریم المباح ای التزام الامتناع عن الامر المباح بلفظ یدل علی ذالک الامتناع عرفًا او فی اصطلاح الحالف - فقط.

پس ضرورت دی چه عرف د حال او تعریف مذکور ومخ ته کښینوول سی د بهشتی زیور پر مسئلو غور وسی او په کومو کښی چه د عرف عرب او د عرف اهل هند اختلاف دی په هغو کښی د فقهی د جزئیاتو اتباع ونه سی بلکه پر اصولو د استنباط نظر وکړل سی.

تنبیه :- دا زما شخصی او ذاتی رأیه ده چه د دی رائی د منلو پاره زه هیڅوک نه مجبورولی کوم - فانی لست فی نفسی بفوق ان اخطئ الا ان یعصمنی الله - او د دی د درجولو څخه مقصود دادی چه کومو کسانو ته ترغور کولو وروسته د هغه امر حق معلوم سی نو دی ئ ومنی او کومو کسانو ته چه د هغه امر حق معلوم نه سی هغه دی پرخپل فهم عمل وکړی.

(۳) اصل ص۷۰ - مسئله باب۲ :- د خدای پاک څخه ماسیوای په بل چا سره چه قسم کوی نو دا قسم نه دی :- تحقیق :- تا مخکی په دی کتاب کی لیدلی دی چه د قرآن، د کلام الله او د کلام مجید په قسم کولو سره قسم واقع کیږی پس نو د دی وجه داده چه کلام د خدای پاک صفت دی د دی وجهی په دوی سره قسم

التزام د امتناع - پس نو د غه لکه څرنګه چه په نور و قسمونو
د اغه رنګه که زه داسی وکړم نو پر ما دی د خدای قهر و سی زما د
په دخت کښی کلمه نصیب نه سی او داسی نور د څخه هم ثابتیږی
د د وا ر د هیڅ فرق نسته پر دی که سوال وسی چه که څه هم د د ه
د ه مګر د د ه الفاظ امتناع لره مستلزم نه دی د د ی د د ه جوابه د ی
الفاظ که څه هم د خپلو وصفی معناؤ په لحاظ مستلزم امتناع لره
مګر د عرفی معناؤ په لحاظ مستلزم امتناع لره ضروری دی څکه چه د
عرفاً داسی راوښی چه زه عهد کوم چه د غه کار به نه کوم که چه
رنګه وکړم نو زه د د ی سزا مستحق یم او زه ئی پخپله رضا قبلوم د د
استلزام امتناع لره ظاهر دی. بلکه عقلاً د د ی واجب والی امتناع
بالطلاق او عتاق تر واجب والی امتناع لره زیات دی څکه چه لزوم
لزوم عتاق پر تقدیر د وقوع د فعل محلوف علیه د وسدی قدرة
نه دی لکه څونډی چه استحقاق د غضب الهی او په غضب سره
کیدل او د د ه التزام کول ضروری دی. پس نو د غه کلمی په طریق
باید قسم نه سی.

او د وهم د د ی وجهی چه د کومو خبرو پر بناد یمین د التعریف سو
په هغوی کی هم کلام دی په امر اول کی د د ی سببه چه د لزوم د امر معل
علیه لره د د ی سببه ضرورت دی چه د د ه په سبب فعل ممتنع ک
لیکن چه په حلف بالطلاق کښی غور وسی نو معلومیږی چه په د ی
لزوم د طلاق موجب د امتناع نه دی څکه چه که چا حلف بالطلاق
او تر د غه وروسته د ه خپلی ښځی ته د ری طلاقه د خپل طرف
ورکړه یا ښځی په مطاوعت د ابن الزوج حرمت مؤبد ه حاصل کړی
د اسی صورت تو نو کښی د غه تعلیق د د ی فعل د محلوف علیه د کولو څخ
کیدلای نه سی نو اوس وواید چه د غه لزوم څرنګه مفید کیدلای سی او
د ئی د د غه د لزوم په وجه د د ی فعل څخ څرنګه راګرځیدلای سی پس
معلومه سوه چه د د ی امر یعنی لزوم ضرورت نسته او په امر د وهم
د ی وجهی کلام دی چه ابن الهمام ویلی دی - کون الحرمة تحتمل

اولا تحتمله لا اثر له فانه ان کان یرجع الی تحریم المباح فهو یمین مع ان ذالک
المباح یحتمل تحریمه الا ارتفاع وان لم یرجع الیه لایکون یمینًا ولا معنیٰ
زیادة کلام لا دخل له - مطلب دادی چه د یمین حاصل تحریم مباح
دی - پس نو هر حای چه تحریم مباح وی برابره خبره ده که موقت وی
یا مؤبد وی یمین واقع کیږی او هر حای چه تحریم نه وی یمین نه
واقع کیږی پس هروخت چه حرمت د محلوف علیه مؤبد نه دی نو حرمت امر معلق
د مؤبد کیدلو شرط لگولو څه معنیٰ مگر زه وایم چه دا امر معلق مؤبد بالحرمت کیدلو
خو پریږده بلکه پخپله حرمت ئ هم ضروری نه دی حکه چه په حلف بالطلاق والعتاق
کښی امر معلق مباح بلکه په بعضو صورتونو کښی واجب دی پس هروخت چه سره دا باحت
او وجوب د معلق هم یمین کیدای سی نو د حرمت قابل ارتفاع په صورت
کی یمین ولی نه کیږی - پس خلاصه د کلام دا ده چه د یمین معنیٰ ده
تحریم المباح ای التزام الامتناع عن الامر المباح بلفظ یدل علی ذالک
الامتناع عرفًا او فی اصطلاح الحالف - فقط.

پس ضرورت دی چه څرنګ د حال او تعریف مذکور ومخ ته کښینوول
سی د بهشتی زیور پر مسئلو غور وسی او په کومو کښی چه د عرف عرب او د
عرف اهل هند اختلاف دی په هغو کښی د فقهی د جزئیاتو اتباع ونه سی
بلکه پر اصولو د استنباط نظر وکړل سی.

تنبیه :- د ان ماشخصی او ذاتی رائیه ده چه د دی رائی د منلو پاره
زه هیڅوک نه مجبور کو[illegible] نی لست فی نفسی بفوق ان اخطئ الا ان
یعصمنی الله - او د د[illegible] څه مقصود دادی چه کومو کسانو
ته ترغ[illegible] ته معلوم سی نو دی ئ ومنی او کومو
کسا[illegible] دی پرخپل فهم عمل و
ک[illegible]

[illegible] چا
[illegible] کی لیدلو
[illegible] نو د د ی
[illegible] ده قسم

کول گویا په خدای سره قسم کول دی اود خدای څخه ماسیوای په بل چا سره د قسم کولو څخه مطلب دادی چه نه د خدای په ذات سره قسم و کړی او نه د خدای په یو صفت سره قسم وکړی بلکه په یو بل شی سره قسم وکړی لکه په سر یا مسترګو او یا داسی نور وشیانو سره۔ اوس پاته سوه داخبره چه د خدای په ذات یا د ده په یو صفت سره قسم وکړی نو قسم کیږی او که نه کیږی۔ نو د دی جواب دادی چه که د خدای په ذات سره قسم وکړی لکه (چه ووایی) په خدای دی زما قسم وی، په الله دی زما قسم وی نو په دی صورت کی قسم کیږی لکه چه تاپه دی کتاب کی ویلی دی اوکه د خدای په صفت سره قسم وکړی نو د دی حکم دادی چه که چیری ئ په داسی صفت سره قسم کړی دی چه په هغه سره د قسم کولو رواج وی لکه په کلام الله سره قسم کول نو په دی صورت کی هم قسم کیږی لکه چه په بهشتی زیور کښی ذکر سوید ی اوکه ئ چیری په داسی صفت سره قسم کړی وی چه په هغه سره د قسم کولو رواج نه وی نو بیا قسم نه کیږی لکه د خدای په غضب سره قسم کول د خدای په رحمت سره قسم کول۔ او داسی قسم څوک نه کوی نو د دی سببه د غه مسئله په بهشتی زیور کښی په وجه د عدم ضرورت ذکر نه سوه۔

(حبیب احمد کیرانوی)

د بهشتی زیور دریمه حصه سره د پخوانیوا واوسنیو ضمیمو اختتام ته ورسیده ؛

د اصلی بهشتی زیور د څلرمی حصی د مضامینو فهرست

نمبر	مضمون	صفحه
۱	د نکاح بیان	۲
	د هغو خلگو سره چه نکاح حرامه ده د هغو بیان	۴
۲	د ولی بیان	۸
۳	کوم خلگ سره برابر او مثل دی او کوم خلق سره برابر نه دی.	۱۴
۴	د مهر او ولور بیان.	۱۷
۵	د مهر مثل بیان.	۲۴
۶	د کافرانو د نکاح بیان.	۲۴
۷	په بنځو کښی د برابری بیان	۲۵
۸	د شیدو ورکولو بیان	۲۶
۹	د طلاق بیان	۳۰
۱۰	د طلاق ورکولو بیان	۳۱
۱۱	د دادۀ کید و څخه مخکښی د طلاق بیان.	۳۵
۱۲	د درو(۳) و طلاقو نو ورکولو بیان.	۳۷
۱۳	په یو شرط سره د طلاق ورکولو بیان.	۳۹
۱۴	د مریض د طلاق ورکولو بیان.	۴۲
۱۵	په طلاق رجعی کښی د رجوع بیان. (یعنی بیرته بنځه د ځان بلل)	۴۴
۱۶	بنځی لره د نه ورتلو د قسم خوړلو بیان	۴۷
۱۷	د خلعی بیان.	۴۹
۱۸	د هغه شی بیان چه خپله بنځه د خپلی مور سره برابره کړی.	۵۲
۱۹	د ظهار د کفارې بیان.	۵۵
۲۰	د لعان بیان.	۵۶
۲۱	د خاوند د نادرکه کید و بیان.	۵۷
۲۲	د عدی بیان.	۵۸
۲۳	د مرگ د عدی بیان	۶۰
۲۴	د هغم کولو بیان	۶۳
۲۵	د ډوډۍ - جامی - بیان.	۶۵
۲۶	د اوسیدو د پاره د کور ورکولو بیان	۶۷
۲۷	د هلک د حلالی کید و بیان.	۶۹
۲۸	د اولاد د پالنی بیان	۷۲
۲۹	د میړه د حقوقو بیان	۷۴
۳۰	د خاوند سره د بنه ژوند کولو طریقه	۷۶
۳۱	د اولاد د روزنی طریقه	۸۲
۳۲	د خورک کولو طریقه	۸۷
۳۳	په مجلس کښی د ناستی والاړی طریقه	۸۷
۳۴	د حقوقو بیان	۸۷
۳۵	ضروری خبره	۹۱
۳۴	تجوید یعنی د قرآن مجید په صحیح طریقه سره د ویلو بیان	۹۲
۳۷	د استاذ د پاره ضروری هدایت او لارښونه.	۵۹
	د څلرمی حصی د اولی ضمیمی د مضامینو فهرست	۱۰۰
۳۸	د نکاح د فضیلت او د نکاح د حقوقو بیان	۱۰۰
۳۹	د طلاق د بد والی بیان	۱۰۶
۴۰	د قرآن مجید د تلاوت کولو د فضیلت بیان.	۱۰۸
۴۱	مسئلی.	۱۱۵
۴۲	د بهشتی زیور د (۴) حصی دوهمه ضمیمه	۱۱۶

دبهشتی زیور څلرمه حصه

بسم الله الرحمن الرحیم

اول	دنکاح بیان	باب

(۱) مسئله:- نکاح هم د پروردګار عالم لوی نعمت دی د دنیا او دین دواړه کاروته په برابریږی او په دغه کښی ډیری فایدی دی او بی پایه مصلحتونه دی. انسان دګناه څخه په ساتل کیږی زړه په ارامیږی نیت ئی د خرابیدو څخه په ساتل کیږی او لویه خبره داده چه دغه فائده پرفائده ده. او ثواب پر ثواب دی. ځکه چه دښځی او خاوند یو ځای کښینستل د مینی او محبت خبری کول د دوی زړه سره لګیدل تر نفلی عبادت ښه دی.

(مجمع الانهر ص۳۱۵ اول ټوک)

(۲) مسئله:- نکاح فقط په دوو (۲) لفظونو سره تړل کیږی - مثلاً یو څوک د شاهدانو په مخ کی ووایی چه ما دخپلی لور نکاح ستا سره کړیده هغه ووایی چه ما قبوله کړیده نو بس نکاح و تړل سوه او دواړه خاوند او ښځه سره جوړ سوه - (طحطاوی ص۶ دوهم ټوک و هدایة ص۲۸۶ ج۲)

لیکن که دده ډیری لوڼی وی نو په دغو خبرو سره یوازی نکاح نشی کیدای بلکه نوم دی یاد کړی دا رنګه دی ووایی چه ما دخپلی لور (قدسیه) نکاح ستا سره کړیده - هغه ووایی چه ما قبوله کړیده -

(ردالمحتار ص۴۳۷ و ص۴۴۶ دوهم ټوک)

(۳) مسئله:- یو چابل چاته وویل چه ستاد فلانی لور نکاح زما سره وکړه. هغه وویل چه ما دخپلی لور نکاح ستا سره کړیده نو نکاح و سوه - برابره خبره ده که هغه ووایی چه ما قبوله کړیده او که نه ووایی نکاح و تړل سوه - (فتاوی هندیه ص۲۷۹ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:- که پخپله ښځه هلته موجوده وی دئی هسی اشاره وکړی ووایی چه ما دی نکاح ستا سره کړیده هغه ووایی چه ما قبوله کړیده

نو نکاح وسوه د نامه اختسلو ضرورت نسته اوکه هغه پخپله موجوده نه
وی نو دد ی نوم دی هم واخلی په دوندی لوړ آواز سره چه شاهدان ئی
واوری او د پلار نوم دی هم درسره واخلی چه شاهدان ئی واوری اوکه ئی
پلار خلگو نه پیژندی او د پلار د نامه اختسلو څخه نه معلومیده چه
دچا نکاح ترل کیږی نو دنیکه نوم اختسل ئی هم ضروری دی غرض دادی
چه داسی پته او ادرس ئی باید ذکر سی چه اوریدونکی پوه سی چه دفلانی
نکاح ترل کیږی. (رد المحتار ص۲۷۲ دوهم توک هندی)

(۵) مسئله:- د نکاح ترلو د پاره دا هم شرط دی چه لږ تر لږه دوو خلقو په
مخ کښی یا دیوه سړی د(۲) ؤ و ښځو په مخ کښی وترل سی او دغه خلگ په خپلو غوږو
سره نکاح ترل او هغه دوه لفظه د نکاح واوری نو نکاح کیږی اوکه په تنهائی
کښی یو وائی ماد خپلی لور نکاح ستا سره وکړه او دغه بل وائی ما قبوله کړی
د نو نکاح نه کیږی داغه رنگه که دیوه سړی په مخ کښی نکاح وترل
سی هم نکاح نه ترل کیږی. (شرح التنویر ص۱۸۶ اول توک و شرح البدایة ص۲۸۶ دوهم)

(۶) مسئله:- که سړی نه وی توله ښځی وی نو هم نکاح صحیح نه دی که څه هم
لس(۱۰) دولس(۱۲) ښځی وی نو هم نکاح صحیح نه دی د(۲) دوو ښځو سره باید یو سړی خامخا
وی. (شرح التنویر ص۹۱ دوهم توک و عالمگیری ص۱ دوهم توک)

(۷) مسئله:- که دوه خلگ وی لیکن مسلمانان نه وی نکاح نه ترل کیږی او
داغه رنگه که مسلمانان وی لیکن دواړه یا یو(۱) د دوی د(۲) دوو څخه بالغ اوځوان
نه وی نو هم نکاح نه صحیح کیږی. داغه رنگه که د یوه سړی او د(۲) دوو ښځو
په مخ کښی نکاح وسوه لیکن هغه ښځی تر اوسه بلوغ ته رسیدلی نه دی.
یعنی پیغلی نه دی یا د دوی څخه یوه پیغله نه ده نو هم نکاح نه ده.
صحیح. (رد المحتار ص۲۷۲ دوهم توک و شرح البدایة ص۲۸۶ دوهم توک)

(۸) مسئله:- بنه خو داده چه په یو غټه جمعواری کښی نکاح وترل
سی مثلاً د جمعی ترلمانځه وروسته په جامع او غټ مسجد کښی یا بل داسی
ځای چه د نکاح بنه شهرت وسی او نکاح پټه و نه سی او نکاح دی په چپ
خپ سره نه کوی لیکن که یو داسی ضرورت وو چه دیر خلگ هلته تلای نه سوه
نو خیر دی لیکن کم از کم به دوه نارینه یا یو نر دوی ښځی وی چه په خپلو

غوښ د سړه نکاح ـ وادړی ـ (شرح التنویر صـ۱۸۵ اول ټوک)

(۹) مسئله:ـ که سړی هم خوان وی او ښځه هم پیغله وی نو دغه دواړه خپله نکاح خپله سړه کولای سی د دوو (۲) شاهدانو په مخ کښی یو دی ووایی چه ما خپله نکاح ستا سړه کړیده ه بل دی ووایی چه ما قبوله کړیده ـ بس نکاح وسوه ـ (در مختار، رد المحتار وعالمگیری)

(۱۰) مسئله:ـ که چا خپله نکاح پخپله ونه کړه بلکه بل چاته ئی وویل چه ته زما نکاح دیو چا سړه راوکړه یا ئی داسی وویل چه زما نکاح د فلانی سړه راوکړه او د دوو (۲) شاهدانو په مخ کښی ئی نکاح ورکړه نو هم نکاح صحیح ده ـ اوس که هغه انکار وکړی انکار ئی معتبر نه دی نه قبلیږی ـ (عالمگیری صـ۱۸ دوهم ټوک وعالمگیری صـ۳۱۳ خلورم ټوک)

(۲) باب دکومو کسانو سړه چه نکاح کول حرامه وی د هغو بیان

(۱) مسئله:ـ د خپل اولاد سړه نکاح روانه ده د لمسی کړوسی سړه روا نه ده که د نړوی د خواوی یا د لور د خواوی او د پلار نیکه، ور نیکه ـ که د پلار د خواوی که د مور د خواوی نکاح ور سړه روانه ده ـ شرح التنویر صـ۱۸۷ اول جلد وهدایة صـ۲۸۷ دوهم جلد)

(۲) مسئله:ـ د خپل وړه مامه، اکا، وراره او خوریی سړه نکاح کول حرامه ده په شرع کښی وړوړهغه دی چه دیوه مور او پلار څخه وی یا د دواړو پلار یو وی مندی ئی دوو (۲) وی یا د دواړو مور یوه وی پلرونه ئی دوه وی د دغه ټول سړه وړونه دی د چا چه پلار او مور دواړه سړه جلا وی هغه سړه وړونه نه دی. د هغو سړه نکاح روا ده ـ (هدایة صـ۲۸۷ دوهم ټوک وعالمگیری صـ۲ جلد)

(۳) مسئله:ـ د زوم سړه هم نکاح کول حرامه ده ـ برابره خبره ده که ئی لور ورواده وی خاوند او ښځه یو ځای سړه اوسیږی نړدیکت ئی سړه کړی وی یا تر اوسه واده سوی نه وی نړدیکت ئی نه وی سړه کړی په دواړو حالو کښی د زوم سړه نکاح کول حرامه ده ـ (شرح التنویر صـ۱۸۷ اول ټوک و هدایة صـ۲۸۷ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:ـ دیو چا پلار مړ سوی وو مور ئی بل ملاړه وکړی لیکن مور ئی تر اوسه د دده سړه

نژدیکت نه وُکړی چه مړه سوه یاده طلاق ورکړی نو د دغه پلندر سره نکاح کول صحیح ده لیکن که ئ مور نژدیکت ورسره کړی وُ بیا د دغه پلندر سره نکاح کول حرامه ده - (شرح البدایة ص۲۸۵ دوهم ټوک در مختار وشامی ص۴۵۵)

(۵) مسئله:- د نا سکه اولاد (بنز یانو) سره نکاح کول حرامه ده یعنی د یوه سړی ډیری بنځی وی نو د نا سکه اولاد (بنز یانو) سره نکاح کول هیڅ قسم روا نه ده برابره خبره ده که د خپل خاوند سره اوسیدلی وی که نه وی هرقسم نکاح کول ورسره حرامه ده - (در مختار ص۴۵۶ دوهم ټوک)

(۶) مسئله:- د خسر، د خسر د پلار - نیکه د ټولو سره نکاح کول حرامه ده - (در مختار ص۴۵۶ دوهم ټوک)

(۷) مسئله:- ترڅو پورې چه دیوی بنځی خور دیو بل چا په نکاح کښی وی نو د دغی بنځی د دغه سړی (چه د دی اخښی او د خپلی خور میړه ئ دی) سره نکاح کول روا نه ده - البته که د دغی بنځی خور مړه سوه نو بیا ئ د خور د خاوند سره نکاح روا ده او د عِدّی تر پورې ده کید و مخکی نکاح حرامه ده (شرح البدایة ص۲۸۵ دوهم ټوک و شرح التنویر ص۱۸۸ اول ټوک)

(۸) مسئله:- که دوُ (۲) خوندو دیوه سړی سره نکاح وکړه نو د هری یوی نکاح چه مخکی سویده هغه صحیح ده او هری یوی نکاح چه ورو سته سویده هغه صحیح نه ده - (شرح التنویر ص۱۸۹ اول ټوک و رد المحتار ص۲۸۶ دوهم جلد و عالمگیری ص۱۸۵ دوهم ټوک)

(۹) مسئله:- چه د سړی نکاح د یو بنځی سره وی نو ترڅو چه د غه بنځه د ده په نکاح کښی وی نو د دغی بنځی د عمّه - خاله - خورزی - وریری سره د دغه سړی نکاح نه سی کیدای حرامه ده - (شرح البدایة ص۲۸۵ ج۲)

(۱۰) مسئله:- د هغو بنځو په مابین کښی چه د اسی قرابت وی چه یوه د دوی دوُ (۲) و څخه نر فرض کړل سی نو د دوی په مابین کښی نکاح نه سی کیدای - داعتسی دوی بنځی یو ځای دیوه سړی په نکاح کښی نه سی راتلای منعه او حرامی دی - چه یوه مړه سی یا طلاق ورکول سی عِدّه ئ هم تیره سی بیا نو دغه بله بنځه د دغه سړی سره نکاح کولای سی روا ده - (شرح

ځکه کړدواړو سره یکځای نکاح سوی وی نو بیا د دواړو نکاح صحیح نه ده ۱۲

الهدایة ص۲۸۹ دوهم ټوک)

(۱۱) مسئله:- یوه ښځه د ۵ بله ئې - بنزې - د ۵ - یعنی ناسکه لور ئې د ۵ دغه دواړې که یوځای دیوه سړی سره نکاح وکړی صحیح اوروا د ۵ - (شرح البدایة ص۲۸۹ دوهم ټوک)

(۱۲) مسئله:- یوی بنځې یو هلک رالوی کړی وو په زوی زوی ئې ورته ویلی په دغه سړه نه زوی کیږی بلکه د دغې بنځې نکاح ورسره روا د ۵ - دغه ته په عربی کښی منتبنۍ وایی نکاح کول ورسره صحیح د ۵ - (عالمگیری ص۵ ج ۲)

(۱۳) مسئله:- سکه ماما ئې نه دی بلکه په یو قرابت سړه ئې ناسکه ماما کیږی نو نکاح ورسره کول روا د ۵ - داغه رنګه که په یو لیږی قرابت سړه ئې اکا، ورا د ۵ یا د خور روی کیږی نو دوی سړه ئې هم نکاح کول روا د ۵ - داغه رنګه که ئې خپل ورور نه وی بلکه د اکا زوی، د ماما زوی، د عمه زوی د خاله زوی ته په ورور وایی دوی سړه هم نکاح کول صحیح د ۵ - (رد المحتار ص۲۷۶ دوهم ټوک و در مختار ص۱۹۷ اول ټوک)

(۱۴) مسئله:- داغه رنګه که دوی سکه خوندی نه وی ناسکه خوندی وی - مثلاً د ماما لونې وی سړه یا سړه د اکا لونې وی یا سړه د عمه لونې وی یا سړه د خاله لونې وی نو دا هم یو قسم ناسکه خوندی بلل کیږی نو دواړې یوځای دیوه سړی سره په نکاح کیدای سی داغسی خو چه دیوه سړی په نکاح کښی وی نو دی بله داغسی ناسکه خور هم د دغه سړی په نکاح کښی راتلای سی او داغه رنګه ناسکه عمه ناسکه خاله د خپلی ناسکه وریږی او ناسکه خور زی سړه دیوه سړی په نکاح کښی راتلای سی اوروا د ی - (رد المحتار ص۲۷۹ دوهم ټوک) و هدایة ص۲۸۸ دوهم جلد)

(۱۵) مسئله:- هرڅوندی قرابتونه چه دنسب په اعتبار نکاح حرامی هغه قرابتونه دتی رودلو په اعتبار هم نکاح حرامی یعنی د رضاعی مور د خاوند سره نکاح حرامه د ۵ ځکه چه هغه د دی پلار سوا د رضاعی ورور سره هم نکاح حرامه د ۵ هرچاته چه دی شیدی ورکړی دی د هغه سړه او د هغه د اولاد سره ئې نکاح کول حرامه د ۵ - ځکه خو یا ئې زوی دی یا ئې لمسیان

له د مور سګی وروړه او مور د پلار د خواورور او د مور په مورنی وروړه د غه د ې ګاسره سکه ماما ګان دی ۱۲

دی په اعتبار د رضاع سړه - رضاعی ماما، رضاعی خور یې - رضاعی اکا، رضاعی وراره - د
ټولو سړه نکاح کول حرامه دی - (رد المحتار ص۲۷۹ دوهم ټوک وهدایة ص۲۸۸ دوهم ټوک)
(۱۶) مسئله:- چه د وی رضاعی خوندی وی نو د دوی د واړو نکاح د یوه سړی
سړه په یوه وخت کښی نه سی کیدای یعنی په یوه وخت کښی نه سی و رسره پاته
کید لای - یعنی غرض دا چه هر حکم چه لوړ بیان سو د رضاع هم هغه حکم دی
(رد المحتار ص۲۸۳ دوهم ټوک)
(۱۷) مسئله:- یوه سړی دیوی بښځی سړه زناوکړه نو د دغی بښځی د مور او
اولاد سړه د داغه سړی نکاح حرامه ده - (شرح البدایة ص۲۸۹ دوهم ټوک و
شرح التنویر ص۱۸۸ اول ټوک وعالمگیری ص۲۹۱ دوهم ټوک)
(۱۸) مسئله:- یوی بښځی په شهوت سړه صرف لاس ویوسړی ته ور وړی نو
د دغی بښځی د مور او اولاد سړه د د اغه سړی نکاح حرامه ده د اغه رنګه که
سړی په شهوت سړه بښځی ته لاس ور وړی نو هم د غه سړی د دغی بښځی
د مور او اولاد سړه نکاح نه سی کولای. (فتاوی هندیه ص۲۹۱ اول جلد)
(۱۹) مسئله:- په شپه کښی ئې خپله بښځه د یښوله مګر په غلطیا سړه ئې پرلور
باندی یا خوابنی باندی ئې لاس ولګیدی او خپله بښځه ئې و بلله نو په شهوت
سړه ئې لاس ور وړی نو د هیشه د پاره د د وی د ۲ نکاح سړه ماته سوه هیڅ
صورت ئې بیا د جوازا د ر وا والی نسته لازمه ده چه د وی د دغی بښځی ته طلاق
ور کړی - عالمگیری ص۲۹۲ اول ټوک) ومبسوط ص۸۸ شپږم ټوک)
(۲۰) مسئله:- که چا په بد نیت سړه لاس ور وړی خپلی میړی ته نو اوس د
دغه هلک میړه د د غه هلک پر پلار باندی د هیشه د پاره حرامه سوه
د ر وا کید و هیڅ صورت نه لری - او همدا رنګه که میړی د غه بنځی ته په
شهوت سړه لاس ور وړی هم ئې د اغه حکم دی - عالمگیری ص۲۹۲ اول ټوک) و
مبسوط ص۸۸ شپږم ټوک) (نوټ) په مسئله ۱۹ او مسئله ۲۰ کښی د حرمت د پاره بعضی نور
شرطونه هم سته چه پوره وضاحت ئې په دی ځای کښی کیدای نسی د دی سبه که وچاته یو
داسی واقعه وسځ ته راسی نو دی ویو محقق عالم ته خپله پوره واقعه بیان کړی د خپلی واقعی
شرعی حکم دی وخان ته معلوم کړی (شبیر علی)

(۲۱) مسئله:- د مسلمانی بنځی نکاح د مسلمان څخه ماسیوای د بل مذهب والا سړی سره روا نه ده - عالمگیری ص۱ د ریم توک)

(۲۲) مسئله:- دیو بنځی میړه د خپلی بنځی نه طلاق ورکړی یا مړ سو نو خو چه عده د طلاق او د مرګ پوره سوی نه وی نو د بل چا سره ئی نکاح کول حرامه ده (عالمگیری مصری ص۲۹۸ اول جلد)

(۲۳) مسئله:- چه ریو بنځی نکاح دیو سړی سره وسی نو د بل چا سره بیا بله نکاح نه سی کولای تر څو چه هغه سړی طلاق ورکړی نه وی او عده د طلاق پوره سوی نه وی - (عالمگیری مصری ص۲۹۸ اول توک)

(۲۴) مسئله:- د هغی بنځی چه میړه نه وی او په زنا سره حمله دار ه سوی وی د دی نکاح هم روا ده لیکن د کوچنی تر پیدا کیدو مخکی به نژدیکت نه ور سره کوی - بلکه د کوچنی تر پیدا کیدو ورڅخه به ئی ورسره کوی - لیکن هر هغه چا چه زنا ورسره کړی وی د هغه نژدیکت مخکی د کوچنی تر پیدا کیدو ورسره روا دی چه د هغه زانی داغه بنځه په نکاح کړی - (عالمگیری ص۲۹۷ جلد ۲)

(۲۵) مسئله د چا په نکاح کښی چه څلور بنځی وی نو د پنځمی بنځی سره ئی نکاح کول حرامه ده او په دغه څلورو کښی که ئی یوی ته طلاق ورکړی تر څو چه عده د طلاق پوره سوی نه وی هم بله بنځه نسی په نکاح کولای (شرح البدایة ص۲۹۲ د وهم توک ورد المحتار ص۲۸۴ د وهم توک)

(۲۶) مسئله:- د سُنّی انجیلی نکاح د شیعه سړی سره د پیرو علماؤ په فتوی سره حرامه ده - (رد المحتار ص۲۸۹ د وهم توک و عالمگیری ص۲۹ د وهم توک)

(۳) دولی بیان — باب

هر څوک چه د هلک او اینجلی د نکاح اختیار لری وهغه ته ولی ویل کیږی. (در و شامی ص۴۸۵)

(۱) مسئله:- د انجیلی او هلک ولی تر تولو مخکی د دوی پلار دی او که پلار

نه وی د پلار پلار دی بیا د نیکه پلار دی او که د غه هیڅوک نه وی - بیا سکنی وروره دی که د غه وروره نه وی بیا د پلار د خوا وروره دی بیا وراره دی بیا د وراره زوی دی بیا د وراره لمسی دی که د غه خلګ نه وی بیا سکه اکادی وردسته نا سکه اکادی یعنی د پلار نا سکه وروره دی د پلار د خوا بیا د سکه اکا زوی دی بیا ئ لمسی دی بیا د نا سکه اکا یعنی چه د پلار د میری زدی وی د هغه زوی دی بیا ئ لمسی دی که چیری دوی نه وه نو د نیکه اکادی بیا د هغه زوی دی بیا ئ لمسی دی تر پایه پورې که چیری دوی نه وي نو مور ئ ولی ده بیا ئ د پلار مور ولی ده یعنی انا - بیا ئ د مور مور ولی ده بیا د مور پلار ولی دی بیا ئ سکنی خور ولی ده وردسته د پلار د خوا خور ده بیا هغه ورونه او خوندی چه د مور د خوا شریکان دی - بیا عمه ده بیا ماما دی بیا خاله ده او داسی نور دی. (شرح التنویر ص۱۹۳ دوهم ټوک)

(۲) مسئله :- نابالغ څوک د هیچا ولی کیدای نه سی کافر د هیڅ مسلمان ولی کیدای نه سی اولیونی او معتوه چه پیر معتوه وی هم د هیچا ولی کیدای نه سی (شرح البدایة ص۲۹۸ دوهم ټوک)

(۳) مسئله :- پیغله بنځه اختیار داره ده که نکاح کوی که ئ نه کوی او د هر چا سره چه د دی زړه وغواړی نکاح کولای سی هیڅوک د اسلام په قانون کښی پر دی زور او جبر نه سی کولای که د اخیله دیو چا سره نکاح وکړی هم صحیح ده برابره خبره ده که ولی خبر دی او که نه وی خبر - ولی په خوشحاله وی که نه وی هر قسم نکاح کول ئ صحیح ده - (شرح البدایة ص۲۹۴ دوهم ټوک) لیکن که ئ ترڅان ډیو کم اصله او کم ذاته چا سره نکاح وکړه چه سبب د عار او شرم ګرزی او ولی په خوشحاله نه وی نو فتوی پر دغه ده چه نکاح ئ صحیح نه ده - (شرح البدایة ص۲۹۳ دوهم ټوک وفتاوی هندیه ص۳۰۰ دوهم جلد وشامی ص۵۳۱ ج۲) او که ئ د خپل هم مثله او مناسب سره نکاح وکړه لیکن کوم مهر او ولور چه د دی د مثل خاندان سره مناسب او لایق وُ چه د غه ته په شریعت کښی مهر مثل وایي نو تر د غه ئ مهر او ولور د نکاح په کم وُ نو په دغه صورتو کښی نکاح خو وسوه لیکن د دی ولی نکاح د دی چه مسلمان قاضی او حاکم ته

(۲۱) مسئله:- د مسلمانې بنځې نکاح د مسلمان څخه ماسیوی د بل مذهب والا سړی سره روا نه ده - عالمګیری ص۱ دریم ټوک)

(۲۲) مسئله:- دیو بنځې میړه د خپلې بنځې نه طلاق ورکړی یا مړ سو نو ترڅو چه عده د طلاق او د مرګ پوره سوی نه وی نو د بل چا سره ئې نکاح کول حرامه ده (عالمګیری مصری ص۲۹۸ اول جلد)

(۲۳) مسئله:- چه ریو بنځې نکاح دیو سړی سره وسی نو د بل چا سره بیا بله نکاح نه سی کولای تر څو چه هغه سړی طلاق ورکړی نه وی او عده د طلاق پوره سوی نه وی - (عالمګیری مصری ص۲۹۸ اول ټوک)

(۲۴) مسئله:- د هغې بنځې چه میړه نه وی او په زنا سره حمله دار ه سوی وی د دی نکاح هم روا ده لیکن د کوچنی تر پیدا کیدو مخکی به نژدیکت نه ورسره کوی - بلکه د کوچنی تر پیدا کیدو ورڅخه به ئې ورسره کوی - لیکن هر هغه چا چه زنا ورسره کړی وی د هغه نژدیکت مخکی د کوچنی تر پیدا کیدو ورسره روا دی چه د غه زانی دا غه بنځه په نکاح کړی - (عالمګیری ص۲۹۷ جلد ۲)

(۲۵) مسئله د چا په نکاح کښې چه څلور بنځې وی نو د پنځمې بنځې سره ئې نکاح کول حرامه ده او په د غه څلورو کښې که ئې یوی ته طلاق ورکړی تر څو چه عده د طلاق پوره سوی نه وی هم په بنځه نسی په نکاح کولای (شرح البدایة ص۲۹۲ دوهم ټوک ورد المحتار ص۲۸۴ دوهم ټوک)

(۲۶) مسئله:- د سُنّي انجیلی نکاح د شیعه سړی سره د پیرو علماؤ په فتوی سره حرامه ده - (رد المحتار ص۲۸۹ دوهم ټوک وعالمګیری ص۲۹۰ دوهم ټوک)

(۳) دولی بیان

باب

هر څوک چه د هلک اوانجیلی د نکاح اختیار لری وهغه ته ولی ویل کیږی (در و شامی ص۴۸۵)

(۱) مسئله:- د انجیلی او هلک ولی تر پتو نو مخکی د دوی پلار دی او که پلار

نه وی د پلار پلار دی بیا د نیکه پلار دی او که دغه هیڅوک نه وی - بیا
سکنی وروره دی که دغه وروره نه وی بیا د پلار د خوا وروره دی بیا وراره دی
بیا د وراره زوی دی بیا د وراره لمسی دی که دغه خلګ نه وی بیا سکه
اکا دی د روسته ناسکه اکا دی یعنی د پلار ناسکه وروره دی د پلار
د خوا بیا د سکه اکا زوی دی بیا ئ لمسی دی بیا د ناسکه اکا یعنی چه د
پلار د هیری زوی وی د هغه زوی دی بیا ئ لمسی دی که چیری دوی نه وه
نو د نیکه اکا دی بیا د هغه زوی دی بیا ئ لمسی دی تر پایه پوری که چیری
دوی نه وی نو مور ئ ولی ده بیا ئ د پلار مور ولی ده یعنی انا - بیا ئ د مور
مور ولی ده بیا د مور پلار ولی دی بیا ئ سکنی خور ولی ده د روسته د
پلار د خوا خور ده بیا هغه ورونه او خوندی چه د مور د خوا شریکان
دی - بیا د مور ده بیا ما مادی بیا خاله ده او داسی نور دی. (شرح التنویر
ص۱۹۳ دوهم ټوک)

(۲) مسئله :- نابالغ څوک د هیچا ولی کیدای نه سی کافر د هیڅ مسلمان ولی
کیدای نه سی او لیونی او معتوه چه پیر معتوه وی هم د هیچا ولی کیدای نه سی
(شرح البدایة ص۲۹۸ دوهم ټوک)

(۳) مسئله :- پیغله بنځه اختیار داره ده که نکاح کوی که ئ نه کوی او د هر چا
سره چه د دی زړه وغواړی نکاح کولای سی هیڅوک د اسلام په قانون کښی پر
دی زور او جبر نه سی کولای که د اخپله د یو چا سره نکاح وکړی هم صحیح ده
برابره خبره ده که ولی خبر وی او که نه وی خبر - ولی په خوشحاله وی که نه
وی هر دستم نکاح کول ئ صحیح ده - (شرح البدایة ص۲۹۴ دوهم ټوک) لیکن که ئ
تر خان ډیو کم اصله او کم ذاته چا سره نکاح وکړه چه سبب د عار او شرم ګرځی
او ولی په خوشحاله نه وی نو فتوی پر دغه ده چه نکاح ئ صحیح نه ده -
(شرح البدایة ص۲۹۳ دوهم ټوک و فتاوی هندیه ص۳۰۰ دوهم جلد و شامی ص۵۳۱ ج۲)
او که ئ د خپل هم مثله او مناسب سره نکاح وکړه لیکن کوم مهر او ولور چه د
دی د مثل خاندان سره مناسب اولایق وُ چه دغه ته په شریعت کښی
مهر مثل وایی نو نر دغه ئ مهر او ولور د نکاح پیر کم وُ نو په دغه صورت
کښی نکاح خو د سو ده لیکن د دی ولی نکاح د دی چه مسلمان قاضی او حاکم ته

نزیاد وکړی ورته ماتولای شی - لیکن د دغه نزیاد حق هغه ولی لری چه د هغه ذکر
تر مور مخکی سوید ی یعنی د پلار څخه و نیسه بیا د نیکه د اکا د نامنو اولمسیانو
پوری - (در مختار ص۱۹۵ اول ټوک و هدایة ص۳۰۱ دوهم ټوک)

④ مسئله:- یو ولی د پیغلی بنځی نکاح وکړه بیله دی چه د دی څخه پوښتنه
وکړی یا اجازت واخلی نو دغه نکاح د دی پر اجازه موقوفه ده که دی اجازه
ورکړه نو نکاح صحیح سوه اوکه دی اجازه ونه کړه په داغه نکاح راضی نه وه
نو نکاح دیره صحیح نه ده - او د اجازت طریقه به مخ ته راسی - (فتاوی
هندیه ص۲۹۵ دوهم ټوک و شرح البدایة ص۲۹۴ دوهم ټوک)

⑤ مسئله:- څوانه بنځه چه تر اوسه ئی بل میړه نه دی کړی - ولی ورته
وویل چه ماستا نکاح د فلانی سړه کړیده یا ئی د دی ورونسته ورسره
کوم داچپ او پته خوله سوه یا ئی وژړل یا ئی وخندل بس دغه اجازه ده نو هغه
ولی چه د دی نکاح ئی کړیده صحیح کیږی یا ئی تر دی ورونسته وکړی هم صحیح
کیږی - داخبره نه ده چه داپه ژبه سړه ووایی نو اجازه ده او خلق ئی دغه
اجازه بولی داسی نه ده نو هر څوک چه په زور سړه د دی په قول سړه
نکاح په قبلوی بد کوی - (شرح التنویر ص۱۹۱ اول ټوک و شرح البدایة ص۲۹۲ دوهم ټوک)

⑥ مسئله:- ولی د اجازت اخستلو په وخت کښی د میړه نوم نه واخستی او نه
دی ته مخکی ورمعلوم ورو نوکه داسی وخت چپه او پته خوله سی رضا ئی نه ثابتیږی
اجازت نه بلل کیږی بلکه نوم او نښانه ویل ضرور دی چه بنځه د وند ی
پوه سی او خبره سی چه فلانی سړی دی داغه رنګه کړیده - نو مهر ذکر نه
وکړی او تر مهر مثل ئی پرډیر کم مقدار نکاح کړیوه - نو بیله اجازی د بنځی
نکاح نه کیږی د دی سبب باید چه د قاعدی سړه برابر بیرته اجازه -
څنډی واخستل سی - (فتاوی هندیه ص۲۹۶ دوهم ټوک و شرح البدایة ص۲۹۵ ح۲)

⑦ مسئله:- که بنځه داسی وه چه مخکی ئی میړه کړی وو (خو بیا ئی میړه مړ او
یا طلاقته سوی وه) په بل دار نکاح کښی ولی اجازه څنډی واخسته د اپته خوله
وه هیڅ ئی نه ویل نو پته خوله ئی اجازه نه ده بلکه په خوله سړه به وایی
که دی هیڅ و نه ویل پته خوله وه ولی ئی نکاح وترله نو نکاح ئی موقوفه
ده د ورونسته که د اپه خوله - ژبه سړه اجازه ورکړی نکاح صحیح ده اوکه

ئی د ورنه کړی بیا نه ده صحیح - (فتاوی هندیة ص۲۹۸ دوهم توک وشرح البدایة ص۲۹۵ دوهم توک)

(۸) مسئله:- پلار ئی وُ نو اکا یا ورور یا بل ولی د هغی بنځی څخه چه بل میړه ئی نه وی کړی اجازه وغوښته نو که ذی هیڅ نه ویل پته خوله وه. دا اجازت نه دی که چیری په ژبه سره اجازه ورکړی بیا نو اجازه ده. هو - که پلار دغه ولی د اجازی د پاره راولیږلی وُ نو که دا پته خونه پاته سوه هم اجازت دی خلاصه ئی داده چه هر ولی چه تر نورو مخکی وی او په شریعت کښی د هغه د پوښتنی حق وی نو که چه دی یاد هغه وراستول سوی سړی اجازه اخلی نو که دا پته خوله وی هم اجازه ده او که حق وُ د نیکه پوښتنه وکړه ورور او یا حق وُ د ورور پوښتنه وکړه اکا - نو په داسی وخت کښی په چپه خوله سره اجازت نه ثابتیږی - (شرح البدایة ص۲۹۴ دوهم توک وشرح التنویر ص۱۹۲ دوهم توک)

(۹) مسئله:- ولی بی پوښتنی او بی اجازی اخستلو نکاح وکړه بیا تر نکاح وروسته خپله ولی یا د ده راولیږل سوی سړی راغلی خبر ئی ورکړی چه ستا نکاح د فلانی سړی سره وسوه نو په دغه صورت کښی که دا پته خوله سی هم اجازه ده او نکاح صحیح کیږی او که یو بل چا خبر ورکړی نو که هغه خبرورکونکی یو نیک او معتبر سړی وی یا دوه خلگ وی بیا هم که دا پته خوله وی نو نکاح ئی صحیح کیږی - که خبر ورکوونکی یو سړی وی چه غیر معتبر وی نو که دا پته خوله سوه نکاح نه صحیح کیږی - بلکه موقوفه ده هر وخت چه په ژبه سره اجازه وکړی یا یو بله داسی خبره یا کار وکړی چه اجازه ځنډی معلومیږی نو بیا ئی نکاح صحیح کیږی - (شرح البدایة ص۲۹۸ دوهم توک)

(۱۰) مسئله:- په هغه صورت کښی چه په ژبه سره دینا ضروری وی او په ژبه سره بنځی اجازه نه وی کړی - لیکن چه میړه ورته وی ته راسی او د نژدیکت څخه انکار ونه کړی نو هم نکاح صحیح سوه - (عالمگیری ص۳۰۶ اول توک)

(۱۱) مسئله:- دا غه حکم د هلک دی که ځوان او بالغ وی نو پرده باندی زور نه سی کیدای که ئی بیله د ده د پوښتنی نکاح ورو کړه نو پر اجازه موقوفه ده که هلک اجازه ورکړی نو نکاح صحیح کیږی او که اجازه نه وکړی

نو نکاح ئی نه صحیح کیږی لیکن دوندی فرق ئی دی چه هلک که پته خوله وی نو اجازت نه دی په ژبه سره به وایی چه زما دغه نکاح قبوله ده۔ (درمختار و ردالمحتار ص۴۸۹ و ص۴۹۰ دوهم ټوک)

(۱۲) مسئله:۔ که اینجیلی یا هلک بالغان نه وی بلکه کوچنی وی نو دوی خپله اختیار نه لری بیله ولی ددوی نکاح کول پرخپل سر نه صحیح کیږی. که ددوی بیله ولی نکاح وکړه یا بل چا ددوی نکاح وکړه نو ددې ولی پرا جازه موقوفه ده که ولی اجازه ورکړه نو صحیح ده او که ئی اجازه ورنه کړه نکاح صحیح نه ده او ولی ته ددوی د نکاح کولو یا نه کولو پوره اختیار دی دهر چا سره چه ئی کوی ودی کړی نابالغ هلک او اینجیلی دغه وخت نکاح نه سی رد کولای یعنی نکاح نه سی ماتولای برابره خبره ده که دغی نابالغی اینجیلی مخکی میړه نیه وی کړی یا ئی کړی وی ورزاده سوی هم وی د دواړو یو حکم دی۔ (عالمگیری مصری ص۳۰۳ و ص۳۰۴ اول ټوک)

(۱۳) مسئله:۔ د نابالغی اینجیلی یا هلک نکاح که پلار یا نیکه کړی وی نو که بالغان اولویان سی هم دغه نکاح نه سی رد ولای که په خپل مثل او مناسب کښی ئی ددوی نکاح کړی وی او که ئی په کم مثل کښی کړی وی او که په مهر مثل ئی نکاح کړی وی او که په ډیر کم شی سره ئی کړی وی هر قسم نکاح ئی صحیح ده ددوی ئی نه سی رد ولای او ترځوانید و وروسته ددوی هیڅ کولای نه سی۔ (شرح البدایة ص۲۹۷ دوهم ټوک و درمختار برحاشیه شامی ص۳۴۰ دوهم ټوک هندی و ص۴۹۸ دوهم ټوک مصری)

(۱۴) مسئله:۔ که دپلار او نیکه څخه ماسیوی یو بل ولی ددوی نکاح کړی وه او دهر چا سره چه ئی نکاح کړی وه هغه هلک په اصل او ذات کښی دبرابری درجی هم وو او مهر ئی مهر مثل مقرر کړی وو په دغه صورت کښی خو دغه وخت نکاح صحیح کیږی لیکن ... ترځوانیدو او لویدو وروسته ددوی ته اختیار دی که دغه نکاح پرخپل حال پریږدی۔ یا یو مسلمان قاضی او حاکم ته فریاد کوی او ماتوی ئی او که دغه ولی د اینجیلی نکاح دکم اصله او کم ذاته سړی سره کړی وه یا تر مهر مثل ئی پرډیر کم څه نکاح کړی وه یا دهلک نکاح چه ئی دهری اینجیلی سره کړی

وه - ددی ولور او مهرئ ددی ترمهر مثل پیرزیات مقرر کړی وُو - نو دا نکاح صحیح نه ده - (در مختار برشامی ص۵۰۱ دوهم ټوک - مصری)

(۱۵) مسئله :- د پلار او نیکه څخه ماسیوی ئ بل چا نکاح کړی وه او انجیلی ته د خپلی نکاح کید و خبر وُو بیا چه خُوانی ته ورسیده او نزاوسه ددی خاوند ددی سره نژدیکت نه وو کړی نو هغه وخت چه خُوانه او پیغله سی په دغه وخت کښی دی فوراً خپله ناراضی بنکاره کړی چه زه راضی نه یم یادی داسی وایی چه زه دغه نکاح نه غواړم نه ئ پریږدم چه پاته سی برابره خبره ده که دغه خای یو څوک وی که نه وی بالکل دایوازی ناسته وی په هرحال کښی باید دغه خبره وکړی - لیکن فقط په دغه نکاح نه ماتیږی - شرئ قاضی او حاکم ته دی ولاړه سی نکاح دی ماته کړی نو بیا ماتیږی ترخُوانید و وروسته که چیری یو دم یو گړی هم خاموشه او پته خوله سی نو اوس دا اختیار نه لری چه نکاح ماته کړی اوکه دې ته د خپلی نکاح خبر نه وُو تر پیغلتوب وروسته خبره سوه نو هروخت چه خبر ورورسیدی په دغه وخت کښی دی فوراً د نکاح څخه انکار وکړی که لږ گړی پته خوله واوسی نو د نکاح د ماتیدو اختیار ئ دمابینه ځی - (شرح البدایة ص۲۹۷ دوهم ټوک وعالمگیری ص۳۰۴ اول ټوک)

(۱۶) مسئله :- اوکه ددی خاوند ددی سره نژدیکت کړی وی بیا پیغلتوب ته ورسیږی نو فوراً په وخت کی د خُوانید و او د خبریدو انکار کول ضروری نه دی بلکه تر څو چه ددی د رضا حال نه وی معلوم سوی تر هغه وخته پوری د قبلولو اونه قبلولو اختیار لری که څه هم دیره زمانه تیره سی - هو - چه ددی په صافه ژبه سره وویل سی چه زما دغه نکاح قبوله ده یا یو بله داسی خبره موجوده سوه چه د هغه څخه رضامندی معلومیږی مثلاً د خپل خاوند سره په تنهائی کښی په مثل د خاوند او سنځی واوسیږی نو اوس اختیار نه لری او نکاح لاتر مخه سوه - (عالمگیری ص۳۰۴ اول ټوک)

(۱۷) مسئله :- دکوم ولی چه د قاعدی مطابق د نابالغی انجیلی د نکاح حق دی

هغه ولی په سمز کښی دی او د وندی لیږی دی چه که د هغه انتظار کوی
دا موقع د لاسه وزی او کوم هغه خلګ چه دوی ته ئی د دوستی پیشکش کړی
دی دوستی ور سره کوی هغه د دغه ولی د راتګ یا اجازی انتظار نه کوی
نو په داسی صورت کښی هغه ولی چه تر اول ورسته د دوه درجه دهم
نکاح کولای سی که د غه د وهم ولی د هغه بیلې پوښتنی نکاح وکړه نکاح
صحیح سوه اوکه د وندی لیږی نه وی نو د هغه بیله مشوری دوهم ولی
باید نکاح ونه کړی اوکه ئی وکړه نود هغه بل ولی پر اجازه موقوفه ده چه هغه
اجازت وکړی نو صحیح ده۔ (شرح البدایة ص۲۹۹ دوهم ټوک و در مختار بر
شامی ص۵۱۶ دوهم جلد)

(۱۸) مسئله:۔ داغه رنګه که د حقدار ولی په موجودګی کښی بل ولی د نابالغ
نکاح وکړه مثلاً حق خو د پلار وُو او نکاح ئی نیکه وکړه او د پلار څخه ئی بالکل
مشوره نه کړه طلب نو د غه نکاح د پلار پر اجازه موقوفه ده یا حق د
ورور وُو نکاح اکا وکړه نو د ورور پر اجازه موقوفه ده۔ (عالمګیری ص۲۸۵
اول ټوک مصری)

(۱۹) مسئله:۔ یوه ښځه لیونی ده او عقل ئی تللی دی خُو ان زوی هم لری
پلار هم لری نو د وی غواړی چه دایو چا ته په نکاح ورکړی نو۔ ولی۔ ئی
خپل زوی دی۔ حُکه چه په حیثیت د ولی توب زوی تر پلار مخکی دی۔
(شرح البدایة ص۲۹۹ دوهم ټوک)

(۴) باب کوم کوم خلګ یو د بل سره برابر دی او کوم برابر نه دی

(۱) مسئله:۔ په شریعت کښی د دی خبری په خیال سائل ښویدلی چه بی کفوه
او بی مثله نکاح د ی نه کیږی۔ یعنی د انجیلی نکاح او د لور نکاح د داسی
سړی سره مه کوه چه د د ی سړه په د رجه کښی برابر او مثل نه وی۔
(شرح البدایة ص۲۹۹ دوهم جلد

(۲) مسئله:۔ برابری پر دیرو قسمونو ده یوه د نسب برابری دوهمه د مسلمانی

برابری در یمه د دینداری برابری څلرمه د مال برابری پنځمه د حرفت او کسب برابری۔ (عالمگیری ص۳۰۹ وص۳۱۰ اول ټوک مصری)

(۳) مسئله:- په نسب کښی برابری داسی ده چه شیخ - سید - انصاری اوعلوی دا ټوله یو دبل سره برابر دی یعنی که څه هم د سید انو مرتبه پر نورو باندی لوړه ده لیکن که چیری سید ه انجیلی دیو شیخ سره واده کړی - نو داسی نه وایو چه په خپل مثل او کفو (برابر) کښی ئی نکاح نه وسوه بلکه دغه ئی هم مثل دی - (شرح البدایة ص۳۰۰ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:- په نسب کښی اعتبار پلار ته دی د مور هیڅ اعتبار نسته که پلار سید وی نو زوی هم سید دی او که پلار شیخ وی نو زوی هم شیخ دی مور چه هر څوک وی که سید سړی د غیر سیدی بنځی سره نکاح وکړه او تر نکاح وروسته ئی زوی پیدا سو نو دغه زوی ئی هم سید دی او په درجه کښی د ټولو سیدانو سره برابر دی هو دا بله خبره ده د چا چه مور او پلار دواړه سیدان وی د لوړ خاندان وی د دوی بیا په یر عزت دی لیکن په شریعت کښی برابر او مثل دی - (رد المحتار ص۵۲۳ دوهم ټوک)

(۵) مسئله:- مغل، پښتون ټول یو قوم دی د شیخانو او سیدانو سره برابر نه دی د دوی ته که د شیخ یا سید لور واده سوه نو مور او یو چه د خپله مثله سره نکاح نه وسوه او دایو بیکاره نکاح سوه - (در مختار بر شامی ص۵۲۹ دوهم ټوک مصری)

(۶) مسئله:- په مسلمانی کښی د برابری اعتبار صرف په مغل، پښتون او داسی نورو قومونو کښی دی په مابین کښی د شیخانو - سیدانو، علویانو او انصارو کښی د دی هیڅ اعتبار نسته نو کوم سړی چه خپله مسلمان سی او پلار ئی کافر وی دی ئی د هغی بنځی مثل او برابر نه دی چه خپله هم مسلمانه وی او پلار ئی هم مسلمان وی او کوم سړی چه خپله مسلمان وی او پلار ئی هم مسلمان وی لیکن نیکه ئی کافر وی د هغی بنځی مثل او برابر نه دی چه د هغی نیکه هم مسلمان وی - (عالمگیری مصری ص۳۰۹ اول ټوک وشامی مصری ص۵۳۳ دوهم ټوک)

۸ مسئله:- د چا چه پلار، نیکه د وارث مسلمانان وی لیکن د نیکه ئی مسلمان نه وی نو د غه سړی د هغی بنځی مثل بلل کیږی چه د هغی پیر پیشتو نه مسلمانان وی. خلاصه ئی دا ده چه تر نیکه پورې د مسلمانی اعتبار سته تر د غه پورته په ورنیکه چرگ نیکه کښی د مسلمانی اعتبار نسته چه په د غو کښی به هم سړه برابر وی (عالمگیری ص۳۰۹ اول ټوک)

۹ مسئله:- په دینداری کښی د برابری مطلب دا دی چه دا سی څوک چه د دین پابند نه وی- لیچک، شرابی، بدکار، سود ه- سړی دی نو د غه سړی د نیک بختی، دینداری او پرهیزګاری بنځی برابر نه بلل کیږی- (عالمگیری ص۳۱۰ لومړی ټوک ۲ جلد).

۹ مسئله:- په مال کښی د برابری معنی دا ده چه بالکل مفلسه او محتاج سړی د مالداری او دولتمندی بنځی مثل نه دی او که د غه سړی هیڅ پیر مفلسه نه وی بلکه د هرڅوندی مهر چه په مرکه کښی یا اوله شپه کښی رواج وی د غوندی مهر ورکولای سی او د نفقی ورکولو اهل وی نو د غی بنځی سړه په مال کښی برابر بلل کیږی که څه هم پتوله مهر په د غه اول وار نه سی ورکولای او د اخروی نه ده چه هرڅوندی بنځی والا مالدار ه وی په هغه اندازه به دی هم مالدار ه وی یا چه څوندی بنځی والا مالدار دی هغه ته به قریب قریب دی هم مالدار وی- (عالمگیری ص۲۹۹ دوهم جلد و در مختار برشالی ص۵۲۶ دوهم جلد مصری)

۱۰ مسئله:- په پیشه او کسب کښی برابری دا ده چه کفی او دونکی یعنی د کمبلو جوړونکی د خیاط مثل او برابر نه دی- د اغه رنګه نایی- د لاق سازخریونکی او دوبی چه د خلګو کالی په مزدوری ورپاکوی او داسی نور هم د خیاط سړه برابر نه دی- (شرح التنویر ص۱۹۵ اول ټوک)

۱۱ مسئله:- لیونی- پاګل سړی د پوهی او هوښیاری بنځی مثل او برابر نه دی (در مختار برشالی ص۵۲۱ دوهم ټوک مصری)

(۵) **دمهرٔ (ولور) بیان** | **باب**

(۱) مسئله :- په نکاح کښی که د مهر ذکر وسی که نه وسی په هرحال کښی نکاح صحیح کیږی. لیکن مهر به خامخاور کوی. بلکه که یو څوک د اشرط کړی چه زه مهر نه ورکوم بی له مهره څخه نکاح کوم هم به مهر ورکوی. (شرح البدایه ص ۳۰۳ ج ۱)

(۲) مسئله :- د مهر لږ تر لږه مقدار پاؤ کم دری (۳) روپی دی د سپینو زرو چه وزن یی دا (۷) مثقالو سپینو زرو سره برابر دی. او د زیات یی هیڅ حد او اندازه نسته چه هرڅومره دی مقرر کړای یی سی. لیکن مهر دیر مقرر کول ښه نه (۱) دی نو که چا یوه روپۍ سپین زر یاد غسی یوه افغانی

له دو دیرش (۳۲) روپی
عام خلک مهر شپږ یا اته روپی مقرر کوی او ځینی
لیکن صحابه کرامو رضی الله عنهم د خپلو لوڼو مهر پنځه سوه درهمه مقرر کړی و
دسپکو څخه دا ده چه د مهر د ډیرښت نه د ورکولو نیت ولری او نه د مهر د ادا کولو
ډیر مهر مقرر کول مکروه دی. پس نو د مهر د ډیرښت نیت ولری او نه د مهر د ادا کولو
مستحب ارزی. د مهر د ډیرښت نیت ولری او نه د مهر د ادا کولو
○ بعضی خلک اوس هم په دغه رواج موافق
روپی مهر مقرر کوی او جهالت دی نکاح تری
ځکه نا پوهی او جهالت دی نکاح تری
د دو دیرش نیمی روپی (۱۶) نکاح مه کوئ
مهر یعنی (۱۲) روپی او یا نیمی روپی (۶) ماشی سپین زر
او د زمونږ د اولنی شرعی مهر مقدار دا دی
مهر یعنی (۱۲) روپی او یا نیمی روپی (۶) ماشی سپین زر
او د زمونږ د اولنی شرعی مهر مقدار دا دی
مهر یعنی (۱۲) روپی او یا نیمی روپی (۶) ماشی سپین زر
او د زمونږ د اولنی شرعی مهر مقدار دا دی
روپی زیات دی ○

یا نیمکه مهر مقرر کړی نکاح ئې وکړه نو هم پاڼ کم درې روپۍ د سپینو زرو
به درکوی په شریعت کښی تر دغه کم مهر نه سی کیدای اوکه تر واده اوتر دیکت
مخکی طلاق درکړی نو د دغه مهر نیمی به درکوی - (عالمگیری ص۳۱۳ دوهم
ټوک کشوری و شرح البدایة ص۳۰۴ دوهم ټوک)

(۳) مسئله ۱- یوه ښځه (ښځې) روپۍ یا شل یا سل یا زر روپۍ د خپل استعداد سره برابر مهر





مقرر کړی او خپله ښځه ئې راوادره کړه کوږته ئې راوسته نو دی سړه ئې نژدیکت وکړی یا ئې نه وکړی لیکن په تنهائی کښی خاوند او خپله ښځه د اسی سړه پاته سول چه د دوی د دو (۲) نژدیکت څخه هیڅ منعه کونکی شی نه وو نو هر هغه مهر چه مقرر کړی ئې وُو د هغه پتول مهر ورکول واجب دی او که د غه یوه خبره هم نه وه سوی چه هلک یا انجیلی مړه سوه بیا هم د پوره مهر ورکول واجب دی او که د د غو څخه یوه خبره نه وه او سړی طلاق ورکړی نو نیم مهر ورکول واجب دی خلاصه ئې دا سوه که د میړه او ښځئ په منځ کښی د اسی د تنهایی او یوازی والی حال راغلی وُو چه د هغه ذکر مخکښی وسو یا د دواړو څخه یو مړ سوی دو نو پوره مهر واجب سو او که د د اسی تنهایی او یوازی والی محکمی ئې طلاق ورکړی وُو نو بیا نیم مهر واجب دی - (شرح البدایة صـ۳۰۴ دوهم توک)

(۴) مسئله :- که په دواړو کښی یو مریض وو یا ئې د روژی د میاشتی روژه نیولی وه یا ئې د حج احرام تړلی وُو یا ښځئ ته حیض ورغلی وُو یا یو چا ورته کتل ښه د تنهایی حُای نه وُو په د اسی حالت کښی د دواړو تنهائی او یو حُای والی سړه وسو نود اسی تنهایی اعتبار نسته په د غه سړه پوره مهر نه واجبیږی که چیری نژد اسی تنهایی ورد سته طلاق ورکړی نو د نیم مهر حق لری. لیکن که د روژی د میاشتی روژه نه وه بلکه قضایی یا نفلی یا نذری روژه په د وی دواړو کښی یوه نیولی وه که په د اسی حال کښی د واړه په ګونبه او خالی حُای کښی سړه پاته سی نو د پوره مهر حقدار ه د ه او پر خاوند ئې پوره مهر ورکول واجب دی - (فتاوی قاضی خان صـ۱۸۱ اول توک)

(۵) مسئله :- که خاوند نامرد وُو یعنی قابل د نژدیکت نه وو په سبب د یو مریضی لیکن د د وی د واړو خاوند او ښځئ ترمابین د اسی یو حُای کیدل او تنهائی راغلی وه نو هم پوره مهر واجب دی د اغه رنګه که نر ښځئ نکاح وکړه د یو ښځئ سړه بیا ئې تر تنهائی او یو حُای کید وروسته طلاق ورکړی بیا هم ښځه د پوره مهر حق لری - (قاضی خان صـ۱۸۲ اول توک وشرح البدایة صـ۳۰۶ دوهم توک)

(۶) مسئله :- خاوند او ښځه په یو خالی او تنها حُای کښی سړه پاته سوه لیکن انجیلی د وندی کوچنی د ه چه د نژدیکت قابله نه د ه یا خاوند پیر کوچنی

هلک دی چه نزدیکت نه سی کولای نو په د غه تنهائی سره هم پوره مهر نه
واجبیږی (فتاوی قاضی خان ص۱۸۲ اول ټوک)

(۷) مسئله :- که د نکاح په وخت کښی بالکل د مهر ذکر و نه سو چه څوندی
دی یا ئی پرد غه شرط نکاح وکړه چه بی مهره نکاح کوم هیڅ مهر نه ورکوم
نو بیا په دوی دوو (۲) کښی یو مرسو یا د غسی تنهائی او یو خاوند والی وسو چه په
شریعت کښی معتبر دو نو به هم ښځئ ته پوره مهر ورکول کیږی په د غه
صورت کښی به مهر مثل ورکول کیږی او که په د غه صورت کښی تر د غسی
تنهائی مخکی سړی د ښځئ ته طلاق ورکړی نو د اد مهر اخستلو حق نلری
بلکه فقط یوه جوړه کالی پیدا کولای سی او د اجوړه کالی پرسړی واجب دی
که ئی نه ورکوی ګنهګاره دی - (عالمګیری ص۳۱۴ دوهم ټوک)

(۸) مسئله :- په یوه جوړه کالو کښی پرسړی فقط څلور شیان واجب دی
یو قمیص یو پورونی، بل پرتوګ یا لنګ چه د هر یوه رواج وی یو غټ پورونی
چه په د غه د سر څخه تر پښو پوری پکښی پټه سی د د غه څخه علاوه
بله جامه پر واجب نه ده - (در مختار و رد المحتار ص۵۱۹ دوهم ټوک)

(۹) مسئله :- د سړی چه هر قسم حیثیت وی د هغه موافق کالی باید ورکړی
که میانه غریب سړی وُو نو میانه کالی دی ورکړی یعنی ډیر غریب نه وی
لیکن ډیر مور هم نه وی او که ډیر غریب وی نو د کمی درجی کالی دی ورکړی
او که ډیر لوی مالدار او د ولتمند سړی وی نو اعلی قسم وریښمنی جامی
دی ورکړی - لیکن په هر حال کښی دی د احتیال وسائل سی چه د د غی
جوړی قیمت دی د مهر مثل تر نیمی زیات نه سی - د یوی روپی شپږ وانو
چه هر څوندی وزن دی د د غه وزن د سپینو زرو د قیمت څخه د وهم
کمه نه وی د یوی روپی لوشپږ د انو وزن د یوی تولی انګریزی پر شاوخوا
دی - یعنی ډیر قیمتی کالی چه د د وی قیمت د مهر مثل تر نیمی زیات سی پر
سړی واجب نه دی او که پخپله خوښه د لوړ قیمت کالی ورکوی چه تر نیم
مهر هم زیات وی نو دا بله خبره ده خو پر واجب نه دی - (شرح البدایة ص۲۹۵
دوهم ټوک وشامی ص۲۳۶ دوهم ټوک)

(۱۰) مسئله :- د نکاح په وخت کښی ئی هیڅ شی مقرر او معلوم نه کړی لیکن تر

نکاح در دسته خاوند او بنځی دواړو په خپله خوښی څه مهر مقرر کړی - نو
اوس به بنځی ته مهر مثل نه ورکول کیږی بلکه دواړو چه په خوښی سره
هرځوندی مهر مقرر کړ پیدی هغه به ورکول کیږی البته که نږدې خسی تنهائی
او یو ځای والی مخکی طلاق ورکړه سو نو په دغه صورت کښی د مهر مستحقه
نه ده بلکه صرف هغه یوه جوړه کالی به ورکوی چه هغه اوس ذکر سوه.
(شرح البدایة ص۳۰۵ دوهم توک)

(۱۱) مسئله:- سل روپی یا زر روپی ځی د حیثیت سره برابری مهر مقرر کړی بیا
خاوند په خپله خوښی سره یو څه مهر نور مقرر کړی او بالائی کړی او وئی ویل
چه زه د مثلو روپو پرځای یو نیم سل روپی ورکوم نو هرځوندی چه ځی زیاتی
کړیدی هغه هم واجب سو که ځی ورنه کړی نو گنهگار ده دی که ترهغسی تنهائی
او یوازیوالی ځی مخکی طلاق ورکړی نو هرځوندی چه اصل مهر وو د هغه به
نیمه حصه ورکوی هرځوندی چه ځی ورو سته زیات کړی وو هغه به
داغه رنگه که بنځی پخپله خوښی او رضامندی سره څه مهر معاف کړی - نو
هرځوندی چه ځی معاف کړیدی په هغه اندازه معاف سو اوکه ځی پوره
معاف کړی پوره معاف سو - اوس نود مهر اخستلو حق نه لری - (عالمگیری
ص۳۲۴ وص۳۲۵ دوهم توک کشوری -

(۱۲) مسئله:- که خپل خاوند پر خپله بنځه زور و لگاوی تنگه ځی کړه
مهرځی په زور په معاف کړی نو په داسی معافید و سره نه معافیږی -
اوس هم دده پر ذمه مهر ادا کول واجب دی (رد المحتار ص۵۲۳ دوهم جلد)

(۱۳) مسئله:- په مهر کښی ځی روپی - افغانی - سره زر - سپین زر هیڅ مقرر
نه کړه بلکه یو کلی، باغ یا څه محکه ځی مقرره کړه داهم صحیح دی کوم
باغ یا بل شی چه ځی مقرر کړی دی هغه به ورکوی - (رد المحتار ص۳۴۸ ج۲)

(۱۴) مسئله:- په مهر کښی ځی یو آس یا پیل یا یو بل حیوان مقرر کړی لیکن داسی
ځی مقرر نه کړی چه فلانی آس درکوم داهم صحیح دی یو میانه آس چه نه
ډیر اعلی او نه ډیر بیکاره وی باید ورځی کړی یادی د دغه مذکور حیوان
قیمت ورکړی البته که ځی صرف دوندی ویلی وه چه یو حیوان درکوم اودا
ځی نه وه ویلی چه فلانی نوعه حیوان درکوم نود اسی مهر مقرر ول صحیح

نه دی په دغه صورت کښی به مهر مثل ورکوی۔ (عالمگیری ص۳۲۲ دوهم پتوک
وشرح البدایة ص۳۱۳ دوهم پتوک)

(۵) مسئله:۔ چا بی قاعدی نکاح ترلی وه ددۀ او شاهدانو په مخکښی ئی نکاح
نه وه ترلی نو دغه سبب خاوند او بنځه سره جلا کړل سوه یا خو ددۀ شاهدان
وه لیکن کمیان وه ددی هغه الفاظ نه وه اوریدلی چه په هغوی سره نکاح
ترلی کیږی یا دیوی بنځی میړه طلاق ورکړی وی یا ئی خاوند مړ سوی وی عدت
ئی پوره سوی نه وه چه هغی بنځی بله نکاح کړی وه یا یوبله بی قاعدی خبره
په نکاح کښی راغلی وه نو ددی سبب ددی په منځ کښی جدایی اوجلاوالی
راغلی لیکن تراوسه دغه سړی نژدیکت نه دی ور سره کړی نو بنځی ته هیڅ مهر
نه ورکول کیږی بلکه که په داسی تنها ئی کښی یو خای سره پاته سوی هم
وه۔ هم مهر نه واجبیږی البته که ئی نژدیکت ور سره کړی وی نو مهر مثل ورکول
کیږی لیکن که یو څه مهر د نکاح په وخت کښی مقرر سوی وی او مهر مثل تر
دغه زیات وی نو هغه مقرر سوی مهر به ورکول کیږی مهر مثل به نه
ورکول کیږی۔ (شرح البدایة ص۳۱۲ دوهم پتوک)

(۱۶) مسئله:۔ یوچا د پردی بنځی سره نژدیکت وکړی دا ئی خیال ووچه دا
زما خپله بنځه ده نو دغی بنځی ته به هم مهر مثل ورکول کیږی او نژدیکت
ته ئی زنا نه وایو او نه گناه لری۔ بلکه که حمل دار سره سوه نو دغه کوچنی
نسب هم ثابت او صحیح دی ددۀ په نسب کښی هیڅ داغ او عیب نسته او ده
ته حرامی ویل روا نه دی او هر وخت چه معلومه سوه چه دا زما بنځه
نه وه نو دی ددی بنځی څخه جلا اوسی نژدیکت ور سره کول روا نه دی
او پر دغی بنځی هم عدۀ پوره کول واجب دی بیله پوره کیدو د عدی د خپل میړه
سره او سیدل او نژدیکت ددی روا نه دی او د عدی بیان مخکی راروان دی
انشاء الله تعالی۔ (فتاوی هندیة ص۵۴۳ دوهم پتوک وشرح البدایة ص۳۱۳ دوهم پتوک)

(۱۷) مسئله:۔ کوم خای چه په اوله شپه یا درځ د پتول مهر څو بنتلو رواج وی
او په [redacted] شپه یا درځ کښی د پتول مهر څو بنتلو بنځی ته اختیار دی
[redacted] واړی نو هر وخت چه ئی وغواړی بیا نو پرسړی ورکول واجب
[redacted] سی کولای۔ (عالمگیری ص۳۲۹ دوهم پتوک کشوری)

نه دی په دغه صورت کښی به مهر مثل ورکوی۔ (عالمگیری ص۳۲۰ دوهم پتوک وشرح البدایة ص۳۱۴ دوهم پتوک)

(۱۵) مسئله:۔ چا بی قاعدی نکاح تړلی وه ددوو (۲) شاهدانو په مخکښی ئی نکاح نه وه تړلی نو دغه سبب خاوند او بنځه سره جلا کړل سوه یا خو دوه (۲) شاهدان وه لیکن کمیان وه ددی هغه الفاظ نه وه اوریدلی چه په هغوی سره نکاح تړل کیږی یا دیوی بنځی میړه طلاق ورکړی وو یا ئی خاوند مړ سوی وو عدت ئی پوره سوی نه وه چه هغی بنځی بله نکاح کړی وه یا یو بله بی قاعدی خبره په نکاح کښی راغلی وه نو ددی سبب ددوی په منځ کښی جدایی اوجلاوالی راغلی لیکن تراوسه دغه سړی نژدیکت نه دی ور سره کړی نو بنځی ته هیڅ مهر نه ورکول کیږی بلکه که په داسی تنها ئی کښی یو ځای سره پاته سوی هم وه۔ هم مهر نه واجبیږی البته که ئی نژدیکت ور سره کړی وو نو مهر مثل ورکول کیږی لیکن که یو څه مهر د نکاح په وخت کښی مقرر سوی وو او مهر مثل تر دغه زیات وو نو هغه مقرر سوی مهر به ورکول کیږی مهر مثل به نه ورکول کیږی۔ (شرح البدایة ص۳۱۲ دوهم پتوک)

(۱۶) مسئله:۔ یو چا د پردی بنځی سره نژدیکت وکړی دا ئی خیال ووچه دا زما خپله بنځه ده نو دغی بنځی ته به هم مهر مثل ورکول کیږی او نژدیکت ته ئی زنا نه وایو او نه گناه لری۔ بلکه که حمدار سره سوه نو دغه کوچنی نسب هم ثابت او صحیح دی دده په نسب کښی هیڅ داغ او عیب نسته او ده ته حرامی ویل روا نه دی او هر څوک چه معلومه سوه چه دا زما بنځه نه وه نو دی ددی بنځی څخه جلا اوسی نژدیکت ور سره کول روا نه دی او په دغی بنځی هم عدت پوره کول واجب دی بیله پوره کیدو د عدی د خپل میړه سره او سیدل او نژدیکت ددی روا نه دی او د عدی بیان مخکی راروان دی انشاء الله تعالی۔ (فتاوی هندیة ص۵۴۳ دوهم پتوک وشرح البدایة ص۴۰۴ دوهم پتوک)

(۱۷) مسئله:۔ کوم ځای چه په اوله شپه یا ورځ د ټول مهر غوښتلو رواج وی هلته په اوله شپه یا ورځ کښی د ټول مهر غوښتلو و بنځی ته اختیار دی که ئی اول د نه غواړی نو هر څوک چه ئی وغواړی بیا نو پرسړی ورکول واجب دی څنډه نه سی کولای۔ (عالمگیری ص۳۲۹ دوهم پتوک کشوری)

(۱۸) مسئله :- په هندوستان کښی دا رواج دی چه مهر تر طلاق او روسته یا تر مرګ او روسته اخیستل کیږی چه هر وخت طلاق او رکړه سی نو د مهر دعوه او غوښتنه کوی یا خاوند مړ سی یو څه مال ترشا پریږدی د دغه مال څخه ئی اخلی او که بنځه مړه سوه نو د دی وارثان د مهر دعوه کوی تر څو چه خاوند او بنځه یو ځای اوسیږی نو په دغه وخت کښی نه څوک مهر او رکوی او نه دا بنځه مهر غواړی نو په دا سی ځای کښی د دغه رواج د سببه د طلاق مخکښی د مهر دعوه او غوښتنه نه سی کولای البته په اوله شپه یا ورځ کښی چه څوندی مهر پیشکی او مخکی ورکول رواج دی په داغه مقدار مهر اوں ورکول واجب دی - هو - که په یو ځای کښی دا رواج نه وی د هغه بیا دغه حکم نه دی - (عالمګیری ص۳۳۳ دوهم ټوک)

(۱۹) مسئله :- د څوندی مهر چه اول وار ورکول رواج دی که ئی داغه اندازه مهر اول وار ورنه کړی نو بنځئ ته اختیار دی چه تر څو پوری داغه اندازه مهر اول وار ورکړه سوی نه وی نو سړی دی ځان ته نژدی نه پریږدی او که ئی یو وار نژدیکت ورسره کړی وی بیا هم اختیار دار ده چه دوهم او دریم وار ئی ځان ته نژدی نه پریږدی که ئی خاوند د خپل ځان سره په مسافری بیا ئی نو بیله دوندی مهر اخستلو اختیار دار ده چه ورسره ولاړه نه سی - داغه رنګه که بنځه په دغه حال کښی دیو خپل محرم سره په مسافری ځی یا د خاوند د کور څخه د پلار کور ته بیرته راځی نو خاوند ئی منعه کولای نسی او چه هر وخت ئی هغه اندازه مهر ورکړی نو بیا د خاوند بی اجازی هیڅ نسی کولای د هغه بیله رضائی هیڅیری تلل او راتلل روانه دی او هر ځای ته چه ئی د خاوند زړه غواړی هلته دی ئی بوزی دا انکار نه سی کولای - (درمختار ص۴۰۲ دوهم ټوک)

(۲۰) مسئله :- د مهر په نیت سره خاوند یو څه شی ورکړی نو هر څوندی چه ئی ورکړی وی په هغه اندازه مهر ادا سو - د ورکولو په وخت کښی دا وینا بنځئ ته ضروری نه ده چه زه مهر درکوم - (عالمګیری مصری ص۳۳۳ ج۲)

(۲۱) مسئله :- خاوند یو څه ورکړه لیکن بنځه وایی چه دا شی تا ماته په تحفه کی راکړی وُ خاوند وایی چه د غه شی ما تاته په مهر کښی درکړی وو - نو

د خاوند خبره معتبره ده البته که ئی د خوراک اوچښلو شی ورکړی وُ نو وا ئی په مهر کښی نه شمیرو او د ساړی پرده خبره اعتبار نه کوو (عالمگیری هندی ص۳۳۵ دوهم ټوک)

(۶) دمهر مثل بیان — باب

مسئله ۱- خاندانی مهر - یعنی د مهر مثل مطلب دادی چه د دغی بنځی د پلار په قوم او قبیله کښی یوه بله بنځه وګوره چه د ددی مثل وی یعنی که دا کم عمره وی نو به هغه هم د نکاح په وخت کښی کم عمره وه او که دا بنایسته وی هغه به هم بنایسته وه که ددی نکاح په پیغلتوب کښی وی یعنی کونده نه ته وی نو د هغی نکاح به هم په پیغلتوب کښی سوی وی د نکاح په وخت کښی چه څومره د دنیا دار وه وی. په دا هغه اندازه به هغه هم د دنیا دار وه وی - دکوم وطن چه دا او سیدونکی وی هغه به هم د هغه وطن او سیدونکی وی که دا دیندار، هوښیار په قانون پوهه او تعلیم یافته وی - هغه به هم داغسی وی. غرض دادی چه په کوم وخت کښی چه د هغی بنځی نکاح ټرل سوی وه په هغه وخت کښی به په دغو خبرو او شیانو کی ددی بنځی مثل وه کوم چه ددی او س نکاح ټرل سویده - نو کوم مهر (ولور) چه د هغی مقرر سوی وُ هغه ددی بنځی مهر مثل دی - (در مختار بر شامی ص۵۸۲ دوهم ټوک وشامی)

(۲) مسئله ۱- د پلار دکورنۍ څخه مراد ددی خوندی، عمه ګانی، دا کالونی او داسی نوری دی یعنی ددی د پلار د قوم بنځی په مهر مثل کښی د مور مهر ته هیڅ اعتبار نسته هغه ته به نه ګوری - هو - که مور هم د پلار دکورنۍ څخه وی مثلاً پلار د دا کالور په نکاح کړی وی نو د دی مهر ته هم مهر مثل ویل کیږی. (در مختار بر شامی ص۵۸۲ دوهم ټوک وشامی)

(۷) دکافرانو د نکاح بیان — باب

(۱) مسئله ۱- کفار چه د خپل خپل مذهب مطابق او برابر هرقسم نکاح کوی. شریعت هغه هم معتبره کړیده او بر قرار ده ئی پری اینبی دا که دوی دواړه یو

وخت مسلمانان سی نو د نکاح دنوی کولو هیڅ ضرورت نشته نکاح اوس پرخپل حال باقی پاته ده - (شرح الوقایة ص۶ وص۶۱ دوهم ټوک و شرح البدایة ص۳۲۳ ج۲ وشرح التنویر ص۳۸ اول ټوک ومجمع الانهر ص۳۶۹ اول جلد وکنز علی حاشیة البحر ص۲۱۱ ج۳)

(۲) مسئله - که په دوی دو(۲) وکښی یو مسلمان سو او بل مسلمان نه سو نو نکاح ئی ماته سوه اوس نو په مثل د خاوند او بنځی نه سی سره اوسیدلای - ددی مسئلی حواله د مخکنی مسئلی حوالی دی.

(۳) مسئله - که بنځه مسلمانه سوه او سړی مسلمان سوی نه وو نو ترڅو چه پوره دری حیضه ورته ورنسی نو عده وخته پوری ئی دبل چا سره نکاح کول روانه ده - (در مختار ص۶۴ دوهم ټوک وشامی ص۶۳ دوهم ټوک وعالمگیری ص۴۵ دوهم ټوک وطحطاوی)

(۸) باب په بنځو کښی د برابری کولو بیان

(۱) مسئله:- د چا چه دیری بنځی وی نو پرسړی واجب دی چه ټولو ته برابری سانی یعنی یو قسم گذاره به ورسره کوی خوندی شی چه یوی بنځی ته ورکوی هغه اندازه شی به هغی بلی ته هم ورکوی او دغه بله بنځه دهغوئ شی دهوه او خو بسته کولای سی برابره خبره ده که د واړی پیغلی وی او که د واړی کونډی وی یا یوه پیغله وی بله ئی کونډه راوړی وی د ټولو حکم یودی که دیوی سره یوه شپه پاته سو د بلی سره به هم یوه شپه پاته کیږی که دیوی سره دوه(۲) یا دری شپی پاته سو نو د هغی بلی سره به هم دوه(۲) یا دری شپی پاته کیږی - هرخوندی مال زیورات او ګینې چه یوی ته ورکوی په هغه اندازه ئی هغه بله بنځه هم غوښته کولای سی - (شرح التنویر ص۲۱۱ اول ټوک وشرح البدایة ص۳۲۹ دوهم ټوک)

(۲) مسئله - که ئی یوه بنځه اوس نوی راواده کړی وی او بله ئی پخوا راواده کړی وی د دواړو حق یو برابر دی هیڅ فرق ئی نسته - (شرح التنویر ص۲۱۱ ج۱ - وشرح البدایة ص۳۲۹ دوهم ټوک)

۳ مسئله:- برابری نقط د شپی په اوسیدو کښی ده د ورځی په اوسیدو کښی برابروالی ضروری نه دی که د ورځی د یوی میاشتی په اوسیدی او د بلی میاشتی په اوسیدی هیڅ پروا نه لری او په شپه کښی برابری واجب ده که یوی ته د نورو اوسیدی هیڅ پروا نه لری او په شپه ترماخستن ورو سته راغلی نوګنهګار ګڼل کیږی ما بسام ورو سته نوټ راغلی او بلی ته ترماخستن ورو سته راغلی نوګنهګار ګڼل کیږی د ورځی په کورکی اوسیږی لکه چوکیدار او پیره دار د ده د پاره د ورځی د برابری حکم دی. (شرح التنویر ص۲۱۱ دوهم جلد و شامی ص۴۰۱ دوهم جلد و سکب الانهر ص۳۷۴ ج ۱)

۴ مسئله:- په نزدیکت کښی برابری کول واجب نه ده که دیوی په وار کښی ئی نږدیکت و رسوه کړی نو د بلی په وار کښی نږدیکت و رسوه کول ضروری او واجب نه دی فقط وار به تیروی - (رد المحتار ص۶۵۳ دوهم ټوک مصری)

۵ مسئله:- سړی که مریض وی او که جوړ وی په هرحال کښی د شپی په اوسیدو کښی به برابری کوی - (شرح التنویر ص۲۱۱ اول ټوک)

۶ مسئله:- دیوی ښځی سره ئی پیره مینه او محبت وی د بلی سره ئی مینه او محبت نه وی په دغه کښی هیڅ ګناه نلسته حکه چه زړه په خپل اختیار کښی نه دی - (رد المحتار ص۳۹۸ دوهم جلد و فتاوی هندیه ص۳۵۴ دوهم جلد)

۷ مسئله:- د سفر کولو په وخت کښی برابری واجب نه ده د هری یوی سره چه ئی زړه غواړی ورسره روانه دی کړی او نه خبره داده چه قرعه اندازی سره وکړی د هری یوی چه نوم پوره ته سی هغه دی ورسره روانه کړی چه یوه په زړه کښی خفه نه سی - (شرح التنویر ص۲۱۱ اول ټوک)

(۹) دشید و اولئ ورکولو بیان | باب

۱ مسئله:- چه کوچنی پیدا سی نو پرمورئ ئی ورکول واجب دی لیکن که ئی پلار مالدار او مور وی د دایی د پیدا کیدو قدرت ولری چه د غه دائی - وکوچنی نه شیدی ورکړی



۴۵۲

تا کل سوی وی ۱۲

نو په دغه صورت کښی ک، مور وکو چنی ته ئی نه ورکوی هیڅ گناه نه لری۔
(رد المحتار ص۱۱۱ د وهم ټوک)

(۳) مسئله:- د بل زوی ته بیله اجازی د خیل خاوند، ئی ورکول روانه دی۔ هو۔ که یو کو چنی د لوبو ی مرکیدی او د ضایع کید و خطره وه نو په داسی وخت کښی دی بی اجازی د خپل میړه ئی ورکړی۔ (رد المحتار ص۴۰۵ د وهم ټوک)

(۴) مسئله:- ډیره مدده دی ورکولو د وه کاله ده تر دوو کلونو وروسته ئی ورکول حرام دی بالکل صحیح نه دی۔ (شرح التنویر ص۲۱۲ جلد اول و بحر الرائق ص۲۲۳ دیم ټوک)

(۴) مسئله:- که کو چنی خورک او چښل شروع کړه د دغه سببه ئی تر دوو کالو مخکی دی څخه پریکړی هم هیڅ پروا نه لری۔ (البحر الرائق ص۲۲۳ د وهم ټوک و شرح التنویر ص۲۱۲ اول ټوک)

(۵) مسئله:- چه کو چنی د بلی ښځی ئی وروی نو د غه ښځه د ده مور سوه او د دغی ښځی خاوند چه د غه شیدی د ده د زوی دی د غه هلک پلار سو او د دغه ساړی اولاد د داغه کو چنی رضاعی وروڼه سوه او نجونی ئی رضاعی خوندی سوی او نکاح ئی ورسره حرامه سوه او کومه نکاح چه نسب ئی حرامو ی صغه نکاح رضاع هم حرامو ی یعنی هغه ئی ورکول هم حرامو ی لیکن د پیرو علماؤ په فتوی ساړه دغه حکم هغه وخت دی چه کو چنی په مده کښی د رضاعت یعنی د شیدو ورد لو په وخت کښی ئی ئی رو دلی وی او چه د کو چنی د وه کاله پوره سی نو بیا چه د هری ښځی ئی روی نو د د غه چښلو او رو دلو هیڅ اعتبار نسته نو ئی ورکونکی نه د ده مور کیږی، ونه د دی اولاد د هغه کو چنی وروڼه او خوندی کیږی نو د دی سببه که د د وی په منځ کښی نکاح و ترل سی هم صحیح ده۔ لیکن امام اعظم رحمة الله علیه چه ډیر لوی عالم دی او ډیر فقیه امام دی هغه فرمائی که په د و نیم کالو کښی د ننه د ننه ئی ورو ی هم نکاح روانه ده البته که تر د وه نیم کالو وروسته ئی ورو ی نو د دغه هیڅ اعتبار نسته بیله کوم شک او شبهی په نزد د ټولو نکاح صحیح د ۱۔ (شرح البدایة ص۳۳۰ و ۳۳۱ د وهم ټوک و شرح التنویر ص۲۱۲ اول ټوک)

(۶) مسئله:- چه د کو چنی په ستونی کښی شیدی ولاړی سی نو ټولی هغه رشتی او قرابتونه چه مور مخکی ذکر کړی دی حرام سوه برابر ده خبره ده که ئی لږ شیدی چښلی وی یا ډیری د لږو او ډیرو هیڅ اعتبار نسته۔ (شرح التنویر

ص۲۲۱ اول پتوک وبحرالرائق ص۲۲۱ دریم پتوک)

(۷) مسئله:- که ئ کوچنی ته ئ ورنه کړی بلکه بنځی خپلی شیدی ولوشلی اوبه کوچنی ئ وخورلی په دی سره هم هغه قرابتونه اورشتی حرامی، سوی داغه رنګه که ئ دکوچنی په پوزه کښی شیدی ورولوشلی بیا هم هغه پتولی رشتی حرامی سوی که ئ په غوږ کښی ورواچولی د دغه هیڅ اعتبار نشته۔

(فتاوی هندیه ص۳۵۸ دوهم پتوک وبحرالرائق ص۲۲۱ اول پتوک و در ص۲۱۲ اول پتوک)

(۸) مسئله:- که ئ د بنځی شیدی د اوبو یا دیو د واسره گډی کړی کوچنی ته ئ ورکړی نو وګورئ چه شیدی ډیری دی که اوبه - که شیدی ډیری وی یادواړه یو برابروی نو دهری بنځی چه دغه شیدی دی هغه ئ مور سوه اوپتولی رشتی حرامی سوی که اوبه یادواړه وی نو د دی هیڅ اعتبار نشته هغه بنځه ئ مور نه سوه۔ (فتاوی هندیة ص۳۵۹ دوهم پتوک)

(۹) مسئله:- د بنځی د شیدو سره ئ د بزی یا غوا شیدی گډی کړی اوکوچنی دچښلی نو وګورئ چه کومی شیدی زیاتی دی که چیری د بنځی شیدی زیاتی وی یادواړه یو برابروی نو پتولی رشتی حرامی سوی اودهری بنځی چه وی دغه شیدی دغه کوچنی د دی اولاد سو که د بزی یا غوا شیدی ډیری وی نو هیڅ اعتبار نه لری داسی ئ بولو اوګورئ چه بالکل ئ د بنځی شیدی چښلی نه دی۔ بلکه د بزی یا غوا شیدی ئ چښلی دی۔ (خانیه ص۱۸۹ اول پتوک)

(۱۰) مسئله:- که دیو ناوده سوی انجیلی تر تیو شیدی راغلی نو دغه شیدی یوکوچنی د چښلی په دغه سره هم پتولی رشتی حرامی سوی۔ (خانیه ص۱۸۹ اول پتوک وفتاوی هندیة ص۳۵۸ دوهم پتوک)

(۱۱) مسئله:- د مړی بنځی شیدی ئ ولوشلی نو په یو هلک ئ وچښلی په دغه سره هم پتولی رشتی حرامی سوی۔ (خانیه ص۱۸۹ اول پتوک)

(۱۲) مسئله:- دوو کوچنیانو دیوی بزی او یوی غوا شیدی وخورلی نو په دغه سره رضاع نه راځی دوی ورور او خور نه کیږی۔ (خانیه ص۱۸۹ ج۱)

(۱۳) مسئله:- حوان سړی د خپلی بنځی شیدی ورودلی نو هغه پردی نه حرامیږی

لیکن دیرہ گناہ لری حکہ چہ تردوو کالو وروستہ د بنځی شیدی چښل بالکل حرامی دی۔ (در مختار ص۲۶۲ دوهم پتوک و شامی و شرح التنویر ص۲۱۲ اول پتوک)

(۱۴) مسئلہ:۔ یو هلک دی یوہ انجیلی دہ دواړو دیوی بنځی ټی وردی نو د دی دوو په منځ کښی نکاح نسی کیدای نور نو برابرہ خبرہ دہ کہ ټی په یوہ وخت کښی شیدی رودلی یا چښلی وی یا یوہ مخکی او بل پیر کلونہ وروسته چښلی وی دد دواړو یو حکم دی۔ (مجمع الانهر ص۳۷۷ اول پتوک)

(۱۵) مسئلہ:۔ یوی انجیلی د عبد الله د بنځی ټی وردی نو د دی انجیلی نکاح نه د عبد الله سره کیدای سی نه د عبد الله د پلار او نیکه سره کیدای سی او نه د عبد الله د اولاد سره کیدای سی بلکه کہ د عبد الله دبلی بنځی اولاد وی د هغوی سره ټی هم نکاح کول حرامه دہ۔ (هدایة ص۳۳۱ دوهم پتوک)

(۱۶) مسئلہ:۔ عباس ته خدیجی ټی ورکړی اود خدیجی د خاوند چه۔ قادر نومیږی یوہ بله بنځه زینبه وہ چه هغی ته طلاق ورکړہ سوی وو نو اوس زینبه هم د عباس سره نکاح نه سی کولای حکه چه عباس د۔ زینبی د خاوند زوی دی اود خاوند د اولاد سره نکاح روا نه دہ۔ داغه رنگه کہ عباس خپلی بنځی ته طلاق ورکړی نو هغه بنځه د قادر سره نکاح نسی کولای حکه چه هغه د دی خسر سو اود قادر۔ د خور او عباس نکاح سره کیدای نه سی حکه چه دی د دواړو سره عمه او وراره سوه برابره خبره دہ کہ هغه د قادر نسبی خور وی یا رضاعی خور وی د دواړو یو حکم دی لیکن د عباس د خور سره۔ قادر نکاح کولای سی۔ (هدایة ص۳۳۱ دوهم پتوک در منقی ص۳۷۸)

(۱۷) مسئلہ:۔ د عباس یوہ خور دہ چه ساجده نومیږی۔ ساجدی۔ دیو بنځی شیدی ورودلی لیکن عباس نه دی رودلی نو غه بنځه چه ساجدی ته ټی ټی ورکړیدی د عباس سره نکاح کولای سی۔ (هدایه ص۳۳۱ دوهم پتوک و بحر الرائق ص۲۲۳ دریم پتوک)

(۱۸) مسئلہ:۔ د عباس زوی د زاهدی ټی ورودی نو د زاهدی نکاح د عباس سره کیدای سی۔ (شرح الوقایة ص۶۷ دوهم پتوک و بحر الرائق ص۲۲۷ دریم پتوک و هدایة ص۳۳۲ دریم پتوک)

(۱۹) مسئلہ:۔ قادر او ذاکر دوہ وروڼه دی او د ذاکر یوہ رضاعی خور د

یعنی د شید و شریکه خو ر ئ ده نو د قادر سره د دی نکاح کیدای سی البته د
ذاکر سره نه سی کیدای په بنه طریقه او پیر غور سره کان په پوه کړه چونکه
دا رنګه مسئلی ډیری مشکلی او سختی دی څوک ډیر کم په پوهیږی نو
د دی سبب هم دا سی مسئلی ډیری نه لیکو که چیری دیو مسئلی ضرورت
پیښ سی نو باید دیو پوه او غټ عالم څخه ئ پوښتنه وکړی۔ (شرح الوقایه
ص۶۶ دوهم ټوک و بحرالرائق ص۲۲۷ دریم ټوک و هدایة ص۳۳۱ دریم ټوک)

(۲۰) مسئله:۔ یوی ښځی دیوسړی سره نکاح وکړه او بیا یوه بله ښځه راغله وی ویل
چه ما دوی دواړو ته ئ ورکړی دی ماسیوی د دغی ښځی بل هیڅوک د غه خبره
نه کوی یوازی دا وایی او فقط۔ د دغی ښځی د وینا څخه د شید و رودل او ئ
ورکول نه ثابتیږی۔ د دوی دواړو نکاح صحیح ده بلکه هر هغه وخت چه
دوه معتبر او دیندار ه خلګ یا یو دیندار ه سړی او دوی دیندارې ښځې
د ئ ورکولو شاهدی ورکړی بیا نو شیدی ورکول ئ ثابتیږی
اوس نو خامخا نکاح حرامه سوه بیلداسی شاهدی ئ ثبوت نسی کیدای۔
لیکن که فقط دیوه سړی یا دیوی ښځی د وینا څخه یاد دوو (۲) د ر (۳) و ښځو
د وینا څخه زړه شاهدی ورکړی چه دا به رشتیا وایی او ضرور به
داغنی سوی وی په داسی وخت کښی نکاح نه ده په کار چه
خامخا په شک کښی دلویدو او واقع کیدو څه فائده ده که چا نکاح باقی
پریښوده او هغه ئ راوا ده کړه بیا هم خیر دی۔ (شرح البدایه ص۳۳۴ دوهم
ټوک و در مختار ص۲۱۴ دوهم ټوک)

(۲۱) مسئله:۔ د ښځی شیدی په هیڅ د واکښی اچول روانه دی که په پکښی
واچولی اوس نو د دغی دوا خوړل او نګول حرام او ناجائز دی داغه رنګه د
دوا د پاره په ستر ګو یا غوږ وکښی شیدی اچول حرامی دی خلاصه ئ دا
ده چه د انسان د شید و څخه هیڅ قسم نفعه اخستل او په خپل کار کښی
استعمالول روانه دی۔ (رد المحتار ص۱۵۶ څلورم ټوک)

(۱۰) باب د طلاق بیان

(۱) مسئله:۔ هر خاوند چه خوان وی لیونی او پاګل نه وی د ده د طلاق

ورکولو څخه طلاق واقع کیږی او هر هغه هلک چه تراوسه څوان سوی نه وی او لیونی یا ګل چه عقل ئی پرځای نه وی د دوی دواړو د طلاق ورکولو څخه طلاق نه واقع کیږی۔ (هدایة ص۳۳۵ دوهم ټوک ودر مختار ص۲۸۷

(۲) مسئله:۔ دبیدۀ سړی دخولی څخه وو ته چه ته طلاقه یه یا ئی داسی وویل چه زما بنځی ته طلاق دی نو په داسی بی اختیارۀ د خوب په خبروسرۀ طلاق نه واقع کیږی۔ (هدایة ص۳۳۵ دوهم ټوک ودر مختار ص۲۸۷)

(۳) مسئله:۔ یو چاته یو سړی ته وویل چه طلاق واچوه او دغه سړی ئی مجبورۀ کړی طلاق ئی په واچاوی په ډیرئ ووا هی او پیش روئ ورته ووا هی چه که طلاق نه اچوی نو دی وژنم د دغه مجبورۀ د وجهی هغه طلاق واچاوی نو په دغه صورت کی هم طلاق واقع کیږی۔ (شرح البدایة ص۳۳۵ دوهم ټوک۔ و در مختار ص۲۱۷ اول ټوک)

(۴) مسئله:۔ یو چا د شرابو یا د بل داسی شی په نشه کښی خپلی بنځی ته طلاق ورکړی چه پرسد او هوښ سو نو پښیمانه سو بیا هم طلاق واقع سو داغه رنګه په حال کښی د قهر او غضب که طلاق ورکړی هم طلاق واقع کیږی (هدایة ص۳۳۵ دوهم ټوک وشامی ص۴۲۷ دوهم ټوک)

(۵) مسئله:۔ د خاوند څخه علاوه بل چا ته د طلاق ورکولو اختیار نسته۔ البته که خاوند وویل چه ته ودبن ته طلاق ورکړه نو ته هم طلاق ورکولای سی۔ (طحطاوی ص۱۰۶ دوهم جلد در وشامی ص۶۸۵ دوهم ټوک)

(۱۱) باب — د طلاق ورکولو بیان

(۱) مسئله:۔ د طلاق ورکولو اختیار فقط نرلرۀ دی چه سړی طلاق ورکړی نو طلاق واقع سو د بنځی په دغه طلاق کښی هیڅ قدرت او اختیار نسته که ئی قبول کړی او یا ئی نه کړی قبول بس دا حتماً طلاقه سوه او بنځه خپل میړه نه طلاق نه سی ورکولای۔ (در مختار ص۲۱۴ ج ۲ و فتاوی هندیه ص۳۶۶ ج ۲)

(۲) مسئله:- سړی ته فقط دوه(۳) طلاقونو اختیار دی ترڅو نه زیات اختیار نه لری نو که څلور پنځه طلاقه ورکړی بیا هم دریمی(۳) طلاقه واقع کیږی۔ (شرح البدایة ص۳۳۹ د دهم پتوک و در مختار ص۲۱۸ اول پتوک)

(۳) مسئله:- چه سړی په خپله ژبه ووایی چه ما خپلی بښځی ته طلاق ورکړی او په دوندی لوړ آواز سره ئی وویل چه دغه الفاظ ئی خپله واوریدل بس تر دوندی وینا ورسته فوراً طلاق واقع سو۔ برابره خبره ده که دچا په مخ کښی ووایی یا بوازی ووایی که ئی بښځه واوری یا ئی نه واوری په هر حال کښی طلاق واقع سو (در مختار ص۵۵۷ اول پتوک) وعنایه

(۴) مسئله:- طلاق پردری قسمه دی یو دامی طلاق دی چه په دغه سره نکاح بالکل ماتیږی اوس بیله نوی نکاح د دغه خاوند سره ئی او سیدل نارواد ی که بیرته د خاوند سره او سیدل غواړی او خاوند هم پخوښ وی نو به بیرته نوی نکاح کوی دامی طلاق ته طلاق بائن وایی.

دوهم(۲) هغه طلاق دی چه په دغه کښی نکاح دامی ماتیږی که دوهم وار نکاح کول هم وغواړی نو ترعدی تیریدو ورسته به دبل چا سره نکاح کوی او چه هغه ئی بیا طلاقه کړی او عده ئی هم تیره سی نو بیا اول میړه سره نکاح کولای شی دغه طلاق ته طلاق مغلظ ویل کیږی۔

دریم(۳) هغه طلاق دی چه په هغه کښی تر اوسه نکاح ماته سوی نه وی په صاف الفاظو کښی تر یوه(۱) یا دوو(۲) طلاقو ورکولو څخه ورسته که سړی پښیمانه سو نو بیرته نکاح کول ضروری نه ده بیله نکاح ئی د ځانه سره یوځای کولای سی او دده بښځه ده او په شان د میړه او بښځی چه گذاره سره کوی هم صحیح دی البته که سړی طلاق ورکړی او پرځپل طلاق باندی قائم او ثابت پاته سو او د طلاق څخه راونه گرزیدی نو هر وخت چه د طلاق عده تیره سی نو هغه وخت نکاح ماتیږی او بښځه به خندی جلا کیږی۔ ترڅو چه د طلاق عده تیره سوی نه وی تر هغه وخته پوری د ځان سره د او سیدلو نه او سیدلو د دواړه اختیار لری و داسی طلاق ته طلاق رجعی ویل کیږی البته که چیری دری طلاقه ورکړی نو بیا اختیار نه لری۔ (شرح البدایة د ص۳۷۸ څخه تر ص۳۷۹ پوری د دهم پتوک)

⑤ مسئله :- د طلاق ورکولو دوه قسمه دی یو دا دی چه په صاف الفاظو کښی وایی چه ما تا نه طلاق درکړی دی یا داسی وایی چه ما خپلی ښځی ته طلاق ورکړیدی غرض دا چه داسی صاف خبره وکړی چه په دغه کښی د د طلاق ورکولو څخه ما سیوای بله خبره نه جوړیږی داسی طلاق ته طلاق مړج ویل کیږی - (شرح التنویر ص۲۱۸ اول پتوک ودر مختار ص۲۲۳ اول پتوک)

دوهم قسم دا دی چه صاف صاف لفظونه نه وی بلکه داسی الفاظ وایی چه طلاق هم څنډی مراد کیدای سی او د طلاق څخه علاوه بله معنی هم څنډی مراد کیدای سی مثلاً یو څوک وایی چه ما ته لیری کړی ئ د دی مطلب خو یو دا دی چه ما تا ته طلاق درکړی دی - (عالمگیری ص۶۹ دوهم پتوک) دوهم مطلب ئ دا دی چه طلاق می نه دی درکړی لیکن تا د خپله ځانه سره نه پریږدم همیشه د خپل پلار په کور کښی اوسه ستا په حال ځان نه خبروم یا داسی وایی چه ستا زما سره هیڅ علاقه نشته زما ستاسره هیڅ مطلب نشته - زما څخه جلا سوی - ما ته جلا کړی - ما ته جدا کړی - زما د کور نه وتلا کړه سه ودرنه - لیری سه - هسته سه - د خپل مور او پلار سره کښینه - خوهسی زما څخه ولاړه سه - خپل کور ته ولاړه سه - زما د ستا جوړه او روغه نه کیږی - د داسی قسم څخه نور الفاظ دی چه د دی د وه مطلب کیدای سی دا رنګه طلاق ته طلاق کنایه وایی - (عالمگیری ص۶۹ دوهم پتوک و هدایه ص۳۵۲ دوهم پتوک)

⑥ مسئله :- که په صاف صاف الفاظو کښی طلاق ورکړی صاف صاف الفاظ خو دا معنی ورته چه بیله طلاقه بله معنی نه لری نو د ژبی څخه د وتلو سره سم دم طلاق واقع سو - برابره خبره ده که د طلاق ورکولو نیت وی یا نه وی بلکه په خندا او مسخرو کی ئ ویلی وی په هره طریقه سره طلاق واقع کیږی او په صاف الفاظو چه طلاق ورکړی نو درې یم قسم طلاق واقع کیږی - چه هغه ته طلاق رجعی ویل کیږی یعنی د طلاق د هدی ترخمیدو پورې اختیار لری چه بښځه د ځان سره پریږدی او که ئ نه پریږدی او په یو(۱) وار دینا سره یو طلاق واقع کیږی د دوه(۲) او درې(۳) طلاقه نه واقع کیږی البته که درې(۳) وارې وایی یا داسی وایی چه تا ته ئ درې طلاقه درکړه بیا نو درې

طلاقه واقع سوه - (زیلعی ص۱۹۲ دوهم پتوک و فتاوی هندیة ص۳۷۱ و ص۳۶۸ وبدائع ص۱۰۹ دریم پتوک)

(۷) مسئله:- یو چا یو طلاق ورکړی تر څو چه بنځه په عدة کښی وی - د دوهم طلاق او دریم طلاق د نورو دورکولو اختیار لری که ئی ورکړی نو واقع به سی - (شرح التنویر ص۲۲۵ دوهم پتوک وردالمحتار ص۷۲۳ دوهم پتوک)

(۸) مسئله:- یو چا داسی وویل چه تاته دی ورروسته طلاق درکوم نو په دغه سړه طلاق نه واقع کیږی - داغه رنګه که پریوکار او خبره داسی ووایی چه که تا فلانی کار وکړی نو طلاق درکوم نو په دغه سړه هم طلاق نه واقع کیږی برابره خبره ده که هغه کار وکړی یا ئی نه وکړی - هو - که دابی ووایی چه که دی فلانی کار وکړی ته طلاقه ئی نو د داغه کار په کولو سره طلاق واقع کیږی - (حامدیه ص۳۸ اول پتوک)

(۹) مسئله:- که چا طلاق ورکړی او انشاء الله ئی ورسره وویل نو طلاق نه واقع کیږی او داغه رنګه که ئی داسی وویل چه که خدای وغواړی ته طلاق دی په دغه سړه هم هیڅ قسم طلاق نه واقع کیږی البته که ئی طلاق ورکړی څه لږ وخت وروسته ئی بیا انشاء الله تعالی وویل نو طلاق واقع سو - (شرح البدایة ص۳۶۹ دوهم پتوک)

(۱۰) مسئله:- که چا وخپلی بنځی ته نغره ورکړه چه ای طلاقی بیا هم طلاق واقع سو که څه هم په خندا او مسخرو کښی ورته ووایی - (فتاوی هندیة ص۳۷۰ دوهم پتوک)

(۱۱) مسئله:- یو چا خپلی بنځی ته وویل چه که ته د قندهار بنار ته ولاړی نو ته طلاقه ئی تر هرهغه وخته چه د اد قندهار بنار ته نه وی تللی طلاق نه واقع کیږی هروخت چه ولاړه سی بیا طلاق واقع کیږی - (شرح البدایة ص۳۴۳ ج۲)

(۱۲) مسئله:- که ئی صاف صاف طلاق ورنکړی بلکه احتمالی الفاظ ئی ووایل او په اشاره او کنایه سړه ئی طلاق ورکړی که ئی د دغو الفاظو د ویلو په وخت کښی

د طلاق ورکولو نیت وُ نو طلاق واقع سو او هم اول قسم طلاق واقع سو چه هغه طلاق بائن دی - نو بیله بلی نوی نکاح څخه بنځه د ځانه سره نسی یو ځای کولای که ئی د طلاق نیت نه وُ بلکه د بلی معنی په اعتبار ئی ویلی وه نو طلاق واقع نه دی البته که په یو علامه او قرینه معلوم سی چه خالص د طلاق ورکولو نیت ئی وُ نو دی د رواغ وایی بنځه دی د د کا سره نه پاتیږی او داسی دی دگهنی چه ماته طلاق راکړل سو - مثلاً بنځی ئی په غصه کښی وویل چه زما او ستا جوړه نه کیږی ماته طلاق راکړه د وویل چه بنه دی مایږی ایښی یی نو بنځه دی دا سی وگنهی چه ماته طلاق راکړه سو - (شرح البدایه صـ۳۵۴ دوهم ټوک و در مختار صـ۲۳۵ اول ټوک)

(۱۴) مسئله :- یو چا د (۲) ری وارو وویل چه تاته طلاق طلاق طلاق دی نو د (۲) ری سره طلاقه واقع سوه لیکن که ئی نیت صرف دیوه طلاق وو فقط د مضبوطی د پاره ئی د (۳) ری وارو ویلی وی نو صرف یو طلاق واقع کیږی - او داغه رنگه که ئی په غیر صاف الفاظو د (۳) ری وارو وویل نو هم د ری طلاقه واقع سوه که ئی نیت صرف دیوه طلاق وی فقط د مضبوطی د پاره ئی د ری وارو ویلی وی چه خبره بنه پخه سی نو صرف یو طلاق واقع کیږی لیکن بنځی ته خو دده د ډیره حال معلوم نه دی نو داسی دی وبولی چه دی ته د ری طلاقه ورکړه سوه - (در مختار صـ۲۲۳ اول ټوک)

(۱۲) دوادیه کید و څخه مخکښی د طلاق بیان — باب

(۱) مسئله :- تر اوسه لاد خاوند کور ته راوادره سوی نه د ه چه د ه بیا طلاق ورکړی یا راوادره سوی خو ده لیکن تر اوسه د خاوند او بنځی تنهائی او یو ځایوالی نه وُ سره راغلی هغه تنهائی او یو ځای والی چه په شریعت کښی معتبر دی چه بیان ئی د مهر په باب کښی وسو نو تر دغی تنهایی او یو

۳ الطلاق (هندیة) ۱۲ عبد الستار عفی الله تعالی عنه

څای وائی مخکښی ئی طلاق ورکړی وی نو په دغه دواړو صورتو کښی طلاق بائن واقع کیږی برابره خبره ده که ئی په صاف الفاظو طلاق ورکړی وی یا په غیر صاف الفاظو طلاق ورکړی وی د غصی ښځی ته چه څه وخت طلاق ورکړه سی نو دا ته یعنی طلاق بائن واقع کیږی اوده داسی ښځی د پاره د طلاق عده هم نسته نو طلاق ورکولو وروسته فوراً او سمدستی دبل سړی سره نکاح کولای سی. او د غصی ښځی نه تر یوه طلاق ورکولو وروسته اوس دده هم درېیم طلاق ورکولو هم اختیار نسته که ئی ورکوی نه واقع کیږی البته که په اول وار کښی داسی ورته ووایی چه تاته می دوه طلاقه یادری طلاقه درکړی دی نو هرڅو چه ئی ورته ډیلی دی نه تول واقع کیږی اوکه ئی داسی وویل چه تا لره طلاق دی طلاق دی طلاق دی بیا هم د غصی ښځی د پاره یو طلاق واقع کیږی۔ (فتاوی هندیه ص۳۹۱ دوهم توک)

لوټ:۔ دوهم نمبر مسئله:۔ د حضرت مولانا اشرف علی صاحب پـه اجازه سره حذف سوه وجه د حذف اوددی په بارہ کی مفصل کلام په ضمیمه کښی وگورئ چه دغه وجه د حذف اوغیره په ص۱۲۲ ص۱۲۳ ص۱۲۴ ص۱۲۵-۱۲۶ کښی ذکر سوی دی۔ اوددی عنوان درېیمه مسئله پـه لاندی عنوان کښی وگورئ۔

دواړه کیدو څخه وروسته د طلاق بیان

(۳) مسئله:۔ دواړه کیدلو د ښځی اوخاوند د تنهایی سره که صحبت او نژدیکت هم موجود سوی وی نژدغه وروسته که یو یادوه طلاقه پـه صاف لفظونو کی ورکړی نو طلاق رجعی واقع کیږی اوکه پـه غیر صاف لفظونو

---

۱ د مسئلی د لیکلو وخت د ۱۳۴۶ هـ کال دی ۲ د ښځی د ۳ د برابر کړی اوعنوان ئی هم ورته تبدیل کړی فقط احمد

کی طلاق ورکړی نو طلاق بائن واقع کیږی په رجعی کښی د رجوع حق سته او په طلاق بائن کښی د رجوع حق نسته - البته که ئی دری طلاقه ورنه کړل نو د دغه سړی سره نوی نکاح (په شرط د دی چه خاوند او ښځه د واړه سره (راضی وی) په عده کښی د ننه هم کیدای سی او ترعدی ورو سته هم کیدای سی او د بل سړی سره ورو سته ترعدی نکاح کیدای سی او عده په هر صورت کښی لاړ مه ده او ترڅو پوری چه عده ختمه سوی نه وی د دهم او د ریم طلاق هم ورکول کیدای سی که یواځی والی او یوځای والی د رنګه موجود سوی وی چه د صحبت او نژدیکت کږلو څخه یو مانع شرعی یا طبعی موجود نه وی لیکن صحبت او نژدیکت سوی نه وی نو په دی صورت کښی که په صاف و الفاظو کښی طلاق ورکړه سی یا په غیر صاف و لفظو نو کښی طلاق ورکړه سی په دواړو صورتو نو کښی طلاق بائن واقع کیږی او عده هم واجبیږی او د رجوع کولو حق نسته او بیله عدی پوره کولو د بل چا سره هم نکاح نسی کولای - لیکن د دغه سړی سره (کوم چه دی ته طلاق ورکړی دی) یا د دهم وار په عده کښی د ننه او د عدی ترختمیدو وروسته په دواړو صورتو کښی نکاح کولای سی - لیکن شرط ئی دا دی چه دری(۳) طلاقه ئی نه وی ورکړی (هدایة ص۳۲۹ و ص۳۵۴ د دهم ټوک و عالمګیری ص۳۷۸ اول ټوک مصری و در مختار ص۹۸ د دهم ټوک و رد المحتار باب الرجعة ص۸۷ د دهم ټوک)

(۱۳) ددری طلاقو نو د ورکولو بیان — باب

(۱) مسئله:- یو چا خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړه نو د غه ښځه بالکل د د اغه سړی د پاره حرامه سوه که بیرته نکاح ورسره وکړی هم د د غی ښځی او سیدل د د غه سړی سره حرام دی او نکاح ئی نه صحیح کیږی. برابره خبره ده که په صاف و الفاظو کښی د ری طلاقه ورکړی یا په غیر صاف و الفاظو کښی دری(۳) طلاقه ورکړی د ټولو حکم یو دی - (شرح البدایة ص۳۷۹ د دهم ټوک

و در مختار ص۲۴۰ اول ټوک) که بیرته د داغه سړی سره او سیدل و غواړی او نکاح کول و غواړی نو دد غه ځان یو صورت دادی چه اول دبل سړی سره نکاح وکړی او نژدیکت هم ورسره وکړی بیا چه هغه سړی مړ سی یا طلاق ور کړی نو عدې دی پوره کړی بیا دا اول سړی سره نکاح کولای سی که ئی ددو هم سړی سره نکاح وکړه لیکن هغه نژدیکت نه وو ورسره کړی چه مړ سو یا ئی تر نژدیکت مخکښی طلاق ورکړی نو ددی هیڅ اعتبار نسته د اول خاوند سره نکاح کول روانه دی د اول خاوند سره نکاح هغه ډخت روا دی چه د دوهم میړه نژدیکت ورسره وکړی ښه ځان په پوه کړه چه ډیره د احتیاط مسئله ده۔ (شرح البدایة ص۳۷۹ د دوهم ټوک)

(۲) مسئله:۔ چه درې(۳) ی طلاقه یو دم ورکړی مثلاً دا می ووایی چه تا لره درې(۳) طلاقه دی یا دا می ووایی چه تا لره طلاق دی طلاق دی طلاق دی یا جلا جلا درې طلاقه ورکړی مثلاً یو ځل ورکړی یو سبا ورکړی او یو بل سبا ورکړی یا یو په داغه میاشت کښی یو په د و همه میاشت کښی یو په درېمه میاشت کی یعنی په عدې کښی د ننه د ننه درې طلاقه ورکړی د ټولو یو حکم دی او په صاف لفظونو کښی چه طلاق ورکړی نو د ځان سره د پاته کولو اختیار ئی هلته دی چه یو یا دوه طلاقه ورکړی درې طلاقه ورنه کړی کله چه درې طلاقه ورکړی بیا هیڅ نه سی کولای۔ (فتاوی هندیة ص۳۷۱ د دوهم ټوک و زیلعی ص۲۵۱ و ص۲۵۷ د دوهم ټوک)

(۳) مسئله:۔ یو سړی د خپلی ښځی ته یو طلاق رجعی ورکړی بیا خاوند بیرته راضی سو ښځی ته ئی رجوع وکړه په خپل کور کښی ئی د ځان سره کړه یعنی خپله ښځه ئی و بلله بیا تر درې ځلور کالو ورو سته پریوځی په قهر سو۔ یو طلاق رجعی ئی بل ورکړی چه په دغه کښی ښځی ته بیرته رجوع کولای سی بیا چه یو وخت ئی قهر لیږی سو نو ئی رجوع ورته وکړه ایله ئی نه کړه دا د ده طلاقه خو پوره سوه او س نو تر دغه ورو سته که یو وخت یو بل طلاق ورکړی نو درې طلاقه پوره کیږی نو د دی طلاقو نو هغه حکم دی چه موږ اوس بیان کړی چه بیله بله خاوند ته د اول خاوند سره نکاح نه سی کولای۔

داغه رنګه که چا طلاق بائن ورکړی چه په دغه کښی بیا خپلی ښځی ته رجوع نه سی کولای او نکاح ئی ماتیږی بیا پښیمانه سو او خاوند او ښځه سره راضی سوه بیرته ئی نوی نکاح و ترله تر یوځه وخت وروسته بیا قهر ورته راغلی او یو طلاق بائن ئی بل ورکړی او تر قهر وروسته ئی بیا نکاح سره و ترله داد(۲)ه طلاقه سوه اوس نو که دریم وار طلاق ورکړی نو بیا هغه حکم دی ترڅو پورې چه بل خاوند ئی کړی نه وی د اول خاوند سره نکاح نه سی کولای - (فتاوی هندیة ص۳۷۱ دوهم ټوک وزیلعی ص۲۵۱ وص۲۵۷ دوهم ټوک)

(۴) مسئله :- که دد وهم ډګړی سره پرد غه شرط نکاح وسوه چه نژدیکت به ورسره کوی بیا به ئی پریږدی نو د غه اقرار اخستلو هیڅ اعتبار نسته ده ته اختیار دی که ئی ایله کوی او که ئی نه ایله کوی او هر وخت چه ئی زړه غواړی ایله دی کړی د غه رنګه اقرار کول او بیا نکاح کول ډیره ګناه او حرامه ده د خدای د طرفه ځخه لعنت پرکیږی لیکن نکاح بیا هم صحیح کیږی نو که تر د غه نکاح وروسته دوهم خاوند نژدیکت ورسره وکړی بیا ئی ایله کړه یا مړ سو نو د اول خاوند دپاره حلاله ده - (در مختار علی الشامی ص۸۸۹ دوهم ټوک)

(۱۴) په یو شرط سره د طلاق ورکولو بیان باب

(۱) مسئله :- تر نکاح کولو مخکښی ئی یو ښځی ته وویل که ما ستا سره نکاح وکړه نو ته پر ما طلاقه ئی نو هر وخت چه د دغی ښځی سره نکاح وکړی نو د نکاح کولو سره سم دستی طلاق بائن واقع کیږی اوس نو بیا له بلی نوی نکاح دده سره او سیدلی نه سی - او که ئی دا سی ورته وویل که می ستا سره نکاح وکړه نو تا لره دوه طلاقه دی نو دوه طلاق بائن واقع کیږی او که ئی درې طلاقونه ورته ویلی وی نو درې(۳)ی سره طلاقونه واقع کیږی اوس نو مطلقه مغلظه سوه - (شرح البدایة ص۱۶۵ دوهم ټوک)

(۲) مسئله :- چه د نکاح کولو سره متصل پرد ی طلاق واقع سو نو چه د دی د دغی ښځی سره دوهم وار بیا نکاح وکړی نو اوس د دی دوهمی نکاح کولو ځخه بل طلاق نه واقع کیږی - هو - که ئی دا سی ویلی وی چه هر څوندی

وایه چه ستا سره نکاح وکړم هروار تالره طلاق دی نوهروار چه نکاح کوی طلاق
درسره واقع کیږی نو اوس د دغی ښځی د دغه سره دپاته کیدو یعنی چه د دغه خپله
ښځه سی هیڅ صورت نشته چه بل د دهم خاوند وکړی ترهغه وروسته بیا
د دغه سړی سره نکاح وکړی بیا هم د نکاح کولوسره سم دم طلاق واقع کیږی۔
(هدایه ص۳۲۵ دوهم جلد)

(۳) مسئله:۔ یو چا دویل چه د دهری ښځی سره که می نکاح وکړه هغی لره
طلاق دی نو د هری ښځی سره چه نکاح کوی پرهغی طلاق واقع کیږی البته که
د طلاق واقع کیدو څخه وروسته بیائی د دغی ښځی سره نکاح وکړه نو طلاق نه
واقع کیږی۔ (فتاوی هندیه ص۴۳۵ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:۔ یو بیګانه ښځه د چه تر اوسه د نکاح نه د وه وسره کړی۔ دا رنګه
ئی ورته وویل که ته فلانی کار وکړی نو ته طلاقه ئی د دی هیڅ اعتبار نشته که
ئی د دی سره نکاح وکړه او تر نکاح وروسته هغی هغه فلانی کار وکړی هم طلاق نه
واقع کیږی ځکه چه د بیګانه او پردی ښځی ته د طلاق ورکولو د دغه صورت دی
چه دغه ورته ووایی چه که می ستا سره نکاح وکړه نو ته طلاقه ئی بل قسم طلاق
نه سی واقع کیدای۔ (شرح البدایة ص۳۶۵ دوهم ټوک)

(۵) مسئله:۔ اوکه ئی خپلی ښځی ته وویل که تا فلانی کار وکړی نو تالره طلاق دی
که ته زما څخه ولاړی تالره طلاق دی که ته د دغه کور نه ولاړی تالره طلاق
دی یا د یو بل کار په کولو سره ئی طلاق درکړی نو هروخت چه هغه کار وکړی بیا
نو طلاق واقع کیږی اوکه ئی نه وکړی بیا نه واقع کیږی او هم طلاق رجعی واقع
کیږی چه په طلاق رجعی کښی بیا له نوی نکاح څخه و دی ته رجوع کولای سی
البته که ئی غیر صاف الفاظ وویل مثلاً داسی ئی وویل که ته فلانی کار وکړی نو
زما او ستا هیڅ کار نشته سړه۔ نو هروخت چه هغه کار وکړی بیا نو طلاق بائن
واقع کیږی په شرط د دی چه سړی د دغه لفظ د ویلو په وخت کښی د طلاق
نیت وکړی۔ (شرح البدایة ص۳۵۴ دوهم ټوک)

(۶) مسئله:۔ که ئی داسی وویل که ته فلانی کار وکړی نو تالره دوه (۲) طلاقه
دی یا درې (۳) نو هرځوند ی طلاقونه چه ووایی۔ هغوندی واقع کیږی (شرح البدایة
ص۳۵۴ دوهم ټوک)

(۷) مسئله:- خپلی بنځی ته ئ وویل که ته دغه کورته ولاړی تالره طلاق دی اوداولاړه نو طلاق واقع سو- بیا په عده کښی د ننه د ننه ده رجوع ورته وکړه یا ئ بیرته نکاح ورسره وکړه نو اوس که بیا هغه کورته ورسی طلاق نه واقع کیږی البته که ئ داسی ورته ویلی وه چه هرواړ دغه کورته ولاړه سی نو هرواړ تالره طلاق دی په دغه صورت کښی په عده کښی د ننه یا بیا تر نکاح کولو وروسته دوهم واړ د دغه کور دورنگ څخه دوهم طلاق واقع کیږی بیاکه په عده کښی د ننه یا تر دریمه نکاح وروسته کړیم واړ دغه کورته ورسی نو دریم طلاق واقع کیږی اوس نو تر دریو طلاقو وروسته ددی سره نکاح روا نه ده البته که دوهم خاوند وکړی تر هغه وروسته بیا داول خاوند سره نکاح وکړی بیا د دغه کور دورنگ څخه طلاق نه واقع کیږی- (هدایة ص۳۶۶ وص۳۶۹ دوهم ټوک)

(۸) مسئله:- یو چا وخپلی بنځی ته وویل که تا فلانی کار وکړی نو تالره طلاق دی تراوسه دی هغه کار نه وکړی چه ده د خپله طرفه څخه یو ښل طلاق ورکړی او ایله ئ کړه او تریوځه وخت وروسته ئ بیا د دغی بنځی سره نکاح وکړه او تردی دوهم واړ نکاح وروسته ئ هغه کار وکړی نو بیا طلاق واقع سو- البته که ئ تر طلاق او عدی تیرید وروسته او تر دغه نکاح مخکی هغی بنځی هغه کار وکړی نو اوس تر دغه نکاح وروسته د دغه کار په کولو سره طلاق نه واقع کیږی او که تر طلاق وروسته په عده کښی د ننه دی هغه کار وکړی نو هم دوهم طلاق واقع سو- (در مختار برحاشیه شامی ص۸۱۷ دوهم ټوک)

(۹) مسئله:- یو چا خپلی بنځی ته ویلی وه چه هروخت تاته حیض راسی تالره طلاق دی تر دغه وروسته ئ وینی ولیدلی نو سمدستی د طلاق حکم نه کوو چه پوره دری ورځی او شپی وینی جاری وی- نو تر دری ورځو او شپو وروسته د دغه حکم لګوو چه د هروخت څخه ئ وینی جاری سوی وی د هغه وخت څخه طلاق واقع سویدی اوله ئ داسی وویل چه هروخت تالره یو حیض راسی نو تالره طلاق دی- نو د حیض د خمید و سره طلاق واقع کیږی- (عالمګیری ص۴۵۲ اول ټوک مصری)

(۱۰) مسئله:- که یو چا خپلی بنځی ته دیلی وه که ته روژه ونیسی نو تالره طلاق دی نو مړه د روژی په شروع سره طلاق واقع کیږی البته که ئی داسی ویلی وه که ته یوه روژه ونیسی یا تولـه ورځ روژه ونیسی نو تالره طلاق دی نو دیوی روژی په شولو اوختم کولو سره طلاق واقع کیږی که روژه پوره نه کړی او ماته ئی کړی نو طلاق نه واقع کیږی۔ (شرح البدایة صـ۳۶۲ ج۲)

(۱۱) مسئله:- بنځی د کور څخه د باندی د تلو اراده وکړه نو سړی ورته ووایل چه اوس مه څه بنځی نه و منله پر داغه باندی سړی ورته ووایل چه که ته د باندی ځی نو تالره طلاق دی د دی حکم دادی چه که اوس د باندی ولاړه سی نو طلاق واقع کیږی او که اوس نه ولاړه لږ ساعت ورو سته ولاړه نو طلاق نه واقع کیږی ځکه چه دده مطلب خو داوُ چه اوس مه څه راوګرزه دا مطلب ئی نه دی چه په ټول عمر کښی هیڅ وخت او یو وخت مه څه۔ (در مختار صـ۱۲۹ د ریم توک)

(۱۲) مسئله:- یو چا داسی ووایل چه په کُومه ورځ چه ستا سره نکاح وکړم نو تالره طلاق دی نو بیائ د شپی نکاح ورسره وکړه هم طلاق واقع کیږی ځکه چه په خبرو اترو کښی دده غه مطلب دادی چه هر وخت ستا سره نکاح وکړم تالره طلاق دی۔ (شرح البدایة صـ۳۴۶ دوهم توک)

(۱۵) دمریض د طلاق بیان — باب

(۱) مسئله:- د مریض په حالت کښی یو چا خپلی بنځی ته طلاق ورکړی چه د بنځی عده تر اوسه ختمه سوی نه وه نو دی په دغه مریضی کښی مړسو نو د میړه د مال څخه چه هر څوندی حصه د بنځی وی هغه پوره حصه اوس د دغی بنځی ته ورکول کیږی۔ برابره خبره ده که ئی یو طلاق ورکړی وی یا دوُه یا درُی طلاقه ئی ورکړی وی که ئی طلاق بائن ورکړی وی یا ئی طلاق رجعی ورکړی وی د ټولو یو حکم دی او که عده تیره سوی وه بیا هغه مړسو نو په میراث کښی حصه نه سی پیدا کولای۔ داغه رنګه که سړی په دغه مریضی کښی مړ نه سو بلکه د دغه مریضی څخه بنه سوی وُ بیا مریض سو او مړسو بیا هم حصه نه سی

پیدا کولای برابره خبره دی که ئی عده ختم سوی وی یا نه وی۔ (شرح البدایة ص۲۷۰ دوهم توک ودر مختار ص۲۳۶ اول توک وفتاوی هندیة ص۴۸۳ دوهم جلد)

(۲) مسئله:۔ بنځی د طلاق خوښتنه کړی وه نو له داغه سببه خاوند ئی طلاق ورکړی وُ نو هم بنځه د حمی پیدا کولو حق نه لری برابره خبره دی که په عده کښی د ننه مړه سی یا تر عدی وروسته مړه سی د دواړو یو حکم دی۔ البته که ئی طلاق رجعی ورکړی وی او په عده کښی د ننه مړه سی نو په میراث کښی د حمی حق لری۔ (شرح البدایة ص۲۷۱ دوهم توک وفتاوی هندیه ص۴۸۳ دوهم توک)

(۳) مسئله:۔ د مریضی په حالت کښی ئی بنځی ته وویل که ته دکور د باندی ولاړی تا لره طلاق بائن دی نو بیا بنځه دکور څخه د باندی ولاړه وطلاق بائن واقع سو په دغه صورت کښی ئی د میراث حسه نسته حکه دې داسی کار ولی ورکړی چه په هغه سره طلاق واقع سو که ئی داسی ورته وویل که تا خورک ورکړی تا لره طلاق بائن دی یا ئی داسی ورته وویل که تا لمونځ ورکړی تا لره طلاق بائن دی په داسی صورت کښی که په عده کښی د ننه مړه سی نو بنځی ته حصه د میراث ورکول کیږی حکه چه طلاق خو د بنځی په اختیار نه دی واقع سوی خورک کول لمونځ کول ضروری دی دغه ئی څنګه پری ایښی وای او که ئی طلاق رجعی ورکړی وو نو په اول صورت کښی هم که په عده کښی د ننه د ننه مړه سی حصه د میراث ورکول کیږی۔ غرض دا دی چه د طلاق رجعی په صورت کښی په هر حال کښی دی ته حصه د میراث ورکول کیږی۔ په شرط دی چه په عده کښی د ننه د ننه مړه سی۔ (شرح البدایة ص۲۷۲ دوهم توک و فتاوی هندیة ص۴۸۶ دوهم توک)

(۴) مسئله:۔ یو روغ او جوړ سړی وویل چه هر وخت ته دکور څخه د باندی ووزی نو تا لره طلاق بائن دی نو هغه وخت چه دا دکور څخه وتله خاوند ئی مریض وو او په دغه مریضی کښی په عده کښی د ننه د ننه مړه سو۔ بیا هم حصه د میراث نه ورکول کیږی۔ (شرح البدایه ص۲۷۲ دوهم توک وفتاوی هندیه ص۴۸۶ دوهم توک)

ل د دی څخه مراد طلاق بائن دی ۱۲ ل برابره خبره دی که دغه څیله طلاق ورکړی وی یا د بنځی په خوښته ئی ورکړی وی برابره خبره ده که ئی طلاق رجعی خوښتی وی یا ئی بائن خوښتی وی ۱۲

⑤ مسئله:- د جوړ والي په وخت کښې ئې ويلي وه چه هر وخت ستا پلار د سفر څخه راځي تالره بائن طلاق دې هر وخت چه ئې پلار د مسافرۍ څخه راځلی په دغه وخت کښې خاوند د بنځې ناجوړه وګوري او په دا غه مريضي کښې مړ شو نو ميراث حصه نه ورکول کيږي او که ئې د مريضي په حال کښې دغه ويلي وي او په دا غه مريضي کښې چه عدت لا نه وه پوره سوی مړ سو نو حصه ورکول کيږي۔ (فتاوی هندية ص۴۸۶ دوهم جلد و شرح البداية ص۳۷۲ دوهم ټوک)

(۱۶) باب په طلاق رجعي کښې د رجوع کولو بيان

① مسئله:- هر هغه وخت چه يو چا يو طلاق رجعي يا دوه طلاق رجعي خپلې بنځې ته ورکړه نو د هدې تر تيريدو مخکښې مخکښې سړی ته اختيار دی چه رجوع ورته وکړی بيا د نکاح کولو ضرورت نسته برابره خبره ده که بنځه راضي يا ناراضه وی د دې هيڅ اختيار نسته او که ئې درې طلاقه ورکړه نو د دغه حکم مخکې بيان سو په هغه کښې دغه اختيار نسته۔ (شرح البداية ص۳۷۳ دوهم جلد)

② مسئله:- چه طلاق رجعي ورکړی او بيرته خپلې بنځې ته رجوع کوی ايله کوی ئې نه - خپله بنځه ئې بولی نو د دې رجوع[1] طريقه داده چه يا صاف صاف په ژبه سړه ووايي چه زه تا بيرته د ځان سره کوم نه دې ايله کوم يا داسې ووايي چه زه پخپله نکاح کښې تا ته رجوع کوم يا و بنځې ته نه ووايي وبل چا ته ووايي ما خپله بنځه د ځانه سره کړه نه ئې ايله کوم او طلاق ئې پرېښو وی بس د دا غه قدر ويناځخه هغه بيرته د د ه بنځه سوه يا په ژبه سره خو هيڅ ونه ووايي ليکن د دې سره نژدې کت وکړی مچه څنډې وا خلی مينه او محبت ورسره وکړی يا په شهوت او شوق سره لاس ورورې نو په دې ټولو صورتونو کښې هغه د د ه بنځه سوه۔ بيرته د نکاح کولو ضرورت نسته۔ (فتاوی هندية ص۴۸۹ دوهم ټوک و شرح البداية ص۳۷۹ دوهم ټوک و عالمګيری ص۴۹۷ اول ټوک

[1] د رجعت طريقه دسنت سره برابره داده چه په ژبه سره د رجعت الفاظ ووايي او پرخپل رجعت دوه شاهدان ونيسي ۱۲ اللهم اغفر لکاتبه ووالديه وارحمهما وعليه امين

④ مسئله:- چه بیرته ئې بښځې ته د رجوع کولو خیال وی نو ښه داده چه دری خلور کسان شاهدان کړی حُکه کیدای سی چه یو وخت ئې جگړه راسی. بیا انکار یو د دوی د دغه قسمی څخه وکړی نو شاهدان به شاهدی ادا کړی د دوی دا انکار لاړ به بنده سی که شاهدان نه وی صرف په تنهائی کښی رجوع ورته وکړی هم صحیح دی حُکه مقصد خو حاصل سو (مجمع الانهر ص۴۲۳ ج۱)

④ مسئله:- که د بښځې عده تیره سی بیا دئې رجوع کول وغواړی اوس نو هیڅ نه سی کولای او س که ئې بښځه منظور کړی او راضی سی نو بیرته به نوی نکاح د سره وکړی بیله نکاح ئې د ځان سره نه سی یو ځای کولای که ئې د ځانه سره یو ځای هم کړی نو بښځې لره د دغه سره اوسیدل په شان د هیڅ او مایني روا نه دی. (شرح ملتقی ص۴۳۲ اول پتوک و شلبی ص۲۵۶ دوهم پتوک)

⑤ مسئله:- هر هغې بښځې ته چه حیض ورځې د دی د پاره د طلاق عده د حیضه ده چه د حیضه پوره سی نو عده تیره سوه چه دا خبره معلومه سوه نو اوس پوه سه که د دریم حیض پوره لس ورځې ورته راغلی وی نو چه هر وخت د ینی بندی سوی اولس ورځې پوره سوی په دغه وخت کښی عده ختمه سوه او د رجوع کولو اختیار چه سړی ته وو هغه ختم سو برابره خبره ده که بښځې غسل کړی وی یا نړاو سه ئې غسل نه وی کړی د دغه هیڅ اعتبار نسته او که ئې د دریم حیض تر لسو ورځې کم وُو او د ینی بندی سوې لیکن بښځې لا غسل نه وو کړی او نه یو لمونځ د دی پر ذمه واجب سوید ی نو اوس لا سړی د رجوع اختیار لری نو چه اوس هم خپل قصدا و طلاق پریږدی نو داد ده بښځه سوه نوی نکاح ته ضرورت نسته البته که د دینو پریښدید و د دی غسل وکړی یا ئې غسل نه وکړی لیکن د لمانځه وخت تیر سو یعنی د یوه لمانځه را گرزول د دی پر ذمه واجب سو په دی د واړه صورتونو کښی د سړی د رجوع اختیار ختمیږی اوس نو بیله بلی نوی نکاح بښځه د ځان سره نه سی یو ځای کولای. (عالمگیری ص۵ اول پتوک)

⑥ مسئله:- هغه بښځه چه خاوند محبت او نژدیکت ورسره کړی نه وی که څه هم د دوی دوو په منځ کښی تنهائی او یو ځای والی راغلی وی چه دی ته یو طلاق ورکړه سی نو بیا خاوند رجوع نسی ورته کولای حُکه چه داسی بښځې

ته چه هر طلاق د رکړه سی نو بائن واقع کیږی لکه چه مخکی بیان سوښه
ئی یاد کړه - (در المختار علی الشامی مصری ص۷۴۷ و ص۷۴۸ اول ټوک (جلد)

(۷) مسئله :- که د واړه یوازی یو ځای سره پاته سول لیکن سړی وایی چه
ما نړۍ دیکت نه دی ورسره کړی بیائی نړۍ دغه اقرار ورو سته طلاق ورکړی
نو اوس د طلاق څخه د اګر نړید و اختیار د ده نسته یعنی رجوع نه سی
ورته کولای - (در المختار علی الشامی مصری ص۸۸۱ د وهم ټوک)

(۸) مسئله :- هغه ښځه چه د پ ته یو یاد وه طلاقه رجعی ورکول سوی
وی چه په دغه کښی سړی بیرته رجوع کولای سی نو دغسی ښځی لره
مناسب دی چه په ښه زیب سنګار او ځان برابر ولو سره ګذاره وکړی ځکه
کیدای سی چه د خاوند به ئی بیرته شوق ورته پیدا سی او زړه به
ئی ورسره وغواړی او رجوع به ورته وکړی اوکه چیری د سړی قصد او
اراده د رجوع نه وی نو ده ته په کار دی چه هر څخه کو رته راځی
نو مخکښی پټو خل او غاړی تاړه کول وکړی بیا راسی ولی که چیری د دی
بدن لخ او بنکاره وی هغه به پټ کړی اوپر بی ځایه ځای چه هغه
قابل دکتونه وی د ده ستړګی ونه لګیږی اوچه عده پوره سی نو بنځه دی
یو بل ځای ته ولاړه سی - (مجمع الانهر ص۴۳۷ اول ټوک)

(۹) مسئله :- چه تر اوسه ئی لا رجوع ورته کړی نه وی نو دا په سفر کښی - د
خپل ځان سره بیول روا نه ده او دی ښځی لره د ده سره تګ هم روا نه دی
(فتاوی هندیة ص۴۹۳ د وهم ټوک

(۱۰) مسئله :- هر هغی ښځی ته چه یو یاد وه طلاق بائن ورکړه سوی وی چه
په دغه کښی خاوند د رجوع اختیار نه لری د دغه حکم دادی که چیری
د بل چا سره نکاح کول غواړی نو ترعدی ورو سته دی نکاح وکړی په عده کښی
د ننه د ننه نکاح کول روا نه ده او که بیرته د مخکی خاوند سره نکاح غواړی
نو په عده کښی هم کیدای سی - (شرح البدایة ص۳۷۹ د وهم ټوک)

(۱۷) بنځې ته دنه ورتلود قسم کولو بیان | باب

(۱) مسئله:- چا چه قسم وکړی او داسی ئې وویل چه په خدای دی می قسم وی نژدیکت به ونه کړم په خدای دی می قسم وی ستاسره به هیڅ وخت نژدیکت ونه کړم - زه قسم خورم چه ستاسره به نژدیکت نه کوم یا ئې بل قسم وویل نو دغه حکم دادی که دې نژدیکت ونه کړی چه څلور میاشتی تیری سی پر بنځه باندی طلاق بائن واقع کیږی اوس نو بیله بلی نکاح د خاوند او بنځې په شان نه سی او سیدای اوکه په څلور میاشتی کښی د ننه د ننه دې خپل قسم مات کړی او نژدیکت ئې ورسره وکړی نو طلاق نه واقع کیږی البته د قسم ماتولو کفاره به ورکوی داسی قسم کولو ته په شریعت کښی - ایلا - وایی - (شرح البدایة صـ۳۸۱ دوهم پتوک)

(۲) مسئله:- د همیشه د پاره ئې د نژدیکت نه کولو قسم نه دی کړی - بلکه د څلورو میاشتو د پاره ئې قسم کړیدی او داسی ئې ویلی دی چه په خدای دی می قسم وی تر څلورو میاشتو پوری ستاسره نژدیکت نه کوم نو په دغه سره هم - ایلا - واقع کیږی د دغه هم داغه حکم دی که ئې تر څلورو میاشتو پوری نژدیکت نه ورسره وکړی نو طلاق بائن واقع کیږی اوکه تر څلورو میاشتی مخکی نژدیکت ورسره وکړی نود قسم کفاره دی ورکړی او د قسم د کفاری بیان مخکښی په دریمه حصه کښی تیر سوید ی - (شرح البدایه صـ۳۸۱ اول پتوک)

(۳) مسئله:- اوکه ئې د څلورو میاشتو دکمو د پاره قسم وکړی د دی هیڅ اعتبار نسته او په دغه سره ایلا نه ثابتیږی تر څلورو میاشتوکه یوه ورځ کمه کړی قسم وخوری بیا هم ایلا نه ثابتیږی البته د هرځوندی ورځو چه ئې قسم کړی وی که تر دغه ورځو مخکښی نژدیکت ورسره وکړی نود قسم دماتولو کفاره به ور کوی اوکه ئې د قسم تر ورځو مخکښی نژدیکت نه ورسره وکړی بلکه تر دغه وروسته نه اوړی - (شرح البدایة صـ۳۸۲ دوهم پتوک)

(۴) مسئله:- یو چا فقط د څلورو میاشتو د پاره قسم کړی وو بیا ئې خپل قسم مات نه کړی نود دی سبب تر څلورو میاشتو وروسته طلاق واقع سو - اوتر

طلاق ورو سته بیرته د داغه سړی سره نکاح وسوه نو اوس که نژدغه نکاح ورو سته ترڅلورو میاشتو پورې نژدیکت ورسره و نه کړی نو هیڅ پروا نه لری هیڅ نه کیږی اوکه ئی د همیشه د پاره قسم خوړلی وو مثلاً داسی ئی ویلی وه چه قسم کوم چه اوس به نو ستاسره نژدیکت نه کوم یا ئی داسی ویلی وه په خدای دی قسم کوم چه ستاسره به هیڅکله نژدیکت نه کوم بیا ئی څپل قسم مات نه کړی اوترڅلورو میاشتو ورو سته طلاق واقع سو - نژدغه ورو سته ئی بیا د د ه سره نکاح وکړه اوترنکاح ورو سته ئی بیاترڅلورو میاشتو پورې نژدیکت ورسره و نه کړی نو اوس دوهم طلاق واقع سو - که ئی درېیم ځل بیا د د ه سره نکاح وکړه نو د داغه هم هغه حکم دی چه نژدغه نکاح ورو سته که هم ترڅلورو میاشتو پورې نژدیکت نه ورسره کوی نو درېیم طلاق واقع کیږی اوس نو بیله د وهم خاوند کولو د ه سره نکاح نه سی کولای - البته که ئی نژد وهم یا درېیمه نکاح ورو سته نژدیکت ورسره کړی وای - نو قسم خو ماتیدی لیکن بیا نو هیڅ وخت طلاق نه واقع کیږی لیکن د قسم د ماتولو کفاره بیا ورکول څنډی غوښته - (شرح البدایة ص۳۸۲ د وهم ټوک)

(۵) مسئله :- که د غه رنګه مخکی ورو سته په درې سره نکاح وکښی درې طلاقه واقع سوه نژدغه ورو سته بیځی د وهم خاوند وکړی هر هغه وخت چه هغه پریښوه نو عده ئی پوره کړه بیرته ئی د هغه اول خاوند سره نکاح وکړه اود ه بیا نژدیکت ورسره و نه کړی نو اوس طلاق نه واقع کیږی برابره خبره د ه که نژدځخه مدی پوری نژدیکت ورسره و نه کړی لیکن هر وخت که ئی نژدیکت ورسره وکړی نو د قسم کفاره به ورکوی - ځکه خو داسی قسم ئی اخستی وو چه هیڅ وخت به نژدیکت نه ورسره کوم - نو د غه قسم خو مات سو - (شرح البدایة ص۳۸۲ د وهم ټوک)

(۶) مسئله :- که ئی بیځی ته طلاق بائن ورکړی بیا ئی د د ی څخه د نژدیکت نه کولو قسم وکړی نو - ایلا - نه سوه که اوس بیرته ترنکاح کولو ورو سته نژدیکت و نه کړی نو طلاق نه واقع کیږی لیکن هر وخت چه نژدیکت وکړی د قسم د ماتولو کفاره به ورکوی اوکه ترطلاق رجعی ورکولو ورو سته په عده کښی ئی داغسی قسم وکړی نو - ایلا - د ه اوس که رجوع وکړی

او نژدیکت نه وړ سړه وکړی نو نژ څلور ډوميا شتو دروسته طلاق واقع کيږی
اوکه نژدیکت وړ سړه وکړی نو کفاره د قسم دی ورکړی ـ (عالمگيری مصری
ص ۵۰۹ اول ټوک وشرح البدایة ص ۳۸۳ دوهم ټوک)

(۷) مسئله ۱ ـ په خلای سړه ئی قسم ونه کړی بلکه داسی ئی وويل که ستا سړه
نژدیکت وکړم نو ته طلاقته ئی بيا هم ـ ايلا ـ سوه که نژدیکت وړ سړه کوی نو
رجعی طلاق واقع کيږی او په دغه صورت کښی د قسم دکفاری ورکول واجب
نه دی اوکه ئی نژدیکت وړ سړه ونه کړی نو نژ څلور ډوميا شتو دروسته طلاق
بائن واقع کيږی اوکه ئی داسی ووايل که ستا سړه نژدیکت وکړم نو زما پر ذمه
يو حج دی يا يوه روژه ده يا دیوی روپۍ خيرات دی يا يوا ختری دی په
دغه ټولو صورتونو کښی هم ايلا ثابته سوه که نژدیکت وړ سړه کوی هره
خبره چه ئی کړيده هغه به پوره کوی اوکفاره دی نه ورکوی اوکه ئی نژدیکت
نه وی وړ سړه کړی نو نژ څلور ډوميا شتو دروسته طلاق واقع کيږی (شرح
التنوير ص ۲۴۲ اول ټوک وشرح البداية ص ۳۵۳ دوهم ټوک)

(۱۸)	دخلعی بيان	باب

(۱) مسئله ۱ ـ که د خاوند او ښځی په مابين کښی هيڅ قسم جوړه نه سوه
کيدای او سړی طلاق هم نه وړکاوی نو ښځی ته روا دی چه يوڅه روپۍ ور
کړی يا خپل مهر ورکړی خپل خاوند ته ووايی چه د وندی روپۍ واخله
خو ما هسی پريږده يا داسی ورته ووايی چه هرڅوندی مهر چه زما ستا پر
ذمه دی دهغه په عوض کښی ما پريږده دی په جواب کښی خاوند ورته
ووايی چه ما پری ايښی يی ـ نو دغه جواب څخه پر ښځی يو طلاق بائن واقع
سو ـ دځان سړه دا وسولو او رجوع ورته کولو اختيار نو اوس سړی نه لری
البته که سړی پر دغه ځای ناست وو جواب ئی ورنه کړی بلکه ولاړ سو يا
سړی ولاړ نه سو ښځه ولاړه سوه بيا نو سړی ووايل بښه دی ما پری ايښی يی
نو په دغه سړه هيڅ نه ثابتيږی ـ ځکه سوال او جواب دواړه بايد پريوه
ځای وی په دغسی قسم چه ښځه د خاوند څخه ځان خلاص کړی وی ته
په شريعت کښی خلع وايی ـ (در مختار ورد المحتار ص ۲۴۴ اول ټوک)

(۲) مسئله:- سړی ورته وویل ما ستا سره خلع کړیده بښځی وویل چه ما قبوله کړیده نو خلع وسوه البته که بښځی پرداغه ځای جواب ورنه کړی دد غه ځای څخه ولاړه سوه یا بښځی دسړه قبوله نه کړه نو هیڅ هم ثابت نه سوه - لیکن که بښځه پرخپل ځای ناسته وه او سړی دغه وویل او بښځی د ده تر ولاړیدو روسته قبوله کړه بیا هم خلع وسوه - (در مختار ورد المحتار ص۲۴۳ اول پټوک وص۸۷ دوهم پټوک)

(۳) مسئله:- سړی صرف دوندی وویل چه ما ستا سره خلع کړیده او بښځی قبوله کړه او درو پو او پیسو ذکر او یاداشت نه سړی وکړی او نه بښځی نو بیا هم هرڅه حق چه دسړی پر بښځه دی او هرڅه حق چه دبښځی پر سړی دی هغه پټول معاف سو که دسړی پر ذمه مهر باقی وی نو هغه هم معاف سو او که بښځی خپل مهر څوندی اخستی وی نو بیرته ئی سړی ته ورکول واجب نه دی - البته دعدی ترخقید و پوری چادرچی، جامه او داوسیدو ځای به خاوند خامخا ورکوی - لیکن که بښځی ویلی وه چه دعدی چادرچی جامه او داوسید و ځای هم ستا څخه نه غواړم نو دغه هم معاف سوه - (شامی ص۵۷ دوهم پټوک)

(۴) مسئله:- اوکه ئی دخلعی سره یوځه مال هم ذکر کړی مثلاً داسی ئی وویل چه د(۱۰۰) روپی په عوض کښی ما ستا سره خلع کړیده نو بښځی قبوله کړه نو خلع وسوه اوس نو د بښځی پر ذمه (۱۰۰) روپی ورکول واجب سوی که خپل مهر ورته رسیدلی وی هم به (۱۰۰) روپی ورکوی اوکه تر اوسه مهر ورته رسیدلی نه وی هم به (۱۰۰) روپی ورکوی او مهر هم نه ورکول کیږی - ځکه چه هغه په سبب دخلعی معاف سو - (هدایه ص۳۸۴ دوهم پټوک)

(۵) مسئله:- په خلع کښی که تاوان اوملامتیا په سړی کښی وه نو دسړی دبارې روپی او مال اخستل یا کوم مهر چه دده پر ذمه دی دهغه په عوض کښی خلع کول نو په گناه او حرام دی که ئی څه مال واخستی نو دغه مال پخپله خوبل هم حرام دی که په بښځه کښی پرده او ملامتیا وی نو هرڅومره دی مهر چه ئی ورکړی دی تر دغه زیات اخستل مناسب نه دی - بس صرف دمهر په عوض کښی دی خلع وکړی که ئی تر مهر زیات مال واخستی بی ځایه کار خو دی - لیکن بیا

خیر دی کناه نه لری - (هدایة ص۳۸۴ دوهم توک وعالمگیری ص۵۰۸ دوهم توک)

(۶) مسئله:- بنځه په خلع کولو سره خوشحالها رراضی نه وه خاوند ئی په زور خلع په وکړه - یعنی په ذریعه د دهلو او پیشرو ئی خلع په وکړه نو طلاق واقع سو - لیکن پر بنځه مال ورکول واجب نه دی اوکه د سړی پر ذمه مهر پاته وی هغه هم معاف سوی نه دی - (در مختار ص۲۴۶ اول توک)

(۷) مسئله:- دغه توله خبری هغه وخت دی چه د خلع لفظ ئی ویلی وی یاداسی ئی ویلی وی چه د (۱۰۰۰) زر روپو یا زر روپو په عوض کی می پریږده یا ئی داسی ویلی وه چه زما مهر په عوض (بدل) کښی ما پریږده اوکه په داسی نه وه ویلی بلکه د طلاق لفظ ئی ویلی وُو مثلاً داسی ئی ویلی وه چه د (۱۰۰۰) روپو په عوض کښی ما ته طلاق راکړه ودی ته خلع نه وایو - که سړی د دغه مال په عوض کښی طلاق ورکړی وُو نو یو بائن طلاق واقع کیږی او په دغه کښی هیڅ حق نه معاف کیږی او نه هغه حق معاف سوی دی چه د سړی پر ذمه دی نه هغه حق معاف سوی دی چه د بنځی پر ذمه دی - سړی که مهر نه وی ورکړی هغه هم نه دی معاف سوی او بنځه د دغه دعوه کولای سی اوکه سړی دغه سل روپی د بنځی څخه غواړی څنډی وادی خلی - (هدایة ص۳۸۵ دوهم توک وردالمحتار ص۸۶۵ دوهم توک)

(۸) مسئله:- سړی وویل چه ما د (۱۰۰۰) روپو په عوض کښی طلاق ورکړی دی - نو د بنځی پر قبلولو باندی موقوف دی که ئی قبول نه کړی نه واقع کیږی او که ئی قبول کړی نو یو طلاق بائن - واقع سو - لیکن که ئی ترڅای بدلیدو - وروسته قبول کړی نو طلاق نه واقع کیږی - (هدایة ص۳۸۷ دوهم توک وشامی ص۵۵۸ دوهم توک)

(۹) مسئله:- بنځی وویل ما ته طلاق راکړه خاوند ورته وویل ته خپل ټول مهر او حق معاف کړه نو طلاق درکوم بنځی وویل نه دی ما ټول مهر او حق معاف کړی دی ترد غه وروسته سړی طلاق ورنه کړی نو هیڅ شی هم معاف نه سو اوکه ئی په دغه مجلس کښی طلاق ورکړی نو معاف سو - (شامی ص۵۶۶ دوهم توک)

(۱۰) مسئله:- بنځی ورته وویل چه د در (۳۰۰) سو روپو په عوض کښی ما ته درې

طلاقه ورکړه - يردی خبره نو سړی صرف يو(۱) طلاق ورکړی نو فقط سل(۱۰۰) روپی و دغه سړی ته ورکول کيږی اوکه ئی دوه(۲) طلاقه ورکړه نو دوه سوه(۲۰۰) روپی دی اوکه ئی درې سره طلاقه ورکړه نو پوره درې سوه(۳۰۰) روپيه به د بنځی طرفه څخه ورکول کيږی او په هغو صورتونو کښی طلاق بائن واقع کيږی حکمه چه داطلاق د مال په بدله کښی دی - هداية ص۳۸۶ دوهم توک)

(۱۸) مسئله :- نابالغ اوکوچنی هلک او ليونی يا گل سړی د خپلی بنځی سره خلع نه سی کولای - (شامی ص۵۵۵ دوهم توک)

(۱۹) خپلی بنځی ته دمور سره د برابر ولو ويناکول | باب

(۱) مسئله :- يو چا خپلی بنځی ته وويل چه ته زما د مور سره برابره ئی دامی ئی وويل ته زما د پاره د مور سره برابره ئی - ته زما په حساب کښی د مور سره برابره ئی - اوس ته زما په خيال د مور په مثل ئی - د مور په شان ئی - نو وگورئ چه د دغه مطلب څه دی. که ئی د غه مطلب خندی اختی وی چه په تعظيم او بزرگی کښی زما د مور سره برابره ئی يا ئی دا مطلب خندی اختی وُو چه ته بالکل سپين سړی ئی په عمر کښی زما د مور سره برابره ئی بيا نو په دی ويناسره هيڅ نه لازميږی داغه رنگه که ئی د دی خبری د کولو په وخت کښی هيڅ نيت نه وُو کړی او هيڅ مطلب ئی نه وُو خندی اخيستی هسی چتيات او بی مطلبه او بی مقصده ئی ويل بياهم کوم تاوان نه دی پيښ سوی اوکه ئی په دغه ويناسره د طلاق ورکولو او بنځی ايله کولو نيت کړی وی نو دې ته يو طلاق بائن ورکړه سوا اوکه د طلاق ورکولو هم نيت نه وُو او د بنځی ايله کول ئی هم مقصد نه وُو بلکه صرف د وندی مطلب ئی دی چه که څه هم ته زما بنځه ئی ايله کوم دی نه - ليکن اوس ستاسره هيڅ وخت نژديکت نه کوم ستاسره نژديکت کول می پر خان حرام کړی دی بس خو پرل او چښل او اغوستل کوه او دلی اوسه - غرض دا دی چه د ايله کولو نيت ئی نه دی نقط د دی سره نژديکت ئی پر خپل خان حرام کړيدی - نو دی ته په شريعت کښی ظهار ويل کيږی - د ظهار حکم دا دی چه دغه بنځه د ده په نکاح کښی وه - ليکن نژدی پوری چه سړی د دی کفاره ادا نه کړی تر

هغه وخته نژدیکت ورسره کول یا په شهوت اوشوق سره لاس ورونړل - مچه اخستل مینه اومحبت ورسره کول حرام دی ترڅو چه کفاره ئې نه وی ورکړی تر هغه وخته دغه ښځه حرامه ده برابره خبره ده که هر څوندی کلونه تیرسی هرهغه وخت چه ماړی کفاره ورکړی نو دی بیادواړه دخاوند او ښځې په شان سره واوسیږی بیرته د نکاح کولو ضرورت نشته اوددغه کفاره هغسی ورکول کیږی لکه دروژی دماتولوکفاره چه ورکول کیږی چه بیان ئې پوره اومکمل تیرسو - (شرح البدایة ص۳۸۹ دوهم توک وشرح التنویر ص۳۴۹ اول توک)

(۲) مسئله :- که ئې ترکفاره ورکولو مخکښی نژدیکت ورسره وکړی - نو ډیره لویه ګناه لری واللّٰه پاک ته دی توبه ګاړسی او استغفار دی ووایئ او پخه اراده دی وکړی چه ددی وروسته نژکفاری ورکولو مخکی بیا هیڅکله نژدیکت نه ورسره کوم او د ښځې د پاره په کار ده ترڅو چه ماړی کفاره نه وی ورکړی ځان ته ئې نژدی پری نږدی - (شرح البدایة ص۳۸۹ و شرح التنویر ص۳۴۹ اول توک)

(۳) مسئله :- که ئې خپله ښځه دلور، یاخور یا عمّه یا دیو بلی داسی ښځې سره چه د هغی سره ئې د همیشه د پاره نکاح حرامه وی برابره کړه نو دی مسئلی هم هغه حکم دی چه په اوله مسئله کښی بیان سو - (عالمګیری ص۵۳۱ ج اول)

(۴) مسئله :- که چاوویل چه ته زما د پاره د خنزیر په شان ئې نو که ئې د طلاق ورکولو اوایله کولو نیت وکړ نو طلاق واقع سو او که ئې د ظهار نیت کړی و یعنی دا ئې اراده وی چه طلاق خو نه درکوم لیکن ستا سره نژدیکت می پرخپل ځان حرام کړیدی نو په دی خبره سره هیڅ نه لازمیږی داغه رنګه که ئې هیڅ نیت نه وکړ کړی بیا هم هیڅ نه لازمیږی (شامی مصری ص۹۴۹ دوهم جلد)

(۵) مسئله :- که ئې په ظهار کښی څلور میاشتی یا ترڅلور میاشتی زیات نژدیکت ونه کړی یعنی څلور یا ترڅلور زیاتی میاشتی تیری سوی ده لا تر اوسه نژدیکت نه ووکړی او کفاره ئې نه وه ورکړی نو طلاق نه واقع کیږی .

په دغه سړه ایلاء نه واقع کیږی۔ (رد المحتار مصری ص۹۴۹ دوهم توک)

(۶) مسئله:۔ تر څو چه کفاره ئی ورکړی نه وی بنځی ته کتل او خبری ورسره کول حرام نه دی البته (فرج) دبولو ځای ته کتل ئی صحیح نه دی۔ (فتاوی هندیة ص۵۳۱ اول توک)

(۷) مسئله:۔ که ئی د همیشه د پاره ظهار ونه کړی بلکه دیو څه مدی د پاره ئی ظهار وکړی مثلاً دامی ئی وویل دیوه کال د پاره یا د څلورو میاشتو د پاره ئی ته زما د پاره د هغو سړه برابره ئی نو هر څوندی مده چه ئی مقرره کړیده تر دغی مدی پوری ظهار ستا ته که په دغه مده کښی د ننه ننه نژدیکت کول غواړی نو اول دی کفاره ورکړی او که تر دغه مدی وروسته نژدیکت وکړی نو هیڅ شی به نه ورکوی بنځه ورته حلاله ده۔ (عالمگیری ص۵۳۳ دوهم توک)

(۸) مسئله:۔ که ئی په ظهار کښی فوراً او سمدستی انشاء الله هم ورسره وویل نو هیڅ نه لازمیږی۔ (فتاوی هندیة ص۵۳۴ دوهم توک)

(۹) مسئله:۔ نابالغ کوچنی هلک او لیونی پاگل سړی ظهار نه سی کولای که ئی وکړی هم هیڅ نه پیښیږی داغه رنگه یو څوک دپردی بنځی سړه چه دده په نکاح کښی نه وی ظهار ورسره وکړی هم هیڅ نه پیښیږی او س ددی سړه نکاح کول صحیح ده۔ فتاوی هندیه ص۵۳۱ دوهم توک)

(۱۰) مسئله:۔ د ظهار لفظ که د پیرواړه ونه ووایی مثلاً دوه واړه یا دری واړه ووایی چه ته زما د پاره د هغو سړه برابره یې نو هر څوندی واړه چه ئی ویلی وی هغوندی کفاری به ورکوی البته که ئی دد دهغه ودریم واړه دویلو څخه دبنه مضبوطه کیدو او د پښیمانیدو نیت سره څخه ئی د ظهار کولو نیت نه وی نو صرف یوه کفاره [illegible] عالمگیری ص۵۳۴ اول توک)

(۱۱) مسئله:۔ که ئی د پیرو بنځو ته داسی وویل نو [illegible] به ئی وی په هغه اندازه کفاری دی ورکړی۔ (عال[illegible]

(۱۲) مسئله:۔ که ئی د برابر لفظ نه ووایه او دا [illegible] لفظ ئی نه ووایه بلکه دامی ئی وویل چه ته

ودیل ته زما خور ئی نود دغه څخه هیڅ پیښه نه سوه او ښځه پر
حرامه نه سوه لیکن داسی خبره کول بده اوګناه ده داغه رنګه دنغرو
په وخت کښی زما خوری فلانی کار وکړه داهم بده خبره ده لیکن د دی
خبری څخه هیڅ هم نه پیښیږی ـ (عالمګیری ص۵۳۲ دوهم ټوک)

(۱۳) مسئله:ـ یو چا داسی ووییل که چیری تاد څان سره وساتم نو لکه مور
چه وساتم یا ئی داسی ووییل که ستاسره نژدیکت وکړم نو لکه دمور سره
چه نژدیکت وکړم دد غه څخه هیڅ نه پیښیږی ـ (عالمګیری ص۵۳۲ ج ۲)

(۱۴) مسئله:ـ که ئی داسی ویلی وه چه ته زما دپاره دمور په شان
حرامه یئ نو که ئی د طلاق ورکولو نیت وی نو طلاق واقع کیږی او که ئی د
ظهار نیت کړی وی یا ئی هیڅ نیت نه وی کړی نو ظهار واقع کیږی تر کفاری
ورکولو وروسته نژدیکت کول روا دی. (عالمګیری ص۵۳۲ دوهم ټوک)

(۲۰) دظهار کفاری بیان — باب

(۱) مسئله:ـ د ظهار کفاره دا رنګه ده لکه څرنګه چه د روژی د
ماتولو کفاره ده د د دواړو هیڅ فرق نسته هلته موږ پیر ښه بیان کړه که
ئی معلومیدل غواړی هغه صفتی راواړوه معلومات به ئی درته وسی اوس
بعضی ضروری خبری چه هلته بیان سوی نه دی دلته ئی بیانوو ـ (شرح
البدایة ص۳۹۱ دوهم ټوک)

(۲) مسئله:ـ که ئی طاقت وی نودی سړی شپیته روژی پرله پسی ونیسی
که مابین کښی دی یوه روژه نه پریږدی ترهغه وخته چه روژی ختم سوی
هغه وخته پوری دی دښځی سره نژدیکت نه کوی که تر روژو ـ
کړی نودی ټولی روژی بیرته د
دښځی سره نژدیکت کړی وی
وی یا ئی په هیره سره دټولو یوحکم
)

ید وسره سم یعنی اول تاریخ څخه دخدای

ع کیږی ۱۲ تصحیح الاغلاط

میاشتی روژی نیول شروع کړی نو پوره دوی میاشتی دی روژی ونیسی برابره خبره
دا که پوره شپیته ورځې وی د دیرشو (۳۰) دیرشو ورځو میاشت وی یا ترشپیته ورځې
کمی وی - د نویشت (۲۹) نویشت ورځو میاشت دی په دواړه صورتونو کښی کفاره
ادا کیږی اوکه ئې د اول تاریخ څخه روژه نیول شروع نه کړه نو بیا به پوره
شپیته ورځې روژې ونیسی - فتاوی عالمگیری ص۵۳۷ اول توک)۔

④ مسئله:- اوکه ئې کفاره په روژه سره ادا کوله اود کفاری د پوره
کیدو څخه مخکی ئې د ورځې یا د شپې په هیره سره نژدیکت وکړی نو به
کفاره بیرته د سره راګرزوی - (شرح البدایة ص۳۹۴ دوهم توک)

⑤ مسئله:- اوکه ئې د روژې طاقت نه وی نو دی شپیته فقیرانو ته دوه
وخته دوه ډوډۍ ورکړی یا دی دغسی غله ورکړی کوم چې ئې تولو فقیرانو ته لا
تر اوسه ډوډۍ نه وه ورکړی چې په منځ کښی ئې نژدیکت وکړی ګناه خو
دا ده مګر په دی صورت کښی کفاره بیرته نه راګرزول کیږی اود ډوډۍ
یا غلې دانې ورکولو پرځای دغه صورت دی چې هلته په مخکی بیان سو - (شرح
البدایة ص۳۹۴ دوهم توک و در مختار ص۲۵ اول توک)

⑥ مسئله:- دیو چا پر ذمه د ظهار دوی کفارې وی نو ده شپیتو مسکینانو
ته څلور څلور سیره غنم ورکړه په دی خیال ئې ورکړه چې دواړې کفارې
به می پریوه ځای اداسی نو بیا هم فقط یوه کفاره ادا کیږی بله کفاره دی بیا
ورکړی - که یوه کفاره د روژې مانو لو ره دوهم کفاره د ظهار ده په دغه
کښی ئې داسی وکړه نو دواړې کفارې ادا سوی - (شرح البدایة ص۳۹۵ ج۲)

(۲۱) دلعان بیان — باب

① مسئله:- هر هغه وخت چې یو خوک پرخپلی سخی د زنا تهمت ولګوی
یا چې یوکوچنی پیدا سی نو دی ووایی دا زما زوی نه دی معلومه نه ده چې
د چا دی نو د غه حکم دا دی چې بنځه دی قاضی یا شرعی حاکم ته فریاد د
کړی نو قاضی دی په دواړو قسم وکړی اول دی په خاوند داسی ووایی زه خدای
ګواه اوشاهد ګرزوم وایم چې کوم تهمت چې ما پردی باندی ولګولی دی زه په
دغه کښی رشتیا ګو (رشتیا ویونکی) یم څلور واړه دی خاوند دغه رنګه

ووایي - بیا دی پنځم وار ووایي که به چیری زه د واغجن یم پرمادی د خدای پاک لعنت وی - چه خاوند پنځم وار پوره کړی نو دی بنځه څلور واړه داسی ووایي چه زه خدای شاهد گرزوم وایم چه ده کوم تهمت پرمالگولی دی په دغه تهمت نگولو کښی زما خاوند د واغجن دی او پنځم وار دی ووایي که به په دواړه قسمونه وکړی نو حاکم به د واړه سره جلا کوی او طلاق بائن واقع کیږی اوس نو د دغه هلک نسبت و پلار ته نه کیږی یعنی د پلار نه دی د مورد ی و د ارنگه قسمونه پیه شرعه کښی - لعان - وایي - (شرح البدایه ص ۳۹۶ اول ټوک) وص ۳۹۸

(۲۲) د خاوند د نادرکه کیدو بیان

باب

دیوچا خاوند چه بالکل نادرکه وی معلوم نه وی چه څو ندی دی که مړدی نو د غه بنځه بله نکاح نه سی کولای بلکه انتظار دی کوی چه شاید را به سی هر هغه وخت چه په انتظار انتظار کښی د وندی وخت تیرسی چه د خاوند عمر (۹۰) نیوی کالو ته ورسیږی نو اوس دغه حکم لگوو چه هغه مړدی یعنی داسی اندازه به لگوی چه کوم وخت دی د مورد ه پیدا سویدی اوس نو (۹۰) نیوی کالو ته رسیدلی دی نو هغه بنځه که اوس هم روسته دی عده پوره کړی بیا نو نکاح کولای سی - مگر شرط دا دی چه د (۹۰) نیوی کالو د پوره کیدو دی نادرکه ساړی د مرگ حکم یو شرعی حاکم قاضی لگولی وی - (عالمگیری مختصرا ص ۹۱۵ دوهم ټوک وهدایه ص ۶۰۲ دوهم ټوک)

۲ رسالی مطالعه کول پمعنور سره ډاډ ورکړی د ۱۲

دعدی بیان

باب (۲۳)

(۱) مسئله:- چه بنځی ته خاوند طلاق ورکړی یا په خلع - ایلا - اوداسی نور وشیانو سره نکاح ماته سی یا ئی میړه مړ سی په دغه ټولو صورتونو کښی به بنځه دلږ وخت دپاره په یوکور کښی اوسیږی ترڅو پورې چه دغه مدده نه وی ختم سوی نو ترهغه وخته پورې د دغه کور څخه چه دا پکښی اوسیږی بل ځای ته نه سی تلای نه دبل سړی سره خپله نکاح کولای سی هر وخت چه عده مده پوره سی بیانو چه زړه ئی غواړی هغسی دی وکړی دغه مدی تیر دلو ته عده ویل کیږی - (عالمگیری مصری ص۵۴۹ اول ټوک)

(۲) مسئله:- که خاوند طلاق ورلره ورکړی وو نو د دری حیضونو ترراتلو پورې به د خاوند په کور کښی چه په هغه کور کښی دی ته طلاق ورکړه سوی دی کښینی به د دغه کور څخه به دباندی نه وزی نه د ورځی نه د شپی او نه به دبل چا سره نکاح کوی چه پوره دری حیضه ختم سوه نو عده پوره سوه اوس نو هرڅای چه ئی زړه غواړی هلته دی ولاړه سی - برابره خبره ده که سړی یو طلاق ورکړی وی یا دوه دری طلاقه ئی ورکړی وی یا ئی طلاق بائن ورکړی وی یا ئی طلاق رجعی ورکړی وی د ټولو حکم یودی (عالمگیری ص۵۴۹ اول ټوک وشرح البدایة ص۴۰۸ دوهم ټوک)

(۳) مسئله:- که کوچنۍ انجیلی ته طلاق ورکړه سو چه دی ته لا تراوسه حیض نه دی ورغلی یا دوندی سپین سری ده چه حیض نه ورځی نو ددوی دواړو عده دری میاشتی ده - دری میاشتی دی کښینی تر دغه وروسته اختیار لری - هرڅه چه ئی زړه غواړی هغسی دی وکړی - (عالمگیری مصری ص۵۵ ج۱)

(۴) مسئله:- یوه[1] انجیلی ته طلاق ورکړه سوی وو نو دی د میاشتو د حساب څخه عده شروع کړه لیکن په عده کښی د نسه لویښت او پیغلتوب ته ورسیده نو په دغه عده کښی یو ځل یا دوی میاشتی وروسته حیض وزته راغلی نو اوس دی تر پوره دری حیضو پورې کښینی ترڅو چه دری حیضه پوره سوی نه وی نو عده ئی نه خلاصیږی - (عالمگیری ص۵۵ اول ټوک)

[1] یعنی نابالغی انجیلی ته طلاق ورکړه سوی وی چه حیض نه ورته راتلی ۱۲

(۵) مسئله:- که یو ښځه حملدار ده وی او په دغه زمانه کښی طلاق ورکړه سو نو د کوچنی تر پیدا کیدو پوری دی کښینی داغه ددی عدې دا هر وخت چه کوچنی پیدا سو نو عدې ئی ختمه ده که تر طلاق ورکولو لږ ګړی وروسته کوچنی پیدا سو بیا ئی هم عدې ختمه سوه۔ (عالمګیری مصری ص۵۵۸ اول ټوک)

(۶) مسئله:- که چا د حیض په زمانه کښی طلاق ورکړی نو هغه حیض چه په هغه کښی طلاق ورکړه سوی وی هغه معتبر نه دی۔ دغه حیض دی پریږدی دری نور حیضونه دی پوره کړی۔ (شرح البدایة ص۴۰۵ و در مختار ص۲۵۷ اول ټوک و عالمګیری ص۵۵۸ اول ټوک)

(۷) مسئله:- د طلاق عدې پرهغې ښځې سته چه دی ته تر نږدیکت ورو سته طلاق ورکړه سوی وی یا نږدیکت تړاو سه نه دی سوی لیکن د خاوند او ښځې په منځ کښی یوازیوالی او یو ځای والی راغلی وی بیا طلاق ورکړه سوی وی۔ برابر خبره ده که داسی یوازی والی او یو ځایوالی سوی وی چه په هغه سړه پوره مهر ورکول کیږی یا داسی یو ځایوالی او یوازیوالی سوی وی چه په هغه سړه پوره مهر نه واجبیږی په هرحال کښی عدې تیرول پرواجب دی اوکه تړاو سه پوری بالکل هیڅ قسم یوازی والی او یو ځای والی نه وو سوی چه طلاق ورکړه سو۔ نو پرداسی ښځه عدې تیرول نسته لکه چه دا خبره مخکی بیان سوه۔ (فتاوی عالمګیری ص۵۴۳ دوهم ټوک و هدایة ص۳۰۶ دوهم ټوک)

(۸) مسئله:- پریږدی ښځې ئی د خپلی ښځې خیال سو په خطا سړه ئی نږدیکت ورسره وکړی بیا معلومه سوه چه داد دی ښځه نه وه نو دغه ښځه به هم عدې تیروی تر څو چه عدې ئی تیره سوی نه وی تر هغه وخته دی د خپل میړه سړه هم نږدیکت نه کوی که نږدیکت ورسره کوی نو دواړه ګناهګاران دی۔ ددی عدې هم داغه ده چه اوس بیان سوه که د دغې ورځې څخه حملدار ده سوه نو د کوچنی تر پیدا کیدو پوری دی انتظار وکړی عدې دی تیره کړی او دغه کوچنی حراق نه دی د ده نسب ټیک او صحیح دی هرچا چه په خطا سړه نږدیکت ورسره کړی دی دهغه کوچنی دی۔ (عالمګیری ص۵۵۸ اول ټوک و شرح البدایة ص۴۰۵ دوهم ټوک و در مختار مختصرا ص۲۲۶

(۹) مسئله:- یو چا بی قاعدی نکاح وکړه مثلاً یو چا دیو بنځی سره نکاح کړی وه بیا معلومه سوه چه دده میړه اوس ژوندی دی اوده تراوسه طلاق نه دی ورکړی یا معلومه سوه چه دغه سړی او بنځی په کوچنیوالی دیوی بنځی تی رودلی دی نو دده حکم دادی که سړی دده سره نژدیکت کړی وُو نو د حال تر معلومید و وروسته دده وئ جلا والی راغلی نو هم به خپله عده کښینی دهر هغه وخت څخه چه سړی توبه وکښه جلا والی ئ اختیار کړی دده وخت څخه ئ عده شروع کیږی او که ئ تراوسه نژدیکت نه وُو ورسره کړی نو عده تیرول واجب نه ده بلکه که ده اسی بنځی سره بنه یواځی والی او یو ځای والی هم سوی دی بیا هم عده واجب نه ده عده فقط هغه وخت ده چه نژدیکت ورسره سوی وی۔ (شرح التنویر ص۲۵۵ اول ټوک و ص۲۵۷ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:- په عده کښی دننه خورک او جامه پرهغه سړی واجب دی چه طلاق ئ ورکړی وی او دده دی بیان مخکی په بنه طریقه سره راروان دی۔ (شرح البدایة ص۴۲۳ دوهم ټوک)

(۱۱) مسئله:- یو چا خپلی بنځی ته طلاق بائن ورکړی وُو یا ئ درې طلاقه ورکړی وه بیا ئ په خطا سره په عده کښی دننه نژدیکت ورسره وکړی اوس نو دده نژدیکت د سببه چه په خطا سره سوی وُو یوه عده تیرول بله واجب سوه اوس دی نو د درې حیضه نور پوره کړی هر وخت چه درې حیضه نور تیر سی نو د واړه عدی ختم کیږی۔ (شرح البدایة ص۴۰۵ دوهم جلد)

(۱۲) مسئله:- سړی طلاق بائن ورکړی وُو۔ او په هر هغه کور کښی چه داعده تیروی په هغه کور کښی دی هم اوسیږی نو دغه بنځه به دده څخه په بنه طریقه سره ستر اد پرده کوی۔ (عالمگیری ص۵۵۱ دوهم ټوک)

(۲۴) دمرګ دعدی بیان — باب

(۱) مسئله:- که دیو بنځی میړه مرسو نو دده عده څلور میاشتی اولس ورځی (۱۰) دده نو دی دغه مده خپله عده تیره کړی د میړه د مرګ په وخت کښی چه [illegible] یعنی کوم وخت چه ئ نژدیکت ورسره کړیدی نو دغه وروسته درې حیضه [illegible] میدل په کار دی ۱۲

په کوم کور کښی او سیږه باید په هغه کور کښی واوسیږی عدت تیرول کړی
د باندی د تل روانه دی البته که یو عزیب ښځه وی چه د دی سره د خپلی
ګذاری خرڅ نه وی نو دی د ډوډی پخولو یا د بل شی خواری او مزدوری
کوله نو د دی د پاره تلل او تل روادی لیکن د شپی دی خاص په خپل کور
کښی اوسی - برابره خبره ده که د دی او خاوند نژدیکت سره سوی وی او
که نه وی یو قسم یوازیوالی اقریوحایوالی ئ سره سوی وی او که نه وی او حیض
ورته راځی او که نه ورته راځی د ټولو حکم یودی چه څلور میاشتی اولس
ورځی باید په عدت کښی کښینی البته که د غه ښځه حملداره وی نو په دغه
حال کښی ئ خاوند مړ سو نو د کوچنی تر پیدا کید و پورې دی په عدت کښی
کښینی د میاشتو هیڅ اعتبار نسته که د مرګ څخه درې څلور ساعته
ورسته کوچنی پیدا سو نو هم عدت ختم سو - (عالمګیری کشوری ص ۵۴۵ ج ۲)

(۲) مسئله :- په ټول کور کښی چه هر ځای ئ زړه غواړی هلته دی اوسی
واچه رواج دی چه یو خاص ځای مقرر وی او دا کی اوسیږی چه د غمجنی ښځی
چارپائی او خپله غمجنه ښځه به د د غه ځایه څخه نه لیږی کیږی بالکل
بی سنده خبره ده او خرافاتی دی دا رواج باید پریښوول سی - (عالمګیری ص ۵۵۱ ج ۲)

(۳) مسئله :- خاوند ئ نابالغ هلک وُ او هر وخت چه هغه مړ سو نو دا
حملداره وه بیا هم د دی عدت د کوچنی تر پیدا کید و پورې ده لیکن د غه
کوچنی حره مونی دی د ښځی د خاوند نه دی - (شرح البدایة ص ۴۰۴ د دهم
ټوک و در ص ۲۵۶ اول ټوک)

(۴) مسئله :- که د یو ښځی خاوند د خدایی میاشتی پر اول تاریخ مړ سو او ښځه
حملداره نه وه نو د سپوږمی د حسابه څخه دی څلور میاشتی اولس ورځی
پوره کړی او که پر اول تاریخ مړ سو نو هره میاشت دی د دیرشو دیرشو شمیری څلور
میاشتی اولس ورځی باید پوره کړی د طلاق د عدی هم د غه حکم دی که نه
حیض ورته راتلی او نه حملداره وه او د خدایی میاشتی پر اول تاریخ
طلاق ورکړه سو نو د سپوږمی د حسابه درې (۳) میاشتی پوره کول په کار دی
برابره خبره ده که میاشت د نه ویشتو ورځو وی که د دیرشو ورځو وی او که
د خدایی میاشتی پر اول تاریخ طلاق ورنه کړه سو نو هره میاشت دی دیرش (۳۰)

دیرش ورځې وشمیرې د ری میاشتې دی پوره کړی۔ (فتاوی عالمگیری ص ۵۴۳ ج ۲ و رد المحتار ص ۶۰۳ دوهم جلد)

(۵) مسئله:۔ یوی بنځې په بې قاعدګۍ سره نکاح کړی وه مثلاً بیله شاهلانو نې نکاح کړی وه یا نې داخبنی (دخور د میړه سره) نکاح کړی وه چه د دغې بنځې حور لا تر اوسه د داغه اخبنی په نکاح کښې وه بیا نو خاوند مړ سو نو دا سې بنځه چه د دی نکاح د سره صحیح نه وه د سړی تر مرګ ورو سته د ی څلور میاشتې لس ورځې په عده کښې نه کښینی بلکه د ری حیضه عده دی پوره کړی که حیض نه وړ ته را تلی نو د ری میاشتې عده دی پوره کړی او که حمدار ه وی د کوچنی تر پیدا کیدو پوری دی کښینی۔ (شرح البدایة ص ۴۰۴ دوهم جلد وعالمګیری ص ۵۵۱ اول جلد)

(۶) مسئله:۔ یوچا پخپله مریضې کښې طلاق بائن ورکړی او د طلاق عده لا تر اوسه پوره سوی نه وه چه خاوند مړ سو نو وګورئ چه د طلاق د عدې ورځې ډیرې دی یا د مرګ د عدې د پوره کولو ورځې ډیرې دی په هره عده کښې چه ډیرې ورځې لګیږی هغه عده دی پوره کړی که نې په مریضې کښې طلاق رجعی ورکړی وی او تر اوسه لا عده د طلاق نه وه تیره سوی چه خاوند نې مړ سو نو پردغه بنځه دوفات عده لازمه ده۔ (درمختار ص ۲۵۶ اول ټوک وهدایة ص ۴۰۳ دوهم ټوک)

(۷) مسئله:۔ دیوی بنځې خاوند مړ سو۔ مګر دی ته خبر نه ؤو ورسیدلی نو تر څلورو میاشتو اولسو ورځو تیرید و ورو سته خبر سوه نو د دی عده پوره سوه د هر هغه وخت څخه چه خبر سوی ده د هغه وخته څخه عده تیروله ضرور نه ده داغه رنګه که خاوند طلاق ورکړی وو مګر دا خبر نه وه تر ډیرو ورځو ورو سته خبر ورته را ورسیدی خوند ی عده چه د دی پرذمه واجب وه داغه عده د خبر را رسید و مخکې تیره سوی وه نو د دی هم عده پوره سوه او بیا عده پوره کول واجب نه ده۔ (شرح البدایة ص ۴۰۵ دوهم ټوک وشرح التنویر ص ۲۵۷ اول جلد)

(۸) مسئله:۔ دیو کار د پاره د کور څخه د باندې وتلی وه یا د خپلو خپلوانو او همسایه ګانو کور ته تللی وه چه په دغه وخت کښې د دی خاوند مړ سو

نو اوس دی فوړا او سمدستی دهغه ځای څخه راروانه سی او په هرکور کښی چه دا او سیده هلته دی او سیدل مختار کړی - (شرح البدایه ص۴۰۹ دوهم توک وشرح التنویر ص۲۶ دوهم توک)

(۹) مسئله :- د مرګ په عده کښی بښځی ته د وړی او جامه نه ورکول کیږی د خپله ځانه دی خرڅ او مصرف کوی - (شرح البدایه ص۲۷۳ اول توک وشرح التنویر ص۲۷۳ اول جلد)

(۱۰) مسئله :- په بعضو ځایونو کښی رواج دی چه د خاوند ترمرګ وروسته پوره یوکال د عدی پرطریقه کښینی دا بالکل حرام دی - (مشکوة شریف ص۲۸۹ اول توک)

(۲۵) دغم کولو بیان

باب

(۱) مسئله :- هری بښځی ته چه طلاق رجعی ورکړه سوی وی چه د عدی مده دکوره څخه د نه وزی او دبل چاسره نکاح دنه کړی بس فقط دغه ئی عده ده نور نو ځان برابرول او سنګار کول ددی دپاره روا دی او هری بښځی ته چه درې(۳) طلاقه ورکړه سوی وی یا یو طلاق بائن ورکړه سوی وی یا په بل قسم نکاح ماته سوی وی یا ئی خاوند مړ سوی وی نو په هغو صورتونو کښی ئی حکم دادی چه ترڅو پوری چه په عده کښی وی - نه دی دکوره وزی نه دی خپله بله نکاح کوی نه دی ځان جوړول او سنګارول کوی نه دی خبری پرې دغسی بښځی حرامی دی دغه سنګار پرې بسول او خبرن پیرت او سیدو ته غم ویل کیږی - (هدایه ص۴۰۷ دوهم توک)

(۲) مسئله :- ترڅو چه عده ختم سوی نه وی نو هغه وخته خوشبویی اوعطر نګول کالی اوجامی بنایسته کول دسره او سپینو زرو ګینی اوداسی نور شیان استعمالول - ګلدره جامی اغوستل ، ستړګی تورول - پان خوړل ، چه خوله ئی پرې کړه سی - سوځی نګول ، سر په تیلو غوړول - وریښتان بزمونځه ول او سره خلاصول لاسونه اوپښی سره کول ، بنه دبنایست کالی اوجامی اغوستل ، وریښمینی ، رنګ

سوی، ګلدار ته جامی اغوستل د غه ډول شیان حرام دی - البته که ګلدار ته خامکدار نه دی بیا روا دی برابره خبره ده هر رنګ چه وی مطلب دا دی چه د بنایست جامی په نه وی داهنسی ساده جامی پروا نه لری. (در مختار ص ۲۵۹ اول جلد وعالمګیری ص ۵۴۰ دوهم ټوک)

(۳) مسئله:- که د سړی درد د وجهی د تیلو د استعمالولو ضرورت پیښ سی نو هغه تیل چه خوشبویه نه وی لګول ئی صحیح دی داغه رنګه د دوا د پاره را ښځه لګول هم د ضرورت په وخت کښی روا دی لیکن د شپی دی ستړګی په توری کړی د ورځی دی بیرته پاکی کړی سر مالش کول پری مینځل هم صحیح دی او د ضرورت په وخت کښی سر ښ مونځول هم صحیح دی مثلاً سر ئی وغورځوی یا ئی سر سپږی وکړی لیکن پټی او د ریښتان دی د زینت او بنایست د پاره د پرمخ نه راکښته کوی او نه دی خپل سر په میدې ته غابنی د مونځ ښ منځولو سره ئی د ریښتان ځلیدل پیدا کړی - بلکه ښ مونځ ښ منځوی چه په ښ مونځولو سره ئی د ریښتان ځلیدل پیدا کړی مطلب دا دی چه په داسی طریقه په پښه غابنی ښ مونځ دی سر ښ مونځ کړی مطلب دا دی چه په داسی طریقه دی د ریښتان نه ښ منځوی چه بنایست ئی ځړنی دی بلکه صرف د ضرورت د پاره باید ښ مونځ استعمال کړی (هدایه ص ۴۰۸ دوهم ټوک وفتاوی هندیه ص ۵۴۹ ج ۲)

(۴) مسئله:- غم کول پرهغی بنځی واجب دی چه پیغله سوی وی پرورته انجیلی واجب نه دی د دی د پاره د غه ډول شیان روا دی البته د کور څخه وتل او بله نکاح کول د دی د پاره هم روانه دی. (هدایه ص ۴۰۸ دوهم ټوک ودر مختار ص ۲۵۹ اول ټوک)

(۵) مسئله:- د هری بنځی چه نکاح صحیح نه وی تړل سوی بی قاعده نکاح ئی تړل سوی وی نو چه د دی د غه نکاح ماته کړل سی یا مړی مړسی پر داسی بنځی هم غم کول واجب نه دی. (هدایه ص ۴۰۸ دوهم ټوک ودر مختار ص ۲۵۹ اول ټوک)

(۶) مسئله:- د میړه څخه علاوه د بل چا پر مرګ غم کول روانه دی البته که ئې میړه منعه نه کړی نو د خپل عزیز قریب پر مرګ هم تر درو ورځو پورې څان جوړول او سنګار کول - دغه شیان پریښودل روا دی تر درې[۳] ورځو زیات غم کول بالکل حرام دی اوکه خاوند منعه کوی نو د درې[۳] ورځې دی هم غم نه کوی. (شامی ص۶۱۸ دوهم ټوک در مختار ص۲۵۹ اول جلد)

(۲۶) دډوډی اوجامې بیان

باب

(۱) مسئله:- د بنځې ډوډی اوجامه د خاوند پر ذمه واجب ده برابره خبره ده که بنځه هر څوند ی مالدار ه وی مګر خرڅ ئې د خاوند پر ذمه دی اود اوسیدو د پاره کور او رکول هم د سړی پر ذمه دی. (عالمګیری ص۵۶ ج ۲)

(۲) مسئله:- نکاح وسوه لیکن ور واده سوی نه وه بیا هم د ډوډی اوکالو غوښتنه او د هوکولای سی لیکن که ئې خاوند واده وغوښتی او واده ئې نه ورکاوی نو بیا د ډوډی اوجامې حق نه لری. (فتاوی هندیه ص۵۶ دوهم ټوک)

(۳) مسئله:- انجیلی که پیره کوچنی وه چه د نزدیکت قابله نه وه که سړی د خپل کور د کار کولو د پاره یا د خپل زړه د خوشحالی د پاره خپل کور ته راوسته - نو د ډوډی اوجامې دده پر ذمه واجب ده اوکه ئې بیرته د پلار کور ته ولیږله نو بیا جامه او ډوډی پر واجب نه ده اوکه خاوند کوچنی اونا بالغ وی لیکن بنځه پیغله وی نو ډوډی او جامه به ورکوی. (شرح البدایه ص۴۱۸ دوهم ټوک)

(۴) مسئله:- د هر څوند ی مهر او ولور چا اول واړه رواج دی هغه خاوند نه وړو ورکړی نو د دا غه سبب د خاوند کور ته نه ورتله نو د ی ته به ډوډی جامه خاوند ورکوی اوکه بیله کوم سبب د خاوند کور ته نه ورتله نو د ډوډی اوجامې حقدار ه نه ده هر څخه چه کور ته ورسی بیا د ی ته ورکول کیږی. (فتاوی هندیه ص۵۶ دوهم ټوک)

(۵) مسئله:- هر څوند ی زمانه چه د خپلی مور او پلار په کور کښی د میړه په اجازه تیره کړی د هغه زمانی ډوډی، جامه هم د میړه څخه اختلای سی - (در مختار ورد المحتار ص۵۹۸ دوهم ټوک)

(۶) مسئله:- بنځه مریضه سوه نو د مریضی په وخت کښی د چوچی اوجاعی حق لری برابره خبره ده که د میړه په کور کښی مریضه پرته وی یا د پلار په کور کښی مریضه پرته وی لیکن که د مریضی په حال کښی خاوند ورته ووایل چه د پلار د کور نه راسه دا بیا هم نه راغله بیا ئی حق نه لری او د مریضی په حال کښی فقط جامه او چوچی ورکول کیږی د دوا علاج طبیب او په اکثر خرچ د سړی پر ذمه واجب نه دی د خپله ځانه دی خرچ کوی که خاوند د هغه خرچ ورکړی هغه د ده احسان دی حق نه لری.
(در مختار و رد المحتار ص۹۹۸ دوهم ټوک)

(۷) مسئله:- بنځه د حج د پاره ولاړه نو د حج د زمانی چوچی او جامه د سړی پر ذمه واجبه نه ده - البته که خاوند هم ورسره وی نو د دغی زمانی خرچ به هم ورکوی - لیکن چه په کور کښی هرځوندی د چوچی او جاعی خرچ ورکړه کیدی د هغه قدر خرچ حق لری که تر د هغه خرچ چه په کور کښی ئی کوی زیات ولګیږی هغه خرچ به دا د خپله ځانه کوی - د موټر، طیاری، توری ګاډی - آب ګوټ یا داسی بل شی کرایه هم د خاوند پر ذمه نه ده - (عالمګیری ص۵۶۲ دوهم ټوک)

(۸) مسئله:- په چوچی او جامه کښی د دواړو مراعت کیږی که د واړه مالداران وی نو د مالدارانو په شان به چوچی او جامه ورکول کیږی که د واړه غریبان وی نو بیا به د غریبانو په شان ورکول کیږی که سړی مسکین وی او بنځه مړه (مالداره) وی یا بنځه مسکینه وی سړی موړ وی نو به داسی خرچ ورکوی چه د مړ والی ترحال کم وی او د غریبی ترحال بالا وی - (شرح البدایة ص۴۱۷ دوهم ټوک)

(۹) مسئله:- بنځه که مریضه وی چه د کور کار و بار نه سی کولای یا داسی څټ کور وی چه په خپل لاس د اوړه - تنکی کول - اخښل او پخول نه کوی او داغه رنګه نور پوخت هم نه کوی بلکه عیب[۱] ئی بولی نو دی ته به تیار چوچی ورکوی او د شی د پخولو حق نه پرلری بلکه دی ته به لا برابره سوی چوچی ورکوی او که نه مریضه وه او نه د لوړ کور وه نو د کور ټول کار و بار به پر خپل لاس کوی بلکه باندی واجب دی د هغه کار څخه دی دا

۴۹۲ [۱] بعض د دی کار و په کوا و سره ځان سپک ګڼه معلومیږی ۱۲

کوی دسړی پر ذمه فقط د وند ی واجب دی چه نغړی، ژړندۍ کول، غله، بوټی دخورک لوبنی او دامی نور شیان ورته راوړی او پخول او برابرول ئی د بنځی پر ذمه دی۔ (در مختار ص۲۶۷ و ص۲۶۸ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:- تیل، زموغ، چاړه، صابون او د اوداسه، غسل او لمبید واوبه ئی د خاوند پر ذمه دی۔ لیکن راغجه، سرخی او سپیدۍ، پان، نسوار، تمباکو ئی د خاوند پر ذمه نه دی چه یو څوک په پیسو کالی ورپریمنځی دغه پیسی ئی هم د خاوند پر ذمه نه دی پخپله دی پری مینځی وادی عوندی او که ئی خاوند ورکړی نو داد ده احسان دی حق نه پرلری۔ (فتاوی عالمگیری ص۵۶۴ دوهم ټوک و در مختار ص۲۶۸ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:- د کوچنی د پیدا کیدو د پاړه چه دایئ او چا کتره راسی نو مزدوری او خرڅ ئی پر هغه چادی چه چارا وستلئ وی که خاوند را بللی وی خاوند به ئی ورکوی او که بنځئ را بللی وی بنځه به ئی ورکوی او که خپله راغله یوه نه وه راوستلی نو بیا ئی مزدوری پر خاوند نده۔ (در مختار ص۲۶۸ اول ټوک و الثانی ص۶۴۹ دوهم ټوک)

(۱۲) مسئله:- د چا وچی جانی دیوه کال یا نږیوه کال کم یا زیات خرڅ ئی پیشکی ورکړی اوس نو په دغه کښی یوځه بیرته نه سی ځندی گرزولای۔ هدایه ص۴۲۰ دوهم ټوک)

(۲۷) باب — داوسیدو د پاړه دکور بیان

(۱) مسئله:- د سړی پر ذمه دا هم واجب دی چه د بنځئ داوسیدو د پاړه یو داسی ځای ورکړی چه په هغه کښی د خاوند یو قریب نه وی بالکل خالی وی د پاړه دده دی چه خاوند او بنځه بالکل په آزادی سره کی و اوسی البته که بنځه د پټو سره په خپله خوښه او سیدل خوښ کړی نو په دغه شریک کور کښی ئی او سیدل هم صحیح دی۔ (شرح البدایة ص۴۲۱۔ دوهم ټوک)

(۲) مسئله:- د کور څښه دی یو ځای بنځئ ته ورجلا کړی چه هغه خپل مال او شیان په هغه ځای کښی په حفاظت سره ایږدی او خپله پکښی او سیږی او تلف او کیلی ئی هم د خپل ځان سره وی بل چا ته دا خلیدو ورنو تواجازه نه ورکوی

فقط د بنځې په قبضه کښې وی بس نور نو د بنځې حق ادا سو بنځه ترد غه د زیات شی
د عوه نه سی کولای او دا نه سی ویلای چه زما د پاره پوره کور او سرای راجلا
کړه بس دومره ی حق لری چه په سرای کښې یو ځای ورجلا کړی د پوره سرای
حق نه لری - (هدایة ص۴۲۱ د دهم پتوک)

۳ مسئله:- لکه بنځې ته چه اختیار حاصل دی چه د خپل ځان د پاره کا جلا
کور وغواړی د کور د څخه مراد پوره کور نه دی بلکه د وندی ځای چه هغه
کښې د سړی هیڅ قریب نه اوسی فقط د بنځې په قبضه کښې وی د غه رنګه
خاوند ته اختیار حاصل دی چه په هغه کور کښې چه دا اوسیږی هلته
د دی هیڅ قریب ته د راتګ اجازه ورنه کړی نه مور نه پلار نه ورور
نه بل قریب ته - (شرح البدایة ص۴۲۱ د دهم پتوک)

۴ مسئله:- بنځه د خپل مور او پلار د ملاقات او لید د پاره یو وار په
هفته کښې تلای سی - د مور او پلار څخه علاوه د نورو قریبانو د پاره
په یوره کال کښې یو وار تلای سی - تر د غه ز یات اختیار نه لری د غه رنګه
د دی مور او پلار هم په هفته کښې فقط یو وار د دی کور ته راتلای سی
او تر د غه چه ز یات ئې مور او پلار ور ته راځی خاوند ئې منعه کولای سی او
د مور او پلار څخه علاوه نور قریبان ئې فقط په کال کښې یو وار ور ته راتلای
سی په ز یات راتګ ئې سړی منعه کولای سی لیکن د بنځې خاوند اختیار لری
چه د بنځې مور او پلار او نور قریبان د ملاقات او لید د پاره د خپلی
بنځې سره تر پریږه وخته پورې نه پریږدی او دا خبره د دی د ټولو ته معلومه
وی چه د قریبانو څخه مراد هغه قریبان دی چه د د وی سره د د ننی بنځې
نکاح همیشه ترهمیشه حرامه وی او کوم قریبان چه دا رنګه نه وی لکه هغه
په شرعه کښې د پره یو او هیڅکله نه خلګو په شان دی (شرح التنویر ص۱۰۲۸ ج ۲)

⑤ مسئله:- که ئې پلار مریض[1] وی او د خبرد معلومیږی چه ډوک ئې نه وی نو
د غه وخت سړی برابر ورځ نه د اهلته ورتلای سی که ئې پلار مثلاً بی دینه
او کافر وی بیا هم د اغه حکم دی - بلکه که ئې خاوند منعه هم کړی بیا هم باید
ولاړ سی - لیکن چه میږه ئې منعه کړی د اولاړ سی نو د هغه ډوډی او جامی حق

[1] یا ئې مور مریضه وی یا ئې د مور او پلار په شان بل داسی حقدار قریب مریض وی

پرخاوند بیا نه لری - (در مختار ص۲۷۱ اول پتوک و شامی ص۶۶۵ دوهم پتوک)

(۶) مسئله:- د بیگانه خلگو کور و تنه تلل نه دی په کار - که دواده، بنادی یا داسی بل څه محفل وی او خاوند اجازه هم ورکړی دا باید ولاړه نه سی ناروا کار دی که خاوند اجازه ورکوی هغه هم گناهگاره دی بلکه د مجلس او گډه خور په زمانه کښی د خپل محرم قریب کور ته و تلل هم صحیح نه دی (رد المحتار ص۱۰۲۹ دوهم پتوک در مختار)

(۷) مسئله:- هر هغه څیز چه طلاق ورکړه سوی وی هغه هم د عدی تر پوره کید و پورې د ډوډۍ، جامی او داوسیدو د ځای پرخاوند حق لری - البته د هر هغه څیز چه خاوند مړ وی د ډوډۍ، جامی او داوسیدو د ځای حق نه لری لیکن ودی ته میراث په هرشی کی ورکول کیږی - (هدایة ص۴۲۳ دوهم پتوک)

(۸) مسئله:- که نکاح د څیز له خوا ماته سوه مثلاً د بلزی سره ئی نژدیکت وکړی یا ئی په شهوت او خوند سره لاس ورو وړی نور ئی هیڅ نه دی کړی نو ددی سبب خاوند طلاق ورکړی یا هغه بد دینه او کافره سوه د اسلام څخه واوښته د دغه سبب نکاح ماته سوه نو په دغه پتلو صورتونو کښی په عده کښی د ښځه دښه هم نه ډوډۍ نه جامه ورکول کیږی - البته داوسیدو ځای اوکور به ورکول کیږی که دا خپله ولاړه نو بله خبره ده بیا نه ورکول کیږی - (شرح البدایة ص۴۲۳ دوهم پتوک)

(۲۸) باب — د اولاد د حلالی کید و بیان

(۱) مسئله:- چه د د اسی ښځی اولاد پیدا سی چه هغه خاوند لری نو دغه کوچنی د دغه خاوند اولاد بلل کیږی بنا پر شک او شبه داورته ویل دخاوند دخواڅخه چه دا زما اولاد نه دی بلکه د فلانی دی نو دا ناروا خبره ده او دغه هلک ته په حرمونی سره ویل هم روا نه دی او که د اسلام حکومت وی نو داسی ویونکی دی په دورو ووهل سی - (بحر الرائق ص۱۶۲ څلرم پتوک)

(۲) مسئله:- د حمل مده کم از کم شپږ میاشتی ده او زیاته زیاته ئی دوه کاله ده یعنی لږ تر لږه کوچنی دمور په لس کښی شپږ میاشتی تیر وی - بیا صحیح سالم پیدا کیږی که تر دغه کم پیدا سی بیا صحیح سالم نه وی نقصان دی

نو دشپږو میاشتو څخه کم نه سی پیدا کیدای او د پرده د مدې ئ دوه کاله په نس کښی پاته کیدای سی تر دغه زیات نه سی پاته کیدای (بحرالرائق ص۱۶۳ څلرم توک)

۴ مسئله:- د شریعت قانون دی هر څوندی چه کیدای سی تر هغه وخته پورې دکوچنی ته حرمونی نه وایو هر هغه وخت چه بالکل مجبوری سی هیڅ لاره ئ د حلالولو نی کیدو نه وی بیا نو د حرامیتوب نسبت ورته کوو او ښځه ګنهګاره بولو- (عالمګیری ص۵۵۲ دوهم توک)

۵ مسئله:- یو چا خپلی ښځی ته طلاق رجعی ورکړی بیا د دوو(۲) کالو تر پورې کید و مخکی د دی اولاد پیدا سو نو دغه اولاد د دغه خاوند دی دی نه ته په حرامی سره ویل روا نه دی په شریعت کښی د دې نسب مه [illegible] دی که تر دوو(۲) کالو یوه ورځ هم کم وی همدغه حکم ئ دی داسی ئ [illegible] د طلاق څخه مخکی حمل دی او تر دوو(۲) کالو پورې کوچنی په [illegible] ته سو او اوس د کوچنی تر پیدا کیدو وروسته د دی عدې څخه سو [illegible] د نکاح څخه جلا سوه- هو که ښځی تر دغه زیږید و د کوچنی مخکی یخپله اقرار وکړی چه زما عدې څخه سویده نو بیا مجبوری دې اوکوچنی حرامی دی- بلکه د داسی ښځی که تر دوو(۲) کالو وروسته کوچنی پیدا سی او تر او سه ښځی د خپلی عدې د ختمید و اقرار نه وی کړی بیا هم دغه کوچنی د دغه خاوند دی برابره خبره ده که هر څوندی کلونه وروسته پیدا سوی وی- اوداسی ئ بولو چه تر طلاق ورکولو وروسته ئ په عده کښی نژدیکت ورسره کړیدی او طلاق ئ پری اینبی دی رجوع ئ ورته کړیده نو د دی سبیه د غه ښځه اوس د کوچنی تر پیدا کیدو وروسته هم د دافعه سړی ښځه ده او د دی نکاح نه ده شکیدلی او که د خاوند زدی نه وی هغه دی وایي چه د غه زما زوی نه دی او هر هغه وخت چه دغه سړی انکار وکړی نو بیا به لعان سره کوی- (شرح البدایة ص۴۱۰ ج۲)

۶ مسئله:- که ئ طلاق باٹن ورکړی- نو د دی حکم دا دی که په دوه کاله دننه دننه کښی هلک پیدا سو نو د دغه خاوند دی او که تر دوه کاله ورروسته

لہ یعنی په شرط د دی چه بنځی د عدې د نیږید و اقرار کړی نه وی ۱۲ تصحیح الاغلاط

وی نو حرامی دی لیکن نژدې کاله وروسته چه هلک پیدا سی که سړی داد عوه وکړه چه دغه هلک زما دی نو حرامی نه دی او داسی ئې ګڼو چه په عده کښی دننه به ئې په خطا سره نژدیکت ورسره کړی وی او دغه نژدیکت څخه حمل راسویده ـ (شرح البدایة صـ۴۱۱ دوهم ټوک)

(۶) مسئله :- که ئې نابالغې انجیلی ته طلاق ورکړی چه پیغله سوی لا نه وه لیکن پیغلتوب ته نژدی وه او ترطلاق وروسته پوره پرنهمه میاشت ئې کوچنی پیدا سو نو حرامی دی او که تر نهه (۹) میاشتی تیریدو او پوره کید و مخکی پیدا سو نود خاوند دی البته که هغه انجیلی په عده کښی دننه یعنی دډیر (۳) میاشتو تر پوره کید و مخکی اقرار وکړی چه زه حمل دار یم نو دغه کوچنی حرامی نه دی په دوه کاله دننه دننه کښی چه پیدا سی نو حرامی نه دی د دغې ښځې (۱) خاوند زوی دی ـ (هدایة صـ۴۱۱ دوهم ټوک)

(۷) مسئله :- دیوی ښځې (۲) میړه مړسو نود مرګ دوخت څخه که په دوه کاله کښی دننه اولاد پیدا سو نو حرامی نه دی بلکه د خاوند زوی دی لیکن که چیری ښځې دخپلی عدی دختمید و اقرار کړی وو نو مجبوری ده اوس نو حرامی ورته ویل کیږی او که تر دوه کاله وروسته پیدا سو بیا هم حرامی دی ـ (عالمګیری صـ۵۵۳ دوهم ټوک هدایه صـ۴۱۱ دوهم ټوک)

خبرتیا :- دد غو مسئلو څخه معلومه سوه چه د جاهلانو خلګو چه کوم عادت دی چه که د چا تر مرګ وروسته د نو میاشتو څخه یوه یاد وی میاشتی هم زیاتی تیری سی او کوچنی پیدا سی نو دغه ښځه بدکاره بولی دا ډیره لویه ګناه ده ـ

(۸) مسئله :- تر نکاح وروسته تر شپږو میاشتو په کمه مده کښی که کوچنی پیدا سو نو دغه کوچنی حرامی دی که پرپوره شپږ میاشتی یا تر دغه په زیاته مده کښی کوچنی پیدا سو نود خاوند دی پر دغه هم شک کول

کول حرام دی اوگناه دی البته که خاوند انکار وکړی او ووایی چه دغه زما اولاد نه دی بیا به لعان کوی۔ (هدایه صـ۴۱۳ دوهم جلد)

(۹) مسئله:۔ نکاح وسوه لیکن تړاوسه واده نه ده وسوی چه کوچنی پیدا سو نو اهلک د خاوند دی حرامی نه دی اوده نه حرامی ویل روا نه دی که د خاوند نه وی نو انکار دی وکړی اوپر انکار کولو بیا د لعان حکم جاری کیږی یعنی لعان به سره کوی۔ (فتاوی عالمگیری صـ۵۵۲ ج ۲

(۱۰) مسئله:۔ خاوند په سفر کښی دی پیره مده او کلونه تیر سو بیدی چه کور ته نه دی راغلی او دلته کوچنی پیدا سو خاوند انکار نه کوی بیا هم د شرعی د قانون دلاری څخه دغه حرامی نه دی دده دغه خاوند دی البته که هغه ته خبر ورسیږی انکار وکړی نو د لعان حکم دی۔ شرح التنویر صـ۲۶۳ اول پتوک و البحرالرائق صـ۱۵۵ څلرم پتوک)

(۳۹) داولاد پالنی بیان — باب

(۱) مسئله:۔ د میړه او بنځی په منځ کښی جلاوالی راغلی او طلاق ورکړه سو او په غیږ کښی ئی کوچنی دی دده د پالنی حق د مور دی پلار دغه کوچنی په زور سره نه سی څندی اخستلای لیکن د کوچنی تول حرځ به پلار ورکوی که ئی مور پالنه نه کوی نو د پلار په حواله دی کړی پلار به ئی خامخا اخلی په بنځی باندی ئی په زور پالنه اوپرورش نه سی کولای دی دی د پالی هر قسم چه ئی پالی۔ (هدایه صـ۴۱۴ دوهم پتوک)

(۲) مسئله:۔ که مور نه وی یاری لیکن د دی هلک د پالنی څخه ئی انکار وکړه نو د پالنی حق ئی دانا یعنی د مور د مور دی اوبیا ئی د وری انا یعنی د کوچنی

د مور د انا

حق دی۔ که د غه نه وی بیا دانا یعنی د پلار د مور دی او بیا د وری انا یعنی د پلار د خواد مور د مور دی که د غه هم نه وی نو پالنه ئی د سکه خوندو حق دی چه د وی د خپل د دور پالنه وکړی که سکه خوندی نه وی نو بیا دی ناسکه خوندی پالنه وکړی مگر هغه خوندی چه داسی وی چه د د وی او د د غه کوچنی مور یوه وی هغه په پالنه کښی مخکی دی او کومی خوندی چه داسی دی چه د د وی او د د غه کوچنی پلار یو وی هغه ورو سته دی که د غه نه وی بیا خاله ده که د غه نه وی بیا عمه ده۔ (هدایة ص۴۱۵ دوهم توک در مختار ص۲۶۴ اول توک)

(۳) مسئله:۔ که ئی مور دیو داسی سړی سره نکاح وکړه چه د کوچنی محرم خپل او قریب نه کیدی یعنی په د غه قرابت کښی د همیشه د پاره نکاح نه حرامیده نو مور ئی او س د د غه کوچنی د پالنی حق نه لری البته که ئی د د غه کوچنی د داسی قریب سړی سره نکاح وکړه چه د د ه سړه ئی په هیڅ وخت کښی نکاح نه صحیح کیده مثلاً د د غه کوچنی د اکا سړه ئی نکاح وکړه یا داسی یو بل قریب نو د مور حق باقی دی د مور څخه علاوه بله ښځه مثلاً خور، خاله۔ او داسی نور که د غیر محرم سړه نکاح وکړی نو د د غه هم د اغه حکم دی چه اوس د د غه کوچنی د پالنی او پرورش حق نه لری۔ (فتاوی هندیه ج۱ ص۵۵۷)

(۴) مسئله:۔ د کوچنی د غیر محرم سړه نکاح کولو په وجه ئی حق د پالنی د کوچنی د لاړی ختم سو۔ لیکن که بیرته هغه سړی پریښوو ه یا مړ سو نو اوس ئی بیرته حق راګرزی او کوچنی بیرته و دی ته ور سپارل کیږی۔ (زیلعی ص۳۴۷ دریم توک)

(۵) مسئله:۔ که د کوچنی په قریبانو کښی هیڅ ښځه د د ه د پالنی د پاره پیدا نه سوه نو او س پلار تر ټولو زیات مستحق او حقدار ه دی بیا د پلار پلار او داسی نور په هغه ترتیب سره چه مور د ولی د نکاح په بیان کښی ذکر کړی دی۔ لیکن که نامحرم قریب وُ او کوچنی چه ور کړه می په اینده کښی ئی د خرابیدو بیره وی نو په داسی صورت کښی ئی و داسی چا ته ور سپارو چه د د ه سړه د هری خوا بیغمی او اطمنان پرکوچنی باندی وی۔ (هدایه ص۴۱۵ دوهم توک و فتاوی هندیه ص۵۵۷ دوهم توک)

(۳۰) مسئله:- هلک چه ترکومه وخته پورې د اودۍ (۷) کالو نه وي نو نرد غه وخته پورې
د دې د پالنې حق ستنه چه هر کله اودۍ (۷) کالو ته ورسیدې نو اوس ئې پلار په زور اخستلاو
سې چه د ځانه سره ئې کړي اود انجیلې د پالنې حق تر نهو (۹) کالو پورې دی چه هر کله د
نهو کالو سوه نو پلار ئې اختیار سې اود پلار څخه ئې هیڅوک نه سې منعه کولای
د مختار ص۲۶۵ اول ټوک

باب (۳۰) دمیرۍ د حقوقو بیان

پروردګار عالم خاوند یعنی میرۍ ته دې بحق ورکړي دی دې میرۍ بزرګي اولوي
ئې ورکړیده د میرۍ راضي کول او خوشحاله ساتل لوی عبادت دی او خفه کول اوناراض
ول ئې دې میرۍ ګناه ده۔ حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هر
څه پنځه وخته لمونځ کوی اود روژې د میاشتې روژې نیسی خپل عزت اوناموس
مالۍ یعنی بد کاره نه وي اود اغه رنګه د خپل میرۍ (خاوند) تابعداري
ون مانبرداري کوی بیانودی ته اختیار دی چه دهرې دروازې څخه
غواړې جنت ته دی ور داخله سې۔ (مشکوٰة شریف ص۲۸۱)

مطلب ئې دادی چه د جنت دا تو دروازې د څخه دهرې دروازې څخه چه
دی زړه غواړې جنت ته دی د هغې دروازې څخه دزړه بې دریه اوبې
یږي ور داخله سې او حضرت صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه وهر چاته
رګ په داسې حال کښې راسې چه د دی خاوند د دی څخه راضي او خوشحاله
ی نو داجنتي ده۔ (روایت کړید ترمذی شریف)

او حضرت صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه ماکه د خدای څخه مامیوؤ
بل چاته د سجدې کولو حکم کولای نو بنځې ته به ئې امر ور کړی وای چه
خپل خاوند ته سجده وکړي۔ (رواه الترمذی) (یعنی سجده د عزت نه سجده
د عبادت) که سوی یعنی خپلې بنځې ته حکم ورکړی چه د د غه فلانی
زړه د یږي داخله ترهغه بل زړه ئې ورسوه او د د غه زړه څخه ئې پیسې ترته کړه
زد ریم زړه پورې ئې پوسه نو د دې د پاره د اغسې کول په کار دی۔

او حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هر وخت یو خاوند

(۱) او اوس نه د عبادت سجده او نه د تعظیم سجده ده صیغ قسم ما سیوی د خدای جل جلاله څخه وبل چاته
واده ده

خپله بنځه د خپل کار د پاره راوبولی نو خامخا دی دده ته راسی که پرنغری یا دیگدان د دوړی یا بل شی د پخولو د پاره ناسته وی هم دی ورته راسی. مطلب دا دی چه په هرڅوندی ضروری کار اخته وی ټول کار ونه دی پریږدی او ورته رادی سی.

او حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی که چا خپله بنځه د خپل ځان سره د پری ایستلو د پاره راوبلله او هغه نه ورغله او بیا هغه دا رنګه په غصه کښی بیده سو نو تر سهاره پوری پرده ځی بنځی ټولی ملائیکی لعنت وایی.

او حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه په دنیا کښی چه یوه بنځه خپل خاوند زهیروی نو هره حوره چه په قیامت کښی د د بنځه کیږی دا رنګه وایی خدای پاک دی ستا بیخ وکاږی ـ ته دځی مه زهیروه داستا میلمه دی په دیر ولږ و رځو کښی تا پریږدی و ماته راځی.

او حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د ی قسمه انسانان داسی دی چه د د وی نه[۱] لمونځ قبلیږی نه ځی یوه بله نیکی قبلیږی یو هغه مینځه او مړی چه د خپل مالک څخه وتښتی د و هم هغه بنځه ده چه د دی میړه د دی څخه ناخوښه او ناراضه وی دریم هغه چه په نشه کښی مست وی ـ (حضرت جابر رضی الله تعالی عنه ځی روایت کړی دی)

د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یوچا پوښتنه وکړه چه یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تر ټولو ښه بنځه کومه بنځه ده نو نبی علیه السلام وفرمائیل ښه بنځه هغه ده چه هر وخت د دی خاوند د دی وخوانه وګوری نو خوشحاله[۲] سی چه یو څه ورته وایی خبره ځی و منی په خپل ځان او خپل مال[۳] کښی د ده هیڅ مخالفت ونه کړی چه د ده ناخوښه وی یو حق د خاوند دا دی چه خاوند پرکور وی د ده بی اجازته نفلی روژی ونه نیسی او د ده بی اجازی نفلی لمونځ ونه کړی یو حق د میړه دا دی چه په خزان خیرن پیرن

۱ تر څو چې بیرته ونه ګرځي
۲ خوشحاله سی: خوښ شي
۳ مال: شتمني

شکل سړه به نه او سیږی بلکه په بنایست او سنګار کښی به او سیږی مټ داسی حد ه که د سړی په دیلو سړه منځه سنګار د نه کړی نو سړی ته د وهلو اختیار سته - یوحق دادی چه د میړه بیله اجازی د باندی یو ځای ولاړه نه سی نه د عزیزانو قریب کور ته نه د بل چا کور ته .

(۳۱) د خاوند سړه د بنه ژوند کولو طریقه — باب

په دغه بنه ځان پوه کړه چه د خاوند او د بنځی په منځ کښی یو دا می سابقه د ه چه ټول عمر یو د بل سړه پټ ول غواړی که د د دا ورځ زړه سړه لګید لی وو نو ټر د غه زیات لوی هیڅ بل نعمت[1] نسته خدای دی نه کوی که د د وی زړه و نه نه سړه لګیږی نو ټر د غه زیات بل هیڅ مصیبت او غم نسته نو د دی سبب چه هر خوند ی کیدای سی د خاوند نه ړه په لاس کښی واخله او د د ه د ستر ګو په اشاره سړه کار او رفتار کوه که دی حکم وکړی چه ټو له ورځ او شپه لاس پر نا مه و د ریږه نو د د نیا او آخرت بنیګڼه په د غه کښی د ه چه د د نیا لږ څه تکلیف خوښ کړه د آخرت نیکی او سرخ رویی حاصله کړه هیڅکله یو داسی خبره مه کوه چه د د ه طبیعت په خرا بیږی که دی خاوند ورځی ته په شپه[2] وایی ته هم ورځی ته په شپه وایه .

د نا پوهی او د خپل کار واخرته د نه کتلو په وجه بعضی بنځی داسی خبری کوی چه د دی خبرو په سبب د خاوند په زړه کښی خیر ه پیدا کیږی - مثلاً یو د خت بی ځایه ژبه وچلوی یو ه خبره د طعن[3] تانی او د بدی وکړی - د ې ړه غصه او قهر وکړی بدی او بیکاره خبری وکړی چه خاوند ئی واوری بدی پر ولګیږی نو د خاوند زړه ځندی مات سی بیا د اژړی فریاد کوی چه خاوند راسړه بنه نه دی په دی ځان بنه پوه کړه چه زړه یو وار مات سی نو بیا هغه پخوانی مینه او محبت بیا نه راځی که څه هم بیا د د ه خبره منی او زړه[4] خبری د د ه د خو شحالۍ د پاره جوړی کړی عذر و نه وکړی لیکن څرنګه چه اول زړه صفا د و بیا هغسی نه صفا کیږی هغسی مینه او محبت نه وی چه هر د خت یو خبره کیږی

[1] یعنی د اړیو لوی نعمت دی [2] د دی ظاهری مطلب مراد نه دی بلکه مقصد د خاوند په اطاعت او موافقت کی مبالغه د ه [3] طعنه [4] زړه

نو دغه ئې په خیال کښې راګرزې چه دا خو هغه ښځه ده چه فلانی فلانی ورځ ئې دا می ویل د دغه سببه د خپل خاوند سره په ډیر فکر او خیال سره ګذاره کول په کار ده چه خدای جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم خوشحاله او راضی وی اوستاد نیا او اخرت دواړه برابرمی پوهانو ښځو ته خو دغه ویلو ضرورت هم نسته دوی خپله د خبرې ښه اوبد ته ګورې لیکن بیا هم موږ بعضی ضروری خبرې بیانوو چه ته په دغه ښه ځان پوه کړې نو نوری خبرې هم څنډې معلومیږی د میړه ترطاقت زیات خرڅ مه ځنډوی غواړه هرڅه چه په کور کښې موجود وی پرهغه صبر کوه که لنده ډوډۍ وی که وچه وی ـ که دی یو وخت یونیوړ یا پتوکر خوښ سی که دی د خاوند سره ربړې نه وی ـ نو غوښتنه مه ځنډوی کوه مه په دی شیانو پسی افسوس او ارمان کوه بالکل د خولی څخه خبره مه راباسه پخپله فکر وکړه که چیرې ورته ووایې نو هغه په خپل زړه کښې وایې چه د دی سره زما د حال هیڅ فکر نسته چه داسی بی ځایه غوښتنې کوی بلکه که خاوند امیر اوموږ وی نو څو چه ته کولای سی پخپله هیڅکله دیوشی غوښتنه مه ځنډوی کوه البته که هغه خپله پوښتنه درڅخه وکړی چه ستاد پاره څه شی راوړم بیاورته ویلای سی ځکه چه په غوښتلو سره انسان بی قدره کیږی د خلګو په نظر کښې او خبره ئې بی اهمیته کیږی.

پرهیڅ خبره مند وعناد او جنګیدل مه کوه که یو خبره ستا خلاف هم وی نو دغه وخت ئې پریږده بیا ئې پریو مناسب وخت طی او فیصله کړه او که د خاوند په کور کښې تکلیف درباندی تیریږی هیڅکله ئې پرخوله مه راوړه همیشه خوشحالی بنکاره کوه چه خاوند ته تکلیف ونه رسیږی او ستاد اسی رفتار څخه به بس دده زړه ستا په مټ (لاس) کښې راسی او که ستاد پاره یوشی راوړی که ستاخوښ وی او که ناخوښه وی همیشه خوشحالی بنکاره کوه دا خبره مه کوه چه دغه شی بد دی زما ناخوښه دی ځکه چه په دی خبره د ده زړه ته تکلیف رسیږی او بیا ئې د هیڅ شی راوړلو ته زړه نه غواړی که د دغه شی تعریف وکړی په خوشحالی سره ئې واخلی نو زړه ئې ښه خوشحاله کیږی بیا ترد غه زیات شی راوړی.

چه ته په غصه کښې راسی د خاوند ناشکری مه کوه او داسی مه وایه چه دغه

دربدره مسکین کوړ ته چه راغلی یم ما هیڅ نه دی لیدلی پس ټوله عمر یې تکلیف اوغم کښی تیروم زما پلار زه بد نصیبه او بی قسمته کړم زما عمر ئې یې دا رکړی چه زه ئې یې داسی بلا کښی واچولم یې داسی اوږ کښی ئې وغوړ څولم چه د داسی خبرو څخه بیا دهغه یې زړه کښی ستاځای نه موجودیږی.

یه حدیث شریف کښی راغلی دی چه حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه ما یه دوزخ کښی ډیری بنځی ولیدلی یو چاپو بستنه و کړه چه یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) دوزخ ته بنځی ولی زیاتی ځی نو حضرت صلی الله علیه وسلم وفرمائیل چه دوی پرنور ولعنت کوی او د خپل خاوند ډیره ناشکری کوی. (مشکوة شریف ص۲۱۳)

نو خیال کوه دغه ناشکری څوندی پدشی دهٔ پرچا لعنت کول یا داسی ویل چه فلانی دی خدای وډهی د خدای یې غضب دی ککړسی د فلانی لعنتی مخ دی پرمخ ئې لعنت اوړی دا ټولی خبری ډیرې بدی دی. که دی میړه ته پر یو خبره قهراو غضب وړغلی نو داسی خبره مه کوه چه غضب ئې نور زیات سی صرو خت د دهٔ طبیعت ته گوره خبره کوه چه د ر معلومه سی چه اوس ئې طبیعت خوشحاله دی نوخندا و مینه ورسره وکړه او که ئې طبیعت برابر نه وی بیا خندا مه ورسره کوه هرقسم چه د دهٔ طبیعت وی هغه قسم خبری ورسره کوه که یو یو خبره ستاخخه خفه سی او مرورسی نو ته هم گیچه اوبوزیدلی (مروړه) مه کښینه بلکه خوشامد ورسره وکړه عذر او معذرت څندی وغواړه هرقسم چه دئ خوشحاله کیږی هغسی طریقه ورسره وکړه که څه هم په تا کښی تاوان نه وی خاص په دهٔ کښی پرهٔ او ملامتیاوی بیا هم ته مه گیچیږه مه مروړه کیږه او د دهٔ سره جوړ یدل او د خپلی پری او ملامتیا عذر څندی غوښتل خپل فخر (یعنی لویی) او عزت د بوله او بنه څان په پوه کړه چه د خاوند او بنځی بنه ژوند او ژوندگی فقط په محبت سره نه کیږی. بلکه د محبت سره سره د خاوند ادب او احترام کول هم ضروری دی خاوند د خپل څان سره برابر گڼل لویه غلطی ده په خپل خاوند هیڅکله خپل کار مه کوه او که دی د محبت په جذبه کښی راسی لاس یا سر ورکښیکاږی نو دغه کار د د ه څخه مه اخله ته فکر وکړه که ستا پلار داسی وکړی ایا ته ئې خوښوی نو د خاوند درجه خو د پلار تر درجی

هم زیاته ده۔
په ناسته ولاړه خبرو کښی غرض په هره خبره کښی د ادب او تمیز خیال ساته
او که یې ده او ملامتیا په تا کښی وی نو په داسی حال کښی مرور تیا او جلا کښینستل
د یې سخته نادانی او بیعقلی ده۔ د دا رنګه خبرو څخه زړه ترخوله را لویږی۔
چه یو وخت د مسافری څخه راسی نو یو بستنه د خیریت او طبیعت حُندی وکړه
چه مسافری څرنګه در باندی تیره سوه تکلیف خو نسته یا نه وو لاسونه او پښی
ئې ور کښیکاږه چه ته ستړی سوی ئې که ویږی سوی وی نو ډوډی ورتیاره کړه
که دګرمی موسم وی نو باد پکه ورته چالانه کړه چه ګرمی حُندی ولاړه سی۔
غرض چه د ده د راحت او د آرامی خبری وکړه د روپی او پیسو خبری هیڅکله مه ورپورې
کوه چه زما د پاره دی څه راوړه څوندی خړچ دی راوړی دی د پیسو پتاکیدانه چیری
ده ګورې څوندی دی چه هغه ئې خپله د رکړی نو هغه واخله نو رد حساب پوښتنه
مه کوه چه تا څوا پیره ده په دوندی پیرو میاشتو کښی دی بس د وندی لږ
راوړی دی ته پیر خړچ کوی چیری دی روپی مصرف کړی دی څه دی په کړی
دی۔ او که یو وخت په خوشحالی او خبرو خبرو کښی پوښتنه حُندی وکړی نو
یا خیر دی هیڅ پروا نه لری۔ که د ده مور او پلار څوندی وی او روپی او پیسی
ټولی و دی ته ورکړی ستا پر لاس ئې نه کښیږ دی نو هیڅ بدی ئې مه ګڼه۔ بلکه
که ئې تاته در هم کړی نو هم د هوښیارۍ خبره داده چه ته ئې پخپل لاس
کښی مه اخله او دا ورته ووایه چه د وی ته ئې ورکړه چه د د وی زړه
خفه نه سی او تاته بد ونه وایئ چه مږ ور زوی راځخه دځان کړی۔ ترڅه
وخته چه خسر او خوابنی ژوندی وی د د وی خدمت او تابعداری فرض ګڼه
او په دغه کښی د ځان عزت او قدر بوله۔ د خوابنی اندرو رانو څخه هیڅکله د
جلا کیدو فکر مه کوه ځکه چه د غه فکر د فساد او جګړو بیخ دی ته پخپله فکر وکړه
چه مور او پلار دی پاللی او لوی کړیدی او اوس د زړوالی او کمزورۍ په حال
کښی ئې د د غه امید د پاره د ده واده او بنادی وکړه چه مونږ به پوری تیک
یو او څوندبه مو په آرامه وی لیکن مږ ور چه راورسیده د کجاوی، زین
یاد موتر د سیټ څخه د راکښته کیده وساه سم دم ئې بیادا فکر وکړی چه ای زما
خاوند ده بس نن د ستی خپل مور او پلار پریږده بیا نو هر وخت چه مور ته معلومه

سی چه مږ ورزوی راځخه جلاکوی نو لوی فساد پیښیږی د خاوند د خاندان
سره یو ځای اوسه خپله د شرمند طریقه دا ول څخه داد ب اود لحاظ بنا اوجوړه
کړه پرکوچنیانو مهربانی کوه اود مشرانو ادب کوه خپل کار دنورو ته مه پریږده
او خپل شی بی ځایه مه پریږده چه فلانی به ئی پورته کړی هر کار چه خوابنی
او اندږورانی کوی ته د هغه کار په کولو سره شرم مه کوه ته بیله وینا د دوی
هغه کار ځندی واخله وئی کړه په داسی طریقه سره د دوی په زړه کښی ستا
سره مینه اومحبت پیدا کیږی چه د وه انسانان پټی پټی خبری سره کوی
نو ته ځندی جلاسه اوغوږ مه ورته نیسه چه د وی څه خبری سره
کوی او مه ئی معلومات اوپوښتنه کوه چه د د وی په منځ کښی څه څه
خبری سره کیږی. او خامخا دا گمان مه کوه چه په ما کی خبری کوی په ما کښی به
د وی سره گډی وی دا خیال هم د ځان سره وساته چه د خسر په کور کښی
د میلمنی په شان مه اوسیږه د خسر کور خپل کور وبوله د پلار کور دی خپل
کور نه دی هغه پردی کور سوکه څه هم دنوی کور سره دی د نو د خلگو د
سببه زړه نه نه لگیږی لیکن زړه باید پوره کړی داسی نه چه ته پر زړه باندی
مرکښیږه دی چه گوری ته بس زاړه ی راغلی - لا - نه ئی ته بیا وایی چه د پلار کور ته
څم په خبرو کښی خیال ساته د وندی بی ځایه سپین سترگی اوشوخی هم مه
کوه چه ته بده یه بنکاره سی او مه داسی اوسه چه ترې پرخوشامد اودار
مدار وروسته هم خبره نه کوی چه دا بد کار دی او کبر بلل کیږی که دی
د خسر گنی په کور کښی یو خبره د خوا نا چیه او بده سی نو د پلار گنی وکور ته
چه راسی چغلی ئی مه کوه د میړه د کور کوچنی کوچنی خبری چه د پلار کور
ته راسی و مور ته کول یا چه مور د خپلی لور څخه پوښتنه کوی اولور
بزغوی چه هلته څه حال دی بد خونه د سره کوی د پره بده اود شرم
خبره د ه څکه د دی څخه جنگونه پیدا کیږی جگړی او فتنی ځندی راپورته
کیږی د دی څخه ماسیوی ئی بله فایده نسته.

د خاوند شیان په بنه طریقه او تمیز سره کښیږده داوسید کوتې اوخونه
ئی بنه صافه اوپاکه وساته چه ناپاکه او چتله نه وی او بستره ئی خیره نه
او چتله نه وی او چه کالی ئی کوت کوت او گورملی وی نو کښو نه ئی وباسه

استری (اوتو) ئی کړه که بالښت خیرن دی پوښ ئی ور بدل کړه چه د ده په ویلو سره کار وکړی نو د دی به څه خوند دی خوند خو هلته دی چه د ده بیله ویلو ټول شیان برابر کړی هر شی چه ئی ستا سره اینبی وی د هغه ساتنه وکړی که کالی وی نو کت ئی کړه بیا ئی کښیږد ه په صندقونو او بوغچو کښی ئی ایله مه سره مرور ه چه هسی ئی سره تخته کړی یوی اوبلی خواته ئی مه سره خورځوکه په ښه طریقه سره ئی کښیږد ه په هیڅ کار کښی حیلی حوالی مه کوه او مه هیڅ وخت د ځانه در واغ سره جوړه چه قدر او عزت په خټیږی بیا دی رشتیا خبره هم نه منل کیږی که د قهر په وخت کښی څه بد او بیکاره در ته وایی نو ته ساه د نیسه بالکل هیڅ مه وایه جواب مه ورکوه هغه چه هر څه وایی ته چپ کښینه تر قهر او غضب وروسته وګوره چه هغه به خپله پښیمانه وی او ستا څخه به خوندی خوښحاله وی - انشاء الله تعالیٰ بیا به هیڅکله د تا نه په قهر نه سی او که ته هم خبره در سره د پیچی او بند ه ئی کړی نو بیا خبره د پرې او بند یږی بیا معلومه نه ده چه ترکومه حده یه ور سیږی.

پرکوچنی کوچنی خبره باندی شک مه پرکوه تهمت مه پروایه چه ته د فلانی سره خاندی هلته د پرورځی هلته دی ناسته او ولاړه ده نو په دغه کښی که سړی بی قصوره دی نو ته پخپله فکر وکړه چه پرده به خوندی بدا لګیږی او که د ده گرسره عادت خراب وی ګناهګاره دی نو ستا په دغه خبرو او شوخی سره ئی هم سر نه سره رسیږی بلکه ستا تاوان دی وخپل ځان ته ئی د را جلبولو کوشش وکړه په دی خبرو سره چیرې عادت ځندی پاتیږی که دغه عادت په پریږدی نو په هوښیاری سره اوسه او په پټه پټه ئی پوه کړه غیرت ور لره وسړکړه که په پټه سره په پوه کولو او د غیرت ورکولو په صورت کښی هم عادت نه پریږدی نو خیر دی په صبر سره کښینه د خلګو په مخ کښی د ده د رسوا کیدو د ول او غزلی مه وایه او مه ئی رسوا کوه او مه غصه ورته کوه چه غواړی دی د ځان زیر دست جوړ کړی چه په دی صورت کښی د پر ضد مخ ته راځی بیا نو خاوند په غصه او قهر کیږی د پرې زبانی خبرې درته کوی او که ته ور ته قهریږی د خلګو په مخ کښی سپین سترګی ور سره کوی او رسوائی ور سره وی

علاه یعنی په خپل کړی عمل شرمنده کا ۲

نوکوم چه مخکی ئی خبری درسره کولی بیا هغوندی هم نه درسره کوی بیا به نو زاړی دزیاد به کوی او دا ښه یاد وساته چه نارینه الله پاک زهری پیدا کړیدی په زور سره هیڅکله کمزوری نه راوړی دده د تابع کولو اسانه طریقه خوشامد او متابعت دی. پرخاوند په قهر کیدل، ګرم کیدل، زور اچول ډیره سخته غلطی او نادانی ده که څه هم ددغه په آخرکار ته نه پوهیږی نو هروخت چه دفعم بیخ محکم سی نو خرابه نتیجه به ئی خامخا بنکاره سی

په لکنهو کښی دیو بنځی خاوند ډیر بد رفتاره دی شپه او ورځ دکور څخه دباندی دباندی بازاری بنځو سره اوسیږی کور ته بالکل نه راځی او هجبه لاړ ده چه روزانه دِی ته درمایشونه ورکوی چه نن موږ له پلاؤ پوخ کړه راوئی لیږه نن فلانی شی پوخ کړه راوئی لیږه اوداعاجزه سانه کابړی هرڅه درمایش چه ئی خاوند رالیږی پوره کوی ئی او هیڅ وخت ساه نه کابړی نو دګور چه ټول خلګ پر دغه بنځه خوند ته آفرینونه اوشاد باشونه وایی اودخلای په دربار کښی چه هرخوندی مرتبه دِی ته ورکول کیږی هغه خولا جلاده. اوهرهغه ورځ چه الله پاک ددغه خاوند ته هدایت وکړی اوبد رفتاری پریږدی نو دهغی ورځی څخه دِی مریی اوغلام کیږی.

(۳۲) داولاد د پالنی اوروزنی طریقه — باب

باید سړی څان پوه کړی چه داخبره یعنی داولاد پالنه ډیره د غور اوفکر قابله ده حکه چه په کوچنیوالی هرښه یابد عادت پوخ سی بیا دغه عادت ټول عمر ورسره وی نو دکوچنیوالی څخه ترځوانی پورې ټولی خبری په ترتیب سره لیکل کیږی.

(۱) نمبر: نیکبخته او دیندار بنځو ئی ورکوله دتی اوشیدو ډیر لوی اثر وی.

(۲) نمبر:- دبنځو عادت دی چه کوچنیان د سپاهی (پولیس) اوکوتوالی څخه بیرته یا ئی دیو داسی شی څخه بیروی چه هغه دبیری شی وی. (مثلاً ورته وایی چه بلادر غله دئی خوړلی، لیوه در غلی دئی خوړلی یا داسی نور شیان) نو دا بده خبره

ده په دی سره د کوچنی زړه کمزوری کیږی.

(۳) نمبر ۱- د ده د شیدو ورکولو اولور وغذا ؤ ورکولو دپاره د ختونه مقرر کړه چه دده صحت برابر سی.

(۴) نمبر ۲- صاف او پاک ئی ساته چه تندرست اوجوړ به وی.

(۵) نمبر ۳- کوچنی ته ډیر بنایست او سنګار مه ورکوه.

(۶) نمبر ۴- که هلک وی نو د سر ورښتان (بیښتان) ئی مه ورلویه وه بلکه ورخړه ئی.

(۷) نمبر ۵- که انجیلی وی نو خو چه د ستراو پردی لایقه سوی نه وی نو زیور مه وراغونده د ددی څخه یو خو ددی دځان خطره ده نو دهم د کوچنیوالی څخه د زیور شوق په زړه کښی بنه نه دی.

(۸) نمبر ۶- د کوچنیانو په لاس سره عزیبانو ته ډوډی، کالی، پیسی او دارنګه نور شیان ورکوه - او همدارنګه د خورک، چښلو شیان د ددوی په لاس سره - د دوی د درد ښو خوندو یا نورو کوچنیانو ته ورتقسیم کړه چه په دوی کښی د سخا عادت پیدا سی مګر داخبره یاد ساته چه ته خپل شی د ددوی په لاس سره تقسیموه او کوم شیان چه د شرعی څخه د ده[1] وی وی د غه شیان د ددوی په لاس سره هیڅ مه ته ورکول روانه دی.

(۹) نمبر ۷- د ډیر خورک تاوان او بدوالی د ددوی په مخ کښی بیانه وه مګر چه د چانوم اخلی بیائی بیانوی دهغه د ډیر خورک بدی داسی مه کوه بلکه دارنګه وایه چه هرڅوک ډیر خورک کوی خلګ و ده ته حبشی والي دی غوږي بولی.

(۱۰) نمبر ۸- که هلک وی نو د سپینو جامو رغبت د ده په زړه کښی پیدا کړه - د رنګینو او تکلف د جامو څخه ئی نفرت ورپیدا کړه چه داسی جامی خو انجیلی اغوندی ته خو ماشاءالله نرئی همیشه د ده په مخ کښی داسی خبری کوه.

(۱۱) نمبر ۹- که انجیلی وی بیا هم د ډیر سنګار او هره ورځ د سو د لاری د - ایستلو او د ډیرو تکلفی او قیمتی کالو عادت د ددی په زړه کښی مه ورا چوه.

(۱۲) نمبر ۱۰- د ددی پتولی غوښتنی مه پوره کوه چه د ددی څخه ئی مزاج خرابیږی

(۱۳) نمبر ۱۱- د چغو او په زور ه نارو څخه چه په وخت د خبرو کښی ئی کوی منعه کوه ئی خصوصًا که چیری انجیلی وی پرکړه او چغو زجر او ترتهنه ورکوه.

[1] یعنی چه د ددی کوچنیانو خپل ملک وی ۱۲

که ئی منه پریږدی نو چه لویه سی دغه ئی عادت کیږی.

(۱۴) نمبر ۱- د هغو کوچنیانو چه خویونه خراب وی یاد ویلو لیکلو څخه څغلی یاد قیمتی خوراک او جامو عادتمند وی د دی سره د ناستی اودد وی سره د ساعت تیری څخه ئی گوره منعه کوه ئی.

(۱۵) نمبر ۱- د دی شیانو څخه همیشه نفرت ورکوه - قهر، غضب کول، درواغ ویل یوچاته چه وگوری نو په دسوئی، یا حرص کول، غلا کول، چغلی کول، خپله خبره اړول دخانه دخبرو جوړول - بی فائده ډیری خبری کول، بی خبری خندل یا زیات خندل د دکه ورکول، په بنه اوبد ه خبره کښی فکر نه کول - اوهر وخت چه د دی شیانو څخه په دوی کښی یو شی پیدا سی نو فوراً ئی منعه کوه او تنبیه ورکوه.

(۱۶) نمبر ۱- که یو شی مات کړی یا یو څوک دوهی مناسبه سزا ورکوه چه بیا داسی ونه کړی په داسی خبرو کښی کوچنی ته ناز ورکول همیشه کوچنی خرابوی.

(۱۷) نمبر ۱- ډیر وختی ئی مه بیدا ړه.

(۱۸) نمبر ۱- د وختی پورته کیدو ئی عادتی کړه.

(۱۹) نمبر ۱- چه عمر ئی اوو(۷) کالو ته ورسیږی دلمانځه ئی عادتی کړه. (مشکوة ص۵۸)

(۲۰) نمبر ۱- چه د مکتب او مدرسی ته د تلو قابل سی اول قرآن مجید په زده کړه.

(۲۱) نمبر ۱- خوندی چه کیدای سی د دیندار ه استاذ څخه سبق په وویه.

(۲۲) نمبر ۱- د مکتب او مدرسی د تلو په باره کښی مراعت او نرمی مه ورسره کوه.

(۲۳) نمبر ۱- یو وخت وخت د دی ته د نیکانو خلگو قصی او حکایتونه بیانه وه.

(۲۴) نمبر ۱- دوی د داسی کتابو د ویلو ته مه پریږده چه په هغو کښی د عاشقی او معشوقی خبری یا د شرعی خلاف مضمون وی یا نوری بی فایده قصی یا غزلی یا بل شی وی.

(۲۵) نمبر ۱- داسی کتابونه ورته وویه چه په هغه کښی د دین خبری اوددنیا

---

۱ ما الاستاذ فی بلدان یختلف الاوامر والاوضاع والاسنن اه (تعلیم المتعلم ص۱۳) ومن ان یهون نفقة الله علیه قال ان فضل العلم خیر من فضل العمل (مسند الفردوس للدیلمی) ۲ فان کتب الحکایات مضیعة للوقت (مسند الفردوس للدیلمی) ۳ ای ترک الاشتغال بها (مرقاة) ۴ ای بالاشتغال بها (مرقاة) ۵ ای بالاشتغال بها (مرقاة) ۶ ای بالاشتغال بها (مرقاة) ۷ ای بالاشتغال بها (مرقاة)

ضروری خبری او کارونه بیان سوی وی.

(۲۶) نمبر ۱- دمکتب او مدرسی څخه ترراتلو وروسته یو اندازه ددوی د زړه د خوشحالۍ کولو دپاره د ساعت تیری اجازه ورکړه چه ددوی طبیعت بخ او خسته زهیرنه سی لیکن ساعت تیری او بازی باید داسی نه وی چه په هغه کښی گناه وی یا د زخمی کیدو بیره وی.

(۲۷) نمبر ۱- د آتش بازی یا باجی یا بیکاره شیانو د رانیولو دپاره پیسی مه ورکوه.

(۲۸) نمبر ۱- د بازی او تماشو د ښکاره کولو عادتی ئی مه گرزوه.

(۲۹) نمبر ۱- اولاد ته ضرور یو داسی هنر او کمال ورزده کړه چه د ضرورت او غم په وخت کښی په هغه هنر سره پیسی پیدا کړی خپله گذاره او د خپل اولاد گذاره په وکړی

(۳۰) نمبر ۱- انجینو ته د وندی اندازه خط ورزده کړه چه ضروری خط او د کور حساب کتاب لیکلای سی.

(۳۱) نمبر ۱- کوچنیان عادتی کړه چه په خپل لاس سره کار وکړی سست پست نه سی د وی ته وایه چه د شپی خپله بستره پخپله وغورزوی او سهار چه وختی پورته سی بستره دی کت کړی په احتیاط دی کښیږدی د کالو صندوق یا بوغچه دی په خپل حفاظت کښی واخلی څیری سوی کالی دی په خپله گنډی کالی که خیرن وی که صاف وی داسی ځای دی کښیږدی چه هلته د چینجیانو، وینو، مزدکانو بیره نه وی. هغه ښځه چه کالی په مزدوری مینځی که دی کالی دپریمنځلو دپاره ورکوله نو په حساب ئی ورکړه د ځانه سره ئی ولیکه او بنه ئی ښانی کړه.

(۳۲) نمبر ۱- انجینو ته امر او تاکید کوه چه کوم زیور چه د وی اغوستی دی او د دوی پر بدن دی چه تر بیده ید و مخکی او تر راپورته کید و وروسته ئی کتنه او حفاظت وکړی.

(۳۳) نمبر ۱- انجینو ته وایاست چه کوم کارونه د پوخت، د وړی پخولو، د گنډلو جوړولو، د جاې د رنگولو د شی جوړولو په کور کښی کیږی په هغه کښی فکر وکړی اوزده ئی کړی چه څرنگه کیږی.

(۳۴) نمبر ۱- چه یو کوچنی ښه کار وکړی نو شاباش او آفرین ورته ووایه، مینه

ورسره وکړه بلکه یو څه انعام هم ورکړه چه بیا داغسی بنه کار وکړی او چه دده
یو بد کار ودینی اول ئی تنها او پټ پوه کړه چه گوره دا بد کار دی چه درخبر دی هغه
ځنگ به په زړه کښی څه وایی او څوک چه تر دی درد سته خبر سی هغه به څه وایی.
په خیر زړه کښی خبردار چه بیا دا سی ونه کړی نیکبخته کوچنیان دا سی منه کوی او که بیا
بد کار وکړی نو مناسبه سزا ورکړه.

(۳۵) نمبر ۱- مورلره په کار ده چه کوچنی د ډیلار ه څخه همیشه بیره وی.

(۳۶) نمبر ۱- په کوچنی باندی په پټه سره څه کار مه کوه باندی وی که خوراک وی
یا بل شغل وی هر کار چه دی پټ کوی پوه سه چه دی ئی بد بولی نو که چیری دغه
بد کار وی بیا نو دغه کار په پریږ ده او که بنه وی نکه خورک چښل نو ده نه وایه
چه د ټولو په مخکی خورک او چښل وکړه.

(۳۷) نمبر ۱- دیو محنت کار دده وی پرده کړه چه د دی کار په وجه محتمند هم
وی همت والا هم وی او سست اموخته نه سی مثلاً د هلکانو د پاره ورزش او هغه
اوسپنی اولرگی چه ورزش په کیږی استعمالول په کار دی یا او نیم میل په پښو تلل
ورزش کول او دا نجینو د پاره میچن چلول، څرخی وریشل یا د څاڅخه او بو راکښل
ضروری دی په دغه کښی دا فائده ده چه دغسی کار کول به عیب هم نه بولی ـ
الاجر الجزل فی العزل صلے

(۳۸) نمبر ۱- نصیحت ورته وکړه چه په رفتار او تلو کښی کرار کرار حځی هسی بی فایده
څغاستی ونه کړی او چه روان وی د مخکی ته دی گوری اسمان ته دی نه گوری.

(۳۹) نمبر ۱- دوی د خاکساری او تواضع عادتیان کړه چه د ژبی، رفتار او کردار څخه
ئی لوبی او تکبر معلوم نه سی تر داسی اندازی چه په خپلو همزولو کښینی
د خپلی جامی، کور، خاندان، یا کتاب، مشوانۍ، قلم، تر ختی پوری د شی صفت
ونه کړی.

(۴۰) نمبر ۱- یو وخت وخت کوچنی ته یوه روپۍ یا دوی روپۍ ورکوه چه د خپلی
خوښی سره برابر شی په واخلی - مگر دی دده غه عادتی کړه چه هیڅ شی ستا
په پټه وانه خلی.

(۴۱) نمبر ۱- ده ته د خوراک طریقه ورزده کړه او په مجلس کښی د ناستی ولاړی
طریقه ورزده کړه - لږ لږ هوښ لیکو په لاندی د ول سی ـ

(۳۳)	دخورک کولو طریقه	باب

په لاسته لاس د دوړی خوړ په شروع کښی بسم الله ووایه د خپلی خواخخه خورک کوه تر نورو مخکښی شروع مه په کوه خورک نه په د بر خوړ سره مه گوره نور د خورک کونکو نه مه گوره د پرشد ژر ئی مه خوړ سره سنه ئی ژوبله او ای تیروه چه یو ه گوله دی نه وی تیره کړی بله گوله مه پسی کوه نور د او داسی نور خوړک پرکالو مه څخوه - گوتی تر ضرورت بالا په دوړی مه چیخه - (بستان العارفین ص۷۸ و ص۲۱۸)

(۳۴)	په مجلس کښی دناستی ولاړی طریقه	باب

دهر چا سره چه ناسته ولاړه او تعلق کوی نو په ادب سره ئی ور سره وکړه خبری په نرمی د سره وکړه په مجلس کښی گرو ب بی او ناړی مه توکه په مجلس کښی پزه مه صافوه او که ئی د صافولو ضرورت وی نو د مجلس څخه لیری سه که په مجلس کښی اړ بزی یا نر بزل د سته راسی پر خوله لاس و نیسه آواز کښته کړه د چا د خواته پښی مه غزوه د اسی مه کوه چه تر زنه لاندی دی لاس اینبی دی چه ناست ئی په گوتو ټکان مه کوه بیله ضرورته یو چا ته د پر د پرمه گوره په ادب سره کښینه د پری خبری مه کوه پر هره خبره قسم مه اخله تر څو چه کیدای سی خپلی خبری مه شروع کوه هر وخت چه بل څوک خبری کوی نو په ښه توجه سره ئی واوره چه د د ه زړه مړینه سی البته که د گناه خبره وی مه ئی اوره یا ئی منعه کړه یا د هغه څای څخه لیری سه پوره ته سه تر څو چه یو چا خبره نه وی پوره کړی په مابین کښی ئی مه وزلوی زړه - چه یو څوک راسی او په مجلس کښی څای نه وی نو یو څه څنگ و د هه د نورو سره نژدی کښینه چه څای وسی چه د یو چا سره مخامخ کیږی یا څینی رخصتیږی نو السلام علیکم وایه او په جواب کښی ئی - وعلیکم السلام وایه نور قسم قسم الفاظ مه وایه - (بستان العارفین ص۲۱۹ و ص۱۹۸ و مراقی الفلاح ص۲۰۷ و فتاوی هندیه ص۱۰۵)

(۳۵)	دحقوقو بیان	باب

د مورا و پلار حقوق: ① نمبر ۱ - د وی ته تکلیف مه رسوه که څه هم د د وی د

خوا څخه څه تکلیف در ورسیږی (۲) نمبر ۱- په خبرو او کړو کې سړه د دوی عزت کوه (۳) نمبر ۱- په ډوډۍ کار دنوکښې د دوی امر او حکم منه. (۴) نمبر ۱- که دوی ته یو حاجت وغیره ضرورت درپیښ سی په مال سره د دوی خدمت وکړه که څه هم دواړه کافران وی. مشکوة شریف ص۴۲ و ص۴۱۹ و ص۴۲۱)

دمور وپلار ترمړوندت وروسته د دوی دغه حقونه دی

(۱) نمبر ۱- د دوی د پاره دعا د مغفرت او د رحمت همیشه کوه د نفلی عباداتو او خیراتو ثواب ورته د دوی ته ورږ وبخښه. (مشکوة شریف ص۴۲۰)

(۲) نمبر ۱- د دوی د ملاقات کونکو سره په احسان خدمت او ښه طریقه سره ملاقات وکړه. (۳) نمبر ۱- د دوی پرذمه چه یو قرض وی یا د جائز اوړو کار وصیت وکړی او خدای ئې تاته قدرت درکړی وی باید ادا ئې کړی. (مشکوة شریف ص۴۲۰)

(۴) نمبر ۱- د دوی ترمړګ وروسته د شریعت څخه مخالفه ژړا کول چغې نارې وهل بدکار دی خان څنډی وسائته که نه کوی نو د دوی روح ته تکلیف رسیږی او د انا، نیکه که د مور د خواڅخه وی که د پلار د خواڅخه وی حق ئې په شریعت کښی د مور او د پلار دی. د دوی حقوق هم په مثل د مور او د پلار باید وبلل سی. دا فه رنګه خاله ماما په مثل د مور دی او اکا- عمه په مثل د پلار دی لکه چه د حدیث د اشاری څخه معلومیږی. (ترمذی ص۱۲ د وهم ټوک مشکوة شریف ص۱۵۶ کتاب الزکوة)

د رضاعی مور حقوق: (۱) نمبر ۱- د دی سره په ادب او احترام ملاقات کوه (۲) نمبر ۱- که د دی د پیسو او مال ته ضرورت د ی او ستاسره ئې قدرت وی نو باید د دی خیال وساتی.

د میړی حقوق: چونکه د پلار د وسته ده او د پلار د دوست سره د احسان کولو حکم راغلی دی نو د دی سببه د میړی هم څه حقوق سته لکه چه اوس ذکر سوه.

د مشرورور حقوق: ۱- د حدیث د نګاه څخه په مثل د پلار دی نو د دی سببه معلومه سوه چه کشرورور په مثل د زوی دی نو د وی په مابین کښی داسی حقوق دی لکه د مور پلار او اولاد په مابین کښی چه دی وافر نګر مشری خوړ او کشری خوړ نه فکر کول او پوهیدل په کار دی. (مشکوة شریف ص۴۱۱)

د خپلوانو او قریبانو حقوق:- (۱) نمبر:- خپل قریبان که مسکینان وی او د ډوډی د ګټلو او پیدا کولو قدرت نه لری نو د خپل قدرت او طاقت سره برابر د دوی — د ملګرۍ مصرف څخه ځان خبر کړه. (۲) نمبر:- یو وخت وخت ملاقات ورسره کوه. پرون ګرزه. (۳) نمبر:- د دوی سره خپلوی مه شلوه بلکه که یو انداز ضرور هم د ورسیږی د دوی څخه نو صبر بنه دی. (تنبیه الغافلین ص۳۴۹)

د خسرګنی حقوق:- د خسرګنی قرابت الله پاک په قرآن شریف کښی په نسب کښی ذکر کړیدی نو د دی څخه معلومه سوه چه د خوابنی خسر د خور د میړه، خو بنیښی، زوم، مرور، د بنځی د اول اولاد او د خاوند د اول اولاد هم یو انداز قدر او حق سته نو د دی سببه په دغو قرابتو کښی هم رعایت، احسان اخلاق ساتل په کار دی نسبت د نورو خلګو ته.

د عام مسلمانانو حقوق: (۱) نمبر:- مسلمان باید د بل مسلمان ورور خطا ورمعاف کړی. (۲) نمبر:- د د ده پرشرارت د رحم وکړی. (۳) نمبر:- د د ده عیب د ی پټ کړی. (۴) نمبر:- د ده عذر د ی قبول کړی. (۵) نمبر:- د د ده څخه د ی تکلیف لیرې کړی. (۶) نمبر:- همیشه د ی د د ده خیرخواهی کوی. (۷) نمبر:- مینه او محبت د ی ورسره کوی. (۸) نمبر:- د د ده سره چه ئی وعده کړیده هغه به پوره کوی. (۹) نمبر:- که مریض وی پوښتنه به پرکوی (۱۰) نمبر:- که مړسی دعا د ی ورته وکړی. (۱۱) نمبر:- د د ده دعوت او میلمستیا د ی قبوله کړی. (۱۲) نمبر:- د د ده تحفه د ی قبوله کړی. (۱۳) نمبر:- د د ده احسان او نیکی په مقابل کښی د ی احسان ورسره وکړی. (۱۴) نمبر:- د ضرورت په وخت کښی د ی د د ده امداد او کومک وکړی (۱۵) نمبر:- د د ده د نعمت شکرګذار ده د ی وی. (۱۶) نمبر:- د د ده د اولاد ساتنه ذی وکړی. (۱۷) نمبر:- د د ده یو کار د ی کوی. (۱۸) نمبر:- د د ده خبره د ی اوری (۱۹) نمبر:- د د ده سفارش او شفاعت د ی قبلوی. (۲۰) نمبر:- د خپله مراد ده د ی نه نا امیده کوی. (۲۱) نمبر:- که هغه وترچې الحمد لله دوایي نو په جواب کښی د ی یَرْحَمُکَ اللّٰهُ دوایي. (۲۲) نمبر:- که د د ده ورک سوی شی پیدا سی نو د ی ورورسوی. (۲۳) نمبر:- د د ده سلام جواب د ی ورکړی. (۲۴) نمبر:- په نرمی او سنه اخلاق سره د ی د د ده سره خبری وکړی. (۲۵) نمبر:- د د ده سره د ی نیکی او احسان وکړی. (۲۶) نمبر:- که پرده په اختیار او باور سره قسم وکړی هغه د ی پوره کړی. (۲۷) نمبر:- که

د دې سره څوک ظلم کوی نو دده سره امداد دی وکړی که دی دچا سره ظلم کوی نو منعه دی کړی. (۲۸) نمبر:- دده سره دی مینه او محبت کوی دښمنی دی نه ورسره کوی. (۲۹) نمبر:- دی دې نه رسوا کوی. (۳۰) نمبر:- هره خبره چه د خپل ځان د پاره خو ښوی دده د پاره ی دی هم خو ښوی. (۳۱) نمبر:- د ملاقات په وخت کښی دی دې ته سلام ورواچوی او نرکه د تر سره او ښځه د ښځې سره په لاس روغبړ وکړی نو دیر ښه کار دی. (۳۲) نمبر:- که اتفاقاً یو دبله سره یو څه خفګان راسی نو تر درې ورځې دی زیات سلام نه بند وی نه دی خبری سره پریږدی. (۳۳) نمبر:- پرده دی بد ګمانی نه کوی. (۳۴) نمبر:- دده سره دی حسد او بغض نه کوی. (۳۵) نمبر:- دده ته دی بنه خبره ښه لار ورښیي او د بدی خبری او بد کار څخه دی منعه کړی. (۳۶) نمبر:- پرکوچنیانو دی رحم کوی او د مشرانو دی ادب کوی. (۳۷) نمبر:- که دوه مسلمانان سره خفه سی دوی دی سره جوړ کړی. (۳۸) نمبر:- دده غیبت دی نه کوی. (۳۹) نمبر:- دده ته دی هیڅ قسم تاوان نه رسوی. (۴۰) نمبر:- داسی دی نه کوی چه هغه ولاړ کړی او پرځای ئې کښینی.

د همسایه حقوق: (۱) نمبر:- د همسایه سره دی په احسان او مراعت سره رفتار کوی (۲) نمبر:- دده د ښځې او کوچنیانو دابرو او عزت حفاظت دی وکړی. (۳) نمبر:- دخت ناوخته دی وکورته څه تحفه یا داسی بل شی ورلیږی خصوصاً هغه وخت چه هغه وږی او مسکین وی نو لږ- دیره ډوډی دی دده ته ورکړی (۴) نمبر:- دده ته دی تکلیف نه ورکوی پرکوچنی کوچنی خبرو دی دده سره جګړی او بندی نه کوی لکه چه په بنار کلی کښی همسایه وی. دغه رنګه په سفر کښی هم همسایه وی یعنی د سفر ملګری چه دکور څخه ورسره ملګری وی یا په لار کښی اتفاقاً ورسره ملګری سی دده حق هم په مثل د بنار او کلی د همسایه دی. دده د حقوقو خلاصه داده چه دده د راحت پرځپل راحت مخکی کړه- بعضی خلګ په تورو ګاډی یا بس یا تانګه (بګۍ) کښی د نورو سوار یا نو سره دیر وار دراز کیږی چه هغوی ته هیڅ خوند نه ورکوی نو داهم دیره بده خبره ده.

دغه رنګه چه د نورو محتاجه وی- لکه یتیم، کونډه، عاجز، ضعیف او مسکین، مریض، دلاسو او پښو څخه معذور- مسافر یا سائل د دغو ټولګو څخه حقوق

زیات دی. (۵) نمبر ۱- دد وی خدمت په مال سره وکړه. (۶) نمبر:- د د وی
ت په خپل لاس سره وکړه. (۷) نمبر ۱- د دی خلګو دلجوئي (یعنی زړه په لاس
ی راوړل) او تسلی ورکړه. (۸) نمبر:- د د وی حاجت اوسوال مه رد وه.

نهی حقوق صرف دانسانیت دسببه دی که څه هم هغه مسلمانان نه وی

هغه حقوق دادی: (۱) نمبر ۱- بی کومه تاوانه اوپری دچا وخان اومال ته تکلیف
ه ورکوه. (۲) نمبر ۱- بیله کوم شرعی دلیله دچا سره بده زبانی اوبدی خبری مه
ه. (۳) نمبر:- که یو خوک په لوږه، غم اومرض کښی وویني نو د د ه کومک
ړه. د د ی او ادبه ورکړه دواو علاج په وکړه. (۴) نمبر ۱- په هغه صورت
ی چه شریعت د سزا اجازت ورکړی وی په دغه صورت کښی هم ظلم اوزیاتی مه کوه.

حیوانانو حقوق: (۱) نمبر ۱- هغه حیوان چه هیڅ فایده پکښی نه وی دهغه
ل ی کول اوپه قفس کښی اچول بدکار دی باید بند ی ئی نه کړی خصوصاً چیچان
نور حیوانانو بچیان دخپلی خالی اوغار څخه راکښل او د د وی موراو پلار
شانه کول ډیره بی رحمی ده. (۲) نمبر ۱- هغه حیوان چه د خوړک قابل وی هغه هم
ید صرف دزړه خوشحاله کولو او سیل کولو دپاره مړنه کړی. (۳) نمبر:- کوم حیوان
ه دکار کولو دپاره دی دهغه دخوراک، چښلو، راحت ورسولو او خدمت
لو په پوره اوبنه طریقه سره غم وخوړه- د د ه تر طاقت زیات د د ه څخه
مه اخله- دی ترانسلانره زیات مه وهه. (۴) نمبر:- کوم حیوانات چه ذبحه
ی یائی په سبب د موذی والی اوضرر والی وژنی په تیره چاره سره ئی ژر کار وکړه
ی مه کوه چه لږ څه ئی په پخه چاره غاړه پری کړی بیانو د هغه حیوان غریب
ی سرپی اوترپی وی اود لوږی اوتندی ئی مه وژنه بلکه غاړی ئی ورپری کړه.

اوری خبره: که دی دچا په حق کښی څه کوتاهی کړی وی نو په دغه کښی
ه هر څه حق دادا کولو قابل وی نوادا او ورئی کړه یائی په معاف کړه مثلاً دیو چا
ن، پور د رباندی پاته وُو یادی دیوچا سره خیانت یا بل داسی شی کړی وُو
چه صرف دمعافولو قابل وی هغه فقط په معاف کړه بخښنه ځنډی وغواړه مثا
ت یا بل داسی شی دی کړی وی یادی وهلی وُو اوکه دی دیو سببه په حقدار
سو بخښلای اونه دی ادا کولای سو نو د د وی د پاره همیشه دبخښنی دعا کو
څ عجبه نه د ه چه الله پاک د قیامت په ورځ دغه خلګ خوشحاله کړی او

دغه حق به خدای پاک په دوی سره وتاته در معاف کړی لیکن بیا هم که څه موقع د اداکولو یا معاف کولو وی نو لاد غه وخت کښی په دی کښی بی پرواهی او غفلت مه کوه اوهغه حقوق چه دده پخپله دنورو پرذمه وی چه دهغوی څخه دوصولیدو امید وی نو په نرمی سره دی ئ دهغوی څخه وصول کړی او چه د وصولیدو امید ئ نه وی یا هغه حقوق قابل د وصول نه وی لکه غیبت او داسی نور - نو که څه هم په قیامت کښی د دوی په عوض کښی د نیکی دهوند لو امید ستة مگر په معاف کولو کښی ئ نور زیات ثواب ستة او په حدیثو کښی راغلی دی تر دغه ئ بالکل معافول ډیر زیات بهتر دی خصوصاً چه یو سړی خوشامد اوزاری کوی معافی غواړی.

۳۵ باب | تجوید یعنی د قرآن مجید د صحیح ویلو بیان

(۱) مسئله:- د قرآن شریف په صحیح ویلو کښی کوشش کول واجب دی په بی پروایی او سستی کولو کښی ئ گناه ده. فائده:- د تجوید قاعدی ډیری دی مگر لږ قاعدی چه ډیری اسانه او ضروری دی لیکل کیږی. تنبیه:- د دی حروفو په مخ کښی باید په ډیر اهتمام او غم خورد نی سره فرق وسی او په ښه طریقه سره باید اداسی - د - ا ، ع ، ء ، په مابین کښی د - ت ، ط په مخ کښی د - ث ، س ص په مخ کښی د - ح ، ه - په مخ کښی د - د ، ض په مخ کښی او د - ذ ، ز ، ظ په مخ کښی - چه (ت) ډکه نه ویل کیږی او (ط) ډکه ویل کیږی او (ث) نرمه ویل کیږی (س) سخت ویل کیږی - (ص) ډک ویل کیږی او د (ض) په ادا کولو کښی د ژبی اړخ دچپه طرف د نرمی د غاښونو سره لګیږی د مخ د غاښونو سره د ژبی لګول غلط دی ډیر مشق او پخول ئ په کار دی - (ذ) نرم ویل کیږی - (ز) سخته ویل کیږی او (ظ) ډکه ویل کیږی.

(۱) قاعده:- د احروف همیشه ډک ویل کیږی - خ ، ص ، ض ، ط ، ظ ، غ ، ق - یعنی آواز ترڅو څه وخته پورې د پزې د لاړی څخه باسه

(۳) قاعده ۱:- پر هر حرف چه زور یا زیر یا پیش وی او تر ده ورسته ی الف یا واو نه وی نو دی مه اوږدوه لکه چه د اکثره بنحو عادت دی دا رنګه ویل غلط دی لکه اَلْحَمْدُ - دا رنګه اَلْحَمْدُوْ - یا مَالِکِ دا رنګه ویل مَلِکِیْ یا - اِیَّاکَ دا رنګه ویل - اِیَّاکَا - او هر ځای چه الف - یا - یې - یا - واو - وی نو بیا ئی مه لنډوه - غرض چه دوالف اوپدوت ډیر خیال ساته.

(۴) قاعده ۱:- پیش ته د واو بوی ورکړه وئ وایه او زیر ته د - ی - بوی ورکړه وئ وایه.

(۵) قاعده ۱:- هر ځای چه پر نون - جزم یعنی ویرغندی وی او تر نون ورسته د دغو حرفونو څخه یو حرف وی پر دغه نون غنّه کوه - هغه حرفونه دادی (ت، ث، ج، د، ذ، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ف، ق، ک) - لکه اَنْتُمْ مِنْ ثَمَرَةٍ - فَاَنْجَيْنَاكُمْ - اَنْدَادًا - اَنْذَرْتَهُمْ - اَنْزَلَ - مِنْسَاتَهُ - نَنْشُرْ لَمَنْ صَبَرَ - مَنْضُوْدٍ - فَاِنْ طِبْنَ - فَانْظُرْ - يُنْفِقُوْنَ - مِنْ قَبْلِكَ - اِنْ كُنْتُمْ -

(۶) قاعده ۱:- دغه رنګه که پر یو حرف باندی دوه زیره یا دوه زوره یا دوه پیښه وی چه دنون آواز څنډی پیدا کیږی او تر دغه حرف ورسته که دهغه پخلسی حرفونو څخه یو حرف راسی بیا هم دد غه نون پر آواز باندی غنه وکړه - لکه جَنّٰتٍ تَجْرِیْ - جَمِيْعًا ثُمَّ اسْتَوٰى - مِنْ نَفْسٍ شَيْئًا - رِزْقًا قَالُوْا - رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ داغه رنګه نور مثالونه تلاش کړه.

(۷) قاعده ۱:- هر ځای چه پر نون جزم وی او تر ده ورسته - د - ر - حرف یا د - ل - حرف راسی نو په ده کښی د نون آواز بالکل نه پاته کیږی بلکه بالکل په ر - یا - ل - ویل کیږی لکه مِنْ رَّبِّهِمْ - وَلٰكِنْ لَّا يَشْعُرُوْنَ.

(۸) قاعده ۱:- داغه رنګه که یو حرف دوه زوره یا دوه زیرونه یا دوه پیښونه ولری چه دنون آواز څنډی پیدا کیږی او تر دغه حرف ورسته - ر - یا - ل - وی نو دد غه نون آواز ختمیږی په - ر - یا - ل - کښی مدغمیږی (پټیږی) لکه غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ.

(۹) قاعده ۱:- که پر نون جزم وی او تر ده ورسته حرف - ب - وی نو دغه نون په میم سره وایو او غنّه هم پرکوو

لکه - اَنْبِئْهُمْ نو ئی دا رنګه وایو اَمْبِئْهُمْ - دا غه رنګه که پر یو حرف دوه زوړ رونه یا دوه زیر رونه یا دوه پیښ رونه وی چه دنون آواز خندی پیدا کیږی او تر دوه ورو سته (ب) وی هلته هم د دغه نون آواز د میم په شان وایو لکه (اَلِیْمٌ بِمَا) دا رنګه وایو اَلِیْمُمْ بِمَا - په بعض قرآن شریفانو کښی پر دا رنګه ځای کوچنی غوندی میم لیکی او په بعضو کښی ئی نه لیکی مګر هر ځای چه دغه قاعده جاری وی هلته به ئی په میم سره وایی.

(۱۰) قاعده:- هر ځای چه پر میم جزم (ورغندی) وی او تر دوه ورو سته حرف (ب) وی نو پر دغه میم غنه وکړه لکه یَعْتَصِمْ بِاللّٰهِ.

(۱۱) قاعده:- پر هر حرف چه دوه زوړ رونه یا دوه زیر رونه یا دوه پیښ رونه وی اوددوه څخه پر ورو سته حرف (ورغندی) وی نو هلته ددوو[۲] زوړ رونو پر ځای یو زوړ وایو - او هلته چه کوم الف لیکل سویدی هغه نه وایو - یو (ن) چه زیر ولری د خپلې ځانه ړیا تو - د دغه جزم (ورغندی - غږوندی) والا حرف سره ئی جنګوو لکه - خَیْرَا الْوَصِیَّةِ - دا رنګه ئی وایو (خَیْرَنِ الْوَصِیَّةِ). دا غه رنګه ددوو[۲] زیر رونو پر ځای یو زیر وایو او دغه "نون" دورو سته حرف سره جنګوو لکه نَحْوُ یَا التَّذِیْنَ دا رنګه وایو نَحْوُرِنِ الَّذِیْنَ - همدا رنګه ددوو[۲] پیښ رونو پر ځای یو پیښ وایو او دا غه رنګه "نون" دورو سته حرف سره جنګوو - لکه نُوْحٌ ابْنُهُ - دا رنګه وایو (نُوْحُ نِ ابْنُهُ) په بعضو قرآنونو شریفانو کښی کوچنی غوندی نون ئی په مابین کښی لیکلی وی لیکن که په یو قرآن شریف کښی نه وی لیکل سوی نو هم باید دویل سی.

(۱۲) قاعده:- پر (ر) باندی که زوړ وی یا پیښ وی نو باید چه دویل سی لکه (رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ - اَمْرُهُمْ) او که تر (ر) لاندی زیر وی نو نرمه ئی دوایه لکه (غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ) - او که پر (ر) جزم (ورغندی) وی نو د دی څخه مخکی حرف ته وګورهٔ که پر هغه حرف زوړ یا پیښ وی نو (ر) چه دوایه لکه - (اَنْذَرْتَهُمْ - مُرْسَلٌ) او که هغه حرف چه تر (ر) مخکی دی پر هغه حرف زیر وی نو دغه (ر) نرمه دوایه - لکه (لَمْ تُنْذِرْهُمْ) او یو ځای ځای دا قاعده نه جاری کیږی لیکن په هغو ځایونو ستا فکر نه رسیږی چه پر ځایونه دا قاعده جاری کیږی بس ته ئی دا غه رنګه وایه.

(۱۳) قاعده:- په اَللّٰهُ - او - اَللّٰهُمَّ کښی چه کوم لام دی تر دغه لام پرمخکنی حرف که چیری زور یا پلیټ وی نو لام ډک وایه لکه خَتَمَ اللّٰهُ - فَزَادَهُمُ اللّٰهُ وَزَادُ قَالُوا اللّٰهُمَّ - او که پر مخکنی حرف زیر وی نو دغه لام نرم او باریک ووایه لکه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ .

(۱۴) قاعده:- هر ځای چه گردی - ة - لیکل سوی وی - برابره خبره ده که جلا لیکل سوی وی لکه (ة) (په سُوْرَةٌ کښی) یا د نورو حروفو سره گډه لیکل سوی وی لکه (بة) (په دابة کښی) او ته غواړی چه پرو د درېیمی نو دغه (ة) د (ه) پر طریقه وایو لکه قَسْوَةٌ - دا رنگه وایو قَسْوَهْ - دا غه رنگه په اٰتُوا الزَّكٰوةَ او - طیبة کښی هم (ه) وایو .

(۱۵) قاعده:- پر هر حرف چه دوه (۲) زوره نه وی او پر درېیمی نو تر دغه حرف دروسته الف وایو لکه نِدَآءً - دا رنگه نِدَاءً .

(۱۶) قاعده:- هر ځای چه په قرآن شریف کښی دا سی نشان ییگیدلی وی ـ ـ ـ هلته هغه حرف چه دغه نشان پرلیکل سوی وی لږ غوندی ئې زیات کړه - لکه وَلَا الضَّآلِّيْنَ د لته الف د نورو ځایو نو تر الفانو زیات کړه او وئې وایه یا لکه قَالُوْٓا اٰمَنُوْا مِنُ - د لته - واو - د نورو ځایونو تر واو - اوږد ووایه یا لکه فِيْٓ اٰذَانِهِمْ دغه (ی) د بل ځای تر (ی) زیاته ووایه .

(۱۷) قاعده:- هر ځای چه دا رنگه علامې وی نو هلته و درېیمه ر، ط، ○، قف - ل - او هر ځای چه (س یا سکته) وی یا (وقفه) وی هلته ساه مه کاږه - لږ غوندی و درېیمه بیا مخکی ولاړ سه قرآن شریف وایه او هر ځای چه ئې په یوه اٰیت کښی دوه (۲) ځایه درې (۳) ځایه تکی دا رنگه ∴ لیکلی وی هلته یو ځای و درېیمه یو ځای مه درېیمه برابره خبره ده که پر اول ځای درېیمی او که پر دوهم ځای درېیمی - او هر ځای چه لا لفظ لیکل سوی وی هلته مه درېیمه او هر ځای چه نورې علامې او نشانونه وی که دې زړه غواړی و درېیمه او که دې زړه غواړی مه درېیمه او هر ځای چه لاندې باندې دوی علامې وی نو کومه علامه چه لوړه لیکل سویده پر هغې عمل وکړه .

(۱۸) قاعده:- پر هر حرف چه جزم (ور غندی) وی او د ده څخه پرو روسته حرف باندې شد (ّ) وی نو په دی ځای کښی اول حرف نه وایو لکه په قَدْ تَّبَيَّنَ

کښی دال نه وایو - او په قَالَتِ الطَّائِفَةُ کښی (ت) نه وایو - او په لَئِنْ بَسَطْتَ کی ط - نه وایو او په اُثْقِلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ کښی (ت) نه وایو - او په اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا کښی (ت) نه وایو - او په اَلَمْ نَخْلُقْكُّمْ کښی - ق - نه وایو - البته که دغه جزم (ورغلی والا حرف (ن) وی یاد دُوْ زیر دیاد دو پیښو څخه (ن) پیدا سوی وی او ترد غه وروسته شد والا حرف (ی یا واو) وی نو په دا رنګه ځای کښی چه ویل کیږی دنون بوی پکښی کی دی لکه مَنْ يَّقُوْلُ - ظُلُمٰتٌ ذَّرْعُهٗ کښی چه نون آواز په پزه کښی پیدا کیږی - په مخکښو مثالونو کښی یوازی شد لرونکی توری ویل کیږی.

(۱) فائده:- د - وَمَا مِنْ دَّآبَّةٍ د سیپارې د څلرمی رکوع په شپږم ایت کښی چه لفظ د مَجْرٖيهَا راغلی دی د دغه زیر د نورو (زیرونو) په شان نه وایو بلکه سهک ئی وایو لکه څرنګه چه دستاری د زیر ویل کیږی د اغه رنګه هغه زیر هم ویل کیږی.

(۲) فائده:- د - حٰمٓ د سیپارې د سورۀ حجرات دد وهمی رکوع په اول آیت کښی چه دغه لفظ د بِئْسَ الْاِسْمُ - راغلی دی په دغه کښی د - بِئْسَ - سین - د هیڅ حرف سره نه جنګیږی بلکه د پیسی لام د راتلونکی سین سره جنګیږی نو داسی ویل کیږی بِئْسَ لِسْمُ.

(۳) فائده:- د تِلْكَ الرُّسُلُ د سیپارې د سورت آل عمران په شروع کښی چه الٓمّٓ راغلی دی ددغه میم د اللّٰه د لفظ سره چه ورسته دی داسی جنګیږی یعنی د اللّٰه د لفظ د لام سره داسی جنګیږی چه په زور زیر سره داسی ویل کیږی میمه - ی - زیر - ِی - میمه لام زور مَل - مِيْمَلْ - او بعضی دیونکی چه ئی داسی وائی مِيْم مَلْ د اغلط دی.

(۴) فائده:- دا یو څو ځایونه داسی دی چه لیکل کیږی یو قسم او ویل کیږی بل قسم ددی پیر خیال ساته او په قرآن شریف کښی دغه ځایونه راوړه وه او د نورو کونکو اوشاګردانو ته ئی ور معلوم کړه او په پوه ئی کړه.

(۱) اول ځای:- په قرآن مجید کښی چه هر ځای د اَنَا راغلی دی په دغه کښی الف نه ویل کیږی بلکه فقط اول حرف او نون د نورو سره ویل کیږی او نون نه ولاړوی نو لیک ئی اَنَا او تلفظ ئی اَنَ سو.

(۲) دوهم ځای:- د سیقول سیپارې د شپاړسمی رکوع په دریم ایت کښی چه

لفظ د یَبْصُطُ راغلی دی نو په دی لفظ کښی چه کوم (ص) لیکل سویدی هغه په (س) سره ویل کیږی چه (یَبْسُطُ) په تلفظ کښی څنډی جوړیږی په اکثره قرآن شریفانو کښی یو کوچنی غونډی (ص) هم وړه سره لیکل سویدی لیکن که ئی لیکلی هم نه وی بیا به ئی هم (س) والی دغه رنګه دو لَوْ اَنَّنَا سیپارې د شپاړسمی رکوع په پنځم ایت کښی چه بَصْطَةً لفظ دی دلته هم (ص) پرځای باندی (س) ویل کیږی.

(۳) دریم ځای:- د لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ - سیپارې د شپږمی رکوع په اول آیت کښی د اَفَائِنْ په لفظ کښی تر (ف) وروسته الف لیکل کیږی مګر نه ویل کیږی. بلکه اَفَئِنْ ویل کیږی.

(۴) څلرم ځای:- د لَنْ تَنَالُوْا د سیپارې د اتمی رکوع په دریم آیت کښی په لفظ د لَاِلَی اللّٰهِ کښی تر اول لام وروسته د وه الفان لیکل سویدی مګر یو الف ویل کیږی یعنی لَالَی اللّٰهِ ویل کیږی.

(۵) پنځم ځای:- د لَا یُحِبُّ اللّٰهُ د نهمی رکوع په دریم آیت کښی په لفظ د تَبُوْٓءُا کښی تر همزه وروسته الف لیکل سویدی لیکن نه ویل کیږی بلکه تَبُوْٓءَ ویل کیږی

(۶) شپږم ځای:- د قَالَ الْمَلَاُ الَّذِیْنَ د دریمی رکوع په څلرم ایت کښی د مَلَائِهٖ په لفظ کښی تر لام وروسته الف لیکل سویدی لیکن نه ویل کیږی بلکه مَلَئِهٖ ویل کیږی. د غه رنګه د غه لفظ په قرآن شریف کښی چه هرځای راغلی وی په داغه طریقه ویل کیږی.

(۷) اوومه ځای:- د وَاعْلَمُوْٓا سیپارې د دیارلسمی رکوع په پنځم ایت کښی د لَاَوْضَعُوْا په لفظ کښی تر لام وروسته الف لیکل سویدی مګر نه ویل کیږی بلکه لَاَوْضَعُوْا ویل کیږی.

(۸) اتم ځای:- د وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ د سیپارې د شپږمی رکوع په اتم آیت کښی د ثَمُوْدَا په لفظ کښی تر دال وروسته الف لیکل سویدی مګر نه ویل کیږی داغسنګه د قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ - په سیپاره کښی د وَالنَّجْمُ د سورة د دریمی رکوع په نولسم ایت کښی چه. ثَمُوْدَا - لفظ راغلی دی په دغه کښی هم الف نه ویل کیږی.

(۹) نهم ځای:- د وَمَآ اُبَرِّئُ نَفْسِیْ د سیپارې - د لسمی رکوع څلرم ایت کښی - د

لِتَتْلُوَا یه لفظ کښی تر واو ورد سته الف لیکل کیږی لیکن نه ویل کیږی بلکه لِتَتْلُوَ ویل کیږی.

(۱۰) لسم حای ۱- د سُبْحَانَ الَّذِیْ د سیپارې د څورلسمی رکوع په دوهم ایت کښی په لفظ د لَنْ نَّدْعُوَا - کښی تر واو ورد سته الف لیکل کیږی مگر نه ویل کیږی بلکه لَنْ نَّدْعُوَ ویل کیږی. داغه رنگه په سُبْحَانَ الَّذِیْ سیپارې کښی د شپارسمی رکوع په اول ایت کښی د لِشَائٍ په لفظ کښی الف نه ویل کیږی بلکه لِشَیْئٍ ویل کیږی.

(۱۱) یو ولسم حای ۱- د سُبْحٰنَ الَّذِیْ د سیپارې د اوولسمی رکوع په اووم ایت کښی د لٰکِنَّا په لفظ کښی تر نون ورد سته الف لیکل کیږی مگر نه ویل کیږی بلکه لٰکِنَّ ویل کیږی.

(۱۲) دوولسم حای ۱- د قَالَ الَّذِیْنَ لَا یَرْجُوْنَ د سیپارې د اوولسمی رکوع په اوومه ایت کښی د لَا لَاذْبَحَنَّهٗ په لفظ کښی تر لام ورد سته دوه الفان لیکل سویدی مگر یو الف ویل کیږی په دامی شکل سره - لَاذْبَحَنَّهٗ.

(۱۳) دیارلسم حای ۱- د وَمَالِیَ سیپارې د شپږمی رکوع په اوه خلویښتم ایت کښی د لَا اِلَی الْجَحِیْمِ په لفظ کښی تر اول لام ورد سته دوه الفان لیکل سوی دی مگر یو ویل کیږی یعنی لِاَلَی الْجَحِیْمِ ویل کیږی

(۱۴) څورلسم حای ۱- د حٰمٓ د سیپارې د سورۃ مُحَمَّدٌ د اولی رکوع په څلرم ایت کښی د لِیَبْلُوَا په لفظ کښی تر واو ورد سته الف لیکل کیږی مگر نه ویل کیږی - بلکه لِیَبْلُوَ - ویل کیږی دغه رنگه د دغه سورۃ په څلرمه رکوع کښی د لِنَبْلُوَا په لفظ کښی تر واو ورد سته الف لیکل کیږی لیکن نه ویل کیږی بلکه لِنَبْلُوَ ویل کیږی.

(۱۵) پنځلسم حای ۱- د تَبٰرَکَ الَّذِیْ د سیپارې د سورۃ تَبٰرَکَ د اولی رکوع په څلرم ایت کښی د سَلَا سِلَا - په لفظ کښی تر دوهم لام ورد سته الف لیکل کیږی مگر نه ویل کیږی بلکه سَلَا سِلْ ویل کیږی او د دی رکوع په پنځلسم او شپارسم ایت کښی دوه حایه قَوَارِیْرَا - قَوَارِیْرَا راغلی دی او دوارو حایه تر دوهمی (ر) - ورد سته الف لیکل کیږی نو اکثره ویونکی پر اول قواریرا باندی دریږی او پر دوهم قَوَارِیْرَا باندی نه دریږی په دغسی ویلو کښی دا حکم دی چه پر اول حای دی الف دوالی او پر دوهم حای دی الف نه والی بلکه قَوَارِیْرَ دی دوالی او که

څوک پر اول څای باندی نه وی ریږی پر دوهم څای باندی وی ریږی نو پر
دوهم څای په هیڅ حال کی الف نه ویل کیږی برابره خبره ده که وقف
وکړی یا ئی نه وکړی او په اول څای کښی که وقف وکړی نو الف
دی وایی ورنه نه دی وایی صحیح دغه ده (کما
فی جمال القرآن). فائده:- د وَاعْلَمُوْا په
سیپاره کښی سورة توبه د بَرَآءَةٌ
مِّنَ اللّٰه څخه شروع کیږی
پر دغه څای بِسْمِ اللّٰهِ
نه ده لیکلے
سوی
د دغه حکم
دادی که چا ددی
سورت څخه مخکی قرآن
شریف شروع کړی وی او پر دی سورة
راسی نو بسم الله دی د دی سورت په شروع
کښی نه وایی هسی دی شروع کړی او که یو چا د دی
سورت څخه شروع کړی یا ئی یو څخه سورت و وایه بیا ئی تلاوت
بند کړی بیا ئی دما بین څخه تلاوت شروع کړی په دی دواړه حالتونو
کښی باید بِسْمِ اللّٰه الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ و وایی

داستاذ دپاره ضروری هدایتونه اولاړ شونه

په دی تولو قاعدو څپل شاګردان او ویونکی ښه پوه کړه هره
قاعده جلا جلا تر څیړو وروسته پوری په څلرمه څلرمه
یا نیمه نیمه سیپاره کښی په دی باندی ښه
اجراء او مشق کړه.

دا صلی بهشتی زیور څلرمه حصه ختم شوه

د اصلی بهشتی زیور د خلرمی حصی اوله ضمیمه چه په بهشتی جوهرسره نامداره ده

بسم الله الرحمن الرحیم ط

د نکاح د فضیلت او د نکاح د حقوقو بیان

(۱) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د نیا صرف د استعمال شی ده او د د نیا د استعمال په شیانو کښی تر نیکه بنځه بل هیڅ بهتر او ښه شی نسته (مشکوٰة شریف مجتبائی ص۲۶۷) (یعنی که په د نیا کښی د سړی نیکه بنځه په قسمت کښی راسی نو دیر لوی غنیمت او د خدای تعالی رحمت دی د خاوند د پاره د راحت او د واړه جهانو د فلاح (یعنی خلاصوالی) د پاره سبب گرزی په د نیا کښی هم د داسی بنځی څخه راحت حاصلیږی او د آخرت په کار وکښی هم مدد ځندی حاصلیږی.

(۲) په حدیث شریف کښی بیان سوی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. نکاح زما طریقه او زما سنت (مؤکده) دی پس نو هر څوک چه عمل ونه کړی زما پر سنت (مؤکده) نو هغه زما څخه نه دی. (یعنی زما اودده په منځ کښی هیڅ علاقه نسته دا زجر او تر تنبه ده د د ډاسی چاد پاره چه پر سنتو عمل نه کوی. او د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د خفګان بیان دی پرداسی چاباندی (چه د سنتو څخه مخالفت کوی) پس نو د نکاح نه کولو څخه دیر پرهیز لازم دی د مسلمان زړه څرنګه آرام کوی چه د لږ ګړی د پاره جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده څخه ناراضه سی خدای پاک دی ترهغی ډیرې مخکی مرګ راکړی چه په هغه وخت د مسلمان د خدای او د خدای د رسول ناراضګی خوښه سی.

په بل حدیث کښی دی نکاح کوی چه زه فخر په کوم (په قیامت کی) په تاسو سره پرنورد امتونو (یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اخبره دیره خوښه ده چه د ده مبارک امت تر نورو دیر اوزیات وی د دی د پاره چه د امت د دیرو اعمالو په وجه د مبارک علیه الصلوٰة والسلام ته هم ثواب الهی ورپه برخه

سی د دی سبب چه د دغه مبارک دامتیانو څخه هرڅوک یو عمل کوی هغه
د دغه مبارک د تعلیم په وجه کوی پس نو هرڅوندی چه عمل کونکی زیات
وی په هغه اندازه ئی د مبارک علیه السلام ته په سبب د تعلیم ثواب
ور رسیږی د دی ځای څخه داخبره هم معلومه سوه چه په هره طریقه
سره کیدای سی نو مسلمان باید د قرب الهی وسیلی او اعمال په کثرت سره
اختیار کړی او کوتاهی او سستی ونه کړی په حدیث شریف کښی راغلی دی
چه د قیامت په ورځ بتول صفونه یو نسل (۲۰) او شل دی چه په دوی کښی به (۴۰)
صفونه د نورو امتو وی او اتیا (۸۰) صفونه به د جناب رسول الله صلی الله علیه و
سلم دامت وی سبحان الله څونده ی خوشحالی منظوره دغه وخدای تعالی ته
د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او کوم څوک چه صاحب د وسعت
وی (یعنی د بنځی حقوق ادا کولای سی) نو د دغه د پاره په کار دغه چه نکاح
وکړی او څوک چه نه کړی پیدا (دوندی قدرمال چه د بنځی حقوق په ادا
کړی) نو پردغه روژه دغه (یعنی روژه دی د نیسی چه په روژه سره په
شهوت کښی کمالی او کمزوری راځی پس نو بیشکه روژه د دغه د پاره داسی دغه
لکه رگ د شهوت چه ختم کړی) که د سړی خواهش و بنځی ته ډیر نه ـ
وی بلکه معتدل او درمیانه وی او د بنځی پر ضروری حرځ قادر وی نو
د داسی سړی د پاره نکاح کول سنت مؤکد دغه او د کوم سړی چه شهوت
ډیروی خپل شهوت ډیره غلبه پرکړی وی نو د داسی چا د پاره نکاح کول
واجب او ضروری دغه ـ حکه چه د دی خطره او بیره سته چه په زنا به
خدانخواسته اخته سی او ډیر سخت به گنهگاره سی او که سره د ډیره شهوته
دوندی قدر طاقت نه لری چه د بنځی ضروری حقوق ادا کړی نو دا رنگه سړی
دی په کثرت سره روژی نیسی بیا چه هر څخه دوندی قدرت پیدا کړی چه د
بنځی د حقوقو پرادا کولو قادر سی نو بیا دی نکاح وکړی.

(۳) په حدیث شریف کښی بیان سوید ی چه اولاد د جنت گلان دی (رواه
الحکیم والترمذی) مطلب ئی دادی نکه څرنگه خوشحالی او مسرت چه د
جنت د گلانو څخه حاصلیږی داغسی راحت او خوشحالی و اولاد نه په کتلو کښی
حاصلیږی او اولاد د نکاح په ذریعه سره حاصلیږی.

(۴) په حدیث شریف کی راغلی دی چه په تحقیق سره دانسان درجه بلنده کیږی په جنت کی پس نو دَئ وایی دکومه خایه څخه دی دغه زما دپاره (یعنی دغه انسان وایی چه دغه درجی ما ته څرنګه راکړل سوی ما خو هیڅ یودامی عمل نه دی کړی چه دغه ئ ثواب وګرځی) پس نو ویل کیږی (و دغه ستا ولاد زما څخه په سبب دطلبولو د مغفرت ستاد اولاد ستاد پاره (یعنی ستا اولاد زما څخه ستاد پاره طلب د دعا او بخښنی کړیدی نو دغی دعا په سبب دغه درجی و تا ته درکړه سویدی) رواه احمد وغیره.

(۵) په حدیث شریف کښی بیان سوی دی په تحقیق سره هغه کوچنی چه نقصان سی (یعنی چه وخت ئ پوره نه وی او تر وخت مخکی پیدا سی) د خپل پروردګار سره جنګیږی هغه وخت چه مور او پلار ئ د دوزخ ته داخل سی (یعنی د خدای پاک څخه په مبالغه سره هغو بښنه کوی چه زما مور او پلار د دوزخ څخه راوباسه او حق تعالیٰ په خپل فضل او کرم سره د دغه جګړه قبلوی او نارئ اخلی) پس نو ورته ویل کیږی ای سقطی (بتوتی دغو بنو) چه ته جګړه کونکی ئ د خپل رب سره داخل کړه خپل مور او پلار په جنت کی پس نو کشوی کوچنی دوی دواړه په خپل نوسره تر دامی حده چه په جنت کی ئ داخل کړی (رواه ابن ماجه) معلومه سوه چه په اخرت کښی دامی اولاد هم په کار راځی چه نقصان سوی وی او داد نکاح نتیجه ده.

(۶) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه بیشکه هر وخت چه گوری سړی د خپلی بنځی طرف ته او بنځه گوری د سړی و طرف ته نو گوری خدای تعالیٰ د دواړو و طرف ته درحمت په نظر. (رواه میسرة بن علی فی مشیخته والرافعی فی تاریخه عن ابن سعید مرفوعاً بلفظ ان الرجل اذا نظر الی امرأته و نظرت الیه نظر الله تعالیٰ الیهما نظرة رحمة الخ.

(۷) په حدیث شریف کښی بیان سویدی چه پرخدای تعالیٰ حق دی (یعنی خدای تعالیٰ په خپل رحمت سره پرخپله ذمه داخبره مقرره کړیده. کومک کول دهغه چا چه نکاح وکړی د دی دپاره چه ځان وساتی د هغو شیانو څخه چه خدای تعالیٰ حرام کړی دی. (رواه ابن عدی) یعنی د زنا څخه د ځان ساتلو دپاره چه څوک نکاح وکړی او نیت ئ د خدای پاک اطاعت وی نو په دَلوَړ اد

دامی نور وکښی خدای پاک د ده سره کومک کوی.

(۸) په حدیث شریف کښی ذکر سوید ی چه د عیالدار انسان دوه (۲) رکعاته لمونځ بهتر دی د مجرد انسان تر دوه (۲) اتیا رکعاته لمونځ او په بل حدیث کی پرځای د دوه (۲) اتیا د اویا (۷۰) عدد راغلی دی (رواه العقیلی عن انس رض مرفوعاً وسنده ضعیف عند السیوطی ومنکر عند العقیلی) پس نو مطلب دا کیدای سی چه اویا (۷۰) د هغه چا په حق کښی دی چه ضروری حق د اهل وعیال ادا کوی او دوه (۲) اتیا د هغه چا په حق کی دی چه تر ضروری حقوقو زیات ددوی خدمت کوی په څان، مال او ښه عادت سره. والحدیث رواه تمام فی فوائده والضیاء عن انس مرفوعاً بلفظ رکعتان من المتأهل خیر من اثنین وثمانین رکعة من العرب وسنده صحیح.

(۹) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه بیشکه لویه گناه د خدای په نزد ضائع کول اود دی په ضروری خدمتونو کی کمی کول دی د هغو انسانانو په حق کی چه د هغوی ساتنه دده پر ذمه وی. (رواه الطبرانی عن ابن عمر مرفوعاً بلفظ ان اکبر الاثم عند الله ان یضیع الرجل من یقوت (کذا فی کنز العمال)

(۱۰) په حدیث شریف کښی راغلی دی چا نه ده پری اینبی ترخپل څان وروسته یو فتنه چه د نارینوڅ د پاره ضرر ناکه وی ماسیوی د ښځی د فتنی څخه (یعنی د نارینوڅ په حق کښی د ښځی د فتنی څخه ماسیوی بله داعنسی ضرر ناکه فتنه نسته لکه چه نارینه ددوی په محبت کی بی حسه او بی اختیاره کیږی د خدای اورسول (صلی الله علیه وسلم) د حکم پروا نه کوی. نو په کار ده چه د وندی محبت د ښځو سره و نه سی چه په هغه کښی خلاف د شریعت کار وسی مثلاً ښځه د خپل خاوند څخه دده تر قدرت بالا څوند غواړی نو خاوند دی هیڅکله دی د زړه د خوشحالولو د پاره رشوت اخستل، غلا کول او داسی نور نه کوی. بلکه په حلال مال سره چه خدای پاک ورکړی وی د خپلی ښځی خدمت دی په وکړی و ښځوته دی تعلیم او ادب ورکوی په بی باکی او بی شرمی سره دی لټ نه عادت کوی د ښځو عقلونه ناقص دی ددوی د اصلاح د پاره خاص ترتیب ښیول لازم دی. (رواه مسلم وغیره)

(۱۱) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هیڅوک دی ستاسو څخه د نکاح پیغام د خپل ورور د نکاح پر پیغام نه ورکوی تر داسی حده چه هغه ورور نکاح وکړی

یا ئی پریږدی (یعنی هر دخت چه یو چایو ځای دکونډی د پاره پیغام اومرکه لیږلی وی اود هغو خلګو یو څه رضامندی هم معلومه سوی وی چه دوی د دی سړی سره په نکاح کولو کښی یو اندازه راضی سویدی نو دبل سړی د پاره ودغه ځای نه مرکه کول هیڅکله په کار نه دی لیکن که هغه خلګ خپله دغه اول سړی نه جواب ورکړی یا دغه اول سړی خپله په دغه ځای کی دکونډی کولو اراده پریږدی یا د هغو خلګو تر اوسه پورې بالکل د دغه اول سړی سره د نکاح کولو رضا نه معلومیږی نو په دی صورتونو کښی دبل چا د پاره ددغه ځای نه مرکه کول صحیح دی او دلته رنګه د رابیولو اوخرڅولو معامله ده چه یو څوک د چا سره د شی پر قیمت او نرخ خبری کوی بل چا لره ترڅو پورې چه اول سړی دغه سودا پری اینښی نه وی د نرخ او قیمت په باره کی خبری کول مناسب نه دی لیکن دا هغه وخت که دا معلومیده چه ددوی د سودا امکان سته او په سودا کولو کی یو څه سړه رامنی دی بنه ځان په پوهه کړه په دی حکم کی کافر هم داخل دی یعنی که یو کافر دیو چا سره د یو شی د راښولو یا خرڅولو په باره کی خبری کوی چه په دوندی ئی د ر کوم په دوندی ئی راښیسم اوددغه بل چایو څه رضا هم معلومیږی دکافر سره په سودا کولو کښی - نو د مسلمان د پاره هم مناسب نه ده چه ددغه کافر پر قیمت سر ببیره خپل قیمت ورکړی.

(۱۲) په حدیث شریف کښی ذکر سوی دی چه په تحقیق سره ښځه په نکاح کیږی د خپل دین په وجه اود خپل مال په وجه اود خپل حسن او ښایست په وجه پس تو پر تاسی لازم دی چه د دیندار ه ښځی سره نکاح وکړه او خوښه کړی (رواه مسلم وغیره)

یعنی یو سړی دیندار ه ښځه خوښوی بل سړی دنیادار ه ښځه خوښوی اوبل سړی ښایسته ښځه خوښوی نو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه د ښځی د دیندار ی خیال ساتل په کار دی اود دیندار ی ښځی سره نکاح کول بهتر ه او غوره ده لیکن که داسی پیښه سی چه یو ه ښځه مثلاً دیندار ه وی لیکن د وندی بد شکله وی چه په هیڅ قسم سړه ئی طبیعت نه قبلوی. د دی پاره او خوف وی که چیری د دا سی ښځی سره نکاح وسی نو د هغه ه او ښځی د گډ ژوند به نه وی او د هغه ه څخه د ښځی په حقوقو کښی

کوتاهیانی کیږی نو په داسی وخت کښی دی د داسی ښځی سره نکاح نه کوی او د حدیث شریف په آخر کښی دا هم راغلی دی چه ستاسو لاس دی په خاورو سی (دا عربی محاوره ده پر مختلفو ځایونو استعمالیږی په دی ځای کښی د دین داری ښځی سره د نکاح کولو رغبت او تشویق ځندی مراد دی.

(۱۳) په حدیث شریف کښی بیان سویدی چه په ښځو کښی بهتره هغه ښځه ده. چه ددی مهر او ولور ډیر اسانه وی. (روا ه مسلم وغیره. (یعنی چه سړی ئی په اسانی سره ادا کړی نن سبا د مهر ډیر والی خو را ډیر رواج دی د خلګو دیاره په کار ده چه ددی بیکاره رواج څخه ځان وساتی).

(۱۴) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د خپلو نطفو د پاره (ښه محل او ځای) خوښ کړی ددی وجهی چه ښځی (کوچنیان) زیږوی د خپلو ورونو او خویندو په شان (یعنی د نیک بخته او شریف خاندان د ښځو سره نکاح کوی ځکه چه په اولاد کی د مور نی خاندان ډیر مشابهت وی یعنی اولاد و ما ماخیلو ته ډیر کیږی که څه هم په اولاد کی د پلار اثر هم راځی مګر ددی حدیث څخه معلومیږی چه د مور اثر د پلار تر اثر زیات دی نو که مور د بد اخلاقو ښځو څخه وی یعنی د مور خاندان بد اخلاقه وی او د داسی خلګو د جملی څخه وی چه شریف او حیا ناکه نه وی نو ددی څخه هم په شان ددی خلګو بیکاره اولاد پیدا کیږی او که ئی مور د شریف او نیک اخلاقه خاندان څخه وی نو بیا د دی څخه نیک او شریف اولاد پیدا کیږی. (روا ه ابن عدی وابن عساکر عن عائشة (رضی الله تعالی عنها) مرفوعًا بلفظ تخیروا لنطفکم فان النساء یلدن اشباه اخوانهن واخواتهن)

(۱۵) په حدیث شریف کښی راغلی دی تر ټولو لوی حق په خلګو کښی د خاوند دی پر ښځه باندی او پر سړی باندی تر ټولو لوی حق په خلګو کی د ده د مور حق دی. (یعنی ورو سته د الله او رسول تر حقونو د ښځی پر ذمه د خاوند ډیر لوی حق دی حتیٰ چه ددی تر مور او پلار لاهم د خاوند حق زیات دی او د سړی پر ذمه ورو سته د خدای او د رسول (ص) تر حق تر ټولو زیات حق د مور حق دی. ددی څخه معلومه سوه چه د سړی پر ذمه د مور حق د پلار تر حق زیات دی. (روا ه الحاکم عن عائشة رضی

الله تعالی عنها۔ مرفوعاً بلفظ اعظم الناس حقا علی المرأة زوجها و اعظم الناس حقاً علی الرجل امه۔ وسنده صحیح)

(۱۶) په حدیث شریف کښی ذکر سویدی که ستاسی څخه یو دخپلی بنځی سره دجماع او نژدیکت اراده وکړی نو دی دا دعا ووایی بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطٰنَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا) نو که چیری دده په قسمت کی د دغه نژدیکت په وجه کوچنی لیکل سوی وی نو ضرر به نه ورسوی هیڅکله د دغه کوچنی ته شیطان۔ (رواه احمد وغیره)

(۱۷) په یو اوبن ده حدیث شریف کښی راغلی دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم وعبدالرحمٰن بن عوف ته وفرمائل۔ اَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ۔ یعنی ولیمه وکړه که څه هم په یو پسه سره وی (متفق علیه) مطلب دادی که څه هم لږ وی پروا نه لری مګر کول ئی په کار دی نه دا ده چه د بنځی سره تر نژدیکت کولو وروسته ولیمه وسی که څه هم ډیر وعلماؤ صرف تر نکاح کولو وروسته هم جائز بللی ده او ولیمه مستحب ده۔

د طلاق د مذمت او بد والی بیان

(۱۸) په حدیث مبارک کښی راغلی دی ابغض الحلال الی الله الطلاق (رواه الحاکم وابوداؤد وابن ماجه عن ابن عمر مرفوعاً وسنده صحیح) یعنی ډیر مبغوض او ډیر بد شی په حلالو شیانو کښی د خدای په نزد طلاق دی مطلب دادی چه طلاق د ضرورت په وخت کی روا دی او حلال دی مګر بیله ضرورته ډیره بده خبره ده حکه چه نکاح خو یو د بله سره د مینی او محبت او د میړه او بنځی د استراحت د پاره ترل کیږی او په طلاق سره دا ټولی خبری خفیږی۔ د خدای تعالی د نعمت ناشکری پکښی راځی و میړه او بنځی دواړه وته تکلیف رسیږی

دد دی دواړو ترمنځ دښمنی پیدا کیږی بلکه دښځی او میړه د تریبانو ترمنځ هم دښمنی او عداوت پیدا کیږی تر څو پورې چه کیدای سی هیڅ کله باید دامی و نه سی چه د طلاق قصد وکړی. میړه او ښځه باید په خپل منځ کښی خپلی معاملی او کارد نه په ښه بردباری او حلم سره حل کړی یو د بل د پیرزوړ راوړی په ښه مینه او محبت سره باید ګذاره سره وکړی لیکن چه هیڅ صورت د جوړی اوګذاری نه وی ګذاره سره کولای نه سی نو بیا که چیږی طلاق ومنځ ته - راسی پروا نه لری.

(۱۹) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه نکاح کوی او طلاق مه ورکوی (یعنی بیله یوسببه) د دی سببه چه بیشکه الله تعالی نه خوښوی د پیرمزه څکونکی نران او د پیری مزه څکونکی ښځی (یعنی د خدای پاک د اخبره خوښه نه ده چه بیله ضرورته طلاق واقع سی بیا نو میړه بله نکاح وکړی او ښځه بله نکاح وکړی لیکن که یو ضرورت وی بیا پروا نه لری) رواه الطبرانی.

(۲۰) په حدیث شریف کښی بیان سوی دی چه طلاق دی نه ورکول کیږی ښځو له مګر ورکول کیږی دی د دوی د بدی ګذاری په وجه د دی سببه چه خدای تعالی نه خوښوی د پیرمزه څکونکی نران او د پیری مزه څکونکی ښځی. روایت کړیدی د دی حدیث طبرانی

د دی حدیث مبارک څخه معلومه سوه چه که د ښځی د پرهیزګاری او د پاکدامنی په باره کی یو تاوان پیښ سی نو د دغه سببه څخه طلاق ورکول روا دی دغه رنګه که یو بل سبب او قصه وی طلاق ورکول پروا نه لری.

(۲۱) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه نکاح کوی او طلاق مه ورکوی څکه چه د طلاق په ورکولو سره عرش ښوری (رواه ابن عدی)

(۲۲) په حدیث شریف کښی ذکر سوی دی چه شیطان خپل تخت پر اوبو ایږدی بیا نو خپلی لښکری (فوځونه) لیږی (په خلګو کښی د فتنی اچولو او ګمراه کولو دپاره) پس نو زیات قریب د دغو (لښکرو په خلګو کی) از روی رتبه هغه څوک کیږی چه په دوی کښی تر ټولو لوی وی از روی فتنه (یعنی د پیر محبوب او دوست د شیطان هغه څوک ګڼلی چه د پیره غټه فتنه راپورته کړی) راځی (ودغه شیطان ته) یو د دغه (لښکریانو) څخه بیا ورته وایی ما دا وکړه او دا می وکړه

(یعنی د غه فتنه ئی راپورته کړه او هغه فتنه ئی راپورته کړه
پس نو ورته وایی شیطان چه تاهیڅ نه دی کړی (یعنی تا
هیڅ یو غنت کار نه دی کړی) او راځی یو دد غو (لښکریانو) څخه پس نو وایی
مانه دی پری ایښی فلانی سړی تر هغه پورې چه ما جلا والی راوستی د د غه
(سړی) او د د ه د بنځې په منځ کښی پس نو شیطان نژدی کوی د غه څوک و
خپل ځان ته (یعنی په خپله غاړه او سینه پورې ئې تکیه کوی او ورته وایی
چه بیشکه تا پر غنت کار کړیدی. (رواه مسلم و احمد) یعنی د شیطان ډیره
غټه خوشحالی داده چه د بنځې او میړه په مابین کی جدایی او فراق راسی
نو د دی سببه هر رنګه چه کیدای سی ای مسلمانانو باید تاسو شیطان
خوشحاله نه کړی.

(۲۳) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه بیله سختی مجبوری که یو
بنځه خپله طلاق طلب کړی نو د جنت خوشبویی پردی حرامه ده (رواه
احمد والحاکم وغیرهما مرفوعاً بسند صحیح و لفظه ایما امرأة سألت زوجها
الطلاق من غیر بأس فحرام علیها رائحة الجنة) یعنی سخته ګناه ده یعنی
په شرط د خاتمی د دی پر اسلام د خپلو بد و اعمالو سزا تیرد ی آخر کار په
جنت کی داخلیږی.

(۲۴) په حدیث شریف کښی ذکر سوی دی چه متنازعات او مختلعات منافقانی دی
(رواه النسائی) متنازعات هغه بنځی دی چه خپل ځانونه د خاوند انو د قبضی
څخه ر باسی فساد ونه یعنی داسی حرکتونه کوی چه میړه ځنډی ناراضه
سی او طلاق ورکړی او مختلعات هغه بنځی دی چه د خپلو خاوندانو څخه
بیله مجبوری خلعه طلبوی - د منافقت څخه د امراد دی چه د غه خوی
د منافقانو دی چه په ظاهره یو شان دی او په باطن کښی بل شان دی او
نکاح د همیشه د پاره وی لیکن د دی په نکاح کی جدایی او فراق عواړی نو د
دی وجهی څخه ګنهګاره کیږی که څه هم نه کافرانی کیږی.

د قرآن مجید د ویلو د فضیلت بیان

(۲۵) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر څوک عواړی ستاسو څخه خیری

کول د پروردګار عالم سره نو دد ه د یا ره بنا یي چه قرآن شریف و وایي (رواه الخطیب و الدیلمی) یعنی د قران مجید تلاوت کول گویا د خدای تعالیٰ سره خبری کول دی) غنی تر د خلگو د قران مجید حاملین دی (یعنی) هغه څوک چه د د وی په سینه کی الله پاک دَئ (یعنی قرآن شریف) ایښی وی (رواه ابن عساکر عن ابی ذر مرفوعًا بلفظ اغنی الناس حملة القرآن من جعله الله تعالیٰ فی جوفه)

مطلب دا دی چه هر چا قرآن شریف و وایي او عمل ئی په وکړی تر د غه چا لوی غنی نسته په قرآن شریف د عمل کولو په برکت خدای تعالیٰ باطنی غنا ور په برخه کوی او ظاهری پرانی د رزق هم ور ته حاصلیږی لکه د امام حسن بصری رحمة الله تعالیٰ علیه څخه چه روایت دی چه یوه سړی په کثرت سره د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه و د د وازی ته راتلی (د د نیوی حاجتونو د پاره) پس نو و ویل حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه و د غه سړی ته چه ولاړ سه او و وایه د خدای کتاب (یعنی قرآن مجید) نو ولاړی د غه سړی پس نو حضرت عمر رضی الله تعالیٰ پیدا نه کړی د غه سړی (یعنی د غه سړی پسی ورک سو) بیا حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه (یو وخت) ور سره ملاقی سو (یعنی ونی لیدی) او گیله ئی وکړه (یعنی د د ی د جهلی څخه ئی گیله وکړه چه زمونږ په تا کښی فکر بند ډوستا معلومات موکا وی ته بیله اطلاع او خبر پریښوولو چیری ولاړی حکه چه دا قاعده ده چه یو څوک د یو چا سره چیره ولاړ ه او نا مسته کوی او بیا یکدم غائب سی تگ او راتگ ختم کړی نو د انسان سودا پکښی بندیږی چه دا څه سو چیری ولاړی او څه په وسوه) پس نو د غه سړی عرض وکړی چه ما د خدای په کتاب کی هغه شی پیدا کړی چه هغه شی نه د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د ور وازی څخه غنی او بی پروا کړم. (عن الحسن قال کان رجل یکثر اتیان باب عمر (رض) فقال له اذهب فتعلم کتاب الله فذهب الرجل ففقد عمر ثم لقیه فکانه عاتبه فقال وجدت فی کتاب الله ما اغنانی عن باب عمر (رض) رواه ابن ابی شیبة (یعنی په قرآن شریف کښی می دا سی ایت پیدا کړی چه د د غه په برکت سره می د خلگو څخه سترگی وَخَتِئ او پروردګار عالم می یقین سو چه رزق ضرور راسره سوی و نا ته محتکی د دنیا د حاجت د پاره راتلم اوس چه د ر ته راسم نو څه به وکړم حکه چه شی نه د ر څخه غواړم. غالبًا مراد به دهغه ایت شریف څخه دا سی

قسم مضامین وی کوم چه په دی لاندی آیت شریف کښی ذکر سوی دی۔ وفی السماء رزقکم وما توعدون ط یعنی ستاسو رزق په اسمان کښی دی او دکوم شی چه ستاسو سره وعده سویده (هغه هم په اسمان کی دی) یعنی ستاسو د رزق او نورد تولو شیانو انتظام زما د دربار څخه کیږی نو وبل طرف ته د ځمکی څخه څه نا ښه راوړی۔

(۲۶) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه افضل او بنه عبادت د قرآن شریف تلاوت دی (کنزالعمال) یعنی دروسته تر فرضو په تولو نفلی عبادتونو کی قرآن شریف ویل افضل او غوره دی۔

(۲۷) په حدیث شریف کښی بیان سویدی چه تعظیم کوی د قرآن د حافظانو او یادلرونکو هرچا چه د دوی تعظیم وکړی پس نو بیشکه دغه چا زما تعظیم وکړی۔ (رواه الدیلمی) (اود قرآن مجید د تعظیم او خدمت واجبوالی څو ښکاره او واضح دی)

(۲۸) په حدیث شریف کښی ذکر سویدی په تاسو کی بهتر هغه خلګ دی چه دوی قرآن شریف ویلی وی او وبل ته ئی هم ورزده کړی دی۔ (رواه ابن مردویه ابن نزبیس)

(۲۹) په حدیث شریف کښی راغلی دی چاچه قرآن شریف وواید او عمل ئی وکړی په هغه شی چه په دې کښی دی (یعنی د قرآن شریف په احکامو ئی عمل وکړی) ورپرسره کیږی د دې هوړ او پلار ته تاج په ورځ د قیامت چه روښنائی به ئی د لمر غوره وی د لمر تر روښنایی د دنیا په کورو کی هغه وخت چه د غه لمر په تاسو کی وی (رواه ابوداؤد وغیره) یعنی هر رنګه چه ستاسو په کورو کی په دی دنیا کی د لمر رنا د ه تر د غه رنا به د د غه تاج رنا نه زیاته وی) پس څه ګمان دی ستاسو د غه سړی د ثواب په باره کی چه خپله ئی عمل په کړیوی (یعنی چه د دې په وجه ئی د هوړ او پلار د احال دی نو خپله به د دې درجه او مرتبه څونده لوړه وی) رواه ابوداؤد وغیره)

(۳۰) په حدیث شریف کښی راغلی دی چاچه قرآن شریف وواید بیا ئی فکر وکړی چه د خدای په مخلوق کښی د دی څخه زیات نعمت بل چا له ورکړه سویدی نو بیشکه د ه حقیر او سپک کړی هغه شی چه الله پاک لوړ کړیدی او لوړ ئی کړی

هغه شی چه هغه الله پاک حقیر کړیدی نه ده لایقه د قرآن پوهید ونکی لره تیزی کول د هغه چا سره چه دده سره تیزی کوی اونه جهالت کول د هغه چا سره چه د ده سره جهالت کوی (او داسی دی نه کوی) لیکن معافی دی کوی او درگذر او عفو دی کوی په سبب د عزت د قرآن (رواه الخطیب) یعنی د اهل علم او قرآن پوهیدونکو د پاره بنایی چه د دنیا تر ټولو نعمتو نو د قرآن علم اعلی او افضل و بولی که چیری د دی د قرآن تر علم یو بل شی ښایات و بالی نو کوم شی چه پروردگار عالم لوړ او لوی بللی دی هغه ئی حقیر او سپک و بالی او حاکم یعنی خدای چه هر شی لوړ کړی وی هغه حقیر بلل څوندی ئوی جرم او گناه د ده د اهل قرآن یعنی د قرآن د عالمانو د پاره مناسبه ده چه د خلگو سره په بد اخلاقی او جهالت سره پیش نه سی حکه چه د قرآن عزت او عظمت همدغسی رفتار او بنه اخلاق غواړی او که چیری یو څوک د دوی سره جهالت او بی ادبی وکړی نو دوی دی معافی او درگذر وکړی .

(۳۱) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه قرآن زیات محبوب دی و الله تعالی ته تر اسمانونو او محکی او تر هغه خلگو چه په دوی (اسمانونو او محکم) کښی دی (یعنی د قرآن شریف درجه تر ټولو مخلوق اعلی او لوړه ده او قرآن مجید خدای تعالی ته تر ټولو شیانو محبوب او خوښ دی (رواه ابو نعیم عن ابن عمر مرفوعًا بلفظ القرآن احب الی الله من السمٰوٰت والارض ومن فیهن)

(۳۲) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر چا ورزده کړی (د خدای) یو بنده ته یو آیت د خدای د کتاب پس نو دغه (یعنی ورزده کونکی) اقا او بادار سود دغه (زده کونکی) نه دی لایق دد غه (طالب العلم) د پاره مدد نه کول د استاذ (پر موقع باندی) اونه دی لایق دد غه شاگرد د پاره چه پر دغه خپل استاذ بل څوک غوره او بهتره و بولی (په شرط د دی چه د هغه بل چا مرتبه د ده د استاذ تر مرتبی زیاته نه وی) پس نو که دی (یعنی شاگرد) داسی وکړی نو د ده مات کړه یوه حلقه (کړکه) د اسلام د حلقو څخه (رواه ابن عدی والطبرانی وابن مردویه والبیهقی وابن النجار عن ابی امامة (رض) مرفوعًا) (یعنی په داسی حرکت کولو سره د غه شاگرد په اسلام کی

د بې ځایه فتنه پیدا کړه اود ډیر عظیم الشان شریعت حکم ئې پرځای نه کړی
د بې برکتی او سزا په دواړو جهانونو کې دده د پاره سخته بیره سته)
(۳۳) په حدیث شریف کښې راغلی دی چه په تحقیق سره جناب رسول الله صلی
الله علیه وسلم فرمائیلی دی نه دی زما امت څخه هغه څوک چه ده
عزت د نه کړی زموږ د مشر اورحم ئې د نه کړی زموږ پرکشر او نه ئې وپیژندی
زموږ د عالم حق (او په عالم کې د قرآن د یونکی او د بل ته ورزده کونکی هم
داخل دی - مطلب دادی چه داسی څوک چه دده داحال وی زموږ د ټولی
څخه وتلی دی او ایمان ئې ضعیفه دی نو ددی سببه د مشرانو عزت کول
پرکشرانو رحم او شفقت کول د علماؤ حق پیژندل اود دوی تعظیم او خدمت
کول ضروری دی - (رواه احمد و الطبرانی فی الکبیر عن عبادة ابن الصامت (رض)
ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لیس من امتی من لم یبجل کبیرنا
و یرحم صغیرنا و یعرف لعالمنا حقه و اسناده حسن)
(۳۴) په حدیث شریف کښې ذکر سویدی چاچه قرآن شریف وولوسه ده تفسیر
او معنی ئې زده کړه او عمل ئې نه په وکړی نو ده په دوزخ کښې خپل ځای
جوړ کړی (رواه ابونعیم) (یعنی قرآن ویل او عمل نه په کول ډیره سخته ګناه ده
مګر جاهلان خلګ دی نه خوشحاله کیږی چه موږ خو ویلی نه دی نو که
موږ دده په احکامو عمل ونه کړو نو هیڅ پروا نه لری ځکه چه د دا رنګه
جاهلانو د پاره د دی ګناوی دی یو د علم نه حاصلولو اوبل د عمل نه کولو.
(۳۵) په حدیث شریف کښې بیان سویدی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
ته عرض وسو چه په تحقیق سره فلانی (سړی) ټوله شپه قرآن وایی بیا چه سهار
راښکاره سی نو غلا کوی ده (مبارک - من) وفرمائیل چه څه ژر تر څیره به ئې (قران
د غلا تخه) راوګرزوی - یعنی د قرآن د تلاوت په برکت سره د غه حرکت ختمیږی
پاته کیږی) رواه سعید بن منصور عن جابر بلفظ قیل یارسول الله ان فلانا یقرأ
باللیل کله فاذا اصبح سرق قال ستنهاه قراءته)
د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی
الله علیه واله وسلم ارشاد وفرمایه. چه هر څوک قرآن شریف
وایی او حفظ ئې وکړی او حلال ئې حلال وبولی او حرام ئې حرام

داخیلوی خدای تعالیٰ دی په جنت کی اوددہ شفاعت قبلوی ـ د
خانډان او قریبانو د لسو انسانانو په حق کی چه دغه لس کسان به یقیناً دامی
وی چه ددوی د پاره به دوزخ واجب سوی وی (رواه احمد والترمذی وابن
ماجة)

(۳۶) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه چا واوریدی یو حرف د خدای د کتاب
څخه په اوداسه لیکل کیږی ددہ د پاره لس نیکیانی (یعنی د لسو نیکیانو ثواب
لیکل کیږی ددہ د پاره) اولیری کیږی ددہ لس ګناوی اولوړیږی ددہ لس
درجی اوهر چاچه ووایی یو حرف د خدای د کتاب څخه په لماڅه کی په ناسته
کی (یعنی هر څخت چه لمونځ په ناستی وکړی اونفل لمونځ مراد دی ځکه چه
فرض لمونځ بیله عذره په ناستی روانه دی ـ اوپه عذر سره روا دی پس نوچه
په سبب دیوعذر کښینی فرض لمونځ وکړی نود ولاړی د لماڅه په مثل ثواب ور
کول کیږی) نو لیکل کیږی ددہ د پاره پنځوس نیکیانی (یعنی د پنځوسو نیکیو ثواب)
اولیری کړل کیږی ددہ پنځوس (۵۰) ګناوی اولوړیږی ددہ د پاره پنځوس (۵۰) درجی اوچا
چه ووایی د خدای تعالیٰ د کتاب څخه یو حرف په ولاړی لیکل کیږی ددہ د پاره
سل (۱۰۰) نیکیانی ـ لیری کیږی ددہ سل (۱۰۰) ګناوی او بلندیږی ددہ سل (۱۰۰) درجی اوهر چاچه
قرآن شریف ووایی اوختم ئی کړی نو لیکی الله پاک ددہ د پاره یو دعا د خپل جانب
څخه چه فی الحاله قبوله سی یا یولږ څه وروسته قبوله سی (رواه ابن عدی والبیهقی)

(۳۷) په حدیث شریف کښی راغلی دی چاچه قرآن شریف ووایی د پروردګار محمدی ئی
وکړی او درود ئی پر نبی علیه الصلوٰة والسلام باندی ووایه اوبخښنه ئی وغوښته
د خپل پروردګار څخه نو بیشکه دہ خیر وغوښتی ددہ (یعنی د خیر) د څایه
څخه (مطلب دادی چه نیکی او خیر ئی د خپل ځای څخه طلب کړه یعنی کومه
طریقه چه د دعا د قبلیدو وده هغه ئی وکړه چه په دغسی طریقه سره دعا د
ژر قبلیدو امید سته د خدای په حمد او تعریف کی که الحمدلله ووایی یا نوری کلمی چه
په شان د الحمدلله ئی معنیٰ وی دواړه صحیح دی اود قرآن شریف تر ویلو وروسته
په دغسی خاص طریقه سره کوم چه ذکر سوه دعا غوښتل په قبول والی کی خاص
تاثیر لری لکه چه ددی حدیث شریف څخه معلومه سوه ـ (رواه البیهقی بسند
ضعیف)

(۳۸) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د خپلو بښځو ته سورة واقعه ورزده کړی حکه چه د دغه سورت بیشکه د غنا او موږ تیا دی (رواه الدیلمی) یعنی د دی سورت په ویلو سره غنا او موږ تیا حاصلیږی او د باطن غنا هم په حاصلیږی په دنیا کښی د وندی غنا په حاصلیږی چه د ضروری خرڅولو د پاره کفایت وکړی لکه چه په بل حدیث شریف کښی راغلی دی چه هرڅوک سورة واقعه هره شپه وایی نو پرده د رزق تنګی هیڅکله نه راځی او د بښځو چونکه زړونه کمزوری دی په لږ تنګی کښی ډیری پریشانه کیږی د دی سبب ځکه دوی د دی سورت په زده کولو سره خاص کړی د رنه د دی سورت ویل د غنا د حاصلولو د پاره د ډیرلوی فائده لری که نړی که بښځه وی)

(۳۹) په حدیث شریف کښی بیان سوی دی چه زیات ښه په خلګو کی د قران ویلو په اعتبار سره هغه څوک دی چه هر وخت د ځ قرآن شریف وایی نه د اخیال پروکړی چه د ی د خدای څخه بیریږی (رواه فی کنز العمال بلفظ احسن الناس قراءة الذی اذا قرأ رأیت انه یخشی الله) یعنی پر تلاوت کونکی د کتونکی اولید ونکی د اخیال سی او دا سی ځ وبولی چه د غه تلاوت کونکی د خدای څخه بیریږی. مطلب دا دی چه دا رنګه ځ په اهتمام سره تلاوت کوی لکه بیریدونکی سړی چه کلام او خبری کوی چه یو هیڅ حرکت د حاکم په مخکی بی ځایه ځندی و نه سی

او قرآن مجید د ویلو ښه طریقه داده چه په اوداسه سره مخ پر قبله کښینی او په عاجزی سره د قرآن شریف تلاوت وکړی او دا سی خیال کوی چه د الله تعالی سره خبری کوم او که ځ په معنیٰ پوهیدی نو پر معنیٰ دی غور کوی او هرځای چه د رحمت ایت راسی هلته دی د رحمت دعا غواړی او هرځای چه د عذاب ذکر وی هلته دی د دوزخ د عذاب څخه پناه غواړی او هر وخت چه ځ تلاوت ختم کړی نو د خدای حمد دی ووایی پر نبی علیه الصلوٰة والسلام دی درود ووایی او مغفرت دی طلب کړی هرڅه چه ځ زړه غواړی هغه دی د پروردګار عالم څخه غواړی او بیا دی حمد او درود شریف ووایی او تر څو چه کیدای سی د تلاوت په وخت کښی دی نور فکرونه نه وهی صرف د تلاوت فکر به د رسره وی او که ځ یو څه په خیال کی راوګرزی نو دی ژر فکر راوګرزی د قران د تلاوت او معنیٰ ته دی متوجه سی او د تلاوت په وخت کی چه څوندی

کیدای سی جامه دی هم پاکه اغوندی.

د طلاق ورکولو مسئلی: ① (کله چه دیو ضرورت په وجه د طلاق ورکولو ضرورت پیښ سی) نو د درې[۳] طریقی دی اوله ډیره ښه د وهم ښه اودریمه طریقه بدعت او حرامه ده - پس نو ډیره ښه طریقه داده چه خاوند وښځی ته د پاکی په زمانه کښی (یعنی په دا سی وخت کښی چه ښځه د حیض او دامی نورو څخه پاکه وی) یو طلاق ورکړی مگر داهم ورسره شرط دی چه د دغی پاکی په زمانه کښی به نژدیکت نه ورسره کوی او د عدی تر تیریدو پوری به بل طلاق نه ورکوی (د عدی په تیریدو سره خپله نکاح ختمیږی تریوه زیات طلاق ورکولو ضرورت نسته حکه چه طلاق په سخته مجبوری کښی جائز اور واسویدی نو د دی سببه په قدر د ضرورت کافی اوبس سویدی د ډیرو طلاقونو څخه ضرورت دی)

اوښه طریقه داده چه وښځی ته د درې[۳] و پاکیو په زمانه کښی د درې[۳] طلاقه ورکړل سی (د دو حیضو په زمانه کښی چه کومه پاکی راځی وَدی ته یوه پاکی وایی پس نو په هره پاکی کښی دی یو طلاق ورکړی) او د دغو پاکیو په زمانو کښی دی نژدیکت هم نه ورسره کوی.

بدعت او حرامه طریقه هغه ده چه د دی د واړه وطریقو څخه خلاف وی مثلاً د درې[۳] طلاقه یکدم (په یوه واړه) ورکړی یا د حیض په وخت کښی طلاق ورکړی او یا په کومه پاکی کښی چه نژدیکت ئی ورسره کړی وی په هغه پاکی کښی طلاق ورکړی نو د دغه اخیر قسم په ټولو صورتونو کښی که څه هم طلاق واقع کیږی مگر گناه لری ښه ئی واورسره او دا تفصیل ټول په هغه صورت کښی دی چه د وښځی سره ئی صحبت (نژدیکت) یا خلوت صحیحه کړی وی او کومه ښځه چه داسی نه وی د هغی حکم هم اوس بیانیږی. (هدایه ص۳۳۵ دوهم ټوک)

② د کومی ښځی سره چه نکاح سوی وی مگر نژدیکت نه وی ورسره سوی نو د داسی ښځی ته که د حیض په زمانه کی طلاق ورکړه سی یا د پاکی په زمانه کی طلاق ورکړه سی هر قسم صحیح دی لیکن یو طلاق به ورکول کیږی.
(هدایه ص۳۳۶ دوهم ټوک)

نوټ:- د دی حصی او پنځمی حصی د تدریس طریقه د پنځمی حصی په اخر کښی وگورئ.

داصلی بهشتی زیور څلرمی حصی دوهمه ضمیمه چه په تصحیح الاغلاط سره نامداره ده

(۱) اصل ص۲۷ باب(۱۳) مسئله (۱) - برابره خبره ده که په صافو الفاظو کی الخ تحقیق دی - مطلب دا دی چه هر وخت دری طلاقه واقع سی برابره خبره ده که په صافو لفظونو سره واقع سی یا په غیر صافو لفظونو سره واقع سی نو حرمت مغلظه ثابتیږی او دا امر چه د غیر صافو الفاظو په تکرار سره څه وخت دری طلاقه واقع کیږی او څه وخت نه واقع کیږی د دی څخه په دی څای کښی بحث نه کیږی پس نو پرده مقام هغه شبه نه واقع کیږی کوم چه پرسوی ده او نه د هغه جواب ضرورت سته کوم چه ورکړه سوی دی د هغه شبه او جواب ئی په امداد الفتاوی مبوب جلد ثانی ص۳۵۴ کی شائع سوید ی.

(۲) اصل ص۵۵ باب ۱۹ مسئله (۱۳) یو چا دا سی وویل که چیری تا د څان سره د سائم الخ تحقیق - په عالمگیری کښی راغلی دی - لو قال ان وَطَئْتُکِ وطئت امی فلانۃ علیہ کذا فی غایۃ السراجی - او مولوی احمد حسن صاحب په خپله حاشیه کی لیکلی دی چه د دی د واړه صورتونو د احکم چه د دی وینا څخه هیڅ هم نه پیښیږی په هغه وخت او حال کی دی چه هیڅ نیت ئی نه وی که چیری د طلاق نیت وی بیا طلاق واقع کیږی او که د ظهار نیت وی بیا ظهار واقع کیږی انتهی او د امداد الفتاوی مبوب جلد دوهم په ضمیمه کی د کتاب الطلاق په بیان کی مولانا صاحب نه واقع کید ولره د طلاق مطلقا ترجیح ورکړی ده لیکن د مراجعت الی العلماء مشوره ئی هم ورکړی ده - فلیتحقق.

(۳) اصل ص۵۵ باب ۱۹ مسئله ۱۴ - که ئی دا سی ویلی وه چه ته زما د مور په شان الخ تحقیق - په دی صورت کښی که ئی د ایلاء نیت کړی وی نو ایلاء واقع کیږی - فی العالمگیریۃ اذا قال انتِ علی حرام کامی ونوی الطلاق او الظهار او الایلاء فهو علی ما نوی وان لم ینوی شیئًا یکون ظهارا فی قول محمد و ذکر الخصاف الصحیح

[1] یعنی د علماؤ څخه دهوښتنی کولو ۱۲

من مذهب ابی حنیفة ما قال محمد کذا فی فتاوی قاضی خان - عالمگیریه

(۴) اصل ص۷۲ باب ۲۸ مسئله (۹) - نکاح وسوه لیکن نزاوسه وادة نه وُ وسوی او اصل ص۷۲ داغه باب مذکور وگوره خاوند په سفر کښی دی الخ - تحقیق د پردی دواړه مسئلو باندی بعضی عوام اعتراض کوی لهذا ضرورت دی چه دده وی ضروری توضیح وسی توضیح داولی مسئلی - نکاح وسوه لیکن نزاوسه (د رواج موافق) وادة نه وو سوی چه هلک پیدا سو (او خاوند انکار نه کوی چه کوچنی زمانه دی) نو داهلک د خاوند دی حرامی نه دی (حُکه چه کیدای سی چه په خفیه او پټه طریقه سره خاوند د خپلی بنځی سره نژدیکت کړی وی دکور خلګ یا نور پردی خلګ په دوی نه وی خبر سوی) او د ده نه حرامی ویل روا نه دی (حُکه چه دابیله حجت شرعی سړی د رواغجن بلل او پر بنځه د زنا تهمت لګول دی لیکن) که د خاوند نه وی (او دی پوهیږی چه د غه کوچنی زمانه نه دی او ما د دغی بنځی سره نژدیکت نه دی کړی) نو دی انکار وکړی او پر انکار کولو (چونکه دی پر بنځه د زنا تهمت لګوی نو که بنځه دغه انکار او تهمت تسلیم نه کړی او د لعان شرائط موجود سی نو) بیا د لعان حکم جاری کیږی (او تر لعان ورو سته دکوچنی نسب د بنځی د خاوند څخه قطع کیږی) تر دغه توضیح ورو سته د بهشتی زیور مطلب بالکل واضح سو او د هیڅ دپاره ځای پکښی پاته نه سو - چه شبه او اعتراض پرو کړی.

دوهمه مسئله چه اوس ئی توضیح کیږی خاوند د بنځی مسافردی دیره زمانه تیره سوه او کلونه تیر سوه چه کوره ته نه دی راغلی او د لته کوچنی پیدا سو - بیا هم د غه کوچنی حرامی نه دی بلکه د د غه خاوند دی (حُکه چه ممکنه ده چه دی یو وخت په خفیه او پټه طریقه سره د خپلی بنځی سره وصل سوی وی او د ده د رانګ خبر و هیڅا ته رسیدلی نه وی لکه اشتهاری مجرمان چه پټ کوره ته راځی او خلګو ته د د وی د رانګ معلومات نه کیږی یا په ذریعه د یو عمل لکه تسخیر د جن او داسی نورو یا په ذریعه د کرامت د یو بزرګ به دی د خپلی بنځی سره یو ځای سوی وی - یا ئی خپله بنځه راغوښتی وی نژدیکت ئی ورسره کړی وی او هیڅوک په خبر سوی نه وی پس نو هر وخت چه خاوند د د غه کوچنی د زوی والی څخه د خپل ځان د

پاره کا انکار نه کوی نو گویا دی دهوکه کوی چه ما دخپلی بښځی سره نژدیکت کړیدی او د غه شبه او شک چه خاوند خو په مسافری کښی وُ نو څرنګه نژدیکت دخپلی بښځی سره کولای سی ددی وجهی صحیح نه دی چه په ذریعه دکرامت یا په ذریعه د پیرانانو او داسی نورو دا رنګه پیښیدل ممکن دی نو خاوند ته په دروانجن نه ویل کیږی او وکو چنی ته په حرامی نه ویل کیږی - لیکن چونکه خاوند ته علم سته چه ما نژدیکت کړیدی یا می نه دی کړی نو ددی سببه خاوند ته د انکار کولو حق حاصل دی پردی بنا) که چیری خاوند خبر سی او انکار وکړی (نو چونکه په دی انکار کی پر بښځه د زنا الزام دی ددی وجهی که بښځه د زنا څخه انکار وکړی او نور شرائط د لعان موجود دی) نو د لعان حکم کیږی (او تر لعان وروسته دکوچنی نسب د خاوند څخه قطعه کیږی) تر دی توضیح وروسته پر دوهمه مسئله هم شبه نسی کیدای دا مختصره توضیح وکه. د دی دواړو مسئلو چه انشاء الله دپوهاپو او غیر متعصب حضراتو د تشفی د پاره کافی دکه کوم څوک زیات تفصیل کتل غواړی نو د رفع الارتیاب رساله چه مولانا صاحب عبید الله تصنیف کړیده مطالعه کول په کار دی چه په د غه رساله کښی ئی پر تفصیل سویدی دا نه رنګه پر دغو مسئلو شبه او د شبهی جواب د حضرت مولانا نور الله مرقده دطرف څخه په تتمه اولی امداد الفتاوی ص۸۳ کښی ذکر دی. نو باید د غه امداد الفتاوی هم وکتل سی.

سوال ۱- د بهشتی زیور د څلرمی حصی د اولاد د حلالی کیدو په بیان کی چه اخیری دوی مسئلی دی پردې دوو (۲) مسئلو باندی د مختلفو نظریو خلګ اعتراض کوی. اوله مسئله داده - نکاح وسوه لیکن تر او سه واده نه وُ سوی الخ. دوهمه مسئله داده - خاوند په سفر کښی دی دیره مودده تیره سوه او کلونه تیر سوه - الخ - براه کرم د دواړو مسئلو مشرح او مدلل حال راته ولیکه چه اعتراض کونکی چپ او خاموشه سی.

الجواب:- السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته - تر اوسه پورې چه چا په دې باره کې ژبنی یا تحریری پوښتنې کړې وې هغه د اعتراض په رنګ کښې وې نو جواب ورکول یې زړه نه غوښته لیکن ستاسو د الفاظو څخه د ځان پوه کولو قصد معلومیږي نو ددې سببه جواب درته لیکم په ښه غور سره ځان په پوه کړه د بهشتي زیور د دغو مسئلو دا مطلب نه دی چه بیله نژدیکته حمل قرارنیسی او دغه حمل د دغه خاوند دی - بلکه دا ئې مطلب دی چه په دی صورتونو کښې د دباندې څخه دکتونکو دپاره پخپله ددی یقین کولو هیڅ ذریعه نسته چه ددوی نژدیکت نه دی سره سوی نو دې کتونکو لره شرعًا دا اجازه نسته چه محض ظاهري لیږی والی د بنځې او خاوند د دینې او داسې دوائي چه چونکه زموږ په علم کې ددوی دوه (۲) په منځ کښې نژدیکت نه دی واقع سوی نو واقعي او حقیقي نژدیکت هم نه دی واقع سوی او دغه حمل د حرامي نطفې دی او دغه ښځه حرام کاره ده او دغه کوچنی ولد الحرام دی.

پس نو دکتونکو دپاره ددی حکم نه لګولو حق نسته ځکه چه یو چاته حرام کار یا حرامزاده ویل دیر غټ تهمت دی او غټه ګناه ده تر څو له رایستل ددی خبرې بیله دلیل قطعي روانه دی بلکه چه تر څو پورې یو بیخي دیر لیږی احتمال د نژدیکت د واقع کیدو وی نو داسې ئې بولو چه شاید دغه بعید صورت د نژدیکت به واقع سوی وی او خلګ به په خبر سوی نه وی دغه لیږی احتمال په دی څای کې په دوه (۲) طریقو سره کیدلی سی. یوه دا چه دیو بزرګ په کرامت سره ښځه او خاوند په یوه ځای کې سره جمعه سوی وی او نژدیکت ئې سره کړی وی - بله دا چه یو پیري د دواړه سره بمعه کړی وی او دوی د دواړو نژدیکت سره کړی وی او حمل قرار نیولی وی.

د بزرګانو کرامت او د پیریانو تصرف د اهل السنت والجماعت په نزد شرعًا عقلًا او وقوعًا ثابت دی که څه هم دا احتمالونه بعید او لیږی دی مګر موږ ددی دپاره چه مسلمانه ښځه د تهمت څخه وساتل سی دغه احتمال ممکن تسلیمو او داسې وایو چه شاید دغه لیږی احتمال او صورت پیښ سوی وی او همدا رنګه چه کوچنی د شرم او عار څخه خلاص سی دغه لیږی احتمال ممکن بولو.

او په بعضو صورتونو کښې ممکنه ده چه خاوند په داسې خفیه او

بینه طریقه سره راغلی دی چه هیڅوک په خبر سوی نه وی لکه بعضی اشتـ
مجرمین چه د شی پټ کوړ ته راځی او په داغه شیه کښی بیړته دکور
ئ د دی مسبیه دغه حمل د ښځی د خاوند وطرف ته منسوب بولو او ن
ئ ثابت بولو. مګر خپله په دی کی خاوند ته یقینی او قطعی علم سته چ
ز دیکت کړیدی یا می نه دی کړی.

پس نو دغه خاوند شرعًا مجبور کړه سوی نه دی چه خامخا دغه کو
خپل ځان وبوله بلکه و دې ته اختیار ورکړه سوی دی چه که چیرې
ز دیکت نه دی ورسره کړی نو د دی کوچنی نسب نفی کولای سی مګر چو
حاکم د شرعی دپاره په یو دلیل شرعی سره خپله د خاوند رشتیا والی
تینی طریقه سره نه سی معلومیدای بلکه احتمال سته چه دیوڼ
غصی په وجه به ښځه بد نامه دی د د ی سبیه د نسب پر نفی
حاکم د شرعی سکوت نه کوی بلکه مقدمه قائموی او د لعان حکم
نافذ دی بیا نو تر لعان ورو سته د نور د خلګو ته هم شرعًا
اجازت دی چه د غه کوچنی د د غه خاوند و نه
بولی. ځکه چه په قانون شرعی سره د دې
نسب قطعه سو یعنی شرعًا جبر نسته
چه اوس ئ هم د دې و بوله
بلکه قانونًا ئ د دې
څخه منقطع

په اخیرکښی ویل کیږی چه شیعه گان خدای دی دوی دښوهوی هم دغه مسئلی د بهشتی زیور د جاهلانو خلگوته ورښکاره کوی اودوی د اسلام د مذهب څخه متنفرکوی په داسی طریقه سره دوکه ورکوی دوی د رفض د مذهب پابنده کوی چه د منافقو یهودیانو خود ساخته دین دی اوجاهلان چونکه نه په خپل مذهب خبردی نه د روافضو په مذهب خبردی نو د دی سببه پریشانه کیږی او جواب نه سی ورکولای چه روافض په خاموشه کړی. د دی سببه ویل کیږی چه که یو رافضی (شیعه) په دی مسئلو کښی گفتگو د سره کوی نو ستاسو د پاره پکار ده چه د بهشتی زیور په مطلب څان پوه کړی اودوی اعتراضات دفعه کړی اوددوی ته ووایاست چه ستاسو په مذهب کښی دغه دری مسئلی د بهشتی زیور ترمسئلو زیاتی دا اعتراض ورپدی د دغو جواب راکړی.

اول مسئله:- که یو څوک دخپلی بنځی د شا په خوا کی د ذکر سره داخل کړی نو انزال سی اودد ی بنځی د داغه وخت څخه شپږ میاشتی وروسته اودانتهائی مودی د حمل څخه مخکی کوچنی پیدا سی نو دغه کوچنی د خاوند دی (راته ووایه چه د شا د لاری د نژدیکت کولو څخه نطفه ورحم ته د بنځی څرنگه ورسیده - دوهمه مسئله:- که یو څوک دخپلی بنځی د شا په لاره کی د ذکر سره داخل کړی او انزال هم نه سی بیا هم کوچنی د خاوند کیږی په شرط د دی چه دغه کوچنی ترشپږ میاشتو وروسته اود حمل د انتهائی (اخیرنی) مودی مخکی پیدا سوی وی (راته ووایه چه د شا په لاره کی د نژدیکت کولو څخه چه هغه هم بی انزاله صورت مونده لی دی څرنگه حمل قرار ونیوی.

دریمه مسئله:- که یو سړی د خپلی بنځی سره د مخ د خوا څخه نژدیکت وکړی او انزال نه سی بیا هم چه کوچنی پیدا سی د خاوند بلل کیږی یعنی بس د خاوند دی په شرط د دی چه ترشپږ میاشتو وروسته اود حمل د انتهائی مودی مخکی پیدا سوی وی (راته ووایه چه بیله انزاله حمل څرنگه قرار نیسی - د دی مسئلو جواب د دوی (شیعه گانو) سره بالکل نسته اود دی د فَبُهِتَ الَّذِیْ کَفَرَ - مصداق گرزی - لیکن که دوی انکار وکړی او ووایی چه زمونږ په مذهب کښی دا مسئلی نسته - نو ددوی ته ووایه چه دغه دری (۳) سره مسئلی په شرح لمعه او

مشفیه کښی موجودی دی او عبارت ئی دادی - یلحق الولد بالزوج الدائم نکاحه بالدخول بالزوجة ومضی ستة اشهر هلالیة من حین الوطی والمراد به علی ما یظهر من اطلاقهم وصرح به المصنف فی فوائده غیبوبة الحشفة قبلا او دبرا وان لم ینزل - ولا یخلو ذالک من اشکال ان لم یکن مجمعا علیه للقطع بانتفاء التولد عادة فی کثیر من موارده ولم اقف علی شیئ بنا فی ما نقلناه ویعتمد علیه وعدم تجاوز اقصی مدة الحمل وقد اختلف الاصحاب فی تحدیدها فقیل تسعة اشهر وقیل عشرة وغایته ماقیل مافیه عندنا سنة ومستند الکل مفهوم الروایات وعدل المصنف عن ترجیح قول لعدم دلیل قوی علی الترجیح ویمکن حمل الروایات علی اختلاف عادات النساء فان بعضهن تلد لتسعة وبعضهن لعشرة وقد یتفق نادرا بلوغ سنة واتفق الاصحاب (رض) علی انه لایزید عن السنة مع انهم رووا ان النبی صلی الله علیه وسلم حملت به امه ایام التشریق واتفقوا علی انه ولد فی شهر ربیع الاول فاقل مایکون لبثه فی بطن امه سنة وثلثة اشهر وما نقل احد من العلماء انه من خصائصه صلی الله علیه واله وسلم اه بلفظه.

یه دی عبارت کی دغه درې (۳) سره مسئلی ثابتی اوموجودی دی او لطف دادی چه حنیله د صاحب کتاب اقرار دی چه دا مسئلی ضرور قابل د اعتراض دی یه دی سورلتو نوکښی د کوچنی پیدا کیدل د دغه سړی څخه عادةً ناممکن دی لیکن ما دی خلاف دیو رافضی (شیعه) عالم هیڅ قول پیدا نه کړی - هذا ما عندنا والله یهدی من یشاء الی صراط مستقیم

دخلرمی حصی دواړه کید وځخه مخکی د طلاق بیان د باب د دوهمی مسئلی د تصحیح بیان

جناب مولوی سعید احمد صاحب مرحوم مفتی مدرسه عالیه مظاهر العلوم، سهارنپور دالاندی سوال د حکیم الامت جناب مولوی اشرف علی صاحب تهانوی به خدمت اقدس کښی لیږلی وو نو حضرت تهانوی (رح) دغه جواب کوم چه ستر سوال ورسته دی ورته راولیږی.

سوال - مسئله نمبر دوهم (۲) دغسی ښځی (یعنی غیر مدخول بها) ته ئی دا رنګه ویل که دی فلانی کار وکړی نو طلاق دی طلاق دی او دی هغه کار

وکړی نو دکار کولو سره سم دری(۳) طلاقه واقع سول.

په دی صورت کښی د درو طلاقونو په واقع کیدو کی تأمل دی ځکه چه هر وخت شرط مقدم وی او د طلاق لفظ مکرر وی نو د دی دوه(۲) صورته دی یو تکرار په ذریعه د حرف عطف بل تکرار بیله حرف عطف په اول صورت کی د امام صاحب په نزد د شرط د موجودیدو په وخت کښی یو طلاق واقع کیږی او باقی طلاقونه لغوه کیږی او د صاحبینو (رح) په نزد دری(۳) سره واقع کیږی اوکه تکرار بیله حرف عطف وی لکه چه مؤلف کړیدی نو په دی صورت کښی اول طلاق معلق گرځی او د هم فی الحاله واقع کیږی او دریم لغوه کیږی۔

وان علق الطلاق بالشرط ان کان الشرط مقدمًا فقال ان دخلت الدار فانت طالق و طالق وطالق وهی غیر مدخولة بانت بواحدة عند وجود الشرط فی قول ابی حنیفة رحمة الله تعالیٰ علیه ولغیٰ الباقی و عندهما یقع الثلث هذا کله اذا ذکره بحرف العطف فان ذکره بغیر حرف العطف ان کان الشرط مقدمًا فقال ان دخلت الدار فانت طالق طالق طالق وهی غیر مدخولة فالاول معلق بالشرط والثانی یقع للحال والثالث لغو ثم اذا تزوجها و دخلت الدار ینزل المعلق وان دخلت بعد البینونة قبل التزوج حنث ولا یقع شئ عالمگیری مختصرًا ص۳۹۹ اول لټوک معنی.

و فی البحر ص۲۹۶ جلد ثالث و قید بحرف العطف لانه لو ذکر بغیر عطف اصلًا نحو ان دخلت الدار فانت طالق واحدة واحدة واحدة فنی فتح القدیر یقع اتفاقا عند وجود الشرط و یلغو ما بعده لعدم ما یوجب التشریک اهـ. وقال العلامة ابن عابدین رح علی قوله و قید بحرف العطف فی ایمان البزازیة من الثالث فی یمین الطلاق ان دخلت الدار فانت طالق طالق طالق وهی غیر ملموسة فالاول معلق بالشرط والثانی ینزل فی الحال و یلغو الثالث وان تزوجها و دخلت الدار نزل المعلق ولو دخلت بعد البینونة قبل التزوج انحل الیمین لا الی جزاء ولو موطوءة تعلق الاول ونزل الثانی والثالث اهـ.

وهذا کما تری مخالف لما نقله هنا عن الفتح الا ان یفرق بین واحدة وطالق طالق وهو الظاهر آه وهذا ما ظهر لی والله اعلم بالصواب.

که دا اشکال صحیح وی او په عبارت کی دیو ترمیم ضرورت وی نو تاسو ترمیم وفرمایاست چه دا اصلی مسئلی پرځای ولیکل سی او پردغه په حاشیه کښی

نوٹ وسیکل سی - سعید احمد غفرلہ - ۲۱ - ربیع الاول ۱۳۵۶ھ ہجری

دحضرت حکیم الامت مولانا مولوی اشرف علی صاحب (تھانوی نوراللہ مرقدہ) دطرفہ څخہ جواب

الجواب :- ومنہ الصدق والصواب - په دې (۳) ی معلقو طلاقو کی په اعتبار د مطلقی مدخول بها او غیر مدخول بها او په اعتبار د تقدیم د شرط او د تاخیر د شرط او په اعتبار د عطف او عدم عطف بالواو (۸) ته صورتونه دی چه لاندی ئی اوول د نفتشی په شکل کی او بیاد عبارت په شکل کی لیکم او بیاد ټولو احکام نقلوم د سوال جواب درته وراندی کوم (نقشه طلاق ثلاث معلق بالشرط)

لغیر المدخول بها				للمدخول بها			
تقدیم الشرط		تاخیر الشرط		تقدیم الشرط		تاخیر الشرط	
(۱) مع العطف بالواو	(۲) بغیر العطف	(۳) مع العطف	(۴) بغیر العطف	(۵) مع العطف	(۶) بغیر العطف	(۷) مع العطف	(۸) بغیر العطف

(۱) لغیر المدخول بها بتقدیم الشرط مع العطف (۲) لغیر المدخول بها بتقدیم الشرط بلا عطف (۳) لغیر المدخول بها بتاخیر الشرط مع العطف (۴) لغیر المدخول بها بتاخیر الشرط بلا عطف (۵) للمدخول بها بتقدیم الشرط مع العطف (۶) للمدخول بها بتقدیم الشرط بلا عطف (۷) للمدخول بها بتاخیر الشرط مع العطف (۸) للمدخول بها بتاخیر الشرط بلا عطف.

احکام دادی :- فی العالمگیریه الفصل الرابع من باب الثانی من کتاب الطلاق و ان علق الطلاق بالشرط ان کان الشرط مقدمًا فقال ان دخلت الدار فانت طالق وطالق وطالق وهی غیر مدخولة (وهی الصورة الاولی) بانت بواحدة عند وجود الشرط فی قول ابی حنیفه رحمة الله علیه ولغی الباقی وعندهما یقع الثلاث وان کانت مدخولة بها (وهی الصورة الخامسة) بانت بثلاث اجماعًا الا ان علی قول ابی حنیفة یتبع بعضها بعضًا فی الوقوع وعندهما یقع الثلاث جملة واحدة وان کان الشرط مؤخرًا فقال انت طالق وطالق وطالق ان دخلت الدار (وذکره بالفاء الظن انها او مکان الواو) فدخلت الدار بانت بثلث اجماعًا سواء کانت مدخولة او غیر مدخولة (وهی

الصورة الثالثة والسابعة) هذا كله اذا ذكره بحرف العطف فان ذكره بغير العطف ان كان الشرط متقدمًا فقال ان دخلت الدار فانت طالق طالق طالق وهي غير مدخولة (وهي الصورة الثانية المذكورة في بهشتي زيور) فالاول معلق بالشرط والثاني يقع للحال والثالث لغو (وهو الذي ذكره المستفتي) ثم اذا تزوجها ودخلت الدار ينزل المعلق وان دخلت بعد البينونة قبل التزوج حنث ولا يقع شئ وان كانت مدخولة (وهي الصورة السادسة) فالاول معلق بالشرط والثاني والثالث يقعان في الحال وان اخر الشرط فقال انت طالق طالق طالق ان دخلت الدار وهي غير مدخولة (وهي الصورة الرابعة) فالاول ينزل للحال ولغا الباقي - وان كانت مدخولة (وهي الصورة الثامنة) ينزل الاول والثاني للحال ويتعلق الثالث بالشرط كذا في السراج الوهاج وفي الدر المختار باب طلاق غير المدخول بها في نظير المسئلة وتقع واحدة ان قدم الشرط وفي رد المحتار هذا عند ه رح وعندهما ثنتان ايضًا ورجحه الكمال (في فتح القدير) واقره في البحر اهـ.

اوس جواب دسوال وراندی کوم چه د بهشتی زیور د مسئلی مبعوث عنها ظاهرا صورت ثانیه دی چه حکم ئی دادی چه اول طلاق معلق گرزی د دوهم طلاق فی الحاله واقع کیږی او درییم طلاق لغوه کیږی لکه چه په سوال کښی هم را نقل سوی دی او جواب په روایاتو کی هم نو پر دغه بنا د بهشتی زیور پر عبارت اشکال صحیح دی او د بهشتی زیور د عبارت د تصحیح د پاره - د عبارت ترمیم کافی نه دی بلکه د دی مسئلی حذف کول په کار دی.

لیکن دا امر قابل د تأمل دی حُکه چه د دی حکم بنا تکرار بلا عطف دی لکه چه د صیغی مفروضی څخه ظاهره ده او د "اُردو" په محاورا تو کی عام اهل لسانه په دغه صورت کی خاص د عطف قصد کوی - ممکنه ده چه مؤلف د بهشتی زیور (چه مولوی احمد علی صاحب دی لکه چه احقر په خپلو بعضو تحریرا تو کی دغه شائع کړی هم دی) د غه صورت په عطف کښی داخل کړی وی چه دا تو صورتو نو څخه صورة اولی دی په دی صورت کښی دامام صاحب رح او د صاحبینو رح اختلاف دی او کیدای سی چه مؤلف د صاحبینو قول راجح بللی وی او دغه د د وی قول ئی معتبر کړی وی لکه چه د لوړو ذکر سوو روایاتو څخه د د وی د قول ترجیح والی معلومیږی - یعنی د فتح القدیر

او بحر در وایاتو څخه معلومیږی. نو په دی صورت کی اشکال رفعه کیږی.

خلاصه داده چه د بهشتی زیور د دی ذکر سوی حکم صحت پرد(۲)و مقدمو موتون دی یو دا چه عطف او عدم عطف زمونږ په محاوره کی بلا فرقه دی بل داچه د صاحبینو رح قول راجح دی پس نو که دغه مقدماتی مسلمی وی نو حکم صحیح دی در نه غلط دی په بهشتی زیور کښی چه د د ر مختار د کوم ځای حواله درکړه سویده هغه ځای سره د تلاشه پیدا نه سوا دنه مستفتی تعرض ورته کړیدی ممکنه ده چه د دغه ځای په کتلو سره نور زیات بصیرت حاصل سی بهرحال که دغه مسئله حذف کړل سی نو د هیڅ تکلف ضرورت نسته. لیکن احتیاط دادی چه و د عی حذف سوی مسئلی ته پریږو بله مسئله د احاشیه ولیکل سی. چه په دی ځای کښی یوه مسئله وه چه ظاهراً د فقهاؤ د عباراتو خلاف وه نو د غه مسئله په اجازه د اشرف علی حذف کړل سوه. نو د دی حاشیی به د فائده وی چه کتونکی نور ی نسخی د ډینی د اشک نه نورسته پیښیږی چه شاید سهواً د مسئله نه ده لیکل سوی او که چیری د مسئله حذف نه سی پرځیل حال پریږو ول سی نو بیا د غه مسئله دی د رنګه حاشیه ولیکل سی چه د ا مسئله د فقهاؤ د عباراتو پرظاهر صحیح نه ده. لیکن که د "اردو" د محاوری پربناد غه مسئله په عطف کی په حذف د عاطف داخله کړل سی او په دی مسئله کی چه کوم اختلاف دی په هغه کښی د صاحبینو رح قول واخیستل سی نو بیا د غه توجیه مسئله صحیح کیدای سی او س نو عوامو خلګو لره په کار ده چه د خیل معتقد فیه عالم پرفتوی عمل وکړی. واللہ اعلم. اشرف علی - ۲۶ ربیع الاول سنه ۱۳۵۶ھ

د څلورمی حصی د وهمه ضمیمه تمامه سوه.

د پښتنی حصی د مضامینو فهرست په لاندی ډول سره دی

ټیبر	مضمون	مخ
۱	د خرڅولو او راپیولو بیان	۲
۲	د قیمت معلومید و بیان	۴
۳	د سوداد معلومید و بیان	۷
۴	د پورا خستلو بیان	۹
۵	د بیرته ورکولو د شرط بیان چه ودغه ته په شرعه کی خیار شرط ویل کیږی	۱۱
۶	د نالیدلی شی د راپیولو بیان	۱۳
۷	د سود په شی کی د عیب پیدا کیدو بیان	۱۴
۸	د باطلی او فاسدی بیعی او داسی نورو بیان	۱۸
۹	په گهٔ یا مړ په سړه دشی د خرڅولو بیان	۲۳
۱۰	د سود بیان	۲۶
۱۱	د سود او سپینو زرو د شیانو بیان	۲۶
۱۲	د هغو شیانو بیان چه په تول او ترازو سره خرڅیږی	۳۴
۱۳	د بیع سلم بیان	۳۹
۱۴	د قرض اخستو بیان	۴۲
۱۵	یو چا ته د ذمه واری او ضمانت ورکولو بیان	۴۴
۱۶	د هغه بیان چه څیل قرض د بل په غاړه ورواړوی.	۴۶
۱۷	د وکیل نیولو بیان	۴۷
۱۸	د وکیل د لیږی کولو بیان	۵۰
۱۹	د مضاربت بیان یعنی دیوڅیی او دبل کار	۵۰
۲۰	د امانت ساتلو او اپنووولو بیان	۵۲
۲۱	د خزاست د شی بیان	۵۷
۲۲	هبه یعنی یو چا ته دیو شی ورکولو او بخښلو بیان	۵۹
۲۳	کوچنیانو ته د شی ورکولو بیان	۶۲
۲۴	د بخښلی شی د بیرته اخستلو بیان	۶۴
۲۵	په کرایه سره د اخستلو بیان	۶۶
۲۶	د فاسدی اجاری بیان	۶۷
۲۷	د تاوان اخستو بیان	۶۹
۲۸	د اجاری د مانتولو بیان	۷۰
۲۹	بیله اجازی د چا د شی د اخستلو بیان	۷۱
۳۰	د شراکت بیان	۷۳
۳۱	د شریک شی د تقسیمولو بیان	۷۶
۳۲	دیوشی په گروی اپنووولو بیان	۷۷
۳۳	د وصیت کولو بیان	۷۸

د دی حصی د ضمیمو د مضامینو فهرست

ټیبر	مضمون	مخ
۳۴	د حلال مال طلب کولو بیان	۸۴
۳۵	بیله ځی ورته د قرض اخستو د بد والی بیان	۱۰۱
۳۶	د قرض د ادا کیدو د پاره دعا	۱۰۳
۳۷	د څلرمی او پنځمی حصی د تدریس دستور العمل (یعنی د دینا طریقه او بنوونه)	۱۰۴

د اصلی بهشتی زیور پنځمه حصه

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

باب ۱ دخرڅولو اوراڼیولو بیان

(۱) مسئله ۱- که یو چا دویل چه ما دغه شی په دوند ی قیمت (بیه) خرڅ کړی او بلی یوی ودیل چه ما راڼیوی نو دغه شی خرڅ سو او دهر چا چه راڼیولی دی هغه د دافه شی مالکه سوه اوس که هغه وغواړی چه زه ئی نه خرڅوم زما سره دی دی یا داسی ووایی چه زه ئی نه راڼیسم نو هیڅ نه سی کیدای بس سو دا سوه هغه به ئی ورکوی د غه به ئی اخلی او دغه خرڅید و ته بیعه وایی - (شرح البدایة صـ۲۴ دریم ټوک)

(۲) مسئله - یوه ووایی چه دغه شی په دوی روپی ما پرتا خرڅ کړی هغه بله ووایی چه زما قبول دی یا ئی داسی ودیل چه زه په دغه قیمت راضی یم بنه دی ما واخستی نو په دی خبره سره هغه شی خرڅ سو اوس خرڅونکی دا اختیار نه لری چه هغه دی ورکړی او نه راڼیونکی ته دا اختیار سته چه ئی راڼیسی - لیکن دغه حکم هغه وخت دی چه د دواړو طرفو څخه دغه خبری پریوه ځای سوی دی یعنی خرڅونکی او راڼیونکی دواړه پریوه ځای ناستی وی او که یوی ودیل چه ما دغه شی په څلور افغانی پرتا خرڅ کړیدی او هغه بله د څلورو افغانیو نوم واوری هیڅ و نه وایی ولاړه سی یا یوبل چا ته د صلاح کولو د پاره ورسی یا دیوبل کار د پاره ولاړه سی او ځای بدل سی بیا دی ووایی بنه دی ما په څلور افغانی راڼیولی دی نو دغه شی نه دی خرڅ سوی - هو - که تر دغه وروسته هغه خرڅونکی د شی چه مالکه د شی دی یا بله یوه چه مالکه د شی نه دی مثلاً وکیله دی داسی ووایی چه ما درکړی دی یا داسی ووایی چه بنه دی وائی خله نو بیا خرڅیږی دغه رنګه که هغه مالکه ولاړه سی یا په یو کار پسی تلی وی بیا دغه بله ووایی چه ما راڼیولی دی نو دغه

شی نه دی خرڅ سوی - خلاصه دا ده چه پریږده خاوند د واړو طرفونو څخه خبری اتری کیږی نو هغه شی خرڅیږی - (شرح البدایة صـ۲۵ دریم توک)

(۳) مسئله:- یو چا وویل چه دغه شی په یوه افغانی راکړه هغی وویل چه مادر کړی دی نو په دغه سره بیعه نه ده سوی لیکن که نژدغه ورځسته رانیونکی بیا وویل چه ما واخستی نو خرڅ سو - (فتاوی هندیه صـ۳ څلرم توک ورد المحتار صـ۱۳ څلرم توک)

(۴) مسئله:- یو چا وویل چه دغه شی ما په یوه روپی اخستی دی هغی وویل چه وایی خله بس بیعه وسوه - (فتاوی سراجیه صـ۲۶)

(۵) مسئله:- یو چا دیوشی قیمت بنکه ړه کړی او یو بل چا هغه اندازه قیمت د هغی په لاس کښی درکښیښودی او هغه شی ئی پورته کړی ورسره یو وړی اودی په خوښی سره دغه قیمت واخستی په خوله سره یوی نهم نه ورپله چه مادغه شی په دوندی قیمت درباندی خرڅ کړیدی او په دوندی قیمت ئی درڅخه اخستی دی. نو په دی طریقه سره هم شی خرڅیږی سودا صحیح کیږی (شرح البدایة صـ۲۵ دریم توک)

(۶) مسئله:- یو څوک چه په ریړی یا ټوکری کښی دکانی په کوڅو کښی امرت یا بل شی گرزوی او خرڅوی ئی نو بیله پوښتنی یو بل چا دده ریړی، څخه یا ټوکری څخه څلور دانی غنم امرت پورته کړه او یوه روپی ئی دده په لاس کښی درکښیښوده اودده په خوشحالی سره روپی واخسته نو سودا وسوه برابره خبره ده که ئی په ژبه سره څه ویلی وی یا ئی نه وی ویلی - (سراجیه صـ۹۶ دوهم توک)

(۷) مسئله:- یو چا یو بل چا ته وویل چه دغه د ملغلرو یولاړ ی پرتا باندی په لس روپی خرڅ کړی نو رانیونکی وویل چه د دغه لاړ څخه پنځه ملغلری ما رانیولی یا ئی داسی وویل نیمی ملغلری ما رانیولی نرخوچه هغه خرڅوونکی په دغه راضی نه وی نو سودا نه کیږی ځکه دی خو د پوره لاړ قیمت ویلی وو نو نرخوچه دا راضی نه وی نو سودا نه کیږی او رانیونکی ته د اختیار نسته چه د دغه څخه یوڅه واخلی یو څه پریږدی که ئی اخلی نو پوره لاړ به اخلی البته که دی داسی ویلی وه چه هره ملغلره په یوه یوه روپی ده نو دی بلی ویلی وه چه د دغه څخه پنځه ملغلری ما رانیولی دی نو دپنځو ملغلرو سودا

وسوه ـ (مرآة المجلة ص۷۱ اول پټوک)

(۸) مسئله:- دیو چا سره خلور شیان دی ـ گوتمی، بزموخ، غوبز والی او د غوبز غمی او دا وایي چه دغه خلور سره پریوه ځای په خلور روپي خرڅوم نو بیاه دی د رضا دا اختیار نسته چه بعضی شیان څوک په یوه یوه روپي خندی واخلی بعضی بیانه اخلی ځکه چه هغه غواړی چه ټوله شیان یوځای خرڅ کړی لیکن که دهر شی قیمت جلا جلا ووایي بیا نو یوپیاوړه شیان خندی اخستلای شی ـ (مرآة المجلة ص۷۳ و ص۷۴ اول پټوک و درمختار ص۲۶ خلرم پټوک)

(۹) مسئله:- په خرڅولو او راښولو کښی دا هم ضروری ده چه کومه سودا او شی راښی نو سودا به دهر قسم جنجالو نو څخه صفا کوی هیڅ خبره دی داسی نیمگړی نه پریږدی چه بیا یو جگړه خندی پیدا سی داغه رنگه قیمت به هم صاف صاف معلوموی چه دوندی قیمت ئی دی که دی دوو شیانو څخه یو شی هم بنه معلوم نه سی نو سودا نه صحیح کیږی (مرآة المجلة ص۸۳ اول پټوک)

(۱۰) مسئله:- که چا یو شی په پیسو یا روپو راښوی بیا هغه خرڅونکی وایي چه ته اول روپی راکړه بیا به زه دغه شی درکړم او راښونکی وایي ته اول دغه شی راکړه بیا به زه روپی درکړم نو خرڅونکی ته دا اختیار سته چه اول قیمت وصول کړی او بیا هغه شی ورکړی، اوکه دوارو طرفونو ته یو شی وی مثلاً دوارو طرفونو ته قیمت وی روپی په پیسو اخلی یا دوارو طرفونو ته شی وی ـ جامه په جامه اخلی او داسی جگړه ئی سره راسی نو دوارو نه ویل کیږی چه ته خپل شی دهغې په لاس کښی کښیږده هغه دی خپل شی ستا په لاس کی کښیږدی ـ (شرح البدایة ص۳۳ دریم پټوک)

(۲) د قیمت معلومیدو بیان — باب

(۱) مسئله:- یو چا خپل مټ بند کړی وه ئی ویل چه هرڅوندی روپی او قیمت چه زما په لاس کښی دی په دغه فلانی شی راکړه او دا معلومه نه ده چه په لاس کښی ئی څه شی دی ـ روپی دی ـ پیسی دی ـ اشرفی دی یا

دہ دوی دی خودی نو داسی سودا صحیح نه دہ۔ (مرآۃ المجلۃ ص۱۰۹ اول پتوک و طحطاوی ص۳۱ دریم پتوک)

(۲) مسئلہ:۔ په یو بنارکښی دوہ قسمه پیسی چلیږی نو دا دی هم ووایی چه په فلانی پیسه دغه شی اخلم یا ئی خرڅوم که چا دغه نه وویل فقط داسی ئی وویل چه ما دغه شی په یوه پیسه خرڅ کړی هغه بلی بنځی وویل چه ما را نیوی نو دگوره چه هلته دکومی پیسی رواج چیږدی دهری پیسی چه ډیر رواج وی هغه پیسی به ورکوی که دد وارو رواج سره برابر وی نو سودا صحیح نه دہ بلکه فاسده او خرابه سوه۔ (شرح البدایۃ ص۲۶ دریم پتوک درمختار ص۳۹ څلرم پتوک)

(۳) مسئلہ:۔ دیو چا په لاس کښی یو څه پیسی دی او دی مټ خلاص کړی بنکاره ئی کړی چه په دوندی اندازه پیسو دغه شی راکړه او دی بلی هغه پیسی په لاس کښی ولیدلی او هغه شی ئی ورکړی لیکن داورته معلومه نه سوه چه څو پیسی ئی په لاس کښی دی بیا هم سودا صحیح دہ داغه رنګه که درویو او پیسو۔ کوټه ئی مخ ته پریو فرش اینبی وه نو د دی هم داغه حکم دی که یو څوک په دغه کوټه سره د پیسو پردی باندی یو شی خرڅ کړی زیات ور معلوم نه وی چه څوندی پیسی دی نو بیعه صحیح دہ غرض دا چه هرهغه وخت چه ئی په خپلو سترګو وویني چه دوندی پیسی به وی نو په داسی وخت کښی دی نه د پیسو د مقدار او اندازی د معلومولو ضرورت نسته او که دی په سترګو نه وی لیدلی نو په داسی وخت کښی مقدار ورته ویل ضرور دی مثلاً داسی ووایی چه په لس روپی ما دغه شی اخستی دی که په دغه صورت کښی د دغه پیسو مقدار مقرر او معلوم نه کړی. نو سودا فاسده دہ۔ (البحر الرائق المجرد ص۲۷۵ پنځم پتوک)

(۴) مسئلہ:۔ یو چا داسی وویل چه ته دغه شی واخله د قیمت د معلومولو ضرورت نسته هرڅه چه مناسب وی هغه به درڅخه واخلم ستا څخه خو زیاتی نه اخلم یا ئی داسی وویل چه ته دغه شی واخله زه به کورپوښتنه وکړم هرڅوندی قیمت چه ئی دی بیا به درته ووایم یا ئی داسی وویل چه داسی شی فلانی هم اخستی دی هرڅوندی قیمت چه هغی راکړی دی ته هم

هغه اسره قیمت راکړه یا ئې داسې وویل چه زړه دی غواړی هغوندی راکړه زه هغه نه درسته وایم هرخوندی چه راکوی زما قبولی دی یا ئې داسې وویل چه پیه بازار کښی پوښتنه وکړه هرخوندی قیمت چه ئې وی هغه راکړه پیه هغه قیمت ئې درکوم یا ئې داسې وویل چه فلانی ته ئې ورښکاره کړه هرخوندی قیمت چه هغه درسته وایی ته ئې راکړه پیه دغه ټولو صورتو نوکښی سودا فاسده ده لیکن که ئې پرداغه خای باندی صاف قیمت معلوم سوا ودکوم څه کشمکش دسببه چه سودا فاسده سوی وه هغه کشمکش لیری سو نو سودا صحیح کیږی اوکه ترخای بدلیدو دروسته معامله صافه سوه - اوله بیعه اوسودا خو فاسده ده لیکن تردغه صافوالی وروسته بیانوی بیعه دسره سره کولای سی. (ردالمحتار ص۳ څلرم ټوک)

⑤ مسئله:- یو معلوم دکاندار دی چه دهرشی ضرورت پیدا کیږی - نو دهغه دوکاندار څخه راوړل کیږی. مثلاً نن ئې یو سیر سپارو حینی راوړل، سبا ئې دوه سیره غوړی، مالګه، بله ورځ ئې یو سیر کوپره څندی راوړل اوداسې نورشیان ئې څندی راوړل او د قیمت هیڅ پوښتنه نه څندی وړله اوداسې ئې ګڼی چه هرورځ هغه حساب وکړی هر خوندی حساب چه سو پریوه خای به ئې درکړم دا هم صحیح دی - داغه رنګه د دواخانې څخه دوایی راوړی هغه ته وایی چه ته ئې لیکه هرورځ چه زه سنه سوم پیسی به ئې پریوه خای درکړم اود قیمت پوښتنه نه څندی کوی دا هم صحیح دی. (شامی ص۱۸ څلرم ټوک وشرح التنویر ص۱۸ څلرم ټوک)

⑥ مسئله:- د چا په لاس کښی یوه روپی او پیسه ده ده وویل چه ددی یوی روپی دغه شی ماواخسته نو اختیار لری که د غه روپی درکوی اوکه د دغې روپی په عوض کښی بله درکوی مګر د غه بله روپی به کوټه نه وی. (هدایه ص۹۵ دریم ټوک مرآة المجله ص۱۱۲ اول ټوک)

⑦ مسئله:- یو چادیوی روپی شی واخست نو اختیار لری که یوه روپی درکوی که دوی اتیانه درکوی که څلور پاولیان درکوی خرڅونکی د دغه داخستو څخه انکار نه سی کولای - هو - که چیری دیوی روپی پیسی درکوی نو دکاندار یا خرڅونکی لره اختیار دی داخستلو او نه اخستلو - که چیری د پیسو په اخستلو

راضی نه سو - نو به خامخایو ه روپي ورکوی - (مرآة المجلة ص۱۱۳ اول پتوک د شامی ص۳۵ څلرم پتوک)

(۸) مسئله:- یو چا د قلمانو سندوقچه یا یو صندوق خرڅ کړی نوکیلی ئې خپله ورسره خرڅی سوی دکیلیو جلا قیمت نه سی اخستلای او نه کیلی خندی کړنږولای سی چه د خپله خانه شره ئې کښیږدی مرآة المجلة ص۱۰۴ وص۱۰۵ و ص۱۰۶ اول پتوک)

(۳) دسوداد معلومیدو بیان — باب ۲

(۱) مسئله:- په غله او داسی نورو پتولو شیانو کښی دا اختیار دی که ئې د پتول په حساب اخلی او داسی وایی چه په یوه روپی سره می شل سیره غنم واخسته اودا اختیار دی که ئې د غسی رانیسی او داسی وایی چه د غنمو د غه کوپته (کوړه) ما په یوه روپی رانیولی ده بیا نو په د غه کوپته کښی که هرڅومره غنم دی هغه پتول ستادی - (شرح البدایة ص۲۷ دریم پتوک ص۴۱ څلرم پتوک)

(۲) مسئله:- په آم، امرت، نارنګۍ او داسی نورو شیانو کښی هم اختیار دی که ئې د دانګی په حساب اخلی یا داغسی یوکوپته اخلی د واړه روادی که دی دیوی پتوکری پتول آم په دوی روپی راخستل اودا بالکل معلومه نه وه چه څومانی دی نو سوداصحیح ده او پتوله آم ستادی برابره خبره ده که ډیروی اوکه لږ وی - (ردالمحتار ص۴۱ څلرم پتوک)

(۳) مسئله:- یوی بنځی - بیری یا انار راوړی وه خرڅول ئې یوچا ورته وویل چه دیوی روپی دومره ی انار یا بیری راوتله چه په یوه پله کښی د غه خښته یا د برې واچوه او په بله پله کښی د غه میوه واچوه او دا هم د د غه خښتی سره په برابرورتللو راضی سوه او د ډبری یا خښتی وزن معلوم نه ؤ یوه چا ته چې څوندی درنه ده داسودا هم صحیح ده - (شرح البدایة ص۲۹ ج ۴ - وشرح التنویر ص۴۱ ج ۴)

مراد د زلیخا
کلف کیلیان دی
چه د غه کلف دمنی دی -
کوه د کلف د منی روپی سره منی
یا منی د روپی سره منی
نو دی جلا نه وی او
د کلف کیلی خرڅ سوی دی او نه کلف
سویدی - فی البدایة
المعنا ص۳۵ ثانی
ج ۴ فتبصر فتح البناء
والمفاتیح المعنا
انما قلنا کذلک لان
ورد من نفضة لا الشغل
لعبد السنا ء الله ا ه منها
عفا الله تعالی عنه وعن
والدیه ولجمیع المسلمین
امین

④ مسئله:- د آم یا امرت یا نارنگی یا بل شی پوره بتوکری یا گونی ئی په یوه روپی
په دی شرط رانیوله چه په دغه کښی به څلور سوه (۴۰۰) آم دی بیا ئی حساب کړل چه
هغه دری سوه (۳۰۰) آم سوه اخستونکی ته اختیار دی که ئی اخلی که ئی نه اخلی
او که ئی چیری اخلی نو پوره یوه روپی دی نه ورکوی بلکه د سلو دانو آموقیمت
دی حُندی کم کړی فقط دری پاوه دی ورکړی او که ذری نیم سوه دانی سوی
هم دی پوره روپی نه ورکوی دری نیم پاوه دی ورکړی او نیم پاو دی نه
ورکوی - غرض دادی چه هرخوندی آم کم سی هغه اندازه قیمت هم ور
کړه کمیږی او که په دغه بتوکری یا گونی کښی تر څلور سوه (۴۰۰) دانی آم زیات
سوه نو هغه زیات د خرخونکی دی دغه اخستونکی تر څلور سوه زیات
نه سی وړای - هو - که ئی پوره بتوکری یا گونی رانیوله او اندازه ئی مقرره
نه کړه چه په دغه کښی څو دانی آم دی نو هرخوندی چه سوه - بتول
د رانیونکی دی برابره خبره ده که کم سی که زیات سی - شرح البدایة
ص ۲۸ د ریم بتوک)

⑤ مسئله:- یو چا پوړونی - شال - پلنگ پوښ - لنگ یا بوغبند رانیوی یعنی
یو داسی جامه ئی رانیوله که یوځه خُندی څیری اوپری سی نو خرابه او بدنما
کیږی او د رانیولو په وخت کښی ئی دا شرط لګولی وُو چه دا دری گزه ده بیا
چه ئی گز کړله دا یوځه کمه سوه نو هرخوندی چه کمه سویده ده دغه
په بدله کښی قیمت نه کمیږی بلکه هرخوندی قیمت چه تاکل سویدی
هغه به پوره ورکوی - هو - د کمیدو د سببه څخه دوندی رعایت
او مراعت کیږی چه د دواړو د طرفه د یعنی سوداسره سره ده ته اختیار
دی که ئی اخلی که ئی نه اخلی او که څه زیاته سوه هغه هم د ده سوه
او د دغه زیاتوالی په بدل کښی به قیمت زیات نه ورکوی بس هغه قیمت دی
چه تاکل سوی وُو - (شرح البدایة ص ۲۸ د ریم بتوک)

⑥ مسئله:- چا په شپه کښی دوه وړینمین لنگونه یا شالونه په یوه روپی
مثلاً رانیول چه سهار ئی ښه وکتل یو وړینمین نه دی بلکه د پنبه یا وړیو
دی نو د دواړو سوداګرانه ده نه د وړینمین نه د وړیو والا یا پنبه والا
د شال دا دغه رنګه که ئی دوی گومی په دغه شرط واخستی چه د دواړو

غمیان به فیروزه دی بیا معلومه سوه چه یو غمی په پوه گو تکی کښی فیروزه نه ده بل شی دی نو دد واړه سودا صحیح نه ده اوس که په دغو کښی یوه یا دواړی اخلی نو طریقه ئی دا ده چه بیا دی خبری ورسره وکړی وادی ئی خلی (شامی ص۵۳ څلرم توک)

(۴) دپور اخستلو بیان — باب

(۱) مسئله:- که چا یو شی په پور رانیوی نو دا هم صحیح دی لیکن دوند ه خبره ضروری ده چه څه مده مقرره کړی او وایی چه په پنځلس ورځی یا میاشت یا خلور میاشتی کښی ستا قیمت او پور درکوم که ئی هیڅ مده مقرره نه کړه فقط دومره وویل چه اوس پیسی نسته بیا ئی درکوم پس نو که ئی داسی ویلی وی چه زه ئی په دی شرط سره اخلم چه قیمت او پیسی ئی بیا درکوم نو بیعه او سودا فاسده ده اوکه ئی د رانیولو په وخت کښی دغه شرط نه و لګاوی شی ئی رانیوی نو ئی وویل چه پیسی بیا درکوم نو پروا نه لری اوکه یې نه د رانیولو په وخت کښی څه وویل او نه ئی ورو سته څه وویل بیا هم بیعه صحیح ده په دغه دواړو صورتونو کښی به د دغه شی قیمت اوس ورکوی - هو - که خرڅونکی یو څه ورځی مهلت ورکړی نو بله خبره ده - لیکن که مهلت ورنه کړی او اوس ئی وغواړی نو به پیسی او قیمت خامخا ورکوی - (فتاوی هندیه ص۳ دریم توک رد المحتار ص۱۸۶ دوهم توک و شرح التنویر ص۳۴ څلرم توک و مرآة المجلة ص۱۱۱ اول توک)

(۲) مسئله:- پوچا د شی رانیولو په وخت کښی داسی وویل چه فلانی شی ما ته راکړه هر وخت چه زه روپی پیدا کړم نو خپلی پیسی به دی درکړم یا ئی داسی وویل چه هر وخت زما د ورځی راسی نو به پیسی درکړم یا ئی داسی وویل چه هر وخت فصل وربیل سی نو به ئی درکړم یا دغه خرڅونکی ورته وویل - چه بی بی - ته اوس دغه شی واخله هر وخت چه دی زه وغواړی پیسی به راکړی نو بیعه او سودا فاسده سوه باید څه ناڅه مده مقرره او معلومه کړی بیا ئی واخلی اوکه ئی تر رانیولو وروسته داسی خبری وکړی بیا سودا صحیح ده او خرڅونکی کولای سی چه اوس قیمت او پیسی وغندی واخلی لیکن صرف د فصل د ربیلو په مسئله کښی د فصل تر ربیلو او اخستلو مخکښی ئی نه سی وغندی

غوښتلای ـ (مرآة المجلة ص۱۱۴ اودم (۷) توک شامی ص۳۱ څلرم توک)

(۳) مسئله:ـ په نقد و پیسو په یوه روپی شل سیره غنم خرڅیږی مګر یو چاته ئې دپور اخستلو په سبب په یوه روپی پنځلس سیره غنم ورکړه نو دا سودا هم صحیح ده مګر په دغه وخت کښی باید معلومه سی چه سودا په پور اخلی هدایة ص۷۶ دریم توک) (مطلب دادی که په دغه مجلس کښی دا خبره معلومه سوه چه سودا په پور ده که په نقد و ده که دغه رنګه معلومه سوه نو سودا صحیح ده اوکه هیڅ معلومه نه سوه خبره دغسی نیمګړی پاته سوه بیا سودا روا نه ده)

(۴) مسئله:ـ دا حکم هغه وخت دی چه د خریدار څخه ئې اول پوښتنه کړی وی چه نقده سودا کوی که په پور که هغه نقد وویل نو ده شل سیره ورکړه اوکه ئې قرض وویل نو پنځلس سیره ئې ورکړه اوکه ئې معامله داسی وکړه چه خریدار ته ئې داسی وویل که نقده سودا کوی نو د روپی شل سیره دی اوکه په پور سودا کوی نو د روپی پنځلس سیره دی دا روا نه دی ـ (خلاصة الفتاوی ص۶۸ دریم توک فتاوی هندیه ص۱۵۴ دریم توک)

(۵) مسئله:ـ دیوی میاشتی په وعده ئې یوشی واخستی نو چه میاشت پوره سوه اوس پنځلس ورځې نور وخت ځندی غواړی نو که خرڅونکی راضی سوه خو صحیح دی اوکه راضی نه سوه اوس ئې ځندی غوښتلای سی ـ (شرح البدایه ص۷۶ دریم توک)

(۶) مسئله:ـ چه پیسی ورسره وی او لږی ئې نو ناحقه څوک ځنډول چه ځنډه نه سبا راسه اوس نسته بل وخت راسه اوس مانې راسره نسته چه بیا پیسی مانې کړم نو به ئې درکړم ـ دا ټولی خبری حرامی او ناروا دی ـ هر وخت چه ئې هغه وغواړی هغه وخت باید پیسی مانې کړی او روپی ورکړی البته که ئې په پورشی اخستی وی نو هر څوندی ورځو په وعده چه ئې اخستی دی تر هغو نه ورځو ورسته ورکول ئې بیا واجب دی ـ نو ټد

وعدی پوره کیدو ورسته خُنډول او خُغلول را خُغلول ئې ناروا کار دی۔ لیکن که شی ورسره نه وی بالکل مفلسه وی نه دیو خواد پیسی یودرک وی بیا خو مجبوری ده لیکن چه هر وخت ئې پیسی لاس ته راسی بیادی ئې نه خُنډوی۔ (مشکوٰة شریف باب الافلاس ص۲۱۲)

دبیرته ورکولو شرط بیان چه ودغه ته په شرعه کی خیار شرط ویل کیږی

(۵) باب

(۱) مسئله:- دشی داخستو په وخت کښی ئې داسی ووېل چه یوه ورځ یا دوی ورځی یا دری ورځی ماته داخیستو یا نه اخستو اختیار دی که می خوښ سو وابه ئې خلم اوکه می خوښ نه سو نو بیرته به ئې درکړم نو دا صحیح دی دهرځوندی ورځو اقرار چه ئې کړی دی ترهغو پوری ئې دبیرته ورکولو اختیار ستا که ئې خوښ سو ددی سو اوکه ئې خوښ نه سو بیرته دی ئې ورکړی۔ (شرح البدایة ص۳۴ دریم پتوک)

(۲) مسئله:- یو چا ویلی وه چه تر درو ورځو پوری ماته داخستو او نه اخستو اختیار دی بیادری ورځی تیری سوی اودی هیڅ جواب ورنه کړی نه ئې هغه شی بیرته ورکړی نو هغه شی به خامخا خلی ددی سو دبیرته ورکولو اختیار نه لری۔ هو۔ که خرڅونکی مراعت ورسره وکړی شی بیرته خُندی قبول کړی نو خیر دی۔ دا دی بیرته ورکړی دهغی بی رضایی بیرته نه سی ورکولای۔ (مرآة المجلة ص۱۴۱ اول پتوک)

(۳) مسئله:- تر درو ورځو زیات شرط نگول صحیح نه دی که یو چا دخلورو اوپنځو ورځو شرط کښیښوی نو وگورئ چه په دری ورځی کښی دننه دننه دی څه جواب ورکړی دی یا ئې نه دی ورکړی که په دری ورځی کښی دننه دی هغه شی بیرته ورکړی نو بس سو داهم پاته سوه اوکه ئې وویل چه ما اخستی دی سو دا صحیح سوه اوکه دری ورځی تیری سوی هیڅ حال ئې معلوم نه سو چه اخلی ئې اوکه ئې نه اخلی نو سو دا فاسده سوه۔ (حوالته حوالة مسئلة الاولی والثانیة وشرح التنویر ص۷۳ څلرم پتوک)

④ مسئله:- دغه رنګه خرڅونکی هم ویلای سی چه ماته تردرو ورځو پوری اختیار دی که دغواړم نو په دری(۳) ورځی کښی دننه دغه شی چه ما در کړی دی بیرته ئی اخلم دا هم روادی - (ماخذه ماخذ مسئلة الاولی والثانیة)

⑤ مسئله:- داخستلو په وخت ئی وویل چه ماته تردرو ورځو پوری اختیار دی بیا دوهمه ورځ راغله اووی ویل چه ما هغه شی رانیوی نو اختیار ئی ولاړ اوس ئی بیرته نه سی درکولای بلکه که خپل کور ته راغله اووئی ویل چه ما دغه شی اخستی (رانیولی) دی اوس ئی بیرته نه درکوم نو هم ئی دغه اختیار ختم سو او چه د سودا ماتول او دشی بیرته درکول و غواړی نو د خرڅونکی په مخ کښی ئی باید ماته کړی او که ئی د خرڅونکی په مخ کښی ماته نه کړی بلکه د هغه په غیاب کښی ئی ماته کړی نو دا صحیح نه دی - (شرح البدایة ص۳۷ دریم ټوک)

⑥ مسئله:- یو چا وویل چه تردرو ورځو پوری زما مورته اختیار دی که هغه وایی نو ئی اخلم او که نه وایی بیرته ئی درکوم نو دا هم صحیح دی اوس نو په دری ورځی کښی دننه دا یا د دی مور شی بیرته درکولای سی که پخپله رانیونکی یاد دی مور ووایی چه ما هغه شی رانیولی دی بیرته ئی نه درکوم نو د بیرته درکولو اختیار ئی ختم سو - (شرح البدایة ص۳۷ ج۳)

⑦ مسئله:- دوه(۲) یادری(۳) تانونه ئی رانیول او وئی ویل چه تردرو ورځو پوری موږ ته اختیار دی چه په دغو کښی موهر یو خوښ سی نو یو تان په لس(۱۰) روپی اخلو نو دا صحیح دی په دری(۳) ورځی کښی دی دننه دننه یو تان خندی خوښ کړی او که ئی څلور پنځه تانونه واخسته اووی ویل چه په دغه کښی موږ یو تان خوښ نو نو بیعه فاسده ده - (شرح البدایة ص۳۸ دریم ټوک)

⑧ مسئله:- یو چا تر دوو(۲) ورځو پوری اختیار واخستی بیائی د دغه شی استعمال په خپل کور کښی شروع کړه مثلاً د پرسکید وشی وڅ پد سرئی کړی یا د اغوستو شی وڅ وائی غوستی د هوارید وشی وڅ هوار ئی کړی نو اوس د بیرته درکولو اختیار ختم سو - (فتاوی هندیه ص۲۸ ج۳)

⑨ مسئله:- که ئی استعمال صرف دکتنی د پاره سوی وی نو د بیرته درکولو

حق لری مثلاً جوړ سوی قمیص یا پوړونی یا ستر نجی ئې را نیوله نو د پارې د کتلو ئې قمیص صرف یو وار واغوستی چه برابر دی که نه دی او فوړا ئې وکښئ یا ئې پوړونی صرف یو وار پرسر کړی چه پسوړ او اوبړ د والی ئې وګوری بیرته ئې فوړاً د مړه څخه لیږی کړی یا ئې ستر نجی صرف یو وار هوار کړه چه د ستر نجی اوبړ د والی او پسوړ وو یني بیرته ئې فوړا پتوله کړه نو د بیرته ورکولو حق اوس هم لری ختم سوی نه دی. (فتاوی هندیه ص۲۵ ج ۳)

(۶) باب — د نالیدلی شی د را نیولو بیان

(۱) مسئله:- یو چا شی لیدلی نه وو چه وائی خستی نو دا بیعه صحیح ده لیکن هر هغه وخت چه ئې وو یني دی ته اختیار دی که ئې خوښ سو نو د دی سوکه ئې خوښ نه سو بیرته دی ئې ورکړی که څه هم په دغه کښی هیڅ عیب نه وی او هر قسم چه دی بللی وڼ هغسی هم وو بیا هم د را نیولو او نه را نیولو اختیار لری. (شرح البدایة ص۴۰ دریم پتوک)

(۲) مسئله:- یو چا خپل شی لیدلی نه وو چه خرڅ ئې کړی نو د دغه خرڅونکی ته ورډسته ترلیدلو د شی اختیار نسته چه بیرته ئې ځان ته راوګرزوی ترلیدو ورډسته فقط اختیار د اخستونکی د پاره دی د خرڅونکی د پاره نسته. (شرح البدایة ص۴۰ دریم پتوک)

(۳) مسئله:- یو سوداګر متر یالو بیا چه په پلیو یعنی پوستو کوکښی وه. سپین سوی نه وه د خرڅولو د پاره را وړی وه کوم چه سر بیره ئې وه هغه ښه وه نو چه ورته وی کتل پتوله. کیه. ئې را نیوله لیکن هغه لاندی ئې خراب وختله نو ده ته د بیرته ورکولو اختیار سته لیکن که پتولی پلی یعنی پوستوکی د متر و یا د لو بیا یو شی وی نو لږ څه پلی لیدل کا ئې دی برابره خبره ده که پتولی پلی وو یني او که پتولی نه وو یني د بیرته ورکولو اختیار نه لری (شرح البدایة ص۴۱ دریم پتوک)

(۴) مسئله:- امرت، نارنګی یا دامی بل شی ئې را نیوی چه پتول یو برابر نه وی بعضی ښه وی بعضی بیکاره وی نو ترڅو پوری چه پتول د نه وو یني اختیار ئې پاته دی د لږ و د لیدو څخه اختیار نه ختمیږی. (شرح البدایة ص۴۱ دریم پتوک)

(۵) مسئله :- که ئ د خوړلو او چښلو شی را نیوی نو په دغه کښی صرف په لیدلو سره اختیار نه ختمیږی بلکه خوند کتل او څکل ئ هم په کار دی که دخوند کتلو ورد سته ئ خوښ نه سو نو بیرته ئ ورکولای سی - (درمختار ص ۱۰۲ ج ۲)

(۶) مسئله :- په دیره زمانه سوی وه چه یوشی ئ لیدلی وو نو نن ئ هغه را نیوی لیکن اوس ئ لیدلی نه دی بیا چه ئ کور ته راوړی نو که لیدلی چه ئ وړ بالکل هغسی دی نو اوس ترکتلو ورد سته د بیرته ورکولو اختیار نه لری لیکن که په دغو ندی ورځو کښی په دغه کښی څه فرق راغلی وی نو ترلیدو ورد سته د بیرته ورکولو اختیار لری - (شرح البدایة ص ۴۳ څلرم ټوک)

(۷) دسودا په شی کښی د عیب پیدا کیدو بیان

باب

(۱) مسئله :- چه یوشی خرڅوی نو واجب دی چه هرڅه عیب پکښی موجود وی هغه عیب او خرابی ټوله ووایی د عیب نه ویل او په دوکه سره شی خرڅول حرام دی - (شرح التنویر ص ۱۵۲ څلرم ټوک)

(۲) مسئله :- یوشی ئ واخستی بیا چه ئ وکتل په دغه کښی یو عیب وی مثلاً تان وی مړ کانو پریکړی او خورلی وی یا وریښمین شال چینجان او وینه کړی وه یا یو بل عیب په شی کښی پیدا سو نو اوس دغه را نیونکی ته اختیار دی که ئ وڅانه سره بدی اخلی ئ - او که ئ بیرته ورکوی لیکن که ئ نه ورکوی اخلی ئ - نو پوره قیمت به ورکوی د دغه عیب په عوض کښی څه پیسی کمول روانه دی لیکن که د قیمت پرکمولو هغه خرڅونکی هم رامنی سی نو بیائ کمول روادی - (شرح البدایة ص ۴۳ څلرم ټوک)

(۳) مسئله :- یو چا یوتان را نیوی او کور ئ کښیښوو ی چه یوکوچنی د دغه تان څاک ورځیری کړی یا ئ په غچی سره پری کړی تر دغه ورد سته بیا د سره وغورځوی چه د ننه هم خراب وو د یخوا څخه مړ کانو خوړلی وو او اوس ئ بیرته نه شی ورکولای البته قیمت ئ کمیدای سی حکه چه یو عیب خو د

په کور کښې هم پيدا سو ليکن د هغه ښځوالی عيب په بدله کښې چه دخرڅونکی په کور کښې پيدا سوی دی قيمت کميدای سی خلقو[1] ته دی ور ښکاره کړی هر څه فيصله چه ئې وکړه دوی دی ومنی ـ (هداية ص۴۶ د ريم پټوک)

(۴) مسئله :ـ داغه رنګه که ئې پټوکر سړه پريکړی وو د جوړيدو د پاره بيا عيب پکښې معلوم سو نو بيرته ئې نه سی ور کولای ليکن قيمت ئې کميدای سی اوکه خرڅونکی ووايي چه زما پريکړه سوی ښکر راکړه اوخپلی پټولی روپی دی واخله نو ئې قيمت نه کموم نو دی ته دا اختيار حاصل دی رانيونکی انکار نه سی کولای اوکه ئې د غه کالی جوړ کړی هم وه بيا عيب معلوم سو نو د عيب په عوض کښې قيمت کموای سی او خرڅونکی په د غه صورت کښې خپل کالی بيرته نه سی اخستلای اوکه د غې رانيونکی هغه پټوکر خرڅ کړی اويا ئې د خپل نابالغ کوچنی داغوستو د پاره پريکړی وُو په دی شرط چه په وخت د پريکيدو کښې ئې معرفت د د غه کوچنی دکالو نيت کړی وُو او بيا عيب پکښې پيدا سو نو قيمت ئې نه کميږی اوکه ئې د بالغ اولاد په نيت سړه پری کړی و و او بيا عيب پکښې پيدا سو نو اوس ئې قيمت کموای سی (هدايه ص۴۶)

(۵) مسئله :ـ يو چا يو څه هګی رانيولی دا نه په يوه روپی چه ماتی ئې کړی پټولی خرابی وی نو پټول قيمت بيرته خُنډی اخستلای سی او داسی ئې بولو چه د ډکه چه بالکل رانيولی نه دی اوکه بعضی سمی وی او بعضی خرابی وی نو د خرابو قيمت خُنډی اخستلای سی اوکه چاد شلو پنځه ويشتو اګيو اپتکلی قيمت ونګاوی رائې نيولی چه دا پټولی هګی ما په پنځه روپی اخستی دی نو د ګورۀ چه څو خرابی دی که په سلو کښې پنځه شپږ دا نی خرابی وو تلی نو د دی هيڅ اعتبار نسته اوکه ډيری خرابی وو تی نو د خرابو قيمت دی په حساب سړه خُنډی واخلی ـ (هداية ص۴۸ د ريم پټوک)

(۶) مسئله :ـ بادرنګ، چمبر خيال، ختکی، هنډوانه، کډو، بادام، جوز او داسی نور شيان ئې رانيول چه مات ئې کړه بالکل خراب وه نو ګورۀ چه څه په کار راتلای سی اوکه بالکل بيکاره او خراب دی او د غوږ خُولو قابل دی که بالکل خراب او ناکاره وی نو د غه بيعه بالکل صحيح سوی نه ده خپلی پيسی دی بيرته خُنډی واخلی اوکه څه په کار راتلای سوه نو د غه

[1] د داسی خلقو ته دی ور ښکاره کړی چه په قيمت ئې پوهيږی ۱۲

خراب چه پیسی به هغه خرڅونکی ته ورکوی پوره قیمت به نه ورکوی۔ شرح التنویر ص۱۱۷

پیه هرڅوندی قیمت پیه بازار کښی خرڅیږی هغاندازه

(۷) مسئله:۔ که پیه سلو بادامو کښی فقط څلور دانی خراب وو تل یا پنځه دانی خراب وو تل نو دا معتبر نه دی اوکه زیات خراب وو تل نو هرڅوندی چه خراب دی د هغو پیسی دی نه ورکوی۔ (شامی ص۱۳۲ ج څلرم پتوک)

(۸) مسئله:۔ دیوی روپی ئی پنځلس سیره غنم رانیول یا ئی دیوی روپی یونیم سیر غوړی رانیول پیه د هغه کښی څه بنه وختل اوڅه خراب وختل نو دامی روانه دی چه هغه بنه بنه واخلی او هغه خراب خراب بیرته ورکړی بلکه که ئی رانیسی نو دی پتول رانیسی اوکه ئی ورکوی نو دی پتول ورکړی لیکن که خرڅونکی خپله رامی وړه چه بنه بنه واخله او هرڅوندی چه خراب دی هغه بیرته راکړه نو دامی طریقه کول بیا صحیح دی بیله دی دی دخوښی دارنګه نه سی کولای۔ (شرح البدایة صاف دریم پتوک) ۴ دبیرته ورکولوم

(۹) مسئله:۔ د عیب د معلومیدو په وخت کښی اختیار هغه وخت دی چه د عیبناکه شی په تبلولو ئی هیڅ قسم رضا بنکاره نه سی اوکه ئی په اخستو راضی سی نو بیرته ورکول ئی روانه دی البته که ئی خرڅونکی په خوشحالی سره بیرته څنډی قبول کړی نو ورکول ئی صحیح دی مثلاً یو چا یوه بزه یا یوه غوا یا بل شی رانیوی چه کورته راغله نو ورته معلومه سوه چه مریضه ده یا دده په بدن کښی یو ځای زخم دی نو که ترلیدو وروسته خپله خوښی بنکاره کړی چه خیر دی ما داغسی عیبناکه رانیولی ده نو دبیرته ورکولو اختیار ئی ختم سو اوکه ئی په څه سره نه وویل لیکن یو داسی کار ئی وکړی چه د هغه څخه خوښی بنکاریږی مثلاً د هغی په علاج او دوا سره ئی شروع وکړه نو هم ئی دبیرته ورکولو اختیار ولاړی۔ (هدایه ص۵۱ دریم پتوک در مختار ص۱۳۹ څلرم پتوک)

(۱۰) مسئله:۔ د بزی غوښه ئی رانیولی وه بیا معلومه سوه چه د پسه غوښه ده بیرته ئی ورکولای سی۔ (در مختار ص۱۴۱ څلرم پتوک)

(۱۱) مسئله:- د ملغلرو هار، امیل، غاړګی ئې رانیوه یا ئې یوبله ګینه رانیوه او یو وخت ئې په غاړه کړل یا ئې څپلی رانیوی په پښو ئې کړی پکښی ولاړه نو اوس د عیب د سببه څخه دغه شی بیرته نه سی ورکولای لیکن که ئې د دغه سببه په پښو کړی وی چه پر پښو ئې وګورم چه پر پښو برابری دی که نه دی چه پښی راخوږ وی که نه نو د دغه معلومات دپاره لږ ګړی په پښو کول هیڅ پروا نه لری اوس ئې بیرته ورکولای سی۔ داغه رنګه که ئې یو چارپائی یا یو تخت رانیوی او دیو ځای ورت د سببه ئې کښیښوه او پرکښینسته یا ئې پرتخت باندی لوڅ وکړی استعمال ئې کړی نو اوس د بیرته ورکولو اختیار نه لری داغه رنګه په نور وټولو شیانو څان پوه کړه که ئې د دوی څخه کار واخستی نو اختیار ئې ختم دی او که ئې د معلومات او امتحان دپاره استعمال کړل نو اختیار ئې نه ختمیږی:- (عالمګیری ص۵۴ څلرم پتوک)

(۱۲) مسئله:- د خرڅولو په وخت کښی ئې ورته ووېله چه سنه ئې وګورم که بیا یو عیب یا خرابی پکښی وه بیا ئې زه ذمه وار نه یم د هغې پرد غه خبره دې څنډی رانیوی نو اوس که هر څوند ی عیبونه پکښی معلوم سی بیرته ئې ورکولای نه سی او د غسی خرڅول هم صحیح دی چه خپله ورته وګورم که بیا ئې د عیب ذمه وار نه یم او ترداسی وینا وروسته بیا د عیب ورته ویل واجب نه دی۔ (هدایه ص۵۲ دریم پتوک)

(۸) باب دباطلی او فاسدی بیعی او داسی نورو بیان

(۱) مسئله :- هر هغه سودا او بیعه چه په شرعه کښی بالکل بی اعتباره وی منل سوی نه وی نو داسی بلل کیږی چه بالکل ئی رانیولی نه دی او هغی بلی بالکل خرڅ کړی نه دی نو داسی سوداته باطله ویل کیږی (شامی ص۱۵۲ څلرم توک) د دغه حکم دادی چه رانیوونکی د دغه شی مالکه نه وه دغه شی تراوسه پوری د هغی خرڅونکی مِلک دی نو د دغه سببه هغه چا چه دغه شی رانیولی دی نه ئی خورکړی وی ته روادی او نه ئی چاته ورکول روادی هیڅ قسم خپل کار ځنډی اخستل روا نه دی - (شامی ص۱۶۳ څلرم توک) اوهر هغه بیعه چه سوی دی او بیعه وی ته ویل کیږی سی لیکن په دی کښی یوڅه خرابی راغلی وی دغی بیعی (سودا) ته فاسده بیعه ویل کیږی - (شامی ص۱۵۴ څلرم توک) د دی بیعی حکم دادی ترڅو چه د رانیونکی و قبضی نه نه وی رسیدلی نو نو د دغه وخته پوری دغه رانیول سوی شی د دی په مِلک کښی نه راځی اوهر وخت چه ئی قبض کړی نو په مِلک کښی خو ئی راغلی لیکن حلال او پاک نه دی نو د دی سببه د دغه خورل چښل یا په بله طریقه سره کار ځنډی اخستل صحیح نه دی - (در مختار ص۱۹۱ ج۴) بلکه د دغی بیعی ماتول واجب دی - (در مختار ص۱۹۳ څلرم توک) - که ئی چیزی اخلی بیرته دسره دی بیعه ورسره وکړی او وادی ئی خلی او که ئی دغه بیعه ماته نه کړه بلکه پر بل چا ئی شی خرڅ کړی نو گناه لری او د هغه د دهم رانیونکی د پاره د دغه شی خورل او چښل روادی یا په بله طریقه سره استعمالول ئی هم روادی او دغه د دهم بیعه صحیح ده که ئی په گټه خرچ کړی د گټی خیراتول ئی واجب دی خپل کار ځنډی اخستل روا نه دی - (در مختار ص۱۹۹ ج۴)

(۲) مسئله :- د زمیندار رانوچه دلته کوم رواج دی چه د حوض اوناور ماهیان خرڅوی دا بیعه باطله ده په حوض کښی د ننه هرڅوندی ماهیان چه دی تر

څوچه ونه نیول سی نو هغه وخته د دوی هیڅ مالک نسته هر هغه څوک چه ئی ونیسی هغه د دوی مالک دی چه د غه خبره ستا په ذهن کښی کښینسته نو اوس پوهه سه چه زمیندار د سره څخه د دوی مالک نه دی نو خرڅول به ئی څرنګه صحیح سی هوکه زمیندار پخپله ماهیان نسی او خرڅوی ئی نو البته بیا صحیح دی. اوکه ئی په بل چا نیسی نو هغه ئی مالک کیږی د زمیندار په دغه نیول سوو ماهیانو کښی هیڅ حق نسته د اغه رنګه د ماهیانو د نیولو څخه خلګ بندول هم روا نه دی (هدایه ص۵۵ د ریم ټوک)

(۳) مسئله:- په محلّه کښی خو د بخودې وابنه شنه سوه نه دی کرلی دی نه دی او به کړی دی نو د غه وابنه هم د هیچا ملک نه دی د هرچا چه زړه غواړی ریبلای ئی سی او نه ئی خرڅول صحیح دی او نه ئی د ریبلو څخه څوک منع کولای سی البته که ئی او به کړی او برابر کړی دی او خدمت ئی کړی وی نو د دی ملک دی اوس ئی نو خرڅول هم صحیح دی او د خلګو څخه ئی منع کول هم روا دی (فتاوی هندیه ص۶۳ څلرم ټوک)

(۴) مسئله:- د حیوان په نس کښی چه حمل یعنی بچی وی د هغه خرڅول مخ کی تر پیدا کیدو ناروا دی اوکه پوره حیوان خرڅ کړی صحیح دی لیکن که ئی داسی وویل چه زه د غه بزه خرڅوم لیکن په نس کښی چه ئی کوم سیرلی دی هغه نه خرڅوم چه سیرلی پیدا سی هغه زما دی دا بیعه فاسده ده - (شرح البدایه ص۵۵ دریم ټوک)

(۵) مسئله:- د حیوان په تیو کښی چه کومی شیدی دی تر لوشلو مخکی ئی خرڅول باطل دی او شیدی و لوشه بیا ئی خرڅ کړه د اغه رنګه د میږی پسه او بزی وړی او اوښ غونی چه د دوی پر بدن ولاړی وی خرڅول ئی

جاریة الا حملها فالبیع فاسد (هدایه ص۶۳ دریم ټوک)

ناروا او باطل دی اول ئې خندی خو ور خول او پریکړه او بیا ئې خرڅې کړه۔ شرح البدایة ص۵۵ د ریم ټوک

(۶) مسئله:۔ هر هغه کیړی، چغ یا لرګی چه په سړای یا بام کښې د خونې وی یعنی خونه پر جوړه سوی وی ترکینلو یا دا ایستلو مخکی د دوی خرڅول روا نه دی۔ (شرح البدایة ص۵۵ د ریم ټوک)

(۷) مسئله:۔ د انسان د ډیښتان، هډوکی او د اسی نور مطلب هر جزء۔ د انسان خرڅول ناروا او باطل دی اود دغو شیانو څخه خپل کار اخستل او یا استعمالول روا نه دی۔ (هدایه ص۵۸ د ریم ټوک)

(۸) مسئله:۔ د خنزیر څخه علاوه د نورو هر دار شیانو هډوکی د ډیښتان او سنګر پاک دی د دوی څخه کار اخیستل هم روا دی او خرڅیدل ئې هم روا دی۔ (هدایه ص۵۸ د ریم ټوک)

(۹) مسئله:۔ تاپوه بزه یا بل شی دیو چا څخه په پنځه روپی را نیوی او پر دغه بزه دی قبضه وکړه او خپل کور ته دی راوستله لیکن تر اوسه دی لا پیسی نه دی ورکړی لیکن اتفاقاً داسی پیښه سوه چه پیسی د سړه ختمی سوی نو پیسی دی نه سوی ورکولای یا دی بزه خوښه نه سوه نو د دغه سبب دی ورته وویل چه دغه بزه بیرته په خلور روپی راڅخه واخله یوه روپی تاته بله د رکوم دارنګه خرڅول او را نیول روا نه دی تر څوچه هغی ته دی روپی ورکړی نه وی تر هغه وخته په کم قیمت تر چا خوانی قیمت بیرته پر هغی خرڅول روا نه دی۔ (هدایه ص۶۰ د ریم ټوک)

(۱۰) مسئله:۔ چا په دغه شرط خپل سړای خرڅ کړی چه تر یوی میاشتی پورې ئې تاته نه د رکوم زه خپله پکښې اوسیږم یا ئې دا سی شرط مقرر کړی چه ته د وندی روپی ماته قرض را کړه۔ یا ئې ټوکر په دغه شرط را نیوی چه ته ئې پریکړه جوړ ئې کړه وئې ګنډه زه جوړ سوی کالی د ر څخه غواړم یا ئې دارنګه شرط کښیښوی چه زما کور ته ئې راوړ سوه یا ئې یوبل داسی شرط مقرر کړی چه د شریعت د نګاه څخه عبث او ناروا وی نو دا ټولی بیعې فاسدی دی۔ (شرح البدایة ص۶۳ د ریم ټوک)

(۱۱) مسئله:۔ که ئې یوه غواړ انیوله او دارنګه شرط ئې کښیښوی چه دغه غوا به

څلور سیره شیدی کوی دغه بیعه فاسده ده لیکن که ئی مقدار مقرر نه کړی بلکه په دی شرط ئی عوارانیوله چه دابه ډیره شیده وړه وی نو دا بیعه روا ده۔ (شرح التنویر ص۹۱ څلورم ټوک)

(۱۲) مسئله:- د خاورو یا چینی څخه ئی دکوچنیانو د بازی او ساعت تیری دپاره بتان جوړ کړی وه نو بیا دغه بتان یو چا څندی رانیوله نو دغه بیعه او سودا باطله ده په شرعه کښی د دغو بتانو چه د ساعت تیری دپاره جوړ سوی دی هیڅ قیمت ئی نسته نو ددی سببه د دغه بتانو د رانیولو په وجه د رانیونکی څخه هیڅ قیمت نه اخستل کیږی اوکه یو چا مات کړله هم تاوان نه څندی اخستل کیږی۔ (شرح التنویر ص۳۳۲ څلورم ټوک)

(۱۳) مسئله:- څه غله، غوړی، تیل یا داسی بل شی دی په روپی سره لس سیره یا په بل نرخ سره رانیوله نو وګورله تر بیعی وروسته ده ستا یا ستا دوړلیږل سوی سړی په مخ کښی تول کړی دی یا ستا یا ستا دوړلیږل سوی سړی په مخکښی ئی نه دی تول کړی بلکه ویلی ئی وه چه نه ولاړه سه زه به ئی وتلم او دروبه ئی لیږم یا ئی دا ول وار څخه تللی وه اینی ئی وه دغسی راپوره ته کړه او دروئی کړه وئی نه تلل۔ دوهم وار۔ دادری صورته سوه دا ول حکم دادی چه کوره ته ئی راوړی بیا ئی تلل ضروری نه دی بیله تللو هم دده خوړل، چښل، خرڅول او داسی نور ئی روا دی۔ دوهم او دریم صورت حکم دادی چه نرخ پوری چه خپله ئی تول نه کړی ترهغه وخته دده خوړل، چښل، خرڅول او هرڅه ئی صحیح نه دی که ئی بیله تللو خرڅ کړه دا بیعه فاسده ده نرخ څولو وروسته که ئی تول هم کړی بیا هم دغه بیعه صحیح نه ده۔ (شرح التنویر ص۲۵۳ څلورم ټوک)

(۱۴) مسئله:- نرخ څولو مخکی یو چاشی تول کړی او دروی بنوولو وی نرتول او بنوولو وروسته تاد غه شی رانیوی او بیا دوهم وار ئی دغه شی تول نه کړی نو په دی صورت کښی هم اخیستونکی لره بیرته تلل ضروری دی بیله تللو ئی خوړل، چښل او خرڅول روا نه دی نرخ څید و مخکی که څه هم ده تللی دی او دربنوولی ئی دی لیکن د دغه تول او بنوولو هیڅ اعتبار نسته۔ (درمختار ص۲۵۵ څلورم ټوک)

(۱۵) مسئله:- د مرحکی، کلی، مړای او داسی نورو شیانو څخه علاوه نورچه هرځوند ی شیان دی د دی ترانیولو وروسته ترڅو چه قبضه نه پروکړی خرڅول ئی صحیح نه دی۔ شرح التنویر ص۲۵ څلرم پوک)

(۱۶) مسئله:- که ئی چیری بزه یا داسی بل شی رانیوی نو یو څو ورځو وروسته یو بل څوک راغلی او دی ویل چه دغه بزه خو زما ده یو چا هسی ټینګه کړیده او پرتا ئی څرخه کړیده دهغی نه ده نو که داخپله دعوه دیو مسلمان قاضی په حضور کښی یه دو شاهدانو سره ثابته کړی نو د حاکم او قاضی ترقضا وروسته بزه دی ته ورکول کیږی او د بزی قیمت د دی څخه بالکل نه اخستل کیږی بلکه هرد څت چه ئی خرڅونکی پیدا کړه نو دهغی څخه دی خپل قیمت واخلی او د دی څخه هیڅ نه سی اخستلای۔ (شرح التنویر ص۳۰ څلرم جلد)

(۱۷) مسئله:- یو چرګه، بزه، غوا یا بل شی مړ سو نو د دغه خرڅول حرام او باطل دی بلکه دغه مړ شی د بنګی، هندو - یا بل کافر ته د خورک دپاره ورکول هم روا نه دی۔ البته که دی بنګیانو یا نورو مردارخورو خلګو ته وویل چه دغه وغورځوی یولیری ځای ته ئی یوسی نو هغو یو وړ وئی خوړله نو پرتا هیڅ الزام اوګناه نسته او پوست ځندی کښل ترجوړ ولو او برابرولو وروسته د دغه پوست خرڅول یا پخپله استعمالول روادی لکه چه په اوله حصه کښی موږ بیان کړی دی هلته وګورئ۔ (فتاوی هندیه ص۱۰۸ و شرح البدایة ص۵۸ دریم پوک)

(۱۸) مسئله:- که یو چا دیو شی ټول او قیمت مقرر کړی او هغه خرڅونکی په دغه قیمت راضی هم وو نو په دغه وخت کښی چه بل څوک راسی او قیمت ئی لوړ مقرر کړی د څان دپاره ئی واخلی دا روا نه دی د اغه رنګه داسی ویناهم صحیح نه ده چه ته دغه شی د فلانی څخه مه اخله د اغسی شی زه تاته د هغه فلانی ترشی ارزانه درکوم۔ (شرح التنویر ص۲۰۴ څلرم پوک)

(۱۹) مسئله:- یو سوداګر تاته دیوی روپی څلور دانی امرت درکړی۔ یو بل څوک راغلی دیری چنی ئی ورسره دوه هلی دیوی روپی ئی پنځه دانی امرت څندی رانیول نو اوس تالره د دی څخه دیو بل امرت اخستلو اجازه نسته په زور اخستل ظلم او حرام دی د دی مړه چه دی هره فیصله کړیده او د هر څوداسو

چه دی فیصله کړیده بس دهغه قدر اختیار اوحق لری۔(شرح البدایه ص۳۲۴ دریم توک)

(۲۰) مسئله:۔ یوخوک یوشی خرڅوی لیکن پرتانی نه خرڅوی نو دغه شی په زور څنډی رانیول او قیمت ئی ورکول روانه دی ځکه چه هغه د خپل شی مالک دی که ئی خرڅوی اوکه ئی نه خرڅوی او چه پرهرچا ئی خرڅوی خوبنه ئی خپله ده پولیس اوعسکر اکثره په زور سره شی رانیسی داکار بالکل حرام اوناروا دی که د چا خاوند۔ پولیس۔ عسکر وی نو چه شی کور ته راوړی دادی پوښتنه څنډی وکړی چه دغه شی خودی په زور سره نه دی رانیولی چه معلوم سی اودائی استعمال نه کړی په داسی حال کښی چه هغه شی حرام وی۔(شرح البدایة ص۳۲۴ دریم جلد)

(۲۱) مسئله:۔ په یوه روپی دی یوسیر پتاټی رانیولی تر دغه ورڅخه دی دری(۳) څلور پتاټی نوری په زور سره واخستی دا روا نه دی۔ البته که هغه پخپله رضا یوڅه نوری درکړی نو د دغه اخستل روا دی دغه رنګه چه پر قیمت د شی موفیصله سره وکړله نو دشی تر اخستلو وروسته قیمت یوڅه کم ورکول روا نه دی لیکن که هغه په خپله خوښی سره یوڅه کم کړی نو بیا تر فیصله سوی قیمت کم ورکولای سی۔ (شرح البدایة ص۳۲۴ دریم توک)

(۲۲) مسئله:۔ دهرچا په کور کښی چه د شهدو (عسلو) گربینی (گرچنی) وی نو دغه کور والا د دغه مالکه ده د بل چا د پاره د دغه ماتول او اخستل روا نه دی اوکه د دی په کور کښی یو مرغۍ چیچی ورزیږی اوی نو د اد کور والا حق نه دی بلکه هرڅوک چه ئی ونیسی دهغه حق دی لیکن د مرغۍ چیچان نیول اوزهیرول روا نه دی.

(۹) باب پهگټه یاسر په سر سره دشی دخرڅولو بیان

(۱) مسئله:۔ یوشی موږ په یوه روپی رانیولی نو موږ د خپل شی اختیار لرو که ئی په یوه روپی خرڅود یا ئی په لس شل روپی باندی خرڅود هیڅ ګناه نه

لری لیکن که فیصله داسی وسوه چه هغه وویل چه پر روپی باندی یو پاؤ گټه واخله راباندی خرڅ ئی کړه تا وویل چه ښه دی په دغه صورت کښی دده څخه تریوه پاؤ پر روپی زیات اخستل روانه دی یا داسی فیصله وسوه چه هغه وویل چه په هرڅو چه دی اخستی (رانیولی) دی یو پاؤ گټه واخله په دی صورت کښی هم صحیح قیمت درته ویل واجب دی او تریوه پاؤ زیاته گټه اخستل روا نه ده داغه رنګه که تا درته وویل چه راسه دغه شی راڅخه واخله په هر څوندی قیمت چه ما رانیولی دی په هغه قیمت ئی تا ته درکوم هیڅ گټه نه درڅخه اخلم نو گټه اخستل څنګه روانه ده په هرڅو چه دی رانیولی دی په هغه قیمت به ئی خامخا درکوی۔ (هدایه ص۸۳ څلرم ټوک)

(۲) مسئله:۔ یوسوداګر داسی وکړه چه یو چا ته دی وویل چه یوه روپی پرلس روپی مثلاً گټه واخله دغه شی را باندی خرڅ کړه هغه وویل ښه دئ په دغوندی نفعه او گټه سره ما پر تا باندی خرڅ کړی یا تا درته وویل چه په هرڅو نه قیمت چه دی اخستی دی په هغه قیمت باندی ئی پر ما خرڅ کړه هغه وویل ښه دی ته هغه قیمت راکړه گټه هیڅ مه راکوه لیکن ده ترادسه دغه نه دی ویلی چه دغه شی ی په دوندی رانیولی دی۔ نو وګورئ که دد غه ځای څخه تر ولاړیدو مخکښی دخپل رانیول سوی شی قیمت روایي نو بیعه صحیح ده او که پر دغه ځای د دغه شی قیمت ونه وایي بلکه دا رنګه روایي چه ته ئی یوسه چه زه حساب و ګورم بیا د دغه شی قیمت درته وایم یا ئی بل څه وویل نو دغه بیعه فاسده ده۔ (شرح التنویر ص۲۳۸ څلرم ټوک ردالمحتار ص۲۲۰ څلرم ټوک)

(۳) مسئله:۔ تر رانیولو وروسته که معلومه سوه چه د خپلی څالاکی په سبب ئی قیمت غلط ویلی دی او گټه ئی تر وعدی زیاته اخستی ده۔ نو رانیوونکی ته د قیمت د کمولو اختیار نسته بلکه که ئی رانیول منظور وی نو هغه قیمت به ورکوی چه په هغه قیمت سره ئی پرخرڅ کړیدی۔ لیکن دا اختیار لری که ئی د دغه شی رانیول په خیال کښی نه وی نو بیرته ئی ورکولای سی چه خپل شی دی واخله۔ زما پیسی راکړه او که ئی د دغه اقرار او وعده کړی وه چه په رانیول سوی قیمت ئی درکوم نفعه او گټه نه درڅخه

اخلم لیکن خپل خریده او قیمت ئې زیات اوغلط ورته ویلی وو نو هرخوندی چه ئې زیات ورته ویلی وُ خرخونکی د دغه زیات قیمت حق نه لری - او رانیونکی اختیار لری چه فقط قیمت د دغه شی ورکړی کوم چه زیات ئې ورته ویلی وُ هغه ورنه کړی - (شرح البدایة ص۷۴)

④ مسئله :- که یوشی تاپه پوره اخستی وُ نو ترخو چه بل اخستونکی ته دامعلومه نه کړی چه دروره د دغه شی ماپه پوره اخستی دی ترهغو پوری د دغه شی په گټه یا سر په سر خرخول ناروا دی بلکه د دغه به ورمعلومه وی چه د دغه شی ماپه پوره رانیولی دی نو بیا ئې په گټه یا سر په سر خرخول روا دی البته که د رانیول سوی شی د قیمت هیڅ ذکر ونه کړی بیا چه ئې په هر خوندی خرخوی روا دی - (فتاوی هندیه ص۹۲ شرح التنویر ص۲۴۵ څلرم ټوک)

⑤ مسئله :- یو ټوکر اوجامه دی په روپی رانیوه بیا دی په یاؤ رنگ کړه یا دی پریوله یا دی په وگنده له نواوس ئې داسی بولو چه گویا پنځیر روپی او یوه پاؤ دی رانیولی دی نو د دغه سبب چه پاؤ بالا یوه روپی د دی قیمت و خلگو ته روا یی او د دغه قیمت څخه علاوه گټه خوندی واخلی روا دی مگر داسی به نه روا یی چه په پاؤ بالا یوه روپی ئې رانیولی ده بلکه داسی به روا یی چه په پاؤ بالا یوه روپی د دغه شی ماته پری وتلی دی چه د رواغ پکښی رانه سی. (شرح البدایة ص۵۳ دریم ټوک)

⑥ مسئله :- یوه بزه دی په څلور روپی رانیوه بیا دی یوه میاشت وساتله یوه روپی ئې په دغه میاشت کښی پرخورک ولاړه نواوس پنځه روپی د دی اصل قیمت ویل او گټه اخستل روا ده البته که دغی شیدی کولی نو خوندی شیدی چه ئې کړیدی هغه اندازه به خوندی کوی مثلاً که تړله میاشت ئې دنیمگی شیدی کړی وی نو د دی اصلی قیمت څلور اینمی روپی روایه - او داسی روایه چه په څلور نیمی روپی ماته لویدلی ده چونکه بنځوته د داسی مسئلو د پوهیدو ورته پیښیږی نو د دغه سبب موږ نورې مسئلې نه بیانوو - (فتاوی هندیه ص۹۱ څلرم ټوک)

باب (۱۰)

د سود بیان

د سود کولو پیره لویه ګناه ده په قرآن شریف او حدیث شریف کښی د سود پیر بد والی اودده څخه ډ ډ سخت تاکید راغلی دی حضور صلی الله علیه وآله وسلم فرمائیلی دی چه سود ورکونکی اخستونکی - دلال - او شاهدانو او لیکونکو د سود پر تولو دی لعنت وی او فرمائیلی ئی دی چه سود ورکونکی او اخستونکی دواړه په ګناه کښی سره برابر دی نو د دی سبب ه د سود څخه ځان ساتل په کار دی - د سود مسئلی ډیری باریکی دی په یوه ډیره کوچنی خبره کښی د سود ګناه لازمیږی او ناپوهانو او جاهلانو خلقو ته معلومه هم نه وی چه هو ښ څه ګناه وکړه - نو هو ښ دلته ضروری ضروری مسئلی بیانوو د څرڅولو او راښولو په وخت کښی همیشه د دی خبرو خیال وساته (تفسیر مدارک التنزیل ص۱۴۱ اول پوک مصری - و مشکوة شریف ص۲۴۴)

① مسئله: د هندوستان او پاکستان په رواج تول شیان څلور قسمه دی (۱) یو پخپله سره او سپین زر او د دوی څخه جوړ سوی شیان (۲) دوهم د دوی څخه علاوه نور هغه شیان چه په تول سره خرڅیږی - لکه دانی - غله او سپنه - ژر - پنبه - ترکاری او داسی نور - (۳) هغه شیان دی چه د ګز په حساب سره خرڅیږی لکه پوکر - (۴) هغه شیان دی چه په دانګی - سره خرڅیږی لکه آم هګۍ امرت، نارنګی - بزه، هنوا، آس او داسی نور د دی تولو حکم جلا جلا واوری:

د سرو او سپینو زرو او د دوی د شیانو بیان

① مسئله: د سرو او سپینو زرو ډیر صورتونه دی یو دا چه سپین زر په سپینو زرو او سره زر په سره زرو را نیسی مثلاً دیوی روپی چه د څه هم د سپینو زرو روپی د ه یا دیوی نیمکی چه د څه هم د سپینو زرو نیمکه ده - سپین زرئی را نیوله او په قیمت کښی ئی د څه روپی یا نیمکه ورکړه یا ئی په اشرفی سره سره زر را نیوله چه اشرفی هم د سرو زرو ده غرض داچه د دواړو طرفو څخه یو قسم شی دی په داسی وخت کښی د دی (۷) خبری واجب دی یو داچه د دواړو طرفو نو سپین زر یا د دواړو طرفو نو سره زر به سره برابر وی دوهم

داچه دد وی تر جلا کید و مخکی مخکی دد وارهٔ طرفونو څخه د سودا معامله پوره اوخته سی چه پور - څنډ پکښی پاته نه سی که دد غود وارهٔ وخبروڅخه ئی دیو خبری خلاف وکړی نو - سود - دی مثلاً دیوی روپی سپین زر تار انیوله نو په وزن کښی باید دیوی روپی سره برابر انیول سی که ئی تر یوه روپی لږ یا پیر رانیوله نو - سود - دی داغه رنگه که تار روپی ورکړه لیکن تراوسه ئی سپین زر نه دی درکړی د جلا کید وڅخه وروسته اویوګړی بعد ئی درکوی - یا داغه رنگه تاتراوسه روپی نه دی ورکړی سپین زر دی په پور څنډی رانیوله نو دا هم سود دی - (شرح التنویر ص ۲۷۶ د وهم پتوک زیلعی ص ۱۳۵ ج ۴)

(۲) مسئله - د وهم صورت ئی دادی چه د وارهٔ وطرفونو ته یو قسم شئ نه وی بلکه یوه طرف ته سپین زر او بل طرف ته سره زر وی نو دی حکم دادی چه د وزن برابر یدل ئی ضروری نه دی دیوی روپی چه هر څوندی سره زر واخلی روادی داغه رنگه دیوی اشرفی چه هر څوندی سپین زر واخلی روادی لیکن تر جلا کید و مخکی سودا او معامله ختمول په داسی طریقه چه پور پکښی پاته نه سی د لته هم واجب دی لکه چه اوس ئی بیان وسو - رد المحتار ص ۳۶۴ خلرم پتوک بحر الرائق)

(۳) مسئله - په بازار کښی د سپینو زرو قیمت ډیر لوړ دی یعنی د اتلسو (۱۸) انو - یوه روپی سپین زر کیږی د روپی یوه روپی سپین زر هیڅوک نه درکوی یاد سپینو زرو زیور (ګینه) ډیر بنه جوړ سوید ی اولس روپی د ده وزن دی مګر تر دوولس (۱۲) روپی ئی په کم نه درکوی نو د سود څخه د خلاصیدو

طریقه دا ده چه په روپی ئ مه اخله بلکه په پیسو ئ واخله او که ډیر اخلی
په اتیرو نیو ئ واخله یعنی د اتلسو (۱۸) انو د پیسو په عوض کښی یوه روپی سپین
زر واخله یا یو څه مانی یعنی تر یوه روپی کمی او یو څه پیسی ورکړه والی ئ
خله نو گناه نه لری لیکن یوه روپی نقده او د دوو (۲) انو پیسی ورکول په کار نه
دی چه ورکول سی حکه چه د دی څخه سود جوړیږی داغه رنگه که اته
روپی سپین زر په نه روپیو اخلی نو اوو (۷) روپی او د دوو (۲) روپیو پیسی ورکړه
اود اوو (۷) روپیو په عوض کښی اوو (۷) روپی سپین زر سوه باقی نور ټول سپین
زر د دغو پیسو په عوض کښی راغله او که د دوو (۲) روپیو پیسی نه ورکوی
نو کم از کم د اتلسو انو پیسی باید ضرور ورکړل سی - یعنی اوو (۷) روپی څورلسو
انو مانی او د اتلسو انو پیسی ورکړه نو د سپینو زرو په مقابله کښی د دوی په
برابر سپین زر راغله او هر څه چه ئ پاته سوه هغه ټول د پیسو په عوض کښی
راغله که اته روپی او دیرش روپی پیسی ورکوی نو د گناه څخه نه خلاصیږی -
حکه چه د اتو (۸) روپیو په عوض کښی باید اته روپی سپین زر وی بیا
نو دغه پیسی څرنگه دی نو د دغه سبب سود سو - غرض دا چه د دوندی
خبری همیشه خیال ساته چه هر څوندی سپین زر دی اخستی دی تر
هغه کم سپین زر ورکوه او نور ی پیسی ورکوه که دی پنځه روپی سپین
زر اخستی (رانیولی) وی نو پوره پنځه روپی مه ورکوه که لس روپی سپین
زر اخلی نو پوره لس روپی مه ورکوه تر لسو (۱۰) روپی کمی ورکړه نو دی پیسی
ورسره شاملی کړه نو بیا سود نه حُندی جوړیږی او دا هم یاد وساته
چه هیڅکله داسی سودا مه کوه چه د نو (۹) روپیو دوندی سپین زر راکړه
بلکه داسی وایه چه د اوو (۷) روپو او د دوو (۲) روپیو د پیسو په عوض کښی
دغه سپین زر راکړه او که دی داسی نه وویل نو بیا ته سود سو - بنه ئ
یاد وساته - (شرح التنویر ص۳۷ خلوم ټوک شرح البدایة ص۱۰۹ دریم ټوک د
فتاوی هندیه ص۳۳۱ وص۳۳۵ دریم جلد)

(۴) مسئله :- اوکه د واړه اخیستونکی اوخرڅونکی راضی سی نو یوه آسانه طریقه دادی چه په هرطرف کښی سپین زر په وزن کښی کم وی په هغه طرف کښی د پیسو شاملول په کار دی. (شرح البدایة ص۱۱۲ دریم ټوک وص۱۰۹ رد المحتار باب الصرف ص۳۷ زیلعی ص۱۴۳ څلرم ټوک)

(۵) مسئله :- یوه بله طریقه چه تر دغه مخکی ډیره آسانه ده هغه داچه د واړه خلګ څوندی چه غواړی نو روپی دی کښیږدی او څوندی چه غواړی سپین زر دی کښیږدی او د واړه دی یوه بوه پیسه چه د سپینو زرو نه ده وړسره ګډه کړی او داسی دی ووایی چه موږ د دغه سپین زر او دا پیسه د دی روپو او دی پیسی په عوض کښی اخلو نو د ټولو جنجالونو او حرامو څخه به خلاص سی. (شرح البدایه ص۱۰۹ وص۱۱۲ دریم ټوک - رد المحتار باب الصرف ص۳۷ زیلعی ص۱۴۳ څلرم ټوک)

(۶) مسئله :- که سپین زر د ارزانه وی د یوی روپی یوه نیمه روپی سپین زر وړکول کیږی په روپی د روپی د غسی سپینو زرو کښی ټ خپل تاوان وی نو د سود څخه د خلاصید وصورت ټ دادی چه په قیمت کښی به څه ناڅه پیسی ضرور ګډ وی چه د غه د سپینو زرو نه دی لږ تر لږه د دوه[۲] ځایه یا یوه دانه یا یوه پیسه هم صحیح ده مثلاً د لسو روپو سپین زر پنځلس روپی د غسی سپین زر کیږی او ته ټ دانیسی نوڅه روپی او دیوی روپی پیسی وړکړه چه سپین زر سه دی یا دد دوه[۲] انو پیسی وړکړه او نورې روپی او مانۍ وړکړه او داسی ټ بولو چه د روپو سره برابر سپین زر د روپو په عوض کښی سوه او نور ټول سپین زر د د غو پیسو په عوض او بدله کښی سوه په د غه طریقه کښی ګناه نسته او د هغی خبری هم دلته ضرور خیال وساته چه داسی مه وایه چه د د غو روپو سپین زر راکړه غرض داچه هرڅوندی پیسی شاملول غواړی نو د سود اکولو په وخت کښی د غه پیسی هم صافی صافی ووایه که ټ نه وایی نو د سود څخه خلاصیدل نه کیږی. (شرح البدایه ص۱۰۹ وص۱۱۲ دریم ټوک ورد المحتار ص۳۷ باب الصرف - زیلعی ص۱۴۳ څلرم ټوک)

(۷) مسئله :- کوټه او خراب سپین زر وړکوی او بنه سپین زر دانیسی - او بنه سپین زر د دی خرابو او کوټه سپین زرو سره برابر نه وړکوی نو دا رنګه

دی وکړی چه اول دی دغه خراب سپین زر خرڅ کړی په قیمت او پیسو سره دی
ښه زر رانیسی او په خرڅولو او رانیولو کښی دی هم دهغی قاعدی خیال و
ساتی چه مخکی بیان سوه یا دی دلته هم دا ده خلګ یوه یوه پیسه په خیلو
سپینو زرو ګډه کړی او سودا دی وکړی - (شرح البدایة ص۸۱ دریم ټوک. شرح
التنویر ص۳۶۱ څلرم ټوک)

(۸) مسئله:- بنګی اکثره دبازار څخه اصلی ګوټه، ټوپه، لچکه یا مچکه رانیسی
په دغو مسئلو کښی هم خاص دهغه مسئلو خیال وساته کوم چه ذکر سوی څکه چه دغه
هم د سپینو زرو دی اوردپی خو دی د سپینو زرو او دغه روپی د سپینو زرو
په عوض کښی درکول کیږی دلته هم اسانه او بی تکلیفه خبره هغه ده چه دواړو
طرفو څخه دی یوه یوه پیسه چه د سپینو زرو نه ده ورسره ګډه سی -
(فتاوی هندیه ص۲۳۲ وص۲۳۳ دریم ټوک)

(۹) مسئله:- که په د سپینو زرو یا سرو زرو یو جوړ سوی شی رانیوی چه هغه
خالص د سپینو زرو وی او بل شی ورسره ګډ سوی نه وی نو د دی هم دا غه
حکم دی که د سرو زرو شی په سپینو زرو یا روپیو اخلی یا د سپینو زرو شی
په اشرفیو اخلی نو په وزن کښی چه هر څوند ی دزق سره لری روا دی فقط
د دندی خیال دی وساتی چه په دغه وخت کښی سودا خته او پور ګه سی دیوه
پر دنه شی پاته نه سی او که د سپینو زرو شی په روپو او د سرو زرو شی په
اشرفیو اخلی نو په وزن کښی برابروالی واجب دی که یو طرف ته لږ والی یا د بیروالی
وی نو په هغه طریقه دی عمل وکړی چه مخکی بیان سوه - (فتاوی سراجیه
ص۱۰۸ مجمع الانهر ص۱۱۶ دوهم ټوک)

(۱۰) مسئله:- که یو شی داسی وی چه د سپینو زرو څخه ملاو وه بل شی هم
ورسره ګډ وی مثلاً د سپینو زرو په ګوتمیو کښی غمیان وی یا د بازو په زیور
کښی لاک وی یا په چارګل کښی غمی وی یا د بازو په زیور (بنګړی یا کړی) کښی
لاک نه وی په هغه تار کښی لاک وی چه دغه زیو په ګنډل سوی یا پیودل سوی
دی او دغه شیان په روپیو اخلی نو وګورئ چه په دغه شی کښی څوند ی سپین

زر دی په وزن کښی د د غو روپو سره چه ته ئی په رانیسی برابر دی یا تر دغه کم دی یا تر دغه زیات دی که د روپیو تر سپینو زرو د دغه شی سپین زر یقیناً کم وی نو دا معامله روا ده اوکه برابر یا زیات وی نو سود دی اود دی څخه خلاصیږی هم هغه طریقه ده کوم چه مخکی بیان سوه چه د سپینو زرو په روپو دی یو څه پیسی گډی کړی بیا دی هغه گینه په رانیسی او په د غه وخت کښی د سود ختمول چه د یوه پرذمه شی پاته نه سی په دغو ټولو مسئلو کښی هم شرط دی (واقعات المفتین ص۱۰۵)

(۱۱) مسئله:- خپله گوتمی د بلی بنځی د گوتمی سره بدلوی نو وگورئ چه که په دواړو گوتمیو کښی غمی وه بیانو په هرصورت کښی بدلول روا دی برابره خبره ده که د د واړو گوتمیو سپین زر سره برابر وی یا کم وی یا زیات وی ټول روا دی لیکن لاس په لاس سودا ضروری ده که د واړو گوتمی ساده وی یعنی بیله غمی وی نو برابروالی ئی ضروری دی که لږ کمی او زیادت پکښی وی نو سود دی که په یوه کښی غمی وی او په بله کښی غمی نه وی نو که په دغه بی غمیه ساده گوتمی کښی د پیر سپین زر وه نود غه بدلول روا دی. اوکه نه وی نو حرام او سود دی که په دغه وخت کښی سودا لاس په لاس نه وه یوی اوس خپله گوتمی ورکړه هغی بلی ورته وویل چه خوری زه خپله گوتمی یوگړی ورو سته درکوم نو هم سود څنډی جوړیږی. (خانیه ص۴۰۶ دوهم ټوک و فتاوی هندیه ص۲۳۱ دریم ټوک)

(۱۲) مسئله:- په کومو مسئلو کښی چه ځای پرځای لاس په لاس سودا ختمول شرط دی مطلب ئی دادی چه لا یو د بله څخه جلا سوی نه وی را کړه ورکړه ختمه کړی د د واړو طرفونو څخه که یو سړی د بل څخه جلا سو تر د غه ورو سته ئی سودا و معامله ختمه کړه د غه سودا معتبر نه نه ده په سود کښی داخله د ه مثلاً تاد لسو روپو سپین زر یا سره زر یاد سرو او سپینو زرو شیان د زرگر څخه رانیوله نو لازمه ده چه ته په د غه وخت کښی روپی ورکړی او هغه زرگر په د غه وخت کښی هغه شیان درکړی

اوکه زرگر د خپله ځانه سره نه وی راوړی او دا سی

دوا یی چه زه کورته ځم اوس ئی

درته راوړم یا ئی راليږم

دا روا نه دی بلکه پر زرګر باندی دا لازمه ده چه ځای پرځای ناست وی
او نرد ډبی را وغواړی او راښونکی دی هم ترهغه وخته چه زر ورسیدلی نه
وی د دغه ځایه څخه دی نه ښوری او زرګر دی هم دخپله ځانه
نه جلا کوی که زرګر وویل چه ته زما سره ولاړ سه چه کورته ورسیږم
نو به ئی درکړم نو دی چه هرځای ځی ته به خامخا ورسره ئی او که هغه
د ننه کورته ولاړی یا په بله طریقه د څخه جلا سو نو ګناه لری او دغه
سود دا نه ده بیرته به د سره سود اسره کوی - (عالمګیری ص۱۱۷ څلورم ټوک)

(۱۳) مسئله:- تر راښولو وروسته ته کورته د روپیو د پاره راغلی یا هغه
د بولو کولو د پاره د باندی ولاړی یا هغه دوکان ته د ننه ولاړی د یو کار د پاره
ستا اودده په منځ کښی څه جدایی او جلا والی راغلی نو د انا روا اود سود سود اسوه -
(عالمګیری ص۱۱۷ څلورم ټوک)

(۱۴) مسئله:- که ستا سره د غه وخت روپی نه وی او په پور ئی اخلی نو
تدبیر او طریقه ئی دا ده چه د هر څوندی روپیو زر اخلی هغه اندازه روپی
څندی قرض کړه او په دغه قرض سوو روپو زر او زیورات څندی واخله بس
دا سود اخته سوه او قرض ستا پرذمه پاته سو او هر وخت چه ستا زره و
غواړی بیا ئی درکړه - (درمختار ص۲۶۵ څلورم ټوک)

(۱۵) مسئله:- یو خولی (رخچینه) یا پور وتی یا داسی بل شی چه د زر و کار پکښی
سوی وی تا په لس روپی سود اوسره وکړه نو دګورکه چه په دغه کښی د څو
روپیو سپین زر دی نو د هر څوندی روپیو زر چه پکښی دی په هغه اندازه
روپی په دغه وخت کښی بیله جلا کیدو ورکول واجب دی نو ری روپی هر
وخت چه ورکوی د دی حکم د هغو ګیهو او زیورا تو دی چه یوازی زر نه وی
نور شیان هم په ګډه وی مثلاً د پنځو روپیو زیور دی راښوی په دغه زیور

۵۸۴

کښی د دوو روپو سپین زرګه دی نو دوی روپی په داغه وخت کښی ورکړه
نوری چه هر وخت ورکوی. (شرح التنویر و در المختار ص۳۶۶ څلرم ټوک)

(۱۶) مسئله:- دیوی روپی یا دپیرو روپو پیسی ئی رانیولی یا ئی پیسی ورکړی
روپی ئی رانیولی نو دی حکم دادی چه لاس په لاس سودا کول حساب خلاصول
پرده غه ځای په همد غه وخت ضروری نه دی بلکه د حساب خلاصول دیوه
طرف څخه کافی دی مثلاً تاروپی د غه وخت ورکړی لیکن ده پیسی لږ ګړی
وروسته درکړی یا ده پیسی داغه وخت درکړی تاروپی ترجلاکید بعد
(وروسته) ورکړی نو دا صحیح او روادی البته که د پیسو سره څه مانځ هم
وی نو بیا د دواړو طرفو څخه حساب خلاصول په دغه وخت کښی واجب
دی چه دغه روپی ورکړی او هغه بل مانځ ورکړی لیکن خیال ساته چه
د پیسو دغه حکم هغه وخت دی چه د دوکاندار سره پیسی موجودی
وی لیکن فی الحاله او اوس ئی دیو وجهی څخه نه سی درکولای یا کوږ وی
راوړل غواړی او که چیری پیسی ورسره موجودی نه وی داسی دوا پی
چه هر وخت سودا وسی پیسی راسی نو به ئی درکړم یا ئی یوځه پیسی اوس
درکړی او د نورو پیسو ئی داوویل چه هر وخت سودا وسی پیسی زمالاس ته راسی
درسره ئی کړم دارواڼه ده او چونکه اکثره د پیسو د نه موجود والی په وجه
داپورځی او پیښیږی نو ددی سببه مناسب دادی چه بالکل پیسی په پور
مه پریږده او که چیری ضرورت پیښ سی نو داسی وکړه چه هرځوندی پیسی
ورسره موجودی وی هغه په قرض ځندی واخله او خپلی روپی امانت ورسره
کښیږده او کله چه ټولی پیسی درکړی بیا سودا ورسره وکړه. (بحر الرائق
ص۱۳۲ شپږم ټوک وعالمګیری ص۱۲ څلرم ټوک شامی و در مختار ص۲۸۳ څلرم
ټوک در مختار ص۱۶۲ څلرم ټوک)

(۱۷) مسئله:- که ئی اشرفی ورکولی اوروپی ئی رانیولی نو دواړو طرفو څخه
سودا په دغه وخت کښی خلاصول او ختمول واجب ده. (هدایه ص۱۰۶ ج۳)

(۱۸) مسئله:- د سپینو زرو یا سرو زرو یوشی ئی په روپیو یا اشرفیو سره
رانیوی او داشرط ئی کښیښووی چه تر یوی ورځی یا دوه(۳) ورځو پوری ماته درانیولو او نه
رانیولو اختیار دی دارواڼه دی په داسی سودا کښی داسی اقرار او خبره کول

① مسئله :- اوس د هغه شیانو حکم واوړه چه په تول او تراز وسره خرڅیږي لکه دانې، غله، غوښې، اوسپنه، ژیړ، کوټ، مس، ترکاري، مالګه او داسې نور شیان دارنګه شیان که چیرې په دارنګه شیانو خرڅوی او بدلوی مثلاً غنم په غنمو خرڅوی یا شالی په شالیو خرڅوی یا داوړو په بدله کښې نور اوړه اخلی یا داغه رنګه یو بل شی درکوی په عوض کښې د دغه شی جنس رانیسی غرض چه دد واړه طرفونو څخه یو قسم یو جنس شی وی نو په دغه کښې هم د دغو دوو[۲] خبرو خیال ساتل واجب دی یو داچه د واړه طرفه الکل برابر وی یوه ذره هم یو له طرف ته لږ والی او ډیروالی نه وی اوکه وی سود ګنډی جوړیږي بل داچه په دغه وخت کښې لاس په لاس سودا وسی او قبضه وسی دد واړه طرفونو څخه په یوه وخت کښې اوکه چیرې قبضه نه وی بیانو یا نزلبر ه داسې ضرور وکړی چه دد واړه طرفونو غنم دی هریو جلا جلا کښیږدی او ریودی خپل غنم وهغه بل ته ورښکاره کړی دارنګه چه یو خپل غنم وتلی جلا کښیږدی وهغه بل ته ووایی چه ورته وګوره ما خپل غنم دادی اینبی دی ورڅخه چه ستا زره غواړی بیاځی یوسه داغه رنګه هغه بل هم خپل غنم تلی جلا کښیږدی ورته ووایی چه ستا غنم دغه دی جلا ځی اینبی دی هر څخه چه دی زره غواړی هغه وخت ځی یوسه که ځی چیرې دارنګه هم و نه په اوو بل څخه جلا سوه نو بیا سود ګنډی جوړیږي۔ (در مختار ص۲۷۶ څلرم ټوک هدایه ص۸۲ دریم ټوک شامی ص۲۷۶ وص۲۸۳ څلرم ټوک)

② مسئله :- خراب غنم درکوی بنه غنم رانیسی یا خراب اوړه درکوی بنه اوړه رانیسی نو دغه سببه ځی څوک برابر او یوشی نه درکوی نو د سود څخه د خلاصیدو د دغه طریقه دی چه د دغه غنم یا اوړه یا بل شی دی په بیسو سره خرڅ کړی مثلاً خراب ځی په روپۍ خرڅ کړه اوس د دغه روپۍ هغه بنه واخله دا روا ده۔ (فتاوی هندیه ص۱۳۳ دریم ټوک خانیه ص۴۰۴ د دهم ټوک۔ بحر الرائق ص۱۳۰ شپږم ټوک)

③ مسئله:- اوکه په داسی شیانو کښی چه په تول سره خرخیږی یو قسم شی نه وی مثلاً غنم ورکوی. شالی، اوربشی، غنود، جواری، مانگه، غوښی ترکاری یا بل شی رانیسی چه دلته یو شی دی او هلته بل شی دی. دواړو طرفونه یو شی نه دی نو په دی صورت کښی د وزن برابروالی ضروری نه دی دد دی دواړو په منځ کښی یو سیر غنم دی ورکړی برابره خبره ده که لس سیره اوربشی یا بل شی په اخلی یا یو پاو په اخلی پتول روا دی البته هغه دوهمه خبره دلته هم واجب ده چه د دواړو طرفونو څخه به سودا لاس په لاس بیله جلا کیدی وی یعنی پریوه دخت او یوه مجلس کښی به وی یا کم از کم دومره دی به وی چه دواړه شیان جلا جلا کښیږدی اوله دغه وخته کړی نو د سود گناه باندی لاړ میږی. (در مختار ص۲۷۷ دوهم ټوک خانیه ص۴۰۵ دوهم ټوک مجمع الانهر ص۸۵ دوهم ټوک)

④ مسئله:- دیوه سیر غنمو یا غنود و په عوض کښی ځ د سبزی فروش او سودا گر څخه یو څه ترکاری رانیول بیا نود غنمو یا غنود و دراوړلو د پاره کورته ولاړه او د دغه څایه څخه جلا سوه نو دا ناجائز او حرام دی بیرته دی د سره سودا سره وکړی. در مختار ص۲۷۷ دوهم ټوک خانیه ص۴۰۵ دوهم ټوک ومجمع الانهر ص۸۵ ج۲

⑤ مسئله:- که داسی شی وی چه په تول سره خرخیږی په روپیو، پیسو یا په ټوکرانو او بل داسی شی سره ځ بدلوله چه په تول سره نه خرخیږی مثلاً یو تان ټوکرځ ورکړی غنم یا بل شی ځ په رانیوی یا غنم یا غنود ځ ورکړه. امرت، نارنگی شفتالو یا هګۍ یا بل شی ځ رانیوی چه په دانګی خرخیږی غرض یوه طرف ته داسی شی دی ځ چه په دانګی یا گز سره خرخیږی او دوهم طرف ته داسی شی دی چه په تول سره خرخیږی په دغه صورت کښی د دغو دواړو خبرو څخه یوه خبره هم واجب نه ده دیوی روپی که هرڅوندی غنم، اوربشه او ترکاری اخلی دغه رنګه ټوکرځ ورکړی برابره خبره ده که هرڅوندی غله په اخلی غنم، غنود یا بل داسی شی ځ ورکړی برابره خبره ده که هرڅوندی امرت، نارنگی او بل داسی شی په اخلی نو د نو فرق نه لری که لاس په لاس په دغه وخت پر دغه څای بیله جلا کیدو سودا سره خلاصه کړی اوکه ځ تر جلا کیدو روسته سره خلاصه کړی هرقسم دغه معامله صحیح ده. (شبلی حاشیه زیلعی ص۸۸ څلرم ټوک)

(۶) مسئله :- یوه طرف ته غلیل سوی اوړه دی او بل طرف ته غلبیل (رغبیل) سوی نه دی یا یوه طرف ته خیږه اوړه دی او بل طرف ته میده اوړه دی نو د بدلید په وخت کښی د دی دواړو برابر والی واجب دی کمبوت او زیاتوب روانه دی که چیری ضرورت پیښ سی نو دد ی هم هغه طریقه ده چه مور بیان کړه اوکه یوه طرف ته د غنمو اوړه وی او بل طرف ته د خو د و اوړه وی یادجورو یا بل شی اوړه وی نو اوس په وزن کښی دد واړو برابر والی واجب نه دی مگر هغه د وهم خیږه په هرحال کښی واجب ده چه سود ا به لاس په لاس وی - (رد المحتار ص ۲۸۹ څلرم ټوک هدایه ص ۸۴)

(۷) مسئله :- غنم د غنمو په اوړو بدلول هیڅ قسم روانه دی برابره خیږه یا که یو سیر غنم ورکړی یو سیر اوړه څندی واخلی یا کم یا زیات په هرحال کښی نا روادی البته که غنم ورکړی د غنمو اوړه په وانه خلی بلکه د خو د و یا بل شی اوړه په پولنځ روادی مگر سود ا به لاس په لاس وی - (شرح التنویر و رد المحتار ص ۲۸۹ ج ۴)

(۸) مسئله :- شړشم ئی ورکړه د شړشمو تیل ئی رانیول یا ئی کنجتی ورکړی د کنجتو تیل ئی رانیول نو اوس وګورئ که چیری د غه تیل چه تا رانیولی دی یقینی نژدغو تیلو زیات دی چه د د غه شړشمو اوکنجتو څخه وزی نو د غه سود ا لاس په لاس صحیح ده اوکه د د غو سره برابر یا کم وه یا شکمن وه چه کیدای سی نژدغه به زیات نه وی نو دا روانه دی بلکه سود دی - (هدایه ص ۸۶ دریم ټوک)

(۹) مسئله :- د[له] غوا غوښی ئی ورکړی د بزی غوښی ئی رانیولی نو د د واړو - برابروالی واجب نه دی - زیادت او کمبوت روادی مگر سود ا به لاس په لاس وی - (هدایه در مختار شامی ص ۲۸۷ څلرم ټوک)

(۱۰) مسئله :- خپله بدنه ئی ورکړه د بل چا بدنی ئی په رانیوله یا ئی دیگ په رانیوی یا په بل داسی لوښی ئی بدله کړه نو په وزن کښی برابر والی او سود ا لاس په لاس کول واجب دی که لږ غوندی کمی یا زیادت وی نو بیا سود دی څکه چه د واړه شیان د ژړو دی نو د دی سببه د غه د واړه د یوه قسم بلل کیږی د اغه رنګه که په وزن کښی برابر وه لیکن لاس په لاس سود انه وسوه بیا هم

[له] که د غوا په غوښو سره د ګامیښی غوښی رانیسی یا د بزی په غوښو سره د پسه غوښی رانیسی نو بیا برابر والی شرط دی زیادت او کمبوت روانه دی ۱۲ شبیر علی

سود دی البته که یوه طرف ته د ژړو لوبنی وی او بل طرف ته د اوسپنی یا روپی یا بل دامی شی لوبنی وی نو په وزن کښی ئی برابری شرط نه دی کموالی اوزیاتوالی روادی مگر سود دا به لاس په لاس وی (شامی ص۲۸۰ څلورم توک)

(۱۱) مسئله:- دیو چا څخه دی یو سیر غنم په قرض واخستله او داسی دی ورته وویل چه زما سره خو غنم نشته زه ددی په عوض کښی بیا د وه سیره نخود درکوم نودا روانه دی ځکه ددی مطلب خو داسو چه غنم په نخود و بدلوی او دبدلید و په وخت کښی د دارنګه دواړه شیانو په داغه وخت کښی خلاصول په کار دی هیڅ پور باید پکښی پاته نه سی که یو وخت داسی ضرورت پیښ سی نودامی وکړه چه غنم په قرض واخله په دغه وخت کښی دامه وایه چه په عوض کښی ئی زه بیا نخود درکوم بلکه بل وخت نخود راوړه ورته ووایه چه خوړه د هغو غفو په بدله کښی دغه نخود واخله دا روادی. (در مختار و شامی ص۲۷۷)

(۱۲) مسئله:- هرڅوندی مسئلی چه بیان سوی په دغه ټولو کښی سودا لاس په لاس په کار دی یا کم از کم په دغه وخت کښی دی دغه شیان دواړه په مخ کښی جلا کړی او کښیدی بیدی او که ئی داسی ونه کړه نود سود سودا - څنډی جوړیږی. (شرح التنویر و رد المحتار ص۲۵۳ څلورم توک)

(۱۳) مسئله:- هرهغه شی چه په تول (ترازو) نه خرڅیږی بلکه په ګزه یا دانګی سره خرڅیږی ددی حکم دادی که دیوه قسم شی درکوی د داغه قسم شی په اخلی مثلاً امرت درکوی امرت په اخلی یا نارنګی درکوی نارنګی په اخلی یا توکر درکوی توکر په اخلی نو برابروالی شرط نه دی کمبوت او زیادت روادی لیکن په دغه وخت کښی سودا خلاصول په کار دی او واجب دی که دلته یو شی وی هغه بل طرف ته بل شی وی مثلاً امرت درکوی نارنګی په اخلی یا غنم درکوی امرت

په رانیسی یا تیټرون (تانرون) ورکوی مکس یا لټه یا سان په رانیسی نو په هرحال کښی دغه سودا روادی نه ده دواړه طرفه څخه برابروالی واجب دی او نه سود لاس په لاس کول واجب دی۔ (در مختار و شامی ص۲۷۷ فتاوی هندیه ص۱۳۳ دریم ټوک)

(۱۴) مسئله:- دټولو حاصل داسو چه د سپینو او سرو زرو څخه علاوه که د دواړو څخه یو جنس او یو شی وی او هغه شی په تول خرخیږی مثلاً د غنمو په عوض غنم د نخود و په عوض نخود یا داسی نور شیان نو په وزن کښی برابروالی واجب دی او سود لاس په لاس کول هم واجب دی که اوکه د دواړو طرفو نو ته یو جنس شی وی لیکن په تول سره نه خرخیږی مثلاً امرت[۱] په امرتو، نارنګۍ په نارنګیو ټوکر د خپل جنس په ټوکر رانیسی یا دیوه طرف څخه یو شی دی او د بل طرف څخه بل شی دی لیکن دواړه په تول سره خرخیږی مثلاً د غنمو په عوض کښی نخود او د نخود د په عوض کښی جوارې رانیول په دی دواړو صورتونو کښی په وزن کی برابری واجب نه ده کمبوت او زیادت روادی البته لاس په لاس سود اکول واجب دی او ضروری ده او هر هغه څای چه دواړې خبری نه وی یعنی دواړو طرفو ته یو شی نه وی یوه طرف ته یو شی وی بل طرف ته بل شی وی او هغه دواړه د تول او وزن په حساب هم نه خرخیږی هلته کمبوت او زیادت هم روادی او لاس په لاس سود اکول هم واجب نه ده مثلاً امرت ورکوی نارنګۍ رانیسی. بنه څان په پوه کړه۔ (شرح التنویر و رد المحتار ص۲۵۳ څلرم ټوک)

(۱۵) مسئله:- یو چینی لوښی په بل چینی لوښی بدلوی یا چینی لوښی په تام چینی لوښی بدلوی په دغه کښی برابری واجب نه ده دیوه په بدله کښی دی دوه واخلی بیا هم روادی داغه رنګه یوه ستن ټی ورکړه په بدله کښی ټی دوی[۲] دری[۳] یا څلور اخستل روادی لیکن که دواړه طرفه چینی لوښی یا تام چینی لوښی د نو لاس په لاس سود اکول واجب ده اوکه ټی قسم یا دول بدل سی مثلاً په چینی سره تام چینی لوښی اخلی نو لاس په لاس سود اکول هم واجب نه ده۔ (در مختار ص۲۸۰ څلرم ټوک رد المحتار ص۲۸۰ څلرم ټوک)

(۱۶) مسئله:- تاته خپل همسایه راغلی در ته وټی ویل چه تا چه یو سیر اوره یا خه

کړیدی د دغه د ودی مانه راکړه زما کور ته میلمانه راغلی دی او دغه یوسیر یا یاؤ بالاسیر غنم یا اوړه واخله یا اوس د ودی راکړه بیا زما څخه اوړه یا غنم واخله دا روادی - فتاوی هندیه ص۱۳۴ دریم توک ظهیریه)

(۱۷) مسئله:- که د مزدور څخه یوشی راغواړی نو هغه ښه پوه کړه چه داشی داسی را نیسه دا می نه وی چه هغه بې قاعدی را نیسی چه په هغه کښی سود را می چه په هغه کښی سود را می بیا نو ته او ستا ټول اولاد د غه شی وخوړی - او د حرامو خوړلو په عذاب کښی ټول اخته سی او هر چا ته چه د غه شی ورکړی مثلاً خپل خاوند، میلمه نه د دوی ټولو گناه پرتاراځی - (فتاوی هندیه ص۲۴۱ ردالمحتار ص۳۲ اول توک)

(۱۱) د بیع سلم بیان

باب

(۱) مسئله:- د فصل تر ریبلو مخکی یا ورسته دی چا ته لس روپی ورکړی او داسی دی ورته وویل چه د دوی (۲) یا د درې (۳) میاشتی ورسته په فلانی میاشت په فلانی تاریخ زه ستا څخه د دغه لسو روپو غنم اخلم او نرخ مود غه اوس وخت معلوم کړی چه د روپی پنځلس سیره غنم در څخه اخلم نو داسی بیعه روا ده کومی میاشتی چه وعده کوی په د غه میاشت کښی به په د غه مقرر سوی قیمت غنم درکوی که په بازار کی ارزانه خرڅیږی او که گران خرڅیږی د بازار د نرخ هیڅ اعتبار نسته او دې بیعی ته بیع سَلَم وایی لیکن د بیع سلم د روا والی څو شرطونه دی ښه ځان په پوهه کړه - (فتاوی هندیه ص۱۹۳ دریم توک)

اول شرط:- دادی چه د غنمو یا بل شی کیفیت به صاف صاف وایی دا رنګه چه د د وارو په منځ کښی د اختو په وخت کښی جګړه واقع نه سی مثلاً دادی ورته ووایی چه فلانی غنم به را کوی چه ډیر نری نه وی مرض ئی نه وی کړی یخ نه وی وهلی ښه غنم وی خراب نه وی او په دې غنمو بل شی څوک، مټر لوبیا ګډه نه وی ښه وچ وی لاندې نه وی غرض هر قسم غنم او شی چه اخلی پرهغه طریقه ئی باید ورته بیان کړی چه بیا جنجال نه وی که اوس صرف د ونده ی ورته ووایی چه د لسو (۱۰) روپو غنم راکړه نو دا روا نه دی یا داسی ورته ووایی چه د د غه لسو (۱۰) روپو شالی راکړه یا ورېجی راکړه د د وی کیفیت او قسم ئی هیڅ ورته بیان نه کړی دا ټول نا روادی - (فتاوی هندیه ص۱۹۳ ج ۳)

دروهم شرط دادی چه نرخ به هم دغه وخت معلوموی چه د روپی به پنځلس یاشل سیره راکوی که ئی ورته ووایل چه هغه وخت هرڅه نرخ په بازار کښی وی په هغه نرخ به ئی راکوی یا به تر دغه دوه سیره زیات راکوی دا روا نه دی۔ د بازار د نرخ هیڅ اعتبار نسته په دغه وخت کښی دشی نرخ مقرر او معلوم کړه او چه وخت راسی په هغه مقرر سوی نرخ ئی ځندی رانیسه۔ (فتاوی هندیه ص۱۹۳ د ریم توک)

دریم شرط دادی چه د هرڅوندی روپیو دا رانیسی په دغه وخت کښی دی دغه روپه ذکر کړی چه زه د لسو (۱۰) یا شلو روپو غنم رانیسم او که ئی دا رنګه ورته ونه ویل او داغسی ګډوډ ئی وویل چه دیوڅه روپیو دا زه هم اخلم نو دا صحیح نه دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۹۳ د ریم توک)

خلرم شرط دادی چه پرداغه ځای بیله جلا کید و به تولی روپی ورکوی او د داغه ځایه به نه ولاړیږی او په داغه وخت به ئی ورکوی که ترسودا کولو وروسته سړه جلا سوه بیا ئی روپی ورکړی نو دا بیعه او معامله باطله سوه نو بیرته دی د سړه سودا سړه وکړی داغه رنګه که ئی پنځه روپی اوس ورکړی او پنځه روپی ئی بل وخت ورکړی نو د پنځو روپو بیع سلم وسوه او د پنځو روپو دا باطله سوه۔ (فتاوی هندیه ص۱۹۳ د ریم توک)

پنځم شرط دادی چه د رابنولو مدت به لږ تر لږه یوه میاشت مقرر وی چه تر یوی میاشتی وروسته په فلانی تاریخ زه غنم درڅخه اخلم تر یوه میاشت کمه مدت مقرول صحیح نه دی او دیره چه هرڅوندی مقرروی روا ده لیکن وخت تاریخ میاشت دی ټول مقرر کړی چه جنګ او جګړه واقع نه سی چه یو ورته وایی چه اوس ئی زه نه درکوم او هغه بل ورته ووایی نه اوس اوس به ئی راکوی نو دغه سبب اول دی لاهرشی معلوم کړی که ئی وخت تاریخ او میاشت معلومه نه کړه بلکه داسی ئی وویل چه هر وخت فصل وریبل سی بیا ئی راکړه دا صحیح نه دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۹۳ د ریم توک)

شپږم شرط دادی چه دا هم معلومه کړی چه فلانی ځای د غه غنم راکړه یعنی په دغه بنار کښی یا په فلانی بنار کښی هر ځای چه ئی ځندی اخلی د هغه ځای ته دی دغنمو د رسولو ورته ووایی یا دی داسی ورته ووایی

چه زما کور ته ئې راوړ سوه غرض دا چه پرهر څای ئې څندی غواړی هغه څای دی صاف صاف ورته بیان کړی که ئې دغه نه ورته وویل نو صحیح نه دی البته که یو سپک شی وی چه دهغه په وړلو اوړلو کښی مزدوری نه لګیږی مثلاً مشک ئې رانیولے یا ئې ملغلری رانیولی یا بل داسی شی نو داخسته د څای ښوول ئې ضروری نه دی هرځای چه وی هلته دی ئې ورکړی که ئې دد عوشرط ونو سوه برابره بیعه وکړه نو بیع سلم صحیح سوه اوکه ئې نه وکړه نو بیع سلم صحیح نه ده. (فتاوی هندیه ص۲۹۵ دوهم توک و بحر ص۱۶۳ شپږم توک)

(۲) مسئله:- دغلی غنمو او داسی نورو شیانو څخه علاوه نورچه داسی شیان وی چه دهغو حال او قسم بیان کړی په داسی شان چه بنه معلوم سی چه داخستو په وخت کښی د جګړی بیره نه وی دد عو شیانو بیع سلم هم روا ده- لکه مالګه، هګۍ، خښتی، توکر- مګر توکی خبری دی معلومی کړی چه دوندۍ لوی خښتی به وی دوندۍ اوږدی به وی دوندی پراخی به وی توکر به د دریو یا پنبه وی دوندی به نرم وی دوندی به پنډ وی یا به په خپل لاس جوړ سوی وی یا به دکارخانی وی غرض دا چه توکی خبری باید معلومی سی چه جنجال پکښی پاته نه سی- (شرح البدایه ص۱۰۲ دریم توک)

(۳) مسئله:- د روپی ئې پنځه پټی یا پنځه کاکښی پرورانیوی په بیع سلم سره- نو دا صحیح نه دی ځکه چه د پټو او کاکښو په اندازه او مقدار کښی ډیر فرق ستة البته که په یو طریقه سره هرڅه معلوم او فیصله کړی یا د وزن په حساب سره بیع سلم وکړی بیا روا دی- (درمختار ص۳۱۷ څلرم توک هدایه ص۹۴-۹۵ دریم توک) باب السلم)

(۴) مسئله:- د بیع سلم د صحیح کیدو د پاره دا هم شرط دی چه کوم وخت معامله وسی د دی وخته څخه بیا د وصول کیدو تر وخته پورې به دغه شی په بازار و نو کښی پیدا کیدای سی ورک به نه وی که په دغه مابین کښی دغه شی بالکل ورک سی د دغه ملک په بازارونو کښی بالکل نه پیدا کیږی که څه هم د بل څای څخه په ډیر تکلیف سره راغونښتل کیدای سی نو دغه بیع سلم باطله سوه- (فتاوی هندیه ص۹۵ دریم توک)

(۵) مسئله:- د معاملی او بیع کولو په وخت کښی ئې داسی شرط ونکاوی چه د فصل تر ریبلو وروسته په فلانی میاشت کښی زه نوی غنم در څخه غواړم یا د

فلانی محکی غنم عوارم داشرط صحیح نه دی دد ی سببه داسی شرط نگول په کار نه دی نو په هغه معلوم وخت وهغه بل ته اختیار دی که نوی غنم ورکوی او که نزاره غنم ورکوی البته که نوی غنم ریبل سوی وی نو د نود غنمو شرط نگول هم صحیح دی - (در مختار ص۳۱۹ څلرم پتوک)

(۶) مسئله:- د لسو روپو د غنمو اخستو معامله دی کړی وه هغه مده او زمانه تیره سوه بلکه تر هغه نزیاته تیره سوه مگر ده لاتر اوسه غنم نه دی ورکړی اونه ئی د ورکولو امید سته نو اوس داورته ویل روا نه دی چه بنه دی ته غنم مه راکوه بلکه د دی غنمو په عوض کښی داغه اندازه اوربشی یا په دغه مقدار جواری راکړه یا په دغه اندازه فلانی شی راکړه د غنمو په عوض دبل شی اخستل روا نه دی یاده ته یو څه مهلت ورکړه او تر مهلت بعد (وروسته) غنم څندی واخله یا خپلی روپی بیرته څندی واخله - داغه رنگه که بیع سلم تاسو دواړو ماته کړه چه موږ دغه معامله ماتوو غنم نه اخلم روپی بیرته راکړه یا تاسی ماته نه کړه بلکه هغه معامله پخپله ماته سوه مثلاً هغه شی نایاب او نیستی سو هیڅ ځای نه پیدا کیږی نو په دغه صورت کښی تاته د روپیو اخستو اختیار دی دبل شی داخیستو اختیار نسته د دغه روپیو په عوض کښی د ده څخه بل شی اخستل روا نه دی اول روپی څندی واخله تر اخستو وروسته چه هرشی غواړی په دغه روپو سره ئی څندی واخله - (عالمگیری ص۱۰۳ د بیم پتوک در مختار ص۲۲۳ څلرم پتوک)

(۱۲) د قرض اخستو بیان — باب

(۱) مسئله:- هرهغه شی چه داسی وی چه ته د هغه شی په شان شی ورکولای سی د هغه شی قرض اخستل روا دی - لکه غله، هگۍ، غوښی او داسی نور - او هرشی چه داسی وی چه د ده په شان شی ورکول سخت او گران وی د هغه شی قرض اخستل روا نه دی لکه امرټ، نارنگۍ، بزه، چرگ او داسی نور - (در مختار ص۲۶۵ څلرم پتوک)

(۲) مسئله:- په هغه زمانه کښی چه د روپی لس سیره غنم کیدل په دغه زمانه کښی تا پنځه سیره غنم رانیول په قرض باندی - بیا نو غنم ارزانه سوه او د

روپی شل سیره کیدل نه به هغه پنځه سیره غنم ورکوی دا غه رنګه که ګران سوه بیا هم هرځوندی چه دی اخستی دی هغه اندازه غنم به ورکوی.
(در مختار صـ۲۶۶ خلرم ټوک)

④ مسئله:- څرنګه غنم چه تاورکړی وه ده نرخ هغه غنمو ښه غنم در کړه نو ددی اخستل روادی سود نه دی مګر د قرض اخستلو په وخت کښی داخبره روانه ده چه زه ترد غو غنمو ښه غنم در څخه غواړم البته په وزن کښی به زیات نه وی که تاتر ورکړه سوو غنمو زیات څندی واخستل نو دا روا نه ده ښه سم سم ئی باید څندی تول کړی لیکن که ئی یو څه دروند تول درکړی هیڅ پروا نه لری. (در مختار وشامی صـ۲۷ خلرم ټوک)

④ مسئله:- دیو چا څخه دی څه روپی یا څه غله په دی وعده سره قرض کړه چه نریوی میاشتی وروسته یا نر پنځلس ورځی وروسته ئی درکوم او هغه هم داخبره در سره ومنل بیا هم دمدی بیا نول لغوه او بی فائده دی. بلکه ناروا دی که ده ته ترد غه مقرری مدی مخکی ضرورت پیښ سو در څخه وئی غوښتی یا ئی بیله ضرورته در څخه و غوښتی نو ته به ئی سمدستی ورکوی (هدایه صـ۲ دریم ټوک)

⑤ مسئله:- تا دوه سیره غنم یا اوړه یا بل شی په قرض راینولی وو چه در څخه وائی غوښتی تاورته وویل چه اوس خو زما سره غنم نشته د د غه په عوض کی دوی روپی واخله هغه وویل چه ښه دی نو د غه روپی به پرد غه ځای په داغه وخت کښی بیله دی چه د د ه څخه جلا سی ورکوی که د پیسو د پاره کورته ولاړی د د ه څخه جلا سوی نو دا معامله باطله سوه نو بیرته دا وینا په کار ده چه داسی به ورته وائی چه د دی قرض په بدله کښی د غه دوی روپی واخله. (شامی صـ۲۶۹ خلرم ټوک)

⑥ مسئله:- دیوی روپی پیسی دی قرض واخستی بیا پیسی ګرانی سوی د روپی پنځلس نیمی انی چلید لی نو اوس شپارس انی ورکول واجب نه دی بلکه په بدل کښی ئی روپی ورکول په کار ده هغه داسی نه سی ویلای چه زه روپی نه اخلم چه پیسی دی

حسی دی پیسی راوړه ۔ (در مختار ص۲۶۶ خلرم ټوک)

(۷) مسئله :- په کور وکښی رواج دی چه د ضرورت په وخت کښی پنځه یا لس
ډوډی دبل کور څخه راغواړی بیا چه ئی په خپل کور کښی ډوډی پخه سی نو
هغه ډوډی ورلیږی دا روا دی ۔ (در مختار ص۲۶۶ خلرم ټوک)

(۱۳) دیوچا د ذمه واری اوضمانت کولو بیان — باب

(۱) مسئله :- د نعیمی (چه یو ډه بنځه ده) پر ذمه د یو چا څه روپی یا پیسی
دی تاد دی ضمانت وکړی په داسی شان چه که دی در نه کړی نو زما څخه
ئی واخله یادی داسی ووایی چه زه د دی ذمه وار یم قرض ئی زه درکوم - یا
دی بل داسی لفظ ووایه چه د هغه څخه ذمه واری معلومیږی او هغه
حقدار ستا ذمه واری قبوله هم کړه نو اوس د دی روپیو ادا کول ستا پر ذمه
واجب سوه که ئی نعیمه ور نه کړی ته به ئی ورکوی او هغه حقدار اختیار
لری د هرچا څخه چه ئی غواړی څنډی د دی غواړی که ئی ستا څخه
غواړی که ئی د نعیمی څخه غواړی ترڅو چه نعیمه خپل قرض ادا نه کړی
یا ئی حقدار ور معاف نه کړی تر هغه وخته پورې ته ضمه وار ئی - البته
که هغه حقدار ستا ذمه واری اوضمانت معاف کړی او ووایی چه زما ستا سره
هیڅ کار نسته ستا څخه ئی نه غواړم نو ستا ذمه واری اوضمانت ختم سو
اویا ستا ضمانت کول په هغه وخت د ضمانت کولو کښی حقدار قبول نه کړی او وی
ویل چه ستا ضمانت کول ما ته هیڅ اعتبار نه لری یا ئی بل څه وویل نو بیا
ته ذمه وار نه ئی ۔ (هدایه ص۱۱۷ در یم ټوک و در مختار و هدایه ص۱۱۶ ج۳)

(۲) مسئله :- تا د یو چا ضمانت کړی وُ او د ده سره روپی نه وی نو له همدی
سببه تا ور کړی که تا د دغه قرضدار په ویناسره ضمانت کړی وُ نو هر څوندی
چه تا حقدار ته ور کړی دی د دغه قرضدار څخه ئی استلای سی او که
تا په خپله خوښی سره ضمانت کړی وی نو وګوره چه ستا ضمانت اول چا قبول
کړی دی دغه قرضدار قبول کړی دی یا حقدار قبول کړی دی که اول قرضدار
قبول کړی وی نو داسی ګڼو چه تا د قرضدار په ویناسره ضمانت کړیدی نو
خپلی روپی د ده څخه استلای سی او که اول حقدار قبول کړی وی نو

هرڅه چه تاسو کړیدی د قرضدار څخه د اخستلو حق نلری بلکه د استاد طرفه دده سره یو احسان سوچه تاسو غسی دده قرض ادا کړی اوکه ئی قرضدار د ځانه درکړی نو دا بله خبره ده. (شرح البدایة ص۱۱۹ دریم توک)

(۳) مسئله:- که قرضدار ته حقدار یوه میاشت یا پنځلس ورځی یا دیو بل وخت مهلت درکړی نو دغوندی ورځی دده ضمانت کونکی څخه طلب نه سی کولای. (شرح البدایة ص۱۱۹ دریم توک)

(۴) مسئله:- اوکه تاسو خپله طرفه دوه کسو ته ضمانت نه وی کړی بلکه د داغه قرضدار روپی ستاسو امانت پرتی وی نو له دی سببه تاسو یلی وه چه زما سره د دی سړی امانت روپی پرتی دی زه ئی دده دپیسو څخه درکوم بیا هغه روپی غلا سوی یا په یوبله طریقه ولاړی نو ستاضمانت ختم سو نه پرتا دده روپیو درکول واجب دی او نه ئی حقدار طلب در څخه کولای سی. رد المحتار ص۴۱۵ څلرم توک)

(۵) مسئله:- ته یو ځای ته تلی نو د ځان د رسولو د پاره دی تانګه (بګی) یا د غویو ګاډی یا د اتسن یا ټکسی کرایه کړی او د دغه ټکسی والا یو بل چا ضمانت وکړی چه که ده ونه رسولی زه دی په خپل ټکسی کښی هغه ځای ته رسوم نو دا ضمانت صحیح دی که چیری هغه ونه رساوی نو دغه ضمانت کونکی به ئی په خپل ټکسی کښی رسوی. (شرح البدایة ص۱۲۱ ج۳)

(۶) مسئله:- تاسو چا ته خپل څه شی درکړی چه د اشی یوسه خرڅ ئی کړه هغه خرڅ کړی لیکن پیسی ئی را نه ورکړی او ئی ویل چه پیسی ئی هیڅیری نه ځی دپیسو ئی زه ذمه وار یم که ئی هغه در نه کړی زما څخه ئی واخله نو داسی ضمانت او ذمه واری صحیح نه ده. (در مختار ص۴۱۹ ج۴)

(۷) مسئله:- که یو چا د خپل بچه خپله پرګه دلته وتړه که پشی یو وړه زه ئی ذمه وار یم زما څخه ئی واخله یا ئی ووایل که دغه بزه لیوه یو وړه زما څخه ئی واخله د اضمانت او ذمه واری صحیح نه ده. (در مختار و شامی ص۴۱۳ څلرم توک عالمګیری ص۱۴۶ څلرم توک)

(۸) مسئله:- نابالغ هلک یا انجیلی که د چا ضمانت وکړی د اضمانت ئی صحیح نه دی. (در مختار ص۳۹ څلرم توک)

باب (۱۴) دهغه بیان چه خپل قرض دبل پرغاړه وړواړوی

(۱) مسئله:- د شفیعی ستاپر ذمه څه قرضه ده او رابعه ستاقرضدار ده. شفیعی ستاځخه د خپل قرض طلب وکړی تاورته وویل چه رابعه زما قرضدار ده ته خپله قرضه دهغی څخه واخله زما څخه ئې مه غواړه نوکه په دی وخت کښی دغه خبره شفیعه ومنی او رابعه هم په دغه خبره راضی سی نو د شفیعی قرضه ستاد ذمی څخه لیږی سوه اوس نو شفیعه بالکل ستاځخه طلب نه سی کولای. بلکه دهغی رابعی څخه دی وغواړی برابره خبره ده که هر څخه ورورسیږی اوخوندی چه د شفیعی قرضه ده نو هغه اندازه ئې د رابعی څخه نه سی اخستلای البته که دی رابعه تر هغه قرضه چه پرتاد شفیعی ده ډیره قرضداره دی نو هرڅه چه زیاته ده هغه څنډی اخستلای سی. بیا که رابعی وشفیعی ته ورکړه خو خیردی اوکه ئې ته ورکړه او رابعه مړه سوه نو هرڅه مال او سامان چه ئې پری ایښی دی هغه دی خرڅ کړی. اود شفیعی قرضه دی څنډی ورکړی که دی هیڅ مال نه وو پریږ ایښی چه د هغه څخه قرضه ورکړی یا په خپل ژوند کښی منکره سوه او قسم ئې وکړی چه ستا د قرضی سره زما هیڅ کار نسته او هیڅ شاهد هم نه وو نو اوس په دی صورت کښی شفیعه بیرته ستاځخه طلب کولای سی او خپله قرضه ستاځخه اخستلای سی اوکه ستاپه وینا سره شفیعه د رابعی څخه اخستل و نه منی یا رابعه ودی ته په ورکولو راضی نه سی نو قرضه ستاد غاړی څخه نه ده اوښتی. (هدایه صـ۱۳ دریم توک)

(۲) مسئله:- رابعه ستاقرضدار ه نه وه تاد غسی خپله قرضه ددی پر ذمه کړه او رابعی هم ومنله. او شفیعی هم قبوله کړه نو بیا هم د شفیعی د قرضی څخه ستاذمه خلاصه سوه د رابعی پر ذمه سوه نود دغه سبب ددی هم هغه حکم دی چه اوس بیان سو اوخوندی روپی چه رابعه ورکړی نو بیائی ستاځخه اخستلای سی او د ورکولو مخکی ستاځخه د اخستو حق نه لری. (عالمگیری صـ۱۵۵ څلرم توک)

(۳) مسئله:- که د رابعی سره ستاروپی امانت پرتی وی د دغه سبب تاخپله

قرضه درابعی پرذمه کړه بیا هغه روپی په یو ذریعه سره ضائع سوی نورا بعه ذمه وارګه نه دی بلکه شفیعه دی اوس ستاخخه طلب وکړی او ستاخخه به ئی عوارې درابعی خخه ئی د غوښتلو اواخستلو حق خم سو۔ (هدایه صـ۱۳۱ ج ۳)

④ مسئله:۔ که تاقرضه درابعی پرذمه کړه لیکن ترد غه وروسته دی بیا بیرته هغه قرضه پخپله اداکړه شفیعی ته دی ورکړه نو هم صحیح دی شفیعه دانه سی ویلای چه زه ئی ستاخخه نه اخلم بلکه صرف درابعی خخه ئی اخلم۔ (عالمګیری صـ۱۵۵ څلرم پتوک)

(۱۵) دوکیل نیولو بیان (باب)

① مسئله:۔ هغه کار چه سړی خپله کولای سی په هغه کښی همد غه اختیار دی چه ویو بل چاته وایي چه ته دغه زما کار وکړه مثلاً خرڅول راښول په کرایه یوشی اخستل په کرایه یوشی ورکول۔ نکاح کول اوداسی نور مثلاً دکور خادمه ئی بازار ته دسودا کولو د پاره ولیږله یا ئی د خادمی پدریعه یوشی خرڅ کړی یا ئی تانګه (بګۍ) د غویوګاډی ته ټیکسی یا بل شی دکرایي د پاره راوغوښتی او په هرچا چه ئی دغه کار وکړی په شریعت کښی هغه ته وکیل ویل کیږی لکه خدمتګار ګه یا بل نوکر د سودا راښولو د پاره بازار ته ولیږی نو دغه ته ستاوکیل ویل کیږی۔ (هدایه صـ۱۷۶ دریم پتوک)

② مسئله:۔ تادخدمتګاری خخه غوښتی راوغوښتلی اوهغی په یوه ورځ نو دغوښو والا ستاخخه د غوښو د قیمت طلب نه سی کولای د دغی خدمتګاری خخه دی طلب وکړی اوخدمتګاره به ئی ستاخخه طلب کوی۔ داهغه رنګه که یوشی تادخدمتګاری په ذریعه خرڅ کړی نود هغه راښونکی خخه ته د پیسو د غوښتلو اواخستلو حق نه لری هغه چه دهرچاخخه اخستی دی هغه ته به پیسی دشی هم ورکوی اوکه هغه خپله تاته د دغه شی پیسی درکړی بیاهم روادی مطلب دادی چه هغه که تاته پیسی درنکړی نوته ئی په زور نه سی ځندی اخستلای۔ (هدایه صـ۱۷۸ و صـ۱۷۹ دریم پتوک)

③ مسئله:۔ تادمزدورخخه یوشی راوغوښتی هغه شی ئی راوړی نو

دی اختیار لری ترڅو چه ئی دد غه شی پیسی ستا څخه وصول کړی نه وی تر هغه وخته تاته د غه شی در نه کړی برابره خبره ده که ده له خپله جیبه څخه روپی ورکړی وی یا ئی تراوسه نه وی ورکړی دد واړو یوحکم دی البته که ئی هغه دپنځو یا لسو (۱۰) ورځو په پور اخستی وی نو د هرڅوندی ورځو په وعده چه ئی راوړی وی تر هغه وخت مخکی د پیسو طلب نه سی کولای۔ (در مختار وشامی ص۶۲۳ څلرم ټوک)

(۴) مسئله:۔ تا یو ره یو سیر غوښی څنډی راو غوښتی هغه یو نیم سیر غوښه راوړه نو یو ره یو نیم سیر څنډی اخستل واجب نه دی که ئی ته نه اخلی نو نیم سیر به دی پخپله اخلی۔ (عالمگیری ص۲۹۶ څلرم ټوک)

(۵) مسئله:۔ تا یو چاته وویل چه فلانی بزه چه د فلانی سړی ده ولاړه سه په دوی روپی ئی څنډی واخله رائ وله نو اوس هغه وکیل هغه بزه د خپل ځان د پاره نه سی راښولای غرض دا دی چه هرشی چه ته مقرر کړی او ورته ووایی نو داغه شی دده د خپل ځان د راښولو د پاره روا نه دی البته هرڅوندی د قیمت چه تاورته ویلی وو که ئی ترهغه په زیات قیمت راښوی نو د خپل ځان د پاره ئی بیا راښول صحیح دی اوکه تاهیڅ قیمت نه وو ورته ویلی بیا ئی په هیڅ طریقه سړه د خپل ځان د پاره نه سی راښولای۔ (زیلعی وشلبی ص۲۶۳ څلرم ټوک)

(۶) مسئله:۔ که تا یو خاص بزه نه وی ورښوولی بس دوندی دی ورته ویلی وی چه دیوی بزی ضرورت دی زما د پاره ئی راښیسه نو دی ئی د خپل ځان د پاره هم راښولای سی هره بزه چه غواړی د خپل ځان د پاره دی راښیسی او هره یوه چه غواړی ستا د پاره دی راښیسی که ئی د خپل ځان په نیت راښیوه د ده سوه اوکه ئی ستا په نیت راښیوه ستا سوه کومی روپی چه تا د بزی د پاره ورکړی وی که ئی په هغو روپو سره راښیوه ستا سوه برابره خبره ده په هر نیت چه ئی راښولی وی۔ (در مختار ص۲۶۵ څلرم ټوک)

(۷) مسئله:۔ ستا د پاره ده بزه راښولی وه لیکن تراوسه ئی تاته ورکړی نه ده چه بزه ورکه یا مړه یا غلا سوه نو د دی بزی قیمت به ته ورکوی اوکه تا ورته وویل چه تا د ځان د پاره راښولی وه زما د پاره دی نه وه راښولی که چیری تا اول ورته قیمت ورکړی وی نو ستا بزه ولاړه اوکه دی تراوسه قیمت نه وی

درکړی او هغه اوس قیمت غواړی که تا قسم واخستی چه وکیله تا د خپل ځان دپاره رانیولی وه نو دده بڼه ولاړه او که دی قسم نه واخستی نو دده خبری ته به اعتبار درکوی۔ (هدایه ص۱۸۳ دریم ټوک درمختار ص۶۲۴ څلرم ټوک وتبیین الحقائق ص۲۶۵ څلرم ټوک)

(۸) مسئله:۔ که خدمتګار یا خدمتګاری یو شی ګران اخستی وو که لږ فرق وی نو ته به ئې اخلی قیمت به ئې درکوی او که ئې پرګران اخستی وو چه دوندې قیمت ئې هیڅ انه ورکوی نو اخستل ئې واجب نه دی که مته نه واخستی نو ستا خدمتګار او مزدور به ئې اخلی۔ (بحرالرائق ص۱۶۸ څلرم ټوک)

(۹) مسئله:۔ تا یو چاته خپل شی د خرڅولو د پاره درکړی د ده دپاره دا روا نه دی چه پخپله ئې واخلی او پیسی ئې تاته درکړی داغه رنګه که تا یو شی راوغوښتی چه فلانی شی راته رانیسه رائې وړه نو دی خپل شی تاته نه سی درکولای که چیری خپل شی پرتا خرڅول غواړی۔ یا ستا شی د خپل ځان دپاره رانیول غواړی صاف صاف دی ورته وایی چه دغه شی زه اخلم ماته ئې راکړه یا دی داسی ورته وایی چه دغه زما شی ته واخله او دغوندی قیمت ئې راکړه بیله ویلو داسی کول روا نه دی۔ (عالمګیری ص۳۰۳ څلرم ټوک)

(۱۰) مسئله:۔ تا خدمتګار د بزی د غوښو د پاره ولیږله هغې د غواغوښی درته راوړی نو ستا خوښه ده که ئې اخلی که ئې نه اخلی دغه رنګه تا پټه ځندی راوغوښتلی هغې بیندی یا بل شی راوړل نو اخستل ئې ضرور نه دی که ته انکار وکړی نو دا به ئې اخلی۔ (فتاوی هندیه ص۵۵۲ دریم ټوک)

(۱۱) مسئله:۔ تا دیوی روپی شی ځندی راوغوښتی۔ هغه دوه روپو شی راوړی ستا اختیار دی چه د یوی روپی برابر شی ځندی واخلی هغه نور چه زیات دی ده پرسره ورته وغواړه خوی۔ (فتاوی هندیه ص۵۵۲ دریم ټوک)

(۱۲) مسئله:۔ تا د وه خلګ ولیږل چه ولاړ سی فلانی شی رانیسی رائې وړی نو د رانیولو په وخت کښی باید د واړه حاضر وی فقط چه یو سړی ئې رانیسی روانه دی که ئې صرف یو سړی رانیسی نو دا بیعه۔ بیع موقوفه ده چه ته ئې قبوله کړی نو صحیح کیږی۔ (هدایه ص۱۹۱ دریم ټوک)

(۱۳) مسئله:۔ تا یو چاته وویل چه ته زما د پاره یوه غوا یا بڼه یا بل شی

رانیسه ده پخپله نه رانیوله بلکه بل چاته ئې ورډیل هغه رانیوله نو اخستل ئې پر تا واجب نه دی ستا خوښه ده که ئې اخلی که ئې نه اخلی دد وا په خبر واختیار لری لیکن که ئې دی پخپله ستاد پاره رانیسی نو ته به ئې ضرور ځندی اخلی۔ (هدایه ص۱۹۱ دریم ټوک)

(۱۶) د وکیل د لیږی کولو بیان — باب

① مسئله:- د وکیل د موقوفه کولو او برطرفه کولو تاته هر وخت اختیار دی مثلاً تا یو چاته ویلی وه چه دیوی بزی ضرورت دی هر ځای چه پیدا سوه زما د پاره ئې رانیسه بیا دی بیرته منعه کړی چه اوس ئې مه رانیسه نو بیا وکیل ته د رانیولو اختیار نسته که ئې اوس رانیسی نو دد ه پرسر ما تیږی پرتا ئې رانیول نه لازمیږی۔ (در مختار ص۶۲۲ څلرم ټوک)

② مسئله:- که دی پخپله منعه نه کړی بلکه خط دی ورولیږی یا دی یو څوک وواستوی او خبر دی ورکړی چه اوس ئې مه رانیسه نو هم برطرفه کیږی او که تا خبر نه وی ورکړی یو چاد ځانه ورته وویل چه ته فلانی برطرفه کړی په اوس ئې مه رانیسه که دوو(۲) انسانانو(۱) خبر ورکړی وی یا صرف یوه سړی خبر ورکړی وی مګر هغه معتبر او د شریعت پابند وی نو برطرفه کیږی او که داسی نه وی نو نه برطرفه کیږی که هغه یوشی رانیسی ته به ئې اخلی۔ (در مختار ص۶۴۲ څلرم ټوک وهدایه فصل فی القضاء بالموارث ص۱۵۱ ج۳)

(۱۷) د مضاربت بیان یعنی دیوه پیسی اودبل کار — باب

① مسئله:- تاد تجارت د پاره یو چاته څه روپی ورکړی وی چه په دی تجارت کوه هرخوندی چه ئې فائده اوګټه وکړه هغه به زه او ته سره تقسیموو دا راداوی د دغه ته مضاربت ویل کیږی لیکن دد ی د پیر شی طونه دی که دد ی

---

۱ مګر دغه دوه انسانان نابالغ نه وی یعنی د ځوانی عمر یانی وی

۲ د انسانانو څخه یو انسان د فاسق نه وی یعنی د فلانی یا فلانان وی

۳ که دغه خبر ورکوونکی یو معتبر او پابند شریعت سړی نه وی

۴ د وکیل نه برطرفه کیږی که نه

۵ د وکیل د لیږی د منعه کولو خبر

۶ د وکیل د لیږی د منعه کولو خبر

۷ د وکیل نه برطرفه کیږی که نه

۸ د وکیل د لیږی د منعه کولو خبر

۹ د وکیل نه برطرفه کیږی که نه

۱۰ د وکیل د لیږی د منعه کولو خبر

۱۱ د وکیل نه برطرفه کیږی که نه

شرطونو موافق وی صحیح دی اوکه موافق نه وی نو ناروا او فاسد دی.

۱ اول شرط دا چه هرځوندی روپی ورکوی هغه بیان کړه اودغه روپی د تجارت د پاره هم درکړه د خپله ځانه سره ئی مه ایږده که دی روپی ددغه په حواله نه کړی اود خپل ځان سره دی کښیښووی نو دا معامله فاسده ده - هدایه ص۳۵۹ ج۳)

۲ دوهم شرط دا چه دگټی او فائدی د ویشلو صورت معلوم کړه چه مانه به ځوندی دار سیږی اوتانه به ځوندی د رسیږی اوکه دغه خبره معلومه نه سوه بس دوندی موسره وویل چه نفعه او فائده به نږه اوته سره تقسیموو دارنګه مضاربت فاسد دی - (عالمګیری ص۱۷۵ پنځم ټوک)

۳ دریم شرط دا چه دگټی تقسیمول دارنګه مه معلومه وه چه هرځوندی نفعه او فائده دی په دغه کښی لس روپی زیادی نوری ستادی یا لس روپی ستادی نوری زیادی غرض دا چه څه خاص روپی مه مقرره چه دوندی زیادی دوندی ستادی - بلکه دگټی تقسیمول دارنګه معلوم کړه چه نیمه نفعه ستاده نیمه زیاده یا یوه حصه ئی زیاده دوی حصی ئی ستادی یا یوه حصه زیاده دری حصی ئی ستادی - غرض دادی چه د نفعی او گټی تقسیم دحصو په اعتبار باید وسی که داسی نه وسی نو فاسد یږی اوکه ئی چیری څه نفعه او فایده وکړه نو کار کونکی ته په دغه کښی حصه رسیږی اوکه ئی څه نفعه او فایده ونه کړه نو کار کونکی ته هیڅ شی نه رسیږی که دی داسی شرط کښیښووی چه که ئی گټه ونه کړه هم زه تاته د اصلی مال څخه دوندی درکوم نو په دی شرط او خبره سره معامله فاسدیږی داغه رنګه که دی داسی شرط ونګاوی چه که ئی چیری تاوان وکړی نو تاوان دکار کونکی پر ذمه دی یاد دواړو پر ذمه دی په دی سره هم فاسدیږی بلکه حکم دادی چه هرڅه تاوان وسی هغه دمال دمالک پر ذمه دی ددغه روپی ولاړی.

(هدایه ص۲۶۴ دریم ټوک ودر مختار ص۷۴۹ څلرم ټوک)

(۲) مسئله:- ترڅو چه ددغه سره روپی دی اوده مال او اسباب راپیولی نه وی ترهغه وخته تاته ددغه د موقوفه کیدو اود روپیو د بیرته اخستلو اختیار سته او چه دی مال رانیسی نو د موقوفه کیدو او د لیږی کولو اختیار دی ختم سو - (هدایه ص۲۶۴ دریم ټوک ودر مختار ص۷۴۹ څلرم ټوک)

(۳) مسئله:- که ئی داسی شرط ونګاوی چه نږه به ستاسره کار کوم یا نږه

نلانی سړی به ستاسره کار کوی نو د امعامله فاسد یږی۔ (هدایه صـ۲۵۷ ج ۳)

④ مسئله:۔ ددی حکم دادی که چیری د غه معامله صحیح سوی وی یو فاسد ونکی او عبث شرط ئ نه وونګولی نو په ګټه کښی د واړه سره شریکان دی هرقسم چه فیصله سوی وی پر هغه طریقه دی سره تقسیم کړی او که ګټه نه وی یا تاوان وسی نو د غه کار کونکی نه هیڅ نه ورکول کیږی۔ اوتاوان هم ددی څخه نه احتسال کیږی اوکه د غه معامله فاسده سوی وه بیا نو د غه کار کونکی په نفعه کښی شریک نه دی بلکه دی په مثل د مزدور دی بیا نو ګورله چه داسی سړی مزدور سی هغه ته به څوند که تنخواه ورکړه سی نو د ه ته هم هغوندی تنخواه ورکول کیږی۔ (یعنی څوندی تنخواه چه د دا رنګه مزدور وی په هغه اندازه تنخواه (معاش) به وی د ه ته هم ورکوی) که نفعه وی هم اوکه نفعه نه وی هم به تنخواه ورکول کیږی او نفعه ټوله د مالک دی که اوکه تنخواه د پیره جوړیده او په نفعه کښی ئ تر د غه حصه کمه جوړیده په دی صورت کښی دی تنخواه نه ورکوی او ګټه دی سره تقسیم کړی۔ (درمختار صـ۷۴۰ څلرم ټوک وعالمګیری صـ۱۷۵ پنځم ټوک)

تنبیه:۔ څرنګه چه د دا سی مسئلو د پاره چندانی ضرورت نه پیښیږی نو له همدی سببه موږ پیری نه لیکو چه یو وخت دیو مسئلی ضرورت پیښ سی نو دیو مولوی صاحب څخه پوښتنه وکړه چه ګناه لازمه نه سی۔

(۱۸) د امانت ساتلو او ایښو ولو بیان — باب

① مسئله:۔ یو چاستاسره یو شی امانت کښیښو وی او تاواخستی نو اوس ئ ساتنه پر تاواجب د ه که دی په ساتنه کښی کوتاهی وکړه هغه شی ضائع سو نو تاوان به ئ ورکوی البته که ئ په ساتنه کښی کوتاهی ونه سوه بیا هم دیو سببه هغه شی برباد سو مثلاً غلا سو یا په کور کښی اور ولګیدی په اورکښی وسوځل سو نو د د غه شی تاوان هغه نه سی اخستلای بلکه که دی د امانت ایښو ولو په وخت کښی دا اقرار وکړی که چیری د غه شی ورک یا برباد سو نو زه ئ ذمه وار ه یم زما څخه ئ واخله بیا هم د ه ته د تاوان اخستو حق نسته اوکه دا فسی تا په خپله خوښه سره درکړی نو بیله خبره د ه۔ (مرآة المجلة

ص۴۰۳ وص۴۰۵ اول پتوک شرح التنویر ص۶۸۱ خلرم پتوک)

(۲) مسئله:- یو چاوویل چه زه دلږ وخت د پاره په یو کار پسی خم دغه زما شی د سړی کښیږ: ده تاوړ ته وویل چه ښه دی کښې ئې ږ: ده یا تاهیخ ورته ونه ویل هغه ستا سړی کښیښو وی ولاړی نو امانت سو البته که تاصاف ورته وویل چه زه تانه پیژنم د بل چا سړی ئې کښیږ: ده یا دی نو رخه ورته وویل انکار دی وکړی بیا هم هغه کښیښو وی ولاړی نو دغه شی ستا په امانت کی نه دی البته که دده تر تلو وروسته هغه شی تا را پورته کړی یو ځای دی کښیښوی نو بیا امانت کیږ:ی- (مرآة المجلة ص۴۰۳ وص۴۰۵ اول پتوک- شرح التنویر ص۶۸۱ خلرم پتوک)

(۳) مسئله:- ډیری ښځی ناستی وی د دوی پتولو پر ذمه ئې یو څی ور وسپاړی ولاړه نود پتولو پر ذمه ددی شی ساتنه واجب ده- که دی ښځو دغه شی پری ښنو وی او ولاړی او هغه شی برباد سو نو پتولی به تاوان ورکوی که پتولی په یوه وار نه سوی ولاړی یوه وروسته تر بلی ولاړه سوه نو چه تر پتولو وروسته پاته سوی ده پرهغې ئې ساتنه واجب ده نو که دا ولاړه او شی برباد سو نو ددی څخه تاوان اخستل کیږ:ی- (شامی ص۷۵۵ خلرم پتوک)

(۴) مسئله:- د چا سړه چه یو امانت وی دی ته اختیار دی چه د خپل ځان سړه ئې ږ:دی یا د خپلی مور، خور د خپل میړه یا بل داسی قریب سړه ئې کښیږ:دی چه په یوه کور کښی ددی سړه او سی چه دهغه سړه خپل شی هم د ضرورت په وخت کښی ږ:دی او لیکن که دغه څوک دیندار نه وی نو ددی سړه ئې ایښو ول صحیح نه دی لیکن که ئې قصداً د دغسی بی دینه او غیر معتبر سړی سړه کښیښو وی نو چه ضائع سی تاوان به ئې ورکوی او د داسی قریب څخه علاوه د بل چا سړه پردی امانت ایښو ول هم د مالک بیله اجازی صحیح نه دی برابره خبره ده که هغه بالکل بیگانه وی یا یو قریب وی که ئې د نور د سړه کښیښو وی نو د ضائع کیدو په صورت کښی به دا تاوان ورکوی البته که هغه بیگانه سړی داسی شخص وی چه د اچه شیان هم د هغه سړه ایږ:دی نو روا دی- (در مختار ص۷۵۶ خلرم پتوک)

(۵) مسئله:- یو چا یو شی امانت در ته کښیښو وی ستا هیر سو هغه د: پرهغه ځای پریښو وی ولاړی نو که چیری داشی ضائع سو تاوان به ئې و

کوی یادی دکوټی اوسند دتپی تلف خلاص کړی ته ولاړی اوهلته خپل او پردی ټول راجمعه سوی دی اوهغه شی اصطلاحًا داسی دی چه بیله تلف نګولو دده ساتنه نه کیږی نو بیاهم دضائع کیدو په صورت کښی به تاوان ورکوی - (ردالمحتار ص۷۶۴ څلرم ټوک)

(۶) مسئله:- په کور کښی اوږدګیدی نو په داسی وخت کښی هم دبل چاسره چه غیروی پردی امانت ایښو ول روادی لیکن هروخت چه هغه عذر ختم سی نو فورًا ئی باید ځنډی راوړی که دی بیرته نه ځنډی واخستی نوچه هلاک سی تاوان به ئی ورکوی دغه رنګه که دمرګ په وخت کښی خپل دکور سړی موجود نه وی نوهمسایه ته ئی ورسپارل روادی - (ردالمحتار ص۷۵۷ څلرم ټوک) شامی ص۷۵۷ څلرم ټوک)

(۷) مسئله:- که یوچا یو څه روپی، پیسی امانت کښیښوولی نو بعینه - او خاص ددی روپو اوپیسو ساتنه اوحفاظت واجب دئ او نه په خپلو روپو ددی ګډول روادی اونه ددی خرڅول اومصرفول روادی داسی ئی مه بوله چه روپی ټولی سره برابری دی راسه دوی به مصرف کړم چه هروخت ئی وغواړی خپلی روپی به ئی بیا ورکړم البته که هغه اجازه کړی وی نوپه داسی حال کښی ئی مصرفول روادی لیکن ددی داحکم دی که دغه روپی ته جلا کښیږدی نو بیا دغه امانت بلل کیږی که چیری هلاکی سوی نوتاوان به نه ورکوی که تا اجازه ځنډی واخسته دا روپی دی مصرف کړی نواوس دغه روپی ستاپر ذمه قرض کیږی امانت نه پاته کیږی نوددی سببه په هرحال کی به ئی ورکوی که ترمصرفولو وروسته هغوندی روپی تادده پرنامه جلا کښیښووی بیاهم دغه امانت نه دی داصرف ستا روپی دی که چیری غلا سوی نوستا روپی غلا سوی امانت والاته به ئی بیرته ورکوی قرض دادی چه ترمصرفولو وروسته چه ترڅو پوری تاادا کړی نه وی ترهغه وخته ستاپر ذمه دی - (مرآة المجلة ص۴۱۳ اول ټوک)

(۸) مسئله:- یوچا ستاسره سل روپی امانت کښیښوولی نوددی روپو څخه تادده په اجازه سره پنځوس روپی مصرف کړی نو پنځوس روپی ستاپر ذمه قرض سوی اوپنځوس امانت کیږی نواوس هروخت چه ستاسره روپی وی

نو دغه پنځوس روپۍ چه ستاسو ده دی دد غه پنځوسو امانتو روپو سره ئې مه ګډه وه که ئې ورسره ګډې کړې هغه هم امانت نه پاته کیږي دغه پوره سل روپۍ ستاید ذمه کیږي که چیرې دا روپۍ هلاکې سوې نو پوره سل روپۍ به ورکوي حکم چه د امانت روپۍ چه د خپلو روپیو سره ګډې سې نو امانت امانت نه پاتیږي بلکه قرض ګرځي او په هرحال کښې به ئې ورکوي۔ (هدایه ص۲۷۳ دریم ټوک)

(۹) مسئله:۔ تا اجازت ځندې واخستې سل روپۍ د دې دی خپلو سلو روپیو سره ګډې کړې نو دغه ټولې روپۍ د دوارو شریکې سوې که غلا سوې نو د دوارو روپۍ غلا سوې هیڅ شی به نه ورکوي که د دې پیسو څخه څه غلا سوې اوڅه پاته سوې بیا نو نیمې ستا د ولاړې نیمې د دې دا ولاړې که سل دیوه وي دوه سوه دبل وي نو دیوه د حصې موافق دیوه پیسې ځي دبل د حصې سره موافق دبل پیسې ځي مثلاً که دوولس روپۍ هلاکې سوې نو خلور روپۍ د سلو روپیو والا ولاړې اوا ته روپۍ د دوو سو والا ولاړې د غه حکم هغه وخت دی چه په اجازه ئې سره ګډې کړې وي او که ئې بیله اجازې په خپلو روپیو ګډې کړې وي نو د دې حکم هم هغه حکم دی چه مخکې بیان سو چه د امانت روپۍ که په خپلو روپیو ګډې کړې بیله اجازې نو امانت ئې په قرض بدلیږي نو د دې سبب اوس هغه روپۍ امانت نه دی نو هرڅه چه هلاک سوی د دې خپلې روپۍ هلاکې سوید ی د هغه روپۍ به هغه ته هر وخت او په هرحال کښې ورکوي۔ (درمختار ص۷۶۱ څلرم ټوک مراة المجلة ص۴۱۳ اول ټوک) و مراة المجلة ص۴۱۲ اول ټوک)

(۱۰) مسئله:۔ یو چا بزه یا غوا یا بل شی دیو چا سره امانت ودرله نو د دې بزې یا غوا یا بل شی شیدې خوړل یا په بله طریقه سره د دې څخه کار اخستل روانه دی البته په اجازه سره د غه ټول روا کیږي بیله اجازې چه ئې هرڅومره د شیدې ځندې نوشلې وي نو د هغوشیدو به قیمت ورکوي۔ (عالمګیري ص۱۰۶ دریم ټوک۔ مراة المجلة ص۴۱۶ وص۴۱۹ اول ټوک)

(۱۱) مسئله:۔ یو چا یو ټوکر یا زیور یا چارپایې یا بل شی امانت کښینسو وي نو د دې بیله اجازې ئې استعمالول روانه دی که د دې بیله اجازې ټوکر یا زیور استعمال کړي یا ئې پر چارپایې بیده سو او باندې پریوځي یا پرکښینستی او د دې د

استعمال په وخت کښی هغه ټوکر خیری سو یا غلاسو یا زیور چار پایی یا داسی بل شی
مات سو یا غلا سو نو تاوان به ورکوی البته که ئی ټوبه وکښه هغه امانت ئی بیرته
محفوظ کښیښودی بیا په یومطریقه سره ضائع سو نو تاوان به نه ورکوی۔(هدایه
ص۲۷۲ څلرم ټوک و در مختار ص۷۶۱ څلرم ټوک)

(۱۲) مسئله:۔ د صندوق څخه ئی امانته جامه را وایسته چه ما ښام به را
جامه اغوستم فلانی ځای ته به حکم نو تر اغوستو مخکی هغه ضائع سوه نو
به هم تاوان ورکوی۔(شامی ص۷۶۱ دریم ټوک)

(۱۳) مسئله:۔ د امانت غوا یا بزه یا بل شی ناجوړه سوه تاد وا په وکړه چه د
هغی د واخخه مړه سوه نو تاوان به ورکوی که دی دوا نه په وکړه او دا
مړه سوه نو بیا به تاوان نه ورکوی۔(شامی ص۷۵۸ څلرم ټوک و در مختار ص۷۶۴ څلرم ټوک)

(۱۴) مسئله یو چا امانت د پاره یو څه روپی در کړی تا په پټا کیدا نه یادی۔ د
لنګ په یو ځای کښی واچولی یادی په جیب کښی واچولی لیکن دا چولو په وخت
کښی په پټا کیدا نه یا جیب کښی هغه روپی و نه لوبیدی مګر ستا دا خیال سو
چه په جیب یا پټا کیدا نه کښی ئی واچولی نو تاوان به نه ورکوی۔(رد المحتار
ص۷۶۶ څلرم ټوک)

(۱۵) مسئله:۔ چه هر وخت څوک خپل امانت وغواړی نو فوراً ئی ورکول
واجب دی بیله عذره ئی څنډول او نه ورکول روا نه دی که یو چا خپل امانت
وغوښتی تاورته وویل زما خوری اوس می لاس خلاص نه دی سبا ئی واخله
هغی وویل چه ښه دی سبا هم صحیح دی بیا خبر دی هیڅ پروا نه لری او که
هغه د سبا پرا خستو راضی نه سوه او په نه ورکولو خفه سوه ولاړه نو
هغه شی نور امانت نه دی که چیری هلاک او ضائع سی ته به ئی تاوان
ورکوی۔(عالمګیری ص۲۱۵ پنځم ټوک)

(۱۶) مسئله:۔ یو چا خپل سړی د امانت د راوړلو د پاره د ور ولیږی ته اختیار
لری چه و دغه سړی ته ئی ورنکړی او ورته روا یی چه مالک ئی را ولیږه چه
هغه خپله را سی خپل امانت شی یوسی زه ئی بل چا ته نه ورکوم او که هغه
ناصادق و بالی او شی دی ورکړی او بیا مالک وویل چه ما دغه نه وو د ما
ولیږی تا ولی ورکړی نو مالک ئی ستا څخه اخستلای سی او ته بیا د دغه بل

سړی څخه بیرته دغه شی اخستلای سی او که هغه شی دهغه څخه ضائع سوی وُ نو ته دهغه څخه قیمت دشی نه سی اخستلای او مالک ئی ستا څخه اخستلای سی - (عالمگیری ص۲۱۵ وص۲۱۹ پنځم ټوک ردالمحتار ص۲۱۵ څلرم ټوک و فی تکملة ص۲۶۵ دریم ټوک)

(۱۹) دخواست دشی بیان — باب

(۱) مسئله:- یو چا یو ټوکر، زیور، چارپایی، لوښی یا یو داسی بل شی دیو څو ورځو دپاره دهغه څخه خواست کړی چه ترضرورت وروسته ئی بیرته درکوم نو ددی حکم هم دامانت حکم دی نو ددی شی ښه حفاظت کول واجب دی که سړه د حفاظته ضائع سو نو ته ددغه شی د تاوان د اخستلوحق نه لری بلکه که هغه اقرارکړی وی چه که چیری ضائع سی زما څخه ئی قیمت واخله هم تاوان او قیمت ځندی اخستل روانه دی البته که ئی حفاظت ونه کړی او ددی سببه هغه شی ضائع سو نو به تاوان درکوی او مالک ته هروخت اختیار دی چه خپل شی یوسی د غه بل سړی انکار نه سی کولای که ئی دغوښتنی په وخت کښی ورنه کړی نو په صورت دضائع کیدو کښی به تاوان ورکوی - (مراة المجلة ص۴۲۶ وص۴۲۷ وص۴۳۶ اول ټوک)

(۲) مسئله:- هر قسم چه د استعمالولو اجازت مالک ورکړی وی دغه قسم استعمال ئی روادی ددغه څخه خلاف کول روانه دی او که خلاف کوی نو دضائع کیدو په صورت کښی به تاوان ورکوی مثلاً چادپرسړکولو دپاره - پوړونی ورکړی دی هغې وغوړاوی هوار ئی کړی پریږوته هغه پوړونی خراب سو- یا پرچارپائی دوتدی خلګ کښینستل چه هغه ماته سوه یا ئی دسینبی لوښی پراورکښینوی هغه مات سو یا ئی یو بل داسی خلاف کار وکړی نو تاوان به ورکوی - داغه رنګه که ئی یوشی په خواست راوړی بیا ئی بدنیتی وکړه چه بیرته ئی نه ورکوم بلکه زړه ئی نوشوم دضائع کیدو په صورت کښی به تاوان ورکوی - (مراة المجلة ص۴۳۱ اول ټوک)

(۳) مسئله:- دیوی یا دُ(۲)وُ ورځو دپاره ئی شی په خواست راوړی نو اوس ترڅو(۱) دُ(۲)وو ورځو وروسته ئی بیرته ورکول واجب دی د هرڅوندی ورځو

په وعده چه ئې رادیری دی هغوندی ورځې ورته وسته که ئې بیرته ورنکړی
نو په صورت د منافع کید وکښی به تاوان ورکوی۔ (مرآة المجلة صفحه ۴۳ اول توک)
(۴) مسئله:۔ هرشی چه ئې خواست کړی وی باید وکتل سی که چیری مالک
صاف په ژبه سره ویلی وی چه ستا خوښه ده که ئې پخپله استعمالوی یا
ئې بل چاته ورکوی خواست کونکی ته روا دی که ئې پخپله استعمالوی که ئې
بل چاته ورکوی داغه رنګه که ده صاف نه وویل مګر دده سره ئې ناسته
ولاړه داسی ده چه دائې یقین دی چه ماته ئې د هر قسم استعمال اجازت
دی که ئې د څان د پاره استعمالوم که ئې بل چاته ورکوم بیا هم داغه حکم
دی اوکه ئې مالک صاف صاف منعه کړی چه گوره ته ئې پخپله استعمالوه
وبل چاته ئې مه ورکوه نو په دی صورت کښی هیڅ قسم روا نه دی.
چه بل چاته ئې د استعمالولو د پاره ورکړی اوکه غوښتونکی داسی خواست
وکړی چه دغه شی راکړه زه ئې استعمالوم اومالک د بل چا د استعمالـه
څخه منعه ونکړه او نه ئې صاف نه اجازه ورکړه نو دغه شی وگوره چه
څرنګه دی که داشی داسی دی چه هر استعمالونکی د غه شی په یوه طریقه
او یو رنګه استعمالوی په استعمالولو کښی ئې څه فرق نه راځی نو ئې
پخپله استعمالول هم صحیح دی اوبل ته ئې د استعمالولو د پاره ورکول هم
صحیح دی. اوکه هغه شی داسی شی دی چه پټول استعمالونکی ئې یو قسم نه
استعمالوی بلکه یو څوک ئې ښه په احتیاط سره استعمالوی یو څوک ئې بد او
بیباکه استعمالوی نو دا رنګه شی ته وبل چاته د استعمالولو د پاره نه سی
ورکولای اوکه دی شی خواست کړی او داسی دی ورته وویل
چه زما فلانی قریب یا فلانی فلانیاتی او دوست ئې استعمالوی او مالک ستا د
استعمال اونه استعمال خبره ونه کړه نو په دی صورت کښی هم دغه حکم دی
چه د اول قسم شی ته هم استعمالولای سی او د دغه دوهم قسم شی ته نه
سی استعمالولای ځکه هغه څوک به ئې استعمالوی چه د چا پر نامه دی خواست
کړی دی که تا دا رنګه خواست کړی وی نه دی د خپل استعمال ذکر کړی وی

لـه فلو قال لا تدفع لغیرک فدفع فهلک ضمن مطلقا خلاصة ۱۲ در مختار صفحه ۵۲۶ شامی
جلد رابع ۔ عبد الستار عفی الله تعالی عنه ۷

نه دی د بل د استعمال ذکر کړی وی او مالک ئې هم څه نه وی ویلی نو د دی حکم دا دی چه که د اول قسم شی وی نو ته ئې هم استعمالولای سی او بل چاته ئې هم د استعمالید د پاره ورکولای سی او د دوهم قسم په شی کښی دغه حکم دی که تا ئې استعمال شروع کړی نو بیا ئې بل چاته د استعمال د پاره نه سی ورکولای او که دی بل چاته د استعمال د پاره ورکړی هغه استعمال کړی نو بیا ئې ته نه سی — استعمالولای ښه څان په پوه کړه۔ (فتاوی هندیه ص۱۰۳ دریم ټوک و درمختار ص۵۲۶ شامی څلرم ټوک)

⑤ مسئله:۔ مور، پلار او د اسی نور د خپل نابالغه اولاد شی چاته نه سی ورکولای او که ئې ورکړی نو په هره طریقه چه ضائع سوه نو د غه ورکونکی به ئې تاوان ورکوی د اغه رنګه که نابالغ خپل شی پخپله چاته ورکوی نو هم څښتدی اختیار روا نه دی۔ (درمختار ص۷۷۴ څلرم ټوک)

⑥ مسئله:۔ دیوچا څخه ئې یوشی په خواست راوړی وړو بیا هغه مالک مړ سو نو ترمرګ وروسته خواست څمیزی اوس نو د دغه شی څخه کار اخیستل روا نه دی او که هغه خواست کونکی مړسی نو د ده وارثانو لره د دغه شی استعمال روا نه دی۔ (مراة المجلة ص۴۲۵ اول ټوک)

هبه یعنی یوچاته دیوشی ورکولو او بخښلو بیان (۳۰) باب

① مسئله:۔ تا یوچاته یوشی ورکړی او هغه قبول کړی یا ئې په خوله هیڅ و نه ویل بلکه تا د هغه په لاس کی کښیښو دی او هغه واخیستی نو اوس دغه شی د ده سوستانه دی بلکه هغه د دغه شی مالک دی نو دی ته په شرعه کښی هبه ویل کیږی لیکن د دی خو شرطونه دی یو هغه ته ورسپارل دی او د هغه پرشی قبضه کول دی که تا ویل چه دغه شی ما تاته درکړی دی هغه ویل چه ما اخیستی دی لیکن تر اوسه دی وده ته نه دی ورسپارلی نو دا بخښنه صحیح نه ده او س هغه شی ستا ملک دی البته که ده پرهغه شی قبضه وکړه نو تر قبض کولو وروسته دی د هغه شی مالک سو۔ (درمختار ص۷۷۶ څلرم ټوک و مجمع ص۳۵۳ دوهم ټوک مراة ص۴۲۶ و ص۴۲۵ اول ټوک)

(۲) مسئله:- تاهغه ور بخښل سوی شی دده په مخکی دامسی کښیښنوی که ئی دی وړی نو وړای ئی سی او ور ته ودی ویل چه د غه شی واخله نو په دامسی طریقه سره دده ومخ ته دایښنو ولو څخه هم دی مالک کیږی دامسی بولو چه کوی یا هغه یوور ته کړی قبضه ئی پرو کړه۔ (در مختار ص ۷۷۸ څلرم توک)

(۳) مسئله:- په بند صندوق کښی دی یوشه توکر کالی ور کړه لیکن کیلی دی نه ده ور کړی نو دی ته قبض نه دیل کیږی چه هر څخت دی کیلی ور کړه نو بیا قبضه کیږی او په دغه څخت کښی ئی مالک گرځی۔ (در مختار ص ۷۷۸ څلرم توک)

(۴) مسئله:- په یو بوتل کښی تیل دی یا بل څه شی دی تاهغه بوتل یوچا ته ور وبخښی لیکن تیل دی نه دی ور بخښلی نو دغه بخښنه صحیح نه ده که ئی هغه قبض کړی بیائی هم نه مالک کیږی چه ترخپلو تیلو کښولو وروسته یه ور کړی بیا نو هغه مالک کیږی اوکه دی تیل یوچاته ور وبخښل مگر بوتل دی نه دی ور بخښلی اوده بوتل ور سره واخستی چه ترخالی کولو بعد (وروسته) ئی درکوم نو ددی تیلو بخښنه صحیح ده ترقبض کولو وروسته مالک کیږی۔ غرض دادی چه هر څخت یو لوښی یا یو بل شی ور کوی نو خالی کول ئی شرط دی بیا به ئی ور کوی بیله خالی کولو ئی بخښنه صحیح نه ده داغه رنگه که چا مړای درکړی نو خپل ټول مال اواسباب دی خندی وباسی او خپله دی هم خندی دوزی او ور دی ئی کړی۔ (فتاوی هندیه ص ۱۰۵ درېیم توک)

(۵) مسئله:- که چاته نیمی یادریمه یا څلرمه حصه دشی ور کوی پوره شی نه ور کوی نو ددی حکم دادی چه وگوره چه هغه څه قسم شی دی تر تقسیمولو وروسته هم دکار دی یا نه دی که تر تقسیمولو وروسته دهغه کار چه خندی احتسال کیږی قابل نه وی لکه۔ میچن، ژرنده که ئی تر ماتولو وروسته ور کړی نو دا دپرو کولو قابله نه ده او لکه چوکۍ، پلنگ هرکاره، بدنه، توکری، پیاله، صندوق، حیوان او داسی نور دداړنگه شیانو چه بیله تقسیمولو دنیمی یادریمی یا هر څه حصی چه ور کول غواړی نو ور کول ئی صحیح دی که ئی هغه قبض کړی هرخوندی حصه چه تاور کړی ده دهغی حصی مالک کیږی او هغه شی شریک کیږی اوکه هغه شی داسی وی چه تر تقسیم کولو وروسته هم دکار قابل وی مثلاً لکه مځکه، سړای اود

پوکر تان، د سوځلو لرگی او بوټی، دانی، غله، شیدی، مستی او داسی نورو نو بیله تقسیمولو ددی ورکول صحیح نه دی که تا یو چاته وویل چه ما ددی لونبی نیم غوړی تاته درکړی دی هغه وویل چه ما اخستی دی نو دغه ورکړه صحیح نه ده بلکه که هغه لونبی قبض کړی بیائ هم مالک نه کیږی - تر اوسه لا پتول غوړی ستادی - هو - که نزدی وروسته دداغه لونبی نیم غوړی جلا کړی اودده په حواله ئ ورکړی نو البته ددی غوړو مالک کیږی. (فتاوی هندیه ص۱۰۴۷ وص۱۰۴۸ دریم پوک عالمگیری ص۲۳۱ پنځم پوک)

(۶) مسئله:- یو تان، یو سړای، یو باغ یا بل شی د(۲)و خلکو په گډه نیم نیم راغیوی ترڅو پورې چه تقسیم کړی ئ نه وی نو هغه وخته پورې یو هم خپله حصه چاته نه سی ورکولای. (عالمگیری ص۲۲۹ پنځم پوک)

(۷) مسئله:- (۸)اته انی یا دوولس(۱۲) انی پیسی ئ د(۲)و خلگو ته ورکړی چه تاسی د(۲)و ئ سره نیمی کړی نو دا صحیح نه دی بلکه نیمی نیمی دی تقسیم کړی بیائ باید ورکړی. البته که هغه دواړه مسکینان وی نو د تقسیم ضرورت نشته او که ئ یو روپی یا یو روپی پیسه د(۲)و انسانانو ته ورکړه نو دغه ورکړه صحیح ده - (در مختار ص۷۸۶ څلرم پوک)

(۸) مسئله:- د بزی، غوا یا بل شی په لس کښی حمل دی تر پیدا کیدو مخکی دهغه ورکول صحیح نه دی بلکه که تر پیدا کیدو وروسته دی قبضه هم پرو کړی بیائ هم نه مالک کیږی که ئ ورکوی تر پیدا کیدو وروسته دی ورکړی. (رد المحتار ص۷۸۲ څلرم پوک)

(۹) مسئله:- یو چا بزه ورکړه او داسی ئ ورته وویل چه د دی بزی په لس کښی چه کوم حمل دی دغه نه درکوم هغه زما دی نو بزه او حمل ئ دواړه دهغه چا سره چه ده بزه ورښکلی ده او بخښونکی د سیرلی تر پیدا کیدو وروسته د سیرلی دا خستلو اختیار او حق نه لری. (فتاوی هندیه ص۱۰۵۲ دریم پوک)

(۱۰) مسئله:- د ستا یوشی دیو چا سره امانت پروت وو تاوده ته پیسی ورکړی (یعنی ورودی بخښی) نو په دی صورت کښی فقط د دغوندی وینا څخه چه دی وو ایی ما قبول کړی او اخستی دی منلک کیږی ئ - اوس هلته ورتلل دوهم واړه او قبض

پرکول شرط نه دی حُکه چه داشی خو خاص د ده سره دی - (مجمع الانهر ص۳۵۷ د دهم پتوک) ومراة المجلة ص۴۴۸ اول پتوک)

(۱۱) مسئله :- نابالغ هلک یا انجیلی که خپل شی چاته ورکړی نو ورکول ئی صحیح نه دی اود دوی شی اخستل هم روا نه دی دا مسئله ښه یاد کړه د پیر خلق په دی اخته دی - (مراة المجلة ص۴۵۴ اول پتوک)

(۲۱) کوچنیانو ته د شی ورکولو بیان

باب

(۱) مسئله :- د ختنی یعنی د سنت کید و اود اسی نور د تقریباتو او اجتماعاتو کی چه کوچنیانو هلکانو ته هرڅه ورکول کیږی د دی څخه خاص دغه کوچنی ته ورکول مقصد نه دی بلکه مور او پلار ته ورکول مقصود وی نو د دی سببه هغه پتول ورکړه سوی شی د دغه کوچنی ملکیت نه دی بلکه مور او پلار ئی مالکان دی هرقسم چه ئی استعمالوی استعمال دی کړی البته که یو څوک خاص یو کوچنی ته شی ورکړی بیا کوچنی د شی مالک دی که کوچنی هوښیار وی نو پخپله کوچنی ئی قبض کولای شی اود ده قبض کافی دی چه قبض ئی کړی پس مالک ئی دی که ئی کوچنی قبض نه کړی یا د قبض کولو لایق نه وی که پلار وی د هغه د قبض کولو څخه که پلار نه وی د پلار د پلار (نیکه) د قبض کولو څخه کوچنی مالک کیږی که پلار او نیکه موجود نه وی نو د غه کوچنی چه د هرچا په ساتنه کښی وی هغه باید د غه شی قبض کړی د پلار او نیکه یعنی د پلار د پلار په موجودګی کښی دمور - انا - که د مور د خوا وی یا د پلار د خوا وی او د اسی نور د قبض کول معتبر نه دی - (در مختار ص۷۸۴ وص۷۸۳ ج۴)

(۲) مسئله :- که پلار خپل زوی ته یوشی ورکول غواړی یا چه پلار ئی نه وی نیکه یعنی د پلار پلار خپل لمسی ته یوشی ورکول غواړی نو بس د دوئ دی وینا څخه بخښ صحیح کیږی چه ما دا فلانی شی د ده ته ورکړیدی او که پلار - نیکه نه وی نو په د غه رخت کښی مور ورور او د اسی نور که د ده ته یوڅه شی ورکول غواړی او هغه کوچنی د دوی په پالنه او ساتنه کښی هم وی د دوی د دا سی وینا څخه هم هغه کوچنی مالک کیږی د هیچا قبضی کولو ضرورت نلسته - (فتاوی هندیه ص۱۰۶۵ دریم پتوک)

(۳) مسئله:- هرشی چه دی خپل ټول اولاد ته ئې برابر باید ورکړی - هلک انجیلی ټولو ته ئې باید برابر ورکړی که ئې یو وخت یوه ته یوشی زیات ور کړی نو هم خیر دی پرې[1] روانه لری لیکن هر یوه ته چه ئې لږ ورکړی وی هغه ته به ئې تاوان (سزا) غرض نه وی اوکه ئې غرض وی نو لږ ورکول روانه دی (در مختار ص ۷۸۵ څلرم ټوک)

(۴) مسئله:- هرشی چه د نابالغ ملکیت وی د هغه حکم دادی چه د دی نابالغ په کار کښی باید ونګول سی چاته ئې دخپل ځان دپاره استعمالول روانه دی خپله مور او پلار دی هم خپل کار نه څندی اخلی نه دی دبل نابالغ د پاره کار څندی اخلی چه د هغه په کار کښی مصرف سی - در مختار ص ۷۸۴ څلرم ټوک برشاق اشباه ص ۴۸۲ -

(۵) مسئله:- که ئې په ظاهره کوچنی ته شی ورکړی مګر یقیناً معلوم دی چه حقیقة ئې مور او پلار ته ورکړی مګر داشی ئې بیکاره وبالی په شر میږی نو دکوچنی پر نامه ئې ورکړی نو دمور او پلار ملکیت دی چه هرقسم ئې مصرفوی هغسی دی مصرف کړی بیا نو په دغه کښی هم ګورو که د مور تعلق دارانو ورکړی وی د مور دی اوکه د پلار علاقه دارانو ورکړی وی نو د پلار دی .

(۶) مسئله:- د خپل نابالغ زوی د پاره ئې کالی جوړ کړه نو د غه زوی ئې د دی کالو مالک سو یا ئې د نابالغه لور د پاره ګینې اوزیورات جوړ کړه نو د غه انجیلی ئې مالکه ګرځی اوس نو د دی کالو یا د دی زیور یو بل هلک یا انجیلی ته ورکول روانه دی دهرچا د پاره چه ئې جوړ کړی دی د هغه دی البته که ئې د جوړید و په وخت کښی صاف وویل چه د غه صرف زما شی دی د خواست په طریقه سره ئې ورکوم نو بیا د جوړونکی دی - اکثره رواج دی چه مشری خونړی دکوچنیو نابالغه خوندو څخه یا خپله مور د نابالغې لور څخه پورته اوبل شی غواړی نو د دی شیانو د یولږ وخت د پاره غوښتل هم روانه دی (رد المحتار ص ۷۷۸ څلرم ټوک)

(۷) مسئله:- لکه خپله چه کوچنی خپل شی وچاته نه سی ورکولای د اغه رنګه پلار د نابالغه اولاد شی ورکولو اختیار نه لری که مور - پلار د نابالغه

[1] مګر بیله کوم سببه داسی کول مکروه دی ۲

ورکړی یا ئې د پیرلږ وخت د پاره په خواست ورکړی
نو ددی اختیار روانه دی.
البته که مور اد پلار ته ئې سخت ضرورت پیښ سو او دغه شی
بل ځای پیدا کیدی نو د مجبوری اوناچاری په وخت کښی مور اوپلار د
خپل اولاد شی اختیار لای سی۔ (درمختار ص۷۸۵ خلرم پتوک)
(۸) مسئله:۔ د مور، پلار او د اسی بل چاد پاره د کوچنی مال یو مبل
چاته په قرض ورکول هم صحیح نه دی بلکه په خپله د کوچنی شی په قرض
اخستل هم صحیح نه دی بنه ئې یاد کړه۔ (کشف المبهم ص۳۰۶)

(۲۰۱)	د بخښلی شی د بیرته اخستلو بیان	باب

(۱) مسئله:۔ وچاته یو شی ورکول او بیرته ځندی اخستل لویه ګناه ده.
(ابوداؤد ص۴۹۹ دوهم پتوک) لیکن که ئې یو څوک بیرته ځندی واخلی او هغه
څوک چه د ده شی ورکړی وُ هغه ئې هم په خوشحالی سره ورکوی نو ئې
بیرته د ی مالک کیږی۔ (مرآة المجلة ص۴۵۶ لومړی پتوک) لیکن بعضی شیان
داسی دی چه په هغه کښی د بیرته اخستلو اختیار بالکل نسته۔ مثلاً
ناته یو چا بزه درکړه تا هغه بنه وساتله او تیار ه دی کړه نو اوس د بیرته
اخستو اختیار نسته یا یو چا مځکه درکړه په هغه کښی تا سړای جوړ کړی
یا دی باغ جوړ کړی نو اوس د بیرته اخستو اختیار نسته یا تر پتوکر ورکولو
وروسته هغه پتوکر وګنډی کالی ئې ځندی جوړ کړه یا ئې رنګ کړی د غه
پتوکر۔ یا ئې پرې منځ نې اوس د بیرا اخستلو اختیار نسته۔ (درمختار ص۷۸۸
خلرم پتوک مرآة المجلة ص۴۵۸ اول پتوک فتاوی هندیه ص۱۰۵۸ ج۳ خانیه ص۷۰۲ ج۴)
(۲) مسئله:۔ تا یو چا بزه درکړه هغې ئې یاد (۱) ه سیر لیان وزیږول یعنی
کال دوه کاله ئې وساته وسوه نو د بیرته اخستلو اختیار دی سته۔ لیکن
که ئې بیرته ځندی اخلی نو عرف بزه ځندی اخستلای سی۔ (درد شامی
ص۷۸۸ خلرم پتوک مرآة المجلة ص۴۵۸ اول پتوک فتاوی هندیه ص۱۰۵۸ ج۳ خانیه ص۷۰۲ ج۴)
(۳) مسئله:۔ تر ورکولو وروسته که ورکوونکی یا اخستونکی مړی نو د بیرته
اخستلو اختیار نسته څوک ئې طلب نه سی کولای۔ (مرآة المجلة ص۴۶۰)

④ مسئله:- یو چا تاته یو شی درکړی نو د هغه په بدله کښی تاهم یو شی دده ته ورکړی ورته ووی ویل چه د هغه په عوض کښی ته دا شی واخله نو ترمبدلی ورکولو وروسته دده ته د بیرته اخستلو اختیار نسته البته که تا دانه وی ورته ویلی چه زه ئی د د غه شی په عوض کښی درکوم نو هغه خپل شی بیرته اخستلای سی اوته هم خپل شی اخستلای سی۔ (مراة المجلہ ص۴۵۷ ج۱)

⑤ مسئله:- بنځئ خپل میړه ته یا میړه خپلی مایئ ته یو څه شی ورکړی نو د د ی شی د بیرته اخستلو اختیار نسته داغه رنګه که یو چا د بیوداسی ترتیب ته یو څه ورکړه چه د هغه سره نکاح د همیشه د پاره حرامه وی او د هغه قرابت د دینی وی لکه ورور، خور، ورارکه - خوریی اوداسی نور۔ نو د د ی څخه د بیرته اخستلو اختیار نه لری اوکه چیری رشته اوقرابت وی لیکن نکاح حرامه نه وی لکه دا کا، عمه، لونی، زامن اوداسی نور یا نکاح خو حرامه وی لیکن د نسب اوقرابت په اعتبار نه وی یعنی هغه قرابت د دینو نه وی بلکه د شید و قرابت وی یا یو بل قرابت وی لکه رضاعی ورور اوخور یا داسی نور یا زدم، خوانبی، خسر اوداسی نور د د ی ټولو څخه د بیرته اخستو اختیار سته۔ (مراة المجلہ ص۴۵۷ اول ټوک فتاوی هندیه ص۱۰۵۹ دریم ټوک)

⑥ مسئله:- په هرڅوند ی صورت نو کښی چه د بیرته اخستلو اختیار سته د د ی مطلب دا دی چه که هغه هم په بیرته ورکولو رامنی سی نو په داسی وخت کښی د بیرته اخستلو اختیار سته لکه چه مخکی ذکر سوه۔ لیکن گناه په دغه کښی هم سته اوکه هغه رامنی نه وی او بیرته نی نه ورکوی نو بیله قضا او فیصلی د قاضی په زور سره د بیرته اخستلو اختیار نه لری که ئی په زور سره بیله قضا د قاضی بیرته واخستی نو نه ئی مالک کیږی۔ (عالمګیری ص۲۳۵ پنځم ټوک)

⑦ مسئله:- د بخښنی کولو چه هرڅه احکام تیر او بیان سوه نو دخلک په لاړ کښی د خیراتو لو هم اکثره هغه احکام دی مثلا بیله قبض کولو فقیر خیراتی شی نه مالک کیږی او د کوم شی ترتقسیمولو وروسته چه ورکول شرط دی د هغه شی دلته هم ترتقسیمولو وروسته ورکول شرط دی د کوم شی چه ترخالی کولو وروسته ورکول ورور ی دی دلته هم ترخالی کولو وروسته ورکول غه ورور ی دی البته دوو خبرو فرق سته۔

یو په هبه او بخښنه کښی د بیرته اخستلو اختیار ستة چه هغه څوک چه شی ورکړه سوی دی هغه راضی وی او د لته نسته دوهم اتلسم (۱۸) انی پیسی یا اته (۸) اتلسم روپی که فقیرانو ته ورکړی چه تاسی دواړه ئی تقسیم کړی نو دا هم صحیح دی او په هبه کښی دغسی نه صحیح کیږی۔ (عالمگیری ص۲۴۸ پنځم توک) وشرح التنویر ص۱۶۱ دوهم توک)

(۸) مسئله:۔ یو فقیر ته ئی یو پاو ورکا دی چه په خطا سره بیوه افغانی څندی ورکړه سوه نو د بیرته اخستو اختیار نه لری (فتاوی هندیه ص۴۰۸ څلرم توک)

(۲۳) په کرایه سره د اخستو بیان | باب

(۱) مسئله:۔ که تاد میاشتی د پاره په کرایه سړی واخستی او قبض دی کړی نو تر میاشتی دروسته به کرایه ورکوی برابره خبره ده که پکښی اوسیدلی وی یا نه ئی پکښی اوسیدلی سړی داغسی خالی ولاړ وی کرایه په هر حال کښی واجب ده۔ (شرح التنویر ص۱۶۸ دوهم توک)

(۲) مسئله:۔ خیاط کالی وګنډله یا رنګریز کالی رنګ کړه یا د وبی یعنی د کالو پریمنځونکی کالی پری میخله رائی وړه نو دوی ته اختیار دی تر څو چه ستا څخه ئی مزدوری وانه خلی تر هغه وخته پورې تانته کالی درنه کړی چه مزدوری دی ورکړی نه وی په زور کالی څندی اخستل روا نه دی او که دی په یو مزدور سړه دغلی یوګونی دیوی افغانی په وعده سړه یو وړه یو څای ته لږ او س مزدور دخپلی مزدوری د پاره ستا غله نه سی بنده ولای او منعه کولای څکه دهغه څای څخه د راوړلو په وجه په غله کښی یوشی او خبره نه ده کا پیدا سوی او په او لو سورتو نو کښی یو نوی شی او خبره په کالو کښی پیدا سوی وه۔ (شرح البدایة ص۳۸۰ دریم توک)

(۳) مسئله:۔ که چا د اشرط ونګاوی چه زما کالی به ته پریمنځی یا به ئی ته څندی یا به ئی ته رنګری نو دغه کالی په بل چا پری میخل روا نه دی او که ئی د اشرط ونه لګاوی نو په بل چا هم دغه کار کولای۔ (شرح البدایة ص۲۸۱ دریم توک)

(۲۴)	دفاسدی اجارې بیان	باب

① مسئله:- که یه سرای په اجاره واخستی لیکن په دی وخت کښی هیڅ زمانه اومده نه کړه چه دخو درځود پاره ئی په کرایه اخستی دی یا ئی کرایه معلومه نه کړه هسی ئی سرای په کرایه واخستی یا ئی داشرط کړه چه هر ځای پکښی خرابیږی هغه زه جوړوم یا ئی چاته سرای په دغه وعده ورکړی چه په دی سرای کښی که یو ځای خرابیږی هغه ته جوړه وکه بس دغه ئی کرایه ده په دی ټولو صورتونو کښی اجاره فاسدیږی اوکه داړنګه ورته ووایی چه ته په دغه کور کښی اوسه چه خرابیږی هغه جوړه وکه کرایه هیڅ نسته نو داعاریت اوخواست رواکیږی (شرح التنویر ص۱۷۷ دوهم ټوک. فتاوی هندیه ص۴۴۳ څلورم ټوک)

② مسئله:- یو چاسرای په کرایه واخستی اودئی ویل چه دڈی روپۍ میاشتی درکوم په کرایه کښی نو دیوی میاشتی دپاره اجاره صحیح کیږی تر میاشتی وروسته مالک ته د سرایه څخه دایستلو اختیار دی چه دوهه میاشت بیا پکښی پاته سو نو دیوی بلی میاشتی اجاره نور ګه صحیح سوه داغه رنګه په هره میاشت کښی نوی نوی اجاره کیږی البته که ئی دغه هم ویلی وی چه څلور میاشتی یاشپږ میاشتی په کښی اوسیږم نو هرځوندی مده چه ئی ویلی وه تر هغی مدی پوری اجاره صحیح کیږی تر دغه مخکی مالک دی نه سی پورته کولای۔ (شرح البدایه ص۲۸۶ دریم ټوک)

③ مسئله:- د میده کولو اوږه کولو دپاره ئی غنم یو چاته ورکړه ورته ئی ویل چه د دغه څخه یو پاو اوږه په مزدوری کښی واخله یا ئی یوفصل په وریی ورته وی ویل چه د دی څخه دوندی اندازه غنم په بدل کښی د مزدوری واخله دغه ټول فاسدی۔ فتاوی هندیه ص۱۱۳ وص۱۱۳۱ ج۳

④ مسئله:- د فاسدی اجارې دغه حکم دی چه څه مقرر سوی وی هغه به نه ورکوی بلکه د دوندی کار د پاره چه څوندی مزدورې یاد دوندی سرای چه څوندی کرایه وی هغه به ورکوی لیکن که دستور او رواج د زیات وی او د دوی فیصله پرلږ شی سوی وی بیا نو د رواج موافق ورته ورکول کیږی بلکه هغه به ورکوی چه فیصله پرسوی وی غرض چه هرشی لږ وی د هغه د اخستلو حقدار ده دی - (شرح البدایه ص۲۸۵ د ریم ټوک)

⑤ مسئله:- د غزلو سندرو ویلو، اتڼ کولو په بیزو سره د بازی کولو او دامی نورو یعنی چه هر څوندی بی فائدی کارونه دی د دوی اجاره نه صحیح کیږی بالکل باطله ده نو د دی سببه هیڅ هم نه ورکول کیږی (فتاوی هندیه ص۱۱۳۵ د ریم ټوک)

⑥ مسئله:- یو حافظ ئی مزد ورکړی چه د دوندی ورځی د فلانی پر قبر قرآن شریف ووایه او ثواب ئی ورو بخښه دا صحیح نه ده باطله ده نه د ویونکی د پاره ثواب ستنه نه ئی مړی ته ثواب رسیږی او نه د تنخوا هیڅ حق لری - (رد المحتار ص۴۸ پنځم ټوک)

⑦ مسئله:- د ویلو د پاره ئی یو کتاب په کرایه واخستی نو دا نه صحیح کیږی بلکه باطله ده - (فتاوی هندیه ص۴۴۹ څلرم ټوک)

⑧ مسئله:- د ارواح راغلی دی چه د غوا، بزی او گامیښی د حامله کولو او برالبولو د پاره ئی مینده غوښي، اونرگړی، سانډ ساتلی وی نو د دی شیانو د برالبولو په عوض کښی چه پیسی اخلی د غه پیسی بالکل حرامی دی - (شرح البدایه ص۲۸۷)

⑨ مسئله:- بزه، غوا یا گامیښه د شید و د پاره په کرایه اخستل روانه ده. (فتاوی هندیه ص۴۴۳ څلرم ټوک و ص۱۱۳۱ د ریم ټوک و رد المحتار ص۸۷)

⑩ مسئله:- حیوان په نیمی ورکول روانه دی یعنی داسی ویل چه ته دغه چرگی یا بزی بوزه او بنه پالنه ئی

وکړه هرڅه چه ئی

سیرلیان او بچیان

سوه هغه

نمی ستادی نمیی زمادی دار[۱] وانه دی - (فتاوی هندیه ص۴۴۳ څلرم توک و ص۱۱۳۱ دریم توک ورد المحتار ص۸۷)

(۱۱) مسئله:- دکور د بنایسته کولو د پاره قندیلان یاد بلپانو (گرو پانو) لاره نه اوداسی نورشیان په کرایه اخستل روانه دی که ئ څندی راوړی هم نو هغه د رکودنکی دکرایی داخستلو حق نه لری البته که ئ دغه شیان مړ د رنه اکولو د پاره راوړی وی بیا روادی - (فتاوی هندیه ص۴۴۳ څلرم توک)

(۱۲) مسئله:- یوه ټانگه یاد غویو گاډی دی کرایه کړه نو د انډلړی څخه زیات خلگ پکښی کښینول روانه دی د اغه حکم د موټر ټیکسی اوداسی نورو شیانو هم دی دغه رنگه ډولی یاداسی نور شیان چه خلگ ئ په لاسو یا پراوږو وړی د دی بیله اجازته دوه[۲] دوه پکښی کښینول روانه دی - فتاوی هندیه ص۴۴۳ څلرم توک)

(۱۳) مسئله:- یو شی ورک سود ه وویل چه هرخوک زماشی راوښیی اوړا پیدا ئ کړی چه چیری دی هغه ته یوه روپی درکوم که ئ یو خوک وروښیی بیا هم دروپی حق نه لری ځکه چه دا اجاره نه صحیح کیږی که ئ خاص سړی ته ویلی وی چه که ئ ته راوښیی نو روپی درکوم که هغه پرځپل خای ناست وُړ یاولاړ وو نوړا ئ ورته وویل نو هیڅ شی نه درکول کیږی که یو څه ته ډری ولاړی بیا ئ ورووښو وی نو بیا درکول کیږی - (رد المحتار ص۸۸ ج ۵)

(۲۵) دتاوان اخستو بیان — باب

(۱) مسئله:- پنه رنگریز، دوبی - خیاط یا په یوبل کسب کار ه دی کار وکړی نو هغه شی چه د ه ته دی ورکړی دی د د ه سړه امانت دی که غلا سی یا بیله قصده په یوبله طریقه سړه ضائع سی نو د دی څخه تاوان اخستل روانه دی لیکن



که ده دامی بی احتیاطی وکړه چه نوکر خیری سو یا منه ورینبمینه جامه ئی
داو ربرکوړه کښیښود ه هغه خرابه سوه نو تاوان اخستل ځندی روادی دغه
رنګه که ئی نوکر بدل کړی نو د هغه تاوان اخستل هم روادی اوکه نوکر ورک
سو اددی وایی چه نه دی راملوم چه څرنګه ورک سو ـ څه سو ـ نو د دغه
تاوان اخستل روادی اوکه دی وایی چه نما غلا وسوه په هغه کښی تللی دی ـ نو
تاوان اخستل روانه دی ـ (شرح البدایه ص۴۹۴ دریم توک)

(۲) مسئله :ـ یوه مزدور ته دی غوړی ـ تیل یا بل شی ورکړه چه زما کور
ته ئی ورسوه د ده څخه په لارکښی توی سوه نو تاوان ځندی اخستل روا
دی ـ (مرآة المجلة ص۳۰۱)

(۳) مسئله :ـ چه کسب کاره نه وی بلکه خاص ستاد کار د پاره وی مثلاً
نوکر مزدور، یا هغه مزدور چه تادیوی یاد (۲) ورځو د (۳) ورځو د پاره مزدور
کړی وی د ده څخه چه هر څه ضائع سی د دغه شی تاوان ځینی اخستل ـ
روانه دی التی که ئی قصداً ضائع کړی نو تاوان ځندی اخستل روادی ـ (مجمع
الانهر ص۳۹۴ دوهم توک)

(۴) مسئله :ـ دکوچنی دساعت تیری او ایمنو لو د پاره چه کوم مزدور
دی د هغه د غفلت د وجهی څخه که دکوچنی زیور یا بل شی ورک سی نو تاوان
ځندی اخستل روانه دی ـ شرح التنویر ص۶ پنځم توک)

(۲۶) د اجاری د ماتولو بیان — باب

(۱) مسئله :ـ یوکور ئی په کرایه واخستی هغه د ډیر څخه بدی یا یو حصه د
هغه لوید لی اونړید لی وه یا یو بل داسی عیب پکښی پیدا سو چه د دغه وجهی
د سیدل پکښی مشکل اوګران دی نو د اجاری ماتول صحیح دی اوکه بالکل
نړید لی وی نو پخپله اجاره ماته سوه ستاد ماتیدو او د مالک د راضی کیدو
ضرورت نشته ـ (شرح البدایه ص۳۹۸ دریم توک)

(۲) مسئله :ـ چه په کرایه ئی شی ورکړی وی بل په کرایه ځندی اخستی
ی د دی د وارد څخه که یو مرسی نو اجاره ماتیږی ـ (شرح البدایة ص۳۹۹ ج۳)

(۳) مسئله :ـ که یو عذر پیدا سی چه د کرایی ماتولو ضرورت وی نو ـ د

مجبوری په وخت کښی ئی مانوټل صحیح دی مثلاً دیوځای د تلو دپاره ئی تانګه (بګۍ) ټیکسی کرایه کړی وی بیا ئی فکر بدل سو د تلو ارادہ ئی ختمه سوه نو اجارہ مانوټل صحیح دہ۔ (مجمع الانهر ص۴۰۰ دریم ټوک)

(۴) مسئله:۔ داچه د رواج دی د کرایی معلومولو وروسته یوځه (بیعانه) بیانه ورکوی که دوسره ولاړی پوره کرایه ورکوی او هغه بیانه به په کرایه کښی مجرا کوی او که نه نو دوسره ولاړی نو هغه بیانه۔ نوش جان۔ کوی بیرته ئی نه ورکوی دا روانه دی باید بیرته ئی ورکړی۔ (فتاوی هندیه ص۴۷۸ ج ۲)

(۲۷) بیله اجازی دچا شی د اخستلو بیان — باب

(۱) مسئله:۔ دیو چا یو شی په زور اخستل یا دهغه په غیاب کښی د هغه بیله اجازی اخستل دیره لویه ګناه ده۔ (فتاوی هندیه ص۴۷۸ دوهم ټوک) بعضی بنځی د خپل میړه یا دیوبل قریب شی بیله اجازی اخلی نو دا هم روانه دی هر شی چه بیله اجازی واخلی نو که هغه شی موجود وی نو بعینه هغه شی باید ورکړی که مصارف سوی وی نو د دی حکم دا دی که چیری دا سی شی وی چه مثل ئی په بازار کښی پیدا کیدای سو۔ لکه غله غوړی تیل روپی، پیسی۔ نو هر قسم شی چه ئی اخستی وو د خپل میړه یا بل چا د غسی قسم شی را نیول او ورکول واجب دی او که ئی یو داسی شی واخستی ضائع ئی کړی چه د دہ مثل پیدا کیدل مشکل وی نو به ئی قیمت ورکوی لکه چرګه او بزه، امرت، نارنګۍ او شفتالو۔ (فتاوی هندیه ص۱۱۹ ج۵)

(۲) مسئله:۔ چارپائی (چپرکټ) چه په زور یا بیله اجازی ئی اخستی وه یوه پښه ئی ماته سی یا سر بند یعنی هغه اوږدلرګی ئی مات سو کوم چه د چارپائی د پښو په سر یا تو کښی بند دی او دغه دوه (۲) سوریان خراب سوه۔ یا ئی یوبل شی اخستی وو هغه خراب سو نو د خرابید وځخه چه څوند ی تاوانی سوی وی هغه تاوان به ورکوی۔ (شرح البدایة ص۳۵۸ دریم ټوک)

(۳) مسئله:۔ په پرد یو د پیو ئی بیله اجازی تجارت وکړی په دغه کښی چه هر څوند ه ګټه وکړی اخستل ئی روانه دی بلکه اصلی روپی دی مالک ته ورکړی او هر څه چه ئی ګټه کړی دا هغه دی د اجی خلګو ته په خیرات کښی ورکړی چه دیر غریبان[۱] وی۔ (شرح البدایة ص۳۵۹ دریم ټوک)

[۱] یعنی د دیر غریب والی رعایت بهتر او ښه دی ۱۲

④ مسئله:- دیو چا یو جامه ئې خیری کړه نو که لږ خیری سوی وی نو هر څوندی چه نقصانی سوی وی هغوندی تاوان به ورکوی او که ئې دا سی خیرلی وی چه اوس د دغه کار نه وی کوم چه اول د هغه کار د پاره وه مثلاً پورونی ئې دا سی خیری کړی چه اوس د پورونی قابل نه دی البته قمیص څندی جوړید لای سی نو دا جامه د ی هغه خیرونکی ته ورکړی او د جانی (پتوکر) پتول قیمت د ی څندی واخلی - (شرح البدایة ص۳۶۳ ج ۳)

⑤ مسئله:- دیو چا غمی ئې واخستی چه په خپله انګشتری کښی ئې ولګاوی نو اوس به د غمی قیمت ورکوی انګشتری (گوتکی) یا گوتمی ماتول او غمی څندی را ایستل واجب نه دی - (شرح البدایه ص۳۶۳ دریم پتوک)

⑥ مسئله:- دیو چا پتوکر د ی واخستی رنګ د ی کړی نو اوس د ده اختیار د ی چه د غه رنګید لی پتوکر واخلی او هر څوندی پیسی چه پر رنګ لګید لی وی یعنی چه د رنګو لو څخه هر څوندی قیمت لوړ سوی وی د غوندی پیسی د ی ورکړی او یا دا رنګه وکړی چه د خپل پتوکر قیمت څندی واخلی او پتوکر و هغه ته د ی پریږدی (فتاوی هندیه ص۱۲۱ پنځم پتوک)

⑦ مسئله:- تر تاوان ورکولو وروسته که هغه شی پیدا سو نو باید وکتل سی که تاوان د مالک د ینا او ښو ولو سره برابر ورکړی وی نو اوس ئې بیرته ورکول واجب نه دی نو هغه شی د ده سو او که ئې د مالک تر ښو ولو کم ورکړی وی نو د غه تاوان ورکول او خپل شی بیرته اخستل روا دی - (شرح البدایة ص۳۶۵ دریم پتوک)

⑧ مسئله:- پردی بزه یا غوا کو رته راغله نو د د ی شیدی لوشل حرامی د ی هر څوندی شیدی چه ئې څندی لوشلی وی د هغه قیمت به ورکوی. (مشکوٰة شریف ص۲۵۴)

⑨ مسئله:- ستن، تار، رسنکی، پان، تمباکو هغه شی چه پان پکښی رنګیږی او دا سی نور شیان چه څرک خاص اعتبار نه ورکوی بیله اجازی اختیار را نه دی هر څی چه ئې اخستی وی د هغه قیمت ورکول واجب دی یا دی ئې مالک ته ورایی چه ورځی بخښی که دا سی نه وکړی نو په قیامت به ئې ورکوی. (مشکوٰة ص۲۵۵)

(۱۰) مسئله:- خاوند د خپل ځان د پاره کالی راوړه کا د پریکولو په وخت کښی ئی د دغه څخه څه غلا کړه کښی ئی بنو وه د ده ته ئی نه وویل داهم روا نه دی هرڅه چه بنځه اخلی نو ورته ودی وایی که ئی اجازه ورکړه وادی خلی که ئی اجازه ورنه کړه نو نه دی اخلی - (در مختار ص۲۰۷ دوهم توک)

(۲۸) دشراکت بیان باب

(۱) مسئله:- یو سړی مړ سو او د ده ترشا څه مال پاته سو نو د ده مال د پتلو حقدارانو په شراکت کښی دی ترڅو چه دپتلو څخه اجازه وانه خلی د دی مال څخه هیڅوک کار نه سی اخستلای که خپل کار څندی اخلی او نفعه څندی پورته کوی نو ګنهګار ه کیږی - (فتاوی هندیه ص۹۱۶ ج ۲)

(۲) مسئله:- د دو (۲) و بنځو په ګډه څه لوښی را نیولې نو د غه لوښی د د واړه شریک دی بیله اجازی دیوی د بلی څخه یوازی ئی یوه نه سی استعمالولای نه خپل کار څندی اخستلای سی نه ئی خرڅولای سی او نه داسی نور تصرف پکښی کولای سی - (فتاوی هندیه ص۹۱۶ دوهم توک)

(۳) مسئله:- د دو (۲) و بنځو خپلی خپلی پیسی سره ګډی کړی په شراکت ئی امرت نارنګۍ، بیری، آم، جامن، بادرنګ، چمبرخیال، څټکی، هندوانی یا بل داسی شی را وغوښتی او هر وخت چه هغه شی د بازار څخه راغلی نو په دی وخت کښی - د دوی څخه یوه موجوده ده او یوه بیرته ای تللی ده نو د غه چه موجوده ده هغه دی داسی نه کوی چه نیمی خپله واخلی او نیمی دهغی حصه جلا کړی. ورته کښی ئی بدی چه هر وخت هغه راسی نو به ئی واخلی ترڅو پورې چه د واړې موجودی نه وی نو حصی تقسیمول روا نه دی که د هغی بلی تر راتلو مخکی خپله حصه جلا کړی ولی ځوری نو پیره ګنهګار ه ده البته که غله مثلا غنم یا داسی بل شی ئی په شراکت سره را وغوښتل او تقسیم ئی کړه خپله حصه ئی کښیښوده او هغی د هغی حصه ئی هغی ته ورکړه دا روا دی لیکن که د هغه بلی یوڅه حصه هغی ته د ورکولو مخکی غلا سوه نو د غه تاوان د د واړو بلل کیږی هغه دی بلی په حصه کښی شریک کیږی - (در مختار ص۲۱۸ دوهم توک در مختار علی حاشیة الشامی ص۲۲۱ دوهم توک)

(۴) مسئله:- سل (۱۰۰) سل روپی ئی سره گډی کړی دوو (۲) شریکانو یو تجارت شروع او اقرار ئی وکړی چه هرڅه گټه وی نیمی زما ده نیمی ستاده دغو دا صحیح ده اوکه ئی دویل چه دری حصی زما دی یوه حصه ستاده هم صحیح دی نور نو که دد واړه روپی برابری لګیدلی وی یا لږ یا ډیری لګیدلی وی پتول روا دی - (شرح البدایة صـ۶۰۹ دوهم پتوک)

(۵) مسئله:- تراوسه ئی هیڅ مال نه دو راګیولی چه هغه پتولی روپی غلا سوی یاد د واړه روپی جلا جلا پرتی وی اودد واړه ډڅخه دیوه مال غلا سو نو شراکت ئی ختم سو بیادی دغوی سره شریکان سی سوداګری دی وکړی - (شرح البدایة صـ۶۱۰ ج۲)

(۶) مسئله:- دوو کسانو شراکت سره وکړی او وئی ویل چه سل (۱۰۰) روپی زما دی او سل (۱۰۰) روپی خپلی ورسره یو ځای کړه ته دپتوکرانو تجارت پرې وکړه او گټه ئی نیمه نیمه تقسیمو و بیانود واړه ډڅخه یوه یوڅه پتوکرانوی بیاد هغه بل پورته سل (۱۰۰) روپی غلا سوی نو هرڅوندی مال چه ئی راګیولی دی هغه د د واړه شویک دی ددی سببه نیم قیمت د د ه ډڅخه اخستلای سی - (فتاوی هندیه صـ۶۱۱ دریم پتوک)

(۷) مسئله:- په تجارت کښی ئی دا شرط ولګاوی چه په گټه کښی لس (۱۰) یا پنځلس (۱۵) روپی زما دی نوره چه هرڅه گټه وی هغه ستاده دا روانه دی - (فتاوی هندیه صـ۶۱۲ دوهم پتوک)

(۸) مسئله:- د سوداګری په مال کښی څه غلا سو نو د د واړه تاوان کیږی او داسی نه ده چه هرڅه تاوان وی هغه به تولو دریو درسره ماتیږی که ئی دا اقرار کړی وی چه که تاوان وی هغه پتول زما ذمه دی او چه فاید ه وی هغه موسره نیمی ده دا هم روانه دی - (فتاوی هندیه صـ۳۲۰ دوهم پتوک)

(۹) مسئله:- چه شراکت نارواسی نو په گټه ویشلو کښی د تول او اقرار هیڅ اعتبار نسته بلکه که د د واړه مال برابر وی نو گټه هم برابره ورکول کیږی اوکه برابر نه وی نو د هریوه مال چه پیر دی د ه ته هم نفعه او گټه د د څه حساب څخه ورکول کیږی برابره خبره ده هرڅنګه اقرار چه ئی کړی وی دا اقرار هغه د خت اعتبار نسته چه شراکت صحیح وی ناروا او فاسد نه وی - (فتاوی هندیه ج۲ صـ۳۳۹)

(۱۰) مسئله:- دوو (۲) بنځو شراکت وکړی چه د د ی خواهغه خوا څخه چه د هر

څه ګټه لوجوړید لو کار راځی زه اوته به ئی په ګډه سره ګټه واوجوړوو
او هر څه چه په ګډه سره وګټه و نو مزدوری به ئی نیمه نیمه سره ویشو نو
داشراکت روادی اوکه ئی دا اقرار وکړی چه په ګډه به ګټه ل اوجوړول کوو
او نفعه اوګټه ئی دوی حصی نمادا اویوه حصه ستاده نو هم روادی او
که ئی داسی اقرار وکړی چه لس(۱۰) روپی یا شل(۲۰) روپی زمادی نوری ټولی ستادی
نو دا روانه دی۔ (شرح البدایه ص۶۱۲ دوهم ټوک)

(۱۱) مسئله:۔ په دی دواړو کښی یوی بنځی یو ټوکر دګټه لو دپاره واخستی نو
دا بله داسی نه سی ویلای چه دغه ټوکر تا ولی اخستی دی تا اخستی دی
ته به ئی ګټه ی بلکه د دواړو پر ذمه د دغه ګټه ل واجبیږی که ئی یوه نه سی
ګټه لای هغه بله به ئی ګټه ی یادی ئی دواړی په ګډه سره وګټه ی غرض دادی
چه دګټه لو څخه انکار نه سی کولای۔ (مراة المجله ص۲۳۱ څلرم ټوک)

(۱۲) مسئله:۔ ټوکر او کالی چه د هر چا دا وه هغه د غو بنتنی د پاره راغله او کومی بنځی
چه ځندی اخستی دی هغه وخت هغه نسته بلکه د غه بله بنځه ده نو د
دی بلی بنځی څخه ئی غو بنتل صحیح دی دا بنځه داسی نه سی ویلای
چه زما سره دی څه مطلب دی هر چانه چه دی وړکړی دی د هغه څخه
ئی د غواړم۔ (مراة المجله ص۲۳۱ څلرم ټوک)

(۱۳) مسئله:۔ داغه رنګه هره بنځه د دی جانی او ټوکر مزدوری غو بنتلای
سی هر چا چه ټوکر او کالی وړکړی وه دا خبره نه سی کولای چه زه تا ته دګټه لو
مزدوری نه درکوم بلکه هر چانه چه می ټوکر او کالی وړکړی وه هغه ته مزدوری
درکوم چه دواړی په شراکت سره کار کوی نو هره بنځه د مزدوری طلب کولای
سی دده دی دواړو څخه چه هره یوی ته مزدوری ورکوی ددی دنی څخه ادا
کیږی۔ (مراة المجله ص۲۳۲ دوهم ټوک)

(۱۴) مسئله:۔ دوه بنځو شراکت سره وکړی چه راسی دواړی به په ګډه سره د
ځنګله څخه لرګی راوړو یا کیکر یا کنډی به راوړو یا به په شراکت سره د غنمو
وښی ټولوو نو دا شراکت صحیح نه دی هر شی چه د هر چا په لاس ورغلی هغه
د دا غه شی مالک دی په دی کښی شراکت نه سی کیدلای۔ (شرح البدایة ص۶۱۴ ج۲)

(۱۵) مسئله:۔ یوی بنځی بلی ته دویل چه زما۔ هګی ترخپلی چرګی لاندی کښیږده

نو هرڅه چیچان چه ئې وایستل نو به ئې دواړې سره نیمی کړو داسی شراکت صحیح نه دی۔ (در مختار ص۱۷۲ څلرم پتوک و فتاوی هندیه ص۱۱۳ دریم پتوک)

(۲۹) دشریک شی دتقسیمولو بیان

باب

(۱) مسئله:۔ دوه (۲) خلګو په ګډه سره د بازار څخه غنم راوړل نو اوس د تقسیم کولو په وخت کښی د دواړو موجود والی ضروری نه دی هغه بل حصه دار که موجود نه وی بیا هم صحیح ټول کول چه دهغه حصه جلا کړی نه دی خپله حصه جلا کښیږدی روادی چه خپله حصه ئې جلا کړه نو دی وخوری وچیښی چا ته دی ورکړی هرڅه چه ئې زړه غواړی هغه دی په وکړی ټول روادی داغه رنګه تیل۔ غوړی، هګۍ او داسی نور شیانو هم داغه حکم دی غرض چه هرشی دا رنګه وی چه په ده کښی څه فرق نه وی لکه هګۍ چه ټولی هګۍ سره برابری دی یا غنم دوی حصی کړی لکه چه دغه حصه ده داغه رنګه هغه بله حصه هم ده دواړو سره برابری دی داسی ټولو شیانو داغه حکم دی چه دهغه بل دنه موجودیت په وخت کښی هم خپله حصه جلا کولای سی لیکن که هغه بل لاټرا وسه خپله حصه نه وی اخستی چه په یو طریقه سره ضائع سوه۔ نو داتاوان د دواړو سره شریک دی لکه چه په شراکت کښی بیان سوه او په هغه شیانو کښی چه فرق وی لکه امرت، نارنګی او داسی نور شیان دهغو حکم دادی چه ترڅو دواړه حصه دارانو موجود نه وی خپله حصه جلا کول صحیح نه ده (مرآة المجلة ص۸۳ وص۸۴ دوهم پتوک)

(۲) مسئله:۔ دوه (۲) انجونو په ګډه سره آم، امرت یا بل څه شی راوړل نو بیا د یو ځای تللی وه نو اوس د دغه څخه خوړک کول روانه دی چه هغه بله راسی دهغی په مخ کښی دی خپله حصه جلا کړی بیا دی ئې وخوری که داسی نه کوی نو پدیره ګناه ده۔ (مرآة المجلة ص۸۳ دوهم پتوک)

(۳) مسئله:۔ دوه (۲) سنځو په ګډه سره نخود نیولی کړه نو فقط په اټکل او اندازه سره تقسیم کول صحیح نه دی بلکه بنه سم دی ټول کړی نیمی نیمی دی کړی که یوی ته زیادت یا کمبوت راسی نو سود ځنډی جوړیږی۔ (عالمګیری ص۲۰۸ پنځم پتوک)

(۳۰) دیوشی په گروی اینبوولو بیان باب

(۱) مسئله:- تادیو چاځخه لس روپی په قرض واخستی اود اعتبار نه پاره دی یوشی دده سره کښیښووی چه که ستا په ما اعتبار نه وی دغه زماشی دځانه سره کښیږده هروخت چه روپه اداکړم نو خپل شی به اخام داوادی دی ته گروی ویل کیږی لیکن سود ورکول هیڅ قسم صحیح نه دی لکه چه نن سبا مارکه اود نیا دارکه خلگ سود اخلی گروی ایږدی دا روانه دی سود اخستل او ورکول دواړه حرام دی (درمختار ص۵۸۵ ج ۲)

(۲) مسئله:- چه تایوشی په گروی کښیښووی نو ترڅو پورې چه قرض دی اداکړی نه وی نو خپل شی دهغوبستلو او اخستلو حق نه لری. (فتاوی هندیه ص۳۱۹ څلرم توک)

(۳) مسئله:- هرشی چه یوچاستاسره په گروی کښیښووی نو هغه شی پخپل کار اچول اود هغه څخه یوقسم فایده پورته کول د دامی باغ میوه خوړل د دامی مځکی غله یا روپی خوړل په دامی کورکښی اوسیدل هیڅ روا نه دی (مراة المجلة ص۳۸۹ اول توک)

(۴) مسئله:- که بزه، غوا او دامی بل شی گروی وی نو د دوی شیدی، ویږی مخوندر او داسی نور هرڅه چه دی هغه هم د مالک دی دهرچا سره چه گروی وی دا ټول اخستل روانه دی شیدی خرڅوی په گروی کښی دی قیمت شامل کړی هرهغه وخت چه هغه ستا قرض اداکړی نو گروی دغه شی اود شیدو قیمت بیرته ورکړه اوکوم شی چه تاپه خوړلی وو د هغه قیمت څنډی راواگرزوه. (مراة المجلة ص۳۷۳ اول توک)

(۵) مسئله:- که ته خپلی روپی یوڅه اداکړی بیا هم دگروی شی نه سی څنډی اخستلای هروخت چه ټولی روپی اداکړی نوهغه شی درکول کیږی. (مراة المجله ص۳۸۱ اول توک)

(۶) مسئله:- که تالس روپی په قرض واخستی او د لسو روپو شی یا د پنځلسو شلو روپو شی دی په گروی ورته کښیښووی اوهغه شی د دده څخه ورک سو نواوس هغه نه ستا څخه خپل قرض اخستلای سی اونه ته د دده څخه خپل

گروُ سوی شی قیمت اخستلای سی ستاشی ولاړی دده روپی ولاړی که دی د
پنځو روپو شی په گروی ورته اینبی وی او دغه نیستی سو نو به پنځه روپی تاوان
کوی او پنځه روپی مجرا سوی۔ (فتاوی هندیه ص۳۲۸ څلرم توک)

(۳۱) دوصیت کولو بیان

باب

(۱) مسئله:۔ داوینا او ویل چه زما تر مرگ وروسته زما دوندی مال فلانی
سړی ته یا ئی په فلانی کار کښی ولگوی دا وصیت دی۔ (مجمع الانهر ص۶۹۱ دوهم توک)
برابره خبره ده که ئی د جوړوالی په وخت کښی ویلی وی یا ئی په ناجوړی کښی ویلی
وی که په دی مریضی کښی مړسی یا بنه سی او کوم شی چه په خپل لاس ئی یو
ځای درکړی۔ یو چاته قرض ورمعاف کړی نو ددی حکم ط دی چه په جوړوالی
کښی هر قسم هر رقم روا او صحیح دی او دغه رنگه چه دکوی مریضی څخه جوړسی
په دغه کښی هم روا دی او په کومه مریضی کښی چه مړسی هغه وصیت دی چه
ددغه حکم مخکی راروان دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۰۷۶ دریم توک) مراة المجلات ص۳۲۸ ج۳

(۲) مسئله:۔ که دچا پر ذمه روژی، لمنځونه، زکوٰة۔ یا د قسم یا در وژی
او داسی نور شیانو کفارې پاته وی او دغوندی مال هم موجود وی نو د
مرگ په وخت کښی ددی شیانو د پاره وصیت کول ضروری او واجب دی.
داغه رنگه که دیو چاځه قرض وی یا ئی یو امانت ددده سړه اینبی وی نو ددغه
امانت وصیت کول او د قرض وصیت کول هم واجب دی که وصیت نه کوی گناه
لازمیږی او که ئی یو قریب عزیب وی چه وده ته په شرعه کښی هیڅ میراث
هم نه رکول کیږی او ددده سړه ډیر مال او دولت وی نو د وی ته یو څه ور
کول او وصیت کول مستحب دی او د نورو خلگو د پاره د وصیت کولو او نه کولو
اختیار لری۔ (در مختار ص۳۱۶ وشامی ص۸۶۸ پنځم توک)

(۳) مسئله:۔ د مړی د مال څخه دی اول ددده دگور او کفن سامان
برابر کړی بیا چه هغه پاته سی د هغه څخه دی ددده قرض ادا کړی که د مړی
تول مال په قرض ادا کولو کښی لگیږی نو تول مال ئی په قرض کښی مصرف شو۔ او

ه ددی مریضی څخه مرض الموت مراد دی یعنی داسی مرض چه په د غه کښی غالب گمان د
روغی اوبه داغه مرض کښی مړسی ۱۲

وارثانو ته هیڅ نه ورکول کیږی۔ ددی سببه د قرض دا د اکولو پر وصیت په هرحال کښی عمل کوو که ټول مال ددی وصیت د سببه څخه خرڅ سی بیا هم هیڅ پروا نه لری بلکه که وصیت هم د نه کړی بیا هم قرض اول ادا کوو او د قرض څخه علاوه د نورو شیانو د وصیت اختیار فقط په دریمه حصه د مال کښی دی یعنی هرڅوندی مال چه ئ پری اینی دی که د ددی مال د دریمی حصی څخه چیری وصیت پوره سی مثلاً تر کفن دفن او قرضی ادا کولو وروسته دری سوه روپی پاته سی او په (۱۰۰۰) روپو کښی ټول وصیتو نه پوره کیږی بیا نو وصیت پوره کو ؤ او تر دریمی حصی زیات نګول د وارثانو پر ذمه واجب نه دی د دریمی حصی د مال څخه چه هرڅوندی وصیتو نه پوره کیږی هغه دی پوره کړی نور دی پریږدی البته که ټول وارثان په خوشحالی سره راضی سی چه موږ خپلی خپلی حصی نه اخلو ته ئ د ده په وصیت کښی خرڅ کړه نو البته تر دریمی حصی زیات هم په وصیت کښی نګول روا دی لیکن د نابالغانو د اجازی هیڅ اعتبار نسته که اجازه هم ورکړی د دوی اجازه اعتبار نه لری نو ددی سببه د دوی حصه مصرف ټول روا نه دی۔ (فتاوی هندیه ص ۸۷۸ څلرم ټوک۔ در ورد المحتار ص ۵۷۱ پنځم ټوک)

(۴) مسئله:۔ هرچاته چه په میراث کښی مال رسیږی لکه مور، پلار میړه، زوی او داسی نور د دوی د پاره وصیت کول روا نه دی او د هغه قریب چه په دغه مال کښی هیڅ حصه نه وی یا بالکل قریب نه وی یو بیګانه سړی وی د دوی د پاره وصیت کول صحیح دی لیکن دا اختیار نه لری چه د مال تر دریمه حصه زیات ورکړی که ئ د خپل وارث د پاره وصیت کړی وی چه زما تر مرګ وروسته ده ته فلانی شی ورکړی یا دوندی مال ورکړی نو دغه وصیت به ده ته هلته رسیږی چه ټول وارثان راضی وی۔ داغه رنګه که ئ چاته تر دریمه زیات وصیت وکړی او مړ سو د دی هم داغه حکم دی چه ټول وارثان په خوشحالی سره راضی سی نو تر دریمه زیات ورسیږی او که ټول وارثان راضی نه وی فقط دریمه حصه مال ورکول کیږی او د نابالغانو اجازه په هیڅ صورت کښی اعتبار نه لری هرڅای د ده خیال وساته وار وار به ئ ترکومه غایه لیکو۔ (شرح التنویر ص ۵۷۵ ج ۵ در ورد المحتار ص ۵۷۱ ج ۵)

(۵) مسئله:- که څه هم په دریمه حصه کښی د مال د وصیت کولو اختیار دی لیکن بنه داده چه د پوره د دریمی څخه وصیت ونه کړی د لږ وصیت وکړی بلکه که د پیرزیات مال لپاره نه دی وصیت دی بالکل نه کوی د وارثانو د پاره دی پریږدی چه په بنه استراحت سره ژوند وکړی څکه چه خپل وارثان په استراحت او فراغت کښی پریښودل د پیر ثواب لری - البته که ضروری وصیت وی نکه د مخه روښانه کړی نو دا سی وصیت کول په هرحال په کار دی اوکه نی وصیت ونه کړی نو گناه لری - (شرح البدایة صـ۶۴۱ څلرم توک)

(۶) مسئله:- یو چا وویل چه زما د روسته زما د مال څخه سل (۱۰۰) روپی خیرات کړه نو وگورله چه تر گور کفن او قرض ادا کولو د روسته څوندی مال پاته سویدی که دری سوه (۳۰۰) یا تر دغه زیاتی پاته سوی وی نو پوره سل (۱۰۰) روپی باید خیرات کړی او چه کمی وی نو صرف د دریمه حصه د ترکول نی واجب دی هوکه ټول وارثان په خپله خوښه سره بیله کوم زور نه راضی سی نو بیله خبره ده - (شرح التنویر صـ۵۷۵ پنځم توک)

(۷) مسئله:- که د چا هیڅ وارث نه وی هغه ته د پوره د مال وصیت کول هم روادی که نی صرف ماینه وارثه ورنه نو په څلورو کښی د درو حصو وصیت کولای سی داغه رنگه که د چا صرف خاوند وارث وی نو د نیمی مال وصیت کول صحیح دی - (در مختار د رد المحتار صـ۳۱۹ دوهم توک)

(۸) مسئله:- د نابالغه وصیت کول صحیح نه دی. (فتاوی هندیه صـ۴۸۶ ج ۴)

(۹) مسئله:- داسی وصیت نی وکړی چه زما د جنازی لمونځ دی فلانی سړی راکړی په فلانی بنار یا په فلانی اډیره کښی یا د فلانی د قبر سره ما پټ کړی د فلانی قسم ټوکر کفن راکړی زما قبر پوخ جوړ کړی زما پر قبر گنبد نه جوړ کړی پر قبر نی یو حافظ کښینوی چه قرآن وایی او ثواب نی ماته رابخښی نو د داسی وصیت پوره کول ضروری نه دی بلکه د دغه اخیری دری وصیتونه بالکل روانه دی که نی څوک پوره کوی گنهگار نه دی. (در مختار صـ۳۲۲ دوهم توک)

(۱۰) مسئله:- که یو څوک وصیت وکړی بیرته پرخپل وصیت پښیمانه سی یعنی وایی چه زما د هغی خوښه نه ده د دغه وصیت ته اعتبار نه ورکوی نو هغه

له یا د داسی کار وکړی چه د وصیت څخه د رجوع کولو دلالت کوی ۱۲ (فتاوی هندیه) - ۶ - ۱۲

وصیت باطل سو۔ (فتاوی هندیه ص۴۸۷ څلرم توک)

(۱۱) مسئله:۔ لکه چه د درېمی حصی څخه د زیات چه وصیت نه سی کولای
داغه رنګه د مریضی په حال کښی تر درېمه حصه زیات د خپل مال څخه بیله
خپل ضروری خرڅ مثلاً خورک، چښل، دوا۔ او داسی نورو مصرفول روانه دی
که ئی تر درېمه زیات ورکړی نو د وارثانو بیاه اجازی دغه ورکړه نه صحیح
کیږی او هر څوندی چه تر درېمه زیات دی وارثانو ته د هغه د اختیار
سته اوکه نابالغ اجازت ورکړی نو بیا هم معتبر نه دی او وارث ته ئی په
درېمه کښی هم نه سی ورکولای بیاه اجازی د تولو وارثانو او د هغه حکم هلته
دی چه په ژوندکښی ئی ورکړی هغه قبضه هم پروکړی اوکه ئی ورکړی او هغه
تر اوسه قبضه نه وی پرکړی نو تر مرګ وروسته ئی ورکول بالکل روانه دی
د ده ته هیڅ نه ورکول کیږی د هغه تول مال د وارثانو دی اوچه د مریضی
په حال کښی د خدای په لار کښی یو څه ورکوی او په نیک کار کښی ئی لګوی
دا دی همدغه حکم دی خرڅ دا دی چه تر درېمه زیات هیڅ قسم مصرفول
روانه دی۔ (فتاوی هندیه ص۱۰۷۶ درېیم توک وشرح التنویر ص۶۰۸ پنځم توک)

(۱۲) مسئله:۔ د مریض د پوښتنی د پاره یو څه خلګ راغله او یو څو ورځی
ئی دلی تیری کړی چه د مریض د مال څخه خورل او چښل کوی نو که د مریض
د خدمت د پاره د دوی د اوسیدو ضرورت وی پروا نه لری اوکه ضرورت
نه وی نو د درېمی د مال څخه زیات مصرفول د دوی د پاره روانه دی اوکه
ضرورت هم نه وی او د هغه خلګ وارثان وی نو تر درېمه حصه کم مصرفول
هم روانه دی یعنی دوی ته د ده د مال خورک روانه دی۔ هو۔ که تول
وارثان په خوشحالی سره اجازه ورکړی بیا روا دی۔ (رد المحتار ص۶۴۳ پنځم توک)

(۱۳) مسئله:۔ په داسی مریضی کښی چه په هغی مریضی کښی مړسی د خپل قرض
د معافولو حق نه لری اوکه ئی پرخپل وارث حق باندی وګوهغه ته ئی ورمعاف کړی
هم نه معافیږی اوکه تول وارثان د هغه معافی منظوره کړی او بالغان هم وی۔
بیا معافیږی اوکه ئی غیر وارث ته ورمعاف کړی نوچه د مال تر درېمه هر څوندی
زیات وی هغه نه معافیږی اکثره رواج دی چه بنځه د خپل مرګ په وخت کی

له د دی مریضی څخه مرض الموت مراد دی یعنی هغه مریضی چه په دی کی غالبه پیره د مرګ وی او په د غه مریضی کی مړسی ۲ محشی

خیل مهر معافوی لیکن دا معافول صحیح نه دی - (مرآة المجلة ص۳۲۸ دوهم ټوک)

(۱۴) مسئله :- په حال د حمل کښی چه د اولاد د پیدا کیدو د مړ د ونه ټی وی که یو چاته یو څه وصیت وکړی یا مهر یا بل شی غفان کړی نو د دی هم هغه حکم دی چه د مرګ په وخت کښی د ورکولو اختیار دی یعنی خدای دی نه کوی که چیرې مړه سی بیا نو دا وصیت دی د ځه د وارث د پاره هیڅ روانه دی او د بیګانه د پاره تر درېمه زیات روانه دی او نه تر درېمه زیات قرض وړ معافولای سی البته که په خیر او خوبی سره هلک پیدا سو نو بیا هغه ورکول اختیار معافول ټول صحیح سوه - (عالمګیری ص۴۰۳ څلرم ټوک)

(۱۵) مسئله :- تر مرګ ورسته د ده د مال څخه ګور او کفن وړ کړه نور هر څه چه پاته سی تر ټولو مخکی د ده قرض په ادا کړه که ټی وصیت کړی وی یا ټی نه وی کړی د قرض ادا کول په هر حال کی دی د شپږ مهر هم په قرض کښی داخل دی که قرض نه وی یا تر قرض ورسته څه پاته سی نو باید د کتل سی چه څه وصیت خو ټی نه دی کړی که ټی وصیت کړی وی نو په درېمه کښی د هغه وصیت جاری کیږی او که ټی وصیت نه وی کړی یا تر وصیت ورسته چه هر څه پاته سوی دی هغه ټول د وارثانو حق دی.

شریعت چه هر رنګه د دوی حصی مقرری کړی دی نو دیو عالم څخه دی پوښتنه وکړی او د شریعت مطابق باید وړ کړه سی د اچه رواج دی په د مړی مال بس چه هر چاته په لاس ورسی هغه پر کښینی خوری ټی پیره لویه ګناه ده که ټی د لته نه ورکوی زور او طاقت لری په قیامت نو به ټی ورکړی چه هلته د پیسو په عوض کښی نیکیانی ورکول کیږی.

داغه رنګه د خوند د حصه هم باید وړ کړه سی په شرعه کښی دی هم حق لری - (شریفیه ص۳)

(۱۶) مسئله :- د مړی په مال کښی د میلمنو میلمستیاوی د را تلونکو خلګو پاره د ډډی خورک چیښل خیرات ټول او نور څه ورکول هیڅ روانه دی هغه رنګه د مرګ څخه ورسته بیا تر پټید و پورې په دی مابین کښی د هر څه غله، خوږی او داسی نور شیان فقیرانو ته د مړی د مال څخه ورکول کیږی د دی شیانو ورکول هم حرام دی - مړی ته ټی هیڅکله ثواب نه

رسیږی بلکه داسی شیان ثواب بلل سخته گناه ده ځکه اوس خو دغه تول مال د وارثانو سو نو د بل حق و هل او چاته ئی ورکول داسی مثال لری لکه د بل مال چه غلا کړی چاته ئی ورکړی تول مال پر وارثانو باید تقسیم سی بیا د دی اختیار دی چه د خپلو خپلو حصو څخه د شریعت موافق څه خیر وخیرات کوی که ئی نه کوی بلکه د وارثانو څخه د خرڅ کولو او خیرات کولو اجازه هم باید نه واخستل سی ځکه چه په اجازه غوښتلو کښی په ظاهره اجازه ورکوی او په باطن کښی دا ګڼړو خوښه نه وی ځکه چه په اجازه نه ورکولو کښی ئی بدنامی راځی نو دا رنګه اجازه بالکل معتبره نه ده

(فتاوی هندیه ص۳۲۳ ځلرم توک ردالمحتار ص۶۶۴ پنځم توک

(۱۷) مسئله:- داغه رنګه چه دا رواج دی چه د مړی استعمالی کالی خیراتیږی داهم بیله اجازی د وارثانو هیڅکله روانه دی اوکه په وارثانو کښی یو نابالغ وی بیا خو د اجازی سره سره هم روانه دی اول مال تقسیم کړه بیا چه کوم بالغان خلګ دی د خپلی حصی څخه چه ئی هرڅوندی زړه غواړی هغوندی دی ورکړی بیله تقسیمه ئی هیڅکله ورکول په کار نه دی - (فتاوی هندیه ص۱۰۸۳ و ص۱۰۴۴ دریم توک وکشف المبهم ص۳۰۴)

د اصلی بهشتی زیور پنځمی حصی اوله ضمیمه چه نامداره په بهشتی جوهر سره یاده ده

بسم الله الرحمن الرحیم

(۳۲)	د حلال مال طلب کولو بیان	باب

① په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د حلال (مال) طلب کول فرض دی ـ ورو سته تر بل فرض ـ یعنی د حلال مال طلب فرض دی ورو سته تر نورو فرضو یعنی تر هغو فرضو ورو سته چه کوم د اسلام ارکان دی لکه لمونځ، روژه او داسی نور مطلب دا چه د حلال مال طلب خو فرض دی مگر دده فرضیت تر نورو فرضونو کم دی کوم چه د اسلام ارکان دی او دا فرض دهغه چا پر ذمه دی چه د مال ضرورت خرڅ او مصرف د پاره محتاج وی ـ برابره خبره ده که د خپل ضرورت د رفع کولو د پاره وی یا د خپل اهل وعیال د ضرورت د رفعه کولو د پاره وی او د کوم چا د پاره چه په قدر د ضرورت مال او دنیا موجوده وی ـ مثلاً خاوند د جائیداد وی یا په یو بله طریقه سره مال او دنیا پیدا کړی نو بیا دده پر ذمه دا فرض نه پاته کیږی څکه چه خدای تعالیٰ مال د ضرورت د رفعه کولو د پاره پیدا کړیدی چه بنده خپل ضروری حاجتونه په پوره کړی او د پروردگار عالم په عبادت کښی مشغول سی څکه چه بیله خورکه او چنلو عبادت نه سی کیدای پس نو مال مقصود لذاته نه دی بلکه مطلوب لغیره دی نو هر څومره چه پر قدر د ضرورت حاصل سی نو خامخا د حرص په وجه د مال طلب کول او پیروی فرض نه دی بلکه د مال حرص د خدای جل جلاله څخه غفلت راوستونکی او د پیروانی ټی په گناوو کی مبتلا کونکی دی ـ بنه ټی واوره او دا خبره دی یاده وی چه حلالی مال پاید ولاس ته راسی د حرام مال وطرف ته د مسلمانانو د پاره نتوجه کول بالکل مناسبه نه ده څکه چه حرام مال بی برکته وی د اسی څوک چه حرام خوړی د دین او دنیا په ذلت او د خدای تعالیٰ په لعنت او غضب کښی مبتلا کیږی او د بعضو جاهلانو

دا خیال چه نن سبا حلال مال گټل هیڅ امکان نه لری او د حلال مال پیدا کیدو
څخه موږ نا امیده یو - سړی غلط او د شیطان دوکه او فریب دی دا خبره یاد
وساته او یقین پرې وکړه کوم څوک چه په شریعت عمل کوی د هغه امداد غیبو
څخه کیږی د چا چه نیت د حرام مال څخه د ځان ساتلو او د حلال مال د
حاصلولو وی پروردګار عالم په خپل فضل او کرم د غیبو څخه پرده باران د
رزق کوی او دا په ستر ګو لیدل سوی او په تجربه رسیدلی خبره ده او په قران
او حدیث کښی ځای پر ځای د هغه وعده سویده ده.

په دی نازکه زمانه کښی چه د خدای جل جلاله کومو بندګانو د حرام
او شبهه ناکه مال څخه خپل نفس راګرزولی دی و د وی ته پروردګار عالم
ښه حلال مال ورکوی او د وی تر حرام خوړو خلګو ډیر په راحت او عزت کښی
اوسیږی کوم څوک چه د خپل ځان سره او د نورو حضرا تو سره د پروردګار
عالم د هغه معامله وینی او ځای پر ځای په قران او حدیث کی د هغه مضمون
د ده مخ ته راځی نو هغه د اسی جاهلانو د خبرو هیڅ پروا نه کوی او کچیری
په یو معتبر کتاب کښی تاسی دا رنګه خبری و وینی نو د هغوی مطلب دا نه
دی کوم چه جاهلانو بللی دی پس نو هر وخت چه تاسی دا رنګه مضمون
و وینی نو د یو ښه دیندار عالم څخه د اسی مضمون پوښتنه وکړی. نو
انشاء الله ستاسو به اطمینان او تسلی په وسی او د اسی بیهوده خبرو
وسوسه به ستاسو د زړه څخه ووزی ښه ځان په پوه کړی.

خلګ د مال په باره کښی ډیر کم احتیاط کوی ناجائزه نوکری او وظیفی
اجراء کوی د نورو خلګو حق تلفی کوی د اټول حرام دی او دا خبره ښه یاد
ساتی چه د خدای جل جلاله په دربار کی د هیڅ شی کمبوت او لږوالی
نسته هر څوک چه په قسمت کښی لیکل سوی وی هغه ضرور رسیږی
بیا نو بد نیتی کول او د وبرخ ته د تللو تیاری کول د هوښیاری او عقلمندی
خبره نه ده ځکه چه د حلال مال د خوا ته د خلګو توجه ډیره کمه ده نو د
دی سببه بار بار (وار وار) په تینګار سره دا مضمون بیان سو په دنیا کی اصل
مقصد د انسان او پیدا کیدل ښت څخه دا دی چه انسان او پیدا کیدی د خپل خدای
عبادت وکړی - نو د دی سببه په هره معامله کښی د عبادت خیال ساتل په کار

دی - چښل او خوړل ددی د پاره دی چه قوت پیدا سی او د خدای پاک د عبادت
حق ادا سی او د خوړلو او چښلو څخه دا غرض نه دی چه شپه او ورځ د دنیا
په لذتونو کی مشغول وه او سی پروردګار عالم دی هیر سی او د خدای پاک
نافرمانی وکړی د بعضو جاهلانو دا خیال چه د دنیا ته فقط د چښلو او
خوړلو، مزو او خوند و نو د اخستلو د پاره راغلی یو - ډیره سخته د بی دینی
خبره ده الله تعالی دی د جهالت او ناپوهی بیخکنی وکړی چه څوندی بنده بلا
ده - (عن عبد الله بن مسعود قال قال رسول الله صلی الله علیه وآله و
سلم طلب کسب الحلال فریضة بعد الفریضة - رواه البیهقی فی شعب الایمان
وروی الدیلمی عن انس رض مرفوعًا بسند حسن بلفظ طلب الحلال واجب
علی کل مسلم)

(۲) په حدیث شریف کښی ذکر سوی دی چه رسول الله صلی الله علیه وآله
وسلم فرمایلی دی هیڅ انسان دی خوړلی یو خوړک او ډوډی هیڅکله بنه ستر
هغه خوړک او ډوډی (کوم) چه د خپلو دواړو لاسونو د عمل او کار په
وجه دی. او بی شکه د خدای نبی (حضرت) داؤد (علیه الصلوٰة والسلام) به
خوړک[1] کاوی د کار او عمل څخه د خپلو لاسونو - (رواه البخاری ص ۲۷۸ اول توک
مطلب دا دی چه د خپل لاس ګټلی ډیره بنه ده مثلاً یو کسب کول یا تجارت
او داسی نور کول خامخا پر بل چا نفس او دل مناسب نه دی او کسب حقیر او
خوار بلل ډیره بده خبره ده حکه چه کسبونه پیغمبرانو کړی دی بل
به نو څوک وی چه تر پیغمبرانو علی نبینا و علیهم الصلوٰة والسلام هم عزتمند
وی بلکه دهیڅ عزت د دوی (علیهم السلام د عزت سره برابر هم نه دی نو تر دوی
به زیات د کومی خواسی.

(۳) په یو حدیث شریف کښی راغلی دی چه هیڅ یو نبی داسی نه دی راغلی چه
ده شپانی نه وی کړی یعنی پسونه ئی نه وی پوولی... (بنه څان په پوه کړه
د جهالت څخه څان وساته)

او د بعضو خلګو خیال دی چه که دیو چا سره حلال مال وی مګر د خپل
لاس ګټلی درسره نه وی بلکه په میراث ورپاته سوی وی یا دیو بلی حلالی

[1] عن المقدام بن معدیکرب قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما اکل احد طعاما خیرا من ان یاکل من عمل یده وان نبی الله داؤد علیه السلام کان یاکل من عمل یده ۲
رواه البخاری ص ۲۷۸ ج ۱ -

لاړی څخه دنیا ورته راغلی وی نو دغه خلګ وایی چه دا رنګه سړی دی هم خامخاد دنیا دګټلو فکر کوی او دده د پاره د دنیا ګټل تر عبادت ښه ده دا پوره لویه غلطی ده بلکه د داسی چا د پاره عبادت کول ښه او غوره دی هر څوک چه پروردګار عالم دی بیغمه کړی دی د رزق حاصلولو فکر ورسره نسته نو بیا پوره غټه ناشکری ده چه خدای پاک په بیغمی سره یاد نه کړی او د دنیا په پیدولو اخته وی.

بلکه حلال مال چه په هره طریقه سره لاس ته راسی په شرط دی چه په حاصلولو کښی ئې ذلت او بی عزتی نه وی نو ښه دی او د خدای پاک لوی نعمت دی او د دی نعمت پیدا کول په کار دی په یو منظمه طریقه سره ئې مصرفول په کار دی او د اسراف کولو څخه ځان ساتل په کار دی. او د حدیث مطلب خو دادی چه خلګ دی خپل بار پر بل نه اچوی او د خلګو څخه دی سوال نه کوی ترڅو پورې چه یو داسی خاص مجبوری نه وی چه هغه شریعت واقعی مجبوری بللی وی.

دا مضمون چه کسب او پیشه حقیر مه ګڼی د حلال مال طلب وکړی پیسه په حلاله طریقه په خپل لاس سره ګټل عیب مه بولی - د دی سببه د مبالغی په طریقه سره وفرمایل سوه چه خلګ په خپل لاس سره د ځان د پاره ګټلو سره برابرول عیب ناکه ونه بولی بلکه پیسه په خپل لاس وګټی او وی خوری د نورو ته ئې هم ورکړی او خیر و خیرات پکښی وکړی.

د حدیث شریف دا مقصد نه دی چه د خپل لاس د ګټلی څخه ماسیوای چه نور په هره طریقه سره حلاله دنیا پیدا سی هغه حرامه ده یا د لاس د ګټلی سره برابره نه ده بلکه بعضی دنیا اومال د خپل لاس ترګټلی هم غوره او بهتره ده. او بعضی جاهلان د خدای پاک پرځای صوبندګانو او متوکلینو[1] کسانو بدوایی او په دلیل کښی دا حدیث شریف پیشوی کوم چه ذکر سو چه د دوی د پاره په کار ده چه کار وکړی د خپل لاس ګټلی وخوری صرف پر توکل کښینسی او په نذرانو او خیراتو سره ګذاره کول ښه کار نه دی داد دوی منځته

[1] اراید به للعنی المتعارف وهو ترک الاسباب الظنیة الرزقیة و تفصیله فی کتب اهل التحقیق من القوم فافهم ۱۲

غلطی دی او دا اعتراض تر رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې رسیږي بیریدل
په کار دی سخته بیره ده چه د دی بزرګانو په شان کښی بی ادبی او پردوی
باندی دلعن اوطعن په وجه په دواړه جهانونو کی بلاوی او افتونه نازل نه سی
او طعن کوونکی د دی بزرګانو په وجه هلاک نه سی بلکه د اولیاء الله دبی ادبی
په وجه دایمان تللو اوبیکاره خاتمی بیره ده خدای تعالیٰ دی هغه څوک
مخکی ترهغی ورځ د دی جهان څخه واخلی چه په هغه ورځ کښی دی پر
بزرګانو اوبنو خلګو اعتراض کوی ځکه چه د ده دپاره بس دغه بهتره ده چه
هسی ئی خوله پټه سی.

زه وایم چه په قران او حدیث کښی ترغور کولو وروسته معلومیږي په
شرط دی چه په انصاف او د حق د طلبولو د پاره کی وکتل سی فکر او تأمل کی
وسی چه په کوم چا کی د توکل شرطونه موجود وی نو د ده د پاره توکل کول
د دنیا ترګټلو په ډیرو درجو سره افضل اوغوره دی اوډا اعلیٰ مقام دی د
مقاماتو څخه د ولایت.

جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خپله متوکل وُ او کومه امدنی
چه د متوکل ته وه په برخه کیږي هغه دلاس ترګټه ډیره ښه ده
او په توکل کښی خاص برکت اوخاص نور دی هرچاته چه الله تعالیٰ دا مرتبه
در نصیب کړی وی - بصیرت، فهم او نور ئی ورکړی وی هغه دی دی مرتبی (توکل)
برکت سنګاره په خپلو ستړګو سره وینی او د توکل تفصیلی بیان انشاء الله تعالیٰ
پریو خاص موقع موږ کوو ځکه چه دایو مختصره رساله ده د دی سبب د
طوالت او اوږدوالی امکان نسته دوندی قدر څان پوه کول په کار دی
چه دا قول سراسر غلط دی لکه چه بیان سو او د ډیری بی انصافی خبره ده چه
یو خو خپله د نیک کار څخه محرومه کیدل دی اوبل دا چه بل څوک ئی کوی
پرهغه لعن اوطعن وایي نو به پروردګار عالم ته په کوم مخ او ستړګو ورځ ئی
چه دده د دستانو سره دی اخیستی ده - اود ډکر سوی فایدی څخه علاوه - د
توکل په اختیار ولوکی ډیری دینی فایدی ستره.

او هغه متوکلین چه خلګو ته تعلیم کوی د دی خدمت کول په قدر د دی
د ضروری خرڅ فرض دی پس نو خپل حق په طریقه د نذرانی اخیستل ولی بد ګڼل

سویدی - حالانکه غیر متوکلین هم خپل حقوق په خوړا جګړو او دعو وسره
سره دصولوی حالانکه متوکلین خو په ډیر تهذیب او دخلګو په ډیره آرزو کولو
سره خپل حق قبلوی او د نذرانی او خیرات په قبلولو کی په شرط ددی چه ذلت
نه وی په استغنا او بی پروایی سره واخستل سی خصوصًا چه په نه قبلولو کی
ئ د درکونکی سخته دلشکنی راځی نو ښکاره خبره ده چه په اخستلو کښی
خالص خیر دی.

حقیقت دادی چه داسی حضرات چه واقعی متوکلین وی دوی ته پدیر
عزت سره رزق اوروزی ورسیږی مګر ددوی نیت او توجه صرف دخدای
پرامید وی د مخلوق وخواته ئ ستړګی نه وی کړی کړی - اوکوم څوک چه
طمعه کوی دمخلوق ته .نظر اونګاه کوی ددوی ومال اودولت ته نو دغه
څوک فریب کاره دی او دئ زمونږ ددی خبرو څخه خارج دی موږ درشتنیو
متوکلینو حال بیان کړی یو څوک حقیر اوخوار بلل خصوصًا خاص بندګان د
خدای جل جلاله حقیر اوخوار بلل ډیره سخته ګناه ده - اوددی حضراتو
په دی کښی هیڅ ضرر نسته بلکه نفعه ئ ده چه د بد وخبرو ویونکو ئیکانی
د قیامت په ورځ ودوی ته ورکول کیږی - بربادی اوتاوان دهغودی
چه بد وایی چه دین اودنیا ئ دواړه بربادیږی - اوداخبره دی هم یادوی
چه د توکل اجازه هرچاته شریعت نه ده ورکړی د توکل همت په ځان کی
پیدا کول اوده د شرطونو پوره کول ډیر سخت کار دی نو ددی سببه دا ننګه
حضرات ډیر لږ پیدا کیږی - گویا معدوم اونیستی دی اوډیر بنه شی همیشه
کم وی الله پاک لره دی بیحده شکرونه وی چه په یولږ څه توجه سره
ددی مقام ډیر عمده تحریر وسو پروردګار عالم دی موږ اوتاسو ټولو
ته د عمل کولو توفیق راکړی - (آمین)

③ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه په تحقیق سره الله تعالیٰ طیب دی
(یعنی الله پاک په کمالاتو سره موصوف اود ټولو عیبونو څخه پاک دی) نه
قبلوی مګر طیب (یعنی الله پاک طیب مال یعنی حلال مال قبلوی حرام مال د
ده په درباری نه قبلیږی بلکه بعضو علماؤ ویلی دی چه حرام مال
خیرات ټول بیاد ثواب امید څندی کول کفر دی) اوالله تعالیٰ حکم کړیدی و

مؤمنانو ته د هغه شی کوم چه د هغه شی حکم ئی ورسولانو ته کړی
دی پس نو فرمائیلی دی ای رسولانو وخورئ پاک شیان (یعنی حلال)
وعمل کوی ښه - او فرمائیلی ئی دی (الله تعالیٰ) - ای مؤمنانو وخورئ
پاک شیان کوم چه موږ وتاسو ته درکړی دی - بیا ذکر وکړی (جناب
رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم) د هغه سړی چه اوږد سفر کوی
د حج کولو د علم طلب کولو او د اسی نور و د پاره) په داسی حال کښی چه
پریشان حاله او گرد آلود (یعنی په خاورو وسپیره) وی (د سفر د مشقت
په وجه) اولاس اوږد وی د اسمان وطرف ته (او وایی) ای زما پروردگاره
ای زما پروردگاره (یعنی د خدای پاک څخه باربار سوال کوی چه رحم راباندی
وکړه مقصد می را حاصل کړه) په داسی حال کښی چه د ده خور که حرامه وی
او د ده چښاک حرام وی او د ده لباس حرام وی (یعنی د ده خوړ ونوش او لباس
ټول د حرام مال څخه وی) او پالل سوی وی په حرام مال سره (یعنی په حرام
مال سره ګذاره کوی په حرام مال سره پرورش کوی لیکن کوم څوک چه مور او پلار
د کوچنی والی په حال کښی په حرام مال سره پالللی وی او چه بیا بالغ سوی
وی نو حلال مال ئی حاصل کړی وی په د غه حلال مال د خورکی نفقی او لباس
ګذاره کوی هغه سړی د دی حکم څخه وتلی او خارج دی د کوچنیوالی په وخت
کښی ګناه نقط پرمور او پلار ده) پس نو څرنګه قبلیږی (د غه دعا) رواه مسلم ۱۲
(یعنی سړه د دومره ډیر تکلیف نو د حرام مال د استعمال د وجهی څخه هیڅکله دعا
نه قبلیږی او که ئی یو وخت چیری مقصود حاصل سی نو هغه د دعا په سبب
نه دی بلکه حاصلیدل ئی د تقدیر الٰهی په وجه دی لکه چه د کافرانو
مقصود ومنه پوره کیږی.

او د دعا د قبلید و معنیٰ دا ده چه حق تعالیٰ پر بنده ډ رحمت نظر وکړی
او د دی رحمت د وجهی څخه خپل مقصد د حاصل کړی او په د غه طلب ثواب
ورته حاصل سی پس نو داشی د هغه چا ته حاصلیږی چه د شریعت پابند
وی او د خدای پاک څخه مقصود طلب کړی د دی څخه معلومه سوه چه
په حلاله نفقه کی ډیر برکت دی او واقعًا خاص تاثیر لری او د داسی مال
خور لو په وجه د نیکی قوت په انسان کښی پیدا کیږی اندازه د عقل

متابعت کوی۔ حضرت سید نا و مولانا ابو حامد محمد غزالی نور الله مرقده دیو
ډیر غټ درویش څخه یعنی د حضرت سهیل رض څخه نقل کوی چه هر څوک
حرام خوری د ده اند امونه (د ده د عقل) اطاعت پریږدی (یعنی عقل د نیکی
حکم کوی او اند امونه ئی اطاعت نه کوی لیکن دا خبره هغو حضراتو نه معلومیږی
چه د دی د زړه ستر گی رو بنا نه وی ورنه د کومو خلگو زړه چه نور
وی هغه شپه او ورځ په حرام خوړلو کښی اخته وی خپلی غوږی اوچوری
وهی پر د دی هیڅ تاثیر نه کوی خدای تعالیٰ دی زمونږ د زړه حس، د زړه
بینائی او بصیرت ثابت ولری امین۔

④ حضرت سید نا عبد الله ابن مبارک (چه غټ عالم، زاهد او د امام اعظم ابو حنیفة
رحمة الله تعالیٰ علیه شاگرد دی) فرمایی چه ماته یو درهم د مشتبه مال واپس کول (چه ما
ته راکړه سی برابره خبره ده که د هدیی په ذریعه وی یا په بله ذریعه سره وی) زیات
محبوب دی د شپږ لکه درهمو تر خیرات کولو اه د دی څای څخه اند ازه لگول په
کار ده چه مشتبه او شکمن مال خوندی بی قدره کړی۔

دا افسوس خبره ده چه خلگ بنکاره حرام هم نه پریږدی خو روپی دی پیدا سی
چه په هره طریقه سره وی او د دین بزرگانو شکمن مال د وند ه بلل بالی د حرام
مال څخه ځان ساتل د تولو پر ذمه واجب دی او د حرام مال څخه ډیر سخت او
تینگ احتیاط کول لازم دی د حرام مال خوړلو په سبب په نفس کی ډیری خرابی
پیدا کیږی او حرام مال انسان په هلاکت کښی اچوی۔

⑤ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
فرمائیلی دی حلال بنکاره دی او حرام بنکاره دی او د دوی دواړو په مابین کی
شبهناکه اوشکمن شیان دی (شبهناکه دا معنیٰ چه په حرامو الی او حلال والی کښی ئی شک وی په
بعضی اعتبار د دوی حلال والی معلومیږی او په بعضی اعتبار سره د دوی حرامو الی معلومیږی
چه ډیر خلگ نه په پوهیږی او دا می خلگ ډیر کم دی چه په پوهیږی او هغه غټ تقوی دار علماء
دی چه په پوهیږی او په خپل علم سره عمل کوی) پس نو هر چا چه پرهیز وکړی
د شکمنو شیانو څخه نو ده وساتی خپل دین (یعنی د دوزخ څخه ئی ځان خلاص
کړی) او خپل عزت (یعنی د طعن ویونکو خلگو څخه ئی خپل عزت وساتی ځکه چه
د شرعی څخه مخالف انسان ته خلگ طعنی اوپیغورونه کوی او بنکاره خبره ده

چه د دین او دنیا د بې عزتۍ څخه ځان ساتل د هر هوښیار د پاره ضروري دي)
او هر سړی چه واقع سی په شبه ناکو شیانو کې هغه واقع کیږي په حرامو شیانو
کې (یعنی هر څوک چه د شبه ناکو شیانو څخه پرهیز نه کوي هغه کرار کرار
په حرامو شیانو کښې مبتلا کیږي هر وخت چه د نفس پر تقاضا لږ څه رفتار
وسي نو بیا د دې څخه کرار کرار دوندې خرابیانې پیښیږي چه خدای دې مونږ
ځندې وساتي انسان د هلاکت په کنده کې اچوي.

پس نو هر څوک چه د مال په باره کښې احتیاط نه کوي هر څه چه په لاس
ورځي هغه قبلوي د کوم شي چه په حلال والی او حرامو والی کې شک وي پروا
ئې نه کوي نو دغې به ډیر ژر د حرامو په خوړک شروع وکړي حکه چه
شبهه ناکه شي د حرامو د خوړک د پاره اوله زینه ده.

نفس همیشه د شریعت پابند ه او قیدي وساته هیڅکله ازادي مه
ورکوه که څه هم د دې شبه ناکه مال خوړل چه د دې د حال معلوم نه
وي چه څوندي حلال په ګډه دي او څوندي حرام په ګډه دي روا دي
لیکن مکروه دي. او کرار کرار د شبه ناکو شیانو څخه دا بیره سته چه
آخر انسان په بنکاره حرامو اخته سي نو د دې سببه په کار د چه د
شکمنو شیانو څخه هم ځان وساتې چه اصلي مقصود دي او د غیرت خبره
هم دغه ده چه ځان په پوه کړه) مثال ئې د هغه شپانه دي چه پیاۍ (پسونه
او داسي نور) پرشا او خواد هغې چراګاه چه هغه بادشاه د خپلو حیواناتو د پولو
د پاره خاص کړې وي نژدې د چه د غه (شپانه) د پیاۍ (د غه پسونه او داسي
نور) په د غه چراګاه کې (یعنی چه د دې داسي چراګاه پر شا و خوا خپله رمه او
ګله پیاۍ کوم چه بادشاه د خپلې رمې او ګلې د پاره خاص کړیده نو د غه شپانه
به ډیر شړد په دې خاص چراګاه کې خپله رمه او ګله د پیاۍ یا په داسي طریقه
سره چه د حیواناتو دا رنګه پوول چه تر د غه حد کوم چه بادشاه مقرر کړي
دي یو حیوان د رسیږ نه سي مشکل دي. یا په داسي طریقه سره چه اخیر
شپانه خپله دلاور ه کیږي د پادشاه په ممنوعه چراګاه کښې خپله رمه او
ګله یو ول شروع کوي.

د اغه رنګه نفس هم احتیاط نه کوي نو ګله چه په شبه ناکو شیانو اخته

می نو سمدستی به په حرامو شیانو هم ور سره اخته سی او کله تر یو څو ورځو ورسته په حرامو اخته سی.

داخبره یاد ساتل په کار دی چه هغه چراگاه چه خپله راشنه سوی وی فقط د خپل ځان د پاره خاصول او نور خلگ څندی منعه کول چه پسو نه او داسی نور (حیوانان) پکښی ونه پیایی د زمینداران نو د پاره روا نه دی او په دی قرآن شریف کښی فقط مثال بیانول مقصد دی)

خبر اوسه چه د هر بادشاه (د پاره) یو چراگاه وی (او) خبر اوسه چه د الله چراگاه (یعنی هغه ځای چه حفاظت ئی سوی وی) ددی محارم دی (یعنی کوم شیان چه پروردگار عالم حرام بللی دی هر څوک چه د هغه حرام شیانو کوی او ځان کی اچوی نو دی د خدای پاک سره خیانت کوی او بنکاره خبره نه چه د پادشاه سره خیانت کول بغاوت دی او حقتعالی چونکه دا علی درجی بادشاه دی نو ددی سببه ددی سره خیانت کول دا علی درجی بغاوت دی چه سزائی هم ډیره لویه ده) خبر اوسه چه د انسان په بدن کی د غوښی یو ه ټوټه ده هر څه چه د هغه درسته وی (چه په دی کښی ظاهری یا باطنی خرابی نه وی) ټول بدن درست وی هر کله چه د هغه فاسده او خرابه سی نو خرابیږی ټول بدن خبر اوسه (ټوټه د غوښی) زړه دی. (اخرجه الشیخان)

یعنی زړه د بدن بادشاه دی د زړه روغوالی د ټولو اندامونو روغوالی دی او د زړه روغوالی موقوف دی پر اطاعت الهی باندی. د گناه په کولو سره زړه ړندیږی حاصل ئی دادی چه د نیکیو وجود موقوف دی د زړه پر درستی او صفائی او د زړه په صفایی کښی حلال خورک لره خاص دخل او حصه ده پس نو په دی حدیث شریف کښی د حلال خورک نه د خلگو تشویق ول دی.

(۶) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی هلاک دی کړی خدای تعالی یهود حرامی سوی دی پردوی باندی چربیانی (یعنی د غویو او پسو چربی مگه چه په قران مجید کښی راغلی دی) پس نو د دی د غه "چربی" ویلی کړه او بیا دوی خرڅه کړه (متفق علیه من) یعنی داحیله ئی وکړه چه خپله ئی چربی نه وخوړه بلکه د چربی قیمت اوروپی ئی وخوړلی او داسی دبلل چه دا چربی خوړل نه دی حالانکه ددی حکم حاصل داوُ چه د چربی څخه

سره لاس ته ور تلی هم داخل وُ.

نن سبا بعضی سود خورو دا رنګه حیلی پیدا کړی دی چه په ظاهره د سود څخه ځان خلاص کړی او په حقیقت کښی سود وخوری لیکن حق تعالیٰ عالم الغیب خدای دی د زړه په پټو رازونو ښه پوهیږی هیڅکله او هیڅکله داسی حیلی جوړول روا نه دی.

(۷) په حدیث شریف کښی را غلی دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل نه دا خبره چه بنده حرام مال وګټی بیا نو صدقه وکړی د داغه مال) څخه او قبوله مې او نه ده دا (خبره) چه خرڅ وکړی د دغه (مال) څخه او برکت ولویږی د ده د پاره په دغه مال کی او نه ده دا "خبره" چه ځان وروسته ئې پریږدی چه دی به دغه (پریښول) تو ښه د ده د پاره کیږی دغه (مال د ده د پاره) د دوزخ وطرف ته رسونکی (یعنی چه حرام مال وګټي بیا صدقه او خیرات پکښی وکړی نه قبلیږی او خاوری ثواب ه ورکول کیږی - بلکه بعضو علماؤ فرمایلی دی چه حرام مال خیراتول بیا د ثواب امید ځنډی کول کفر دی او حرام مال که ئې فقیر ته د ثواب په ت ورکړی او د ده ته معلومه وی چه ما ته ئې حرام مال راکړی لیکن د د ی ئې ورکوونکی ته دعا وکړه نو فقیر هم دهغه بعضو علماؤ په نزد کافر کیږی

اوکه داسی مال په یوځای کښی استعمال کړل سی نو هیڅ برکت نه لری که خپل مرګ وروسته داسی مال ترشا پریږدی نو د دی مال په وجه په دوزخ کی خلیږی - چه خوری ئې وارثان او عذاب ئې د ده ته ورکول کیږی غرض داچه حرام مال کی د ذره څخه ماسیوی بله هیڅ فائده نسته) بیشکه الله (تعالیٰ) نه ړی کوی بدی د بدی په ذریعه سره (پس چونکه حرام مال خیراتول منعه دی ناه ده نو د دی گناه په ذریعه سره بله گناه معاف کیدای نسی) لیکن لیږی کوی ی په نیکی سره (پس نو حلال مال خیراتول د گناهو نو د پاره کفاره ده په ط د دی چه باقاعده او د شریعت سره موافق ئې خیرات کړی) په تحقیق سره ث (یعنی حرام مال) نه لیږی کوی خبیث (یعنی گناوی) (رواه احمد ۱۲ منه)

په حدیث شریف کښی را غلی دی چه جنت ته هغه غوښه نه داخلیږی

چه په حرام مال مړه پالل سوی وی او لویه سوی وی او هر هغه غوښه چه پالل سوی او لویه سوی په حرام مال وی دوزخ ددی لایق دی. (رواه احمد وغیره ۱۲) یعنی حرام خور وجنت ته بیله سزا پریکړلو څخه نه داخلیږی دا مطلب ئې نه دی چه دئ دکفارو په شان هیڅکله جنت ته نه داخلیږی - بلکه که دی پر اسلام مړ سوی وی او حرام خور وی نو د خپلو ګناهونو د سزا تر ټیرولو وروسته د جنت ته داخلیږی - او که تر مرګ مخکې د حرام خور لو څخه توبه وکاږی او د کوم چا حق چه ئې خوړلی دی هغه ادا کړی نو البته حق تعالی دده ګناه معافوی او په دغه حدیث کښی چه کوم عذاب ذکر سویدی د دغه څخه محفوظه کیږی).

⑨ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه بنده نه سی کیدای د پوره پرهیزګار انو څخه تر داسی حده چه پریږدی هغه شی چه په هغه کی هیڅ بیره نه وی په سبب د هغه شی چه په هغه کی بیره وی - (رواه الترمذی وابن ماجه ۱۲) یعنی یو شی بالکل حلال دی او یو بل کار مباح او جائز دی مګر په دی کښی د متوجه کیدلو څخه او د دا رنګه مال خوړلو څخه دیوګناه د پیښیدلو بیره او احتمال سته نو د هغه حلال مال هم نه خوری او د غسی جائز کار هم نه کوی د دده د پاره که څه هم دا کار کول او د هغه مال خوړل ګناه نه دده مګر د دی په ذریعه د ګناه د پیښیدلو بیره سته او د بد کار ذریعه هم بد ده وی مثلاً په بنه خورک او لباس کښی مشغولیدل روا او حلال دی مګر چونکه تر حده زیات په لذتونو کښی مشغولیدل سبب د دی ګرزیدای سی چه ګناه موجوده کا سی یعنی د ګناه د پیښیدلو بیره سته د دی سبب په پوره تقوی او اعلی درجی پرهیزګاری دا ده چه د دا سی کار نو څخه ځان وساتل سی یا شبهه ناکه مال خوړل مکروه دی مګر د ده په خوړلو کې لا دلاویری کولو بیره ده چه ژر تر ژره نفس دا سی بې قابو سی چه حرام خوړل شروع کړی نو د دا سی مال څخه هم ځان ساتل پکار دی.

⑩ د حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها څخه روایت سویدی چه د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه یو غلام وو - چه و ده ته ئې خراج ورکاوی (په دی ځای کی د خراج څخه هغه محصول مراد دی چه پر غلام او مربي مقرر کیږی او د ده د ټول ګټل سوی مال څخه یوخه مالک اخلی) پس نو حضرت ابو بکر

صدیق رضی الله تعالی عنه د غه محصول د غلام خواړی پس نو ده را وړی یوه
ورځ یو څه (د خورک شی) او حضرت ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه د د غه
څخه یو څه وخواړی نو غلام ورته وویل تا ته معلومه ده څه شی وُو
د غه چه تا وخواړی (او دکُومه څخه را غلی) پس نو حضرت ابو بکر صدیق
رضی الله تعالی عنه وفرمائل څرنگه شی وو د غه (چه ما وخواړی) ده (یعنی
غلام) وویل ما د جاهلیت په زمانه کی یعنی تر اسلام مخکی) یو سړی ته د کاهنانو
د قاعدی په ذریعه سره یو خبر ورکړی وُو او زما د غه د کهانت فن ښه پوره
زده نه وُو (یعنی کاهنان خلگ چه څرنگه یو څه خبری خلگو ته ورښیی او
او د غه خبری کله درواغ او غلطی او کله رښتیا او صحیح خیژی او یقین پرکول
منعه دی او دوی چه د دی فن د پاره کومی قاعدی مقرری کړی دی - د غه غلام
په دی قاعدو ښه پوره خبردار نه وُو) مگر بیشکه ما د دی سړی ته دوکه
ورکړه بیا د غه (سړی) زما سره ملاقی سو پس نو ده ما ته (هغه شی چه تا
وخواړی) راکړی په ذریعه د دی (یعنی کومه خبره چه ما د ده ته ښوولی
وه د هغی په عوض کی) نو هغه داشی دی کوم چه تا خورک خُندی وکړی
پس نو داخل کړی حضرت ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه خپل لاس په ستونی
کی او قی ئی وواهه (یعنی را وئی ایستی) بتول هغه شی چه د ده په نس کښی
وُو - (روه البخاری عن عائشة رض) یعنی د پوره او کامل احتیاط او تقوای په وجه
ئی بتوله خوړل سوی وو څه ډوډی او خورک ئی کړی حگه چه یوازی د د غه شی
کوم چه غلام ورکړی وو ئی کول غیر ممکن وُو پس نو بتول نس ئی خالی کړی
حالانکه که ده مبارک ئی نه وای وهلی بیا هم گناه نه وه.

(۱۱) په حدیث شریف کښی را غلی دی چه هر چاد لسُو درهمو جامه را ښیوله
او په دی درهمو کی یو درهم حرام وُو نه قبلوی الله جل جلاله د ده لمونځ
تر څو چه د غه جامه د ده په بدن وی. (یعنی که څه هم فرض ئی ادا کړی وی
مگر د لمانځه پوره ثواب نه ورکول کیږی او د غه رنگه ئی نور اعمال هم
قیاس کړه د خلای پاک څخه بیره په کار ده چه اول خو د خلگو څخه عبادت
دی او چه څه ناڅه دی هغه بیا دارنگه ضائع او برباد سی بیا به نو په
ورځ د قیامت څه جواب د خدای پاک ته ورکوو او د ده د دردناکه عذاب

سره به څه کوئ - اوځه رنګه به د دغه دردناکه عذاب برداشت کوو .

(۱۲) په حدیث شریف کښی ذکر سوید ی چه جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی دی چه بیشکه زه داسی هیڅ شی نه وینم چه تاسی وجنت ته نژدی کړی اود دوزخ څخه مو لیری کړی مګر ما ئی وتاسو نه حکم کړید ی (یعنی وجنت ته د داخلیه و اود دوزخ څخه د خلاصید و پټول اعمال مو وتاسو ته بنو ولی دی) اوزه داسی هیڅ شی نه وینم چه تاسو د جنت څخه لیری کړی او د دوزخ ته مو ورنژدی کړی مګر ما تاسو څنډی منعه کړی یاست (یعنی هغه کارونه او شیان چه داخلونکی دوزخ لره دی او لیری کونکی د جنت څخه دی د دی پټولو څخه ما منعه کړی یاست چه داسی کارونه مه کوی) او بیشکه روح الامین (علیه السلام) (یعنی جبرائیل علیه السلام) زما په زړه کی (داخبره) واچوله چه بیشکه هیڅ نفس هیڅ کله نه مری ترهغه وخته چه خپل رزق ئی پټول کړی نه وی (یعنی په تقدیر کی چه د هر مخلوق رزق لیکل سویدی تر دغه رزق خوړلو مخکی هیڅوک نسی مړکیدای) که څه هم په څنډ سره درسیږی (یعنی په تقدیر کښی چه ئی کوم رزق مقرر دی که څرومره کوشش وی لیکن تر څو پوری چه دغه رزق ئی ختم کړی نه وی مړ به نه سی یعنی خپل رزق به خامخا پوره کوی نو په نیت حرام پټولو او حرام خوړلو سره د دستی انسان ته نه رسیږی) - د خدای "جل جلاله" څخه وبیریږی (یعنی یقین پرو کړی اود ده پر وعده یقین وکړی پس نود حرام خوړلو څخه ځان وساتی) او اختصار اختیار کړی په طلب (د رزق) کی (یعنی بی اندازی د دنیا په برابرولو کی مه اخته کیږی حرص مه کوی د دنیا د ګټلو څخه ځان وساتی چه د شریعت خلاف وی) او هیڅکله دی اماده او تیار نه کړی تاسی د رزق څنډ ید ل (و دی خبری نه) چه تاسی طلب کړی رزق د خدای تعالی په معصیت (نافرمانی) کی (یعنی که د رزق په رسید و کښی څنډ راسی نود ګناه او حرام مولاړو څخه رزق مه حاصلوی ځکه چه تر وخت مخکی هیڅکله نه رسیږی خامخا ځانونه په ګناه کښی مه اچوی) ځکه چه بیله شکه د الله تعالی داشان دی چه حاصلیدای نه سی هغه شی چه د ده سره دی (چه هغه عبارت) د رزق او داسی نور څخه دی د ده د نافرمانی او معصیت په ذریعه (رواه ابن ابی دنیا فی القناعة والبیهقی فی المدخل وقال انه

منقطع دنص الحدیث قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا اعلم شیئاً یقربکم من الجنة ویبعدکم من النار الا امرتکم به ولا اعلم شیئاً یبعدکم من الجنة ویقربکم من النار الا نهیتکم عنه وان الروح الامین نفث فی روعی ان نفساً لن تموت حتی تستوفی رزقها وان ابطأ عنها فاتقوا الله واجملوا فی الطلب ولا یحملنکم استبطاء شئ من الرزق ان تطلبوه بمعصیة الله تعالی لاینال ما عنده من الرزق وغیره بمعصیة)

(۱۳) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د لسو حصو څخه نه حصی رزق په تجارت کښی دی. (رواه ابراهیم الحربی رح فی غریب الحدیث من حدیث نعیم بن عبد الرحمان رح) یعنی تجارت د پیری گنهی اوامدنی ذریعه ده نو ددی سببه تجارت اختیار کړی

(۱۴) په حدیث شریف کښی بیان سویدی چه خدای تعالی دوست لری هغه مؤمن چه محنتی اوکسب کاره وی اوددی پروا نه کوی چه دی څه شی اغوندی (رواه البیهقی مرسلاً) یعنی په محنت اومشقت کی معمولی خیرن کالی اغوندی دوندی فرصت اوموقع نه وی چه بنه صفا کالی اوجامی واغوندی لیکن کوم څوک چه مجبور نه وی ددی ده پاره دسادگی سره سره صاف اوستره اوسیدل په کار دی.

(۱۵) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمائیلی دی چه وماته دا وخت نه دی سوی چه زه جمعه کړم مال اوسم زه دتاجرانو څخه لیکن وخت سویدی وماته چه د خدای تعالی تسبیح (پاکی بیانول یعنی سبحان الله ویل) وکړه ددی ده دحمد سره (یعنی ددی ده تعریف بیان کړه یعنی سبحان الله وبحمده وایه) او وگرزه د سجدو کوونکو څخه (یعنی پر لمانځه همیشه تړلی کوه اودهغو خلگو څخه وگرزه چه همیشه لمونځ کوی۔ او عبادت کوی) اودخپل پروردگار عبادت کوه تردا سی حده چه تاته مرگ راځی (رواه فی الحلیة مرسلاً وابن مردویة بسند فیه لین ۳) یعنی ترحاجت زیات په دنیا کښی مه مشغوله کیږه حکه چه په قدر ضرورت دمعاش بندوبست کول پرتولو واجب دی لیکن په چا کی چه دتوکل قوت وی اوتول شرطونه دتوکل په ده کی جمعه وی نوداڼگه سړی که ددنیا تول کار وبار پریږدی

خالص په عبادت علمیه او عملیه کښی مشغول سی بیا پروا نه لری.

(۱۶) د حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه فرمایی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی رحم دی وکړی الله تعالیٰ پر نرمی کوونکی سړی کوم دخت چه (یوشی) خرڅوی او کوم دخت چه یوشی رانسی او کوم دخت چه (خپل) قرض طلبوی (سبحان الله دا نیولو) خرڅولو او قرض طلبولو په حالت کی د نرمی او رعایت کولو څوندی لوړه درجه ده چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د داسی چا په حق کښی په خالص طریقه سره دعا فرمائی او دده مبارک (ع) دعا یقیناً قبلیږی که د دغی نرمی د کولو فقط دغه فضیلت وای ـ د دغه څخه ما سیوائی نور هیڅ ثواب نه وای نو دغه هم لوی نعمت وو حالانکه د دی نرمی او رعایت ثواب هم سته نو د دی سببه د تاجرانو د پاره مناسب ده چه پر دغه صحیح حدیث عمل وکړی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعا مستحق سی دغه رنګه په دنیا کی د نرمی او رعایت کولو دا فایده ده چه د دا می سړی په معامله سره خلګ خوشحاله کیږی او تجارت ئی ښه چلیږی د خلګو توجه د دا می معامله کونکی د طرف ته پیره وی او بعضی وخت چه ځندی خوشحاله سی دعاوی هم ورته کوی واقعی خبره داده چه په شریعت عمل کونکی گویا په دین او دنیا کی بادشاهان دی او په پیر راحت کی اوسیږی تر دی به نړیات خوشقسمته څوک وی چه د د واړو جهانو برکتونه ئی په برخه سی د خدای پاک په نزد او د اکثرو خلګو په نزد محبوب او عزیز هم دی (رواه البخاری بلفظ عن جابر رض قال قال رسول الله صلی الله علیه واله وسلم رحم الله رجلا سمحا اذا باع واشتری واذا اقتضی)

(۱۷) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ځان وسائی تاسو د پیرو قسمونو څخه په خرڅولو کښی (یعنی په دی خیال سره چه زموږ مال ښه خرڅ سی د پیر قسمونه مه خوری ځکه چه په پیرو قسمونو کښی خامخا یو قسم په دروغو سره اختیار کیږی او بیا نو بی برکتی ځندی پیدا کیږی او د خدای تعالیٰ د نامه بی ادبی کیږی لیکن که یو وخت په رشتیا قسم واخیستل سی پروا نه لری) چه په تحقیق سره د دغه قسمونه مال اعتبار کوی او په دی سره بی برکتی راځی چه د دین او دنیا د نفعو څخه محرومی ده (رواه الترمذی وغیره)

(۱۸) په حدیث شریف کښی ذکر سویدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم

فرمایلی دی چه تاجر په خبرو او معامله کښی صادق اور شتیاگویه وی نو به د قیامت په ورځ د نبیانو (ع) صدیقانو (یعنی څوک چه د خدای لوی لوی دوستان (اولیاء) وی او کومو چه به هر قول او فعل کښی په لوړه درجه رشتین والی اختیار کړی وی او د الله تعالی اطاعت یه په لوړه درجه کړی وی) او شهیدانو سره ملګری وی (یعنی هغه تاجر ته چه دده دا رنګه صفتونه وی کوم چه بیان سوه د قیامت په ورځ د انبیاء علیهم السلام، صدیقینو (رض) او شهیدانو (رح) ملګرتیا اودده بزخ څخه نجات ورپه برخه کیږی د ملګرتیا او یو ځای والی څخه دا مراد نه دی چه د دی حضراتو په شان به ودوی ته مرتبه ورکول کیږی بلکه یو خاص قسم شرافت او بزرګی مراد دی چه د بزرګانو سره د ملګرتیا په وجه حاصلیږی لکه په دی دنیا کښی چه یو څوک دیو بزرګ دعوت او میلمستیا وکړی او ده سره همراه دده د خادمانو هم میلمستیا وکړی نو بنکاره خبره ده چه دده خو بزرګ د ډوډی خوړلو ځای او دده د خادمانو ځای یودی او داغه رنګه ئی ډوډی هم سره یو شی دی لیکن کومه درجه چه دکور والا او دعوت کونکی په نزد ددی بزرګ ده د خادمانو دغه درجه نه ده.

مګر د همراهی او ملګرتیا شرف او عزت د غه رنګه د ډوډی او ځای د شریکت حاصلیدل یو ډیر غټ کمال دی چه خادمانو ته حاصل سویدی خصوصاً د جناب رسول مقبول صلی الله علیه وسلم ملګرتیا ډیر غټ او لوی دولت دی.

فرض ئی کړه چه په دی ملګرتیا کی نه ډوډی سته نه عزت فقط او صرف د غه ملګرتیا ده - نو دده مبارک (ع) سره د محبت لرونکو مسلمانانو دپاره فقط دده (ع) دیدار او دده (ع) ملګرتیا لوی دولت دی بلکه دیدار خو پر لوی شی دی او دده مبارک مجاورت (یعنی همسایه توب) ډیر لوی نعمت دی نو د دی سبب د مسلمانانو دپاره ضروری ده چه څانونه د مبارک علیه السلام د دی دعا مستحقین وګرځوی.

(۱۹) په حدیث شریف کښی بیان سویدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم فرمایلی دی ای د تاجرانو ټولی بیشکه بیعه دا می شی ده چه په دی کی "اکثره" دخت لغوه او عبث خبری کیږی او قسمونه پکښی خوړل کیږی پس نو په ګډه کړی صدقه (یعنی لغوه خبری او قسمونه خوړل دپاره بده خبره ده نو د دی سبب خیرات کول په کار دی د دی دپاره چه د دی لغو یا تو او نورد چه بیله قصده پیښ سوی دی کفاره وګرځی او په زړه

کښی چه څه کدورت او خیر نه تیا پیدا سوی وی هغه ختم سی اود نعوذ خبره څخه مراد بیکاره خبری دی) (رواه الترمذی وغیره)

(۲۰) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه تجارت کورنکی د قیامت په ورځ فاجر او گنهگاره راپاخول کیږی مگر څوک چه وپیږی او ورشتانی او ویل او په خرید او فروخت کښی ئی هیڅ گناه و نه کړه نو هغه ددی وعید څخه خلاصیږی۔ (رواه الترمذی وغیره) (داصلی بهشتی زیور د پنځمی حصی اوله ضمیمه ختم سوه)

داصلی بهشتی زیور د پنځمی حصی دوهمه ضمیمه

بسم الله الرحمن الرحیم

(۳۳) بیله ضرورته د قرض اخستو د بدوالی بیان باب

(۱) حدیث:- د ابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چه دا (مبارک) د اسی فرمایل اعوذ بالله من الکفر والدین (ترجمه) زه په خدای سره پناه غواړم د کفر او دَین (یعنی قرض) څخه۔ یو سړی ووایل یا رسول الله (ص) آیا ته قرض د کفر سره برابروی او دد سړی ئی ذکر کوی۔ دا (مبارک ـ ع) فرمایل هو (رواه النسائی والحاکم وقال صحیح الاسناد)

(۲) حدیث:- د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی قرض د خدای بارګ دی په محکه کی هر څه چه دی (یعنی خدای پاک) وغواړی چه یو څوک ذلیل کړی نو دده پر غاړه د قرض بار اچوی (رواه الحاکم وقال صحیح علی شرط مسلم قال الحافظ بل فیه بشر بن عبید الدارمی)

(۳) حدیث:- د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما څخه روایت دی چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چه دا (مبارک ـ ع) ویلی دی ته دار نګه وصیت کاوی چه گناه کمه کوه (نو) پر تا مرګ آسانه کیږی

او قرض (پور) کم اخله چه په آزادی سره به ژوند کوی۔ (رواه البیهقی)

④ حدیث:۔ د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرڅوک د خلګو مال د ادا کولو په نیت سره واخلی خدای تعالیٰ د ده قرض ادا کوی او کوم څوک چه د خلګو مال د ضائع کولو (اوخوړلو) په نیت سره واخلی خدای تعالی دی تباه کوی (دا حدیث بخاری ابن ماجه او داسی نور و روایت کړی دی)

⑤ حدیث:۔ د ام المؤمنین (د مسلمانانو مور) حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی۔ چه زما امت څخه هرڅوک د قرض په باره کی بار سی (یعنی ډیر قرضدار ه سی) بیا نو د ده په ادا کولو کښی (پوره) کوښښ[1] وکړی بیا تر اد اکولو مخکی مړ سی نو زه د ده مدد گار یم۔ (رواه احمد باسناد جید و ابو یعلی و الطبرانی فی الاوسط)

⑥ حدیث:۔ میمون کردی د خپل پلار څخه روایت کوی (چه صحابی دی) چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی هر چا چه دیو بنځی سره په لږ یا ډیر مهر سره نکاح وکړه او د ده په زړه کښی د بنځی د حق (یعنی د مهر) د ادا کولو نیت نه وی بلکه فقط دوکه ورکوی بیا نو بیله ادا کید و هم مړ سو نو دی د قیامت په ورځ د خدای وحضور ته زنا کار ه ورځی۔ او هر چا چه دیو چا څخه قرض واخستی او د ده په زړه کی د قرض ادا کولو نیت نه وُ بلکه په خالص دوکه سره ئی د ده مال اخستی وُ نو بیا بیله ادا کید و مړ هم سو نو دَئی د خدای وحضور ته غل ورځی (رواه الطبرانی فی الصغیر والاوسط و رواته ثقات)

⑦ حدیث:۔ عمر بن ثرید د خپل پلار څخه (چه صحابی دی) روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه د پور ورکړی بهانی او څنډه

---

[1] کوښښ = کوشش دادی چه ضروریه مصارف د ژوند د سامان د حوائج ضروریه څخه علاوه د زائد مصارف د حوائج څخه د سره کټاره کړی او په هغه پیسو باندی د قرض ورکړی مصارف پوره کړی

[2] ۶۵۴

ده عزت او مال حلالوی (رواه ابن حبان فی صحیحه والحاکم وقال صحیح الاسناد)

ن :- یعنی هرڅوک چه پرقرض اداکولو قادر وی اوبیائی هم نه اداکوی نو قرض خوښتونکی ددغه ابرو ریزی کولای سی بد اوبیکاره درته ویلای سی په خنگو کی دامشهوره ولای سی چه دغه فلانی سړی په پورکښی مردار دی اوهرقسم چه ممکن وی که په بنکاره وی که په پټه وی خپل حق خندی وصولولای سی.

(۸) حدیث :- د حضرت ابوذر رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی خدای تعالیٰ د درو(۳) انسانانو څخه ډیر نفرت کوی یوسپین ږیری زناکاره ذوهم مفلسه کبرجن دریم دنیادار ظالم (یعنی چه د پورورته بائی کوی پورئ ورځنډوی ظلم پرکوی) رواه ابن خزیمة فی صحیحه وابوداؤد والنسائی والترمذی وابن حبان والحاکم وصححاه)

(۳۴) دقرض داداکیدو دپاره دعا — باب

(۹) د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه وحضورته یو مکاتب راغلی او وئی ویل چه زه دکتابت درو پیو داداکولو څخه عاجز یم سوی یم زما امداد وکړه حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه وفرمایل چه زه به وتاته یو څو کلیمی (د دعا) درښیم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم راښوولی دی که چیری پر تاباندی د شپږ دغړه په شان پورباندی وی نوخدای تعالیٰ ئی اداکوی. داسی وایه - اَللّٰهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَاَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ - (رواه الترمذی واللفظ له وقال حسن غریب والحاکم وقال صحیح الاسناد)

(۱۰) د حضرت انس بن مالک رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ بن جبل ته وفرمایل چه زه وتاته داسی دعا درښیم که چیری پرتاباندی د غړه په مثل قرض وی نو به ئی خدای تعالیٰ اداکړی. داسی وایه - اَللّٰهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ

الملک ممن تشاء وتعز من تشاء وتذل من تشاء بیدک الخیر انک علی کل شئ قدیر رحمان الدنیا والاخرة ورحیمهما تعطیهما من تشاء وتمنع منهما من تشاء ارحمنی رحمة تغنینی بها عن رحمة من سواک (رواه الطبرانی فی الصغیر باسناد جید)

د اصلی بهشتی زیور د خلورمی اوپنځمی حصی د تدریس دستور العمل

① اول نمبر :- په خلرمه اوپنځمه حصه کښی د نکاح اوطلاق مسئلی او هغه مسئلی چه د دوی سره تعلق لری او داغه رنگه د معاملاتو یعنی خرید و فروخت اوداسی نورو مسئلو بیان سویدی اوچونکه د اهل حقوق دحقوقو ادا کول اود قرآن مجید صحیح ویل د دوی د واړه واجبوالی د فقهی په کتابونو کښی اجمالا ذکر سوی دی د دی سببه د دوی دواړو احکام هم د ذکر سوو مسئلو څخه علاوه په دی دوو(۲) حصو کښی راوړل سوی دی.

② دوهمه نمبر :- د دی د واړو حصو مسئلی یوه اندازه گرانی دی که دکم عمری یا کم فهمی په وجه سړه د ورښوولو شاگردان اوشاگردانی سبنه نه پوهیږی نو بیا مناسب دی چه تر دریمی حصی ورسته د دی دوو(۲) حصو پرځای شپږمه حصه اوداسی نوری حصی ورته ووایل سی بیا چه دوی په کتاب کښی پوه سی نو د غه دوی حصی ورته ووایل سی.

③ دریمه نمبر :- مسئلی د وینا سره سره پرتخته لیکل اوپه خلرمه حصه کی چه کومی د شپږم مسئلی دی هغه پریښوول د دی د پاره چه دوی په کتاب پوه سی پخپله به ئی وگوری ... او هر څخه د دوی څخه امتحان اخستل اوپه ویل سوو مسئلو د نه عمل کولو په صورت کی د دوی ته ځای پرځای زجر اوتر تنبه ورکول چه په ویل سوو مسئلو سره عمل وکړی د دوی موافق رفتار وکړی د دی ټولو امورو ضرورت لکه په اولو حصو کښی چه ژوند اغه رنگه ئی په دی دواړو حصو کښی باید خیال وساتل سی.

④ خلورمه نمبر :- نکاح خوان قاضی لره مناسبه ده بلکه ضروری ده چه دغه

مسئلی یادکړی ددی دپاره چه بیا په نکاح تړلو کښی غلطی ځندی ونه سی او
کوئی بنځی چه په دی مسئلو پوه سی هغه دی وخپلو امیانو او ناخبره اوبی علمه
خاوندانو ته دغه مسئلی زبانی ورو ښیی ددی دپاره چه د خاوند او بنځی د
دواړو په نکاح کښی چه یو فرق او تاوان راځی ددی تاوان او فرق دگناه څخه
په سبب د علم خلاص سی.

⑤ پنځم نمبر:- د قرآن مجید د صحیح ویلو قاعدی دی وشاگردانو ته په سبق
کو ښښ سره ورزده کړل سی چه د هغی گناه څخه وساتل سی چه د قرآن مجید
د غلطی ویلو په سبب پیدا کیږی.

⑥ شپږم نمبر:- د خدای او د خلقو حقوق خیال هم ډیر کم دی
نو ددی سببه د حقوقو ته ډیره توجه کول په کار دی

⑦ اووم نمبر:- د بی احتیاطی په وجه د معاملاتو
په اکثره مسئلو کښی د حق العباد مواخذه
منځ ته راځی او رزق حرامیږی چه
د خوړلو په وجه ئی په
ښو کارو کی سستی
او په بدو کارو
کی رغبت
پیدا
کیږی ددی سببه د
دغو مسئلو په ورزده کولو کښی او
د دوی سره په موافق عمل ورښولو کی ډیر کوشش
کول په کار دی په کور او کلی کښی چه کوم نا ربینه او بنځی ناخوانده
وی ودوی ته هم کله کله دغه مسئلی بیانوی او په پوه کوی ئی چه خدای
پاک به وتاسو ته ثواب درکړی او د دوی ته به دا فائده
حاصله سی چه مسئلی به زده کړی

اشرفی علی عفی عنه

دخلرنی حصی د اووه لسم (۱۷) مخ دولور (مهر) حاشیه عه

د اصلی مکمل بهشتی زیور د شپږمې حصې د مضامینو فهرست

شمارہ	مضمون	صفحہ
۱	د دې حصې د مضامینو فهرست	۱
۲	اول باب د هغو روا جونو په بیان کښې چه هغه کونکی ئې ګناه بولی مګر سپکه ګناه ئې بولی	۲
۳	د رقمې بیان	۲
۴	د سپې د ساتلو د عکسونو او بتانو د اینبولو بیان	۵
۵	د آتشبازۍ یعنی په اور سره د بازۍ کولو بیان	۶
۶	د شطرنج، پتو (ورقو) کرمبوچ، ګوډی (کاغذ باد) او داسې نورو شیانو بیان.	۷
۷	د کوچنیانو بعضې سرورخریل او بعضې سرور پریښول	۸
۸	د دهم باب د هغو روا جونو په بیان کښې چه خلګ ئې روا بولی.	۸
۹	د کوچنی د پیدا کیدو د روا جونو بیان	۹
۱۰	د عقیقې د روا جونو بیان	۱۸
۱۱	د کوچنی د سنتید و د روا جونو بیان	۲۱
۱۲	د بسم الله یعنی لیک لوستو د شروع کولو بیان	۲۳
۱۳	په میلاد او محفلو کښې د بخوډ تلو او جمعه کیدو بیان	۲۵
۱۴	د کوزدې د روا جونو بیان	۳۱
۱۵	د واده د روا جونو بیان	۳۵
۱۶	د مهر او ولور د نه یا تولو او پیرا خستلو بیان	۷۰
۱۷	د نبی علیه السلام د بی بی ګانو او لورونو د نکاح بیان	۷۱
	د حضرت فاطمة الزهراء رضی الله عنها د نکاح بیان	۷۱
۱۸	د نبی علیه السلام د ازواجو مطهراتو (بی بی ګانو) د نکاح بیان	۷۴
۱۹	د شریعت مواق دواړه یوه نوی قصه	۷۵
۲۰	د کونډې د نکاح بیان	۷۸
۲۱	د دریم باب د هغو روا جونو په بیان کښې چه خلګ ئې ثواب او دینی کار بولی او کوی ئې	۸۰
۲۲	د ایصال ثواب (او ختم) بیان	۸۰
۲۳	د هغو روا جونو بیان چه په مړي پسې کیږي	۸۸
۲۴	د روژې شریفې د بعضو روا جونو بیان	۹۵
۲۵	د کوچنی اختر د روا جونو بیان	۹۶
۲۶	د لوی اختر د روا جونو بیان	۹۶
۲۷	د ذیقعدې (میاشتې) او د صفر د روا جونو بیان	۹۷
۲۸	په ربیع الاول (لومړی خور یا بل وخت کې د میلاد شریف بیان	۹۷
۲۹	د خدای تعالی د میاشتې د روا جونو بیان	۹۹
۳۰	د شب برات (پنځلسی) حلوا د محرم (حسن حسین) د میاشتې د دال او وربجو څخه جوړ سوی خورک او شربت	۹۹
۳۱	د برکتناکه شیانو د زیارت کولو په وخت کې یو ځای کیدل او جمعه کیدل.	۱۰۱
۳۲	د بهشتی زیور د شپږمې حصې اوله مضمونه چه په بهشتی جوهرې ره نامه ډره ده.	۱۰۳
۳۳	په دین کښې د نوو خبرو پیدا کولو بدوالی او د جاهلیت د رسمونو د ګناهونو بیان	۱۰۳
۳۴	د اصلی بهشتی زیور د (۶) حصو د دوهمې مضمونه چه په بهترین جهیز سره نامدار کړه ده.	۱۱۱
۳۵	د شپږمې حصې د ویلو طریقه او اجمالی حالات.	۱۳۰

د اصلی بهشتی زیور شپږمه حصه

بسم الله الرحمن الرحیم

د رسمونو او رواجونو بیان

د بدو او بیکار و رسمونو (یعنی رواجونو بیان) په دی کښی ډیر یا ټول نه دی

اوّل باب

د هغو رواجونو په بیان کښی چه هغه کونکی ئی گناه بولی مگر سپکه گناه ئی بولی

په دی باب کښی د ډیرو خبرو بیان سویدی۔ په واده، کوزده، بنادی کښی رقص کول، سروزکول، ډول وهل، آتش بازی کول، د کوچنیانو پیکی و رپرلیښنو ول، تصویرونه او عکسونه ایښنو ول، سپی پالل (ساتل) موږ هر واج جلا جلا بیانوو۔

د رقص بیان

په واده او بنادی کښی دوه قسمه رقص کیږی یو قسم د رنډی او داسی نورو بنځو رقص کیږی۔ د خسیدل، شله کول چه د نارینه خلگو په محفل او مجلس کښی کیږی۔ علیحده ئی د دی میلی د پاره راوستلی وی پیسی ورکوی۔ دوهم (۲) هغه د خسیدل، شله کول چه خاص د بنځو په محفل کښی کیږی چه مسلیانی یعنی غږ چیانی او د ریابازانی۔ ناچ، اتن او شله کوی او د بنځی او سرونه پکښی غورزوی خیلی تماشی کوی۔ مطلب چه د اتن او شلی سره هر رنگه طریقه او طرز مناسب دی هغه طرز او طریقه کوی دغه د واړه ناجائز او حرام دی۔

د رنډی په رخسیدو او شله کولو کښی چه کومی گناوی او خرابی دی تولد ته معلومی دی چه نامحرمه او پردی بنځی ته ټول گوری د اد ستر گو زنا ده د دی د خبرو او غږلو آوازه اوری د اد غوږ زنا ده د دی سره خبری کوی د اد ژبی زنا ده

ددوی وطرف ته زړه تو جه کوی داد زړه زنا ده او چه ډیر بی حیا وی لاس هم ور وړی داد لاس زنا ده چه ددوی وطرف ته ورروان وی داد پښو زنا ده او بعضی بدکاری (یعنی زنا) هم ورسره کوی نو دغه اصلی زنا ده په حدیث شریف کښی دغه مضمون صاف صاف راغلی دی لکه څرنګه چه بدکاری زنا ده داغه رنګه په سترګو ورته کتل، په غوږ واورېدل، په پښو ورتلل او داسی نور وکښی هم داغسی ګناه ده لکه په زنا کښی چه ده (ترغیب وترهیب ص۲۴۲)

بیانو بنکاره او برملا ګناه کول په شریعت کښی ګناه پرګناه ده۔ د مشکوٰة شریف په ص۲۱۴ کښی د حدیث شریف دا مضمون راغلی دی چه په یو قوم کښی بی حیائی او بی شرمی دومره وغوړیږی چه خلګ ئی بنکاره او برملا کوی نو ضرور په دوی کښی طاعون او داسی نور افتونه پیدا کیږی چه ددوی په مشرانو کښی هیڅ وخت نه وی پیدا سوی۔ اوس نو ځان پوه کړه چه رخسیدل دومره بدشی دی نو چه بعضی دواړه پرموقع دغه کار انتظام کوی او کار ئی پرغاړه اخلی یا دغه بل طرف والا څخه طلب کوی چه داسی وکړه نو دغه خلګ به څومره ډیر ګنهګار ګرځوی۔ بلکه دغه محفل او مجلس جوړونکی چه هر څومره ډیر خلګ دګناه وطرف ته رابولی هر څومره چه دپتلو جلا جلا ګناه ده دغه پتله ګناه دپتلو چه سره یوځای کړی یوازی و دغه محفل جوړونکی ته هم دغومره ډیر ګناه ورسره ملیږی۔ (مشکوٰة شریف ص۳۰۰) مثلاً فرض ئی کړه چه دغه ساز او سارنګ لره سل کسان راغلی دی نو هر څومره ډیر ګناه چه ددی سل کسانو ده دغومره ډیر ګناه د دغه یوه سړی ده اوبل څوک چه دغه ساز وسارنګ ته وګوری اونده ئی کړی۔ او دی هم داغه رنګه ساز وسارنګ جوړ کړی نو د دغه ګناه هم دهغه پرغاړه ده چه څومره زده کړی ئی دی لیکن د دغه زده کونکی دپاره هم ګناه ستنه بلکه ترمرګ وروسته تر څو چه دده دغه اینبول سوی بیکاره

سلسله جاری وی

ده په عملنامه کښی مسلسله ګناه ډیریږی۔ د دغه رخسید و څخه علاوه په دې میلو کښی دمیرزشیان لکه طبله، سارنګی اوداسی نور شیان هم وهل کیږی چه ددی بیا جلا ګناه ده۔ حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه زه خدای پاک دغه سرورۍ شیانو د خرابولو دپاره امر کړی یم (رواه احمد فی مسنده ص۲۵۷ ج۵ ومشکوٰة شریف ص۳۱۰)

د فکر کولو خبره ده چه هغه شی چه د هغه د خرابولو د پاره نبی علیه السلام تشریف راوړی دی نو د هغه شی د برابرونکی او ښایسته کونکی د گناه به کومه درجه وی او د دنیا تاوان به د هغه ساز و سامان رنگ کښی د ښځو د پاره دادی چه بعضی وخت ته د دی میره یا زدم پر هغه رنډی او قص کونکی ښځه عاشق می او د خپلی ښځی ځخه ئی د زړه مینه او محبت لیری می بیا نو دا ټول عمر ژاړی چه ما به باک نه کوی۔ او بیا غضب دادی چه د غسی فاحشه میله جوړول۔ د نامداری او د عزت سبب بولی او چه د غه فاحشه میله نه وی نو بیائی د ځان ذلت او د واده بی خونده کیدل بولی نو به گناه فخر کول او د گناه نه کولو به صورت کښی ځان بی عزته بلل کفر دی به دی سره ایمان د بینه ځی.

نوته فکر وکړه چه خوندی لو یه گناه ده د بعضی خلگ بیاد ا بهانه او پلمه هم کوی چه که چیری زه دا میله جوړه نه کړم نو د انجیلی پلار واده به لاس نه راکوی یا والی چه دا زما تر طاقت تیره ده ا ختیار ئی د نورو په لاس او اختیار کښی دی.

د دوی ځخه باید پوښتنه وسی چه که انجیلی والا مثلاً پلار ئی یا بل یو ئی دا زور در باندی ولگوی چه ته پخپله جابه یا بل د رقص لباس واغوندی او اتن راته وکړه نو ایا ته د انجیلی د راواده کیدو د پاره پخپله د غه رقص ته تیار ئی که دده به د غه خبره سره ځان هم وژنی بل هم وژنی او چه انجیلی به لاس نه درکوی د د غه هیڅ پروا نه کوی نو د مسلمان دافرض دی چه هر هغه کار چه شریعت حرام کړی وی د هغه څخه دوندی نفرت وکړی لکه چه نفرت کوی د هغو کارونو ځخه چه د د ه د طبیعت مخالف وی (مشکوة شریف ص ۲۱)

نوټ، چه د طبیعت خلاف کار و نو کښی واده د رکوی که ئی نه درکوی ته ئی کومه خاص پروا نه لری نو داغه رنگه د شریعت خلاف کار و نو کښی باید صاف صاف جواب درکړی چه که واده راکوی که ئی نه راکوی زه د لته میلی او د مدمانی شه سم جوړولای او به دامی واده کښی باید څوک شریک هم نه سی نه ورته گډوری. اوس پاته سو هغه رقص او ناچ چه د ښځو په میدان او صحنه کښی کیږی د هغه څخه دی لکه کوم سازاو ناچ چه د نارینه ؤ په میدان کښی کیږی۔ برابره خبره ده که ډول باجه او ساز اوطاسی نور د زړه وی که نه وی

هر قسم نارواده یه کتابونو کښی د بیزوګانو میله کول، شله کول - لاهم منع سوی
دی خو معنی چه انسانان او رنه یانی رقصول ایا دا به ګناه نه لری بل لاډا
غم هم پکښی دی چه یو وخت دکور دخلګو هم نظر پرلویږی نو دغه تاوانونه
او خرابی پکښی موجودیږی چه اوس ئی بیان وسو - او یو وخت د غناتن کونکی
او مروږګری - غزلی هم والی چه دکور څخه د باندی خلګ ئی هم اوری نو
چه د خلګو د پاره د بنځو غزل او ریدل ګناه دی نو کومی هغه بنځی چه د
دی میلی او غزلو سره پرستی ئی کړی وی د غه میله ئی جوړه کړی وی -
هغه هم سختی ګنهګاری دی.

او بعضی بنځی دد غو شلو کوونکو او مروږګرو پرسره خولی ورته دی د
نړکالی په اغوندی د نرشکل ورجوړوی نو د نرشکل جوړول د بنځو د پاره
حرام دی او د غه د نارینه شکل چه ورجوړوی د غه بنځه هم ګنهګاره ده
او چه څوک ئی طریقه ورته دی هغه هم ګنهګاره دی.

که سروږ ورسره وی د هغه بد والی خو موږ اوس بیان کړی - داغه رنګه غزلی
او بدلی ځکه چه اکثره وخت غزلچیانی چه څوانی او خوش آواز وی او عشقی غزلی ویونکی
وی خلګ ئی راولی او د اکثرو آواز د نامحرم خلګو غوږ ته رسیږی او د دی
ګناهونو سبب دکور بنځی دی او یو وخت وخت د داسی عشقی شعرونو څخه
د بعضو بنځو زړه هم خرابیږی. بیانو په شپو شپو د غه خیال او فکر ورسره
وی.

د پیرو بنځو د سهار لمونځونه یا نور لمونځونه پکښی قضا کیږی نو د دی خرابیو
د سببه د بنځو په صحنه کښی رخصیدل هم منعه دی غرض هر قسم سروز،
باجه نغمه چه ټن سبا کیږی ټول منعه دی او ګناه لری.

د سپی د ساتلو او د عکسونو او بتانو د ایښودلو بیان

د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد مبارک دی چه نه
داخلیږی ملکی (ملایکی) د رحمت د هغه کور ته چه په هغه کښی سپی وی - یا
عکس او بت وی. (مشکوة شریف ص ۳۲۸) او جناب رسول الله صلی الله علیه وآله
وسلم فرمایلی دی چه تر ټولو زیات عذاب د خدای پاک په نزد د تصویر

حور د نکی د[1] پاره دی - مشکوٰة شریف ص۳۲۹)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرڅوک ماسیوی د دغو درو غرضونو څخه د بل څه دپاره سپی وساتی (۱) یعنی د رمی او حیوانا تو د حفاظت دپاره (۲) د فصل د ساتنی دپاره (۳) د ښکار دپاره - نو د دی د رو څخه ئی یو غرض نه وی دیو بلی فائدی دپاره سپی وساتی نو د ده د ثواب څخه هره ورځ یو یو قراط کمیږی - (مشکوٰة شریف ص۳۰۵ و ص۳۰۴) او په بل حدیث شریف کښی راغلی دی چه قراط د خدای په نزد د احد د غره سره برابر دی (مشکوٰة شریف ص۱۱۵)

د دې حدیثونو څخه د تصویر (عکس) جوړول او ایښوول او سپی د ساتلو د بټولو حراموالی ثابتیږی نو باید انسان د داسی کار و څخه ځان وساتی د دی څخه معلومه سوه چه بعضی انجیلی یا ښځی چه تصویر دار ه ناوکه جوړ دی یائی د بازار څخه راغواړی او د خاورو یا خوږو څخه د سات او بازی شیان جوړ دی چه هغه تصویر دار ه او عکس لرونکی وی یائی د کوچنیانو د پاره د بازار څخه راغواړی داډول منعه[2] دی خپل کوچنیان باید د د غه څخه منعه سی او د د ا رنګه سا تیری د شیانو ماتول په کار دی او د اسی ناوکی باید د سو ځل سی د اغه رنګه بعضی کوچنیان کونګریان یعنی د سپیانو بچیان ساتی مور او پلار ته یه په کار د ه چه د دی منعه کړی که نه منعه کیږی سختی دی پروکړی.

د آتش بازی یعنی په اورسره د بازی کولو بیان

د برات په شپه یا واده کښی په مړو انکو او پټاکیو الوتونکو او د اغه رنګه د اور په

---

[1] د سپیانو د ساتلو ممانعت او د ښکار د پاره د سپی د ساتلو اجازت

[2] یعنی عکسونه او تصویرونه

د دی حدیث څخه معلومه سوه چه د ښکار د پاره سپی ساتل جائز دی

او د خپلو غوښو د ساتلو د پاره عکسونه نه جوړول

د دی حدیث څخه معلومه سوه چه د ښکار د پاره سپی ساتل جائز دی

غوږ زولو کښی ډیری ګناوی دی.

اول داچه اسراف پکښی کیږی پیسی برباد یږی په قرآن شریف کښی ئی اسراف کونکو ته د شیطان په ورونو سره ویلی دی او په ایت شریف کښی الله پاک فرمائیلی دی چه اسراف کونکی نه ته خوښوم اونه ئی په کار لرم یعنی الله پاک خندی بیزاره دی. دوهم داچه دلاسو - پښو د سوځلو بیره ده یا په کور کښی د اور لګیدو بیره ده او خپل مال یا ځان په داسی هلاکت او خطره کښی اچول خپله هم په شرعه کښی بده خبره ده - دریم داچه اکثره لیکل سوی کاغذان په آتش بازی کښی سوځل کیږی خپله حروف هم د ادب شی دی په داسی کار ونو کښی - د حروفو سوځل منعه دی. بلکه پر بعضو کاغذانو د قرآن شریف ایتونه یا حدیثونه یاد انبیاء علیهم الصلوٰة والسلام نوم ونه لیکل سوی وی نو ته خپله فکر وکړه چه د دی سره بی ادبی کول څونديی لوی وبال دی نو کوچنیانو ته د داسی کارونو د پاره هیڅکله پیسی (روپۍ) مه ورکوه

د شطرنج، پتو (ورقی) کرمبو د ګودی (کاغذ باد) او داسی نورو شیانو بیان

په حدیثو کښی د شطرنج ډیر ممانعت راغلی دی (مشکوٰة شریف ص۴۳۳) پتی کول، کرم بوډ کول، کاغذ باد الوزول او داسی نور هم په شان د شطرنج دی - د دی سبب نه ټول منعه دی او بیا زړه په دغه بازیو کښی دوندی غرقیږی چه د دی شیانو ساعت تیرونکی بیا د بل هیڅ کار نه وی او د دنیا او د دین کار ونو کښی خلل او تاوان واقع کیږی نو په هر کار کی چه دا رنګه تاوان نه وی نو ته ووایه بد به ولی نه وی او همدغسی حال د کاغذ باد (ګودی) وبوله چه دغه تاوانونه په ده کښی هم سته - بلکه بعضی هلکان په کاغذ باد پسی تر بامو را ایله کیږی او د مرګ سبب ګرځی.

غرض چه ته باید ډیر مضبوط او محکم واوسی او هیڅکله خپلو کوچنیانو ته د داسی ساعت تیرولو او بازیو کولو موقع نه ورکوی مه د داسی بازیو د پاره پیسی ورکوه.

دکوچنیانو بعضی سرور پریښوول او بعضی سرور خرڅیل

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه منعه فرمایلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم د قزعی څخه او د قزعی معنیٰ یه عربی کښی داده چه یو څه سر وخرڅی او یو څه سر پریږدی چه پیکی ورته وایی یایه مابین ورو خرڅیی شاو خوا یه ورپریږدی. مشکوة المصابیح ص ۳۲۴

دوهم باب د هغو رواجونو په بیان کښی چه خلگ ئی روا بولی

خوندی رسمونه چه دنیاته د راتلو دوخت څخه تر مرگه پوری کیږی یه دغه کښی اکثر - بلکه تمام رواجونه داسی دی چه یه غټو غټو پوهانو او هوښیارانو خلگو کښی د عام طوفان په شان غوپیدلی دی چه د دی رواجونو په باره کښی د خلگو دا خیال دی چه په دی کښی خو دگناه کومه خبره نسته نو او ښځی جمعه کیږی د دی خوری یا بل شی خوری چښی څه درکړه راکړه کیږی - لیکن هیڅ ، اتن کول - باجی ، سرندی وهل - نغمی خو نه وی نو په دغه کښی د شرعی خلاف کوم شی نسته چه منعه سی نو دد غه غلط گمان د سبب دا پلیښه دی چه د عام رسم اورواج د سبب پر عقل باندی پردی پریوزی - څگه چه په دی رواجونو کښی د ننه چه کومی خرابی چه دیری باریکی دی عقل نه په رسیږی لکه یو ناپوهه کوچنی چه د متابی خوند او رنگ ورمعلوم سی نو فکر کوی چه د غه متابی او خوږی دپیرښه شی دی او د د غه خوږی د تاوان ته نه گوری چه د خوږی د خوراک څخه څه پیدا



کیږی چه هغه موږ اوپلار ته ورمعلومیږی. نو ددی سببه ئی منعه کوی اودهغه کوچنی دا خیرخواهان دښمنان بولی. حالانکه په دی رواجونو کښی چه کومی خرابی دی هغه دا سی نازکی، باریکی اوپټتی هم نه دی بلکه هرسړی ددغو رسمونو اورواجونو څخه تنګ اوپریشانه دی اوهر سړی خواږی کچیږی دغه رواجونه نه وای ډیر به ښه وای لیکن دږواجیدو د سببه څخه ټول خلګ دغه رواجونه په خوشحالی سره کوی اودا همت په هیڅا کښی نسته چه یکدم ئی پریږدی بلکه مزه خولاداده چه که ئی په پوه کوی خفه کیږی لاهم دئی.

دلته موږ دهریوه رواج خرابی بیانوو چه ددی خرافاتو گناه معلومه سی اود مسلمانانو څخه دغه بلا لیری اوخته سی ټول پاک صاف سی. پرهرمسلمان ننر اوښځه لازم دی چه ددی عبث رواجونو دخرابولو اوپریښولوکوښښ وکړی اود زړه داخلاصه کوشش وکړی چه په وطن کښی یورواج هم پاته نه سی اونکښځه چه د نبی صلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کښی په ډیره سادګی سره کارونه کیدل اوس بیا په هغسی سادګی سره شروع سی کومی بښځی اوخلګ چه دغه کوښښ کوی دوی ته الله پاک ډیر ثواب ورکوی اوددوی نه درجی اومرتبی ورکوی په حدیث شریف کښی راغلی دی چه څوک دسنتو ورکه سوی طریقه سره ژوندی کړی ده ته دسلو شهیدانو ثواب ورکول کیږی. (مشکوٰة باب الاعتصام)

څرنګه چه ټول رواجونه تر تاسو پوری تعلق لری نو ددی سببه که تاسی لږ غوندی کوشش وکړی نو انشاء الله تعالیٰ ډیر ژر به تاثیر وکړی.

دکوچنی دپیدا کیدو دمراجونو بیان

(۱) دا ضروری بلل کیږی چه ممکنه وی اولنی کوچنی باید دپلار پرکور پیدا سی نو بعضی وخت چه دکوچنی دپیدا کیدو وخت ئی نژدی سی نو دئی ئی دپلار کورته لیږی لیکن دا تمیز نه سی کولای چه دا اوس دسفر قابله ده اوکه نه ده چه بعضی وختونه ددغه سفر څخه یو مریضی پیدا کیږی حمل ته تاوان رسیږی دداسی بښځی دپاره استراحت په کار دی دحمل په زمانه کښی ډیر احتیاط په کار دی بلکه تجربه کاره خلګ وایی چه اکثره مریضی دحمل په زمانه کښی دبی احتیاطی دسببه څخه دکوچنیانو ته ورپیښیږی. غرض دادی چه ددی رواج په پوره کولو

کښی د دوو انسانانو د روح نقصان پیښیدای سی. بل دا خبره د چه د یو غیر ضروری خبری د ونډی انسان نه پابندی چه هیڅ قسم ئی نه پریږدی د خپله طرفه څخه یو نوی شریعت جوړول دی او خصوصًا چه دا عقیده لرهم وساتی چه کله می دا رنګه د نه کړه نو یو تاوان او ناسیتوب وساتی ترڅو دی یا زه بدنامه کیږم د تاوان او ناسیتوب عقیده لرنو بالکل شرک دی. ځکه نفعه رسونکی خو صرف الله تعالی دی نو هر څوک چه یو شی ناسی وبولی او دا خیال وکړی چه د دغه څخه تاوان پیښیږی نو دغه شرک دی. نو د دی سببه په حدیث شریف کښی راغلی دی. چه بد پالی او کړکه په اسلام کښی نسته (مشکوة شریف ص۴۳۳)

او په بل حدیث شریف کښی راغلی دی چه کرکه کول شرک دی (نو باید څان څندی وګورو) ابو داؤد او ترمذی ص۳۸۲) او د بدنامی بیره د کبر د وجهی څخه کیږی او د تکبر اولویی جرامو الی صاف صاف په قرآن شریف او احادیثو کښی ذکر سویدی. او اکثره پریشانی او خرابی د ننګ او ناموس په سبب د غاړی طوق او هار (امیل) ګرزیدلی دی.

(۲) په بعضو ځایونو کښی د کوچنی تر پیدا کیدو مخکی د غنمو یا اوړو په غلبیل کښی یو څه غله او پاڼ باندی روپه د حضرت علی کرم الله وجهه پر نامه نذر کوی دا بنکاره شرک دی او بعضی ځایونه دا رواج دی چه بنځه اول دا ر حامله سی نو یو وخت پنځمه میاشت یو وخت اومه میاشت نهمه میاشت غیږ ورکوی یعنی او وه قسمه میوی په یو وه غونډه کښی وتړی او د حاملی او برالبی بنځی په غیږ کښی ئی ورښ دی، قلیچی خوږی او پکوړی پخوی او ټوله شپه نه بیدیږی وینس ناست دی او د هری بنځی چه اول اولاد ضائع سی د هغی بنځی د پاره د دا رسم او رواج نه کیږی دا نو خامخا پابندی او کړکه د چه بد والی ئی ځای پر ځای ذکر سوی دی.

او بعضی ځایونه د ځلویښتی د بنځی ته. نتورې یا چاړه د بلاؤ څخه د څان ساتنی د پاره بندی دا هم خالص کړکه او د شرک کار دی.

(۳) د کوچنی تر پیدا کیدو وروسته د کور والا ؤ سره د قوم او قبیلی بنځی هم په طور د تحفی او سوغات یو څه پیسی جمعه کوی هغی بنځی ته ئی ورکوی چه د کوچنی

لہ ان اللہ لا یحب المستکبرین سورۃ نحل رکوع (۳) فلبئس مثوی المتکبرین سورۃ نحل رکوع (۴) پارہ (۱۴) ۲ ترغیب ص۳۳۱ جلد ثالث و مشکوۃ ص۴۳۳

د پیدا کیدو خدمت ئې کړی دی په لاس کښی هم نه ورکوی بلکه په مات منګی کښی
ئې واچوی نو داد ورکولو کومه معقوله طریقه ده چه لاس پرې ښندی په مات منګی کښی
ئې اچوی او که په مات منګی کښی نه واچول سی په لاس کښی ئې ورکړی بیا هم د فکر
کولو خبره ده چه د دغه ورکونکی مقصد او نیت څه شی دی هغه وخت چه
د دی رواج وجود راغلی دی د هغه وخت خو معلومات نسته چه څه مصلحت
پکښی وو کیدای سی چه د خوشحالی د وجهی څخه وی چه د ټولو عزیزانو او
دوستانو زړه په خوشحاله سوا د پرطریقه د انعام به ئې څه څه ورکړی
وی مګر اوس خو یقینی خبره ده چه خوشحالی وی که نه وی زړه ئې غواړی
او که نه غواړی خامخا به ئې ورکوی.

دقوم او خاندان بعضی بنځی ډیری سختی مفلسه وی او غریبی وی هغو
ته هم قاصد پرقاصد ورلیږی را بولی ئې که هغه رانه سی نو ټول عمر د
دوی شکایت اوګیله کیږی او که ورځی نو به نیمکه، یا ولی، پاڼو برابروی بیا به
ورځی او که داسی ونه کړی نو به دنورو بنځو په مابین کښی سختی ذلیلی
او شرمنده کا سی. غرض ولاړه سه جبرًا، قهرًا او زور دلاری څخه یوځه ور
کړه بیا راسه داځنګه تاریکه او جهالت دی چه کورته ئې را بولی او لوټوی
ئې - پخپله انصاف وکړه چه داځرنګه کار دی او په دی طریقه سړه د مال
خرڅول او مصرفول او اخستونکی ته یا کور والا وڼته دد غه اخستلو او ور
کولو سبب جوړیدل چیری روادی ځکه چه دورکونکی نیت خاص خپله لوبی
او نیکنامی ده چه د دوی په باره کښی حدیث شریف راغلی دی چه هرځوک
د شهرت جامه واغوندی نو د قیامت په ورځ خدای پاک ودې ته ذلت
کالی ورا غوندی. (مشکوٰة شریف ص۴۲۶ ترغیب ترهیب ص۴۳۴ دریم ټوک) یعنی
هرهغه جامه چه خاص د شهرت او نامداری واغوستل سی پر دغه د عذاب
دی نو معلومه سوه چه د شهرت او نامداری د پاره هیڅ کار کول روا نه دی
د لته خو خاص دغه نیت کیږی چه کتونکی به ووایی چه فلانی د وندی
ورکړی او که ئې نه وی ورکړی - تانی او پیغور ورکوی نوم پرې دی چه فلانی
داسی کنجوسه ده چه د دی څخه یوه پیسه نه بیلیږی - خالی مالی لاس راغلی د
منډه په شان کښینسته نو د داسی را تلو څه ضرورت وو - ورکونکی

خو گنهگار ګرځي سوه اوس نو دا خستو نکی دا وار ګرځي - په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د هیڅ مسلمان مال بیله د ده د زړه د خوشحالی حلال نه دی (لا یحل مال امرء مسلم الا بطیب نفسه) نو چه چا د زور او جبر دلاری ورکړی وی نو دا خستونکی د پاره دا خستلو ګناه سوه که ورکوونکی مالدار ګرځي اود ولتمند محتاج وی او پردی زور هم نه وی سوی مګر غرض د دی خو هم هغه لوبي او فخر کول دی چه د د غه په نسبت په حدیث شریف کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو خلګو د دعوت قبلولو څخه منع کړیده ګرځي چه د فخر او نمایش د پاره میلمستیا خلګو کوی. (مشکوٰة شریف ص ۲۷۹) -

غرض چه د دا سی چاړو ډی خوړل یا ئی یوشی اخستل هم منع دی غرض دا چه اخستو نکی هم د ګناه څخه خلاصه نه سوه اوس نو کور والا او ورته وګورځي د دی نور رابولی د د غو ګناهونو سبب سوه نو د دی هم ګنهګار ګرځي سول - غرض دا چه پیرځي منه تحفه او سوغات ورکړه سو چه ټول ئی په ګناه کښی شریک او شامل کړل د دی تحفی په رواج کښی چه په اکثر ځای محفلونو او مجلسونو کښی ادا کیږی د دی خرابیو څخه ماسیوئی یوه بله خرابی او ګناه هم سته هغه دا چه هر څه تحفه راځی هغه ټوله د ده پر ذمه قرض کیږی - (د د غه قرض والی په شامی مطبوعه مصر ص ۷۸۴ څلرم ټوک کښی تصریحا او تفصیلا ذکر راغلی دی) او بیله ضرورته څخه د قرض اخستل منع دی - (جمع الفوائد ص ۲۵۳ اول ټوک)

بیا د قرض دا حکم دی چه هر څخه ستاسره موجود سی ادا کول ئی واجیږی او د لته تر هغه وخته پوری انتظار کوی چه هلته هم یو محفل او قصه جوړه سی نو بیا داد هغی تحفی په عوض او بدله کښی تحفه ورکوی او که یو څوک د تحفی بدله نیمه یا یوه ورځ وروسته دستی ورکړی بیله دی چه د هغه په کور کښی یو میله او قصه جوړه سوی وی نو هغه ئی هیڅکله نه قبلوی دا بله ګناه سوه اود قرض حکم دادی چه که د رسره دی ادا ئی کړه که نه دی د رسره بیا ئی مه ورکوه هر څخه چه پیدا سی بیا ورکول کیږی لیکن د لته دا حال دی چه که د رسره دی یا نوی ته مجبور ګرځي ئی پور او دار به کوی یا به ګروی کوی نزد (۱۰۰۰) د پریشانۍ فکر ونه به کوی - لیکن چه د د ه په کور کښی یو قصه او محفل جوړسو ورته راوړی به ئی او خامخا به ئی ورکوی (هیڅ جا

نه لری) - نو په دری ډله حکمونو کښی د شریعت مخالفت راغلی د دی سبب نن سباچه د دی تحقو او سو غاتو کوم رواجونه موجود دی روا نه دی - مه د چا شی اخله او مه خپل هیڅ شی چاته ورکوه ته فکر وکړه چه د شی په نه ورکولو او نه اخستلو کی د خدای جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم د رضا څه علاوه څوندی د پیر راحت او ارام سته - داغه رنګه د کوچنی په غوښ کښی د اذان کولو په وخت کښی چه د ګوډی او پتاسو ویشلو او تقسیمولو پابندی کوی بالکل په شریعت کښی نسته نو داد شرعی د حدود و څخه وتل دی.

④ بیانو د لاتله یا فقرجنه په خپله لمن یاد پوهږدنی په څاک کښی یوځه غله دانه واچوی په ټول کلی، محله او قبیله ګرزی مبارکی ورکوی او هلته ټولی ښځی ددی ته څه غله ملهورکوی دائی په هغه غله کښی اچوی چه نمونه ئی د سړه ده نو په دی کښی هم دا خیالات او نیتونه دی چه اوس مخکی بیان سوه نو په کار دی چه داسی رواج هم پریښوول سی.

⑤ په کور کښی چه کوچنی پیدا سی نو بس دکم ذاته خلګو د پاره په دی کور کښی حق ثابت سی او د غه خود ساخته حق هم د جبر او زور دلاری غواړی بلکه پور چه ئی پرباندی وی لیکن په دی کښی چه کوم خدمت ګذاران دی هغوته که په طور د انعام څه شی ورکړی نو بیا پروا نه لری بلکه ښه کار هم دی لیکن د خپلی کمبلی ډله به پښی سمی عزوی یعنی د خپل قدرت لحاظ به ساتی داسی به نه کوی چه خامخا به پور کوی سود به کوی یا خپل باغ او محکمه خرڅه کړی یا ګروی وکړی که داسی کوی نو د نامه د نیت یا بیله ضرورته د قرض اخستلو او سود ورکولو څخه چه په ګناه کښی د سود اخستلو سره برابر دی یاد کبر او فخر د نیت د وجهی څخه ضرور ګنهګاره کیږی خبر د اخود خدمت ګذارانو په انعام کښی خبری وی بعضی هغه کم ذاته خلګ دی چه د هیڅ کار هم نه دی نه ئی یو خدمت کړی وی نه ودوی ته یو ضرورت وی - (مثلاً ډول وهونکی، سرنده او باجه ږغونکی یا هسی په نامه پیر یا ملا چه هر ځای د دوی (خرڅه او خوړه) چړه دی) که ئی هغه غریب لری که ئی نه لری نو د غه کمینان تر پور غوښتونکو هم بد تر دی که څه شی وی که نه وی دوی ته به ورکول

کیږی او په دغه کښی هم چه کومی خرابی اوګناهونه د ورکونکو اواخستونکو په حق کښی دی د هغو بیان مخکی وسو دوهم دا رنګ د لیکلو ضرورت نسته نو هر هغه څه چه دوی هیڅ حق نه لری نو دوی ته ورکول خالص احسان اوانعام دی او په احسان کښی دا سی جبر او زور کول حرام دی چه که ئ زړه ناخوښ یا نه ناخوښ لیکن د بدنامی د بیری څخه به خامخا دغه رواج پوره کوی اود دغه رواج په جاری کیدو کښی د دغه حرام کار ته تقویت او محکمی ورکول کیږی. اوحرامی خبری ته محکمی ورکول رواج ورکول هم حرام دی او دغه رواج باید بالکل منعه سی.

(۶) په کورکښی چه کوچنی پیدا سی خوند ی، عمه ګانی او دا سی نوری سړه را جمعه سی دوی ته هم دئ او شیدو ورکولو پرنامه یو څه ورکول کیږی څکه چه ناخوښ ئ - او دا رواج هم په ضروری بلل کیږی نو دلته هم یو څه ورکول جبرًا او قهرًا په زور سړه دی که ئ په خوشحالی سړه ورکړی خو د نامداری او سورخروئ خبره ده نو په دا رنګ وصورتونو کښی دغه خرابی اوګناهونه پکښی موجود دی او څرنګه چه داد هند وانو رسم اورواج دی دکافرانو سړه مشابهت پکښی راځی نو په دی وجه هم نارواد ی اوبل دا عامه قاعده زده کړه چه کوم رواج د وندی ضروری سی چه خامخا جبرًا او قهرًا به ئ کوی که ئ نه کوی شریږی - خلګ تا نی او پیغور ورکړی یا ئ خاص د نام او نښان فخر او لوی د پاره کوی هغه حرام دی د د غوندی خبری د پوهید و څخه په ډیری خبری خو د بخود ه تاته معلومیږی.

(۷) لیتړه، خوږی - میتایانی، روغانه، قلچی او دا ورځخه یو قسم د بازری شی جوړکړی په ټوله قبیله او کلی کښی ئ تقسیموی په دغه کښی هم هغه نوم ریاکاری خراب نیت او تر لمانځه اوروژی لاهم ضروری بللو علت پکښی موجود دی.

او دغه شی چه د بازیو او لوبو کولو د پاره د اوړو څخه جوړکړی نو په دی کښی دغلی دا سی بی قدری کیږی چه الهی توبه اوپرد وی نه پوره مصرف ادخرچ راځی لیکن دچا وخولی ته نه رسیږی وګورکه دغلی دا رنګه بی قدری کاله روا ده.

(۸) بیا نو دلاق یا یوبل دا سی څوک خط واخلی د مبارک خسرګنی کړه ورځی یاد دی د هلارګنی کورته ورځی چه دوی خبرکړی چه د مبارک زړیالور، خوښ دی

زوی پیدا سو۔ داهلته چه ددی خسرگنی ته ورسی یادی دلور زوی پیدا سو داهغه دخت چه د پلار گنی ته ئی ورسی او هلته نو بیاده ته انعام ورکول کیږی۔ دفکر کولو خبره ده چه کوم کار دیوی روپی په لفافه سره کیږی ددغه دپاره خاص دیوانسان تلل کومه د عقل خبره ده نو بیا هلته که شی وی که نه وی خو دغه قاصد ته به ئی ورکوی اوددې قرض نخوذ باندې د الله پاک تر قرض ضرور بلل کیږی اوهغه د نام او نښان نیت اود جبرًا قهرًا ورکولو حرابی دلته هم موجودی دی ددی سببه په دامی زیرو کولو کښی زیری او څه شی ورکول هم روا نه دی۔

(۹) چه څلویښتی ئی پوره مړی نو ددی د غسل اولمبید و په دخت کښی د کلی ټولی ښځی راځی د دې دی دلته خوری څکه خو مبارکی ورکوی په شان د نابلدی میلمه پرخلګو په زور ځان میلمه کوی او خپل کور به ئی هم دده قدمه لیری نه وی د دې دی دلی خوری او په شپه کښی شیدی او ورجی تقسیمیږی دا ټول جبراو زور دی که ئی منی او که ئی نه منی زه ستا میلمه یم ددی دخوا څخه خو دغه زور دی اودکور والاو ئی نیت هغه نام ونښان اود پیغور څخه دځان ساتلو دی دغه دوی وجهی ددی رواج په منعه کښی کافی دی نو ددی سببه دشیدو۔ ورجو تقسیم هم بی فائده دی دیوه کوچنی په وجه ټولو کوچنیانو اولویانو ته شیدی۔ ورجی ورکول څه ضروری دی او بیا ئی ترلمانځه اوروژی هم ضروری بولی د نام او نښان خیال پکښی سته په نه کولو کښی پیغور په پسی دی ددی سببه دا رواج هم بالکل غلط دی۔

(۱۰) دغه څلویښت ورځی به ښځه بالکل غسل نه کوی لمونځ به نه کوی حالانکه د شریعت حکم دادی چه هر وخت وینی بندی سوی فوراً دی غسل وکړی که غسل تاوان ورته کوی نو بیا دی تیمم وکړی خپل لمونځ دی شروع کړی بیله عذره دیوه وخت فرض لمونځ پریښول سخته ګناه ده په حدیث شریف کښی راغلی دی چه چا په قصدًا سره لمونځ پریښو وی نو هغه[1] کافر سو۔ (جامع الصغیر) او په حدیث شریف کښی راغلی دی چه داسی سړی به د فرعون، هامان او قارون سره په دوزخ کښی وی۔ (المنتقیٰ من اخبار المصطفیٰ ص۳۴۱)

[1] یعنی دیرلوی ګنهګار دی او نژدی وکفر ته دی ۱۲

(۱۱) چه دکوچنی تربیه اکید و وړوسته مړوړ د پلار دکور څخه د خسوګنی دکور ته راځی نو د پلار په کور کی یو غوټه تیاریږی چه د قدرت سره برابر د خسوګنی د ټولو کالی او د قوم او قبیلی د پاره د بازیو شیان او د انجیلی د پاره زیور، لوښی کالی او داسی نور ټول برابریږی هر وخت چه مړوړ غوټه راواخلی او د خسوکور ته راسی نو ټولی بنځی ددی شیانو د کتلو د پاره راځی او دیوه وخت د دوړی د خوړی بیا ولاړی سی په دی ټولو کار د کښی چه کومه پابندی ده چه تر دغه او واجب ئی زیات بولی او د هغی ریا کاری او نامداری نیت چه هر څه دی ټوله بنکاره دی هغه شی چه په ده کښی فخر، کبر او نوری د غوندی خرابی وی هغه به څرنګه روا وی.

داغه رنګه بعضی ځایونه دا رواج دی چه د کوچنی د مورفه د خواخځه څه چرګان، بزی، کالی او داسی نور شیان د هلک د شپږمی ورځی پر نامه راځی په دی (رواج) کښی هم هغه خرابی دی چه ذکر ئی وسو نو د دی سببه دا هم منعه دی.

(۱۲) د څلویښتی د بنځی کالی، بستره، څپلی او داسی نور ټول شیان و دایی او خدمتګاری ته درکوی او د دی حق ئی بولی بعضی وخت د دغه پابندی د وجهی څخه تکلیف هم پیښیږی ځکه چه د غه حمل دار که او امید وار که بنځه هغه زړی څپلی په پښو کوی او دا څپلی هسی په دیر تکلیف په پښو کښی کشوی زړه بستره هواړه وی. ځکه که نوی او د استراحت شیان استعمال کړی بیا په دوړی، درړی ورځی کښی ځندی اخستل کیږی نو دا رواج هم نارواد ی.

(۱۳) د څلویښتی بنځه بالکل پلیده او نجسه بلل د دی څخه ځلا کښینستل د دی پاته سوی د دوړی څه معنی هرلوښی ته چه داهسی لاس ورو ړی مسه ئی کړی په هغه کښی بیله پریمنځلو په صابن سره نه چښل نه خوړل غرض چه بالکل دیوکافری او بنګی په شان دا بلل دا هم دیره سخته ګناه او لغوه او بی فائده کار دی.

(۱۴) په بعضو ځایونو کښی دا رواج دی چه بنځه په څلویښتی کښی وی نو خاوند به د دی پرخوا نه ورځی دا څوند ی د بیعقلی خبره ده یو ضرورت خامخا پیښیږی چه بیله خپل خاوند ه ئی بل چاته نه سی ویلای یا غواړی

چه خپل کوچنی وروینی مگر اجازت نه لری چه د خپل کوچنی وروینی لپاره ددغه څخه علاوه ئی ټول جهان وروینی - داځکه بی فائدی رواج دی چه پیرښه زوی زوکړی دی چه خاوند او بنځه ئی سره جلا کړه ددی بیعقلی هم یوحد او اندازه سته.

(۱۵) بعضی خایونه کوچنی په غلبیل یا چغل کښی کښینوی یا ئی د هغه د پیروالی دپاره په یوه بڼ کړی کښی اینږدی او بیا ئی کشوی نو داهغه ناروا نیکفالی ده کوم چه په حدیث کښی ئی منعه ثابته سویده نو په دی وجه دغه ناروا خبره ده.

(۱۶) بعضی خایونه داولاد د پیدا کیدو په شپږمه ورځ ستوری وښکاره کوی یعنی دالنگه بنځه ولمبوی بنی جامی په واغوندی ستر گی وروتړی په شپه کښی ئی د غولی ومابین ته راولی پریوتخته ئی د دروی ستر گی درخلاصی کړی چه اول نظر ئی داسمان پر ستورو ولویږی بل څوک ونه وینی داهم خالص خرافاتی او بیهوده خبری دی خامخا دسم انسان څخه پرونده جوړوی داخوندی د بیعقلی او ناروا نیکفالی کار دی اوبیا داوړ (۷) بنځو سره (چه ددی اوړ (۸) بنځو خاوندان ژوندی وی) د خوراک ډکه کاسه درته کښیږدی په دوی ئی وخوری چه په دغه کښی هر قسم خورک وی چه بیا هیڅ قسم خورک وکوچنی ته نقصان د نه کړی داهم منعه دی.

(۱۷) شپږمه ورځ زوم د خوابنی یا خسر څخه کالی غواړی چه زمازوی پیدا سویدی په دی کښی هم دوندی پابندی کول د زوم یا د خوابنی د خواشخه لکه فرض لمونځ بده خبره ده اود زوم دپاره ئی نفس غوښتل بده خبره ده.

(۱۸) په بعضو خایونو کښی ولنگی بنځی ته دری واړه غسل ورکول ضروری بولی شپږمه (۱) ورځ او په کوچنی (۲) چهله او په غټه چهله - لیکن په شریعت کښی صرف دا حکم دی چه هر وخت وینی بندی سی نو دی غسل وکړی برابره خبره ده که په پوره څلویښت ورځی وینی بندی سی یا په دوی دری ورځی کښی بندی سی او دلته

دغه دری واړه غسل کول واجب بلل کیږی ایا دا د شریعت مقابله سوه که نه سوه؟
بعضی خلګ دا عذر کوی چه لنګه ونه لمبیږی طبیعت ئی خراب او کمزوری نود
دی سبب ئی موږ لمبوو چه طبیعت ئی صنامی او خیره میره ئی ولاړه سی ددی
جواب دادی چه دا عذر بالکل غلط دی که صرف دغه وجه وی نو چه هر وخت
ددی زړه وغواړی هغه وخت دی ولمبیږی ددی وختونو پابندی دکومه راغله
څنګه راغله؟ چه پنځمه ورځ سوه بیا لسمه ورځ سوه یا پنځلسمه ورځ سوه ددی
څه معنی ده؟ اوس خالص رواج دی بله هیڅ وجه نسته - بلکه دا می معلومیږی
چه هر وخت ددی زړه غواړی هغه وخت نه لمبیږی یا د لمبولو څخه یو وخت
وخت دی اوکوچنی دواړو ته نقصان رسیږی - او تر تولو د تعجب خبره خو دا
ده چه هر وخت نفاس بند سی هغه وخت ئی نه لمبوی تر څو چه ددی هغه
معلوم وخت د لمبولو نه وی راغلی - پخپله وړایه دا بنکاره ګناه ده که نه ده؟
دکوچنی د پیدا ینبت په وخت کښی دنمخ څو خبری سنت دی - چه کوچنی ولمبوه
پری ئی مینځه په راسته غوږ کښی اذان وکړه او په چپه غوږ کښی اقامت
وکړه او د یو دیندار ه او بزرګ څخه یو څه خورما چه هغه څولی وی را
وړه د کوچنی په تالو کښی ئی ورکښیږده د دغو څخه علاوه نور تول رواجونه
او په غوږ کښی اذان کونکی ته په پابندی سره پیسی خوږی ورکول تول بی فایدی
او مخالف د عقل څخه خبری دی چه په شریعت کښی منعه دی. (مشکوة شریف
ص۳۶۲ و ص۳۶۳ و مرقات)

د عقیقی د رواجونو بیان

په دغه ورځ د هلک د پاره دوه پسونه او د انجلۍ د پاره یو پسه حلال کول
(المنتقی ص۱۷۶ او غوښی ئی اوی یا پخی تقسیمول - (رد المحتار ص۳۲۵ پنځم توک) اود
وزیښتانو سره ئی سپین زر تلل - (مشکوة شریف ص۳۵۳ وجمع الفوائد ص۳۱۰) او بیا
خیراتول او تر سر خریلو وروسته په سر پوری زعفران ورمښل (مشکوة شریف
ص۳۵۹) بس دغه خبری د ثواب دی - او باقی نور تول عبثیات او رواجونه دی چه

د غور او فکر قابل دی.

(۱) ټول عزیزان سړه را جمعه کیږی او د سړخریلو وړ دسته په یولوبنی کی او بعضی خلګ په یوغلبیل کښی څه پیسی هریو اچوی چه د اد هغه چاحق دی چه د کوچنی سړی ځ وړ خریلی دی نو دا پیسی د د غه کور ته پرځ مه تړمن بدل کیږی بیا به ځ پرد اغنی موقع د د ی پیسو وړ کونکو وهغه سړی ته وړکوی چه د دی پیسو وړ کونکو د کوچنیانو سړو نه وړ خریي د دی طریقی او عمل په نقصان او تاوان خو تاسی مخکی پوهه سوی یاست.

(۲) خوندی، عمه ګانی او داسی نور د لته هم هغه خپل حق که رشتیا وپوښتی خو ناحق دی د وی ځ غواړی چه په دی کښی د کافرانو د مشابهت څخه علاوه نورې ډیری خرابیانی سته ځکه چه دا یقینی خبره ده چه بعضی وخت د وړکولو امکان نه وی مګر صرف د دی سببه چه په نه وړکولو کښی ځ پیغور او شرم دی. خلګ طعنی (تانی) وړکوی نو مجبور ه سی د هری خوا چه وی وړکوی ځ. نو دی ته ریا کاری او نمایش ویل کیږی او د شهرت او ریاکاری د پاره مال مصرفول ګناه ده او پخپله په خپل زړه کښی ته فکر وکړه چه د وندی مجبوریدل چه د هغه څخه سخت تکلیف پیښیږی کومه د عقل خبره ده.

د داسی اخستو نکی د پاره بیا د خرابی او نقصان دی چه د غه وړکړه فقط د انعام او احسان ده او په احسان کښی زور کول حرام دی او د اهم زور دی که ځ ور نه کړی نو تانی وړکول کیږی بد نامیږی په ټول خاندان کښی حقیر او بد نامه کیږی. او که ځ یو څوک په خوشحالی سړه وړکړی بیا هم د شهرت او نامه نیت کول ضروری دی چه د د غه ممانعت په قران او حدیث کښی صاف صاف موجود دی.

(۳) دا وړ څخه د سات او بازی شی جوړول او تقسیمول چه کوم رواج ځ د هغه د لته هم کیږی چه بدوالی او د عقل څخه مخالفت ځ مخکی بیان سوید ی او شهرت او نامداری هم مقصود یږی چه دا حرام کار دی.

(۴) د دی رواجونو د پابندی د وجهی څخه یو وخت وخت عقیقه ځنډیږی او د مستحب طریقی مخالفت واقع کیږی بعضی ځایونه د ډیر وکلونو وړ دسته کیږی ځکه چه د دی خو د ساخته رواجو یو څای کیدل او برابریدل په اوومه ورځ مشکل دی.

(۵) داهم یو رواج راغلی دی چه کوم وخت دکوچنی پر سر چاړه کښیښوول سی هلته یسه حلالوی داعبث اوچتی کار دی په شرعه کښی که تر سر خریلو وروسته حلال سی یا مخکی حلال سی دواړه صحیح دی لیکن صرف دوندی باید وسی چه حلالیدل اوخوړیل په یوه وړځ کښی دی چه د اودم[۷] وړځ دی.

(۶) سرونایی (سرخریونکی) ته او درون وخدمتګاری ته ورکول ضروری بلل هم لغوه اوبی فایدی عبث کار دی که ئی ورکوی که ئی نه ورکوی دواړه خبرو اختیار دی بیا نو د خپل خوند ساخته دین او شریعت چلولو څه فایده دی درون مه ورکوه غوښی ورکړه دوه څو پر ځای نو په دی کښی څه تاوان دی.

(۷) په بعضو ځایونو کښی دا رواج دی چه د حقیقی هډوکی ماتول بدبولی د فن کول یعنی پټول ئی ضروری بولی داهم عبث کار دی اود غه خرابی په هغه رواج کښی هم دی کوم چه دکوچنی دغابنود سنګاړه کیدو په وخت کښی کیږی چه په کلی قبیله کښی غنم یا بل شی درواج سره برابر تقسیموی اوناغه کیدل ئی د فرض او واجب تر ناغه لاهم دیر بد کار او عیب بلل کیږی. داغه رنګه دپیرنی د څښتلو رواج چه په شپږمه میاشت دکوچنی ته پیرنی ورکوی چه هغه ئی وخوړی او په څښتی نوډ همدغی وړځ څخه غذا اودې شروع کیږی داهم عبث پابندی ده چه ددی بدوالی معلوم سوید ی - داغه رنګه د تی څخه دپری کولو رواجونه چه دهبارکی د پاره بنځی راجمعه کوی او بیا خامخا دی ته میلمستیا او دعوت کول ضروری شمیرل اود خورما تقسیمول ددی ټولو یوحکم دی او بعضی وخت د خورما سره یوه بله مزه هم وی چه دیو خاورد په لوښی کښی یعنی په منګی کښی اوبه واچوی دک ئی کړی بیا نو پرد غه منګی طاق خورما[۱] وی کښیږدی مثلاً دری[۳] یا پنځه[۵] یا اوده[۷] نوډ کوچنی په لاس سره ئی راپورته کوی او داسی خیال کوی چه کوچنی هرخونډ خورما دی راپورته کړی هغوندی وړځ په ئی اوشید و پسی بغاری وهی بیابه ئی سنګاړه ده.

داغه رنګه دکلیزی په رواج کښی دکوچنی د پیدا کیدو پر تاریخ هرکال جمع

کیدل د دې پخول په ناف یعنی نامه کښی ئې د بنی ورځ اچول د ځانه پابندی ده۔ داغه رنګه چه د هلک نه بریره، بریتونه راسی نو روپی او صندل په خپرک. او ماچی پخول چه د ماچو پر رقم ئې او بر ده او ریښتین راسی دا ټولی هغه نیکفالی دی چه نارواوالی ئې په حدیثو ثابت سویدی.

د کوچنی د سنتید و د رواجونو بیان

په دغه کښی هم بی فایدی رواجونه خلګو پیدا کړی دی چه بالکل د عقل خلاف او بی فایدی دی.

(۱) خلګو ته خط یا سړی ورلیږل چه راسی او د اجمعه سی د اد سنت بالکل خلاف کار دی یو وار د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم یو صحابی یو چاد سنت کیدو پر موقع راد بالی ده د تشریف ور وړلو (تللو) څخه انکار وکړی خلګو ئې وجه د نه تللو ځندی د پوښتله نو ده مبارک جواب ورکړی چه د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم په زمانه کښی موږ نه د سنت کیدو موقع ته ورښلل کیدو او نه ورحاضیدو۔ (مسند امام احمد بن حنبل ص۲۱۷ څلورم ټوک مطبوعه مصری) د دغه حدیث څخه معلومه سوه چه د هر هغه شی چه مشهور د کول ضروری نه وی د هغه د پاره خلګ جمعه کول د بلل د سنت خلاف کار دی په دی کښی د پیر رواجونه راغلل چه د هغو د پاره د پیرۍ او بر دی او پراخی تیاری کیږی.

(۲) بعضی وخت د سنت کیدو د دی پروګرامونو د پوره کولو د پاره په سنت کیدو کښی د پیر ځنډ راسی او کوچنی لوی او هو[۱] بنیار سی چه په دغه کښی د د غوندی ځنډ څخه علاوه د اتاوان هم سته چه ټول خلګ د د ه بدن وینی حالانکه ماسوئی د سنت کونکی څخه نور و ته د د ه و بدن ته کتل حرام او ناروا دی او دا ګناه د را بللو د برکته څخه پیدا سوه.

(۳) په ټکوری کښی د پیسو اچولو د لته هم رواج دی چه د هغه خرابیانی او نقصانونه ذکر سوی دی

(۴) د کوچنی د مورد قریبانو د خوا څخه یو څه نقدی روپی او کالی راوړل کیږی چه د دی پر د غه سوغات یو خاص نوم اینبی دی چه د د ی اصلی وجه دا د ه چه د هندوستان

[۱] برابره خبره د ه که بالغ وی یا بلوغ ته نژدی وی ۱۲

هند وانوند پلار د مرګه پس د بنځو ته هیڅ حصه نه ورکوله نو جاهلانو مسلمانانو هم د دوی څخه د غه مرداره طریقه زده کړه او غوره ګڼي یا بنه دی صحیح ده د دوی څخه ئې نه ده زده کړی موږ ئې منو چه دا رسم (رواج) پخپله د غو مسلمانانو د ځانه جوړ کړی دی نو که دا رنګه دی خو هم بد دی دکوم حقدار حق چه الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم مقرر کړی دی وهغه ته دا حق نه ورکول کیږی او پخپله پرکښینستل چیری روا دی ۔

غرض دا چه هر وخت ئې بنځه د میراث څخه محرومه کړله نو د دی د تسلی او زړه خوشحاله کولو د پاره ئې دا فیصله وکړه چه په مختلفو ځایونو او محفلونو کښی دی د دوی ته څه څه ورکړه سی د غه قسم ئې ورکړل نو د خپل ځان د پاره ئې خلاصوالی او لویوالی ثابت کړی چه موږ خود وند ی احسان وکړی او س زموږ پر ذمه هیڅ حق پاته نه سته غرض چه د د غسی رواج په پیدا کولو کښی یا د کافرانو پیروی ده یا ظلم دی او د غه د واړه حرام دی دوی خرابی خو د غه سوی د ریمه خرابی هغه بی حده پابندی ده چه د مورنی د خواد خلګو سره که څه وی که نه وی لیکن هزارها کوشښونه دی وکړی په سود سره دی قرض واخلی یوشی دی په ګروی یوچاته کښیږدی چه په د غه کښی نن سبا یا نقد سود ورکول کیږی یا نقد سود نه ورکول کیږی کوم جایداد چه ئې ګروکړی دی د د غه جایداد پیداوار هغه سړی اخلی چه ورسره ګروی دی دا هم سود دی او د سود ورکول او اخستل دواړه حرام دی غرض هرڅه چه کیږی مګر مورنی د خواڅخه به سامان کالی او د پیر شیان چه پوره کور ځندی جوړیږی خامخا راځی نو ته خپله وړاندی چه یو غیر ضروری بلکه د ګناه په داسی زور او شور سره اهتمام او غم خوړل نه کیږی چه د فرض او واجب هم د وندی غم خوړل نه کیږی نو د شریعت د دایری څخه د باندی قدم ایښوول سوکه نه سو؟ ۔ څلرمه خرابی هغه شهرت ۔ لوبی ۔ نامداری او فخر دی چه د د غو رسمونو او حرامو والی مخکی بیان سو بعضی دارانی چه د خپلو قریبانو سره بنه کول خو عبادت او ثواب دی بیانو په د غه کښی ګناه د کومه ده او د لی ده جواب ئې دادی چه که بنه او احسان ورسره کوی نو بیله پابندی چه هر وخت ئې د احسان کولو طاقت او قدرت دی او هغه هم مجبوره وی ورسره کوی دی لیکن د لته پرهیزانو

تر یانو لوبړی تیریږی خان قطعًا نه په خبرو ی د واجونو د کولو په وخت کښی
چه کومه دیا کاری او ناموړی کیږی پرهغه ئی د احسان نوم ایښی دی.
(۵) په بعضو بنارونو کښی دا آفت دی چه د سنت کید و پروخت یا چه هلک جوړ
سی غسل ورکوی په داغه وړځ ښه زور ور ته میله پرجوړه کړی چه پدغه کښی
نغمی، باجی، سرورنه، ساز و سارنگ مطلب هرڅه د لهو و لعب شیان ټ غولی
کیږی چه د د دی نارو اوالی مخکښی موږ درته بیان کړی او د دی خرابی او بد والی
که خدای کول ورو سته هم بیانیږی غرض دادی چه باید دغه ټول خرافات او
رواجونه پریښو ول سی او سنت طریقه وکړل سی. هغه سنت طریقه دا ده چه هر
وخت دی په کوچنی کښی د سنت کید و برداشت او زور راوړل ولیدی. (قاضی
خان مصری (ص ۴۰۹) نو پټ یو سنت کونکی څوک راوغواړه هلک په سنت کړه. چه
جوړ سی بیا غسل ورکړه ورکړه چه پاک سی. که دی چیری قوت او قدرت
وی بیله پابندی، بیله شهوت اوریا کاری او د (تانو) او بدنامی چه دی
هم خیال او فکر نه وی. نو بیودری څلور دوستان یادری څلور غریبان راو
غواړه د وډی ورکړه لیکن بار بار ئی مه راغواړه که نه وی دغسی بلکه وار وار
ئی راغواړی نو بیرته هم هغه رسم اورواج څنډی جوړیږی.

د بسم الله یعنی د لیک لوست د شروع کولو بیان

د د غو عبث رواجونو څخه یود سبق د ور شروع کولو د رواجونو بیان دی
چه په ډیره غم خوړدنی او پابندی سره جاری دی د خلګو په منځ کښی په
دی کښی دا خرابیانی دی.
(۱) څلرم کال څلرمه میاشت څلرمه وړځ په بعضو ځایونو کښی رواج راغلی دی
چه خامخا به ئی په دغه وړځ سبق ته کښینوی او په دا سره به بسم الله اود
سبق ویل شروع کوی دا بی فایدی او لغوه رواج دی او بیا په دی کښی دو ندی
پابندی چه هرڅه کیږی مګر د د غه خلاف دی نه کیږی او هوام خلګ نو بیا
د غه د دین او شریعت خبره بولی چه د د ی سببه په شریعت کښی خرابی پیدا کیږی
(۲) د و همه خرابی دا ده چه پرد اسی موقع چه کوچنی په خبرو شروع وکړی
یا سبق ور شروع کړی د میتا یا نو او خوږ و د تقسیمولو بی حده پابندی کیږی

چه د هرځای څخه ئې موجود وی او پیدا کوی جبرًا او قهرًا به ئې راوړی که ئې چیری نه کوی نو بدنامی او بیکارئ دی په برخه ده چه د دی بیان مخکی وسو شهرت اودیا کاری خو لا جلا ده.

(۳) بعضی مالداران اود ولتمند خلګ د سپینو زرو په قلم سره چه مشوانی ئې هم د سپینو زرو وی د سپینو زرو پرتخته خط ولیکی او په کوچنی ئې وایي د سپینو زرو د شیانو استعمالول اوخپل کارځنډی اخستل حرام دی - (فتاوی هندیه ص۳۳۴ ج۵) نو د دی سببه په داسی تختی کښی لیکل ویل د واړه حرام دی.

(۴) بعضی خلګ وهلکانو ته په دغه وخت د شرعی خلاف جامی ورا غوندی ورپینمی یا زرینی جامی ورا غوندی یا په کسم یا زعفران رنګید لی جامی ورا غوندی دا هم حرام اوګناه ده - منتقی ص۲۴۷ جمع الفوائد ص۳۰۷ اول پتوک منتقی ص۲۴۸ اشباه ص۲۳۴)

(۵) د سوالګرو، پښانو، استاکارانو، عمه ګانو او خوندو په دغه کښی تر فرض شی لاهم د دی حق زیات فرض دی چه پرد غه موقع به د دی ته یوخه ورکوی چه د دی بد والی مخکی بیان سو د اهم روانه دی - غرض دا دی چه هر وخت کوچنی خبری شروع کړی نو اول کلمه ورته ویل او ورزده کول په کار ده او چه د سبق ویلو قابل سی نو یو دیندار ه عالم ته ئې اول کښینول په کار دی چه دین ورزده کړی او بیا چه د مکتب، اسکول او مدرسی د تللو قابل سی نو مکتب، اسکول او مدرسه په ویل او ورزده کول په کار دی لیکن د مکتب سره سره به دینی سبق هم په وایي چه د پرضروری او حتمی دی - لیکن نن سبا د مکتب تعلیم پرتعلیم بولی هغه په وایي دینی تعلیم پرتعلیم نه بولی هغه نه په وایي یوغټ تعلیم یافته سړی به وی قرآن شریف به نه سی ویلای خوندی بده او د شرم خبره ده د دی نو لوذمه وار ئې مور او پلار دی.

غرض دا دی چه کوچنی خبری شروع کړی یاد سبق ویلو قابل سی نو دا ذکر سوی رواجونه نو ل نا روا دی صرف دغه خبره ده چه د دی نعمت په شکریه کښی که دی زړه غواړی نو بیله پابندی چه هر څوند ده دی قدرت وی یوخه خیرات د خلای د پاره پټ وکړه چه څوک د ر خبر هم نه سی اکثره ځایونه دا رواج دی چه کوچنی د خبر وکولو سی نو - بابا - ابا - ادی اوداسی نور ورته وایي - د دی پرځای الله الله ورته ویل څنګه بنه خبره ده.

ودی رواجونو ته نژدی نژدی هغه رواجونه دی چه د قران شریف تر
خمید و درو سته کیږی او په دی کښی هم د غیر ضروری کارونو په سخته
ره پابند ی کیږی او دیری خبری دنامه د پاره کیږی لکه میلمانه راجمع
ول چاته کالی ورکول - د دی خرابیانی مخکی بیان سوید ی.

په میلواو محفلونو کښی د بنځو د تلواو جمعه کیدو بیان

د کلی او قبیلی بنځی په ډیرو مجلسونو او گډه خوړ کښی سره جمعه کیږی چه
ر څه مخکی بیان سوه او یو څه پاته دی چه بیان ئی راروان دی د اتول ناروا
حرام دی. (در مختار و شامی باب النفقة ص٦٦٥ و باب المهر ص٣٦٥ مطبوعه
ند در مختار ص١٠٩٤ مصری)

د دی میلواد مجلسو څخه علاوه د غسی (یعنی بی مطلبه) چه ئی هر وخت
ره و عنواړی چه ډیری ورځی تیری سوی دی چه فلانی می نه ده لیدلی
فورًا ټیکسی، تانگه یا رکشه راو عنواړی روانه سی یا یو څوک مریض
ی د هغه د پوښتنی د پاره و لاړه سی یا یو ځای خوشحالی او بنادی
ی د مبارکی د پاره و لاړه سی - بعضی بنځی د اسی آزادی وی چه بیلهدی
ه په یو پرده ناکه ځی کی و لاړی سی مثلاً ټیکسی یا بل شی د د غه پرځای
پښو ئی - بس چه شپه سی د تگ خیال ئی سی او چه د شپی سپوږمی وی
خو ډیره بی حیائی ده.

غرض د بنځو د کورنه وتل د ډیرو خرابیو په سبب په هیڅ طریقه سره روانه
ی بس دوندی اجازت سته چه کله کله د هور او پلار د لیدو د پاره تلای
او د هغه قریبانو کورته چه د دی محرمان وی هم تلای سی خو د
یانو کورته په کال کښی یو وار تلای سی د دی ځایو څخه ماسپوی بل
ی ته ئی تلل روانه دی نه د غیر محرم قریبانو کورته او نه د بل چاکور
- نه په کورده واده کښی نه په غم نه په بیمار پرسی کښی او نه د مبارکی
ولو د پاره تلای می نه په ورځ کښی تلای سی نه په شپه کښی تلای سی
ویر ص١٠٢٨ دوهم ټوک)
بلکه د واده یا ورایادا سی نورو شیانو په وخت کښی که چیری یو محف

او مجلس وی نو د خپل محرم قریب کور ته ئې ور تګ هم روا نه دی که د خاوند په اجازه سره ولاړه نو خاوند ئې هم ګنهګار ګرځوی افسوس چه پردغه حکم په اکثرو پښتنو کښی عمل نه دی سوی بلکه ناروا ئې نه بولی بالکل ئې روا بولی او حال دا دی چه د دی بې باکی په وجه د غه ټولی خرابیانی منځ ته راغلی دی.

غرض دا دی چه د رمعلومه سوه چه بې پردګی حرامه ده نو باید بالکل پاته اوپریښو ول سی او توبه خنډی کول په کار ده دا خو د شریعت حکم دی اوس د دغه خرابی او بدی وار ه چه په کلی او قبیله کښی د اخبره مشهوره سی چه په فلانی کور کښی فلانی خوشحالی ده نو هری بنځی ته د نو د ا د قیمتی کالو فکر ور پیدا کیږی یو وخت خاوند ته وایی خندی غواړی ئې یو وخت بزاز (کالی خرڅونکی) د ر وازی ته رابولی او په پور ئې خندی اخلی یا په سود پیسی پیدا کوی خندی رانیسی ئې - که ئې د خاوند د وندی قدرت نه وی چه کالی ور واخلی بیا هم د ده عذر نه قبلیږی، بنکاره خبره ده چه د غه جوړه صرف د فخر او بنکاره کولو د پاره جوړیږی چه د دی په باره کښی په حدیث شریف کښی را غلی دی چه د څ چا نه د قیامت په ورځ د ذلت او ذلالت جامی ور اغوستل کیږی (مشکوة ص ۴۲۹)

یو ه ګناه خو د غه سوه او بیا په د غسی غرض د مال مصرفول اسراف دی چه د دی بد والی او حرامو الی په اول باب کښی بیان سو د او همه ګناه سوه د خاوند څخه د ده ترطاقت بالاشی غوښتل ده نه ته تکلیف ور رسول د ا د ریمه ګناه سوه - د بزاز (کالی خرڅونکی) سره چه غیر محرم دی بیا ه ضرورته خبری کول بلکه د د رکړی را کړی د پاره اختلاط په وخت کښی د دی د لاس بنکاره کیدل چه په بنګړو د ک په نکرځو سور سوی وی خوندی د غیرت خلاف خبره ده - دا څلرمه ګناه سوه - بیا که ئې په سود سره اخستی وی نو سود به ور کوی د اپنځمه ګناه سوه او که ئې خاوند د دی بې حایه خرڅونو د پاره حرامه دنیا حاصله کړه چه اکثره داغسی فرمایشونه په حلاله د نیا نه پوره کیږی نو د اشپږمه ګناه سوه او اکثره د دا می جوړه او جامود پاره ز رهم اخلی چه پردغه جامو ئې ولګوی یا د اسی جامی اخلی چه ز ر پکښی استعمال سوی وی نو چه پیسی ورکوی هغه هم د سپینو زرو وی او په کالو کښی استعمال سوی یا د غسی چه وی هغه هم سپین زر وی چه په خرڅولو او را نیوکښی ئې اکثره وخت سود

لازمیږی چه دوی ته معلومات هم ونه کیږی حکه چه دنرو مسئلی دیږی باریکی اونازکی دی یعنی دسړو اوسپینو نرو اودوی دشیانو درانیولو مسئلی دیږی باریکی دی. لکه اکثره چه موږ درانیولواوخرڅولو په بیان کښی لیکلی دی - دا اوو(۷)مه گناه سوه. بیا غضب دادی دهری خوشحالی دپاره چه یوه جوړه جوړه سوه هغه بیاد بلی خوشحالی دپاره کفایت نه کوی دوهم جوړه کالی جوړوی که دارنگه ونه کړی نو بنځی خبری پسی کوی اورته وایی چه خواری مسکینی ته خو بله جوړه کالی نه لری داغه یوه جوړه کالی هرواړه په هرواړه کښی اغوندی اوراروانه وادته راځی نوددی سببه ددوهمی جوړی په کولو کښی بیادوهم واړی دغوندی گناوی جمع کیږی اوچه گناه واړه واړه کیږی دابیابله گناه ده نوداتمه گناه سوه.

داخوداغوستودشیانوگناوی سوی بیانی وزیورانو، بنگړو، شاباز ونو اودامی نورو شیانو ته ورفکرسی نوکه نی خپل نه وی بیانی خواستوی هغه دخواست زیور اغوندی اوځان داسی بنکاره کوی چه زما خپل دی دبل چا څخه نی نه دی راوړی نودایوقسم فریب اودرواغ دی.

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه څوک پردی شی داسی بنکاره کړی چه زمادی اوهغه بالکل ددنه وی نوددی مثال داسی دی لکه څوک چه ددرواغواو فریب دوی(۲) جامی واغوندی یعنی سړتر پایه په درواغوکښی پټ سو - (جمع الفوائد ص۱۵۳ دوهم ټوک) دانهه(۹) گناه سوه بیا اکثره زیورات داسی وی چه دلیری څخه نی شرنگی اوریدل کیږی ولی چه ټولی دمجلس بنځی ودی ته وگوری نوداخودغه زیور په غاړه کوی اوبنځ کونکی شرنگیدونکی زیور اغوستل خپله منعه دی په حدیث شریف کښی راغلی دی چه دهرسړی وزر سره شیطان دی. (بستان العارفین ص۱۹۱) دالسمه(۱۰) گناه سوه. اودتلواوځان تیارولو چه وخت سی نو په ځان تیارولو غسل کولو په صابن سره دځان (بدن) پریمنځلو کښی دیر وخت تیرسی چه آخرلمونځ باندی قضا سی لیکن بیاهم دی ته هیڅ فرق نه ورکوی یایوبل ضروری کار پاته کیږی خوهغه کار ته ددی هیڅ فکر نه وی چه دا ضروری دی. بلکه ددی دپاره تر ټولو مهم دادی چه دمیلی اومحفل ته ولاړه سی اودغه قصی اکثره په اصطلاح په شریفو خلگوکښی وی په هرحال کښی کهلونه قضا سی یامکروه وخت ته ورسیږی گنهگاره ده دایوولسمه(۱۱) گناه سوه. بیانوتهیکسم

یا رکشی والا . یا تانگی (بگی) والا په دروازه کښی ولاړ دی ناری وهی چه ژر راووزه او بی بی د دننه څخه ووایی ته بنکنځل او پوچ ورد وایی چه ودریږه بیله کومه دلیله یوغریب ته بنکنځل کول ظلم اوګناه ده داد وولسمه ګناه سوه۔ اوس نو خدای خدای وایی چه بی بی تیاره سی چه دا تیاره سوه نو په داسی بی احتیاطی او بیباکی سره په موټر یا بل څه کښی سپریږی چه د پورونی څاکونه ئ ترموټر یا رکشه دباندی څړیږی یادامی ناسته وی چه سترئ مات سی یا عطر او خوشبوئ دوندی ډیره په ځان پوری لګولی وی چه په لاړ کښی د خوشبوئ بوی ځندی ولاړ یږی دا نو د غیر محرم خلګو په مخکښی خپل سنګار بنکاره کول دی ولی خو دا محفل او میلی ته روانه ده خامخا به دغسی کارونه کوی په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هره بنځه کوم عطر و لګوی او د باندی ووزی یعنی دا رنګه چه نور و ته ئ هم خوشبوئ ورسیږی نو دا داسی داسی ده (یعنی ډیره بده بنځه ده ترهیب، و ترغیب للمنذری (ج ص۳۵۹) دا د یارلسمه ګناه سوه۔

اوس نو د میلی او ساز و سارنګ کوم ته ورسیده کوم چه د دی مقصود دی او د کشه وان رکشه یا موټر وان موټر و درا وی او دا هسی بی پروا او بیباکه کښته سوه په کوم ښوی او ژوندی و رښوته دا خیال او فکر و درسره نه وی چه په کوم کښی به یو نامحرم څوک وی او ډیر د څنونه دا می پیښیږی هم۔ چه پر دا سی موقع د نامحرم سره مخامخ کیدل او د (۲) ستر ګی پرد (۲) و ستر ګو لګیدل پیښیږی مګر د دغه میله چانو بنځو هیڅ عقل نسته چه اول د کوم معلومات وکړی د قوی او غالب شک په ځای کښی معلومات او تحقیق نه کول هم ګناه ده نو دا څو لسمه ګناه سوه۔

اوس نو چه کوم ته ورسیږی که سلام ورواچوی خو بنه کار دی بعضی بنځی (بی بی ګانی) وژبی ته بالکل تکلیف نه ورکوی فقط پر تندی لاس کښیږدی بس داد هغه کوم د بیبیانو د پاره سلام سو د داسی سلام کولو څخه په حدیث شریف کښی منعه راغلی ده۔ (مشکوة شریف ص۳۹۱) بعضی بنځی صرف د سلام لفظ وایی دا هم د سنت طریقی خلاف کار دی بلکه السلام علیکم ویل په کار دی اوس ئ جواب ته ګورئ چه بی بی ګانی دا جواب ورکوی۔ خوشحاله اوسی۔ ژوندی اوسی۔ خدای دی خاوند ژوندی لره عمر دی دراز سه۔ په استراحت اوسی۔ خدای دی ډیر عمر درکړی چه لمسیان و وینی۔ و د ږدی خدای ژوندی لره او د اسی نور۔ غرض د ټولی قبیلی دخلګو

وښځو نو مونږه یادول اسانه دی او وعلیکم السلام چه په دی کښی ټولی دعاوی
ئی مشکل دی نه پرسنت طریقه سلام سته نه ئی پرسنت طریقه جواب درکول
سته (سلام ته ئی قطعًا فکر نه وی) نو د همیشه د یاره د سنت خلاف کول هم گناه
ه نو دا پنځلسمه گناه سوه۔ ترډاسی خود ساخته سلام ودوسته نو مجلس گرم سی
خل چوړه هاری جوړه سی گپی شروع سی د دغی شکایت د هغی غیبت د دغی چغلی
هغی بهتان چه بالکل حرام او سخت منعه دی۔ دا شپاړسمه گناه سوه۔
د خبرو په منځ کښی هره بی بی دا کوشش کوی چه زما پر کالیوا و زیورا تو باید
ټولو نظر واقع سی په لاسو، پښو او ژبه۔ غرض په ټول بدن سره د دی اظهار
ښکاره کیدل کیږی د غه صافه ریاده چه حرامو الی ئی په قرآن مجید او حدیث
ریف کی ښکاره ثابت سویدی دا او ولسمه گناه سوه
او لکه څرنگه چه هره بی بی نورو ته د خپلو شیانو د فخر ښوونه کوی
ه زما داسی زیورات دی دا غه رنگه هره یوه د بلی د حالاتو د کشف کولو او
لو کوشش کوی او کومه یوه چه ترځان لاندی او کښته و رښکاره سی نو بیا
سپکه او خواره بولی او ځان هغه او لوړ پر بولی او بعضی بیا د پرغورا و تکبر
د جلی څخه په سمه خوله خبری نه کوی بلکه په کبر ه او پیښه کونکی خوله
بری و رسره کوی نو دا ښکاره تکبر او گناه ده۔ دا اتلسمه گناه سوه۔
که ئی نوری ترخپل ځان حیثیت والا او هغه پیدا کړی نو حسد ناشکری حرص غوره
ی دا نو نسمه اشلمه یو ویشته گناه سوه اکثره وخت په داسی طوفان او بی فایدی
غل کښی لمنځونه قضا کیږی که قضا نه سی مکروه وخت ته خو ضرور رسیږی نو
دو ویشته گناه سوه بیا اکثره یوه وبلی ته گوری یوه ئی وبلی څخه او ری
غه خرافات او رواجونه هم زده کوی د گناه زده کول او و رزده کول دوا ره
ناه ده، دا در ویشته گناه سوه۔ دغه هم یو رواج دی چه د غسی وخت سقاو
وبه گرزونکی) چه او به راوړی د ده څخه د ستر د پاره و بند وخونوته نه ځی
که سقاو ته حکم و رکول کیږی چه ته پر مخ باندی نقاب واچوه څه او راځا
انه مه گوره اوس نو دی او د ده خپل دین او ایمان پوهیږی نور نو که د ستر گ

حسد و دی ته وایی چه د یو چا د نعمت ته گوری نو په سه څ او طا ن و کړی چه خدای تعالی

تر بغل د تول مجلس او محفل ته گوری خو هم هیڅوک حیا او غیرت نه لری او داسی کیږی هم ځکه چه هر هغه چا کر چه پر مخ اچوی تر هغه هر شی معلومیږی اوکه شی نه تر معلومیږی نو سید ه د منګی د خواته څرنګه ځان رسوی څرنګه ئی د کوی په داسی ځای کښی قصداً کښینستل چه نامحرم ئی وویني یا ئی لیدای سی حرام دی داخلیږی دیشته گناه سوه.

اود بعضو بنځو سره خو بنه هو بنیاران هلکان لښ(۱۰) کلن د(۱۳) وولس کلن راغلی وی هغوی د بنځو په منځ کښی د مور د خواته ئی اوراځی او څوک هیڅ هم نه سی وایی ته ویلای او داګڼو بنځو خاوندان او وروڼه اود اسی نور هم د خپلو بنځو او خوندو د خواته ئی اوراځی هم د بنځو په مابین کښی د ننوړی داځوندی بیعقلی او بیباکی ده. دا ټول دیشته گناه سوه اود غوتیږید ونکو ته په مابین کی د بنځو هیڅوک څه نه وایي ځکه چه د شریعت په مقابله کښی چا ته غیرت نه پریدل گناه ده او چه هلک هو بنیار یعنی د(۱۳) وولس یا لښ(۱۰) کلن سی د ده څخه پرده کول پکار ده (یعنی چه هو بنیار اوښه غټ سی نو د ده څخه د ستا او د پردی کولو امر دی) اوس نو د وړی خور لو په وخت کښی د داسی شور او غال مخال طوفان جوړ سی چه یوه بی بی صاحبه څلور څلور کوچنیان د سره راولی اود وی د لته بنه مګړی اود کور والا د عزت هیڅ پروا نه لری دا شیږ دیشته گناه سوه.

اوس چه میله پای ته د رسیږی اود کور د خواته د روانیږد و په حال کښی وی نو د موټر یا رکشی آوازچه واوری د یاجوج او ماجوج پر رقم د رځغلی چه پر اولی دوهمه پرد دهمه د ریمه داغه رنګه یوه په بله کی مینلی غرض چه ټولی د روانی ته ځانونه د رسوی هره یوه وایي چه بس اول نه سپره سم اکثره وخت د د رائیږ(موټر) بیخی په ستړګو کی د رځیږی او بنه مخ په مخ سی سره دا اووه(۲۷) دیشته گناه سوه.

اود هر چا سره چه مخامخ سی هم فرق نه د رکوی او یوه به بنځه سپره سی پنځه شیږ به کوچنیان د مره سپاره سی او پیسی به یوانی د خپل ځان د رکوی دا ته(۲۸) دیشته گناه سوه بیا نو که دیوی یوشی د رک سی نو بیله د لیله پر بلی یوی تهمت لګول بلکه یو وخت پر هغی سختی کول په اکثره د د نو او خوشحالیو کښی کیږی دا نه(۲۹) دیشته گناه سوه. بیا نو د دغه کور اکثره ځلګ چه یکښی واده دی او خوشحالی ده په بی احتیاطی او تلوار سره او بعضی مرد په پټ پټ کتلو د پاره په د روانه کی

وکړه ته مخامخ دریږی او بنځو ته ګوری بنځې چه دی وینی چه ځوان لالا ځو ولاړ دی نو یوه هسی مخ واړوی یوه یوه دیوشی وبغل ته ودریږی یوه یوه سړخه پکښې کړی بس دغه ستر سو چه منه مخامخ ناستی دی داد یرشمه ګناه سوه.

بیانو د زوم او وراليدل او کتل فرض اوبرکت حاصلول بولی لکه چه د بنځې د پاره خپل بدن وغیر محرم ته ښکاره کول نه دی رواد غه رنګه وغیر محرم ته بیله ضرورته ددی کتل هم منعه دی۔ (رواه امام احمد والترمذی وابوداؤد۔ پرده شرعی خلویښت حدیث صنل) دا یودیرشمه ګناه سوه. بیا چه دد غه کوره ولاړی سی خپلو کورونو ته نو ترډیرو درځو پوری عیبونه د هغو بنځو بیانوی چه ودی خوشحالی ته راغلی دی اود هغه کور والا ؤ عیبونه اود هغود کارونو د ترتیب عیبونه بیانوی چه فلانی کار ئ خراب وؤ فلانی کار یې خراب ؤ وچوچ دی خاورې سی په نس نه ؤ ډمړی اوداسی نور څه هم وایی داد (۳۲) ودیرشمه ګناه سوه.

د داسی قسمه څخه نورې ډیرې خرابې اود ګناه خبرې د بنځو په جمعه کید وکښی دی پخپله فکر وکړه چه په هرهغه شی کښی چه دونده ی بې انتها او ناپایه خرابی وی هغه کار څرنګه رواکیدای سی نود دغه سببه دد غه رواج بند ول ترټولو زیات ضروری دی.

دکونډی د واجونو بیان

په کونډه کولو کښی هم دطوفان په شان ډیر رسمونه اور واجونه باب دی۔ د دی څخه بعضی موږ بیانوو.

(۱) هر وخت چه کونډه کیږی نو۔ نایی۔ دلاق۔ خط دانجیلی دکور والا ؤ کور ته راوړی یعنی د انجیلی د پلار وکورنۍ په راوړی نو دوی ددې د مخ ته شکرانه ایږدی په دغه کښی هم هغه بی اندازی پابندی ده چه فرض او واجب دی ښه ته سی مګر دغه دی نه پاتیږی کیدای سی چه په کور کښی ئ دوډی نه وئ مګر دهره ځایه څخه چه کیږی د نایی (سړخریونکی) د پاره به شکرانه حتمًا وی که ئ نه وی نو قطعًا کونډه نه کیږی۔ لاحول ولا قوة الا بالله یوه خرابی خو دغه سوه بیانود دغه بی فائدی شکرانی د پاره که سامان موجود نه وی نو پور و دار به کوی حالانکه بغیر د ضرورت څخه قرض اخستل منعه دی په حدیث شریف کښی

پردامی قرض اخستونکی باندی ډیر تشدد او عذاب راغلی دی. د غه د وهمه گناه سره - (مشکوة شریف ص۲۴۶ - سنن دارمی ص۲۴۶)

(۲) د غه نایي ډوډی وخوړی سل (۱۰۰) روپی یا هر څوندی چه انجیلی والا وړ وړ کړی دی په ستر خوان کښی ئی اچوی د هلک والا د غه څخه یو (۱) ګه یا دوه (۲) ګی روپی پورته کوی نوری بیرته ورکوی او دا روپی پرخپلو خدمتګارانو او خادمانو باندی تقسیموی د فکر خبره ده چه هر وخت دیو (۱) ګی یا دوو (۲) روپو اخستل مقصد وی نود سلو روپو تکلیف ولی کوی اودی رواج په پوره کولو کښی بعضی وختونه بلکه اکثره وخت په سود سره قرض اخستل کیږی چه د د غه د پاره په حدیث شریف کښی لعنت راغلی دی - (مشکوة شریف ص۲۳۲) اوکه قرض هم ونه کړی نو بیا له فخره او د خپل غرور او لویوالی څخه یه دی کښی کوم عقلی مصلحت دی او چه ټولو ته معلومه ده چه دیو (۱) ګی دوو (۲) روپیو څخه زیات نه اخستل کیږی نو سل (۱۰۰) څه شی دی په زر (۱۰۰۰) روپو کښی هم هیڅ لویوالی شان او شوکت نسته فخر او لویوالی خو هلته وی چه د کتونکو خلګو یقین وی چه سل سره روپی ئی ورکړی لیکن ذاخو نقط یو مسخری، بخشنده او د کوچنیانو بازی څنډی جوړی سوی نور هیڅ هم نسته مګر خلګ ئی کوی د د غه فخر او شان او شوکت د پاره.

افسوس دی چه غټ غټ عقلمندان چه نور ټوله عقل ورته ورکوی د عقل ټیکداران دی د وی هم په د غه خلاف عقل رواج اخته دی غرض دا چه په د غه رواج کښی هم د اصل ایجاد د اعتبار څخه د ریا ګناه ده یعنی چه اول ئی د غه رواج پیدا کاوی ریا پکښی غرض وه څرنګه چه اوس خالص لغوه او بی فایده کار سو لکه چه اوس بیان سو نو د د غه سبب د غه هم بد دی په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د انسان د اسلام خوبی داده چه لایعنی (بی فایده) خبری پریږدی غرض لا یعنی او لغوه خبری هم د نبی صلی الله علیه وسلم د مرضی خلاف دی. (مشکوة شریف ص۴۰۵) اوکه ئی د سو د روپی واخستلی نو د دی ګناه هرچا ته معلومه ده - غرض دا چه د وندی ډیری خرابی په د غه رسم او رواج کښی هم موجودی دی.

(۳) بیا نو د انجیلی والا نایي - د لاق ته یوه جوړه کالی او څه نقدی پیسی ورکړی او د لته هم هغه خوشامد او هسی د رکړه راکړه مقصد ده نو د دی د روپ

څخه به یوه (۱) یاد وی (۲) روپۍ واخلی نوری به بیرته ورکړی نو رشتیا هم دغه یو عجیبه رواج دی او رواج هم عجیبه شی دی چه هر څوندی د عقل خلاف کارونه وی خو هوښیار سړی ئی هم په کولو سره نه شرمیږی د دی خرابیانی هم اوس بیان سوی.

(۴) دنایی۔ دلاق د راتلو څخه مخکی ټولی ښځی سره یو ځای کیږی۔ دسړی او سازونه وهی۔ غزلی او بدلی وایی د ښځو د یو ځای کید و خرابیانی بیان سویدی اود غزلو ویلو خرابی د واده په رواجونو کښی بیانیږی (انشاء الله) غرض چه دا هم نارواده.

(۵) چه څخه وخت نایی۔ دلاق وخپل کورته راورسیږی نو هغه جوړه کالی سره د پیسو د خپل کورته ورکړی چه اوس ئی دکلی په کور کور گرزوی چه هغه ئی ودینی ترلید و وروسته ئی بیرته دغه نایی۔ دلاق ته ورکوی پخپله نکروکړه چه هر ځای د هری هری خبری د ښکاره کیدو رواج او باب لګیدلی وی. نو به نیت څرنګه صحیح وی یقیناً د جوړی د جوړولو په وخت کښی دغه نیت کیږی چه دا سی جوړه وکړه چه یو څوک یو نوم راباندی کښیږی غرض دا چه ریا هم سوه او بی فایده خرچ هم سو چه د دی حرامو الی په قرآن شریف او حدیث شریف کښی راغلی دی او مصیبت دادی چه بعضی وارونه د دوندی اهتمام او غمخوردنی سره سره هم دکتونکو دغه جوړه خوښه نه سی بس هغه مثال ئی دی چه د مرغۍ خپل وجود ختم سو. حلاله ئی کړه وئی خوړله لیکن خوړونکی لادا خبره هم کوی چه خوند ئی نه وکړی بعضی غروړزده ښځی د عیبونو د پیدا کولو دپاره په دغه جوړه کښی ډیر کوشش کوی چه دا سی دا او دا سی دا او د بد نامولو کوشش ئی کوی۔ غرض ریا، اسراف، غیبت هرڅه د دی رواج په برکت سره کیږی.

(۶) دیوڅه زمانی وروسته دا نجیلی دکور څخه۔ خوښی، انګوشتری، دسمال یوڅه قدر پیسی چه ودی ته غښنه ویل کیږی د زوم کورته ورلیږل کیږی او دا نو په طور او طریقه د تحفی جمعه کیږی او ورلیږل کیږی د لته هم ریا او بی فایده بیکاره مصرف کیږی او د تحفی خرابی موږ مخکی بیان کړه.

(۷) کوم نایی، دلاق او موټروان (ډرائیور) چه دغه خوښی را واخلی کورته راځی نو نایی دلاق ته جوړه او موټروانانو ته لنګی او یوڅه نقدی پیسی ورکوی نو بیا

دوی رخصتیږی۔ د غه خوږی نو په کلی او قبیله کښی د کلی هغه سپین سړی
بنځې په کور کور تقسیموی اود هغوی په کور کښی ئې خوږی ټول پوهیږی چه
د دغو موټو چلونکو هیڅ مزدوری نه مقرره کیږی نه د دوی لحاظ سائل کیږی
چه د غه په خوشحالی سره ځی یا پرد وی زور کیږی اکثره وخت هغه خلګ
د خپل یو کار وبار یاد خپلی مریضی یاد یو خپل قریب یاد بنځی، زوی د مریضی علت
پیشوی لیکن د غه ورغلی خلګ خو اول دا کوشش کوی چه یخپله ئې په قابو
کښی راولی او که د دوی تر طاقت تیره سی په یو بل ماښړی ئې په قابو کښی راولی او
پرمزغی (مغزی) چیلانی اوچوټ ورکوی په جبر او زور ئې لیږی او پرداسی موقع باندی
اکثره وخت د دغو خلګو څخه په زور کار اخستل کیږی چه بالکل گناه او ظلم
دی او اکثره وخت د ظلم زور په دی دنیا خلای پاک ترسړی کا بدی او اخرت خو
لا هلته پریږده چه جلا عذاب دی بیاد مزدوری نه معلومول د و همه خبره
د شریعت مخالفه ده داد دوی د روانګی تحفی دی او په تقسیمولو کښی ئې ایا
چاته ریا نه ده معلومه بیا نو په تقسیمولو کښی د وندی مشغولیږی چه
د اکثرو تقسیمونکو لمنځونه قضا کیږی یا مکروه وخت ته رسیږی یوه خبره
د شرعی خلاف د غه هم سوه دکومو خلګو وکورته چه څه حصه د تقسیم
ورغلی ده هغه هم نخری کوی چه دالږ ده او بیرته ئې ورکوی بیا نو نوره
غټه حصه ورکوی بلکه قبلول ئې هم د دغه ریا رواج ته بنایست ورکوی
او بنه ئې رواج کوی نو د دی سببه ئې قبلول روانه دی.

غرض د غه بټولی خرافاتی او غیر شرعی رواجونه پریښول واجب دی۔ بس
په خط یا زبانی (ژبنی) خبرو سره د نکاح پیغام اکیدلی سی۔ دو هم طرف دی دخپله
ځانه سره د ضروری خبرو تحقیق او معلومات وکړی یو خط یا فقط زبانی وعده
دی وکړی چه واخله نو کیږده وسوه که د خبری د پخولو د پاره د غه رسمونه کوی نو اول خو
د هیڅ مصلحت د پاره گناه کول صحیح نه ده بیائی موږ وینو چه سړه د د وندی رولو
چه صلته ئې خوښه نه وی۔ نو نه ئې کوی هیڅوک هم څه نه سی کولای.

(۸) بعضی ځایونه دکورنۍ کولو په وخت کښی د غه رواجونه تر سره کیږی
چه د خپلوګنی والا یو څه خلګ راځی او د ناوی غیږ ورکیږی چه صورت ئې دا
دی چه د هلک سړی پرست دننه ورښل کیږی هغه د ناوی په غیږ کښی میږی

خوږی او داسی نور شیان ورته چوی او په لاس کښی ئی یوه دسپینو زرو روپی ورته
بدی ترڈی ورته وسته نو دا نجیلی کور والا ودوی ته د دغه بدله او خوندی
چه ئی تو فیق وی په هغه اندازه روپی ورکوی په دی کار کښی هم چیری بدی
او حرابی موجودی دی یو خو پردی اجنبی سړی وکور ته رابلل دا نجیلی غیږ ورڅکول
که څه هم ستړی وی لیکن بیا هم بده خبره ده د دوهم په غیږ څکولو کښی هغه نیکه
فالی ده چه شرعًا ناروا ده دریم په دغو میوو کښی کوپړه هم وی نو ورته وسته
کوپړه ماته کړی که دا بنه وخته دا نجیلی دبنه والی فال ئی بولی او که خرابه
وخته نو د بد والی فال ئی بولی نو دا خو کرکه او بد فالی سوه د دی شرک او بد والی
ثابت سویدی خلرم په دغه کښی دغوندی اندازه پابندی چه په بد والی ئی
ته پوه سوی ئی او شهرت او ناموری هم ضرور ده غرض دا دی چه هیڅ رواج داسی
نسته چه په هغه کښی گناه نه کیږی.

د ملترجم دخوا: د دغه رنگه په ډیرو پښتنو کښی دکورنی دی په وړاڼ بی
درکه معمول دی نه اوخرڅونه کیږی چه پتول دا سراف په درجه کښی دی په
دغه کورنی کښی هیڅ مسکین غریب هم حق نه لری صرف معتبرینو او مالدارانو
ته ډوډی ورکول کیږی او د شهرت اوریا د پاره بی حده او بی اندازی تکلفات
پکښی کیږی چه د چاد ویشتو خطر هم ورسره ترلی دی. اسراف او فخر هم دی
دا نجیلی دکور والاؤ دطرف څخه د مرکی خلگو ته لنگر یا سل سل روپی ورکول کیږی او داغه رنگه په هزارهانور رواجونه چه نه خدای وایی او نه
رسول الله صلی الله علیه وسلم وایی. بلکه صرف د نامه غرور، شهرت. او
تکبر د ځان لوپی او غټ والی د پاره او داسی نور خرابو نیتونو سره کیږی
او هم په د وتدی پابندی سره چه فرض لمونځ روژه پاته ده خو دغه به
کیږی دیره د افسوس او ژړا خبره ده چه دین الهی خالص په رواجونو
بدل سو او د دی رواجونو خرابول باید هر مسلمان د ځان یو فریضه وگڼی.

دواده د رواجونو بیان

تر تولو غټه خوشحالی چه په هغه کښی بنه دنږه د اخلاصه خواهشات نفسانی
او ناروا ارمانونه پوره کیږی او بی حسابه رواجونه پکښی ادا کیږی هغه دغه دواده

خوشحالی دہ چه په واقع کښی ودغه ته بربادی ویل لایق دی او بیا بربادی څرنګه دہ ددین هم دہ ددنیا هم دہ په دغه کښی چه کوم رواجونه دی هغه دادی.

(۱) تر ټولو مخکی د قبیلی خلګ سره یوځای سی د اغجیلی والاؤ د طرف څخه تاریخ د تعین او معلومولو الی خط لیکی بیائی د نائی (دلاق) ته ورکړی چه دا خط یوسه وهغوی ته خبر ورکړه دا رواج داسی ضروری دی برابر ده خبره ده که باران وی په لاس کښی رود (سیلاب) وی چه په دی کښی د نائی صاحب (دلاق صاحب) د مرګ خطره وی. غرض چه هرڅه وی مګر دا ممکنه نه ده چه په دا ګڼه کی په خط لیږلو سره اکتفا وکړی یا که تر دلاق زیات معتبر سړی څ د هغه په لاس اکتفا وکړی خطور ولیږی. چه شریعت هرشی ضروری نه وی بللی هغه دوندی ضروری بلل چه د شریعت د ضروری کارونو څخه ئ زیات وبولی نو ته پخپله انصاف وکړه چه د شریعت مقابله ده که نه ده نو چه مقابله سوه پریښول ئ واجب دی.

دا غه رنګه د خلګو جمعه کیدل ضرور بلل په دغه کښی همدغه خرابی ده که ته وائی چه د مشوری د پاره راجمعه سوی دی دا بالکل غلطه خبره ده هغه بیچاره ګان پخپله پوهښتنه کوی چه کوم تاریخ ولیکو. نو چه په کور کښی دوی دا وله څخه یو خاص مشوره کړی وه او یو خاص تاریخ ئ مقرر کړی وُ هغه تاریخ ورته وائی او دغه خلګ ئ لیکی نور نو دوی نه مشاورین دی نه شی دی او که چیری مشوره د سړی کوی مخکی ئ په کور کښی تاریخ نه وی معلوم کړی نو بیا دی دیودُو (۲) هو بنیا نو خلګو سره مشوره وکړی بس کافی ده. د کور کور خلګ راټولول څه فایده څه ضرور بیا نو چه اکثره خلګ راتلای نه سی خپل کوچنی کوچنی زامن پرخپل ځای راولیږی دا به نو په مشوره کښی څه توره د وچلوی هیڅ هم نسته. د دغه خپل خود ساخته خیالات دی. سمه او صفا خبره ولی نه کوی چه صاحبه د امرف یو رواج راغلی دی. بس ددی رواج بدوالی او ددہ د پریښولو واجب والی بیانیږی غرض دا چه ددی رواج ټول اجزاء او جریانات د شریعت خلاف دی بیا په دغه کښی دا هم یو ضروری خبره ده چه سور خط به وی زرینه ربښکی به پرپیچلی وی دا رواج هم په هغه بی حده پابندی کښی داخل دی چه د هغه بدوالی او مخالفت د شرعی څخه مخکی د پرواړونه بیان سوی دی.

ـه کور کښی د قبیلی ښځی سړه راجمعه سی ناوی په یو کنج کښی کښینوی
ـان د بندی چه ودغه ناسته ته دوی په یو خاص نامه سړه وایی او
ـنه ئی دادی چه دا پرچوکه کښینوی او پرې راسته لاس ئی یو قسم د صفایی او
ـن د نرمید وشی لکه شیمپو مثلاً ورکښیږدی او غیږ ئی په جلبیو او پتاسوو
ـی او یوځه جلبی او پتاسی پرحاضرینو خلګو ویشی او د دغه تاریخ څخه
ـل دغه د صفایی او د بدن د نرمید شی په صورت باندی ورمښی او د پیری
ـه، پتاسی او داسی د خورک نور شیان په کلی قبیله، نژدی عزیزانو او قریبانو
ـ تقسیمیږی دا رسم هم دیو څو خرافاتو او ناروا د مجموعه ده اول د دی
ـښینول ضروری بلل کیږی وی که یخ وی که بند وی که د ټولی دنیا حکیمان
ـیبان وایی چه دغه ناوی مریضیږی که هرڅه هم وی مګر دغه فرض دی
ـنه سی په دی کښی هم د هغه بی حده پابندی بد والی موجود دی او که
ـی د مریضوالی بیړه وی نو بله ګناه یو مسلمان ته د ضرر رسولو سوه چه په
ـه کښی ماشاءالله ټوله قبیله هم شریکه ده بل بیله ضرورته ئی پرچوکه
ـنول د دی څخه ضرورت دی آیا که ناوی پر فرش کښینوی د دغه د بدن د
ـایی او نرمی شی په صورت پوری ورمښی نه صفا کیږی په دی کښی هم
ـه بی حده پابندی د، چه د دغه خلاف شرعه پیروا رونه معلومه سوی
ـدریم پر راسته لاس د بدن د صفایی او نرمید وشی ایښودول او غیږ ئی د
ـجواو پتاسو ورپکول داسی معلومیږی چه دا یو ناروا نیکفالی ده که
ـه رنګه وی بیا خو شرک دی او هرچا ته معلومه ده چه شرک بالکل د
ـیت څخه مخالفه کار دی او که نیکفالی نه وی نو هغه پابندی خو ضرور
ـی سته دا غه رنګه د پتاسو او خوب ودو تقسیم پابندی دا ټوله بی اندازی
ـندی، ریا او فخر دی لکه چه دا خبره بنکاره ده۔ څلرم د ښځو یو ځای
ـل د دی ټولو فساد دنو بیخ دی لکه چه مخکی بیان سوه۔ ترمذی شریف
ـل حدیث د شرعی پردی په حواله د مشکوة شریف)

بعضی ځایونه دا هم شرط دی چه او(۷) وه هغه ښځی به سړه یو ځای کیږی
ـ خاوندان او مړونه ئی ژوندی وی د ناوی پر لاس به هغه د بدن د صفایی
ـ۴ کیدو شی ورپرې دی نو دا هم یو ناروا نیکفالی ده چه شرک والی ئی مخکی بیان سو

که د بدن د صفايي او نرۍ په غرض دغه شی د دی پرصورت باندی ومښوول سی
هیڅ پروا نه لری مګر په ساده طریقه سره بیله کومه قیده او شرطه درواج ـ
په دغه شی سره بدن ور صفا کړه بس کار خلاص دی او دوند ه اندازه ئی
اهتمام او غم خوړدنی ولی وسی. بعضی ښځی د دغه رواج په ښاره کښی یوځه
د لیلونه وایی. بعضی ښځی داوایی چه د خسو وکورته وادهٔ سی نو یوځوورځ
ئی هغه پریوه ځای کښینوی ښوری به نه اوسی به ئی خړولی وی نو اوس ئی
لاهوبن د لته کښینوو نچه عادت سی ورسره اوبیا هلته په ډیر تکلیف نه سی اوبعض
صاحبانی دا فرمائی چه دغه شی په بدن پوری ور ومښو نو بدن ئی صاف
او خوشبو یه کیږی نو په دغه وخت کښی که چیری د باندی ووزی نود
پیری یاد نظر کیدو بیره باندی سته ـ دا ټول شیطانی خیالات او خود ساخته
خبری دی که صرف دغه خبره دی نو د کلی او قبیلی د ښځو جمعه کیدل پر
لاس باندی د بدن د صفا کیدو او نږدې شی اینبوول غیږ په شیانو ور
په کول او داسی نور خرافات ولی کیږی د غوندی مطلب خو بیله دی تکلفاتو
او تصوهم کیدای سی د وهم داچه د خوښی کړه وادهٔ سی بالکل د هری په شان
هلته اوسیدل هم بده خبره ده لکه چه بیان مخته راروان دی لهذا
د دغه د مه د او برقرارهٔ پاته کیدو د پاره چه هر کار وسی هغه ناجائز
دی او که دغه هم نه وی صحیح نو مونږ وایو چه پر انسان هر قسم غم او تکلیف
راسی پرځان ئی تیروی څه عادت عوارض. خپله ځان په پوه کړه چه مخکی په
ټول کورکښی گرځیده راگرځیده اوس د فعتًا په یوه کنج کښی څرنگه کښینسته
داغه رنگه هلته د خوښی پرکور هم یوه دوی (۲) ورسئ کښینی بلکه د خوښی پرکور
یوی (۱) دوه (۲) ورځو غم دی اوه لته د پلار پرکور د لسو (۱۰) لسو ـ دوولسو (۱۲) دوولسو (۱۲) ورځو
د غم بندیخانه ده درنیم که چیری د پیری یا نظر د سبب نه وزی نود سرای
غولی او بام ته ئی مه پریږده په خونه کښی د نه خوئی پریږده چه وگرزی
داخه قصه ده چه په یوه کنج کښی دی کښینولی ده چه صحت ئی هم خرابیږی
او د وډی خوړلو او بوچښلو د پاره به هم د غه ځایه نه ښوری نود
دی سبب دغه خود ساخته بهانی او عبث (بی فائدی) کار و نه دی.

(۲) چه څه وخت نائی (دلاک) خط واخلی د زوم وکورته ولاړ سی نو هلته د

کلی قبیلی بنځی سره جمعه کیږی د وه سترخوانه د شکرانی جوړوی چه په دی کښی یو د نایی یعنی دلاق وی اود وهم د بَدَلُوُ (غزلو) ویونکو اودرپی وهونکو بنځو وی - د نایی (دلاق ستر خوان د باندی استول کیږی اود بنولی قبیلی خلګ سره جمعه می نایی (دلاق) ته د خورک د پاره متایانی اوخوږی ورکوی - دلاق صاحب ئی پرانی خوری د دی ورته گوری - او غزلچیانی بنځی په دروازه کښی کښینی - د بنکنځلو اوپوچ ورد غزلی اوسندری وایی په دی کښی هم هغه بی حده پابندی ده چه بدوالی ئی معلوم سویدی. د وهمه خرابی په دغه کښی دا ده چه رنډیانو یاغزلچیانو بنځو ته د غزلو ویلو مزدوری ورکول حرامه ده بیا نو هغه غزلی چه بنکنځل وی پخپله گناه ده او په حدیث شریف کښی ئی د دغه ته د منافقت نښانه او علامه ویلی ده - (مشکوٰة شریف ص؟) دا د ریمه گناه سوه چه په دی کښی پتول اوریدونکی سره شریکان دی ځکه چه هر سړی دگناه په مجلس اومجمع کښی شریک وی هغه هم گنهګار ده دی - څلرم د خلګو اجتماع اوجمعه کیدل ضروری بلل چه په بی حده پابندی کښی داخل دی معلومه نه ده چه د نایی اود لاق صاحب په خوږو اومتایانو خوړلو کښی داد وندی بزرګان دځه شی د پاره کومک کوی پنځم د بنځو جمعه کیدل چه د دی گناه معلومه سویده.

(۴) نایئ (دلاق) شکرانه اوخوږی وخوړی د خپل باداره هدایت اولارښوونی سره سم او برابر یوه یا دوه روپی په ستر خوان کښی اچوی او دغه روپی د زوم د نایی (دلاق) او بَدَلی ویونکو (غزلچیانو) درپی وهونکو بنځو په منځ کښی سم نیمی سره ریشل کیږی - د وهم ستر خوان د شکرانی اوخوږو بعینه بدلی ویونکی اودرپی وهونکی بنځی کورته وړی بیا نو د کلی اوقبیلی د بنځو د پاره خوږی اومتایانی جوړیږی ورد سته بیا د دوی په منځ کښی تقسیمیږی په دی کښی هم دغه شهرت اوریا او بی حده پابندی موجوده ده نوله همدی سببه دغه هم د شرعی بالکل خلاف ده.

(۵) سهارد قبیلی خلګ سره یوځای کیږی د خط جواب لیکی اریوه جوړه د پیرینه قیمتی کالی سره د دیرو پیسو د نایئ (دلاق) ته ورکوی یعنی شل (۲۰) دوه سوه روپی ورکوی - هغه رخشنده اومسخری کوم چه اولی وی هغه دلته هم کیږی چه بنکاره

کیږی (۱) ډیره کول کیږی او اخستل کیږی یوه یاد (۲) ځکی روپی - بیا نو دد غه ریا او بی حایه حرکت څخه ماسیوی بعضو ته ددی روپو د پوره کولو د پاره دسود اخستلو هم ضرورت پیښیږی دا جلا گناه سوه چه ددی بیان مخکی په بنه طریقه سره سویدی.

(۶) اوس نو نایی (دلاق) رخصت اخلی دناوی والاړ وکوړ ته رسیږی هلته دکلی او قبیلی بنځی د اوله څخه جمعه کیږی - نایی (دلاق) خپله جوړه په کوړ کښی د بنکاره کولو د پاره وړکوی او بیا نو په ټول کلی او قبیله کښی په کوړ کوړ کښی بنکاره کیږی په دی کښی هم هغه د بنځو جمعه کیدل او په جوړه بنکاره کولو کښی د ریا کاری او نمایش حرابی بنکاره پرته ده.

(۷) ددی تاریخ څخه هغه شی چه بدن په صفا کیږی او نرم کیږی زوم لی استعمالوی او د واده تر تاریخه پوری د قوم او قبیلی بنځی سره جمعه کیږی کوم چه د زوم د خوا پوښ او داسی نور شیان وړ وړل کیږی د دغو شیانو تیاری کوی او کوم کوړ چه د ناوی د خوا وزوم ته وړکول کیږی د هغه تیاری کیږی او په دغه منځ کښی چه کوم میلمه د دواړو څخه دیوه کوړ ته راځی که ئی څخه هم رابللی نه وی ددغه د راتګ کرایه وړکول کیږی په دی کښی هم هغه د بنځو جمعه کیدل او بی حده پابندی خوښوړ سته او کرایه د خپلې طرفه څخه وړکول برابره خبره ده که ئی خوښه وی که ئی خوښه نه وی خو د ریا او شان و شوکت د پاره نو دا بیابله مزه ده داغه رنګه د راتلونکو داخیال چه زموږ کرایه وړکول پردوی واجبه ده دا یو قسم جبر دی د ریا او جبر د دواړو مخالفو الی د شریعت څخه بنکاره خبره ده او تر دغه لا بالا قصه د پوښ کولو او کوړ وړکولو ده. چه دواده ډیر لوی رکنونه بلل سویدی او هر څوندی چه د غه د واړه شیان په اصل کښی روا بلکه بنه او نیک کار وُ خُکه چه پوښ او داسی نور شیان په حقیقت کښی د زوم یا د زوم والا وُ د طرفه څخه وه ناوی یا و ناوی والا وُ ته هدیه او تحفه ده او کوړ په حقیقت کښی د خپل اولاد سره احسان دی مګر په کومه طریقه چه نن سبا ئی رواج دی قسم قسم خرابی او ګناهونه پکښی راپیدا سویدی چه د هغو خلاصه داده چه اوس نه هدیه او تحفه مقصود ده نه سلوک او احسان مقصودی خالص د نامداری شهرت او رواج د پابندی په نیت سره کیږی

نو همدغه وجه دی چه دپوښ وغیره اودکور د دواړو اعلان اوښکاره والی
قصداً کیږی یعنی ښکاره کوی ئی مشهوره کوی ئی بیا ئی ورکوی پوښ اوداسی نور
څه چه د زوم دخواوړکول کیږی هم په ډیر درب اودروب سره ورکول کیږی
اوشیان ئی هم خاص معلوم معلوم شیان دی لوښی ئی هم بوخاص قسم ضروری
بللی کیږی اوعام طور ئی نظاره او تماشه هم کیږی موقع اوځای ئی هم معلوم
وی که هدیه او تحفه مقصود وای نو په ساده طریقه سره هر وخت چه ورته
اسانه وای او هر شی چه ورته اسانه وای بیله پابندی دیور واجه او بیله
اعلانه به ئی خالص د مینی اومحبت د وجهی څخه ور استولای د اغه رنګه
د ډیر ډرکولو شیان خاص مقرر اومعلوم دی چه فلانی فلانی شی به ضرور
وی اوټول کلی او قبیله به ئی وینی او بعضی ځایونه به ئی فقط دکور خلګ
وینی اودرځ به ئی هم خاصه اومعلومه وی که صله رحمی یعنی سلوک اواحسان
مقصود وای نو په ساده طریقه سره هرڅه چه اسانه وای او هر وخت چه
اسانه وای ورکړی به ئی وای داغه رنګه د هدیئ اوصله رحمی د پاره هیڅوک
د قرض بار پرا ودښونه اخلی لیکن د دی دواړو واجونو په پوره کولو کښی
اکثره وختونه قرضدار کیږی هم ـ یا سود ورکوی یا سرای یا باغ خرڅ کړی
یا ګروکړی بس په دی کښی هم هغه شهرت اوښکاره کیدل اسراف او دارنګه
نوری خرابیانی موجودی دی نو د دی سببه دا هم په ناروا کارو کښی داخل
اوشیرل سو .

(۸) تر ورایوه ورځ مخکی د زوم والاؤ نایی (دلاق) نکرځی راواخلی اود نایی والاؤ
نایئ د زوم یوه جوړه کالی راواخلی د خپلو خپلو ځایونو څخه روانیږی اودغی
ورځی ته په یوخاص نامه ویل کیږی اود زوم په کور کښی پرده غه تاریخ د قوم او
ته ګلبی اوپتاسی ورکول کیږی اوټولو خدمتګارانو ته پرهر هر کار څخه څخه روپی ور
کول کیږی په دی رواج کښی هم هغه بی حده پابندی اود بنځو جمعه کیدل دبی چه د
دی څخه بی حسابه خرابی پیدا کیږی .

(۹) جوړه راوړونکی نائ (دلاق) ته د جوړی د راسولو په وخت کښی یوڅه انعام
ورکوی بیا دغه جوړه خدمتګار او دلاقه بنځه واخلی په ټوله کلی او قبیله کښی ئی

په کور کښی بنکاره کوی او په دغه شیه کښی دکلی قبیلی بنځی جمعه کیږی
بیا د دی خوری بنکاره خبره ده چه د جوړی بنکاره کولو علت بیله ریاتور
هیڅ نشته اود بنځو د جمعه کید و برکتو نه خو معلوم سویدی غرض پردی
موقع هم د بنځو یو خوا ښه اجتماع کیږی چه ورسره دگناهونو اجتماع لازمه ده
(۱۰) د سهار په وخت کښی زوم ته ښه غسل ورکړی شاهانه جوړه په اغوندی
او زړه جوړه او څپلی و نالی (دلاق) ته ورکوی او دهار په غاړه کولو حق اوشیرینی
وکمینانو او خدمتگارانو ته ورکول کیږی اکثره په دغه جوړه کښی د شرعی څخه مخالف
لباس او جامه هم وی او هار یا بل څه چه پرسر ئی ورا چوی د ښایسته او زینت د
پاره - څرنگه چه داد کافرانو رواج دی نو د دی سبب د دغه حق نوم چه دغه
حق وخدمتگارانو ته ورکول کیږی د کفارو په نامه سره بلل یعنی د چوټی سهرا
په نامه سره یلل بیشکه بده خبره او د کافرانو د رواج سره موافقت دی. نود
دی سبب دا کار هم د شرعی څخه مخالف سو.

(۱۱) بیانو زوم وکورته راوبولی پرچوکی ئی دروی - سهرا - یعنی هغه شی چه په کفارو کښی رواج
دی او د زوم پرسر ئی د ښایست د پاره او ورتړی نو د غه سهرا هم د دغه زوم پرسر
ورتړی او چه ورتړی ئی هغه ئی عمه گانی یاخوندی وی بیانو عمه گانی وغیره
د سهرا د تړلو حق د زوم څخه غواړی او د قبیلی بنځی یوځه روپی د زوم پرسر
ورگرزوی خدمتگارانو ته ئی ورکوی د زوم وکورته د تلو په وخت کښی بالکل
احتیاط نه وی ډیرو ټینگو پرده ناکه بنځو سنگارونه کړی وی د زوم په مخکی
درږی او داخیال کوی چه داخو دده د شرم وخت دی وهیڅ ته نه گوری. آیا
داد غضب خبره ده که نه ده. اول داځرنگه معلومه سوه چه زوم هیڅ
ته نه گوری د مختلفو طبیعتونو هلکان وی چه ښ سبا ئی اکثر بی شرمه او بی
حیا وی بیا که دی نه گوری ته ولی ودې ته گوری (مشکوٰۃ شریف ص۳۶۹)

په حدیث شریف کښی راغلی دی - لعنت دی وکړی خدای پاک پرکتونکی اوهر
څاته چه کتل کیږی پرهغه دی هم خدای لعنت وکړی - (مشکوٰۃ شریف ص۲۶۲) غرض
پردغه موقع زوم او بنځی ټول په گناه اخته کیږی بیا سهرا ورتړل چه دکفارو
رواج دی بله گناه ده.

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هرڅوک مشابهت وکړی د یوقوم سره

نو دَی د هغود جملی څخه دی (مشکوة شریف ص۲۷۵) بیا نو په زور سره خپل حق اخستل اول خوداسی پریږدو چا جبر او زور کول حرام دی بیا خصوصًا چه یوگناه وکړی او یوڅه پراخلی نو دا بیا مرداری پرمرداری سوه اود زوم پرسرد پیسو گرزول او تویول هم ناروا نیکفالی ده چه ددی په باره کښی په حدیث کښی راغلی دی چه داشرک دی۔ (مشکوة شریف ص۳۹۲) غرض دا رواج هم سرتر پایه دهغه خبرو مجموعه ده چه د شریعت مخالف دی۔

(۱۲) اوس نو وړاندوینیږی دغه وړاندی هم دوا ده یولوی رکن بلل کیږی اوددی د پاره یو وخت زوم والا او یو وخت نادی والا ډیری خبری جگړی مگړی او تینگار ونه کوی۔ غرض په اصل کښی دغه هم نخالص دناموری او فخر د پاره کیږی نور هیڅ هم نلسته۔ عجیبه نه ده چه یو وخت په لاړو کښی امن او بیغمی نه وه۔ اکثره وخت به دغلو ډاکوگانو سره مخامخ کیدل۔ د زوم او نادی، اسباب، زیورانو او داسی نورو شیانو د حفاظت د پاره به دغه رواج ایجاد سوی دی نو ددی سببه دکورة څخه یو یو سړی ضرور تلی لیکن اوس خو نه هغه ضرورت پاته سویدی نه یو بل مصلحت پکښی سته معروف فخر او شهرت پاته سویدی بیانو اکثره په دغه کښی داسی هم کوی چه راوبولی پنځوس(۵۰) - اوراسی (۱۰۰) سل - اول خو بیله را بللو او دعوت څخه دیوچا کورته تلل حرام دی۔

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هرهغه څوک چه ومیلمستیانه بیله بللو ولاړسی چه ور داخل سو نو غل سو او چه راوزی هم غل سو اولوټمار سو (مشکوة شریف ص۲۷۵) یعنی گناه ئی په شان د غلا او لوټماری ده بیانود دغه دوهم سړی په دغه کښی بی عزتی او شرمندگی کیږی یوڅوک رسوا کول دا دوهمه (۲) گناه سوه بیانو ددی خبرو په سبب ددواړو طرفونو په منځ کښی اکثره وختونه داسی ضدونه اوبی خوندی پیدا کیږی چه تول عمرئی اثر په زړونو کښی پاته کیږی۔ څرنگه چه بی اتفاقی حرامه ده نو ددی سببه د هر هغه کار څخه چه بی اتفاقی پیدا کیږی هغه هم حرام دی ددی سببه دغه عبث رسم هم حرام دی هیڅکله روانه دی په لاړو کښی چه کوم جهالت پرتانگه اوموټر چلونکو باندی غلبه کوی چه په نتیجه کښی ئی گاډیانی، بگی اوموټران بیله فایدی

اوضرورته خُفلوی په دغه کښی په سَوُ خطرناکه قسمی پیښیږی ښکاره خبره
ده چه په داسی خطره کښی خان اچول بیله کوم ضرورته هیڅ قسم روانه دی
(۱۳) زوم د داغه بناء یو مشهور زیارت ته ورځی هلته پر قبر یو څه پیسی اچوی
بیا نو په ورا ګډیږی په دغه کښی چه کومه عقیده د جاهلانو ده بیشکه تر
شرک پورې رسیدلی ده اوکه یو پوه سړی د دی عقیدی څخه پاک هم وی.
بیا هم څرنګه چه د دی فعل څخه د جاهلانو فعل ته تقویت او رواج ورکول
کیږی د دی سببه باید هرڅوک خان څنډی وساتی.
(۱۴) نکرځی راوړونکی نایی او دلاق ته د وندی انعام ورکول کیږی چه د دی
څخه زوم والاد هغه خرڅ اندازه لګوی چه خدمتګارانو ته ورکول کیږی
یعنی د خدمت ګارانو خرڅ تر دغه اُته[۱۸] حصی زیات وی د غه هم د ظلم جرمانه
ده چه اول ئی خبر کړی چه ته به د وندی روپۍ وخدمتګارانو ته ورکوی
چونکه دغه رنګه جبراً ورکول حرام او ناروا دی لهذا د دغه دا زریعه او
واسطه هم د غه حکم لری ځکه چه د ګناه قصد هم ګناه ده.
(۱۵) یو څه نکرځی نا وی استعمالوی او نوری تقسیمیږی داد واړی خبری هم په
بی حده پابندی کښی داخلی دی څرنګه چه د دی مخالفت عیب بولی نو د دی
سببه دغه هم د شرعی ترحد زیات وتل دی.
(۱۶) د وړاد راتلو په وخ د نادی په کور کښی ښځی جمعه کیږی د دغه جمعه کیدو
بدی او ناسیتوب مخکی معلوم سوید ی.
(۱۷) پر هر کار یو څه شی تقسیمیږی مثلاً نایی او دلاق، خدمتګار د دیګ دپاره
ټغری وکینی یو څه شی ئی وغوښتی نو ده ته په یوه ستر خوان کښی یو څه
غله چه پر د غه غله باندی بیا د ګوړی یو خرڅه ایښو ول کیږی و ده ته
ورکول کیږی داغه رنګه پر هر زره زره کار باندی خدمتګارانو ته جرمانه
ورکول بنه کار دی مګر د دی وار وار ورکولو څه ضرورت دی چه هر څوند ه
حق د خدمت دی هغه شی په یوه وار سره ورکړه - د د غه وار وار ورکولو
اساس هم هغه شهرت دی علاوه تر دغه د اورکول به یا انعام وی یا به —
مزدوری وی که انعام او احسان وی نو د ده دپاره په زور اختیل حرام دی
او د هر شی چه اختیل حرام وی ورکول ئی هم حرام دی اوکه د غه ته مزدوری

وایی نود مزدوری معلومول اود اول څخه ئ مقدار او اندازه ویل ضروری ده د مقدار او اندازی دنه معلومولو والی څخه مزدوری او اجاره فاسدیږی او اجاره فاسده حرامه هم ده.

(۱۸) د ورا پرسیدو د بګی او تړانګی آسانوته دانه او وابنه اود خواست وآسانو ته غوړی او ګوړه هم ورکول کیږی پرداسی موقع باندی اکثره ګاډی او بګی چلوونکی داسی طوفانی کوی چه کور والا بی عزته کیږی اود دی بی عزتی سبب هغه ورا راوستونکی خلګ سوه ښکاره خبره ده چه د بدی خبری سبب جوړول هم بده خبره ده.

(۱۹) ورایو ځای درېږی د دواړو طرفونو د خلګو په مخکښی کوم چه زوم والا وړ پوښ اود اسی نور شیان راوړی وی خلاصیږی او ښکاره کیږی اوس نووخت راغلی د ډیا او فخر د ښکاره کیدو چه هغه لوی مقصد دی اود دی سبب څخه دا رواج هم منعه دی.

(۲۰) په دغه پوښ او نورو شیانو کښی داخوشیان ډیر ضروری دی. شاهانه جوړه. کالی، ګوتکه، پایزیبونه، عطر، د سر او بدن د پاره تیل (روغن)، سرخی او سفیده، رنجونونی، بړمونځ، پان، خوږی، روغانی او نور غیر ضروری دی خوندی جوړی چه په دغه کښی وی هغوندی منګیان به هم وی په دی ټولو عبث کارونو کښی بی اندازه پابندی کول ښکاره خبره ده چه د شرعی څخه ئ مخالفت وار وار ثابت سویدی او اوس بیا ریا کاری او ښکاره کول د ټولو راجونو روح دی نو دویلو ئ هیڅ حاجت نشته.

(۲۱) د دی پوښ او نورو شیانو د وړلو د پاره د ناوی د طرف څخه کمیان او خدمتګاران مقرروی چه هغه ئ راوړی. او یو سړی یو یوشی پر سر اخلی وړی ئ ګوړه د دغه ریا نور ښه ظهور او ښکاره والی وسوکه څه هم دغه دیوه سړی د وړلو بار وی مګر پوره کاروان او قافله به ئ وړی چه تر دیره پورې ئ څیښتیر او سلسله معلومه وی دا ښکاره فریب او تکبر ښکاره کول دی.

(۲۲) د قبیلی او کلی ټول خلګ د پوښ او نورو شیانو سره ځی او پوښ او نور شیان د ښځو ځای ته ورسول کیږی پردی موقع ډیره بیباکی کیږی چه خلګ هم کور ته ورننوزی او د ښځو سره بی پردی مخامخ کیږی معلومه نه ده چه په دغه

ورځ ټولې ګناوې ادبیغیرتی څرنګه حلالې اود عقل خبرې بلل کیږي.

(۲۳) د دغه پوښ وغیره څخه شاهانه جوړه او بعضې نورې شیان ایږدي او نور ټول بیرته ورکوي چه داشیان زړم والا په خپل صندوق کښې ایږدي چه بیرته دې ځنډي اخستل نوخامخاد رالیږلو تکلیف دي ولې وکړي بس هغه ریا اوشهرت دي چه ددې شیانو راوړل بیرته یقیني دې نو بیاخود هوښیارانو په نزد دهیڅ شان اوشوکت خبره هم نه ده - کیدای سي چه دیوچا څخه ئې په خواست راوړي وي چه کورته راسې بیرته ئې ورکوي او اکثره داهسې پیښیږي هم - غرض ټول عیشیات دشریعت هم خلاف اود عقل هم خلاف بیاهم خلګ ټینګار پرکوي.

(۲۴) د ورا ولاوُ په سترخوان کښې یادپوښ (جوړې) په غوټه کښې د ناوې والاوُ دطرفه څخه یوه یا پاو بالار وړې اچول کیږي. چه ودغه ته په یوخاص نامه وایي او دغه د زدم د نایي (دلاق) حق وي تردې ورسته یوڅرې دهونکې اوغزلې (بدلې) دیونکې یو سولاغه راواخلي د زدم وخوانه ورسې او یو سپک انعام پاوُ یا نیمکه ورکول کیږي په دې کښې هم هغه بې حده پابندي او په زړه انعام اخستل دي اومعلومه نه ده چه د دې دهونکې محترمې څه حق دي اوداسولاغه څه عیث کار دي.

(۲۵) دراواللا د نکاح دپاره کورته رابلل کیږي خیرغنیمت دي خطا خو معاف ده په دې چتیا نو کښې د دندې ځنډ کیږي چه ټوله شپه پکښې تیره سي بیادبد خوابي څخه څوک مریض سي دیوچا هاتمه خرابه سي یو څوک د خوب په غلبه کښې داسې بیده وي چه دسهار لمونځ ئې قضاسي. نوکه یوه ژړاوي خو وبه ژاړو لیکن دغه ځای سره ترټولو خاص دنورو څخه ډک دي. الله تعالیٰ دي رحم وکړي

(۲۶) ترټولو مخکې سقاوُ یعنې اوبه ورکونکې اوبه راوړي ده ته پاو بالا یوه روپۍ دیوخاص رواج په نامه ورکول کیږي که ئې خوښه وي اوکه نه وي مګر ترزکوٰة زیات فرض بلل کیږي ولې که ورنکړه سي غضب دي اول خو په انعام کښې جبر چه خالص حرام دي د جبر اوزور دغه معنیٰ نه ده چه په سوتې اودې نه ئې دوهي یوڅه ځنډي واخلي بلکه دغه هم جبر دي که ئې ورنه کړي نوبدنامیږي بیا اخستونکي وار وار غوښتنه اوجګړې کوي شي ځنډي اخلي اوهغه بیچاره ئې دخپل شرم اوحیاء دسببه ورکوي دغه ټول جبر حرام

۷۰۴ سه دغه جمله داته درځشنده په اول لیکل سوې ده کرصفحې نه وي لوبې بدلې روا اجرا نو کښې خو صحیح نورانیت نسته ۲ مصحح

دی او چه د خاص رواج په نامه ورکول کیږی د هغه رواج نوم - بیرګهړی - دی چه د هند وانو لفظ دی معلومه سوه چه دا رواج ئی د کافرانو څخه زده کړی دی داد دهمه تاریکی سوه.

(۲۷) تر دی وروسته چم (پښې) یا خدمتګار د شربتو ګډ ولو د پاره راځی چه هغه ته پاو بالا یوه روپی ورکول کیږی او د شکرو شربت د ناوی د کور راځی دلته هم په دغه انعام کښی د زوړ او جبر علت لګیدلی دی بیا دغه چم (پښې) صاحب د څه معرفت دی. بیشکه د شربتو د جوړولو د پاره د پیرمورزون او مناسب دی خکه چه باجه ئی بدغول نو په لاسونو کښی ئی د خوشحالی ماده پیدا سویده نو چه په دی لاسو دی شربت جوړوی نو چښونکو ته د پیرسرور او خوشحالی پیدا کیږی بیا مزه لاداده چه هر څوک ده یخ وی که څه هم څنډی زکامیږی مګر شربت به ضرور چښل کیږی - آیا د دی بیعقلی هم یو اندازه سته.

(۲۸) بیا نو قاضی یا مولوی صاحب را بولی نکاح په ترې بس دغه یوه خبره ده چه په ټولو خرافاتو کښی بنه او د شریعت موافق ده مګر په دی کښی هم کتل کیږی چه اکثره ځایونه قاضیان او امامان صاحبان د نکاح د مسائلو څخه بالکل ناخبره وی چه بعضی ځایونه یقیناً نکاح هم نه صحیح کیږی ټول عمر بدکاری او زناکاری کوی او بعضی قاضیان او امامان صاحبان بیا د وندی حاسما او طامع وی چه هر قسم د نکاح ترلو امر ورته وسی هغسی ئی ترې برابر خبره ده که نکاح صحیح وی او که نه وی - مړی که جنت ته ځی او که دوزخ ته خو کار د حلوا او باندی سو د دیګو نو سره دی. په نکاح کښی پیر احتیاط کول په کار دی چه نکاح ترونکی پخپله عالم وی یا د یو عالم څخه بنه تحقیق وکړی بیا نکاح وترې او بعضی ځایونه ترنکاح مخکی زوم وکورته را بولی د ناوی لاس ترپرده راوباسی د ناوی پرورعنوی یوځه کنجتی او د اسی نور شیان کښیږدی او په زوم ئی خوری - خیال او فکر په کار دی تراوسه پورې نکاح نه ده سوی او د انجیلی لاس ئی بیله ضرورته د هلک و مخ ته راوایستی څوندی پیره بیحیائی ده خدای پاک دی موږ څندی وساتی.

(۲۹) تر دی وروسته که چیری د زوم طرف خورماوی ورسره راوړی وی نو هغه یا چورې وی لوټوی یا ئی تقسیموی او که دغه نه وی نو شربت خو خامخا

سته که یخ دی که گرمی دی په دغو شیانو کښی د پابندی څخه علاوه مریضی هم رابولی مرحبا ورته وایی لکه چه په بعضو فصلونو کښی مریضی پلیټیږی هم نو داچیری روادی.

(۳۰) اوس نو د ناوی د طرف نایی (دلاق) لاس ورپریمنځی هغه ته پاو بالابوره روبی دلاس پریولو دا ورکوی په اصل کښی انعام او احسان دی مګر دغه انعام چه کوم دی ورکونکی او اخستونکی ئی حق او واجب بولی په داسی طریقه ورکول او اخستل حرام دی حُکه چه په احسان کښی جبر او زور کول حرام دی لکه چه ترمخه ئی بیان شو سو او که د دغه د څه متګذاری حق وبولی - نو څه متګذار خو د ناوی والاؤ د طرف څخه دی باید د هغوی پر ذمه وی د زدم د طرف سره د د ه څه کار دی داخو میلمانه دی علاوه د دی څخه چه دا رواج د شرعی مخالف دی د عقل هم پر خلاف دی چه د میلمنو څخه د خپلو نوکرانو او مزدورانو تنخواه او مزدوری اخلی.

(۳۱) د زدم د پاره د کور څخه شکرانه او خوښی راځی چه پرتولو وراوالاوو باندی ویشل کیږی په دی کښی د بی پایه پابندی څخه علاوه د عقیدی خرابی هم سته یعنی که شکرانه او خوښی نه سی جوړی و زدم ته نه راولیږل سی نو د نحوست او بی برکتی سبب ئی بولی بلکه په اکثره روا جونو کښی دا عقیده سته چه دارنګه عقیده د شرک خبره ده. په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د بد پالی او نامبارکی هیڅ اصل نسته (مشکوة شریف ص۳۹۱) شریعت چه هرشی ته بی اصله او بی دلیله ویلی دی لیکن خلګ پردغه پول جوړکړی دغه کار کوی نو داد شریعت مقابله ده یا نه ده.

(۳۲) تر دغه ورسته ورا والا وچی وخوړی روانیږی نو د انجیلی والاؤ د کور څخه د زدم د پاره د پلنګ برابریږی ورته را استول کیږی او پر څرنګه بنه رخت راستول کیږی چه ټوله شپه پر مخکه پروت وُ نو نفس ئی وختی - اوس نو مرهم (ملهم) راغله واقعی حق اوس ثابت سو مخکی تر دغه اجنبی او بیګانه وُ ای شریفو خلګو که هغه زدم نه د د نو را بلل سوی میلمه خو وُ - اخر د میلمه د خاطر او مدارات تو هم په شرعه او په عقل کښی حکم سته که نسته - او د غه نوی ورا والا - اوس هم هغسی خواړی د د وی او س هم هغسی پوښتنه نه د ه کړی - چه تاسی څرنګه راغلی یاست صاحبانو هغه خو هم میلمانه دی.

(۳۳) پلنګ سره اوږه ونکی نائی (دلاق) ته پاؤ بالا یوه روپۍ ورکول کیږی بس نوط معلومه سوه چه چیرکت او پلنګ هم ددی دپاره راوړل سوی وُو ۔ استغفرالله په دی کښی هم په دغه انعام کښی جبراو په زور اخستل معلومیږی ۔

(۳۴) په اخیره حصه کښی دشپی په یو سترخوان باغاب کښی شکرانه او خوږی وراستول کیږی د اخوږی نو د وړانډول خلګ په ګډه کوری برابره خبره ده که د دوی کمبختانو هاضمه خرابیږی که نه خرابیږی خامخا به ئی خوری اود واده والاؤ دخپلو راجونو دپوره کولو سره کار دی اول چه هرځای دشکرانی او خوږو جوړولو ذکر راغلی وُو هلته ئی بیان سوی دی چه داهم د شریعت خلاف کار دی ۔

(۳۵) دغه سترخوان راوړونکی نائی او دلاق ته پاؤ بالا یوه روپۍ ورکول کیږی ولی ورنه کړی دی نائی او دلاق، بزرګانو، شرانو دغه بیچارګانو وراواؤ پلار اونیکه ته په قرض روپۍ ورکړی وی دا بیچارګان هغه "پخوانی" قرض ادا کوی که ئی ادا نه کړی نو د دوی پلار اونیکه دجنت څخه بند دی جنت ته نه سی تلای لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ۔

(۳۶) دسهار په وخت کښی د وړا والا د رڼی د هونکی د ناوی والاؤ په کور کښی د رڼی وهی د غه د رڼی د وړا سره راغلی وی د رڼی په اصل کښی روا هم وی مګر شریعت په دغه کښی دا مصلحت اینبی دی ۔ چه په د رڼی د هلو کښی د نکاح بنه شهرت وسی لیکن اوس یقینی خبره ده چه د شان و شوکت د بنکاره کولو اود فخر دپاره بڼغول کیږی نو د دی سببه ناروا اود منسوخه کولو قابل دی د اعلان او شهرت نورې په هزارونو طریقې دی او اوس خو په هر کار کښی مجمع اوغونډه کیږی خو د بخود ده په ټول کلی کښی اواز ه خپریږی بس دغه شهرت کافی دی که د د رڼی سره سرو زر هم وی بیا په هیڅ حال کښی روا نه دی ۔ په حدیث شریف کښی ئی صاف صاف منعه والی اوید والی راغلی دی ۔ (سنن ابن ماجه شریف باب العقوبات صفحه ۷۳)

(۳۷) د ناوی والاؤ د طرف بنګی د وړا والاؤ د آسانو خرشینه پاکوی اود د واړو طرفونو بنګیانو ته د خرشینو دپوره ته کولو په سبب برابری پلیمی ورکول کیږی نو د غه بدل مدل څه فایده ده چه د واړه ته برابری ورکول کیږی نو به خپلو خپلو خدمتګارانو ته هریوه ورکولای خامخا یوئ د هغه بل څخه

د خپل خدمتگار د پاره اخلی هغه ئی د دی بل څخه د خپل خدمتگار د پاره اخلی - اخستنه هم د هر یو که په نرۍ د ه چه په نتیجه کښی ئی گناه لازمیږی.

(۳۸) د ناوی د طرف د ریې و هونکی او غزل ویونکی و زوم ته راځی پان په خوری او د رواج سره برابر انعامی پیسی اخلی او څی - او دی به هم خامخا پیسی ورکوی بیچاره نن لالوپ او چور کړی چه غور د رخه و لاړ نه سی یو څه پیسی ئی په جیب کښی یاته نه سی بلکه باید قرضدار ه د رخه و لاړ سی د لته هم هغه جبر دی چه بد والی ئی وار وار ثابت سو یدی.

(۳۹) ر دی د دسته و ر ښتان برابر و نکی بنځه (د لاقه) د ناوی سره و ر اوږی بر مونځ په یو پټو کوری کښی کښیږ دی و رسره د هری ئی - او دی ته د سو لود لو پر نامه یو څه و رکول کیږی و لی و رنه کړل سی د دی بیچاره گان د پټولو قرضدار ه هم دی په دی څای کښی هم هغه جبر او زور دی.

(۴۰) تر دی و روسته د کمینانو او خدمتگارانو د انعام لیست د ناوی والاؤ د طرف څخه تیار یږی زوم والاؤ ته و رکول کیږی نو هغه که ئی پرد غو خدمتگارانو باندی تقسیموی یا داشی پټول پریږه څای ناوی والاؤ ته و رکوی چه هغه ئی بیا پر تقسیم کړی په دغه کښی هم هغه جبر او زور راځی چه حرامو الی ئی د پیر وار د نه بیان سوی دی بعضی خلگ والی صاحبه د غه خلگ د دا سی موقع د امید د پاره ډول عمر خدمت کوی - د دی جناب جواب دادی چه د هر چا خدمت ئی کړی وی د هغه څخه د خدمت بدله اخستل په کار د ه - د اځه بی فایده ی حرکت دی چه خدمت د د دی کوی او بدله هغه و رکوی.

(۴۱) زوم و کور ته را بلل کیږی پرد غه د خت نو پوره بی ستری وی او بعضی د بی شرمی خبری د د ه څخه پوښتل کیږی چه د د ی گناه او بی غیرت والی بنکاره د ی د بیان حاجت نشته بعضی ځایونه و زوم ته امر کیږی چه ناوی ته و وایی چه زه ستا غلام او مړی یم او ته شیره او زمری ئی زه میږیم - إلهی (خدایه) توبه الله تعالی خاوند سره د ر جوړ کړی د ی او د وی ئی تابعد ار او غلام جوړ وی - د وایه چه د قرآن څخه خلاف رواج د ی که نه د ی.

(۴۲) که چیری د د پیر غیرت څخه کار واخستل سو نو د د ه د سمال و کور ته د او غوښتل می او د سلامی روپی کومی چه په تحفه او سوغات کښی راځی جمعه کوی ئی زوم

ته د رکول کیږی د تحفی ګناه او بدوالی مخکی بیان سویدی.

(۴۳) د دغه څخه د درې دهونکی بنځی او خدمتګاری بنځی حق په قدر نیمی د روپی را ایستل کیږی د الله پاک د زکوٰة څلویښتمه حصه دوندی فرض نه دی د فصل څلویښتمه حصه دوندی واجب نه دی مګر د دوی حصه ایستل تر پولو د رضولو نریانته فرض دی د ابی اندازی پابندی څونډی عبث کاردی بیادا چه خدمتګاره خو خدمت کوی لیکن دغه د درید دهونکی غزل ویونکی د څه بنی دی چه هرځای د دی شراکت او حق مقرر سویدی او دا قول چه په واده او بنادی کښی د درې دهونکو او بدلو ویونکو حق د خدمت سته ځکه دا غزلی هم خدمت دی نو هر څوک چه غزل ویل حرامه دی لکه چه په اول باب کښی بیان سوی نو پردی مزدوری او انعام د رکول یا دیو چا څخه انعام اخستل و دوی ته د رکول به څرنګه روا وی او مزدوری هم څه قسم دی چه کور والا خو یه د دی د پاره و رکوی چه دی را بللی دی او د دی په کور کښی محفل او باندار دی. لیکن د دی را تلونکو څه کمبختی او بدبختی ده چه د دی څخه هم په زور اخستل کیږی او هر څوک چه ئی د رنه کړی د هغه ذلت تحقیر او پرده طعن او ملامتیا کیږی پس نو داسی غزلو او بدلو او - داسی حق ته ولی حرام نه وویل سی په بدلو، غزلو ویلو سره بعضو ته دغه شبه او شک پیښیږی چه په واده بنادی کښی غزلی، بدلی ویل صحیح دی لیکن دا نه ګوری چه اوس کومی خرابیانی او ګناوی په دی کښی ګډی سویدی نو د دی سبب اوس روانه دی هغه خرابیانی دادی چه بدلی په خوش آوازی سره وائی زموږ په مذهب کښی د غه منعه دی او د دوی آواز د غیر محرمینو خلګو غوږ و ته رسیږی وغیر محرم ته د ارنګه آواز د رسول منعه دی او دهم ګناه ده. او اکثره بدلی ویونکی بنځی څوانانی هم وی د دوی د آواز څخه نوره هم د خرابی بیره سته ځکه د اوریدونکی په زړه کښی خامخا څه ورګډیږی او د بدلو او ریدلو څخه د زړه ناپاکی سنه پیریږی یو څای څای ډوولک هم د سره وی دا بنکاره ګناه هم ده بیا نو نریانته شپه په دغه دنده کښی پر تیریږی د سهار ملنګونه اکثره وخت پر قضا کیږی د غزلو مضمون هم پرې دا ره د شرعی خلاف وی د اسی غزل پخپله ویل یا په بل چا سره ویل به نو څرنګه روا وی.

(۴۴) چه دد دی خوړلو څخه فارغه سی نو جهیز (کور) وبوځت میدان او غټ مجلس ته را وباسی بس یو یو شی را باسی چه ټول ټی وویني چه ما خودلور سره دوندی احسان کړیدی نغری ټی جلا را اخستی وی، تبغی ټی جلا، کاچوغه ټی جلا۔ دست شوی ټی جلا را اخستی وی۔ مطلب ذره ذره شی ور بنکاره کوی و ټولو خلګو ته ادکوم زیورات چه ټی ورکړی وی و ټولو خلګو ته ټی وایي اود هغو زیوراتو لست ټی تیار کړی وی۔ ته پخپله فیصله وکړه چه پوره پوره ریا او نمایش سو اوکه نه سو۔ علاوه دی څخه زنانه کالی، نالیاتی و خلګو ته ور بنکاره کول۔ خوندوره دغیرت خلاف خبره ده او بعضی خلګ خو را دیندلړی کوی کور وخلګو ته نه بنکاره کوی قلف صندوقان د سامانو څک و میدان ته راوړی اود سامان لست ورکوی لیکن په دی کښی هم ریا کاری حتماً سته ځکه چه دکور ه ټی میدان ته حتماً را باسی هم ټی ټول خلګ وینی او بیا چه ټی ورا والاد زوم کور ته راوړی هم ټی ټول خلګ وینی بعضی خلګ د سامان فهرست اولست هم غواړی وایي ټی دوهم د زوم پرکور چه هر څوندی خلګ جمعه وی هغوی ته هم دغه کور ور بنکاره کوی دد ی ټولو ریا کاریو او فخرونو څخه د خلاصوالی طریقه داده چه کور د ورا سره یو ځای نه واستول سی بلکه دوزاغت په وخت کښی ټول شیان وخپلو ورته ور بنکاره کړی ور وړه ټی بنځي اود دی په تصرف کښی ټی ورکړی۔ بیا نو د دی خو بنه ده چه هر وخت ټی وړی یو دی ټی سی که ټی په یوه وار وړی که ټی په وار وار سره وړی۔

(۴۵) کمینانو اود لاقانو ته پردی موقع باندی پاو بالا روپی خامخا ورکوی دلته هم په انعام کښی هغه زور اوجبر دی۔

(۴۶) اوس نو دناوی د رخصتید و او دیه و وخت راغله کجاوه یا ډولی یعنی دناوی شی چه د دی د پاره جوړه سویده دا پکښی وړی د هغه په د رواز ه کښی کښیږدی۔ د ناوی پلار، ورور اوداسی نور (خپلوان) د دی پرسر دلاس ایښو ولو د پاره وکورته ولاړ کیږی په دغه وخت کښی هم اکثره د نرانو او بنځو مخامخ والی سره کیږی چه گناه ټی بنکاره کا ده۔

(۴۷) بیا نو ناوی رخصت کړی په ډولی، کجاوه یا موټر کښی ټی کښینوی اود عقل خلاف په ټولو بوکه بوکهاری او ژړا گډه سی کیږی سی چه بعضی د زړه ژاړی

خخه وی مگر اکثره د رواج د پوره کولو د پاره ژاړی چه څوک بیا دا می
وه نه وایی چه افسیلی پر بار وه دائی وا ده کړه خوشحاله سوه او د خفه د تنگی ژړا نا
حقه د د که او فریب دی چه د عقل او شعور څخه دوار و خلاص اوگنا ه د ه .

(۴۸) بعضی ځایونه وزدم ته داحکم ورکول کیږی چه په غیږ کښی ئی واخله په کجاوه کی
ئی کښینوه د د دی د غه فرمایش د ټولو خلگو په مخکښی پوره کیږی که چیری زدم
کمزوری وی نو خوندی او دا سی نور کومک د رسره کوی په دی کښی د بی غیرتی
او بی حیائی څخه ملاوه د اکثره بنځو ستر بالکل د منځه ځی ځکه چه د دی تماشی
د لیدلو د پاره چه ټول نر او بنځی به د رته گوری د غه حکم او فرمایش سویدی
بیا نو که نادی ډیره د رنه وه چه پورته ئی کړی نو یو وخت وخت څندی ایله
کیږی چه په نتیجه کښی زخمی کیږی د دی سبب د غه کار هم نارواد ی .

(۴۹) د ناوی د پوره وئی په یوه پلو (څاک) کښی یو څه نقدی پیسی - په بل پلو (څاک)
کښی د کور کومتو څوټه په د ریم پلو پوری جایفل او په څلرم پلو کښی ورجی
او د وښو پانی تړی د اهغه نارواتیکفالی د ه علاوه د دی څخه چه د عقل خلاف
د ه د شرک کار هم د ی .

(۵۰) او په ډولی کښی د متیا یانو او خوږ ولو بنی ایږ د ی چه د دی د مصرف څای به
ورډسته معلوم سی چه د مصرف څخه ئی بی فایده والی او منعه والی هم بنکاره
کیږی .

(۵۱) اول ډولی د ناوی والا خلگ او ورونکی پورته کوی او زدم والا پرد غه پیسی او
خوږی پاشی که ئی د خوږ واو پیسو په پاشلو کښی د اغرض وی چه د ناوی د سر
څخه افتونه او عنونه پورته سی نو نیکفالی او د عقیدی خرابی سوه او که ئی
د اغرض نه وی بیا نو هغه ریاکاری او شهرت بنکاره خبره د ه - غرض د اچه په
هرحال کښی د غه کار بد د ی - بیا نو اخستونکی د دی خوږ واو پیسو بنگیان وی
چه د اهم نه سی ویلای چه صدقه او خیرات کول مقصد د ی وَرنه نو غریبانو
او محتاجانو ته به ئی ورکولای د ا یو قسم عبث او بی فایده ی مصرف د ی - چه
مستحقین ئی پریښول او غیر مستحقینو ته ئی ورکړل - بیا نو په د ی کښی بعضی زخمیان
کیږی څوک د رش او ازد حام په سبب - یو څوک د پیسو د لگید لو په وجه زخمی
کیږی د الا جلا خرابی سوه .

(۵۲) په دی پاسل سوو روپیو او خوښ وکښی یومت د ډولی ورونکو خلګو وی اودا خوښی پتولی پیسی، خوښی د کمینانو او خدمتګارانو حق وی او د هغه جبر ناروا والی دلته هم یاد کړه.

(۵۳) چه د بنار یا کلی څخه وزی تر هغو پورې خوښی او پیسی پر پاشی بیانو د هغه ډولی په یو باغ کی ایږدی خپل معمول پاؤ بالا یوه روپی اخلی بیا ډولی اخلی روانیږی په انعام اخستو کښی دلته هم هغه جبر دی چه بیان ئی تیر سو.

(۵۴) د ناوی عزیزان او قریبان چه تر دغه وخته پورې د ډولی سره وی او رخصتوی ئی بیرته راګرزی او یوازی ورا او ناوی سره پاتیږی په دغه وخت کښی نو هغه د مټایانو او خوښ ولوښی چه مخکی ئی په ډولی کښی ایښی وو را ایستل کیږی په ورا والاوو کښی څفاستی یو د بل څخه په زور اخستل حملی وهل شروع کیږی په دی کښی د بی حده پابندی څخه علاوه اکثره بی احتیاطی کیږی چه پردی سړی په ډولی کښی لاس اچوی هغه د خوښ و لوښی را اخلی د دی هیڅ پروا نسته چه ستر ماتیږی چه د خدمتګارانو بنځو یا ناوی څخه به مولاس وموښلی او بعضی غیرتمند خلګ د زوم یا ناوی قریبان پردا سی بی ځایه کار په جوش کښی راسی پوچ وړد وایی - چه بعضی وخت نه خبره ډیره سره کش سی - مګر دا ناسی رواج هیڅوک نه پریږدی نو لی بی شرمی او بی عزتی قبلوی مګر د دی بد رواج پریښوول نه قبلوی - اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ ط

(۵۵) په لار کښی چه اول وار مثلاً واله یا رود راسی نو د غه ډولی ورونکی خلګ ډولی (یعنی د ناوی ورلوکجاوه) ایږدی چه زموږ حق راکړه بیا موږ پریږدو اودا حق کم از کم یوه روپی وی چه ودی ته د ولی یا رود د پریوتلو حق وایی نو دلته هم په انعام کښی جبر اوزور دی.

(۵۶) چه د زوم وکور ته ډولی ورسیږی نو ډولی ورونکی ډولی نه ایږدی تر څو چه پاؤ بالا یوه روپی ودوی ته انعام ورنه کړل سی که د غه انعام وی نو جبر اوزور ولی کوی او نه مزدوری وی نو د مزدوری بیا خپله طریقه ده چه هر وخت د چا سره پیسی موجودی سی

درکوی په ټ۔ نو ددی وخت مقرر ول جبر اونړورکول بیله رواج اورسم پورې کولو
بل هیڅ شی نه دی چه د دغه ته بی اندازی پابندی ویل په کار دی۔

(۵۷) په بعضو ځایو نوکښی داسی هم کیږی چه د زوم یو قریب چه هم هلک دی
د ولی وکور ته نه پریږدی او داسی وایی چه ترڅو پورې زما حق رانه کړی کور
ته د ولی (لجاوه) نه پریږدم۔ داهم په بی حده پابندی کښی داخل دبوله۔

(۵۸) د د ولی راړسیدو مخکی دسړای په غولی کښی یو کوچنی ځای په خټو سره
لکړه دی او برابروی او په دی ځای کښی داوړو یو کوچنی اودړه خونه جوړوی
د ولی اول واړه په دغه ځای کښی اینبول کیږی دناوی بټه گوته په دغو اوړو
کښی لگوی بیانو د ولی د ننه وړی د بی حده پابندی څخه علاوه دغه رواج سړتر
پایه دناروا نیک فالی ډک دی دکافرانو سره موافقت هم موجود دی بیانو داوړو
غلی۔ بی قدری چه خو نه ځندی جوړیږی ددی وجوهاتو دسببه دغه رواج
هم ناروا اوحرام دی۔

(۵۹) چه د ولی وړونکی خلگ ناوی راوړسوی د ولی کښیږ دی دروانیدو اوبیرته
تلو په حال کښی وی نو عمه گانی اوخوندی دزوم نه پریږدی چه ناوی د
د ولی څخه راتاه سی ترڅو چه ودوی ته ددوی حق ورنه کړل سی۔ بلکه
اکثره دروازه بندوی چه معنی ئی داسوه چه ترڅو پورې موږ ته فیس یا
جرمانه رانه کړل سی نرهغه وخته پورې موږ نه پریږدو چه ناوی کور
ته راسی داهم په انجام کښی زور دی۔

(۶۰) تردی ورډسته زوم رابلل کیږی د د ولی سره دړول کیږی اوداړسم په
ډیره سخته پابندی سره کیږی اویو قسم ناروا نیک فالی دی چه د عقیدی خرابی
ځندی معلومیږی اوپردی موقع اکثره ستر ناکی بنځی هم په ډیره بی باکی سره
دزوم دمخ ته دریږی۔

(۶۱) بنځی صندل اونکړئ سره وکوټ چه منه سره گډی اوخشتی سی نو بیا په
دغه سره دناوی پرړاسته پښه اوتوشی (بغل) باندی یوه یوه ټیکه لگوی
نوداهم یو ناروا قسم نیک فالی او شرک دی۔

(۶۲) تیل اوماش وبنگیانو بنځو ته په خیرات کښی ورکول کیږی اود ناوی دکټ
پرځلور سره پښو باندی تیل پاشی د عقیدی دخرابی مرض ددی بیفائدی حرکت علت دی۔

(۶۳) او دغه وخت د شپانه څخه یوه بزه راولی دزوم او د ناوی د سر صدقه کوی نی ترصدقی درسته دغه پسه یا بزه سره دیو څه شکرانی او خوږو چه قیمتی یا او یونیم پاؤ قدر وی بیرته د شپانه ته ورکول کیږی وگورئ څوندی بی فایدی حرکت دی که دی بزه یا پسه رانیولی دی قیمت دی کلهٔ او چیری ورکړی او که دی رانیولی نه وی نو داخو دهغه شپانه ملک دی نو د پردی مال د خیرات تولو څه معنی ده دی خو هغه مثال دی. چه د حلوائی پر دوکان د خپل پلار او نیکه د پاره ایصال ثواب کوم چه حلوا به د حلوائی غریب مصرف نیږی (ثواب به نی ستاد پلار او نیکه وی) وادهٔ او بنادی ستاد خیرات به شپانه کوی غرض سر تر پایه بی فایدی حرکت دی او بالکل د شریعت د قوانینو خلاف دی.

(۶۴) تر دغه ورسته ناوی راکښته کړی وکورته نی راوړی او پریوچتایی یعنی بور یا نی مخ پر قبله کښینوی او اوړه (۷) داسی بسخی سره یو ځای سی چه خاوندان نی ژوندی وی نو لږ لږ شیر برنج د ناوی پر راسته لاس ورښندی بیا نو د غه پیرنی په دوی اوړه (۷) کښی یوه پیه حوله اوړه سره څټی د ارواح بالکل د نارواینکفالیو څخه جوړ سویدی چه سبب نی د عقیدی خرابی ده او قبله ته مخ گرزول خو پیره د برکت خبره ده لیکن د غه مسئله صرف پر د غو چتیا تو د عمل کولو د پاره پاته سویده که نی په ټول عمر مخ و قبلی ته د لمانځه د ادا کولو د پاره نه وی کړی خو اوس به خامخا مخ د قبلی ته گرزوی او هر وخت چه د قبلی ته مخ گرزول ضروری دی او بلل سو تر فرض لمانځه او قبلی ته په د غه وخت کښی مخ نه گرزول کړکه او بد فالی بلل کیږی نو په داسی طریقه سره د قبلی ته مخ گرزول هم د شریعت تر دایری وتل دی نو د دی سبب د غه هم روانه دی بعضی ځایونه د لته هم زوم ناوی په غیږ کښی راځلی کښته کوی نی د دی گناوی مخکی بیان سویدی

(۶۵) او د غه شیر برنج په دوه (۲) تالیو (پیالو) کښی راکښته کوی یوه پیاله د سړی د هونکو او بدلی ویونکو ته ورکول کیږی او دالاهم ورته ویل کیږی چه تر تا نږدی سره د ریه بانډ او بدل بانډه نسته او یوه پیاله د خدمتګاری ته ورکول کیږی سره د یو څه انعامه چه مقدار نی پنځه تکې ته رسیږی د خالص د سړی د جونو پابندی او چتیات دی.

(۶۶) تر دی د ورسته یو من یا د وه من شیر برنج په کلی او قبیله تقسیمیږی چه په

دغه کښی د پابندی څخه علاوه بیله ریا او فخره نور هیڅ نشته .

(۶۷) تر دی وړاندی مخ بنکاره کیږی تر پتو لو مخکی خوابنی یاد کورته پتو لو مسئره بنځه د ناوی مخ ګوری او یو څه مخ پیټک ورکوی دغه مخ پیټک هغه بنځه جمعه کوی کومه چه د ناوی سره وی د دغه د اسی سخته پابندی ده چه د هر چا سره مخ پیټک نه وی هیڅکله د ناوی مخ نه سی لیدلای ځکه چه د لعنت او ملامتیا د وندی درونده بار پرایښو ول کیږی چه هیڅکله ئی پوره نه کولای نسی - غرض دغه مخ پیټک ئی د واجبانو څخه بللی دی نو چه بنکاره تر شرعی حده زیادت دی بیا د دغه یو معقوله وجه نه را معلومیږی چه د دی پرذمه دا واجب دی چه پر مخ به لاسونه ږدی بلکه مخ پر لاسوایږدی چه دا څرنګه فرض سویدی او هم د اسی فرض که ئی ونه کړی نو په پتو لو کلی او قبیله کښی په بی حیائی - بی شرمی بی غیرتیا سره مشهور نه کیږی بلکه د اسی تعجب کوی لکه یو مسلمان چه کافر سی - نَعُوْذُ بِاللّٰهِ - نو بیا خپله روایه چه په دی کښی هم د شریعت د حدود و څخه د باندی وتل دی که نه دی په دغه شرم کښی اکثره بلکه پتو لی ناوی یانی لمنځونه قضا کوی چه د ناوی سره ورسره ده هغی بنځی که موقع پیدا کړه په دی ئی لمونځ وکړی نو خیر دی - وَرنه - د بنځو په مذهب کښی ودی ته اجازه نشته چه په خپله ولاړه سی یا وبل چا ته روایی د خپل لمانځه بندوبست وکړی - د دی د پاره لږ دوری دوری بنوریدل خبری کول ، ځکه کول ، پوډی خوړل ، او به چښل ، که په بدن کښی خارش وی دغه ځای ګرډول یا د اربډی یا ځان عزیدلو غلبه پرراسی نو اربډی کښل یا ځان عزیدل ، یا خوب ورته راسی بیدیدل ، یا وړی یا غټی بولی ورته راسی د دغه ډول چه بولی را غلی دی د غه پتو ل د بنځو په مذهب کښی حرام دی بلکه کفر دی د دی فکر د وجهی څخه ناوی د ری څلور ورځی مخکی بالکل خورک چښل پریږدی چه بیا د وړو یا غټو بولو ضرورت پیښ نه سی چه په پتو لو کښی بد نامه سم . خدای پاک بنه پوهیږی چه دی بیچاره څه ګناه کړیده چه په دغسی سخته تاریکه کوټه (خونه ، منډو) کښی ئی د ا مظلومه قید کړیده پخپله فکر وکړه چه په دغه ټنی بیله دلیله یو مسلمان ته تکلیف ورکول دی که نه دی - او دا خبره یاد وساته چه د لمانځو نو د قضا کولو ګناه خو د ناوی

پرغاړه یعنی سته لیکن د دی پتولو بنځو پرغاړه هم د غوندی گناه ده کوم چه د دی په برکت د غه ړواجونه پوره کیږی او قائم سویدی د دی سبب د دغو پتولو خرافاتو بندول په کار دی او په بعضو ښارونو کښی دا بیهودگی ده چه د قبیلی پتول خلگ هم د ناوی مخ وینی گډه ای ځنی جوړه کړیده۔ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَ نَعُوْذُ بِاللّٰهِ۔

(۶۸) د غه پتولی بنځی ئی مخ گوری تر د غه ورو سته د یو بنځی کوچنی د ناوی په غیږ کی کښینوی ناوی یو څه خوږی ورکړی بیا نو هلک د غیږی څخه ځنی واخلی دا د دی د پاره کوی چه ناوی ته خدای اولاد ورکړی لیکن دا هغه چتیات اود دی په اصطلاح نیکفالی ده۔ مگر هیڅ نه ده په جوړه۔ د دی باوجود د بعضو بنځو پتول عمر اولاد نه کیږی که څه هم ئی په غیږ کښی کوچنی ورکښینولی دی توبه توبه داڅه بیکاره خیالات دی۔

(۶۹) تر دی ورو سته ناوی نډوا خلی پرچار پایی اوکټ باندی ئی کښینوی بیا نو خد متگاره د ناوی د راسته پښی بټه گوته ورمینځی او هغه روپی یا نیمگه چه د ناوی په پلو کښی غوټه وه د بټی گوتی د پریولو په بدله کښی ورکوی معلومیږی چه دا هم یو قسم نارواني کفالی ده۔

(۷۰) د ناوی تر اتلو ورو سته د شیرینی دوی پیالی یوه پیاله د دی د پاره د دوهمه پیاله د خد متگاری د پاره چه د ناوی سره راغلی ده جوړیږی د غه وخت هم هغه اوده (۷۱) بنځی چه مړونه ئی ژوندی وی یو خای سره کښینی یو څو دانی د ناوی د خولی ته ددی بیچاره د پسخند د پاره ورنژدی کوی بیا ئی بیرته دوی په گډه سره خوری شاباش شاباش دا هم یو قسم نارواني کفالی معلومیږی۔

(۷۱) بیا د زوم والاوڼه خد متگاره د ناوی والاوو د خد متگاری لاس ورپه یمنځی اود اخد متگاره د خپل باندار د لاس بنو ونی سره موافق یو څه نقدی روپی د لاس پریمنځلو په بدله کښی ورکوی اوډوډی شروع کړی په د غه کښی هم هغه بې اندازی پابندی او په انعام کښی د جبر او زور خرابی ده۔

(۷۲) د ډوډی خوړلو په وخت کښی بدلی ویونکی بنځی بدلی وایي چه په بدلو کښی بنکنځل کوی اود دی خد متگاری څخه شیرینی اخلی ماشاء الله بنکنځل پرښکنځل ورته کیږی اود دی سره سره انعام هم ورکوی آیا د دی جهالت هم یو حد

سته خدای دی موب او ناسی ځندی وساتی.

(۷۳) هر دخت چه جهیز یعنی د ناوی کور د وی سړه خلاص کړی یوه جوړه هغی خدمتګاری ته د ورکوی چه د ناوی سړه راغلی ده او یوه یوه جوړه د ټولو عمه ګانو او خوندو په منځ کښی تقسیمیږی د اخوندانه سنه ظلم او جبر دی که دی خوښه ده که نه ده زه ستا میلمه یم که یو څوک دا وایی چه دا ظلم او زور نه دی دا خو ټولو قبوله کړیده او منلی ئی ده - نو جواب ئی دادی چه دوی پوهیږی که دغه شیان ورکول نه ومنو نو بدنامه کیږو - نو دا می په زور منلو څه فایده ده - که د زور منل او صرف پته خوله په حلال والی کښی کانی وی نو دیو چا څخه چه مال غلا کیږی دغه دی هم حلال سی هغه وخت چه مالک ئی پته خوله ناست وی بزغ نه کوی یا بو ظالم په زور د یو چا څخه شی اخلی او دی د بیړی پته خوله وی بزغ نه کوی نو دا رنګه منلو څخه دهیڅ مال نه حلالیږی نو دلته د ناوی څخه شیان اخستل کیږی هغه بس د شوم د سببه پته خوله ناسته وی. بعضی ځایونه دا هم رواج وی چه د ناوی په ورکړه سوی کور کی چه کومی بټوی (پتاکیدانی) کمربند و نه او ګلابتون وی هغه ټول عمه ګانی او خوندی سړه ویشی.

(۷۴) چه د شپی زوم او ناوی سړه یوځای سی نو بعضی بی حیا او بی شرمه بښځی پټی پټی ورته ګوری او د حدیث شریف د مضمون سړه موافق په لعنت کښی د الله پاک داخلیږی - (مشکوٰة شریف ص ۲۷۰)

(۷۵) سهار بیا د بی حیائی او بی شرمی کیږی چه د ماښام بستره او نور شیان کتل کیږی تر دغه لاړیات په بعضو ځایونو کښی غضب دی چه په ټول کلی او قبیله کښی ئی د خدمتګاری په واسطه ګرزوی او ټولو ته ئی ورښکاره کوی د چا پټ حال او راز معلوم مول مطلقاً حرام دی خصوصاً د داسی شرمناکی خبری شهرت ټول پوهیږی چه څوندی اندازه د بی عزتی خبره ده مګر افسوس دی چه په هغی وخت او موقع هیڅ چا ته بده نه معلومیږی خدای دی موځندی وساتی.

(۷۶) د ماز یګر او ماښام ترماښین د ناوی سړ غوړول کیږی او په دغه وخت کښی د ږی وهونکی غزلی او بدلی وایی نو د وی ته پاڼ بالا روپی یا پنځه تیکی د سړ دلاری ایستلو او سړ غوړولو پر نامه ورکول کیږی په دی کښی هم هغه بی اندازی پابندی او د مزدوری ورکولو خرابی موجوده ده.

(۷۷) دناوی دراتلو او وادہ کید و څخه یوه ورځ وروسته ددی عزیزان قریبان په (۲) ډرو (۳) څلورو ټانګو (بګیو) کښی سره د میټاینو او خوږو راځی ددی راتګ نوم څلرمه ده (لکه په پښتنو کښی چه درېمه ده) په دی کښی هم دهغه بیحده پابندی علت سته ددی څخه علاوه دغه رواج دکافرانو دی او دکافرانو سره برابری او موافقت منعه دی.

(۷۸) دناوی ورونه او داسی نور وکورونه راټول کیږی او دناوی سره په جلاځای او خونه کښی کښینی اکثره وخت دغه شرعًا نامحرم هم وی مګر هیڅ تمیز نه کیږی چه دنامحرم سره په جلاځای کښی کښینستل خصوصًا دزیب وزینت سره څوندی اندازه ګناه او بې غیرتی ده۔ (ترغیب ترهیب ص۳۲۲ دریم ټوک) اودوی دناوی ته یو څه نقدی پیسی او یو څه میټایی او خوږی د خورک د پاره ورکوی او دخلړی جوړه د سر د تیلو او عطرو سره او دخدمتګارانو څرخ وکورته ورلیږی دا ټول په هغه بې اندازی پابندی کښی داخل دی.

(۷۹) چه نایۍ (دلاق) دلاس پریمنځلو د پاره راځی نو هغه خپله شیرینی غواړی چه زیات تر زیاته ئی پاؤ بالایو روپی او لږ لږ ئی یو پاؤ دی دغه رسم اورواج ئی فرض بلکه تر فرض ئی هم بالا بللی دی هرڅه حقوق چه دخدای او دبندګانو دی هغه پریښو ول کیدای سی مګر په دغه خود ساخته حق کښی که رشتیا وپوښتی ناحق دی چیری امکان سته چه لږ فرق پکښی راسی بلکه پیشکی ځندی اخستل ډیری اول به دده قرض ادا کوی بیا ئی دوډی نصیب کیږی۔ استغفرالله دمیلمنو څخه قیمت اخستل او بیا دوډی ورکول دهغو خلګو کار دی چه دعقل دښمنان دی داهم بې حده پابندی او دشرعی دایری څخه وتل او په انعام کښی جبر اوزور کول دی.

(۸۰) دوډی خوړلو په وخت کښی دناوی والاوو بدلی ویونکی پردې نه کښینی کومی چه دخلړی (دخلګو) سره راغلی دی او خپلی بدلی چه خالص بنکنځل وی وائی به ئی او خپله شیرینی به غواړی او ورکول کیږی به عجیبه اخستونکی دی او عجیبه ورکونکی دی حاجتمند او مجبور خلګ چه دعاوی هم ورته کوی زاری هم ورته کوی لیکن یوه پیسه نه ورکوی او دا بد ذاته او بې غیرته شئ بنکنځل هم ورته کوی دوی لا روپی هم ورنه کوی بجنبی خدای پاک دی دغه خلګ پوه کړی عجیبه رواج دی۔

خدای پاک دی ئی زهوبن د ملک څخه ورک کړی.

(۸۰) د وهه ورځ د څلرمی جوړه ور واغوندی مړه د هغو خوښو وچه د ښاوی د کور څخه راغلی وی نادی رخصتوی اود پلار کور ته ئی ماشاءالله د دی میاښانو او خوښو د استولو او بیرته د ورلو څخه څه فایده حاصله سوه شاید چه د دغه مبارک کور د برکت د سببه به ئی د غه خوښی راایزلی وی چه په دی کور کښی به دا خوښی برکتناکه سی بیرته به ئی یوسو خیال وکړه چه د رسم په پابندی کښی عقل هم ئی اود بی حده پابندی گناه او الزام لاجلا پاته سو۔

(۸۲) اود نادی مړه زوم هم ئی اود رخصتید و په وخت کښی هغه څلور شیان د پوهږدنی په پلوونو کښی د رغوښته کوی چه د راوړید و په وخت کښی ئی هلته په پلوونو پوری تړلی وه او راغله د اهم چتیات او نارو اینکفالی ده.

(۸۳) هلته چه د رسیږی اوناوی راکښته کوی نو د دی دراسته پښی بښه گوته د هغه ځای خد متگاره د ر میږئ نیمکه یا روپی چه د ناوی په پلو پوری غوښته وی ځندی اخلی ئی هغه نارو اینکفالی دلته هم سته.

(۸۴) هروخت چه زوم کور ته ورځی نو خوښینی د ده څپلی پټوی د څپلی پټو لوپه نامه کم از کم یوه روپی ځندی اخلی شاباس یو خو غلا کوی اوبل لانور انعام هم ځندی اخلی اول خو یه د غسی بی فایده ځندا او ټوکه وکړه چه دیو چاشی ئی پورته کړی او پټ ئی کړی په حدیث شریف کښی د دغه څخه منعه راغلی ده۔ (مشکوٰة شریف ص ۴۰۹) او بیا دا چه دغه ځندا د نړه لګید و خاصه ده چه د دغه څخه په قید گرځیدل د منځه ځی د بیګانه او غیر محرم سړی سره د اسی علاقه پیدا کول پخپله د شرعی خلاف کار دی بیا د غه انعام لازم حق بلل او هم په زور سره اخستل نور زیات تر شرعی حدود و وتل دی بعضی ځایونه د څپلیو د پټولو رواج نسته مګر انعام ئی باقی دی نو دا هم چتی او عبث کار دی

(۸۵) تر دی وروسته لا د پیر بد کار په څلرمه کښی بازی او حملی وهل دی چه په بعضی ښارونو کښی رواج دی په دی کښی په دوندی لوبه او لوړه درجه سړه بی حیائی او بیغیرتی کیږی چه پوښتنه ئی مه کوه بیا د هر چا بنځی چه په دی څلرمه کښی د بازیو او حملو د پاره شرکت کوی نو د دوی مړونه سړه د دی چه د احال

ور معلوم دی خپلی بښځی نه منعه کوی او د نه منعه کولو په وجه سړه خپل ځانونه
د ؤسان جوړ وی. (چهل حدیث پرده ٔ شرعی ص۱۳۰) او د دی ټولو څخه علاوه میل
دکافرانو سړه مشابهت دی او بعضی وخت داسی زخمونه ور سړه ترلی دی چه
انسان بالکل نا آرامه کیږی دا بیا جلا گناه ده.

(۸۶) هر وخت چه زوم راځی نو د هغه ځای خدمتگار - دلاق - د ده د راسته پښی
بټه گوته ور مینځی خپل حق ځندی اخلی چه یوی روپۍ ته قریب وی او د نورو
خدمتگارانو څرخ په کور کښی ورکوی دا هم ناروا نیکفالی او په بی حده پابندی کښی
داخل دی په دی ټولو ځایونو کښی د نایی دلاق خدمتگار حق تر ټولو زیات بدلل
کیږی دا د هندوانو رواج دی د دوی په رواج کښی د نایئ او خدمتگار اختیارات
چونکه ډیر زیات دی د دی سببه د ده ډیر قدر دی بی علمه مسلمانانو خو
اختیارات د دی خدمتگارانو څخه اخستی دی د دی اختیار نه لری لیکن
تنخواه ئی هغه ورته مقرره کړیده کومه چه هندوانو ورته مقرره کړی
وه چه اکثره ځایونه خالص ناحقه اخستل او ورکول دی چه په هغه
ځای کښی هیڅ یو شرعی دلیل هم نه جوړیږی.

(۸۷) اوس نو د خورک وخت راغلی لیکن خدمتگار صاحب مرور ناست دی
زر تکلیفونه او خوشامد ور سړه وکړه مگر د ده لاس د ډوډی خوړلو د
پاره نه پورته کیږی او دا وایی چه تر څو پورې ما ته شیرینی را نه کړی زه
ډوډی نه خورم هر وخت چه زما حق را ور سیږی بیا ډوډی خورم سبحان
الله آباد عقل خبره ده چه ډوډی هم خوړی او د ډوډی خوړلو چه خپله
دی ئی خوړی شیرینی او حق هم غواړی د دغه بی تمیزی په طوفان کښی حیا
شرم، عقل او تهذیب ټول صرف نظر گړزی دلته هم په احسان کولو کښی زور
او په ور کولو کښی د ریا او نمایش علت موجود دی نو د دی سببه دا هم
ناروا او حرام کار دی.

(۸۸) د (۳) ځلور (۴) ورځی ورسته بیا زوم والا ناوی را ولی سړه د زومه - چه
د دی ته په یو خاص نامه وایی او په دی کښی هم هغه ټول رواجونه کیږی
کوم چه په څلرمه کښی سوی وه هر څه بدی او گناوی چه په هغه کښی دی
هغه دلته هم وبوله.

(۸۹) تر دغه ورسته د ناوی د پلار دکور څخه یو څو ښځې د ناوی د را وستلو د پاره ورسره راځی او د خپل ځان سره خورمانی ورسره راوړی په دی رواج کښی هم هغه بی حده پابندی موجوده ده.

(۹۰) دا خورمانی په ټول کلی او قبیله کښی ویشل کیږی په دی رواج کښی هم هغه ریاکاری او نمایش سته کوم چه نارواوالی ئی بیان سو ید ی.

(۹۱) ادبیا چه د دی ځای څخه روانیږی او د پلار کور ته بیرته ځی نو نوری خورمانی ورسره وړی دلته هم هغه بی حده پابندی موجوده ده.

(۹۲) چه د پلار کور ته ورسی نو دا خورمانی ویشی هغه فخر او ریا دلته هم سته

(۹۳) بیا چه شب برات یا محرم (یعنی د حسن حسین میاشت) وی نو ناوی د پلار پر کور وی دا پابندی دکوم ایت او حدیث څخه ثابته سو یده ده دی وجه صرف د جاهلیت یو خیال دی چه محرم او شب برات نعوذ بالله نامبارک وخت بولی د دی سبیه چه ناوی د خپل خاوند پر کور وی نامناسبه ئی بولی.

(۹۴) او ورځه شریفه ئی هم هلته وی چه اختر را نژدی سی تانگه (بگی) ورته راستوی را وی بولی - مطلب دادی چه هر تاپی د غم، لوبی او سوځلو وی لکه محرم چه د غم او رنځ تاپی او زمانه بلل کیږی په ورځه شریفه کښی لوبه او شنده بنکاره ده - شب برات ته عام خلګ د سوځلو محلو په او ورسره د بازی کولو، پټاکی الوزولو شپه وایی غرض دغه ټولی د پلار حصی دی - او اختر چه د خوشحالی تاپی او زمانه ده نو ناوی باید د خپل خاوند پر کور وی - لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ.

(۹۵) او د پلار دکور څخه دُوَّه دری جنسه مثلاً ماچی، اوړه، میوه او داسی نور شیان پر داسی موقع د زوم کور ته راوړل کیږی - زوم او ناوی ته جوړه سره دیوڅه نقد روپیو چه دوی په یو خاص نامه ورته وایی او دغه رنګه یوڅه شیرینی د ناوی د پلار د خوا ورکول کیږی دا دار نګه ضروری فرض دی چه سود دی وکړی مګر دغه دی قضا نه سی. بنکاره خبره ده چه دوی د شرعی حدود و څخه تجاوز او تیری کوی.

(۹۶) تر نکاح ورسته تریوه یادوُو کالو پوری د ناوی د راوستلو په وخت کښی که د پلار دکور د خاوند کور ته ځی یا د خاوند دکور د پلار کور ته ځی یو

څه میتایانی، خوږی یوځه نقدی پیسی د کالو جوړی او داسی نور شیان ورسره
وړی او په عزیزانو او قریبانو کښی بنی میلمستیاوی ورته کیږی مګر د جرمانی
میلمستیاوی دی چه د بدنامی څخه د ځان خلاصولو د پاره یا د نامداری
د حاصلولو د پاره د اټولی نقمی کیږی بیانو په دی سوغاتونو او میلمستیا و
کښی د بدلی او برابری پوره لحاظ ساتل کیږی بلکه کله کله پخپله شکایت کوی او
په خوله درته وایی چه میلمستیا راته وکړه - غرض تر لږ ورځو پوری دغه
مرحبا خوشامد که رشتیاوی که درواغ وی جاری وی بیا یکدم قطعه اوخلاص
سی. هیڅوک پر هیچا بیا پوښتنه نه کوی او دهغه ټول چاپلوسان او غوړه
مالان بیا نه پرناوی پوښتنه کوی او نه ئې په حال ځان خبروی او هر څوندی
غمونه چه د ددی پرسر راسی خپل غمونه دی برداشتوی او ګالی - کشکی دغه
پیسی او مصرفونه چه د کورنۍ د ورځې څخه شروع دی بیا تر اوسنی تاریخ
پورې را اخستل سوی وای د ددی دواړو د پاره یو جایداد په رانیول سوی
وای یاد تجارت یو سلسله په شروع سوی وای نو د ددی د پاره به څونده
د استراحت ژوند وای د اټولی خرابیانی د دنی رواجونو د پابندی د وجهی
او سببه پیدا کیږی.

(۹۷) د دواړو طرفونو شیرینی د دواړو په کلی او قبیله کښی تقسیمیږی چه علت
ئې هغه ریا او نمایش دی او که د اشیرینی و پټولو ته نه ورسیږی نو بیا به
ئې د خپلو کورنۍ ورکوی د اهم یوه جرمانه ده.

(۹۸) په بعضو ځایونو کښی نادی د واده په ورځ سیل او چکرته و باسی د اهم
د کافرانو رواج دی.

(۹۹) بعضی خلګ په ډولی (کجاوه) کښی د نادی سره قرآن شریف اینږدی دا
هم ګناه ده ځکه چه د قرآن شریف بی ادبی ده.

(۱۰۰) بعضی ځایونه د زینت انتظام کیږی. مثلاً تانګی، بګۍ او موټران ئې په
ګلونو سره بنایسته کړی وی. ئې واده را وړی او آتش بازی کوی په توپکانو او
کلاشنکوفونو سره ټکان کوی په زرها و مرمی او ګولۍ مصرفوی چه سر تر پایه
ضرر او د مال بی فایدی مصرفول دی چه په حرامو والی کښی ئې هیڅ شک نسته.

(۱۰۱) بعضی ځایونه انګریزی یا هندوستانی سرود ونه وی چه د ددی حرامو والی په

حدیث شریف کښی موجود دی. (مشکوٰة شریف ص۳۱۸) او یوځای ځلی رقص او ناچ هم کیږی چه د دغه حرامولی په اول باب کښی بیان سویدی.

(۱۰۲) بعضی تار یخونه، میاشتی او کلونه منحوس او ناسی بولی مثلاً د اتلسو[۱۸] کالو په عمر کښی واده نه کوی ناسی ئی بولی یا د دوو[۲] اختر انو په مابین کښی واده نه کوی دا عقیده بالکل د شریعت خلاف او د عقل مخالفه ده.

(۱۰۳) بعضی ځایونه چه وناوی ته کور ورکول کیږی نو په دی سامانو کښی بعضی شیان د سپینو زرو وی مثلاً د پلنګ پښی د سپینو زرو وی د سپینو زرو رنجونو وی داغه رنګه د رنجونو نی لرګی، ټکوری او داسی نور شیان د سپینو زرو دی چه استعمالول ئی حرام او نار وادی په حدیث شریف کښی ئی صاف صاف ممانعت راغلی دی. (رواه البخاری فی المنتقی ص۴۷۲) لهٰذا د دی ورکول هم حرام دی ځکه چه دغه یو حرامی خبری ته تقویت ورکول او موافقت ورسره کول دی دغه ټولی واقعی ترسلو[۱۹] بالا سوی چه په دغو کښی په یوه کښی یوه ګناه په بله کښی دوه[۲۰] او په بله کښی څلور ګناوی یا پنځه او په بعضو کښی تر دوه دیرش[۳۲] پورې جمعه دی که په هر رواج او واقعه کښی په میانه ډول درې[۳] درې ګناوی شمار کړل سی نو د غه واده د دوه سوو[۲۰۰] ګناوو څخه لاد زیاتو مجموعه ده په هغه نکاح او واده کښی چه تر دوه سوو[۲۰۰] څخه د زیاتو احکامو شرعیه وو مخالفت سوی وی په دی واده کښی به نو څه خیر او برکت وی غرض دغه ټول رواجونه د دغو لاندنیو ذکر سوو ګناوو څخه ډک دی.

(۱) اسراف کول (۲) بی اندازی ریا او فخر (۳) بی اندازی پابندی (۴) د کافرانو سره برابری او مشابهت (۵) سود کول یا بیله ضرورته قرض اخستل (۶) انعام او احسان په زور اخستل (۷) بی ساتری (۸) شرک او د عقیدی خرابی (۹) د لمنځونو قضا کیدل یا په مکروه وخت کښی کول (۱۰) په ګناه کښی کومک کول (۱۱) پر ګناه قائم او برقراره او سیدل او ګناه سپه بلل چه مذمت او بد والی ئی په قرآن مجید او حدیث شریف کښی صاف صاف ذکر سوی دی. (سورة نوح رکوع اوله او سپاره تبارک (۲۹) — مشکوٰة شریف ص۱۰۰) مجمع البحار ص۲۴۲ د دهم ټوک الجامع الصغیر للسیوطی ص۱۶۱ د دهم ټوک) لکه چه دلته لږ غوندی بیانیږی.

الله تبارک و تعالیٰ ارشاد فرمایلی دی چه بی نایه ی مال مه مصروفوه بیشکه

الله پاک نه خوښوی اسراف کونکی او فضول مصرف کونکی - (سورة الاعراف درېمه رکوع الثمه سپارې ۸) او دوهم ځای ئې فرمائیلی دی - اسراف کونکی د شیطان وروڼه دی او شیطان د خپل رب ناشکره دی - (سورة بنی اسرائیل درېمه رکوع پنځلسمه سپارې) او په حدیث شریف کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه هر سړی د یا کار ی د یارې یو کار وکړی خلګو ته ئې ورښکاره کوی نو الله پاک به د ده رسوائی وخلګو ته ورښکاره کړی او هر څوک چه د اوږدلو د یارې یو کار وکړی نو الله پاک د ده عیب وخلګو ته په ورځ د قیامت بیانوی او ورادوی یه - (الجامع الصغیر ص۲۳۸ دریم توک)

په قرآن شریف کښی راغلی دی چه د الله تعالی ترحدودو تجاوز او تیری مه کوی سورة بقره رکوع ۲۸ جزء دوهم - د دی څخه معلومه سوه چه هرشی په شرعه کښی ضرور نه وی د غه ضروری بلل او د د غه بی ده پابندی کول بدکار دی ګڼه په دغه کښی نو خدائی حد تجاوز او تیری دی او په حدیث شریف کښی راغلی دی چه لعنت وئیلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسود اخستونکو او پرسود ورکونکی او فرمائیلی دی چه په ګناه کښی د واړه سره برابر دی. (مشکوٰة شریف ص۲۳۶) او د فرض اخستونکی په باره کښی هم په حدیثونو کښی ډیر سخت زنګنه او ملامتیا او منعی راغلی دی - (الجامع الصغیر ص۱۷ دوهم توک)

د دی سببه بیله ضرورته د قرض اخستل منعه سویدی او ګناه ده - او په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د هیچا مال حلال نه دی بیله خوشدلی او رضا د نهه - (کنوز الحقائق ص۱۵۴) د دی څخه معلومه سوه چه هر قسم زور کول مجبورول کول، سیاست او رعب پراچول شی ځنډی اخستل حرام دی. او په حدیث شریف کښی راغلی دی چه لعنت دی وکړی خدای پرکتونکی او پرهغه چا دی خدای لعنت وکړی چه د هغه ته کتل کیږی - (کنوز الحقائق ص۱۲۹) د دی څخه د بی ډډګی او بی ستری بدوالی او حرامخوالی ثابت سو چه پرکتونکی هم لعنت دی او چه د مخ ته راسی په احتیاط سره ستر او پرده ونه کړی پرهغه هم لعنت دی او د سړی کتل وداسی بنځی ته چه نه د د ده خپله بنځه وی او نه د د ده د پاره محرمه وی او د بنځی کتل وداسی سړی ته چه نه هغه د د ی میړه وی او نه د د ی د پاره محرم وی د غه د واړه ګناوی دی.

د شرک ګناه چاته نه ده معلومه بلکه هر چاته معلومه ده. او په حدیث شریف کښې راغلی دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابانو مبارکانو رضی الله تعالیٰ عنهم د هیڅ کار پریښوول کفر نه بالی بیله لمانځه. (مشکوة ص۵۹) دګوره د دی حدیث شریف څخه د لمانځه د قضا کولو څوندی بد والی معلوم سو چه د انسان ایمان صحیح او برابر نه پاته کیږی او الله پاک فرمایلی دی چه یو دبل سره کومک او مدد نه کوی په ظلم او ګناه کښې (سورة المائده) او په حدیث شریف کښې راغلی دی چه په نیکی او بنه کولو سره دی زړه خوشحاله کیږی او په بد کار کولو سره دی زړه خفه کیږی او بدیږی بس نو ته مسلمان یې. (مشکوة شریف ص۸) د دی څخه معلومه سوه چه ګناه بنه بلل او پر ګناه دوام او همیشتوب کول برقراره پر پاته کیدل د ایمان وبرانونکی او خرابونکی دی او په حدیثو کښې خصوصاً د دغه جهالت د رواجونو په شان کښې ډیر سخت عذابونه راغلی دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه تر تولو ډیر بغض د خدای د د رو کسانو سره دی د دی (دریو) څخه ئې یو داهم بنوولی دی چه هر هغه څوک د اسلام ته راسی د جاهلیت رواجونه کوی او د غواړی یې (مشکوة شریف ص۱۹) د دی حدیث څخه علاوه نور هم ډیر حدیثونه دی. موږ ډیرینه بیا نور - نو بیا پر مسلمان فرض، واجب او د ایمان او عقل خبره داده چه د دغو رواجونو بد والی په عقل او شرعه معلوم سو چه همت وکړی او تولوته الوداع او خیر باد ووایی یعنی پری یه بدی نامه او بدنامی ته ونه ګوری بلکه د دی تجربه سویده چه د الله پاک په اطاعت کښې د ژوند عزت او نیکنامی دی او د دی تولو رواجونو د پریښوولو او موقوفه کولو د وی طریقی دی - یوه داچه تول کلی او قبیله اتفاق وکړی په ګډه سره دا تول رواجونه او جنجالونه ختم کړی د دغه طریقه داده چه څوک د د ه سره ملګرتیا نه کوی نو دی پخپله د دی رواجو په ترک او پریښوولو شروع وکړی یعنی نه دی کوی نور خلګ چه وګوری انشاء الله هغه هم داهنسی کوی دا رواجونه پریږدی څکه چه د دی رواجونو او خرافاتو څخه تول په تکلیف او مصیبت اخته دی داغه رنګه انشاء الله په یوځور ځوکښې پر تولو خلګو باندی تاثیر کوی او شروع کونکی ته ئې د قیامت تر ورځې پورې ثواب رسیږی او تر مرګ وروسته هم خدای پاک د ده ته ثواب

ورکوی بعضی خلګ وایی چه صاحبه دهرچاچه په طاقت پوره دی هغه دی
دغه رواجونه کوی او چه په طاقت ئې نه دی پوره هغه دی نه کوی د هغه جواب
دادی اول خو د طاقت دا ره خلګو د پاره هم ګناه کول روانه دی هر وخت چه دی
رواجونو په کوبنې ګناه ثابته سوه بیا نو چه طاقت او توان دی رسمونو
لری هغه ته دکومی حوا اجازه ده . دوهم داچه هروخت ئې مارې او سیتان
خلګ کوی نو د دی د قوم او قبیلی عزیب خلګ ئې هم دخپل عزت د ساتنی پاره
ضرور کوی د دی سببه ضروری او انتظام خبره داده چه ټول خلګ دی پریږدی
بعضی خلګ وایی چه که دا رواجونه پریښوول سی بیا د مینی محبت ناستی او
ولاړی هیڅ صورت نه پاته کیږی د دی جواب دادی چه اول خو د مینی
محبت او خلط اوګډون په غرض دګناه بوکار په هیڅ طریقه نه دی روا اونه
روا کیږی او بل داچه ناسته ولاړه ننګ او ناګ پرده غه موقوف نه دی بیله
پابندی د رواجونو که دیوه بل کورته ولاړ سی یا هغه را وبولی ـ او
میلمستیا ورته وکړی امداد ورسره وکړی بنه اخلاق ورسره وکړی لکه په
یارانو اود دستانو کښی چه دغه طریقه جاری ده نو آیا دغه ممکنه نه
ده ـ بلکه اوس د دغو رواجونو په برکت پرځای د محبت او الفت چه د ناستی
ولاړی خلط اوګډون څخه مقصد دی اکثره وخت رنځ او غم ، خبره او بد دول
شکایت ، د زړه کینه او بغض تازه کول ، د محفل او مجلس والاو عیب جوئی
د د دی د ذلیله کولو د پاره کوشش کول ـ او د دغه قسمه څخه نوری خرابیانی
هم پکښی معلومیږی او چونکه دا رنګه اخستل او رکول ، ډوډی او اوبه
رکول د رواج د سببه څخه لازم سویدی د دی سببه هیڅ خوشحالی او
مسرت هم نه پکښی حاصلیږی نه ورکونکی ته چه هغه ئې د چا ګوغوری
او یو بیګار بولی او نه اخستونکی ته هیڅ خوشحالی پکښی حاصلیږی ځکه
چه دی ئې خپل ضروری حق بولی بیا نو لطف او خوشحالی چیری پکښی سته د دی سببه د دی
ټولو چتیا تو موقوفه کول واجب دی په کورده کښی زبانی وعده کافی ده نو د خجام دلاک
ضرورت نه د جوړی . زبانی او شیرینی حاجت سته چه دواړه د نکاح قابل سی نو زبانی یاد
خط په ذریعه یو وخت مقرر او معلوم کړه زوم را وبوله یود ده سر پرست او
یو د ده خدمتګار چه د ده سره راسی بس کافی دی نه د زدم د حوا د پوښ او

دامی نور د شیانو د ډیلو ضرورت دی او نه د ورا ضرورت سته چه نکاح دی
ورد تړله نوره یا یوه او نیمه ورځ ئی میلمانه کړه بیائی رخصت کړه او د خپل طاقت سره
برابر کوم ضروری او د کار شیان چه په کور کښی ورکوی نو بیله دی چه جهان په
خبر کړی یائی شهرت وکړی د خپلی لور یا خور د کور ته ئی ورولیږه یا په خپل
کور کښی دغه شیان ددی په تصرف او تحویل کښی ورکړه د اچه ئی هر وخت
درې هفه وخت دی ئی یوسی نه د خوسړ د جوړی ضرورت سته نه د دریمی
او خلرمی حاجت بیاچه ئی هر وخت نږدې وغواړی ناوی والادی را و بولی میلمانه
دی کړی او هر وخت چه موقع وی زوم والادی را و بولی میلمانه دی کړی خپلو
خپلو خدمتګارانو ته دی د خپل توان او طاقت سره برابر هریو پخپله خپل
خدمتګار ته یوځه څه شی ورکړی نه دی دئ ددی وی څخه څه شی
اخلی د خپلو خدمتګارانو د پاره نه دی هغوی د ده څخه څه اخلی د خپلو
خدمتګارانو د پاره۔

د ناوی د پاره پرمخ لاس نیول هم هیڅ ضرور نه دی او خوښی، روپی
پرې اشل هم فضول او عبث کار دی که دی توفیق او توان وی نو په شکرانه
کښی د غریبانو او یتیمانو مسکینانو ته څه ورکړه د هیڅ کار د پاره قرض مه اخله
البته ولیمه سنت ده لیکن په صحیح نیت سره د اختصار سره به وی نه د اسی چه
د پاره د فخر او شهرت وی ورنه د اسی ولیمه هم روانه ده۔

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د ارنګه ولیمه شر الطعام (یعنی هغه
شر د ډوډی) ده چه ترد غه نوبله بده او بیکاره ډوډی نسته۔ (مشکوٰة شریف
ص۲۷۱) د دغه سببه نه د غسی ولیمه روا ده نه ئی قبلول او خورل روا دی

د دی څخه معلومه سوه چه اکثره میلمستیاوی د کلی قبیلی د پاره کیږی نه ئی
په خپله خورک روا دی نه ئی ویل ته ورکول روا دی۔ د دینداره سړی د پاره په کار
دی چه نه پخپله د غه رواجونه وکړی او په هر محفل کښی چه د غه رسمونه
وی هلته هیڅکله ولاړ نه سی بلکه د ان انکار وکړی۔

د قوم قبیلی خوشحاله کول د خدای تعالی جل جلاله د نارا ضه کیدو په مخالفت
کښی هیڅ کار نه سی ورکولای خدای تعالی دی پوه مسلمانانو ته د اسی توفیق
ورکړی۔

د مهر او ولور د زیاتولو او د پیرا خستلو بیان

د دی رواجونو د جملی څخه د مهر او ولور د زیات مقرره ولور رواج دی چه مخالف د سنت دی په حدیث شریف کښی راغلی دی چه حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه فرمائیلی دی چه خبردار ولور ډیر مه مقرروی۔ د دی سبب که چیری ډیر ولور مقرره ول د عزت خبره وای په دنیا کښی او د تقوای او د پرهیزګاری خبره وای په نزد د الله پاک نو ستاسی پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم به د مهر چه زیات ئی اخستی وای حقداره به وای ماته معلومه ده چه نبی صلی الله علیه وسلم دیو بی بی سره نکاح کړی وی یا ئی خپله لور په نکاح ورکړی وی تر دوولس اوقیو پورې زیات باندی په بعضو روایتونو کښی دوولس نیمی اوقیی راغلی دی (مشکوٰة شریف ص ۲۷۷)

بعضی خلګ وائی چه ډیر ولور د دی سبب څخه مقرره وُو چه خاوند ئی ایله نه کړی داعذر بالکل غلط دی اول هرځوک چه ئی ایله کوی نو بیائی خامخا ایله کوی او څوک چه ئی د ډیر ولور په سبب سره نه سی پریښو ولای هغه بیا ډیره به ګذاره ورسره کوی نه طلاق ورکوی او نه د بنځی په ستر ګه ورته ګوری هسی ئی بنده کړی وی۔

نه د د ه د کور سوه نه د پلار د کور سوه په خاوند نو څوک څه کولای سی نو داټول عبث او بی فایده عذرونه دی اصل خبره دا ده چه د فخر د پاره داسی کوی چه د فلانی لور سه د دنده پیسو خرڅه سوه چه بنه نان او شوکت ئی بنکاره سی نو د فخر د پاره یو کار کول چه روا وی هم حرامیږی نو هغه کار چه د سنت خلاف او مکروه وی فخر هم ورسره وی نو نور هم منع ده او بد کار بلل کیږی سنت خو دا دی چه د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د بیبیانو او لونو غوندی مهر مقرر کړل سی او که د زیات مهر مقرر ولو شوق ئی وی نو بیا دی دهر سړی د حیثیت موافق "مقرر کړی تر دغه دی ئی نه زیاتوی۔

د نبی علیه السلام د بیبیانو او لونو د نکاح بیان

د حضرت فاطمة زهرا رضی الله تعالیٰ عنها د نکاح بیان

اول حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه او بیا حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه د نبی علیه السلام څخه د دغه دولت عظمیٰ درخواست وکړی نو نبی علیه السلام دکم عمری عذر و فرمایه (تاریخ الخمیس ص۳۶۱) بیا حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه پخپله حاضر سو او په شرم ناکه الفاظو سره ئې عرض زبانی ورته وکړی نو فوراً د الله پاک د جانبه څخه حکم راغلی نو نبی علیه السلام ئې عرض قبول کړی۔ (تاریخ الخمیس ص۳۶۱ اول پتوک)

نو د دی څخه معلومه سوه چه په کوزده کښی د غه پتول کشمکشونه چه ډیر سبا رواج دی پتول لغوه او د سنت طریقی خلاف دی بس زبانی پیغام او زبانی جواب کافی دی په دغه وخت کښی د حضرت فاطمی رضی الله تعالیٰ عنها عمر پنځلسنیم کاله او د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه عمر یوویشت (۲۱) کاله وو۔ تاریخ الخمیس ص۳۶۱ ح۱

د دی څخه معلومه سوه چه تر دغه عمر ورسته په نکاح کښی ځنډ ښه نه دی او داهم معلومه سوه چه د بنځی او نر چه نکاح سره کیږی د دواړو په عمر کښی برابروالی مناسب دی او بنه دادی چه خاوند په عمر کښی تر بنځه لږ څه زیات وی۔ نبی علیه السلام ارشاد و فرمایه چه ای انس (رضی الله تعالیٰ عنه) ولاړ سه۔ ابوبکر (رض) عمر (رض) عثمان (رض) طلحة (رض) زبیر (رض) او یو جماعت د انصارو رضی الله تعالیٰ عنهم در سره راوله۔ (نو د دی څخه معلومه سوه چه د نکاح د مجلس ته د خپلو خاصو خلگو رابلل هیڅ پروا نه لری او حکمت په دی کښی دادی چه د نکاح شهرت وسی چه مقصود دی۔ خو په دی کښی دی تکلیف او کوشش نه کوی پروخت د نکاح دی د ډیرو خلگو چه نژدی وی او قربیان وی جمعه دی سی) او دغه پتول صاحبان حاضر سول او رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه خطبه وویل نکاح ئې وکړه۔ (تاریخ الخمیس ص۳۶۲ اول پتوک)

د دی څخه معلومه سوه چه نکاح پته تیروول هم خلاف د سنت ده او دا هم معلومه سوه چه که د پلار نکاح ترل زده وی خپله دی نکاح و ترې د خپلی

لږ د یارلس (اوخلور سوه مثقاله سپین زرئ مهر یعنی دلور مقرر سو۔ (تاریخ الخمیس ص۲۶۰ د دهم پوک) چه د مقدار اندازه ئ مخکی ذکر سوه.

د دی څخه معلومه سوه چه ډیر دلور مقرول هم د سنت خلاف کار دی بس د حضرت فاطمی رضی الله تعالی عنها دلور او مهر کانی او د برکت سبب دی. (او که د چا طاقت نه وی نو د غه هم کم مناسب دی) بیائ په یو کاسه کښی خورمای وی راوړی د حاضرینو د مخ ته ئ کښیښوی وی۔ (تاریخ الخمیس ص۲۶۳ ج۱)

بیا حضور صلی الله علیه وسلم حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها د حضرت ام ایمن رضی الله تعالی عنها سره د حضرت علی رضی الله تعالی عنه کور ته ور ولیږله (خوند و وگوری داد د واړه جهانو د شاه زادی واده دی چه نه چم د چا مائی پکښی دی نه د چا له او کجاوی کوم انتظام او نظم پکښی سته هیڅ هم نسته بی تکلیفه دی او نه ئ د حضرت علی کرم الله وجهه څخه د کیسانو او خدمتگارانو د پاره انعام وغوښتی او نه ئ د کلی او قبیلی چوډی وغیره وکړه

زمونږ د پاره هم لازمه ده چه د خپل پیغمبر د جهان صلی الله علیه وسلم د سردار پیروی وکړو او خپل عزت د نبی صلی الله علیه وسلم ترعزت زیات و نه بولو (نعوذ بالله منه) بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی کور ته تشریف راوړی او د حضرت فاطمی رضی الله تعالی عنها څخه ئ او به طلب کړی دِی مبارکی د لرگی په یوه کاسه کښی او به ورته راوړی (تاریخ الخمیس ص۲۶۱) (د دی څخه معلومه سوه چه نوی ناوی لره دوند ی شرم نه دی په کار چه پته به ناسته وی او څه کار او گرزیدل به نه کوی او عیب به ئ بولی حکه چه د غه د سنت مخالفت دی) نبی علیه السلام د خپلی مبارکی خولی او به بیرته په کاسه کښی واچولی کومی او به چه ئ څندی اخستی وی او حضرت فاطمی رضی الله تعالی عنها ته ئ د وفرمایل چه د ی خواته مخ کړه او د د ی پرسینی مبارکی او سر مبارک باندی ئ لږ څه او به و پاشلی او د عائ وکړه چه ای خدایه د د وی د واړو اولاد د شیطان مردود څخه ستا په پناه کښی درکوم بیائ ورته وفرمایل چه د ی خواته شا کړه او حضور صلی الله علیه وسلم د د ی د د واړو اوږد مبارکو په منځ کښی او به و د د پاشلی او بیائ هغه د عا وکړه۔ او بیائ په حضرت علی رضی الله تعالی عنه

او به را وغوښتی او داغه شان ئی د حضرت علی رضی الله تعالی عنه سره هم وکړه مګر دشا وطرف ته ئی او به نه دی ورپاښلی۔ (تاریخ الخمیس ص۴۱۱ ج ۱)
(نو په کار ده چه هر وخت زوم او ناوی سره یوځای کوی او د غه عمل وکړی چه د برکت سبب دی په هند وستان کښی داسی بدرواج دی چه تر نکاح وروسته هم خپله بنځه د خپل خاوند څخه مخ پټوی داغه رنګه په پاکستان او افغانستان کښی چه بنځه راوده کړی بنه تر ډیره وخته د خپل میړه څخه مخ پټوی لیکن دغه مخ پټول او شرم کول د شرم خبره ده) بیا ئی ارشاد فرمایه چه د بسم الله په برکت سره خپل کور ته ځی۔ (تاریخ الخمیس ص۴۱۱)

او په یوه روایت کښی راغلی دی چه د نکاح په وخ حضور صلی الله علیه وسلم د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه کور ته تشریف راوړی هم د ماښستن د لمانځه څخه وروسته او په یولوښی کښی ئی او به راواخستی په دغه اوبو کښی ئی خپلی ناړی مبارکی تف (تو) کړی قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ئی ووېل دغائی وکړه اوبیا ئی هغه اوبه په حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه او حضرت فاطمه رضی الله تعالیٰ عنها سره وچښلی او په هغه اوبو سره ئی داودس کولو حکم ورته وکړی او بیا ئی د دواړو د پاره دپاکی اویو دبل سره د محبت او مینی او په اولاد کښی د برکت او خوش نصیبی دعا وفرمایله او بیا ئی ورته وفرمایل چه ځی ولاړ سی ارام وکړی۔ (تاریخ الخمیس ص۴۱۱ ج۱)

که د زوم کور قریب (نژدی) وی نو د غه عمل کول هم سبب د برکت دی۔
اوکور یعنی هغه سامان چه د واده په وخت کښی ورکول کیږی وخپلی لوړ یاخور یا بل داسی چاته۔ د حضرت سیدة النساء فاطمی رضی الله تعالیٰ عنها کور دا ؤو۔ دؤه یمنی اسمانی رنګه چادران یعنی پټوان دوی نالی (کورپچی) چه دخور ماد درختی پوستوکی د پنبه ؤ پرځای پکښی وه او څلور بالښتان، دؤی د سپینو زرو کړی دلاس کولو د پاره یوه کمبله یوه پیاله یوه میچن یوه چاګله یا څړی (ګوډی) او د اوبو د پاره یو منګی۔ او په بعضو روایتونو کښی یو پلنګ یعنی چارکټ هم راغلی دی۔ (خمیس ص۳۶۱ اول پتوک ص۴۱۱ اتم پتوک) (خونده و په کور ورکولو یعنی دکور د پاره اسباب او سامان چه ناوی ورڅنی ورکول کیږی) د دری (۳) ورځو خبر وخیال ساتل په کار دی اول دکور په سامان کښی په دوند ه اندازه

اختصار لږوالی" چه تر طاقت او توان بالا وی دهغه بالکل فکر مه کوه چه پلار دی توان دصندق لری لیکن ته دلسو زړو یادیرشو زړو الماری خندی غواړی داکار نه دی - دوهم دضرورت لحاظ ساتل چه کومو شیانوته فی الحاله ضرورت دی هغه ورکول په کار دی دریم اعلان او بنکاره کول باید نه وی حکمه چه دغه دخپل اولاد سره سلوک او احسان کول دی نوروته دبنکاره کولو څه ضرورت دی - دنبی صلی الله علیه وسلم دفعل او کار څخه چه اوس بیان سو - دری سره خبری ثابتیږی او سرور کائنات فخر الموجودات کار دا قسم تقسیم کړی دی چه دکور دباندی کار حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه پر ذمه دی او دکور کار د حضرت فاطمی رضی الله تعالیٰ عنها پر ذمه دی (زاد المعاد ص۲۳۵ دوهم ټوک)

معلومه نه ده چه دهندوستان (پاکستان یا افغانستان) او داسی نورو ځایونو شریف زاده ښځې ولی دکور په کار شرمیږی.

بیا حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه (ولیمه) یعنی دواده وډوډی وکړه (تاریخ الخمیس ص۲۶۲ اول ټوک) چه په دی کښی داشیان وه یوځوکاسی داور بشو وډوډی یعنی اور بشینه پخه سوی وه او یوځه خورما او یوځه مالیده چه یوه کاسه دانګریزی سیر په حساب یو چټانګ بالا در (۳/۴) نیم سیره کیږی - نو د ولیمی سنت طریقه داده چه بیله تکلیفه او بیله فخره او ریاکاری په مختصره طریقه سره هغه قدری چه اسانه وی خپلو خاصو خلګو ته ډوډی ورکړی.

دنبی علیه السلام دازواجو مطهراتو (بی بی گانو) دنکاح بیان

د حضرت خدیجة الکبری رضی الله تعالیٰ عنها مهر اوولور پنځه سوه درهمه یا دغه قیمت اوښان وه چه ابو طالب پر خپله ذمه مقرره کړی وه - (سیرة ابن هشام ص۴۲۳ دوهم ټوک) تاریخ الخمیس ص۲۶۵ اول ټوک) او د حضرت ام سلمیٰ رضی الله تعالیٰ عنها مهر اوولور او استما لولویوشی وو چه قیمت یې لس (۱۰) درهمه ته رسیدی. (جمع الفوائد ص۲۱۹ اول ټوک سیرة ابن هشام ص۴۲۵ دوهم ټوک) او د حضرت جویریه رضی الله تعالیٰ عنها مهر څلور سوه درهمه وو - (سیرة ابن هشام ص۴۲۵ ج۲)

او د حضرت ام حبیبه رضی الله تعالی عنها مهر څلور سوه دینار ه وو چه د حبشه د ملک بادشاه پرخپله ذمه مقرر کړی وه - (زاد المعاد ص۲۷۲ اول پوک) او د حضرت سوده رضی الله تعالی عنها مهر څلور سوه درهمه وو - (سیرة ابن هشام ص۴۲۴ ج۲) او د حضرت ام سلمه رضی الله تعالی عنها ولیمه د اوربشو وه وه - (فتح الباری ص۶۰۷ نهم پوک) او د حضرت زینب رض بنت جحش په ولیمه کښی یوه بزه حلاله سوی وه غوښی او ډوډی خلګو ته ورکړه سوی وه - (رواه البخاری مشکوة ص۲۷۸ ج۱) او د حضرت صفیه رضی الله تعالی عنها په واړه چه د صحابه رضوان الله تعالی علیهم اجمعین سره چه څه موجود وه پوټلی راجمعه کړل دا ولیمه وه (مشکوة ص۲۷۸) د حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها ولیمه دا مبارکه پخپله فرمایی چه نه اوښ حلال سوی دی نه بزه - د سعد عباده رضی الله تعالی عنه د کور څخه یوه پیاله د شیدو راوړل سوه بس دغه ولیمه وه - (خمیس ص۲۵۵ ج۱)

د شریعت موافق دواده یوه نوی قصه

دا قصه د دی غرض د پاره لیکل کیږی چه اکثره خلګ د دی رواجونو بدوالی او خرابیانی واوری نو پوښتنه کوی چه څه وخت دا رواجونه نسته نو بیا په څه طریقه سره واده کول په کار دی د دی پوښتنی جواب د مهر د ډیرولو د بیان څخه لږ څه مخکی بیان سوی دی چه څه قسم واده کول په کار دی او بیا موږ د مخبر صادق پیغمبر صلی الله علیه وسلم د لوړو او بې ګانو د ودونو قصی هم اوس اوس ولیکلی د یوه انسان د پاره کافی دی بیا هم بعضی وایی چه صاحبه د هغی زمانی نورې خبری او قصی وی او هغه زمانه جلاوه اوس څوک داسی نه سی کولای که ئی وکړی بیائی راوښیه او صرف د ژبې پرسر د واده د سنت طریقی د بشو ولو څخه څه جوړه د ده نو د دی قصی څخه دا معلومیږی چه ټن سبا همدغسی د سنت برابر واده کیدای سی او دا قصه نه د ملایانو او درویشانو د خاندان د ده او نه د یو بل غریب سړی د ده نه د یو کوچنی قوم د ده بلکه د واړو طرفونو ته بنه د نیا دار ه او دولتمند، د نام او نښان خلګ او دابرو او عزت خلګ دی - د دی سببه هیڅوک داهم نه سی ویلای چه د ملایانو او فقیرانو جلا خبره ده یا داچه د دوی سره

حو هیڅ هم نه وه خو دې د شرعي موافق وادې وکړي د دې قصې په سبب سره له تول شبهات او شکونه او شبهې د منځه ځي د دې اغه کان خبره ده چه په ضلع (ولسوالي) مظفرنګر کښې په یو دوه کلو کښې په یوه کلي کښې د زوم والا او په بل کلي کښې د ناوی والا کور دی د ډیره ډیر ښه ښکلی دی او کور ونو په زړه نو کښې لوی لوی پروګرامونه وه لیکن پر عین موقع پروردګار عالم هدایت ورته وکړی او د شریعت حکم ځی واورید ی تول خپل خیالات ځی د زړه څخه لیرې کړل. د خدای او رسول صلی الله علیه وسلم وحکم ته اماده او تیار سول. نه د نارینځ د تا کلو د پاره یاد نکروزو د وړلو د پاره یاد جوړی کالیو د وړلو د پاره خدمتګار، دلاق - نایي - واستول سو نه نور عبث رواجونه پکښې رسول نه د ناوی د بدن د صفا کیدو د پاره په صابون یا په بل شی ښځې ورته راجمعه سوی بلکه دکور ښځو پخپله دغه کار وکړی - نه زوم والا او نه ناوی والا میا ستیاد پاره څوک راوبلل وخپلو کورونو ته نه ځی یو خپل عزیز او قریب ته اطلاع ورکړه -

د وادې او بنادې څخه پنځه شپږ ورځې مخکې د خط په ذریعه د وادې رخ د تا کل سوه - زوم او د زوم سره د دې یو مشر ورسره وو - د ناوی شرعي ولي د زوم د دغه مشر وورته د خط په ذریعه د نکاح اجازه ورکړی وه او یو خدمتګار یا راوخدمت د پاره وو او کم عمره وراره ځی د دغه مصلحت د پاره وو سره بوتلی وه د نه کورته د سوال جواب خبرې وړلو او راوړلو د پاره که ضرورت پیښ ی نود غه کوچنی د ستر او پردې قابل نه دی بې تکلیفه کورته ورتلای سی رته وایي - بس تول د دې نده خلګ وه چه د کرایي په یوه تانګه کښې بیستل جمعې په ورځ د ناوی کورته ورسیدل د ناوی جوړه هم د دې سره وه زوم د خپل کور کالی اغوستی وه او چه څه وخت هلته ورسیدل نو د انجیلي رته ځی خبر ورکړی چه د جمعې تر لمانځه وروسته به نکاح وی چه د جمعې لمانځه وخت نژدی سو نو د زوم جوړه د کور څخه راورسیده د غه ځی اغوسته جامع مسجد ته ولاړی د جمعې تر لمانځه وروسته اول واړه مولوی صاحب مختصر غوندی نصیحت وکړی چه په دی نصیحت کښې د خرابورواجو ځی دد په دغه وعظ کښې چه هرڅوندی خلګ وه ښه په یوه سول وروسته تر

وعظ نکاح وترل سوه - خو ما وی په کور کښی او د باندی تر کور تقسیم سوی کوم څوک چه نه وه راغلی د دوی وکور وته ور ونیږل سوی تر مازیګر مخکی ټول کار پوره سو - تر ما بنام ورسته ئ زوم والا ؤ ته بنه خوند وره ډوډی ورکړه لکه چه مخکی هم دوی د غه وخت خو له او د ما خستن تر لمانځه ورسته هم بنځو ته همغسی وعظ وسو پردوی ئ هم بنه تاثیر وکړی او پر خپل وخت بنه په ارامی سره بیده سوه .

سهار چه لږ څه لمر را وختی نو ناوی په یوه پانګه کښی سیره کړل سوه او رخصت کړل سوه یوه ئ خپله قریبه بنځه بله ئ یو خدمتګاره بنځه د خدمت د پاره ورسره ولیږله او د غه پانګه ئ ناوی ته په جهیز یعنی کور کښی ور کړی وه . د ډولۍ (کجاوی) او د اسی نور و شیانو ضرورت او هیڅ پابندی نه ور سوه او په جهیز یعنی کور ور کولو کښی هم ډولۍ یا د اسی بل شی نه ور کړل سو - او جهیز یعنی د ناوی سامان او کور هم د ناوی د رخصتید و په وخت کښی نه ورسره ور کړل سو -

ناوی والا وو - د خپلو خدمتګارانو ته او زوم والا وو خپلو خدمتګارانو ته پیسی او انعام ور کړی او زوم والا وو د سلامی روپۍ هم نه واخستی . د ناوی پرمرد پلیسو پاشلو پرځای بعضی مسجدانو او غریبانو مسکینانو ته پیسی او روپۍ ورولیږل سوی د ما پښین پروخت د زوم وکور ته راورسیدل د ناوی هیڅ لمونځ قضا نه سو کومی بنځې چه د ناوی د لید و د پاره راغلی وی د مخ د بنکارې کیدو پیسی نه ځندی واخستل سوی نه نور خو د ساخته سره واجونه پکښی ترسره سوه - په سبا ورځ ئ د بازار څخه یو څه خوند وری او بنی میټایانی - او خوږی را وغوښتی او د وه قسمه خورک ئ په کور کښی پوخ کړی مناسبو ځایونو یعنی خپلوانو ، د وستانو ، ملاقاتیانو ، غریبانو ، مسکینانو ، نیکبختانو او طالبانو ته واستول سوه . پر کور ئ هیڅوک میلمه نه کړی .

د ناوی والا وو د طرفه څخه د څلرمی درسم اورواج د پاره هیڅوک نه راغلی - درېیمه ورځ زوم او ناوی د ناوی ئ (اباګنی) کور ته سره ولاړه - او یوه هفته هلته واوسیده بیرته د زوم وکور ته راغلل په دی وخت کښی ئ جهیز یعنی کور هم لږ څه ورسره راوړی او یو څه ئ د بل وخت د را

دهلو د پاره پریښودی - د غه وخت ناوی اتفاقاً په هغه شی کښی سپره سوه
کوم چه د ناوی د پاره تیار یږی یعنی په ډولی کی سپره سوه او د غه هم قصداً
نه دو صرف اتفاقی پیښه سوه د زوم خدمتگارانو ته چه هرڅه د رواج سره
برابر درکول کیږی تر د غه زیات انعام پرد ی تقسیم سو غرض په داسی امن
او بیغمی سره واده وسو چه چا ته نه یو تکلیف ور پیښ سو نه یو طوفان راپورته
سو - زه هم د اول څخه تر اخیره پوری په دی خوشحالی کښی شریک وم دوندره
اندازه خوږ والی او ښایست دو چه بیان ئی نه سی کیدای د خدای په فضل سره
ټول کتونکی خوشحاله سوه او ډیر خلګ تیار سوه چه موږ به هم بیا دا رنګه
واده کوو لکه چه تر د غه درځی ورو سته د ناوی په کور کښی یو واده بل
وسو او هغه واده تر د غه واده هم ساده وو او لکه زیات ساده دی نسو
کولای نو دا رنګه ئی وکړه لکه چه په دی قصه کی تاته در معلومه سوه
الله تعالی دی موږ او تاسی ټولو ته توفیق راکړی - آمین یارب العالمین.

دکونډی د نکاح بیان

د دی بیهوده او عبث رواجونو د جملی څخه یو رواج دا هم دی چه دکونډی
شئ نکاح کول (یعنی چه یو ځای کونډه ښځه وی پخپله ئی په نکاح کړی
یا ئی په خپل کور کښی کونډه ورپاته سوی دی د بل چا ته ئی په نکاح ورکړی) بد ه اود شرم خبره بولی - خصوصاً شریف او معتبر خلګ په د غه کښی
ډیر اخته دی.

شرعاً او عقلاً لکه اوله نکاح چه د ه د اغه رنګه دوهمه نکاح هم د ه - د
دی د دا رو په منځ کښی فرق کول محض بی د لیله کار دی او بیعقلی د ه
په مسلمانانو کښی د غه ناروا خیال مړ ن په دی وجه محکم سویدی چه دا
خو د هند وانو رواج دی په دوی کښی ئی تاثیر کړیدی او بل دا چه کچیری
د خپلی کونډی نکاح د بل چا سره وکړم نو کومه چه دکونډی حصه د ه. په
جائیداد کښی هغه حصه بیا د دی تر مرګ ورو سته د دی خاوند وړی او زما
د لاسه وځی. د ایمان او عقل خبره دا د ه چه څرنګه اوله نکاح بیله کوم
د ریغه کوی د اغه رنګه دی دوهمه نکاح هم وکړی که ئی د د وهمی نکاح څخه

زړه تنګیږی نوئ د اولی ښځو لی نه تنګیږی د ښځو دا سی بد عادت دی چه خپله بله نکاح کول یا بلی ښځی ته د نکاح رغبت ورکول خو پریږ دی بلکه هر هغه ښځه چه د خدای جل جلاله د حکم سره برابر د وهمه نکاح وکړی نو په سپک نظر ورته گوری او بدی، بیکاره خبری ورته کوی او تانی او پیغور ورکوی او پرخاندی نو دا پیره سخته گناه ده - بلکه د وهمه نکاح عیب گڼل د کفر خبره ده څکه چه د شریعت حکم عیب گڼل کفر دی د فکر کولو ځای دی چه د حضور صلی الله علیه وسلم چه څوندی بیبیانی وی د حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها څخه علاوه بله هیڅ یوه هم پیغله نه وه (کتاب الاستعاب ص۳۹۵ د وهم توک)

یوه یوه د دی د وی نکاحی ئی مخکی سوی وی - نو نعوذ بالله و دغه ته هم بد وایی نو به نو به ستا شرافت او عزت د بی بی گانو نو ترعزت او شرافت هم بالا دی کوم کار چه بی بی گانو کړیدی خدای او رسول صلی الله علیه وسلم د هغه حکم ورکړیدی د داسی کار کولو څخه ستا عزت د بینه ځی په عزت کښی دی داغ پیدا کیږی پزه دی پریکیږی نو د دی خو دا مقصد سو چه اسلام ستا په نزد د بی عزتی خبره ده - العیاذ بالله - بنه ئی یاد وساته تر څو چه د دغه خیال د زړه څخه لیری نه کړی او له او د وهمه نکاح یو قسم ونه بولی تر هغو پوری ستا ایمان نه پوره کیږی د دی سبب د داغه کار خرابولو د پاره پیر کوشش کول په کار دی او ما سیوی د دغه کوشش څخه بل کوشش نایده نه کوی چه ننګ او ناموس د زړه څخه و باسی او د رواج څخه مخ واړوی - د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوشحالۍ کولو او راضی کولو د پاره فوراً او سمدستی د کونډو یا نو ښځو نکاح کول شروع کړی که چیری دوی انکار وکړی نوئ نکاح کولو ته تشویق کړی رغبت ورکړی کوشش وکړی زور پرو لګوی مطلب چه په هره طریقه سره نکاح ته تیار یږی هغه طریقه استعمال کړی او په دغه څان بنه پوه کړی چه دا صرف ظاهری او د خولی انکار دی چه فقط د رواج د سبب څخه کیږی چه رواج نه وای نو هیڅ به هم انکار نه وای کړی نو د کونډی د نکاح رواجول په کار دی چه عام رواج وګرزی او د زړه خدشات د زړه څخه وو زی په حدیث شریف کی راغلی دی چه څوک زما پاته سوی او پریښو ول سوی طریقه را ژوندی کړی

وجاری ئی کړی دی ته د شلو شهیدانو ثواب ورکول کیږی۔ (مشکوٰة شریف ص۲۲)
ددی سببه دکوندو بنځو په نکاح کښی چه هرځوک کوشش کوی اود کوندو بنځو د نکاح رواج پیدا کوی اوهرځوک چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوشحالی اورواجید و دپاره کوندو بنځه پخپله وکړی وځان ته ئی کښینوی نو د شلو شهیدانو ثواب ورکول کیږی۔ آیا تاته پردغو کوندو یانو ترس نه راځی چه ددوی وحال ته وګورې ستا زړه نه خوړه کیږی. چه ددوی خوعمر برباد سو۔ سرپناه ئی نسته او عمر ئی د خاورو سره برابر سو نو باید په نکاح ئی کړی او ته ئی سرپناه سی.

دریم باب

دهغورولجونو په بیان کښی چه خلګ ئی ثواب اودینی کار بولی اوکوی

دایصال ثواب (اوختم) بیان

اول په دی خبره ځان پوه کړه چه ومړی ته د ثواب رسولو طریقه څه قسم ده؟ نو د دی حقیقت بس په شرعه کښی فقط دوندی دی چه یوځوک یو نیک کار وکړی اود دغه نیک کار چه هرځوندی ثواب ودی ته ورسیږی دی دخپله طرفنه څخه دغه ثواب یو بل چا ته ورد بخښنی چه یا الله زما دغه ثواب د فلانی چا ته ورد رسوی او فلانی ته ئی ورکړی. (شامی ص۹۴۳ ج۱)
مثلاً یو چا د خدای په لار کښی یوڅه ډډه کړه، خوښی، روپی۔پیسی، کالی یا بل شی ورکړی او خدای تعالی ته ئی دعا وکړه چه د دغه کار چه هرڅه ثواب ما ته راورسیدلی دی دغه ثواب ئی د فلانی ته ورسوی. یا یو ډډه (۱) د ډوډی سپارې د قرآن مجید یا یو ډډه (۲) سورته ئی د ویل او ثواب ئی د بخښنی۔ برابره خبره ده که ئی دغه نیک کار ځان کړی وی یا ئی تر دغه مخکی په ټول عمر کښی یو رخت کړی وی د دواړه ثواب ورسیږی۔ دغوندی څو په شریعت ثابت دی اوس وګورې چه جاهلانو په دغه کښی د ځان څخه څوندی ډیر رواجونه ورګډ کړی دی اول لږ غوندی ځای راوکړی په دغه کښی د خورک یوشی کښیږدی بعضی خلق یو څه اوبه اوپان هم ور

سره ښه دی بیانو یو څوک د دی خبرې شی د مخ نه وه د ریږی یو څو سوه ځله نه وایي او نوم په نوم ئې د ټولو مړو ته وه بخښنی چه فلانی ته ئې ثواب وه رسوی او فلانی ته ئې ثواب وه رسوی په دغه خود ساخته طریقه کښی دغه خرابیانی اوګناوی دی.

(۱) لویه خرابی په دی کښی داده چه د ټولو جاهلانو د اعتقاد ده چه بیله دغې طریقې په بله طریقه ثواب نه وه رسیږی - نو به د هر یو کوه خوشامد کوی پسی ګرځی به نو چه په دغه طریقه ختم (ایصال ثواب) و نه سی ترهغو پورې د غه خبرې چاته نه وه رکوی ځکه چه بیله داسی طریقې کولو ئې چاته ثواب نه رسیږی نو څنګه به ئې چاته وه رکړی بعضی وخت غیر محرم د فاتحې د پاره کورته د ننه رابولی چه د اکاږ شرګانار وادی ما پخپله لیدلی دی چه ډیر د مړو ته ئې ایصال ثواب غرض وی چه د دغو مړو او مرده ګانو نومونه یاد یدل مشکل وی چه هر څوندی ئې وه رښیی نه ئې یادیږی ځکه چه ډیر وی نو هغه ختم کو نکی ته چه د وی ئې ثواب بخښو نکی بولی حکم وه رکول کیږی چه هر وخت ته ټول وایي نو لفظ د هوں وکړه نو بس د هوں کولو په وخت کښی د یوه یوه نوم وه رښیي او په ده ئې وایي او د وی جاهلان د اخیال کوی چه هر وخت د چا نوم یاد کړی نو هغه ته ثواب وه رسیږی. او د هر چا نوم چه د غه فاتحه خوان یاد نه کړی هغه ته ئې ثواب نه رسیږی - حالانکه د ثواب د بخښلو اختیار د ډوډۍ د مالک دی فاتحه دیونکی ئې اختیار نه لری د ده د نوم یاد ولو څخه هیڅ نه جوړیږی پخپله دی چه پې هر چا ته وه بخښنی و دی بخښی او چاته چه ئې نه بخښنی نه دی بخښنی دا ټوله د عقیدی خرابی ده.

بعضی کم علمه خلګ داسی وایي چه ثواب بیله د غه هم رسیږی لیکن د غه وخت سورته ددی سبب وایو چه د وچنده ثواب وه رسیږی یود خیرات او خورک ثواب بل د قرآن مجید ثواب وه رسیږی - ددی جواب دادی که چیرې دا مطلب وی نو خاص په د غه وخت کښی د ویلو څه دلیل دی ځکه چه د غه خو د بل وخت د قرآن مجید په ویلو سره هم پوره کیږی - نو چه بل وخت ئې قرآن شریف ویلی وی د هغه ثواب دی وه رښیی یادی و روسته قرآن شریف وایي ثواب دی وه رښیی

شائی مت ۹۳ اول پتوک) لیکن اوس ئی هیڅوک نه منی بس د خیرات سره د قرآن شریف ویل یو خای ضرور ګڼی۔ او بله خبره دا ده چه قرآن شریف بل څوک تلاوت کړی څه په جوړه ده حکه د هغه اختیار دی که ئی ثواب بخښی او که ئی نه بخښی پرهغه کوم زور او جبر نسته چه ستا د مړی ته ئی در بخښی ولی ئی خپل مړی ته نه در بخښی ستا د طرفه فقط د خیرات ثواب ور رسیږی۔ دا عجبه بنه زور دی چه موږ یو ثواب ور وبخښی نو یو څه دی هغه هم ور وبخښی۔

(۲) د خلګو دا عقیده ده هم ده چه په دغه طریقه سره ثواب رسیږی په بله طریقه سره نه رسیږی او دا رنګه طریقه چه وسی نو ثواب ئی بس ور رسیدی برابره خبره ده که دغه څورک او خیرات تقسیم او خیرات سی او که نه سی خو ثواب ئی خامخار رسیږی نو چه د نبی علیه السلام یا دیو بل بزرګ پرنامه ختم یعنی ایصال ثواب وسی نو پخپله ئی خوړی دیوولسمی میتا پی او خوږی د غوث الاعظم رحمة الله تعالی علیه پرنامه یا د داسی نورو ورځو د اچه تقسیموی نو ثواب صاحب، خان صاحب او ملک صاحب ته ئی ور لیږی فقیرانو او مسکینانو ته ئی نه ورکوی نو معلومه سوه چه د اخیرات نه دی بلکه یو تحفه او سوغات دی او که مقصد د قرآن شریف د ویلو ثواب رسول دی نو دا خورک بیا ولی تقسیموی غرض دا چه دا ټول روا جونه دی په شریعت کښی ئی ثواب نسته او دا ټول بی فائده او عبث کار دی نه دی۔

(۳) بنه دی موږ د منله چه ترختم ورسته دی هغه ډوډی ومړو خلګو ته نه ده ورکړی بلکه خاص دی د محتاجانو او مسکینانو ته ورکړیده نو موږ وایو چه محتاج او مسکین ته ور کولو او خوړلو مخکی د ثواب بخښلو څه معنی ده تاته خو ثواب هغه وخت رسیږی چه فقیر ته ئی ورکړی یا ئی په وخوړی۔ تر اوسه ئی تاته ثواب نه دی رسیدلی مړی بیچاره ته به څه شی ور وبخښی غرض چه دد ی کار هیڅ خبره پرخپل خای نه ده۔

(۴) د بعضو خلګو دا هم عقیده ده چه پخپله دغه شی و مړی ته رسیږی لکه چه د ډوډی سره اوبه، پان او بعضی چلم هم د دغه د پاره اینږدی چه ډوډی وخوړی نو به اوبه د کومه چښی بیا نو خوله بد مزه سی نو د دی د پاره د پان ضرورت واقع کیږی خدای پاک دی امان څندی راکړی

د جهالت هم یو اندازه وی. دا ئ هم عقیده کوی چه هرشی دده په ثروند کښی خوښ وو هغه شی دی د ختم (ایصال ثواب) د پاره وی دکوچنی هلک د پاره دی پرشید د ایصال ثواب وی - زما بنه په یاد دی چه یو وار د شب برات پر ایصال ثواب باندی یو سپین سری بنځی ډیری پتاکی یعنی صرصرانکی اینبی وی او ویل ئ چه دکه د آتش بازی ډیر شوق د سر لودی نه پخپله وو ایه چه داد عقیدی خرابی ده اوکه نه که

(۵) د اخیال هم کوی چه دغه وخت د مړی روح راځی نکه چه د لوبان او اگربتی د دود د لو څخه معلومیږی چه د مړی روح ته هم خوشبوي ورسیږی.

(۶) اوبیا چه ختم کوی نود پنجشنبی (جمعرات) په ورځ ئ کوی نو قید د پنجشنبی ئ هم د خپله خانه جوړ کړیدی په شریعه کښی ټولی ورځی برابری دی نود دی چه د خانه داسی کوی چه خامخا به د پنجشنبی ورځ وی دا منکر ده د شریعت خلاف کار دی اود شریعت حکم بدلوی اوبیا په دغه قید کښی یوه خرابی داهم ده. چه خلګ بیا داخیال کوی چه د مړو روحونه د پنجشنبی په ورځ وخپلو خپلو کورونو ته راځی که یو څه ثواب ورورسیدی نو خیر دی که نه ورنه سیدی نو خالی لاس بیرته ځی داخالص غلط خیال دی او بیله دلیله داسی عقیده ساتل ګناه ده - داغه رنګه یو تاریخ مقرر ول او داخیال کول چه په دغه کښی د مړ ثواب سته خالص دګنا عقیده ده.

(۷) داکثره عوامو داعادت دی چه د مړ خورک څخه یو لږ څه خورک په یو پیاله یا سترخوان کښی کښیږدی (ختم پرکوی په دی کښی د ذکر سو و خرابیو څخه علاوه یوه داخبره پوښتو چه فقط د دغه قدر خورک ثواب ورښخنی یا د ټولی نوداخو ډوډی ثواب ورښخنی

یقینی خبره ده که چه د دغه قدر دانه ورښخنی نو به داضرور والی چه د ټول خوراک ثواب ورښخنم نو موږ ورته وایو چه فقط پر دغه دی ولی فاتحه (ختم) وکړی - د دی څخه ستاد قانون موافق صرف د دغی کاسی (پیالی) ثواب باید ورورسیږی. باقی تمامه ډوډی ضائع سوه او بی فایده ی سوه اوکه داسی وائ چه دهغه نور خورک مخ ته اینبوول ضروری نه دی صرف نیت کافی دی بیا نو د دی پیالی او غاب د اینبوولو څخه ضرورت دی په دغه کښی هم نیت کافی دی - داخو توبه توبه خدای تعالی ته نمونه ورښکاره کول دی چه وګوره

یا رنگه خورک په دیگ کښی موجود دی د دغه ثواب راوبخښله نعوذ بالله منه
(۸) بیاکه د ثواب رسولو د پاره خامخا دغه خورک مخکی ایښوول اوختم
رکول ضروری نو چه روپی کالی پیسی غله او داسی نور شیان د ثواب د پاره
درکړه کیږی پر هغه باندی فاتحه (ختم) ولی نه وایی اوکه داضروری نه وی
نو د خورک په شیانو، میتیایانو، خوږو کښی ولی داسی کوی اوضروری ئی بولی
(۹) بیا موږ پوښتنه کوو چه د مخکی په ختو سره د ککړولو څخه ضرورت وو د غه
لخلخ نجسه وه که پاکه وه پاکیږی ناپاکه وه نو د ککړولو څخه هیڅکله نه پاکیږی بلکه
نور ه پسی خرابیږی ځکه مخکی د وچوالی د سببه څخه د پالی یا بل شی د
خرابیدو ډیره نه وه اوس هغه لوښی هم نجس یاخرابیږی که په اوله کښی پاکه
وه نو مخکه په ختو ککړول بی فایدی حرکت (کار) دی گواکی د هند وانو دختم
په شان ختم کیږی۔ لاحول ولا قوة الا بالله د غه رنگه په هر هغه څخه ختم کښی
چه ډیر اهتمام وی په هغه کښی نفری اوداسی نور هم په ختو ککړوی د د غه هم
د غه حال دی۔

(۱۰) د بزرگانو په ختم کښی به ټول شیان داسی وی چه تر اوسه به استعمال سوی نه
وی بالکل به جدید اونوی وی غیر استعمالی منگیان او غیر استعمالی لوښی راغوښتل
کیږی او د څادنو او جدید واو بوډکیږی دکور او به چه زیر استعمال وی هغه
به په دی منگیانو کښی او په لوښو کښی نه لویږی او نه به څوک دی لوښو ته
لاس وروړی نه به ئی په او بو کښی لاس اچوی نه به د دی لوښو د او بو څخه
څوک او به چښی۔ پتنوس، غاب بنه پریمنځی میتیایانی پکښی راوړی غرض چه دکور
ټول شیان مردار دی۔ دا عجیبه د عقل څخه مخالفه خبره ده که خامخا
مردار دی دکور لوښی۔ نو بیائی پخپله څرنگه استعمالوی اوکه صاف وی بیانو۔
د د وندی نکالیفو او جنجالونو څه ضرورت دی۔ شرعی حکم صرف دوندی دی
چه د هرشی خورک د خپل ځان د پاره روا وی د هغه شی ورکول فقیرته هم روا دی او
چه فقیرته دی ورکړی نو تاته ئی ثواب درورسیدی بیانو د غه ثواب بخښل روا
دی او بیانو د غه ټولی خبری بی فایدی او د عقل خلاف سوی که نه سوی؟ که
چیری دوایی چه صاحبه هغه خولوی د ربار دی بزرگان خلگ دی د دوی د حضور ته
په احتیاط سره شی استول، په کار دی نو جواب ئی دادی چه اول خو د خدای تعالی په

د سړی کښی د دی ظاهری احتیاط او پاکی هیڅ قدر نسته دده په نزد د حلال او لیب قدر دی ۔ (مشکوة شریف صفحه ۲۵۹) که حرام مال دی او د سړی (۱۰۰) واړه احتیاط وکړی ټول یکار ده دی او که حلال او پاکیزه مال دی نو دغه ټول تکلیفات عبث دی ځکه حلال ال هسی په معمولی ډول کولو سره هم قبلیږی.

دوهم داکه دچا دا عقیده وی چه هو بهو خاص دغه شی د دغه بزرګانو رګاه ته رسیږی نو دا حرام او شرک سو ۔ ځکه چه د دی خورک د الله جل جلاله په لار کښی او رکول مقصد دی نه پخپله هغه بزرګانو ته لیږل ود دوی په لار کښی او رکول. که یه دا عقیده وی نو بیا خو د هغه خورک هم حرام سو ۱۰

نو که د الله جل شانه په لار کښی او رکول او ثواب رسول ئ مقصود وی نو نکه څرنګه چه نور شیان د الله جل جلاله په لار کښی او رکوی ۔ مثلاً فقیر ته یو څه پیسی او رکوی نه ئ مینځی یا غله دانی یا د کور د پخوی ټای څخه د وډی یا بل شی او رکوی نو د عسی ئ په معمولی طریقه سره او رکړه ځکه چه دغه هم د خدای ج وهغه لوی درګاه ته ځی او هغه هم هلته ځی نو بیا په دې دواړو کښی فرق څرنګه راغلی بیا فکر وکړه چه په دغه کښی دیو حساب څخه بزرګانو ته پر الله پاک غټوالی او لویوالی ثابتوی او د زړه د دغه خدشه لاجلا پاته سوه چه هغه ټیک په ټیکه د بزرګانو د د سړی پاته ځی او د د خدای جل مجده او د د سړی پاته چه دا بنکاره شرک دی.

(۱۱) ترډی بد تر لا دا رواج دی چه د هر یوه ختم (ایصال ثواب) جلا جلا کوی چه د د خدای دی د د نبی علیه السلام دی د د حضرت بی بی د پاره ایصال ثواب دی د دغه خو بنکاره دا مطلب دی چه فقط د وندی وخدای ته او رکوم او د وندی د وندی و د هغو نور ته او رکوم ۔ نو آیا د د غه په شرک کښی یو څه شک پیښیدلای سی استغفر الله د د غه شرک والی او به والی په قرآن مجید کښی صاف صاف ذکر سویدی ۔ (سورة الانعام پاره ۸ ۔)

نو د د غه څخه توبه کول په کار ده بس ټول شیان د خدای په لار کښی او رکړه بیا نو هر څوند ی خلګو ته چه ئ ثواب او ربخښی و روئ بخښنه یو عجیبه خبره لایله ده چه د معمولی او کوچنی د رجی د خلګو ختم (ایصال ثواب) د ټولو پریوه ځای کوی د بزرګانو او لویو لویو خلګو د اجلا جلا کوی چه دی مقصد دا سو چه هغه

خو بیچارگان - غریبانان - مسکینان او کمزوری دی نو د دغه سببه که پریږده ځای
وی بیا هم پروا نه لری او د دغه خو غټ خلګ دی که په شراکت سره د دوی ایصال
ثواب (ختم) وی نو بیا به یو د بل سره دست وګریبان وی سره جنګیږی به یو به
والی د دغه زماد پاره سوی وُو بل به والی د دغه زماد پاره سوی وُو - لَاحَوْلَ
وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ

(۱۲) د حضرت فاطمی رضی الله تعالی عنها په ختم کښی دا هم شرط دی چه خوراک
دی بند وی بنکاره دی نه وی خلګ چه د اپرده دار ه او ستر ناکه وه نو دی
خوراک دی هم و غیر محرم ته نه ور بنکاره ګیږی د دی عبثوالی او بی فائده والی
په خپله بنکاره دی.

(۱۳) د حضرت بی بی فاطمی رضی الله تعالی عنها په ختم کښی یو دا قید او شرط هم دی
چه نارینه ئی نه سی خوړلای او که ئی خوری نو مخامخ به نه ور ته ګوری او
هره بنځه ئی هم نه سی خوړلای یو پاکه صافه دیندار ه بنځه به ئی خوری
او کومی بنځی چه د وهمه نکاح کړی وی هغه بنځه به ئی نه خوری نو دا څومره
د ګناه خبره ده چه په قرآن مجید کښی د دی بد والی بیان سوید ی. (سورة الانعام
(۱۶) رکوع او اتمه (۸) سپاره

(۱۴) د بزرګانو او اولیاء الله په ختم (ایصال ثواب) کښی یو ه بله خرابی د ه چه
خلګ د دی حاجت پوره کولو نکی او مشکل خلاصونکی بولی د دغه سببه ختم او
نذرانه د دوی پر نامه کوی چه زموږ کار و نه را وکړی او د دوی په ذریعه
زموږ کار و نه پوره سی اولاد ئی پیدا سی مال او رزق می زیاتیږی د اولاد عمر
ئی زیاتیږی هر مسلمان پوهیږی چه دا رنګه عقیده ساتل صاف شرک دی.
خدای دی موږ او تاسی څنډی په امان کړی - غرض د داسی عادتونو او رسمونو
بالکل پریښودل په کار دی که یو چا ته ثواب ور بخښل غواړی نو هر قسم چه
د شریعت حکم دی دا نه رنګه ئی سیده ساده ور بخښل په کار دی لکه چه
موږ مخکی بیان کړل او د دی ټولو عبث رواجونو پریښودل په کار دی. بس
بیله پابندی د رواج هر څه چه دی په توفیق او د رته آسانه وه اول ئی
غریبانو ته ور کړه بیا نو د دغه ثواب وبخښه. زموږ د دی بیان څخه - د
یوولسمه (۱۱) د دا رنګه نور د ټولو شیانو حکم ثابتیږی او په پوهیدلی به ئی - بعضی

خلګ پر قبرونو دیګونه باندې کوي د غه کار بالکل حرام دی او خوړل ئې هم حرام دی - مه ئې پخپله خورئ مه ئې بل ته ورکوئ خکه چه د د غه خوړل هم روانه دی ورکول ئې هم روانه دی .

(۱۵) بعضی خلګ پر مزارونو او زیارتونو باندې څادرات او پوښتونه هوارو وی او د د وئ نذر منی پوښ غوړول پر زیارت باندې منعه دی او په کومه عقیده سره چه خلګ دا کار کوی شرک دی او په نور و خیراتو نو او صدقاتو کښې هم جاهلانو پیر بې شرعی رواجونه د ځانه پیدا کړیدی لکه چه یو رواج په اکثرو جاهلانو کښې دادی چه د یو مریضی لپاره کولو د پاره شاهینانو او داسی نورو مرغانو ته غوښه وراچوی او دا ئې عقیده وی چه مریضی په د غه غوښه پوره وښته اوس د غه غوښه د خلګو د خوراک قابله نه ده نو دا هم د شریعت څخه خلاف خبره ده یو رواج دادی چه یو حیوان په بازار کښې په پیسو اخلی او بیا ئې هسې ایله کړی او دا عقیده لری چه موږ د خدای د پاره یو حیوان آزاد کړی خدای تعالی به زمونږ د مریض روح انشاء الله د مرض د تکلیف څخه خلاص کړی نو دا اعتقاد کول چه د نفس بدله نفس وی په شرعه کښې ددی هم هیڅ سند نسته د داسی بې سنده خبری اعتقاد کول هم خپله ګناه ده یو بل رواج تر د غه زیات سبب د غضب د خدای دی چه یو شی د خوړلو یا چښلو په لار کښې بربادی دا بالکل د کافرانو رواج دی د کافرانو یو رواج کول د غسی هم منعه دی او چه د د غه رواج سره عقیده لره هم خرابیږی نو په دی کښې د شرک او کفر بیره هم سته د د غه کار کونکی دا عقیده لری چه پرده باندې دیو پیری دیب ، پیر ، یا شهید ګرفت یا سیوری سویدی نو چه د د غه پرنامه پرلار باندې یوشی کښیښودل سی نو هغه خوشحاله کیږی نو د غه مریضی یا مصیبت څندی پوره ته کیږی نو دا بالکل د مخلوق عبادت دی چه د دی شرک والی صاف او بنکاره ده دی . او په دی کښې چه کومه د رزق بې ادبی کیږی او پرلار تلونکو خلګو ته تکلیف ورکول کیږی د د غه ګناه لاجلا ده .

یوئ دا رواج د ځانه جوړ کړی دی چه په بعضو ځایونو کښې ئې د خیرات کولو د پاره بعضی شیان خاص کړی دی لکه ماش او تیل او هغه هم د بنګی ته ورکول کیږی اول خو د داسی خصوصیت په شریعت کښې هیڅ سند نسته او بې سنده د

شی خاص کول گناه دی بیانو محتاجه مسلمان پریښودل او بنگی ته ورکول داهم د شریعت مقابله ده خکه چه په شرعه کښی د مسلمان حق زیات او مخکی دی. بیا په دغه کښی دا عقیده هم وی چه په دغه صدقه او خیرات پوری زما مریضی مبتلی ده نو دی سبب نی بیکاره، نجسو او مردار وخلگو ته ورکول په کار دی چه دوی ټوله الابلا دخوری نو دغه اعتقاد هم بی سنده دی اودا سی بی سنده خبری اعتقادکول هم گناه ده ددی سبب د خیرات دا رنگه طریقی پریښودل په کار دی. سمه اوساده طریقه اختیارول په کار ده چه خدای ج هرشی درته میسر او اسانه کړی وی. برابره خبره ده هرشی چه وی پټ نی فقیر او محتاجه ته په دی عقیده ورکړی چه خدای تعالی په دغه سره راځنه خوشحاله کیږی اودی خیرات په برکت سره بلا او غم راځنه لیری کوی او دفعه کوی نی تر دغه زیات نوری ټولی بی فایده جگړی او جنجالونه دی بلکه گناه ده یوه رواج نی دغه دځانه جوړکړی دی چه قلچی، روغانی یا بل داسی شی پوخ کړی بنځی نی مسجد ته یوسی خاص پر محراب یا منبر باندی نی ایږدی او بعضی ځایونه باجه او سروزم هم ورسره وی دباجی دهل او بړغول خو بنکاره خبره ده چه دگناه کار دی باقی نور شرطونه چتیات دی بلکه خپله دبنځو تگ د مسجد ته هم منعه دی چه بنځی دلمانځه دپاره د مسجد د تللو څخه منعه سویدی نو داکار نسبت دلمانځه ته هیڅ هم نه دی بعضی په دوی کښی خوانی هم دی بعضو زیورات اغوستی وی، بعضو په لاسونو کښی څراغان اخستی وی چه زمامخ هم دوینه. داغه رنگه بعضی بنځی د نذر منلود پاره یاد دعا کولو یاد سلام کولو د پاره د مسجد ته راځی د اټولی خبری د شړی مخالفی دی د ټولو څخه توبه کول په کار ده هر څه چه ورکول غواړی یاد عا کول غواړی په خپل کور کښی کښینه وی کړه.

دهغو واجبونو بیان چه په مړی پسی کیږی

(۱) اول:- د مړی د غسل او کفن په سامان کښی د پیر څنه کیږی هیڅ قسم نی زړه نه غواړی چه مړی ترکور د ونړی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د پیر تینګ امرکړیدی چه په جنازه کښی هیڅکله څنه مه کوه. کتاب المنتقی

ص۱۱۴ مشکوٰۃ شریف ص۱۴۳)

(۲) دوهم ۱- د جنازی سره څه غله یا پیسی یا بل شی لیږی چه پر قبر خیرات سی په دغه کښی د یو نیت د نامداری او ریا کاری وی چه په دغه کښی هیڅ ثواب هم نسته۔ (شامی ص۹۳۰ اول ټوک) بیا نو دا رنګه کیږی چه غریبان او محتاجان پاته کیږی او د چا چه کار او پیشه دغه وی هغه ئی کور دنوته وړی د ثواب د پاره چه هرڅوک د کوی د ټولو څخه پټ ئی و داسی خلګو ته ورکړه چه پیر محتاجه وی یا شل یا ګوډی یا عزتمند غریب وی چه د چا څخه په شی عنو بنسټلو سره شرمیږی یا دیندار نیک بخت وی.

(۳) دریم ۱- اکثر عادت دی چه تر مرګ وروسته د مړی کالی، جوړی یا قران شریف او داسی نور شیان راوباسی او تقسیموی ئی د پاره د خدای پاک - بنه ځان پوه کړه چه هر څخه یوخوک مړسی په شرعه کښی چه هرڅه انسانانو ته د دده د میراث څخه حصه ورسیږی نو دا ټول خلګ د دغه مړی د هر کوچنی او لوی شی مالکان ګرزی او دغه ټول شیان د دوی ټولو سره شریک دی بیا نو یوه یا دوه انسانانو ته کله روا ده چه شریک شی یو چا ته ورکړی او که ټول برخه لرونکی اجازه هم ورکړی لیکن یوخوک په دوی کښی نابالغ وی بیا هم د داسی شی ورکول جواز نه لری او د دوی د اجازی اعتبار نسته داغه رنګه که ټول حصه داران او شریکان بالغان وی هسی د ژبی پرسر د شرم د سببه اجازه ورکړی نو هم د داسی شی ورکول روا نه دی نو د دی سببه هرځای چه داسی موقع وی نو اول د دیو عالم څخه پوښتنه وکړه بیا هغه ټول شیان د شریعت موافق د دوی په منځ کښی ورتقسیم کړه په داسی شان چه الله پاک د هریوه حصه مقرره کړیده هغه پوره ورورسیږی بیا نو هر یوه ته د خپلی خپلی حصی اختیار دی چه هر څهٔ زړه غواړی هغه دی وکړی او هر چا ته چه ئی ورکوی ورد دی کړی۔ البته که ټول وارثان بالغان وی او ټول په خوشحالی سره اجازه وکړی نو بیله تقسیمولو ئی هم ورکول او مصرفول روا دی.

(۴) څلرم ۱- پر بعضو معلومو نیټو یا تر هغه نیټه لږ څه مخکی یا وروسته یو څه ډوډی یا بل شی پخیږی او د قوم او قبیلی په خلګو کښی تقسیمیږی او یو څه غریبانو ته ورکول کیږی۔ دغه ته د (۱) ختمه، (۲) لسمه، (۳) شلمه او څلویښتمه

وایی - په دی کښی خواول نیت نه برابریږی
دغه هرڅه ساز وسامان کیږی چه نیت دا رنګه سو نو ثواب د کومی خوادی
او پرځای د ثواب ګناه او وبال دی - بعضی ځایونه په قرض سره دغه واجونه
پوره کیږی او ټول پوهیږی چه د داسی غیرضروری کار د پاره ځان قرضدار
کول پخپله بده خبره ده او دوندی پابندی کول چه د شرعی د احکامو څخه
هم زیات ضروری دی هم ګناه ده او دغه اکثر واجونه د مړی د مال څخه
ادا کیږی چه په دغه کښی د یتیمانو هم حق او شرکت سته د یتیمانو مال
د ثواب په کار ونو کښی هم مصرفول روا نه دی نو د ګناه په کار ونو کښی ئی مصرفول
نور زیات بد کار دی. البته د خپل مال څخه چه دی هر څوندی توفیق وی.
غریبانو ته ئی پټ ورکړه - دا رنګه خیرات د الله پاک په دربار کښی قبلیږی
بعضی خلګ خصوصًا مسجدانو ته خوبزی وړی هم ورلیږی بعضی تیل ضرور
وړاستوی بعضی د کوچنیانو ترمرګ وروسته شیدی وړاستوی چه دغه
کوچنی خو شیدی رودلی ددی ټولو قیدونو او شرطونو په شرعه کښی هیڅ
سند او دلیل نسته - د خپل طرف څخه نوی نوی طریقی جوړول لویه ګناه ده
و داسی ګناه ته په شرعه کښی بدعت وایئ او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی
دی چه بدعت د ګمراهی څخه دی او دوزخ ته رسونکی شی دی. (مشکوة ص۳۰)
د بعضو خلګو دا هم عقیده وی چه په دغه ذکر سو و تاریخونو کښی او د
پنجشنبی په ورځ او د برات د میاشتی د پنځلسم په ورځ د مړو روحان وخپلو
کورونو ته راځی ددی خبری په شریعت کښی هیڅ ثبوت نسته او دوی ته د
راتګ څه ضرورت دی ځکه چه هرڅه ثواب د مړی ته وررسول کیږی ده ته
خپله د ده پرځای ورسول کیږی نو د دوی د راتلو ته څه ضرورت دی چه راسی
بیا دا هم ده که چیری مړی نیک او جنتی وی نو داسی د استراحت او بهار غوندی
ځای څرنګه پریږدی او ولی راځی - که مړی بدبخته او دوزخی وی نو دی هغه
فرشتی او ملکی د عذاب څرنګه پریږدی چه د عذاب څخه ځان خلاص
کړی - او سیلونه چکرونه دهی غرض دغه خبره بالکل بی خونده ده معلومیږی
که چیری داسی خبره په یوه اوبل کتاب کښی وویني نو یقین مه پرکوه - د کوم
کتاب چه یو عالم تصدیق و نه کړی یا ئی سند معلوم نه کړی پرهغه کتاب باور مه کوه

(۵) پنځم:- د مړی په کور کښی ښځی ډیر وخت نه سره یو ځای کیږی (راټولیږی) او دا عقیده لری چه موږ د ده د درځ او غم شریکانی یو نو چه د مړی کور ته ورسیږی نو بعضی د یان او سپارد د خوړلو په شغل اخته کیږی که چیری په یان او سپارد او چای پخولو کښی لږ ځنډ یا کمی ولړی نو بیا ټول عمر بدی او بیکاره خبری کوی چه د فلانی په کور کښی چای یا توری او به یا څه یان هم نه راورسیدی.

بعضی ښځی د مړی په کور کښی د وډی هم خوړی که ئی خپل کور هرځوندی نژدی وی لیکن خامخا د مړی په کور کښی اړه وی خپته ئی ورباروی وی نو ته تضاوت وکړه چه د غه ښځی د همدردی او غم شریکی د پاره راغلی دی او که د دی د پاره راغلی دی چه د غم په ورځ بل مسلمان په تکلیف کړی - نو د داسی بی فایده ی ښځو د سبب څخه وغمزده کورنی ته د وندی زیات تکلیف او پریشانی رسیږی چه هیڅ اندازه ئی نسته بو خو پر د غه غمزده کورنی خپل غم دی او بل بیا د غه حلوا خوړی پرناستی دی چه هرڅه به دوی ته ورکول کیږی او په خپته به مړیږی او گیلی به لاهم کوی - نو هغه مثال څندی جوړیږی - هم سړمات هم کور لوټ.

بعضی ښځی په دوی کښی د مړی نوم لاهم نه اخلی بلکه د(۲)وی د(۲)وی، څلور(۴) څلور(۴) سره یو ځای کیږی او سره کښینی او د دنیا او جهان قصی هلته بیانیږی - بلکه خاندی خوشحالی وی هره یوی به د داسی کالی اغوستی وی چه ته به وایی چه واده او بنادی ته راغلی دی نو د دی بی فایده ی ښځو د رانگ څخه کومه فایده د دین یا دنیا پیښه سوه - بلکه کوی ښځی چه په اصل کښی د همدردی او غم شریکی د پاره راغلی وی د هغه پر ځای گیلی میلی شروع کړی او هسی په گیلو کښی ژاړی کوم چه سنت طریقه د تعزیت او تسلی ده هغه پاته ده او اکثره پمزور سره ځان ژړغونی کوی چه په ستر گو کښی ئی د او بنکی نوم هم نه وی او بعضی خپل پخوانی اوپټ مړی یاد وی او پر ژاړی او د وی ته په خیال کښی د غه ورکوی چه موږ ستاسی پر مړی ژاړو او هسی احسان پراچوی او کوی ښځی چه په اخلاص سره ژاړی هم - نو دا ژړا ئی چیری بنه ده. حکه چه اول خو اکثره ښځی خبری کوی بیا ژاړی چه د دی څخه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ډیر سخت ممانعت فرمائیلی دی بلکه لعنت ئی پرکړی دی او بل د دوی د ژړا څخه د غمزده کورنی

زړه نور د غمه ډکیږی او پر زخم ئی مالګه وړاچول کیږی د پیر بی تابه کیږی زړه ئی خرابیږی ژاړی او لږ یا د پیر صبر چه ورسره یاته دُو هغه هم خُندی ځی نو دغو بنځو د صبر ورکولو پرځای د دوی بی صبری نور ه هم ورزیاته کړه نو د دوی درانګ څه فایده سوه.

صحیح خبره داده چه د غمزدګانو د غم لیری کولو د پاره نه راځی بلکه دګیلی څخه د ځان خلاصولو د پاره راځی چه د بنځو په جمعه کید و کښی د وندی خرابی دی نو داسی جمعه کید ل به کله روا او جائز وی. په دوی کښی بعضی د لیری ځایو څخه راځی میلمنی کیږی په تانګو (بګیو) او موټرانو کښی په خورا شوق او شروف راځی تر د پیر و ورځو پورې دلته اوسیږی او د تانګی د آس وغیره خورکه او د دوی د خوشامد بار او تکلیف پرکور والاوُ وی. نور نو پرمړی والا چه هر څونده ی غم وی اوکه د دوی په کور کښی د خورک شی هم نه وی لیکن د دوی د پاره ټول تکلیفونه ضرور دی دوی ته به ډوډی ورابرکوی. حالانکه په حدیث شریف کښی راغلی دی چه میلمه ته په کار د ه چه کور والا تنګ نه کړي. (جمع الفوائد ص۱۷۳ دوهم ټوک (جلد) نزد غه نور یات تنګیدل نه جوړیږی بیانود بعضو سره یو قطار کوچنیان وی او هغه څلور څلور اته اته وخته ډوډی خوری نو یو څوک د هغوړو ادبورې فرمایش ورکوی یو څوک د شیدو فرمایش ورکوی او د دی ټولو شیانو برابرولی او بندوبست به د غه غمګینه کورنۍ کوی که ئی نه کوی خو بد نامه کیږی او تر د پیره وخته پورې د غه سلسله جاری وی خصوصًا که یو بنځه کونډه سی نو یو غم او تکلیف خو د تازه مرګ په وخت کښی پر تیریږی بل د غسی غم او تکلیف د عدی پر پوره کید و باندی تیریږی چه د د غه نوم ئی (چهلم) یعنی شپږ مهی اینبی دی. او د اسی والی چه موږ د دی د پاره راغلی یو چه داد هدی څخه راوباسو. نو د دوئ څخه باید پوښتنه وکړو چه عده یوه کوټه یا خونه د ه چه کونډه تر پښو اولاسونیسی د باندی ئی راباسی. هر وخت چه څلور میاشتی او لس ورځی تیری سی نو تر عده وروسته اوکه حمل دار ه وی نو چه کوچنی ئی پیدا سی عده ئی ختمیږی د د غه د پاره د دی چتیا تو څخه ضرورت دی چه ټول جهان سره جمعه کیږی بیانود د غه ټول طوفان خرڅ د اسی کیږی چه د مړی د مال څخه

کیږی چه په دغه کښی ټول وارثان شریک وی بعضی د دوی څخه مسافر وی دهغو څخه اجازه نه اخستل کیږی ځکه چه هغه نسته او بعضی نابالغ وی چه اجازه ئی نه ده معتبره په شرعه کښی یاد وساته د غه خبره چه هرچا د غه شریک مال مصرف کړی دی دَی ئی ذمه واره دی او د ټولو وارثانو حق به پوره پوره ورکوی اوکه یو څوک بهانه وکړی چه زما حصه د د غه خیرات د پاره کافی نه وه جواب ئی دادی چه که د ټولو حصه د د غو خرڅو نو او مصرفونو د پاره کافی نه وای نو دی څه کوله څان دی خرڅاوی که دی غلا کوله غرض په د غه طوفان کښی خرڅ کو نکی گنهگاره کیږی او د غه خرڅ د هغو را ټولونکو بخښو او خلگو په برکت د سو د د غه سببه هغه هم گنهگاریږی د د غه سببه داسی په کار ده چه کوم خلگ اوښتی چه نژدی وی هغه دی راسی صرف په ولاړه ولاړه کښی دی صبر او تسلی ورکړی بیرته دی ولاړ سی بیا د دوهم وار د را ټولو فکر ورته نسته .

داغه رنگه تاریخ مقرر ول هم عبث کار دی چه هر وخت دی موقع پیدا کړه او خبر سوی بس ودې ته ورسه اوکوم څوک چه لیږی وی د اخیال ئی وی چه بیله زمادورتگ څخه د غمجنو تسلی نه کیږی نو را تگ ئی هیڅ پرانه لری. لیکن کرایه به د خپله جیبه ورکوی اوکه خالص دگیلی څخه د خلاصیدلو د پاره او د مناسبت د پاره . ورځ، نوټرد غه دی نه ورځی د څخط[1] په ذریعه دی دوی ته تسلی او صبر ورکړی .

(۶) شپږم رواج دادی چه د مړه وکورته اول د د ه د نژدی قریب دکورنه څخه د ډوډی او د خورک شی راځی د غه خبره پیرنه بنه ده لیکن په دی کښی هم خلگو خرابیانی راپیدا کړی دی د د غه څخه څان ساتل په کار دی او واجب دی اول په د غه کښی دا دلی بدلی خیال وی چه فلانی زما وکورته پرداړ نگه موقع باندی ډوډی را لیږلی وه نو اوس ئی زه هم باید پردې موقع باندی وکورته ډوډی ورولیږم - (تبلیغ الحق ص۱۵۶ اول توک رد المحتار ص۱۴۶ اول توک)

او بل دا (خبره) که د د ه سړه توان او طاقت د ډوډی لیږلو نه وی او بل سړی روانی چه زه په خوشحالی او خپله رضا سره ډوډی ورلیږم مگر د اسړی خامخا

[1] د ثواب حاصلولو په نیت سره ۱۲

ضد کوی چه زه ئی حتمی اوضروری د خپله کور نه ورلیږم او ددی وجه صاف دغه
ده چه زه ئی نه ورلیږم بیا خلګ پیغور او تانی راکوی چه تاخو ددغه پوهی
د غم په ورځ وخورلې مګر بدله دی ورنه کړه او د غصی پابندی خو اول خپله
منعه ده بیا نو ددی د پاره د قرض اخستلو ضرورت پیښیږی چه د غه سړی
مسکین وی نوله همدی سببه ددی پابندی پریښوول په کار دی د هر قریب چه
څه توان وی نو د خپله توانه سره برابر دی یوځه ورلیږی داغه رنګه د غه پابندی
هم بدله ده چه بعضی قریبان ئی نژدی په کلی کښی ورسره وی او بعضی لیری په
بل کلی کښی وی چه د خپل کلی قریبان ئی وایی چه هغه نو ورته بل کلی قریبان دی
ډوډی نه راوړی خامخا ئی موږ راوړه - ددی د پاره هم ځان وژنی هم بل
وژنی ددی وجه هم هغه بدنامی لیری کول دی نو ددی پابندی پریښوول په کار
دی پوه بله خرابی ئی د غه پکښی پیدا کړیده چه ترضرورت څیړه نه زیاته ډوډی
وراستول کیږی او د مړی د کور څخه علاوه د لیږو لیږو ځایو خلګ دغې ډوډی
ته راځی او خوری یه - ځان هسی واچوی - د اډوډی ده غو خلګو د پاره ده
چه د غم او مصیبت په وجه خپله ډوډی نه سی پخولای او د هرچا په کور
کی چه ډوډی نه پخیږی هغه ولی د غه ډوډی خوری خپل کور ته دی ولاړ
سی او ډوډی ده دی وخوری یا دی د خپله کور نه څخه ډوډی راوغواړی - یوه
خرابی لا بله دا ده چه بعضی خلګ په د غه ډوډی کښی چه د مړی د کور ته
ئی ورلیږی ډیر زیات تکلیف کوی ډیر مصارف کوی ساده بی تکلیفه ډوډی
دی نیاره کړی د مړی د کور ته دی ورولیږی.

(۷) اووم:- بعضی بنځی یوه یاد و(۲) حافظانو ته یوځه شی ورکړی قران شریف
په وایی چه د مړی ته ثواب ورورښنی بعضی ځایونه دریمه ورځ پرځوددی
کلسی او په سیپارو کښی قران مجید په حافظانو او قاریانو سره وایی چونکه
د غسی خلګ درډیږو، پیسو او یادځوددار او ډوډی په طمعه سره قران
مجید وایی دوی ته خپله هیڅ ثواب نه رسیږی چه دوی ته هیڅ ثواب
ونه رسیدی نو به نور د مړو ته څه شی ورورښنی نو دا ټول ویل ورکول
او اخستل بی کاره او بی فایده سوه - بعضی خلګ ئی د طمعی د پاره نه وایی
لیکن د لحاظ او بدله ورکولو په خاطر ئی وایی داهم د دنیا نیت سو ددی ثواب هم نه

در رسیږی - هو - هر سړی چه یه خالص دخدای د پاره بیله طمعی او لحاظه وا ئی نه خای معلوم کړی نه تاریخ معلوم کړی د دغه ثواب بیله شکه مړی ته رسیږی (تبلیغ الحق ص۶)

دروژی شریفی د میاشتی د بعضی رواجونو بیان

یو داچه بعضی بنځی د روژی په میاشت کښی حافظ کورته راولی په کور کښی د ننه په تراویحو کښی قران شریف وا ئی اوختموی ئی - که دا حافظ یو خپل محرم سړی وی صرف او صرف دکور بنځی دغه قران شریف اوری او دغه حافظ د ماخستن نږدی لمونځ په مسجد کښی کوی فقط د تراویحو د پاره کورته راځی نو هیڅ پروا نه لری لیکن نن سبا ئی په دغه کښی هم ډیری بیباکی او بی احتیاطی راپیدا کړیدی.

(۱) بعضی خایونه نامحرم حافظ دکورته راولل کیږی که څه هم صرف د نامه د پاره ئی یوه د توکر پرده کړی وی لیکن څرنګه چه بنځی ډیری بی احتیاطه وی نو د دی سببه اکثره داسی کیږی چه یا د حافظ محترم سړه خبری شروع کړی یا په خپلو منځونو کښی په لوړ آواز سړه بر غیږی او حافظ محترم ئی اوری نو بیله مجبوری خپل آواز په غیر محرم اورول کله روا دی.

(۲) هر څوک چه قران شریف وا ئی او هغه د خوش آوازی کوښ کوی او د بعضو خلګو ډیر ښه خوږ آواز وی نو د اوریدونکو زړه د ده وخوا ته میلان کوی نو په داسی صورت کښی د نامحرم سړی آواز د پردی بنځی وغوږ ته رسیدل څوندی بده خبره ده

(۳) د تولی محلی بنځی روزانه جمع کیږی اول خو د بنځی د پاره بیله ناچاری - او مجبوری دکور څخه د باندی پښه ایستل منعه ده - (چهل حدیث پرده شرعی بحواله مشکوٰة ص۲۶۹) او دا هیڅ ناچاری نه ده ځکه چه د بنځی د پاره په شریعت کښی هیڅ تاکید نه دی راغلی چه تراویح په جماعت او جمعه سړه وکړه بیا نو هره ورځ د تل نوره بده خبره ده بیا چه تراویح وکړی بیرته کورته راځی نو داسی بی ځایه راتګ ئی دی چه شپه بنه پخه سی او کوڅی بنی خالی او وحشتناکه سی په داسی حال کښی دی خدای نه کوی که د مال یا عزت تاوان وسی نو د تعجب خبره نه ده نو خامخا ځان په نقصان او تاوان کښی اچول کومه د عقل خبره ده او د شرعی هم خلاف خبره ده بعضی بنځی د نږدی کړی تر لاس کړی په ګلیو او کوڅو کښی ګرځی.

نو نورو هم زیاته د خرابی خبره ده یو رواج په روژه شریفه کښی دادی چه د خو رلسمی روژی د ماتولو د پاره د خاص خوراک او دامی نورو شیانو انتظام کیږی او دغه د ثواب خبره بولی په شرعه کښی چه هری خبری ته ثواب نه دی ویل سوی هغه ثواب بلل خپله گناه ده ددی سببه ئی پریښودل په کار دی یو رواج دادی چه کوچنی هر وخت روژه نه نیسی نو بیا برابره خبره ده که یو خوک هر څوند ی غریب او مسکین وی لیکن بیا به هم یا قرض کوی یا به سوال او فقر کوی د کوچنی روژه مات به په بنه طریقه سره ور برابروی - هره خبره چه په شرعه کښی ضروری نه وی هغه ضروری بلل هم گناه ده نو ددی سببه دغه ضروری بلل هم گناه ده او د دامی پابندی پریښودل په کار دی

دکوچنی اختر د رواجونو بیان

یو څو ماچی - پخول ضروری بولی په شریعت کښی دا ضروری خبره نه ده - که دی زړه غواړی یعنی ئی کړه مگر د ثواب عقید به دی نه وی د نورو د قریبانو کوچنیانو ته د رکول اختسل یا د قریبانو کورډته ډوډی لیږل او بیا دغه شیان په عوض او بدله سره د رکول او که شی نه وی بیا پور رکول او دا رواج پور ه کول نو دغه پابندی عبث هم ده او تکلیف هم پکښی وی نو ددی سببه دغه ټول قیدونه او شیان پریږدی.

د لوی اختر د رواجونو بیان

(۱) د رکول او اختسل د لته هم د کوچنی اختر په شان دی نکه چه اوس اوس ئی حکم د رمعلوم سو - نو هغه حکم د لته هم دی.

(۲) په لوی اختر کښی پدیږد خلگو اختری واجبیږی او اختری نه کوی د اهم گناه ده

(۳) په قربانی او اختری کښی ئی د غه خبره د ځانه راپیدا کړیده چه مړی ئی د سقاو (یعنی د اوبو راوړونکی) دی - او پښی ئی د نایی (دلاق) حق دی.

دا هم چتیات او د شرع ئی څخه مخالفه پابندی ده کا - هو پخپله خوښی سره چه هرچا ته دی زړه غواړی - هغه ته ئی ورکړه.

د ذیقعدی (میاشتی) او د صفری د رواجونو بیان

جاهلانو بنځې ذالقعدی (یعنی د میاشتی) د میاشت ته خالی میاشت وایي او په دا خپله میاشت کښی واده کول منحوس او ناسی بولی دا رنګه اعتقاد هم ګناه ده توبه کول ځنډی په کار ده او د صفری میاشتی ته د ښه وایي او دا میاشت بی برکته بولی او بعضی ځایونه پر دیار لسم تاریخ یوځه خاص شی د رواج برابر او داسی نور شیان پخوی او تقسیموی د دی د پاره ده دا کار کوی چه د صفری د میاشتی د ناسیتوب څخه خلاص سی دا تولی عقیدی د شریعت خلاف دی او د دی څخه توبه کول په کار ده.

په ربیع الاول (لومړی خور) یا بل وخت کښی د میلاد شریف بیان

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیدایش د حالاتو بیانولو ته مولود یا میلاد وایي نو د نبی علیه السلام حالات بیانول خو ثواب لری لیکن نن سبا د پیری خرافاتی پکښی پیدا سویدی نو په دی وجه ئی کول روا نه دی په بعضو وختونو کښی او حینی ځایونو کښی بنځې هم میلاد شریف کوی او څه قسم چه نن سبا کیږی په دی کښی دا خرابیانی دی.

(۱) که بنځه ویونکی وی نو اکثره وخت د دی آواز د باندی د روازی ته رسیږی په نامحرمه خلګو خپل آواز اورول بد دی خصوصاً د شعرا و اشعارو په ویلو کښی د آواز د پیری خرابی پیدا کیږی ده.

(۲) او که سړی ویونکی وی نو بنځه ګانی ده چه د سړی د تولو بنځو محرم نه دی د پیرو بنځو به نامحرم وی که ګاشعرا و اشعار په خوش آوازی سره وویل لکه نن سبا چه رواج دی. نو بنځو د سړی غزل واوریدل هم منعه ده.

(۳) روایتونه او کتابونه اکثره د میلاد د بیان د غلطو روایتونو څخه ډک دی نو د دی روایتونو ویل او کتابونو لوستل او اوریدل تولګنا ده

(۴) بعضی داسی اعتقاد کوی چه نبی علیه السلام پخپله دغه مجلس او محفل ته تشریف راوړی (راځی) نو په دی وجه چه د پیدایش د بیان په وخت کښی ټول ودریږی یردی خبره په شرعه کښی هیڅ دلیل نسته او د هرهغه خبری چه په شرعه کښی ثبوت نه وی نو یقین کول ئی گناه ده او د بعضو دا عقیده نه وی لیکن ولاړه داسی ضروری بولی چه هرڅوک ولاړ نه وی هغه ته ډیر بد او نالایقه وایئ۔ (فتاوی ابن حجر مکی ص۵۸) او خپله ودی ته ووایه چه هروخت په شرعه کښی د بیدل ضروری نه دی نو چه نن میلاد کیږی مه یکښی درینږه نو هیڅکله ئی د دی زړه نه جوړښوی او دا اعتقاد کوی چه ترڅو چه و نه درینږو میلاد د سره نه کیږی هر شی چه په شرعه کښی ضروری نه وی هغه ضروری بللل دا هم گناه ده۔

(۵) د میتایی (خوږو) یادولو د تقسیمولو داسی پابندی ده چه هیڅ وخت نه ناغه کیږی او په ناغه کولو کښی بدنامی او د نبی صلی الله علیه وسلم نارضه کیدل بولی او هر شی چه په شرعه کښی ضروری نه وی نو د هغه پابندی کول هم بدکار دی۔

(۶) د میلاد النبی په سامان برابرولو کښی یا په ویلو کښی ناوخته سی۔ یا په میتایا نو تقسیمولو کښی اکثره وخت لمونځ مکروه وخت ته ورسیږی داهم گناه ده۔

(۷) که دچا عقیده خرابه هم نه وی او د گناه کار و نه ځندی وباسی۔ نو بیا هم د ظاهری پابندی څخه د جاهلانو د پاره ضرور سند پیدا کیږی۔ نو د هرکار څخه چه د جاهلانو د عقیدی خرابوالی پیدا وی او د هغه شی کول په شریعت کښی ضروری نه وی نو د داسی کار[1] پریښودل په کار دی۔ (تنقیح الفتاوی الحامدیة ص۳۶۷ دوهم توک)

نو د دی سببه د رواج د ساره موافق او برابر باید د هغه کار و نه سی۔ بلکه هر وخت چه دی د حضرت رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم د حالاتو د ویلو شوق دی نو یو معتبر کتاب راواخله دی وایه او که څوک کتاب ویلای نه سی او

[1] خصوصاً کوم څوک چه صاحب داثر او رسوخ دی مقتدا او پیشوا وی یا ویو بزرگ ته منسوب وی د دی د پاره د داسی خبرو او کارونو څخه ډیر احتیاط ضروری دی ۱۲

اور یدل ئ غواړی نو بیله دی چه ته محفل او اجتماع جوړه کړی عرف یو خو د کور خلګو ته یا نورو خو د دستا نو ته ئ هم وا ورکړه او که د نبی صلی الله علیه وسلم د روح مبارک ته دی د یو شی ثواب بخښل مقصد وی نو یو بل وخت د مسکینانو ته یو شی ورکړه یا د چا ورکړه بیا نو ثواب د نبی علیه السلام ته ورو بخښه بنه کار هیڅوک نه منعه کوی ـ مګر بې طریقی کول ئ ګناه لری .

د خدای تعالیٰ د میاشتی دروا جونو بیان

د دی (میاشتی) ته عام خلګ (مریم روزه) میاشت وایی (ماثبت بالسنة ص۷۷) او د دی د اوه (۲۷) ویشتم تاریخ روژه ئ ښوول بنه بولی چه د پوره یونږد (۱۰۰۰) روژو ثواب لری په شریعت کښی د دغه هیڅ قوی دلیل نسته که د دی زړه غواړی چه نفلی روژه د نیسی اختیار ئ لری د خدای تعالیٰ چه هر څوند ی خوښه وه هغوندی ثواب به درکړی د خپله طرفه څخه د یږدو (۱۰۰۰) یا ګڼو (۱۰۰۰۰۰) ثواب مقرر ول بنه کار نه دی او مه داسی عقیده ساته .

بعضی ځایونه په دغه میاشت کښی د برکت د پاره د وړی پخیږی د اهم د ځانه جوړه سوی خبره ده په شریعه کښی ئ هیڅ حکم نسته نه په دغه د یو ثواب وعده سته ـ د دی سبیه دا رنګه کار د دین کار بلل ګناه ده .

د شب برات (پنځلسی) حلواد محرم (حسن حسین) د میاشتی د دال او ورجوڅخه جوړ سوی خورک او شربت

د شب برات د وندی قدر اصل او دلیل سته چه پنځلسمه شپه او پنځلسمه ورځ د دی میاشتی د پیری بزرګی او د برکت ده او زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دی شپی د عبادت او د ورځی د روژی نیولو پیر ترغیب ورکړی دئ . رواه ابن ماجه والبیهقی ـ ماثبت بالسنة ص۸۰)

په دغه شپه کښی زمونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مدینی منوری قبرستان ته تشریف یو وړی او د مړه ګانو د پاره ئ د مغفرت او بخښنی دعا غوښتی ده ـ (ماثبت بالسنة ص۸۱ ص۸۵)

نوکه په دغه تاریخ کښی د مړو ته یو څه ورکول بخښی - برابره خبره ده که قران مجید د وایې یا د ودې د خلګو ته ورکړی یا نقدی پیسی ورکړی او ثواب ئې د مړو ته ورسیږی بخښی یا د اغسی دعا ورته وکړی چه خدایه دوی و بخښی نو دا طریقه د سنت سره موافق او برابره ده - د دی څخه علاوه چه هر څوندی جګړی او جنجالونه خلګ کوی په دغه کښی ئې حلوا شرط کړیده او په دی طریقه فاتحه کوی دا ټول چتیات دی د دی پټولو خبرو د بدوالی مخکی بیان سویدی او دغه ډی وا ورسیده چه هرشی په شرعه کښی ضرور نه وی د هغه شی ضروری بلل یا ترحد زیاته پابندی کول بده خبره ده - دا غه رنګه د محرم (حسن حسین) د میاشتی د لسمی ورځی رواجونه دبوله په شرعه کښی د دغی لسمی ورځی صوف دوندی دلیل سته چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرسړی په دغه لسمه ورځ پرخپل ځان او عیال پراخی جوړه کړی او د خوراک او چښلو بنه انتظام ورته وکړی نو ټول کال به د ده په رزق کی پراخی وی - (ماثبت بالسنة ص۸) نو که د خدای پرنامه مسکینانو، محتاجانو او فقیرانو ته څه څندی ورکړی نو هیڅ پروا نه لری تر دغه چه زیادې کوی نو دا بدی او ګناهونه پکښی موجود دی کوم چه مخکی یه بیان وسو.

د دی څخه علاوه د شربتو د تقسیمولو رواج دی په خپل ګمان کښی د کربلا د تږو شهیدانو ته ثواب ورسوی بخښی نو دا خبره یاد وساته چه شهیدانو ته شربت نه ورسیږی بلکه ثواب ئې ورسیدلای سی او په ثواب کښی یخ شربت او ګرم خوراک ټول برابر دی بیا نو د شربتو په پابندی کښی د دی څخه علاوه چه د دغو شهیدانو ننده په دی شربتو ماتیږی بله کومه خبره سته داسی غلطه عقیده پخپله ګناه ده او بعضی جاهلان د برات د میاشتی په پنځلسمه شپه آتشبازی یعنی په اور سره بازی کول کوی (ماثبت بالسنة ص۸۷) او د محرم یعنی د حسن حسین په میاشت کښی تعزیه (یعنی د حضرت امام حسین د قبر په مثل د یادګار په طور سره د کاغذانو او بانسونو څخه یوشی جوړوی او ورسره اخستی ئې وی روان وی) - د آتشبازی بدوالی په اول باب کښی لیکل سویدی او د تعزیې بدوالی نور ترهغه لاخو جوړیږی چه د دی سره داسی داسی حرکتونه او کارونه کوی چه په شرعه کښی بالکل شرک او ګناه ده او پردی تعزیې باندی روپی - خوږی او داسی نور

شیان پائی او سرونه ورته تیته وی۔ حریفی او سوالنائی پرځوری او دالته دغم اشعار او شعرونه وائی ژاړی چغی او ناری وهی او باجی هم ورسره بغوی بیائی ورته دفن کوی پتوی ئی۔ د دغه دفن کولو ځای بعینه د امام حسین د زیارت ځای بولی۔ بنځی اونر سره گډیږی پرده او ستر بالکل ختمیږی لمنځونه قضا کوی۔ د دی کارونو بد والی چا ته نه دی معلوم بلکه هر چا ته معلوم دی۔

بعضی خلگ نور ی قصی او جگړی نه پکښی کوی مگر شهادتنامه والئ نو داخبره یاد وساته که په دغه شهادتنامه کښی غلط روایتونه وی بیا خو بنکاره ده چه منعه ده اوکه صحیح روایتونه هم وی بیا هم څرنگه چه دټولو نیتونه دغه وی چه داوړی اوژاړی۔ او په شرعه کښی پریوغم په قصدا و تکلیف سره ژړل روا کار نه دی۔ (مجالس الابرار ص ۲۳۹)

د دی سببه د دارنگه شهادتنامی ویل هم روانه دی داغه رنگه د محرم په ورځوکښی یعنی د حسن حسین د میاشتی په اولو لسو شپو او ورځوکښی زیب او زینت او سنگار پریښوول اود ویرا وغم وضع او شکل جوړول او خپل اولاد ته یو خاص قسم جامی ورااغوستل د ټول بدعت او د گناه خبری دی او دارنگه رواجونه اکثره شیعه (شیه گان) کوی

د برکتناکه شیانو د زیارت کولو په وخت کښی یو ځای کیدل او جمعه کیدل

یو ځای ځای خرقه شریفه یا موی مبارک د پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم یا د یو بل بزرگ اولی دا مشهور روی نو د دغه د زیارت د پاره یا په داغه ځای کښی جمعه کیږی یا دغه خلگ چه موی مبارک یا بل داسی شی وی ورسره۔ وخپلو کورونو ته د موی مبارک سره رابولی او د دغو شیانو (موی مبارک، خرقی شریفی یا بل شی) زیارت کوی او په زیارت کونکو کی بنځی هم وی۔

(۱) هر ځای د دغه برکتناکه شیانو سند نسته اوکه سند هم وی بیا هم په جمعه کیدو کښی دیری خرابی دی بعضی خرابیانی مو مخکی بیان کړیدی کوم چه

په واده کښی د ښځو د جمعه کید د بیان وو بیانو غال مغال بی ستری شوهاشور
او یو وخت د خت زیارت والا غزلی او سندری هم وایی چه ټولی ښځی ئی اوری نو
په دی خو هر څوک پوهیږی چه دا بدکار و نه دی.

هو! که په تنهائی کښی د دی شیانو زیارت وکړی او د زیارت کولو په
وخت کښی د شریعت خلاف یو کار و نه کړی نو روا دی[1] - دا هم د هغو شیانو چه
سند و لری او که سند و نه لری بیا مطلقاً روا نه دی او د روا جو نو پوره
حال په اصلاح الرسوم کښی (چه یو کتاب دی) پوره لیکل سویدی - مو بد دلته
تاته صرف یوه قاعده او مسئله خبره بیانوو.

هغه قاعده دا ده چه هره خبره او کار چه شریعت ناروا او حرام بللی
وی هغه جائز او روا بلل گناه ده او هر شی چه شریعت روا بللی وی لیکن
ضروری ئی نه وی بللی د هغه ضرور بلل او پابندی پکښی کول یا د نام او نشان
د پاره ئی کول دا هم گناه ده او د اغه رنگه هر هغه کار چه په شریعت کښی ئی
ثواب نه وی هغه ثواب بلل گناه ده او هر هغه کار چه ئی ثواب بللی وی مگر
ضرور ئی نه وی بللی نو د غه کار ضروری بلل گناه ده او که ئی ضرور
نه بولی مگر د خلگو د طعن او ملامتیاد بیری څخه ئی
پریښوول بد و بولی دا هم گناه ده - د اغه رنگه یو شی
منحوس (نامی) بلل گناه ده - د اغه رنگه بیله
شرعی سند ه یو ه خبره جوړول او یقین
پرکول گناه ده - د اغه رنگه د
خدای تعالیٰ څخه ما
سیوای دیوبل
چا څخه دعا غوښتل یا بل څوک د نفع یا نقصان
مالک او خاوند بلل د غه ټولی دگناه خبری دی الله تبارک و تعالیٰ دی مو ږ
ټول څښتدی وساتی

---

[1] خو داهغه وخت چه د دی . تبرکاتو څخه سند وی او که ئی سند نه وی نو بیا هغه قابل برکت
گڼل او د هغه تعظیم کول هیڅکله په کار نه دی ۱۲

د اصلی بهشتی زیور شپږمی حصی اوله ضمیمه چه په بهشتی جوهر سره نامداره ده

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

په دین کښی د نوو خبرو د پیدا کولو بد والی او د جاهلیت د رواجونو بیان

(۱) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمائیلی دی هر څوک چه زمونږ په دین کښی یو نوی خبره پیدا کړی چه د دین سره ئی تعلق نه وی نو دغه خبره مردوده ده۔ مشکوٰة شریف ص۲۷ ۔ (یعنی د دی خبری هیڅ اعتبار نشته او د نوی خبری څخه داغرض دی چه د دغه خبره د شریعت په هیڅ دلیل سره ثابته نه وی او د اسی خبری او کارونه په شریعت کی داخلول ۔ د شریعت په اصطلاح کښی بدعت دی او دا ډیره غټه ګناه ده۔

ځکه چه هر څوک داسی کار کوی هغه ګویا د خدای تعالیٰ مقابله کوی ۔ ځکه چه شریعت د الله تعالیٰ راستول سوی قانون دی په دی قانون کښی د کموالی او زیادت حق هیڅاته حاصل نه دی پس نو هرچا چه په دی قانون کښی یو داسی خبره او کار شامل کړی چه د دی قانون څخه وتلی او خارج وی نو د دی مطلب خو داسو چه ده د شریعت قانون ناقص او بی کفایته وبالی ۔ پس نو اول داډیر لوی جرم دی چه د خدای تعالیٰ راستول سوی شریعت ئی ناکافی وبالی او بیا نو چه کومی خبری ئی په شریعت کښی داخلی کړیدی نو دا بیا ده د ځانه یو بل شریعت جوړ کړی پس نو دا دوهم جرم سو ۔

حاصل ئی داسو چه بدعتی د خدای تعالیٰ مقابله کوی د خدای تعالیٰ سره د برابرولی دعوه کوی ۔ نو دی سبب به سخت ګمراه دی که څه هم په ظاهره خیل ځان مطیع او فرمانبردار ښکاره کوی بیا نو چونکه بدعت د عبادت په رنګ کیږی یعنی

مرتکب د بدعت - بدعت عبادت ګڼی او د خدای د دوستی او نژدیکت ذریعه ئی بولی. نو دی سببه وداسی چاته توبه هم نه په نصیب کیږی. حکه چه توبه خو ګناهګار کا بزی او بدعتی خپل ځان ګناهګار نه بولی بلکه خپل ځان د خدای پاک فرمانبردار بنده بولی پس نو دی ولی توبه وکا بزی پس نو دا په یوه عمیقه ګناه ده پروردګار دی موږ او تاسی پټول ځندی وساتی سیده او برابره لار دی راوښیی او په ګناوو کښی خو د وندی سته چه کونکی ئی خپل ځان ذلیل او د خدای تعالی نافرمانه بولی هر دخت چه توفیق ورته حاصل سی نو فوراً توبه کا بزی پس نو د مسلمانانو دپاره د داسی سختی ګناه څخه ډیر پرهیز کول په کار دی او چونکه بدعت د عبادت په رنګ کښی دی - نو باید مسلمانان په خطا نه سی چه ددی بدعت ته متوجه سی.

د یو بزرګ حکایت دی چه صاحب دکشف وو چه د غه بزرګ پریوه قبرستان (هدیره) ورغلی او ده دوه مړی په عذاب کښی مبتلا او اخته ولیده نو د دوی دپاره ئی د مغفرت دعا وکړه - هر دخت چه د غه بزرګ خپل ځای ته ولاړی د خپل ځای څخه بیا پرداغه هدیره راغلی چه ورته وی کتل د غه د عادیوه مړی د پاره کافی سوی وه او د ده عذاب موقوفه سوی وو او د هغه بل مړی په حق کښی دعا نه وه قبله سوی - او هغه رنګه په عذاب اخته وو کوم چه مخکی وو - پس د غه بزرګ خدای تعالی ته عرض و کړی چه یا الله څه سبب دی چه زما دعا دیوه مسلمان په حق کښی قبوله سوه او د بل مسلمان په حق کښی قبوله نه سوه - پس و د غه بزرګ ته الهام وسو چه د غه څوک کوم چه ستا دعا د ده په حق کښی قبوله نه سوه بدعتی دی. موږ او تاسی باید د پروردګار عالم څخه په ډیره عاجزی سره دعا وغواړو چه موږ او تاسو ته د خپل اطاعت او د سنت طریقی د متابعت توفیق راکړی

(۲) په حدیث شریف کښی راغلی دی. چه د خدای تعالی ډیره زیاته غصه پر درد کسانوی - بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی پټولوذکر وکړی په دوی کښی ئی دهغه چا ذکر هم وکړی چه په اسلام کښی د جاهلیت طریقه غوره کوی (یعنی کوم رسمونه چه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم تر نبوت مخکی په عربو کښی ترسره

کیدل - د دی رسمونو پرکونکو او داغه رنگه بدعتونو خرافاتو او واهیاتو رواجونه او د کافرانو د طریقو پراختیا ورنکو د خدای تعالی سخت قهر نازلیږی او بنکاره خبره ده چه د پروردگار عالم دلږ قهر توان په موږ پوره نشته نو د هغه قهر او غضب توان به څنګه وی - (رواه البخاری - مشکوة ص۲۷)

په حدیث شریف کښی ذکر سویدی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم یوکار وکړی او نور خلګو ته ئې هم د دغه کار کولو اجازت ورکړی پس نو یو قوم د دغه کار نه کړی او د دغه کار کولو څخه ئې پرهیز وکړی (او داسی خیال ئې وکړی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم که څه هم د دی کار کولو اجازت کړیدی مګر بهتر او غوره ده دی کار نه کول دی او ده مبارک (ع) خپله دغه کار د جواز د پاره کړیدی چه خلګ بنه پوه سی چه دغه کار روا دی - حکه چه ده مبارک (ع) ئې قولاً او فعلاً دواړه اجازت کړیدی - مګر څرنګه چه دا خیال کول صرف د دوی د خپل دماغ څخه وو او هیڅ شرعی دلیل پرقائم نه وو نو دی سببه مذموم او بد وشمیرل سو)

پس نو مبارک علیه السلام خطبه وویل او د الله پاک حمد ئې وویایه بیا ئې وفرمایل څه حال دی (یعنی بد حال دی) د هغو قومونو چه د داسی کار کولو څخه ځانونه ساتی چه زه ئې خپله کوم (پس نو که دوی د خدای تعالی د عذاب د بیری څخه داسی کوی نو) زه تر دغو خلګو په زیات د الله تعالی عذاب او الله تعالی پیژنم او تر دغو خلګو په زیات د الله تعالی څخه بیریږم - (پس نو چه هر څه داحال دی نو د غه خلګ ولی زما خلاف کوی یعنی تر دی زه زیات د عذاب څخه بیریږم - د عذاب څخه د ځان د ساتلو د پاره تر دی زیات احتیاط هم کوم پس نو په یوکار کی د دوی د پاره تر مانه زیادت کول هیڅکله په کار نه دی .

مسلمانانو ورور نو - لږ څه فکر وکړی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم پرهغه کار چه د دین څخه نه وی او څوک ئې د دین څخه بولی څوند ی عتاب او انکار فرمایلی دی او د غه رنګه ئې د هغه چاد پاره څوندی زجر او تر تنه فرمایلی ده . چه هغه د مبارک علیه السلام یولږ څه مخالفت کوی .

حالانکه صحابه رضوان الله علیهم اجمعین پرده مبارک عاشقان وه او د مبارک علیه السلام پرسنتو ډیر عمل کونکی وه مګر څرنګه چه دوی (رض) د دی حکم

په معلومیدو کی د غور او احتیاط څخه کار وانه خستی نو دی سبب په پردی
دا زجر او عتاب وسو - او موږ او تاسو څوک یو چه نه د اصحابو په شان زموږ
د آنحضرت صلی الله علیه وآله وسلم سره مینه او محبت سته او نه د اصحابو
(رضوان الله علیهم اجمعین) په شان موږ د رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم
اطاعت کړیدی. پس نو موږ د داسی کار د نو په کولو کښی د دیری زیاتی غصی او عتاب
مستحقین گرزو - حکه چه زموږ نیتونه د وندی پاک نه دی لکه چه د اصحابو
مبارکانو نیتونه وه - خدای تعالیٰ دی موږ او تاسی ټول له د داسی کار د نو
یعنی بد عتونو څخه په امان کړی او خصوصًا هر څخه چه د داسی کار و
په کولو کښی یو د نیاوی غرض هم وی - بیانود بد عت گناه نو ډیره زیاته
سختیږی او په اوسنی زمانه کښی د پیر داسی رواجونه او رسمونه پیدا
سوی او غوړیدلی دی چه خلګ ئی د د نیاوی مطلب او طمعی په وجه ډیره
د عبادت په جامه کښی کوی - د دی ټولو څخه د پیر سخت پرهیز کول په کار
دی. او د دی رواجونو او بد عتونو په جاری ساتلو کښی چه د خلګو هر
څوندی ګټی او فایدی دی باید د غه ټولی ګټی د خدای تعالیٰ د رضا د حاصیلو
د پاره وشاته وغورزوی د چا چه د خدای پاک وطرف ته ستر ګی کړی وی
پروردګار عالم خپله د د ه حاجتونه پوره کوی - بنه ئی واوره - (بخاری
ومسلم - مشکوٰة شریف ص ۲۷)

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه هر څوک چه د هدایت وطرف ته بلنه
وکړی (یعنی د بنو کارو لاره خلګو ته ورښیی) نو د ه ته د د غو ټولو خلګو د عمل برابر
ثواب ورکول کیږی چه د د ه په ویناسره خلګ هغه نیک کار وکړی او د د غو خلګو په ثواب
کښی هیڅ کموالی نه راځی (یعنی د د وی د عمل چه هر څوندی ثواب دی هغه و د وی
ته پوره د سیږی و هدایت کونکی ته د د غه هدایت کولو د وندی اندازه ثواب
ورکول کیږی لکه څوندی چه د ټولو عمل کونکو ته د عمل ثواب ورکول کیږی - او
د د ی خلګو په ثواب کښی هیڅ کموالی نه راځی - دا رنګه چه د د وی د ثواب څخه
هدایت کونکی ته ثواب ورکړه سی - بلکه څرنګه چه هغه د نیک کار کولو سبب گرزیدلی
دی - د دی سبب و د ه ته علیحده او جدا گانه ثواب ورکول کیږی)
او هر څوک چه (خلګو ته) د ګمراهی لاره ښیی نو پر د ه باندی د د ی ټولو خلګو

د عملونو وبال او عذاب لویږی چه د دغه په ویناو شنو ونه سره گناوی کوی او خپله د دغو خلگو د گناو په عذاب کښی هیڅ کمښت نه راځی (یعنی کومو کسانو چه د دغه په ویناو شنو ونه سره گناوی کړی د دی د دغه بدکارو کولو پوره پوره سزا ورکول کیږی هیڅ کمی او کمښت نه پکښی واقع کیږی او گمراه کونکی ته د دی ټولو گناه کونکو په برابر عذاب ورکول کیږی ځکه چه دغه په خلگو سره د دغه گناوی کړیدی نو څرنگه چه دی د گناه سبب گرزیدلی دی او د گناه سبب گرزیدل هم گناه ده لکه چه دنیکی سبب گرزیدل هم نیکی ده.

فکر وکړی چه د خپلی گناه وبال او عذاب دوندی دی چه نه برداشتیږی بیا نود نورو خلگو د گناه وبال او خدای تعالی پوهیږی چه د دغه نورو خلگ به څونده وی شمیر به ئی څوی - څرنگه برداشتیدای سی - داسی کار و نه باید هیڅکله جاری نه کړی او داسی رواجونو ته هیڅکله رواج ورکول نه دی په کار چه د د وی په کولو سره د خپل عمل گناه هم لازمه سی او چه نورو خلگ ئی وویني هغه د غه کار او عمل وکړی د ئی ئی سبب سی د سبب والی په وجه د د غو خلگو په شان پرده هم گناه لازمه سی - لیکن که بنه کار و نه خپله هم کوی او د نورو خلگو ته هم د بنو کارونو توصیه کوی د خپل عمل کولو ثواب به هم خدای پاک ورکړی او د نورو د عمل کولو په سبب به هم خدای پاک ثواب ورکړی ځکه چه پروردگار عالم ته معلومه ده چه تر قیامته پورې څونده د خلگ د غه نیک کار وکړی کوم چه ته ئی سبب گرزیدلی ئی) - مشکوٰة شریف صـ۳۰ وسنن الدارمی صـ۷۰ ومشکوٰة صـ۲۹

د حضرت عرباض بن ساریه رضی الله تعالی عنه څخه روایت راغلی دی چه یوه درځ موږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ راکړی بیا زموږ وطرف ته متوجه سو او موږ ته ئی داسی نصیحت وکړی چه اثر ئی هم وکړی (یعنی په ډیره بنه طریقه سره ئی نصیحت و فرمایی او ډیر بنه تاثیر ئی وکړی) په دی نصیحت سره زموږ زړونه ډیر نرم سوه ترسترگو موږ ډیری اوښکی ولاړی او په زړو موږ ډیره نښته بیا یوه سړی عرض وکړی چه یا رسول الله (ای د خدای رسوله) دا نصیحت خو داسی دی لکه یو رخصت ورکونکی چه (رخصتید ونکوته) نصیحت کوی. (ځکه چه د ده داخیال وی چه خدای خبر بیا ورسره لیدلای سم او که نه نسم لیدلای نو د دی سببه د زړه داخلاصه نصیحت ورته کوی. د دغه صاحب

یعنی د هرمن کونکی سړی دا خیال سوچه شاید دئ مبارک ژر تر ژره آخرت ته تشریف
وړونکی دی نو ددی سببه په دوندی اهتمام سره نصیحت کوی نو نوری فائده
مندی خبری که معلومی سی بنی دی څکه چه بیا د غه مقصود د حاصلید و
امید نسته نو ددی سببه د غه محترم وویل چه موبنه (نور څه) وصیت
و فرمایه (چه ستاور وسته په دوارو جهانو کښی کار راکړی څکه چه بیا دا
رنګه رهنما اولار ښوونکی نه پیدا کیږی) ده مبارک و فرمایل زه و تاسو ته وصیت
کوم او حکم کوم د خدای تعالی څخه د بیریدو چه د تولو نیکیو اوپرد وارو جهانو
کی د خلاصون منبع او بیخ دی او (تاسو ته وصیت کوم) د خلفاؤ د اطاعت او حکم منلو
(یعنی څوک چه پر تاسو بادشاه او حاکم مقرر وی په شرط ددی چه مسلمان وی
او د شریعت سره برابر حکم کوی نو اطاعت او فرمانبرداری ئی کوی) که څه هم د غه
حاکم حبشی غلام وی او ددی امور و د اهتمام وصیت ددی سببه کوم چه هرڅوک
چه زما د وسته ستاسو څخه ژوندی پاته سی په راختلافات به وویني
(یعنی د خلګو حال بدلیږی نوی نوی خبری پیدا کیږی او فتنی برپایه کیږی.
نو په داسی وخت کی د تقوی او اتحاد سخت ضرورت دی څکه چه د خدایه بیره
وی نو د ګناؤ څخه ځان ساتل کیږی او د اتحاد د سببه په مسلمانانو کی اختلافات
نه پیښیږی او هر وخت چه د بادشاه څخه مخالفت او سرلغړونه راسی. نو د
مسلمانانو د خپل منځ اتحاد او اتفاق د بینه ځی پس نو صورت د اتحاد دا دی چه
د بادشاه اطاعت وسی او س د تقوی طریقه نرمانئ) پس تاسو پر خپلو ځانونو لازمه
کړی زما د طریقی تابعداری او بنه ټینګه کړی د غه طریقه او ځانونه وساتی
په دین کی د نو و خبرو (د جاری کولو) څخه څکه چه هر نوی خبره او کار
په دین کښی پیدا کول بدعت دی او هر بدعت ګمراهی ده او بنکاره ده چه
ګمراهی د شیطان لار اود دوزخ ته د اخلونکی ده او تباه کونکی د دنیا هم ده.
په دی حدیث کی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدعت. او د
اختلافاتو څخه د ځان ساتلو د پاره اهتمام فرمایلی دی او د بدعت څخه
د ځان ساتلو طریقه ئی هم ښوولی ده او هغه طریقه د ده مبارک او د ده مبارک
د خلفاؤ راشدینو په طریقه رفتار او عمل کول دی. لهذا د مسلمانانو د پاره په
کار ده چه په هر کار کی برابره خبره ده که د دین وی که د دنیا وی. د جناب محترم

رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه اختیار کړی د رواجونو پابندی هیڅکله و نه کړی
او د قوم قبیلی د خفه کیدو هیڅ پروا و نه کړی د خدای حق تر ټولو زیات مخکی دی هر
قسم نفعه او تاوان د ده په قبضه کښی دی د دی سببه د هر چا څخه چه خدای
پاک راضی سی نو وهیچاته ضرورت نه لری او د هر چا څخه چه خدای پاک ناراضه
سی هیڅوک ئی امداد نه سی کولای د خلګو زړونه هم د خدای پاک په قبضه کښی
دی چه اراده ئی وسی یو څوک د بل چا څخه ناراضه کوی او بل څوک د بل چا څخه
راضی کوی. او په ده د ذلالت او بی شرمی خبره ده چه یو انسان د خپل مثل ناچیز مخلوق
تابعداری خوښوی او د مالک حقیقی د حکم هیڅ خیال نه ساتی افسوس دی چه
په خلګو کښی عقل هم نه دی پاته سوی.

امام احمد رح په عُمده سند سره روایت کړیدی چه رسول الله صلی الله
علیه وسلم فرمایلی دی چه هر قوم یو بدعت جاری کوی نو د غسی (پر) یو سنت (د
عمل کولو توفیق) څمڅیږی (او هر وخت چه دا خبره معلومه سوه چه د بدعت
څخه علاوه دا ګناه دا لخوست هم لری چه په سبب ئی پر سنت د عمل کولو توفیق
څمڅیږی نو پر یو معمولی سنت عمل کول هم بنه دی تر یو عظیم الشان بدعت پیدا
کولو - ځکه چه د یو معمولی درجی پر سنت د عمل کولو څخه په ډیر ثواب حاصلیږی
او که چیرې یو لوی بدعت جاری کړل سی نو بیله د ردناکه عذابه بله هیڅ
نتیجه نه لری - پس نو د سنت طریقی غوره کول په هر حال کښی بهتر دی - که څه
هم د یو معمولی درجی سنت وی - مثلاً د سنت طریقی موافق استنجاء او داسی نور کول
او بدعت په هیڅ حال کښی نافع او بهتر نه دی. که څه هم د بدعت په کولو
کښی په ډیر تکلیف نه او محنت نه وسی او هر وخت چه د لوی بدعت په پیدا کولو
کښی هیڅ خیر نسته نو د یو مانړی کمزوری بدعت په راپیدا کولو کی به څه خیر وی.

حاصل دا دی چه لوی او کوچنی بدعتونه ټول د دین او د نیا د بربادی سبب دی
او پر سنت د عمل کولو کار په هر حال کی د ثواب باعث دی. (مشکوة شریف صـ۳۱)

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی
دی هر څوک چه اهل بدعت ته عزت ورکوی (تعظیم ئی کوی نو د غه سړی د اسلام په
نړولو کښی کومک ورکوی - (د دی حدیث روایت بیهقی په شعب الایمان کښی کړیدی)
مطلب دا دی چه بدعتی چونکه د سنت طریقی خلاف عمل کوی چه د اسلامی دین

د کمزوری سبب دی - پس نو هرڅوک چه د دامی چا تعظیم او عزت کوی نو دی ئی هم کومک کونکی دی او د گناه مدد کول گناه ده پس نو د غه کومک کونکی هم گنهگار ګرځی دی د بدعتی تعظیم کول د گناه په مدد کولو کښی د دی سببه شمار کړل سو چه که چیری د دامی چا یعنی بدعتی توهین او بی عزتی کیدای او د د ه څخه تعلقات قطعه کیدای - نو امید وُ چه بدعتی به د بدعت څخه توبه گار ه سوی وای او اسلام ته به ضرور نه وای رسیدلی لیکن هر څخه چه د د ه تعظیم وسو او دی پرخپل حالت برقرار ه وساتل سو چه د اسلام د ضعف باعث دی او گناه ده لهذا پر گناه مدد ور کول گناه ثابته سوه.

بل دا چه بدعتی د بنمن دی د خدای تعالی - او د خدای تعالی د د بنمن تعظیم کول په شریعت کښی منعه دی نو هرڅوک چه د خدای تعالی د د بنمن تعظیم کوی گویا د ه د اسلام قدر د نه پیژندی نو په دی وجه ئی د خدای پاک د حکم مخالفت کړی او د اوجه که څه هم په ټولو گناهونو کښی جاری د ه مگر په بدعت کښی په خصوصیت سره جاری د ه ځکه چه دا مخکی ذکر سو ه چه بدعت د یره لویه گناه ده او د یری لوی لوی فتنی خُندی پورته کیږی - (مشکوٰة ص ۳۱)

په حدیث شریف کښی راغلی دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هرڅوک زما په سنت سره عمل وکړی په وخت د فساد د امت زما کی - (یعنی چه بدعتونه پیدا سی او د جهالت تور ه تاریکه وغوړیږی) نو و د ه ته د سلو شهیدانو ثواب ورکول کیږی - (رواه البیهقی فی کتاب الزهد من حدیث ابن عباس رضی الله تعالی عنه - (مشکوٰة شریف ص ۳۰)

لهذا مسلمانان باید د دامی عمده کار څخه روګردانی و نه کړی د دی د پاره چه د د وندی لوی ثواب څخه بی برخی پاته نه سی - څرنگه چه په موجوده زمانه کښی د سنتو څخه سخت مخالفت کیږی پس نو د دی ثواب حاصلول ضروری دی دا رنگه چه پخپله هم په سنتو عمل وسی او نور هم ورته راوبلل سی - مگرد جنگ او جگړی څخه د یرځان ساتل په کار دی.

په کوم ځای کښی چه د نتی احتمال وی په هغه ځای کښی باید یوازی په خپله عمل وسی او نورو ته باید پرسنت د عمل کولو بلنه ونسی او په کوم ځای کښی چه هیڅ فتنه او فساد نه وی نو بیا دی د خلگو ته هم بنه د عوت د سنتو د طرف ته وسی.

د اصلی بهشتی زیور شپږمی حصی د دوهمه ضمیمه چه په

بهترین جهیز سره

نامدار کړه

دیباچه د طرف څخه د حضرت اقدس اشرف العلماء مولانا شاه اشرف علی صاحب تهانوی نور الله مرقده

احقر اشرف علی تهانوی بنکاره کوی نکی د مدعا دی چه کوم وخت اصلاح النساء[1] رساله ترتیب کړه نو یو مضمون چه د بهشتی زیور پاره کې پیرګټور وو زما د نظر څخه تیر سو چه مولانا عبد الحق صاحب لیکلی وو چه مولانا صاحب د دیوبند د مدرسی رکن دی چه د لیکلو وجه ئې د مولانا صاحب زړی په تمهید کښی لیکلی ده - نو د دی مضمون په لید لو سره بی اختیاره د دغه مضمون د اشاعت خواهش راسره پیدا سو لکه چه دا ارزو احقر د دی مضمون په تقریظ او توثیق کی بنکاره کړیده مولانا صاحب د دی مضمون یو نقل سره د اجازت ته د چاپ لود پاره راکړی.

په دغه وخت کښی "رساله اصلاح النساء" چاپ سوی وه او شائع کید ونکی وه - نو مناسبه دا معلومه سوه چه دا مضمون د ذکر سوی رسالی ضمیمه وګرزول سی.

مولانا صاحب دغه مضمون په بهترین جهیز سره ملقب او نامدار کړیدی - په دی مضمون کښی دیو خو خاص ځایونو څخه علاوه په اعتبار د خاصو حالاتو چه په دوی کښی خاص خطاب دی نور ټول مضامین عموماً

فائده مند دی یعنی هر څوک په پوهیږی

او هر چا ته ئې فائده رسیږی

اول تمهید دی

بیا دغه مضمون دی

او د مضمون په اخیر کی زما تقریظ دی خدای تعالی دی دغه مضمون نافع او د جهل دافع وګرزوی. (د لیکلو تاریخ د ربیمه د دوهمی خور (ربیع الثانی) سنه ۱۳۳۰ هـ ق

[1] چه د اوارد اتمی حصی ضمیمه مقرره سویده ۲۲ شبیر علی

تمهید د جانبه د نذر الحق صاحب ابن مصنف رساله هذا
(مولوی عبدالحق صاحب)

بسم الله الرحمن الرحیم

د روسته ترحمد نه پروردگار عالم او ترنعت د حضرت صلی الله علیه وسلم
بنده احقر نذر الحق عفی الله عن سیئاته عرض کوی چه زما پلار مولانا عبدالحق
صاحب زما د گرانی خور د نکاح د عقد په وخت کښی چه په سنت طریقه سره سوی
وه یو څو هدایات ئی زما د گرانی خور د دیدو په وخت کښی لیکلی ورکړه چه پر
دی هدایاتو د عمل کولو په وجه د دنیا په ژوند کی ارامی او په اخیرت کښی نجات او
راحت حاصلیږی - ما دا خیال وکړی چه د هغه د اجینو او بنځو د پاره په دین او
دنیا کښی د پوره فایده لری نو په دی سبب می عرض وکړی چه که د دی هدایاتو یو څو
نقلونه د خپلو قریبانو پرانجینو او بنځو تقسیم کړل سی نو به د پیر بنه وی - تر
د هغه وروسته د هغه تحریر او هدایات د حضرت مولانا اشرف علی صاحب رحمة الله
علیه تر نظر اشرف تیر سول د ده په عالی فکر کښی هم د دغو هدایاتو اشاعت مناسب
معلوم سو - د دی سببه زما پلار محترم د دی هدایاتو د اشاعت اجازت ورکړی
زما په علم کښی دا اول مثال په هندوستان کښی دی چه دیو انجیلی د کور
ورکولو سره د غسی قسم نافع تحریر ورکړه سوی دی - زه د پروردگار عالم
څخه د عاجزانه دعا غواړم چه په دی هدایاتو سره مسلمانانو انجینو ته دینی او دنیاوی
فایدی ورسوی.

کتبه احقر نذر الحق عفی عنه

بسم الله الرحمن الرحیم

بهترین جهیز

یعنی بنه او غوره کور د خپلی لور یا خور ته ورکول چه هغه نود وعظ او نصیحت
کور دی نه د سامان کور

حامداً و مصلیاً - زما د زړه تولی او زما گرانی لوری - اَسْعَدَکِ اللهُ تعالیٰ فی الدارین مُتَفَاوِلاً بِاسْمِکِ
الْمَیْمُوْنِ د تادی الله تعالی نیکبخته کړی په دواړو جهانو کښی نیکفالی نیسم ستا په نیکبختۍ او مبارک نامه سره.

تر اوسه پورې ته د خپلې مشفقې او مهربانې مور او د خپل مهربان پلار د زحمت په سایه کې پرورش پیدا کړې وې ستا مور او پلار ستا آرام او راحت شپه او ورځ پر هرشی مخکې کړې وو - ستاد تعلیم، تربیت، د اخلاقو د برابرولو او د هرقسم فایدې ذمه دار ده - د نن څخه ته په یو نوي دنیا کې قدم ږدې چه ستاد ټولو اخلاقو، عاداتو، حرکاتو او سکناتو ذمه داري پخپله پرتا باندې لازمیږي نو د دې سببه زه وتاته یو څو هدایتونه ورکوم که چیرې ته د دې فایدې اوسې نو انشاءالله د دنیا او دین کامیابي به دې په قسمت سې - هغه هدایتونه دادي.

تر ټولو مخکې د پروردګار عالم او د ده د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم اطاعت دې د دغه اطاعت یعنې فرمانبرداري همیشه د زړه د اخلاصه خیال ساته د پروردګار عالم او د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم خلاف که یو څوک کار هم ته ووایې هرڅوک چه وي خبره ئې قطعًا او هیڅکله مه منه وګوره د مور او پلار د زمان برداري یعنې حکم منلو تینګار په قرآن حکیم کښې په ډیره لوړه درجه کښې راغلې دي او جنت د مور او پلار تر قدمو لاندې دي لیکن د پروردګار عالم خلاف او د ده د رسول علیه الصلوٰة والسلام خلاف که مور او پلار حکم وکړي نو د دوي خبره هم مه منه.

پروردګار عالم په خپل مقدس کلام کې فرمائي - وَاِنْ جَاهَدٰكَ عَلٰٓى اَنْ تُشْرِكَ بِيْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوْفًا - ترجمه:- او که مور او پلار تا مجبوره کړي پردې چه ته زما سره شریك ونسې هغه چه علم ئې تاته نه وي نو متابعت ئې مه کوه د دوي په دې خبره کې او په دنیا کې د دوي سره په سلوک سره پیښ ره. اوما چه ستاد پاره خلویښت حدیثونه تالیف کړیدي او هغه سره د ترجمې تاياد کړې هم دي په هغوي کې د احدیث هم دي - لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق - د خالق په نافرمانۍ کې د هیڅ مخلوق اطاعت په کار نه دي - هروخت چه ستاسره د زړه د اخلاصه د پروردګار عالم د اطاعت فکر وي نو هرڅه الهي احکام چه دي ته به ئې خو بخوده پابنده اوسې.

شرائع او احکام الهي ډیر دي چه یوه اندازه بیان ئې تاپه دینې رسالو او خصوصاً په بهشتي زیور کښې ویلي دي - د دې ټولو په دې ځای کې د راګرز

ضروورت نسته لیکن په دی کی چه کوم ډیراهم دی هغه په مختصره طریقه سره ذکر کیږی - د دوسته ترعقیدی د توحید د الله پاک او تر رسالت د محمد صلی الله علیه واله وسلم کوم شی چه ډیر ضروری دی او په قرآن شریف کښی ئی ځای پر ځای ډیر ښکاره راغلی دی هغه لمونځ دی. لمونځ د اسلام داسی رکن دی او اهم (ضروری) فرض دی چه د عاقل او بالغ څخه په هیڅ حال کښی نه ساقط یږی.

پس نو پښځه وخته لمونځ په ډیره سخته پابندی سره همیشه پرخپل وخت که سفر وی که کور وی پیوست او برابر ادا کوه - اکثره بښځی سره ددی چه د لمانځه پابنده وی لیکن د سفر په حالت کی د لمانځه زیات اهتمام نه کوی لیکن ته داخیال حتماً ساته چه د سفر په حال کی هم ستا لمونځ قضا نه سی. سفر خو یا په ریل (توره گاډی) کښی کیږی یا په تانگه یا دغو یو په گاډی کی کیږی که د بګی (تانګی یا دغو یو گاډی سفر وی نو د اخو دخپل اختیار سواری دی په یو د بښت او څنګل کښی ئی د دره یو طرف ته سه په چادری یا یو غټ پوړونی کښی لمونځ وکړه او د تیکسی هم داغه حکم دی او که دی چیری اودس نه وی نو اودس هم په یو پناه ځای کښی وکړه.

او که چیری د ریل یعنی توری گاډی سفر وی او ته په داسی گاډی کښی سیره ئی چه د بښځو د پاره مخصوصه وی نو چونکه تا پوره او تهینګ قصد د لمانځه کولو کړیدی که هر څوندی کشمکش وی بیا هم په دغه گاډی کی د لمانځه د کولو ځای پیدا کیدای سی - ریل گاډی اکثره وخت پر اسټیشنانو دوندی وخت درییږی چه دوه یا دری رکعاته لمونځ کیدای سی حکه چه په شرعی سفر کی دوه (۲) یا دری (۳) رکعاته لمونځ فرض دی پس نو د دوندی قدر فرصت خامخا پیدا کیدای سی. که سنت او نفل په سفر کی دنه سی نو خیر دی مگر فرض او واجب د سفر په حالت کی هیڅکله مه پریږده.

او که ته په داسی گاډی کی سیره ئی چه هغه گاډی د بښځو د پاره خاص کړل سوی نه وی نو په داسی حال کی ضرور دی چه ستا میړه یا ستا محرم به ستا سره یو ځای ناست وی

۷۷۲ ۴ چه خور یا خاله دده چا په نکاح کښی وی ۱۲

اودئ به ضرور ستاکفیل کاره وی. غرض د عزم بالجزم په مخکی هیڅ شی خنډ نه
سی واقع کیدای هرڅوک چه د پیر په تینګه سره د لمانځه پابند وی که بنځه وی که نر
دی نو په سفر کی هم لمونځ ادا کوی د ریل گاډی سفر که څه هم اختیاری سفر نه دی
مګر د لمانځه د پریښولو لوی ګناه هیڅکله عذر نه سی جوړیدای.

نه د پیر خوشحاله یم چه ته لمونځ په ډیر اطمنان سره دا رنګه چه په یوه طریقه
سره تعدیل الارکان پکښی راځی ادا کوی الله تعالی دی وتاته نور توفیق درنکیود رکړی.
د فرضو څخه ماسیوی دهڅ کدو سنتو التزام هم کوه که ممکنه وی نور سنتونه
او نفلونه چه په حدیثو سره ثابت سوی وی هم کوه. د تهجد د لمانځه د پیر لوی
ثواب دی او زموږ حضور مقبول صلی الله علیه وآله وسلم همیشه د تهجد
لمونځ کاوی. اوکه به ئ کله د شپی ونه کړی بیا به ئ د ورځی کاوی دده مبارک (ع)
بی بی ګانو (رض) هم د تهجد لمونځ کاوی د تهجد وخت د دعا د قبلید او د رحمت د نازلید و
وخت دی تر یولمانځه دروسته د قرآن شریف تلاوت هم کوه د سهار تر لمانځه دروسته
د تلاوت وخت مقرر کړه چه دغه ښه دی. تا قرآن شریف او د قرآن شریف ترجمه ویلی ده
د تلاوت په وخت کښی د ترجمی هم خیال ساته او هرځای چه ئ ترجمه درته مشکله سی
نه په پوهیږی نو بیائ پوښتنه کوه. دا ډیره د خوشحالی خبره ده چه ته د قرآن شریف
د ویلو په وخت کی حروف په خپلو مخارجو کی ادا کوی عین او حاء هریو په خپل مخرج کی ادا کوی
د رنه عموماً بنځی د قرآن شریف د تلاوت په وخت کی حروف په خپلو مخارجو کی نه سی ادا کولای
د لوی حاء پرځای کوچنی هاء او د عین پرځای الف یعنی همزه د د وی د خولی څخه وزی د روڼ ری



په بارہ کښی تاته د تاکید کولو ضرورت نشته. ځکه چه ته خپله علاوه د رمضان مبارک څخه نورې نفلی روژې هم نیسی لکه چه د اکثرو انجینو عادت دی اوخامن په دی کښی دښځو همت د نرانو نه ترهمت زیات دی لیکن دوینا ضرورت دا دی چه روژه یاکه اصافه ونیسه د غیبت څخه پرهیز په هرحال کی ضروری دی ځکه چه غیبت سخته ګناه کبیره ده ددی د پاره په قرآن شریف کی سخت وعید دی. (سورهٔ حجرات رکوع دوهمه پاره شپږ ویشتمه) او داغه رنګه په حدیث شریف کی سخت وعید دی. (مشکوٰة شریف صـ۴۱۵) لیکن خصوصًا په روژه کی د غیبت څخه ډیر احتیاط کول لازم دی چه دیو چاغیبت درځخه ونیسی په غیبت سره د روژی ثواب ختمیږی الله تعالیٰ دداسی روژی پروا نه لری چه انسان په غیبت، درواغو او داسی نورو شیانو کښی مبتلا وی۔ مشکوٰة شریف صـ۱۷۶)

زکوٰة فرض دی لکه تاته چه په دینی رسالو کښی معلوم سویدی اودنه د شرطونو تفصیل د سړو او سپینو زرو د نصاب اندازه او د زکوٰة د مصارفو چه د دوی ذکر په قرآن شریف کښی راغلی دی تاته معلوم دی نو دا گرز ولو ضرورت نی دلته نشته لیکن د زکوٰة په بارہ کی د دی خبری دوینا ضرورت دی چه اکثره بنځی د زکوٰة په بارہ کی بی پروایی کوی اول خو مال یو گران شی دی دغسی هم دانسان زړه نه غواړی چه مال د خپل ځان څخه جلا کړی د دوهم دستی او لا پروایی د سببه زکوٰة نه اداکیږی.

زکوٰة فرض دی او دمیرمنو په شان د سړیو هم ضروری دی دوه میرمنه چه یو کور کښی ناستی وی او دواړه صاحب نصاب وی نو دواړو ته زکوٰة فرض ده یا یوه کامله د دواړو یا یوه د خاوند او بله د میرمنی د مصارفو ته کافی وی. یعنی د خاوند او د میرمنی د مصارفو څخه زیات وی نو دواړو ته کامله زکوٰة فرض ده او که یوه د خاوند او بله د میرمنی د مصارفو ته کافی وی نو یوازی د میرمنی زکوٰة فرض ده ځکه چه د خاوند د مصارفو ذمه دار خاوند دی نه میرمنه. د میرمنی

د زکوة دادا کولو باید ته د پرخیال وساتی و تاته چه کوم زیور مادر کړی دی هغه قدر نصاب ته رسیدلی دی د دغه نصاب به همیشه زکوة ادا کوی او که میړه د بنځی د نصاب څخه زکوة وړکړی نو ورته وادی.

که چیری یو بنځه چې د زکوة فرض وی د خپل مال څخه زکوة ورکوی او ددی خاوند ئی منعه کوی نو باید د خاوند خبره و نه منل سی لکه چه به تیر حدیث کښی ذکر سوه - لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق - دا مسئله صرف داګاهی د پاره ولیکل سوه د رښتونی تاته هرګز دا سی موقع مخ ته نه راځی - بلکه نور زیات د فرضو اوشرعی مسایلو تاکید او تینګار به د رته کیږی. په دی ځای کښی مناسبه معلومیږی چه د اسانی د پاره یوه نقشه د زکوة د اسخراج په غرض د زر روپیو څخه نیولی بیا تر لسو روپیو پورې ولیکل سی که څه هم د لسو څلو روپیو پر مال په سبب د نه رسیدو د قدر نصاب ته زکوة واجب نه دی - لیکن تر نصاب پورې کید و روسته د کسور و د حساب په معلومولو کښی د دی



نقتی په سبب آسانۍ پیدا کیږی د سپینو زرو تر نصاب وروسته چه هر وخت پنځمه حصه زیاته سی نو بیا پر زیادت زکوٰة راځی ورسره نه راځی (شرح التنویر مختصراً ص۴۳ ج۲)

دروپیو تعداد			دواجب زکوٰة مقدار	
یو زر	۱۰۰۰	لک ۱۰۰۰	پنځه ویشت روپۍ	ص ع ۲۵
نه سوه	۹۰۰	لعا (۹۰۰)	دوه ویشت نیمی روپۍ	ع ع ۲۲ ۸
اته سوه	۸۰۰	لها (۸۰۰)	شل روپۍ	ع ۲۰
اوه سوه	۷۰۰	سعا (۷۰۰)	اوولس نیمی روپۍ	ع ۱۷ ۸
شپږ سوه	۶۰۰	سها (۶۰۰)	پنځلس روپۍ	ع ۱۵
پنځه سوه	۵۰۰	صا (۵۰۰)	دوولس نیمی روپۍ	ع ۱۲ ۸
څلور سوه	۴۰۰	لعا (۴۰۰)	لس روپۍ	ع ۱۰
دری سوه	۳۰۰	سا (۳۰۰)	اوه نیمی روپۍ	ع ۷ ۸
دوه سوه	۲۰۰	ما (۲۰۰)	پنځه روپۍ	ص ۵
سل	۱۰۰	ما (۱۰۰)	دوی نیمی روپۍ	ع ۲ ۸
پنځوس	۵۰	ص ۵۰ (۵۰)	پاو بالا یوه روپۍ	ع ۱ ۴
پنځه ویشت	۲۵	ص ع ۲۵ (۲۵)	لس انی	۱۰
شل	۲۰	ع ۲۰	نیمه روپۍ	۸
لس	۱۰	ع ۱۰	یو پاو	۴

د درمیانی رقومات اوکسراتو دپاره په اسانۍ سره معلومیږی مثلاً دیو نیم سلو دروپیو زکوٰة حال معلومول غواړی نو په نقشه کی د سلو روپیو زکوٰة ته وګوره او بیا د پنځوسو روپیو زکوٰة ته وګوره دغه دواړه زکوٰتونه سره ګډ کړه نو به دیو نیم سلو

روپو زکوٰة سی یامثلاً د پنځه اویارو پیو زکوٰة معلومول غواړی نو په نقشه کښی د پنځوسو زکوٰة اوبیاد پنځه ویشتو زکوٰة وګورلا د دواړو زکوٰتونو دیوځای کیدو څخه د پنځه اویارو پیو زکوٰة جوړیږی.

حج فرض دی په شرط د قدرت ـ او پر هرچا چه حج فرض سی او حج ادا نه کړی نو دده د پاره سخت وعید دی چه د مشکوٰة شریف په ص۲۲۲ کښی د دغه وعید په باره کی حدیث شریف راغلی دی د دا سی چا د نامسلمانه مړکیدو وعید مخبرصادق صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ماته معلومه ده چه ستاسره کوم زیورډی هغه د دندی قدرنه دی چه پر تاحج لازم کړی د بښځی د پاره علاوه د راحلی اوزاد څخه محرم یا خپل میړه ملګرتیا هم شرط ده لکه تاچه په دینی رسالو کښی دا خبره ویلی ده لیکن که الله تعالیٰ و تاته دا سی قدرت درکړی چه حج در باندی فرض سی نو بیله تامله او تساهله حج ادا کول په کار دی

اوس موږ یو څو خبری ستاد معاشرت یعنی د خاوند وغیره سره د ګذارې کولو په باره کښی ذکر کوو

د خاوند حکم منل پر بښځه واجب دی په حدیث شریف کښی ئې ډیر تاکید راغلی دی اورسول مقبول صلی الله علیه وآله وسلم ارشاد فرمایلی دی چه که چیری ماو یوانسان ته حکم کولای چه وبل انسان ته سجده وکړی نو بښځی ته به می حکم کړی وای چه د خپل خاوند ته سجده وکړی مګر څرنګه چه زموږ په شریعت کښی سجده



د تعظیم هم حرامه ده ددی سببه ده مبارک د هیڅاته د سجدی کولو حکم او اجازت نه
ی درکړی - ددی حدیث څخه اخسته په کار ده چه د هیڅه فرمانبرداری څوندی
مهمه اومضروری ده - (مشکوٰة شریف ص۲۸۳ وشرح فقه الاکبر ص۲۳۸ ص۲۳۰) اوکومه بنځه
چه د خپل هیڅه نافرمانه وی هیڅه ددی څخه ناراضه وی نو دغه بنځه د خدای ج
د رحمت څخه لیری ده تر هغه وخته چه خپل هیڅه ئی راضی کړی نه وی - (مشکوٰة
شریف ص۲۸۰)

د اخبره دیاد ولو وړ ده که یو خاوند د بنځی څخه د فرضود اداکولو په سبب
ناراضه وی نو بیاد خاوند پرواکول په کار نه ده لکه چه حدیث د لا طاعة لمخلوق
فی معصیة الخالق - مکرر ذکر سو - دلته هم معرف د اګاهی د پاره د امسئله ذکر
سوه د رسنه انشاء الله تاته د غسی موقع نه پیښیږی په هر هغه بنځه کی چه
د ری صفتونه وی ددی څخه هیڅکله خپل خاوند نه ناراضه کیږی چه هغه
صفتونه شیخ سعدی رحمة الله علیه د بوستان په دی شعر کی جمعه کړی دی

| زن خوب و فرمان بر و پارسا ☆ کند مرد درویش را بادشا |

په دی کی اخیر دوه صفتونه (یعنی فرمان رداری او پاکدامنی) اختیاری دی
که په په یو بنځه کی اول صفت (یعنی بنایست) موجود نه وی نو د اخیری دوو (۲)
صفتونو موجودیدو په وجه هم بنځی او خاوند تعلقات خوشګوار او نه پاته
کیږی او که اول صفت موجود وی دوه اخیری صفتونه نیستی وی نو دا بنځه په
دنیا کی بدنامه او په آخرت کښی ددی د پاره سخت عذاب دی کومه بنځه چه
د خاوند فرمان بردار نه وی یا سخت طبیعته وی په هره خبره کی جګړی پیدا
کوی بد یوزه وی نو ددی د پاره هم سعدی علیه الرحمة دا شعر فرمایلی دی.

| زن بد در سرای مرد نیکو ☆ بحدریین عالم است دوزخ او |

او واقعی خبره هم داده چه په کوم کور کی بنځه او خاوند نه سره یو هیږی
تعلقات ئی خوشګوار نه وی هغه کور په شان د دوزخ ګرځی د خاوند او بنځی
ژوند د پاره تریخ ګرځی په یو وبال او بلا ککړی او ټول کلی او قوم پرې خاندی
لکه چه د غسی کیفیت او حال موږ د پاره خایونه لیدلی دی او په کوم کور کی چه خاوند

۲۲۸ ۵۵ اول صفت بنایست دوهم صفت فرمانبرداری دریم صفت پاک دامنی په حدیث شریف کښی راغلی دی چه د سړی د پاره بهترینه خزانه نیکه بنځه ده کله

او بنځه سره خوشحاله وی او بنه سړه پوهیږی نو دغه کور که څه هم د غربت او افلاس کور وی لیکن دغه کور تر دولت خانی او د بادشاهی تر تخت او محل بهتر وی بلکه جنت خندی جوړیږی - د ممکنه ده چه کله د خاوند خفګان د داسی وجهی څخه وی چه ستا په خیال کښی بی ځایه وی او دا هم ممکنه ده چه کله د ده خفګان او غصه پرځای وی نو په داسی حال کی ته د ده غصه او قهر په ډیر تحمل او وقار سره پرځان تیروه تر داسی حده چه ستاد ژبی څخه بلکه د اشاری او حرکاتو څخه هم دا معلومه نه سی چه د خاوند غصه او قهر بی ځایه وه او ستا تحمل او ساه کول اخیر خاوند اګاه کوی چه د غه غصه بی ځایه وه او ضرورت ئی نه وُ - د تحمل او ساه کولو انجام ډیر ښه او پر تاباندی د ډیری مهربانی سبب ګرزی ځکه چه په داسی کولو سره د بښمن هم دوست ګرزی نو څه معنی خاوند دی بیخی دوست ګرزی.

په دی تحمل او ساه کولو کښی د دی خبری خیال ضرور وساته چه تندی او پزه تریونه کړی بلکه په پراخ او ورین تندی سره د خاوند قهر او غصه پرځان تیروه په خبرو، حرکاتو او سکناتو کی هیڅکله په طور د اشاری د ناخوښی اظهار در څخه ونه سی - د میړه سره په خبرو او خطاب کی د ده د مرتبی لحاظ ضرور ساته د خوشطبعی په وخت کی هم د ده د مرتبی لحاظ ساتل ضروری دی په خطاب کی داسی لفظ - چه بی ادبی څندی معلومیږی هیڅکله مه استعمالوه.

که خاوند یو څه درته وایی نو اول ئی په غور سره اوره بیا په ډیر ادب سره مناسب جواب ورکوه نه په ډیر لوړ آواز سره نه په ډیر کښته آواز سره - چه نه ئی واوری که دیو واقعی علم وخاوند ته نه وی یا مغالطه وی نو د دی واقعی په باره کی غلط فهمی په ډیر ادب او احترام سره رفعه کړه د داسی الفاظ بایدانه وی چه د دغو الفاظو په وجه د خاوند تحقیر او توهین وسی. مثلاً دا رنګه درته وایی چه واقعه خو دا رنګه ده نه ته په څه خبر ئی نه په څه پوهیږی. ځکه دا د توهین او سپکتیا الفاظ دی. او که په مقتضای د بشریت ستا څخه یو غلطی یا لغزش په یو کار کښی پیښ سی نو د خپلی غلطی اقرار کوه او معافی پروغواړه ځکه چه دا ډیره ښه نتیجه ورکوی.

نه چه د هرشی پوښتنه کوی برابره خبره ده که د دین د مسئلو په باره کی دی یا د دنیا د معاملاتو په باره کی وی نو په پراخ او ورین تندی سره ئی کوه. ا

سبنه خان په پوه کوه دا رنګه چه اطمنان دی وسی. ۵

در طلب کردن حقیقت کار ژ از خدا شرم دار و شرم مدار

د بنځو عادت دی چه د خپل خاوند ناشکری کوی دا ډیر بیکاره عادت دی د خاوند یا خسر د طرف څخه چه د خورلو اوچښلو د پاره یو شی درکړه سی هغه په ډیر شکر سره قبلوه که څه هم ډیر لږ شی وی بیائ هم شکر ادا کول واجب دی.

داسی بنځی به په زړهاوۍ او لکاوۍ وی چه د وی ته به ستا په شان خرڅله اوجامه نه رسیږی او نه به ستا په شان په استراحت وی، د خورلو، چښلو او دنیا د حاصلولو په باره کښی هیڅکله حرص مه کوه چه په فلانی پسی څان اوددین په کار وکی همیشه ترخپل څان ولوړ او بالاته گوره چه په دا رنګه کولو سره به په دنیا کی په استراحت اوسی اود بنو کارونو توفیق به دی هم نصیب اوپه برخه سی.

د وهم ضمیمه

(۷) هدایت د خوسرګنی سره د څرونډ د تیرولو طریقی

① د خوښی ادب په هرڅه کی د خپلی ګرانی مور په شان کوه او په هر حال کښی د د ی رضامندی مخکی بوله برابره خبره دا که پرته تکلیف وی که راحت وی لیکن د د ی رضا خلاف یو قدم هم مه اخله - د خولی څخه یو داسی خبره مه راباسه چه و د ی ته تکلیف په ورسیږی د د ی سره چه هر څه خبری کوی او خطاب ورسره کوی. نو په داسی الفاظو خطاب مه کوه لکه د خپلو همزولو او خوندکیانو سره چه ټ کوی بلکه په هغو الفاظو سره خطاب او خبری ورسره کوه چه د مشرانو او بزرګانو د پاره استعمالیږی لکه هو، نه چه ټ د خاوند په آداب کښی بیان وکړی. او که خوښی وتاته د یو کار په باره کښی تنبیه درکړی نو د د ی ویناپه خاموشی سره واوره. که چیری ② خوښه او ترڅو خبری هم درته وکړی دا رنګه چه تعجب دی ورته یوسی بیا هم

لـه مقصود دادی چه دیو مسئلی په معلومولو کی شرم کول په کار نه دی شرم د خدای تعالی څخه په کار دی چه د ګناه څخه خلاص سی ۱۲ م

دغه خبری د خوښ وشریښتو په شان نوش کړه او هیڅکله په سختی سره جواب مه ورکوه اوددی خدمت د خپلی مور د خدمت په شان وکړه که دیو کار وبل چاته ووایی ترهغه بل چا مخکی ته دغه کار وکړه.

② د خوسړا احترام اوعزت په شان د خپل پلار کوه او څرنګه چه د خوابنی سره د خبرو کولو په باره کښی موږ د آداب و بیان وکړی دلته هم په هغسی طریقه سره د ادابو لحاظ ساته. مثلاً که یو څوک ستا څخه پوښتنه وکړی چه خوسړی چیری تللی دی نو ته په جواب کښی ورته ووایه چه فلانی ځای ته ئی تشریف وړی دی. که څوک ستا څخه پوښتنه وکړی چه د فلانی شی په باره کښی ده څه ویلی دی ته په جواب کښی ورته ووایه چه داسی ئی فرمایلی دی.

ده ته په استراحت ورسولو او خدمت کولو کښی چه هرڅوندی ممکنه وی کوشش کوه که یو دعوت ته ورځی یا یو قریب ته د ملاقات په غرض ورځی نو اول د خپل خوسړا او خاوند څخه اجازت اخله او که دوی موجود نه وی بیا د خوابنی څخه اجازت اخله که اجازت درکړی نو ولاړه سه او که چیری اجازت درنه کړی بیا مه څه. که یو تقریب او محفل ته د تللو د پاره درته ووایی نو ولاړه سه که دی څه هم زړه نه غواړی دا نسی کیدای چه خدا غواسته دوی تاداسی ځای ته بوزی چه هلته د شریعت خلاف کار ونه کیږی په کوم کور یا مجلس کښی چه د شریعت خلاف کار ونه وی هلته تلل منعه دی.

③ که یو بی ستا څخه په مرتبه او عمر کی زیاته وی لکه د خاوند د مشر ورور په څنګه د دی سره په خبرو اترو ناسته او ولاړه کی د دی د مرتبی خیال او لحاظ ساته او د دوی سره دارنګه شیراو شکر اوسه چه گویا د دوی ستاسکه خوندی دی. نو ته که چیری داسی رفتار د سړی سره کوی نو ضرور دی چه د دوی د طرف څخه به هم د هغسی رفتار د سړی سره کیږی.

④ که یو بی ستا څخه په مرتبه کښی وړه او کوچنی وی نو د دی سره د مینی او محبت رفتار کوه او د دی ته په ډیره نرمه او خوښه ژبه سره د ښو ښو خبرو تعلیم ورکوه چه د دوی یو کار کوی نو ته هم کومک ورسره کوه.

⑤ د اغه رنګه د خاوند د خور، خورزی او داسی نورو سره د دوی د مرتبو په اندازه د دوی احترام اوعزت کوه. مګر د دوی سره په ګډه کولو کښی د برابروالی اندازه

ملحوظ وساته خکه چه د حد اعتدال په زیاتوهدا تو کی گذاره مشکل کیږی
(۶) په خپل کور کښی چه هروخت د بی بی گانو سره کښینی یا په یو بل کور کی په یو
تقریب او مجلس کی د بنځو سره شامله سی نو د چا په باره کی پشاله (پس پشت) څه
داسی خبره مه کوه کوم څیزی هغه واوری په خبره سی نو ئی بده وبولی ـ
څکه چه د غه ته غیبت وایی (مشکوة شریف ص۴۱۲)
(۷) غیبت کول ډیره سخته گناه لری د غیبت په باره کی اول هم موږ د روښی په
بیان کی ذکر کړیدی. او اوس دلته دا خبره د کولو وړ ده چه بعضی خلګ وایی موږ
درواغ نه وایو دا کار خو په فلانی کی موجودی ـ دا خبره یاد وساته چه دا
د نفس یو فریب او دوکه ده د غیبت د پاره دا ضروری نه ده چه یو عیب د چا
بیان سی هغه به په هغه کښی موجود نه وی بلکه دیو چا واقعی عیب بیانول
غیبت دی. او که څیزی د غه عیب په هغه کښی نه وی نو بیا د وچنده گناه لازمیږی یوه
د تهمت بله د غیبت ـ
(۸) په کور کښی چه کوم کوچنیان وی برابره خبره ده که ستاد خوښ کوچنیان وی یا د
داسی نژدی خپلوانو کوچنیان وی چه په داغه کور کښی اوسیږی د دوی سره په
ډیر شفقت او مهربانی سره پیښیږه (ګذاره کوه) په حدیث شریف کښی راغلی دی چه
کوم څوک چه د مشرانو ادب او احترام نه کوی او پر کشرانو رحم نه کوی هغه زموږ څخه
نه دی ـ (مشکوة شریف ص۴۲۳) زموږ حضور اقدس صلی الله علیه وآله وسلم به د
کوچنیانو سره ډیره مینه او محبت درلودی نژدی اسی حده چه یو وخت د ده په غیږ
مبارکه کی یو کوچنی بولی هم کړیدی ـ (مشکوة شریف ص۵۳) بعضی بنځی چه د دی
د کوچنیانو سره محبت وی نو دوی کوچنیان په دی بهانه ځان ته رابولی چه هله
راسه زه فلانی شی درکوم ـ حالانکه هیڅ شی هم نه ورکوی صرف په دغه بهانه
ئی رابولی نو دا رنګه وینایو قسم درواغ دی داسی هیڅکله مه کیږه ـ
یو دا ریو بی بی د حضور مقبول صلی الله علیه وسلم په مخکی دیو څښتی ور
کولو د پاره یو کوچنی را وبالی مګر دی صرف په دوکه اوچم سره نه دروابللی بلکه
یو شی ئی هم ورکړی ده مبارک وفرمایل که تاوده ته دغه شی ورکړی نه وای
نو درواغ څنډی جوړیدل ـ (رواه ابوداؤد والبیهقی فی شعب الایمان ـ مشکوة شریف
ص۴۱۶).

(۹) په کور کښی که خادمه یعنی خدمتګاره وی ددی څخه تر طاقت بالا کار مه اخله که یو کار پردی ګران وی درومندوی نو ته خپله هم کومک ورسره کوه - د دی سره په سختی او ترش تندی سره مه مخامخ کیږه سختی خبری مه ورته کوه که دا مریضه وی یا یو تکلیف ورورسیږی نو پوره همدردی ورسره کوه لکه چه تاد خپلی موږ ګذاره اوژوند د خدمتګارانو ښځو سره لیدلی دی. چه کله به د خدمتګاری په سر کښی لږ څه درد پیدا سو نو دی به خپله د خدمتګاری پر ذمه لازم کار و نه پخپله کول او هیڅکله ئی تکلیف نه ورکاوی. لیکن داسی هم نه دی په کار چه خدمتګاره بالکل آرام طلبه اوڅګه وګرزی چه داسی کول هم د خدمتګاری سره د بښنی ده ولی چه دا بیا هرڅای ارام طلبه اوڅګه جوړیږی. او ټول خلګ به ملامتیا پروایی. که یو تحفه یا بل شی د خورک د پاره وتاته راسی نو د دغه څخه ودی ته هم یو اندازه شی ورکول په کار دی. (مسند دارمی ص۲۶۵) او تاپه دغه باره کښی هم د خپلی موږ ګذاره لیدلی ده چه که څه هم د پیرلږ شی به وو - مګر د خپلی خدمتګاری د پاره به ئی ضرور حصه مقرروله زه په دی خبره بیغی د پیر خوشحاله یم چه دایثار صفت په تاکښی فطرةً موجود دی په دی صفت کښی دی پروردګار عالم نورهم ترقی هم درلره درکړی د خپل خاوند او د کور د ټولو بی بی ګانو سره په طریقه دایثار او قربانی ګذاره کوه - چه بنځی او خلګ ستاد کور میلمانه سی نو د خاوند د رضا مطابق ئی په بنه پراخ او ورین تندی سره خدمت کوه د دوی په خدمت کولو کی طریقه دایثار او قربانی استعمالوه - د میلمه په خاطر داهم روادی چه په کور کښی کومه ډوډی او خورک ته خوری تر هغه زیات او بنه خورک ورته برابر کړی په شرط د دی چه اسراف ته نه ورسیږی. که میلمه پرهیزګاره او د خدای برنیک بنده وی نو د ده میلمستیا سبب د خیر او برکت باید و بولی او داغه رنګه د هیڅ میلمه څخه دل تنګی په کار نه ده حکه چه میلمه د خدای پاک رحمت دی - رسول الله صلی الله علیه وسلم کافر هم میلمه کړیدی - (جمع الفوائد ص۲۹۴ اول ټوک)

میلمه ته ست کول او راګرزول ښه کار دی لیکن میلمه ته دومره تینګیدل په کار نه دی چه هغه په تکلیف سی تینګیدل دده د پاره سبب د ضرر وګرزی ځکه چه داوږه بده خبره ده چه میلمه یو ضروری کار په مخکی لری او د دغه کار د سببه رخصت اختیار غواړی مګر میزبان (کور به) صاحب یعنی کور والا تینګار کوی - د خدای او رسول روی درته پیشوی چه په قران که را څخه ولاړ سی ولی چه داخپله ښه کار نه دی چه د میلمه زړه تنګ سی او خپل کار څندی پاته سی.

حضرت مولانا رشید احمد صاحب قدس سره داسی اصرار او تینګار هیڅکله نه خوښاوی د میلمه سره چه کوم مدارات او خوشامد وسی نو دا هیڅکله د خپل طرف څخه پرده احسان مه بوله بلکه ده پرتا احسان وګڼی چه خپل مقسوم رزق ئی ستا په کور کښی وخواړی او ته ئی په ثواب کښی داخل کړی. شعر

له شکر بجا آر که مهمان تو	روزی خود میخورد از خوان تو

داغه رنګه که دیو چا سره احسان کوی نو پرده باندی احسان مه اچوه په قران شریف سره ثابته ده چه د احسان اچولو په وجه د احسان اونیکی ثواب باطلیږی - (سورة البقرة د تلک الرسل سیپاره) پس نو احسان او نیکی صرف د خدای د رضا د پاره باید ته وکړی.

دکور انتظام برابرول

دکور د خلګو سره تر ښه سلوک، دار مدارا تو او ښه ژوند کولو وروسته دکور د نړۍ، انتظام او بنایست د پاره کوشش کول یو ډیر سخت ضروری شی دی. دکور انتظام که په ښه طریقه سره وی نو سړه د لږ دنیا او سامان بیا هم کور ډیر بنایسته معلومیږی او پر دغه کور مسکینی او مفلسی نه معلومیږی - او که دکور انتظام برابر نه وی - نو سړه د ډیر دولتمندی او دنیا پر دغه کور پرتم او ښکوست پروت وی ما په خپلو سترګو بعضی ماړه کورونه لیدلی دی چه په ښکوکښی ئی دکور د انتظام سلیقه او طریقه نه وی نو د غو کورونو حالت د مفلسانو دکورونو تر حالت هم بدتر وی. لویه خبره دکور په انتظام کی د مصرف اندازه او د مصرف د ځای خیال ساتل په کار دی. په مصارفو کښی اعتدال او مصارف پر خپل ځای استعمالول په کار دی د اعتدال

له یعنی شکر ادا کړه چه ستا میلمه خپل رزق ستاد سترخوان څخه خوړی ۱۲

څخه زما مقصد دا دی چه تر امدنی اوګټې خرڅ زیات نه وی او نه دوهندی
قدر کم وی چه کنجوسی او چومې څنډی جوړه سی. د چوسانو یعنی کنجوسانو
اواسراف کونکو دواړو بد والی په قران شریف کښی را غلی دی - (سورة بنی اسرائیل
سپارهٔ سبحان الذی (۱۵) سورة توبه سپارهٔ واعلموا (۱۰).

د مال او پیسو داسی محبت چه په روپی او نیمکه ئې سره جمعه کوی یوه زړه
کښه د اوکمیوت نه پکښی را ولی شر غاهم بد دی او د انسان د دنیا ژوند هم ډیر
تلخیږی مګر میانه روی یو داسی شی دی چه نه انسان بخیل او کنجوس په معلومیږی
او نه اسراف کونکی په معلومیږی او نه دیو ضرورت په وخت کښی وبل چانته د
سوال کولو ضرورت پیښیږی - د پیسو او نورو شیانو د مصرفولو ځای خپله
خوندی قدر مصرف کول په کار دی. لیکن د خرڅ په باره کی د هرو شیانو
د مناسره برابر هره وخ لیکی دغه حساب هره وخ یا په هفته کښی یو وار د خپل
ځان په ملاحظه کښی وراندی کوی نو دا بیا دیره ښه خبره ده ځکه چه دا رنګه
دل سبب د اطمنان او ښه ګمان ګرزی. حساب یو داسی ښه شی دی چه په دنیا او دین
دواړو کی کار ورکوی.

غله او نور اجناس چه کورته راسی نو تله ئې او داغه رنګه روپی او پیسی
ه کورته راسی هغه هم په حساب سره ورځ ده که یو چا ته قرض ورکوی یا ډیو چا
خه قرض اخلی نو هم باید ولیکل سی او چه قرض دی هر وخت ادا کړی یا وتاته خپل
ن د ورسیږی نو دغه د قرض دا ادا کیدو او وصول کید و حساب هم لیکه داغه
که چه ود وبی (یعنی کالو پریمنځونکی) ته کالی د پریمنځلو د پاره ورکوی نو د دی
و حساب او کتاب هم لیکه - او ترټولو زیاته ښه خبره دا ده چه ستاسره خو مره کالی
رات او داسی نور شیان وی هغه ټول ولیکه ځکه چه دا رنګه کول ډیره فائده لری
د جملی څخه د کورد انتظام ترتیب د کورد سامان دی هر شی چه د هر ځای د
ولو وی هغه شی پر هغه ځای اینبول مناسب دی - فرش، پلنګ، چوکی او داسی نور
ی پوخپل ځای اینبودی نه او د هر شی د را اخستو ضرورت چه وی نو ترضرورت
ه کولو ورسته د دغه شی اینبول پر خپل خپل ځای لازم دی. داغه رنګه د

ښو ښو ښو چه هره ورځ استعمالیږی همدغسی خیال ساته یادلو ښو څخه ماسیولی
نورشیان چه دورځ مره استعمال وی هم ئی خیال ساته چه هریو تراستعمال دروستنیل
ځای باید ولری.

داسی نه چه بدنیانی یوطرف ته په پښو کښی ورغړی او کاچوغی بل طرف ته تر
پښولاندی می دیگو نه بل طرف ته نادولی پراته وی مچان پربښیږی او منگیان بل طرف
ته خوښوازی لخ سرونه پراته وی چه چرگان او مرغان او به ځندی چښی او مرداری
په کښی کوی.

کالی همیشه کت کړی اینږده داغسی پاشلی او ناکت کړی سوی ئی مه پریږده۔
که اونی یعنی دوون او درې یوکالی وی یادریښمین کالی وی دوی همیشه گورهٔ خصوصًا
د باران او وښی په موسم کی چیرحیال ساته چه دینه ونه کړی.

که څه هم انتظامی قوت په انسان کښی فطرتی او طبعی دی لیکن کوشش
او سعیه هم چیره غټه فایده ورته کوی په کور کښی چه کومه بی بی
لیاقت داره، سلیقه داره او په کار پوهه وی همیشه دهغی څخه دکور انتظام
زده کوه او په چیر غور سره ددی وکورنی انتظام ته گوره او بیائی پیروی
او متابعت کوه.

اوس زه دغه یو څو کلمی ختموم او مکرر دانصیحت کوم چه که چیری ته
چیر دغو هدایاتو باندی عمل وکړی نو انشآءالله تعالی ته به په دواړه جهانو
کښی کامیابه اوسی او په دنیاکی به په په داسی راحت او ارامی سره اوسیږی
چه کور به دی نمونه د جنت وگرځی. او دغه هدایات زما د طرف څخه
ستاد پاره ستاد ودیدو په وخت کی یو بهترین جهیز او کور دی.

دا هدایات ته په هغته کښی دوه یادری واره گوره که دوه(۲) یادری(۳)
واره ممکن نه وی نو یو واره ئی ضرور بالضرور گوره۔ زه د پروردگار عالم
څخه دعا غواړم چه خدای تعالی وتاته په دین او دنیا کښی برکت نصیب کړی
او تاپه دغه دعا کښی دا سره شامل وم۔ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ
حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۝

زه صرف ستا څخه دا غواړم چه ترڅو ستا مور او پلار ژوندی وی دده
د پاره دایمان د سلامتی دعا کوه او داد عا کوه چه خاتمه ئی پرایمان می اوهر

وخت چه دوی د دی فانی دنیا څخه رخصت سی نو د دوی د پاره دعا د مغفرت کوه - وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِہٖ خَیْرِ الْخَلَائِقِ مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِہٖ وَ اَصْحَابِہٖ اَجْمَعِیْنَ ۔

بنده ناچیز عبد الحق عفی الله تعالی عنه
قصبه پور قاضی ضلع مظفرنگر
۱۴ محرم سنه ۱۳۳۱ هـ ق

تقریظ د حضرت مولانا مولوی حافظ حاجی شاه اشرف علی صاحب تهانوی نور الله مرقده

وروسته ترحمد او صلوٰة احقر اشرف علی تهانوی عرض کوی چه نن هادالطیف او سعادت نصیبه تقریر په پیر شوق سره ولوستی د دی تقریر د مطالعی په وخت کښی می صرف په ویلو سره خوشحالی زیاته ده.

سبحان الله رشتیاد ده چه د ریاب ئی په کوزه کښی ځای کړیدی - دلوی خدای څخه دعا او د دعا سره سره امید دی چه دا نجینو د پاره به بیحده فائده مند او ګټور وګرځی.

زما تمنا ده چه دغه (هدایات) مستقلاً یا دیو رسالی سره چاپ کړل سی او وټولو کورونو ته وَرَسَول سی.

وَاِلَی اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۔

اشرف علی عفی عنه - مقام تهانه بهون
در یمه د صفری سنه ۱۳۳۱ هـ (۳)

دا اصلی مکمّل او مدلل بالحواله بهشتی زیور شپږمه حصه د پخوانیو او وروستنیو ضمیمو سره ختمه سوه

د شپږمې حصې دویلو طریقه او د دې اجمالي حالات

(۱) په دې حصه کښې د بنادی، غم او نور د رواجی رسمونو په بارہ کښې بیان دی
(۲) که د د دریمې حصې ترخپمید و د رسته په زده کونکې کښې د څلرمې
یا پنځمې حصې د پوهنې استعداد نه وی نو دی د غه شپږمه
حصه د رسته وویل سی (۳) د دی خبرې خیال
ساتل په کار دی چه هر وخت یو څوک
د د غو رواجونو په کولو کښې
پریشانه یا پښیمانه سی
یا په کښې نقصانی او تاوانی
سی نو نو ټرا د انجیلې ته د اخبرہ
د ر د بنیاست چه د گورہ په دې رواجونو
کښې د غه خرابیانی دی د د دی د پارہ کا چه اوله
سرہ څخه ئې د د دی رواجونو څخه نفرت پیدا سی (۴) د
اکثرہ انجینو عادت دی چه د نا وکیو په لوبو کښې هم د غه رواجونه
فرضی طور ادا کوی نو د دی هم بند دل ضروری دی د د دی د پارہ کا چه عادت
ئې د نه گرځی او په د ماغو کښې ئې د د دی شیانو خیال پوخ نه سی (۵) که لیکل
خلاف د مصلحت نه بولی نو د انجیلې ته دی وویل سی چه د غه حصه هم د
اول څخه ترا خیره پوری د لیکی د د دی د پارہ کا چه خط ئې هم صاف سی او د اغه رنگه
په لیکلو سرہ مضمون په ذهن کښې هم بنه کښینی (۶) پرانجینو دی تینګار کیږی
چه د غه مضامین یو د بله سرہ ذکر کوی او یو د بله ئې سرہ اوړی د د دی د پارہ کا چه
بنه ئې یاد سی (۷) په کلی ډ مسله کښې چه نا خوانده بنځې وی هغوی ته هم ته
باید د غه مضامین پر طریقه د وعظ و وایی او په پوره ئې کړی او د علم څخه بې برخې
پاته نه سی.

(محمد اشرف علی عفی عنه)